# تفسیر

# حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری


حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب : ابو زہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور

Mob: 0301-8828402




# حکمۃ القرآن

(٦)

تالیف


فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع و ترتیب : ابوزهیر سیف اللہ



المکتبۃ المحمدیۃ

مینا مارکیٹ کنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د کتاب نوم ———— تفسیر حکمة القرآن (جلد شپږم)

د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمعه وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله (غفر له)

سنۂ طباعت ———— (١٤٣٦) هجری محرم الحرام ١٥/موافق (١/١١/٢٠١٥)

د نسخو تعداد ———— ١١٠٠

فن ———— تفسیر

ناشر ———— مکتبه محمدیه ګنج پیښور

کمپوزنګ ———— الراقم ابوزهیر

## د ملاویدو پته

١- **مکتبه محمدیه** بیرون ګنج ګیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله: 03018828402 ابو سلمان: 03025953513 ابوزهیر: 03075924001

٢- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور.

٣- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور.

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان.

٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی: 03002615402

٦- دینی کتب خانه تیمرګره پاکستان.

٧- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك ګمرك مسجد ترخنګ دکان نمبر ٢

٨- مکتبه اسلامیه اردو بازار لاهور.

بسم الله الرحمن الرحیم

| آیاتها (۱۲۹) | (۹) سورة التوبه مدنیة (۱۱۳) | رکوعاتها (۱٦) |
|---|---|---|

سورة التوبه مدنی ده، پدے کښ یو سل نهه ویشت آیتونه او شپاړس رکوع دی۔

## تفسیر سورة التوبه

دلته د مخکنو سورتونو په شان یو څو بحثونه دی

**اول بحث : نومونه**: بعض مفسرینو ددے څوارلس نومونه بیان کړیدی، په هغے کښ زیات مشهور دا دی : ۱- ((التوبه)) ۲- ((بَرَاءَة)) ځکه ددے سورت په ابتداء کښ د مشرکانو نه د براءت (یعنی د بیزارئ) اعلان شویدے۔ او دا دوه ئے خپل اصلی نومونه دی او باقی نومونه ئے ددے د مضامینو صفات دی۔

۳- اَلْمُقَشْقِشَة۔ یعنی د منافقت نه خلاصونکے سورت۔

٤- اَلْمُبَعْثِرَة / یا (اَلْبُعْثَرَة) د منافقانو احوال ئے راپورته کړیدی۔

٥- اَلْفَاضِحَة۔ منافقان ئے شرمولی دی۔ اودا نوم د عمر فاروق او ابن عباس ﷺ نه نقل دے۔

٦- سُوْرَةُ الْعَذَاب۔ (د کافرانو عذاب یعنی قتل او نیول پکښ ذکر دی) دا نوم د حذیفه ﷺ نه نقل دے (ابن عاشورؒ)۔ ۷- اَلْمُخْزِیَة۔ شرمونکے۔ ۸- اَلْمُثِیْرَة۔ (راپورته کونکے سورت)۔

۹- سُوْرَةُ الْبَحُوْث (لکه صَبُوْر) تالاش کونکے سورت۔ (دا د ابو ایوب انصاریؓ او مقداد بن الاسودؓ نه نقل دے)۔ ۱۰- اَلْمُنَقِّرَة ۱۱- اَلْمُعَبِّرَة۔ ځکه دے سورت د منافقانو د زړونو تالاش کړیدے او هغے نه ئے نفرت ورکړیدے او د هغے نه ئے تعبیر کړیدے۔

۱۲- اَلْمُنَكِّلَة (سزا ورکونکے)۔ ۱۳- اَلْمُشَرِّدَة۔ (شړونکے)

۱٤- اَلْمُدَمْدِمَة۔ (هلاکونکے) او دے سورت هم منافقانو ته سزا بیان کړے، او هغوی ئے ترولی او عذابونه ئے ورله خودلی دی۔

۱۵- د حسن بصریؒ نه ددے نوم (اَلْحَافِرَة) نقل دے یعنی د منافقانو زړونه ئے کنستلی دی او د هغے نه ئے نفاق خلکو ته راښکاره کړیدے۔

دا نوموړنه صاحب المنار او ابن عاشورؒ او بعض قرطبیؒ وغیره ذکر کړیدي. (التحریر والتنویر ۱۰/۶) والمنار ۱۰/۱۳۲)

## دویم بحث : بسم الله نۀ لیکل

ددې سورت په اول کښې بسم الله نۀ ده لیکلې شوې؟ وجه دا ده چه ددې سره نۀ ده نازله شوې او رسول الله ﷺ ته ئې د لیکلو حکم نۀ وو شوې پدې وجه صحابه کرامؓ او روستنو علماءِ کرامؒ دا نۀ ده لیکلې.

او ددې د نۀ نازلولو حکمة څه دې؟ نو حافظ ابن مردویهؒ د ابن عباس ؓ نه روایت کړیدې چه ما د علی بن ابی طالب ؓ نه تپوس وکړو : د سورتِ براءة په ابتداء کښې بسم الله ولې نۀ ده لیکلې شوې؟ نو هغه ووئیل چه په بسم الله کښې د الله د طرف نه امان (او رحمت) دې، او دا سورت د مشرکانو او کافرانو په خلاف اعلانِ جنګ دې (او په دوی باندې د عذابونو نازلیدو ذکر دې او د دوی د عهدونو د ماتولو اعلان دې).

امام مبردؒ وغیره وائی چه دا د عربو د عادت او دستور مطابق نۀ ده لیکلې شوې ځکه چه په عربو کښې دا دستور وو چه کله به یوې قبیلې د بلې قبیلې سره د شوې مخکنی لوظ او معاهدې ماتول غوختل نو مخالف قبیلې به چه د هغې په باره کښې کوم خط لیکلو نو د هغې په ابتداء کښې به ئې (بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ) نۀ لیکله. پدې وجه کله چه سورتِ براءت نازل شو نو رسول الله ﷺ علی ؓ مکې ته اُولیږلو چه دا ولولی او د عربو مشرکانو ته ئې واوروی، نو هغۀ دا بغیر د بسم الله لوستلو نه خلقو ته واورولو. (پدې کښې به اشاره وه چه زمونږ او ستاسو هیڅ عهد او لوظ پاتې نۀ دې). (القرطبی وابن عاشور)

## ۳- بحث : مناسبتونه

۱- مخکښې قوانین د قتال وو نو دلته په قتال باندې امر دې.

۲- مخکښې سورت کښې عهود ذکر وو اُوس دلته تفصیل د دغه عهودو د اول نه بیانوی.

۳- مخکښې هم د مشرکانو او اهل کتابو د قتال تفصیل وو او دلته هم تفصیل دې.

٤- مخکښې سورت کښې د مسجد حرام نه بندول او دا خبره وه چه دوی د مسجد حرام اهل نۀ دی نو دلته وائی چه ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللّٰهِ﴾ . د مشرکانو نه مساجد جوړول او آبادول قبول نۀ دی.

٥- د انفال په اول کښې د کاملو مؤمنانو صفات بیان شو او بیا وریسے د کافرو بعض صفات او په آخر د سورت کښې د دواړو فریقینو ترمینځ د ولایت حکم بیان شو نو دے سورت کښې هم بعینه دغه شان کار په ډیرو ځایونو کښې شویدے۔

٦- مخکښې سورت کښې ترغیب وو انفاق فی سبیل الله ته او دلته دا ترغیب په کامله طریقه بیان شویدے۔

٧- او مخکښې مصارف د غنیمتونو بیان شو دلته مصارف د زکاة بیانیږی۔

٨- هلته منافقان او (فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ) والا خلك په یو آیت کښې ذکر شو دلته ئے جدا جدا په تفصیل سره ذکر کړیدی۔ (المنار ١٠/١٣٣)

## د نزول زمانه

امام بخاریؒ د براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه سورة براءت آخری سورت دے چه په رسول الله ﷺ باندے نازل شوے۔ (بخاری: ٤٣٦٤)

## موضوع او مقصد د سورت

اَلْبَرَاءَةُ مِنَ الْكُفَّارِ اَجْمَعِيْنَ بِقِتَالِهِمْ وَ جِهَادِهِمْ ۔ د ټولو کافرانو نه د بیزارئ اعلان دے د هغوی سره په قتال او جهاد کولو۔ بیا قتال به د کومو کافرانو سره کولے شي؟ نو ددے سره ئے انواع الْمُقَاتَلین ذکر کړیدی۔ او جهاد به د منافقانو او فاسقانو سره کولے شي چه خبرے به ورسره پریخودے شي او بیزاری به ترے کیږی۔

## خلاصه د سورت

په سورت کښې څلور حصے دی، اوله حصه کښې انواع الْمُقَاتَلِيْن وغیره تر (٢٨) آیت پورے بیانیږی یعنی چه قتال به د چا سره کولے شي او چا سره نهٔ؟۔

بیا ئے قتال د اهل الکتاب او د هغے علل او وجوهات بیان کړیدی، بیا د (٩٩) آیت پورے بیان د خصال المنافقین دے چه دوی رانبکاره شي او مؤمنان ترے ځان وساتی او د مسلمانانو صفونه صفا شي۔ بیا د (٩٩) آیت نه تر آخر پورے انواع د مؤمنانو او د منافقانو بعض صفات دپاره د تحذیر (یعنی د مؤمنانو د یره ولو دپاره) بیانیږی۔

## شان نزول د سورت

ددے سورت د آیتونو په ښه شان سره پو هیدو دپاره هغه تاریخی حقائق او واقعات نظر کښې ساتل پکار دی د کوم د وجه نه چه دا سورت نازل شوے وو۔
په رمضان (۸ هـ) کښې رسول الله ﷺ مکه فتح کړه، دا د عربو د کورونو نه د شرك او د کفر د خاتمے ابتدائی اعلان وو۔ دے نه روستو د حنین غزا واقع شوه چه په هغے کښې هوازن قبیلے خپل پوره قوت خرچ کړو او په ابتداء کښې د مسلمانانو د شکست باوجود آخر د هوازن قدمونه اُوخویدل او الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ او مسلمانانو ته فتح ورکړه۔ د هغه غزا نه روستو د عربو مشرکانو موجود قوت ختم شو۔
ددے نه مخکښې په جمادی الاولیٰ سنه (۸ هـ) کښې د عربو په شمالی علاقه کښې د (مُؤته) په مقام کښې د مسلمانانو درے زره فوج د یو لاکھ رومیانو سره اُوجنګیدو او خپله مړانه او بهادری ئے اُوخودله او د هغه علاقے د کافرانو او اهل کتابو په نظرونو کښې د اسلام او مسلمانانو رعب او دبدبه ډیر حده پورے ناسته وه۔ او کله چه د رجب سنه (۹ هـ) کښې رسول الله ﷺ دیرش زره فوجیان واخستل او د قیصر مقابلے دپاره شام طرف ته روان شو او په تبوك مقام باندے ئے خیمه اُووهله او قیصر د مقابلے کولو نه مخکښې تختیدلے وو، او خواؤشا واړه واړه د عربو بادشاهان او امیران رسول الله ﷺ ته راغلل او د اسلام اعلان ئے اُوکړو۔ دارنګه نصاراؤ د اسلام د نهٔ قبلولو په صورت کښې د جزیې په ورکولو رضامندی ښکاره کړه نو د عربو نقشه بدله شوه او پوره علاقه پو هه شوه چه اُوس ددے علاقے نه د شرك خاتمه اُوشوه، اُوس صرف د اسلام دستوری اعلان باقی دے، او د مدینے کومو منافقانو چه د اسلام په خلاف سازشونه کول هغوی هم پو هه شو چه اُوس د هغوی دور ختم شو۔ دا ټول سورت ددے حالاتو او ظروفو نه ګیر چاپیره کرځی۔
نبی کریم ﷺ په نهم کال د تبوك د غزا نه مخکښې سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه حج ته ولیږلو او هغه ئے د حج د موسم امیر مقرر کړو۔ وجه دا وه چه مشرکان به حج ته راتلل هغوی لا بند شوی نهٔ وو او په بربنډه به طوافونه هم کیدل (او ځینی وائی چه مشرکانو نسیء کړے وه او حج ئے په ذو القعده کښې کولو نو ځکه ئے ابوبکر مقرر کړو (خطیب شربینیؒ) لیکن دا تاریخی خبره ده) پدے کښې الله تعالیٰ د سورة براءت دا اولنی آیتونه نازل کړل نو رسول الله ﷺ د ابوبکر (رضی الله عنه) پسے علی (رضی الله عنه) ولیږلو چه تهٔ لاړ شه او څلور

اعلانونه وكړه.

هغه چه ورغلو ابوبكر ﷛ ورته وفرمايل : امير راغلے كه مامور؟، هغه ووئيل : مامور يم خو رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه زما د طرفنه به اعلان هغه څوك كوي چه زما په رشته دارو كښې وي (لكه دا د عربو عادت وو چه يو مشر به چا ته اعلان كولو نو د خپلو رشته دارو په واسطه به ئې منلو او د بل چا به ئې نۀ منلو) بيا علي ﷛ ددے اعلانو مشري وكړه او د هغه سره ئې نور ملګري هم مقرر كړل لكه ابو هريره ﷛ وغيره.

امام احمدؒ د ابو هريره ﷛ نه روايت كړيدے چه كله د الله رسول علي بن ابي طالب ﷛ مكے والو ته د اعلان براء ت دپاره اُوليږلو نو زۀ د هغه سره اُوم. مونږ به (د حاجيانو په مينځ كښې ګرځيدو ګرځيدو سره) اعلان كولو.

او هغه څلور اعلانونه دا وو ١- (اَلَا لَايُحَجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ) د سږكال نه روستو به هيڅ مشرك حج له نۀ راځي.

٢- (وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ) د بيت الله نه به بربنډ سړے طواف نۀ كوي.

٣- دارنګه د چا چه د رسول الله ﷺ سره څه معاهده وي، د څلورو مياشتو نه كمه موده وي يا ورسره وعده نۀ وي يا وعده وي ليكن هيڅ موده مقرر نۀ وي نو د هغوي موده به د اُوس نه تر څلورو مياشتو پورے باقي وي.

پدے څلورو مياشتو كښې د دوي اختيار دے چه چرته ځي د مسلمانانو علاقو كښې ډے وګرځي، څوك به ورته څه نۀ وائي او بنه فكر ډے وكړي،

(د اسلام په باره كښې ئې د فكر دپاره ورته دا موقعه وركړه) او د څلورو مياشتو نه روستو الله تعالىٰ او د هغه رسول د مشركانو نه بري دي، نو چرته ئې چه مشرك ليدلو وژني به ئې ځكه چه اُوس اسلامي خلافت قائم شو، مشركانو ته آزادي ختمه شوه، ځكه چه زمونږ او ستاسو اُوس نۀ معاهده شته او نۀ صلح او نۀ جزيه.

نو پدے خبره پوهه شئ چه تاسو كه هرڅو مره پلانونه وتړئ نو اسلام نشئ ختمولے نو بنه درله دا ده چه راشئ توبه وباسئ او په اسلام كښې داخل شئ.

او ددے سره دا خبره ملګرے وه چه كومو خلكو سره وعده شويده او د هغوي موده د څلورو مياشتو نه زياته پاتے ده نو هغوي دپاره به هغه وعده پوره كيږي پدے شرط چه د هغوي د طرفنه كوم خيانت رانشي. (السعديؒ)

څلورم اعلان دا وو : (لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ)

جنت ته به صرف مسلمان داخلیږی۔ (مسند احمد : ۷۹۶٤) وسنده صحیح)

یعنی څوك دا دعوه ونکړی چه محمد رسول الله ﷺ څان ته جنتی وائی نو یو یهودی یا نصرانی یا مشرك به ووائی چه زهٔ هم جنتی یم۔ نو پدے سره فضاء او دعوت خرابیږی نو هرکله چه جنت په اسلام باندے موقوف شو نو هوښیار خلك به خپله سوچ کوی چه نجات په غیر د اسلام نه نشته نو اسلام ته به راځی۔

خلاصه :

پدے یو اعلان کښ لږ تفصیل وو نو الله پدے اولنی آیتونو کښ ذکر کړیدے روستو آیتونو کښ علل القتال بیانیږی (كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ) تقریباً شپاړس آیت پورے ئے شپاړس علتونه بیان کړیدی او په (مَاكَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ) کښ جواب د سوال دے چه دوی سره څنګه جنګ کیدے شی چه دوی خو جماتونه جوړوی، حاجیانو له اُوبه او خوراکونه ورکوی لکه د ډیرو خلکو دا ګمان دے چه قتال به صرف د غلیظ کافرو سره وی چه هیڅ خیر پکښ نهٔ وی او که کوم کافران لږ د خیر کارونه کوی نو هغوی سره به قتال نهٔ وی۔

نو الله جواب ورکوی چه د شرك او کفر سره دا هیڅ عمل د دوی قبول نهٔ دے او دا مانع د قتال نه نهٔ دی، بیا ئے کامل ترغیب ورکړیدے قتال فی سبیل الله ته، بیا ئے مسئله د براءت د مشرکانو نه بیان کړیده چه اګرکه ستاسو ورور یا پلار هم وی ترے جدا شئ۔

بیا ئے په اتو طریقو باندے قتال ته ترغیب ورکړیدے او درے وعیدونه ئے په آخر کښ بیان کړیدی، بیا ئے واقعه د غزوهٔ حنین راوړیده چه دا جواب د سوال دے او حکم ئے کړیدے چه مشرکان به نور مسجد حرام ته نهٔ راپریدئ تر (۲۸) آیت پورے۔

| |
|---|
| بَرَآءَةٌ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ |
| اعلان د بیزاریٔ دے د طرفه د الله او د رسول د هغهٔ نه هغه کسانو ته چه لوظ کړے تاسو |
| مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱﴾ فَسِيْحُوْا فِى الْاَرْضِ |
| (د هغوی سره) د مشرکانو نه (او لوظ ئے مات کړیدے)۔ پس اُوګرځئ په زمکه کښ |
| اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللهِ وَاَنَّ |
| څلور میاشتے او پوهه شئ چه بیشکه تاسو نهٔ یئ عاجزه کونکی الله لره او یقیناً |

| |
|---|
| اللّٰهَ مُخۡزِی الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲﴾ |
| الله تعالیٰ شرمونکے دے کافرانو لره۔ |

**تفسیر** : بَرَآءَةٌ: دا خبر د مبتداء دے (اَیْ هٰذِهٖ بَرَاءَةٌ) ۔ دا اعلان د بیزاریٔ دے د الله او د رسول د طرفنه۔ (وَاصِلَةٌ اِلَی الَّذِيۡنَ) چه رسیدونکے دے هغه کسانو ته الخ۔
یا (بَرَآءَةٌ ) مبتدا ده او تخصیص ئے په صفت (مِنَ اللهِ وَرَسُوۡلِهٖ ) سره شویدے او (اِلَی الَّذِيۡنَ عٰهَدۡتُّمۡ) ئے خبر دے۔ (خطیب شربینیؒ)
عٰهَدۡتُّمۡ مِّنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ : د روستو استثناء نه معلومیږی چه ددے سره یو قید مراد دے هغه دا چه (وَقَدۡ نَقَضُوا الۡعَهۡدَ) یعنی الله او رسول بری دی د هغه مشرکانو نه چه تاسو ورسره لوظونه کړیدی او هغوی مات کړیدی لکه د مکے مشرکانو هغه لوظ مات کړے وو چه د هغے تفصیل مخکښ ذکر شو۔ چه هغه لوظ د الله او د رسول په اجازه شوے وو او د مسلمانانو پکښ فائده وه ځکه ئے (عَاهَدۡتُّمۡ) کښ خطاب مسلمانانو ته وکړو۔ (شربینیؒ)
نو هرکله چه مشرکانو لوظ مات کړو نو الله او رسول به هم د هغوی د لوظ پابند نهٔ وی۔
او پدے کښ دا مطلب هم دے چه د ټولو مشرکانو نه د الله او رسول براءت وشو یعنی مشرکان د الله او رسول والا خلك نهٔ دے۔
فَسِيۡحُوۡا : یعنی په امن سره په زمکه کښ وګرځئ چه تاسو ته به څوك څه نهٔ وائی، ابوالسعودؒ وائی چه سیاحة او سَیح په زمکه کښ هغه ګرځیدل دی چه په نرمیٔ او آسانیٔ سره وی او د خپلے خوښے مطابق وی۔ (فتح البیان ۳/۶۹طبعٔ دار الکتب العلمیة بیروت)
فِی الۡاَرۡضِ: یعنی هر ځای ته تلل درله جائز دیٔ۔
اَرۡبَعَةَ اَشۡهُرٍ : دا څلور میاشتے د (۱۰ ذی الحجے) نه شروع دی تر (۱۰/ ربیع الثانی) پورے۔ ځکه چه دا اعلانونه د اختر په ورځ په مِنیٰ کښ شوی وو۔ او ددے نه څلور عزتمنے میاشتے مراد نهٔ دی۔
او مطلب د آیت دا دے چه مشرکانو ته ووئیل شو چه پدے موده کښ ډِے فکر وکړی که غواړی نو اسلام ډِے راوړی چه د دوی دپاره په دے کښ غوره دے، یا که غواړی نو د جزیرة العرب نه ډِے اُوځی۔ او که باقی پاتے کیږی نو دوی به نیولے شی او قتل کولے به شی۔ او دا څلور میاشتے مهلت هغه خلقو ته ورکړے شو چه د هغوی سره د معاهدے موده ددے نه کمه وه، لیکن کومو قبیلو چه د رسول الله ﷺ سره د څلورو میاشتو نه زیاتے مودے دپاره

معاهده کړے وه او هغه موده لا تر اُوسه باقي وه نو هغوی ته د هغوی پوره موده ورکړے شوه لکه چه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَاَتِمُّوْا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ﴾ (پوره کړئ تاسو هغوی سره لوظ د هغوی د مودے پورے) ابن جریرؒ همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔

وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ: پدے کښ غرض دا دے چه دا مهلت د مسلمانانو د کمزورتیا په وجه نهٔ دے ورکړے شوے بلکه پدے کښ حکمت دا دے چه کیدے شی تاسو توبه اُوباسئ او د زړهٔ په صدق سره اسلام قبول کړئ، ورنه تاسو هیڅ کله هم د الله د رانیولو نه بهر نشئ وتلے، او که تاسو په خپل کفر باندے باقي پاتے شوئ نو الله به تاسو رسوا کوی۔

او چونکه پدے وخت کښ مسلمانان قوی وو نو ځکه څلور میاشتے مهلت ورکړے شو او په صلح حدیبیه کښ مسلمانان کمزوری وو نو هلته لس کاله صلح وشوه۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ |
| او اعلان دے د طرف د الله او د رسول د هغهٔ نه خلقو ته په ورځ د حج لوئی چه یقیناً الله |
| بَرِیْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَرَسُوْلُهٗ، فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ |
| جدا دے د مشرکانو نه او رسول د هغهٔ (هم)، نو که توبه اُویستهٔ تاسو نو دا به |
| خَيْرٌ لَّكُمْ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ |
| ډیره غوره وی تاسو له او که مخ واړوو تاسو نو پوهه شئ چه بیشکه تاسو |
| غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳﴾ |
| نهٔ شئ عاجز کولے الله لره او زیرے ورکړه کافرانو ته په عذاب دردناک۔ |

**تفسیر**: مخکښ آیت کښ هم براءت وو او دلته بیا اَذَانٌ مِنَ اللهِ سره براءت ذکر کوی، د دواړو فرقونه دا دی (۱) په اولنی آیت کښ د براءت نه مراد په احکامو د دنیا کښ وو چه الله او رسول تاسو نه بری دی لیکن څلور میاشتے ئے په دنیا کښ د امن دپاره درکړے۔ او دا دویم (اَذَانٌ مِنَ اللهِ) اعلان د براءت دے د هغوی د محبت او موالات نه یعنی الله او رسول به تاسو سره مینه نهٔ لری او مؤمنانو ته هم وائی چه د دوی سره دوستی مهٔ ساتئ۔

(۲) ځینی وائی: په اولنی آیت کښ د مشرکانو نه د براءت ثابتیدو خبر ورکړے شویدے، او پدے آیت کښ د ثابت شوی براءت اعلان واجب وئیلے شویدے۔

(۳) غوره دا ده چه مخکښ براء ت وو د هغه مشرکانو نه چه د هغوی سره وعده شوې وه ځکه ئې هلته (عَاهَدْتُمْ) لفظ راوړو او دلته د براء ت اعلان د ټولو خلقو دپاره عام وو برابره ده چه وعدې والا مشرکان دي او که عام مشرکان دي پدې وجه ئې (النّاس) لفظ راوړو چه دوی سره به هم د څلورو میاشتو نه پس اعلان جنګ کولے شي۔ (شربینی والقاسمی والکشاف)

يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ : ددې نه مراد د ذی الحجې لسم تاریخ دې۔ په صحیحینو کښ دی چه ابوبکر او علی رضی الله عنهما د براء ت اعلان په یوم النحر یعنی په لسم تاریخ کړې وو۔

او د اختر ورځې ته حج اکبر پدې وجه ووئیل شو چه پدې ورځ د حج ډیر کارونه کیږی لکه جمره ویشتل، قربانی کول، طواف او سعی کول۔ او حج اکبر نه مراد حج دې ځکه چه عمرې ته حج اَصغر (وړوکې حج) وائی۔ او پدې کښ چونکه خلك زیات راجمع کیږی او کارونه پکښ زیات کیږی ځکه ورته اکبر وائی۔ (فتح البیان)

او د عوامو په نیز حج اکبر دې ته وائی چه د عرفې ورځ د جُمعې په ورځ راشي، دا اصطلاح قرآن او حدیث کښ نشته، اګرکه ددې فضیلت شته۔

په سنن ابوداؤد کښ دی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((د حج اکبر ورځ د قربانی ورځ ده))

ابوداود : (۱۹٤۸) وسنده صحیح

| |
|---|
| اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ |
| مګر هغه کسان چه لوظ کړې تاسو د هغوی سره د مشرکانو نه بیا ئې |
| لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْئًا وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ |
| کمې نۀ دې کړې ستاسو نه (په وعده کښ) هیڅ، او نۀ ئې امداد کړې ستاسو په خلاف |
| اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ اِنَّ |
| هیچا سره نو پوره کړئ هغوی سره لوظ د هغوی تر مودې د هغوی پورې، یقیناً |
| اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٤﴾ |
| الله مینه کوی تقویٰ والو سره۔ |

**تفسیر** : دا متعلق دې د اول (بَرَآءَةٌ) سره۔ او ځینی وائی چه دا د استثناء ده د (فَسِيْحُوْا) نه په تقدیر د (قُوْلُوْا لَهُمْ فَسِيْحُوْا) سره۔ (فتح البیان) او مطلب دا دې چه د کومو مشرکانو د

معاهدے موده چه د ځلورو میاشتو نه کمه وه یا د چا چه معاهده غیر معین وخت پورے وه نو هغوی ته د ځلورو میاشتو مهلت ورکړے شو لکه چه مخکښ بیان شو لیکن د کومو مشرکانو د معاهدے موده چه د ځلورو میاشتو نه زیاته وه. او هغوی د معاهدے د شرطونو پابندی کړی وی نو هغوی ته د هغوی د پوره مودے پورے مهلت ورکړے شو. همدا حکم پدے آیت کښ بیان شویدے.

لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ : یعنی کمے ئے نۀ دے کړے ستاسو په وعده کښ هیڅ شے.

وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا : یعنی نۀ ئے خپله ښکاره وعده ماته کړیده چه په تاسو ئے حمله کړی وی او نۀ په پټه وعده ماته کړیده چه ستاسو په خلاف ئے د نورو کافرو سره مدد کړے وی.

يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ : یعنی د وعدے وفاداری تقوىٰ ده او الله د تقوىٰ والو سره مینه لری، کافر سره به هم د لوظ پابندی کیدے شی ترڅو چه هغه نۀ وی مات کړے.

| |
|---|
| فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ |
| پس کله چه اُووتلے میاشتے عزتمنے نو وژنئ مشرکان کوم ځای کښ |
| وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ |
| چه موندۀ کړئ هغوی لره او نیسئ هغوی لره او بند کړئ هغوی لره او کینئ هغوی ته |
| كُلَّ مَرْصَدٍ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا |
| په هره مورچه کښ پس که توبه اُوویستله دوی او پابندی ئے کوله د مانځه او ورکولو ئے |
| الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥﴾ |
| زکاة نو خالی کړئ لاره د هغوی، یقیناً الله بخونکے رحم کونکے دے. |

**تفسیر** : د اکثرو مفسرینو رائے دا ده چه پدے آیت کښ ((اشهر حرم)) نه مراد هغه ځلور میاشتے موده ده چه رسول الله ﷺ مشرکانو ته د براءت د اعلان نه روستو د مهلت په طریقه ورکړے وے، (اَىِ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ الْمُتَاَجَّلُ فِيْهَا) . او چه د هغے ابتداء د لسم ذی الحجے نه شوے وه او په لسم د ربیع الثانی ختم شوے وو. د یو روایت مطابق د ابن عباس رضی الله عنه همدا رائے ده او دے میاشتو ته ((حُرُم)) (عزتمنے) پدے اعتبار سره ووئیل شوے چه پدے موده کښ د مشرکانو سره قتال کول حرام کړے شوی وو.

د څه خلقو رائے ده چه دلته د ((اشهر حرم)) نه مراد هغه مشهورے څلور مياشتے دی چه په هغے کښ د مخکښ نه جنګ کول حرام وو، او هغه رجب، ذی القعده، ذی الحجه او محرم مياشتے دی۔ او مطلب به دا وی چه د اشهر حرم دغه باقی مياشتے ووځی (يعنی پنځوس ورځے) چه هغه په محرم باندے ختميږی۔ د يو روايت مطابق د ابن عباس رضی الله عنه همدا رائے ده، او ابن جرير دے ته ترجيح ورکړيده۔ (فتح البيان)

ليکن حافظ ابن القيم رحمه الله اولنئ رائے ته ترجيح ورکړيده او وئيلی ئے دی چه الله تعالیٰ مشرکانو ته پرله پسے د څلورو مياشتو مهلت ورکړے وو، او که ددے نه مراد هغه مشهورے څلور مياشتے مراد کړے شی چه په هغے کښ جنګ کول په عمومی توګه سره حرام دے نو پرله پسے څلور مياشتے نهٔ کيږی انتهیٰ۔

ابن کثير هم دے رائے ته ترجيح ورکړيده، او وئيلی ئے دی چه د مشهورو عزتمنو څلورو مياشتو حکم پدے سورت کښ روستو راځی۔

فَاقْتُلُوا : د څلورو مياشتو مودے تيريدو نه روستو د مشرکانو دپاره په جزيرة العرب کښ هيڅ امان پاتے نهٔ دے۔

الله تعالیٰ مسلمانانو ته حکم وکړو چه ددے مودے نه روستو مشرکان کوم ځای مونده کړئ يا خوئے قتل کړئ يا که غواړئ نو قيد ئے کړئ، دوی په هر ځای کښ محاصره کړئ، او دوی تنګ کړئ تردے پورے چه اسلام راوړی يا قتل کړے شی۔

حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ : که دوی خپل درمسال او عبادت خانے ته هم روان وی وژلے به شی ځکه چه دوی اُوس حربی کافر شو، او د عبادت په حالت کښ ئے هم وژلے شی۔

كُلَّ مَرْصَدٍ : يعنی هر کمين ورته ونيسئ او هر ځای کښ پسے وګرځئ يواځے د هغوی په موندلو اکتفاء مهٔ کوئ او ددے تولو مطلب دا دے چه ژوند ورله تنګ کړئ۔

حافظ ابن کثير ليکلی دی چه دا آيت په حرم کښ د قتال د حراموالی د آيت په ذريعه مُخَصَّص دے، چه په هغے کښ الله فرمايلی دی :

﴿ وَلَا تُقَاتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقَاتِلُوْكُمْ فِيْهِ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ﴾ (بقره : ۱۹۱)

چه د مسجد حرام په خوا کښ مشرکانو سره قتال مهٔ کوئ يعنی د مشرکانو قتلول د څلورو مياشتو مودے تيريدو نه روستو د حرم نه سوئ په نورو ځايونو کښ جائز ګرځولے شوے وو۔

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ : که مشرکان اسلام قبول کړی، مونځونه وکړی او زکاة

ورکړئ نو بیا به دوی نۀ شي قتلولے، ځکه چه دوی مسلمانان شو۔ او که ددے دواړو نه د هر یو نه یا د دواړو نه منع شو نو ذوی سره به قتال کولے شي۔
ابوبکر ﷜ ددے آیت نه دلیل نیولو سره د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د زکوٰة د منع کونکو په خلاف د جنګ اعلان کړے وو۔ (ابن کثیرؒ)
سوال دا دے چه زکاة خو کال پس لازمیږی نو دا شرط څنګه لګوی؟
جواب دا دے چه ددے اقرار به کوی چه زۀ زکاة ورکوم، او بیا به کال پس ددۀ اندازه اخلی چه زکاۃ ئے ورکړو او که دهوکه ئے کړے وه، او دغه شان د مونځونو په وختونو کښ به ددۀ حال احوال اخستلے کیږی۔
فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ : ددے نه دا فائده معلومیږی چه مسلمانانو ته د ټولے دنیا لارے آزادی دی او په هغه باندے پابندی نشته، د شناختی کارډ او د پاسپورټ هیڅ پابندی پرے شرعاً نشته، بلکه دا کفارو د مسلمانانو د ژوند تنګولو دپاره مقرر کړیدی۔
ځینی خلك د شناختی کارډ او پاسپورټ نه بغیر یو ملك ته سفر کولو ته ګناه وائی، دا صحیح خبره نۀ ده۔
حافظ ابن القیم رحمه الله لیکلی دی چه الله تعالیٰ په سورة براء ت کښ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه د اسلام دشمنانو اهل کتابو سره جنګ وکړی تردے پورے چه اسلام قبول کړی یا په جزیه ورکولو راضی شی، او د نورو کافرانو او مشرکانو سره د سختئ سلوك وکړی او دا حکم ئے هم وکړو چه د کافرانو سره د تمامو مخکنو معاهدو نه د براء ت اعلان وکړی، نو همدغسے وشوه کومو کافرانو چه لوظ مات کړو رسول الله ﷺ د هغوی په خلاف جنګ وکړو او د کومو معاهدے چه د مقررے مودے پورے وے، او هغوی لوظ مات نکړو د هغوی د معاهدو موده ئے پوره کړه، او د کومو سره چه هیڅ معاهده نۀ وه او هغوی د مسلمانانو خلاف جنګ نۀ دے کړے، یا د کومو سره چه د غیر معینی مودے دپاره معاهده وه نو هغوی ته ئے څلور میاشتے مهلت ورکړو۔
ددے ټولو کاروایانو نتیجه دا شوه چه د معاهدے موده یا د څلورو میاشتو مودے پوره کیدو نه مخکښ اکثر مشرکان مسلمانان شول او کوم اهل کتاب چه په اسلام کښ داخل نۀ شو نو هغوی جزیه قبوله کړه۔
او د منافقانو په باره کښ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه د دوی ظاهری اسلام قبول کړی او د دوی باطن الله ته وسپاری او د دوی سره په قول او عمل کښ د سختئ

معامله وکړي۔ دارنګه د اسلام احکام دوی ته همیشه اُورسوی او که دوی مړهٔ شي نو په دوی به مونځ نهٔ کوی او د دوی د قبرونو خوا کښ اُودریدو سره به د دوی دپاره دعا نهٔ کوی۔ آه (زاد المعاد ۳/۱۶۱)

| |
|---|
| وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ |
| او که چرے یو تن د مشرکانو نه امن اُوغواړی ستا نه (دپاره د داخلیدو دار اسلام ته) |
| فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ |
| نو امن ورکړه هغه ته تردے چه واوری کلام د الله بیا اُورسوه هغه لره ځائے د امن د هغه ته |
| ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦﴾ |
| دا پدے وجه چه دوی داسے قوم دے چه نهٔ پو هیږی۔ |

**تفسیر**: مخکنی آیت کښ د دوه قسمه مشرکانو حکم بیان شو نو اُوس د یو دریم قسم مشرك حکم بیانوی چه هغه ته مُسْتَاْمِن وائی۔ مُسْتَأْمِنِیْن هغه دی چه یو تن یا ډیر کسان د مسلمانانو د امیر نه مطالبه وکړی چه مونږ ستاسو دغه ملك ته درځو د تجارت په غرض، یا مو دلته خپلوان دی، یا د مسلمانانو د لیدو کتو دپاره، یا د قرآن د آوریدو دپاره راځی او امان وغواړی او پدے کښ امیر المؤمنین ته فائده ښکاره کیده نو اجازه به ورکړی خو پدے شرط چه هغوی به په غلط نیت نهٔ وی راغلی، دلته به د خپل دین دعوت نهٔ کوی، زِنّار (د هغوی د عبادت نخه) به نهٔ اچوی، دلته به شراب خوری وغیره نهٔ کوی نو مسلمانان هغه ته امن ورکولے شي۔

او پدے آیت کښ چه کوم حکم راغلے دے دا د مخکنی قتل والا حکم نه تخصیص شوے او مستثنیٰ شویدے، مطلب دا دے چه که یو مشرك د معاهدے د مودے یا د څلورو میاشتو مودے تیریدو نه روستو د مسلمانانو نه امان غواړی دے دپاره چه هغه ته د قرآن کریم د آوریدو او پو هیدو موقعه ملاؤ شي او د اسلام په سوچ سره مطالعه وکړی نو د الله تعالیٰ دا حکم دے چه هغه ته به دا موقعه ورکولے شي، ځکه چه ډیره ممکن ده چه د هغه په کفر باندے ولاړ وسیدل د ناپو هئ او د اسلام د خیرونو نه د ناخبرئ په وجه سره وی، همدا وجه ده چه که یو کافر شخص به د نبی کریم ﷺ خوا ته د هدایت د طلب په نیت یا د پیغام رسونکی په حیثیت سره راتلو نو نبی ﷺ به هغه ته امان ورکولو۔

د صلح حدیبیه په موقعه د قریشو ډیر کسان د نبی ﷺ خواته راغلل چه په هغې کښ د عروه بن مسعود ثقفی نوم زیات مشهور دے، هغه چه کله د نبی کریم ﷺ د مسلمانانو عقیدت او محبت اُولیدلو نو ډیر زیات متأثر شو او واپس لاړو د قریشو کافرانو په محفلونو کښ ئے بیان وکړو۔ چه د هغې اثر دا شو چه د هغه نه روستو د قریشو ډیرو کافرانو اسلام قبول کړو۔

که د مسلمانانو ترمینځ اُوسیدو د قرآن کریم د آوریدو او پو هیدو او د اسلام د مطالعه کولو نه روستو په اسلام مشرف کیږی نو صحیح ده، او که نهٔ وی نو هغه به د امان ځای ته رسولے شی دے دپاره چه کافران مسلمانانو ته خیانتګر ونهٔ وائی۔

رسول الله ﷺ فرمایلی دی: (مَنْ أَمَّنَ رَجُلًا عَلٰى دَمِهٖ ثُمَّ قَتَلَهٗ فَاَنَا بَرِیْءٌ مِنَ الْقَاتِلِ وَاِنْ كَانَ الْمَقْتُوْلُ كَافِرًا) چا چه کوم سړی ته پناه ورکړه او بیائے هغه قتل کړو نو زهٔ د داسے قاتل نه بری یم، اګرکه مقتول کافر وی)۔

(تاریخ البخاری، والطبرانی فی الصغیر۹/۱۲۱) بسند صحیح) السلسلة الصحیحة: (۴۴۰)۔

**كَلٰمَ اللّٰهِ**: قرآن کریم ته د الله کلام وائی، او دا د الله حقیقی کلام دے، کوم باطل پرست چه دے ته دال په کلام الله وائی نو دا غلطه عقیده ده، د سلفو صالحینو خلاف ده۔

**مَاْمَنَهٗ**: یعنی ځای د امن ته۔ د هغه دار الکفر ته د رسیدلو نه روستو که مسلمانان په هغه علاقه حمله اُوکړی او هغه پکښ ووژلے شی نو مسلمانان به هیڅ ګنا هګار نهٔ وی۔

**لَّا يَعْلَمُوْنَ**: اَىِ الدِّيْنَ وَالتَّوْحِيْدَ فَهُمْ يَحْتَاجُوْنَ اِلٰى سَمَاعِ كَلَامِ اللّٰهِ۔

دا خلك د الله په دین او د هغه په توحید نهٔ پو هیږی نو محتاج دی چه د الله کلام واوری او د الله په دین پو هه شی۔

| |
|---|
| كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا الَّذِيْنَ |
| څرنګه به وی مشرکانو له لوظ په نیز د الله او په نیز د رسول د هغهٔ مګر هغه کسان |
| عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَا |
| چه لوظ ورسره کړیدے تاسو په خوا (نزدے) د مسجد حرام کښ نو ترڅو پورے |
| اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ |
| چه کلك وی دوی تاسو سره (په وعده باندے) نو کلك اُوسیږئ تاسو دوی سره |

| |
|---|
| اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧﴾ |
| یقیناً الله مینه کوی متقیانو سره۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې د مشرکانو نه د براء ت اعلان او هغوی ته صرف د څلورو میاشتو مهلت ورکولو حکمت بیان شویدے۔ الله تعالیٰ وفرمایل چه مشرکانو ته د الله او د هغه د رسول د طرف نه امان په کوم بنیاد ورکړے شی؟ نهٔ خو دوی ایمان راوړے او نهٔ ئے رسول الله ﷺ ته په ضرر رسولو کښې څه کمے کړے، د حق خلاف ئے جنګ کړے، د باطل تائید ئے کړے، او په زمکه کښې ئے فساد راپورته کړے او هر لوظ ئے مات کړیدے، پدے وجه د الله او د رسول الله ﷺ د طرف نه دوی د هیڅ رعایت مستحق نهٔ دی۔ یعنی دا څنګه کیدے شی چه دوی دِے وعدے ماتوی او الله او رسول به د دوی لحاظ ساتی، آیا ګنے الله او رسول دوی ته محتاج دے؟۔

كَيْفَ : دا کیف د استفهام تعجبی دپاره دے چه متضمن دے انکار لره۔

لِلْمُشْرِكِيْنَ : ددے مشرکین نه مراد نَاكِثِيْنَ لِلْعَهْد دی (یعنی لوظ ماتونکی) څکه چه براء ت ددوی په باره کښې وو۔

اِلَّا الَّذِيْنَ : دا استثناء ده د (اَلْمُشْرِكِيْنَ) نه او ددے کسانو نه مراد بنی بکر دی او مطلب دا دے چه آؤ، د بنی بکر بن کنانه د کومو خلقو سره چه رسول الله ﷺ د صلح حدیبیه په موقعه د حرم خوا کښې معاهده کړے وه د هغوی د معاهدے خیال دِے اُوساتلے شی، که هغوی هم ددے خیال ساتی، څکه چه الله تعالیٰ غدر او خیانت نهٔ خوښوی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ په ذی القعده سنه (٦ هـ) کښې په حُدیبیه مقام کښې د مکے والو سره د صلح کومه معاهده کړے وه په هغے باندے ولاړ پاتے شو تردے پورے چه خپله قریشو وعده ماته کړه او د بنو بکر سره ئے په شریکه د خزاعه قبیلے کسان په حرم کښې قتل کړل کوم چه د رسول الله ﷺ حلفاء وو۔ نو رسول الله ﷺ په رمضان سنه (٨ هـ) کښې د مکے په مشرکانو حمله اُوکړه، او بَلَدِ حرام (عزتمند ښار) ئے د مشرکانو نه پاك کړو۔ ددے واقعے نه روستو تقریباً دوه زره مشرکانو ایمان راوړو او څه خلق په خپل کفر باقی پاتی شو او د مکے نه اُوتختیدل۔ نو رسول الله ﷺ هغوی ته د څلورو میاشتو مهلت ورکړو، په هغه خلقو کښې صفوان بن امیه او عکرمه بن ابی جهل وغیره وو چه روستو دوی هم په اسلام مشرف شو او د(رضی الله عنهم) لقب ورته ملاؤ شو۔

| |
|---|
| كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا |
| څنګه به وي (ددوی لوظ لره اعتبار) او كه زورور شو دوی په تاسو، (نو) لحاظ نۀ ساتي |
| فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ |
| په تاسو كښ د خپلولئ او نۀ د لوظ، خوشحالوی دوی تاسو لره په خولو خپلو |
| وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨﴾ اِشْتَرَوْا |
| او انكار كوی زړونه د دوی او زيات خلق د دوی نافرمان دی۔ اخستے دی دوی |
| بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ط |
| په بدل د آيتونو د الله تعالىٰ كښ پيسے لږے نو منع كوی دوی خلق د لارے د هغۀ نه |
| اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩﴾ |
| يقيناً دوی بد دے هغه عمل چه دوی ئے كوی۔ |

**تفسير** : پدے كښ عِلَلُ الْقِتَال (د مشركانو سره د قتال علتونه او وجوهات) بيانوی او دے علتونو ذكر كولو كښ د ډيرو خلكو صفائي او د مسلمانانو د دوی په جنګ باندے راتيزول دی، د ډيرو خلكو په ذهن كښ جهاد دهشت ګردی او تخريب كاری ښكاره كيږی نو الله دلته د مشركانو شپاړس عيبونه بيانوی چه پدے وجوهاتو سره هر عقلمند دا فيصله كوی چه دا خلك د امان لائق نۀ بلكه د جنګ لائق دی۔

**كَيْفَ** : اَیْ كَيْفَ لَاتُقَاتِلُوْنَهُمْ) يعنی تاسو به څنګه د مشركانو سره جنګ نۀ كوئ۔

**اِلًّا**: ١- اَلْعَهْد (لوظ) (مجاهدؒ- ابن كثيرؒ)۔

٢- اَلْقَرَابَةُ۔ (خپلولی) (ابن عباسؓ)

٣- اَلْحَلْفُ۔ (قسم) (قتادهؒ- ابن كثير)۔ ٤- اَلْجِوَار۔ (ګاونډتوب)۔

٥- ازهریؒ وائی: دا په عبرانئ ژبه كښ د الله نوم دے او په اصل كښ د "اِيْلْ" نه دے بريق (رڼا) ته وائی۔ (قاموس وفتح البيان)

**وَّلَا ذِمَّةً** : ١- عهد (لوظ) ته وائی، جمع ئے ذِمَمْ ده۔ (ابن عباسؓ)

صاحب المنار وائی : ذمه هغه عهد ته وائی چه د هغے په نۀ پوره كولو انسان ته بد نسبت كيږی او بدی ئے وئيلے كيږی۔ يعنی دا خلك كه لوظ مات كړی نو د عيب او بدئ

هیڅ پرواه نۀ لری.

۲- ذمه ضمان ته وائی.

۳- ابوعبیدةؒ او ازهریؒ وائی : ذمه امان ته وائی لکه حدیث کښې دی : (وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعٰى بِهَا اَدْنَاهُمْ) (بخاری : ۳۳۹۳) (فتح البیان)

صاحب المنارؒ وائی : الله تعالیٰ تخصیص نۀ دے کړے نو دا الفاظ دے ټولو معانیو ته شاملیدل صحیح دی.

مطلب دا دے چه د مشرکانو دپاره د الله د طرف نه امان څنګه ملاؤ شی؟ او د دوی سره قتال ولے ونکړے شی ؟ حال دا چه د دوی حال دا دے چه که دوی په مسلمانانو غالب شی نو بالکل رحم نۀ کوی، او د الله نه یره نۀ کوی او مسلمانانو له سخت عذاب ورکوی.

**يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ** : یعنی کله چه دا مشرکان ستاسو نه یریږی. په هغه وخت چه دوی کوم سلوك تاسو سره کوی په دے مۀ دهوکه کیږئ دا خو صرف په خپل منافقانه خوږو خبرو سره ستاسو د خوشحالولو کوشش کوی او د هغوی زړونه ستاسو په خلاف د بغض او دشمنئ نه ډك دی. د دوی نه اکثر خلق د دیانت (دینداریٔ) او مُروَت (سړیتوب) نه په ډیرو فاصلو لرې دی.

**وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ** : (اَیْ بِنَقْضِ الْعَهْدِ) یعنی اکثر د دوی په وعده ماتولو سره نافرمان دی.

سوال دا دے چه کافران خو ټول نافرمان دی نو اکثر پکښې څنګه وائی ؟

جواب دا دے چه دلته فاسق نه مراد نَاقِضُ لِلْعَهْدِ (وعده ماتونکے) دے. یعنی د الله نافرمان خو ټول دی خو اکثر پکښې د بندګانو د لوظ پابند هم نۀ دی.

**اِشْتَرَوْا** : بل مرض : دوی د دنیا سپك سامان په الله تعالیٰ او د هغۀ په رسول باندے د ایمان راوړو نه غوره کړیدے، او خپل ځانونه او نور خلق ئے د الله د نیغے لارے نه بند کړی.

اشتراء نه مراد غوره کول دی او ثمن قلیل ټوله دنیا ده، یعنی د قرآن په مقابله کښې دنیا غوره کول، نو دوی د الله په کتاب ایمان راتۀ وړو او د دنیا مال متاع، عهده، شهرت او ریاست (مشری) ئے غوره کړه او د الله کتاب ئے شاته ګوزار کړو نو ځکه د قتال لائق دی.

ځینی خلکو دا د یوے واقعے پورے خاص کړیدے چه ابو سفیان مشرکانو له روټیٔ وکړه چه راځئ د محمد (ﷺ) سره د صلح حدیبیه والا وعده ماتوو. نو دوی روټیٔ وخوړه او وعده ئے ماته کړه نو پدے آیت کښې هغے ته اشاره ده. (بغوی، فتح البیان والمنار)

مگر غوره دا ده چه آیت عام دے او دغه واقعے ته هم پکښې اشاره شته۔

| |
|---|
| لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً |
| لحاظ نۀ کوی دوی په باره د مؤمن کښې د خپلولئ او د لوظ |
| وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝۱۰ |
| او دا کسان هم دوی د حد نه تیروتونکی دی۔ |

**تفسیر** : ۱- نحاسؒ نه قرطبیؒ او فتح البیان نقل کړیدی چه دا آیت تکرار نۀ دے بلکه مخکښې آیت د ټولو مشرکانو په باره کښې دے او دا آیت د یهودیانو په باره کښې دے ځکه چه دلته اشتراء بالآیات ذکر ده او دا اکثر د یهودو مرض وو۔

۲- یا دا آیت د عامو مؤمنانو په باره کښې دے او مشروط نۀ دے په وخت د غلبے پورے او مخکنے آیت د صحابه کرامؓ په باره کښې وو، هلته (لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ) خطاب صحابه کرامؓ ته وو۔

۳- یا مخکنے آیت د (وَاِنْ يَّظْهَرُوْا) جواب وو او دا اخبار دے د قبیح (بد حال) حال د دوی نه چه د دوی حال ډیر قبیح دے۔ (فتح البیان۳/۷۹)

مطلب دا دے چه د الله او د رسول سره ددے دشمنئ په وجه سره دوی د هیڅ مسلمان په باره کښې د هیڅ معاهدے وغیره هیڅ خیال نۀ ساتی۔

صاحب المنار لیکی : عربو به د قَسم او خپلولئ ډیر سخت لحاظ ساتلو لیکن د مشرکانو د مؤمنانو سره دومره سخت بغض او دشمنی وه چه د دوی په باره کښې ئے ددے دواړو صفتونو نه لاس وینځلے وو۔ آه۔ او دا د هر مبتدع کار دے چه د اهل حقو په باره کښې بیا د هیڅ لحاظ نۀ ساتی، دروغ، بهتان او دهوکه هرڅه ته تیار وی۔

الْمُعْتَدُوْنَ : یعنی د عهودو د وفادارئ د حدودو نه تجاوز کونکی دی، د دوی ایمان او اهل ایمان بدی شی نو بس اُوس د دوی علاج صرف دا دے چه په ښائسته صفاتو ځان متصف کړی۔

| |
|---|
| فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ |
| پس که توبه اُوباسی دوی او پابندی کوی د مانځه او ورکوی زکاة نو ورونه دی ستاسو |

| |
|---|
| فِي الدِّيْنِ ۭ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ |
| په دین کښې، او تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه دپاره د هغه قوم چه پو هیږی۔ |

**تفسیر** : یعنی که دوی کښې دغه ښه صفات پیدا شو کوم چه پدے آیت کښې ذکر دی. نو بیا دوی ستاسو ورونه دی، او دوی ورونه وګڼړئ۔

**فَاِخْوَانُكُمْ** : اَیْ فَاِنَّکُمْ تُعَاوِنُوْنَهُمْ عَلَی الْاِیْمَانِ. یعنی دوی سره به په ایمان باندے تعاون او مدد کوئ۔ او پدے کښې مسلمانانو ته دا نصیحت شویدے چه ستاسو د دوستئ او دشمنئ بنیاد به صرف د الله دین وی، نۀ د نفس خواهش۔ پدے وجه که څوك ستاسو د دین تائید کوی نو هغه خپل دوست وګڼړئ. که دا مشرکان د خپل شرك نه توبه اُوباسی او ایمان راوړی، مونځونه قائم کړی او زکاة ورکړی نو دوی ستاسو دینی ورونه دی، د دوی سره د ورونو په شان معامله او سلوك کوئ او د زړۀ دشمنی هیره کړئ۔

او دا آیت دلیل دے چه دینی اُخوّت صرف پدے دوه څیزونو (صلاة او زکاة) باندے ثابتیږی او ددے نه بغیر په نورو څیزونو نۀ ثابتیږی۔ او دا دینی اُخوّت صرف د اسلام خصوصیت دے، او مشرکان ددے لوی اُخوّت نه محرومه وو، د هغوی به د یو بل سره په نۀ خبره جګړے وے او قوی خلکو به ضعیفان ختمول۔

او ابن جریرؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه دے آیت د اهل قبله (یعنی مسلمانانو) وینے تو یه ول حرام کړیدی۔ (المنار)

**وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ** : یعنی مونږ په تفصیل سره بیانوو هغه آیتونه او دلیلونه چه هغه جدائی راوستونکی دی د حق او د باطل او د ایمان او د کفر ترمینځ۔

| |
|---|
| وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا |
| او که مات کړل دوی قسمونه خپل روستو د لوظ د دوی نه او عیب ئے لګولو |
| فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ |
| په دین ستاسو کښې نو جنګ اُوکړئ د مشرانو د کفر سره یقیناً دوی |
| لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴿۱۲﴾ |
| نشته هیڅ قسمونه د دوی، دے دپاره چه دوی منع شی۔ |

**تفسير**: مخکښ بيان شو چه که مشرکان د لوظ لحاظ ساتي نو تاسو هم د هغوی سره د کړے معاهدے خيال اُوساتئ، دلته د هغه خبرے تکميل دے چه که دوی په معاهده باندے ولاړ نهٔ وی، يا ستاسو خلاف د دشمنانو مدد کوی، او ستاسو په دين کښ عيب لټوی نو ددے کفر د مشرانو سره خاصکر او د تمامو مشرکانو سره عموماً جنګ کوئ ځکه چه لوظ ماتول د دوی د طرف نه دی، په دوی باندے په هيڅ حال کښ هم بهروسه نشی کيدے۔

**اَيۡمَانَهُمۡ مِنۡ بَعۡدِ عَهۡدِهِم**: يعنی پس د هغے نه چه دوی لوظونه وکړل او په هغے کښ کړی قَسمونه ئے مات کړل ځکه چه عربو به په لوظ کښ د زيات تاکيد دپاره قَسم هم کولو۔

يا د اَيمان نه مراد عُهود (لوظونه) دی او (مِنۡ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ) نه مراد (اَیۡ بَعۡدَ مَا عَاهَدُوۡهُمۡ عَلَيۡهَا) پس د هغے نه چه دوی هغه لوظونه وکړل۔ او عهدونو ته اَيمان پدے وجه ووئيل شو چه عربو به د عهد په وخت خپل ښے لاس د بل په ښی لاس کښ کيخودو۔ (المنار ۱۷۲/۱۰ وفتح البيان ۷۹/۳)۔

**وَطَعَنُوۡا فِيۡ دِيۡنِكُم**: يعنی ستاسو په دين باندے عيبونه ووائی، او عيبونه پکښ لټوی، هغے ته کنځل او بد رد وکړی او هغے پورے استهزاء وکړی۔

او د (دين عيب لټولو) نه مراد هره هغه خبره ده چه د الله يا د هغه د رسول خلاف يا د قرآن او حديث خلاف ووئيلے شی۔ او کوم خلق چه داسے کوی (د الله په نيز) هغه د کافرانو مشران وی۔

يواځے لوظ ماتول د دوی د قتل د اباحت دپاره کافی دے خو (وَطَعَنُوۡا) ئے پرے عطف کړو او دائے ورسره جمع کړو، پدے کښ ايمان والو ته د دوی په قتال باندے تيزی ورکوی۔ (فتح البيان)

**لَا اَيۡمَانَ لَهُمۡ**: ۱- اَیۡ لَايُرَاعُوۡنَهَا وَلَايَعُدُّوۡنَ نَقۡضَهَا مَحۡظُوۡرًا۔ دوی د خپلو قسمونو هيڅ لحاظ نهٔ ساتی او د هغے ماتول ورته څه ناروا نهٔ ښکاری۔

۲- يعنی د دوی لوظونه او قسمونه د نهٔ لوظونو او قسمونو په شان دی، ځکه چه دا صرف د ژبے دهوکه ورکول دی چه د دوی د وفادارئ هيڅ اراده نشته نو دوی دا په اوله ورځ ماتوی که وس ئے بر شي۔ (المنار)

پدے کښ اختلاف دے چه ددے (اِنۡ نَکَثُوۡا) نه کوم خلك مراد دی؟

۱- ځینې مفسرینو ددې نه قریش کافران او د هغوی سرداران مراد کړیدی او (اِنْ) ئې په معنیٰ د (اِذَا) سره اخستې دې یعنې هرکله چه دې خلکو لوظ مات کړو نو بیا ورسره قتال وکړئ ځکه چه دوی د کفر مشران دی.

۲-مجاهدؒ وائې ددې نه مراد اهل فارس او رومیان دی. لکه د عمر فاروق ؓ په زمانه کښې هغوی سره دغسې وشول.

۳- حذیفه ؓ فرمائي: (مَا قُوتِلَ اَهْلُ هٰذِهِ الآيَةِ وَلَمْ يأْتِ اَهْلُهَا) پدې آیت کښې ذکر شوی خلکو سره قتال نۀ دې شوې او نۀ ددې اهل لا تر اوسه راغلی دی. (فتح البیان والبغویؒ)

٤- ځینې وائې ددې نه مراد مرتدین دی یعنې که چا توبه ویستله او ایمان ئې راوړو او صلاة او زکاة ئې ادا کړو او بیا ئې دغه لوظ مات کړو او مرتد شو نو دوی د کفر امامان شو نو قتال ورسره وکړئ. (زمخشری)

٥- مګر غوره دا ده چه دا آیت په خپل ظاهر باندې بناء دې او دا صریح دې په مشرکانو د عربو کښې چه هغوی د رسول الله ﷺ او مؤمنانو سره لوظونه کړی وو کوم چه د دوی نه پاتې وو او ددې په حکم کښې هر هغه څوك داخل دې چه د هغه حال د مؤمنانو سره په هره زمانه کښې داسې وی لکه د عربو مشرکانو نو پدې کښې ټولو کافرو ته اشاره ده. لکه مشرکین مکه، بنو قریظه، بنو نضیرو او آینده زمانه کښې که هر څوك وی. نو هر هغه څوك چه د مؤمنانو سره په هر دور کښې لوظونه ماتوی او دشمنی راښکاره کوی او د هغې نښه دا وی چه په دین اعتراضونه کوی نو دا د کفر امام دې. (المنار).

او دوی ته ئې (اَئِمَّةَ الْكُفْرِ) یعنې د کفر امامان پدې وجه ووئیل چه څوك په دین کښې طعن کوی نو دۀ ته اعتراضونه ورځی او د حق د داعیانو په خلاف سازشونه کوی او چه څوك اعتراضونه کوی نو هغه د کفارو مشروی ځکه چه عوام خلك د هغوی موافقت کوی.

**لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ** : یعنې تاسو په خپل قتال سره دا امید وساتئ چه دوی به د خپل کفر او شرك او د وعدو ماتولو نه منع شی. نو پدې کښې منع ده د قتال کولو نه د کفارو سره د نفس د خواهش دپاره یا د دنیاوی منافعو د خاطره یا خالص د انتقام اخستلو دپاره. (المنار)

| |
|---|
| اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ |
| آیا جنګ نۀ کوئ تاسو د داسې قوم سره چه مات کړی نې دی قسمونه خپل |

| |
|---|
| وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ |
| او قصد ئے کړیدے په ویستلو د رسول او دوی شروع کړیده په تاسو باندے اول ځل |
| أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ |
| آیا یریږئ تاسو د دوی نه پس الله ډیر لائق دے چه ویریږئ تاسو د هغهٔ نه |
| إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾ |
| که یئ تاسو ایمان لرونکی۔ |

**تفسیر** : مسلمانان باربار د مکے د مشرکانو په خلاف راپورته کولے شي، او د هغوی د قتال سببونه بیانوی او د هغوی هغه صفات بیانیږی چه د هغے په آوریدو سره د مسلمانانو غصه راپورته شی او د هغوی په خلاف جنګ ته تیار شی۔

الله فرمائی : دا هغه مشرکان دی چه دوی د رسول الله ﷺ سره د خپلو کړو معاهدو لحاظ نهٔ وو ساتلے او د خپلو حلیفانو بنو بکر سره ئے د خزاعه په خلاف مدد کړے وو کوم چه د رسول الله ﷺ حلیفان وو، او کومو چه رسول الله ﷺ لره د مکے ښار نه د ویستلو په دار الندوة کښې سازش کړے وو، حال دا چه پکار خو دا وه چه دے خلقو د الله د رسول احترام کولے او د هغه مقام ئے پیژندلے۔

**وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ** : دوی د مکے نه د رسول الله ﷺ د ویستلو اراده کړے وه، بیا هغه اګرکه په خپل اختیار او د الله په اجازه ووتلو لیکن دوی ئے اراده کړے وه۔ داسے شو لکه چه دوی ویستلو او بیا ئے حقیقةً هم وویستلو۔

دارنګه اګرکه مشرکانو د رسول الله ﷺ په باره کښې درے ارادے کړے وے، جیل ته اچول، قتل او د کلی نه ویستل خو دلته ئے ویستل ذکر کړل ځکه چه ددے اثر په خارج کښې رابنکاره شو۔ (فتح البیان)

**وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ** : یعنی د غزوهٔ بدر په موقعه د قتال ابتداء هم د دوی د طرفه وشوه چه د تجارتی قافلے د بچ کولو دپاره د مکے نه تلی وو او قافله هم بچ وتلے وه لیکن دوی په کبر او غرور کښې راغلل او د مسلمانانو سره ئے د جنګ کلکه اراده وکړه۔ او په حدیبیه مقام کښې د نبی کریم ﷺ سره د کړے صلح د معاهدے په ماتولو کښې هم دوی ابتداء وکړه تردے پورے چه رسول الله ﷺ د دوی د ذلیله کولو دپاره په مکه باندے حمله

وکړه. نو هرکله چه دوی ستاسو مشر وياسي او اول ظلم دریاندے کوی نو بيا تاسو د دوی سره ولے جنګ نۀ کوئ. پدے کښې ډیره تيزي ورکول دی.

**اَتَخۡشَوۡنَهُمۡ** : اَیْ بِتَرْكِ الْقِتَالِ. يعنی آيا تاسو د دوی نه يره کوئ چه جنګ ورسره نۀ کوئ. دا ځکه وايو چه د کافر نه او د هغه سره د موجودو وسلو نه يره نارواء نۀ ده ليکن جهاد پريخودل صحيح نۀ دی.

**فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنۡ تَخۡشَوۡهُ** : يعنی الله ډير لائق دے چه د هغۀ نه يره وکړئ ځکه چه ضرر او نفع رسونکے په حقيقت کښې الله تعالیٰ دے او که تاسو قتال پريخودو هغه به عذاب درکړی نو د هغه د عذابونو نه يره وکړئ او دا د ايمان تقاضا ده. (فتح)

او دا آيت دليل دے چه صحيح مؤمن به د ټولو خلکو نه زيات بهادر او اُوچت همت والا وی ځکه ددۀ يره به صرف د الله نه وی. (المنار)

| |
|---|
| قَاتِلُوۡهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ اللّٰهُ بِاَيۡدِيۡكُمۡ |
| جنګ وکړئ د دوی سره عذاب به ورکړی دوی ته الله تعالیٰ په لاسونو ستاسو |
| وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنۡصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ |
| او وبه شرموی دوی لره او مدد به وکړی ستاسو سره په مقابله د دوی کښې او يخے به کړی |
| صُدُوۡرَ قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۴﴾ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوۡبِهِمۡ وَيَتُوۡبُ اللّٰهُ |
| سينے د قوم مؤمنانو. او بوبه ځی غصه د زړونو د دوی، او مهربانی کوی الله تعالیٰ |
| عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۱۵﴾ |
| په چا چه وغواړی او الله پوهه حکمتونو والا دے. |

**تفسير** : الله تعالیٰ خو قادر دے چه يو آن (لمحه) کښې د دين دشمنان هلاك کړی ليکن الله داسے ونکړل بلکه د جهاد حکم ئے وکړو، پدے کښې ډير فوائد دی لکه الله د خپلو مؤمنانو بندګانو په لاسونو دے مشرکانو ته سزا ورکول غواړی، دوی رسوا کول غواړی، او د دوی په خلاف د مؤمنانو مدد کوی او کافرانو ته خودل غواړی چه الله د مؤمنانو بندګانو سره وی.

**وَيَشۡفِ صُدُوۡرَ قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِيۡنَ** : او د جهاد د مشروعيت دويم علت دا دے چه الله د خپلو

مسلمانانو بندګانو په لاسونو دا کافران ختموی او د دوی زړونه یخول غواړی، او د دوی زړونو غصه ختمول غواړی ځکه چه دوی ته ددے مشرکانو د لاسونو نه ډیر تکلیفونه رسیدلی دی، او لوی غمونه ئے پورته کړیدی، کله چه په خپلو لاسونو سره دوی قتل کړی نو د دوی د زړونو بوج به سپک شی۔

## د شفاء الصدور او ذهاب الغیظ فرقونه

وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ : ځینی مفسرین ددے او د شفاء الصدور مینځ کښ داسے فرق کوی چه (۱) شفاء د سینے اشاره ده وعدے د فتح ته ځکه چه د وعدے پوره کیدو انتظار چه کله ئے د هغے په پوره کیدو اعتماد وی سینه یخوی، او د غصے ختمول د فتح واقع کیدو ته اشاره ده۔ (فتح البیان وفتح القدیر) لیکن دے کښ دومره فائده نشته۔

(۲) غوره فرق دا دے چه دا جدا جدا ځیزونه دی کله غصه لاړه شی او سینه یخه نشی نو د غصے زائله کیدل په منزله د تخلیه ده او يَشْفِ صُدُوْرَ په منزله د تحلیه دے۔ مثلاً یو تږے انسان یو ګوټ اُوبه وڅکی نو معمولی شان تنده ئے خو ماته شوه لیکن خوند ئے وانخستو خو چه کله یخے او ډیرے اُوبه وڅکی نو سینه ئے یخه شی۔ او د کافرانو په جنګ کښ مؤمنانو ته دا دواړه فائدے ملاویږی۔ او دا د الله رحمت دے په مؤمنانو باندے ځکه که غصه هر وخت د انسان په سینه کښ وی او هغه نهٔ نافذ کیږی نو انسان تق چوی۔

مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت دلیل دے چه الله تعالیٰ د خپلو مؤمنانو بندګانو سره محبت کوی او د هغوی د خوشحالولو خیال ساتی ځکه خو الله تعالیٰ وغوختل چه د دوی د زړهٔ بوج سپک شی۔

(۳) صاحب المنار وائی : د اسلام په غلبه او نصرت سره به د سینو یخوالے حاصلیږی چه هغه هر مسلمان ته حاصل دے، په چا باندے قریشو ظلم کړے وی او که نهٔ۔ او بیا چه په کومو خلکو ظلم شوے وی او غدر (وعده خلافی) ورسره شوے وی نو په جنګ کښ به دوی بدله واخلی نو د زړهٔ غصه به ئے وځی۔

وَيَتُوبُ اللهُ عَلٰى مَنْ يَّشَاءُ : یعنی چا ته به د توبی توفیق ملاویږی، دا وجه ده د رسول الله ﷺ د جهادونو په وجه اکثر خلك ایمان ته راغلی دی، ځکه چه صحیح جهاد چه کله کیږی نو هغه دعوت هم دے۔ نو دلته وقف دے (اَیْ وَلَکُمُ الْاَجْرُ) نو تاسو ته به ئے اجر ملاویږی۔

| |
|---|
| اَمۡ حَسِبۡتُمۡ اَنۡ تُتۡرَكُوۡا وَلَمَّا |
| آیا گمان کوئ تاسو چه پریے به خودلے شئ تاسو (بغیر د امتحان نه) او تر اُوسه |
| يَعۡلَمِ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ جٰهَدُوۡا مِنۡكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُوۡا |
| نۀ دی ښکاره کړی الله تعالیٰ هغه کسان چه جهاد ئے کړے ستاسو نه او نۀ ئے دے نیولے |
| مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوۡلِهٖ وَلَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَلِيۡجَةً ؕ |
| سوئ د الله نه او د رسول د هغۀ نه او نۀ د مؤمنانو نه رازدار دوست |
| وَاللّٰهُ خَبِيۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶﴾ |
| او الله خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔ |

**تفسیر** : دا بل علت د قتال دے چه الله تعالیٰ د امتحان نه بغیر هیڅوك جنت ته نۀ پریدی نو یو امتحان دا دے چه تاسو به د الله په لاره کښې جهاد کوئ۔

**تُتۡرَكُوۡا** : ۱- اَیۡ سُدًی بِلَا اِمۡتِحَانٍ۔ تاسو به مهمل په غیر د امتحان نه پریخودے شئ او همداسے به جنت ته ځئ۔

۲- تُتۡرَكُوۡا عَلٰی مَا اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ۔ پدے خپل حال به پریخودے شئ۔ (فتح البیان)

**وَلَمَّا يَعۡلَمِ اللّٰهُ** : یعنی الله تعالیٰ هغه خلك راښکاره کول غواړی چه کوم خلك د الله د حکم پورته کولو دپاره جهاد کوی چه جنت ته ئے بوځی او کوم ئے نۀ کوی چه د جنت نه ئے محروم کړی۔

**وَلَمۡ يَتَّخِذُوۡا** : او دارنګه هغه خلك راښکاره کړی چه د الله او د هغه د رسول او د مؤمنانو نه سوئ هیڅ کافر لره خپل دوست نۀ نیسی۔ مطلب دا چه په تاسو کښې مجاهدین او الله والا خلك راښکاره کړی نو بیا به جنت ته ځئ، او که تاسو کښې دا صفت رانغلے او همداسے د جنت طمع لرئ دا صحیح نۀ ده۔ او پدے کښې په منافقانو باندے رد دے چه هغوی خو نۀ جهاد کوی او نۀ د الله او د رسول او مؤمنانو سره مینه لری بلکه د کافرو سره مینه لری۔ یعنی کله چه په تاسو کښې جهاد او د ولاء او براء عقیده راغله نو بیا په امتحان کښې کامیاب شوئ۔

د جهاد د مشروعیت یو اَهم مقصد دا دے چه د الله فرمانبردار او نافرمانه بندګان اُوپیژندے

شي۔ او دا مضمون الله په سورة عنکبوت آیت (۲) او سورة البقره آیت (۲۱٤) کښې واضح کړیدے۔ پدے آیتونو کښې همدا خبره وئیلے شویده چه الله په خپلو مؤمنانو بندګانو ضرور ازمیښت کوی دے دپاره چه مخلص او غیر مخلص او مؤمن او منافق او رشتینی او دروغژن کښې فرق وشی۔

وَلِيجَةً : ولیجه د ولوج نه دے هغه محبت ته وائی چه د یو تن په زړه کښې داخل شی۔

ابوعبیدهٔ وائی : هر شے چه تا په بل شی کښې داخل کړو چه د هغه نه نهٔ وو نو دے ته ولیجه وائی۔ (فتح البیان) یعنی د کافرو محبت د زړهٔ سره لائق نهٔ دے نو دے ته ولیجه وائی۔ قتادهٔ د ولیجه معنیٰ په خیانت سره او ضحاکؒ په خَدِيعَةً (دهوکے) سره کړیده۔ دا ئے حاصل معنیٰ ده۔ (فتح)

امام راغبؒ وائی : ولیجه : كُلُّ مَا يَتَّخِذُهُ الْإِنْسَانُ مُعْتَمَدًا عَلَيْهِ۔ هر هغه شے چه انسان ئے د خپل اعتماد ذریعه جوړه کړی۔

خَبِيْرٌ : یعنی الله په هر څه پوهه دے لیکن پدے امتحان کښې ئے ناشنا رازونه او حکمتونه دی چه صرف هغه پرے خبردار دے۔

| |
|---|
| مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ |
| نهٔ دی پکار مشرکانو له (یعنی نهٔ قبلیږی د دوی نه) چه جوړ کړی جماتونه د الله، |
| شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ |
| پداسے حال کښې چه ګواهی کونکی وی په ځانونو خپلو په کفر سره، دا کسان برباد دی |
| اَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ |
| عملونه د دوی او په اُور کښې به دوی همیشه وی۔ |

**تفسیر** : دا جواب د سوال دے چه قریش خو ډیر د خیر کارونه کوی نو دوی سره څنګه قتال وکړے شی؟، دوی د مسجد حرام خدمت کوی او دا آباد ساتی، او مشرکانو به هم پدے وجه خپل ځانونه د نورو نه پورته او اعلیٰ ګنړل۔ (او په هر دور کښې کافران د یو څو کارونو په کولو ځانونه بزرګان او بشر دوست ګنړی، د یو غریب ملك سره تعاون وکړی، سیلاب زده ګانو ته غنم راولیږی، د خلکو په سترګو پټیٔ اړوی چه مونږ خو همدردیٔ او امن والا یو)

الله تعالىٰ پدے آيت كښې د دوى دا باطل گمان نفي كړو او وے وئيل چه دوى څنگه دعوىٰ كوى چه دوى د الله كورونه آبادونكي دى حال دا چه دوى خپله د خپل كفر اقرار كوى او ښه په پوهه سره پدے هميشوالے كوى. د داسے خلقو خو هيڅ عمل قابل قبول نۀ دے. او د دوى ځائے جهنم دے. مطلب دا چه ددے اعمالو سره سره دوى د جهاد لائق دى ځكه چه دوى كښې نواقض الايمان موجود دى.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ : دا په طريقه د محاوره وئيلے كيږى چه د مشرك د شان سره لائق نۀ ده چه جمات آباد كړى يعني مشرك ته گوره او د هغه مسجد آبادولو ته گوره. يعني چه يو تن مشرك شو نو د هغه جمات آبادول به څه قبول شي.

نو معنىٰ دا ده : (لَا يُقْبَلُ ذٰلِكَ مِنْهُمْ) الله تر ے دا نۀ قبلوى. (لَا يَصِحُّ ذٰلِكَ لَهُمْ) دا كار دوى له صحيح نۀ دے. مفسرين وائى پدے كښې ضمناً منع غرض ده. اَىْ اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ ! اِمْنَعُوْهُمْ مِنْ ذٰلِكَ. اے مؤمنانو دا خلك ددے كارونو نه منع كړئ يعني دے ته ئے مۀ پريدئ چه مشركان جماتونه جوړ كړى او قتال ورسره وكړئ چه ختم شي. لكه صحابه كرامؓ به مساجدو ته مشركان نۀ راپريخودل او قرآن كريم هم روستو منع كړئ چه مسجد حرام ته به نۀ راځي. بيا علماؤ دا مسئله بيان كړيده چه كه امير المؤمنين د څه ضرورت په وجه اجازه وركړى نو مسجد ته راداخليدے شي لكه نبى كريم ﷺ ثُمامه بن اُثال د مسجد نبوى ستنے پورے تړلے وو.

شٰهِدِيْنَ : يو تن ځان ته كافر وائى او بيا جمات هم جوړوى نو جمات جوړولو له څه اعتبار دے.

او د آيت دا مطلب هم دے چه هركله مشرك د كفر كارونه وكړل نو د هغه مسجد آبادول او په هغے كښې د حاجيانو خدمتونه كول ټول ضائع شو.

دوى كوم ځاى وئيلى دى چه مونږ كافران يو؟ نو مفسرين وائى چه په بعض اوقاتو كښې د دوى د خولے نه دا اقرار راوځي چه مونږ مشركان او كافران، يهوديان، او نصرانيان يو.

۲- ځينى وائى د شهادت معنىٰ دا ده : (تَدُلُّ اَقْوَالُهُمْ وَاَفْعَالُهُمْ عَلَى الْكُفْرِ) يعني د دوى خبرے او كارونه (چه بتان ودرول او د هغوى عبادت كول دى) دا په كفر باندے دلالت كوى نو دا د دوى گواهي شوه اگركه په خوله به ئے دا نۀ وى وئيلى چه مونږ مشركان يا كافران يو. (ابن كثيرؒ) ۳- يا دا چه په طواف كښې به دوى (اِلَّا شَرِيْكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهٗ وَمَا مَلَكَ) الفاظ وئيل چه دا د دوى د شرك گواهي وه. او دا خبره به ئے كوله چه مونږ د لات او عُزّىٰ عبادت

کوو۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ |
| یقیناً جوړوی جماتونه د الله هغه څوك چه ایمان ئے راوړے په الله او په ورځ روستنئ |
| وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللهَ |
| او پابندی کوی د مانځه او ورکوی زکاة او نۀ یرېږی (د هیچا نه) سویٰ د الله نه |
| فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۸﴾ |
| نو نزدے ده چه دا کسان به شی د هدایت والو نه۔ |

**تفسیر** : د مسجدونو آبادولو شرط دا دے چه انسان په الله او د هغه په رسول او د آخرت په ورځ ایمان ولری، او د اسلام کړئ ته راننوتو سره مونځونه قائم کړی او زکاة ورکړی او د الله نه سویٰ د هیچا نه یره په خپل زړۀ کښ ونۀ ساتی۔

**اِنَّمَا يَعْمُرُ** : ددے حاصل معنیٰ داده (اِنَّمَا يُقْبَلُ التَّعْمِيْرُ مِمَّنْ هٰذِهٖ صِفَتُهٗ) یعنی د جماتونو جوړول د هغه چا قبلیږی چه دا ذکر شوی صفتونه لری)

د مسجد تعمیر یو ظاهری دے او بل معنوی دے۔ دواړه د مؤمن د شان سره مناسب دی۔ معلومه شوه چه څوك مؤمن نۀ وی نو هغه د مسجد آبادونکے نۀ وی۔ او مسجد صرف هغه خلق آبادوی چه مؤمن وی۔ پدے وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی :

[مَنْ غَدَا اِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهٗ نُزُلَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا اَوْ رَاحَ]

(بخاری: ٦٦٢) مسلم : ١٥٥٦)

(څوك چه سحر او ماښام مسجد طرف ته ځی، الله تعالیٰ د هغۀ دپاره په جنت کښ میلمستیا تیاروی)۔ او دا ئے هم فرمایلی دی :

(مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِى الْجَنَّةِ) (څوك د الله د رضا دپاره مسجد جوړوی الله د هغه دپاره په جنت کښ کور جوړوی))۔ (بخاری : ٤٥٠ ومسلم : ١٢١٧)

او دا ئے هم فرمایلی دی چه (اِذَا رَاَيْتُمُ الرَّجُلَ يَعْتَادُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوْا لَهٗ بِالْاِيْمَانِ)

رکله تاسو یو انسان مسجد ته د تللو عادی اُوموینئ نو د هغۀ دپاره د ایمان ګواهی ورکړئ، دے نه روستو ئے ﴿اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ﴾ والا آیت اُولوستلو))۔

(ترمذی : ٣٠٩٣) واحمد وفی سنده دراج عن ابی الهیثم وفیه ضعف)۔

د مسجد پاك ساتل، او هغے ته بار بار د عباداتو دپاره راتلل او د هغے تعظيم كول د ايمان نښنه ده۔

وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللهَ : او مشرك كښ دا ټول صفات نشته، او د غير الله نه يريږی۔

سوال دا دے چه مؤمنان هم كله نا كله د غير الله نه يريږی ؟

١ - جواب : دلته خشية العبودية مراد دے۔ يعنی د عبادت يره۔ چه په غير د ظاهری اسبابو نه وی او په تعظيم سره وی۔

٢ - قرطبیؒ او بغویؒ وئيلی دی : وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فِیْ بَابِ الدِّيْنِ - يعنی د دين په باب كښ سوئ د الله نه د هيچا نه يره نكوی او دين د چا په يره سره نۀ پريدی او په دنياوی څيزونو كښ يره ناروا نۀ ده۔ (بغوی٤/ ٢٠)

| |
|---|
| اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ |
| آيا گرځوئ تاسو اُوبه وركول حاجيانو ته او آبادول د مسجد حرام په شان د هغه چا |
| اٰمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ |
| چه ايمان ئے راوړے په الله او په ورځ روستنئ او جهاد ئے كړيدے په لاره د الله كښ، |
| لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللهِ ؕ وَاللهُ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾ |
| نۀ دی برابر دوی په نيز د الله او الله هدايت نۀ كوی قوم ظالمانو ته۔ (يا ثواب نۀ وركوی)۔ |

**تفسير** : پدے آيت كښ : (زَجْرٌ لِمَنِ اعْتَبَرَ الْاَعْمَالَ دُوْنَ الْاِيْمَانِ) هغه چا ته زورنه ده چه د ايمان نه په غير نورو اعمالو له اعتبار وركوی۔ لكه ډير خلك ظاهر بين وی، وائی : فلانی خلك خو ډير ذاكرين دی او تهجد گزار دی او ښائسته اخلاق ئے دی او نرم دی او دے ته نۀ گوری چه عقيده ئے د شرك او د وحدة الوجود او قبر پرستئ ده، تعويذونه او گوډے منترے كوی۔

## شان نزول

١ - ابن ابی حاتمؒ او حافظ ابن مردويهؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه د مكے مشركانو وئيل، د بيت الله آبادول او حاجيانو باندے اُوبه څكول د هغه خلقو د اعمالو نه زيات غوره دی چه ايمان ئے راوړے او جهاد ئے كړے، او د دوی په دے خبره فخر وو او په لوئی

کبر کښې اخته وو چه دوی حرم والا دی، او دا آباد ساتی۔
نو الله ددے آیت په ذریعه په الله باندے ایمان او د رسول الله ﷺ سره جهاد فی سبیل الله ته د مشرکانو په دغه اعمالو ترجیح ورکړه کوم چه مخکښې ذکر شو، او دا خبره ئے په ډاګه کړه چه د حرم خدمت کول او حاجیانو ته اُوبه ورکول د شرك سره بیکاره دی، او د قیامت په ورځ به دوی ته هیڅ فائده ورنکړی۔ ۲- او ځینی وائی چه عباس ﷺ چه کله د بدر په قیدیانو کښې ونیولے شو نو هغه دا خبره وکړه چه که تاسو په اسلام او هجرت او جهاد زمونږ نه سبقت کړیدے خو مونږ هم په مکه کښې مسجدِ حرام آباد ساتلے او د حاجیانو خدمتونه مو کړیدی نو الله دا آیت د هغهٔ د خبرے په رد کښې راولیږلو۔ (بغویؒ)
یعنی اول خو نفس دا اعمال د دغه اعمالو په نسبت غوره دی بیا چه کله انسان د دغه اعمالو سره مشرك وی نو هغهٔ له خو هیڅ اعتبار نشته۔
۳- امام مسلمؒ د نعمان بن بشیر ﷺ نه روایت کړیدے چه زهٔ د رسول الله ﷺ د منبر خوا کښې ناست وم نو یو سړی ووئیل چه د اسلام راوړو نه روستو دا کافی ده چه زهٔ مسجد حرام آباد کړم۔ دویم ووئیل جهاد فی سبیل الله د هغه نه غوره دے کوم چه تا ووئیل۔ نو عمر ﷺ هغه اُورټلو او ورته ئے اُووئیل چه تاسو د رسول الله ﷺ د منبر په خوا کښې د جُمعے په ورځ خپل آوازونه مهٔ پورته کوئ، زهٔ به د رسول الله ﷺ نه ددے په باره کښې تپوس کوم۔ نو الله دا آیت نازل کړو، او وے وئیل چه په الله باندے ایمان او جهاد فی سبیل الله حاجیانو ته د اُوبو ورکولو او د مسجد حرام د خدمت نه په ډیرو چندونو افضل دی، ځکه چه ایمان د دین اصل او بنیاد دے بغیر ددے نه اعمال نهٔ قبلیږی، او جهاد فی سبیل الله د دین د تولو نه اُوچت عمل دے، الله تعالیٰ ددے په ذریعه د دین اسلام حفاظت کوی، او باطل سرکوزے کوی۔ (ابن کثیر)
**سِقَایَةَ :** اُوبه ورکول۔ پخوا زمانه کښې به حاجیان حرم ته راتلل او څه هوتلے نهٔ وے نو قریشو به د هغوی دپاره د اُوبو پروګرامونه مخکښې نیول او فکر مند به وو او دا به ئے کرم (شرافت) ګڼړلو او دا ډیر ښهٔ صفت وو، اُوس زمانه کښې خو مسلمانان حاجیانو ته د مخکښې نه ارزان څیزونه ګران کړی، کوشش کوی چه حاجی څنګه خاشی او لوټ کړی۔
**لَایَهۡدِی :** دلته هدایت وقوع د عمل دے په احسنه طریقه نو کافران ظالمان دی ځکه چه د دوی دا عمل په ښائسته طریقه نهٔ دے، نیك عمل کوی لیکن د ریاکارئ او نوم او شهرت دپاره ئے کوی او په غیر د ایمان نه ئے کوی نو ځکه ورته اجر هم نهٔ ملاویږی۔

| |
|---|
| اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ |
| هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او هجرت ئے کړیدے او جهاد ئے کړیدے په لاره |
| اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ |
| د الله کښې په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو سره، ډیر لوئی دی په درجه کښې په نیز د الله |
| وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ |
| او دا کسان هم دوی کامیاب دی۔ زیرے به ورکوی دوی ته رب د دوی په رحمت سره |
| مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا |
| د خپل طرف نه او په رضامندئ سره او په جنتونو سره چه دوی له به په هغے کښې |
| نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿۲۱﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۲﴾ |
| نعمتونه وی همیشه۔ همیشه به وی په هغے کښې همیشه، یقیناً الله د هغهٔ سره اجر لوئی دے۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې جهاد او هجرت ته کامل ترغیب ورکړے شویدے۔
او مخکښې آیت کښې چه د ایمان بالله او جهاد فی سبیل الله کوم فضیلت بیان شو په هغے باندے زیادت کوی چه په الله باندے ایمان راوړل او د هغه د رضا د خاطره ملك او وطن، مال او دولت پریخودل او هجرت کول او د الله په لاره کښې په نفس او مال سره جهاد کول د الله په نیـز زیات اُوچت مقام لری۔ الله په داسے خلقو باندے د خپلو رحمتونو باران کوی، د دوی نه همیشه دپاره خوشحالیږی او دوی نهٔ ختمیدونکی نعمتونو والا جنتونو ته داخلوی چه په هغے کښې به همیشه اُوسیږی۔ داسے ترغیب په هیڅ بل عمل باندے نهٔ دے ورکړے شوے۔
اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ : اَىْ مِنَ السَّاقِىْ وَالْعَامِرِ ۔ ددهٔ درجه د الله په نیز په حاجیانو باندے د اُوبه څکونکی او مسجد حرام آبادونکی نه هم اُوچته ده که چرته هغه مسلمان وی، او که هغه کافر وی نو د هغه نیك عمل له خو هیڅ اعتبار نشته۔
او دلته په مشرکانو رد غرض دے چه دغه مشرك سَره د دغه نیك عمل نه د قتال لائق دے او دا مؤمن چه د هغه سره جهاد کوی نو ښهٔ کوی نو دلته هغه مؤمنان اول مراد وو چه د دغه ساقیانو سره ئے جنگ کولو۔

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ : نبی ته ئې هم دا زیرې ونهٔ سپارلو بلکه خپله ئې ورکوی۔
بِرَحْمَةٍ : ابوحیانؒ وائی : هرکله چه د مؤمنانو درې صفات ذکر شو نو د هغې په بدله کښې درې زیرې ملاؤ شو۔ رحمة د ایمان په مقابله کښې وو نو دا ئې مخکښې کړو ځکه چه ایمان د الله په رحمت موقوف دې۔ دویم ئې رضوان (د الله خصوصی رضا) ذکر کړه ځکه چه دا انتهائی احسان دې چه د جهاد په مقابله کښې دې، کوم چه مالونه او نفسونه لګول وی، دریم ئې جنتونه ذکر کړل په مقابله د هجرت کښې چه په هغې کښې وطن او علاقې پریخودل دی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| يَآ اَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰبَآءَ كُمۡ وَاِخۡوَانَكُمۡ اَوۡلِيَآءَ اِنِ اسۡتَحَبُّوا الۡكُفۡرَ |
| اې ایمان والو ! مهٔ نیسئ پلاران خپل او ورونه خپل دوستان که خوښوی دوی کفر لره |
| عَلَى الۡاِيۡمَانِ وَمَنۡ يَّتَوَلَّهُمۡ مِّنۡكُمۡ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۳﴾ |
| په ایمان، او چا چه دوستی وکړه دوی سره ستاسو نه نو دا کسان هم دوی ظالمان دی۔ |

**تفسیر** : دا آیت متعلق دې د ﴿ بَرَاءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ﴾ سره یعنی هرکله چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول د مشرکانو نه بری شو نو ټول مؤمنان به هم ترې بری وی (او دا مؤمنانو ته هم حکم وو چه تاسو د دوی نه براء ت وکړئ) نو سوال پیدا شو
(كَيۡفَ يُقَاطِعُ الرَّجُلُ اَبَاهُ وَاَخَاهُ وَابۡنَهٗ ؟)۔
سړې به د خپل پلار او ورور او ځوی سره څنګه قطع تعلق وکړی، آیا دا به صله رحمی قطع کول نهٔ وی؟ نو دا آیت نازل شو۔ چه په دین کښې د سړی د خپل پلار او خپلوانو سره مقاطعه (تعلق پریکول) واجب دی نو مؤمن به د کافر سره هیڅ دوستی نهٔ ساتی اګرکه پلار، ورور یا ئې ځوی وی۔ (فتح البیان۳/۸۸)
الله تعالیٰ مؤمنان د مشرکانو د دوستئ نه منع کړیدی، اګرکه هغه هرڅومره نزدې خپلوان ولې نهٔ وی۔

## شان نزول

بیهقیؒ د عبد الله بن شوذبؒ نه روایت کړیدې چه دا آیت د ابوعبیده بن الجراح ﷺ په باره کښې نازل شویدې۔ کله چه د بدر په میدان کښې ددهٔ پلار جرّاح ددهٔ د قتل څو ځل کوشش وکړو او ابوعبیده د هغه مخې ته د راتلو یا د هغه د قتل کولو نه بچ شو، لیکن کله چه

هغه بار بار پدے کوشش کښې لګیا وو نو ابوعبیده هغه لره قتل کړو، نو د سورة مجادلے آیت (۲۲) ﴿لَا تَجِدُ قَوۡمًا یُّؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ﴾ الآیة) نازل شو چه په هغے سره ددے آیت د معنیٰ او مفهوم تائید کیږی۔ (ابن کثیر)

**اَوۡلِیَآءَ** : اَیۡ بِطَانَةً وَاَصۡدِقَاءَ تُفۡشُوۡنَ اِلَیۡهِمۡ اَسۡرَارَکُمۡ وَتُؤۡثِرُوۡنَ الۡمُقَامَ مَعَهُمۡ عَلَی الۡهِجۡرَةِ)۔

یعنی کافران رازدار او دوستان مهٔ نیسئ چه تاسو هغوی ته خپل رازونه وایئ او د هغوی سره وسیدل په هجرت کولو باندے غوره کوئ۔ (فتح البیان)

د ولایت نه مراد هغوی طرفته اوړیدل او هغوی ته رازونه ښکاره کول دی او هسے راشه درشه او هغوی سره د زړونو د مائلے کولو دپاره احسان کول جائز دی، نبی ﷺ اسماء رضی الله عنها ته وئیلی وو: (نَعَمۡ صِلِیۡ اُمَّكِ) آؤ، د خپلے (مشرکے) مور سره احسان کوه۔

صاحب د فتح البیان وائی چه دا خطاب ټولو مؤمنانو ته دے او ددے حکم تر قیامته پورے باقی دے چه د مؤمن او د کافر دوستی ختمه ده، او پدے کښې هر یو فرد د مخاطبینو منع شویدے د دوستیٔ د هر فرد د کافرانو سره ځکه چه جمع مقابل د جمع راشی نو تقسیم د احادو په احادو کیږی۔

ځینی اهل علم وائی: دا آیت په هجرت باندے د تیزی ورکولو او د کافرانو د ملك پریخودو په باره کښې نازل دے نو پدے کښې به خطاب هغه مؤمنانو ته وی چه په مکه وغیره عربی ملکونو کښې وسیدل نو دوی منع شو چه د مشرکو پلارانو او ورونو سره به موالات (دوستانه) نهٔ کوی ځکه که د هغوی سره وسیږی نو د هغوی تابع به ګرځی۔ مګر ځینو دا د هجرت سره متعلق کول مشکل ګنړلی دی ځکه چه دا سورت د مکے د فتح نه روستو نازل دے او د نزول په اعتبار سره آخری سورتونو کښې شمار دے۔نو غوره تفسیر اول دے۔ انتهیٰ۔ (فتح البیان)

**یَّتَوَلَّهُمۡ** : تَوَلِّی دلته (اِخۡتِیَارُ دِیۡنِهِمۡ وَالرِّضَا عَنۡ اَفۡعَالِهِمۡ) ته وائی۔ یعنی د هغوی دین غوره کول او د هغوی د کارونو نه خوشحالیدل یا د هغوی په شان کارونه شروع کول دی۔

**هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ** : د ابن عباسؓ نه نقل دی چه د ظالمانو نه مشرکان مراد دی۔ (قرطبیؒ)

| |
|---|
| قُلۡ اِنۡ کَانَ اٰبَآؤُکُمۡ وَاَبۡنَآؤُکُمۡ وَاِخۡوَانُکُمۡ وَاَزۡوَاجُکُمۡ |
| اُووایه! که چرے وی پلاران ستاسو او ځامن ستاسو او ورونه ستاسو او بیبیانے ستاسو |

| |
|---|
| وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالُ ۨ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ |
| او قبیله ستاسو او هغه مالونه چه گټلي وی تاسو هغې لره او تجارت چه یریږئ تاسو |
| كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُمْ |
| د کوټه کیدو د هغې نه او ځایونه چه خوښوئ تاسو هغې لره ډیر محبوب وی تاسو ته |
| مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهٖ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهٖ فَتَرَبَّصُوا حَتّٰى |
| د الله نه او د رسول د هغهٔ نه او د جهاد نه په لاره د هغهٔ کښې نو انتظار کوئ تردے |
| يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهٖ ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ |
| چه رابه ولی الله تعالیٰ فیصله خپله، او الله توفیق د هدایت نهٔ ورکوی قوم نافرمانو ته۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې زجر او دهمکی ده۔ درے عذابونه ئے بیان کړیدی هغه خلقو ته چه د الله په مقابله کښې او د الله په لاره کښې د جهاد په مقابله کښې خپل اهل وعیال او خپلوانو ته د هغوی د کفر او شرك باوجود ترجیح ورکوی۔ د الله او د هغه د رسول سره د حقیقی محبت تقاضا دا ده چه د هغه محبت د هر شی په محبت باندے مقدم کړے شی۔ پلاروی که څوی، ورور وی که ښځه، یا د خاندان یو فرد، یا مال او دولت چه هغه سړے په خپل مشقت سره حاصلوی یا قِسماقسم مالونه د تجارت یا اُوچت او دنگ محلات او کوټے ددے ټولو د الله او د هغه د رسول په مقابله کښې د مؤمن په زړهٔ کښې هیڅ حیثیت نهٔ وی۔ د چا په نیز چه دا څیزونه د الله او د هغهٔ د رسول او د جهاد فی سبیل الله نه زیات محبوب وی هغه به فاسق او په خپل حق کښې ظالم وی۔

**وَعَشِيرَتُكُمْ** : عشیره هغه قبیلے ته وائی چه انسان پکښې ژوند تیروی مراد ترے دلته د سړی او نزدے خپلوان دی۔

**وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ** : یعنی یو مال دے اخستے دے که هغه په دغه وخت د جهاد کښې خرچ نکړے شی نو کوټه کیږی۔

**أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهٖ** : یعنی دا څیزونه به د الله او د رسول په مقابله کښې په هر ځای کښې نهٔ اخلے۔ او خاصکر د جهاد په موقعه کښې هم۔

د تفسیر علماء لیکی چه دا آیت د ټولو نه لوئی دلیل دے چه د الله او د هغه د رسول سره

محبت کول د ایمان جزء دے او د هغهٔ محبت د هر شي او د هر چا په محبت باندے مقدم کول واجب دي، او څوك چه داسے نهٔ کوي نو هغه به د الله په نظر کښ ډیر غټ ګناهګار وي، او هغه له د الله د عذاب انتظار پکار دے۔

او ددے د پیژندلو کسوټے او معیار دا دے چه که دهٔ ته دوه څیزونه مخے ته راشي یو هغه چه د الله او د هغه رسول ئے خوښوي، په هغے کښ د سړي په ظاهره کښ هیڅ ذاتي فائده نهٔ وي او دویم هغه دے چه هغه ددهٔ نفس ئے غواړي لیکن د هغے په کولو سره یو داسے شے فوت کیږي چه الله او د هغه رسول ئے خوښوي۔ لکه جهاد، یا مونځ وغیره عبادات، نو که هغه د نفس د خواهش موافق یو شے په هغه کار باندے غوره کړي کوم چه الله او د هغهٔ رسول ته خوښ وي نو دے ډیرے پوهه شي چه دا په خپل حق کښ ظالم دے۔

صاحب الکشاف لیکلی دي چه په ټول قرآن کریم کښ ددے آیت نه سخت وعید والا آیت بل نشته دے، ځکه چه پدے کښ په هر چا باندے آواز شویدے چه آیا هغه د الله او د هغه د دین په باره کښ مضبوط دے او که نهٔ ددهٔ نه ددنیا د کارونو په وجه په دین کښ سستوالے او نرموالے پیدا کیږي؟ (یعني چا نه د پلار او چا نه د ځامنو او چا نه د قبیلے په وجه او چا نه د کاروبار او تجارت په وجه لکه ډیر انسانانو نه پدے کارونو سره مونځ قضاء کیږي، جماعت ترے فوت کیږي، او د دین ډیرے تقاضے نشي پوره کولے دغه څیزونه ئے مانع واقع کیږي) (محاسن التاویل للقاسمي)۔

واقعي پدے خبره سوچ پکار دے، که مونږ او تاسو ته یو طرفته د پلار یا د ورور یا د قبیلے خبره راغله او بل طرفته د الله حکم راغے نو زمونږ اکثر انسانان د الله د حکم لحاظ نهٔ ساتي، یا پکښ بي باکي کوي او د قوم قبیلے او د رواج بنهٔ پابند وي۔ نو پدے آیت کښ دعوت دے (تَرْجِیْحُ الدِّیْنِ عَلٰی جَانِبِ شَهَوَاتِ الدُّنْیَا) ته۔ یعني دین به د دنیا په خواهشاتو باندے غوره کوے هله به ایمان تیروے۔

یَاْتِیَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ : ددے ځای نه درے سزاګانے ذکر کیږي یو دا چه د عذاب دهمکی ده چه الله به پدے انسان د خپل طرفنه عذاب نازلوي۔ دویم لَایَهْدِیْ۔ الله به ورته هدایت نهٔ کوي۔ دریم دا چه دا انسان به د فاسقانو نه شمار وي۔

| |
|---|
| لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِیْ مَوَاطِنَ كَثِیْرَةٍ وَّیَوْمَ حُنَیْنٍ اِذْ |
| یقیناً مدد کړیدے تاسو سره الله تعالیٰ په ځایونو ډیرو کښ او په ورځ د حنین کله چه |

| |
|---|
| اَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ تُغۡنِ عَنۡكُمۡ شَيۡـًٔا |
| تعجب کښې واچولئ تاسو ډیر والي ستاسو، نو فائده ئې درنکړه تاسو ته هيڅ فائده |
| وَّضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ الۡاَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ثُمَّ وَلَّيۡتُمۡ |
| او تنګه شوه په تاسو باندې زمکه سره د فراخوالي نه بيا اُوګرځيدئ تاسو (د ميدان |
| مُّدۡبِرِيۡنَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَنۡزَلَ اللّٰهُ سَكِيۡنَتَهٗ عَلٰى رَسُوۡلِهٖ وَعَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ |
| جنګ نه) شاکونکي۔ بیا راولیږلو الله تعالیٰ آرام خپل په رسول خپل او په مؤمنانو |
| وَاَنۡزَلَ جُنُوۡدًا لَّمۡ تَرَوۡهَا وَعَذَّبَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَذٰلِكَ |
| او راوې لیږلې داسې لښکرې چه نۀ لیدلې تاسو هغې لره او عذاب ئې ورکړو کافرانو ته او دا |
| جَزَآءُ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوۡبُ اللّٰهُ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنۡ |
| سزا د کافرانو ده۔ بیا مهربانی اُوکړه الله تعالیٰ روستو ددې (غلبې) نه په هغه چا |
| يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿٢٧﴾ |
| چه وئې غوختل، او الله بخونکې رحم کونکې دې۔ |

**تفسیر** : دا متعلق دې د (وَيَنۡصُرُكُمۡ عَلَيۡهِ) آيت (١٤) سره چه الله به تاسو سره مدد کوی نو سوال پیدا شو چه الله د مدد وعده کړیده او حال دا چه مونږ سره د حُنین په غزا کښې مدد ونشو ځکه چه مشرکانو د کمین نیولو په وجه مسلمانان په اوله کښې وتښتول او په غشو ئې ډیر زیات ویشتل۔ نو الله جواب ورکوی چه ما هر ځای کښې وعده پوره کړیده لیکن هلته ستاسو نه یو نقصان شوې وو د هغې په وجه تاسو ته دغه صدمه ورسیده۔ لکه چه بیان ئې اُوس کیږی۔

په دې درې آیتونو کښې د حُنین غزا ذکر شویده۔ چه د هغې اجمالي ذکر ددې سورت په ابتداء کښې راغلې دې۔ دا جنګ د شوال په میاشت کښې په سنه (٨ ھ) کښې د حُنین په میدان کښې (چه د مکې او د طائف ترمینځ واقع دې) د هوازن او ثقیف قبیلې او د هغه علاقې څه نورو مشرکانو سره شوې وو۔ د عربو مشرکانو سره د رسول الله ﷺ اولنې جنګ جنګِ بدر وو۔ او آخری جنګ جنګِ حُنین وو۔ پدې دواړو کښې د الله رسول ﷺ

په خپل موتې کښې خاوره راخستے او مشرکانو طرف ته ئے گوزار کړے وه.
غزوۀ بدر د عربو مشرکانو په زړونو کښې د مسلمانانو رعب کینولے وو، او د هغوی د مزاج په تیزئ کښې ئے کمے پیدا کړو، او غزوۀ حنین د هغوی ملا ماته کړه، د مشرکانو د لیندے آخری غشے هم لاړو ختم شو. او الله شرك او مشركان ذلیل کړل، او ددے نه روستو د عربو تمام قبائل په اسلام کښې جوق درجوق داخلیدل شروع شو، ځکه چه د هغوی دپاره اوس هیڅ چاره پاتے نشوه، د اسلام جنډه پورته شوے وه، او کفر او شرك همیشه دپاره خکته شوے وو. د غزوۀ بدر او د غزوۀ حنین ترمینځ نور هم ډیر غزوات شوی، ډیرے فوجی دستے د الله رسول مختلفو علاقو ته لیږلی دی او هره غزوه او هره سریه کښې الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح او کامیابی ورکړے، او اسلام وخت په وخت عزتمند شوے. دا ټولے کامیابیانے او دا عزت او غلبه چه مسلمانانو ته حاصله شوه دا خالص د الله تعالیٰ په تائید او مدد سره حاصل شو. پدے کامیابو کښې انسانی قوت او مادی وسائل د حالاتو مطابق کله کم او کله زیات استعمال شو. لیکن د فتح او نصرت تعلق ددے وسائلو سره نهٔ بلکه خالص د الله په توفیق سره وو.
ډیر کرته مسلمان د انسان کیدو په وجه د شیطان په دهوکه کښې راځی، صحابه کرامؓ هم انسانان وو، د هغوی نه د بعض نوی مسلمانانو په ذهنونو کښې کله ناکله به دا خبره راغلی وی چه دا فتح او کامیابی مونږ د مټ په زور سره حاصله کړیده چه دا د مسلمانانو د دین او ایمان دپاره په هر حال کښې زهر قاتل دی، پدے وجه الله تعالیٰ د دوی او د تمامو مسلمانانو د ذهنی تربیت دپاره دا خبره د غزوۀ حنین د ذکر کولو په موقعه د دوی په ذهن کښې اچول وغوختل چه دا د الله ذات وو چه په غزوۀ حنین کښې (کله چه څه مسلمانانو ته د خپل ډیر والی په وجه غرور شوے وو) او نورو تمامو مواقعو باندے ستاسو مدد کړے، ټولے کامیابیانے د هغه یو ذات په نصرت او تائید سره حاصل شویدی، ستاسو شمار او ستاسو جنګی تیاریانو ته په هغے کښې هیڅ دخل نهٔ وو.

## د غزوۀ حنین بیان

نبی کریم ﷺ چه کله په رمضان سنه (۸ هـ) کښې مکه فتح کړه نو هغه ته معلومه شوه چه د هوازن قبیلے خلق د هغه سره جنګ کولو دپاره جمع کیږی، نو نبی ﷺ په شوال سنه (۸ هـ) کښې دولس زره فوج ځان سره واخستو (چه په هغے کښې لس زره د مدینے نه

راغلی مجاهدین وو او دوه زره د مکے د فتح نه روستو د اسلام راوړونکو نه وو) د هغوی د مقابلے دپاره روان شو۔ بعض مسلمانانو پدے موقعه د شمار د ډیر والی په وجه فخر وکړو۔ دلتـه د هوازن قبیلے څان سره څلور زره تیر انداز (سخت ماهرین د غشو ویشتو والا) راجمع کړی وو۔ او خپلے ښځے او ماشومان ئے هم راوستی وو سخته مقابله ئے کوله چه ونهٔ تښتـو۔ نبی کریم ﷺ جاسوسان ولیږل هغوی خبر راوړو نو رسول الله ﷺ په خندا شو او وے فرمایل: (تِلْكَ غَنِيمَةُ الْمُسْلِمِينَ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰه)

دا به صبا له ان شاء الله د مسلمانانو غنیمت وی۔

نو د بعض نوی مسلمانانو د خولو نه (چه اُوس یو څو ورځے مخکښ ئے اسلام قبول کړے) دا خبره ووتله: (لَنْ نُّغْلَبَ الْيَوْمَ مِنْ قِلَّةٍ) نن ورځ به مونږ د کموالی په وجه نهٔ مغلوب کیږو)، په خپل کثرت ئے نظر پریوتو۔ څکه چه مقابل کافران څلور زره وو۔ بعض روایاتو کښ دی چه رسول الله ﷺ ددے خبرے نه خبر شو نو خفه هم شو۔

(نقله ابن المنذرؒ عن الحسنؒ- فتح البیان)

څکه چه هغهٔ د الله شان پیژندلو چه دا خبرے د الله د توحید مناسب نهٔ دی، په الله باندے اعتماد کموی، نو په هر شی کښ به بنده په الله توکل او هغه ته انابت کوی او هغه ته به خپل فقر وړاندے کوی، دا د الله د اولیاؤ صفات دی۔

(او دا دلیل دے چه نوے مسلمان به هم جهاد ته بوتللے شی، داسے ایمان ورله شرط نهٔ دے چه اویا کاله به په تبلیغ کښ وخت لګوے بیا چه کله دِے اندامونه د کار نه پریوتل نو جهاد به کوے، دا د بعض مسلمانانو غلط تصور دے) بلکه په جهاد سره ایمان زیاتیږی، په جهاد کښ ډیر ښهٔ ایمانی تربیت کیږی۔

کله چه دواړه فوجونه جمع شو نو هوازن د خپلو مورچو نه راوتل او په یو څل ئے حمله وکړه چه د مسلمانانو خپے اُوخویدے، او وتختیدل، هر طرفته خواره او تس نس شو څکه چه د جهاد یو خاص ترتیب وو هغه ترتیب د دوی نه ګډوډ شو، صرف سلو (۱۰۰) کسانو ته نزدے مجاهدین د رسول الله ﷺ ګیرچاپیره پاتے شو او د مشرکانو سره ئے جنګ کولو، او نبی کریم ﷺ خپله قچر (دُلدُل) مشرکانو طرف ته مخکښ کړو او وئیل ئے چه:

(اَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبَ ۞ اَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِب)

(زهٔ نبی یم دا څه د دروغو خبره نهٔ ده، (لکه څنګه چه) زهٔ د عبد المطلب څوی یم)۔

او پدے موقعه ئے خاورے راواخستے او هغوی طرفته ئے ویشتے او ښیرے ئے وکړے، نو

هغوی کښې هر یو په خپل ځان باندې اخته شو۔ او عباسؓ بن عبد المطلب (چه د هغه آواز ډیر اُوچت وو) ته ئې حکم وکړو چه هغه انصارو او باقی مسلمانانو ته آواز وکړی۔ کله چه هغوی آواز واوریدو نو سمدست راواپس شو او په مشرکانو باندې اولنی مسلمانان داسې ورغلل چه هغوی اُوتختیدل او مسلمانانو د هغوی په ښځو او بچو او مال او دولت ټول هر څه باندې قبضه وکړه۔ روستنی مسلمانان لا راواپس شوی نهٔ وو چه قیدیان د رسول الله ﷺ مخې ته تړلې شوی وو۔ او د دوی نه څلیریشت زره (٢٤٠٠٠) اُوښان او اته څلویښت زره (٤٨٠٠٠) ګډې بزې او تقریباً شپږ زره (٦٠٠٠) ماشومان او زنانه او سړی ئې قیدیان شول، چه هغه رسول الله ﷺ روستو آزاد کړل، چه د هغې نتیجه دا شوه چه د هغوی نه اکثر خلق مسلمانان شول۔ رسول الله ﷺ پنځلسو ورځو پورې دغه څیزونه نهٔ تقسیمول پدې اراده چه دوی به ایمان راوړی لیکن هغوی رانغلل، نو رسول الله ﷺ دا تقسیم کړل مګر د پنځلسو ورځو نه روستو هغوی توبه ویستونکی راغلل او مطالبه ئې وکړه چه مونږ ته مال او ښځې بچې راکړئ نو رسول الله ﷺ د یو اختیار ورکړو نو هغوی ښځې او ماشومان غوره کړل۔ بیا رسول الله ﷺ په مجاهدینو کښې اعلان وکړو او د امیرانو په واسطه د هغوی رضا راغله چه بیرته ئې ورته هغه واپس کړل۔ او مالونه دوی ته پاتې شو چه پدې وخت کښې صحابه کرامؓ ډیر مالداره شو د بعضو بعضو پکښې سل سل اُوښان هم ورسیدل۔

د غزوهٔ حنین همدا حالات او واقعات پدې آیتونو کښې بیان شویدی۔ وبالله التوفیق۔

په ﴿ مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ﴾ کښې غزوهٔ بدر، قریظه، بنو نضیر، حُدیبیه، خیبر، فتح د مکې او نورو غزواتو او فوجی دستو طرف ته اشاره ده چه د هغې شمار د صحیحینو په روایت کښې د زید بن ارقم ﷛ نه نولس (١٩) خودلې شویدی۔ او تقریباً اتیا (٨٠) سرایا ئې لیږلی دی او ځینې وائی ورې او غټې (١٥٠) وې۔

**فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ** : یعنی تاسو نه دې کلمې (چه مونږ ډیر یو) هیڅ مدافعت ونکړو یا ئې فائده درنکړه بلکه دې خبرې ته وسپارلې شوئ۔ (فتح البیان) او دا امتحان وو۔

**سَكِينَتَهُ** : آرام دا وو چه د انسان په زړه کښې داسې رعب واقع نشی چه د هغې په وجه پریشانه شی او تینبته وکړی۔

**وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا** : د کافرانو عذاب دا وو چه د هغوی نه ښځې او ماشومان او مالونه ونیولې شو او په شرح المواهب کښې دی چه د مشرکانو نه اویا کسان ووژلې شو او د

مسلمانانو نه څلور کسان شهیدان شو۔ (فتح البیان)

**ثُمَّ یَتُوْبُ اللّٰهُ** : نورو کفارو ته ئې د ایمان توفیق ورکړو او د جهادونو په وجه د امت ډیر افرادو ته اسلام په نصیب شویدے او جهاد د دعوت ډیره لویه ذریعه ده۔

| |
|---|
| یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا یَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ |
| اے ایمان والو ! یقیناً مشرکان پلیت دی نو نۀ دې نزدے کیږی مسجد حرام ته |
| بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا وَاِنْ خِفْتُمْ عَیْلَةً |
| روستو د کال دوی نه چه دا دے (یعنی نهم کال د هجرت)۔ او که یریږئ تاسو د غریبئ نه |
| فَسَوْفَ یُغْنِیْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ |
| نو زردے چه مالدار به کړی تاسو الله تعالیٰ د فضل خپل نه که اُوغواړی هغه |
| اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ حَكِیْمٌ ﴿۲۸﴾ |
| یقیناً الله تعالیٰ پو هه حکمتونو والا دے۔ |

**تفسیر** : دا د ابتداء د سورت سره لګی چه مشرکان د قتال لائق دی او دوی دومره ګنده خلك دے چه مسجد حرام ته د راداخلیدو لائق نۀ دی۔ داآیت په سنه (۹ هـ) کښ نازل شو، پدے کښ الله تعالیٰ مسلمانانو ته حکم وکړو چه دوی مشرکان مسجد حرام ته د راداخلیدو نه منع کړی۔ او ددے په وجه نبی کریم ﷺ علی بن ابی طالب ﷺ لره د ابوبکر ﷺ پسے روستو اُولیږلو چه هغه په لسم د ذی الحجه د عربو د تمامو قبائلو په مخکښ کوم چه حج له راغلی وو دا اعلان اُوکړو چه آینده کال نه به هیڅ مشرك د عمرے یا حج وغیره په نیت حرم ته نۀ شی داخلیدے او هیڅوك به په بربنډه د بیت الله طواف نۀ کوی۔

**اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ** : مشرکانو ته نجس یعنی ناپاك وئیلے شویدی۔ د جمهورو په نیز ددے نه مراد د دوی باطنی ناپاکی ده، ددوی د بدنونو ناپاکی نۀ ده مراد۔ پدے وجه د یهود او نصاراؤ ذبیحه حلاله ده، او کتابیه ښځے سره وادۀ کول جائز دی، او که د یو مشرك بدن د مسلمان د بدن سره اُولګی نو وینځل یا لامبل ضروری نۀ دی۔ بعض اهل ظواهر د آیت د ظاهری الفاظو نه دلیل نیسی او د دوی بدن ته هم ناپاك وائی۔ لیکن د دوی د عقائدو او اعمالو نجاست د دوی د بدن د نجاست نه په اتفاق د علماؤ زیات خبیث شے دے، پدے وجه

الله تعالىٰ مسلمانانو ته حكم وكړو چه دوى په آينده كښې مسجد حرام ته د داخليدو نه منع كړى. نو ددے نه روستو د مشركانو حرم ته داخليدل هميشه دپاره ممنوع گرځول شويدى. ځينى وائى چه دوى ته ئے نجس پدے وجه ووئيل چه دوى غالباً پاكى نۀ كوى، اَودس او غسل نۀ كوى او دارنگه د پليتو نه ځانونه نۀ ساتى. (فتح البيان)

نَجَسٌ : دا مصدر دے چه نۀ تثنيه كيږى او نۀ جمع كيږى، بلكه د مفرد، تثنيه او جمع، مذكر او مؤنث ټولو دپاره يو شان استعماليږى.

فَلَا يَقْرَبُوا : يعنى د مسجد خوا له دِے هم رانۀ شى، او دا نهى مسلمانانو ته راجع ده چه دوى له پكار دى چه د مسجد حرام په خوا كښې هيڅ مشركان پرينږدى.

**مسئله** : پدے كښې اختلاف دے چه آيا مشرك مسجد حرام او نورو مساجدو ته راننوتے شى؟ ځينى وائى چه ټولو مساجدو نه به منع كولے شى، او ځينى وائى چه ټولو مساجدو ته داخليدے شى سره د مسجد حرام نه دا دواړه قولونه ضعيف دى. راجح دا ده چه دا حكم صرف د مسجد حرام پورے خاص دے، او دا قول د امام شافعىؒ دے. ځوك چه دا وائى چه دلته نجاست (شرك) علت گرځول شويدے د عدم دخول دپاره او دا ټولو مساجدو ته شامل دے نو دا قياس دے په مقابله د نصوصو كښې چه مردود دے ځكه چه رسول الله ﷺ ثمامه بن اثال او د ثقيف قبيلے وفد مسجد ته راننويستلے دے، او يهود او نصارىٰ او ابوسفيان دا ټول مسجد نبوى ته راننوتى دى. تفصيل دپاره فتح البيان ۹۳/۳) ته رجوع وكړه.

عَامِهِمْ : يعنى د نهم كال نه پس چه په لسم كال راځى نو مشرك به منع كولے شى.

عَيْلَةً : دا فقر ته وائى، عَالَ الرَّجُلُ يَعِيْلُ اِیْ اِذَا افْتَقَرَ. عال په معنىٰ د فقير كيدو سره استعماليږى. مفسرين ليكى : د مخكښې ذكر شوى حكم د نازليدو نه روستو د مكے بعض مسلمانانو ووئيل چه اُوس خو به زمونږ بازار شاړ پاتے شى او زمونږ تجارت به تپ شى، او زمونږ به ډير نقصان اُوشى. نو الله تعالىٰ د آيت دا حصه نازله كړه او مسلمانانو ته ئے اطمينان وركړو چه ددے په وجه سره تاسو له د فقيرئ نه يره نۀ ده پكار، روزى وركونكے الله دے، هغه كه د روزئ يوه دروازه بنده كړى نو لس نورے دروازے كولاوه وى. د اسلامى فتوحاتو دائره به فراخه شى او د غنيمتونو مالونه به حاصليږى، د جزيۀ مال به راځى، او د لرے لرے نه خلق به د مسلمان په حيثيت سره ددے كور د زيارت دپاره راځى او د نن نه به زيات تاسو ته روزى ملاويږى. عكرمهؒ وائى : نو الله پدے طريقه مالداره كړل چه په دوى باندے ئے بارانونه وخت په وخت وكړل نو د دوى خيرونه زيات شو. مقاتلؒ وائى : د جَدے،

صنعاء اؤ جریش یعنی یمن والو ایمان راوړو نو هغوی مکے ته ډیره زیاته غله راوړه نو الله په هغے سره په مکے والو باندے فراخي راوسته، او د دوی د رزق د کمئ یره ئے ختمه کړه۔ ضحاکؒ او قتادهؒ وائی چه ددے په بدله کښې الله تعالیٰ جزیی راوستے۔

(معالم التنزیل للبغویؒ)

مفسرین لیکی : دا آیت دلیل دے (عَلٰی اَنَّ الرِّزْقَ لَیْسَ بِالْاِجْتِهَادِ) چه رزق انسان ته یواځے په کوشش نۀ ملاویږی بلکه د رزق ډیر اسباب کیدے شی۔

اِنْ شَاءَ : دا ورسره ځکه وائی چه هر شے د الله په مشیت بناء دے نو د هغه نه رزق وغواړئ چه هغه فراخي درکړی۔ او بله دا چه کله به د خلکو دپاره مالداری نقصان وی نو پدے وجه هغۀ رزقونه د خپل حکمت مطابق نازلوی۔

| |
|---|
| قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ |
| جنګ کوئ د هغه کسانو سره چه ایمان نۀ لری په الله او په ورځ روستنئ |
| وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ |
| او حرام نۀ ګنړی هغه څه چه حرام کړیدی الله او رسول د هغۀ او تابعداری نۀ کوی د دین |
| الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا |
| حق، د هغه کسانونه چه ورکړے شویدے ورته کتاب تردے چه ورکړی دوی |
| الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾ |
| جزیه (ټیکس) په خپل لاس او دوی به ذلیله وی۔ |

**تفسیر** : ددے آیت کریمه نه د اهل کتابو متعلق احکام شروع کیږی۔ او دا دویمه حصه د سورت ده، پدے کښې د یهودو او نصاراؤ سره د قتال ذکر دے، الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ او مسلمانانو ته حکم اُوکړو چه د مشرکانو د تصفیه نه روستو اُوس پدے علاقه کښې اُوسیدونکی اهل کتابو سره جنګ وکړی، تردے پورے چه دوی خو یا اسلام قبول کړی یا په جزیه ورکولو باندے راضی شی۔

## شان نزول

د مجاهدؒ وینا ده چه کله نبی کریم ﷺ ته د رومیانو سره د جنګ کولو حکم اُوشو نو دا

آیت نازل شو۔ او نبی ﷺ د غزوۀ تبوك دپاره روان شو۔ د کلبیؒ وینا ده چه دا آیت د بنو قریظه او بنو نضیرو په باره کښې نازل شوې وو، او نبی ﷺ د هغوی سره د جزیه ورکولو په شرط باندې مصالحت وکړو۔ او دا اولنئ جزیه وه چه مسلمانانو ته ورکړې شوه۔ او د مسلمانانو په لاسونو د اهل کتابو اولنې ذلت او رسوائی وه۔ (بغویؒ وابن کثیرؒ)

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه دا اولنې آیت دې چه په سنه (۹ هـ) کښې د اهل کتابو یعنی یهود او نصاراؤ سره د جنګ کولو په باره کښې نازل شوې۔ نبی ﷺ ټولو مسلمانانو ته د رومیانو سره د جنګ د تیاریٔ حکم وکړو، او د مدینې د اطرافو د عربو قبائلو ته هم په فوج کښې د شریك کیدو حکم وکړو۔ تقریباً دیرش زره افراد جمع شو، د مدینې د منافقانو نه بعض شریك نهٔ شو، په هغه زمانه کښې خشك سالی (تنګی) او سخته ګرمی وه۔

رسول الله ﷺ د رومیانو سره د جنګ په نیت سره شام طرف ته روان شو تردې چه تبوك ته اُورسیدو هلته په رسیدو سره ئې شل ورځې قیام اُوکړو، بیا د الله په حکم سره مدینې ته واپس راغلو انتهیٰ۔ددې سورت په ابتداء کښې وئیلې شویدی چه کله د روم بادشاه (قیصر) ته د رسول الله ﷺ د راتلو خبر وشو نو د جنګ میدان ئې پریخودو او د خپل فوج سره وتختیدو او جنګ ونشو، لیکن ددې جنګ چه کوم مقصد وو هغه پوره پوره حاصل شو، او هغه تمامې علاقې د مسلمانانو د تصرف لاندې راغلې۔

پدې غزا کښې جنګ نهٔ وو لیکن امتحان ئې ډیر سخت وو پدې وجه منافقان پکښې ډیر رابنکاره شو او د مؤمنانو نه الله راضی شو۔

**قَاتِلُوا الَّذِيْنَ** : د اول نه ئې داسې الفاظ وئیل چه هغه د اهل کتابو د قتال اسباب دی یعنی چا کښې چه دا راتلونکی صفات وی نو دوئی هم د جنګ لائق دی۔

**لَا يُؤْمِنُوْنَ** : دا آیت نص دې چه اهل کتاب یعنی یهود او نصاریٰ کافران دی، په الله باندې ئې صحیح ایمان نهٔ دې راوړې ځکه چه یهودیانو عزیر ؑ ته د الله ځوی او نصاراؤ عیسیٰ ؑ ته د الله ځوی وئیلې دې، او د الله د رسولانو ترمینځ ئې په ایمان راوړو کښې فرق راوستې دې نو دوی اګرکه هسې په خوله باندې د ایمان دعوه کوی خو د دوی دغسې ایمان له اعتبار نشته۔

**وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ**: دوی اګرکه دا دعوه کوی چه جنت مونږ پورې خاص دې او مونږ ته به صرف یو څو ورځې سزا ملاویږی لیکن پدې طریقه باندې آخرت منل دا په حقیقت کښې نهٔ منل دی نو دا باطل ایمان دې۔ (فتح البیان)

وَلَا يُحَرِّمُوْنَ : یعنی دے خلکو کښ د حلال او حرامو تمییز نشته۔ هر قسم مردارے دوی خوری، خنزیران او ماران لړمانان د دوی خوراك دے۔ په ډیرو خوراکونو او مردارو پابندیانی دی مگر یهود او نصاریٰ د هغے نه ځان نهٔ ساتی۔
وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ: اَیْ لَایُطِیْعُوْنَ دِیْنَ الْحَقِّ۔

یعنی د حق دین طاعت نهٔ کوی او د باطل پسے روان وی۔

## جزیه څه شے دے او څومره اندازه ئے ده ؟

((جزیه)) هغه مال ته وائی چه اهل کتاب او نور کافران ئے هر کال پدے عوض کښ ورکوی چه مسلمانان به د دوی سره قتال نهٔ کوی، او د مسلمانانو ترمینځ به دوی ته د أوسیدو اجازت ورکړے کیږی، د دوی نفسونه او د دوی مالونه به محفوظ وی او ددے مقدار د مالدار او متوسط او فقیر په اعتبار سره کمیږی زیاتیږی، چه د هغے تعیین به د مسلمانانو حاکم یا د هغهٔ نمائنده کوی۔ او اکثر اهل علم وائی چه د یو دینار نه به کم نهٔ وی او زیات له ئے حد نشته مگر پدے هم دلیل نشته بلکه د نجران والو نه سرهٔ او سپین په جزیه کښ نهٔ وو اخستے شوی بلکه د هغوی نه جامے او وسلے اخستے شوے وے۔ او پدے کښ مقصد دا دے چه دوی تنگ شی او اسلام ته راداخل شی۔ او همدا ئے غوره مقصد دے۔ او ځینی وائی چه جزیه د دوی د وینی د حفاظت په بدله کښ ده۔ (ابن القیمؒ)
عَنْ يَّدٍ : ددے یوه معنیٰ د انقیاد ده، اَیْ حَتّٰی یُعْطُوا الْجِزْیَةَ عَنْ طِیْبِ نَفْسٍ وَانْقِیَادٍ۔
تردے چه دوی جزیه ورکړی په خوشحالئ د زړه او تابعدارئ سره یعنی خپله خوښه سره، ولے که اِکْرَاه (زور) ته حاجت راغلو نو بیا دوی اهل ذمه پاتی نشو۔ (فتح البیان)۔
او بله معنیٰ ئے دا ده چه په خپل لاس به ئے راوړی۔
صٰغِرُوْنَ : د ذلت نه مراد دا دے چه (اِلْتِزَامُ اَحْکَامِ الْجِزْیَةِ وَاَحْکَامِ اَهْلِ الذِّمَّةِ) (قاله الشافعیؒ - ابن القیمؒ) یعنی دوی به د جزیه او د اهل ذمهٔ د احکامو پابند وی کوم چه په دوی باندے عمر فاروق ﷺ هغه شرطونه او احکام ایخودی وو چه د دوی لباس به جدا وی، په اسونو به نهٔ سوریږی، عبادت به نهٔ ښکاره کوی، ښکاره زناگانے به نهٔ کوی، شراب به نهٔ خرڅوی، مسلمان ته به دعوت نهٔ ورکوی، مسلمان چه په لاره تیریدو نو دوی به ورته پاځیږی او د مسلمانانو په شان به د سر ویښته نهٔ پریدئ (په مینځ به لاره نهٔ اړوی) دا د دوی ذلت دے۔

د دغه شرطونو د تفصیل دپاره فتح البیان (۱۰۱/۳) او زاد المعاد ته رجوع پکار ده۔
او ددے مطلب دا نۀ دے کوم چه بعض فقهاؤ لیکلی دی چه کله کتابی جزیه راوړی نو په کرسئ به نۀ کیږی، او هغه ځای ته به راوغوښتے شی چرته چه اخستونکے وی، یا به ورله لاس راښکلے شی او سپکوالے به ئے وکړے شی یا به ورله په مخ څپیړه ورکړی۔ دا خبرے ضعیفی بی دلیله دی۔

## مسئله

د علماءِ کرامو پدے باره کښې اختلاف دے چه جزیه صرف د اهل کتابو نه اخستے کیږی یا د نورو کافرانو نه هم۔ د ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، احمدؒ او د سفیان ثوریؒ وینا ده چه د اهل کتابو نه سِویٰ هیچا نه جزیه نۀ قبلیږی، دا خلق مجوس هم په اهل کتابو کښې شماری، ځکه چه رسول الله ﷺ د ((هَجر)) مجوسیانو نه جزیه اخستے وه۔ او د مالکؒ او اوزاعیؒ رائے ده چه د تمامو کافرانو نه جزیه اخستے کیږی۔

| |
|---|
| وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُنِ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ |
| او وائی یهودیان عزیر (علیه السلام) ځوی د الله دے او وائی نصاریٰ عیسیٰ (علیه السلام) |
| ابْنُ اللّٰهِ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُوْنَ قَوْلَ |
| ځوی د الله دے، دا وینا د دوی ده په خولو د دوی (یعنی بے دلیله) مشابهت کوی دوی د وینا |
| الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ قٰتَلَهُمُ |
| دهغه کسانو سره چه کفرئے کړیدے مخکښې د دوی نه۔ لعنت دِے وکړی په دوی باندے |
| اللّٰهُ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾ |
| الله تعالیٰ څنګه ګرځولے شی دوی (د حق نه)۔ |

**تفسیر:** **مضمون:**

ددے نه روستو د یهودو او نصاراؤ شرکی عقائد بیانیږی چه دا عِلَل (علتونه) د قتال دی یعنی دے دپاره چه مسلمانان دوی لره اُوپیژنی او د دوی په خلاف جنګ ته تیار شی۔
دوی کښې یو مرض دا دے چه د الله دپاره ځامن وائی او د پخوانو کافرانو سره په شرکی خبرو کښې مشابهت کوی، الله ورسره قتال کوی نو تاسو به ئے ورسره ولے نۀ کوئ، دروغژن

دي۔
دوی داسې غلو والا دي چه د خپلو احبارو او رهبانو نه ئې ارباب جوړ کړيدي، عيسىٰ عليه السلام د الله بنده دے او دوی ترے اله جوړ کړيدے۔
بله وجه دا ده (يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِئُوْا) د اسلام د ختمولو کوشش کښې لګيا دي او شرك عام کول غواړي، بله دا چه د دوی پيران او مليان هم پردی مالونه لوټ کونکی حرام خوارهٔ دي، نو پدے وجه دوی د قتال لائق دی۔ بيا ﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ﴾ کښې جواب د سوال دے چه دوی سره څنګه قتال وکړو حال دا چه دا مياشت خو د عزتمنو مياشتو نه ده (کوم کښې چه د تبوك غزا کيدله) نو د هغے جواب ورکوی او د عزتمنو مياشتو تذکره کوی او بيا د عربو په نسيء باندے تر (۳۷) پورے ردونه کيږي۔
**وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ** : دا د بعض يهوديانو خبره وه ليکن د دوی نور پرے راضي وو پدے وجه نسبت تولو ته وشو، کله چه مشران يوه ناروا خبره وکړي او کشران ترے ناراضه نشي يا په هغے رد ونکړي نو دوی هم د مشرانو سره حسابيږي۔
بعض وائي : دا وينا د يهوديانو يو ډلے رسول الله ﷺ ته کړے وه نو دا آيت د دوی په رد کښې نازل شو چه پدے کښې تولو يهودو ته نسبت وشو ځکه چه د بعضو وينا په تولو لازميږي کله چه د هغے نه انکار ونکړي۔
**عُزَيْرُنِ ابْنُ اللّٰهِ** : بعض غلو کونکو يهوديانو عزير عليه السلام د الله ځوی ولے ګنړلو ؟
❁ (لِمَا رَأَوْا فِيْهِ مِنَ الْمُعْجِزَاتِ) ځکه چه دوی په هغه کښې ځينی معجزات او ناشنا کارونه وليدل هغه دا چه تورات خور ووُر وو نو دهٔ راجمع کړو ❁ او دارنګه تورات ورته د سل کاله مړ پاتے کيدو نه روستو هم ياد پاتے وو، ❁ او دغه شان په عبرانئ کښې ليکلے شوی تمام اسرائيلی کتابونه ئې راجمع کړل او د بنی اسرائيلو دپاره ئې د قانون يو عظيم کتاب تيار کړو چه د هغے نه يهوديان متأثره شو او هغه ته ئې د الله مجازي ځوی وئيل شروع کړل، چه دا د الله د توحيد د شان خلاف وو۔ ❁ دارنګه هغه سل کاله مړ کيدل او بيا راژوندے کيدل هم ناشنا کارنامه وه۔ دا معجزے د هغوی دپاره فتنے وګرځيدے۔
**وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ** : او ګمراه نصاراؤ نه چا عيسىٰ عليه السلام ته د الله ځوی، چا هغهٔ ته بعينهٖ الله او چا هغه د دريو نه يو معبود ووئيلو۔ الله تعالىٰ په قرآن کريم کښې په ډيرو مقاماتو کښې د هغوی عقائد په تفصيل سره بيان کړيدی۔
دوی عيسىٰ عليه السلام ته ولے د الله ځوی ووئيلو؟ : (۱) ځينی وائي پدے وجه چه دوی وليدل

چه دے مړی راژوندی کوی او په غیر د پلار نه پیدا دے نو دا سبب وو د دوی ددے وینا دپاره۔ (۲) غوره دا ده چه دوی دا خبره پدے وجه کوله چه په انجیل کښې به عیسیٰ علیه السلام ته کله (اِبْنُ اللهِ) د الله ځوی او کله (اِبْنُ الْاِنْسَانِ) د انسان ځوی وئیل کیدو لکه دا په اُوسني انجیلونو کښې هم شته لیکن دوی پدے خبره نهٔ پو هیدل چه دا خو د تشریف او تکریم دپاره وئیل کیدو یا دا د دوی د مشرانو تحریف وو چه د څه فاسدو غرضونو په نیت ئے کړے وو لیکن کشرانو ته هغه نهٔ وو ښکاره۔

امام رازیؒ وائی چه زما په نیز غوره دا ده چه په انجیل کښې د ابن لفظ د تشریف دپاره وو لکه د خلیل لفظ د ابراهیم علیه السلام په باره کښې د تشریف دپاره وو نو دوی پکښې مبالغه وکړه او د ابن لفظ نه ئے حقیقی بُنُوّت (ځوی والے) واخستو او جاهلانو د هغوی نه دا خبره قبوله کړه او دا فاسد مذهب د عیسیٰ علیه السلام په تابعدارو کښې خور شو۔ (فتح البیان)

او ځینو پکښې دا مجازی ځوی وئیلو، اَیْ وَلَدُ حَنُوٍ وَشَفُقَةٍ، یعنی د الله پرے شفقت او مهربانی ده لکه پلار چه په ځوی مهربان وی۔

او مقصد په آیت کښې تیزی ورکول دی په جهاد د اهل کتابو چه اے مسلمانو! دے ظالمانو ستاسو الله تعالیٰ ته کنځل او بد نسبتونه کړیدی، عمر فاروق رضی الله عنه فرمایلی: (اَذِلُّوْهُمْ وَلَا تَظْلِمُوْهُمْ فَاِنَّهُمْ سَبُّوا اللّٰهَ سَبَّةً مَا سَبَّهَا اَحَدٌ) ۔ نصاریٰ ذلیله کړئ مګر ظلم پرے مهٔ کوئ ځکه چه دوی الله ته داسے کنځلے کړیدی چه هیچا ورته نهٔ دی کړی۔

الله په دے نسبت باندے په سورة مریم آیت (۹۰) کښې ډیر غضب کړیدے

﴿ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ۞ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا﴾

نزدے ده چه آسمانونه راپریوزی او زمکه وچوی او غرونه ذره ذره شی پدے وجه چه دوی د الله دپاره اولاد وائی۔

ځکه چه کله دوی مخلوق د الله ابن (ځوی) ګڼړی نو بیا ترے الله پاتی شی او د دغه ابن عبادت شروع کړی او په همده کښې ټول کمالات وګڼړی۔ لکه د مشرکانو نه هم کرامتونو والا مقصود جوړ شی او کرامت ورکونکے (الله) ترے شا ته پاتی شی۔

**ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ**: یعنی د دوی دا عقیده په دلیل بناء نهٔ ده۔

۱- ځینی اهل علم وائی (كُلُّ قَوْلٍ فِي الْقُرْاٰنِ مَقْرُوْنٌ بِالْاَفْوَاهِ اَوِ الْاَلْسُنِ فَذٰلِكَ قَوْلُ زُوْرٍ) په قرآن کښې چه چرته یوه وینا د افواه (خولو) او ژبو سره پیوسته راشی نو دا د دروغو وینا وی۔ لکه ﴿يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ﴾ (آلعمران: ۱۶۷) ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ

اَفۡوَاهِهِمۡ ﴾ (الکهف : ٥) ﴿ يَقُولُونَ بِاَلۡسِنَتِهِمۡ مَا لَيۡسَ فِىۡ قُلُوبِهِمۡ﴾ (الفتح : ١١)۔

٢- هره خبره خو د خولے نه راوځی لیکن دلته ئے نسبت خولے ته وکړو پدے کښې اشاره ده چه دا خبره هرکله چه ساده وه چه هیڅ وضاحت پکښې نشته او نۀ پرے دلیل شته نو دا خالصه دعوه ده چه د دوی نه راوتے ده لکه څنګه چه مهملے (بی فائدے) خبرے د خولے نه راوځی او هیڅ فائده پکښې نۀ وی۔

٣- ځینی وائی : د الله دپاره ولد ثابتول- سره ددے نه چه الله د حاجت او شهوت او نکاح نه منزه (پاك) دے- باطله خبره ده چه د عقل پکښې هیڅ تاثیر نشته (یعنی بی عقله خبره ده)۔ (فتح البیان٣/١٠٣)

**يُضَاهِئُونَ قَوۡلَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا** : ١- یعنی د پخوانو کفارو مشرکانو سره ئے ځانونه پدے خبره کښې مشابه کړل لکه قوم د نوح عليه السلام به پنځه مشران (ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر) هم د الله تعالیٰ د بچو په شان ګنړل۔

دغه شان مرضونه په عادیانو او ثمودیانو کښې هم وو چه خپل باطل معبودان ئے دغه شان ګنړل۔ نو د کافرو سره مشابهت په عقیده کښې کفر دے۔

صاحب د فتح البیان درے اقوال نور ذکر کړیدی ٢- یو دا چه دوی پدے وینا سره د بت پرستو سره مشابه شو چه هغوی به وئیل لات، منات او عُزیٰ د الله لونړه دی۔

٣- بل دا چه دوی د هغه کافرو سره مشابه شو چه هغوی وائی ملائك د الله لونړه دی۔

٤- یا دوی د خپلو مشرانو سره مشابه شو چه هغوی وئیلی وو عزیر د الله ځوی دے او عیسیٰ عليه السلام د الله ځوی دے۔ (فتح البیان٣/١٠٣)

**قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ** : ١- دا دوی ته د هلاکت ښیرے دی څکه چه چا سره الله تعالیٰ قتال وکړی هغه هلاك شو۔ ٢-ځینی وائی چه قتال په معنیٰ د لعنت سره دے۔ د نقاش نه نقل دی چه قاتل الله په اصل کښې دعاء ده بیا ددے استعمال دومره زیات شویدے چه عرب ئے په خیر او شر کښې د تعجب دپاره استعمالوی او دعاء ئے مقصد نۀ وی۔ (فتح)

**اَنّٰى يُؤۡفَكُونَ**: اَیۡ كَيۡفَ يُصۡرَفُوۡنَ عَنِ الۡحَقِّ اِلَى الۡبَاطِلِ بَعۡدَ وُضُوۡحِ الدَّلِيۡلِ وَاِقَامَةِ الۡحُجَّةِ بِاَنَّ اللّٰهَ وَاحِدٌ اَحَدٌ۔ یعنی دوی څنګه د حق نه باطل ته د دلیلونو د ښکاره کیدو نه روستو اوړی حال دا چه دلیل پدے باندے قائم دے چه الله تعالیٰ تن تنها یواځے دے۔

او پدے کښې ډیر زیات قباحت د دوی د عقلونو دے یعنی دوی باطل طرفته چا واړول۔

| |
|---|
| اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ |
| نیولی دی دوی ملیان خپل او پیران خپل حاکمان (د حلالو او حرامو) سویٰ د الله نه |
| وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا |
| او عیسیٰ څوی د مریم لره، او حکم نهٔ دے شوے دوی ته مګر ددے چه بندګی به کوی |
| اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۱﴾ |
| د معبود یو، نشته حقدار د بندګئ سویٰ د هغهٔ نه، پاك دے الله د هغے نه چه دوی ورسره شریکان جوړوی۔ |

## د اهل کتابو خپلو مشرانو نه د معبودانو جوړولو طریقے

**تفسیر** : دا د دوی د قتال بل علت دے چه دوی خپلو ملیانو او پیرانو له د آلهه ؤ حیثیت ورکړیدے او مخکښې ئے ووئیل چه دوی مخلوق د الله څوی ګنړلے دے یعنی دا خلك غلو والا دی۔

یعنی دوی خپل عالمان او خپل راهبان د الله په ځای خپل معبودان او شارعان جوړ کړل یعنی کله چه به د دوی دنیا پرستو عالمانو حرام حلال او حلال حرام کړل نو دوی به د هغوی تابعداری وکړه۔ امام احمدؒ، ترمذیؒ او ابن جریرؒ وغیره د عدی بن حاتم ؓ نه روایت کړیدے چه هغه رسول الله ﷺ ته راغلو نو د هغهٔ په څټ کښې د چاندئ صلیب زوړند وو (دهٔ د جاهلیت په زمانه کښې عیسائیت قبول کړے وو) نو رسول الله ﷺ دا آیت اُولوستلو : ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ (رسول الله ﷺ دا آیت په خپل تلاوت کښې لوستلو نو عدی ورسره موافق شو، یا دا چه رسول الله ﷺ دهٔ ته دا آیت ور آورولو۔ عدی وائی) نو ما ووئیل چه عیسایانو خو د خپلو عالمانو عبادت نهٔ دے کړے؟، نبی کریم ﷺ وفرمایل چه آؤ، د دوی حلال ئے حرام او حرام ئے حلال وګنړل نو خلقو د دوی خبره اُومنله او د هغوی تابعداری ئے اُوکړه همدا د دوی عبادت دے۔

یعنی دا کشران د خپلو ملیانو او پیرانو په امر او نهی کښې تابعداری کوی او د الله شرع ته نهٔ ګوری نو داسے شو لکه چه دوی ئے ارباب ګنړلی دی۔

اَحْبَارَهُمْ : جمع د حِبر ده په زیر د حاء او سکون د باء سره یا زبر د یاء دے، چا یو ته افصح

وئيلے او چا بل ته مگر دواړه صحيح دي۔ حبر هغه شخص ته وائي چه خبره ښائسته کوي لکه ددے نه "ثَوْبٌ مُحَبَّرٌ" استعمال دے يعني ښائسته کړے شوے جامه، او تحبير الخط په معنى د تحسين سره دے۔ ليثؒ وائي: حبر عالم ته وائي ذمي وي او که مسلمان پس د هغے نه چه د اهل کتابو نه وي۔ او حبر هغه سياهي ته هم وائي چه په هغے ليکل کيږي، حبر اثر ته هم وائي۔ او حبر په زبر د حاء سره حُبُور (خوشحالئ) ته هم وائي لکه ﴿فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ﴾ (الروم: ١٥)۔ (فتح)

وَرُهْبَانَهُمْ : جمع د راهب ده د رهبة نه دے (يرے ته وائي) او دا د نصاراؤ علماؤ ته وائي لکه احبار د يهوديانو علماؤ ته وائي۔ او حُيني وائي چه رهبان د نصاراؤ نه هغه خلکو ته وائي چه په ګيرجو کښ وسيږي، يا رهبان عبادت ګزار او لوستونکو ته وائي۔

اَرْبَابًا : ١- يعني شارعان او قانون سازان (يعني د ځان نه حلال او حرام جوړونکي) په غير د دليل نه۔ يهودو او نصاراؤ غالباً خپلو پيرانو او مليانو ته آلهه نهٔ وو وئيلي بلکه په امر او نهي کښ به ئے د نبي خبرے ته نهٔ کتل بلکه د مشرانو پسے روان وو او دغے ته ربوبيت وئيل شويدے۔

ربيعؒ وائي: ما ابو العاليهؒ ته ووئيل چه په بني اسرائيلو کښ ربوبيت څنګه وو؟ هغه وفرمايل: دوي چه به کله په کتاب الله کښ د خپلو احبارو او رهبانو د اقوالو مخالف حکم وموندو نو د هغوي په اقوالو به ئے عمل کولو او د الله د کتاب حکم به ئے نهٔ قبلولو۔

امام رازيؒ په خپل تفسير کښ ليکي: زمونږ شيخ وئيلي دي چه ما د فقهاؤ د مقلدينو يو جماعت ليدلے دے چه ما په هغوي باندے د الله د کتاب ډير آيتونه لوستل په بعض مسائلو کښ چه د هغوي مذاهب د دغه آيتونو خلاف وو نو هغوي دغه آيتونه قبول نکړل او نهٔ ئے هغے ته څه توجه ورکړه او د تعجب کونکي په نظر ئے ما ته کتل، مقصد ئے دا وو چه ددے آيتونو په ظاهر باندے عمل څنګه ممکن دے سره ددے نه چه زمونږ د سلفو نه ددے خلاف روايت راغلے دے۔ او که تهٔ صحيح سوچ وکړے نو دا بيماري به د دنيا والو نه د اکثرو خلکو په رګونو کښ جاري ووينې۔

٢- دويم قول په تفسير ددے ربوبيت کښ دا دے چه جاهلان او حشويه چه کله د خپل شيخ په تعظيم کښ مبالغه وکړي نو ډير کرته د هغوي طبع حلول او اتحاد ته مائل شي او بيا چه کله دغه شيخ د دنيا طلب ګار وي او د دين نه جدا وي نو کله خپلو اتباعو او ملګرو ته امر کوي چه دهٔ ته سجده وکړي او دوي ته وائي چه تاسو زما بندګان يئ او که د بعضو

کم عقلو سره یواځې شي نو د هغوی په مخ کښې د الوهیت دعوه هم کوی او هرکله چه دا کار پدې امت کښې شته نو ددې ثبوت په مخکښنو امتونو کښې هیڅ بعید نۀ دے۔
یعنی کیدے شي چه په دوی کښې هم د حلول عقیده راغلی وی او خپلو احبارو او رهبانو ته ئے سجدے لګولی وی۔ یعنی دائے حقیقی آلهه ګنړلی وی۔
۳- یا دا چه دوی د خپلو مشرانو قسماقسم کفرونه قبول کړی وو نو په الله باندے کافران شو نو دا کار داسے شو لکه چه دوی د الله نه سوئ نور ارباب نیولی وی۔ انتهیٰ قول الرازیؒ (فتح البیان)
٤- یا اَطَاعُوْهُمْ کَمَا تُطَاعُ الْاَرْبَابُ۔ (التسهیل وفتح البیان)
دوی به د خپلو مشرانو مطلق طاعت کولو لکه څنګه چه د اربابو طاعت کیږی۔
مطلق اطاعت دیته وائی چه د چا هره خبره په غیر د دلیل نه منل اګرکه هغه شخص بزرګ هم وی۔ (دے ته تقلید هم وائی)
دا آیت عقلمند شخص په دین کښې د تقلید نه منع کوی او ددے نه ئے هم منع کوی چه یو تن د اسلافو خبرے په کتاب او سنت باندے غوره کړی ځکه چه یهودو او نصاراؤ د خپلو احبارو او رهبانو داسے عبادت نۀ وو کړے چه هغوی ته ئے سجدے لګولے وی بلکه د هغوی خبره منل د الله د کتاب په خلاف دغه د دوی عبادت وو او دا مرض ددے امت په مقلدینو کښې هم هوبهو شته۔ (فتح)
دا آیت دلیل دے چه د حلال او حرام او د قانون سازئ واك به صرف د الله وی، څوك ئے خپل ملیان ګنړی، او څوك ئے عوام ګنړی او څوك ئے رواج ګنړی، دا ټول غلط دی، علماء صرف مُبلغین دی او هغوی حلال حرام جوړونکی نۀ دی، که څوك ئے دغه شان ګنړی نو دۀ د هغوی نه شارعان جوړ کړل۔
او دا خبره به په تا باندے هله واضحه شي چه کله ته د قرآن او حدیث یوه مسئله وکړے خلك به ستا سخت خلاف وکړی او د خپلو مشرانو اقوال به درته وړاندے کړی او تا به د دین نه بهر وګنړی نو تۀ به هله ددے آیت په معنیٰ باندے بنه پوهه شے۔
"التفسیرات الاحمدیة" کښې ملاجیون لیکلی دی: چه اجماع پدے خبره شویده چه د څلورو مذهبونو د امامانو نه علاوه د نورو امامانو تقلید جائز نۀ دے۔ نو د ابویوسفؒ او د محمدؒ پسے روانیدل هم جائز نۀ دی۔ صرف ابوحنیفهؒ پسے به ځے۔ دے ظلم ته فکر وکړه، دا اجماع چا وکړه او ددے مستند او دلیل څه دے او مونږ له دا امامان چا مقرر کړل؟۔ همداسے

خبرے د یهودیانو هم وے۔
صاوی په خپل تفسیر کښې په سورة الکهف کښې لیکلی دی چه د څلورو مذهبونو نه علاوه د بل چا تابعداری جائز نهٔ ده اګرکه دغه بل قول د آیت یا د حدیث او د قول د صحابیؓ سره برابر وی (هم نهٔ به ئے اخلے) دا کوم دین دے ؟۔ دوی هم احبارو نه ارباب جوړ کړل۔
اصول الکرخی ص (۲۹) کښې ئے لیکلی دی : (کُلُّ آيَةٍ (وَكَذٰلِكَ الْحَدِيْثُ) تُخَالِفُ قَوْلَ اَصْحَابِنَا فَهِيَ اِمَّا مُؤَوَّلَةٌ اَوْ مَنْسُوْخَةٌ)۔ یعنی هر آیت او حدیث چه زمونږ د مذهب د قواعدو خلاف راغلو نو په هغے کښې به یا تاویل کیږی (چه دے ته تحریف وائی) یا به هغه منسوخ کولے شی۔ (یعنی ټکرئ ته به ګوزارکړے شی او عمل به پرے نهٔ کیږی)۔ ددے ظلم دپاسه نور څه وئیلے شی؟! ددے خلکو په نیز به د آیت او د حدیث دغه ادب او مرتبه وی ؟!۔ د خپلو امامانو قول ئے اصل وګرځولو او آیت او حدیث ئے د هغے تابع کړل۔
هرکله چه ټول اسلام د امام ابوحنیفهؒ په مذهب کښې راګیر شو نو بیا خو نور مذهبونه باطل او ناکاره شو۔ په هغه مذهبونو کښې به یا د اسلام خبرے وی یا نهٔ، که نهٔ وی نو بیا ورته حق څنګه وایئ او که د اسلام خبرے پکښې وی نو بیا ئے ولے نهٔ منئ۔
الدر المختار کښې دی : (يُفْتٰى بِقَوْلِ الْاِمَامِ عَلَى الْاِطْلَاقِ) د امام ابوحنیفهؒ په قول باندے به مطلقاً فتوی ورکولے شی۔ (یعنی دلیل ته به نهٔ ګورے او نهٔ به ترے د دلیل تپوس کوے)
دا مثالونه ددے دپاره ذکر شو چه کیدے شی چه الله تعالیٰ پدے سره بعض غلط منهج والاته هدایت وکړی او د کتاب او د سنت په نیغه لاره ئے روان کړی ورنه زمونږ په زړونو کښې د هیڅ دینی عالم او مجتهد بی احترامی نشته ولله الحمد علی ذلك۔
وَالْمَسِيْحَ: یعنی دوی د عیسیٰ علیه السلام نه هم رب او معبود جوړ کړیدے۔
صاحب د «فتح البیان» وائی چه پدے کښې اشاره ده چه یهودیانو د عیسیٰ علیه السلام نه رب او معبود نهٔ وو جوړ کړے۔
وَمَآ اُمِرُوْٓا : یعنی حال دا چه دوی ته په پخوانو منزلو کتابونو کښې د انبیاؤ په ژبه دا حکم شوے وو چه صرف د الله تعالیٰ بندګئ به کوئ یا هغه احبارو او رهبانو خپلو کشرانو ته دا حکم کړے وو چه یوائے د الله بندګی به کوئ۔ (فتح)
دا دلیل دے چه د چا بی دلیله خبره او فتویٰ منل (یعنی طاعتِ مطلقه کول) د هغهٔ عبادت کول دی۔

لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ : دا دویم صفت دے د (اِلٰهًا) دپاره۔ یا جمله استینافیه ده د توحید د تاکید دپاره۔

سُبْحَانَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ : الله پاك دے د عیبونو د شرك نه۔ او الله پاك دے ددے نه چه هغه سره په طاعت او عبادت کښې شرك وکړے شی۔ او دے کښې اشاره ده چه یهود او نصاریٰ مشرکان دی۔ او په خپل نوم (اهل کتاب) باندے زیات مشهور دی۔ صرف د نکاح او د ذبیحے د حلالوالی په باره کښې د عامو مشرکانو نه جدا دی۔

| |
|---|
| يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِئُوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ |
| غواړی دوی چه مړه کړی رنړا د الله په خولو خپلو او پریدی الله تعالیٰ هرڅه مګر دا چه |
| يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾ هُوَالَّذِیْٓ اَرْسَلَ |
| پوره کوی به رنړا خپله اګرکه بد ئے ګنړی کافران۔ الله هغه ذات دے چه راوے لیږلو |
| رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ |
| رسول خپل (محمد رسول الله ﷺ) په هدایت سره او په دین حق سره، |
| لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ |
| دے دپاره چه غالبه کړی دۀ لره په دینونو ټولو باندے اګرکه بد ئے ګنړی مشرکان۔ |

**تفسیر** : پدے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د یهود او نصاراؤ یو بل قسم ګمراهی او د حق نه وړاندے والے بیان کړیدے، یعنی دا خلق د خپلو دروغو خبرو او د باطلو مناظرو او جګړو په ذریعه د الله د آخری دین، دین اسلام تکذیب کوی، او خلقو ته دا اعتماد ورکوی چه دا د الله دین نۀ دے، او محمد ﷺ د الله آخری نبی نۀ دے، نو د دوی مثال د هغه سړی دے چه د نمر یا سپوږمئ رنړا په خپلو پوکو سره ختمول غواړی۔ لکه څنګه چه د دغه سړی دا حرکت د لیونتوب دے او هغه د نمر یا سپوږمئ رنړا ته هیڅ نقصان نشی رسولے، دغه شان دا یهودیان او نصاریٰ په خپلو پوکو سره د اسلام د هدایت شمع نشی مړۀ کولے، ځکه چه الله غواړی چه په ځلور قنجه دنیا کښې ددے دین رنړا خورۀ شی او د کافرانو د زړخله نا خوښوئ باوجود به داسې کیږی (ابن کثیر وفتح البیان)

نُوْرَ اللّٰهِ : (اَیْ شَرَائِعَهٗ وَبَرَاهِیْنَهٗ وَحُجَجَهٗ) ۔ یعنی د الله احکام او دلیلونه او حجتونه۔ او

دليلونو ته نُور پدے وجه ووئيل شو چه پدے سره حق ته رسيدل کيږي لکه څنګه چه په نور سره محسوساتو ته رسيدل کيږي.

۲- ځينی وائی : ددے نه مراد هغه دليلونه دی چه د نبی ﷺ د نبوت په صحت باندے دلالت کوی چه هغه يو څو څيزونه دی ۱- ښکاره او مضبوط معجزات.

۲- قرآن عظيم چه دا تر قيامته پورے پاتی کيدونکے معجزه ده.

۳- هغه دين چه الله پرے امر کړيدے هغه دين اسلام دے چه په دے کښې سوئ د تعظيم د الله نه او د هغه د ثناء او صفت او د هغه د حکمونو د تابعدارئ او د هر معبود من دون الله نه د بيزارئ نه سوئ بل شے نشته. نو څوك چه ددے دين په دروغو او دهوکے سره باطلول غواړی نو ددهٔ عمل برباد او کوشش ئے ناکام دے. (فتح البيان)

بِاَفْوَاهِهِمْ : اشاره ده د دوی ضعف الحيلے ته. چه د دوی سره صرف خوله پاتے ده چه دين اسلام پسے خبرے وکړی نور وس ئے نهٔ کيږي چه دا ختم کړی. يعنی د دوی دا کار ناکام دے، دا داسے ده لکه خلك وائی : "نمر په پوکی باندے مړ کول".

وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ : پدے کښې الله تعالیٰ د کافرانو ضد بيان کړيدے چه اګرکه کافران ډير کوشش وکړی نو د دوی د ضد نه به زهٔ خپله رڼړا (دين اسلام) سرته رسوم.

اَىْ وَيَاْبَى اللّٰهُ كُلَّ شَىْءٍ اِلَّا اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ . يعنی الله به هرڅه پريدی خو دا خبره نهٔ پريدی چه خپله رڼړا پوره کړی. لکه دا په هره ژبه کښې محاوره وی چه "هرڅه به پريدم خو دا فلانئ خبره به پرے نه ږدم".

هُوَ الَّذِىْٓ اَرْسَلَ : پدے کښې دا خبره کوی چه الله به خپل دين څنګه پوره کوی؟ نو هغه داسے چه الله تعالیٰ محمد رسول الله ﷺ راوليږلو، هغه به دعوت او جهاد کوی نو د الله دين به پدے سره پوره شی. نو ګويا که دا آيت د مخکنی آيت دپاره تفسير دے.

بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ. دا بيان د (نُوْرَ الله) دے کوم چه په مخکښې آيت کښې ذکر شو.

## د الهدی ودين الحق مطلبونه

۱- دا دواړه لفظونه کنايه ده د اسلام نه. يعنی اسلام ته الله دوه نومونه او صفتونه ورکړيدی يو دا چه دا هدايت والا دين دے (انسان پرے مقصد ته رسيږي) او بل دا حق دين دے، دروغ او کوږ والے پکښې نشته.

۲- يا "هدی" نه مراد توحيد او "دين الحق" نه مراد قرآن کريم دے. (زاد المسير۳/۱۷۰)

٣- ''هدی'' توحيد او ''دين الحق'' سنت نبوی دے۔ دا زمونږ د مشائخو تعبير دے۔
٤- هدی (اَلْعِلْمُ النَّافِعِ) او دين الحق (اَلْعَمَلُ الصَّالِحِ) دے۔ (ابن كثيرؒ)
يعنی زمونږ په اسلام كښې فائده مند علمونه شته لكه د الله معرفت او د آخرت علم او د شرك بدی وغيره۔ او نيك عملونه هم پكښې بيشماره دی۔ او دا دواړه د كمال صفات دی چه د انسان بصيرت او قوتِ عملی دواړه مضبوط شی۔ او رسول الله ﷺ به دا دواړه كارونه كول۔
٥- الهدی: نه مراد هغه براهين (دلائل) او معجزات او هغه احكام دی چه الله دَ خپلو بندګانو دپاره مشروع كړيدی او توحيد او اسلام او قرآن دے او (دين الحق) نه مراد دين اسلام دے۔ او دا ئے ورسره جدا ذكر كړو اګركه دا په (الهدی) كښې داخل وو نو دے سره د هغهٔ دين شرافت او تعظيم بيانول مقصود دے۔ (فتح البيان)
٦- صاحب المنار وائی: الهدی نه مراد كامل، عام او اشمل هدايت دے او دين الحق نه مراد هغه دين چه ثابت او محكم دے چه هيڅ دينونه ئے نشی منسوخ كولے او بل هيڅ شے ئے نشی باطل كولے ﴿لاَ يَأْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ﴾۔
او دا په مقابله ددے قول د الله تعالىٰ كښې دے كوم ئے چه د اهل كتابو په باره كښې وفرمايل: ﴿وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ﴾ اهل كتاب د محكم او ثابت دين تابعداری نهٔ كوی ځكه چه دوی د خپلو انبياؤ د كتابونو او مواعظو نه ډيره لويه حصه برباده كړيده او باقی كښې ئے تحريف كړيدے نو په صحيح طريقه ئے هغه نهٔ دے قائم كړے بلكه د هغے په بدله كښې دوی د خپلو مشرانو د تقليدونو (قوانينو) پسے روان شويدی چه هغوی ورله په خپل خواهش سره مقرر كړيدی۔
٧- او پدے كښې يو بل احتمال هم شته چه ددے سره جمع كيږی او منافات نهٔ لری هغه دا چه ددے معنىٰ دا ده چه نبی ئے راليږلے دے په دين د الله تعالىٰ هغه خالص دين چه هيڅ شك او شبهه پكښې نشته لكه پخوانو دينونو او كتابونو ته چه شوائب او شكوك راپيښ شوی وو او (دين الحق) كښې حق د الله نوم دے يعنی د الله په هغه صحيح دين چه تر اوسه پورے باقی دے۔ لكه تاريخ د اديانو پدے ګواه دے چه د پخوانو انبياؤ نه چه كوم دينونه او كتابونه رانقل شويدی په هغے كښې يو دين داسے نشته سویٔ د اسلام نه چه هغه په صحيح متصل سندونو سره په طريقه د تواتر قولی او فعلی سره باقی پاتی وی، دا صرف خصوصيت د اسلام دے۔ ولله الحمد علی ذلك۔ (المنار ١٠/٣٣٨)

لِيُظْهِرَهُ: په تیر شوی آیت کښې چه الله تعالیٰ د دین اسلام د حفاظت او ددے په ټوله دنیا کښې د خورولو کومه وعده کړے وه، هغه ئے دلته بیا راواپس کړیده چه الله تعالیٰ به دے دین ته د ټولو دینونو په مقابله کښې شهرت او مقبولیت ورکوی۔

اظهار دلته په معنیٰ د غالبه کولو سره دے۔

لِيُظْهِرَهُ : ځینی ضمیر نبی کریم ﷺ ته راجع کړیدے او اظهار ئے په معنیٰ د تعلیم سره اخستے دے۔ (اَیْ لِیُعْلِمَهُ شَرَائِعَ الدِّیْنِ کُلَّهَا) (زاد المسیر والبغوی)

یعنی دے دپاره چه خپل نبی د ټولو احکامو د دین نه خبر کړی او هیڅ خبره د دین پټه پاتی نشی۔ دا تفسیر هم جائز دے لیکن لږ بعید دے د روستو سره پوره نۀ لګیږی۔

## د دین د غلبے د وعدے حقیقت او وخت

عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ : بیا ئے دا په کوم وخت کښې غالبه کړیدے ؟ چا وئیلی دی چه دا وعده تقریباً څه نا څه پخوا هم پوره شویده او بیا به د مهدی آخر الزمان او د عیسیٰ علیه السلام د راکوزیدو په وخت کښې پوره کیږی چه اُوس ورته حالات ډیر برابریدو والا دی۔

د مسند احمدؒ، صحیح مسلم او د سنن ابوداود روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ اللّٰهَ زَوٰی لِیَ الْاَرْضَ فَرَاَیْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَاِنَّ اُمَّتِیْ سَیَبْلُغُ مُلْکُهَا مَا زُوِیَ لِیْ مِنْهَا]

(الله تعالیٰ ما دپاره زمکه راټاؤ کړیده او زما د امت حکومت به تر هغه ځای پورے رسیږی کوم ځای پورے چه ما دپاره زمکه راخکلے شویده)۔ (صحیح مسلم : ٧٤٤٠)

امام احمدؒ د مقداد بن اسود رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه هغوی ووئیل : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے :

[لَا یَبْقٰی عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ بَیْتُ مَدَرٍ وَّلَا وَبَرٍ اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ کَلِمَةَ الْاِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِیْزٍ اَوْ ذُلِّ ذَلِیْلٍ، اِمَّا یُعِزُّهُمُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ فَیَجْعَلُهُمْ مِنْ اَهْلِهَا اَوْ یُذِلُّهُمْ فَیَدِیْنُوْنَ لَهَا]

(په زمکه به داسے کور د خټو، یا د خیمو والا نۀ وی چه هغے ته به د اسلام دعوت نۀ رسیږی، څوك به پرے الله عزتمند کړی چه ددے تابعدار به ئے وګرځوی او څوك به پرے ذلیله کړی چه دے دین ته به (مجبوراً) غاړه کیږدی (یعنی جزیه به قبوله کړی، یا د دین اسلام غلبه به ومنی)۔ (مسند احمد : ٢٣٨٦٥) باسناد صحیح)۔

٢- ځینی وائی چه ددے نه مراد غالبه کول دی په هغه دینونو چه په جزیرة العرب کښې دی ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې الله تعالیٰ په ټول جزیرة العرب کښې دین غالبه

کړو ځکه چه رسول الله ﷺ اول کمزوری وو، نو په مشرکانو غالبه شو، بیا ئې فتح د مکې وکړه، بیا ئې د اهل کتابو سره جنګونه وکړل او هغوی ئې د مدینې نه وشړل، په خیبر کښې ذلیله شو د هغوی دین او نیټ ورك ختم شو نو غلبه د اسلام راغله۔

۳- او دا غلبه په اعتبار د حجت سره هم ده یعنی د دلیل په اعتبار سره اسلام په ټولو دینونو غالبه دې چه هیڅ دین والا ددې مقابله نشي کولې او نۀ پرې غالبه کیدې شي۔

(الحسین بن الفضل -بغویؒ)

٤- امام شافعی رحمه الله وائی : الله تعالی خپل دین اسلام په ټولو دینونو غالبه کړیدې پدې طریقه چه هر څوك چه ددې دین اسلام نه خبر شي او دا واوری نو هغۀ ته ښکاره کیږی چه دا حق دین دې او ددې مخالف دینونه باطل دی۔ (بغویؒ وفتح البیان)

او اُوس هم اسلام په ټولو دینونو د عالَم کښې زیات مشهور دې سره ددې نه چه حکومت او خلافت ئې نشته، او بیا هم دا دین مضبوط دې ځکه چه خلك پرې قتال او جهادونه کوی او خپلې وینې ورکوی او ددې دعوتونه کوی نو وعده د الله پوره شویده۔

او الله داسې نۀ دی وئیلی چه زۀ به نور دینونه ټول ختموم چه نام ونشان به ئې پاتې نۀ وی بلکه نور دینونه به هم وی لیکن اسلام به پرې غالبه وی۔

او په اسلامی اَدوارو کښې دا وعده پوره شویده چه په عامه دنیا کښې اسلام غالبه وو، چا ئې مقابله نشوه کولې بلکه د مسلمانانو د جنګونو نه به یریدل او جزیه به ئې قبلوله، اُوس هم د ټولې دنیا کفار د اسلام او د مسلمانانو نه یریږی، او بعض بشارات به د مهدی آخر الزمان په وخت پوره کیږی۔

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ : مخکښې ئې (كَافِرُوْن) لفظ راوړو ځکه چه هلته نُور ذکر وو او د نُور مقابله کښې کفر تیارۀ ده۔او دلته (هدیٰ) لفظ استعمال دې چه توحید ته وئیل کیږی او مشرکان توحید بد ګڼړی ځکه ئې دلته ددې مناسب لفظ راوړو۔

| |
|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ |
| اے ایمان والو ! یقیناً ډیر د ملیانو نه او د پیرانو نه خامخا خوری مالونه د خلقو |
| بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ |
| په ناروا طریقه، او منع کوی خلق د لارې د الله نه، او هغه کسان چه جمع کوی سرۀ |

| |
|---|
| وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ |
| او سپین او نۀ خرچ کوی هغه په لاره د الله کښې نو زیرے ورکړه دوی ته په عذاب |
| اَلِيْمٍ ﴿٣٤﴾ يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى |
| دردناك سره۔ په هغه ورځ چه ګرمولے به شی هغه په اور د جهنم کښې پس داغلے به شی |
| بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ۭ هٰذَا |
| په هغے سره تندی د دوی او اړخونه د دوی (ورته وئیلے به شی) دا هغه شے دے |
| مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴿٣٥﴾ |
| چه جمع کړے وو تاسو د ځانونو خپلو دپاره نو اُوڅکئ (عذاب) د هغے چه تاسو به جمع کولو۔ |

**تفسیر** : پدے آیتِ کریمه کښې د یهود او نصاراؤ د عالمانو او راهبانو ناکاره حال بیان شویدے چه دوی د خلقو مالونه په ناجائزو طریقو سره خوری، رشوت اخلی د هغوی د مرضئ مطابق فتوے ورکوی، او په تورات او انجیل کښې موجود احکام او مسائل بدلوی، او خپلو دروغو جوړولو ته د الله شریعت وائی۔ نو ځکه دوی د قتال لائق دی۔

او د دوی دا حال پدے وجه هم بیانیږی چه اکثر خلك د علماؤ او پیرانو نه متأثره وی نو دلته فرمائی چه سوچ کوه هر ملا او هر پیر ښۀ سړے نۀ دے بلکه ډیر پکښې حرام خوارۀ او دوکه باز دی او لږ پکښې چرته ښۀ وی۔

د جاهلیت په دَور کښې د یهودی علماؤ ډیر لوی مقام وو، دوی ته به د خلقو د طرف نه ښے پیسے ملاویدلے، او مختلف قِسم هدیې او تحفے به دوی ته راتلے، کله چه رسول الله ﷺ پیغمبر شو نو دوی ته یقین اُوشو چه دا د الله رسول دے، لیکن د خپلے کرسئ او د دنیاوی فائدو د خاطره ئے اسلام رانۀ وړو، نو الله تعالیٰ د دوی عزت او ریاست په ذلت او رسوائی سره بدل کړو۔

دلته مقصود د مسلمانانو ذهن سازی ده او د هغه علماءِ سوء (بدکاره) او ګمراه کن عابدانو نه بیدارول دی۔

**بِالْبَاطِلِ** : سودی، رشوت، دهوکے، او بدعت طریقے سره خوړل لکه مختلف قسم

رواجونه جوړول او په هغې مالونه خوړل. لکه د جُمعې شپې، چهلمونه، کليزې، ناروا خيراتونه وغيره.

ابن کثيرؒ ليکي: دوی په دين باندې دنيا خوری، او په خلکو باندې د دوی منصب او رياست دې نو د هغې په وجه د هغوی مالونه لوټ کوی لکه يهوديانو ته به د جاهليت والو د طرفنه خراج او ټيکسونه، هدايا او تحفې راتللې.

او اُوس هم ځينې داسې باطل پرست مليان شته چه د خلکو نه چندې ټولوی او بيا پرې خپل کورساتي، نۀ ئې څه دعوت وی او نۀ څه مدرسه او جامعه او نۀ څه پروګرام، داسې خلك به قيامت کښې ددې حساب ورکړی.

ځينې خلك د جادو او د تعويذونو او منترو او غلطو دمونو په وجه د خلکو مالونه خوری، دا ډير لوی ظلم دې.

سفيان بن عيينهؒ وئيلي دی چه کوم مسلمان عالِم چه ګمراه کيږی نو هغه يهودی علماؤ سره مشابه کيږی، او کوم مسلمان عابد چه ګمراه کيږی نو هغه د عُبّاد (عبادت ګزارو) نصاراؤ سره مشابه کيږی. د صحيح بخاری روايت دې چه نبی کريم ﷺ وفرمايل:

(لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَذْوَ الْقُذَّةِ بِالْقُذَّةِ، قَالُوْا: اَلْيَهُوْدَ وَالنَّصَارىٰ؟ قَالَ: فَمَنْ؟ وَفِيْ رِوَايَةٍ: فَارِسَ وَالرُّوْمَ] (بخاری: ٣٤٥٦) ومسلم: (٦٩٥٢)

(اې مسلمانانو! تاسو به د تير شوی قومونو طريقې ضرور خپلوئ، او د هغوی په نقش قدم به پوره پوره روانيږئ)). خلقو تپوس وکړو: آيا مراد يهود او نصارىٰ دی؟ نو نبی ﷺ وفرمايل: ((نور کوم خلق کيدې شی؟)) په يو روايت کښې دی: ((د فارس او روم خلق)). (ابن کثير ٤/١٣٤)

وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ: يعنی دې مشرانو کښې دا بل مرض دې چه د پردو مالونو خوړلو سره د الله د لارې نه خلك اړوی او خپلو کشرانو جاهلانو ته دا ښکاره کوی چه دوی خير طرفته دعوت ورکوی ليکن دا ګمان د دوی غلط دې بلکه دوی اُور طرفته داعيان دی.

او دوی ځکه خلك د الله د لارې نه اَړوی چه د الله لاره د دوی د خواهش خلاف ده. نو که عوام خلك د الله په لاره روان شی نو هغه هوښيار شی، بيا ترې ددې مليانو او پيرانو فائده نۀ وصوليږی نو پدې وجه ئې په جهالت کښې پريدی. دويم پدې وجه چه دوی د حق سره ضد لری. او دا مرض اُوس هم ډير زيات دې، سوچ پکښې کوه.

ځينې مليانو ته امی سړې ورشی نو هغه ورته ووائی چه که د وهابيانو پسې ځې نو دا لاره

ده او که په مذهب پسے ځے نو زمونږ ومنه. نو خلکو کښې خو وهابیت کنځله ده نو د هغه نه پدے وجه حق پاتې شي او کله به د اهل حدیثو پسے تهمتونه وتړی دے دپاره چه خلك د حق نه محرومه کړی لکه داسے باطل پرستو ته د صد عن سبیل الله ډیرے طریقے ورځي. نو که تا په یو صحیح حدیث باندے د عمل نه څوك واړولو نو ددے آیت په وعید کښې به ضرور داخلیږے. او ډیر خلك دا کار کوی، څوك شعوری او څوك غیر شعوری طور سره.

**وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ**: مناسبت دا دے چه دوی کښې دا مرض دے (اِنْفَاقُ الْمَالِ فِي الْبَاطِلِ وَاِمْسَاكُهٗ عَنِ الْوَاجِبِ) یعنی مال په باطله پیدا کوی او بیا ئے په باطله خرچ کوی او په واجبو کارونو کښې مال نهٔ لګوی.

## شان نزول

۱- سیدنا معاویه بن ابی سفیان ﷺ وفرمایل: [نَزَلَتْ فِيْ اَهْلِ الْكِتَابِ]. دا آیت د اهل کتابو په باره کښې نازل دے، نو ابوذر ﷺ ورته وفرمایل: [نَزَلَتْ فِيْنَا وَفِيْ اَهْلِ الْكِتَابِ جَمِيْعًا] دا آیت زمونږ مسلمانانو او اهل کتابو دواړو په باره کښې نازل دے. (صحیح بخاری: ۱۴۰۶)

۲- او د ابن عباسؓ نه نقل دی: [هُمْ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ] دا هغه خلك، دی چه د مسلمانانو نه دی او دا کار کویٍ.

۳- سُدّیؒ وائی: دا آیت د زکاة منع کونکو په باره کښې نازل دے چه د مسلمانانو نه وی.

او دا اقوال او د آیت د الفاظو عموم د ابوذر ﷺ د خبرے تائید کوی چه دا حکم دے امت ته هم شامل دے. لکه احادیث پدے باندے دلیل دی چه څوك زکاة نهٔ ورکوی نو د قیامت په ورځ به ترے تبئ جوړی شی او په اُور کښې به ګرمے شی او په هغے باندے به ددهٔ دواړه اړخونه او تندے او شا داغلے شی. (صحیح مسلم ۲۴، ۲۵) (فتح البیان)

نو پدے آیت کښې د یهود او نصاراؤ هغه علماء او عابدان شامل دی چه سرهٔ او سپین به ئے جمع کول او د الله په لاره کښې به ئے نهٔ خرچ کول او هغه مسلمانانو ته هم شامل دے چه د خپل مال زکاة نهٔ ادا کوی.

ابوداوُدؒ او حاکمؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه کله دا آیت نازل شو نو صحابه کرامو ته لوئی مشکل راپیښ شو. عمر بن خطاب ﷺ ووئیل چه زهٔ ستاسو مشکل آسانوم، او لاړو رسول الله ﷺ ته ئے عرض وکړو چه ستا صحابهٔ ته پدے آیت سره لوئی مشکل راپیښ شویدے. نو نبی ﷺ وفرمایل:

[إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ بِهَا مَا بَقِيَ مِنْ اَمْوَالِكُمْ، وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيْثَ مِنْ اَمْوَالٍ تَبْقٰى بَعْدَكُمْ] (المستدرك، كتاب الزكاة ١/٤٠٩ وفى اسناده مقال ويؤيده الحديث المرفوع الآتى)

الله زكاة پدے وجه فرض كړيدے چه ستاسو باقى مال پاك كړى او ستاسو په مال كښې ئے د ميراث قانون پدے وجه جارى كړيدے چه ستاسو نه روستو خلقو ته مال ملاؤ شى. نو عمر رضی الله عنه الله اكبر ووئيل. الحديث.

پدے وجه د جمهورو علماؤ رائے ده چه د كوم مال زكاة ادا كولے شى هغه به كنز نۀ وى.

د عبد الله بن عمر او جابر رضى الله عنهم رايه دا ده چه:

[مَا اُدِّيَتْ زَكَاتُهُ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ]

(موقوف اسناده صحيح، الموطأ لمالك ١/٢٥٦) والبيهقى (٤/٨٢)

(د كوم مال چه زكاة ادا كړے شى هغه ته كنز نۀ وئيلے كيږى).

د ابن عمر رضی الله عنه رائے ده چه پدے آيت كښې په كنز چه كوم وعيد راغلے دے هغه د زكاة په ذريعه منسوخ شويدے. او عِراك بن مالكؒ او عمر بن عبد العزيزؒ وائى: دا آيت په بل آيت ﴿خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ (التوبة : ١٠٣) سره منسوخ شويدے.

او په يو مرفوع روايت د ابو هريره رضی الله عنه كښې دى:

[إِذَا اَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ]

كله چه تا د خپل مال زكاة ادا كړو نو تا خپله ذمه وارى ادا كړه.

(ابن خزيمة، ابن حبان وصحيح الترغيب ١٧١٩) اسناده حسن، البانى)

**وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا**: دا ضمير كنوز ته راجع دے كوم چه په (يَكْنِزُوْنَ) كښې ذكر دى. يا ئے ضمير پدے وجه مفرد راوړيدے چه لحاظ د معنىٰ ئے كړيدے نۀ د لفظ. ځكه هر يو د ذهب او فضه نه ډير شمار دے او دنانير او دراهم دى. او ذهب او فضه ئے خاص ذكر كړل ځكه چه دا قيمتى څيزونه دى او اكثر دا خزانه كيږى او نور څيزونه به په تحريم د كنز كښې ددے تابع وى. (فتح البيان)

**فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ**: ددے نه مراد زكاة او نور شرعى ضرورتونه دى.

**يَوْمَ**: دا ظرف دے دپاره د پټ فعل (يُعَذَّبُوْنَ) يعنى دوى ته به دا عذاب وركولے شى په هغه ورځ. (قرطبىؒ)

**يُحْمٰى عَلَيْهَا**: اَىْ تُوْقَدُ النَّارُ عَلَى الْكُنُوْزِ فِىْ نَارِ جَهَنَّمَ. يعنى اُور به بلولے شى په دے خزانو باندے په اُور د جهنم كښې. دے كښې ډيره مبالغه شويده چه دا به په اُور كښې نۀ

بلیږی بلکه اُور به پدے باندے ګرمیږی۔
د اِحماء په صله کښې (علیٰ) کلمه نهٔ راځی مګر دلته پدے وجه راغلے ده چه اِحماء متضمن ده معنیٰ د یُوْقَدُ لره۔ (فتح البیان والقرطبی)
فَتُكْوٰى : د کَویٰ یَکْوِیْ کَیًّا نه دے په معنیٰ د داغلو او سیزلو سره۔ (القاموس)
او دا درے اندامونه ئے خاص کړل ځکه چه دوی ته کله سائل راغلے دے نو تندے ئے ورته تریو کړیدے او کله چه هغه مبالغه په سوال کښې کړیده نو بیا ئے ورته یو اړخ او کله بل اړخ راوړلے دے او چه په هغے هم کار نهٔ دے شوے، نو بیا ئے ورته شاګانے راړولی دی۔
❁ یا دا مختلف احوال سائلو ته شویدی۔
❁ یا پدے کښې اشاره ده سختوالی د عذاب ته ځکه چه پدے اندامونو داغونه ورکول ډیر سخت درد رسونکی دی۔
فَذُوْقُوْا : دلته مضاف راویستلو ته ضرورت نشته چه وڅکئ عذاب د هغه مال چه تاسو به خزانه کولو بلکه د احادیثو مطابق ددے مال نه خپله مار جوړیږی او ددهٔ د وښکو نه به تاو شی او دهٔ ته به وائی : [اَنَا مَالُكَ، اَنَا كَنْزُكَ] زهٔ ستا مال او زهٔ ستا خزانه یم۔
(صحیح البخاری : ۱٤۰۳)۔

| |
|---|
| اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ |
| یقیناً شمار د میاشتو په نیز د الله تعالیٰ دولس میاشتے دی په حکم د الله کښې |
| یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ط |
| په هغه ورځ چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه، د هغے نه څلور میاشتے د عزت دی، |
| ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ لا فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا |
| دا دین مضبوط دے نو ظلم مهٔ کوئ پدے کښې د ځانونو خپلو سره او جنګ کوئ |
| الْمُشْرِكِیْنَ كَآفَّةً كَمَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ط وَاعْلَمُوْٓا |
| د مشرکانو تولو سره لکه څنګه چه جنګ کوی دوی تاسو تولو سره او پوهه شئ |
| اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِیْنَ ﴿۳٦﴾ اِنَّمَا النَّسِیْٓءُ |
| چه بیشکه الله تعالیٰ ملګرے د متقیانو دے۔ یقیناً روستو کول (د عزتمنو میاشتو) |

| |
|---|
| زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ |
| زياتوالے دے په كفر كښں، گمراه كولے شي پدے سره كافران، حلال گنړي دوی دا مياشت |
| عَامًا وَّ يُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِئُوْا عِدَّةَ مَا |
| يو كال او حرام گنړي دا مياشت بل كال دے دپاره چه موافقت وكړي دوی د شمار د هغے |
| حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ط |
| چه عزت وركړيدے ورته الله تعالىٰ نو حلالوی دوی هغه مياشتے چه حرامے كړيدی الله، |
| زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ط وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ |
| ښائسته كړے شويدی دوی ته بد عملونه د دوی، او الله هدايت نۀ كوی قوم كافرانو ته۔ |

**تفسير** : پدے آيتونو كښں الله تعالىٰ د كال او د څلورو مياشتو عزتمنو او د نسيء تذكره كوی تر ركوع پورے۔ په ظاهر كښں ددے مناسبت نۀ ښكاره كيږی چه مخكښں ئے د يهودو بدی بيان كړه او اُوس وائی چه كال دولس مياشتے دے او څلور پكښں عزتمنے دی او نسيه صحيح نۀ ده۔

ليكن ددے مناسبت په ډيرو طريقو سره دے څه جزوی او څه حقيقی تاريخی دی۔

جزوی مناسبت دا دے : ۱ - اَلزَّكَاةُ لَاتَجِبُ اِلَّا بَعْدَ اثْنَیْ عَشَرَ شَهْرًا ـ يعنی مخكښں آيت كښں تير شو چه خزانے نه زكاة وركړه ورنه عذاب به درته رسيږی نو اُوس وائی چه دا زكاة به دولس مياشتے پس وركولے شی۔ او ددے سره بيا د څلورو مياشتو خبره او په هغے كښں د قتال خبره ملگرے كوی لكه دا د قرآن كريم عادت دے چه د يوے خبرے سره مناسبه بله خبره هم ذكر كوی۔ ۲ - تَشَبُّهُ اَهْلِ الْكِتَابِ بِالْمُشْرِكِيْنَ فِی الْبِدْعَةِ۔

اهل كتاب د مشركانو سره په بدعت كښں مشابه كوی، هغه دا چه اهل كتابو اتخاذ الارباب كړيدے چه دا يو بدعی عقيده ده يعنی خپل علماء او پيران ئے آلهه او شارعان جوړ كړيدی۔ نو دغه شان مشركانو هم په نسيه سره بدعت ايجاد كړے وو۔ نو د خبرے نه خبره پيدا شوه۔ يعنی اهل كتابو د احبارو او رهبانو په باره كښں بدعت كړيدے نو وگورئ دلته مشركانو هم بدعت وكړو۔ نو دوی هم د هغوی په شان د قتال لائق دی۔

۳ - تاريخی او غوره مناسبت دا دے چه هركله آيت (۲۸) ﴿ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ﴾

نازل شو نو رسول الله ﷺ د تبوك د غزا اراده وکړه نو دا تبوك غزا په جمادی الثانیه کښې وه او عربو به د اَشهر حُرُم ډیر عزت کولو لیکن دوی به دا بدلولے نو په دے وخت کښې دوی عزتمنه میاشت جمادی الثانیه ته بوتلے وه (نو جمادی الثانیه پدے کال باندے د دوی په بدعت سره د اَشْهُرِ حُرُم نه جوړه شوے وه) نو دلته د ډیرو مسلمانانو اشکال پیدا شو چه مونږ تبوك ته څنګه په عزتمنه میاشت کښې د جنګ دپاره لاړ شو دا خو به ددے میاشتی بې عزتی وشی؟ نو الله جواب وکړو چه اشهر حرم جدا دی، جمادی الثانیه پکښې داخل نهٔ ده او اُوس چه دا تاسو د اشهر حرم نه ګنړلے ده نو دا د مشرکانو د ظلم او د بدعت د وجه نه، نهٔ د الله په نیز۔ نو د دوی دے کار لره د الله په نیز هیڅ اعتبار نشته بلکه پدے کښې جنګ تاسو له جائز دے۔ پدے وجه د غزا ئے تبوك سره دا خبره متعلق ده نو ددے سره ئے نزدے هم راوړه۔

## د آیت مقصد او د نسیء بیان

الله تعالیٰ چه کله نه آسمانونه او زمکه پیدا کړل نو د میاشتو شمار ئے دولس مقرر کړو، او د هغے نومونه ئے هم کیخودل، او د هغه میاشتو متعلق احکام ئے هم بیان کړل چه د هغے ذکر په تمامو آسمانی کتابونو کښې راغلے دے۔ د هغے نه یو خاص حکم دا دے چه الله د کال څلورو میاشتو (رجب، ذی العقده، ذی الحجه او محرم) ته خاص اهمیت ورکړیدے، ددے احترام ئے لازم ګرځولے دے، او پدے کښې ئے جنګ کول حرام کړیدی، او د ابراهیم علیه السلام د دین نه عربو ته دا خبره پاتے وه، لیکن د جاهلیت په زمانه کښې بعض عربو ددے حکم لحاظ نهٔ وو کړے او د خپل خواهش مطابق میاشتے ئے مخکښې روستو کول شروع کړی وو۔ کله به ئے حج په ذی الحجه کښې کیخودو او کله به ئے مؤخر کړو محرم ته به ئے بوتلو۔

دغه شان که کله به یو قبیلے په بله قبیله باندے د محرم په میاشت کښې حمله کوله نو هغه به ئے حلاله کړه او د هغے په بدل کښې به ئے د صفر میاشته حرامه کړه۔ څکه چه ډیر قبائل به په لوټ مار ژوند تیرولو، او مسلسل درے میاشتے حرامیدو په وجه به دوی باندے د فقر او فاقے نمبر راتلو، پدے وجه ددے میاشتو نه به ئے یوه حلالوله او ددے په بدله کښې به ئے بله حراموله۔ مثلًا داسے به ئے ووئیل چه سږ کال به محرم میاشت حلاله کړو او پدے کښې به جنګ وکړو چه پیسے پیدا کړو او ددے په ځای به بلے میاشتے له عزت ورکړو۔

دغه شان کال له به ئے په صفر کښې ضرورت راغلو او هغه خو به د دوی په نیز عزتمنه

میاشت وه نو بیا به ئے اعلان وکړو چه ددے عزت مونږ ربیع الاول ته نقل کړو نو دغه طریقه به ئے د کال په ټولو میاشتو کښې عزتمنے میاشتے چلولے۔ دے ته قرآن (نسیء) وئیلی دی، یعنی د میاشتو مخکی روستو کول۔ ددے نتیجه دا شوه چه میاشتے به خپل مینځ کښې ګډے وډے شوے نو رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې اعلان وکړو چه تمامے میاشتے خپلو ځایونو ته واپس شوے او د نبی ﷺ حج په ذی الحجه کښې اُوشو۔

او دا کار اول کښې د عربو نه د بنو کنانه ؤ یو مشر وو حذیفه بن عبید ئے ورته وئیلو چه د هغه لقب (قَلَمَّس) وو۔

ځینی وائی: د بنو کنانه یو بل مشر وو (نُعیم بن ثعلبه) هغه دا کار کړیدے۔ (فتح البیان)

او ابن کثیرؒ د مجاهدؒ نه نقل کړیدی چه د بنو کنانه ؤ نه یو سړے به هر کال په خپل خر باندے د حج موسم ته حاضریدو او خلکو کښې به ئے دا اعلان کولو:

[يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنِّيْ لَا أُعَابُ وَلَا أُجَابُ، وَلَا مَرَدَّ لِمَا أَقُوْلُ، إِنَّا قَدْ حَرَّمْنَا الْمُحَرَّمَ وَأَخَّرْنَا صَفَرَ]

اے خلکو! زهٔ داسے سړے یم چه نهٔ زما عیب وئیلے کیږی او نهٔ ما ته څوك جواب راکولے شي او زهٔ چه څه induced وایم هغه نهٔ رد کیږی (خلکو به ورته ووئیل صحیح ده نو هغه به ووئیل) مونږ سږ کال محرم له عزت ورکړو او صفر مو روستو کړو۔ بیا به کال له راغلو نو دغه شان خبره به ئے بیا وکړه او دا به ئے ووئیل: [إِنَّا قَدْ حَرَّمْنَا صَفَرَ وَأَخَّرْنَا الْمُحَرَّمَ] مونږ صفر له عزت ورکړو او محرم مو روستو کړو۔

پدے طریقه به هغوی کښې دا نسیء راروانه وه چه د هغهٔ د مرګ نه روستو به د هغهٔ ځوی بیا نسی آن تر د نبی کریم ﷺ زمانے پورے به هغوی دا کار کولو۔ (ابن کثیرؒ)

او مفسر بغویؒ وائی چه د نُعیم نه روستو جناده بن عوف کنانی به دا کار کولو چه دهٔ د رسول الله ﷺ زمانه لاندے کړیده۔

او صاحب المنار د الانساب د بلاذریؒ نه نقل کړیدی چه ابو ثمامه القلمس بن امیة بن عوف به نسیء کوله او څلویښتو کالو پورے دهٔ میاشتو کښې نسئ کړیده او دهٔ د اسلام دور هم لاندے کړیدے او ددهٔ نه مخکښې به ددهٔ د قوم خلکو نسیء کوله)

بیا چه اسلام راغلو هم دا کار به کیدو او دا بدعت د هجرت تر نهم کال پورے روان وو ځکه چه د مسلمانانو ددے بدعت په بدلولو وس نهٔ کیدو۔ نو په نهم کال د دوی په نیز حج په ذی العقده کښې وو او په دغه کال ابوبکر صدیق رضی الله عنه په موسم د حج کښې امیر وو (لکه دا تاریخی روایت دے) او بیا لسم کال له د دوی حج هم ذی الحجے ته رانقل شو نو رسول الله

ﷺ په دغه کال حج وکړو او په آخر کښې ئې بیا وفرمایل: [اِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ، اَلسَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ، ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ، ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِىْ بَيْنَ جُمَادٰى وَشَعْبَانَ]

(بخاری فی التفسیر سورة :۹، باب :۸، وبدء الخلق باب ۲)

زمانه بیرته خپل هغه شان هیئت ته واپس شوه په کومه ورځ چه الله آسمانونه او زمکه پیدا کړی وو، کال دولس میاشتې دے، څلور د هغے نه عزتمنے دی، درے میاشتے پرله پسے دی، ذو القعده، ذو الحجه، محرم او بل رجب د مضر ده کومه چه د جمادی الثانیه او شعبان په مینځ کښې ده۔

الله تعالیٰ پدے دواړو آیتونو کښې د عربو مشرکانو دا تلاعب (لوبی کول) بیان کړیدی، او پدے ئے رد کړیدے چه د کال مشهورے دولس میاشتے او پدے کښې څلور د احترام میاشتے او د هغے سره متعلق احکام د الله د جانب نه مقرر کړے شویدی۔ د چا په بدلولو سره دا احکام نۀ بدلیږی۔ پدے وجه اے عربو مشرکانو! ددے حرامو میاشتو حرمت پائیمال کولو سره په خپل ځان ظلم مۀ کوئ ځکه چه داسے کول د الله محرماتو لره حلال او حلال لره حرام جوړول دی چه ستاسو د حقیقی کفر نه روستو په کفر کښې زیاتے دے۔

**عِنْدَ اللّٰهِ**: اَیْ فِیْ حُكْمِهٖ وَقَضَائِهٖ وَحِكْمَتِهٖ لَا بِابْتِدَاعِ النَّاسِ) (فتح البیان)

یعنی د الله په حکم او فیصله او د هغۀ په حکمت کښې، نۀ د خلکو په بدعت سره۔

**اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا**: دا اسلامی میاشتی دی چه دے ته سنه قمری وائی او مسلمانان به د خپلو روژو او حجونو او د اخترونو د وختونو او احکامو شمار پدے باندے کوی او ددے میاشتو د ټول کال ورځے (۳۵۵) دی او بل شمسی کال دے چه نمر په خپل فلك (مدار) کښې په ټول کال کښې پوره دوره وکړی او د هغے (۳۶۵) ورځے او د یوے ورځے څلورمه برخه جوړیږی نو پدے حساب سره قمری کال د شمسی کال نه لس ورځے کمیږی او ددے نقصان د وجه نه کله حج او روژه په ژمی او کله په اوړی کښې راځی۔ (فتح)

**فائده**: په اسلام کښې د شرعی احکامو تعلق د عربی میاشتو سره دے چه هغه قمری میاشتے دی، او چه د هغے تائید ددے آیت نه کیږی۔ د اسلام نه مخکښې د میاشتو او د کال تعیین دپاره به د عام الفیل اعتبار کیدو، او د اسلام په ابتداء کښې د کال ابتداء د ربیع الاول نه کیده۔ دے نه روستو عمر بن خطاب ﷺ د قمری میاشتو ابتداء د محرم میاشتے نه وکړه چه په هغے باندے د امت اتفاق شو۔ (تیسیر الرحمن)

فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ : د كتاب الله نه مراد يا قرآن كريم دے۔ يا لوح محفوظ (يعنى تقدير) دے۔
اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ : الله تعالىٰ ولے څلورو مياشتو ته عزت وركړيدے؟ نو ددے په حكمة باندے الله عالِم دے ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾۔ او پدے كښې په بندګانو امتحان غرض دے۔
حُرُمٌ : يعنى محترمے۔ تردے چه د جاهليت عربو به هم ددے تعظيم كولو او پدے كښې به ئے قتال حرام ګنړلو، او كه يو تن به د خپل پلار يا د څوى يا د ورور قاتل سره پدے مياشتو كښې ملاؤ شو نو هغه ته به ئے تكليف نۀ وركولو۔ او اسلام چه كله راغلو نو ددے احترام او تعظيم ئے نور هم زيات كړو۔
ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ : يعنى مياشتے دغه شان كيدل او د هغے نه څلور عزتمنے جوړيدل دا نيغ او برابر دين دے چه هغه دين د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام دے۔ يا دين نه مراد هغه حكم دے چه هيڅ تغيير او تبديل او زوال پرے نۀ راځى۔
د قرآن دا طرز دے چه كله په يوه مسئله د ټول دين اطلاق كوى ځكه چه مسلمان كښې چه كله نور دين موجود وى او يوه مسئله ترے پاتې وى نو دين ئے وران او نيمګړے دے او چه كله دغه يوه مسئله هم پكښې برابره شى نو بيا ئے دين مضبوط شو۔ نو ځكه دلته دے يوے مسئلے ته الدين القيم ووئيل شو۔ او دلته چه څوك دين په معنىٰ د (صحيح حساب) سره اخلى۔ (قرطبى) دا كمزورے تفسير دے۔
فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ : په ټولو مياشتو كښې ظلم او ګناهونه ناروا دى ليكن ددے مياشتو د عزت د وجه نه ډير ناروا دى۔
وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ : دا دليل دے چه كه مياشته عزتمنه وى نو هم د مشركانو سره قتال پكار دے ځكه چه دوى اول شروع كړيده يعنى جوابى كاروائى پدے مياشتو كښې روا ده۔ او مونږ د سورة البقره په تفسير كښې دا خبره تفصيل سره ليكلے ده چه غوره قول دا دے چه د عزتمنو مياشتو احترام اُوس هم باقى دے چه پدے كښې به قتال نشى شروع كولے او دا په آيت السيف باندے منسوخ نۀ دے، بلكه آية السيف مقيّد دے په وتلو ددے مياشتو سره۔ او تفصيل دپاره فتح البيان او ابن كثيرؒ او بغوىؒ ته هم رجوع وكړه۔
وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً: دا دليل دے چه ټولو مشركانو سره به جنګ كولے شى ليكن مجاهدين به خپل حالت ته ګورى چه دوى په كوم ځاى كښې جنګ كولے شى او كوم ځاى نۀ، ځكه كه مجاهدين په هر ځاى كښې كار شروع كړى نو بيا برداشت نشى كولے، ځكه پدے زمانه كښې خلافت نشته، نو ټولو ځايونو كښې په يو ځاى جنګ شروع

کول سرته نشي رسولې نو د خپل وس مطابق به کار کوي۔
او دلته خو د صحابه کرامو اسلامي خلافت وو نو ځکه ئې عمومي خبره وکړه چه هر ځای مو کافر موندل هغوی سره جنګ کوئ، د جهاد طریقې د زمانو په بدلون سره بدلیږي، مجاهدین به خپل ترتیب جوړوي۔
او پدې آیت کښې د جهاد څلورمه مرحله ذکر ده چه که مشرك تاسو سره جنګ کوي او که نۀ خو جهاد به ورسره کولې شي یا به ایمان راوړي۔
او دا دلیل دے چه د مشرکانو سره قتال کول واجب دي، او که د مسلمانانو یوه ډله ددے وجوب په ادا کولو کښې سستي کوي نو د امت په هر فرد به واجبیږي۔
مَعَ الْمُتَّقِيْنَ : دا ورسره ځکه وائي چه الله د نفس مقاتلینو سره ملګرتیا نشته ځکه مشرکان خو د مؤمنانو نه زیات دي بلکه د تقویٰ والو سره به مدد کوي او انجام به د دوي وي۔
اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ : (اَیْ نَسِیْءُ الْحُرُمِ وَنَسِیْءُ الْحَجِّ) یعنې یقیناً روستو کول د عزتمنو میاشتو او روستو کول د حج۔
نسیء د فعیل وزن دے په معنیٰ د مفعول سره۔ عرب وائي : نَسَأْتُ الشَّیْءَ فَهُوَ مَنْسُوْءٌ) ما یو شے روستو کړو نو هغه روستو شو۔ بیا منسوء بدل شو نسیء ته لکه مقتول بدل شو قتیل ته۔ (قاله ابو حاتمؒ) د زمخشري قول دا دے چه نسیء مصدر دے په وزن د فعیل لکه سعیر او حریق او همدا غوره ده ځکه چه په اول صورت کښې روستو د (زِيَادَةٌ) حمل پرے نۀ صحیح کیږي مګر په راوبستلو د تقدیر سره۔ اَیْ اِنْسَاءُ النَّسِیْءِ زِیَادَةٌ ۔ (یعنې روستو کول د هغه میاشتے چه روستو کولے شي دا زیاتوالے دے په کفر کښې)۔ (فتح البیان والبغوی)
زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ ۔ یعنې د دوي د کفر سره ددے عمل په وجه کفر نور هم زیات شو۔ دا دلیل دے چه کفر هم زیادت او نقصان قبلوي۔ نو دغه شان ایمان به هم زیاتیږي او کمیږي۔
يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : سوال دا دے چه کافر خو هسے هم ګمراه دے نو پدے نسیء سره به څنګه ګمراه کړے شي؟
۱- جواب دا دے چه کله یو کافر جاهل وي هغه هدایت ته نزدے دے او کله چه یو کافر ځانله په خپل دین کښې بدعات پیدا کړي او یو بل قانون جوړ کړي او په هغے روان شي نو دا بیخي ګمراه شي چه هدایت او اسلام ته راتلل ددهٔ مشکل وي۔

۲- یا دا چه مشر راولګیدو او خپل کشران ئے پدے بدعت سره ګمراه کړل- (فتح البیان)

**یُحِلُّوْنَهٗ**: ضمیر منسیء (یعنی روستو کړے شوے میاشت) یا نسیئ ته راجع دے- یا ضمیر میاشتے ته راجع دے- (فتح)

**یُحِلُّوْنَ** یوه معنیٰ ده: حلالوله به ئے- یعنی پدے کښ به ئے جنګونه حلال ګنړل- او دویمه معنیٰ د بیعزتیٔ کولو ده- او د **یُحَرِّمُوْنَهٗ** هم دغه شان د حرامولو او عزت ورکولو معنیٰ ده-

**لِّیُوَاطِئُوْا**: پدے خلکو باندے دوه فریضے وے یو دا چه څلورو میاشتو له عزت ورکول او بل دا چه په هغه طریقه عزت ورکول چه الله ورله ورکړیدے- نو دوی خو په یوه فریضه عمل کوی چه څلورو میاشتو له عزت ورکوی لیکن بدعت پکښ دا پیدا کوی چه د ځان نه ورله عزت بدلوی رابدلوی- یعنی په کمیت عمل کوی او په کیفیت کښ خلاف کوی-

**فَیُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ**: نو الله چه کومه عزتمنه میاشت کښ قتال حرام کړیدے نو دوی هغه حلال وګرځوی- نو د الله حلال او حرام ئے په ځای پرینخودل او ددے مثال داسے دے لکه یو تن ووائی چه د رمضان روژے په اُوړی کښ سختے دی دا به د ژمی په میاشت کښ ونیسو-

او د دوی پدے کار کښ دوه عیبونه دی یو دا چه غیر محترمے میاشتے ته محترمه وئیل او بله محترمه میاشت غیر محترمه ګرځول دی-

**لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الْكٰفِرِیْنَ**: یعنی څوك چه په کفر همیشوالے کوی نو هغوی ته داسے هدایت نهٔ کوی چه مطلوب ته ئے ورسوی او هرچه هدایت په معنیٰ د حق بیانولو او لاره خودلو سره دے نو هغه الله هر چا ته کړیدے-

| |
|---|
| یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِیْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ |
| اے ایمان والو! څه وجه ده تاسو لره کله چه ووئیلے شی تاسو ته اُووځئ په لاره د الله کښ، |
| اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِیْتُمْ بِالْحَیٰوةِ الدُّنْیَا مِنَ |
| نو درانهٔ شئ تاسو زمکے ته (دنیا ته) آیا خوشحاله یئ تاسو په ژوند دنیوی په بدله د |
| الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا فِی الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِیْلٌ ﴿۳۸﴾ |
| آخرت کښ، پس نهٔ دے سامان د ژوند دنیوی په مقابله د آخرت کښ مګر لږ دے- |

**تفسیر :** **مضمون :**

ددے نه روستو تر (۹۹) آیت پورے جهاد المنافقین، انواع المنافقین (د منافقانو اقسام) او خصال المنافقین (د منافقانو خویونه او بد صفات) بیانیږی چه لوی لوی اوپاؤ ته رسیږی۔

دومره ډیرئے ولے جمع کړیدی؟ ځکه چه د رسول الله ﷺ زندګی ختمیدو ته رانزدے شوه نو دے دپاره چه د مؤمنانو نه منافقان پوره جدا شی او خلکو ته منافقان راښکاره شی نو الله تعالیٰ داسے راښکاره کړل چه عامو خلکو به پیژندل۔

او پدے کښې به ایمان والو ته تنبیه وی چه د دوی د خصلتونو نه ځان بچ وساتئ،

او بل ددے دپاره چه په اهل فجورو باندے د خیر والو ګمان ونکړے شی، او دا لویه د خطرے خبره ده چه کله به یو ساده مؤمن خپل دشمن ته دوست وائی او هغه ته به رازونه ښکاره کړی۔ او دا صفات ډیر کرته په مؤمنانو کښې هم راځی نو ډیره یره ترے پکار ده۔

ربط او تړون

مخکښې د کافرانو عیبونه بیان شو نو اُوس ایمان والو ته د دغه کافرانو په قتال کولو ترغیب ورکوی د کومو بد صفات چه مخکښې بیان شو۔

شان نزول

دا آیات کریمه د غزوۂ تبوك د موقعے سره نازل شوی وو،

د مکے د فتح نه یو کال روستو رسول الله ﷺ ته خبر اُوشوه چه د روم بادشاه هرقل د مسلمانانو سره د جنګ تیاری کوی نو نبی ﷺ په شوال سنه (۹ هـ) کښې مسلمانانو ته د جنګی تیاری حکم اُوکړو۔ په هغه وخت کښې سخته ګرمی وه، د میوو د پخیدو وخت وو، مسلمانان عام تنګدست وو، لیکن بیا هم مخلص مسلمانانو د رسول الله ﷺ په آواز لبیك اُووئیلو او د لښکر په تیاریٔ کښې ئے هر قسم حصه واخسته او د جنګ دپاره روان شو۔ هرقل ته چه کله د رسول الله ﷺ د راتلو خبر اُورسیدو نو روستو شو او نبی ﷺ د اسلام د لښکر سره په تبوك مقام کښې شل ورځو پورے د قیام کولو نه روستو واپس شو، دے ته غزوۂ تبوك وئیلے شی، اګرکه جنګ ونشو لیکن لکه څنګه چه د سورت په ابتداء کښې وئیلے شویدی چه ددے نتائج ډیر لرے پورے راووتل، پدے غزوۂ کښې بعض مسلمانان د سستیٔ او ډیر منافقان د ګرمیٔ د وجه نه شریك نشو۔ دا آیتونه پدے پس منظر کښې

نازل شوی وو۔
**یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا** : پدے آیت کښې رد دے په منافقانو چه د جهادونو نه روستو پاتے کیږی۔ او ځینې محققینو وئیلی دی : (فِيْهِ رَدٌّ عَلٰى بَعْضِ الْمُؤْمِنِيْنَ الْمُتَثَاقِلِيْنَ)
پدے آیت کښې رد دے په بعض هغه مؤمنانو هم چه هغوی د جنګونو نه سستی کوی اګرکه پدے کار سره انسان کافر نهٔ حسابیږی لیکن ګناه ضرور ده لکه حدیث کښې دی :
[مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَهٗ مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ] (صحیح مسلم : ۵۰۴۰)
څوك چه مړ شی پداسے حال کښې چه غزا ونکړی او نهٔ خپل ځان سره د هغے تذکره وکړی نو دے به د منافقت په یوه برخه مری۔
او پدے کښې بعض هغه مسلمانانو ته هم زجر او توبیخ ورکړے شویدے چه هغوی پدے جنګ کښې شریك شوی نهٔ وو۔
**مَالَكُمْ** : دا استفهام د انکار او د توبیخ دپاره دے۔ یعنی تاسو څه شے ددے نه منع کوی۔
**اِذَا قِيْلَ لَكُمْ** : اَیْ فِی الْقُرْآنِ وَالْحَدِیْثِ وَبِقَوْلِ الْاَمِیْرِ ۔ یعنی په قرآن او حدیث کښې درته ووئیل شی یا ئے درته امیر ووائی۔ پدے وجه ئے مجهوله صیغه راوړه، عموم ته اشاره ده۔
**اِنْفِرُوْا** : نفر : د یو ځای نه بل ځای ته د راپیښ شوی کار د وجه نه په جلتئ سره نقل کیدو ته وائی۔
**اثَّاقَلْتُمْ**: یعنی ځانونه زمکے ته درانهٔ کړئ او داسے وایئ چه زمونږ کارونه دی او نشو تللے او بیا به لاړ شو۔
**اثَّاقَلْتُم** په اصل کښې **تَثَاقَلْتُمْ** دے او دا په اِلٰی سره متعدی شو ځکه چه پدے کښې معنیٰ د میلان ده۔
**فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْل**: پدے کښې د دنیاوی مال او متاع سپکاوے او د اُخروی ژوند اهمیت بیان شویدے۔ امام احمدؒ او مسلمؒ د مستورد بن شداد ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایلٗ :
[وَاللّٰهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ اِلَّا كَمَا يَجْعَلُ اَحَدُكُمْ اُصْبُعَهٗ هٰذِهٖ فِي الْيَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بِمَ تَرْجِعُ]
(قسم په الله ! د دنیا حیثیت د آخرت په مقابله کښې داسے دے لکه څوك خپله ګوته په دریاب کښې خکته کړی او بیرته ئے راپورته کړی نو ودے ګوری چه دا به په څومره اُوبو سره راواپس کیږی) الحدیث۔ (مسلم : ۷۳۷۶)
پدے آیت کښې د منافقانو دوه خصلتونه راغلل، یو تَثَاقُل اِلَی الْاَرْضِ عِنْدَ اَمْرِ الْجِهَادِ ۔

یعنی د جهاد د امر په وخت زمکے ته درنیدل. دویم حُبُّ الدُّنیَا فِیْ مُقَابَلَةِ الآخِرَة - یعنی د آخرت په مقابله کښې دنیا غوره کول او د هغے سره مینه لرل.

| |
|---|
| اِلَّا تَنۡفِرُوۡا یُعَذِّبۡکُمۡ عَذَابًا اَلِیۡمًا ۙ وَّ یَسۡتَبۡدِلۡ |
| که اُونهٔ وتلئ تاسو عذاب به درکړی تاسو ته عذاب دردناك او په بدل کښې به راولی |
| قَوۡمًا غَیۡرَکُمۡ وَلَا تَضُرُّوۡهُ شَیۡئًا ؕ |
| بل قوم غیر ستاسو نه، او ضرر نشئ ورکولے تاسو هغه ته هیڅ شے |
| وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۳۹﴾ |
| او الله په هر شی قدرت لرونکے دے۔ |

**تفسیر** : پدے کښې هغه خلقو ته خصوصي سخت وعید دے چه په دے غزوه کښې نهٔ دی شریك شوی. او په عمومی توگه سره هغه ټولو خلقو ته چه د الله په لاره کښې د جهاد نه روستو پاتے کیږی.

یعنی که تاسو نهٔ وځئ نو الله به تاسو په داسے سخت عذاب درد رسونکی سره هلاك کړی، چه بارانونه به دریاندے بند کړی، یا په آخرت کښې مراد دے۔ (فتح البیان)

او احادیثو کښې دی چه کوم قوم جهاد پریدی الله به ئے ذلیله کړی. او د چا چه د جهاد وس کیږی او ونهٔ وځی نو الله به عمومی سزاګانے ورکړی۔

قَوۡمًا غَیۡرَکُمۡ : یعنی ستاسو علاوه نور خلك راپیدا کړی چه هغوی به جهادونه کوی۔

دے کښې چا تعیین کړیدے چه ددے نه مراد یمن والا دی یا فارس والا (سعید بن جبیرؒ) لیکن دے تعیین باندے هیڅ دلیل نشته۔

وَلَا تَضُرُّوۡهُ : یعنی الله ته هیڅ ضرر نشئ ورکولے هغه د مخلوقاتو نه غنی دے. یا ضمیر رسول الله ﷺ ته راجع دے یعنی چه که د هغهٔ مدد ونکړئ او هغه سره ونهٔ وځئ نو هغهٔ ته هیڅ ضرر نشئ ورکولے ځکه چه هغهٔ سره الله د مدد وعده کړیده او هغه به پوره کوی۔ (القاسمیؒ)

| |
|---|
| اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذۡ |
| کچرته مدد نهٔ کوئ تاسو ددے رسول نو یقیناً مدد کړیدے ددهٔ الله تعالیٰ په هغه وخت |

| |
|---|
| اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِي |
| چه راویستلے وو دهٔ لره هغه کسانو چه کفر ئے کریدے دویم د دوو نه کله چه دواړه په |
| الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ |
| غار (ثور) کښ وو، کله چه اُوئیل دهٔ ملګری خپل ته، مهٔ غمجن کیږه (په ما) یقیناً الله |
| مَعَنَا ج فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ |
| ملګرے دے زمونږ نو راولیږلو الله تعالیٰ آرام خپل په هغهٔ باندے او مضبوط ئے کړو هغه |
| بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ |
| په داسے لښکرو سره چه نهٔ لیدل تاسو هغے لره او وے ګرځوله کلمه (خبره) د هغه کسانو |
| كَفَرُوا السُّفْلٰى ط وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ط وَاللّٰهُ |
| چه کافران وو خکته او کلمه (خبره) د الله هم دغه اُوچته ده (همیشه) او الله تعالیٰ |
| عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٠﴾ |
| غالبه، حکمتونو والا دے۔ |

## د هجرت واقعه

**تفسیر:** پدے کښ مسلمانانو ته عِتاب دے (یعنی ملامتیا ده) چه دا هم یوه طریقه د دعوت ده، او رسول الله ﷺ ته اطمینان او یقین ورکړے شویدے چه په ظاهری اسبابو سره ستا مدد خو ستا د اطمینان دپاره دے، ورنه الله د هیڅ ظاهری سبب محتاج نهٔ دے، که خلق ستا مدد نهٔ کوی نو نهٔ دے کوی هغه خو به په هر حال کښ د خپل نبی مدد کوی او هیڅ کله به هغه یواځے نهٔ پریدی، او ددے مثال د هجرت وخت حالات دی چه کله مکے والو د نبی ﷺ د قتل اراده وکړه او نبی ﷺ د ابوبکر ﷺ سره د مکے نه په پټه ووتلو او درے ورځو پورے په غارِ ثور کښ پټ وو، دشمنانو د هغهٔ تعاقب وکړو او د هغهٔ د رالاندے کولو او موندلو هر انسانی تدبیر ئے وکړو لیکن الله د خپل نبی حفاظت وکړو او په پوره حفاظت سره مدینے منورے ته ورسیدو۔

مشرکان د قیافه دانئ په طریقه د غار پورے د دوی قدمونه معلوم کړل او ور وختل او د

غار په سر بانـدے ودریـدل اخوا دیخوا خوړونو ته ئے کتل لیکن لاندے ئے ونهٔ کتل. ددے وجه چنا دا بیان کړیده چه دلته عنکبوت (جولاگی) ژاله اچولے وه او کوترے پکښ اګۍ اچولے وے مګر د کوترے خبره خو بیخی ضعیفه ده او د عنکبوت په باره کښ روایت د مسند احمد ذکر دے او مشکاة باب المعجزات کښ هم شته لیکن سند ئے ضعیف دے د عثمان الجزریؒ د وجه نه چه امام احمد وائی : (روی احادیث مناکیر) دهٔ ډیر منکرت روایات نقل کړیدی. او ابن کثیرؒ په تاریخ کښ وئیلی دی چه اسناد ئے حسن دے. او شعیب الارناووط هم ضعیف ګرځولے دے.

صحیح دا ده چه د غار خوله بنه کولاوه وه لیکن الله تعالیٰ د هغوی سترګے ړندے کړے لکه دا خبره بزار، طبرانی او بیهقی په الدلائل کښ د انس ﷺ او مغیره بن شعبه ﷺ نه نقل کړیده : [فَاَعْمَاهُمُ اللّٰهُ عَنِ الْغَارِ فَجَعَلُوْا يَتَرَدَّدُوْنَ حَوْلَهٗ فَلَمْ يَرَوْهُ].

یعنی الله دوی د غار د کتلو نه ړاندهٔ کړل نو دوی د هغے نه ګیر چاپیره ګرځیدل مګر هغه ئے ونهٔ لیدلو. او دا معجزه وه لکه څنګه چه رسول الله ﷺ د کور نه راوتلو او د دوی په سرونو ئے خاورے اچولے او دوی نهٔ لیدلو. الله ئے حفاظت وکړو او دلته الله تعالیٰ ملائک هم رالیږلی وو، که بالفرض دوی لیدلے وے او جنګ ئے هم ورسره شروع کړے وے نو ملائکو دا خلک ختمول او نبی کریم ﷺ ئے ترے خلاصولو څکه چه الله تعالیٰ د هغهٔ د نبوت د کامل کولو اراده کړے وه. او بیا ئے په لاره کښ د یو مشرك (سراقه بن مالك چه روستو صحابی ګرځیدلے دے) د رالاندے کولے نه ئے هم محفوظ وساتلو او په آرام سره ئے مدینے ته ورسولو، دے ته د الله مدد وائی.

امام شعبیؒ وئیلی دی : [عَاتَبَ اللّٰهُ اَهْلَ الْاَرْضِ جَمِيْعًا فِيْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ غَيْرَ اَبِيْ بَكْرٍ] (النووی- فتح البیان) الله تعالیٰ پدے آیت کښ تولے دنیا والا خلك ملامته کړیدی سوئ د ابوبکر صدیق ﷺ نه. یعنی که تاسو زما د نبی په ملګرتیا کښ جهاد نهٔ کوئ نو ابوبکر صدیق ﷺ شته نو پدے کښ ډیر زیات فضیلت د صدیق اکبر ﷺ شو.

د ((ثانی اثنین)) نه مراد رسول الله ﷺ او ابوبکر ﷺ دے. امام احمدؒ او بخاریؒ او مسلمؒ د ابوبکر ﷺ نه روایت کړیدے چه کله مونږ په غار کښ وو نو زما نظر د مشرکانو په قدمونو پریوتو کله چه هغوی زمونږ په سر ولاړ وو. ما ووئیل اے د الله رسوله !

[لَوْ اَنَّ اَحَدَهُمْ نَظَرَ اِلٰى قَدَمَيْهِ لَاَبْصَرَنَا]

که د دشمنانو نه څوك خپلو قدمونو ته اُوګوری نو مونږ به وینی، نبی ﷺ اُوفرمایل :

[يَا اَبَابَكْرٍ ! مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا]

((اے ابوبکر! ستا د هغه دوو په باره کښې څه خیال دے چه د هغوی سره دریم الله دے))۔ پدے وخت کښې رسول الله ﷺ بیخي په اطمینان کښې وو او په ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندے یره نۀ وه مګر خفګان کښې وو او هغه هم په خپل ځان نۀ بلکه په رسول الله ﷺ باندے خفه وو۔

شیعه ګان وائي چه علي رضی الله عنه غوره دے د ابوبکر رضی الله عنه نه ځکه چه علي رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ په ځای څملاستو ډیر بهادر دے، او دلته ابوبکر رضی الله عنه یریدلے دے۔ جواب دا دے چه دا خبره خطاء ده ځکه چه ابوبکر رضی الله عنه ته ئے داسے نۀ دي وئیلي (لَا تَخَفْ) مۀ یریږه بلکه (لَا تَحْزَنْ) یعني په ما باندے غم مۀ کوه۔ نو دا د ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیر محبت دے د رسول الله ﷺ سره۔ او روایاتو کښې راغلي دي چه ابوبکر رضی الله عنه ووئیل: اے د الله رسوله! که زۀ ووژل شم نو زۀ د مسلمانانو نه یو سړے یم او که تۀ ووژلے شے نو امت او دین هلاکیږي۔

(فتح البیان والسیرة الحلبیة)

فِي الْغَارِ: دا د جبل ثور په سر کښې لوی لوی ګټان دي چه د هغے نه غار جوړ شویدے، دا غر مکے ته نزدے دے یوه ګینټه فاصله کښې پروت دے او بره غره پورے هم تقریباً یوه ګینټه مزل دے۔

اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ: دا دلیل دے چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ صاحب (صحابيٌ) دے ځوك چه ددے نه انکار وکړي کافر او مرتد عن الاسلام دے ځکه چه الله ورته صاحب وئیلے دے، بلکه ځوك چه د خلفاءِ اربعه ؤ د صحابیت نه انکار وکړي هغه هم کافر دے ځکه چه په احادیثو متواترو سره دا ثابت دي چه دوی صحابه کرامؓ وو او د هغے نه انکار کفر دے۔

اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا: ددے نه دا فائده معلومیږي: [فَمَنْ صَحِبَ الرَّسُوْلَ فَاللّٰهُ مَعَهٗ] ځوك چه د رسول الله ﷺ ملګرے شو نو الله به د هغه ملګرے وي۔

او د نبي علیه السلام ملګرتیا کله په ژوند کښې وي نو دا تول صحابه کرامؓ ته شامل دے او کله پس د مرګ نه د هغه د سنتو سره وي۔

بیا دلته د ابوبکر رضی الله عنه دا فضیلت دے چه رسول الله ﷺ د ځان سره په (مَعَنَا) لفظ کښې یو ځای کړیدے او په سورة شعراء (٦٢) آیت کښې دي:

موسیٰ علیه السلام وفرمایل: ﴿اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ﴾ زما سره زما رب دے۔ ځکه چه د موسیٰ

ﷺ په بنی اسرائیلو پوره اعتماد نهٔ وو۔
سَكِينَتَهُ : دا هغه آرام ته وائی چه په زړهٔ کښې اطمینان وی او انسان ورسره نهٔ پریشانه کیږی او رعب پرے رانشی۔ ځکه کله انسان باندے رعب دومره زیات شی چه خپل حال ووائی چه راشئ ما ونیسئ۔ ((کَادَ الْمُرِيبُ يَقُوْلُ خُذُوْنِي))۔
د سَكِينَتَهُ : ضمیر یا نبی کریم ﷺ ته راجع دے یا ابوبکر ﷺ ته او (اَيَّدَهٗ) کښې ضمیر رسول الله ﷺ ته راجع دے۔
وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى : د کلمے نه مراد دین او شرکی عقیده ده، یا مراد شرك او بتانو ته آوازونه دی چه الله تعالیٰ دا ښکته کړل۔ او د دے سبب هجرت کول دی، کله چه مسلمانان د کافرو سره شریك وسیږی نو غالباً هلته اسلام نهٔ غالبه کیږی او کفر نهٔ ښکته کیږی خو کله چه مسلمانانو هجرت وکړو او د کافرانو نه جدا شو نو کفر په ختمیدو شو۔ لکه د رسول الله ﷺ ژوند پدے ګواه دے۔
وَكَلِمَةُ اللهِ : دا ئے جمله اسمیه راوړه اشاره ده دوام ته چه د الله دین همیشه دپاره اُوچت دے او اُوچت به وی۔ د کلمے نه مراد کلمه د توحید او اسلام ته دعوت دے چه دا به تر قیامته پورے غالب او ښکاره او اُوچت وی۔

| |
|---|
| اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ط |
| اُووځئ سپك او درانهٔ او جهاد کوئ په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کښې |
| ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ |
| دا کار غوره دے تاسو لره که پو هیږئ تاسو۔ |

**تفسیر** : دا آیت متعلق دے د ﴿مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا﴾ سره او مخکښې هغه چا ته زورنه ورکړے شوه چه د رسول الله ﷺ سره نهٔ وځی او د هغے مثال ئے بیان کړو نو اُوس په هغے باندے حکم کوی په طریقه د یقین او جزم سره۔
او پدے آیت باندے غزا د تبوك فرض شوے وه، او غزا د تبوك فرض عین وه او د هغے نه روستو پاتے کیدل ګناه وه او دا حکم د الله تعالیٰ په بعض اوقاتو کښې امت ته متوجه کیږی چه نفیر عام وشی یعنی خلیفة المسلمین ټولو مسلمانانو ته حکم وکړی چه اُوځئ لکه څنګه چه رسول الله ﷺ په غزا د تبوك کښې ټولو صحابه کرامو ته سوئ د معذورو نه

حکم کړے وو چه دے جنګ ته به وځی۔ دارنګه دا حکم په هغه وخت کښ متوجه کیږی چه په یو کلی باندے کفار حمله وکړی او د هغوی زنانه لو ماشومانو ته ضرر ورکوی او هغوی وژنی نو پدے وخت کښ بیا د دغه کلی په ټولو مسلمانانو هر فرد باندے جهاد فرض عین دے، او په عام اوقاتو کښ جهاد فرض کفائی دے۔

خِفَافًا وَّثِقَالًا: ددے په مصداق کښ ډیر اقوال د مفسرینو نقل شویدی۔

(۱) شُبَّانًا وَشُيُوْخًا۔ ځوانان او بوډاګان۔

(۲) اَصِحَّاءَ وَمَرْضٰى ۔ روغ او مریضان۔ (د بیمار نه مراد معمولی بیماران دی چه د سردرد تبے وغیره بیمار وی چه په سفر ووځی بنه کیږی)۔

(۳) غَيْرَ اَصْحَابِ الضَّيْعَةِ وَاَصْحَابَ الضَّيْعَة۔ نۀ زمکو والا او زمکو والا۔

(٤) غَيْرَ مَشَاغِيْلَ وَمَشَاغِيْلَ۔ په کارونو نۀ وی مشغول او که په کارونو مشغول وی۔

(٥) فُقَرَاءَ وَاَغْنِيَاءَ۔ (غریبان او مالداره)۔

(٦) غَيْرَ تَامِّ السِّلَاحِ وَتَامَّ السِّلَاح۔ کمو وسلو والا او پوره وسلو والا۔

(۷) مُنْفَرِدِيْنَ وَمُجْتَمِعِيْنَ۔ یواځے یواځے او په شریکه۔

(۸) رُكْبَانًا وَمُشَاةً۔ سوارۀ او پیاده۔

(۹) عُزَّابًا وَمُتَأَهِّلِيْنَ۔ (بی واده او اهل والا)۔

(۱۰) خِفَافًا مِنَ الْحَاشِيَةِ وَالْاَتْبَاعِ وَمُسْتَكْثِرِيْنَ مِنْهُمْ۔

سپك معنىٰ دا چه خادمان او تابعدار ورسره نۀ وی او ثقال دا چه خادمان او تابعدار لری۔

او دا ټولے معانی پدے آیت کښ احتمال جائز دی ځکه چه ددے معنیٰ به دا وی چه تاسو جهاد ته وځئ برابره ده چه په تاسو باندے وتل آسان وی او که ګران وی۔ (فتح البیان وغیره)

که نور هیڅ کار ونکړی د مجاهدینو خدمت خو به وکړی، که مجاهد شهید شو د هغه توره خو به واخلی۔

ډیر صحابه کرامؓ ددے آیت د وجه نه د هیڅ غزوے نه غیر حاضر شوی نۀ وو، لیکن د جهاد پدے عام حکم کښ کمزوری او مریضان شامل نۀ دی لکه چه الله تعالیٰ پدے سورت آیت (۹۱) کښ فرمایلی دی: ﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى﴾

(نشته ګناه په کمزورو او بیمارانو) او نۀ پدے کښ ړانده او ګوډیان شامل دی لکه چه په سورة نور آیت (٦١) کښ فرمایلی دی: ﴿لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ﴾.

(نشته په روند باندے گناه او نۀ په گوډ باندے)

وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ : یعنی د الله په لاره کښې په نفس او مال سره د جهاد وکړئ نو فقیران به د خپلو ځانونو، او مالدار به د خپلو ځانونو او مالونو دواړو په ذریعه جهاد وکړي، ځکه چه جهاد د اسلام یوه لویه فریضه ده، او همدے کښې خیر دے لیکن جاهلان دے ته فساد او دهشتګردي وائي، او خیر پکښې دا دے چه پدے کښې د الله دپاره غیرت دے، د هغه دین پورته کول، د کفارو مغلوبه کول، د الله دپاره شهادت او پدے کښې اجر دے، او پدے سره د ذلت نه خلاصیدل او عزت حاصلول دي، غمونه پدے سره ختمیږي او د ایمان د زیادت سبب دے۔

| |
|---|
| لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا |
| که وے دغه مال نزدے (آسان حاصلیدونکے) او سفر درمیانه |
| لَّا تَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ؕ |
| خامخا روان شوي به وے دوي تاسره لیکن وړاندے شویدے په دوي باندے مزل |
| وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا |
| او زر دے چه قسمونه به کوي په الله که طاقت لرلے مونږ خامخا وتلی به وے مونږ |
| مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۴۲﴾ |
| تاسو سره، هلاکوي دوي ځانونه خپل او الله پوهیږي چه یقیناً دوي خامخا دروغژن دي۔ |

**تفسیر** : بیا په منافقانو باندے رد دے کوم منافقان چه په غزا د تبوك کښې نۀ وو شریك شوي د هغوي دیني او اخلاقي پریوتل بیان شویدي چه آخرت د دوي د نظرونو نه غائب دے، د دوي نظر صرف دنیاوي مفادو ته پورته کیږي۔ که تبوك نۀ بلکه د یو نزدے ځاي سفر وے او څه فوري دنیاوي فائده دوي ته په نظر راتلے نو ضرور به تاپسے روانیدے لیکن لاره اُوږده ده، د ګرمۍ زمانه ده او څه ظاهري دنیاوي فائده مخے ته نشته، پدے وجه دوي د دروغو قسمونه خوري، بهانے کوي او د جهاد نه روستو پاتے کیږي۔ او د الله د ناراضګۍ او د خپل هلاکت او بربادۍ سامان ئے تیار کړو۔

لَوْكَانَ : كَانَ کښې ضمیر (مَدْعُوْ اِلَيْهِ) ته راجع دے یعنی کوم شي ته چه دوي راوغوښتے

شو چه هغه د تبوك سفر دے۔

عَرَضًا: یعنی سامان د دنیا او فائدے د هغے۔

قَرِيبًا: یعنی سَهْلَ الْحُصُوْل وے (په آسانئ سره حاصلیدے)۔

قَاصِدًا: یعنی درمیانه۔

الشُّقَّةُ: لرے زمکے ته سفر کولو ته وائی۔ (ابوعبیدةؒ وغیره) او دا هغه مسافے ته وائی چه په مشقت سره قطع کیږی۔ یعنی لرے سفر۔ او د تبوك مزل په صحراوونو کښ دے چه په لاره کښ اُوبه هم نشته (پدے وجه صحابه کرامؓ به کله اُوښ ذبح کړو او د هغه د لری نه به ئے اُوبه وڅکلے او موسم د ګرمئ دے او تقریباً د مدینے نه اوه سوه کیلو میټره لاره ده)۔ او دا داسے وخت هم وو چه میوے پخے شوے وے او بل طرفته دشمن هم زیات وو۔ د الله د امتحان وخت وو پدے وخت کښ د الله په حکم عمل کول او خپل خواهش پریخودل دا امتحان وو۔

پدے کښ د منافق صفت دا ذکر شو چه که په دین کښ ورته دنیاوی فائده ښکاری نو هغه کوی او که فائده ورته نهٔ ښکاری نو بیا ورته دین سپك ښکاری۔

وَسَيَحْلِفُوْنَ: یعنی کوم خلك چه د تبوك نه روستو پاتی شو، دے خلکو به اول کښ هم د دروغو قسمونه او بهانے کولے او کله چه رسول الله ﷺ راواپس شو هم قَسمونه ئے کول۔

بل عیب د منافقانو دا دے چه په الله تعالیٰ باندے د دروغو قَسمونه کوی۔

يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ: اَیْ بِالنِّفَاقِ وَبِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ وَبِتَرْكِ الْجِهَادِ) ۔ ځانونه تباه کوی په منافقت او په دروغژن قسم او د جهاد په پریخودو سره۔

| |
|---|
| عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ج لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ |
| معافی کړیده الله تعالیٰ تا ته، ولے اجازت ورکړو تا دوی ته تردے چه ښکاره شوی وے تا ته |
| الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۴۳﴾ لَا يَسْتَاْذِنُكَ |
| هغه کسان چه رشتیا وائی او پیژندلی وے تا دروغجن خلق۔ اجازه نهٔ غواړی تا نه |
| الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا |
| هغه کسان چه ایمان لری په الله او په ورځ روستنئ (په پریخودو) ددے چه جهاد وکړی |

| |
|---|
| بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۴۴﴾ اِنَّمَا يَسۡتَاۡذِنُكَ |
| په مالونو خپلو او ځانونو خپلو او الله پو هه دے په تقوىٰ والو۔ یقیناً اجازه غواړي تا نه |
| الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ |
| (د پریخودو د جهاد) هغه کسان چه ایمان نهٔ راوړي په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ |
| وَارۡتَابَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ فَهُمۡ فِىۡ رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُوۡنَ ﴿۴۵﴾ |
| او شکیان دي زړونه د دوی نو دوی په شك خپل کښ ګډوډ دي۔ |

**تفسیر** : نبی کریم ﷺ ته د محبت نه ډك انداز کښ عِتاب (ملامتیا) ده چه الله تعالیٰ دِے تا معاف کړي، که تا دوی ته اجازت نهٔ وے ورکړے نو ددے فائده به دا وے چه د دروغژنو حقیقت به ښکاره شوے وے او د رشتینو پته به لګیدلے وے پدے وجه د امام مجاهدؒ د قول مطابق دا آیت د داسے خلقو په باره کښ نازل شوے وو چه هغوی وئیلی وو چه مونږ د محمد (ﷺ) نه اجازت غواړو، که راکړے شوه نو ښهٔ ده او که نهٔ وی بیا به هم نهٔ ځو۔

عَفَا اللّٰهُ عَنۡكَ : اول نـه ئے د معافئ اعلان ورته وکړو ځکه که دا اعلان ئے ورته نهٔ وے کړے نـو د رسول الله ﷺ زړهٔ بـه د یرے نه اُوتلے وے۔ او په رسول الله ﷺ به سخت بوج راغلے وے نو اول نه ورسره الله تعالیٰ مُلاطَفَه وکړه (د نرمئ انداز ئے اختیار کړو)

او عفو مستلزم ګناه لره نهٔ وی ځکه چه رسول الله ﷺ پدے مقام کښ څه ګناه نهٔ ده کړے بلکه دا د ملاطفے شکل دے۔

لِمَ اَذِنۡتَ لَهُمۡ : ❁ یعنی تا ولے دوی ته اجازه ورکړه چه د جنګ نه پاتے شی۔

❁ ځینـی وائـی چه دا عِتـاب پدے وجه وو چه رسـول الله ﷺ تـه ووئیل شو چه تا ولے منـافـقـانـو تـه اجازه د وتـلو جهاد ته ورکړه۔ (الطبريؒ) لیکن اول قول غوره دے۔ رسول الله ﷺ کـښ نـرمـی وه پـدے وجـه کـه مـنـافقانو به ورته ووئیل چه زمونږ عذر دے مونږ به د جنګ نه پاتی شو نو هغه به ورته ووئیل چه صحیح ده۔ د چا زړونه به ئے نهٔ رالتهول۔

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ : یعنی اجازه ورکوه لیکن اول صادق او کاذب معلوم کړه۔

عبد الله بن عباس ﷺ فـرمـائـی : چـه رسـول الله ﷺ دغـه ورځے پورے منافقان نهٔ پیژندل تردے چه سورت براءت نازل شو۔

## فوائد الآیة

۱- دا آیت دلیل دے چه په بعض مسائلو کښې به رسول الله ﷺ اجتهاد کولو۔

۲- دارنګه دا دلیل دے چه په کارونو کښې د جلتئ نه ځان ساتل او د کارونو په ظاهر باندے د دهوکه کیدو نه ځان ساتل پکار دی۔

۳- عمرو بن میمونؒ فرمائی: دوه کارونه رسول الله ﷺ په خپل اجتهاد کړیدی چه الله ورته په هغے کښې څه حکم نۀ وو نازل کړے: یو ئے منافقانو ته د جنګ تبوك نه د پاتے کیدو اجازه ورکړه، او بل ئے د بدر د قیدیانو نه فدیه واخسته نو الله ورته په دواړو ځایونو کښې عِتاب ورکړو۔ (فتح البیان)

**لَا يَسْتَأْذِنُكَ**: ۱- ددے یوه معنیٰ دا ده چه ایمان والا تا نه اجازه په ترك د جهاد کښې نۀ غواړی بلکه د دوی عادت دا دے چه کله نبی ﷺ د دوی نه یو تن د جهاد نه پاتی کړی نو هغه ته دا ګرانه تمامیږی نو د (اَنْ يُّجَاهِدُوْا) معنیٰ به (اَنْ لَّا يُجَاهِدُوْا) وی۔

۲- د ظاهری الفاظو مطابق معنیٰ دا ده چه مؤمنان د جهاد د کولو په باره کښې اجازه نۀ غواړی بلکه د هغوی حال خو دا دے چه هغوی جهاد ته جلتی کوی او دے ته انتظار نۀ کوی چه ستا نه اجازه وغواړی پاتے لا دا چه د پاتے کیدو اجازه وغواړی نو هرکله چه دے خلکو ستا نه په پاتے کیدو کښې اجازه غوښتله نو ګمان کیدے شو چه د دوی په کار کښې څه سستوالے شته بلکه دا دلیل وو د دوی په منافقت باندے۔ نو تا به دوی ته په جلتئ سره اجازه نۀ ورکولے۔ (فتح البیان)

## اشکال وجواب

سوال: دلته وائي چه ایمان والا اجازه نۀ غواړی او په سورة النور کښې آیت (۶۲) کښې دی: ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ﴾ چه څوك ایمان والا وی نو همدغه خلك اجازه غواړی۔

**جواب**: ۱- ددے ښۀ جواب دا دے چه د دواړو آیتونو هیڅ تعارض نشته ځکه چه دا آیت د جهاد په باره کښې د اجازے متعلق دے او هلته د مجلس نه د پاڅیدو په باره کښې اجازه مراد ده۔ نو مؤمن به د جهاد نه د پاتے کیدو اجازه نۀ غوښتله او د مجلس نه د پاڅیدو په وخت کښې به ئے اجازے ته انتظار کولو او منافقان به پټ تختیدل۔

۲- ځینو د دواړو آیتونو تعارض جوړ کړیدے چه دلته نبی ته وائی چه ولے دِے اجازه

ورکړه او په سورة النور کښې وائي چه که تهٔ چا ته غواړے نو اجازه ورکوه. او بيا ئے داسے تطبيق کړيدے چه دلته پدے آيتِ کريمه کښې پوره طريقے سره تحقيق کولو نه مخکښې اجازت ورکولو خبره شويده چه د الله په نيز د معلوم مصلحت خلاف وو او د سورة نور والا آيت وائي چه رسول الله ﷺ ته د آيت د نازليدو نه مخکښې د الله د طرف نه اختيار وو چه د هغه د تحقيقِ کولو نه روستو چا له غواړي اجازت ورکړي. (قاله الشوکانیؒ).

**اِنَّمَا يَسۡتَاۡذِنُكَ** : پدے آيت کښې د منافقانو نور بد صفتونه ذکر دی، جهاد ورته سپك ښکاره کيدل او د هغے نه د پاتے کيدو دپاره د امير نه اجازے غوښتل، بل په الله او په آخرت ايمان نهٔ لرل. ارتياب او تردد ئے په زړونو کښې دے.

**الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ**: دا منافقان مراد دی چه دوی (۳۹) کسان وو.

**وَارۡتَابَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ**: يعني د دوی زړونو ته دننه شك ننوتے دے نو ځکه دوی په خپل شك کښې پريشانه دی کله يو طرفته اوړي او کله بل طرفته ځکه چه په منافقت کښې الله تعالیٰ پريشاني اچولے ده او په ايمان کښې سکون او آرام.

| |
|---|
| وَلَوۡ اَرَادُوا الۡخُرُوۡجَ لَاَعَدُّوۡا لَهٗ عُدَّةً |
| او که اراده لرلے دوی د وتلو (جهاد ته) خامخا تيار کړے به وے دوی هغے له سامان د جنګ |
| وَّلٰـكِنۡ كَرِهَ اللّٰهُ انۡۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ |
| ليکن بد ګڼړلے دے الله راپورته کيدل د دوی (جهاد ته) نو منع ئے کړل دوی |
| وَقِيۡلَ اقۡعُدُوۡا مَعَ الۡقٰعِدِيۡنَ ﴿٤٦﴾ |
| او ووئيلے شو (دوی ته) کينئ سره د ناستو خلقو نه. |

**تفسير** : منافقان د خپل عذر په بيانولو کښې يقيني دروغژن دی، که د دوی اراده تا سره د وتلو وے نو وسله او د سفر توخه او د سورلئ تياری به ئے کولے، ليکن د دوی داسے اراده نهٔ وه، پدے وجه که دوی ته اجازت ورکړے شوے هم وے نو هم تاسره نهٔ تلل. الله هم نهٔ غوختل چه دوی ستا سره لاړ شي ځکه چه که دوی تلي وے نو د دوی په شان څه نور خلق چه ستا سره تلي وو هغه به ئے خراب کړي وے (چه هغوی ته قرآن ((سَمّٰعُوۡنَ)) يعني د منافقانو جاسوسان وئيلي دی. پدے وجه الله د دوی په زړونو کښې دا خبره کينوله چه دوی تا سره لاړ نهٔ شي) او د مسلمانانو په صفونو کښې د فساد راپورته کولو کوشش به ئے

کولے۔ محمد بن اسحاقؒ وائی چه په روستو پاتے کیدونکو کښ د عبد الله بن اُبی ابن سلول او د الجد بن قیس په شان خلق وو که دا خلق په فوج کښ وے نو د هغه ټولو خلقو ذهنونه به ئے خرابولے چه د هغوی سره د دوی تعلق وو او د کومو چه د دوی د دنیاوی مقام او مرتبے په وجه سره د دوی خبره منله۔

**لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً**: عدة هغه شی ته وائی چه مجاهد ورته محتاج وی لکه توښه، سورلی او وسله۔ او په هغه زمانه کښ شخصی تیاری آسانه وه، هر سړی به خانله توره او ډهال او نیزه وغیره تیارولے۔ او دا دلیل دے چه د جهاد دپاره سامان تیارول د مخکښ نه ضروری دی، بغیر د تیاریٔ نه جهاد کول سخت دی۔ او پدے کښ رد دے په هغه حُکامو او اصحاب الاستطاعة چه ځان ته مسلمانان وائی او د کافرو د مقابلے دپاره وسله نۀ تیاروی۔

**وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ**: بعض خلك الله تعالیٰ خپله بندگیٔ کښ نۀ پریدی پدے وجه مؤمن سړے چه کله یوه بندگیٔ کښ استعمال نشی نو هغه ویرېږی چه چرته زۀ به د الله خوښ نۀ یم ځکه ئے ددے بندگیٔ نه محرومه کړم۔

**فَثَبَّطَهُمْ**: اَیْ مَنَعَهُمْ وَحَبَسَهُمْ۔ یعنی منع ئے کړل او د جنګ نه ئے بند کړل۔

**وَقِيْلَ اقْعُدُوْا**: یعنی شیطان دوی ته په طریقه د وسوسه سره ووئیل۔ یا بعضو بعضو ته ووئیل۔ یا رسول الله ﷺ ورته د غضب په طریقه ووئیل۔ سیوطیؒ وائی: ظاهر دا ده چه دا کنایه ده د قضاء او تقدیر نه یعنی الله پرے د کیناستو فیصله وکړه۔

**مَعَ الْقٰعِدِيْنَ**: یعنی د زنانه، ماشومانو او بیمارانو (ړندو، ګوډانو) سره۔ او د دوی سره همت والا انسان نشی پاتی کیدے۔

| |
|---|
| لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا |
| که وتلی وے دوی په تاسو کښ نۀ به وے زیات کړے دوی تاسو لره مګر نقصان (فساد) |
| وَّلَاَاْوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ |
| او خامخا منډے به وهلے وے دوی په مینځ ستاسو کښ (په چغلیٔ سره)، |
| يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ |
| لټوی دوی په تاسو کښ اختلاف لره۔ او په تاسو کښ جاسوسان شته د دوی |

وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِالظّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

او الله تعالیٰ ښهٔ پوهه دے په ظالمانو۔

**تفسير** : د سيرت يو روايت دا دے چه د تبوك غزا ته الله تعالیٰ منافقان نهٔ وو بوتلی او ددے آيتونو نه هم معلوميږی چه صرف مؤمنان تلی وو۔ او اتيا منافقان په مدينه کښې پاتی وو۔

د سيرت يو دويم روايت وائی چه پدے جنگ کښې هم ځينی منافقان تلی وو ځکه چه رسول الله ﷺ سره ديرش زره کسان وو نو منافقان هم پکښې وو، خو مشران ترے پاتے شوی وو او کشران تلی وو چه په لاره کښې ئے بعض بی ځايه خبرے کړے وے ليکن که مشران ورسره وے نو بيا به ئے يوه جنبه جوړه کړے وے او ډير شر او فساد به ئے د مسلمانانو ترمينځ راپورته کړے وے۔

نو پدے آيت کښې هغه ضررونه بيانوی چه د منافقانو په وتلو کښې وو او پدے کښې رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته تسلی ده چه ښه دے چه تاسو نه منافقان پاتے شو۔

خَبَالًا: شر او فساد او چغلی، او اختلاف واقع کول او غلطے خبرے خورول۔ (ډنډوره کول) خبال په اصل کښې هغه اضطراب او مرض دے چه په عقل کښې اثر کوی لکه ليونتوب۔ او د تفصيلی معلومات دپاره يو ځل بيا د سورة آلعمران آيت (١١٨) تفسير ته رجوع وکړه۔

يا دا استثناء منقطع ده يعنی دوی ستاسو قوت نهٔ زياتولو بلکه دوی په تاسو کښې فساد لټولو۔ (فتح البيان)

وَّلَاۡاَوۡضَعُوۡا خِلٰلَكُم: يعنی زغلولی به ئے په مينځ ستاسو کښې اسونه د چغلئ۔ اَوۡضَعَ په عربئ کښې د اسونو او اُوښانو زغلولو دپاره استعماليږی۔

يَبۡغُوۡنَكُمُ الۡفِتۡنَةَ : ١- (لټوی په تاسو کښې فتنه) اَیۡ يَطۡلُبُوۡنَ لَكُمۡ مَا تَفۡتَتِنُوۡنَ بِهٖ]۔

تاسو لره هغه شے طلب کوی چه تاسو پرے فتنه کښې پريوزئ۔ فتنه اختلاف، شر جوړول

٢- او حاصل مطلب ئے دا دے : (يُحَاوِلُوۡنَ اَنۡ يُّفۡتِنُوۡكُمۡ) ۔ دوی قصد او اراده لری چه تاسو فتنه کښې واچوی۔ يعنی دروغ خبرے او د شکست او بزدلئ خبرے خوروی،

٣- يا فتنه عيب ته وائی۔ ٤- يا فتنے نه مراد شرك دے۔

وَفِيكُمۡ سَمّٰعُوۡنَ لَهُمۡ : سماع دلته دوه معنے دی (١) يوه مرجوحه معنیٰ ده چه مراد ترے جاسوسان دی، دا تفسير ځکه ضعيف دے چه په تبوك غزا کښې، دارنگه عامو مؤمنانو

کښې داسې خلك نۀ وو چه د منافقانو دپاره جاسوسي كوي۔

(۲) صحيح معنىٰ دا ده چه سماع هغه چا ته وائي چه ښه په شوق سره خبره آوري۔ اَیُ اَهْلُ مَحَبَّةٍ لَّهُمْ وَطَاعَةٍ ۔ (محمد بن اسحاقؒ)

(يعني د دوي سره مينه لرونکي او د دوي خبره منونکي دي) يعني په تاسو کښې بعض ساده ګان مؤمنان دي چه منافقانو باندې اعتماد لري او دوي سره مينه لري او دوي ورته منافقان نۀ ښکاري۔ او دا خبره فساد پيدا كوي ځكه چه منافق ورته ورانه خبره كوي او مؤمن ته معلومات نۀ وي چه دا زما دشمن دې او ما په دشمنئ کښې اچوي۔

| |
|---|
| لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ |
| يقيناً لټولې ده دوي فتنه مخکښې ددې نه او اړولي راړولي دي دوي تا لره کارونه (چلونه) |
| حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٤٨﴾ |
| ترديې چه راغې حق او ښکاره شو دين د الله او دوي (هغه) بد ګڼړونکي دي۔ |

**تفسير:** د منافقانو د نبي كريم ﷺ سره د اسلام د ابتداء نه دا رويه او طريقه پاتې شوې وه، هميشه ئې د شر خورول او صحابه كرامؓ د رسول الله ﷺ نه د اړولو كوشش ئې كړې، لكه څنګه چه عبد الله بن اُبي ابن سلول د جنګِ اُحد په موقع وكړل چه د لارې نه ئې خپل ملګري راواپس كړل چه د هغوي شمار د اسلامؔ د لښكردريمې حصې ته نزدې وو۔

او منافقانو په پوره مدني ژوند كښې د اسلام او د رسول الله ﷺ خلاف سازش كولو چه د هغې د تفصيل نه د سيرت كتابونه ډك دي۔ پدې وجه كه د غزوۀ تبوك په موقعه هم دوي سازش وكړو او د رسول الله ﷺ سره لاړ نشو او د نورو همت ئې هم كمزورې كړونو د هيڅ تعجب خبره نشته، ليكن د دوي د زرګونو سازشونو باوجود د الله تعالىٰ دين غالب شو۔

حافظ ابن كثيرؒ ليكلي دي چه كله رسول الله ﷺ مدينې ته راغلو نو ټولو عربو د هغه په خلاف محاذ پرانستو، او په مدينه كښې اُوسيدونكو يهوديانو او منافقانو هم په پوره قوت سره مخالفت شروع كړو۔ كله چه الله تعالىٰ د بدر په ميدان كښې نبي ﷺ ته فتح او نصرت وركړو او اسلام غالب شو نو عبد الله بن اُبي او د هغه ملګرو ووئيل چه اُوس دا دين په مخه لاړو۔ نو دوي په ظاهره كښې په اسلام كښې داخل شول، ليكن الله چه به كله هم اسلام او مسلمانانو ته عزت وركړو نو پدې منافقانو به د غصې په وجه مرګ راتلو۔

ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ : یعنی ددے غزا نه مخکښې هم دوی فسادونه او د مسلمانانو ترمینځ جدائی او د هغوی جماعت تس نس کول طلب کړیدی لکه د اُحد په غزا کښې عبد الله بن اُبی ابن سلول په عین موقعه کښې درے سوه کسان د لارے نه راستانهٔ کړل۔

وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ: اَیْ دَبَّرُوْا لَكَ الْحِیَلَ وَالْمَكَایِدَ (فتح البیان)

ستا دپاره ئے حیلے او چلونه سو چلی دی او ستا د کار د خرابولو دپاره ئے رائے او مشورے اړولی راړولی دی۔ ددے یو مصداق دے ۱- ستا نه ئے خلك اړولی دی۔

۲- اَلْفَتْكُ لَیْلَةَ الْعَقَبَةِ۔ په لیلة العقبه کښې دولسو منافقانو اراده وکړه چه په رسول الله ﷺ باندے حمله وکړی۔ (ابن جریجؒ- قرطبیؒ)

۳- فِی الرُّجُوْعِ مِنْ اُحُدٍ ۔ منافقانو ووئیل چه رسول الله ﷺ د اُحد نه واپس کیږی او ملګری ئے په تکلیف کښې دی، راځئ چه مونږ پرے حمله وکړو چه ټول ختم کړو۔

جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ: یعنی غلبه د اسلام راغله۔

نو ددے نه معلومه شوه چه څوك فتنے لټوی او د مسلمانانو د قتلولو حیلے لټوی، او د الله د دین په غالبه کیدو او ښکاره کیدو باندے خفګان کوی یعنی یو ځای کښې دین غالبه کیږی او دے ئے بد ګڼړی نو دا کسان منافقان دی۔

| |
|---|
| وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ۭ |
| او بعض د دوی نه هغه څوك دی چه وائی، اجازه راکړه ماته (د پاتے کیدو) او فتنه کښې مهٔ اچوه ما، |
| اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ۭ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ |
| خبر شئ په فتنه کښې دوی پریوتی دی، او یقیناً جهنم خامخا راګیرونکے دے کافرانو لره۔ |
| اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ |
| او که اُورسی تا ته خوشحالی نو خفه کوی دوی لره او که اُورسی تا ته څه مصیبت |
| يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَّهُمْ |
| نو وائی دوی عمل کړے مونږ په تدبیر خپل مخکښې ددے نه او اُوګرځی دوی او دوی |
| فَرِحُوْنَ ﴿۵۰﴾ قُلْ لَّنْ |
| خوشحالی کونکی وی (ستاسو په مصیبت باندے)۔ اُووایه ! هیچرے نهٔ |

| |
|---|
| يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ج هُوَ مَوْلٰـنَا ج |
| به رارسیږی مونږ ته مگر هغه چه لیکلی دی الله مونږ لره، هغه مددگار زمونږ دے |
| وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ |
| او خاص په الله تعالیٰ دِے ځان وسپاری مؤمنان۔ |

**تفسیر** : دے کښ د منافقانو اقسام بیانوی۔

## شان نزول

محمد بن اسحاق د زُهريؒ، مجاهدؒ او ابن عباسؓ وغیره نه روایت کړیدے چه دا آیت د الجد بن قیس په باره کښ نازل شوے وو چه هغه د بنو سلمه ؤ سردار وو۔ رسول الله ﷺ چه کله د غزوهٔ تبوك تیاری کوله نو یوه ورځ ئے هغه ته ووئیل : چه ته د رومیانو پیوو ورکونکو اُوښو کښ رغبت لرے؟ بل روایت کښ دی :

[اَمَا لَكَ فِيْ نِسَاءِ بَنِي الْاَصْفَرِ؟]

آیا د رومیانو د ښځو په راوستو کښ رغبت نهٔ لرے؟، نو هغه ووئیل چه اے د الله رسوله! تهٔ مونږ ته په مدینه کښ د پاتے کیدو اجازت راکړه او په فتنه کښ مو مهٔ اچوه، زهٔ یریږم چه که ما د هغوی ښځے ولیدلے نو ما نه صبر نهٔ شی کیدے (یعنی زما تقویٰ به خرابه شی حال دا چه ایمان په کښ نهٔ وو خو د ځان خلاصولو دپاره ئے دا خبره وکړه) نو رسول الله ﷺ د هغه نه مخ واړولو او وے وئیل چه ما تا ته اجازت درکړو۔ نو الله دا آیت د هغهٔ په رد کښ رانازل کړو۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه دهٔ چه د اجازت اخستو دپاره کوم دے ادبئ اسلوب (طرز) اختیار کړو او د رسول الله ﷺ سره لاړ نشو نو ددے نه لویه بله کومه فتنه کیدے شی چه د بی ادبئ دروغژن عذر ئے پیش کړو او د جهاد نه پاتے شو۔ په لویه فتنه کښ پروت دے او وائی چه ما په فتنه کښ مهٔ اچوه۔

بیا پدے آیت کښ دا قاعده ده چه (تَرْكُ حُكْمِ اللّٰهِ بِخَوْفِ احْتِمَالِ وُقُوْعِ الْمَعْصِيَةِ) یعنی یو ځای کښ د الله حکم نقد راغلو او بل طرفته احتمال او شك دے چه کیدے شی د هغے د وجه نه په گناه کښ واقع شم نو ددے شك په وجه به د الله دغه نقد حکم نهٔ پریدی،

ځکه چه د الله تعالیٰ حکم پریخودل خپله ګناه ده۔ ددې مثال داسې دې لکه یو تن ووائی چه زۀ جمعې ته نۀ ځم کیدې شی چه په پردو زنانو مې نظر ولګی یا جهاد ته نۀ ځم کیدې شی چه زما د لاس نه مسلمان ولګی یا خیانت رانه وشی نو دا بهانه به غلطه وی۔
او دا د منافقانو طریقه ده او ډیر خلك دا هم وائی چه مونږ ګیره نۀ پریدو ځکه چه بیا به رانه ګناه کیږی او خلکو ته به ګیرې بدې ښکاره کیږی نو دۀ فی الحال ګناه وکړه۔
**وَلَا تَفۡتِنِّیۡ**: اَیۡ بِسَبَبِ التَّعَلُّقِ مَعَ النِّسَاءِ ۔ یعنی د زنانو سره به مې تعلق پیدا شی نو فتنه کښې به واقع شم۔
**اَلَا فِی الۡفِتۡنَةِ سَقَطُوۡا**: اَیۡ فِتۡنَةِ النِّفَاقِ وَفِتۡنَةِ مُخَالَفَةِ الرَّسُوۡلِ وَالتَّخَلُّفِ عَنِ الۡجِهَادِ وَقَعُوۡا۔
یعنی دوی د منافقت او د رسول الله ﷺ د مخالفت او د هغۀ نه د جهاد نه روستو پاتې کیدو لویو فتنو کښې واقع دی۔
**سَقَطُوۡا**: کښې اشاره ده چه دوی په فتنو کښې داسې واقع شویدی لکه چه یو تن د بره نه خکته راپریوځی۔ (فتح البیان)
**بِالۡکٰفِرِیۡنَ**: دې کښې اشاره ده چه منافقان کافران دی۔
**اِنۡ تُصِبۡكَ حَسَنَةٌ**: د منافقانو د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره دشمنی څه پټه خبره نۀ وه، د مسلمانانو په هره خوشحالئ سره به دوی ته تکلیف کیدو، او د هغوی په هر تکلیف به خوشحالیدل، او وئیل به ئې چه مونږ خو د مخکښې نه احتیاط کړې وو او د جنګ دپاره نۀ وو وتلی، پدې وجه خو نن مونږ د نورو په شان قتل نۀ شو، او دوی زمونږ خبره نۀ وه منلې نو ځکه ئې دغه ورځ ولیدله۔
**قَدۡ اَخَذۡنَاۤ اَمۡرَنَا**: اَیۡ عَمِلۡنَا بِالۡحَزۡمِ۔ یعنی مونږ په پخته کارئ او هوښیار عمل وکړو چه د دوی نه جدا شو او د جنګ نه پاتې شو۔
**وَیَتَوَلَّوۡا**: یعنی ستا د مجلس نه واوړی او خپلو کورونو ته واپس شی په داسې حال کښې چه ستاسو او د رسول الله ﷺ په مصیبت باندې خوشحالی کوی۔ یا دا خبره چه کوی هم په دغه وخت کښې خوشحالی کوی۔
**قُلۡ لَّنۡ یُّصِیۡبَنَاۤ**: پدې کښې الله تعالیٰ د منافقانو د بکواس جواب ورکړیدې چه اې زما رسوله! تۀ دوی ته اُووایه چه که مونږ ته په دنیا کښې څه خوشحالی رسیږی نو د الله تعالیٰ انعام به وی او که څه تکلیف رسی نو د الله تعالیٰ په مشیت سره چه هر تکلیف رارسی نو الله تعالیٰ به دا مونږ له په تقدیر کښې لیکلې وی۔ نو زمونږ په تقدیر ایمان دې، د تقدیر

منونكى په مصيبت دومره خفگان نهٔ كوى او بل طرفته تاسو په خپلو نهٔ قتل كيدو مهٔ خوشحاليږئ، كله چه ستاسو نمبر راشى نو هيڅ تدبير به ئے نشى بچ كولے، او مونږ خو مسلمانان يو، زمونږ مالك خو الله تعالىٰ دے، مونږ خو په هر حال كښ په الله تعالىٰ بهروسه كوو۔

هُوَ مَوْلٰنَا : دا پدے طريقه محاوره ده چه يو پلار يو بچے ووهى نو بچے ووائى چه دا زما پلار دے ښه دے چه زهٔ ئے ووهلم ما له به ادب راكوى۔ نو الله زمونږ دوست او مالك دے كه هغه مونږ ته تكليف رارسوى پدے كښ به زمونږ دپاره تربيت او خير وى۔

| |
|---|
| قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ وَنَحْنُ |
| اُووايه ! انتظار نهٔ كوئ تاسو په باره زمونږ كښ مگر يو د دوو خوشحالونه او مونږ |
| نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ |
| انتظار كوو ستاسو په باره كښ چه ويه رسوى تاسو ته الله تعالىٰ عذاب د خپل طرف نه |
| اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۖ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿۵۲﴾ |
| يا زمونږ په لاسونو، نو انتظار كوئ يقيناً مونږ تاسو سره انتظار كونكى يو۔ |

**تفسير** : دا بل جواب دے منافقانو ته او هغوى ته د ذهنى تكليف رسولو دپاره وينا ده۔ چه اے زما رسوله ! تهٔ دوى ته ووايه چه تاسو زمونږ په باره كښ د الله د طرف نه د دوه لويو خوشحالو نه د يو نه سوىٰ بل د كوم سوچ كولے شئ يا خو به مونږ ته په دشمنانو فتح راكړے شى يا به د هغهٔ په لاره كښ شهادت۔ او مونږ ستاسو په باره كښ انتظار كوو چه كله به الله تعالىٰ په تاسو عذاب راليږى، يا به مو زمونږ په لاسونو ختموى۔ پدے وجه تاسو هم انتظار كوئ مونږ هم انتظار كوو، نزدے ده چه تاسو به زمونږ خوشحاليانے اُووينئ او مونږ به ستاسو د غمونو او دردونو قصے د بل چا نه واورو۔

هَلْ تَرَبَّصُوْنَ : كافران هميشه دپاره د مسلمانانو په انتظار كښ دى چه دوى باندے به كله مصيبتونه او هلاكتونه راځى كله ئے په دوايانو خرابول غواړى او كله ئے په بى حيائيانو او وسلو او اختلافاتو او نورو طريقو سره خرابولو انتظار كښ دى۔

اَلْحُسْنَيَيْنِ : حسنىٰ نه مراد ښهٔ حالت او خوشحالى ده او د دوه خوشحاليانو نه مراد فتح او غنيمت دے او بل شهادت او اجر دے۔ يعنى كه مونږ مړهٔ شو هم زمونږ كاميابى ده

جنت ته لاړو او که ژوندي وو نو هم کامیابی ده (دنیا مو ښه شوه) نو بیا اے کافرو! ستاسو په مونږ باندے خوشحالئ ته څه ضرورت دے؟!۔

وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ : ددے متعلق پټ دے اَیْ اِحْدَی الْمَسَاءَتَیْنِ ۔ مونږ ستاسو په باره کښې د یو د دوه خفگانو په انتظار کښې یو۔

بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ : یعنی د آسمان نه به قارعه نازله کړی، په سیلابونو به مو هلاك کړی، زلزلے به راولی۔

اَوْ بِاَیْدِیْنَا: یعنی یا به مونږ ته الله تعالیٰ په تاسو غلبه راکړی نو قتل به مو کړو او قیدیان او مالونه به مو لوټ کړو۔

مُّتَرَبِّصُوْنَ : اَیْ مَا هُوَ عَاقِبَتَكُمْ۔ مونږ انتظار کوو چه ستاسو انجام به څه راوځی۔

| |
|---|
| قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ط |
| اُووایه ته خرچ کوئ په خوښه یا په ناخوښه، هیڅ کله به قبول نکړے شی ستاسو نه |
| اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۳﴾ |
| یقیناً یئ تاسو قوم نافرمان۔ |

**تفسیر** : ددے امر معنیٰ د شرط او جزاء ده اِیْ اِنْ تُنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۔ یعنی که تاسو په هر حالت کښې خرچه وکړئ ستاسو نه نۀ قبلیږی۔

دا دلیل دے چه د منافقانو صدقات نۀ قبلیږی او بد صفت ئے دا دے چه دوی کامل فاسقان دی، د الله د طاعت نه وتلی دی۔

طَوْعًا اَوْ كَرْهًا : منافقان برابره ده چه په خوشحالئ سره خرچ کوی یا د قتل په یره سره خو الله تعالیٰ ئے نۀ قبلوی، ځکه چه دوی د الله تعالیٰ نافرمان بندگان دی۔

خطیبؒ وائی : دا آیت اگرکه د منافقانو د انفاق په باره کښې دے لیکن دا هر هغه چا ته عام دے چه د الله تعالیٰ د مخ نه علاوه د ریاء یا د سمعت دپاره مال لگوی نو هغه هم نۀ قبلیږی۔

| |
|---|
| وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ |
| او نۀ دی منع کړی دوی لره چه قبول کړے شی د دوی نه خیراتونه د دوی مگر |

| |
|---|
| اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا |
| دے خبرے چه دوی کفر کړیدے په الله او په رسول د هغهٔ او نهٔ راځي مانځه ته مګر |
| وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٥٤﴾ |
| په داسے حال کښې چه سُست وی او نهٔ خرچ کوی دوی مګر دوی بد ګڼرونکی وی۔ |

**تفسیر** : اُوس ددے بـل سبب بیـانوی چه د دوی نفقے ولے نهٔ قبلیږی حال دا چه الله تعالیٰ خو رحیم ذات دے، د بندګانو معمولی اعمال هم قبلوی نو ددے مانع بیانوی۔ هغه دا چه د الله تـعالیٰ په لاره کښې د دوی خرچ پدے وجه قابلِ قبول نهٔ دے چه دوی د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول نه منکر دی، مونځ ډیر بوج ګڼری، او د الله په لاره کښې خرچ کول جرمانه ګڼری۔

نسائیؒ د ابو امامه ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ اللّٰهَ لَايَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ اِلَّا مَا كَانَ لَهٗ خَالِصًا وَابْتُغِيَ بِهٖ وَجْهُهٗ]

((الله هغـه عمل قبلوی چه د الله دپاره مخالص اُوشی او د هغه د رضا حاصلولو دپاره شوے وی))۔ (سنـن الـنسائی : ۳۱٤۰ اسناده صحیح) او پـه سـورۃ مائده (۲۷) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴾ چه ((الله صرف د تقویٰ والو عمل قبلوی))۔

یعنی که دوی کښې کفر نهٔ وے نو الله به ورله صدقات قبول کړی وے۔

**وَهُمْ كُسَالٰى** : مـانـځه ته د خلکو د وجه نه راځي، مونځونه د الله د مخ او د یرے د وجه نه نـهٔ کـوی بـلـکـه صـرف د ریـاء او خـودنے د وجه نه وی او دے دپاره چه خلکو ته خپل اسلام ښکاره کړی نو ځکه پرے بوج وی۔

**وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ** : یـعـنـی دوی چه کـوم مـالونه خرچ کوی نو هغه هم بد ګـڼـری او پـه مینـه او د ثـواب پـه امید ئے نهٔ خرچ کوی ځکه چه دوی انفاق ته د مال ضائع کول وائی لیکن د خلکو د وجه نه ئے ورکوی، دے دپاره چه څوك ورته بد نسبت ونکړی۔

| |
|---|
| فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ |
| نو تعجب کښې دِے وانچوی تا لره مالونه د دوی او نهٔ اولاد د دوی، یقیناً اراده لری الله |
| لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ |
| چه عذاب ورکړی دوی ته پدے سره په ژوند دنیوی کښې، او اُوځی روحونه د دوی |

وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۵۵﴾

پداسې حال کښې چه دوی به کافران وی۔

**تفسیر**: نو اُوس سوال پیدا شو چه هرکله دوی دومره د الله تعالیٰ لوی دشمنان دی نو بیا الله تعالیٰ ولې دوی ته داسې مالونه او اولاد ورکړیدی او مزې ورکوی؟ لکه دا گمان د اکثرو خلکو دې چه څوك د الله تعالیٰ دشمن شو نو هرڅه به ترې اخستلې کیږی او هیڅ مزې به ورسره نهٔ وی او څوك چه د الله تعالیٰ دوست شو نو د هغهٔ سره به هر قسم فراخیانی وی۔ حال دا چه دا د الله تعالیٰ قانون نهٔ دې بلکه د الله تعالیٰ قانون دا دې چه کافر ته هم فراخی ورکوی او مؤمن ته هم کله نا کله د گناه په وجه سزا ورکوی لیکن په نتیجه کښې بیا کافر ناکام او مؤمن کامیاب دې۔

د آیت مطلب دا دې چه د منافقانو مال او دولت، او اولاد او د دوی دنیاوی ډول ډال په وجه سره تهٔ د دوی په دهوکه کښې مهٔ راځه، دا خو دوی ته مهلت ورکړې شویدې، دې دپاره چه خپل ځانونه په مشقت کښې واچوی او مال او دولت حاصل کړی، د هغې د حفاظت دپاره د ورځې آرام او د شپې سکون ختم کړی او د الله تعالیٰ د طرف نه ددې په باره کښې مصیبتونه او تکلیفونه برداشت کړی او آخر کښې د دوی مرگ په کفر باندې راشی۔

**فَلَا تُعْجِبْكَ**: یعنی تا دې حیران نکړی چه په تعجب کښې پریوځې یعنی د دوی دا مالونه ښهٔ مه گنړه او مهٔ د دوی صفتونه کوه او پدې سره دوی ته د خپلې رضا خبر مهٔ ورکوه۔ (فتح)

**اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ**: اَیْ بِاِعْطَاءِ الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ۔ یعنی د مالونو او اولادو ورکولو سره د الله تعالیٰ اراده ده چه دوی ته عذاب ورکړی۔

**لِيُعَذِّبَهُمْ**: ۱- اَیْ بِجَمْعِ الْاَمْوَالِ مَعَ التَّعَبِ۔ د مالونو په راجمع کولو کښې به ډیر تکلیفونه او ستړې تیروی۔ ۲- بِاَدَاءِ الزَّكَاةِ۔ هغه دا چه دوی ته به شریعت امر کوی چه زکاة ورکړئ نو د دوی زړهٔ به نهٔ وی او هغه به ورکوی نو دا به ورله ډیر زور ورکوی۔

۳- بِهَلَاكِ تِلْكَ الْاَمْوَالِ۔ کله به الله تعالیٰ د دوی دغه مالونه هلاك کړی، څوك به ئې ترې ونیسی نو دوی به پرې پنځوس شپیته کاله لگولی وی، الله تعالیٰ به ئې ترې سمدست واخلی دا پکښې بیل مصیبت شو۔

٤- کله به ئې ترې مسلمانان غنیمت جوړ کړی نو دوی به ورپسې ډیر غمژن وی۔

او مؤمن سړے دا یقین لری چه زۀ آخرت له پیدا یم او ما ته چه دنیا کښې کوم مصیبت رارسی نو پدے اجر ملاویږی نو مال او اولاد دده په باره کښې په دنیا کښې عذاب نۀ دے۔ او هر چه منافق دے نو هغه دا عقیده نۀ ساتی چه دده دپاره به آخرت وی او په هغے کښې به اجرونه وی نو دۀ ته چه په دنیا کښې د مال او اولادو په وجه کوم سترې والے او غم حاصليږی نو دا دده دپاره عذاب گرځی۔ (فتح البیان)

۱- دارنگه په اولادو باندے به ئے مصیبتونه راولی هغۀ درد به دۀ ته رسیږی، او اجر به ورته نۀ ملاویږی۔ ۲- دارنگه اولاد به ئے نافرمانه جوړ شی۔

وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ : یعنی د دوی خاتمه خرابیدو والا ده چه دوی به د دنیا نه بې ایمان نه روان وی۔ یعنی په هغه مال او اولاد ځه چه انسان پرے د دنیا نه بې ایمانه لاړ شی۔ او دا د وعظ او د نصیحت ډیره لویه خبره ده۔

| |
|---|
| وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ؕ وَمَا |
| او قسمونه کوی دوی په الله یقیناً دوی خامخا ستاسو د ډلے نه دی، او حال دا چه نۀ دی |
| هُمْ مِّنْكُمْ وَلٰـكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ﴿٥٦﴾ لَوْيَجِدُوْنَ مَلْجَاً |
| دوی ستاسو د ډلے نه لیکن دوی داسے قوم دے چه یریږی۔ که موندلے دوی ځائے د پناهٔ |
| اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴿٥٧﴾ |
| یا غارونه یا سمځے (سورنگان) خامخا اوړیدلی به وے هغے ته پداسے حال کښې چه منډے به ئے وهلے۔ |

**تفسیر** : د منافقانو د بد حالئ بیان دے۔ یعنی منافقانو ته په هیڅ حال کښې هم آرام نۀ وی۔ یو طرف ته خو په میدان د جهاد کښې د قتل خوف وی، او بل طرف ته دا خوف وی چه چرته د دوی نفاق مسلمانانو ته ښکاره نۀ شی، پدے وجه قسمونه خوری او مسلمانانو ته یقین ورکوی چه دوی هم مُخلص مسلمانان دی، حال دا چه الله تعالیٰ د دوی په باره کښې گواهی ورکوی چه دوی مسلمانان نۀ دی، دوی خو قسم صرف پدے یره خوری چه چرته قتل نکړے شی۔

اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ : یعنی مسلمانان یو او د رسول الله ﷺ او د کتاب الله تابعدار یو۔

وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ : یعنی دوی پدے خبره کښې ستاسو نه نۀ دی په باطن کښې اگرکه په ظاهر

کښې اقرار کوي.
. يَفۡرَقُوۡنَ : فَرَق يرېے تـه وائـي، يـعـنـي دوى ددې نه يريږي چه هسې نۀ په دوى باندې هغه قتـل او قيـد نـازل نشـي كـوم چـه پـه مشـركـانو نازل شو نو اسلام د تقيه په طور رابنکاره کوي. (فتح البيان)
لَوۡ يَجِدُوۡنَ : پدې کښې د دوى د مسلمانانو نه د يرې او د نفرت حال بيانوى چه كه دوى ته يـو د پـنـاهئ ځاى يا يو غار يا د داخليدو يو ځاى (يعني سورنگ) ملاويدې نو دوى به هلته تـخـتـيـدلـې دې دپاره چـه د مسلمانانو نه لرې وي، او د اسلام او د مسلمانانو د کاميابئ او د دوى د فتـح او غـلـبـې خبرو په آوريدو سره د دوى په زړونو باندې زخمونه نۀ لګيدلې او ددې نـه ئې نجات موندلې وې. يعني د مسلمانانو سره وسيدل بيخى نۀ خوښوى ليکن د مدينې نه علاوه بل ځاى د وسيدو ورته نۀ ملاويږي ګنې وختي به تښتيدلي وې.
دارنګه يو قوم ورته نۀ ملاويږي چه خپل ځانونه ورسره ستاسو نه محفوظ کړي.
مَلۡجَأً: اَىۡ مَكَانًا يَلۡتَجِئُوۡنَ اِلَيۡهِ وَيَحۡفَظُوۡنَ نُفُوۡسَهُمۡ فِيۡهِ مِنۡكُمۡ مِنۡ حِصۡنٍ اَوۡ رَأۡسِ جَبَلٍ اَوۡ قَلۡعَةٍ اَوۡ جَزِيۡرَةٍ. يـعـنـي داسـې ځای چه دوى په کښې پناهي ونيسي او خپل ځانونه پکښې تاسو نه پټ کړي، که چونړئ وي يا د غر سر وي يا قلعه او بنګله وي، يا يوه جزيره وي.
مَلۡجَأً : مـصـدر او ظـرف زمـان او مکان ټول صحيح كيږي او دلته ظاهر دا ده چه د مكان صيغه ده.
مَغٰرٰتٍ: جمع د مَغَارَةٌ ده. د غرونو غارونه.
مُدَّخَلًا: (سورنګ) دا هغه دې چه په زمکو کښې وي، يعني سورنګان او سمڅې.
وَهُمۡ يَجۡمَحُوۡنَ : [اَىۡ يُسۡرِعُوۡنَ اِسۡرَاعًا] دوى بـه پـه جلتئ ورغلي وې. او ورزغليدلي به وې. جـمـوح پـه اصل کښې دې ته وائي چه يو حيوان په انسان باندې دومره تيز شي چه بيا ئې واګې هـم نـۀ شـي راايسارولې او سرکشـه شـي. يـعـنـي دوى به داسې منډې وهلې چه د مـؤمـنـانـو خـوالـه بـه هم نۀ راتللې ځکه چه دوى سره ئې سخت بغض دې او د دوى ليدل بد ګنړي.
نو څوك چه د پيغمبر او د مؤمنانو نه نفرت لري، هغه كافر او منافق دې.
او حـديـث کـښې دي : [اَلۡـمُـؤۡمِـنُ مَـاۡلَفٌ وَلَا خَيۡـرَ فِيۡـمَنۡ لَا يَاۡلِفُ وَلَايُوۡلَفُ] مـؤمـن د الـفـت (مـحـبـت) ځـاى دې او پـه هغه کښې هيڅ خير نشته چه نۀ دې د چا سره مينه کوي او نۀ ددۀ سره مينه کيدې شي. (مسند احمد : ۹۱۸۷) وسنده حسن- شعيب)

| |
|---|
| وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّلۡمِزُكَ فِى الصَّدَقٰتِ ۚ |
| بعض د دوی نه هغه څوك دی چه عیب لګوی په تا باندے په (تقسیم د) صدقاتو کښ |
| فَاِنۡ اُعۡطُوۡا مِنۡهَا رَضُوۡا وَاِنۡ لَّمۡ يُعۡطَوۡا |
| نو که ورکړے شی دوی ته د هغے نه نو خوشحاله شی او که ورنکړے شی دوی ته |
| مِنۡهَآ اِذَا هُمۡ يَسۡخَطُوۡنَ ﴿۵۸﴾ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ رَضُوۡا مَآ |
| د هغے نه دغه وخت دوی غصه وی۔ او که دوی خوشحاله شوی وے په هغه څه |
| اٰتٰهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ ۙ وَقَالُوۡا حَسۡبُنَا اللّٰهُ |
| چه ورکړیدی دوی ته الله تعالیٰ او رسول د هغهٔ او وئیلی ئے وے چه پوره دے مونږ لره الله، |
| سَيُؤۡتِيۡنَا اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ وَرَسُوۡلُهٗۤ ۙ |
| زر دے چه رابه کړی مونږ ته الله د فضل خپل نه او رسول د هغه (په تقسیم سره) |
| اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ ﴿۵۹﴾ |
| یقیناً مونږ خاص الله ته رغبت (مینه) کونکی یو۔ |

**تفسیر** : بعض منافقانو به په نبی کریم ﷺ باندے د صدقاتو د تقسیم په باره کښ نکته چینی کوله او وئیل به ئے چه محمد (ﷺ) د عدل او انصاف نه کار نهٔ اخلی، خپلو محبوبانو ته زیات ورکوی او مونږ ته کم، الله تعالیٰ وفرمایل چه دا سوچ کول د دوی د دنیا پرستئ او د نفاق نتیجه وه۔ که دوی مخلص مسلمانان وے نو د الله او د رسول په تقسیم به راضی شوی وے او وئیل به ئے چه زمونږ دپاره الله تعالیٰ کافی دے او الله تعالیٰ به آینده په خپل فضل اوکرم سره زیات راکړی، او زمونږ د ژوند مقصد خو دا دے چه مونږ نه الله تعالیٰ راضی شی۔

## شان نزول

بخاریؒ او مسلمؒ د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو، او نبی ﷺ د غنیمت مال تقسیمولو چه د بنی تمیم (قبیلے) ذو الخویصره نومے یو شخص ووئیل : [اِعۡدِلۡ يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ!] اے د الله رسوله ! د انصاف نه کار واخله، نو رسول الله

ﷺ وفرمایل [وَيُحَكَ، وَمَن يَّعُدِلُ إِذَا لَمُ اَعُدِلُ] چه ته دِے هلاك شے، که زهٔ انصاف نهٔ کوم نو څوك به ئے کوی؟ عمر ﷺ ووئیل اے د الله رسوله ! ما ته اجازه راکړه چه زهٔ ددهٔ څټ اُووهم، نو رسول الله ﷺ وفرمایل چه ددهٔ څه داسے دوستان دی چه د هغوی د مونځونو او د روژو په مقابله کښې به تاسو خپل مونځونه او روژے سپکے گنړئ، دوی به قرآن لولی لیکن د دوی د مریو نه به مخکښې نهٔ تیریږی، دوی به د دین نه داسے اُوځی لکه څنګه چه غشے د لیندے نه اُوځی۔ راویؒ وائی چه ددے نه روستو دا آیت نازل شو۔

(بخاری: ٦١٦٣) مسلم: ٢٥٠٥)

ددے ذو الخویصره خپل نوم حرقوص بن زهیر وو، د خوراجو مشر دے۔ (بغویؒ)

خوارج هم په نیکانو علماؤ باندے دغه شان نیغ ورځی او اعتراضونه پرے کوی۔

او بخاریؒ د ابن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه کله نبی کریم ﷺ د حنین غنیمتونه تقسیم کړل نو بعض کسانو ته ئے غوره والے ورکړو، اقرع بن حابس ته ئے سل اوښان او عُيَيُنَه بن حِصُن ته ئے سل اُوښان ورکړل، او دغه شان د عربو نورو اشرافو ته ئے ورکړل او دوی ئے په تقسیم کښې غوره کړل نو یو تن ووئیل :

[وَاللّٰهِ إِنَّ هٰذِهِ الْقِسُمَةَ مَا عُدِلَ فِيُهَا وَمَا أُرِيُدَ بِهَا وَجُهُ اللّٰهِ]۔

پدے تقسیم کښې عدل ونشو او نهٔ پدے سره د الله د مخ اراده شویده۔ نو ما ووئیل چه قسم په الله، زهٔ به پدے قصه باندے رسول الله ﷺ خبروم نو زهٔ راغلم او ما ورته خبر ورکړو، هغه وفرمایل :

[فَمَنُ يَّعُدِلُ إِذَا لَمُ يَعُدِلِ اللّٰهُ وَرَسُولُهٗ، رَحِمَ اللّٰهُ مُوسٰى قَدُ أُوذِىَ بِاَكُثَرَ مِنُ هٰذَا فَصَبَرَ، وَنَزَلَ يَعُنِىُ هٰذِهِ الآيَةُ] (بخاری: ٣١٥٠) مسلم: (٢٤٩٤) وابن مردویه)

(څوك به عدل وکړی کله چه الله او د هغه رسول عدل ونکړی، الله دِے په موسیٰ علیه السلام رحم وکړی هغه ته ددے نه زیات تکلیف رسولے شوے وو نو هغه صبر کړیدے (نو زهٔ به هم صبر کوم) او دا آیت نازل شو۔

او که یو مشر داسے تقسیم کوی نو داسے مرض د منافقت به په ډیرو انسانانو کښې هم راوځی، د امتحان نه امان غوښتل پکار دی۔

يَّلُمِزُكَ: لمز عیب لګولو ته وائی۔ اصل کښې په سترګه وغیره سره اشارے کولو ته وائی خاصکر کله چه په طریقه د سپکاوی او عیب سره وی۔ او غَمُز : صرف اشاره د سترګے ته وائی په غیر د عیب لګولو نه۔ (فتح البیان)

فَاِنْ اُعْطُوْا مِنْهَا : یعنی که دوی ته د دوی مرضئ مطابق ورکړے شي۔
رَضُوْا: بیا خوشحاله وی په دغه تقسیم او عیب نهٔ لګوی ځکه چه ددے خلکو مقصد صرف د دنیا مال جمع کول دی او دین سره ئے هیڅ کار نشته۔
وَاِنْ لَّمْ يُعْطَوْا: او که دوی ته د دوی د مرضئ او طلب مطابق ورنکړے شي۔
يَسْخَطُوْنَ: دغه وخت دوی ناځاپه غصه وی۔ یعنی هیڅ صبر پکښې نهٔ وی۔ او دا شخص بل چا ته په ورکړه خفه دے او په مشر باندے اعتراض کوی نو دهٔ کښې تکبر دے او ځان ورته د نورو نه زیات عزتمند او مستحق ښکاره کیږی ځکه داسے خبرے کوی۔
وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا: پدے کښې الله تعالیٰ دوی ته ترغیب ورکوی او د منافقت نه د خلاصیدو طریقه بیانوی۔
او ددے لَوْ جزاء پټه ده۔ [اَیْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ]۔ دا خبره به د دوی دپاره ډیره غوره وے۔
یعنی که دوی راضی شوی وے په هغه مال چه دوی ته الله تعالیٰ مقرر کړے وو او رسول الله ﷺ ورته په تقسیم کښې ورکړو لږ وو که ډیر۔
ځینی وائی چه د الله تعالیٰ لفظ د تعظیم دپاره ذکر شوے دے، او پدے کښې پدے خبره باندے تنبیه ده چه رسول الله ﷺ کوم کار وکړو دا د الله تعالیٰ په امر باندے وو۔ پدے وجه ئے په حدیث کښې د خپل عدل سره د الله تعالیٰ عدل ذکر کړو۔ (اِذَا لَمْ يَعْدِلِ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ)
مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ : یعنی دوی ته مخکښې هم الله تعالیٰ او رسول ډیر څه ورکړیدی په هغے به ئے قناعت کړے وے۔
وَقَالُوْا: او د رسول الله ﷺ د ورکړے په باره کښې ئے داسے وئیلی وے چه الله تعالیٰ زمونږ کافی دے، هغه چه مونږ ته څه راورسول دا زمونږ کافی دی، او الله به مونږ ته د خپل طرفنه نور مالونه (په بله موقعه کښې) راکړی او د هغهٔ رسول۔ او دا ئے هم وئیلی وے چه مونږ الله تعالیٰ ته عاجزی کوو چه هغه مونږ ته فائدے راکړی او ضررونه رانه دفع کړی نو پدے کار سره به د منافقت نه خلاص شوی وے او اُوچتے مرتبے او ایمان ته به رسیدلی وے۔
او دا دواړه روستنئ جملے د (حَسْبُنَا اللّٰهُ) دپاره تشریح ده پدے وجه په هغے باندے عطف نشوے۔ (فتح البیان والسعدیؒ)
اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ : د رغب په صله کښې چه کله (اِلٰی) راشی مراد ترے نه توجه کول وی هغه غایه ته چه د هغے نه روستو بله غایه نهٔ وی، (یعنی زمونږ آخری مقصد الله تعالیٰ دے) مراد ترے نه توکل کول دی او دا صرف د الله پورے خاص دے۔ (المنار)

او د منافقت یوه طریقه دا هم ده چه یو تن په یو ځای کښې مقرر وی نو بنهٔ خوشحاله وی خو چه کله د څه وجه نه وویستلے شو نو بیا به په هر مجلس کښې د هغه ځای غیبتونه کوی او بهتانونه به تړی۔

| |
|---|
| اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَالۡمَسٰکِیۡنِ وَالۡعٰمِلِیۡنَ |
| یقیناً زکاتونه (به ورکولے شی) د فقیرانو دپاره او د مسکینانو او کارکونکو لره |
| عَلَیۡهَا وَالۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوۡبُهُمۡ |
| چه مقرر وی په هغې باندے او هغه کسان چه مائل کولے شی زړونه د هغوی (اسلام ته) |
| وَفِی الرِّقَابِ وَالۡغٰرِمِیۡنَ وَفِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ وَابۡنِ السَّبِیۡلِ ؕ |
| او په آزادولو د څټونو کښې او قرضدارانو لره او په لاره د الله کښې او مسافرو لره |
| فَرِیۡضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ حَکِیۡمٌ ﴿۶۰﴾ |
| فرض کړے شویدے د طرف د الله نه او الله تعالیٰ پو هه دے، حکمتونو والا دے۔ |

**تفسیر** : مخکښې د منافقانو بدی بیان شوه او د جهاد مسائل بیانیدل اُوس ناځاپه په مینځ کښې د زکاة د مصارفو بیان وشو پدے کښې دوه حکمتونه دی :

(۱) یو پدے کښې د منافقانو طمع ختمول دی په اخستلو د صدقاتو (زکاتونو) کښې دے دپاره چه دوی په رسول الله ﷺ باندے عیب ونهٔ وائی یعنی چه د زکاة مصرف اته کسان دی که تهٔ په دوی کښې داخل وے نو دربه ئے کړی او که داخل نهٔ وے نو اعتراضونه به نهٔ کوے۔

لکه چه ابوداؤد د زیاد بن الحارث رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه زهٔ رسول الله ﷺ خوا ته راغلم او د هغهٔ په لاس مے بیعت وکړو، نو یو سړے راغلو او رسول الله ﷺ ته ئے ووئیل چه ما له د صدقے د مال نه راکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: [اِنَّ اللّٰهَ لَمۡ یَرۡضَ بِحُکۡمِ نَبِیٍّ وَلَا غَیۡرِهٖ فِی الصَّدَقَاتِ حَتّٰی حَکَمَ فِیۡهَا هُوَ ، فَجَزَّأَهَا ثَمَانِیَةَ اَصۡنَافٍ فَاِنۡ کُنۡتَ مِنۡ تِلۡکَ الۡاَصۡنَافِ اَعۡطَیۡتُکَ]۔

الله تعالیٰ د صدقاتو د تقسیم په باره کښې د هیڅ نبی یا غیر نبی په فیصله نهٔ دے راضی شوے بلکه هغه خپله ددے په باره کښې فیصله وکړه، او د هغې ئے اته حصے کړے۔ که تهٔ ددے خلقو نه وے نو ستا حق به درکړم۔

(ابو داود : واسناده ضعیف لاجل عبد الرحمن بن زیاد بن انعم الافریقی)۔

(۲) حکمة : د مسلمانانو جهادونو پسے د کافرو د طرفنه پیسے روانے نۀ وی بلکه مسلمانانو ته الله تعالیٰ فرمائی چه د جهاد دپاره زکاتونه راټول کړئ، کله چه ټول مسلمانان زکاة جهاد کښې ورکړی نو پدے باندے د ټولو کافرانو سره جنګونه کیږی او نورو چندونو ته ضرورت نۀ راځی پدے وجه الله تعالیٰ پدے سورت توبه کښې د زکاة د مصارفو بیان کړیدے۔

او جهاد اکثر د اقتصاد د خرابوالی په وجه فلج شی نو مسلمانانو باندے دا واجبه ده چه خپل زکاتونه به دے ته ورکوی چه جهاد ژوندے شی، لیکن هغه شان غیرتیان مؤمنان ډیر کم دی او اکثر جاهلان دی پدے طرف مالونه نۀ لګوی۔

او که د جهاد موقعه نۀ وی نو په نورو مصارفو کښې دِے ولګولے شی۔

**الصَّدَقٰتُ**: د صدقاتو نه مراد فرضی زکاتونه دی، ځکه چه نفلی صدقات مالدار ته هم ورکول جائز دی۔

## د فقیر او مسکین فرق

۲/۱ - **لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ** : فقیر او مسکین چه کله جدا جدا ذکر شی نو دواړه یو شے وی لیکن کله چه راجمع شی نو بیا پکښې فرق وی. فقیر هغه دے چه هیڅ شے ورسره نۀ وی پدے وجه ئے مخکښې هم راوړیدے، او مسکین هغه دے چه څه نا څه ګوزاره ئے روانه وی خو نصاب ورسره پوره نۀ وی، لکه سورة الکهف (۷۹) آیت کښې راغلی دی : ﴿ اَمَّا السَّفِیْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِیْنَ ﴾ کشتئ د مسکینانو وه۔ او دا فرق د اصمعیؒ لغوی نه نقل دے او دا طحاویؒ د کوفینو نه نقل کړے او دا یو قول د امام شافعیؒ دے۔

❁ او یعقوب بن السکیتؒ او قتیبیؒ او یونس بن حبیبؒ وائی چه فقیر د مسکین نه ښۀ حال والا دے ځکه فقیر هغه دے چه څه نا څه ورسره وی او مسکین هغه دے چه هیڅ ورسره نۀ وی ﴿ اَوْ مِسْكِیْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴾۔ او دا قول د امام ابو حنیفةؒ دے۔

❁ او ځینی وائی : فقیر هغه محتاج دے چه ځان د سوال نه ساتی او مسکین هغه دے چه د بل نه ئے غواړی (سوال کونکے وی)۔ (دا ازهریؒ وئیلی دی او دا قول ابن شعبانؒ او ابن جریرؒ غوره کړیدے او دا د ابن عباس رضی الله عنه او حسنؒ او مجاهدؒ او عکرمةؒ نه نقل دے)۔

(فتح البیان وابن کثیر)

۳- وَالْعٰمِلِیْنَ : دا د زکاة راټولونکی او چیئرمینان او ملازمین دی چه د زکاة په راغونډولو او ددے په نگرانئ باندے مقرر وی نو دا اګرکه مالداره هم وی، زکاة اخستلے شی۔ یعنی د دوی تنخواه ګانے به د زکاة نه ورکولے شی۔ عمر ﷛ د زکاة مالونه راټول کړل، رسول الله ﷺ پکښې څه ورکړل نو هغه ووئیل : زما نه زیات فقیر ته ئے ورکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ) دا واخله او خپله سرمایه کښې ئے جمع کړه۔
(صحیح مسلم : ۲٤۵۳)

## بیا پدے کښې اختلاف دے چه دوی به د زکاة نه څومره اخلی او څومره به ورکولے شی؟

۱- ځینی وائی : اتمه برخه او دا قول د مجاهدؒ او شافعیؒ دے۔
۲- ځینی وائی : د خپلو کارونو په اندازه اُجرت (مزدوری) به ورکولے شی۔ دا د ابو حنیفهؒ او د هغهٔ د ملګرو نه نقل دے۔
۳- ځینی وائی : د بیت المال نه به دوی ته د دوی د مزدورئ په اندازه ورکولے شی۔ دا د مالكؒ نه نقل دے لیکن ددے هیڅ دلیل نشته ځکه چه الله تعالیٰ خبر ورکړیدے چه دوی ته به د زکاة نه برخه ورکولے شی نو دوی څنګه د زکاة نه محروم کړے شی او د بل ځای نه ورته ورکړے شی۔ (فتح البیان وغیره)
امام ابن جریر الطبریؒ فرمائی : راجح قول پدے اقوالو کښې د هغه چا قول دے چه وائی : عامل ته به د هغهٔ د عمل د کار په اندازه باندے ورکولے شی۔ او عمر فاروق ﷛ به عامل ته د هغه د کار په اندازه زکاة ورکولو۔ آه۔
او پدے عاملین کښې د زکاة منشی، مال ساتونکے، حساب کونکے وغیره ټول داخل دی۔
٤- وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ : (هغه خلك چه مائله کولے شی (مینه ورکولے شی) زړونه د هغوی اسلام ته)
د دوی دوه مصداقه دی : ۱- هغه کفار چه اسلام ته مائل وو او خوش بین وو، اسلام ورته ښهٔ ښکاره شوے وو لیکن لا اسلام ته نهٔ وو راغلی نو دوی ته به هم زکاة ورکړے شی دے دپاره چه زړونه ئے د اسلام سره مینه پیدا کړی او اسلام ته راداخل شی۔ لکه ځینی کسانو ته داسے مالونه ورکړے شو بیا په اسلام کښې داسے پاخه شو چه په هیڅ شی باندے به چا

نشو اړولے۔ ۲- ضعفاء الایمان۔ چه اسلام به ئے قبول کړو لیکن اسلام کښې به کمزوری وو نـو هغـوی تـه بـه ئے مال ورکړو تردے چه په اسلام کښې به ښهٔ مضبوط شو، لکه صفوان، ابـو سفیان، اقرع بن حابس، عیینه بن حصن، حارث بن هشام، سهیل بن عمرو او حویطب بن عبد العزی ته ئے ډیر مالونه ورکړی وو۔

صفوان وائی : ما ته رسول الله ﷺ ډیر بدی ښکاره کیدو (ځکه چه زما پلار ئے وژلے وو او مونږ ته ئے ډیر تکلیفونه راکړی وو) [فَمَا زَالَ يُعْطِينِى مِنْ غَنَائِمِ حُنَيْنٍ حَتّٰى صَارَ اَحَبَّ النَّاسِ اِلَىَّ بَعْدَ اَنْ كَانَ اَبْغَضَ النَّاسِ اِلَىَّ] نـو د حنین غنیمتونه ئے همداسے راکول راکول تردے چه رسـول الله ﷺ مـا تـه د ټـولـو خـلـکـو نه زیات محبوب شو پس د هغے نه چه ما ته د ټولو خلکو نه زیات مبغوض وو۔ آه۔ د مال په وجه اُلفت او محبت او تعلق پیدا کیږی۔

ځینې خلك وائی چه دا حکم اُوس منسوخ شویدے ځکه چه د اسلام خلکو ته ضرورت نشته او په ابتداء زمانه کښې اسلام کمزورے وو نو نفریٔ ته ضرورت وو دے دپاره چه اسلام مضبوط شی او دا قول مشهور مذهب د امام مالك او د اصحاب الرأی دے۔ لیکن حقه دا ده چه دا حکم تر قیامته پورے باقی دے، دے خلکو ته اُوس هم ضرورت دے او د الله تعالیٰ د اسلام سره مینه ده، خلك ورته رادعوت کوی۔

او دا مال بـه هغـه چا ته ورکولے شی چه ساده مسلمانان وی او ضدیان نهٔ وی، که ضدیان وی او ښهٔ ورته حق معلوم وی او بیا هم نهٔ راځی نو هغوی ته به داسے مالونه نشی ورکولے لکه بعض خلك د بدعتیانو مُلیانو دپاره کتابونه اخلی او وائی چه دا کار مونږ د تالیف القلوب دپاره کوو دا غلطه ده، بلکه دا په ګمراهیٔ باندے د هغهٔ سره مدد دے۔

کله په مؤلفة القلوب کښې هغه کفار خلك هم داخلیږی چه د هغوی د شر نه یره کیږی، که هغوی ته څه ورکړے شی نو د هغوی شر بندیږی، لیکن دا به د بیت المال نه ورکولے شی نهٔ د زکاة نه۔

۵- وَفِي الرِّقَابِ: د غلامانو او وینځو دپاره، دے دپاره چه دوی خپل ځانونه آزاد کړی۔

۶- وَالْغٰرِمِيْنَ : غارم: تاوانی او قرضداری ته وائی۔ دلته هغه عام قرضوړے نهٔ دے مراد ځکه هغه په فقراء او مساکینو کښې داخل دے، او که هغه هم داخل شی دپاره د تاکید نو څه مانع نشته مګر دلته هغه قرضوړی مراد دی چه مالدار وی او د دوه کسانو د اختلاف د ختمولو دپاره خپل مال ولګوی دے ته غارم لغیره وائی۔ یعنی د بل چا د وجه نه تاوانی شوے، مثلاً د دوه کسانو په جګړه کښې به یو تن دوه سوه اوښان ورکړل چه پدے جوړ جاړے

وکړئ نو شریعت وائی چه دهٔ ته زکاة ورکړئ تردے چه دوه سوه اُوښان پیدا کړی۔ نو کوم مال ئے چه د مصلحت د مسلمانانو دپاره خرچ کړیدے د هغے په اندازه زکاة اخستلے شی۔ دا حکم د هر هغه چا دے چه د مسلمانانو په منفعت کښ لګیا وی او په هغے کښ مال لګوی نو هغه زکاة اخستلے شی، مثال ئے د صحیح مهتممانو مدرسے دی (نهٔ د بدعتیانو) چه په هغے کښ کتاب او سنت بیانیږی نو دغه مهتمم سره مثلاً لس شل لاکهه روپئ ذاتی شته، خپله خرچه ئے برابره ده خو دهٔ په خپل ځان باندے د مدرسینو او طالبانو خرچه ومنله چه مثلاً (۲٤) لاکهه د کال اخراجات دی نو شریعت دهٔ ته د (۲٤) لاکهو پورے د زکاة اخستلو اجازه ورکړیده اګرکه ددهٔ سره به خپل نصاب پوره وی لیکن دهٔ په ځان باندے اضافی خرچه برداشت کړیده نو د هغے په بدله کښ ورله زکاة اخستل جائز شو۔

۷- وَفِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ : په (فِیْ) راوړو کښ اشاره ده چه دوی په زکاة باندے د نورو نه زیات مستحق دی۔ او ځینی علماء وائی چه په کومو مصارفو باندے (لام) داخل شویدے هغوی دپاره تملیك ضروری دے او کوم کښ چه (فِیْ) ذکر ده نو په هغے کښ اشاره ده چه دا هم د زکاة یو مصرف دے چه دوی ته زکاة ورکولے شی او په دوی باندے زکاة خرچ کولے شی لیکن دوی دپاره تملیك ضروری نهٔ دے، لکه یو تن مجاهد ته وسله واخلی نو دا به ئے مالك نهٔ وی بلکه د جهاد دپاره به ئے استعمالوی، که دا جهاد پریدی نو وسله به خپلے فائدے دپاره نهٔ استعمالوی، دارنګه که تا یو غلام ولیدو د یو مالك سره او هغه دِے ترے د زکاة په پیسو واخستو نو تهٔ به ددے مالك نهٔ جوړیږے۔ لکه دا خبره شیخ عثیمینؒ په خپله فتاوی کښ ذکر کړیده۔

## د سبیل الله مصداق

د سبیل الله نه مراد پدے مقام کښ څوك دی ؟ درے اقوال دی (۱) هر هغه څوك چه د دین په کار کښ مشغول وی، مثلاً مدرس، مجاهد، حج او عمرے له روان شخص۔

ځینی محققینو علماؤ وئیلی دی چه الفاظ د آیت عام دی او جهاد فی سبیل الله په اوله درجه کښ مراد دے او بیا نور کارونه د خیر هم پکښ داخلیدے شی۔

فخر الدین رازیؒ وئیلی دی چه ددے نه صرف مجاهدین مراد نهٔ دی۔

قفالؒ په خپل تفسیر کښ د بعض فقهاؤ قول نقل کړیدے چه د خیر په تمامو کارونو کښ

د زکاة مال خرچ کول جائز دي لکه د مړو په تجهيز او تکفين او د مسلمانانو دپاره قلعه ګانې او مساجد آبادول، ځکه چه په (في سبيل الله) کښې دا ټول کارونه داخل دي۔
ابن الاثيرؒ وائي چه د ((في سبيل الله )) کلمه عامه ده چه دديے اطلاق په هر هغه نيك کار کيږي چه په هغے سره مقصد د الله تعالیٰ نزديکت حاصلول وي۔ د ابو داودؒ د يو روايت مطابق رسول الله ﷺ حج لره په ((سبيل الله)) کښې شمار کړيدے۔
د سعودي عرب د دار الافتاء فتوىٰ ده چه اسلامي مدارس، جمعيات او دعوتي مراکز په (سبيل الله) کښې داخل دي۔ پدے وجه د داسے بلډنګونو تعمير، د هغوی د ملازمينو تنخواه ګانے او نورو اخراجات د زکاة نه ورکول جائز دي۔ دغه شان دعوتي کتابونو او پمفلټو چهپائي هم د زکاة د مال نه جائز ده ځکه چه دا ټول کارونه د الله په لاره کښې او د هغه د کلمے د پورته کولو دپاره کيږي۔ (تيسير الرحمن)
البته بعض کارونو باندے د في سبيل الله اطلاق شويدے لکه مسجد ته راتلونکے شخص نو دا په عرفاً او شرعاً مراد نۀ وي ځکه چه دا په مالداره کښې داخل دے۔ او هرچه دغه شرعي کارونه دي چه عام خلك په هغے کښې خپل نفلي صدقات نۀ ورکوي نو د دين ترقي کمزوري کيږي نو پدے وجه که مدارس وغيره په في سبيل الله کښې داخل شي او دے ته زکاة ورکړے شي نو ان شاء الله چه دديے نه به څه مانع نۀ وي۔
مګر صحيح دا ده چه که في سبيل الله لفظ عام شي نو بيا دديے عطف په ماقبل باندے هيڅ فائده نۀ ورکوي ځکه چه دا مخکښې ټول خلك في سبيل الله والا دي (کما قال الشيخ صالح الفوزانؒ في فتاواه وابن عثيمينؒ) او احتياط په همدے قول کښې دے۔
(۲) صرف مجاهد او حاجي ته وائي لکه دا بخاريؒ غوره کړيدي چه يو تن حج ته روان دے او مال ورسره نشته نو هغه ته به ورکولے شي۔
(۳) دريم دا چه في سبيل الله نه دلته صرف مجاهد او غازي مراد دے۔ پدے باندے درے قرينے دليل دے (۱) يو دا چه دا آيت په سورة التوبه کښې راغلے دے او دا د جهاد سورت دے۔
(۲) او دويمه قرينه پرے حديث د ابو داودؒ، ابن ماجهؒ، ابن المنذرؒ، ابن مردويهؒ او ابن ابي شيبهؒ دے چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي :

[لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ اِلَّا لِخَمْسَةٍ – اِلَّا لِغَازٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ]

زکاة نۀ دے حلال د مالدار دپاره مګر صرف د پنځو کسانو دپاره جائز دے يو د هغوی نه غازي في سبيل الله دے۔ نو دلته ئے في سبيل الله غازي ته ووئيلو او د نورو خلکو دپاره ئے

زکـلـة اخستـل حرام وگرځول- (۳) دریم که ددې نه عموم مراد شي نو بیا به د (اِنَّمَا) کلمې د حصر او د مخکنو مصارفو د تعیین هیڅ فائده ښکاره نشي-

بیـا پـه کـښ احنافو.دا ضعیف قول کړیدې چه هغه غازی ته به ورکولې شي چه فقیر وي لیـکـن دا خبره خطاء ده وجه دا ده چه کله فقیر وي نو بیا خو په (الفقراء) کښ داخلیږي نو د سبیل الله څه معنیٰ شوه؟!-

نـو صـحـیـح خبره دا ده چـه في سبیل الله نه صرف مجاهد مراد دې او مدارسو ته زکاة ورکولو تشریح په والغارمین کښ وشوه، چه د مدرسې مهتمم ته به زکاة ورکړې شي ځکه چه هغه په غارمینو کښ داخل دې-

۸- وَابْنِ السَّبِیْلِ(مسـافـر) : د چا د سفر توخه چه ختمه شي یا غلا شي نو هغه ته به د زکاة مال ورکولې شي اگرکه هغه په خپل کلي کښ مالدار ولې نهٔ وي-

امام شافعیؒ وغیره وئیلی دي چه د زکاة مال په اته قسمه خلقو باندې تقسیمول ضروري دي، دوی ددې آیت نـه دلیـل نیـولې دې او وئیلی ئې دي چه الله تعالیٰ چه کله د اته اقسامو ذکر د تحدید سره کړیدې نو په تولو تقسیم لازم دې او په ابوداود کښ د زیاد بن الحارث ﷺ نـه نـقـل شوی حدیث نه ئې دلیل نیولې دې چه په هغې کښ نبي ﷺ فرمایلی دي : ((الله د زکـاة د تقسیم تحدید په اته قسمه خلقو کښ کړیدې)). او د امام مالكؒ او امام ابو حنیفةؒ او جـمـهـورو اهـل عـلـمو رائې ده چه که د اته اقسامو نه بعض قِسمه خلقو ته د زکاة پوره رقم ورکـړې شـي نـو زکـاة ادا کیـږي، ځـکه چه دآیت نه مقصود دا نهٔ دې چه زکاة به په تمامو قِسمـونـو ضرور تقسیمولې شي، بلکه مقصد دا بیانول دي چه زکاة ددې خلقو دپاره جائز دې- او همدا قول راجح دې-

﴿ فَرِیْضَةً مِنَ اللهِ ﴾ دا مـفـعـول مطلق دې د پټ فعل دپاره- (فَرَضَ اللّٰهُ فَرِیْضَةً) دا زکاتونه الله فـرض کـړیدي)- یـعـنـي الله تعالیٰ دا حکم پهٖ خپلو بندګانو فرض کړیدې، او ددې نه تجاوز کول ئې منع کړیدي- (فتح البیان والقاسمي)

عَلِیْمٌ : یعني د بندګانو په مصلحتونو پو هه دې-

حَکِیْمٌ : کو مه برخه ئې چه دوی له مقرر کړې په هغې کښ ئې حکمتونه دي-

| وَمِنْهُمُ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ النَّبِیَّ وَیَقُوْلُوْنَ هُوَ |
|---|
| او بعض د دوی نه هغه کسان دي چه ضرر ورکوي نبي (ﷺ) ته او وائي دوی دې |

| |
|---|
| اُذُنٌ ط قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ |
| آوریدونکے دے (هرے خبرے لره)۔ ته اُووایه دا آوریدونکے د غوره خبرے ستاسو دے، |
| يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا |
| ایمان لری په الله او خبره منی د مؤمنانو او رحمت دے دپاره د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے |
| مِنْكُمْ ط وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ |
| ستاسو نه او هغه کسان چه ضرر ورکوی رسول د الله ته دوی لره عذاب دردناك دے۔ |

**تفسیر** : دا دریمه نوعه د منافقانو بیانیږی۔ او ځینی وائی چه دا په هغه منافقانو کښې یوه ډله وه چه هغوی به مسلمانانو ته راتلل او قسمونه به ئے خوړل چه مونږ هم مخلص مسلمانان یو۔

## شان نزول

څه منافقان وو د جُلاس بن سُوید بن صامت، مَخُشِی بن حُمَیّر، نبتل بن الحارث او ودیعة بن ثابت په نومونو سره، هغوی راجمع شو او خپل مینځ کښې ئے د رسول الله ﷺ غیبتونه کول او د هغه عزتونه ئے اخستل او دا به ئے هم وئیل چه [لَئِنْ كَانَ مَا يَقُوْلُ مُحَمَّدٌ حَقًّا لَنَحْنُ شَرٌّ مِنَ الْحَمِيْرِ] محمد (ﷺ) چه څه خبرے کوی که دا حقے وی نو بیا به مونږ د خرو نه زیات شریان یو۔ (دا مسخرے به ئے کولے) نو یو تن پکښې ووئیل چه دا خبرے مهٔ کوئ محمد (ﷺ) ته به ورسیږی، سزا به درکړی نو نورو ووئیل چه [اِنَّمَا مُحَمَّدٌ اُذُنٌ نَحْلِفُ لَهٗ فَيُصَدِّقُنَا] محمد خو غوږ دے د هر چا خبره آوری نو مونږ به ورته قسم وخورو زمونږ تصدیق به وکړی۔ (ابن ابی حاتمؒ والبغویؒ)

نو دوی به د رسول الله ﷺ د نیکو اخلاقو او نرمئ نه بده فائده اخستله لکه دا د منافقانو خوئی دے چه ددهٔ استاذ یا ملګرے یا د ښځے خاوند نرم وی نو دوی هغه د نرمئ نه مسخرے جوړے کړی۔ او رسول الله ﷺ باندے دوی بدګمانی کوله چه مونږه ئے دوکه کولے شو، هغه ساده سړے دے، نو الله فرمائی چه هغه ساده نهٔ بلکه اخلاقی دے۔

(فتح البیان)

**يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ** : د ایذاء (ضرر ورکولو) نه مراد دلته پشی شا عیبونه او اعتراضونه وئیل دی۔

**هُوَ اُذُنٌ** : اَىْ يَسْمَعُ كُلَّ اَحَدٍ وَلَايُفَرِّقُ بَيْنَ الصَّحِيحِ وَالْبَاطِلِ ـ يعنى د هر چا خبره آورى او د خلكو نه د خبرو تحقيق نۀ كوى او د صحيح او د باطل فرق نۀ كوى۔
اذن اصل كښې غوږ ته وائى نو دا تسميه د شخص ده په نوم د يو اندام سره دپاره د مبالغې يعنى هره خبره آوريدونكے دے لكه ګويا چه دا ټول غوږ غوږ وى۔ (المنار)
**اُذُنُ خَيْرٍ**: پدے كښې اضافت د اذن شويدے خير ته۔ او د خير نه مراد مؤمن دے۔ يعنى په تاسو كښې چه كوم د خير خلك دى د هغوى خبره آوريدونكے دے، د هر چا نۀ آورى، مطلب ئے دا دے : اَىْ يَعْرِفُ الصَّادِقَ مِنَ الْكَاذِبِ۔ يعنى رشتينى او دروغژن جدا جدا پيژنى۔
(ابن كثير)
يا مطلب دا دے چه دا ستاسو د خير خبرے قبلوى چه تاسو په ظاهره كښې ورته د خير خبره وئيلى وى نو ستاسو باطن نۀ لټوى ځكه چه ډيره نكته چينى درسره نۀ كوى نو آيا تاسو به ددے نه غلطه فائده اخلئ۔ كه دۀ تاسو په هره خبره راګير كړى وے نو بيا به تاسو ته څومره تكليف وے نو ددۀ دا اُوچت اخلاق ستاسو دپاره فائده مند شو۔
صاحب المنار وائى : رسول الله ﷺ به د منافقانو سره د مسلمانانو په شان د شريعت په احكامو او آدابو سره معامله كوله او خبره به ئے په ظاهر بناء كوله نو دوى ګمان وكړو چه دے هره خبره منى كومه چه دۀ ته ووئيلے شى۔
نو الله پرے رد وكړو چه آؤ دے غوږ دے (آوريدونكے دے) ليكن دا ډير ښۀ آوريدونكے دے ځكه چه دے آوريدونكے د غوره خبرو ستاسو دے، داسے نۀ دے لكه چه تاسو پرے ګمان كوئ، نو دے نۀ قبلوى په آوريدلے شوو خبرو كښې مګر هغه چه حق وى او د شريعت موافق وى او په كوم كښې چه د مخلوق خير او مصلحت وى او ددے نه د ماسوئ خبرو آوريدونكے نۀ دے لكه د باطل، دروغ، چغلى، غيبت، جګړه او فساد آوريدل شو نو دے دے خبرو ته غوږ نۀ ايږدى او تصديق نۀ كوى د هغه خبرو چه شرعًا او عقلًا د هغے تصديق جائز نۀ وى۔ نو دا خو ستاسو دپاره فائده مند شو، آه۔
علامه سعدیؒ وائى : دوى د رسول الله ﷺ په ډيرو طريقو بى ادبى وكړه ❀ يو دا چه خپل نبى ته ئے ضرر وركړو كوم چه د دوى د هدايت دپاره راغلے وو او دوى ئے د بد بختئ او هلاكت نه هدايت او سعادت ته راويستل، ❀ دويم دا چه دوى رسول الله ﷺ ته هيڅ اهميت نۀ وركولو چه دا د ضرر نه زياتى شے دے۔ ❀ دريم دا چه د رسول الله ﷺ په عقل باندے ئے عيب لګولو چه هغه علم نۀ لرى او د صادق او د كاذب فرق نكوى حال دا چه هغه

د ټول مخلوق نه ډير كامل عقل او پوره علم او صحيح رائے او بصيرت والا وو۔ پدے وجه ئے ووئيل : (هُوَ اُذُنُ خَيۡرٍ لَّكُمۡ) يعنى ځوك چه ورته خير او رشتيا ووائى نو د هغه خبره قبلوى۔ او هرچه دا خبره چه هغه د ډيرو منافقانو نه (كوم چه ورته دروغژن عذرونه پيش كوى د هغوى نه) اعراض كوى او سختى ورسره نۀ كوى نو دا پدے وجه چه اخلاق ئے فراخه دى او د دوى دے حالت له څه اعتبار نۀ وركوى او د الله پدے امر باندے عمل كوى چه ﴿ سَيَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ لَكُمۡ اِذَا انۡقَلَبۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ لِتُعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ فَاَعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ اِنَّهُمۡ رِجۡسٌ ﴾ دوى به تاسو ته قسمونه كوى دے دپاره چه تاسو د دوى نه مخ واړوئ نو بس مخ ترے واړئ دا پليت خلك دى)۔ (تفسير السعدى)

يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ: دا كلمه ورسره ځكه وائى چه ځوك په الله رشتينى ايمان راوړى نو هغه ته الله تعالىٰ بصيرت وركوى او په زړه كښ نُور وركوى او نور قلبى سره بنده صادق او كاذب پيژنى۔ بلكه الله تعالىٰ مؤمنانو ته دومره بصيرت وركوى چه د خلكو رياكارى هم پيژنى او دے ته فِراست وائى۔ نو دا علت شو د ماقبل دپاره چه هركله دا نبى مؤمن بالله دے نو څنګه به صادق او كاذب نۀ پيژنى۔

يا مطلب دا دے چه دۀ يقين په الله دے نو د منافقانو خبرو له دومره اعتبار نۀ وركوى، د هغوى دروغژن عذرونه هم قبلوى ځكه چه د چا يقين په الله جوړ شى نو د هغۀ د مخلوق په خبرو دومره پرواه نۀ وى، په ظاهره كښ چه ځوك ورته د خير خبره پيش كړى اګركه په باطن كښ غلطه هم وى او دۀ ته معلومه هم وى چه خبره ئے راته ورانه وكړه ليكن هغه پو هيږى چه دۀ دا خبره او دا كار ما ته ضرر نشى راكولے نو دومره باك پرے نۀ كوى لكه دا د اُوچتو اخلاقو او يقين والو صفت دے۔

وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ : دلته ايمان په معنىٰ د تصديق او اعتبار سره دے۔

يعنى د رشتينى مؤمنانو په خبره يقين كوى ځكه چه هغه ته په علاماتو سره د دوى د ايمان معلومات دے چه دوى مخلصين دى نو د هغوى خبره باندے يقين كوى نو ددے مفهومِ مخالف دا دے چه د منافقانو په خبره تصديق او باور نۀ كوى اګركه هغوى ورسره قَسمونه هم وخورى اګركه په ظاهره كښ ئے ومنى او څه ضرر ورنكړى نو د منافقانو دا ګمان راشى چه ګنے دۀ باندے دروغ او باطله خبره پټه پاتے شوه، د رسول الله ﷺ په لطف او ادب باندے دوكه شى۔ او پدے كښ دوى ته تخويف او دهمكى ده چه الله تعالىٰ به خپل نبى د دوى د زړونو د خبرو نه خبروى او د هغه خبرو نه چه دوى ئے خپل مينځ كښ وائى۔

او دغه شان دوی د مؤمنانو نه هم یرول دی چه رسول الله ﷺ به دوی ته خبر ورکړی چه فلانے منافق دے نو دغه مؤمنان به د هغهٔ به د دوی نه د انتقام اخستو اجازه وغواړی نو منافقانو ته به هلاکت ورسیږی لکه چه عمر فاروق رضی الله عنه دغه شان وکړل۔ (المنار)

وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ : رسول الله ﷺ د مؤمنانو دپاره رحمت دے ځکه چه دا د دوی د ایمان او د هدایت سبب دے چه د دنیا او د آخرت سعادت ته پرے رسیږی، نهٔ د هغه چا دپاره چه اسلام ښکاره کړی او کفر پټ کړی په طریقه د منافقت ځکه چه بیا دغه نبی ددهٔ دپاره په دواړو جهانونو کښې نقمت او عذاب ګرځی۔

رسول الله ﷺ د عالمین دپاره رحمت هم دے پدے معنیٰ چه هغوی ته د هدایت لاره بیانوی نو هغه رحمتِ عامه دے او د مؤمنانو دپاره خاص رحمت دے چه دوی ترے فائده اخلی۔

مِنْكُمْ: ددے لفظ د زیاتولو فائده دا ده چه پدے کښې اشاره ده چه دوی پوهه شی چه رسول الله ﷺ پوهه دے چه دوی کښې منافقان هم شته۔ (المنار)

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ : دا مقابل د (وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) دے او دا دلالت کوی چه رسول الله ﷺ ته په قول یا فعل سره تکلیف ورکول د هغه ایمان منافی دی کوم چه سبب د رحمت دے۔

او تصریح ئے په (رسول الله) لفظ وکړه، پدے کښې اشاره ده چه پیغمبر ته ضرر په اصل کښې الله تعالیٰ ته ضرر رسول دی یعنی دا سبب د عذاب د الله دے، لکه څنګه چه طاعت د رسول الله ﷺ دا طاعت د الله تعالیٰ دے۔(المنار)

| |
|---|
| يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ |
| قسمونه کوی دوی په الله تاسو ته، دے دپاره چه خوشحاله کړی تاسو لره او الله او رسول د هغهٔ |
| اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا |
| ډیر لائق دی ددے چه رضا کړی دوی هغه لره که وی دوی مؤمنان۔ آیا نهٔ پوهیږی دوی |
| اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ |
| چه بیشکه هغه څوک چه مخالفت کوی د الله او د رسول د هغهٔ نو یقیناً هغهٔ لره اور |

جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا ؕ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

د جهنم دے، همیشه به وی په هغے کښې، دا شرمندګی ده لویه۔

**تفسیر** : منافقان به چه کله یواځې وو نو مسلمانان او نبی کریم ﷺ باندے به ئے طعنونه لګول، او کله چه به ددے نه رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ خبر شو او د دوی نه به ئے تپوس وکړو نو دوی به قسم خوړلو سره وئیل چه مونږ داسے نۀ دی کړی، دے دپاره چه رسول الله ﷺ او نور مسلمانان د دوی نه خوشحاله اُوسی۔ د دوی پدے نفاق او اخلاقی خکته والی باندے قرآن کریم ماتم کولو سره وئیلی دی چه الله او د هغه رسول زیات حقدار وو چه دوی هغه راضی کړے وے او د نفاق نه ئے توبه ویستلے وے۔

څکه که یو مؤمن په ظاهره کښې تا نه خوشحاله هم شی پدے وجه چه هغه ته ستا دروغ نۀ دی معلوم نو د الله تعالیٰ د عذاب نه پدے باندے نشی بچ کیدے۔

نو پدے کښې د منافق صفت دا شو چه د مخلوق رضا ورته د الله تعالیٰ او د رسول د رضا نه زیاته خوښه وی، د خلکو نه زیات شرمیږی۔

اَنْ يُّرْضُوْهُ : ضمیر ئے مفرد راوړو څکه چه د الله تعالیٰ او د رسول رضا یوه ده، کله چه رسول الله ﷺ راضی شو نو الله تعالیٰ راضی دے او که الله تعالیٰ راضی شو نو رسول الله ﷺ راضی دے۔ او دا د قرآن کریم بلاغت دے څکه که (يُرْضُوْهُمَا) ئے وئیلی وے نو دا ګمان کیدو چه د هر یو رضا کول به د بل نه غیر وی او دا د مقصود خلاف دے۔ او کومو علماؤ چه دا دوه جملے جوړی کړیدی لکه [ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ يُرْضُوْهُ وَرَسُوْلُهٗ اَحَقُّ اَنْ يُرْضُوْهُ] نو یو پدے کښې رکاکة او تطویل دے او بل دغه معنیٰ او نکته پکښې نۀ راځی۔

او کوم علماء د نحو چه (ه) ضمیر مذکور ته راجع کوی نو دا هم ضعیف ده څکه چه ددے په تثنیه کښې جاری کیدل ښکاره نۀ دی۔ (المنار)

اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ : دا تذنیل دے د ماقبل دپاره یعنی دا مخکښے کار (د الله او د رسول رضا کول) د صحیح ایمان تقاضا ده چه ددے نه بغیر په آخرت کښې نجات نشته۔

او پدے کښې منافقانو دپاره پوره عبرت پروت دے په هره زمانه کښې چه دوی دپاره اَهم شے د الله تعالیٰ او د رسول رضا کول دی نۀ د بادشاهانو، وزیرانو او امیرانو په هغه کارونو کښې چه الله تعالیٰ او رسول پرے ناراضه کیږی۔

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا : پدے کښې د دوی د نفاق بد انجام او سخته سزا ذکر شویده چه آیا دوی ته

پتـه نشته چه څوك د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول مخالفت کوی، د هغهٔ بدله به د جهنم اُور وی چه په هغې کښې به همیشه دپاره اُوسیږی۔

**يُحَادِدِ** : مُحَادَدَه په لغت کښې دوه کسان د یو بل په مخالف طرف کښې ودریدل دی لکه د مَشَاقَقَه په شان۔ دلتـه تـرې مـراد مطلق مخالفت دے۔ يعني څوك چه د الله او د رسول مـخـالـفـت کوی چه د الله د حدودو نه اوړی او په رسول الله ﷺ باندې په تقسيم د صدقاتو کښې او د هغـه په اخلاقو کښې عيبونه وائی او هغه ته اُذُن وائی نو الله تعالیٰ به ئې په داسې لوی شرم باندې واړوی چه د هغې نه پورته بل شرم او ذلت نشته چه هغه د جهنم اُور دے۔

(تفسير المنار)

**ذٰلِكَ:** يعني دغه مذکور عذاب۔

| |
|---|
| يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ |
| يريږی منافقان ددې نه چه نازل شی په دوی (مسلمانانو) باندې يو سورت |
| تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِىْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ |
| چه خبر به ورکړی دوی لره په هغه څه چه په زړونو ددې (منافقانو) کښې دی، اُووایه |
| اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿٦٤﴾ |
| تو قې وکړئ تاسو يقيناً الله تعالیٰ راويستونکې دے هغه څه لره چه يريږئ تاسو (د هغې نه) |

**تفسير** : ډیر کرتـه مـنـافـقـانو به د رسول الله ﷺ او مؤمنانو پسې خبرې هم کولې مګر بيـرتـه يـريدل هم، ځکه چه رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ د غيبو خبر ورکوی نو هسې نهٔ چه زمـونـږ د خبرو خبر ورنـکـړی، سـزا بـه راکړی، نو الله تعالیٰ د دوی دغه د يرې حالت رانقل کوی۔ او الله تعالیٰ دغسې مجرمانو سره د هغوی د مقصد خلاف معامله کوی۔

شان نزول

ابـن ابـی شيبهٌ او ابن المنذرٌ وغيره د مجاهدٌ نه روايت کړيدے چه منافقانو به خپل مينځ کښې د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو په خلاف کله يوه خبره کوله نو يريدل به چه هسې نه داسې ونهٔ شی چه الله تعالیٰ زمونږ خبره محمد (ﷺ) تـه اُوښائی۔ يو بل روايت دے چه يو منافق ووئيل چه آرمان چه سل (١٠٠) کوړې وهلې شوې وې خو زمونږ په باره کښې قرآن

نهٔ نازلیدلے کوم چه زمونږ راز ښکاره کوي۔ نو دا آیت نازل شو او الله دوی ته دهمکی ورکړه چه د اسلام او د مسلمانانو پورے بیے توقے اُوکړئ، لیکن پدے پوهه شئ چه الله به ستاسو ټول خباثتونه او منافقتونه ښکاره کوي۔

يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ : دا جمله خبریه ده لیکن دے کښې معنیٰ د امر هم پرته وي۔ (زجاجؒ) یعني منافقان ډیر ددے خبرے نه یره وکړي چه هسے نهٔ د دوي په باره کښې د قرآن یو سورت نازل نشي چه دوي به وشرموي۔

۱- د عَلَيْهِمْ او تُنَبِّئُهُمْ : ضمیرونه مؤمنانو ته راجع دي او روستو (فِيْ قُلُوْبِهِمْ) ضمیر منافقانو ته راجع دے یعني مؤمنانو ته به سورت نازل شي چه دوي ته به خبر ورکړي په هغه خبرو چه په زړونو د منافقانو کښې دي۔ او کله چه معنیٰ مراده واضحه وي نو د ضمیرونو د مرجع په جدا جدا کولو کښې هیڅ عیب نشته۔ ۲- او دا ټول ضمیرونه منافقانو ته هم راجع کیدل صحیح دي او مطلب د دواړو به یو راوځي۔ او معنیٰ به دا وي : د منافقانو په ضرر به یو سورت نازل شي یا د هغوی په باره کښې به نازل شي چه همدے منافقانو ته به د دوي د زړونو د خبرو خبر ورکړي یعني رسول الله ﷺ به ورته بیان وکړي چه تاسو دا دا خبرے کړیدي نو ټول خلك به ترے خبر شي۔ (المنار وفتح البیان)

بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ : د زړونو د خبرو خبر ورکولو نه مراد لازم د هغے دے یعني د دوي شرمول او د دوي عیبونه راښکاره کول دي۔ (المنار)

مَّا تَحْذَرُوْنَ : اَیْ ظُهُوْرَهٗ۔ یعني چه تاسو د هغے د ښکاره کیدو نه یریږئ۔ نو الله به یو سورت نازل کړي یا به رسول الله ﷺ ته خبر ورکړي۔

| |
|---|
| وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ |
| او که تپوس وکړے تهٔ د دوي نه خامخا وائي به دوي یقیناً مونږه ځان مشغولولو |
| وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ |
| او لوبے مو کولے، اُووایه تهٔ آیا په الله پورے او د آیتونو د هغهٔ او د رسول د هغهٔ پورے |
| كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ |
| تاسو توقے کوئ۔ عذرونه مهٔ کوئ، یقیناً کفر کړیدے تاسو روستو د ایمان ستاسو نه، |

| |
|---|
| اِنۡ نَّعۡفُ عَنۡ طَآئِفَةٍ مِّنۡكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةً |
| كه معافي وكړو مونږ د يوې ډلې ستاسو نه نو عذاب به وركړو بلې ډلې ته |
| بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا مُجۡرِمِيۡنَ ﴿٦٦﴾ |
| پدې وجه چه دوى مجرمان دى۔ |

**تفسير :**

شان نزول

ابونعيمؒ په ((حليه)) كښې د شُريح بن عبيدؒ نه او ابن جريرؒ، ابن ابى حاتمؒ او ابن مردويهؒ وغيره د عبد الله بن عمر ﷺ نه ددې آيت د شان نزول په باره كښې چه كوم روايت نقل كړيدې د هغې خلاصه دا ده چه يو سړې (او هغه غالباً عبد الله بن اُبى ابن سلول وو) د غزوهٔ تبوك په موقعه په يو مجلس كښې ووئيل :

[مَا رَاَيۡنَا مِثۡلَ قُرَّاءِ نَا هٰؤُلَاءِ اَرۡغَبَ بُطُوۡنًا وَلَا اَكۡذَبَنَا اَلۡسِنَةً، وَ لَا اَجۡبَنَ عِنۡدَ اللِّقَاءِ]

چه مونږ ددې قُرّاؤ (قاريانو) نه زيات د خيټې سره مينه كونكى او دروغژن او بزدل نهٔ دى ليدلى، رسول الله ﷺ ته ددې خبر اُوشو او قرآن نازل شو، نو هغه سړى د رسول الله ﷺ د اُوښې مهار نيولے وو او منډې ئې وهلے او خلقو هغه په كاڼو ويشتلو، او وئيل به ئې چه يارسول الله! مونږ خو هسې ګپ شپ ويشتلو او نبى كريم ﷺ به وئيل چه آيا تاسو د الله، د هغهٔ د آيتونو او د هغهٔ د رسول پورې توقې كوئ۔ (ابن كثيرؒ)

دا د منافق خوئى دې چه د الله تعالىٰ د كتاب والو پورې توقې كوى، ددې وجه نه د حق پرستو علماؤ او د قرآن قاريانو بې عزتي كول كفر دې كله چه د قرآن د وجه نه ئې كوى او ذاتي بيعزتي نهٔ وى۔

او ابن المنذرؒ او ابن ابى حاتمؒ او ابو الشيخؒ د قتادهؒ نه نقل كړيدى چه رسول الله ﷺ تبوك ته روان وو او د هغه نه مخكښې د منافقانو څه كسان روان وو نو دوى خپل مينځ كښې ووئيل : [اَيَرۡجُوۡ هٰذَا الرَّجُلُ اَنۡ يُّفۡتَحَ لَهٗ قُصُوۡرُ الشَّامِ وَحُصُوۡنُهَا؟ هَيۡهَاتَ، هَيۡهَاتَ]

آيا ددې سړى دا ګمان دې چه دهٔ ته به د شام بنګلې او قلعه ګانې فتح شى، ډيره لرې خبره ده۔ نو الله تعالىٰ خپل نبى ته اطلاع وركړه، نبى ﷺ وفرمايل : دا كسان راونيسئ، بيا ورته راغې ورته ئې وفرمايل: آيا تاسو دا دا خبرې وكړې؟ هغوى ووئيل : اے د الله نبى ! مونږ

خو ځان مشغوله کولو او ګپ مو لګولو نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل۔ (المنار)
او مَخْشِی بن حُمَیِّر پکښې ووئیل : زما دا خوښه ده چه ما ته سل کوړے راکړے شي خو چه زمونږ په باره کښې قرآن نازل نشي۔
سَاَلْتَهُمْ : اَیْ عَنْ سَبَبِ الْاِسْتِهْزَاءِ۔ یعنی که ته د دوی نه د ټوقو د سبب په باره کښې تپوس وکړے چه دا مو ولے کولے؟۔
نَخُوْضُ : یعنی ځانونه مو مشغوله کول۔ او لاره مو لنډه وله او زمونږ استهزاء مقصد نۀ ده۔
قُلْ اَبِاللّٰهِ : یعنی ته ورته ووایه چه د استهزاء او ټوقو ځای صرف الله تعالیٰ او د هغۀ آیتونه او رسول پاتے شو، بل څه نشته۔
او دا استفهام د توبیخ دپاره دے، د دوی انکار له ئے هیڅ باك ورنکړو بلکه په دوی باندے ئے خبره ثابته کړه ځکه چه دوی په خپل انکار کښې دروغژن وو۔
دا آیت دلیل دے چه څوک د الله یا د هغه د آیتونو یا د رسول الله ﷺ پسے استهزاء وکړه نو که دۀ اراده وی او که نۀ، په ټولو صورتونو کښې کافر دے او د اسلام نه مرتد دے، نو مے ایمان به راوړی هله به قبلیږی، او زر به توبه او استغفار کوی، او دا ډیره خطرناکه خبره ده۔ او پدے باندے د ټولو مسلمانانو اجماع ده۔ (المنار)
او د الله او د هغۀ د آیتونو او رسول سره به داسے چلیږے لکه خوږ (زخمی) لاس چه انسان په احتیاط سره ساتی۔
صاحب المنار وائی : ددے آیت په وعید کښې هغه مبتدعین هم داخل دی چه په دین کښې نوی کارونه پیدا کوی او د کتاب او سنت داعیانو پورے ټوقے او استهزاء کوی پدے وجه چه دوی په کتاب او سنت باندے منګولے لګولی دی او دا ئے په مذاهبو مُقَلَّدهٔ باندے غوره کړیدی۔ (المنار ۱۰/ ٤٥٦)
لَا تَعْتَذِرُوْا : ۱- [اَیْ فَاِنَّهٗ ذَهَبَ وَقْتُ الْاِعْتِذَارِ وَزَالَ نَفْعُهٗ] (السعدیّ)
عذرونه مۀ کوئ ځکه چه اُوس د عذرونو وخت تلے دے او فائده ئے ختمه ده اُوس صرف په اعمالو باندے جزاء پاتے ده۔ او تاسو خو کفر کړیدے۔
۲- یا لَا تَعْتَذِرُوْا فَاِنَّهٗ لَایُقْبَلُ مِنْکُمْ۔ یعنی عذرونه مۀ کوئ ستاسو نه نۀ قبلیږی۔
(فتح البیان وغیره)
لَا تَعْتَذِرُوْا : علامه واقدیؒ د لغت د امامانو نه نقل کړیدی چه د اعتذار معنیٰ ده (مَحْوُ

أَثَرِ الذَّنْبِ وَقَطْعَهُ) (د گناه اثر محوه کول او ختمول، عرب وائی: (إِعْتَذَرَ الْمَنْزِلُ إِذَا دَرَسَ) اعتذر المنزل یعنی کور زوړ شو. (إِعْتَذَرَتِ الْمِيَاهُ إِذَا انْقَطَعَتْ) . او د اوبو په باره کښې اعتذار په معنیٰ د انقطاع سره استعمالیږی.

**قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيْمَانِكُمْ** : یعنی تاسو پدے خبره کافر شوی یئ پس د دغه دعوے والا ایمان نه، نو ستاسو عذر کول ستاسو په خپله گناه باندے اقرار دے نو دا عذر د گناه نه هم ډیر قبیح دے. او دوی چونکه په ظاهره کښې دعوه د ایمان کوله نو په دوی باندے د مسلمانانو احکام جاری وو لیکن کله ئے چه دا استهزاء وکړه، پدے سره د دوی پټ کفر راښکاره شو نو دوی په حکم د کافرانو کښې شو لکه چه مخکښې په حکم د مؤمنانو کښې وو. (المنار)

**إِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ**: کله چه دا آیتونه نازل شو نو په دوی کښې بعض کسانو لکه مخشی بن حُمیر توبه ویستله او د الله نه ئے دا دعا وکړه چه اے الله! زهٔ یو آیت آورم چه په هغے کښې زهٔ مراد یم چه د هغے په وجه غونے زیږ کیږی او زړونه رپیږی [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ مَوْتِیْ فِیْ سَبِیْلِكَ وَلَایَعْلَمْ بِمَقْتَلِیْ اَحَدٌ حَتّٰی لَایُقَالَ : اَنَا غَسَلْتُ، اَنَا كَفَنْتُ، اَنَا دَفَنْتُ] اے الله! زما مرگ د شهادت وگرځوه او داسے ځای کښې مے شهید کړه چه چا ته پته هم ونهٔ لگی او څوك دا ونهٔ وائی چه ما غسل ورکړو او ما کفن ورکړو او ما دفن کړو. بیا په غزا د یمامه کښې شهید شو او دغه شان ورك شو. (ځکه چه دے په توبه کښې رشتینی وو).

(سیرت ابن هشام ۵۲۴/۲) وابن کثیر)

**طَآئِفَةٍ**: زجاجؔ وائی : طائفه په لغت کښې جماعت (ډلے) ته وائی.

ابن الانباریؔ وائی : عرب کله د جمع لفظ د واحد دپاره هم استعمالوی. (فتح البیان)

قرطبیؔ وئیلی : دا هم جائز ده چه کله د طائفة نه یو تن مراد وی نو بیا به په کښې (ة) د مبالغے دپاره وی. او د طائفة نه کله واحد مراد وی دلیل پرے دا آیت دے ﴿ وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا ﴾ (الحجرات : ۹) مراد دلته دوه نفسونه دی لکه روستو ﴿ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ﴾ نه معلومیږی.

**إِنْ نَّعْفُ** :[اَیْ اِنَّنَا اِنْ نَعْفُ عَنْ بَعْضِكُمْ بِتَلَبُّسِهِمْ بِمَا يَقْتَضِي الْعَفْوَ وَهُوَ التَّوْبَةُ وَالْإِنَابَةُ (وَمِنْهُمْ مَخْشِيُّ بْنُ حُمَيْرٍ) نُعَذِّبْ بَعْضًا آخَرَ بِاتِّصَافِهِمْ بِالْإِجْرَامِ وَرُسُوْخِهِمْ فِيْهِ] (المنار)

یعنی که مونږ ستاسو نه بعضو ته معافی وکړو پدے وجه چه دوی د عفو د سبب پورے انښتی دی چه هغه توبه او انابت دے لکه مخشی بن حمیر شو نو نورو ته به عذاب

ورکوو ځکه چه دوی په جرم کښې اخته دی او پکښې پاخه شویدی۔ نو چا چه توبه ویستلې وی هغه به معاف وی او څوك چه په خپل کفر همیشه پاتې شی نو هغه ته به سزا ملاؤ شی۔ آه۔ نو د شرط او جزاء مناسبت ښکاره شو۔

نو د منافقانو سره په دنیا کښې دا معامله وشوه چه رسول الله ﷺ ورته توبیخ ورکړو او خلکو کښې وشرمیدل او د آخرت د عذاب وعده ورسره وشوه۔

**فائده** : پدې کښې دعوت دے منافقانو ته چه راشئ او د خپلو دغه جرمونو نه توبه وباسئ۔

| |
|---|
| اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ |
| منافقان سړی او منافقانې ښځې بعض د دوی د بعضو نه دی، حکم کوی په ناروا |
| وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ |
| او منع کوی د نیکئ نه او بند ساتی لاسونه خپل، هیر کړیدے دوی الله لره |
| فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ |
| نو هیر کړو الله دوی لره (چه د هر خیر نه ئې محرومه کړل) یقیناً منافقان هم دوی نافرمان دی۔ |

**تفسیر** : پدې کښې د منافقانو نور بد صفات بیانوی او دا متعلق دے د ﴿يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ﴾ سره، یعنی منافقان قسمونه کوی چه دوی هم د مُخلصو مسلمانانو په شان دی نو الله تعالیٰ پدې آیت کریمه کښې فرمائی چه د دوی دا خبره غلطه ده، بلکه منافقان برابره ده که سړی وی او که ښځې، په نفاق، رذالت او خساست او نشتوالی د ایمان کښې ټول یو شان دی، او د ټولو حالات د مؤمنانو د حالاتو نه بیخی مختلف دی۔

د بدئ حکم کوی او د نیکئ نه منع کوی، صله رحمی، جهاد او د هیڅ خیر په کار کښې خرچ نۀ کوی، او د الله تعالیٰ د یاد نه په قطعی توګه سره غافل دی، پدې وجه الله هم په آخر کښې دوی هیر کړل او د خپل رحمت نه ئې محروم کړل، او پدې وجه هم چه منافقان په خپل کفر او سرکشئ کښې انتهاء ته رسیدلی دی۔

**اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ** : صاحب د "فتح البیان" لیکی چه د منافقانو تعداد درې سوو ته او د منافقو ښځو تعداد یو سل اویا وو ته رسیدو۔

**بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ** : اَیْ یُشْبِهُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ۔ یعنی بعض د بعضو سره مشابه دی په څه

کښې ؟ ۱- فِی الْخُرُوْجِ مِنَ الدِّیْنِ ۔ (یعنې د دین نه په وتلو کښې۔ (قرطبیؒ) [اَیْ هُمْ عَلٰی دِیْنٍ وَّاحِدٍ] یعنې دوی په یو دین روان دي۔ (بغویؒ)

۲- وَفِی الْخِصَالِ الْمَذْمُوْمَةِ ۔ یعنې د دین نه په وتلو کښې او په بدو خصلتونو او خویونو کښې۔ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه منافقانو کښې کوم عیبونه او بد خویونه وو هغه بعینهٖ د اُوسنئ زمانې په منافقانو کښې هم موجود دي۔

د شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله نه مونږ په تفسیر د سورة البقره کښې دا قول نقل کړے وو:
[اِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰی اُنْمُوْذَجًا مِنَ الْمُنَافِقِیْنَ فَانْظُرْ اِلٰی سُوْءِ حُکَّامِ زَمَانِكَ].

که تهٔ غواړې چه ته د منافقانو نمونه وګورې نو ددې زمانې ناکاره حُکامو (حکومت والو) ته وګوره چه په دوی کښې په اکثرو کښې د منافقت صفات بیخی ښکاره موجود دي۔

ددې جملې نه دا فائده راوځی چه هرکله منافقان د یو بل مشابه دي نو مؤمنانو له پکار دي چه دوی سره مشابه نشي او د دوی د دوستانې نه ځان وساتي۔ (السعدیؒ)

او دا هم معلومه شوه چه دوی د مؤمنانو نه نشي کیدے۔ (فتح البیان)

۳- د بعضهم من بعض د محاورې مطابق معنیٰ دا وی [اَیْ اَمْرُهُمْ وَاحِدٌ] یعنې د دوی کاریو دے چه ټول په شرك او د مسلمانانو په استهزاء راجمع دي۔ (تفسیر الطبرانی)

٤- اَیْ اَهْلُ النِّفَاقِ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ مُتَشَابِهُوْنَ فِیْهِ وَصْفًا وَعَمَلًا كَاَنَّ كُلًّا مِنْهُمْ عَیْنُ الْآخَرِ] (المنار) ۔ یعنې منافقان سړي او ښځې په منافقت کښې په صفت او عمل کښې د یو بل مشابه دي ګویا که هر یو د دوی نه د بل سره عین یو شے دي۔ یعنې منافقت د دوی صفت هم دے او کارئے هم د منافقت دے۔

**یَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ:** دا تفصیل دے د مخکښې اجمال کوم چه په (بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ) کښې ذکر شو۔

**اَلْمُنْكَرِ:** د منکر نه هر عقلًا او شرعاً قبیح کار مراد دے۔

د منکر مصداق: هر ناروا کار د شرك نه واخله تر وړوکے ګناه پورې۔ لکه تکذیب، شرك، بدعت، بخل، بد اخلاقی وربنائی۔

**اَلْمَعْرُوْفِ:** دا هر هغه کار ته وائی چه حَسَن (ښهٔ) وی عقلًا یا شرعًا۔ دا د ایمان نه واخله تر مستحب عمل پورې۔ لکه ایمان، طاعت، مونځ، نیك عملونه۔

ددې نه معلومه شوه چه هر هغه څوك چه د خیر نه منع کول کوی لکه د قرآن درسونه، د اهل حقو د مجلسونو نه نو دا به منافق وی۔

**وَيَقْبِضُونَ اَيْدِيَهُمْ**: ١-اَیْ عَنِ الْإِنْفَاقِ۔ (د انفاق نه ئے لاسونه بند كړيدی)، نو منافق په دين باندے هيڅكله خرچ نكوی۔
٢-عَنْ كُلِّ مَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ۔ يعنی د هرهغه شی نه چه په دوی باندے واجب دے۔ لكه زكاة وركول، صله رحمی، جهاد كول۔ يعنی بی خيره انسان دے، چه هيچا ته ئے خير نهٔ رسيږی، نهٔ خدمت كوی، نهٔ مال لګوی، نهٔ چا سره احسان كوی۔
**فائده**: د نفاق فعلی منكراتو كښ ئے قبض الايدی ذكر كړل ځكه چه دا ډير ضرر او شر والا صفت دے او ډير لوی او قوی دليل دے په منافقت باندے لكه څنګه چه انفاق فی سبيل الله قوی دليل دے په ايمان باندے۔ (المنار)
**نَسُوا اللّٰهَ**: ١- يعنی الله ئے قصداً هير كړيدے، دلته نسيان په معنىٰ د ترك سره دے۔
٢- نَسُوا طَاعَةَ اللّٰهِ۔ د الله طاعت ئے هير كړيدے، هيڅ بندګی ئے په اخلاص نهٔ كوی۔ نو الله تعالىٰ د خپل توفيق او هدايت نه په دنيا كښ پريخودل او د رحمت نه په آخرت كښ يا په عذاب كښ ئے پريخودل۔ (بغویؒ)
٣- يا تَرَكُوا ذِكْرَ اللّٰهِ وَعِبَادَتَهٗ فَتَرَكَ اللّٰهُ ذِكْرَهُمْ فِيْمَنْ ذَكَرَهُمْ بِالرَّحْمَةِ وَالْإِحْسَانِ۔
(فتح البيان)
يعنی دوی د الله تعالىٰ ذكر او عبادت پريخودو نو الله تعالىٰ هم د دوی ذكر پريخودو په هغه خلكو كښ چه په رحمت او احسان سره ئے ذكر كړيدی۔
٤- ضحاكؒ وائی: [تَرَكُوا اَمْرَ اللّٰهِ فَتَرَكَهُمْ مِنْ رَحْمَتِهٖ اَنْ يُّعْطِيَهُمْ اِيْمَانًا وَعَمَلًا صَالِحًا]
دوی د الله تعالىٰ حكمونه پريخودل نو الله تعالىٰ دوی د خپل رحمت نه پريخودل چه دوی ته ايمان او عمل صالح ورنصيب كړی۔ (الدر المنثور)
**فَنَسِيَهُمْ**: اَیْ عَنِ الرَّحْمَةِ/ وَعَنْ تَزْكِيَةِ النَّفْسِ۔ يعنی الله د خپل رحمت نه هير كړل او د نفس د تزكيه نه، هيڅكله به د خپل نفس تزكيه ونكړی بلكه همدغه شان ګندونو كښ به پروت وی۔ لكه سورة الحشر كښ دی ﴿فَاَنْسَاهُمْ اَنْفُسَهُمْ﴾۔
يعنی د دوی نه ئے نفسونه هير كړل۔ يعنی د الله تعالىٰ د ذكر د فوائدو نه او هغهٔ ته په انفاق او جهاد سره د ځان نزدے كولو د فضيلت نه الله تعالىٰ هير كړيدی۔
يعنی دوی په كفر كښ دومره پاخه شويدی چه د دوی په زړونو كښ هم دا خبره نهٔ تيريږی چه په دوی باندے د خپل رب حق د طاعت او شكر شته نو دوی هغه په خپل هيڅ عملونو سره نهٔ راياداوی۔ بلكه په هغے كښ د خپلو خواهشاتو پسے روان وی لكه رياء او د شيطان

وسوسه.
او د الله تـعـالیٰ د هیرولو نه مراد دا دے چه دوی باندے به هیڅ باك نۀ کوی لکه هیر شوے شیے، چه د هغے هیڅ لحاظ او باك نۀ کیږی. (المنار)

| |
|---|
| وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِیْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْکُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ |
| وعده کړیده الله د منافقانو سړو او منافقانو ښځو سره او کافرانو سره د اُور د جهنم |
| خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ هِیَ حَسْبُهُمْ ج |
| همیشه به وی په هغے کښ، دا اُور کافی دے دوی لره (په سزا کښ) |
| وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِیْمٌ ﴿۶۸﴾ |
| او لعنت کړیدے په دوی باندے الله تعالیٰ او دوی لره عذاب دے همیشه. |

**تفسیر** : وَعَدَ : په خیر او شر دواړو کښ استعمالیږی او وعید صرف په شر پورے خاص دے.

وَالْمُنٰفِقٰتِ : دلتـه ئے منافقے ښځے ذکر کړے، اشاره ده چه په ښځو کښ هم د سړو په شان منافقـت راتلے شی. او د کـافـرو ذکـر ئے د منافقانو نه روستو کړو پدے کښ اشاره ده چه منافقانو اګرکه اسلام راښکاره کړیدے او د اسلام اعمال کوی لیکن دوی د ښکاره کافرانو نه هم ډیر بد تر او شر والا دی.

هِیَ حَسْبُهُمْ : اَیْ فِی الْاِیْلَامِ. یعنی په درد رسولو کښ دوی ته دا عذاب کافی دے یعنی کـه الله تـعـالیٰ نـور عذاب ورنکړی هم دغه عذاب ئے بس دے، او ددے سره دا منع نۀ ده چه نور عذاب به نۀ ورکوی.

یا مطلب دا دے چه دا د دوی د کفر سره برابره سزا ده ځکه چه د دوی کفر هم همیشه او لوی وو او عذاب به هم لوی او همیشه وی.

وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ: یـعـنـی ددے سره ئے د خپلے دروازے نـه هم شړلی او د خپل رحمت نه ئے ورانده کړیدی.

عَذَابٌ مُّقِیْمٌ : ۱- یعنـی بـل قسم عذاب به وی چه د اُور نه ماسِویٰ به وی چه هغه به همیشه وی لـکـه زمهریر. یا دا چه قیامت کښ به ورته الله تعالیٰ خپل مخ نۀ ښائی، ملاقات به ورسره نۀ کوی او عـزت بـه نـۀ ورکـوی، دارنګه د جنتیانو نعمتونو ته به ئے

وربنکاره کوی او د هغې په وجه به ورله په زړونو کښې غمونه زیاتوی۔ (المنار)
۲- یا په دنیا کښې عذاب مراد دے چه د منافقت مشقتونه به برداشت کوی ځکه چه دوی همیشه پدے یره کښې وی چه چرته مسلمانان د دوی په منافقت خبر نشی۔ (فتح البیان والمنار) او منافقت د الله تعالیٰ دشمنی ده او الله تعالیٰ خپل دشمن په راحت کښې نهٔ پریدی بلکه همیشه به ئے شرموی او فضائح (شرمونه او عیبونه) به ورله بیانوی۔

**فائده** : د دوی په سزا کښې ئے د مخکښنو کفارو نه زیادت وکړو ځکه چه دلته هغه خلك مراد دی چه په کفر او منافقت کښې پاخهٔ شوی وی او مخکښنی کافران شخصی کافران وو، د الله او د رسول نافرمانه وو، نو د هغوی ضرر هم شخصی وو او د منافقانو او کفارو جماعتونه ډیر ضرر والا دی نو سزا ئے هم زیاته شوه۔ (المنار)

| |
|---|
| كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ |
| تاسو یئ په شان د هغه کسانو چه مخکښې ووستاسو نه، وو هغوی ډیر سخت |
| مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۭ فَاسْتَمْتَعُوْا |
| ستاسو نه په طاقت کښې او زیات وو په مالونو او اولادو کښې، نو فائدے واخستے هغوی |
| بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا |
| په خپله برخه سره (د دین نه) نو تاسو هم فائده واخسته په برخه ستاسو په شان د هغې |
| اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ |
| چه فائده اخستے وه هغه کسانو چه مخکښې وو ستاسو نه په برخه خپله |
| وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ۭ |
| او مشغوله شوئ تاسو په شان د هغې کسانو چه مشغوله شوی وو۔ (یا : بکواس وکړو |
| اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا |
| تاسو په شان د هغې چه بکواس کړے وو هغوی) دا کسان برباد دی عملونه د دوی په دنیا |
| وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ |
| او آخرت کښې او دا کسان هم دوی تاوان والا دی۔ |

**تفسیر** : مناسبت : مخکښې د جنس منافقانو صفات او حال بیان شو چه په هره زمانه کښې وی نو اُوس خطاب کوی هغه منافقانو ته چه د هغوی په باره کښې مخکنی او روستنی آیتونه نازل شوی وو۔ (المنار)

یعنی ستاسو حال د هغه قومونو په شان دے چه ستاسو نه مخکښې تیر شویدی، په هغوی هم الله تعالیٰ ستاسو په شان انعام کړے، هغوی د جسمانی قوت، مال او دولت او اولادو په اعتبار سره ستاسو نه زیات ښهٔ حالت کښې وو، او هغوی ددے دنیاوی نعمتونو نه ښه فائده واخسته، ښے مزے ئے اُوکړو او په کبر او غرور کښې مبتلا شو او ستاسو په شان د الله تعالیٰ د دین او د هغهٔ د رسول خلاف سازشونه ئے شروع کړل، او د هغے پورے ئے توقے کولے نو الله تعالیٰ راونیول، په دنیا کښې ذلیل او رسوا شو او آخرت خو د دوی برباد دے۔ نو اے منافقانو ! تاسو هم ښے مزے واخلئ او د آخرت نه غافل د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو په ضررونو پسے شئ، پدے وجه ستاسو به هم انجام د هغه خلقو په شان وی۔

**كَالَّذِيْنَ** : ١- اَیْ فَعَلْتُمْ كَفِعْلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِالْعُدُوْلِ عَنْ اَمْرِ اللّٰهِ فَلُعِنْتُمْ كَمَا لُعِنُوْا] (بغوی) یعنی تاسو داسے کار وکړو لکه څنګه چه ستاسو نه مخکنو خلکو کړے وو چه هغه د الله تعالیٰ د حکمونو نه اوړیدل دی نو په تاسو به هم د هغوی په شان لعنت وشی۔

٢- یا [اَنْتُمْ مِثْلَ الَّذِيْنَ قَبْلَكُمْ] تاسو د پخوانو په شان یئ په کفر کښې۔

٣- زجاج وائی : دا د مخکښې (وَعَدَ اللّٰهُ) سره متعلق دے اَیْ وَعَدَ اللّٰهُ الْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ وَعْدًا كَمَا وَعَدَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ] الله تعالیٰ د کافرانو سره د اُور د جهنم وعده کړیده لکه څنګه ئے چه د دوی نه د مخکنو سره د جهنم وعده کړے وه۔ (القرطبی، وفتح البیان)

**اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً** : اَیْ بَطْشًا فِی الْاَبْدَانِ وَمَنَعَةً مِنْ هٰؤُلَاءِ الْكُفَّارِ وَالْمُنَافِقِيْنَ الْمُعَاصِرِيْنَ لِلنَّبِیِّ ﷺ]۔ یعنی هغوی ستاسو نه د بدن په طاقت او د نفس په حفاظت کښې سخت وو ددے کافرانو او منافقانو نه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دی۔ او هغوی د خپل ځان نه د الله تعالیٰ عذاب پورته نکړے شو نو دوی به ئے څه پورته کړے شی۔ (قرطبی وفتح البیان)

او دا متعلق دے د (لَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ) سره یعنی که دوی وائی چه مونږ سره طاقت دے پدے به د عذاب نه خلاص شو نو جواب وشو چه ستاسو نه پخوانو سره ډیر طاقتونه وو قوة الابدان او قوة المال والاولاد ورسره وو لیکن د عذابونو نه بچ نشو۔

**فَاسْتَمْتَعُوْا**: پدے کښې د هغوی دوه مرضونه بیانوی چه پدے سره ورته سزا ملاؤ شوه، او دغه مرضونه تاسو کښې هم دی نو تاسو هم د سزا انتظار وکړئ۔

بِخَلَاقِهِمْ: ددې دوه مصداقه دي (١) نَصِيْبُهُمْ مِنْ لَذَّاتِ الدُّنْيَا ـ يعنى د دوى برخه د دنيا د خوندونه چه دوى د دنيا د څيزونو نه خوندونه او مزې واخستلې، خوراکونه څکاکونه، نکاحونه ئې استعمال کړل. نو دوى د دنيا فائدې خو واخستې ليکن آخرت ته ئې هيڅ پرينښودل نو دغه کار تاسو هم وکړو.

(٢) ابن کثيرؒ د ابو هريره ؓ نه نقل کوى چه هغه فرمائى : خلاق په معنىٰ د دين سره دې، يعنى پخوانو کښې هم منافقان موجود وو چه هغوى هم د دين نه فائده اخستې وه چه په دين باندې ئې د خپلې وينې حفاظت کړې وو، او د دين په وجه به دوى ته خيرات زکاة ورکړې کيدو، لکه د ډيرو انسانانو دپاره دين د تجارت ذريعه ده، په دين باندې مزې کوى. سلفو به پدې وجه ډير احتياط کولو او په دين باندې به ئې مزې د دنيا نۀ اخستلې، لکه د مِسْعَر بن كِدَامؒ په باره کښې راغلى دى چه دۀ يو شے اخستلو نو چا بائع (خرڅونکى) ته ووئيل چه دا پيژنې؟ هغه ووئيل : نۀ، ورته ئې ووئيل : دا خو مسعر (بزرګ) دې نو مسعر پدې آوريدو سره روان شو او دا ئې ووئيل : [إِنَّمَا نَشْتَرِىْ بِأَمْوَالِنَا وَلَا نَشْتَرِىْ بِدِيْنِنَا] مونږ خو څيزونه په خپلو مالونو سره اخلو نۀ په خپل دين سره.

لکه دلته منافقانو د دين نه فائدې واخستلې چه وينه ئې محفوظ شوه او د غنيمت مالونه به ورته ورکړې کيدل او نکاحونه به ورسره کيدل او په مينځ کښې کافران وو. نو دې منافقانو دواړه کارونه وکړل د دنيا نه ئې هم خوندونه واخستل او د دين نه ئې هم د دنيا فائدې واخستې. دا يو مرض شو.

وَخُضْتُمْ: دا دويم مرض دې. اَىْ فِى الْبَاطِلِ وَالطَّعْنِ فِى الدِّيْنِ ـ يعنى تاسو په باطل کښې ننوتئ او په دين باندې مو طعنونه ولګول لکه د پخوانو خلکو په شان نو د هغوى عمل برباد نو ستاسو هم برباد دې.

كَالَّذِىْ خَاضُوْا : ١- دلته (الذى) مفرد په معنىٰ د جمع دې اَىْ كَالَّذِيْنَ خَاضُوْا ـ يعنى لکه پخوانى خلك چه په باطل کښې ننوتى وو او په دين کښې ئې بکواس کړې وو.

٢- يا الذى نه مراد خوض دې (اَىْ خُضْتُمْ خَوْضًا كَالَّذِىْ خَاضُوْا) ـ تاسو بکواس وکړو په شان د هغه بکواس چه هغوى کړې وو. (فتح البيان) اَىْ خُضْتُمْ كَخَوْضِهِمْ.

خَاضَ الْمَاءَ، اَخُوْضُهٗ خَوْضًا وَخِيَاضًا ـ په معنىٰ د داخليدو او تيريدو سره دې. مخاضة هغه ځاى ته وائى چه خلك په کښې پياده او سوارۀ تيريږى.

[اَىْ خُضْتُمْ فِىْ أَسْبَابِ الدُّنْيَا وَاللَّهْوِ وَاللَّعِبِ، وَقِيْلَ فِىْ أَمْرِ مُحَمَّدٍ بِالتَّكْذِيْبِ وَدَخَلْتُمْ فِىْ

ذٰلِكَ] (فتح والقرطبی ۸/۲۰۱) يعنی تاسو د دنيا په سامانونو او لهو او لعب کښې داسې ننوتئ او مشغول شوئ لکه د پخوانو په شان. يا د رسول الله ﷺ په باره کښې مو د پخوانو په شان تکذيب شروع کړو او پدې کښې مشغول شوئ.

حَبِطَتْ: يعنی د مخکنو خلکو عمل برباد شو او په آخرت کښې تاوانيان شو [فَاَنْتُمْ كَذٰلِكَ] نو تاسو هم دغه شان شوئ. ځکه چه د الله تعالیٰ قانون يو شان وی، داسې نۀ ده چه هغوی دې خوض او استمتاع کوی او عملونه دې ئې بربادېږی، او ستاسو دې پدې کارونو سره عمل نۀ بربادېږی دا خو بيا فرق بين الْمُتَمَاثِلَيْن راځی او الله تعالیٰ دا نۀ کوی.

**فائده ۱**: انسان کښې دوه مرضونه هغۀ لره هلاکوی.

(۱) مَرَضُ الشَّهَوَات. د شهواتو بيماری، دا په اِسْتِمْتَاع کښې ذکر دې.

(۲) دويم مَرَضُ الشُّبُهَات (دا د عقيدې خرابوالې دې) دا په (خُضْتُمْ كَالَّذِیْ خَاضُوْا) کښې ذکر دې، او اولنې مرض د عُصَاتو (نافرمانو) دې. او دويم مرض د مبتدعينو دې. د دوی طريقه دا ده چه دين کښې نوې خبرې او بکواس راننباسی او د صحيح دين پورې توقې او مسخرې کوی.

**فائده ۲**: پدې آيت کښې سلفو (سفيان الثوریؒ) دا هم وئيلی دی:

[تَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ فِتْنَةِ الْعَابِدِ الْجَاهِلِ وَفِتْنَةِ الْعَالِمِ الْفَاجِرِ فَاِنَّ فِتْنَتَهُمَا فِتْنَةٌ لِكُلِّ مَفْتُوْنٍ]

(د جاهل عابد او د بدکاره عالم د فتنې نه په الله پورې پناه وغواړئ ځکه چه هر سړې چه په فتنه کښې پريوځی نو د دوی دواړو په وجه سره. او عامر الشعبیؒ وائی: اِحْذَرُوْا فِتْنَةَ الْعَالِمِ الْفَاجِرِ الخ. (وېرېږئ د فتنې د بدکاره عالم او ناپوهه عابد نه).

(اخلاق العلماء) للآجری ص (۷۵) والزهد لابن المبارك رقم (۷۵) المدخل الی السنن الکبری للبيهقی رقم: (۴۳۸)

نو دلته خوض والا هم فاجر عالم دې چه په دين کښې د ځان نه خبرې کوی او د ځان نه غير لازم شې لازمول او پيری او مريدی او وسيلې نيول، او د موضوع او منکرت رواياتو ايجاد کول د دوی کار دې.

| |
|---|
| اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ |
| آيا نۀ دې راغلې دوی ته خبر د هغه کسانو چه مخکښې وو د دوی نه قوم د نوح او عاديان |

| |
|---|
| وَثَمُوْدَ ۵ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ط |
| او ثمودیان او قوم د ابراهیم (علیه السلام) او اُوسیدونکی د مدین او هغه کلی چه اُلته کړے |
| اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ج فَمَا كَانَ اللهُ |
| شویدی، راغلی وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلیلونو سره نو نهٔ وو الله تعالیٰ |
| لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٧٠﴾ |
| چه ظلم ئے کړے وے په دوی باندے، لیکن وو دوی چه د خپلو ځانونو سره ئے ظلم کولو۔ |

**تفسیر**: سوال پیدا شو چه دا کوم پخوانی قومونه دی چه سره د طاقتونو نه الله تعالیٰ هلاك کړل ددے مثال به څه وی؟ نو الله تعالیٰ ددے مثال بیانوی۔

په بل تعبیر: په تیر شوی آیت کښې اجمالًا ووئیل شو چه د منافقانو حال د تیر شوی قومونو په شان دے کوم چه مخکښې هلاك شویدی۔ دلته د هغه قومونو د شپږو قومونو حالات بیانیږی، او منافقانو ته وئیلے کیږی چه آیا دوی د هغه قومونو په باره کښې نهٔ دی آوریدلی چه کله هغوی د الله تعالیٰ نه سرکشی وکړه نو د هغوی انجام څه شو، د نوح علیه السلام قوم د طوفان په ذریعه هلاك کړے شو، عادیان قوم په تیزه هوا سره او د ثمودیانو قوم په زلزلے او چغې سره، او د ابراهیم علیه السلام د قوم بادشاه نمرود د ماشی په ذریعه چه د هغهٔ په پوزه کښې دماغو ته رسیدلے وو، او د هغهٔ د هلاکت سبب جوړ شو، او باقی قوم ئے هم په ماشو سره هلاك شو۔

قوم د مدین یعنی قوم د شعیب علیه السلام ئے په زلزله او د اُور په باران سره، او د لوط علیه السلام د قوم کلی اُلته کړے شو او بیا په هغوی د کاڼړو باران وکړے شو۔ ددے قومونو سره چه څه وشو دا د الله تعالیٰ د طرف نه په دوی ظلم نهٔ وو بلکه د دوی د کفر او د انبیاؤ علیهم السلام د تکذیب او د الله تعالیٰ د ناشکریٔ په وجه سره وشو۔

وَالْمُؤْتَفِكٰتِ: ددے نه مراد یا د لوط علیه السلام د قوم کلی دی چه دا حقیقةً الله تعالیٰ پورته کړل او بیرته ئے زمکے ته سرخکته راوبشتل۔ یا ددے نه مراد د مکذبینو قومونو مطلق کلی دی نو دا اګرکه نهٔ دی اُلته کړے شی لیکن د دوی حالت د خیر نه شر طرفته اُلته کړے شو نو دوی مشابه شو د خَسف سره۔ او د مؤتفکات نه مراد اصحاب المؤتفکات دی یعنی خاوندان او وسیدونکی د هغه کلو چه اُلته کړے شویدی۔

اَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُمۡ : دا استیناف دے، جواب د سوال دے چه دوی ته به څوك یره ورکونکی نهٔ وو راغلی؟ نو اَللہ تعالیٰ فرمائی : دوی ته د دوی د قومونو رسولان راغلی وو او دوی ئے بنهٔ پوهه کړی وو۔ خو دوی به په دنیا کښں مزے کولے او د دین او د مؤمنانو پورے به ئے توقے کولے نو اللہ تعالیٰ څنګه هلاك کړل نو اے منافقانو ! تاسو به هم اللہ تعالیٰ د دغه کافرانو په شان هلاك کړی۔

بیا دلته وقف دے [فَکَذَّبُوۡا فَعُذِّبُوۡا] هغوی تکذیب وکړو نو اللہ تعالیٰ ورته عذاب ورکړو۔

نو سوال پیدا شو چه دا عذاب ورکول به ظلم وی نو اللہ تعالیٰ جواب کوی :

فَمَا کَانَ اللّٰہُ لِیَظۡلِمَهُمۡ : یعنی دا عذاب په دوی باندے ظلم نهٔ دے ځکه چه دوی ته اللہ تعالیٰ وئیلی وو چه د کفر سره عذاب تړلے شویدے، دوی کفر راواخستو نو عذاب پرے راغلو نو دا د اللہ تعالیٰ د طرفه ظلم نشو بلکه عدل دے۔

| |
|---|
| وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتُ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِیَآءُ بَعۡضٍ ۘ یَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ |
| او مؤمنان سړی او مؤمنے ښځے بعض د دوی دوستان د بعضو دی، حکم کوی په نیکئ |
| وَیَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡکَرِ وَیُقِیۡمُوۡنَ الصَّلٰوۃَ وَیُؤۡتُوۡنَ الزَّکٰوۃَ وَیُطِیۡعُوۡنَ اللّٰہَ |
| او منع کوی د بدئ نه او پابندی کوی د مانځه او ورکوی زکاة او تابعداری کوی د اللہ |
| وَرَسُوۡلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَیَرۡحَمُهُمُ اللّٰہُ ؕ |
| او د رسول د هغه، دا کسان زردے چه رحم به اُوکړی په دوی باندے اللہ |
| اِنَّ اللّٰہَ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ ﴿۷۱﴾ |
| یقیناً اللہ زورور حکمتونو والا دے۔ |

**تفسیر** : د منافقانو سړو او د منافقاتو (ښځو) د بدو صفاتو د بیانولو نه روستو اُوس دلته د مؤمنانو او د مؤمناتو ښائسته صفات بیانیږی چه دوی د یو بل سره د زړهٔ نه محبت کوی ځکه چه په اللہ تعالیٰ او د هغهٔ په رسول باندے د ایمان راوړو تقاضا همدا ده، نو د محبت نه مراد دا دے چه د دوی زړونه په محبت او میلان او شفقت کښں او د کلمے په یو والی کښں او د یو بل سره په تعاون او مدد کولو کښں یو شان دی ځکه چه دوی ټول په اللہ تعالیٰ باندے په ایمان راوړو کښں او د دین په منلو کښں یو ځای دی۔

او دے ته د الله تعالیٰ دپاره محبت وائی چه یو مؤمن چه د بل په باره کښې خبر شي چه د دین کار کوی او نیك اعمالو کښې مصروف دے، نو د هغه سره ئې د الله تعالیٰ دپاره مینه پیدا شي، او دعا هم ورته کوی اګرکه د دنیا په آخر سر کښې وی او ملاقات ئې هم ورسره نهٔ وی شوے، او دغه شان که د یو بنځے په باره کښې د دغه شان ښهٔ حال نه خبر شي۔ او دا غلط محبت نهٔ دے۔ او ددے نه معلومه شوه چه مؤمن به دے ته وائی چه د بل مؤمن سره به ئې محبت وی که مینه پکښې نهٔ وی نو دا هسے لرګے دے۔

يَأْمُرُوْنَ: اُوس د دوی ښائسته صفتونه بیانوی دے دپاره چه د منافقانو نه پوره جدائی راشي۔ یعنی خلقو ته د نیکئ حکم کوی په هغے کښې د ټولو نه اول د الله تعالیٰ توحید او صرف د هغهٔ عبادت ته دعوت ورکول دی۔ او د بدئ نه منع کوی او د الله په ذکر کښې مشغول پاتے کیدو دپاره د مونځونو حفاظت کوی، او د منافقانو په شان خپل لاسونه نهٔ راټاووی بلکه که الله تعالیٰ مال ورکړے وی نو د هغے زکاة ورکوی او د هغے نه خیر خیرات او صدقات کوی او د سرکشئ لاره نهٔ اختیاروی بلکه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول اطاعت کوی۔

وَيُطِيْعُوْنَ اللهَ: دا تعمیم بعد التخصیص دے، یعنی په ټولو کارونو کښې د الله تعالیٰ او د رسول تابعداری کوی، او د دوی په خلاف منافقانو کښې کامل فسق او د طاعت نه وتل دی۔

اُولٰٓـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللهُ: او ددے خوبیانو په وجه سره په دنیا کښې په دوی د الله تعالیٰ رحمت نازلیږی۔ سین کښې معنیٰ د قرب او نزدے والی ده، یا سین د تاکید دپاره دے۔

اِنَّ اللهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ: دا علت د (سَيَرْحَمُهُمُ اللهُ) دے۔ او په دے کښې ترغیب او ترهیب دے۔ یعنی الله تعالیٰ غالبه دے په وعده او وعید پوره کولو۔ او حکیم دے چه هره خبره او کار کښې ئې حکمة دے، هر شے په خپل مناسب ځای کښې اړدی۔ (فتح)

| |
|---|
| وَعَدَ اللهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا |
| وعده کړیده الله د مؤمنو سړو او مؤمنو ښځو سره د جنتونو چه بهیږی به لاندے د هغے |
| الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ |
| نه نهرونه همیشه به وی په هغے کښې او د کورونو مزیدارو په جنتو د همیشوالی کښې |

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ اَكْبَرُ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٧٢﴾

او رضامندي د الله ډیر لوئي نعمت دے، دا کامیابي لویه ده۔

**تفسیر** : اُوس تفصیل د هغه خیزونو ذکر کوي چه هغه د الله تعالیٰ د رحمت نه پیدا کیږي۔

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً : د جنت تذکره د قرآن په هر مقام کښ کیږي لیکن د (وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً) تذکره ورسره صرف دلته او سورة الصف (۱۲) آیت کښ شویده، ددے راز دا معلومیږي چه دا دواړه جهادي سورتونه دي، او په جهاد کښ بنده خپل کور پریدي او بهر سفرے کوي په میاشتو میاشتو، او مزیدار کور ترے پاتے وي نو الله تعالیٰ ورته جزاء مِنْ جِنْسِ الْعَمَل ورکوي چه الله تعالیٰ به ددے په بدله کښ پاك کورونه درکړي چه ستا د کور نه به په ډیرو چندونو غوره وي۔

جَنّٰتِ عَدْنٍ : جنة عدن د یو خاص جنت نوم هم دے۔ ځیني وائي : دا اعلیٰ جنت دے، (عطاء الخراسانیؒ) او ځیني وائي چه دا درمیانه درجه دے، (ابن مسعودؓ)

او ځیني وائي چه دا د سروزرو بنګلے دي چه صرف نبي او صدیق او شهید به ورته داخلیږي۔ (الحسن) (فتح البیان والقرطبیؒ)

او جنات عدن د عامو جنتونو صفت دے او دا اضافت د موصوف دے صفت ته او د عدن معنیٰ ده همیشوالے، لکه عرب وائي : عَدَنَ بِالْمَكَانِ اَیْ اَقَامَ بِهٖ ۔ په یو ځای کښ ووسیدو۔ یعني جنتونه د همیشوالي۔ بیا دلته عدن صفت د جنت دے او خُلُود صفت د جنتیانو دے او دا ورسره ځکه وائي چه کور به هم همیشه وي، او دوی به هم پکښ همیشه وي، په دنیا کښ کله انسان د یو ښائسته کور نه مړ شي او کله د انسان کور راپریوځي۔

پدے آیت کښ په څلورو طریقو سره د جنت صفت بیان شویدے۔

وَرِضْوَانٌ : تنوین د تقلیل دپاره دے۔ یعني معمولي شان رضا د طرفه د الله تعالیٰ نه د هر هغه څیز نه ډیره لویه ده چه دوی ته ئے الله تعالیٰ ورکوي۔ ځکه چه پدے سره ټول نعمتونه او خیرونه او شرافتونه او سرداریاني حاصلیږي۔

او دا ئے د مخکښ نه جدا راوړو پدے کښ اشاره ده چه دغه مخکنئ ټولے وعدے د الله تعالیٰ په رضا کولو سره حاصلیږي۔ او دا دلیل دے چه هیڅ یو نعمت اګرکه ډیر لوی وي د الله سبحانه د رضا سره برابر نهٔ دے۔ اے الله ! مونږ د خپلے رضا نه مهٔ محرومه وه او مونږ نه

هميشه دپاره راضي شه آمين يا رب العالمين۔

امام مالك او بخاريؒ او مسلمؒ د ابوسعيد خدري ﷺ نه روايت كړيدے چه الله تعالىٰ به جنتيانو نه تپوس وكړي چه آيا تاسو خوشحاله يئ؟ نو دوى به وائي چه اے زمونږ ربه! مونږ به ولے نۀ يو خوشحاله تا خو مونږ ته هغه څه راكړيدى چه د خپل مخلوق نه هيچا ته دِے نۀ دى وركړى۔ نو الله تعالىٰ به ووائي چه آيا زۀ تاسو ته ددے نه هم ډير غوره شے نۀ دركوم؟ نو دوى به تپوس وكړي، يا الله! ددے نه ډير غوره څه شے كيدے شي؟ نو الله به وائي [أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِيْ فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا] چه زۀ به نن ستاسو نه خوشحاله يم، دے نه پس به هيڅكله هم ستاسو نه نۀ ناراضه كيږم۔

(بخاري في الرقاق باب ٥١، والتوحيد باب: ٣٨ ومسلم في الجنة حديث: ٩)

**ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ** ۔ دا لفظ كله بغير د (هُوَ) نه او كله سره د (هُوَ) نه ذكر كيږي، نو كوم ځاى كښې چه د الله تعالىٰ تعلق ورسره ذكر وي نو هلته به (هُوَ) كلمه زياتيږي۔ او چه د الله تعالىٰ ورسره ملګرے نۀ وي نو بيا بغير د (هُوَ) نه راځي۔

اسم او خبر دواړه ئے معرفه راوړل، اشاره ده حصر ته چه ددے كاميابئ نه اخوا بل شے د كاميابئ نشته، پوره كاميابي همدا ده چه د بنده نه الله تعالىٰ راضي شو۔

| |
|---|
| يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ط |
| اے نبي! جهاد كوئ د كافرانو او منافقانو سره او سختي كوه په دوى باندے، |
| وَمَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ط وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٧٣﴾ |
| او ځاى د اُوسيدو د دوى جهنم دے او بد دے ځائے د ورتللو (دا جهنم)۔ |

**تفسير**: پدے حصه كښې د منافقانو سره جهاد ذكر كيدو نو پدے وجه د منافقانو بد صفات ذكر كوي۔

الله تعالىٰ خپل نبي ﷺ ته حكم كړيدے چه د كافرانو او منافقانو په خلاف جهاد وكړي او د نبي ﷺ نه روستو ترقيامته پورے دا حكم مسلمانانو دپاره هم دے۔

او كافرانو سره جهاد دا دے چه د هغوى سره جنګ وكړے شي تردے پورے چه اسلام راوړي، يا كه يهود او نصارىٰ دى او اسلام نۀ راوړي نو په ذلت او رسوائي سره جزيه وركړي، لكه چه ددے سورت په آيت (٢٩) كښې تير شويدى۔ او په زړونو كښې د هغوى بد

ګنړل او په ژبه باندې په هغوی رد کول جهاد دې۔

## د منافقانو سره د جهاد صورتونه

او د منافقانو سره جهاد دا دې چه (۱) د دلائلو او براهینو په ذریعه د دوی په خلاف په ژبه او بیان سره حجت قائم کړې شي تردې پورې چه توبه ویستلو سره په اسلام کښې داخل شي۔ (۲) بِاِذْهَابِ الرِّفْقِ عَنْهُمْ۔ د هغوی سره نرمي نۀ کول۔ (لکه روستو وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ پرې دلیل دې)۔ (۳) بِاِكْفِهْرَارِ الْوَجْهِ۔ مخ او تندې ورته تریوه ول۔

(٤) اِقَامَةُ الْحُدُوْدِ عَلَيْهِمْ۔ (حسنؒ واختاره قتادة- فتح البيان) په هغوی باندې حدود قائمول۔

(٥) وَبِالْاِنْتِهَارِ تَارَةً (قول ابن مسعودؓ) کله نا کله هغوی لره رټل۔ (فتح البيان)

**وَاغْلُظْ عَلَيْهِم** : یعنی د دواړو ډلو سره سختي وکړئ په رټلو او غصه او جهاد سره۔

په دین کښې سختي هم شته او دا د اپریشن درجه ده، او دا اپریشن هر شخص نشي کولې بلکه د دین ماهرین او سپیشلسټ خلك ئې کوي، ډیر کرته یو تن به تا ته منافق ښکاري او په مینځ کښې به هغه منافق نۀ وي، نو تا به بې ځایه سختي کړې وي، بلکه سختي به په خپله موقعه او خپل ځای کښې کولې شي او کله چه سختي په خپله موقعه کښې وکړې شي نو په هغې سره د منافق او دارنګه د نورو خلکو ډیره اصلاح کیږي۔

**وَمَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ** : یعنی ځای د وسیدو د دوی جهنم دې۔ ابو البقاءَ وئیلي دي چه پدې مقام کښې فاء راوړل ډیر مناسب وو نو واو څرنګ راوړل شو ؟ نو ددې ئې بیا درې جوابونه ذکر کړیدي (۱) یو دا چه دا واو حالیه دې او دا د دوی د کفر حالت بیانیږي۔ یعنی دغه کارونه د دوی سره وکړئ په داسې حال کښې چه دوی د جهنم مستحق دي۔

(۲) یا دلته وَاعْلَمْ لفظ پټ دې۔ یعنی پوهه شه چه د دوی عاقبت او ځای د وسیدو جهنم دې۔ (۳) دریم دا چه دا کلام په معنیٰ باندې حمل دې او معنیٰ دا ده چه دوی له دوه عذابونه راجمع دي د دنیا عذاب په جهاد او سختئ سره، او د آخرت عذاب په جهنم سره ځکه چه د دوی د وسیدو ځای به جهنم وي۔

(٤) ابو السعودؒ وائي : دا جمله مستأنفه ده او پدې کښې د دوی د کار عاقبت ذکر دې او مخکښې د دوی دنیاوي حال ذکر وو۔ یعنی په دنیا کښې خو به دوی سره د کفر او منافقت په وجه سختي وکړې شي او په آخرت کښې به جهنم ته داخل شي۔ (فتح البيان)

| |
|---|
| يَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوۡا ؕ وَلَقَدۡ قَالُوۡا |
| قسمونه کوی دوی په الله چه نهٔ دي وئیلي دوی (ستا په باره کښې) او یقیناً وئیلي دي دوی |
| كَلِمَةَ الۡكُفۡرِ وَكَفَرُوۡا بَعۡدَ اِسۡلَامِهِمۡ وَهَمُّوۡا بِمَا |
| کلمه د کفر او کفر ئې کړیدے روستو د اسلام خپل نه او قصد ئې کړیدے د هغه څه |
| لَمۡ يَنَالُوۡا ۚ وَمَا نَقَمُوۡۤا اِلَّاۤ اَنۡ اَغۡنٰـهُمُ اللّٰهُ |
| چه حاصل ئې نه کړو او عیب نهٔ لګوی دوی مګر دا چه مالداره کړل دوی لره الله تعالیٰ |
| وَرَسُوۡلُهٗ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۚ فَاِنۡ يَّتُوۡبُوۡا يَكُ خَيۡرًا لَّهُمۡ ۚ |
| او رسول د هغه د فضل خپل نه نو که توبه اُوباسی دوی وی به غوره دوی له |
| وَاِنۡ يَّتَوَلَّوۡا يُعَذِّبۡهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۙ فِى الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ۚ |
| او که مخ اړوی نو عذاب به ورکړی دوی ته الله تعالی عذاب دردناك په دنیا او آخرت کښې |
| وَمَا لَهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۷۴﴾ |
| او نهٔ به وی دوی له په زمکه کښې څوك دوست او نهٔ مددګار۔ |

**تفسیر**: سوال پیدا شو چه دوی سره چه منافقانو سره سختی او جهاد ولے پکار دے؟
جواب کیږی چه دوی کښې دا جرمونه دی په الله تعالیٰ باندے په دروغه قسمونه خوری او نور عیبونه پکښې راجمع دی نو دوی د جهاد او سختیٔ لائق دی۔

## شان نزول

د تفسیر علماؤ ددے آیت د شان نزول بیانولو دپاره چه کوم واقعات بیان کړیدی، د هغے نه اندازه کیږی چه د تبوك د غزا د تیاریٔ په دوران کښې، او ددے غزا په سفر کښې او په تبوك مقام کښې د قیام په دوران کښې او د واپسیٔ نه روستو د منافقانو د ژبو نه ډیر کفری کلمات وتلی وو او دغه شان نورو غزواتو کښې هم۔ او کله چه به هم رسول الله ﷺ ته د هغے خبر کیدو او د دوی نه به ئې تپوس کولو نو دروغ به ئې وئیل او قسمونه به ئې خوړل او دا یقین به ئې ورکولو چه مونږ خو مخلص مسلمانان یو، او مونږ دا خبرے نهٔ دی کړی، پدے وجه پدے سورت کښې د تبوك د غزا په موقعه د منافقانو د حالاتو بیانولو سره سره ډیر کرته دا

خبره ذکر شویده چه منافقان قسمونو خوړلو سره په خپلو دروغو پرده اچول غواړي۔
ددې نه دوه واقعات زيات مشهور دي، يو د عبد الله بن اُبی ابن سلول ده چه په غزا د بنی المصطلق کښې دهٔ انصار د غير انصارو په خلاف راپورته کولو اراده کړې وه، او وئيلی ئې وو چه ددې خلکو مثال داسې دې لکه پخوانو عربو به وئيل : (سَمِّنْ كَلْبَكَ يَأْكُلْكَ) يعنی سپی ته خوراك ورکره چاق ئې کړه، دې دپاره چه تا وخوري۔ او وئيلی ئې وو چه د مدينې د واپسئ نه روستو به عزتمند سړې ذليل سړي لره وباسي۔ او د عزتمند نه ئې ځان او د ذليل نه ئې (خُله دِې د خاورونه ډکه شي) رسول الله ﷺ مراد اخستلو۔ او کله چه رسول الله ﷺ ته خبر وشو او د هغه نه ئې تپوس وکړو نو قسم ئې وخوړو چه دهٔ دا خبره نهٔ ده کړې۔ ددې واقعې تفصيل په تفسير د سورة المنافقون کښې راځي ان شاء الله تعالیٰ۔
او دويمه واقعه د جُلاس بن سُوَيد بن صامت ده چه کله د منافقانو د بدی بيانولو په باره کښې د قرآن کريم ډير آيتونه نازل شو نو دې تنګ شو او وې وئيل چه [لَئِنْ كَانَ مُحَمَّدٌ صَادِقًا لَنَحْنُ شَرٌّ مِنَ الْحَمِيرِ] که محمد (ﷺ) رشتينی وی زمونږ د ورونو په باره کښې چه هغوی زمونږ سرداران دی او زمونږ غوره خلك دې، مونږ به خامخا د خرونه هم زيات بد يو۔ نو عامر بن قيس ووئيل : آؤ محمد (ﷺ) رشتينی دې او ته د خر نه هم زيات شری ئې، نو عامر لاړو دا خبرئې رسول الله ﷺ ته بيان کړو، پدې کښې جلاس راغلو او قسم ئې وکړو چه ما دا خبره نهٔ ده کړې نو دا آيت نازل شو۔
ځينی وائي چه روستو جلاس توبه ويستلې وه۔ ظاهر دا ده چه دا د ټولو منافقانو خبره ده ځکه چه پدې قسم خبرو باندې هغوی راضي وو نو که يو تن يا دوه تنانو دا خبره کړې وی خو راضي پرې ټول وو نو ځکه ټولو ته نسبت کيږي۔ (فتح البيان)
كَلِمَةَ الْكُفْرِ : چه هغه سَبُّ النَّبِيِّ ﷺ دې (يعنی رسول الله ﷺ ته کنځل او بد رد وئيل دي) او هغه ته اذل وئيل او د هغه په خلاف عبد الله بن ابی ابن سلول ته د تاج ورپه سر کولو خبرِه کول دي۔
وَكَفَرُوا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ : يعنی دوی چه کوم ظاهراً مسلمانان حسابيدل هغه اسلام ئې هم ختم شو۔ او معنیٰ دا ده که بالفرض د دوی اسلام صحيح وی نو دوی داسې کار وکړو چه د دوی کفر ئې ثابت کړو۔
يا معنیٰ دا ده چه دوی پدې کلمې سره کافران شو او کفر ئې راښکاره شو پس د هغې نه چه دوی اسلام راښکاره کړې وو اګر که په زړهٔ کښې کافران وو۔ (فتح)

وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا : (يعنى دوى اراده كړے وه د هغه كار چه دوى ورته نشو رسيدلے) ددے نه مراد د رسول الله ﷺ د قتل اراده وه چه دولسو كسانو منافقانو چه په مخونو باندے ئے پرده اچولے وه، په تبوك كښې په يو كندو كښې د شپے اراده وكړه چه صحابه كرامؓ مخكښې روان دى، او رسول الله ﷺ روستو، كله چه رسول الله ﷺ دے كندو ته وخيژى نو ددے نه به ئے خكته گوزار كړو، كله چه رسول الله ﷺ دغه ځاى ته پورته شو نو منافقان په جلتئ ورغلل مگر رسول الله ﷺ ته وحى وشوه چه دوى ستا د قتل اراده لرى، نو هغه حذيفه بن اليمانؓ ته ووئيل چه د دوى د اسونو مخونه بل طرفته واړوى، نو هغه دغسے وكړل، بيا رسول الله ﷺ دوى لره راوغوښتل او ورته ئے ووئيل چه تاسو زما د قتل اراده كړے وه. مگر څه ئے ورته ونۀ وئيل صرف پيغورونه او سختے خبرے ئے ورته وكړے ځكه چه دوى په ظاهره كښې مسلمانان ياديدل. (صحيح مسلم او دلائل النبوة د بيهقىؒ وكتب السيرة)

۲- ځينى وائى : ددے هَم (ارادے) نه مراد د دوى عبد الله بن ابى ابن سلول ته تاج وريه سر كول دى.

وَمَانَقَمُوٓا : يعنى په نبى كريم ﷺ كښې بل هيڅ عيب نشته مگر د دوى په نيز دا عيب وو چه دوى الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ په راتللو سره مالداره كړل يعنى دوى كښې بل عيب نشته مگر دا چه دوى سره الله او د هغه رسول احسان كوى. نو كوم كار چه د صفت او مدح لائق وو هغه دوى عيب وگڼرلو. دا مدح مشابه بالذم ده.

وَمَانَقَمُوٓا : مَا أَنْكَرُوا وَمَا عَابُوا. يعنى دوى انكار نۀ كوى او عيب نۀ لگوى. (فتح البيان)

د رسول الله ﷺ د بعثت نه مخكښې مدينے والو په ډيره تنگئ كښې ژوند تيرولو. د رسول الله ﷺ مدينے ته د تشريف راوړو نه روستو د هغوى اقتصادى حالت ښۀ شو.

كله به هم چه د رسول الله ﷺ لاس ته د غنيمت مال راتلو نو په دوى كښې به ئے تقسيمولو او د نورو مالونو په ذريعه به ئے هم د دوى ضرورتونه پوره كول. او د جلاس يو غلام قتل شو نو رسول الله ﷺ هغه ته د هغه ديت وركړو چه د هغے په وجه سره هغه مالداره شو. گويا كه الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ په وجه او ذريعه سره ښۀ انعامات وركړل. ددے احسان بدله دا كيدل پكار وو چه دوى د نبى ﷺ شكر ادا كړے وے ليكن ددے په خلاف منافقانو د هغۀ د قتل اراده وكړه. څه ډيره ښه خبره چا كړيده چه

((په چا باندے احسان كوے نو د هغه د شر نه يره كوه)).

فَضْلِهِ : دا ضمير صرف الله تعالىٰ ته راجع دے ځكه چه الله تعالىٰ مال راوړو او رسول الله

ﷺ تقسیم کړو۔

فَإِنْ يَتُوبُوا : الله تعالیٰ دوی ته د توبې دعوت ورکوی، او دا د الله تعالیٰ ډیره مهربانی ده چه بنده د هغه نه سرکشی کوی، الله تعالیٰ ورته د توبې دعوت ورکوی چه ګندګی ئے صفا شي۔

خَيْرًا لَّهُمْ : یعنی په دین او دنیا کښې د دوی دپاره فائده منه ده۔ په دنیا کښې ځکه چه پدے کښې روحی او علمی فوائد حاصلیږی چه هغه په الله تعالیٰ باندے ایمان لرل دی، او په هغهٔ باندے توکل او د هغهٔ په قضاء باندے راضی کیدل، او د هغهٔ په مصیبت باندے صبر کول، او د هغهٔ په نعمت شکر کول او اُوچت والے د همت، او د آخرت سعادت ته متوجه کیدل، او د رسول الله ﷺ سره ښائسته زندګی تیرول دی، او د هغهٔ انوارات او معارف او فضائل لیدل دی کوم چه منافقت د دوی نه بند ساتلی دی۔ او اجتماعی فوائد دا دی چه د مؤمنانو سره اخوّت (رورولی) ده، او په دے کښې خالص مینه کول او پوره وفاداری کول او بل لره په ځان باندے غوره کول دی۔ (المنار)

ځینی وائی چه ددے آوریدو سره جُلاس بن سوید توبه ویستله او ښائسته مسلمان ترے جوړ شو، نو دا دلیل دے چه الله تعالیٰ د منافق او کافر توبه هم قبلوی۔

يَتَوَلَّوْا : یعنی که دوی د توبې نه واوړیدل، او په خپل کفر او نفاق باندے همیشه پاتے شو۔ الله تعالیٰ به په دنیا کښې عذاب ورکړی چه قتل به شی ځکه چه اُوس ئے کفر راښکاره شو، یا به قیدیان شی او مالونه به ئے لوټ شی۔

فِي الْأَرْضِ : یعنی ټوله زمکه کښې به د منافقانو هیڅ دوست او مددګار نهٔ وی او همدغه شان وشوه چه الله تعالیٰ دوی لره ذلیله کړل او د دوی منافقت ئے خلکو ته راښکاره کړو چه کفارو ورسره هیڅ مدد ونکړو، او دنیا ئے ذکر کړه ځکه چه منافقان منافقت د دنیا د فائدو دپاره کوی او په آخرت ئے یقین نهٔ وی۔

| |
|---|
| وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ |
| او بعض د دوی نه هغه څوک دی چه لوظ ئے کړیدے د الله تعالیٰ سره که چرے |
| آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ |
| راکړو هغه مونږ ته د فضل خپل نه خامخا صدقه به کوو او خامخا شو به د نیکانو نه۔ |

فَلَمَّآ اٰتٰـهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ

نو هرکله چه ورئے کړو دوی ته د مهربانئ خپل نه نو بخل ئے اُوکړو په هغے سره

وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝٧٦

او واوړیدل (د لوظ نه) او دوی مخ اړونکی دی۔

**تفسیر**: دا څلورمه نوعه منافقان دی۔

شان نزول

د سیرت او تاریخ په ډیروکتابونو کښ راغلی دی چه دا آیت د ثعلبه بن حاطب انصاری رضی الله عنه په باره کښ نازل شوے وو، لیکن ۱- دا روایت صحیح نهٔ دے۔

۲- دارنګه ثعلبه بن حاطب بدری صحابیؓ وو، او د بدریانو صحابه کرامو په باره کښ د الله تعالیٰ ډیره لویه وعده ده چه دوی ټول جنتیان دی، په هغوی کښ منافق نشته،

کیدے شی چه د ثعلبه په نوم یو بل سړے وی او د نوم د مشابهت د وجه نه په روایت کښ غلطی شوی وی۔

حافظ ابن حجرؒ په الاصابة فی تمییز الصحابة (۱/۴۰۰) کښ لیکی چه اول خو دا روایت زما په نظر صحیح نهٔ دے او که صحیح شی نو بیا پدے قصه کښ چه کوم ثعلبه ذکر دے نو دا بدری نهٔ وو ځکه چه بدری په غزوهٔ اُحد کښ وفات شویدے لکه دا خبره کلبیؒ کړیده او ددے تائید دا هم دے چه مفسر ابن مردویهؒ په خپل تفسیر کښ د عطیهؒ نه، هغهٔ د ابن عباسؓ نه په دغه مذکوره آیت کښ روایت کړیدے چه یو سړے وو چه هغهٔ ته به ئے ثعلبه بن ابی حاطب انصاری وئیلے شو۔ معلومه شوه چه دا جدا شخص دے، او صحابی نهٔ دے۔

د واقعے خلاصه دا ده چه یو سړی رسول الله ﷺ ته ووئیل، یارسول الله! ته زما دپاره په رزق کښ د برکت دعا وکړه، که الله تعالیٰ ما ته روزی راکړی نو د هغهٔ حقوق به اداکوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: [قَلِيْلٌ تُؤَدِّيْ شُكْرَهٗ خَيْرٌ مِّنْ كَثِيْرٍ لَا تُطِيْقُهٗ] لږ مال چه ته ئے شکر ادا کوے د هغه ډیر مال نه بهتر دے چه ته ئے د شکر طاقت نشے لرلے۔

لیکن رسول الله ﷺ هغه دپاره دعا وکړه، هغه ګډے بزے واخستے او هغے دومره زر ترقی وکړه لکه د چینجو په شان تردے چه مدینه پرے تنګه شوه، بیا یو صحراء ته لاړو نو د رسول الله ﷺ سره به د ورځے مونځونو ته حاضریدو مګر د شپے به نهٔ حاضریدو بیا ئے

مال دومره زیات شو او دے پکښې مصروف شو چه بیا به د جُمعے مونځ او جنازے مانځه ته هم نـهٔ حاضریدو، او کله چه هغهٔ ته د رسول الله ﷺ زکاة تولونکے ورغلو نو د هغهٔ نیت بدل شو او د صدقه او خیرات کولو او د زکاة ورکولو نه ئے انکار وکړو۔ په ثعلبه والا روایت کښې راځي چه کله دا آیت نازل شو او هغه ته خبر وشو نو هغه خپل زکاة راواخستو او رسول الله ﷺ ته راغلو لیکن نبي ﷺ د اخستو نه انکار وکړو۔ دے نه روستو ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم هم ددهٔ زکاة وانخستو او د عثمان ﷺ په دور کښې مړ شو۔

دا روایت ابن عبد البر په الاستیعاب ۱/۲۰۱ کښې او ابن الاثیر په اسد الغابه (۱/۲۸۴) کښې ذکر کړیدے لیکن په سند کښې ئے (علی بن یزید الالهانی) دے۔ او هغه متروك دے۔

علامه ابن حزمؒ په المحلی (۱۱/۲۰۷/۲۰۸) کښې فرمائی: چه دا قصه په یو روایت کښې راغلے ده چه صحیح نهٔ دے، او دا باطله قصه ده، ځکه چه ثعلبه مشهور بدری صحابی دے۔ او بیا ئے وئیلی دی چه دا روایت بیشکه باطل دے چه الله تعالیٰ حکم کړیدے په اخستو د زکاة د مالونو د مُسلمانانو نه او رسول الله ﷺ د مرګ په وخت حکم کړیدے چه په جزیرة العرب کښې دِے دوه دینونه باقي نهٔ وي، نو ثعلبه به یا مسلمان وي نو بیا خو په ابوبکر صدیق او عمر فاروق باندے فرض وه چه ددهٔ نه زکاة قبول کړي او پدے کښې هیڅ اجازه نشته۔ او که کافر وي نو فرض وه چه دا په جزیرة العرب کښې پرینخودے شي نو دا روایتِ بیشکه ساقط شو۔ او پدے روایت کښې معان بن رفاعه او قاسم بن عبد الرحمن او علی بن یزید بن عبد الملك دے او دا تول ضعیف راویان دی۔

او ددے روایت په باره کښې د عداب الحمش په نوم یو عالم رساله لیکلے ده په هغے کښې ئے د ثعلبه بن حاطب ﷺ نه دفاع کړیده او دا خبره ئے بیان کړیده چه پدے قصه کښې نکارت دے۔ د کتاب نوم دے: (ثعلبه بن حاطب المفتری علیه ص (۱۳۸))۔

۳- دریمه وجه دا ده چه هرکله هغهٔ توبه ویستله نو بیا د هغهٔ نه مال ولے نهٔ قبلیږی، او حال دا چه مخکښې آیت کښې الله تعالیٰ منافقانو ته د توبې دعوت ورکړو نو بیا ئے ورله ولے نهٔ قبلوی؟، او د رسول الله ﷺ دا عادت مبارکه نهٔ وو چه چا به توبه ویستله هغه به ورله نهٔ قبلوله۔ معلومه شوه چه دا روایت د اصولو د اسلام خلاف دے۔

د ضحاكؒ قول دے چه دا آیت یو نهٔ بلکه د ډیرو مشهورو منافقانو په باره کښې نازل شوے وو چه د هغوی حال دا وو کوم چه په آیت کښې بیان شویدے۔

په (۷۸/۷۷/۷۶) آیتونو کښې د همدغه منافقانو حالات بیان شویدی چه کله دوی د الله

تعالیٰ د نعمتونو ناشکری وکړه نو الله تعالیٰ د دوی په نفاق کښې نوره اضافه وکړه۔ او دغه شان منافقان په هره زمانه کښې ښهٔ ډیر دی چه اول کښې د الله تعالیٰ نه مالداری غواړی چه زهٔ به جماتونه او مدرسے جوړوم او ډیر نیك کارونه به کوم لیکن کله چه ورته الله تعالیٰ مال ورکړی بیا بخیل شی او د نعمت ناشکری شروع کړی۔ او پدے کښې قصه د جلاس بن سوید هم داخله ده چه دده غلام قتل شو نو رسول الله ﷺ هغه ته دیت ورکړو تردے چه ښهٔ مالداره شو نو ناشکری ئے شروع کړه۔ (المنار)

او دا په اصل کښې مصیبت غوښتل دی او چا چه مصیبت غوښتلے دے نو هغهٔ ته بیا توفیق نهٔ دے ملاؤ شوے لکه څنګه چه بنی اسرائیلو جهاد وغوښتو مګر بیا ئے جهاد ونکړو۔

**لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ:** اَیْ بِاِنْفَاقِهٖ فِیْ وُجُوْهِ الْخَیْرِ۔

یعنی مونږ به په مال باندے نور ډیر نیك او د خیر کارونه وکړو نو نیکانو کښې به داخل شو، ځکه چه په مال باندے ډیر نیك کارونه کیږی۔

**وَتَوَلَّوْا:** دا د صالحین سره متعلق دے یعنی د الله تعالیٰ د طاعت نه واوړیدل او د خپلو صدقاتو او زکاة ویستلو نه ئے مخ وګرځولو۔ او دوی همیشه او هر وخت دغسے د الله تعالیٰ د طاعت نه مخ ګرځوی۔

| |
|---|
| فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِیْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰی یَوْمِ |
| پس روستو راوستو الله تعالیٰ ددوی پسے منافقت په زړونو د دوی کښې تر هغه ورځے پورے |
| یَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا |
| چه ملاویږی به دوی د الله سره په سبب ددے چه خلاف کړیدے دوی د الله نه د هغے |
| وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا یَكْذِبُوْنَ ﴿۷۷﴾ |
| چه وعده کړے وه دوی د هغه سره او پدے وجه چه دوی به دروغ وئیل۔ |

**تفسیر:** دا د الله تعالیٰ د طرفنه سزا ده په دغه بد عمل باندے۔

**فَاَعْقَبَهُمْ:** په (اَعْقَبَ) کښې مستتر ضمیر الله تعالیٰ ته هم راجع کیدل صحیح دی او بخل ته هم۔ او د دواړو حاصل یو راوځی یعنی الله تعالیٰ راوستو د دوی د بخل په وجه منافقت په زړونو د دوی کښې۔ اعقاب: روستو راوستو ته وائی۔

يَومِ يَلْقَوْنَهُ: نـه مـراد د مـرگ ورځ ده، او دے تـه د ختم الله على قلوبهم په شان سزا وائی، کـلـه نـا کـلـه الله تـعالیٰ په گناه باندے داسے سزا ورکړی چه د سړی په زړهٔ کښ منافقت تر د مرگ د ورځے پورے پریدی لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَنَطْبَعُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴾ (الاعراف : ۱۰۰) (مونږ مهر وهو د دوی په زړونو نو دوی به هیڅ د حق خبره نهٔ آوری)

دا سزا ده په سبب د بعض گناهونو چه هغه بخل دے او وعده خلافی او دروغ وئیل دی، نـو د دغـه گـنـاهـونـو پـه وجـه ورلـه الله تـعالیٰ په زړونو کښ دغه منافقت برقرار وساتلو او تـوفيق د توبې او اسلام ئے ورنکړو او الله تعالیٰ بعض بندگانو ته د خپلے خوښے مطابق سزا ورکـوی، کـلـه پـه چا زلزله راولی او څوك ړوند کړی او څوك په کفر باقی پریدی او څوك په نورو گناهونو کښ همیشه پریدی، او دا ډیره سخته سزا ده، نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْحَالَةِ السَّيِّئَةِ۔

| |
|---|
| اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰهُمْ |
| آیا نهٔ پو هیږی دوی چه بیشکه الله تعالیٰ پو هیږی په پټو خبرو د دوی او په جرگو د دوی |
| وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ |
| او یقیناً الله ښه پو هیدونکے دے په غیبو باندے۔(دا منافقان) هغه کسان دی چه عیب لگوی |
| الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ |
| په هغه کسانو چه په خپله خوښه ورکوی د مؤمنانو نه، په صدقو ورکولو کښ |
| وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ |
| او هغه کسان چه نهٔ مونده کوی هغوی مگر محنت مزدوری خپله نو توقے کوی دوی |
| مِنْهُمْ ؕ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ز وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ |
| د هغوی پسے، توقے به اُوکړی الله په دوی پورے او د دوی دپاره دردناك عذاب دے۔ |

**تفسير** : پـدے کـښ الله تـعالیٰ منافقانو ته زجر ورکوی په عَدَم علم باندے چه دوی د الله تـعالیٰ په باره کښ غلط گمان لری، دوی گنے وائی چه الله تعالیٰ به د دوی په پټو خبرو او په جرگو باندے نهٔ پو هیږی حال دا چه تعالیٰ نه هیڅ شے نهٔ پټیږی۔

سِرَّهُمْ: راز او پټے خبرے تـه وائـی۔ یـعـنـی ټـول هغه څه چه دوی ئے پټ ساتی چه هغه منافقت دے۔

وَنَجْوٰهُمْ: يعنى په خپل مينځ كښې جرګې د دوى چه هغه په رسول الله ﷺ او د هغهٔ په ملګرو باندې تهمتونه وئيل او د دين اسلام په خلاف د دوى مشورې دى۔

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ : پدې كښې د منافقانو نور عيبونه ذكر كيږى۔ منافقانو به په هر حال كښې په مسلمانانو عيب لګولو، كه چا به زيات مال د الله تعالىٰ په لاره كښې وركړو نو دوى به وئيل چه دا رياكار دې، او كه يو مزدور به خپله مزدورى راوړه او د صدقې په مال كښې به ئې جمع كړه، نو دوى به وئيل چه دومره لږ مال ته څه ضرورت وو۔

محمد بن اسحاقؒ وائى چه كله رسول الله ﷺ (د تبوك د غزا په موقعه) د صدقې ترغيب وركړو نو عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه سره اته زره روپئ وې نو څلور زره ئې صدقه كړې، او عاصم بن عدى رضي الله عنه يو وسق (شپيته صاع) كجورې صدقه كړې نو منافقانو عيب ولګولو چه دا خالص رياكارى ده، او ابوعَقِيل رضي الله عنه مزدورى وكړه او خپله مزدورى يعنى نيم صاع (تقريباً پاؤ باندې يوه كيلو) كجورې ئې راوړې او د صدقې په كجورو كښې ئې واچولې نو منافقانو د هغهٔ پورې ښه خندا وكړه او وې وئيل [اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هٰذَا] چه الله تعالىٰ د ابوعقيل د نيم صاع كجورو محتاج نهٔ دې۔ نو دا آيت نازل شو۔

(بخاري تفسير سورة التوبه باب : ۱۱) ومسلم : (۲٤٠٢)

چه پدې كښې الله تعالىٰ د دغه مؤمنانو دفاع وكړه او په منافقانو ئې ردونه وكړل۔

نو منافقان خپله نيك عمل نه كوى او د بل چا نيك عمل ورته سپك ښكاره كيږى، الله تعالىٰ دې مونږ ته د داسې حال نه پناهي راكړى۔ آمين۔

يَلْمِزُوْنَ: لمز عيب او طعن وئيلو ته وائى۔

اَلْمُطَّوِّعِيْنَ : دا په اصل كښې مُتَطَوِّعِيْنَ دې، تَطَوُّع : تَبَرُّع او په خوشحالئ سره يو عمل كول دى چه هغه واجب نهٔ وى۔

فِي الصَّدَقٰتِ : دا متعلق دې د اَلْمُطَّوِّعِيْنَ پورې۔ يا متعلق دې د (يَلْمِزُوْنَ) پورې يعنى عيب لګوى په صدقو د دوى۔

جُهْدَهُمْ : په پيش د جيم سره وسع او طاقت ته وائى او په زور د جيم سره مشقت ته وائى۔

فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ : يعنى د هغوى پورې توقې كوى پدې وجه چه د هغوى صدقه كمه ګڼړى حال دا چه دا د هغوى د وس مناسب ده۔

سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ : الله تعالىٰ د داسې منافقانو دا انجام بيان كړو چه هغه به د خپلو مؤمنانو بندګانو د استهزاء بدله ضرور اخلى، منافقان به رسوا كوى او خپل مؤمنان بندګان به

پورته ښکاره کوی، او په آخرت کښې به دے منافقانو ته دردناك عذاب ورکوی۔
سَخِرَ اللّٰهُ مِنۡهُمۡ : دا یا جمله دعائیه ده دوی ته ښیرے دی۔

| |
|---|
| اِسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ اَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ ط اِنۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِيۡنَ |
| بخنه اُوغواړه دوی له یا ئے مهٔ غواړه (دواړه یوشان ده) که بخنه اُوغواړے تهٔ دوی له اویا |
| مَرَّةً فَلَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ط ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَفَرُوۡا بِاللّٰهِ |
| کرته نو هیچرے بخنه نهٔ کوی الله دوی ته، دا پدے وجه چه دوی کفر کړیدے په الله |
| وَرَسُوۡلِهٖ ط وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿۸۰﴾ |
| او په رسول د هغهٔ، او الله تعالیٰ هدایت نهٔ کوی قوم نافرمانو ته۔ |

**تفسیر** : الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خبر ورکړے چه منافقان د الله تعالیٰ د بخنے اهل نهٔ دی، پدے وجه که تهٔ غواړے د دوی دپاره بخنه طلب کړے یا ئے نکړے برابره ده۔ که تهٔ دوی دپاره اویا کرته بخنه وغواړے هم الله ورته بخنه نکوی۔ د اَویا عدد نه مقصود مبالغه ده۔ دا نهٔ چه که نبی ﷺ د اویا نه زیات کرته بخنه طلب کړی نو الله تعالیٰ به منافقانو ته معافی وکړی۔

د مسند احمدؒ او صحیحینو روایت دے، ابن عباس رضی الله عنه وائی چه ما د عمر بن خطاب رضی الله عنه نه آوریدلی دی چه کله عبد الله بن اُبی مړ شو نو د هغهٔ د جنازے دپاره نبی ﷺ ته ووئیل شو نو نبی ﷺ چه کله مانځه دپاره ودریدو نو ما ووئیل : آیا ته د الله تعالیٰ په دشمن عبد الله بن اُبی باندے مونځ کوے؟، چه هغه داسے داسے خبرے کړے وے، او ما ورته واقعات شمارل او رسول الله ﷺ مسکے وو، کله چه ما زیات زور وکړو نو نبی ﷺ ما ته وفرمایل : اے عمره ! جدا شه، ما ته اختیار راکړے شویدے : ﴿اِسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ اَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ﴾ الآية ۔ که ما ته معلومه شی چه د اویا کرتو نه زیات دعا کولو سره دوی معاف کولے شی نو زهٔ به داسے کوم، بیا ئے په هغهٔ باندے د جنازے مونځ وکړو، او د هغهٔ د قبر سره اُودریدو۔ لږ روستو دا دوه آیتونه نازل شو : ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمۡ عَلٰى قَبۡرِهٖ﴾ چه ((نهٔ د منافقانو نه په هیچا جنازه هیڅ کله مهٔ کوه او د هغه د قبر خوا له مهٔ ځه))۔ نو دے نه روستو رسول الله ﷺ چه ترڅو پورے ژوندے وو د هیڅ منافق جنازه ئے نهٔ ده کړے۔

(بخاری : ۱۳۶۶) مسلم : (۶۳۶۰) مسند احمد (۹۵)

عبد الرزاقؒ د قتادةؒ نه روایت کړیدے چه کله دا آیت نازل شو نو نبی ﷺ وفرمایل چه د اَویا نه زیات ځله به بخنه طلب کوم (کیدے شی چه الله ورته بخنه وکړی) نو الله تعالیٰ وفرمایل : ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ اَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ اَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ لَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ﴾ چه (که ستا خوښه وی چه دوی له بخنه غواړے یا نۀ غواړی هیڅرے دوی ته الله بخنه نۀ کوی)۔

او داسے روایت د ضحاكؒ نه هم نقل کړیدے (فتح البیان)

او دا خبره رسول الله ﷺ د کمال رحمت د اظهار دپاره وکړه چه هغه په خپل امت ډیر شفقت لری۔

حافظ ابن حجرؒ په (فتح الباری) کښ وئیلی دی چه کیدے شی چه دواړه آیتونه په یوځای نازل شوی وی، او نبی ﷺ د منافقانو د جنازے نه منع شو او دا خبر هم ورکړے شو چه د منافقانو دپاره ستا د بخنے دعا هیڅ فائده نۀ ورکوی۔

## اشکال او جواب

دلته دا اشکال کیږی چه رسول الله ﷺ ته خو دا د مخکښ نه معلومه وه چه د مشرك دپاره استغفار طلب کول صحیح نۀ دی ځکه چه په مکی دور کښ ﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيۡنَ آمَنُوۡا اَنۡ يَّسۡتَغۡفِرُوۡا لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ﴾ توبه آیت (۱۱۳) د ابو طالب د وفات په موقعه کښ نازل شوے وو چه رسول الله ﷺ ورله استغفار طلب کولو۔ نو ددے نه منع شو نو بیا څنګه د رئیس المنافقین په باره کښ وائی چه زۀ به ئے د اویا کرتو نه زیات هم بخنه غواړم سره ددے نه چه په نفس آیت کښ د دوی په کفر باندے صراحت شویدے؟

جواب : ددے په جواب کښ حافظ ابن حجرؒ دا وئیلی دی چه بعض علماؤ دا جواب ورکړیدے چه هغه استغفار غوښتل منع وو چه د هغے د اجابت امید کیدے شی او مقصد ئے پکښ د مشرك دپاره بخنه حاصلول وی لکه په قصه د ابو طالب کښ شو۔

او هر چه د رئیس المنافقین دپاره استغفار طلب کول وو نو دا د ژوندو خلکو د زړونو د خوشحالولو دپاره وو۔ او اشاره وه چه دے په امت باندے زیات شفقت لری لکه ابراهیم عليه السلام چه وئیلی وو ﴿وَمَنۡ عَصَانِيۡ فَاِنَّكَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ﴾ او پدے کښ اشاره ده چه د امت کسان دِے په یو بل باندے شفقت وکړی۔ (زمخشری)

حافظ وائی : دا جواب زما په نیز غوره نۀ دے۔ بیا وائی : ځینو دا جواب کړیدے چه مړ مشرك دپاره د بخنے غوښتلو نهی نه دا نۀ لازمیږی چه څوك د اسلام د اظهار په حالت

كښې وفات شي نو هغه دپاره دِې بخښنه طلب كول ناروا وي ځكه كيدے شي چه د هغه عقيده صحيح وي. بيا وائي : دا جواب جيّد دے.
ليكن ډيره غوره خبره دا ده چه د ابو طالب قصه پخوا تيره شويده او د منافقانو په باره كښې رسول الله ﷺ ته علم نهٔ وو چه دوی كافران دي، او دا قول ﴿ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوْا ﴾ دا د منافقانو د قصے نه ډير روستو نازل شويدے چه پدے سره رسول الله ﷺ ته معلومه شوه چه منافقان كافران دي، او د بخښنے طلب كولو لائق نهٔ دي او لرِه او ډيره بخښنه طلب كول ورله فائده نهٔ وركوی. پدے سره اشكال ختميږی.
(فتح الباري ٣٣٩/٨ وتحفة الاحوذي (٤٢٠/٧).
اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ: پدے كښې مقصد اختيار وركول دي چه ستا خوښه ده بخښنه ورله غواړے او كه نهٔ خو الله ورته بخښنه نكوی. نو بيا ددے څه فائده ده چه الله تعالىٰ رسول الله ﷺ ته اختيار وركوی ؟ نو ددے دوه فائدے دي ؟ يو ديني او هغه دا چه د رسول الله ﷺ استغفار ډير قيمتی دے، او د هغهٔ په دعا كښې دومره اثر دے چه غرونه ويلی كوی ليكن كه هغه منافقانو له بخښنه وغواړی نو د هغوی په حق كښې هيڅ اثر نلری ځكه چه دوی ډير لوی مجرمان دي، د نبي دعا هم پرے اثر نكوی. نو نفاق دومره غټ جرم دے چه د پيغمبر دعا هم ورله فائده نهٔ وركوی. دائے ديني فائده شوه.
او دنياوی فائده دا ده چه [اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ كَانَتْ فِيْهِ مَصْلَحَةٌ اَوْ مَنْفَعَةٌ دِيْنِيَّةٌ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ لَمْ تَكُنْ فِيْهِ مَصْلَحَةٌ دِيْنِيَّةٌ]
يعنې دوی له بخښنه وغواړه كښې ديني فائده پكښې وه او يا ورله بخښنه مهٔ غواړه كه ديني فائده پكښې نهٔ وه. پدے وجه رسول الله ﷺ د رئيس المنافقين ابن سلول جنازه وكړه د يو مصلحت په بناء اگركه ورته ښه معلومه وه چه زما په جنازه ئے الله تعالىٰ نهٔ بخښی.
معلومه شوه چه كله نا كله د يو كافر سره ودريدل يا د هغوی خواله ورتلل چه كله په هغے كښې ديني مصلحت او فائده غرض وي لكه دعوت عام كول وغيره نو دا منع نهٔ ده.
مقام ته به كتلے شي. د يو مجرم او مبتدع انسان د خپلوانو حق ته د مائله كولو دپاره د هغهٔ بيمار پرسئ له ورشي نو خير دے.
ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ : يعنې دا بخښنه نهٔ كول پدے وجه نهٔ دي چه گنے د رسول الله ﷺ استغفار له څه اعتبار نشته بلكه پدے وجه دي چه دوی كښې كفر په الله تعالىٰ او په رسول الله ﷺ باندے موجود دے.

خيني وائي : ذلك اشاره ده د دوی د بخنے نه نا اميدئ ته يعنى دوی چه د بخنے نه نا اميده شويدی دا پدے وجه چه دوی كفر كړيدے، او پدے كښ زمونږ د طرفنه څه بخل نشته او اے رسوله ! ستا د طرفنه څه قصور (كوتاهی) نشته. بلكه دوی كښ قابليت او اهليت د بخنے نشته ځكه چه دوی كفر كړيدے او هغه د بخنے نه مانع دے. (فتح البيان)

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ : دلته د هدايت نه مراد اِيْصَال اِلَى الْمَطْلُوب دے (يعنى مقصد ته رَسَول) نۀ اِرَاءَ ةُ الطَّرِيْق. (يعنى لاره خودل)

| |
|---|
| فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ |
| خوشحاله دی دا پاتے كړے شوی (د جهاد نه) په كيناستو خپلو روستو د رسول د الله نه |
| وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ |
| او بده ګڼړی دوی دا چه جهاد وكړی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله كښ |
| وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ |
| او وائی دوی مۀ اُوځئ په ګرمئ كښ، اُووايه اُور د جهنم ډير سخت دے په ګرمئ كښ |
| لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا |
| كه چرے دوی پو هيدلے (نو داسے به ئے نۀ كولے). نو اُودِے خاندی دوی لږه موده |
| وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ |
| او اُودِے ژاړی ډيره موده، بدله وركيدے شی په سبب د هغے عملونو چه دوی ئے كوی. |

**تفسير** : رسول الله ﷺ چه كله تبوك غزا ته روان شو نو ډير منافقان ترے روستو پاتے شو نو دوی به په خپلو مجلسونو كښ ګپ شپ لګولو او دا به ئے وئيل چه ښۀ دے چه جنګ ته لاړ نشو او نور خلك ئے هم منع كول چه په ګرمئ كښ چرته ځئ ؟

نو الله تعالىٰ د هغوی حال رانقل كړو او رسول الله ﷺ ته ئے خبر وركړو او په آخرت كښ ئے د دوی بد انجام بيان كړو.

الْمُخَلَّفُوْنَ : يعنى روستو پاتے كړے شوی. او دا هغه منافقان دی چه د رسول الله ﷺ نه ئے اجازه غوښتے وه چه د غزوۀ تبوك نه روستو پاتے شی نو هغۀ ﷺ ته اجازه وركړه او په مدينه كښ ئے روستو پريخودل، يا هغه خلك دی چه الله تعالىٰ روستو پريخی وو او د جهاد

توفیق ئے ورنکړو، یا منافقت یا خپلے سستئ یا مؤمنانو روستو پریخی وو۔ (فتح)
او پدے مخلفون لفظ کښ په دوی باندے رد دے چه تهٔ خو الله تعالیٰ روستو پاتے کړے او بیا هم خوشحالی کوے، په خپل هلاکت باندے نهٔ پو هیږے۔
بِمَقْعَدِهِمْ : دا مصدر میمی دے په معنیٰ د قعود (ناستے) سره۔
خِلَافَ رَسُوْلِ اللهِ :O دا منصوب دے مفعول له دے۔ یعنی د وجه د مخالفت د دوی د رسول الله ﷺ نه۔ (قرطبؒ)
Oیا خِلَاف منصوب بنا بر ظرفیت دے، او خلاف په معنیٰ د خَلْفَ سره دے (ابوعبیدهؒ والاخفشؒ- فتح)
یعنی روستو د رسول الله ﷺ نه۔ یعنی دا څومره لویه بد بختی ده چه د الله رسول ﷺ دِے جهاد ته ځی او د هغهٔ دا بی وفاء امتی دِے ناست وی۔
Oیا خلاف په خپله معنیٰ دے یعنی د رسول الله ﷺ په خلاف کښ ناستی دی چه هغه جنګ ته روان دے او دوی کور کښ ناست دی۔
وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا : یعنی دوی کښ سخت شح او بخل دے او د ایمان او اخلاص هیڅ داعی او باعث پکښ نشته چه د الله تعالیٰ په لاره کښ انفاق وکړی۔
وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا : یعنی یو بل ته وائی چه په ګرمئ کښ جهادونو ته مهٔ ځئ۔ دے ته نهی عن المعروف وائی چه د منافق خوئی او خصلت دے۔ غزا د تبوك په سخته ګرمئ کښ وه، منافقانو ددے برداشت نشو کولے نو د نورو ملګرو همت ئے هم ماتولو۔
قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ : دا په دوی باندے رد دے چه تاسو خو دنیا کښ ددے معمولی ګرمئ نه تیخته کوئ او د جهنم اور چه تاسو به ورته همیشه دپاره داخلیږئ هغه خو ډیر سخت ګرم دے، د هغے ګرمئ نه چه لړ وخت ده۔ یعنی جهاد ته چه نهٔ وځئ نو ستاسو د جهنمؒ اُور خوښ دے کوم چه همیشه دے۔
لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ : لَوْ تمنائیه دے نو جزاء نهٔ غواړی، ارمان که دوی پو هیدلے۔ یا لَوْ شرطیه دے او جزاء ئے پټه ده اَیْ لَمَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ وَمَا قَالُوْا ذٰلِكَ ۔ که دوی پو هیدے نو دوی به دا کار او دا خبرے نهٔ کولے۔
فَلْيَضْحَكُوْا: پدے آیت (۸۲) کښ دوی ته دهمکی ورکړے کیږی چه نن دِے دوی لږ شان وخاندی په آخرت کښ به ددے خپل بد کردار په وجه په دوی باندے ډیره ژړا راشی۔
دا په ظاهر کښ امر دے او معنیٰ ئے د خبر ده، او تعبیر ئے په لفظ د امر سره وکړو دے دپاره

چه دلالت وکړی چه دا یو حتمی او ضروری امر دے چه ضرور به دغسے کیږی۔

او قَلِيۡلًا په معنیٰ د زَمَنًا قَلِيۡلًا یا ضِحۡكًا قَلِيۡلًا سره دے۔ په دنیا کښې خندا لږه ده ځکه چه ټوله دنیا د آخرت په مقابله کښې لږه ده اګرکه فی نفسهٖ به ډیره موده وی، دارنګه دنیا کښې د خندا پسے پریشانیانی راځی ځکه چه دنیا د خندا ځای نۀ دے۔ او آخرت کښې ژړا ډیره ده ځکه چه هغه به همیشه همیشه دپاره وی چه نۀ ختمیدونکے زندګی ده۔

| |
|---|
| فَاِنۡ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰی طَآئِفَةٍ مِّنۡهُمۡ فَاسۡتَاۡذَنُوۡكَ |
| پس که راواپس کړو تا لره الله تعالیٰ یو ے ډلے ته د دوی نه نو اجازه اُوغواړی دوی ستا نه |
| لِلۡخُرُوۡجِ فَقُلۡ لَّنۡ تَخۡرُجُوۡا مَعِیَ اَبَدًا |
| دپاره د وتلو (جهاد ته) نو اُووایه ورته هیچرے نشئ وتلے تاسو ما سره هیڅکله |
| وَّلَنۡ تُقَاتِلُوۡا مَعِیَ عَدُوًّا ؕ اِنَّكُمۡ |
| او هیچرے جنګ به نۀ کوئ زما په ملګرتیا کښې د دشمن سره، یقیناً تاسو |
| رَضِيۡتُمۡ بِالۡقُعُوۡدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقۡعُدُوۡا مَعَ الۡخٰلِفِيۡنَ ﴿۸۳﴾ |
| راضی شوی یئ په کیناستلو اول کرته نو کینئ سره د پاتے کیدونکو نه۔ |

**تفسیر** : الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه کله تا الله تعالیٰ مدینے ته واپس اُورسوی، او د تبوك په غزا کښې د نۀ شریك کیدونکو منافقانو نه یوه ډله ستا خوا ته راشی او وائی چه مونږ ته په آینده غزواتو کښې د شریك کیدو اجازت راکړه دے دپاره چه زمونږ کومه رسوائی وشوه چه هغه لرے کړو، نو تۀ دوی ته اجازت مۀ ورکوه او وایه چه تاسو ته آینده مونږ سره د وتلو او د دشمن سره د جنګ کولو هیچرے اجازت نشته دے۔ کله چه تاسو د غزوۂ تبوك د موقعے نه کیناستئ نو تاسو د الله تعالیٰ د نظر نه پریوتئ، پدے وجه اُوس تاسو همیشه دپاره د ښځو او ماشومانو سره ناست وسیږئ۔

قتادۃ وائی چه د دوی شمار دولس کسان وو۔

فَاِنۡ رَّجَعَكَ : دا آیتونه په لاره کښې نازل وو رسول الله ﷺ لا مدینے ته نۀ وو واپس شوے۔

طَآئِفَةٍ مِّنۡهُمۡ : طائفه لفظ دلیل دے چه کوم خلق چه په جنګ کښې نۀ وو شریك شوی

هغـه تـهول منافقان نهٔ وو، د مثال په توګه کعب بن مالك، هِلال بن اُمیه او مُرارَة بن الربیع العامری (رضی الله عنهم) مُخلصین مسلمانان وو۔

**فائده :** مفسر خازنؒ لیکی : [وَفِی الآیَةِ دَلِیلٌ عَلی أَنَّ الرَّجُلَ اِذَا ظَهَرَ مِنْهُ مَکْرُوْهٌ وَخِدَاعٌ وَبِدْعَةٌ یَجِبُ الْاِنْقِطَاعُ عَنْهُ وَتَرْكُ مُصَاحَبَتِهٖ] دا آیت دلیل دے چه کله د یو تن نه یو بد کار یا دوکه یا بدعت ښکاره شی نو د هغه نه ځان جدا کول او د هغه ملګرتیا پریخودل واجب دی لکه څنګه چه ددے منافقانو نه منافقت او دوکه راښکاره شوه نو الله تعالیٰ په آینده کښ جهاد ته د وتلو نه منع کړل ځکه چه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه دوی په غزواتو کښ مکرونه او دوکے کوی۔ (لباب التاویل للخازن۲ /۳۹۱ وفتح البیان۳ /۱۵۵)

**رَضِیْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ :** یعنی په صحیح جهاد کښ مو اول کرت برخه نهٔ اخستـه نو اُوس بـه هـم نـهٔ ووځـئ۔ او دا قِسم سزاګانے کله دنیاوی او کله دینی، لکه د منافقانو په باره کښ ووئیل شو چه څوك اُحُد کښ شریك شوے وی هغه به د حَمْرَاءُ الاسد غزا ته ځی دے دپاره چه منافقان ترے بهر کړی، ځکه چه هغوی به د غنیمت والا او آسان جنګونو ته تلل او مشکل وخت کښ به پټیدل، نو د تبوك د غزا نه روستو هم دا سزا شوه چه رسول الله ﷺ کوم جهاد ته ځی نو منافقان به ورسره نهٔ ځی، البته روستو زمانه کښ اجازه ورکړے شویده چه که آینده زمانه کښ کوم جهادونه راتلل نو تاسو که شرکت کول غواړئ نو کولے شئ لکه سورة الفتح آیت (۱٦) کښ به راشی۔

﴿قُلْ لِّلْمُخَلَّفِیْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰی قَوْمٍ اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ﴾

(ووایـه روستـو پاتـے کړے شوو بانډچیانو تـه، زر دے چه تاسو به د یو قوی قوم مقابلے دپاره راوبللے شئ)۔

**الْخٰلِفِیْنَ :** د خالفین نـه مراد روستـو پاتـے خلك دی چه هغه ماشومان او زنانه او عاجز سړی دی۔ ابـن عباسؓ وائی ددے نـه مراد هغه خلك دی چه د غزا نه په غیر د عذر نه پاتے شوی وو۔ او همدا قول ابن جریرؒ راجح ګرځولے دے۔

ځینی وائی : خالف د خَلَفَ اللَّبَنُ نـه دے د پـیـو خـرابوالی ته وائی۔ یعنی تاسو د فاسدو او ناکاره خلکو سره کینئ۔ (الاصمعیؒ- فتح البیان)

وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓی اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ

او مونځ (جنازه) مهٔ کوه په هیڅ یو تن د دوی نه چه مړ شی هیڅکله او مهٔ اُودریږه

| |
|---|
| عَلٰی قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَا تُوْا |
| په قبر د هغهٔ، یقیناً دوی کفر کړیدے په الله او په رسول د هغهٔ او مړهٔ شویدی |
| وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۴﴾ |
| پداسے حال کښې چه دوی نافرمان وو. |

**تفسیر** : د (۸۰) آیت په تفسیر کښې تیر شویدی چه دا آیت په هغه وخت نازل شوے وو چه کله نبی کریم ﷺ د عبد الله بن ابی جنازه کړے وه او د هغهٔ د قبر خوا ته ورغلے وو. بیا ددے حکم د هر هغه شخص په باره کښې عام دے چه د هغهٔ نفاق ښکاره شوے وی.

په مسند احمدؒ کښې د ابوقتاده ﷜ نه روایت شویدے چه کله به رسول الله ﷺ د چا د جنازے مونځ کولو دپاره راووبللے شو نو د مړی په باره کښې به ئے تپوس کولو، که په خیر سره به هغه ذکر شو نو په هغه به ئے مونځ کولو او که نهٔ وو نو د هغه خپلوانو ته به ئے وئیل چه ستاسو څنگه خوښوی هغه وکړئ، او د هغهٔ د جنازے مونځ به ئے نهٔ کولو.

(مسند احمد ۲۲٦۰۸) اسناده صحیح علی شرط الشیخین).

عبد الله بن اُبی ابن سلول رئیس المنافقین چه کله مړ شو نو د هغه ځوی سیدنا عبد الله بن عبد الله بن ابی ابن سلول راغے او رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل چه زما پلار مړ شو او ستا قمیص راکړه چه کفن پکښې ورکړو نو رسول الله ﷺ د هغه د دلجوئی دپاره خپل قمیص ورکړو او دا ئے ورته ووئیل چه زهٔ خپله درځم، بیا ورغلو په داسے حال کښې چه دے قبر ته خکته کړے شوے وو، رسول الله ﷺ هغه راوویستو او په خپل لاس مبارك ئے هغه قمیص ورته واغوستو او خوله کښې ئے ورته تبرکاً لاړے هم توکړے او بیا ئے خخ کړو، او جنازه ئے هم پړے کړے وه،

نو په دغه وخت کښې سیدنا عمر فاروق ﷜ ورته وفرمایل چه اے د الله رسوله ! دا هغه کافر نهٔ دے چه په فلانئ ورځ کښې ئے دا خبره کړے وه او فلانئ ورځ کښې دا، او د هغه کفرئے ورته راښکاره کړو، نو رسول الله ﷺ ورته مسکے شو او ورته ئے وفرمایل: (اَخِّرْ عَنِّيْ يَا عُمَرُ) اے عمره ! زما نه جدا شه ! بیا ورته ما ووئیل : نو هغه په جواب کښې وفرمایل : [اِنِّيْ خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ] الله ما ته اختیار کړے نو ما خپل اختیار استعمال کړو. چه ما ورله استغفار وغوښتو ځکه چه پدے کښې مصلحت وو. او رسول الله ﷺ ورته قمیص پدے

وجه هم ورکړو چه دۀ عباسؓ ته قمیص ورکړے وو نو رسول الله ﷺ ورله (د خپل ترۀ) بدله خلاصه کړه. (البغوی بسنده ٨١/٤ والقاسمی)

د بغویؒ په روایت کښې او سیوطیؒ د ابوالشیخؒ نه په یو روایت کښې ذکر کړیدی چه رسول الله ﷺ ددے منافق بیمار پرسئ ته ورغلو نو ورته ئے ووئیل: تۀ د یهودیانو محبت هلاك کړے. نو هغه ووئیل: ما تا پسے جواب ددے دپاره نۀ دے درلیږلے چه تۀ ما ته زورنه راکړے بلکه ددے دپاره چه ما دپاره بخنه وغواړے او په ما باندے پس د مرګ نه جنازه وکړے او د هغه نه ئے د قمیص مطالبه هم وکړه. (معالم التنزیل والدر المنثور)

زجاجؒ وائی: رسول الله ﷺ به چه کله مړے دفن کړو نو د هغۀ د قبر په خوا کښې به ودریدو او د هغه دپاره به ئے دعا کوله نو دلته ددے کار نه منع شو، آه. او د مانځه نه روستو سمدست دا آیتونه نازل شو. ددے نه روستو رسول الله ﷺ په هیڅ منافق باندے جنازه نۀ ده کړے او نۀ ئے د هغه دپاره دعا غوښتے ده.

(فتح البیان والقاسمی - والترمذی ٣٠٩٧ سورة التوبه)

او دے ته موافقاتِ عمری وائی چه دا آیت د عمر فاروق ؓ د رائے او خواهش مطابق نازل شو.

د ابوالشیخؒ په روایت کښې دا هم راغلی دی چه صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته د قمیص د ورکولو خبره وکړه نو هغه وفرمایل:

[وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ قَمِيْصِيْ وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَرْجُوْا اَنْ يُّسْلِمَ بِهٖ اَكْثَرُ مِنْ اَلْفٍ بَنِيْ الْخَزْرَجِ]

دۀ ته زما قمیص (او په روایت د ابن جریرؒ کښې دی چه زما مونځ) هیڅ فائده نۀ ورکوی لیکن زۀ امید لرم چه پدے کار سره به ددۀ د قوم خزرج نه د زرو کسانو نه زیات مسلمانان شی.

او همدغه شان وشوه چه کله رسول الله ﷺ د هغه سره داسے اخلاق وکړل نو ډیر منافقان پدے ورځ صحیح مسلمانان شول او دا ئے ووئیل چه دا هغه ضرری انسان وو چه رسول الله ﷺ ته به ئے ضررونه ورکول او رسول الله ﷺ ورسره دومره اُوچت اخلاق وکړل، او تیار وسوسه اچونکے د مینځ نه لاړو او باقی کسانو د رسول الله ﷺ اخلاق ولیدل نو کله د مانع د ختمیدو په وجه هم بنده ته هدایت کیږی.

نو ددے نه ثابته شوه چه د یو کافر سره یو تن په عارضی توګه مدارات او اخلاق کولے شی دے دپاره چه هغه د اسلام نه متأثره شی خو دے کښې ډیر تفصیل دے چه هغه به د

علماؤ نہ معلومولے شی، او هر سړے به په خپله طبع داسے کار نکوی، دا خو رسول الله ﷺ وو چه د وحی په ذریعه به ورته معلومات حاصلیدل۔

ددے آیت نه دلیل نیولو سره حافظ سیوطیؒ په «الاکلیل» کښې لیکلی دی چه په کافر د جنازے مونځ کول او د هغهٔ د قبر خوا ته (د دعا دپاره) ودریدل حرام دی۔ (القاسمیؒ)

**وَلَا تُصَلِّ** : مُهَایمیؒ وائی : مونځ کول ځکه منع شو چه دا سفارش دے او د منافقانو دپاره سفارش نشته۔ (قاسمی)

**وَلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ** : اَیْ لِلدُّعَاءِ۔ یعنی د هغهٔ د دعا دپاره د هغه په قبر مهٔ ودریږه۔ په قبر باندے د دعاء دپاره ودریدل سنت طریقه ده، او پدے دعاء کښې رفع الیدین هم ثابت دی۔

نو منافق ته دعاء کول او په هغهٔ باندے جنازه کول دواړه حرام دی۔ بیا منافق چا ته وائی؟ چه هغه د اسلام او صحیح علماؤ پورے توقے کوی، یا همیشه مونځ پریدی او هرچه عام گنهگار دے لکه زناکار، غل، فاسق او خپل ځان وژونکے وغیره نو دا په منافقانو کښې نهٔ دے داخل۔

**فٰسِقُوْنَ** : یعنی داسے حالت کښې مری چه دوی د دین نه او د ایمان نه وتونکی وی۔

د کفر نه روستوئے د دوی فسق ذکر کړو ځکه چه کافر کله په خپل دین کښې عادل وی، امانتونه ادا کوی، او هیچا ته په زړهٔ کښې بدی نهٔ ساتی، او کله ئے زړهٔ خبیث وی، ډیر دروغژن او مکار او منافقت والا وی، او دوکے او بزدلے او بل چا ته بدی په زړه کښې ساتونکے او گنده کارونه کونکے وی، او دا په هر دین کښې د هر چا په نیز ډیر قبیح دے۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ؕ اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ اَنْ |
| او په تعجب کښې دِے وانچوی تا لره مالونه د دوی او اولادِ د دوی، یقیناً غواړی الله چه |
| یُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِی الدُّنْیَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ |
| عذاب ورکړی دوی ته په هغے سره په دنیا کښې او اُوځی به ساه گانے د دوی |
| وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ |
| پداسے حال کښې چه دوی کافران وی۔ |

**تفسیر** : دا آیت مخکښې هم ذکر شو، دوباره ئے د تاکید دپاره ذکر کړو، ځکه چه مال او اَولاد هغه شے دے چه په انسان باندے زر تاثیر کوی۔ نو الله فرمائی چه د دوی مالونو ته

نظر ونکړئ. ځینې وائي چه دا آیت یو قِسم خلکو په باره کښې دے او مخکښې آیت د بل قِسم خلکو په باره کښې. او ځینې وائي چه دا آیت د یهودو او مخکنے آیت د منافقانو په باره کښې نازل دے. (فتح)

صاحب المنار وائي: دا نهي ئے دوباره راوړه ځکه چه مقام ئے تقاضا کوله لکه مخکښې ئے هم تقاضا کوله، یا دا چه مخکښې د یوے طائفے ذکر وو او دلته د بلے طائفے. (المنار والخازن)

هغه آیت جواب د سوال وو چه د مخکني آیت نه راپیدا کیدو چه دوی مالونه خرچ کوی او نهٔ قبلیږی، نو که نفقات ئے قبول نشي نو دنیا کښې ئے خو مزے وکړے چه مالونه او او اولادو نه خوندونه اخلي، نو الله تعالیٰ وفرمایل چه دے ته مهٔ خوشحالیږه بلکه دا د دوی د هلاکت سامان دے.

او دلته وائي چه په منافقانو مونځ مهٔ کوه او دعا د بخنے ورله مهٔ غواړه که څوك ووائی چه دوی خو مالداره خلك دے او اولاد ئے ډیر دی نو د لوی شرافت خاوندان او سرداران دی که مونځ پرے وکړے شي نو څه نقصان به وی؟ نو الله فرمائي: چه د دوی مالونو او اولادو ته نظر مهٔ کوه بلکه دا د دوی د عذاب سبب دے، دا سرداری دوی لره د دین په باره کښې هیڅ فائده نهٔ ورکوی. والله اعلم باسرار کتابه.

"تفسیر خازن" کښې د دواړو آیتونو ترمینځ د الفاظو د تفاوت فائدے ذکر دی لیکن ډیره فائده پکښې نشته نو مونږ د هغے نقل کول پریخودل، که څوك ئے طلب کوی نو تفسیر الخازن ته دِے رجوع وکړی.

مخکښې ئے ورسره (لَا) زیات کړے وو په (وَلَا اَوْلَادُهُمْ) کښې چه هغے کښې اشاره وه چه هر یو د مال او د اولادو باندے جدا جدا په تعجب کښې مهٔ پریوزه چه د چا مال او د چا اولاد زیات دی، او دلته ورسره لَا نشته نو معنیٰ دا ده چه دواړه چه د چا دپاره راجمع وی نو دے ته هم مهٔ حیرانیږه. یا دا چه دوی په اولادو باندے زیات تکبر کولو، نو ځکه ئے ورسره (لَا) زیات کړو. او دلته ئے (لَا) گوزار کړو اشاره ده چه دواړو باندے تکبر کولو کښې هیڅ فرق نشته، دواړه د دوی د هلاکت سامان دے.

| وَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ |
|---|
| او کله چه نازل کړے شي یو سورت (پدے مضمون) چه ایمان راوړئ په الله |

| |
|---|
| وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ اسْتَأْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ |
| او جهاد اُوکړئ په ملګرتیا د رسول د هغهٔ کښې، (نو) اجازه غواړي ستا نه طاقت والا خلق |
| مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ رَضُوْا |
| د دوی نه او وائي دوی چه پرېږده مونږ چه شو سره د کيناستونکو نه۔ خوشحاله دي دوی |
| بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ |
| پدے کښې چه شي د پاتے کيدونکو ښځو سره، او مهر وهلے شويدے په زړونو د دوی |
| فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨٧﴾ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ جٰهَدُوْا |
| نو دوی نهٔ پو هيږي۔ ليکن رسول او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے د هغه سره جهاد کوی |
| بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْخَيْرٰتُ |
| په مالونو خپلو او ځانونو خپلو او دا کسان دوی له فائدے دی (د دنيا او د آخرت) |
| وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨٨﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ |
| او دا کسان هم دوی کامياب دی۔ تيار کړيدی الله تعالیٰ دوی له جنتونه چه بهيږی به |
| مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾ |
| لاندے د هغے نه نهرونه هميشه به وی په هغے کښې دا کامياب ده لويه۔ |

**تفسیر** : د جهاد نه د روستو پاتے کيدونکو منافقانو په حالاتو باندے زياته رڼا اچولے شی چه کله هم په قرآن کريم کښې يو سورت نازليږی چه په هغے کښې حکم کيږی چه په الله تعالیٰ ايمان راوړئ او د هغه د رسول سره جهاد وکړئ، نو مالداره منافقان د رسول الله ﷺ نه اجازت غواړی، او د دروغو عذر پيش کوی، او د ښځو او ماشومانو سره پاتے کيدل خوښوی۔ د دوی ددے نفاق په وجه د دوی په زړونو مهر ووهلے شو او د دوی په عقلونو پردے پريوتے۔

سُوْرَةٌ: يعنی يوه حصه د سورت يا مکمل سورت۔

اَنْ اٰمِنُوْا : يعنی پدے مضمون باندے مشتمل وی چه په الله ايمان راوړئ او د هغهٔ د رسول په ملګرتيا کښې جهاد وکړئ۔ دلته بيا ايمان او جهاد شريك ذکر شو ځکه چه د ايمان

په وجه جهاد کیږی او جهاد د ایمان د محفوظ پاتے کیدو سبب دے۔ او ایمان ئے مقدم کړو ځکه چه جهاد بغیر د ایمان نه فائده نهٔ ورکوی۔

**اُولُوا الطَّوْلِ:** طول مالداریٔ ته وائی، یعنی مالداره خلك چه هر څه اسباب ئے تیار وی او لائق وی چه جهاد ته وځی یعنی مشران او غټان خلك، او دوی ئے خصوصی ذکر کړل ځکه چه د دوی بدی زیاته ده ځکه چه په ناسته کښ د دوی هیڅ عذر نشته، او بل پدے وجه چه د سفر او جهاد نه عاجز انسان اجازے غوښتنے ته محتاج نهٔ دے۔

(فتح البیان والتفسیر المنیر للزحیلیؒ)

**وَقَالُوْا :** دا عطف تفسیر دے د (اِسْتَأْذَنَكَ) دپاره۔

**الْقٰعِدِيْنَ:** د هغه معذورو کسانو سره چه د غزا نه پاتے شوی دی لکه ضعیفان او بیماران۔

**رَضُوْا:** دا رد دے د دوی پدے بد کار باندے۔

**الْخَوَالِفِ:** جمع د خَالِفَةٌ ده، هغه ښځو ته وائی چه د سړو نه روستو په کورونو کښ پاتے شی۔ او پدے کښ د دوی زیاتے بدیٔ ته اشاره ده، یعنی دوی ځان ته سړی وائی او د ښځو په شان حالت خوښوی۔ ډیر لوی کم همته دی۔ یا خوالف : اَلنِّسَاءُ وَأَدْنِيَاءُ النَّاسِ وَسَفَلَتُهُمْ ته وائی۔ یعنی زنانه او رذیلان او خکته پریوتی خلك۔

نحاسؒ وئیلی دی چه جائز ده چه خوالف جمع د خَالِفَةٌ وی او صفت د سړو وی (لکه د دَاعِيَةٌ په شان) او د خَالِفَةٌ معنیٰ ده هغه سړے چه هیڅ خیر پکښ نهٔ وی۔ (فتح البیان)

**لٰكِنِ :** د آیت شروع ئے په لکن (حرف استدراك) سره وکړه پدے کښ اشاره ده چه ددے کلام مضمون د مخکنی کلام د مضمون نه مخالف دے۔ منافقان د جهاد نه کیناستل نو د دوی په مقابله کښ ایمان والو جهاد وکړو (التحریر) نو د لکن معنیٰ دا ده :

اَیْ لٰكِنْ اِنْ تَخَلَّفَ هٰؤُلَاءِ الْمُنَافِقُوْنَ فَقَدْ جَاهَدَ الرَّسُوْلُ الخ۔

یعنی که منافقان په جهاد کښ شریك نهٔ شو نو څه وشو، دا ذمه واری خو رسول الله ﷺ او مسلمانانو په ښائسته طریقے سره سنبال کړه چه د هغوی نه په هر اعتبار سره ښهٔ دی، او د کومو نیتونه چه خالص دی۔

او لکن دفع د وهم وی چه که دا منافقان جهاد ته لاړ نشو نو آیا په جهاد باندے څه اثر پریوتو؟ نو الله فرمائی : چه که دوی جهاد ونکړو نو ایمان والا شته۔

**بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ :** دا مقابل دے د ﴿ اسْتَأْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ﴾

**اَلْخَيْرٰتُ**: ١- تهول خیرونه دی، جمع د خیرة ده، د هر ښائسته شی ته وائی. نو د دنیا او د آخرت محاسنو او کمالاتو ته شاملیږی. (البحر المحیط لابی حیان)

٢- امام بخاریؒ وائی: اَلْفَضَائِل. د دوی دپاره تهول فضیلتونه دی.

٣- خازن کښې لیکی: [مَنَافِعُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ] د دنیا او د آخرت ډیر فوائد په جهاد سره حاصلیږی.

٤- اَلْخَيْرٰتُ: د جنت حوروته هم وائی. لکه سورة الرحمن کښې دی آیت (٧٠) ﴿فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ﴾

٥- او بعض وائی چه ددے خیراتو تفسیر روستو ﴿اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ﴾ دے. او ددے نه زیات په آخرت کښې الله تعالیٰ مجاهد ته جنت ورکوی چه دا ډیره لویه کامیابی ده.

**هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ**: اَیْ بِسِیَادَةِ الدُّنْیَا مَعَ سَعَادَةِ الْاٰخِرَةِ) یعنی دا خلك د دنیا په سرداریٔ باندے سره د سعادت د آخرت نه کامیاب شو. نهٔ هغه منافقان چه ددے دواړو نه د نفاق په وجه محروم شو. (المنار)

| |
|---|
| وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ |
| او راغلل په دروغه عذر کونکی د بانډچیانو نه دے دپاره چه اجازت وکړے شی دوی ته |
| وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ |
| او کیناستل (د جهاد او د عذر پیش کولو نه) هغه کسان چه دروغ ئے وئیلی وو الله |
| وَرَسُوْلَهٗ ۭ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا |
| او رسول د هغهٔ ته، زردے چه ویه رسیږی هغه کسانو ته چه کفر ئے کړیدے |
| مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾ |
| د دوی نه عذاب دردناك. |

**تفسیر**: په غزا د تبوك کښې د ډیرو خلکو احوال الله تعالیٰ راښکاره کړل ځکه چه دا غزوه یو ابتلاء او امتحان وو، د مؤمن او منافق، د دوست او د دشمن د راښکاره کیدو او د مؤمنانو د ایمان د ترقیٔ لاره وه.

ربط او تړون

د مدينې منافقانو د احوالو بيانولو نه روستو اُوس په بانډو کښې د وسيدونکو منافقانو او غير منافقانو په حالاتو رنړا اچولے شي۔

د هغوی نه څه کسان رسول الله ﷺ ته راغلل، د غزوهٔ تبوك دپاره د تللو نه ئے عذر پيش کړو، څه خو دروغژن وو او د هغوی عذر باطل وو، او څه کسانو داسے عذر پيش کړو چه هغوی رشتينی وو، او پدے بانډ چيانو کښې څه ښکاره منافقان وو، دوی په خپلو خيمو کښې ناست پاتے شو او رشتينی يا دروغژن هيڅ عذرئے پيش نهٔ کړو، په رسول الله ﷺ ئے هيڅ پرواه ونکړه، پدے تمامو خلقو کښې چه کوم خلق منافقان وو په هغوی الله تعالیٰ د کفرٌ حکم ولګولو او دوی ته ئے د دردناك عذاب دهمکی ورکړه۔ او کوم خلك چه صحيح مؤمنان وو او واقعی معذور وو نو د هغوی د عذر مقبوليت ئے بيان کړو او د هغے دپاره ئے شرط بيان کړو۔

**اَلۡمُعَذِّرُوۡنَ** : دے کښې دوه تفسيره دی (۱) مُعَذِّر په اصل مُعۡتَذِرٌ دے، دا هغه چا ته وائی چه عذرئے رشتينی وی نو مُعَذِّرُوۡن هغه خلك دی چه د هغوی عذر پيش کول حق وو او دا قول د فراءؒ، زجاجؒ، ابن الانباریؒ، ابو عبيدؒ، اخفشؒ او ابوحاتمؒ نه نقل دے۔ او دا تفسير حافظ ابن کثيرؒ غوره ګرځولے دے۔ او وَقَعَدَ الَّذِيۡنَ کَذَّبُوۡا : دا پرے عطف دے يعنی وَقَعَدَ عَنِ الۡاِعۡتِذَارِ وَالۡجِهَادِ۔ او دروغژن خلك د عذر پيش کولو او د جهاد کولو نه کيناستل۔ نو دوی له به الله تعالیٰ دردناك عذاب ورکړی۔ نو په آيت کښې به دوه ډلے ذکر وی۔ او روستو لَيۡسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ کښې به ددے خلکو د عذر مقبوليت ښائی او د دوی نه ملامتيا لرے کوی پدے شرط چه دوی به د الله تعالیٰ او د رسول خير خواهی لټوی او ځان کښې به احسان پيدا کوی۔

(۲) بعض وائي : معذر هغه شخص ته وائی چه عذر پيش کوی او هيڅ عذرئے نهٔ وی عرب وائی : عَذَّرَ فِي الۡاَمۡرِ اِذَا قَصَّرَ فِيۡهِ وَاعۡتَذَرَ بِمَا لَيۡسَ بِعُذۡرٍ]:

يعنی په يو کار کښې ئے کوتاهی وکړه او هغه شے ئے په عذر کښې پيش کړو چه هغه عذر نهٔ وو۔ (الجوهری وصاحب الکشاف– فتح البيان)

نو د مُعَذِّرُوۡن نه به باطل عذر کونکی مراد وی۔

او بناء پدے تفسير به روستو وَقَعَدَ الَّذِيۡنَ د معذرون دپاره عطف تفسير وی۔ ليکن دا تفسير ظاهر نهٔ دے ځکه چه د دواړو جملو به حاصل مطلب يو راوځی نو تکرار به راشی۔

ظاهر دا ده چه اولنی اشخاص مؤمنان وو چه عذرئے صحيح وو او دويم نه مراد منافقان

وو چه الله تعالیٰ او رسول ته ئې په دعوه د ایمان کښې دروغ وئیلي وو۔
ضحاكؒ وائي: دا عذر کونکي د عامر قبیلې کسان وو۔ دوی ووئیل که مونږ تا سره غزا ته لاړ شو نو د طئ قبیلې بانډ چیان به زمونږ په اهل او څاروو باندې حمله وکړي۔ ځینې وائي: د اسد او غطفان قبیلې نه وو۔ (فتح البیان)۔
**سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا**: ددې کافرانو نه مراد يو هغه خلك وو چه هغوی غلط عذرونه وکړل، او دویم هغه کسان چه جهاد ته هم لاړ نشو او هيڅ عذرئې هم ونکړو۔
**مِنْهُمْ**: ځکه وائي چه په دوی کښې ځینې کسانو ایمان راوړو نو د عذاب نه بچ شو۔

| |
|---|
| لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا |
| نشته په کمزورو خلقو او نۀ په مریضانو او نۀ په هغه کسانو چه نۀ موندۀ کوی هغه څه |
| يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ |
| چه خرچ کړي، څه ګناه (په کیناستلو د جهاد نه) کله چه خیرخواهي کوی د الله |
| وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ |
| او د رسول د هغۀ، نشته په احسان کونکو هيڅ لاره د ملامتیا، او الله بخونکې |
| رَّحِيْمٌ ﴿۹۱﴾ وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ |
| رحم کونکې دې۔ او نشته (ګناه) په هغه کسانو باندې چه کله راشي تا ته |
| لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ اَجِدُ مَآ |
| دې دپاره چه تۀ سورلي ورکړې دوی ته نو تا اُووئیل نۀ مونده کوم هغه څه |
| اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ص تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ |
| چه سوارۀ کړم تاسو په هغې، نو واپس شول دوی او سترګې د دوی بهیدلې د اُوښکو نه |
| حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ |
| د وجه دغم نه پدې خبره چه نۀ موندۀ کوی هغه شے چه خرچ ئې کړي۔ |

**تفسیر**: پدې آیت کښې هغه عذرونه بیان شویدي چه د هغې په موجودګئ کښې مسلمان په جهاد کښې د شرکت نۀ کولو سره د الله تعالیٰ په نیز معذور ګڼلې کیږي:

۱- هغه کمزوری خلق چه د منډې او مشقت برداشت کولو نه عاجز وی، لکه بوډا، ماشوم، ښځه او ضعیف.

۲- هغه معذور چه د څه بیمارئ په وجه سره جهاد نشی کولے. لکه ړوند، ګوډ.

۳- هغه صحتمند مسلمان چه د هغهٔ سره نهٔ د سفر توخه وی او نهٔ د وسلے اخستو دپاره پیسے وی، لیکن الله تعالیٰ ددے ټولو دپاره دا شرط لګولے دے چه دوی به د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول دپاره مخلص وی، په مسلمانانو کښې به خوف او یره نهٔ خوروی، مجاهدینو ته به غذائی کومك رسوی، او د هغوی غائبانه د هغوی د کور خیال به ساتی او د هغوی ضرورتونه به پوره کوی.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ : د زیات تاکید دپاره الله تعالیٰ وفرمایل چه پداسے مخلص او معذوره مسلمانانو هیڅ حرج او ګناه نشته. نو پدے کښې ئے ملامتیا پورته کړه د دغه معذورو خلکو نه.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ : أَيْ فِيْ تَرْكِهِمُ الْجِهَادَ . یعنی که دوی جهاد ته نهٔ ځی نو په دوی څه ګناه نشته.

حافظ ابن مردویه او عوفی رحمهما الله د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه کله رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته غزوهٔ تبوك ته د روانیدو حکم وکړو نو څه صحابهٔ راغلل چه د هغوی په سر کښې عبد الله بن مُغفل مُزَنی ﷺ وو، دوی ووئیل : اے د الله رسوله ! مونږ ته سورلی راکړه، نبی ﷺ وفرمایل چه قسم په الله ! ما سره ستاسو دپاره سورلئ نشته، نو هغوی په ژړا ژړا واپس شو. کله چه الله تعالیٰ د هغوی اخلاص ولیدو نو د هغوی عذرئے په قرآن کښې بیان کړو. پدے وجه په صحیحینو کښې د انس بن مالك ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ (چه کله د تبوك نه راواپس کیدو نو وے) فرمایل :

[إِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ]

(په مدینه کښې داسے خَلق پاتے شویدی چه په هر ځای کښې ستاسو سره دی))، هغوی ووئیل : حال دا چه هغوی په مدینه کښې دی ؟ نبی ﷺ وفرمایل : [وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ] ((آؤ څه مجبورتیا هغوی د راتللو نه منع کړیدی)). (بخاری : ٤٤٢٣)

إِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ : د الله او د رسول خیر خواهی دا ده چه د الله دین غالبه شی او مجاهدینو ته الله تعالیٰ ترقی او فتح ورکړی او هغوی ته دعاګانے کوی.

لنډه دا چه د اسلام په ترقئ خوشحاله وی.

مفسر خازنؒ لیکي: خیرخواهي دا ده چه په کلي کښ وسیږي او رازونه نهٔ خوروي، او غلطې ډنډورې نکوي، او فتنې او شرونه نهٔ راپورته کوي، او مجاهدینو ته په خیر رسولو کښ کوشش کوي، او د هغوي د کورونو نګراني او حفاظت کوي۔

دارنګه د الله تعالیٰ خیرخواهي دا ده چه د هغهٔ په وحدانیت عقیده وساتي او د هغهٔ صفات منل او د هغهٔ د امر او نهي تابعداري کول، او د الله تعالیٰ په محبتونو کښ رغبت کول، او د الله تعالیٰ د غصو نه ځان جدا کول، لنډه دا چه د الله تعالیٰ بندګي وکړي او دا خوښوي چه دا ټول انسانان د الله په بندګئ کښ استعمال شي او د اسلام ترقي وشي۔

عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ: ددې نه مراد یا دغه خیرخواهئ والا خلك دي چه صحیح عذرونه ئې وکړل۔ نو د ضمیر په ځای ئې اسم ظاهر ذکر کړو پدې کښ اشاره ده چه دوي پدې خیرخواهئ سره په ډله د محسنانو کښ داخل شویدي۔

یا مراد جنس مُحسنین دي چه په هغوي هیڅ لاره د ملامتیا او عذاب نهٔ وي چه د هغوي نه دغه ذکر شوي خلك هم دي۔

او پدې کښ بل شرط ته هم اشاره ده چه د خیر خواهئ سره سره به په دهٔ کښ د الله نورې بندګیاني موجود وي او هغهٔ به په اخلاص او محبت سره کوي۔

سَبِیْل: یعني سَبِیْلِ الْمَلَامِ وَالْعِقَابِ۔ د ملامتیا او عذاب لاره۔

وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ: دا په مخکښنو معذورو خلکو کښ بل قِسم خلك دي چه هغوي د خرڅې د نشتوالي په وجه پاتې شویدي۔

لِتَحْمِلَهُمْ: یعني دې دپاره چه تهٔ دوي په سورلئ باندې سوارهٔ کړې یا سورلئ ورکړې۔ (المنار) ځکه چه دا ډیر اُوږد سفر وو او سختې او خطرناکې لارې راتللې۔

د روایاتو نه معلومیږي چه دې خلکو چپړې او څپلئ غوښتلې وې، نهٔ اسونه او اُوښان۔

(دا خبره ابراهیم بن أدهمؒ او الحسن بن صالحؒ کړیده- فتح البیان)

او ځیني وائي چه دوي اول کښ څاروي وغوښتل خو هغه ملاؤ نشو نو بیا ئې چپړې او څپلئ وغوښتلې۔ (بغويؒ) مګر هغه هم د رسول الله ﷺ سره نهٔ وو موجود۔

د انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل دي چه دوي اُوبه او توښه غوښتې وه۔ (فتح البیان والمنار)

دا تقریباً پنځوس کسان وو د مختلفو قبیلو نه وو چه دوي ته به بَکَّائِیْن (یعني ژړا کونکي) وئیل کیدل۔ د دوي نه عباس رضی الله عنه دوه کسانو ته او عثمان رضی الله عنه درې کسانو ته سورلي ورکړه زیاتي د هغه فوج نه چه دهٔ کوم تیار کړې وو چه هغه زر کسان وو۔ او یامین

بن عمرو النضری ﷺ دوه کسانو ته سورلئ ورکړه۔ (فتح البیان وغیره)
او ددے ټولو روایاتو جمع کیدل جائز دی چه دا مختلف کسان وو او لویه غزا وه پدے وجه ملګرو ته مختلف ضرورتونه رامخے ته شوی وو۔ اګرکه دا آیت خاص دے په طلب د سورلو کښ ځکه چه د الفاظو نه همدغه معنیٰ زر ذهن ته راځی۔ (المنار)
اَلَّا يَجِدُوْا: یعنی چه دوی ولے نهٔ مونده کوی تا سره یا د دوی سره هغه مال چه دوی ئے د الله دپاره ولګوی۔ یا دا په اصل کښ [حَزَنًا عَلٰى اَنْ لَّا يَجِدُوْا] دے۔ یعنی پدے خبره غمژن دی چه دوی نهٔ مونده کوی هغه شے چه خرچ ئے کړی۔ یا [حَزَنًا لِاَجْلِ اَنْ لَّا يَجِدُوْا]۔ غم ئے پدے وجه دے چه دوی نهٔ مونده کوی هغے شے چه خرچ ئے کړی۔ (فتح البیان)

## فوائد الآیة:

۱- ددے آیت نه معلومه شوه چه د هر سفر مطابق کوم ضرورتونه وی که هغه مجاهد سره پوره نهٔ وی نو په هغه باندے جهاد فرض نهٔ دے لکه د اُوږد سفر دپاره جهاز ته ضرورت یا ګاړو موټرو ته، یا ریل ګاړو ته یا د جهاد مطابق وسلے ته۔ (المنار) نو که د جهاد دپاره ورسره خرچه نهٔ وی نو بیا به غلاګانے او د جهاد په نوم بهته خوری نهٔ کوی۔
۲- دلته الله تعالیٰ ددے ایمان والو صفت وکړو چه د جهاد پسے ئے ژړل لکه حدیث کښ دی: [وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهٗ عَلٰى هَلَكَتِهٖ فِى الْحَقِّ] (بخاری: ۱۴۰۹) ومسلم: ۱۹۳۳)۔
هغه سړی ته پسخیدل پکار دی چه الله تعالیٰ ورته مال ورکړے وی او بیا ئے هغه د حق په ځایونو کښ لګوی۔ نو دا ایمان والا هم وپسخیدل او د مال ارمان ئے وکړو په ښهٔ نیت سره او د جهاد پسے ئے ژړا وکړه۔
۳- لِتَحْمِلَهُمْ: نه معلومه شوه چه د امیر نه سوال کول او هغه ته شکایت کول جائز دی۔ ٤- قُلْتُ لَآ اَجِدُ: نه رد د شرك معلوم شو، رسول الله ﷺ په فرضی جهاد کښ د خپلو ملګرو سره مدد نشی کولے چه هغوی ته سورلئ یا څپلئ او چپړے ورکړی نو پس د مرګ د هغه نه به د مشرکانو سره څنګه مدد وکړی چه هغه ته رامدد شه وائی او هغه ورله راشی او مدد ورسره وکړی دا ممکن نهٔ ده۔
۵- مال سره محبت کول دپاره د انفاق عبادت دے او مال سره محبت د شهوت دپاره عبادت نهٔ دے۔
٦- د جهاد سره محبت ساتل عظیم عبادت دے۔

| |
|---|
| اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَسْتَأْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ج |
| يقيناً لاره د ملامتيا په هغه کسانو ده چه اجازه غواړي ستا نه او دوی مالداره وی، |
| رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ لا وَطَبَعَ اللّٰهُ |
| خوشحاله وی پدے چه شی سَره د پاتے کیدونکو ښځونه، او مهر وهلے دے الله تعالیٰ |
| عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۳﴾ |
| په زړونو د دوی نو دوی نۀ پو هیږی۔ |

**تفسیر** : ملامتیا او سزا د هغه خلقو دپاره ده چه د مالدارئ سره ئے د دروغو عذر پیش کړو او د رسول الله ﷺ نه ئے اجازت واخستو او د ښځو او ماشومانو سره پاتے کیدل ئے خوښ کړل چه د هغے نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ د دوی په زړونو مهر ووهلو او په نفع او نقصان کښ د تمییز کولو صلاحیت ئے د هغوی نه واخستو۔

د سبِيل نه مراد د ملامتیا او د عقوبت (یعنی د سزا) لاره ده۔

يَسْتَأْذِنُوْنَكَ : یعنی ستا نه اجازه غواړی په پاتے کیدو کښ د جهاد نه۔

رَضُوْا : دا جمله مستأنفه ده، جواب د سوال دے چه دوی سَره د مالدارئ نه ولے اجازه غواړی؟ نو ووئیل شو چه دوی په رذالت او خکته همت خوشحاله دی۔ (فتح)

الْخَوَالِفِ : نه مراد ښځے او ماشومان دی۔ یعنی دوی ډیر کم همته او خکته همت والا دی، د ښځو حالت خوښوی۔

وَطَبَعَ اللّٰهُ: دا عطف دے په (رَضُوْا) باندے، او مطلب دا دے چه د دوی د مالدارئ سره سره د اجازے غوښتلو دوه سببونه دی (۱) یو دا چه په تاوانی سودا باندے خوشحاله دی او د ښځو سره پاتے کیدل خوښوی (۲) او دویم دا چه الله تعالیٰ د دوی په زړونو مهر وهلے دے۔ (فتح البیان)

په عربو کښ د عُلُوَّ الْهِمَّة ماده زیاته وه نو ځکه الله تعالیٰ دلته منافقانو ته په خکته همت اختیارولو باندے پیغور ورکړیدے۔

فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ : نو دوی نۀ پو هیږی چه د دوی ګټه په څه کښ ده او تاوان ئے په څه کښ دے، د دوارو جهانو سردار محمد رسول الله ﷺ په شان شخص ډِے جنګ ته روان وی او ښکلے جماعت د صحابه کرامو ډِے ورسره وی او یو شخص ډِے د هغه نه پاتے کیږی، دا

لوی جهالت او کامله بې وقوفي ده۔

| |
|---|
| يَعۡتَذِرُونَ اِلَيۡكُمۡ اِذَا رَجَعۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ ؕ قُلۡ |
| د دروغو عذر به پیش کوي دوی تاسو ته کله چه واپس شئ تاسو دوی ته، اُووایه |
| لَّا تَعۡتَذِرُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ قَدۡ نَبَّاَنَا اللّٰهُ |
| عذر مهٔ کوئ هیچرې باور نهٔ کوو مونږ په تاسو، یقیناً خبر راکړیدې مونږ ته الله |
| مِنۡ اَخۡبَارِكُمۡ ؕ وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُوۡلُهٗ |
| د خبرونو ستاسو نه، او زر دې چه ویه وینی الله تعالیٰ عملونه ستاسو او رسول د هغهٔ |
| ثُمَّ تُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ |
| بیا به واپس کړې شئ تاسو هغه ذات ته چه عالِم دې په هر پټ او ښکاره |
| فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۴﴾ |
| نو خبر به کړی تاسو په هغه عملونو چه تاسو به کول۔ |

**تفسیر**: کوم مالداره منافقان چه بغیر د څه صحیح عذر نه په تبوك غزا کښې شریك نهٔ شو د هغوی په باره کښې الله تعالیٰ پدې آیت کښې خبر ورکوی چه کله تهٔ د جنګ نه راواپس شې نو تا ته به راځی او د دروغو عذرونه به پیش کوی۔ نو ته به ورته داسې خبره کوې چه تاسو د دروغو بهانې مهٔ کوئ مونږ ستاسو هیڅ خبره نهٔ منو، ځکه چه الله تعالیٰ مونږ ته په وحی سره ستاسو په باره کښې هغه څه خودلی دی چه هغه ستاسو د عذرونو او بهانو مخالف دی، او آینده به الله تعالیٰ او رسول ستاسو عملونه ګوری، ځکه چه عمل د انسان کسوټې دې (پدې سره کرهٔ کوټه معلومیږی لکه څنګه چه په یو خاص کاڼی (کسوټی) سره د سرو زرو کرهٔ کوټه معلومیږی) صرف په خبرو کار نهٔ کیږی۔

بیا د مرګ نه روستو به تاسو ټول د الله تعالیٰ مخې ته ودریږئ چه هغه په غائب او حاضر هر څه پوهه دې، هغه به ستاسو د عملونو تاسو ته خبر درکړی یعنی بدله به درکړی۔

**يَعۡتَذِرُوۡنَ**: اعتذار د دروغو عذر او بهانه کولو ته وائی۔

بعض روایاتو کښې ذکر شویدی چه دا عذر کونکی څه دپاسه اتیا کسان وو ۔ (فتح البیان)

**اِلَيۡكُمۡ**: پدې کښې رسول الله ﷺ سره د ملګرو نه مراد دې۔

اِذَا رَجَعۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ : اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ ئے ونۀ وئیل پدے کښې هم اشاره وه چه دوی به ستاسو استقبال ته راووځی او په عذر کولو کښې به جلتی کوی لیکن دروغژن دی۔

قَدۡ نَبَّاَنَا : دا جمله علت دے د (لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ) دپاره یعنی مونږ ستاسو خبره باندے ځکه یقین نۀ کوو چه الله تعالیٰ مونږ ته ستاسو بعض حالات خودلی دی۔

مِنۡ اَخۡبَارِكُمۡ : اَیۡ مِنۡ سَرَائِرِكُمۡ۔ یعنی ستاسو رازونه او احوال۔

وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ : یعنی تاسو نه خو وخت نۀ دے تلے، اُوس توبه وباسئ نو الله تعالیٰ به ستاسو عمل وینی چه آیا تاسو په همدے شر باندے باقی پاتے کیږئ او که توبه وباسئ نو که تاسو سم خلك شوئ، الله تعالیٰ به ستاسو عذر قبول کړی او توبه به مو منظوره کړی او که روستو هم ستاسو عمل ټیك نشو نو ستاسو دا د دروغو عذرونه تاسو ته هیڅ فائده نۀ درکوی۔

د الله تعالیٰ لیدل ئے په آینده زمانه پورے بند کړل دا په نسبت زمونږ بندګانو ته چه الله تعالیٰ به خپل دغه علم بندګانو ته رابښکاره کړی چه دا منافقان نیك کار کوی او که بد۔

وَرَسُوۡلُهٗ : سوال : دلته خو د رسول الله ﷺ لیدل د الله تعالیٰ سره شریك شویدی نو آیا رسول الله ﷺ به هم آینده کښې د دوی په حالاتو پوهه وی؟

جواب دا دے چه دا د ژوندو خلکو په نسبت مراد دے او کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو بیا ئے د منافقانو عمل ته نشو کتلے۔ دلیل پرے روستو آیت (۱۰۵) دے چه هلته ورسره په علم کښې مؤمنان هم شریك شویدی۔ نو دا آیت د متشابهاتو نه شو او د متشابهاتو نه استدلال کول د اهل زیغو طریقه ده۔

فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ : دا د په قرآن کریم کښې سخت وعید دے چه الله تعالیٰ د تول عرصات والو مخامخ بنده ته ووائی چه ستا تول عملونه د نفاق نه ډك دی نو ما برباد کړل، ددے نه بل لوی شرم نشته۔

| |
|---|
| سَيَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ لَكُمۡ اِذَا انۡقَلَبۡتُمۡ |
| زردے چه قسمونه به کوی په الله تعالیٰ تاسو ته کله چه واپس شئ تاسو |
| اِلَيۡهِمۡ لِتُعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ ؕ فَاَعۡرِضُوۡا عَنۡهُمۡ ؕ اِنَّهُمۡ رِجۡسٌ ز |
| دوی ته دے دپاره چه مخ واړوئ د دوی نه، نو مخ واړوئ د دوی نه، یقیناً دوی پلیت دی |

| |
|---|
| وَّمَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ج جَزَآءً بِمَا كَانُوْا |
| او ځائے د اُوسیدو د دوی جهنم دے، بدله به ورکولے شی په سبب د هغے عملونو |
| يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٥﴾ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ج |
| چه دوی ئے کوی۔ قسمونه به کوی تاسو ته دے دپاره چه راضی شئ تاسو د دوی نه |
| فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٩٦﴾ |
| نو که راضی شئ تاسو د دوی نه نو یقیناً الله نۀ راضی کیږی د قوم نافرمان نه۔ |

**تفسیر** : دلته الله تعالیٰ خبر ورکړیدے چه منافقان به ستاسو خوا ته راځی او قسمونه به خوری چه مونږ د غزا نه ددے عذرونو د وجه نه پاتے شوی وو او خپله خبره به په قسمونو سره مضبوطوی، مقصد ئے دا وی چه مؤمنان د هغوی د ملامته کولو او زورنے ورکولو نه مخ واړی، او د دوی نه راضی شی، ځکه چه منافقانو ته د انسانانو توبیخ ډیر دروند او لوی ښکاره کیږی په نسبت د توبیخ د الله تعالیٰ۔

لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ : اَیْ عَنْ تَأْنِيْبِهِمْ وَتَوْبِيْخِهِمْ۔ یعنی د دوی د زورنے او توبیخ (رټنے) نه،

فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ : دیته اعراض د اجتناب وائی یعنی د دوی نه ځانونه یو طرفته کړئ او هیڅ باك پرے مۀ کوئ او په خپل منافقت کښ ئے پریدئ، او دا مطلب نۀ دے چه مۀ ئے ملامته کوئ او د دوی ګناه معاف کړئ، توبیخ ورکول خو به ضروری وی لیکن پرواه پرے مۀ کوئ هیڅ التفات ورته مۀ کوئ او سپك ئے وګنړئ، دلیل پرے روستو (اِنَّهُمْ رِجْسٌ) دے۔

اهل المعانی وائی : هٰؤُلَاءِ طَلَبُوْا اِعْرَاضَ الصَّفْحِ فَأُعْطُوا اِعْرَاضَ الْمَقْتِ۔ یعنی دے خلکو ظاهری مخ اړول غوښتل نو دوی ته د غصے او خفګان په طریقه مخ اړول ورکړے شو۔

(فتح البیان)

الله تعالیٰ چه ایمان والو ته خبر ورکړو چه زۀ د منافقانو نه راضی نۀ یم نو پدے کښ مقصد د مؤمنانو منع کول دی چه چرته د دوی نه راضی نشی ځکه چه مؤمن به د هغه چا نه بیخی نۀ راضی کیږی چه الله تعالیٰ ترے راضی نۀ وی۔

اِنَّهُمْ رِجْسٌ : لکه څنګه چه مشرك نجس او خبیث دے نو دغه شان منافق هم، یعنی د منافقانو ټول اعمال نجس او پلیت دی نو ګویا که دے د دوی نفس ونه هم پلیت وګرځول۔

یا رجس په معنیٰ د ذَوُو أَعْمَالٍ قَبِیْحَةٍ سره دے، یعنی دوی پلیتو اعمالو والا دی۔
یعنی هرکله چه دا خلك د خیر د قبلولو او د شرك نه د ځان بچ کولو اهل نهٔ وو نو د دوی دپاره صرف دا خبره پاتے شوه چه دوی ډیے پریخودیے شی۔
وَّمَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ: یعنی د دوی دپاره بس همدا کافی ده چه جهنم د دوی ځای دیے۔ او دا د مخکنی علت تتمه ده یعنی څوك چه اُور والا وی نو د هغه خیر ته رابلل هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔ (ابوالسعودؒ)
جَزَآءً: اَیْ یُجْزَوْنَ جَزَاءً، یعنی دوی ته به بدله ورکولے شی بدله۔ یا دا مفعول له دیے۔ یعنی ځای دوی جهنم دیے د وجه د بدلے نه په سبب د عملونو د دوی۔
یَحْلِفُوْنَ لَكُمْ: پدیے آیت کښې فرمائی چه د منافقانو د قسمونو خوړلو صرف همدا مقصد نهٔ دیے چه تهٔ دوی ته هیڅ ونهٔ وائے بلکه دوی غواړی چه تهٔ د دوی نه خوشحاله شیے لکه چه دوی څه کړی نهٔ دی۔ لیکن که تاسو د دوی نه خوشحاله هم شئ او تاسو د دوی عذر قبول هم کړئ خو دوی ته ستاسو راضی کیدل هیڅ فائده نهٔ ورکوی ځکه چه الله تعالیٰ د دوی نه ناراضه دیے۔ او دیے کښې دا اشاره هم ده چه اے مسلمانانو! دا مناسب نهٔ ده چه د چا نه الله تعالیٰ راضی نهٔ دیے تاسو د هغوی نه راضی شئ، بلکه پکار ده چه الله تعالیٰ د چا نه راضی نهٔ وی نو د هغوی نه مؤمنان په طریق اولیٰ راضی نشی۔
الْفٰسِقِیْنَ: د ضمیر په ځای ئے اسم ظاهر ذکر کړو پدیے کښې علت ته اشاره ده چه ددیے خلکو نه الله تعالیٰ ځکه راضی نهٔ دیے چه دوی کښې فسق او معصیت موجود دیے نو ځکه پریے د الله تعالیٰ غضب نازل شو او بل ددیے دپاره چه حکم عام شی، نور فاسقان هم پکښې داخل شی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ کُفْرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجْدَرُ اَلَّا |
| باندچیان سخت دی په کفر کښې او په منافقت کښې او لائق دی ددیے خبریے چه نهٔ |
| یَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ ؕ |
| پو هیږی په حدودو (په مطلب) د هغے احکامو چه نازل کړیدی الله تعالیٰ په رسول خپل |
| وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَکِیْمٌ ﴿۹۷﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ یَّتَّخِذُ |
| او الله پو هه دیے حکمتونو والا دیے۔ او بعضِ د باندچیانو نه هغه څوك دی چه ګنړی |

| |
|---|
| مَا يُنفِقُ مَغرَمًا وَّ يَترَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ عَلَيهِم |
| هغه مال چه خرچ كوي ئے تاوان، او انتظار كوي په تاسو د آفتونو، په دوي باندے دِے وي |
| دَآئِرَةُ السَّوۡءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۹۸﴾ |
| آفت بد، او الله تعالىٰ آوريدونكے، پوهه دے۔ |

**تفسير** : د بانډو وسيدونكو منافقانو په باره كښ وئيلے كيږي چه د دوي كفر او نفاق د نورونه زيات سخت وي۔ ځكه چه د دوي په مزاج كښ سختي او وحشت وي، او وينائے سخته وي او د علماؤ د مجالسونه د لرى كيدو په وجه د قرآن او د سنت د تعليماتو نه بے برخے وي۔

امام احمدؒ، ابوداودؒ او ترمذيؒ (۲۲۵۶) وغيره د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَنۡ سَكَنَ الۡبَادِيَةَ جَفَا] ((څوك چه بانډو كښ وسيږي په هغه كښ سختي راځي))۔ واسناده صحيح- البانى)

ددے وجه نه علماء وائي : [اَلۡعِلۡمُ فِي الۡاَمۡصَارِ وَالۡجَهۡلُ فِي الۡقُرىٰ] علم په ښارونو كښ وي او جهالت په كلو او بانډو كښ وي۔ ځكه چه هلته څه مدرسه او د دين پوره دعوت نۀ وي، او صرف د ګډو بزو او د حيواناتو سره تعلق وي۔

**اَلۡاَعۡرَابُ**: جمع د اَعۡرَابِي ده، هغه چا ته وائي چه په بانډو او غرونو كښ وسيږي، بل دى عرب، دا هغه خلك دى چه ژبه ئے عربي وي برابره ده چه په ښاريو كښ وسيږي او كه په كلو كښ۔ او دلته د اعرابُ نه مراد جنس اعراب دى، الف لام پكښ جنسي دى يعني مجموعي طور سره د اعرابو مزاج كښ سختي وي نو د دوي كفر او نفاق هم سخت وي۔ او دا مطلب نۀ دے چه هر اعرابي به دغه شان وي۔

**اَشَدُّ كُفۡرًا**: اَیۡ مِنۡ اَهۡلِ الۡحَضَرِ ۔ يعني د ښاريو والو په نسبت د بانډو والو كفر او منافقت سخت وي۔ او د ښار والو په مزاج كښ نرمي وي نو د هغوي كفر او نفاق هم نرم وي۔

او الله تعالىٰ د اَعرابو ددے مزاج بيان وكړو پدے كښ داعي ته فائده ده چه، اشخاص او د هغوي مزاجونه وپيژني نو د هغے مطابق به دعوت كوي، د سختو خلكو سره به د درګزر او معافئ نه كار اخلي او د هغوي چلونه به ورته معلوميږي۔

**وَّاَجۡدَرُ** : يعني ډير لائق دى ددے خبرے چه دوي د الله تعالىٰ په شرائعو او احكامو او

فرائضو باندې پوهه نهٔ شي او نهٔ په هغه امرونو چه الله تعالیٰ د جهاد په باره کښې کړیدی ځکه چه دوی د انبیاؤ د علاقو او د کتابونو د نازلیدو ځایونو او د معجزاتو د لیدو نه جدا دی۔ (فتح البیان)

وَمِنَ الْأَعْرَابِ: اُوس د دویم قسم باندیچیانو منافقانو حال بیانیږی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې چه څه خرچ کوی صرف د ریاکارئ دپاره ئے کوی، پدے وجه دا جرمانه او تاوان ګڼړی، او پدے انتظار کښې اُوسی چه کله به حالات بدلیږی او په مسلمانانو به څه مصیبت راځی دے دپاره چه د دوی نه نجات موندهٔ کړی او دوی ته د خپل مال د نهٔ ورکولو موقعه ملاؤ شی۔ الله تعالیٰ خبر ورکړو چه مصیبت به په همدوی راځی او حالات به د دوی په حق کښې ډیر خرابیږی۔

مَغْرَمًا: غُرم او غَرَامَة هغه مال ته وائی چه سړے ئے خرچ کوی او په عقیده کښې ئے په ځان لازم نهٔ ګڼړی لیکن د ریاء او د ځان د بچاؤ دپاره ئے خرچ کوی۔

او دا تاوان ځکه ګڼړی چه د الله تعالیٰ په دربار کښې پرے د ثواب امید نهٔ لری۔

ابن زیدؒ وائی : دا د بنو اسد او غطفان څه منافقان کسان وو چه صرف د ریاء او د غزا نه د ځان بچ کولو او د جنګ نه د ځان لرے کولو دپاره به ئے خرچ کولو او خپل دا خرچ به ئے تاوان او جرمانه ګڼړله۔ (فتح البیان)

الدَّوَائِر : جمع د دَائِرَةٌ ده، د دنیا مصیبت ته وائی۔ یا هغه حالت چه د نعمت نه مصیبت ته بدل شی۔ اصل کښې دائره هغه شی ته وائی چه د بل شی نه راتاؤ شی نو دوائر الزمان، د زمانے حوادث او مصیبتونو ته وائی۔ او د دوی انتظار ددے خبرے وو چه دا رسول الله ﷺ به مړ شی او مونږ به ددهٔ د چندو نه خلاص شو، او مشرکان به غالبه شی۔

دَآئِرَةُ السَّوْءِ : دا جمله خبریه هم ده او دعائیه هم۔ یعنی بدے حادثے به الله تعالیٰ په همدوی راولی۔ یا الله دِے په دوی باندے بدے حادثے راولی۔

او بده حادثه دا چه الله تعالیٰ به اسلام غالبه کړی نو دوی به نور خفه کیږی او مصیبت به ئے زیاتیږی۔ پدے کښې اشاره ده چه څوك د مسلمانانو په مصیبتونو خوشحالیږی الله تعالیٰ به ئے په هغوی باندے راولی۔

دائرة: یا مصدر دے لکه د عاقبةٌ په شان او سوء په زوَر د سین سره عذاب او مصیبت ته وائی۔ یعنی ګرځیدل د مصیبتونو او عذابونو او ضررونو۔ یا دائرة صیغه د صفت ده لکه د قائمة په شان مصیبت ته وائی او سوء په زوَر د سین سره بدئ ته وائی او دا اضافت د

موصوف دے صفت ته یعني بده حادثه او مصیبت۔
اخفش" معنیٰ کوی: عَلَيۡهِمۡ دَائِرَةُ الۡهَزِيۡمَةِ وَالشَّرِّ ۔ په دوی باندے به مصیبت د شکست او شر وی۔ یا گرځیدل د شکست او شر به په دوی باندے وی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ |
| او بعض د بانډچیانو نه هغه څوك دی چه ایمان لری په الله او په ورځ د آخرت او گنړی |
| مَا يُنۡفِقُ قُرُبٰتٍ عِنۡدَ اللّٰهِ |
| هغه چه خرچ کوی (په لار د الله کښې) سبب د ډیرو نزدیکتونو په نیز د الله |
| وَصَلَوٰتِ الرَّسُوۡلِ ؕ اَلَاۤ اِنَّهَا قُرۡبَةٌ لَّهُمۡ ؕ |
| او سبب د دعاگانو د رسول (ﷺ) خبر شئ یقیناً دا مالونه سبب د نزدے والی دے د دوی |
| سَيُدۡخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ |
| زر دے چه داخل به کړی دوی لره الله تعالیٰ په خاص رحمت خپل کښې یقیناً الله |
| غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۹۹﴾ |
| بخونکے رحم کونکے دے۔ |

**تفسیر**: تهول بانډچیان یو شان نهٔ وی، په دوی کښې څه مخلص هم وی، او دا دریم قسم دے چه په الله تعالیٰ او په ورځ د آخرت ایمان لری او د الله تعالیٰ د رضا دپاره خرچ کوی، او دے دپاره چه الله تعالیٰ ته پدے سره ځانونه زیات نزدے کړی، او پدے امید خرچ کوی چه رسول الله ﷺ د دوی دپاره د خیر دعا وکړی۔ الله تعالیٰ پدے سورت آیت (۱۰۳) کښې فرمایلی دی: ﴿ وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمۡ ﴾
چه (تهٔ مؤمنانو دپاره دعاکوه، ځکه چه ستا دعا د دوی دپاره د آرام باعث ده)۔
کله چه به یو صحابیؓ صدقه کوله نو نبی کریم ﷺ به د هغوی دپاره دعا کوله۔
د صحیحینو روایت دے چه کله ابو اَوفیٰ ؓ صدقه وکړه نو نبی ﷺ د هغهٔ د اهل وعیال دپاره د خیر او د برکت دعا وکړه، او د هغوی دپاره ئے د الله نه بخنه طلب کړه۔
داسے ئے وفرمایل: [اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ اَبِيۡ اَوۡفٰى]
اے الله! د ابو اوفیٰ په اهل وعیال باندے رحمتونه نازل کړه۔

نو ددے خلکو په زړونو کښې د رسول الله ﷺ عزت دے پدے وجه د هغه نه دعا طلب کوی۔ ددے نه معلومه شوه چه امیر او مشر له پکار دی چه کله ورته څوك صدقه راوړی نو هغه به ورته دعا کوی ځکه چه مال لګول په نفس باندے ګران وی نو کله چه ورته دعا وکړے شی هغه ته آسان شی۔

قُرُبٰتٍ: یعنی سبب د قرباتو دے۔ قربات جمع د قُرْبَةٌ ده، دا هغه شی ته وائی چه پدے سره بنده الله تعالیٰ ته ځان نزدے کوی۔

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ: یعنی سبب د دعاګانو د رسول الله ﷺ۔ د ابن عباسؓ نه نقل دی چه ددے نه مراد استغفار د رسول الله ﷺ دے۔ ځینی وائی چه دا عطف دے په (مَا يُنْفِقُ) باندے یعنی وَيَتَّخِذُ صَلَوَاتِ الرَّسُوْلِ قُرُبَاتٍ) یعنی ګنړی دعاګانے د رسول الله ﷺ سبب د نزدیکت په نیز د الله تعالیٰ۔ دا ابن عطیهؒ جائز ګرځولے دے او زمخشری وائی چه دا په (قُرُبَاتٍ) عطف دے لکه مخکښې ذکر شو۔

اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ: الله تعالیٰ په ډیر تاکید سره خبر ورکړو چه د مخلصو باندچیانو مسلمانانو صدقه د الله تعالیٰ په نیز مقبوله ده، او د هغه د قربت ذریعه ده۔ د هغه منافقینو په خلاف چه هغوی صدقه او زکاة جرمانه ګنړلے ده۔

اِنَّهَا ضمیر (مَا يُنْفِقُ) ته راجع دے او تانیث د ضمیر په اعتبار د تانیث د خبر سره دے۔

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ: دا د قربة تشریح ده۔ یعنی دا خلك به الله تعالیٰ ته نزدے شی، الله تعالیٰ به ئے په خپل رحمت کښې داخل کړی، او سین د تاکید یا د استقبال دپاره دے۔ او د رحمت نه مراد خاص رحمت دے چه هغه نیغے لارے طرفته هدایت دے او بیا په نتیجه کښې کور د نعمتونو ته رسول دی۔

| |
|---|
| وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ |
| او مخکښې کیدونکی ایمان ته چه پخوانی دی په زمانه کښې د مهاجرینو نه او د انصارو نه |
| وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ |
| او هغه کسان چه تابعداری ئے کړیده د دوی په ښائسته طریقه، رضا دے الله تعالیٰ د دوی نه |
| وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ |
| او دوی رضا دی د هغهٔ نه، او تیار کړی ئے دی دوی له جنتونه چه بهیږی به |

تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۰۰﴾

لاندې د هغې نه نهرونه همیشه به وی په هغې کښې همیشه، دا کامیابی ده لویه.

**تفسیر**: ددې نه روستو انواع د مؤمنانو بیانیږی برابره ده که د ښاریو والو نه وی او که د باندو والو نه سره د رد نه په منافقانو باندې.

او دلته الله تعالیٰ د مؤمنانو صفت او نیکه جزا بیان کړیده پدې کښې منافقانو ته ترغیب دې چه راشئ د منافقت نه لاس واخلئ او ددې مؤمنانو تابعداری وکړئ پدې صفاتو کښې، نو دواړو طرفونو ته خبره ده، مومنانو ته وائی چه تاسو د منافقانو د صفاتو نه ځان وساتئ او منافقانو ته وائی چه راشئ د ایمان والو په شان صفات ځان کښې پیدا کړئ، او دا ډیر ښهٔ دعوت دې.

وَالسّٰبِقُوْنَ : یعنی اسلام ته ئے سبقت کړیدې او (الْاَوَّلُوْنَ) یعنی په زمانه کښې هم مخکښې دی. یعنی په ابتداء د اسلام کښې ئے اسلام ته سبقت کړیدې. ځکه چه په دغه وخت کښې ډیر خلك داسې وو چه اسلام موجود وو مګر دوی ورته سبقت نهٔ وو کړې روستو ئے ایمان راوړو.

مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ : دا مِنْ بیانیه دې، یعنی دغه سابقین مهاجرین او انصار دی.

نو ددې خلکو ډیره لویه مرتبه ده او هغه دا چه الله تعالیٰ د دوی نه راضی شویدې.

## سابقین اولین څوك دی؟

د سابقین اولین په تفسیر کښې د علماؤ ډیر اقوال دی: (۱) چا وئیلی دی چه ددې نه مراد هغه خلق دی چه دواړو قبلو ته مخ کولو سره ئے مونځونه کړیدی. (سعید بن المسیبؒ)

(۲) ځینی وائی: چه دا هغه خلك دی چه بیعة الرضوان (بیعة الحدیبیه) ته حاضر شوی وو. (شعبیؒ) (۳) چا وئیلی دی چه هغه خلق دی چه په غزوهٔ بدر کښې ئے شرکت کړې. (محمد بن کعبؒ، عطاء بن یسارؒ) (المنار)

(٤) چا وئیلی دی چه هغه خلق دی چه د هجرت نه مخکښې ئے اسلام راوړې وو، یا ئے په هجرت کښې مخکښې والې کړې وو، او ((کوم خلق چه روستو راغلی)) نه مراد هغه اُووه انصار مسلمانان دی چه هغوی د عقبه اولیٰ په خوا کښې د رسول الله ﷺ په لاس بیعت کړې وو، او بیا هغه اویا مسلمانان چه هغوی په دویم کال د رسول الله ﷺ په لاس باندې

بیعت کړې وو۔ او هغه ټول انصار چه هغوی د مصعب بن عمیر ﷺ د تبلیغ نه متأثر کیدو سره د هجرت نه مخکښ اسلام قبول کړې وو۔

(۵) لیکن راجح دا ده چه په ((سابقین اولین)) کښ هغه تمام مهاجرین داخل دی چه هغوی په هجرت کولو کښ مخکښ والی کولو سره د رسول الله ﷺ زړهٔ مضبوط کړې وو، او د نورو دپاره نمونه جوړ شو۔ او هغه تمام انصارچه هغوی د هجرت نه مخکښ اسلام قبول کړې وو او کله چه رسول الله ﷺ مدینې ته تشریف راوړو نو د هغه ملګرتیا ئے وکړه۔ او والذین اتبعوهم باحسان نه به مراد کشران صحابه کرامؓ وی۔ او دا تفسیر د محمد بن کعب القرظیؒ دے ځکه چه صحابه کرامؓ ته د رسول الله ﷺ په صحبت سره سبقیت حاصل دے۔ نو (مِنْ) بیانیه دے۔ یعنی چه دا ټول صحابه کرامؓ دی۔

## وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِإِحْسَانٍ :

(۱) ځینی وائی ددې نه مراد کشران صحابه کرامؓ دی، چه په نیکئ کښ د مشرانو تابع وو او د هغوی نه روستو راغلی وو۔ نو په اولنو صحابه کرامؓ کښ دوه صفتونه وو یو هجرت او بل نصرت، نو روستنو صحابه کرامؓ کښ چه چا کښ دغه دواړه مادې زیاتې موندلې کیږی هغه به مشرانو ته زیات نزدې وی۔ صاحب المنار وائی : دا قول غوره دے ځکه چه دلته اتباع په لفظ د ماضی (اِتَّبَعُوْهُمْ) سره ذکر دے، او په دے کښ به اصطلاحی تابعین او روستو امت داخل نهٔ وی ځکه چه دلته الله تعالیٰ د منافقانو په خلاف د صحابه کرامؓ حال بیانوی او په هغوی کښ مرتبې او درجات ذکر کوی، نو بهتره دا ده چه ددې نه صرف صحابه کرام واخستے شی ځکه چه روستنو خلکو ته د صحابه کرامؓ په شان د رسول الله ﷺ سره د صحبت شرافت او هجرت او نصرت نهٔ دے حاصل۔ اګرکه د هغوی هم لوی شان شته۔ لکه د صحابه کرامؓو دغه درې طبقات د سورة الانفال په آخری آیتونو کښ ذکر وو او د هغې په تفسیر کښ د سورة الحشر آیتونه ذکر کیږی۔

البته کوم روستنی مؤمنان چه د صحابه کرامؓ سره د هغوی د اعمالو په اندازه په هجرت او جهاد او نصرت او په نورو اعمالو د نیکئ او احسان کښ شریك کیږی نو دوی نه به هم الله تعالیٰ راضی کیږی او ثواب به ورته ملاویږی۔ او د سابقینو دپاره په هر عمل کښ د سبقیت فضیلت شته او د رسول الله ﷺ زمانه پدے کښ د ټولو نه زیات امتیاز لری۔ (المنار ۱۱/۱۳)

(۲) مـگـر پدے کښې غوره دا ده چه السابقون الاولون کښې ټول صحابه کرامؓ مراد دی او په (اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ) کښې هغه خلك مراد دی چه د صحابه کرامؓ نه روستو تر قیامته پورے راځی. لـکه دا تفسیر د ابن زیدؒ دے. (فتح البیان) او ددے د غـوره والـی وجه دا ده چه قرآن کریم عـالـمـی کتـاب دے، نو د روستـنـو ایمان والو صفت هم بیانوی او هغوی ته دعوت ورکوی چه د دغه صحابه کرامؓ په نقش قدم روان شئ دغه بدله به درکړے شی.

باحسان: د احسان دوه مصداقه.

(۱) یعنی د صحابه کرامؓ تابعداری کول په نیکیٔ کښې نهٔ په گناه کښې ځکه چه د ځینی صحابه کرامؓ نه چه کومه خطاء شوی وی په هغے کښې به تابعداری نهٔ کوی. نو بناء پدے بـه احسـان صـفـت د صـحـابه کرامو وی اولًا اَیْ بِـاِحْسَـانِ الصَّحَابَةِ. او یا احسـان صفت د روستـنـو دے او مـعـنیٰ دا ده: اَیْ مُتَلَبِّسِیْـنَ بِـاِحْسَـانٍ فِـی الْاَفْـعَـالِ وَالْاَقْـوَالِ الخ (فتح) یا - مُحْسِنِیْنَ فِی الْاَفْعَالِ وَالْاَقْوَالِ (المنار). چه روستنی خلك به په خپلو اقوالو او افعالو کښې نیکی کونکی وی، او د سابقین اولین په نقش قدم به روان وی. (فتح البیان)

(۲) احسـان نه مراد ښائسته صفتونه کول. اَیْ بِأَنْ یُّثْنُوْا عَلَیْهِمْ خَیْرًا (چه د صحابه کرامؓ نیك صفات بـه ذکر کـوی او هغوی به اُوچت گنړی او د هغوی سپکوالے به نهٔ کوی) که څـوك داسے نـهٔ کـوی دا هم کامیابیدے نهٔ شی. نو په امت باندے دوه څیزونه لازم دی یو د صحابه کرامؓ په نیکیو کښې تابعداری کول (نو ددے صفت نه معلومه شوه چه دوی به د سابـقـینو دپاره په کمال احسان باندے گواهی ورکوی ځکه چه هغوی د دوی متبوعین او امـامـان دی پـه نیـکـیٔ کښې نو ددے نه هغه خلك ووتل چه په ظاهری اسلام کښې د هغوی تابعداری کوی او بدکاره وی پدے تابعداریٔ کښې او دا منافقان دی- (المنار)

او بـل د صحابه کرامؓ مدح او صفتونه کول. نو کوم خلك چه د صحابه کرامؓ بی ادبی کـوی، یا ئے سپـکـاوے بیـانوی او د هغوی پسے ردے بدے وائی دا مسلمانان نشی کیدے، دوی د عبد الله بن سباء یهودی اولاد دی.

ابو صـخـر حـمـیـد بـن زیـادؒ وائـی: محمد بن کعب القرظیؒ ووئیل: چه ټول صحابه کرامؓ جـنـتیان دی، اگرکه د چا نه پکښې گناه هم شوی وی، نو ما ورته ووئیـل چه دا کوم ځای کښې دی؟ هـغـه ووئـیل: آیا تاسو دا آیت نهٔ لولئ: (وَالسَّابِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ) نو ټولو صحابه کرامو دپاره الله تـعـالیٰ جنت او خپله رضا ثابته کړیده ځکه چه سابقون اولون مهاجرین او انصار

شو، او د دوی نه په روستو خلك ئے يو شرط لګولے دے، هغه ووئيل چه هغه څه شے دے؟ وے فرمايل: اِشْتَرَطَ عَلَيْهِمْ اَنْ يَّتَّبِعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ يَقُوْلُ : يَقْتَدُوْنَ بِهِمْ فِيْ اَعْمَالِهِمُ الْحَسَنَةِ وَلَا يَقْتَدُوْنَ بِهِمْ فِيْ غَيْرِ ذٰلِكَ] روستو امت به د صحابه كرامو په نيك اعمالو كښې اقتداء كوى او ددے نه په ماسوىٰ كښې به ئے اقتداء نۀ كوى۔

ابوصخرؒ وائى قسم په الله! ګويا كه ما دا آيت مخكښې ددے نه لوستلے هم نۀ وو او نۀ مے ددے تفسير پيژندلے وو ترديے چه محمد بن كعبؓ ما ته دا تفسير ولوستلو۔

(فتح البيان وابن كثير والمنار وغيره)

نو دے آيت كښې د عامو مؤمنانو دپاره هم ډير اُوچت زيرے ملاوېږى چه دوى به الله تعالىٰ د صحابه كرامو سره يو ځاى كوى او الله تعالىٰ به ترے راضى كيږى۔

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ : الله تعالىٰ فرمائى: زۀ د دوى نه راضى يم، دلته حافظ عماد الدين ابن كثيرؒ ليكى : [ فَيَا وَيْلَ مَنْ اَبْغَضَهُمْ اَوْ سَبَّهُمْ اَوْ اَبْغَضَ اَوْ سَبَّ بَعْضَهُمْ]

هغه كس خو دے هلاك شى چه د دوى سره بغض (كينه) ساتى، يا ورته بد رد وائى، يا د دوى نه بعض صحابه كرامو سره بغض ساتى او رد بد ورته وائى، خاصكر د صحابه كرامو سردار سيدنا ابوبكر صديق ﷺ ته۔ او دا خلك روافض دى چه د دوى عقلونه الټه شويدى او زړونه ئے اپوته شويدى نو دا كسان د ايمان نه څومره وراندے دى؟!۔ (ابن كثير ٤/٢٠٣)

هغه مورخينو سره به هم الله تعالىٰ سخت حساب كوى چه د شيعه ګانو نه ئے د صحابه كرامو په باره كښې د شرابو څكلو او ډمو ګډولو او كنځلو كولو غلطے قصے او واقعات راوړيدى او بيا ئے پرے رد نۀ دے كړے۔ لكه كتاب الاغانى د ابوالفرج الاصفهانىؒ كښې دا قسم قصے شته۔

عبد الله بن المباركؒ ته چا ووئيل : چه عمر بن عبد العزيزؒ افضل دے او كه (سيدنا) معاويهؓ؟ هغه وفرمايل : ډيره ناشنا خبره دے وكړه۔ د معاويه (ﷺ) د اس په پوزه كښې چه كومه خاوره ننوتے ده دا د سلو عمر بن عبد العزيزؒ نه غوره ده۔ پاتے لا سيدنا امير معاويهؓ) دا مبالغه ئے د صحابه كرامو د مدافعت دپاره وكړه، او همداسے پكار ده۔

د يو صحابى نظر چه د محمد رسول الله ﷺ په شان شخص باندے لږ ساعت لګيدلے وى هغه د ټولے دنيا انسانانو نه غوره دے، دوى ته الله تعالىٰ ډيره لويه ورځ وركړيده، البته مسائل شرعيه كښې اجتهادى خطائى جدا خبره ده، په هغے باندے ټول امت متفق دے، او دا د اسلام اصول دى څكه بيانيږى۔ ليكن ډيرو خلكو ته دا عقيده نۀ ده معلومه، او پدے

کښې خطاء کيږي۔
تَحۡتِهَا : کښې ئې (مِنۡ) رانهٔ وړو پدې کښې زياتې مبالغې ته اشاره ده۔

| |
|---|
| وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ الۡاَعۡرَابِ مُنٰفِقُوۡنَ ؕ وَمِنۡ |
| او د هغه چا نه چه چاپيره دي ستاسو نه د باندې چيانونه منافقان دي، او بعض |
| اَهۡلِ الۡمَدِيۡنَةِ ؔ مَرَدُوۡا عَلَى النِّفَاقِ ۫ لَا تَعۡلَمُهُمۡ ؕ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡ ؕ |
| د مدينې والونه، کلك دي په منافقت، نهٔ پيژنې ته دوی لره، مونږه پيژني دوی لره، |
| سَنُعَذِّبُهُمۡ مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّوۡنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۰۱﴾ |
| زردې چه عذاب به ورکړو دوی ته دوه ځله بيا به واپس کړې شي عذاب لوئی ته۔ |

**تفسير** : اُوس د هغه منافقانو حال بيانيږي چه د مدينې وسيدونکی دي او د هغې خواؤ شا ته نزدې باندې چيان دي۔ ځيني وائي ددې نه مراد د مدينې نه بهر خواو شاته منافقان دي چه دوی د جُهَينه او مُزَيۡنَه او اَشۡجَع او غِفَار او اَسۡلَم قبيلې خلك وو۔ بغويؒ، واحديؒ، ابن الجوزيؒ او نسفيؒ او خازنؒ او سيوطيؒ هغه ذکر کړيدی۔

الله تعالىٰ نبی کريم ﷺ ته خبر ورکړو چه د مدينې نه ګير چاپيره چه کوم باندې چيان دي، په دوی کښې او په مدينې والو کښې هم منافقان موندې شي۔ او په خپل نفاق باندې په پرده اچولو کښې داسې مضبوط دي چه تهٔ سره د ډير ذهانت او بصيرت نه هم دوی نهٔ پيژنې، دوی خپل کفر پټ ساتلو کښې دومره ماهرين دي چه صرف الله تعالىٰ د دوی نه خبر دار دې۔ الله تعالىٰ به دوی ته اول پدې دنيا کښې دوباره سزا ورکوي، ذلت او رسوائي به ئې وي او د اسلام په کاميابيانو به د دوی په زړونو کښې اُور لګيږي او د آخرت عذاب خو د دوی انتظار کوي۔

مَرَدُوۡا عَلَى النِّفَاقِ : اَیۡ اَقَامُوۡا عَلَى النِّفَاقِ وَثَبَتُوۡا عَلَيۡهِ وَلَمۡ يَنۡثَنُوۡا عَنۡهُ وَلَمۡ يَتُوۡبُوۡا مِنۡهُ۔

يعنی هميشه پاتې شويدی په منافقت او کلك شويدی او د نفاق نه نهٔ دی اوړيدلی او توبه ئې نهٔ ده ويستلې۔ (فتح البيان)

۲- لَجُّوۡا فِيۡهِ وَاَبَوۡا غَيۡرَهٗ ۔ (ابن زيدؒ)۔ دننه ورننوتی دي په منافقت کښې چه بل هيڅ نهٔ مني)۔ مرد په اصل کښې بربنډ والی او صفا کيدو ته وائي۔ اَیۡ تَجَرَّدُوۡا لِلنِّفَاقِ) يعنی د منافقت دپاره ئې ځان فارغ کړيدې۔ خفاجيؒ وائي : تمرد په اصل کښې تمرن (عادت کيدل)

او په یو کار کښې تجربه پیدا کولو ته وائي. یعني ددے خلکو په منافقت کښې ښه تجربه شویده. په اصطلاح : "پي ایچ ډي" ئے پکښې کړیده.
رسول الله ﷺ به بعض منافقان د هغوی په نومونو سره پیژندل. او دا ثابته ده چه نبی کریم ﷺ سیدنا حذیفه بن یمان ﷺ ته د څوارلسو یا پنځلسو منافقانو نومونه خودلی وو. لیکن تمام منافقان ئے نهٔ پیژندل. امام احمدؒ د جُبیر بن مُطعم ﷺ نه روایت کړیدے چه دوی ووئیل، یارسول الله ! څه کسان وائي چه مونږ په مکه کښې کوم عمل کړے وو د هغے به مونږ ته اجر نهٔ راکړے کیږي. نو نبی ﷺ وفرمایل چه ستاسو اجر به تاسو ته درکړے کیږي اګر که تاسو د لومبړے په سوری کښې یئ. بیا نبی ﷺ خپل سر زما غوږ ته نزدے کړو وے وئیل چه زما په صحابهٔ کښې منافقان راننوتي دي چه د دروغو خبرے خوروي.
**لَا تَعْلَمُهُمْ** : یعني اے زما نبي ! ته دوی نهٔ پیژنے بلکه صرف مونږه ئے پیژنو نو هرکله ئے چه ته نهٔ پیژنے نو احتیاط کښې ژوند تیره وه او د دوی خلکو هره خبره مهٔ آوره.
او دا د مخکښنۍ جملې دپاره تاکید دے چه دوی په منافقت کښې دومره پاخهٔ او تجربه کار شویدي چه د دوی د نفاق علم رسول الله ﷺ ته هم نهٔ کیږي نو نورو مؤمنانو ته به څه وشي. رسول الله ﷺ اګر که فی الجمله پیژندل ځکه چه د منافقت آثار پدے خلکو کښې راښکاره کیدل، خو دلته مطلب دا دے چه ته ئے بیلا بیل شخصي طور سره نهٔ پیژنے.
او دا آیت دلیل دے په نفي د علم غیب د رسول الله ﷺ او د ټولو انسانانو نه. ځکه چه صرف الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د بندګانو د سینو او د رازونو نه خبردار دے. او دا سورت په آخري سورتونو کښې نازل دے، او پدے کښې د رسول الله ﷺ نه د غیبو د علم نفي وشوه نو دا خبره خطاء ده چه قبورین (قبر پرست) وائي چه رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ روستو علم غیب عطاء کړے وو.
**سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ** : دا د الله تعالیٰ دهمکي ده دوی ته، د دوه کرته عذابونو نه مراد ۱- یو په دنیا کښې په قتل او قید سره دے او بل د آخرت عذاب دے.
۲- یا په دنیا کښې د دوی نفاق راښکاره کول او په آخرت کښې عذاب. (او روستو چه کوم عذاب د آخرت ذکر دے په (ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ) سره نو د هغے نه مراد دا دے چه د دوی خاص عذاب نه روستو به دوی د نورو کافرانو په شان عذاب ته واپس کړے شي.
یا دا چه دوی به د عامو کافرانو په شان د عذاب نه روستو په اُور کښې درك اسفل (لاندے طبقے) ته بوتللے شي).

۳- يا په دنيا كښې د دوى په مالونو او اولادو كښې مصيبتونه راوستل دي او بل عذاب د قبر دے۔
٤- مجاهدؒ وائي : مَّرَّتَيۡنِ بِالۡجُوۡعِ وَالۡقَتۡلِ۔ يو عذاب په لوږه او بل په قتل۔
٥- ابو مالكؒ وائي : يو عذاب په لوږه او بل په عذاب قبر۔
٦- قتادهؒ وائي : يو عذاب قبر او بل عذاب د اُور مراد دے۔
ظاهر دا ده چه دلته دواړه عذابونه د دنيا مراد دي يعني دوى به بار بار يو كرت پس د بل كرت نه په عذابونو اخته كيږي او بيا به عذاب د آخرت ته واپس كولے شي۔

| |
|---|
| وَاٰخَرُوۡنَ اعۡتَرَفُوۡا بِذُنُوۡبِهِمۡ خَلَطُوۡا عَمَلًا |
| او نور كسان دي چه اقرار ئے كړيدے په گناهونو خپلو، يوځائے كړے ئے دے عمل |
| صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنۡ يَّتُوۡبَ عَلَيۡهِمۡ ؕ |
| نيك او نور بد عمل، نزدے ده چه الله به مهرباني وكړي په د دوى، |
| اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۰۲﴾ |
| يقيناً الله بخنه كونكے رحم كونكے دے۔ |

**تفسير** : پدے آيتِ كريمه كښې د مؤمنانو نور اقسام بيانوى چه هغه درميانه دي۔
۞ اول پدے كښې هغه خلق ذكر دي چه مخلص مسلمانان وو، منافقان نهٔ وو، ليكن د سُستئ په وجه سره د غزوهٔ تبوك نه پاتے شوى وو۔ او كله چه په غزوه كښې د نهٔ شريك كيدونكو منافقانو په باره كښې آيتونه نازل شو نو دوى ته د خپلے غلطئ سخت احساس وشو، او سخت فكر ئے راغلو چه اُوس به څه وكړے شي؟ او ددے تلافي به څنگه وى ؟۔
د ابن عباس ﷺ د روايت مطابق د هغوى شمار لس وو۔ د هغوى نه اُووه كسانو دا فيصله وكړه چه دوى به خپل ځانونه د مسجد نبوى ستنو پورے تړي او په همدے حال كښې به وى تردے چه رسول الله ﷺ هغوى لره معاف كړي او په خپل لاس سره ئے راايله كړي۔ نو دوى دغسے وكړل، كله چه رسول الله ﷺ دوى لره وليدل او د دوى په باره كښې ئے معلومات وكړو نو هغه ته سبب ووئيلے شو، نبى كريم ﷺ وفرمايل چه دوى به په همدغه حال كښې وى تردے پورے چه ما ته د الله تعالىٰ د طرف نه د دوى د راكولاوولو كولو حكم راكړے شي۔ كله چه دا آيت نازل شو نو رسول الله ﷺ هغوى لره را ايله كړل۔ او د باقي

درے کسانو کعب بن مالك، مراره بن الربیع، او هلال بن امیه (رضی الله عنهم) قصه مشهوره ده چه رسول الله ﷺ د هغوی سره معاشرتی بائیکاټ وکړو، د هغوی د بیبیانو نه ئے هغوی جدا کړل، تردے پورے چه د سورة التوبه آیت (۱۱۸) ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾ نازل شو او الله تعالیٰ د هغوی هم توبه قبوله کړه۔ ددے کسانو مشر ابولبابه بن المنذر ﷺ وو۔ (فتح البیان)

د همدے خلقو په باره کښې الله تعالیٰ پدے آیت کښې فرمایلی دی چه دوی جهاد کښې شرکت نهٔ کولو سره د خپلو مخکښنو نیکو اعمالو سره ګناه یوځای کړے وه، لیکن کله چه دوی په رشتینی زړهٔ سره توبه وویستله نو الله تعالیٰ د دوی توبه قبوله کړه۔

❀ پدے کښې راجح قول دا دے چه ددے آیت حکم عام دے او دا د امت ټولو مؤمنانو ته شامل دے چه هغوی د خپلو نیکو اعمالو سره څه ناڅه ګناهونه هم یو ځای کړیدی لکه امام طبرانیؒ او قرطبیؒ د ابوعثمانؒ نه نقل کړیدی چه هغه فرمائی: [مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَرْجٰى عِنْدِيْ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ مِنْ هٰذِهِ الْآيَةِ] په قرآن کریم کښې زما په نیز ددے امت دپاره ددے آیت نه ډیر امید والا بل آیت نشته۔ ځکه چه د مؤمنانو حال هم دا وی چه ګناه ترے کیږی او بیا اقرار د خپلے ګناه هم کوی نو الله تعالیٰ به پرے مهربانی کوی۔ ان شاء الله تعالیٰ، ولله الحمد۔

**اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ**: یعنی الله تعالیٰ به ئے توبه قبوله کړی، او آینده دپاره به ئے په نیکئ کښې استعمال کړی۔ لکه دا معنیٰ د توبے ده۔

صاحب المنارؒ فرمائی: د اکثرو مسلمانانو همدا حال دے چه ګناهونه او نیکیانی ئے جمع کړیدی او شاید چه د دوی د ګناهونو نه لویه ګناه دا ده چه دوی په مالونو او نفسونو سره جهاد فی سبیل الله پریخے دے لکه پدے باندے د آیت سببِ نزول دلالت کوی، او ددے آیت نه پوره عبرت نهٔ اخستلے کیږی مګر هله چه ددے په مابعد کښې تدبر وکړی هغه دا چه نفس د منافقت او ضعف الایمان نه پاك کړی په صدقاتو کولو سره او دغه شان په نورو نیکو اعمالو سره او د انسان نفس چه پاکیږی نو دا په توبه او نیك عمل سره۔

## قصه:

د سیدنا احنف بن قیس ﷺ په باره کښې راغلی دی چه هغه ووئیل: ما په قرآن کریم کښې خپل ځان کتلو چه زهٔ به په کومه طائفه کښې داخل یم، چه د کافرو صفات مے ولیدل نو ما

ووئیل چه زهٔ خو په دوی کښې نهٔ یم داخل، او چه د ایمان والو اُوچت صفات مے ولیدل نو هغه هم راکښې پوره موجود نهٔ وو. بیا مے قرآن کتلو تردے چه پدے آیت راتیر شوم ﴿وَآخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا﴾ نو ما ووئیل : [وَجَدْتُّ نَفْسِيْ فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ]
ما خپل ځان پدے آیت کښې ومونډو چه دا زهٔ یم چه څه مے نیك اعمال دی او څه مے گناهونه دی او په هغے باندے اقرار کوم، خو د الله تعالیٰ نه د بخنے امید ساتم.
او په روایت د بخاری کښې رسول الله ﷺ ته په خوب کښې د داسے کسانو یو مثال بیان شوے وو چه نیم د هغوی نه ښائسته وو او نیم ئے قبیح (بد شکله) وو. (بخاری رقم : ٤٦٧٤)
پدے کښې اشاره ده چه په نیك عمل سره د انسان نفس ښائسته کیږی او په بد عمل سره ئے نفس بد رنګیږی.

| |
|---|
| خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ |
| واخله د مالونو د دوی نه صدقه چه پاکوے ته دوی لره (د ګناهونو نه) او صفا کوے ته |
| بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ اِنَّ صَلٰوتَكَ |
| (زړونه د دوی) په سبب ددے (مالونو)، او دعا کوه دوی ته، یقیناً دعا ستا |
| سَكَنٌ لَّهُمْ ۖ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۳﴾ |
| آرام دے (د زړونو) د دوی، او الله تعالیٰ آوریدونکے پوهه دے. |

**تفسیر** : مناسبت دا دے چه کومو کسانو چه توبه ویستله لکه ابولبابه بن المنذر ﷺ نو هغه خپل مال صدقه کړو (خپل کورئے صدقه کړو) او کعب بن مالك ﷺ خپل مال رسول الله ﷺ ته پیش کړو. نو پدے آیت کښې د هغوی په باره کښې رسول الله ﷺ ته حکم کوی.

## شان نزول

ابن جریرؒ، ابن ابی حاتمؒ، ابن مردویهؒ او بیهقیؒ وغیره روایت کړیدے چه کومو اُوه صحابه کرامؓ خپل ځانونه د مسجد نبوی د ستنوپورے تړلی وو، کله چه د هغوی توبه قبوله شوه نو هغوی خپل مال راواخستو او رسول الله ﷺ خوا ته راغلل او وے وئیل چه یارسول الله ! ددے مال په وجه مونږ روستو پاتے شوی وو، پدے وجه دا د الله په لاره کښې

صدقه ده او مونږ دپاره بخنه وغواړه. نو نبی ﷺ وفرمایل چه ما ته ددے د اخستو حکم نهٔ دے شوے، نو دا آیت نازل شو چه پدے کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه د دوی نه صدقه واخله چه د دوی د پاکئ او د نفس د تزکیه ذریعه جوړه شی، او د دوی دپاره د خیر او برکت دعا وکړه، ځکه چه ستا دعا د مسلمانانو دپاره د سکون او اطمینان سبب دے. نو نبی کریم ﷺ د دوی د مال دریمه حصه د صدقے په توګه واخسته او باقی ئے دوی ته واپس کړو.

حافظ سیوطیؒ لیکی : رسول الله ﷺ د دوی نه دا صدقه د دوی د ګناهونو د کفارے په توګه واخسته نو ددے نه دا معلومه شوه چه هر هغه څوك چه یو ے ګناه ته راتلل وکړی نو هغه له صدقه کول مسنون دی. (فتح البیان)

علماؤ لیکلی دی چه دا آیت اګرکه د پورته ذکر شوی صحابه کرامو ؓ په باره کښې نازل شوے وو، لیکن د زکاة د واجبیدو په باره کښې ددے حکم عام دے، او د مسلمانانو حکمرانانو دا فریضه ده چه د ټولو مسلمانانو نه زکاة وصول کړی، او د الله تعالیٰ د وئیلی شوی حکم مطابق په مسلمانانو کښې ئے تقسیم کړی.

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : چه دلته اګرکه د (اَمْوَالِهِمْ) ضمیر مخکښې (اِعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ) والو ته راجع دے مګر ددے حکم د ټولو مؤمنانو دپاره عام دے لکه د زکاة منع کونکو د ابوبکر صدیق ؓ نه زکاة منع کړو او دا آیت ئے په دلیل کښې پیش کړو لیکن سیدنا صدیق اکبر ؓ ورله دا فهم خطاء وګرځولو او د آیت حکم ئے عام وګرځولو.

**صَدَقَةً**: دا صدقه عامه ده فرضی ته هم شامل ده (یعنی زکاة)، او نفلی صدقے ته هم. ځکه چه صدقه هغے ته وائی چه مؤمن ئے الله تعالیٰ ته د نزدے والی دپاره خرچ کوی. او دا مخکښې تائبینو او عامو مؤمنانو ټولو ته شامل دے.

او دا آیت د هغه علماؤ دلیل دے چه وائی چه په اموالو د تجارت کښې هم زکاة شته.

**تُطَهِّرُهُمْ** : یعنی تهٔ پاکوے دوی لره د اثر د ګناه نه. (فتح البیان)

یا پاکوے دوی لره د خِیرو د بخل او طمع او رذالت او قسوةِ قلب (زړه سختئ) نه. (المنار)

**وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا**: او تهٔ ایمان ډیروے د دوی په صدقے سره، او په نیکیانو سره ئے پورته کوے او په عملی او اخلاقی برکاتو سره ورله ترقی ورکوے تردے چه پدے سره د دنیا او د آخرت د سعادت اهل وګرځی. (المنار)

## د تطهیر او تزکیه فرق

۱- تطهیر (پاکول) د گناهونو نه مراد دی او تزکیه په زیادت د ایمان سره ده۔
۲- تطهیر د گناه نه مراد دے او تزکیه د محبت د مال نه پاکوالے دے۔ د نفس تزکیه دا ده چه د مال محبت کم شی۔
**وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡ** : صلاة دلته په معنیٰ د دعاء سره دے۔
**سَكَنٌ لَّهُمۡ**: سکن هغه شی ته وائی چه نفس هغے ته سکون او اطمینان حاصلوی که اهل وی، یا مال او متاع وی یا ثناء او صفت وی۔ (المنار) اَیۡ یَسۡکُنُوۡنَ اِلَیۡهَا۔ یعنی ستا دعا د دوی دپاره د آرام ذریعه ده۔ یا سکن په معنیٰ د سکون سره دے۔
۲- ابن عباس ﷛ فرمائی : اِنَّ صَلَاتَكَ رَحۡمَةٌ لَّهُمۡ ستا دعا د دوی دپاره رحمت دے۔
بخاریؒ او مسلمؒ د عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷛ نه نقل کړیدی چه رسول الله ﷺ ته به کله صدقه راوړے شوه نو هغه به داسے فرمایل : [اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ فُلَانٍ] اے الله ! په فلانی او د هغه په اهل باندے رحمتونه راولیږه۔ (بخاری فی الدعوات باب ۱۹، مسلم فی الزکاة رقم ۱۷٦)
**فائده** : الله تعالیٰ ایمان والو ته د مال په لګولو حکم وکړو پدے کښ د دوی ډیر لوی تربیت دے، غلط او ګنده صفات د بخل او رذالت او قسوة قلب او د طمع بد خصلت ختمیږی او د پردو مالونو نه په ناروا طریقو سره بچ کیدل دی لکه غلا، غصب او سود وغیره څکه چه څوك دا تربیت حاصل کړی چه خپل مال د الله تعالیٰ دپاره ورکوی نو هغه به د پردی مال نه په ناحقه سره ډیر ځان ساتی۔ او هرکله چه داسے انفرادی پاکی حاصله شی نو پدے سره به اجتماعی رذائل هم ختمیږی لکه حسد، بغض او دشمنی او جنګونه۔

| |
|---|
| اَلَمۡ يَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهٖ وَيَاۡخُذُ الصَّدَقٰتِ |
| آیا نهٔ پوهیږی دوی چه یقیناً الله هغه قبلوی توبه د بندګانو خپلو نه او قبلوی صدقے |
| وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۱۰۴﴾ وَقُلِ اعۡمَلُوۡا |
| او یقیناً الله خاص ډیره توبه قبلونکے رحم کونکے دے۔ او اُووایه ! عمل کوئ |
| فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُوۡلُهٗ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ ط |
| پس خامخا وینی الله تعالیٰ عمل ستاسو او رسول د هغه او مؤمنان |

| |
|---|
| وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ |
| او زردے چه واپس به کرے شئ تاسو هغه ذات ته چه پو هه دے په هر پټ او ښکاره |
| فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ |
| نو خبر به کړی تاسو په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کریمه کښې توبے او صدقے ته ترغیب ورکړے شویدے ځکه چه ددے په ذریعه د بندګانو ګناهونه ختمیږی۔ او ددے خبرے خبر ورکړے شویدے چه کوم بنده توبه وباسی نو الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوی او څوك چه حلال مال صدقه کوی نو الله تعالیٰ هغه قبلوی، او بیا خپل بنده له هغه په ډیرو چندونو زیاتوی تردے پورے چه یوه کجوره د اُحد د غر هومره کیږی۔

**اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا** : ددے ضمیر غیر تائبینو ته راجع دے، یا دغه تائبینو ته راجع دے مخکښې د توبه ویستلو نه۔ او استفهام د تقریر یا د تحضیض (تیزی ورکولو) یا تاکید دپاره دے۔

**عَنْ عِبَادِهٖ**: د توبه په صله کښې (مِنْ) استعمالیږی لیکن کله چه (عَنْ) استعمال شی نو پدے کښې اشاره وی یو قسم بُعد (ورلاندے والی) ته نو پدے کښې د تجاوز معنیٰ ده، یعنی الله تعالیٰ ستا د ګناه نه تیریږی۔ او ځینی وائی په (عَنْ) کښې اشاره ده تیسیر (آسانی) د توبے ته۔ (فتح)

**وَيَأْخُذُ الصَّدَقٰتِ**: (۱) مخکښې ئے نسبت د اَخذ (اخستو) رسول الله ﷺ ته وکړو او دلته ئے خپل ځان ته وکړو پدے کښې ددے طاعت او ددے د کونکی ډیر لوی شرافت ته اشاره ده، او اخذ (اخستل) لفظ ذکر کولو کښې ترغیب دے چه صدقه وکړئ او فقراؤ ته ئے ورکړئ دا داسے ده لکه چه الله تعالیٰ اخستلی وی۔ (فتح البیان)

او حدیث کښې دی : [ اِلَّا اَخَذَهَا الرَّحْمٰنُ بِيَمِيْنِهٖ ]۔ الله تعالیٰ ئے په خپل ښی لاس اخلی۔

(بخاری، الزکاة باب ۸، والتوحید باب : ۲۳) ومسلم ، الزکاة حدیث : ٦٣، ٦٤)

**وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ** : یعنی د توبی د قبلیدو نه نا امیده کیږه مه۔

**وَقُلِ اعْمَلُوْا** : داسے آیت مخکښې هم تیر شو په هغے کښې د همکی وه منافقانو ته او دا آیت د ایمان والو په باره کښې دے۔

**وَقُلِ اعْمَلُوْا**: دا د الله تعالیٰ د طرف نه یو قسم دهمکی او یرونکے طرز دے، چه اے خلقو!

ستاسو هیڅ عمل د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول او د مؤمنانو نه پټ نهٔ دے، پدے وجه د خیر کار کوئ او صرف د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے کوئ، او پدے کښې نیك عمل کولو ته ترغیب هم دے، ځکه چه د بنده کله دا یقین راشی چه ددهٔ هر عمل د الله تعالیٰ په نیز لیکلے کیږی نو د بد کار نه بچ کیږی او د خیر کار کوی۔

او پدے کښې یو قسم یره ورکول دی چه ستاسو اعمال په الله تعالیٰ او په رسول او په ایمان والو باندے نهٔ پټیږی نو نیك اعمالو ته جلتی وکړئ او په خپلو اعمالو کښې اخلاص پیدا کړئ، ځکه چه د توبی نه روستو بنده له نیك اعمال کول پکار دی، ځکه که د توبی نه روستو هم انسان د مخکښې په شان بد اعمال کوی نو بیا ددے توبی څه فائده وشوه ؟ او که انسان د توبی نه روستو ښه شی نو معلومیږی چه ددهٔ توبه قبوله ده، دا حالت به ایمان والو ته هم راښکاره شی چه د فلانی توبه صحیح وه۔

او پدے کښې د نیکانو دپاره ترغیب او زیرے هم دے، چه هر هغه څوك چه پدے پوهه شی چه ددهٔ عمل نهٔ پټیږی برابره ده چه نیك وی یا بد، نو هغه په نیکیو کښې مینه لری او د بدو اعمالو نه ځان ساتی۔ لکه زهیر بن ابی سلمیٰ جاهلی شاعر وائی :

| وَمَهْمَا تَكُنْ عِنْدَ امْرِئٍ مِنْ خَلِيْقَةٍ | ❁ | وَإِنْ خَالَهَا تَخْفٰى عَلَى النَّاسِ تُعْلَمِ |
|---|---|---|

که په یو سړی کښې یو خوئی موجود وی نو اګرکه هغه دا ګمان کوی چه دا به په خلکو پټ پاتے شی لیکن هغه به ضرور خلکو ته راښکاره کیږی۔

او دا مضمون په یو حدیث کښې هم راغلے دے چه پدے تفسیر کښې بار بار ذکر شویدے۔ رجوع وکړه حکمة القرآن ۲/ ۵۸۱) مختصر دا چه که یو تن په کاڼړی کښې دننه یو خیر یا بد عمل وکړی نو هغے دپاره به الله تعالیٰ ضرور یوه دروازه کولاوه کړی چه خلکو ته به ددهٔ عمل راښکاره کړی۔

(مسند احمد۳/۲۸) وابی یعلی المستدرك كتاب الرقاق ٤/٣١٤) واسناده حسن (الهیثمی)

**وَسَتُرَدُّوْنَ:** یعنی یواځے په دنیا کښې لیدل د اعمالو کافی نهٔ دی بلکه پدے باندے په آخرت کښې جزا او سزا مرتبه ده۔ نو پدے کښې سخت وعید دے چه ګورئ! تاسو ټول به د الله تعالیٰ مخے ته ودریږئ چه هغه هر غائب او حاضر پیژنی، بیا به هغه بد ته بده او نیك ته نیکه بدله ورکوی۔

| |
|---|
| وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ |
| او نور کسان دي چه روستو کړے شویدي فیصلے د الله ته یا به عذاب ورکړي دوی ته |
| وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ط وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠٦﴾ |
| او یا به توبه قبوله کړي د دوي، او الله پوهه حکمتونو والا دے۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کریمه کښې د غزوۀ تبوك نه د پاتے شوو خلکو نه یو بل قسم ذکر کوی، مخکښې نه دا معلومه شوه چه د تبوك د غزا نه پاتے شوی خلکو کښې اکثر منافقان وو، او د دوی اقسام هم بیان شو چه بعضو په کښې د روغو عذر پیش کړو، او بعضو په عذر پیش کولو هم هیڅ پرواه ونکړه، او ځینی پاتے شوی خلك مؤمنان وو دوی بیا دوه قسمه وو یو په (وَآخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا) کښې بیان شو چه دوی د خپلے ګناه اقرار وکړو او توبه ئے ویستله او خپله توبه ئے په صدقے سره پاکه کړه، نو الله تعالیٰ په هغوی زر مهربانی وکړه۔
او دویم هغه خلك وو چه د خپل کار په باره کښې حیران وو دوی مخلص مسلمانان وو لیکن د سُستیٔ په وجه په غزوه کښې شریك نشو او د رسول الله ﷺ مخے ته ئے دروغژن عذر هم پیش نکړو او په جلتیٔ سره رسول الله ﷺ ته توبه تائب رانغلل او معافی ئے ونهٔ غوښته، نو الله تعالیٰ هم د دوی معامله روسته کړه او فی الحال ئے د دوی توبه نازله نکړه او رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ د حکم مطابق مؤمنانو ته ووئیل چه د دوی سره بائیکاټ وکړی او زمکه د خپل ډیرے فراخیٔ باوجود په دوی تنګه شوه، د دوی په باره کښې الله تعالیٰ اُوس وفرمایل چه یا خو به الله تعالیٰ دوی ته عذاب ورکړي یا به د دوی توبه قبوله کړي۔ نو د الله رحمت د هغهٔ په غضب غالب راغلو او د هغوی توبه قبوله شوه چه د هغے ذکر به ددے سورت په آیت (۱۱۸) کښې راشي۔ او دا درے کسان وو چه یو کعب بن مالك ﷺ دے چه لیلة العقبه ته حاضر شویدے، او بل مرارة بن الربیع ﷺ او هلال بن امیه ﷺ دی چه بدر ته حاضر شوی وو۔

**لِاَمْرِ اللّٰهِ**: د امر نه مراد قَدَری امر (فیصله) ده چه الله پرے څه کوی، د هغهٔ خوښه ده او هغه روستو ذکر ده یا عذاب ورکول یا په دوی توبه ویستل۔

**اِمَّا** : دا شك په نسبت د مخاطب دے او الله تعالیٰ په بندګانو باندے د دغه کسانو حال مُبهم (پټ) کړیدے۔

عَلِيُمٌ : يعنی پو هه دے د هغوی په احوالو او (حکيم) دے په هغه کار چه په دوی ئے کوی که خير وی او که شر۔

## واقعه د سيدنا کعب بن مالك ﷺ

په اتفاق د مفسرينو باندے دا آيت د دغه درے صحابه کرامؓ په باره کښں نازل وو، د کعب بن مالك ﷺ قصه په صحيحينو وغيره کښں تفصيلاً ذکر ده حاصل ئے دا دے :

کعب بن مالك ﷺ وائی: زهٔ د رسول الله ﷺ سره هرے غزا ته حاضر شوے يم سوئ د بدر او تبوك نه، بدر رانه پدے وجه پاتے شوه چه رسول الله ﷺ عمومی اعلان نهٔ وو کړے بلکه صرف د تجارتی قافلے د رانيولو دپاره وتلے وو، او تبوك ته مے هم ښهٔ تيارے کړے وو، پدے وخت کښں مے دوه سورلئ تيارے کړے وے او ښهٔ مالداره هم وم، ليکن د سُستئ د وجه نه پاتے شوم، او زهٔ د عقبے بيعت ته هم حاضر شوے يم چه هغه د بدر د غزا نه لوی فضيلت لری اگرکه د بدر غزا خلکو کښں زياته مشهوره ده، کعبؓ وائی : رسول الله ﷺ به د نورو غزواتو دپاره تَوُرِيَه کوله او پدے غزا کښں ئے اعلان وکړو چه تبوك ته به ځو او ښهٔ تيارے وکړئ (د روميانو په خلاف) ځکه چه رسول الله ﷺ د لوی او لرے سفر سره مخامخ کيدو، نو ما هم تيارے شروع کړو پدے کښں به زهٔ بازار ته تللم ليکن کار به ونهٔ شو، بيا مے ووئيل چه صبا له به تيارے وکړم، (خبره به مے روستو کوله) تردے چه رسول الله ﷺ د مذکرو سره روان شو، ما ووئيل چه صباله به خپل سامان پوره کړم او بيا به ورپسے په منډه ورشم، آخر دا چه رسول الله ﷺ لرے ځای ته ورسيدو نو زهٔ دلته سُست شوم او زړهٔ کښں به مے دا وه چه زهٔ ورپسے ورځم نو شيطان روستو کړم۔ او رسول الله ﷺ نه هم زهٔ هير وم ځکه چه د ديرش زره مجاهدينو لښکر وو، کله چه رسول الله ﷺ تبوك ته ورسيدو نو هلته ئے زما تذکره وکړه چه کعب بن مالك څه وکړل؟ نو چا ووئيل چه هغه منافق دے، بعضو ووئيل : داسے مهٔ وايئ د څه عذر په وجه به پاتے شوے وی، رسول الله ﷺ پدے کښں غلے وو هيڅ ئے نهٔ وئيل، (ددے نه دا فائده معلوميږی چه کله د يو بنده ظاهری حال د گناه وی او حقيقت ئے الله تعالیٰ ته معلوم وی نو هغه وخت کښں سکوت بهتر دے)

او دلته زهٔ ډير پريشانه وم، د کور خلکو نه به مے مشورے اخستلے چه کله رسول الله ﷺ راواپس شی نو زهٔ به ورته څه وايم؟ تردے چه رسول الله ﷺ مسجد نبوی ته راورسيدو او مسجد کښں کيناستو، نو منافقان راغلل د دروغو عذرونه ئے ورته پيش کړل نو رسول الله

ﷺ معاف کړل او الله تعالیٰ ته ئے وسپارل، کعب وائی : زۀ سیده مسجد ته رانغوتم (تحیة المسجد ئے هم ونکړل) او د رسول الله ﷺ خوا کښې کیناستو، رسول الله ﷺ رانه د غصے په انداز تپوس وکړو چه ته ولے د جنګ نه پاتے شوے؟ ما ورته ووئیل : چه اے د الله رسوله ! ما ته ډیره چالاکی راکړے شویده، تا ته زۀ داسے بهانه کولے شم چه تۀ به ما نه راضی شے لیکن دومره ده چه صبا به بیرته الله تعالیٰ تا په ما باندے غصه کړی نو رشتیا درته وایم چه زما هیڅ عذر نۀ وو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: اُوس پاځیږه، الله تعالیٰ چه په تا کښې کومه فیصله غواړی وبه ئے کړی، بهر چه راووتو نو ملګرو ورته ووئیل چه دوباره لاړ شه او ځان ورته ملامته کړه او بهانه ورته وکړه رسول الله ﷺ به درله استغفار وغواړی معاف به شے، لکه ځنګه چه ورته منافقانو بهانه وکړه او ظاهراً ئے هغوی معاف کړل۔
کعب وائی : زما زړه کښې راغله چه واپس شم بیا مے ووئیل چه دروغ ښه شے نۀ دے بلکه الله تعالیٰ ته ځان سپارم، (پدے وجه هغه وائی چه زۀ د رشتیاؤ اهتمام کوم ځکه چه ما ته رشتیاؤ ډیره فائده راکړیده)
بیا ما تپوس وکړو چه آیا زما په شان کار نور چا کړیدے؟ نو ووئیل شو چه دوه کسان نور شته، (هلالؓ او مرارةؓ) چه هغوی هم ستا په شان خبره وکړه۔ نو ما ووئیل چه دا بدریان صحابه دی او زما په دوی کښې اقتداء ده۔ نبی کریم ﷺ تولو مسلمانانو ته حکم وکړو چه دے دریے واړو سره خبرے بندے کړئ (ځکه چه د دوی نه دا ګناه شویده، د سزا په طور ئے داسے وکړل) نو مونږ سره خبرے بندے کړے شوے، تردے چه زما نور دوه ملګری به مسجد ته هم نۀ راتلل او کور کښې به ئے الله تعالیٰ ته ژړاګانے کولے او زۀ ځوان وم، مسجد ته به راتللم ما به په رسول الله ﷺ باندے سلام اچولو بیا به مے کتل چه آیا خوله ئے په جواب باندے وخوزوله او که نۀ، رسول الله ﷺ به جواب هم نۀ ورکولو۔ ما چه به ورته کتل نو هغه به مخ اړولو او چه ما به اخوا کتل نو بیا به ئے ماته کتل، زۀ پدے حال کښې وم چه یوه ورځ زۀ په بازار کښې وم چه یو تن ما ته د غسان بادشاه د طرفنه خط راکړو۔ (هغه د موقعے نه فائده اخستله چه کعب د خپل ملګری (رسول الله ﷺ) نه خفه شویدے راشه د ځان سره ئے ملګرے کړه) ما چه ولوستلو هغے کښې غسانی بادشاه لیکلی وو چه ته خپلو ملګرو پریخوستے ئے او تۀ الله تعالیٰ د ذلت په کور کښې نۀ ئے ګرځولے، راشه مونږ سره پیوسته شه مونږ به ستا سره مدد وکړو۔ نو ما ووئیل چه دا بل امتحان شو۔
(کافر راته د کفر دعوت راکوی- او دا ډیر بصیرت والا صحابه کرامؓ وو چه دا خبرے به ئے

امتحان گنړلے ورنه که زمونږ په شان خلك وے نو هغه به مرور شوی وے او د دین نه به ئے دنګلی وے)

نو ما دا خط تنور ته واچولو (چه ما نه به خپل مشر رسول الله ﷺ خفه کیږی، زما تربیت به کوی نو آیا کافر به ما ته دعوت راکوی؟) نو زهٔ د ابو قتاده باغ ته لاړم هغه باندے مے سلام واچولو، هیڅ جواب ئے رانکړو بیا ما ورته ووئیل : آیا زهٔ ګنے د الله او د رسول سره محبت نهٔ لرم؟ نو هغه صرف دا جواب راکړو چه (اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ) الله او د هغه رسول ښه پوهیږی۔ د څلویښتو ورځو نه روستو حکم راغلو چه د ښځو نه هم جدا شئ، طلاق مهٔ ورکوئ لیکن د پلارانو کره ئے ولیږئ، کله چه پنځوس ورځے تیرے شوے نو زه د سهار مانځه نه روستو د کوټے په سر ناست وم چه پدے کښ الله تعالیٰ په رسول الله ﷺ باندے آیتونه نازل کړل نو یو تن غر ته وختلو او ما ته ئے آواز وکړو چه اے کعب بن مالك ! اَبْشِرْ (خوشحاله شه) نو د هغه د آواز سره سمدست زهٔ الله ته په سجده پریوتم (دا سجدهٔ شکر وه) بیا چه کله هغه راغے ما جامے ویستلے او هغه ته مے په زیری کښ ورکړے بیا یو تن په اس باندے سور راغے لیکن ما ته د غر والا آواز مخکښ رارسیدلے وو۔

بیا زهٔ مسجد نبوی ته راغلم، خلکو ما ته زیری راکول، رسول الله ﷺ ته ورسیدم نو هغه راته وفرمایل: [اَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ اُمُّكَ] د مور د پیدائش نه راپدے خوا په غوره ورځ سره خوشحاله شه چه په تا باندے تیریږی۔

## فوائد القصه

ددے نه ډیر فوائد لاس ته راځی (۱) څوك چه کبیره ګناه وکړی نو د هغه سره خبرے پریخودل جائز دی که پدے کښ مصلحت وی، خو په هغه زمانه کښ به وحی نازلیده چه اُوس ورسره خبرے شروع کړئ او زمونږ پدے زمانه کښ به خبرے تر هغه وخته پورے بنده وی چه هغه شخص د خلکو په مخکښ د خپلے توبے اظهار وکړی، برابره ده چه د هغهٔ توبه الله تعالیٰ قبوله کړی وی او که نهٔ۔ خو مونږ به ئے ظاهر ته ګورو۔

(۲) دا درے واړه ډیر اوچت صحابه کرامؓ دی مګر یوه خطائی ترے وشوه چه د جهاد نه پاتے شو نو الله تعالیٰ پرے دومره پریشانی راوسته او د عذاب دهمکی ئے ورکړه (اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ) نو د هغه انسان به څه حال وی چه د الله تعالیٰ ډیر حکمونه ماتوی او هیڅ پرواه ئے نهٔ وی۔

(۳) توبه ډیر اهم شے دے، د ګناه معاف کیدل د ټولے دنیا ومافیها نه غوره دی ځکه رسول

الله ﷺ کعب ته ددې ګناه د معاف کیدو ورځ د ټولو نه غوره ورځ ووئیله۔

| |
|---|
| وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا |
| او هغه کسان چه جوړې کړو جومات د ضرر ورکولو دپاره او د وجې د کفر نه او دپاره د جدايئ |
| بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللهَ |
| په مينځ د مؤمنانو کښې او مورچه دپاره د هغه چا چه خلاف ئې کړې د الله تعالىٰ |
| وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ |
| او د رسول د هغهٔ مخکښې ددينه، او خامخا قسمونه به کوي دوی |
| اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ |
| چه اراده نۀ ده کړې مونږه مګر د نيکئ، او الله ګواهي کوي چه يقيناً دوی |
| لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ لَمَسْجِدٌ |
| خامخا دروغژن دي۔ مۀ اُودرېږه تۀ په دې کښې هيچرې۔ خامخا هغه جومات |
| اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ |
| چه بنياد ئې کيخودې شويدې په تقوىٰ (اخلاص) باندې د اولې ورځې نه زيات لائق دې |
| اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ |
| ددې چه اُودرېږې تۀ په هغې کښې، په هغې کښې داسې سړي دي چه خوښوي |
| اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ |
| دا چه ځان پاک کړي، او الله مينه کوي د پاکي کونکو سره۔ |

**تفسیر** : پدې زمانه کښې د مسجد ضرار واقعه هم نزدې راغله۔ پدې آيتونو کښې تر (۱۱۰) آيت پورې هغه بيانيږي، منافقانو مسجد قباء ته نزدې د مسجد په نوم يو آبادي جوړ کړې وو چه د هغې مقصد د اسلام خلاف سازش او د مسلمانانو ترمينځ تفريق پيدا کول وو او نوم ئې ورله د مسجد ورکړې وو لکه دا د منافقانو طريقه ده چه کوي يو څه او نوم ورله بل ورکوي۔

## شان نزول

حافظ ابن کثیر رحمه الله د ابن اسحاقؒ او ابن مردویهؒ وغیره نه ددے آیتونو د شان نزول په باره کښې چه کوم روایتونه نقل کړیدی، د هغې خلاصه دا ده چه په مدینه کښې د خزرج قبیلے د ابوعامر الراهب نومے یو شخص وو چه د جاهلیت په زمانه کښې نصرانی شوے وو، د هغه په خزرج والو کښې یو لوئی مقام وو. کله چه رسول الله ﷺ هجرت وکړو او مدینے ته ئے تشریف راوړو نو هغه ته ئے د اسلام دعوت ورکړو لیکن هغه انکار وکړو او د بدر د غزا نه روستو مکے ته لاړو او د قریشو کافران ئے د رسول الله ﷺ په خلاف را اُوپارول، او د اُحد په غزا کښې د کافرانو په صفونو کښې مخکښې راغلو او انصارو لره مخاطب کولو سره ئے دوی ته د خپل تائید او نصرت دعوت ورکړو. چه په هغې سره انصارو دهٔ ته ډیر بد رد ووئیل، دے نه روستو دے روم ته لاړو او هلته ئے هرقل بادشاه د مسلمانانو په خلاف راتیز کړو، او د هغه ځای نه ئے په مدینه کښې خپلو منافقانو دوستانو ته ولیکل چه دوی یو مسجد جوړ کړی چه د هغې مقصد په مسلمانانو کښې تفریق (جدائی) پیدا کول وی، او کله چه هغه مدینے ته واپس راشی نو دا به د خپلے مورچے په توګه استعمالوی.

کله چه منافقانو هغه آبادے جوړ کړو نو رسول الله ﷺ خوا ته راغلل او وے وئیل چه مونږ کمزورو او بیمارانو دپاره یو مسجد جوړ کړیدے چه د یخنئ او باران په وخت کښې دلته راځی ځکه چه مسجد قباء لرے دے، نو مونږ غواړو چه تهٔ هلته تشریف راوړے او په هغې کښې مونځ وکړے. (د مسجد افتتاح سنت عمل دے)

رسول الله ﷺ پدے وخت کښې د تبوك غزا دپاره روانیدو. نبی ﷺ وفرمایل چه د واپسئ نه روستو به درشم اُوس زهٔ په سفر روان یم او مشغوله یم. په واپسئ کښې رسول الله ﷺ د مدینے نه په څه فاصله باندے وو چه وحی نازله شوه او د هغه آبادی حقیقت معلوم شو او رسول الله ﷺ ئے منع کړو (لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا) چه پدے کښې مسجد چرته ونهٔ دریږے. نو نبی کریم ﷺ دوه صحابه کرامؓ ولیږل چه هغوی دغه ځای وسیزلو چه الله تعالیٰ هغې ته د ((مسجد ضرار)) نوم ورکړو یعنی هغه مسجد چه د قباء والو د نقصان رسولو دپاره جوړ شوے وو. دوی ددے مسجد دپاره یو صحابی سیدنا مجمع بن جارية ؓ امام مقرر کړو، هغه د دوی په ګنده مقصد خبر نهٔ وو.

دغه دوه صحابه کرام یا عمار بن یاسر او وحشی بن حرب رضی الله عنهما وو، ځینی وائی :

دریے کسان وو مالك بن الدُّخشُم او معن بن عدی او د هغه ورور عاصم بن عدی رضی الله عنهم اجمعین۔ (البحر المحیط ۵۰۲/۵) والدر المنثور والطبری وغیره)

بیا په هر هغه مسجد کښ چه دغه څلور خبرے وی کوم چه دلته الله تعالیٰ د مسجد ضرار په باره کښ ذکر کړیدی نو دا به هم په مسجد ضرار کښ داخل وی۔

(۱) اول بد صفت: (ضِرَارًا) یعنی نورو خلکو ته ضرر ورکول۔ یعنی په داسے ځای کښ مسجد جوړول چه لاره پرے بندیږی، د خلکو کورونو ته تکلیف وی او فساد پرے راځی۔

(۲) دویم: وَّكُفْرًا: یعنی د کفر د ترقیٔ دپاره او د مسلمانانو د مقابلے دپاره مسجد جوړول لکه دے خلکو ددے آبادیٔ نه مقصد د منافقانو قوی کول وو۔ او پدے سره د مسلمانانو مقابله کول وو۔ لکه بدعتی او مشرك مُلا له مسجد جوړول دے دپاره چه هغه په کښ بنهٔ شرکونه او بدعات بیانوی دا هم مسجد ضرار دے۔

وَّكُفْرًا: یعنی قصد د دوی په هغه مسجد کښ کفر وو۔ (سعدیؒ)

(۳) وَّتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ: د ایمان والو ترمینځ اختلافات او جدائی پیدا کول ځکه چه ددے خلکو مقصد دا وو چه مسجد قباء ته به دوی نهٔ حاضریږی نو د مسلمانانو ډله به کمه ښکاره شی او پدے کښ د هغوی د اتفاق او محبت ختمولو ډیر لوی سازش وو۔

(٤) وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ: د منافقانو دپاره چونړیٔ وه، او دوی دولس کسان وو چه مشری ئے ابوعامر الفاسق کوله۔

اِرْصَادًا: اَیْ اِنْتِظَارًا وَاِعْدَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ۔ (بغویؒ وفتح البیان)

یعنی دپاره د انتظار او تیاریٔ د هغه چا چه د الله او د رسول سره جنګ کوی۔

عرب وائی: اَرْصَدْتُ لَهٗ اِذَا اَعْدَدْتُ لَهٗ۔ ما ورته تیارے وکړو۔ دلته د ارصاد نه مراد په چونړیٔ کښ کیناستل دی۔ یعنی دوی دا مسجد د منافقانو دپاره کوم چه د الله او د رسول دشمنان دی چونړیٔ جوړه کړه۔ او چه کله ورته محتاج شی نو دے ته به پناهی راوړی۔

مِنْ قَبْلُ: یعنی مخکښ د مسجد ضرار جوړولو نه۔ د زړو دشمنانو دپاره ئے چونړیٔ کړځوله۔ مراد ترے ابوعامر الفاسق دے۔ او ددهٔ مخکنیٔ دشمنی دا وه چه فتنے به ئے راپورته کولے او د رسول الله ﷺ نه ئے خلك اړول۔ نهٔ په طریقه د قتال او جنګ سره۔ او د الله او د رسول سره محاربه (دشمنی) دا ده چه بنده د هغه په دین باندے یقین ونکړی او د هغه د شرع د حقوقو هیڅ حفاظت ونکړی۔ (المنار)

صاحب المنار وائی: د مسجد ضرار قصه دلته ذکر شوه ددے حکمة مفسرینو نهٔ دے ذکر

کړے، ما ته دا ښکاره کیږی چه الله تعالیٰ په یوه موضوع کښې آیتونه جدا جدا راوړی پدے کښې مقصود نصیحت تازه کول وی او د عبرت او تاثیر تقاضا وی، او دلته کښې کیدے شی چه دا اشاره وی چه بعض ضعیف مؤمنان ددے دولسو منافقانو سره کومو چه مسجد ضرار جوړ کړے وو په عمل کښې شرکت کړے وو او د دوی د مقصد نه نا خبره وو لکه مُجمع بن جاریه شو نو دلته دا قصه ذکر شوه او عطف شوه په هغه خلکو باندے چه د هغوی حکم الله تعالیٰ روستو کړے وو دے دپاره چه دغه غافل مؤمنان نصیحت واخلی کوم چه د مسجد ضرار په باره کښې دوکه شوی وو او دے دپاره چه دوی ویریږی چه چرته دوی د هغوی په ظاهری ملګرتیا کولو راګیر نشی۔ لکه د مُجَمِّع بن جاریه ﷛ په باره کښې راځی چه د عمر بن الخطاب ﷛ په دور خلافت کښې بنو عمرو بن عوف د مسجد قباء والو عمر فاروق ﷛ ته ووئیل چه زمونږ دپاره مجمع بن جاریه د مسجد قباء امام جوړ کړه، نو هغه وفرمایل: (لَا وَلَا نِعْمَةَ عَيْنٍ)۔ هیڅکله نهٔ، دا نعمت به رانه په سترګو هم ونهٔ وینی، آیا دے ګنے د مسجد ضرار امام نهٔ وو؟ نو هغه ووئیل: اے امیر المؤمنین! ما باندے جلتی مهٔ کوه، قسم په الله! ما هغوی ته مونځ کولو لیکن د هغوی د مقصد نه هیڅ خبر نهٔ وم او که زهٔ خبر وے نو ما به ورته هیڅکله مونځ نهٔ وے کړے، زهٔ ځوان وم او د قرآن کریم قاری وم او هغوی بوډاګان وو او د قرآن نه ئے هیڅ شے نهٔ شو لوستلے۔ نو سیدنا عمر فاروق ﷛ هغه معذور وګڼړلو او د هغه تصدیق ئے وکړو او هغه ته ئے حکم وکړو چه خپل قوم ته (په مسجد قباء کښې) مونځ کوه۔

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا: دا مبتداء ده او خبر ئے روستو (لَا تَقُمْ فِيْهِ) دے۔ (کسائیؒ)

او ځینی وائی: چه دا مبتداء ده او (مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللهِ) ئے خبر دے۔ یعنی ددے خلکو معامله هم روستو کړے شویده۔

ځینی وائی: مُعَذَّبُوْنَ ئے خبر دے۔ (یعنی دوی ته به عذاب ورکولے شی)۔ بعض وائی: (لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمْ) ئے خبر دے۔ (البحر المحیط)

اِلَّا الْحُسْنٰى: أَيِ الْإِرَادَةَ الْحُسْنٰى۔ یعنی زمونږ ښهٔ اراده ده چه کمزورو باندے فراخی راولو۔ (فتح البیان) ❁ یا حسنیٰ نه مراد احسان دے یعنی زمونږ اراده دا ده چه د ضعیفانو سره احسان وکړو۔ (السعدیؒ) منافقانو ته ډیر عذرونه او بهانے ورځی۔

لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا: الله تعالیٰ خپل رسول منع کړو چه په مسجد ضرار کښې مونځ ونکړے نو رسول الله ﷺ چه کله هغه آبادے وسیزلو نو د هغے په ځای ئے د ګندګئ ډیران جوړ

کړو۔

لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى: اُوس ددے نهی وجه بیانوی چه بل طرفته بهترین مسجد موجود دے چه هغه مسجد هم غوره دے او د هغے اهل هم بهترین خلك دے۔

## ددے مسجد نه کوم مسجد مراد دے ؟

پدے کښ د اهل علمو اختلاف دے، راجح دا ده چه پدے کښ مسجد قباء مراد دے او مسجد نبوی هم پکښ داخل دے۔ د ابوسعید خدری ﷺ د یو بل سړی د بنی عمرو بن عوف سره بحث وو چه هغه مسجد چه د هغے بنیاد په تقویٰ کیخودے شویدے هغه کوم یو دے ؟، ابوسعیدؓ ووئیل چه هغه مسجد نبوی دے، او هغه شخص ووئیل چه مسجد قباء دے، دواړه رسول الله ﷺ ته راغلل نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا زما مسجد دے۔

(مسلم فی الحج حدیث : ٥١٤ والترمذی واحمد)

نو د هغے مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ خپل مسجد هم پکښ داخلوی ځکه چه دغه شخص دغه مسجد صرف د مسجد قباء پورے خاص کولو، نو رسول الله ﷺ د خپل مسجد لوی شان بیان کړو، او ددے زیات فضیلت ئے په مسجد قباء بیان کړو۔

(السهیلیؒ فی الروض الانف وفتح البیان)

او هر چه مسجد قباء دے هغه خو په بل روایت کښ ذکر دے چه ددے بنیاد په تقویٰ کیخودلے شویدے لکه روستو راځی۔

لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى: نو ددے نه مراد مسجد قباء دے۔ او په حدیث کښ ددے مسجد ډیر لوی فضیلت راغلے دے۔ د صحیحینو روایت دے چه نبی کریم ﷺ به کله پیدل او کله په سورلۍ باندے د هغه مسجد د زیارت دپاره تللو۔ او په هغے کښ به ئے دوه رکعته مونځ کولو۔ (صحیح بخاری: ١١٩١باب مسجد قباء) ومسلم (٣٤٥٦)

لیکن یو بل حدیث دے چه هغه امام ابوداودؒ او طبرانیؒ د عُوَیم بن ساعده انصاری ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ مسجد قباء ته تشریف یوړو او وے وئیل چه الله تعالیٰ ستاسو د مسجد په باره کښ ستاسو د طهارت (پاکئ) صفت کړیدے۔ (فَمَا طُهُوْرُكُمْ؟) نو ستاسو پاکی څۀ ده ؟ خلقو ووئیل چه اے د الله رسوله ! مونږ د خپل عورت او د نجاست ځای په اُوبو سره وینځو۔ (ابن ماجه، الطهارة باب: ١٦ والحاکم فی المستدرك کتاب الطهارة ١/ ١٥٥) واسناده صحیح صححه الحاکم ووافقه الذهبی والالبانی وصحیح ابی داود رقم (٣٤)

ددے حديث نه معلوميږي چه دا مسجد قباء دے۔
پدے وجه حافظ ابن كثير رحمه الله وئيلي دي چه هركله مسجد قباء هغه مسجد دے چه د هغے بنياد په تقوىٰ ايخودے شويدے نو مسجد نبوى به په درجه اولىٰ هغه مسجد وى۔
عَلَى التَّقْوىٰ : د تقوىٰ معنىٰ دا ده چه د الله تعالىٰ د دين او د تقوىٰ په بنياد او د هغهٔ په يره او د هغهٔ د احكامو د عملي كولو په بنياد جوړ شويدے۔ تقوىٰ اخلاص ته هم وائى، ليكن دا يوه نوعه د تقوىٰ ده نو په ظاهر باندے پريخودل ډير بهتر دى۔
مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ : دا د اُسِّسَ پورے متعلق دے اى اُسِّسَ عَلَى التَّقْوىٰ مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ مِنْ اَيَّامِ تَاسِيْسِهٖ] (فتح البيان) يعنى بنياد ئے ايخودے شويدے په تقوىٰ د اولے ورځے د جوړيدو ددے نه۔ يا اَوَّلِ يَوْمٍ مِنْ اَيَّامِ الْهِجْرَةِ) يا د اولے ورځے د هجرت نه۔
رسول الله ﷺ چه كله مدينے ته هجرت وكړو نو په بنى عمرو بن عوف علاقه كښ وسيدو، هلته كښ عمار بن ياسر ﷺ يو څپر جوړ كړو دے دپاره چه په دے كښ به رسول الله ﷺ مونځونه كوى نو رسول الله ﷺ به هلته سره د ملګرو نه مونځ كولو بيا څه ورځے روستو مدينے ته نقل شو او هلته ئے مسجد نبوى جوړ كړو۔

## د اسلامى تاريخ ابتداء د كومے ورځے نه وشوه؟

دلته د يوم دپاره مضاف اليه نهٔ ده ذكر، بلكه دے ته ئے مطلقاً اوله ورځ وئيلے ده۔ نو ددے نه صحابه كرامؓ د عمر فاروق ﷺ په مشورے سره د تاريخ ابتداء وكړه ځكه چه الله تعالىٰ د مسجد قباء د جوړيدو تاريخ ته اوله ورځ ووئيله نو پكار ده چه د تاريخ دپاره ابتداء هم ددے ورځے نه مقرر شى۔ (فتح البيان والسهيلى)
صحابه كرامؓ د الله تعالىٰ په كتاب ډير ښهٔ پوهيدل، يوه ورځ سيدنا عمر فاروق ﷺ ته چا خط راوړو چه په هغے كښ ئے ليكلى وو (فُعِلَ هٰذَا فِىْ شَعْبَانَ)
دا كار په شعبان كښ شويدے، نو هغه ووئيل : چه دا د كوم كال شعبان مراد دے؟ نو ملګرو ته ئے ووئيل چه راځئ چه يو تاريخ مقرر كړو، چا ووئيل چه د رسول الله ﷺ د ولادت د ورځے نه به ئے مقرر كړو، ليكن ووئيل شو چه دا خو يقينى معلومه نهٔ ده۔
چا ووئيل : چه وخت د نبوتؐ نه۔ ليكن هغه هم بالضبط نهٔ وو معلوم۔ او ددے دواړو دپاره د قرآن او حديث نه څه دليل نهٔ وو۔
نو سوچ نه پس ئے وفرمايل : چه الله تعالىٰ پدے سورت كښ اوله ورځ د هجرت ورځے ته

وئیلے دہ نو بس تاریخ به ددیے نه مقرر کړو۔ او د رسول الله ﷺ د وفات نه ئے مقرر نکړو ځکه چه پدیے سره غم راتازه کیږی۔ پدیے کښں هم رد دیے په میلادونو باندیے۔

فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا : دا د رسول الله ﷺ په مسجد قباء کښں د ودریدو او مونځ کولو دپاره بل دلیل دیے چه لکه څنګه چه دغه مسجد د محل په اعتبار سره غوره دیے نو د اهل په اعتبار هم ډیر غوره دیے۔

اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا : ددیے طهارت نه مراد ظاهری طهارت دیے چه دوی به استنجاء په اُوبو سره کوله لکه په صحیح حدیث کښں هم دغه راغلی دی او د کانړو او د اُوبو دواړو جمع کولو والا روایت مسند البزار کښں راغلے دیے لیکن هغے کښں ضعف دیے۔ شیخ البانی تفصیلا په الضعیفه (۱۰۳۱) کښں ضعیف ګرځولے دیے۔

او دیے کښں باطنی طهارت هم مراد کیدیے شی چه د ګناهونو نه په توبه او استغفار سره پاکی خوښوی۔ لیکن هغه ظاهر نهٔ دیے ځکه چه هغه خو په ټولو مؤمنانو کښں موجود دیے۔

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ : یعنی الله تعالیٰ به د دوی نه راضی شی او دوی سره به احسان کوی لکه یو مُحِب چه د محبوب سره دغه شان کوی۔

| |
|---|
| اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ |
| آیا پس هغه څوك چه جوړ کړیے ئے دیے آبادیے خپل په یره د الله نه |
| وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ |
| او په رضامندئ د هغهٔ، غوره دیے ؟ او که هغه څوك چه جوړ کړیے ئے دیے آبادیے خپل |
| عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ |
| په غاړه د ډډ کمر چه پریوتونکی وی، پس پریوزی د هغے سره په اُور د جهنم کښں |
| وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِىْ |
| او الله هدایت نهٔ کوی قوم ظالمانو ته۔ همیشه به وی آبادیے د دوی هغه |
| بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ اَنْ |
| چه جوړ کړیدیے دوی سبب د شك په زړونو د دوی کښں تر هغه وخته پوریے |

تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۱۱۰﴾

چه ټکړے ټکړے شي زړونه د دوی۔ او الله تعالیٰ پو هه حکمتونو والا دے۔

**تفسیر** : پدے آیت کریمه کښ د مؤمن او د منافق په نیت او عمل کښ چه کوم بنیادی فرق دے هغه بیان شویدے۔

دارنګه دا فرق دے د دواړو آبادو ترمینځ هم۔ نو دلته به (بناء) لفظ پټ وی۔

مؤمن چه کله هم یو عمل کوی نو د هغه په نیت کښ د الله تعالیٰ رضا او د جنت حاصلول وی۔ ددے په خلاف د منافق په نیت کښ دهوکه وی ځکه ددهٔ مثال د هغه سړی وی چه د خاورے په یو داسے پانډ باندے کور جوړوی چه د لاندے نه ضعیف وی او اُوسیدونکے ځان سره واخلی او خکته پریوځی جهنم ته اُورسیږی۔ نو مؤمنان به سره د آبادئ نه جنت ته ځی او منافقان به سره د آبادئ نه اُور ته ځی، خواری ئے ضائع ده۔

ځینی وائی : معنیٰ دا ده : چا چه د خپل دین بنیاد په قوی تاداوونو ایخودے وی لکه په تقویٰ او د الله په رضا نو هغه ډیر غوره دے د هغه چا نه چه هغه د خپل دین بنیاد ددے په ضد ایخودے وی چه هغه باطل او نفاق دے۔

**جُرُف**: هغه کندے ته وائی چه سیلابونو د هغے بیخ ختم کړے وی نو که د بره طرفنه راپریوځی نو هغے ته هار وائی۔ (فتح البیان)

**هَارٍ**: دا په اصل کښ هَائِرٍ دے، (زجاج)۔ ځینی وائی : هَاوِرٍ دے یعنی پریوتونکے۔

نو دلته تشبیه ده چه د دوی دغه دین به زر ختمیږی لکه دا آبادے چه د کندے په غاړه زر وغورزیدو۔

**فَانْهَارَ بِهٖ** : یعنی وغورزیږی دغه آبادی ددے جوړونکی سره۔ باء په معنیٰ د مَعَ دے۔

**فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ** : یعنی دوی صرف ددے مسجد په سیزلو نهٔ خلاصیږی بلکه ددے مسجد ضرار د جوړولو په وجه به د جهنم اُور ته رسیږی ځکه چه د دوی ارادے ډیرے غلطے وے۔

او دلته الله تعالیٰ دا فصیح بلیغ کلمات وئیلی دی چه ډیرے لرے لرے اشارے پکښ موجودے دی۔

**لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ**: منافقانو چه کوم مسجد جوړ کړو هغه د دوی په نفاق کښ نور زیادت وکړو او هغه ئے د دوی په زړونو کښ نور هم مضبوط کړو۔

شوكانيّ ليكلي دي چه د مسجد جوړونكي خو وو منافقان. كله چه د رسول الله ﷺ په حكم سره هغه اُوسوزلے شو نو د دوی نفاق نور زيات شو، او د اسلام خلاف د دوی په دشمنئ كښې نور زيادت وشو ځكه چه پدے كار سره په غيظ او غضب كښې راغلل. دے نه روستو الله تعالىٰ خبر وركړو چه د دوی به همدا حالت وی تردے پورے چه دوی ته مرګ راشی.

**بُنْيَانُهُمُ الَّذِیْ بَنَوْا رِیْبَةً** : ١- ددے په مطلب كښې ځينې علماؤ مضاف حذف كړيدے او دائے وئيلی دی چه آبادے د انسان شك څنګه پيدا كړی؟ نو وائی چه دلته (هَدْم يا اِحْتِرَاقُ) لفظ پټ دے اَیْ لَایَزَالُ هَدْمُ بُنْيَانِهِمْ يا اِحْتِرَاقُ بُنْيَانِهِمْ ـ يعنی تاسو چه كوم آبادے ونړولو، او ومو سيزلو دا به د دوی دپاره سبب د شك وی، شكونه ئے ددے په وجه نور هم زيات شو چه وګوره دا ځان ته لا رسول وائی او مسجد ئے ونړولو.

٢- ځينی مفسرينو د ريبة معنىٰ په [حَسْرَةً وَنَدَامَةً] (افسوس او پښيمانتيا) سره كړيده ځكه چه دوی په خپل آبادی باندے پښيمانه شوی وو. او د افسوس لاسونه ئے مروړل.

٣- مبرّد وائی : ريبة په معنىٰ د [حَرَارَةً وَغَيْظًا] سره دے. يعنی سوزش او غصه. يعنی ددے آبادی په وجه به د دوی جوش او غصه هميشه وی. (فتح البيان)

٤- مګر ظاهر دا ده چه آيت كه په ظاهر پريخودے شی نو په همدے كښې كمال دے، چه همدا آبادے د دوی شكونه زياتوی. او هغه پدے طريقه چه كله يو انسان خالی الذهن وی او كافر وی نو ددهٔ اسلام ته راتلل په جلتی كيږی، په معمولی دلائلو سره هم د هغهٔ اصلاح كيږی. او دويم هغه كافر او منافق دے چه ځان له ئے يو بيل مذهب او بيله لاره او ډله جوړه كړه نو د هغه اسباب د شك او اسباب د ګمراهئ زيات شی، نو د هغه هدايت ته راتلل مشكل شی، نو الله تعالىٰ ددے منافقانو په باره كښې فرمائی چه كه دے منافقانو د رسول الله ﷺ په دشمنئ كښې بيل مسجد نهٔ وے جوړ كړے نو كيدے شی چه الله تعالىٰ هدايت ته راوستی وے ليكن هركله چه دوی ځانله د رسول الله ﷺ د دشمنئ دپاره بيله ژاله جوړه كړه او مقابل كښې ودريدل نو دوی پاخه دشمنان جوړ شو نو اُوس ورته هدايت نهٔ كيږی، عامو فاسقانو ته هدايت كيږی ليكن غالباً بدعتی شخص ته نهٔ كيږی ځكه چه هغه ځان كامل هدايت والا ګڼړی نو د بل چا هدايت ته نهٔ راځی.

او څوك چه د آيت او حديث په خلاف كښې بل مذهب جوړ كړی هغوی باندے به هم دغه شان كار كيږی، پدے وجه مسلمانانو له پكار دی چه په هره معامله كښې كتاب او

سنت تـه تسليم شي او دے ته رجوع وكړي او بل مذهب ته دعوت ورنكړي، ځكه كيدے شي چه دائے سبب د گمراهئ جوړ شي.

نو معنىٰ دا ده : هميشه به وي آبادے د دوی كوم چه دوی جوړ كړے وو سبب د شكونو په زړونو د دوی كښ. ځكه چه دوی دا د الله تعالىٰ او د رسول د دشمنئ دپاره جوړ كړے وو او د هغوی په مقابل كښ وردیدل نو پدے سره به ئے شكونه نور هم زيات شي او د حق او هدايت نه به نور هم لرے شي.

**اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ**: د زړونو چودل كنايه ده د مرگ نه. اَیْ اِلَّا اَنْ يَّمُوْتُوْا. مگر كه مړه شي نو بيا به ئے شك او نفاق ختم شي، حقائق به ورته ښكاره شي.

او الله تعالىٰ دا الفاظ ((تردے چه زړونه ئے وچوی)) ووئيل دا زجري كلمات دي، يعني چه الله تعالىٰ ورلـه زړه وچَوی نو بيا بـه سم شي او چه زړه ئے لا چودلے نهٔ وي تر هغه وخت پورے به دوی شكيان وي. او دا د دوی دپاره لويه سزا ده.

او پدے كښ اشاره ده چه منافقانو سره به الله تعالىٰ داسے معامله كوي چه زړونه به ورله څيري كوي يا په توره سره يا په مرگ سره يا په قبرونو كښ يا په اُور كښ.

څيني وائي : تَقَطُّعُ الْقُلُوْب (د زړونو چودل) كنايه ده د توبے نه يعني مگر كه دوی داسے توبه وباسي چه په هغے سره د دوی زړونه د پښيمانتيا او افسوس په وجه وچوی نو بيا به ئے شك زائل شي. (فتح البيان)

**فائده** : حافظ ابن القيم رحمه الله په ((زاد المعاد)) كښ د تبوك د غزا په فوائدو كښ ليكلي دي چه په كوم ځاى كښ د الله او د هغه د رسول نافرماني كيږي نو هغه به سيزلے شي يا به نړولے شي لكه څنگه چه رسول الله ﷺ د مسجد ضرار په سوزولو او د هغے په نړولو حكم وكړو. او كله چه مسجد ضرار سره داسے وشونو هغه ځايونه به په درجه اولىٰ نړولے شي چه په هغے كښ د الله سره نور خلق شريكان كولے شي.

مخكښ ليكي چه هغه وقف چه په هغے سره مقصود د الله تعالىٰ رضا او د هغه قربت حاصلول نهٔ وي نو هغه نهٔ صحيح كيږي. لكه څنگه چه د مسجد ضرار وقف د رسول الله ﷺ په نظر كښ صحيح نهٔ وو. پدے وجه په قبر باندے جوړ مسجد به غورزولے شي او كه يو شخص په مسجد كښ دفن كړے شي نو د هغه لاش به د هغه ځاى نه بهر بل ځاى ته منتقل كولے شي، ځكه چه په دين اسلام كښ مسجد او قبر دواړه يو ځاى نشي جمع كيدے، كوم چه مخكښ وِی، هغه به باقي پريخودلے شي او كوم چه روستو راغلے وي،

هغه به ختمولے شي۔

| |
|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشۡتَرٰی مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ وَاَمۡوَالَهُمۡ بِاَنَّ |
| یقیناً الله اخستي دي د مؤمنانو نه نفسونه د هغوی او مالونه د هغوی په بدله ددے کښې |
| لَهُمُ الۡجَنَّةَ ؕ یُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ فَیَقۡتُلُوۡنَ |
| چه دوی له به جنت وي، جنګ به کوي دوي په لاره د الله کښې نو وژني به کافرانو لره |
| وَیُقۡتَلُوۡنَ ۟ وَعۡدًا عَلَیۡهِ حَقًّا فِی التَّوۡرٰىةِ وَالۡاِنۡجِیۡلِ |
| او وژلے به شي دوي هم، وعده کړیده د دوي سره الله وعده رشتینے په تورات او انجیل |
| وَالۡقُرۡاٰنِ ؕ وَمَنۡ اَوۡفٰی بِعَهۡدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسۡتَبۡشِرُوۡا |
| او قرآن کښې او څوك دے ډیر پوره کونکے په لوظ خپل سره د الله نه، پس خوشحاله شئ |
| بِبَیۡعِكُمُ الَّذِیۡ بَایَعۡتُمۡ بِهٖ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۱۱۱﴾ |
| په سودا خپله هغه چه سودا اُوکړه تاسو په هغے سره او دا کامیابي ده لویه۔ |

**تفسیر :** **مضمون :**

پدے دوه آیتونو کښې ترغیب دے قتال ته په ذکر د صفاتو د مؤمنانو۔ یا ترغیب الی الجهاد دے په لسو طریقو سره۔ یا مؤمنانو ته په لسو طریقو سره بشارت او زیرے ورکوي۔ او د منافقانو په خلاف د دوي کامل صفات راوړي۔

روستو مسئله د استغفار بیانوي د یو خاص مناسبت د وجه نه بیا مسئله د توبے بیانیږي۔ بیا راتلونکي رکوع کښې ترغیب دے قتال ته او په آخر کښې ترغیب دے علم زده کولو ته، بیا په آخري رکوع کښې ترغیب دے قتال ته سره د ذکر کولو د صفاتو د منافقانو نه او په آخر دسورت کښې د رسول الله ﷺ صفات راوړي۔

**مناسبت :**

مخکښې د جهاد في سبیل الله نه روستو پاتے کیدونکو خلکو حالات بیان شو نو اُوس د جهاد فضیلت بیانولو سره مؤمنانو ته ددے ترغیب ورکولے شي، او دوي ته وئیلے شي چه الله تعالیٰ تاسو سره ستاسو د ځانونو او مالونو سودا کړیده دے دپاره چه ددے په بدله کښې تاسو ته جنت درکړي۔

## فوائد الآیة

دا ډیر جامع آیت دے بعض فوائد ئې لاندے ذکر کولے شی :

۱- فائده : اَنۡفُسَهُمۡ: قرآن کریم کښې په ټولو ځایونو کښې (اَمۡوَالَهُمۡ) مقدم دے، صرف پدے آیت کښې (اَنۡفُسَهُمۡ) مخکښې ذکر شویدے پدے کښې حکمة دا ښکاره کیږی (والله اعلم) چه پدے سورت کښې د هغه جهاد تذکره کیدله چه هغه فرض عین وو (غزا د تبوك) او په فرض عین جهاد کښې به که مال نۀ وی هم نفس به استعمالوی، او عام ځایونو کښې جهاد فرض کفائی ذکر کیږی او هلته مال اهمیت لری، اقتصاد ته ضرورت زیات وی.

❁ دویمه وجه : روستو پدے باندے صفات د مؤمنانو (التائبون) مرتب کوی او دا په انفس باندے مرتب کیږی نۀ په اموالو باندے.

۲- فائده : بَيَانُ شَرَفِ النَّفۡسِ الۡاِنۡسَانِيَّةِ لِاَجۡلِ عَظۡمَةِ الۡمُشۡتَرِىۡ وَغَلَاءِ الثَّمَنِ.

پدے آیت کښې د انسان د نفس لوی شرافت بیان شویدے یو پدے وجه چه اخستونکے لوی ذات دے او بل عوض ډیر قیمتی دے، اخستونکے الله تعالىٰ دے او عوض ئې جنت دے. نو معلومیږی چه نفس د انسان ډیر قیمتی دے، ځکه چه لوی ذات یو شے اخلی نو هغه ډیر قیمتی وی نو ددے نه دا فائده راووتله چه نفس انسانی ډیر قیمتی دے دا به بې ځایه نۀ لګوے، دا به په ډیرو مهمو څیزونو کښې لګوے، د دنیا په سامانونو او پوله پټی به دا نۀ وژنے او د مخلوق په خدمتونو چه اجر پکښې نۀ وی د هغے دپاره به دا نۀ لګوے.

۳- فائده : یو تن چه یو شے خرڅ کړی نو بیا په هغے کښې په خپله خوښه تصرف جائز نۀ وی. نو مؤمن به داسے نۀ وائی چه "خپله خاوره او خپله اختیار" او خپل ځان او خپل اختیار بلکه ددۀ ټوله خوښه به د الله تعالىٰ د خوښے تابع وی.

٤- مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ : نه معلومیږی چه الله تعالىٰ هر نفس اخلی هم نۀ، پدے وجه ئې (مِنَ الۡاِنۡسَانِ) ونۀ وئیل بلکه د ایمان والو نفس اخلی، ځکه چه په هم دوی کښې کمال دے او په جهادونو کښې هم دا طریقه وی چه اکثر هغه کسان شهیدان کیږی چه متقیان وی او نرم اخلاقو والا وی، الله تعالىٰ ئې ځان ته راکاږی.

٥- دارنګه ددے بیع ثمن ډیر قیمتے دے ځکه چه جنت د ټولو نعمتونو مکان دے.

٦- دا عقد د انبیاؤ علیهم السلام په ژبو سره شویدے (فِى التَّوۡرَاةِ وَالۡاِنۡجِيۡلِ وَالۡقُرۡآنِ) او په بهترینو کتابونو کښې ذکر شویدے.

۷- پدے عقد کښ د الله تعالیٰ د طرفنه په مؤمنانو باندے د دوه جهتونو نه احسان دے یو دا چه دا نفس د مخکښ نه هم د الله تعالیٰ وو خو انسان له ئے عاريةً ورکړو او بیرته ئے ترے واخستو او ددے په عوض کښ ئے جنت ورکړو نو دا ځومره لوی احسان دے چه نفس هم د الله تعالیٰ دے او جنت هم د هغه دے۔ دویم جهت دا چه انسان ته ئے د حدودو دننه د نفس واك او اختیار هم ورکړیدے۔

وَأَمْوَالَهُمْ : ۱- ددے مالونو نه مراد یا په جهاد کښ مال خرچ کول دی۔

۲- یا په فقراؤ باندے او په ټولو کارونو د خیر او طاعاتو کښ مال لګول هم پکښ داخل دی۔ (فتح البیان والماوردی)

بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ: د جابر بن عبد الله ﷺ نه روایت دے چه هرکله دا آیت نازل شو په رسول الله ﷺ نو هغه په مسجد کښ وو نو خلکو په مسجد کښ الله اکبر ووئیل، پدے کښ د انصارو یو سړی چه د څادر دواړه طرفونه ئے په خپله اُوګه راتاو کړی وو وفرمایل: اے د الله رسوله دا آیت نازل شو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : آؤ، نو انصاری وفرمایل : (بَيْعٌ رَبِيحٌ لَا نُقِيلُ وَلَا نَسْتَقِيلُ) دا خو ډیره ګټوره سودا ده، مونږ هیڅ کله دا نۀ ماتوو (ددے نه نۀ روستو کیږو) او نۀ به د ماتولو مطالبه وکړو۔ (ابن ابی حاتمؒ وابن مردویهؒ - الدر المنثور وفتح البیان)

قرطبیؒ نقل کړیدی چه دے شخص اول تپوس وکړو چه دا د چا کلام دے؟ ووئیل شو چه دا د الله تعالیٰ کلام دے نو دغه خبره ئے وکړه او بیا غزا ته لاړو شهید شو۔ (القرطبی)

يُقَاتِلُونَ : جمله استینافیه ده، سوال پیدا شو چه دوی به نفسونه څنګه د جنت په مقابله کښ خرڅوی؟ نو جواب وشو چه دوی به د الله تعالیٰ په لاره کښ جهادونه کوی۔

فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ: یعنی جنت د دوی د جهاد عوض دے برابره ده چه دوی غازیان شی یا شهیدان۔ (النکت للماورديؒ) نو نفس قتال د کفارو سره سبب د جنت دے، او شهید کیدل شرط نۀ دے۔ فَيَقْتُلُونَ ئے مخکښ کړو ځکه چه په جهادونو کښ کفار زیات وژلے کیږی او اکثر غلبه مسلمانانو لره وی۔

صاحب د فتح البیان لیکی چه پدے کښ اشاره ده چه د غازی کیدو او د شهادت په دواړو حالتونو کښ فرق نشته، په دواړو کښ نفس ولګیدو، خرچ شو نو د جنت مستحق دی۔ (فتح البیان)

لکه چه امام بخاریؒ او مسلمؒ د عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷺ نه روایت کړیدے چه ((جنت د تورو د سورو لاندے دے))۔ (بخاری : ۲۸۱۸) مسلم : (٤٦٤٠)

**وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقًّا**: دا دواړه مصدرونه (یعني مفعول مطلق) دي او په پټ فعل سره منصوب دي. اَيۡ وَعَدَهُمۡ وَعۡدًا وَحَقَّ ذٰلِكَ الۡوَعۡدُ حَقًّا) یعني د دوی سره ئې وعده کړیده او ثابته شویده دغه وعده په ثابتیدو سره، یعني الله تعالیٰ خبر ورکړو چه د جهاد په وجه جنت مستحق کیدل ثابت دي دا د الله تعالیٰ د طرفنه وعده ده.

**فِي التَّوۡرٰةِ وَالۡاِنۡجِيۡلِ وَالۡقُرۡاٰنِ**: ۱- یا متعلق دے د (اِشۡتَرٰى) پورے یعني الله تعالیٰ دا وعده اخستے ده په تورات او انجیل او قرآن کښې، نو دا دلیل دے چه د جهاد حکم په ټولو شریعتونو کښې موجود وو او په ټولو دینونو والو باندے فرض وو او هر امت سره پدے باندے د جنت وعده شوے ده. (دا قول به هله صحیح وی چه د ټولو دینونو نه د موسیٰ علیه السلام د زمانے نه روستو دینونه واخستے شي ځکه چه قرطبیؒ لیکي چه جهاد او د دشمنانو مقابله د موسیٰ علیه السلام د دَور نه راپدے خوا شروع شویده).

۲- یا دا متعلق دے په محذوف پورے (اَيۡ وَعۡدًا مَذۡكُوۡرًا كَائِنًا فِي التَّوۡرَاةِ) یعني دغه وعده ذکر شویده په تورات او انجیل او قرآن کښې. نو پدے تفسیر سره به د جنت وعده صرف ددے امت دپاره وی چه د الله تعالیٰ په منزلو کتابونو کښې ذکر شویده. (فتح البیان)

**فائده**: په هره بیعه کښې یو بائع وی بل مشتری او بل مَبیعه او بل ثمن او بل ګواهان او لیکل وی. نو بائع مؤمن دے او مشتری الله تعالیٰ دے او ثمن ئې جنت دے او مبیعه نفسونه د مؤمنانو دي او ګواهان ئې رسولان دي او لیکل ئې په دغه درے کتابونو کښې شویدي. نو دا ډیره مضبوطه بیعه ده.

**وَمَنۡ اَوۡفٰى بِعَهۡدِهٖ مِنَ اللّٰهِ**: یعني هیڅوك نشته چه د الله تعالیٰ نه د لوظ زیات وفادار وی. پدے کښې مجاهدین فی سبیل الله ته زیات ترغیب دے او هغوی په نفسونو او مالونو لګولو باندے زیات آماده کول دي. یعني دا وعده به دوی ته ضرور حاصلیږي، هسے زباني خبره نۀ ده بلکه واقعیت لري، ځکه چه الله تعالیٰ د خپلے وعدے خلاف نکوی.

**فَاسۡتَبۡشِرُوۡا**: یعني اُوس به خوشحالی کوئی چه دا مونږ چه کومه بیعه وکړه، کیدے شي چه مونږ به تاوان پکښې کړے وی نو الله فرمائي چه پدے بیعه باندے خوشحالي وکړئ ځکه چه تاسو انتهائي زیاته ګټه وکړه چه حد ئې نشته، چه بل چا داسے ګټه نۀ ده کړے، او استبشار معنیٰ دا ده چه خوشحالي رابښکاره کړئ او پدے بیعه انتهائي زیاته خوشحالي وکړئ.

او پدے کښې التفات دے د غائب نه مخاطب ته دپاره د زیات تشریف او زیاتے خوشحالئ د

دوی، چه د یوے خوشحالئ دپاسه بله خوشحالي وکړی، ځکه چه تاسو فاني شے په باقي شي باندے خرڅ کړو۔

وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ : ذلك اشاره ده جنت ته، یا دغه بیع ته اشاره ده۔

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فرمایل : [اِنَّ اللّٰهَ بَايَعَكَ وَجَعَلَ الصَّفْقَتَيْنِ لَكَ]

الله تعالیٰ تا سره سودا وکړه او بیا ئے دواړه ځیزونه تا له درکړل، یعنی نفس ئے هم درکړو او ددے په مقابله کښ ئے جنت هم درکړو۔

حسن بصریؒ فرمائی : [اِنَّ اللّٰهَ اَعْطَاكَ الدُّنْيَا فَاشْتَرِ الْجَنَّةَ بِبَعْضِهَا] الله تعالیٰ تا ته دنیا درکړه نو ته په بعض سره جنت واخله۔

جعفر صادقؒ وائی :[لَيْسَ لِاَبْدَانِكُمْ ثَمَنٌ اِلَّا الْجَنَّةَ فَلَا تَبِيْعُوْهَا اِلَّا بِهَا] ستاسو د بدنونو قیمت صرف جنت دے نو تاسو دا بدنونه مه خرڅوئ مګر صرف په جنت۔

(فتح البیان ۳/ ۱۸٤)

| |
|---|
| اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ |
| (دا خلق) توبه ویستونکی دی، بندګی کونکی دی، ستائینه کونکی دی، |
| السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ |
| ګرځیدونکی دی (د جهاد دپاره) رکوع کونکی، سجده کونکی دی، حکم کونکی دی |
| بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ |
| په نیکئ او منع کونکی دی د بدئ نه او ساتنه کونکی دی د حکمونو د الله تعالیٰ |
| وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ |
| او زیرے ورکړه مؤمنانو ته۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښ دوه تفسیره دی (۱) یو دا چه دا د دغه مخکښو مؤمنانو صفات دی چه الله تعالیٰ ترے نفس او مال اخستے دے نو دا مرفوع دے په مدح باندے او خبر د مبتداء محذوف دے (اَیْ هُمُ التَّآئِبُوْنَ) یعنی دغه مؤمنان به دا صفتونه هم لری، یعنی دغه مجاهد به وچ مجاهد نهٔ وی بلکه دهٔ کښ به ډیر ښهٔ صفات موجود وی ځکه ترے الله تعالیٰ نفس اخلی ځکه چه نفس ئے پاك دے۔ نو دوی ته دوه کارونه وسپارل شو۔

۲- دویم تفسیر دا دے چه التائبون مبتداء ده او (لَهُمُ الْجَنَّةُ) خبر ئے پټ دے۔ (زجاج) (یعنی دوی لره جنت دے) نو ددے نه به معلومه شی چه مؤمنان دوه قسمه دی یو اعلیٰ مؤمنان چه د الله تعالیٰ په لاره کښې قتال کوی، د هغوی حال مخکښې آیت کښې بیان شو، دویم قسم هغه مؤمنان دی چه هغوی ته د جهاد موقعه نهٔ ده ملاؤ شوے (ځکه چه کله نا کله په یو مؤمن باندے د جهاد موقعه رانشی) او مؤمنانو کښې زنانه او بوډاګان او معذوره هم وی چه قتال نشی کولے نو که الله تعالیٰ د هغه مؤمنانو نفس د جنت په مقابله کښې واخلی چه هغوی جهاد کړے وی نو بیا به دا نور قسم مؤمنان د لوی خیر نه محروم شی نو الله تعالیٰ پدے آیت کښې ددے نورو مؤمنانو دپاره هم جنت بیانوی چه یو تن دے چه جهاد ئے ونکړو مګر د جهاد نه نفرت نهٔ کوی نو دا به هم الله تعالیٰ جنت ته بوځی خو کله چه په هغه کښې دا راتلونکی صفات موجود وی۔

نو مؤمن که روغ بدن والا وی جهاد به کوی او دا اعلیٰ درجه ده، او که موقعه نهٔ وه نو بیا به په راتلونکو کارونو کښې ځان لګوی۔ او ددے راتلونکو صفاتو د مخکنو مجاهدینو سره منافات نشته، او دا مطلب نهٔ دے چه څوك مجاهد شو نو هغه به دا راتلونکی صفات ځان کښې نهٔ راولی، هغه دپاره هم لازم دی، نو ددے ترمینځ عموم خصوص مطلق دے۔

اَلتَّآئِبُوْنَ: دے سورت کښې مسئله د توبې زیاته ذکر ده۔ توبه ئے مخکښې ذکر کړه ځکه چه ددے فضیلت زیات دے، الله تعالیٰ پدے باندے ډیر رضا کیږی۔

دویمه وجه: انسان چه هرکله خپل نفس په الله تعالیٰ ورخرڅ کړو نو دا نفس پردے شو خو کله نا کله دا نفس د خپل ځان دپاره استعمال کړی، او دا قانون دے چه کله څوك پردے حق استعمال کړی نو هغه ته به توبه وباسی او د هغه نه به بخنه غواړی۔ بل پدے کښې ټولو مؤمنانو ته ترغیب دے چه الله تعالیٰ ته توبه وباسئ برابره ده چه ګناه مو کړے وی او که نهٔ، ځکه چه توبه د الله تعالیٰ حق دے او د مؤمن صفت دے۔

توبه کښې معنیٰ د رجوع ده یعنی دوی راواپس کیدونکی دی طاعت د الله تعالیٰ ته د ګناهونو نه۔

الْعٰبِدُوْنَ: مؤمن په عبادت باندے ښائسته کیږی، مؤمن به غافل نهٔ وی بلکه د الله تعالیٰ په طاعاتو کښې به استعمالیږی۔

الْحٰمِدُوْنَ: جنت ته به اول هغه خلك رابللے کیږی چه د الله تعالیٰ حمدونه وائی په خوشحالئ او تکلیف دواړو کښې۔ (الحدیث- مستدرك الحاکم: ۱۸۵۱ صحیح علی شرط مسلم)

ددې نه معلومیږي چه مؤمن به د الله تعالیٰ په تقدیر باندې راضي وي په هر حال کښې به د الله تعالیٰ حمد وائي۔ (القرطبیؒ)

## د سیاحت معنیٰ او مطلبونه او د سیاحت فائدې

**السَّآئِحُوْنَ:** سیاحة په اصل کښې په زمکه کښې د عبادت دپاره ګرځیدو ته وائي۔ (قاموس) نو ددې په مصداق کښې ډیر اقوال دي۔

(۱) د اکثرو مفسرینو په نیز د سائحون نه مراد روژه دار دي۔ او دا د ابن مسعود ﷺ نه نقل شوېدی۔ سفیان بن عیینةؒ وائي چه روژه دار ته سائح پدې وجه وائي چه دا ټول لذتونه پریدی لکه په زمکه کښې ګرځیدونکې لذتونه پریدی۔

(۲) ځینو ددې نه ((مهاجرین)) مراد اخستي دي۔ (دا قول د عبد الرحمن بن زیدؒ دې)

(۳) او بعضو طلاب العلم اخستي دي چه هغوی د علم د طلب دپاره ګرځي۔ (عکرمهؒ)

(٤) حافظ ابن کثیر رحمه الله وائي چه یو حدیث دلالت کوي چه په آیت کښې د سیاحت نه مراد جهاد دې۔ (او دا قول د عطاءؒ دې)

ابوداود د ابو اُمامه نه روایت کړیدې چه یو سړي اُووئیل یارسول الله! ماته د سیاحت اجازت راکړه نو نبي ﷺ وفرمایل: سِیَاحَةُ اُمَّتِیُ الْجِهَادُ فِیُ سَبِیُلِ اللّٰهِ۔ ((زما د امت سیاحت جهاد في سبیل الله دې))۔ (ابوداود: ۲٤۸۸ وصحیح الجامع: ۲۰۹۳)

د سیاحت نه مراد دا نهٔ دې چه سړې د دنیا نه په یو طرف شي او د عبادت په نیت سره غرونو، غارونو او صحراګانو ته لاړ شي۔ ځکه چه دا رهبانیت دې چه ددې نه الله او د هغه رسول منع کړیده۔ آؤ که زمکه د فتنو نه ډکه شي او د انسان دپاره په خپل دین تلل مشکل کیږي، نو په داسې صورت کښې جائز ده چه ښار او کلي پریدي او غرونو ته لاړ شي لکه چه په صحیح بخاري کښې د عبد الله بن ابي اوفیٰ ﷺ نه په روایت شوي حدیث کښې ثابت دي چه د فتنو په زمانه کښې خپلو چیلو لره اخستل او غرونو ته تلل به غوره وي۔

(٥) ځینې وائي چه ددې نه هغه خلك مراد دي چه خپل فکرونه د الله تعالیٰ په توحید او د هغه په ملکوت او د هغه په مخلوقاتو کښې د عبرت حاصلولو دپاره ګرځوي۔ (فتح البیان)

شیخ الاسلام ابن قیمؒ داسې تعبیر کوي: چه د سیاحت نه مراد سِیَاحَةُ الْقَلْبِ فِیُ ذِکْرِ اللّٰهِ وَمَحَبَّتِهٖ دې۔ یعنی زړه ته د الله تعالیٰ په ذکر او د هغه په محبت کښې چکرې ورکول، تهٔ به

په کور کښې ناست ئې لیکن زړه به د الله تعالیٰ په ذکر کښې ګرځوے او دا اصلي سیاحة دے.
یو تن به په بستره باندې وي لیکن زړه به ئې بره په عرش کښې ګرځي او یو تن به په مانځه ولاړ وي لیکن فکرونه به ئې په دکان کښې وي نو دغه بسترے والا ترے غوره دے.
د مؤمنانو صفت سیاحت دے او سیاحت یو عبادت دے یعنې د کور نه وتلل او د الله تعالیٰ او د هغهٔ د دین دپاره ګرځیدل، یو د چکر دپاره وتل دي او یو د عبادت دپاره نو د عبادت په نیت چه انسان د کور نه ووځي نو دهٔ دوه عبادتونه راجمع کړل یو چه د کوم عبادت نیت ئې کړے وي لکه طلب د علم شو یا دعوت شو او بل په لاره ګرځیدل.
په سیاحت کښې ډیرے فائدے وي، یوه فائده دا چه بنده د الله تعالیٰ قدرتونه ویني آسمان او زمکه او ډیرو عجیبو څیزونو او ناشنا احوالو نه خبر شي، د الله تعالیٰ په دنیا کښې وګرځي، قسم قسم خلکو سره ملاؤ شي نو ذهن کښې ئې فراخي راشي،
دارنګه نیکان صالحین خلك ویني، د هغوی نه استفاده وکړي، او دا عبرت واخلي چه دنیا کښې ډیر کمال والا خلك شته، د څینو د دعوت طریقے زده کړي، کمزوری ضعفاء ویني، د هغوی نه عبرت حاصل کړي، نورے هم ډیرے فائدے شته لیکن بې ځایه ګرځیدل او قیمتي اوقات پدے باندې بربادول نهٔ دي پکار. بلکه د یو مسلمان د ملاقات په نیت وځه نو سیاحت به هم وشي او فائدے به هم حاصلے شي. د مسلمان سفرونه به یا د حج او عمرے یا د جهاد یا د طلب د علم یا د دعوت یا د تجارت یا د مسلمان ملاقات دپاره وي. نو هغه سیاحت عبادت دے چه متضمن وي عبادت لره.
او د ((رکوع او سجده کونکو)) نه مراد مونځ کونکي دي، ځکه چه د مونځ په افعالو کښې دا دواړه زیات اَهم دي پدے وجه ئې دا د (اَلْعَابِدُوْنَ) نه روستو خصوصي طور سره ذکر کړل.
**اُلْاٰمِرُوْنَ** : مخکښې د دوی خپل کمال بیان شو اُوس د دوی تکمیل بیانوی غیر لره یعنې چه د بل چا د کاملیدو کوشش کوي.
**وَالنّاهُوْن** : دلته ئې واو راوړو، امام قرطبيؒ وائي : هٰذَا جَائِزٌ فِي الْكَلَامِ. دا په عربئ کښې جائز دي چه کله واو راوړي او کله نهٔ لکه (ثَيِّبَاتٍ وَاَبْكَارًا) کښې ئې راوړیدے. (القرطبيؒ)
څینو وئیلي دي چه دا واو ثمانيه دے، د عربو عادت دا دے چه په عدد کښې د اُوو نه روستو په اتم مقام کښې واو راوړي نو دا د عربو د عادت مطابق ذکر شویدے. لیکن ابوعلي الفارسيؒ او حافظ ابن القیمؒ په بدائع التفسير کښې دا قول ضعيف ګرځولے دے. (فتح البيان) ځکه چه دا مقام د عدد بیانولو نهٔ دے بلکه دلته خو صفات ذکر دي.

نو غوره وجه دا ده چه واو د مطلق جمع دپاره راغې نو په دې کښې اشاره ده چه مؤمن به دا دواړه جمع کوی هلته به کمال ته رسیږی، یوائې امر بالمعروف او یوائې نهی عن المنکر باندې اصلاح نهٔ کیږی بلکه دواړه جمع کول ضروری دی۔ اګرکه کله نا کله یو بل لره متضمن وی۔ لکه مثلًا ته یو شخص ته مونځ زده کوې او د شرك نه ئې نهٔ منع کوې نو هیڅ فائده ئې ونکړه۔

وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ : ۱- یعنی د الله د فرائضو حفاظت کوی۔ (الحسنؒ)

۲- اَلْقَائِمُوْنَ بِحِفْظِ شَرَائِعِهٖ)۔ ولاړ دی په حفاظت د احکامو د الله تعالیٰ۔ (فتح البیان)

۳- ځینی وائی : ولاړ دی د الله تعالیٰ په طاعت باندې۔ (ابن عباسؓ) دا تفسیر باللازم دې۔

یا په اوامرو او نواهیو د الله تعالیٰ۔

یعنی په خبرو اترو او حلالو حرامو کښې او کیناستو پاڅیدو، ورکړه راکړه، ننوتو او وتو، راشه درشه کښې به د الله د حکمونو لحاظ کوی او دې ته به همیشه متوجه وی۔

او د اصفت ئې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه روستو راوړو په دې کښې حکمة دا ښکاری (والله اعلم) چه په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښې اکثر د حدودو نه تجاوز کیږی، کله مستحب شے په خلکو فرض کړی او کله ضروری شے غیر ضروری کړی نو د الله د حدودو حفاظت ونشو۔ یو ځای کښې به سختی نهٔ وی پکار او بنده به هلته سختی او کنځلې وکړی، په ګناه باندې انسان کافر جوړ کړی نو دهٔ هم حفاظت ونکړو۔

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ : د ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه څوك مړشو او په هغه کښې دا نهه صفات وو نو دا د الله تعالیٰ په لاره کښې دې او څوك چه مړ شو او په هغه کښې دا نهه صفات وو نو دې شهید دې۔

| |
|---|
| مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا |
| نهٔ دی جائز نبی لره او هغه کسانو لره چه ایمان ئې راوړیدې چه بخنه اُوغ واړی |
| لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ |
| مشرکانو له اګرکه وی دوی خپلوان د دوی روستو د هغې نه چه ښکاره شویده |
| لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۳﴾ |
| دوی ته چه یقیناً دوی اُور والا دی۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې بیا بیان د براءت دے د مشرکانو نه، نو مناسبت ئے د مضمون د سورت سره دا شو چه د مشرکانو نه پس د مرګ نه هم بیزاره شئ هغه دا چه دوی له بخنه مهٔ غواړئ۔

په بل تعبیر : د مشرك نه براءت وکړه په قتال کولو سره او په استغفار نهٔ طلب کولو سره اګرکه ستاسو نزدے خپلوان دے۔ او د منافقانو د خصلتونو سره ئے مناسبت دا دے چه مؤمن به دے ته وائی چه که د هغه خپلوان هم وی خو چه مشرکان وی نو دوستی به ورسره نهٔ کوی، نو دا مناسبت بالتضاد شو۔

## شان نزول

د بخاریؒ او مسلمؒ روایت دے چه کله د ابو طالب د وفات وخت رانزدے شو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ خوا ته لاړو هلته مخکښې نه ابوجهل او عبد الله بن ابی اُمیه موجود وو۔ نبی ﷺ ووئیل، اے تره ! تهٔ لا اله الا الله ووایه دے دپاره چه زهٔ د الله په دربار کښې ستا دپاره سفارش وکړم۔ نو ابوجهل او عبد الله بن ابی اُمیه ووئیل، ابو طالبه ! آیا تهٔ د عبد المطلب د دین نه اعراض کوے ؟ رسول الله ﷺ بار بار د هغهٔ مخے ته خپله خبره وکړه لیکن ابو طالب په آخر کښې دا اُووئیل چه زهٔ د عبد المطلب په دین یم،او د لا اله الا الله وئیلو نه ئے انکار وکړو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل چه [اَمَا وَاللّٰهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ اُنْهَ عَنْكَ]

قسم په الله ! زهٔ چه ترڅو پورے د الله د طرف نه منع نهٔ شم ستا دپاره به بخنه غواړم۔ نو دا آیت نازل شو۔ (بخاری : ۱۳۶۰)

رسول الله ﷺ ته معلومه نهٔ وه چه دے کافر مړ شویدے ځکه چه د هغه نه ئے د لا اله الا الله انکار صراحةً نهٔ وو آوریدلے، پدے وجه ئے ورله بخنه غوښتله۔ بیا ورته الله تعالیٰ په روستو آیت سره خبر ورکړو، (فتح البیان)

یا دا چه پدے سره ئے اقتداء کوله د ابراهیم علیه السلام چه هغهٔ پلار له بخنه غوښتلے وه او دا ورله جائز وه مګر روستو آیت نازلیدو سره ددے نه هم منع شو۔

(فتح الباری لا بن حجر ۵۰۸/۸)

نو دا آیت مکی دے او په مدنی سورت کښې ددے مناسبت په وجه لګولے شویدے۔

**مَا كَانَ** : یعنی مناسب هم نهٔ دی او جائز هم نهٔ دی۔

**مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ** : پس د هغے نه چه ورته ښکاره شی چه

دوی اُور والا دی: دا بـه ورته څنګه ښکاره کیږی یو په وحی سره لکه دلته ئے وحی وکړه، او دویم پدے طریقه چه دوی په کفر او شرك باندے مړه شی نو دوی لائق د استغفار نشو۔

**فائده**: دا آیت دلیـل دے چـه د کـفارو مشرکانو سره به تعلق قطع کولے شی، او کله چه دوی مړه شی نو د دوی دپاره بخنه غوښتل او دعا ورله کول جائز نۀ دی۔

کـه څـوك سوال وکـړی چـه رسـول الله ﷺ چـه د اُحد په غزا کښ وئیلی وو [اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَایَعْلَمُوْنَ] اے الله! زما قوم ته بخنه وکړه ځکه چه دوی ناپوه هه دی؟۔

نـو ددے جـواب دا دے چه دا امکان شته چه دا استغفار په هغه زمانه کښ غوښتلے شوے وی چه منع لا نۀ وه راغلے (فتح البیان)

مـګر غوره جواب دا دے چه دا استغفار د ژوندو دپاره وو، او د استغفار مطلب دا وو چه اے الله! دوی اسلام ته راوله چه بخنه ورته وشی۔

(فتح الباری وعمدة القاری ۵۳/۱۳)

کـه یـو تـن تـه د خپل پلار نیکه حالت معلوم نۀ وی چه په شرك کښ به تلی وی او که په تـوحیـد کـښ نـو بیـا ورلـه مـعـلـق استغفار غوښتلے شی چه اے الله! که زما پلار نیکه په توحید کښ تلی وی نو تۀ ورته بخنه وکړه۔

| |
|---|
| وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ |
| او نۀ ده بخنه غوختل د ابراهیم (علیه السلام) پلار خپل لره مګر د وجے د وعدے نه |
| وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ |
| چه وعده ئے کړے وه وعده د هغه سره، نو هر کله چه ښکاره شوه هغه ته چه بیشکه دا |
| عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ۗ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ |
| دشمن د الله دے نو بیزاره شو د هغه نه، یقیناً ابراهیم (علیه السلام) |
| لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۱٤﴾ |
| خامخا ډیر نرم زړه والا وو، صبرناك وو۔ |

**تفسیر**: سـوال پیدا شو چه ابراهیم علیه السلام چـه خپل پلار (آزر) دپاره بخنه غوښتے وه۔ ﴿سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ﴾ (مریم: ٤٧) ﴿وَاغْفِرْ لِاَبِیْٓ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّیْنَ﴾ (الشعراء:٨٦) نو الله تعالیٰ

ددې جواب کوي چه تاسو به پدې باب کښې د ابراهیم علیه السلام تابعداري نۀ کوئ، وجه دا ده چه یو خو هغه وعده کړې وه او وعده ئې هم پدې وجه کړې وه چه گمان ئې دا وو چه الله تعالیٰ به ئې ښه کړي او توحید ته به راشي خو چه کله ورته په وحي معلومه شوه چه دې ایمان نۀ راوړي او د الله تعالیٰ دشمن دې نو بیا ئې ورله بخښنه غوښتل پرېخي دي، او د هغۀ نه ئې په کلي توگه براء ت اعلان وکړو۔ خو صرف اول کښې ئې ورله استغفار کولو، نو دا د ابراهیم علیه السلام د خصوصیاتو نه شو۔

**اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ** : دا جمله استیناف دې، او مقصد پکښې دا دې چه ابراهیم علیه السلام د پلار د حالت د معلومولو نه مخکښې هغه دپاره پدې وجه استغفار طلب کولو چه هغه اَوّاه وو، په هغۀ کښې داسې رأفت او نرمي وه چه هغه په بل چا کښې نشته، نو پدې وجه بل چا له دا جائز نۀ دي چه پدې باره کښې د ابراهیم علیه السلام اقتداء وکړي۔ (فتح البیان)

**اَوَّاهٌ** : هغه شخص ته وائي چه ډېر تَأَوُّه والا وي او دا کنایه ده د زیات ترحم او د زړۀ د نرمۍ نه۔ نو حاصل معنیٰ ئې ده نرم زړۀ والا۔ او کله چه د چا زړۀ نرم شي نو بیا پکښې راتلونکي ټول صفات راتللې شي نو پدې اعتبار سره به د اَوّاه د لاندې د اَوّاه ټول مصداقات داخلیږي۔

## د اواه مصداقات او معاني

د اواه تقریباً پنځلسو نه زیات مصداقات ذکر دي بعض دا دي :

(۱) ابن مسعودؓ او عبید بن عمیرؓ فرمائي : اواه کَثِيْرُ الدُّعَاء ته وائي۔ (چه د الله نه دعاګانې ډېرې کوي)۔

(۲) او په یو حدیث کښې دي چه په سند کښې ئې شهر بن حوشبؒ دې۔ (اَلْخَاشِعُ الْمُتَضَرِّعُ فِي الدُّعَاءِ) هغه شخص ته وائي چه په دعاء کښې انتهائي عاجزي کوي۔

(۳) حسنؒ او قتادةؒ وائي چه (اِنَّهُ الرَّحِيْمُ بِعِبَادِ اللّٰهِ) دا هغه بند ته وائي چه د الله په بندګانو ډېر رحم والا وي۔ (٤) ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دي چه دا د حبشو په لغت کښې (اَلْمُؤْمِنُ التَّوَّاب) ته وائي۔ یعني ډېره توبه ویستونکې مؤمن۔

(٥) کَثِيْرُ الذِّكْرِ۔ (الله تعالیٰ ډېر یادونکې)۔ (عقبه بن عامرؓ)

د سعید بن جبیرؓ نه نقل دي چه دا مُسَبِّح (ډېر تسبیحات ویونکي) ته وائي۔

(٦) (اَلشَّفِيْقُ) په بندګانو شفقت کونکې۔ (عبد العزیز بن یحییٰؒ)

(۷) (اَلْفَقِيْهُ) (مجاهد والنخعي) په دین باندې پوهه)۔

(۸) (اَلْمُوْقِنُ) د الله په وعدو باندے یقین کونکے۔ (مجاهدؒ)

(۹) (هُوَ الَّذِیْ اِذَا ذَکَرَ خَطَایَاهُ اِسْتَغْفَرَ لَهَا) (رُوِیَ ذٰلِكَ عَنْ اَبِیْ اَیُّوْبَ)

دا هغه شخص دے چه کله خپل گناهونه رایاد کړی نو د هغے دپاره بخنه غواړی۔

(۱۰) کَثِیْرُ التَّأَوُّهِ مِنَ الذُّنُوْبِ) یعنی د گناهونو نه آه کونکے۔ یعنی یریدونکے۔ (قاله الفراء)

(۱۱) (اَلْمُعَلِّمُ لِلْخَیْرِ) (د خیر تعلیم ورکونکے)۔ (سعید بن جبیرؒ)

(۱۲) کَثِیْرُ التَّأَوُّهِ مِنْ خَوْفِ اللّٰهِ) د الله د یرے د وجه نه ډیر اَوسیلی کونکے۔ (چه اُوه ثباه شو)

(۱۳) اَلْخَائِفُ مِنَ النَّارِ) د اُور نه یریدونکے۔ (عطاءؒ) (بغویؒ)

(۱٤) کَثِیْرُ التِّلَاوَةِ) ډیر تلاوت کونکے۔

(۱۵) اَلْمُتَأَوِّهُ شَفَقًا وَفَرَقًا، اَلْمُتَضَرِّعُ اِیْقَانًا وَلُزُوْمًا لِلطَّاعَةِ) (ابوعبیدةؒ) دا هغه شخص دے چه د شفقت او د یرے په وجه ډیر اَوسیلی کوی، او د مضبوط یقین او د طاعاتو د همیشه کولو د وجه نه عاجزی کونکے وی۔ زجاجؒ وائی : د ابوعبیدةؒ په قول کښں د اَوَاه ټول تفسیرونه راجمع کیږی۔ (فتح البیان والقرطبیؒ والبغویؒ)

او رسول الله ﷺ به ددے دعا کوله (مُخْبِتًا اِلَیْكَ اَوَّاهًا مُنِیْبًا)۔ اے الله ! ما اوّاه وگرځوه۔

(ترمذی : ۳۵۵۱ باسناد صحیح)

حَلِیْمٌ : صبرناك وو د هغه چا نه چه چا به پرے ظلم وکړو۔

| |
|---|
| وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى |
| او نهٔ دے الله چه گمراه کړی یو قوم پس د هغے نه چه هدایت ئے کړیدے دوی ته تر دے |
| يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ |
| چه بیان کړی دوی ته هغه څه چه ځان بچ کړی دوی د هغے نه، یقیناً الله په هر شی |
| عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُحْيٖ |
| پوهه دے۔ یقیناً الله دپاره بادشاهی د آسمانونو او د زمکے ده، ژوندی کول کوی |
| وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾ |
| او مړهٔ کول کوی او نشته تاسو لره سوئ د الله نه څوك دوست او نهٔ مددگار۔ |

**تفسیر:** شان نزول

الله تعالیٰ چه کله د مشرکانو دپاره د بخنے د طلب کولو نه منع وکړه نو کومو خلقو چه د خپلو مشرکانو خپلوانو دپاره مخکښ بخنه غوختے وه نو دهغوی د الله تعالیٰ د عذاب نه یره پیدا شوه، نو دا آیت نازل شو چه کوم مسلمانان د مخکښ نه په نیغه لار باندے روان وی، په ناپوهئ سره پدے غلطی به دوی نهٔ رانیولے کیږی ځکه چه د الله تعالیٰ د طرف نه رانیول د هغه چا وی چه د حق ښکاره کیدو نه روستو هم په باطل کلك ولاړ وی.

یعنی الله تعالیٰ چه یو انسان ته خبر نهٔ وی ورکړے او هغه په ناپوهئ یوه گناه وکړی نو پدے باندے هغه نهٔ دے گنهگار.

ددے آیت دوه تفسیرونه دی :

(۱) حَتّٰی یُبَیِّنَ لَهُمۡ مَا یَتَّقُوۡنَ فَلَایَتَّقُوۡنَ فَعِنۡدَ ذٰلِكَ یَسۡتَحِقُّ الۡاِضۡلَالَ) (القرطبی۸/۲۷۷).

یعنی الله تعالیٰ د هدایت نه روستو یو قوم ته گمراهان نهٔ وائی تردے چه هغوی ته هغه څیزونه بیان کړی چه هغوی ترے ځان وساتی او بیا هم دغه خلك د پوهے نه روستو د دغه څیزونو نه ځان نهٔ ساتی نوکله نا کله هغوی لره گمراه کړی.او کله چه الله تعالیٰ بیان نهٔ دے کړے او هغه قوم دغه گناه وکړی نو دوی به گناهگار نهٔ وی. علامه قاسمیؒ فرمائی :
الله تعالیٰ مسلمانانو ته ټول هغه څیزونه بیان کړیدی چه هغوی دپاره ترے ځان ساتل ضروری دی لکه چه فرمائی :﴿ وَقَدۡ فَصَّلَ لَکُمۡ مَا حَرَّمَ عَلَیۡکُمۡ اِلَّا مَا اضۡطُرِرۡتُمۡ اِلَیۡهِ﴾ (الانعام: ۱۱۹). (او الله تاسو ته تفصیل سره بیان کړیدی هغه څیزونه چه الله په تاسو حرام کړیدی مگر هغه چه تاسو ورته مجبور شئ)

او فرمائی : ﴿ فَاِنۡ تَنَازَعۡتُمۡ فِیۡ شَیۡءٍ فَرُدُّوۡهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ﴾ (که ستاسو جگړه راشی په یوه معامله کښ نو هغه الله تعالیٰ او د هغه رسول ته واپس کړئ). نو مؤمنان به هره خبره د الله تعالیٰ کتاب او د هغهٔ د رسول سنتو ته واپس کوی.

دا په کښ غوره تفسیر دے ځکه چه د مضمون او د سیاق سره برابر دے.

نو ددے وجه نه الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام راونهٔ نیولو په استغفار د خپل پلار سره مخکښ د ښکاره کیدو د حال د هغهٔ نه، او دغه شان زمونږ رسول الله ﷺ او مؤمنان ئے راونهٔ نیول په استغفار د خپلو والدینو او خپلوانو سره مخکښ ددے حکم بیانولو نه. (المنار)

(۲) علامه قاسمیؒ فرمائی : [اِنَّ الۡمُشۡرِکِیۡنَ لَایُضِلُّهُمۡ اِلَّا بَعۡدَ اِبۡلَاغِ الۡحُجَّةِ وَهِیَ اِرۡسَالُ

الرَّسُوْلِ اِلَیْهِمْ بِبَیَانِ مَا یَتَّقُوْنَ] ـ یعنی مشرك ته الله تعالیٰ گمراه نهٔ وائی مگر هله چه دلیل پرے قائم کړی او هغه دا چه دوی ته ئے رسول رالیږلے او هغه ورته سیده لاره خودلے ده، نو اُوس چه گمراه کیږی نو الله تعالیٰ ئے هم په همدے گمراه کښ پریدی او د هغهٔ د عذاب مستحق کیږی به. او دا آیت د (وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِیْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا) په شان دے.

(۳) مقاتلؒ او کلبیؒ وائی : دا د منسوخ حکم په باره کښ دے یعنی الله تعالیٰ د یو قوم عمل نهٔ بربادوی چه هغوی په منسوخ حکم باندے عمل کړے وی تردے چه الله تعالیٰ ورته ناسخ حکم بیان کړی. نو که د ناسخ حکم نه روستو هم څوك په منسوخ باندے عمل کوی نو ددهٔ عمل به برباد وی.

(فتح البیان وتفسیر القرآن للطبرانی ومعانی القرآن للفراء ١/٤٥٣)

لکه بیت المقدس ته چا مونځ کړے وو یا د حرامیدو نه په مخکښ زمانه کښ چا شراب څکلی وی نو دا ورته معاف دی. د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه دا آیت د بدری قیدیانو نه د فدیه اخستو په باره کښ نازل وو. مگر د اصول التفسیر مطابق اګرکه دا آیت د بدر د غزا نه ډیر روستو نازل دے مگر هغے ته هم شامل دے پدے وجه د متقدمینو د اصطلاح مطابق داسے وئیلے شی چه دا آیت د بدر د قیدیانو په باره کښ نازل دے. (المنار)

اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ: پدے کښ بیان د تصرف د الله تعالیٰ دے، او دا ددے دپاره راوړی چه مشرك ته بخنه نهٔ کول او هغه گمراه کول د الله تعالیٰ د مالکیت سره تعلق لری، نو هغه ته متوجه کیدل پکار دی. او دارنګه پدے کښ د مشرکانو نه د برائت کولو تاکید شویدے چه اے ایمان والو ! په خپل رب توکل وکړئ، هرڅه د هغهٔ سره دی او د مشرکانو نه مهٔ یریږئ، او د دنیا د لوی نه لوی انسان هم که د الله تعالیٰ دشمن وی نو د هغوی مکرونه تاسو ته هیڅ ضرر نشی درکولے او د هغهٔ حکمونه عملی کړئ او صرف هغه ته متوجه شئ ځکه چه مدد او ولایت صرف د هغه د طرف نه دی.

او پدے کښ ترغیب دے قتال ته هم چه ژوند او مرګ د الله په لاس کښ دے نو تاسو د الله تعالیٰ په لاره کښ جنګ کوئ، یواځے ددے سره مرګ نهٔ دے ترلے شوے.

| |
|---|
| لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ |
| یقیناً مهربانی کړیده الله تعالیٰ په نبی او په مهاجرینو او په انصارو هغه کسانو |

| |
|---|
| اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ |
| چه تابعداری ئے کړیده د هغه په ساعت د تنګسیا کښې پس د هغے نه چه نزدے وه |
| يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ط |
| چه کاږهٔ شوی وے زړونه د یو ډلے د دوی نه، بیا مهربانی وکړه الله په دوی باندے |
| اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَّعَلَى |
| یقیناً الله په دوی باندے شفقت کونکے رحم کونکے دے۔ او (مهربانی ئے اُوکړه) په |
| الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ط حَتّٰى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ |
| هغه درے کسانو چه روستو کړے شوے وو کار د هغوی تردے چه کله تنګه شوه په دوی |
| الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْٓا |
| زمکه سرهٔ د فراخوالی نه او تنګ شو په دوی باندے نفسونه د دوی او ګمان ئے وکړو |
| اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ ط ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ |
| چه نشته ځائے د پناهیٔ د الله نه مګر هغه ته دے، بیا الله توفیق د توبے ورکړو دوی ته |
| لِيَتُوْبُوْا ط اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١١٨﴾ |
| دے دپاره چه توبه اُوباسی دوی، یقیناً الله تعالیٰ خاص هغه توبه قبلونکے رحم کونکے دے |

**تفسیر**: دا هم د غزا تبوك متعلق آیتونه دی او د (قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ) سره لګی، او دارنګه د نزدے آیتونو سره متعلق دی، کوم چه درے کسان صحابه کرامؓ ددے غزا نه پاتے شوی وو۔

مخکښې وئیل شویدی چه د تبوك غزا نه څه داسے خلق هم روستو پاتے شوی وو چه مخلص مسلمانان وو لیکن د سُستی په وجه د نبی کریم ﷺ سره لاړ نشو۔ کله چه د منافقانو په باره کښې د قرآن کریم آیتونه نازل شو نو هغوی ته د خپلے غلطیٔ سخت احساس وشو، پدے وجه د دوی نه څه کسانو خپل ځانونه د مسجد نبوی د ستنو سره اُوتړل تردے پورے چه الله تعالیٰ هغوی معاف کړل، او د هغه مخلص مسلمانانو نه درے کسان د رسول الله ﷺ مخے ته ورغلل او د خپلے غلطیٔ اقرار ئے وکړو او د منافقانو په شان

د دروغو عذر ئے پیش نکړو، لیکن دوی خپل ځانونه د مسجد نبوی ستنو پورے نهٔ وو تړلی او خپله معامله ئے الله تعالیٰ ته حواله کړه، هغه دریواړه کعب بن مالك، هلال بن امیه او مراره بن الربیع (رضی الله عنهم) وو۔ دوی سره پنځوس ورځو پورے خبرے بندے شوے وے، پدے پنځوس ورځو موده کښ دادریواړه چه د کوم ذهنی پریشانو نه تیریدل او زمکه سَرَه د خپلے فراخئ نه څنګه په دوی تنګه شوه، دے احوالو او کیفیاتو طرف ته پدے آیت کښ اشاره شویده۔

دلته الله تعالیٰ ددے کسانو د توبے د قبلیدو ذکر کولو نه مخکښ د نبی کریم ﷺ او د مهاجرینو او انصارو د توبے د قبلیدو ذکر یو خو ددے دپاره کوی چه دوی ته دا یقین ورکړی چه د دوی توبه قبوله شوه، لکه څنګه چه د نبی کریم ﷺ او د هغه لوئی صحابه کرامؓ توبه قبوله شوه۔ او دوی هم د الله تعالیٰ په مقبولو بندګانو کښ شامل شو۔ ❁ او دا چه د الله تعالیٰ هر بنده اګرکه هغه نبی وی یا ولی، په هر وخت او هر حالت کښ د توبے او استغفار محتاج دے، ❁ او دا چه همیشه توبے ویستل د انبیاء علیهم السلام او صالحینو صفت دے۔

❁ او بل پدے کښ په رسول الله ﷺ او په عامو مؤمنانو د ‹متنان (احسان زبادول) دی چه الله تعالیٰ د دوی سره دا احسان کړے چه دوی باندے ئے هم توبه ویستلے ۔ او دوی ئے په دین کښ استعمال کړل، که الله تعالیٰ په دین کښ نهٔ وے استعمال کړی نو د تبوك غزا څه آسانه خبره نهٔ وه، او دا همیشه د قرآن طریقه ده چه یو نیك عمل د مؤمنانو ذکر کړی نو بیا ئے خپل ځان ته متوجه کوی چه دا کار دربانده ما وکړو، زما احسان په ځان ومنه او په الله تعالیٰ فخر او زبادنه مهٔ کوه۔ نو دا ډیره ښه مقدمه ده چه پدے سره ذهن سازی کوی۔

**لَقَدْ تَّابَ اللهُ:** **اشکال وجواب**

دلته مفسرینو ته دا اشکال ښکاره شویدے چه په رسول الله ﷺ باندے د توبے څه معنیٰ ده حال دا چه هغهٔ نه خو کومه ګناه نهٔ ده شوے۔ دارنګه د مهاجرینو او انصارو کومه ګناه وه چه د هغے نه الله تعالیٰ په دوی توبه ویستله ؟ دویم اشکال دا چه دلته دوه ځل توبه ذکر شویده ﴿ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ سره؟۔

نو ددے نه چا جواب ورکړیدے چه دلته که د دوی نه څه تقصیر شوے وی نو هغے ته اشاره ده لکه رسول الله ﷺ بعض کسانو ته په روستو پاتے کیدو کښ اجازه ورکړے وه، او د

مشرکانو دپاره ئے بخنه غوښتے وه نو دغه تقصیر ئے هم ورته معاف کړو اګرکه هغه ګناه نۀ وه۔
او د تکرار جواب دا دے چه د اولے توبې نه مراد توفیق د توبې دے او د دویمے توبې نه قبول د توبې مراد دے۔ لکه دا فرق حافظ ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کښ ذکر کړیدے۔
لیکن غوره خبره دا ده چه که بنده د توبې اصلي معنیٰ ته متوجه شي نو دا اشکال به ئے ختم شي ځکه چه توبه په شریعت کښ دے ته وائي : [اِسۡتِعۡمَالُ الۡعَبۡدِ فِيۡ طَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ] یو بنده د الله په طاعت کښ استعمالول۔ که یو تن د الله تعالیٰ د طاعت نه مخکښ وتلے دے او بیرته طاعت ته راشي نو هم توبه ده او که د.ابتداء نه د الله تعالیٰ په طاعت کښ استعمال شي لکه یو حکم نازل شي او الله تعالیٰ دۀ ته په هغے باندے د عمل کولو توفیق ورکړي نو دے ته هم توبه وائي۔ یعنی دا د الله تعالیٰ مهرباني شوه په دوی باندے۔ او دا معنیٰ د قرآن کریم د تدبر نه معلومه شویده۔
نو دلته معنیٰ دا ده : یقیناً الله تعالیٰ خپل نبي او مهاجرین او انصار په خپل طاعت کښ (چه غزا ده او نور طاعات دي) استعمال کړل، او بیا پدے غزا کښ د بعض کسانو زړونه اوړیدل نو الله تعالیٰ دوباره استعمال کړل او خپل طاعت ته ئے راتاؤ کړل۔ نو ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ د ﴿يَزِيۡغُ قُلُوۡبُ﴾ سره ولګیدو۔
**فائده** : پدے آیت کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ ټول صحابه کرامؓ جنتیان کړیدی ځکه چه دلته ئے اعلان کړیدے چه مهاجرین او انصارو ته الله تعالیٰ ټول ګناهونه معاف کړیدی اګرکه پخوا زمانه کښ تیرے شوی وی او دا داسے دے لکه رسول الله ﷺ فرمائي : (الله تعالیٰ بدریانو ته رابښکاره شو او ورته ئے ووئیل : [اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ فَقَدۡ غَفَرۡتُ لَكُمۡ] (بخاري باب المغازي باب ٩، ٤٦٠، وغیره ومسلم فضائل الصحابة : ١٦١)
کوئ چه څه مو خوښه وی یقیناً چه ما تاسو ته بخنه کړیده۔
په آیت کښ د ﴿سَاعَةِ الۡعُسۡرَةِ﴾ نه مراد د تبوك د غزا سفر دے۔ ابن عرفهؒ وائي چه د تبوك غزا لښکر ته جیش العُسۡرَة (د تنګ حالئ لښکر) ووئیل شو ځکه چه نبي کریم ﷺ دے فوج ته په هغه وخت کښ د سفر حکم کړے وو چه کله صحابه کرامؓ د سخت تنګ حالئ دَور نه تیریدل، نۀ سورلي وه او نۀ د سفر توخه او نۀ اُوبه۔ سخته ګرمي او د قحط سالئ زمانه وه۔
وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ: أَيۡ قَدۡ تَابَ عَلَى الثَّلَاثَةِ ۔ یعني الله تعالیٰ توبه ویستله په دریے کسانو چه د

هغوي كار روستو كړے شوے وو۔ يعنى د توبے قبليدل ئے روستو شوى وو۔
وَظَنُّوٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ: يعنى د الله نه په غير بل ځاى كښ د خلاصئ ځاى نشته، دا د مؤمن انتهائى هوښيارتيا ده چه ګناه وكړى او بيا ووائى چه ما به څوك خلاصوى؟ نو بس دغه يو الله دے هغه ته رجوع وكړى۔ او هغه انسان ډير ناكاره دے چه ګناه هم وكړى او بيا د الله تعالىٰ نه مرور هم شى۔ د ماشوم نه عقل زده كول پكار دى چه ماشوم كله مور ووهى او د ځان نه ئے وشړى، هغه بهر وخى لړ وژاړى، بيرته راشى د مور غيږ كښ ځان ګوزاركړى، هغه ته دا معلومه وى چه ما باندے د خپلے مور نه زيات مهربان بل څوك نشته، نو ددے نه اُوچت مؤمنان عقل زده كوى چه هغوى ګناه وكړى او الله تعالىٰ ورته سزا هم وركړى نو بيرته الله تعالىٰ ته رجوع كوى او هغه ته توبه وباسى او د هغه په طاعاتو كښ مصروف كيږى۔
ضَاقَتْ: دے كښ دے ته اشاره ده چه الله تعالىٰ د هغه چا توبه قبلوى چه په ګناه باندے خفه او درد مند وى او ژوند ورله خوند نۀ وركوى۔ او كله چه يو تن ګناه، زنا او غلا وكړى او هيڅ پرواه ئے نۀ وى نو داسے قسمه خلكو ته الله تعالىٰ د توبے توفيق چرته وركوى۔ په ګناه باندے دردمند شه نو بيا به دِے توبه كښ ډير زور وى او دا يقين وكړه چه كه الله تعالىٰ مے معاف نكړى نو غرقيږم۔ ابوبكر الوراقؒ وائى: توبه نصوح دا ده چه توبه ويستونكى باندے زمكه سره د فراخئ نه تنګه شى او د هغه زړه په خفګان كښ شى لكه ددے درے كسانو په شان۔
وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ: يعنى د دوى سينے د وحشت او د سخت غم او د خلكو د جدائى په وجه تنګے شوے چه دوى ته هيڅ خوشحالى نۀ وه حاصله۔
ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ: يعنى بيا ئے ورله توبه قبوله كړه۔ او دلته ئے بار بار د توبے نسبت الله تعالىٰ ته وكړو پدے كښ اشاره ده چه د توبے قبلول او توفيق وركول دا خالص د الله تعالىٰ رحمت او كرم او احسان دے او په هغه باندے هيڅ شے واجب نۀ دے۔ (فتح البيان)
لِيَتُوْبُوْا: اَىْ لِيَرْجِعُوْا اِلٰى طَاعَةِ اللّٰهِ۔ دے دپاره چه د الله تعالىٰ طاعت او بندګئ ته راواپس شى۔

| |
|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ |
| اے ايمان والو! اُويريږئ د الله نه او شئ ملګرى د رشتينى خلقو |

**تفسیر** : پدے رکوع کښې کامل ترغیب دے قتال طرفته۔ اول نه حکم کوی چه د الله تعالیٰ د احکامو پابندی وکړئ او د رشتینو خلکو ملګرتیا وکړئ۔ او د هغوی په شان صفت ځانونو کښې پیدا کړئ۔

پدے کښې اشاره ده چه دے درے کسانو ته د توبې توفیق پدے وجه حاصل شو چه دوی کښې رشتیا وه۔

نافعؒ وائی: پدے کښې ټول امت ته خطاب دے چه تاسو د محمد ﷺ او د هغهٔ د ملګرو سره یو ځای شئ۔ او دا آیت د رشتیاؤ په لوی فضیلت باندے دلالت کوی۔ او د صادقین نه مراد ټول مهاجرین او انصار دی۔ لکه مهاجر د الله تعالیٰ دپاره خپل کور او پوله پټے پریدی نو دا صادق دے۔ لکه سورة الحشر (۸) آیت کښې دی : ﴿ لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ ﴾ نه تر ﴿ أُولٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ﴾ پورے او ابوبکر صدیق رضی الله عنه د بیعت په ورځ پدے آیت باندے دلیل ونیولو او وے فرمایل چه د صادقین نه مراد مهاجرین دی نو اے انصارو ! تاسو ته حکم دے چه مونږ سره ملګری شئ۔ (فتح البیان)

الصّٰدِقِیْنَ : هُمُ الَّذِیْنَ صَدَقَتْ اَقْوَالُهُمْ وَاَعْمَالُهُمْ وَنِیَّاتُهُمْ ۔ دا هغه خلك دی چه د دوی خبرے او کارونه او نیتونه ټول رشتینی وی او د منافقانو په شان نهٔ وی۔

| |
|---|
| مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ |
| نهٔ ده مناسب مدینے والو لره او هغه چا لره چه چاپیره د ددوی نه د بانډچیانو نه |
| اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ |
| دا چه روستو پاتے شی د رسول الله نه او نهٔ دے غوره کوی ځانونه خپل د ځان د هغهٔ نه، |
| ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ |
| دا پدے وجه دے چه نهٔ رسیږی دوی ته څه تنده او نهٔ سترړی والے او نهٔ لوږه په لاره |
| اللّٰهِ وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ |
| د الله کښې او نهٔ ګرځی دوی په یوه لاره چه غصه کوی کافرانو لره او نهٔ حاصلوی دوی د |
| عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ |
| دشمن نه څه حاصلول مګر لیکلے کیږی به دوی له په هغے سره عمل نیك، یقیناً الله |

لَا يُضِيعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

نهٔ ضائع کوی اجر د نیك عمل کونکو۔ او نهٔ خرچ کوی دوی څه خرچ کول لږ او نهٔ ډیر

وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

او نهٔ پریکوی دوی یو میدان (په سفر سره) مګر لیکلے شی دوی لره (اجر د هغے)

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾

دے دپاره چه بدله ورکړی دوی ته الله ډیره بنائسته د هغے عملونو چه دوی ئے کوی۔

**تفسیر** : پدے کښ د هغه خلقو ملامتیا وئیلے شویده چه هغوی د تبوك په غزا کښ نهٔ وو شریك شوی۔ د مدینے ګیرچاپیره وسیدونکو بانډچیانو نه مراد مُزینه، جُهینه، اَشْجَع، اَسْلَم او غِفَار وغیره قبائل دی۔ پدے قبائلو په خصوصی توګه پدے وجه ملامتیا راغله چه دوی ته د غزوے دپاره د روانیدو نبوی حکم رسیدلے وو، او پدے وجه هم چه د رشتینی ایمان او د قُرب او جوار (ګاونډیتوب) تقاضا وه چه د رسول الله ﷺ د ملګرتیا دپاره هر وخت تیار وسیدلے، او خپل ځان ورکړی او د هغهٔ د ځان حفاظت وکړی۔

(فتح البیان والقاسمی)

**وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ**۔ ای رَغْبَةً زَائِدَةً عَنْ نَفْسِهٖ۔ یعنی د خپلو ځانونو سره به داسے مینهٔ نکوی چه هغه زیاته وی د نفس د رسول الله ﷺ نه۔ او هغه دا چه رسول الله ﷺ جهاد ته ځی او دے کور کښ پاتے کیږی۔ نو ددے معنیٰ دا شوه چه ددهٔ د خپل ځان سره د رسول الله ﷺ په نسبت مینه زیاته ده، چه په دهٔ دِے راحت وی اګرکه په رسول الله ﷺ باندے تکلیف وی۔ او دا قانون په عامو مسائلو کښ هم دے چه یو عمل رسول الله ﷺ کړیدے او دے وائی چه زهٔ ئے نهٔ کوم مثلاً رسول الله ﷺ ګیره پریخوستے ده او دے وائی چه زهٔ ئے نهٔ پریدم، رسول الله ﷺ فرض مونځ، جهاد کړے او دے وائی چه زهٔ ئے نشم کولے نو دا د خپل ځان سره زیاته مینه شوه۔ بلکه د الله تعالیٰ رسول چه څه کړی وی د هغے سره به مینه کوی او رسول الله ﷺ فرمائی : ((یو تن په تاسو کښ مؤمن کیدے نهٔ شی تردے چه زهٔ ورته د خپل والد او د اولادو او د ټولو خلکو نه زیات محبوب نشم))۔

(بخاری رقم : ۱۵)

**ذٰلِكَ**: یعنی د رسول الله ﷺ سره وتل ورلره ځکه پکار دی چه دوی ته په هر قدم او په

هر تـکـلیف باندے چه دوی ته په دے لاره کښ رسیږی او د الله په لاره کښ چه هر څه خرچ کوی ددے تهولـو په عوض کښ به ورته اجر ملاویږی۔ یعنی مجاهدینو خو گټے وکړے نو که دے پاتے شي نو ددے خیرونو نه به محروم شی۔

لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ : ددے حاصل معنیٰ دا ده چه مجاهد کله جهاد ته ووتلو نو ددهٔ د اجر میتمر کـولاؤ شو، ددهٔ هر حالت نیکی نیکی ده تردے چه هغه څیزونه چه هغه فی نفسه عبادت نهٔ دے لـکـه تـنـده او ستړی والے او هسے گرځیدل، لیکن د جهاد په لاره کښ دا هم عبادات شمارلے کیږی۔

مَخْمَصَةٌ: سخته لوږه۔

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : یعنی د الله په طاعت کښ۔

يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ : دے نـه مـعـلـومیږی چه د کـافـر غصه کول هم لوی عبادت دے، او دا د خواصو بندګانو عبادت دے۔

نَّيْلًا: نیـل حـاصلولو او رسولو ته وائی یعنی قتل او قید او شکست او غنیمت وغیره نو د کافرانو نه غنیمت اخستل هم د هغوی ذلیله کول دی لهذا دا هم عبادت دے۔

بِهٖ : یعنی هر یو ددے پنځه کارونو باندے عمل صالح او مقبول اجر لیکلے کیږی۔

وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا: د وادی قطع کول کنایه ده د قطع کولو د مسافت نه۔

د ﴿ وَلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا ﴾ تفسیر کولو سره قتادهؒ وائی چه د الله په لاره کښ جهاد کونکے چه د خپل اهل وعیال نه څومره لرے کیږی نو هغومره الله تعالیٰ ته نزدے کیږی۔

(ابن کثیرؒ والقاسمیؒ)

وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً : پـه مسند احمد کښ د عبد الله بن امام احمدؒ د عبد الرحمن بن حباب سُلمیؓ نه روایت کړیدے چه عثمان بن عفان ﷺ د تبوک د غزا د فوجی تیاریٔ دپاره یو زر دینـاره او درے سوه اُوښـان سره د سامانونو نه صدقه کړے وه۔ چه په هغے باندے رسول الله ﷺ فـرمـایلی وو چه نن نه روستو عثمان چه هر څه کوی، هیڅ ګناه پرے نشته۔ او بار بار ئے دا جمله ذکر کوله۔

وَّلَا كَبِيْرَةً : نـفـقـه او وادی قـطـع کـول (جهادی سفر) خپله نیك عمل دے، پدے وجه ئے دلته (كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ) ونهٔ وئیلو۔ یا كُتِبَ کښ ضمیر دغه مخکنی عمل ته راجع دے۔ یعنی دغه عمل به ورله لیکلے کیږی او ددے بدله به ورکړے کیږی۔

لِيَجْزِيَهُمُ اللهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ : ۱- احسن صفت د جزاء مقدر دے یعنی

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ جَزَآءَ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۔ دے دپاره چه الله تعالىٰ دوى ته بنائسته بدله ورکړی د دوی د عملونو په وجه.

۲- یا احسن صفت د روستو عمل دے او دا اضافت د صفت دے موصوف ته. یعنی دے دپاره چه الله تعالیٰ دوی ته د بنائسته هغه عملونو بدله ورکړی کوم چه دوی کوی. ځینی وائی: چه ددے معنیٰ دا ده چه دوی ته په احسن عمل جزاء ورکړی کوم چه به دوی کولو او که د احسن نه کم عمل وی نو هغه به دوی سره د دوی د اجر د پوره کولو دپاره پیوسته کولے شی.

نو دا آیت د جهاد په فضیلت باندے لوی دلیل دے. او جهاد د بندګانو ډیر بنائسته عمل دے. (فتح البیان)

| |
|---|
| وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ؕ فَلَوْلَا نَفَرَ |
| او نۀ ده مناسب مؤمنانو لره چه اُوځی (جهاد یا د علم دپاره) ټول، پس ولے نۀ اُوځی |
| مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِى الدِّيْنِ |
| د هرے ډلے د دوی نه څه کسان دے دپاره چه پوهه حاصل کړی په دین کښ |
| وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ |
| او چه یره ورکړی قوم خپل ته (په بیان د علم) کله چه راواپس شی دوی قوم ته |
| لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ |
| دے دپاره چه دوی ځان بچ کړی (د ګناهونو نه). |

**تفسير**: پدے آیت کښ ترغیب دے علم زده کولو ته بناء په یو تفسیر.

۱- او ددے د مناسبت ناشنا وجه دا ده چه اکثر خلك جهادونه په بی علمیٔ کوئ نو پدے وجه د جهاد نه فساد جوړ شی نو دلته وائی چه جهاد به د علم په رهنمائی کولے شی، د علماؤ نه به په کښ رهنمائی اخلے ورنه بیا به لوی فسادونه جوړ شی لکه زمونږ پدے زمانه کښ اکثر جهادونه دغه شان بی اثره وی ځکه چه علم او د دین پابندی کمه ده.

۲- مناسبت: اَلْجِهَادُ سَبَبٌ مَانِعٌ عَنِ الْعِلْمِ ۔ جهاد یو سبب دے چه د علم نه انسان بندوی، ځکه چه انسان مسائل زده کولو ته وزګار نۀ وی، او نۀ پوره مطالعه کولے شی. نو الله

تعالیٰ دلته ترغیب ورکوی چه په جهاد باندے به علم نۀ هیروئ بلکه څه کسان دِے علم زده کړی او څه دِے جهاد وکړی، نو دا غلطه رایه ده چه ټول خلك جهاد ته وباسی او ډیر ناپوهه جهاد کونکی د مدارسو علماؤ ته سپك ګوری او دوی ورته بزدله ښکاری، دا یو شیطانی وسوسه ده او په خپل عمل باندے غرور دے۔

بیا آیت کښ دوه تفسیره دی (۱) اول دا چه کله چه ددے سورت آیت کریمه (٤١) ﴿اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا﴾ نازل شو چه په هغے کښ تمامو مسلمانانو ته د جهاد دپاره د وتلو ترغیب ورکړے شو، او هغه آیتونه هم نازل شو چه په هغے کښ د تبوك په غزا کښ نۀ شریك کیدونکو باندے سخته ملامتیا ووئیل شوه نو عامو صحابه کرامو دا ګمان وکړو چه د جهاد دپاره په هر حال کښ د ټولو خلقو وتل به ضروری وی او په هیڅ حال کښ به روستو پاتے کیدل صحیح نۀ وی۔ اوکله چه به رسول الله ﷺ جهاد ته یوه سریه لیږله نو ټولو به وئیل چه مونږ ځو۔ نو دا آیت نازل شو چه د جهاد دپاره د وتلو حکم د مدنی ژوند په ابتداء کښ وو، کله چه د مسلمانانو شمار کم وو، اُوس د مسلمانانو شمار ښه شویدے، پدے وجه د مصلحت تقاضا دا ده چه مدینه او د نورو مسلمانانو کلی خالی کولو سره به ټول خلق نۀ ځی، بلکه څه کسان د رسول الله ﷺ سره مدینه کښ پاتے شئ چه د هغه نه د وحی علم زدهٔ کړئ ځکه چه د علم مرکز مدینه وه نو بهر وتل د علم خلاف وو او په مدینه کښ پاتے کیدل د علم موافق کار وو۔ نو څه کسان چه پاتے شو نو دے کښ یوه فائده دا ده چه د خپلو ښځو او بچو تربیت به وکړی او د مجاهدینو د کورونو نګرانی او حفاظت به وکړی، او بله دا چه د رسول الله ﷺ نه به علم زده کړی ځکه چه د الله تعالیٰ شریعت زده کول هم فرض دی، نو هغه مجاهدین چه بیرته راواپس شی نو دوی به ورته دین بیان کړی چه رسول الله ﷺ داسے داسے وفرمایل۔ نو هغوی به جهاد هم وکړی او روستو به بالواسطه علم هم زده کړی۔ او د پاتے خلکو به هم دوه فائدے وشی یو به علم زده کړی او د کور خدمت به وکړی او بل به د دغه علم دعوت هم وکړی۔

نو معنیٰ د آیت دا ده: فَلَوْلَا نَفَرَ : اَیْ خَرَجَ لِلْجِهَادِ۔ ولے نۀ وځی جهاد ته۔ د فرقة نه مراد پاتے شوی خلك دی او طائفة نه مراد مجاهد دی۔

او (لِيَتَفَقَّهُوْا) کښ به ضمیر پاتے شوے ډلے ته راجع وی۔ او لِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ:

مطلب دا دے چه دا پاتے شوی خلك به یره ورکړی خپل قوم ته کوم چه جهاد ته وتلی دی کله چه هغه مجاهدین دوی ته راواپس شی۔ دے دپاره چه هغوی هم د الله تعالیٰ نه

ویریږي او د ګناهونو او د الله د حکمونو د ماتولو نه ویریږي. دا تفسیر به د رسول الله ﷺ د زمانې مطابق وي.

(۲) تفسیر: که د رسول الله ﷺ د دور نه روستو زمانې سره متعلق شي نو بیا به دا د علم سره ولګي. نو معنیٰ به دا وي چه مؤمنانو لره نۀ دي پکار چه ټول علم ته وځي ځکه چه هر چا ته الله تعالیٰ دا استعداد نۀ دے ورکړے چه علم حاصل کړي، او بیا د دنیا نظام هم خرابیږي بلکه د هرے غټے ډلے نه دے وړه ډله لاړه شي مدارسو او علماؤ ته دے دپاره چه دغه وړه ډله په دین کښ پوهه حاصله کړي او علم زده کړي او د دوی کوم قوم چه په کلي کښ پاتے دے هغے ته دِے راواپس شي او هغوی ته دِے دغه علم بیان کړي دے دپاره چه هغوی هم د الله تعالیٰ د عذابونو نه ویریږي.

## فوائد الآیة

۱- علم دوه قسمه دے، فرض عین او فرض کفائي، د فرائضو علم فرض عین دے او د عام دین زده کول فرض کفائي دي چه بعضو زده کړو نو د نورو غاړه آزادیږي.

۲- "نَفَرَ" نه معلومه شوه چه د علم دپاره به وتل ضروري وي او "نَفَرَ" کښ معنیٰ د نفرت پرته ده یعني د خلکو نه به نفرت کوے او د هغوی نه به جدا کیږے، ځکه د خلکو د اختلاط سره علم پوره صحیح طریقے سره نه زده کیږي، او کله چه طالب العلم ځان نه سیاسي جوړ کړي، او د یو تنظیم رکن شي او منډے تړے وهي، یا ئے رابطے زیاتے شي نو د هغه په علم کښ غالباً پخلے نۀ شي راتللے.

۳- لِّيَتَفَقَّهُوْا: داسے ئے ونۀ وئیل چه (لِيَتَعَلَّمُوْا) چه صرف علم زده کړي بلکه تفقه ئے ذکر کړه، او تفقه د دین باریکاتو باندے ځان پوهه کولو ته وائي. ددے وجه نه کوم خلك چه تفقه في الدین نۀ لري او صرف هسے په دین ورتیر شي، نو هغه ته په ډیرو ځایونو کښ په قرآن او حدیث کښ تعارضات ښکاره کیږي، او غلطے غلطے فتوے ورکوي. او د تفقه في الدین د حاصلولو دپاره لس اسباب دي. اکثر طلاب العلم په مختصر وخت کښ ځان د یو څو کتابونو نه فارغ کړي، او یو څو درجے ووائي بیا ورته خلك مُلا صاحب او مفتي صاحب وائي نو غلطے فتوے ورکوي، ځان او قوم ګمراه کړي، ژور علم او په علم باندے ډیر وخت تیرول پکار دي، سلفو به په علم باندے څلوېښت او پنځوس کاله تیرول.

۴- دلته الله تعالیٰ جهاد او علم دواړه جمع کړل پدے کښ اشاره ده چه: [اِلٰى اَنَّ تَمَامَ الدِّيْنِ

بِهِمَا ] . د دین پوره والے پدے دواړو سره حاصلیږی، که د یو تن سره علم وی او جهاد ورسره شاته نهٔ وی نو دا هم ډیر خدمت نشی کولے، د خلکو به خپله خوښه وی منی او که نهٔ. او که د جهاد سره علم نهٔ وی نو د اصلاح په ځای ئے فساد زیاتیږی. او دا خبره په سورة الحدید کښې تفصیلاً ذکر کیږی ان شاء الله تعالیٰ.

٥- وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُم : نه معلومه شوه چه د علم د زده کولو یو نیت او مقصد به دا وی چه خلکو ته د دین دعوت وکړی او هغوی ویروی.

٦- قَوْمَهُمْ نه معلومه شوه چه دین خپل قوم ته اول بیانول پکار دی په نسبت ددے چه سرے بلے علاقے ته لاړ شی. او بیا دا لازمه نهٔ ده چه انسان به ټول قرآن بیان کړی بلکه یوه مسئله بیانه کړی یا د قرآن یا د حدیث درس شروع کړی، وعظ او نصیحت کوی.

٧- افسوس! ددے آیت نه بعض متشدد مقلدینو تقلید ثابت کړیدے چه وګوره طالب العلم او عالم چه کله خپل قوم ته لاړو او علم بیانوی نو کلی والا به ئے تابعداری کوی نو بس تقلید ثابت شو. دا استدلال په قرآن کریم کښې تحریف دے، ❁ اول خو دوی دعوه د تقلید د امام ابوحنیفهٔ کوی او پیش کوی علم د طالب العلم نو «وهم ډیے کوم ځای او ډب ډیے کوم ځای کوی». ❁ دویم دا چه دلته انذار لفظ راغلے دے او انذار په خپله رایه باندے نهٔ کیږی بلکه د کتاب او سنت په بیانولو سره، نو دغه طالب العلم او عالم به خلك په څه یره وی، آیا په تاویلی ماویلی او که د الله او د رسول په خبره؟. قوم عاقلان دی، که تهٔ هغوی ته ووائے چه زما رایه دا ده چه دا کار مهٔ کوئ او دا وکړئ، نو هغوی به ووائی چه مونږ ستا په رایه څه کوو، مونږ ته دین (یعنی کتاب او سنت) بیان کړه. او تقلید خو د یو عالم د رائے پسے روانیدو ته وائی. نو ددے آیت کښې د تقلید رد دے نهٔ اثبات، ښه سوچ پکښې وکړه.

❁ بله دا چه هر قوم به د خپل ژوندی عالِم تابعداری کوي او دوی خو تقلید د مړی کوی، چه نهٔ ئے کتاب شته او نهٔ ئے ژوندے شاګرد شته، معلومه شوه چه تقلید والو نه لاره خطاء ده، د یو ځای خبره د بل ځای سره یو ځای کوی او ځان هلاکت ته ګوزاری، الله تعالیٰ په ټولو مؤمنانو باندے د حقے خبرے تحقیق لازم کړیدے.

| يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ |
| --- |
| اے ایمان والو ! جنګ کوئ د هغه کسانو سره چه نزدے دی تاسو ته د کافرانو نه او |

وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

موندۀ دِے کړي په تاسو کښې سختي او پوهه شئ چه بيشکه الله ملګرے د متقيانو دے

**تفسير** : الله تعالىٰ د جهاد په باره کښې دا حکم وکړو چه اول دِے د هغه د کافرانو سره جنګ وکړے شي چه مدينے ته نزدے وسيږي، او کله چه هغوي اسلام ته راداخل شي نو مخکښې دِے لاړ شي او د دوي نه روستو وسيدونکي کافرانو سره دِے جنګ وکړے شي. رسول الله ﷺ په دے اصولو عمل وکړو. د نبي ﷺ د جهادي کوششونو د نتيجے په توګه د نبي ﷺ د ژوند په آخري ورځو کښې جزيرة العرب د مشرکانو نه پاکه شوه، نو اهل کتابو ته د اسلام دعوت رسولو دپاره تبوك پورے لاړو، او هلته د شل ورځو پورے وسيدو نه روستو راواپس شو او ددے غزوے نه د اسلام لوئي فوائد حال شو چه د هغے څه تفصيل مخکښې تير شويدے.

د نبي کريم ﷺ د وفات نه روستو خلفائے راشدينؓ په خپلو خپلو دورونو کښې د جهاد تحريك جاري وساتو تردے پورے چه اُردن، شام، عراق او د فارس علاقے د اسلام لاندے راغلے، د اسلام جنډه هر طرفته وپرقيده او په نورو ذرائعو سره دولت اسلامي فراخه شو.

دلته الله تعالىٰ حکم وکړو چه نزدے کافرانو سره اول جهاد شروع کړئ او دا اول کښې د مدينے ته متعلق وو، او دا حکم څکه کوي چه که مجاهدين د لرے علاقو خلکو سره جهاد شروع کړي او يوه علاقه ترے ونيسي، نو بيا د هغے حفاظت ورته ګران وي، جهاد خو صرف ويشتل او وژل نۀ دي بلکه د علاقو حفاظت او بيرته ټينګ ساتل هم ضروري دي، نو مجاهدين به اول د بيخ نه شروع کوي، نو همداسے به اُوږديږي او اسلامي رياست به فراخه کيږي، او پدے کښې د مسلمانانو تلفات هم ډير نۀ کيږي، او بله دا چه پدے طريقه کښې آساني هم وي. خو ددے دپاره اول شرط دا دے چه اول به مجاهدينو دار هجرت جوړ کړے وي او خلافت به ئے قائم کړے وي، يا يوه خاص علاقه به ئے فتح کړي وي چه دوي به پکښې مضبوط وي، څوك به د هغوي په ختمولو قادر نۀ وي لکه د رسول الله ﷺ ژوند ته ورسره ګوره. رسول الله ﷺ اول جنګ د قريشو سره اعلان کړو بيا ئے يهودو سره، بيا ئے نصاراؤ سره او پدے طريقه اسلامي خلافت په عالَم کښې وغزيدو.

او امام رازيؒ په تفسير مفاتيح الغيب (تفسير کبير ۱۷۳/۸) کښې د اقرب نه د جهاد شروع کولو اته وجوهات ذکر کړيدي.

وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً : یعنی د کافرانو سره د جهاد په کولو کښې هیڅ قسم نرمئ ښکاره نهٔ کړئ، ورنه ددے خطرناك نتیجې راوتلے شي۔ مسلمان به د خپل مسلمان ورور دپاره نرم او د کافرانو دپاره سخت وي۔

غِلْظَة: اَىْ شِدَّةً وَقُوَّةً وَشَجَاعَةً ۔ یعنی سختي او طاقت او بهادري۔ خفاجیؒ وائي : دا یوه داسے جامعه کلمه ده چه بهادري او په قتال باندے صبر او د دشمنئ سختوالی او په وژلو او قید کولو کښې سختئ ټولو ته شامله ده۔ او امام رازیؒ لیکي چه دا غلظة به په دوه حالتونو کښې کولے شي، یو په باب د دعوت کښې وي، په حجت او دلیل قائمولو سره په دوي باندے۔ او یا په قتال او جهاد کښې وي، او هر چه بیع شراء ده، یا ناسته او خوراك څکاك دے نو هغے کښې به سختي نشي کولے۔ (الکبیر)

| |
|---|
| وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ |
| او کله چه نازل شي یو سورت نو بعض د دوي نه هغه څوك دي چه وائي |
| اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ج فَاَمَّا الَّذِيْنَ |
| کوم یو لره ستاسو نه زیاتی کړو دے سورت ایمان، پس هر چه هغه کسان دي |
| اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ |
| چه ایمان ئے راوړیدے نو زیات ئے کړو هغوي لره ایمان، او دوي خوشحاله وي |
| وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ |
| (ددے سورت په نازلیدو)۔ او هر چه هغه کسان دي چه په زړونو د هغوي کښې مرض |
| فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا |
| (نفاق) دے نو زیات ئے کړو هغوي لره پلیتي د پلیتئ د هغوي سره او مړهٔ کیږي دوي |
| وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ |
| پداسے حال کښې چه دوي کافر وي۔ آیا نهٔ ګوري دوي یقیناً دوي باندے امتحان راځي |
| فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ |
| په هر کال کښې یو ځل یا دوه ځل بیا توبه نهٔ اُوباسي دوي او نهٔ دوي نصیحت اخلي۔ |

**تفسیر** : پدې سورت کښې مخکښې هم د منافقانو د ظاهري او باطني خباثتونو ډیر احوال او کیفیات بیان شو، نو دلته ئې نور بد صفات بیانوي چه پدې سره به منافقان نور هم وشرموي لکه ددې سورت نوم فاضِحَه (شرمونکې) هم دې. یعني داسې سورت چه د منافقانو عیبونه بیانوي.

کله چه د قرآن کریم یو نوې سورت د منافقانو په غائب والي کښې نازلیږي او دوي خبر شي نو خپل مینځ کښې کیني او توقې کوي، او وائي چه ددې سورت د نازلیدو نه روستو ستاسو نه د چا ایمان زیات شویدې لکه چه مسلمانان ددې دعوه کوي چه په قرآن سره ایمان زیاتیږي زمونږ خو زیات نشو؟!. او مقصد ئې دا وو چه خپل منافقان ورونه په منافقت مضبوط کړي. ((اَلْمَرْءُ يَقِيْسُ عَلٰى نَفْسِهٖ)) دوي کښې ایمان نۀ وو نو بل ئې هم په ځان قیاس کولو.

شوکانيؒ او قنوجيؒ لیکلي دي چه د آیت معنیٰ دا هم کیدې شي چه منافقانو به دا خبره بعض مسلمانانو ته کوله چه دا کوم سورت چه نازل شو نو دې ستاسو په ایمان کښې کوم زیادت وکړو؟، او د دوي مقصد هغوي د اسلام نه اړول وو. یعني دا خو یو داسې دین نۀ دې چه د هغې په وجه سړې د ورځې آرام او د شپې سکون زائل کړي، او خپل ځان په مشقت کښې واچوي.

الله تعالیٰ د دوي ددې استهزاء او سپکاوي دا جواب ورکړو چه آؤ، د قرآن دا آیتونه او دا سورتونه د ایمان والو ایمان زیاتوي، ځکه چه په هر سورت او هر آیت کښې خامخا داسې مفیده خبره او نصیحت وي چه هغه ته مخکښې نۀ معلومیږي، او هغوي د خپل ایمان او اخلاص په وجه د قرآن په نازلیدو خوشحاله وي ځکه چه په هغې کښې دنیاوي او دیني فوائد موجود دي. (القاسميؒ وفتح البیان)

**فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا** : زیادت د ایمان څه ته وائي؟ اَلتَّرَاضِيْ بِالْعِلْمِ وَالْعَمَلِ وَالرَّغْبَةِ فِي الْخَيْرِ وَالْكَفِّ عَنِ الشَّرِّ) یعني زړه کښې تازګي پیدا شي چه علم او عمل کښې ورله زیادت راولي او د خیر سره ئې مینه پیدا شي او د شر نه منع شي.

دا خبره مخکښې ذکر شویده چه د جمهورو محدثینو رائې دا ده چه د مؤمن په ایمان کښې زیادت راتللې شي. که دا ووئیلې شي چه عمل صالح په ایمان کښې داخل دې نو خبره بالکل ښکاره ده چه بنده څومره زیات عمل کوي نو د هغه ایمان به زیاتیږي، او که بالفرض اُومنلې شي چه ایمان صرف د زړۀ د تصدیق نوم دې، نو هم خبره ښکاره ده ځکه

چه د انبياء كرامو عليهم السلام او د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو ايمان د عامو مسلمانانو د ايمان نه يقيناً زيات وو.

ليكن د منافقانو حال د مؤمنانو نه بالكل مختلف وى. كله چه د قرآن يو سورت نازليږى نو د دوى نفاق زياتيږى، د دے نه لويه د دوى بدبختى بله كومه كيدے شى چه كوم شے چه د ايمان والو زړونو ته ژوند وركوى همغه شے د دوى زړونه نور مړهٔ كوى. او آخر دا چه د دوى مرګ په كفر باندے اوشى.

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ: يعنى شك او نفاق دے.

رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ : شَرًّا اِلٰى شَرِّهِمْ وَضَلَالَةً اِلٰى ضَلَالَتِهِمْ.

(عبد الرحمن بن زيد بن اسلمؒ)

يعنى شرئے د مخكنى شر سره او ګمراهئ ئے د مخكنئ ګمراهئ سره نوره زياته شى. د اول رجس نه نفاق او كفر مراد دے او د دويم رجس نه مراد دا چه د قرآن په وجه ئے نفرت زيات شى. او دلته ئے كفر او نفاق ته رجس ووئيلو ځكه چه دا د ټولو نه قبيح شے دے. (فتح البيان) ❁ يا دا چه اول رجس نه مراد دا چه دوى په نورو آيتونو هم كفر كړيدے او اُوس ئے پدے سورت هم كفر وكړو نو پليتى ئے نوره زياته شوه. (القاسمى)

❁ يا دا چه مخكښ دوى كښ حسد او عداوت او مكرونه او چلونه جوړول وو، نو اُوس ددے سورت په نازليدو دغه بد اخلاق ئے نور هم زيات شو. (تفسير الكبير)

وَمَاتُوْا وَهُمْ كَافِرُوْنَ : يعنى دوى به مړه شى په داسے حال كښ چه كافران به وى. يعنى دے كفر او نفاق په دوى باندے دومره غلبه كړيده او دومره پكښ مضبوط شويدے چه تر مرګه پورے به دوى ايمان ته راواپس نهٔ شى ځكه چه د دوى بدو اعمالو د دوى د نفسونو په صفاتو كښ تاثير كړيدے. (المنار)

اَوَلَا يَرَوْنَ: پدے كښ د الله تعالىٰ د طرف نه مؤمنانو ته د تعجب كولو دعوت وركړے كيږى چه لږ شان خو ددے منافقانو كم عقلى ته وګورئ. نو د همزه استفهاميه مدخول پټ دے. اَىْ اَيَجْهَلُوْنَ هٰذَا وَيَغْفُلُوْنَ عَنْ حَالِهِمْ) (المنار)

آيا دوى ددے نه جاهلان دى او د خپل حال نه غافل دى چه دوى باندے په كال كښ يو يا دوه كرته امتحان كيږى او دا نهٔ راياداوى چه په مونږ باندے امتحان كيږى چه آيا مونږ ايمان راوړو او كه په كفر پاتے شو، د دوى په باره كښ قرآن هم نازليږى چه دوى شرموى او بيا هم نصحيت نهٔ اخلى او د نفاق نه نهٔ منع كيږى.

د مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَیْنِ نـه مراد یو قحط او امراض او سیلابونه او زلزلے دی چه کله یو مرض او کله بل، او کله عذاب د قحط او کله د لوږے (او کله د زلزلو او سیلابونو) په شکل وی۔ (قاله مجاهدؒ) ❁ یا دا چه په کال کښې بار بار دوی شرمولے شی۔

❁ ځینی وائی : چه دوی ته په کال کښې یو کرت یا دوه کرته د جهاد حکم کیږی او مؤمنان فتح او غنیمت حاصلوی او د دوی په زړونو باندے زخمونه لګی لیکن بیا هم دوی نصیحت نهٔ اخلی۔ مګر دا تفسیر بعید دے او بیائے ددے نه دا فقهی مسئله معلومه کړیده چه اسلامی خلافت کښې به په کال کښې یو کرت خامخا د جهاد حکم وی که نهٔ وی دا به اسلامی خلافت نهٔ وی، او دوی به ټول ګناهګار وی۔

دا وو حال د منافقانو په وخت د ابتلاء او امتحان کښې اُوس د دوی حال ذکر کوی په وخت د نزول د قرآن کښې او د دوی پریشانی په نزول د قرآن سره۔

| |
|---|
| وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ ؕ هَلْ يَرٰكُمْ |
| او کله چه نازل شی یو سورت نو ګوری بعض د دوی نه بعضو ته آیا وینی تاسو لره |
| مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ |
| یو تن، بیا اُوګرځی دوی، ګرځوی الله زړونه د دوی (د حق نه) پدے وجه چه دوی |
| قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ |
| داسے قوم دے چه نهٔ پوهیږی۔ |

**تفسیر** : یعنی کله چه په یو مجلس کښې د منافقانو په موجودګئ یو سورت نازلیږی نو د تهوقو په طریقه او د آسمانی وحی نه د انکار کولو سره په سترګوسترګو کښې خبرے کوی او وائی چه اُوس مونږ نه ددے د آوریدو برداشت نهٔ کیږی، خندا رابندولو سره تنګ شو، یریږی چه مونږ مؤمنان په خندا ونهٔ وینی، پدے وجه یو بل ته اشارے کوی چه لږ خو وګورئ که مونږ مسلمانان نهٔ وینی نو په جلتئ سره دلته نه اُوځی۔

هَلْ يَرٰكُمْ مِّنْ اَحَدٍ : یعنی تاسو په مؤمنانو کښې څوك وینی؟ ځکه چه مؤمنانو به د قرآن د نازلیدو په وخت کښې او د رسول الله ﷺ د درس په وخت کښې انتهائی توجه او خشوع سره ناست وو، سرونه به ئے ښکته وو، نو منافقانو به یو بل ته اشارے کولے چه که دا مؤمنان تاسو نهٔ وینی نو بیا په طریقه طریقه وځئ نو دوی به دغه شان د منافقت او کفر

سره خپلو کورونو ته واپس شول۔ ❁ یا دا چه د مقتضیاتو د هدایت او ایمان نه به ووتل مقتضیاتو د کفر او نفاق ته۔ ځکه چه دوی به قرآن ته تنګیدل او پریشانه به وو او دے به ورله خوند نهٔ ورکولو ځکه چه پدے باندے ئے ایمان نهٔ لرلو۔

**ثُمَّ انۡصَرَفُوۡا** : یعنی په مجلس کښں به ناست وی لیکن زړونه ئے بل ځای کښں وی، الله تعالیٰ د هدایت نه محروم کړی. (فتح القدیر وفتح البیان)

**صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوۡبَهُمۡ** : دا ښیرے دی، یعنی الله تعالیٰ دِ د دوی زړونه د ایمان او هدایت او خیر نه واړوی ځکه چه دوی په خپله فائده او خیر باندے نهٔ پو هیږی. یا دا جمله خبریه ده۔ او الله تعالیٰ دوی ته د دوی ددے بد عمل سزا ورکړه او دا خبرئے ورکړو چه دوی قرآن ته ځکه نهٔ کینی چه الله تعالیٰ د دوی زړونه د خیر نه او د هدایت د قبلولو نه اړولی دی۔

**لَا يَفۡقَهُوۡنَ** : اَیۡ بِنَفۡعِهِمۡ. په خپله فائده نهٔ پو هیږی۔

ددے آیت نه معلومه شوه (او دغه شان د روایت د بخاری نه) چه یو ځای کښں د قرآن درس کیږی نو د هغه مجلس نه به نهٔ پاڅے مګر که سخت ضرورت وی نو بیا به دغه مدرس نه اجازه غواړے نو ګناهګار به نهٔ ئے۔ او که پټ ووتلے نو ګنهګار به ئے۔

۲- تفسیر : کله چه یو سورت نازل شی چه د دوی عیبونه پکښں ذکر شی نو دوی په مجلس کښں یوبل ته وګوری اَیۡ تَغَامَزُوۡا عَلٰی وَجۡهِ الۡاِسۡتِخۡفَافِ بِالۡقُرۡاٰنِ اَوۡ عَلٰی وَجۡهِ التَّعَجُّبِ يَقُوۡلُوۡنَ هَلۡ يَرٰاكُمۡ مِنۡ اَحَدٍ اَیۡ رَأٰی اَحَدٌ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَحۡوَالَكُمۡ فَنَقَلَهَا اِلَيۡهِ اَمۡ عَلِمَ مِنۡ غَيۡرِ نَقۡلٍ، ثُمَّ انۡصَرَفُوۡا بِالۡقُلُوۡبِ)۔ یو بل ته په طریقه د توقو او سپکاوی سره سترګے ووهی، یا د وجه د تعجب نه، او بیا یو بل ته ووائی چه آیا تاسو چا لیدلی یئ چه ستاسو دا احوال ئے رسول الله ﷺ ته نقل کړی او هغه لګیا دے په تاسو ردونه کوی، او که نهٔ هغه په غیر د نقل نه پو هه شویدے۔ ځکه چه دوی قرآن د انسان کلام ګنړلو۔ او داسے ډیر کرته کیږی چه یو عالِم به یوه خبره بیانوی نو په حاضرینو کښں به بعض خلك ووائی چه دا ئے په ما باندے رد وکړو او چا ورته زما قصه بیانه کړیده حال دا چه عالم به ددے نه خبر هم نهٔ وی نو دا د قرآن او حدیث خصوصیت دے چه هغه د انسان مرضونه راښکاره کوی۔

اول مطلب ظاهر د قرآن دے او دویم مطلب هم د منافقانو د حال برابر دے۔

| لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا |
|---|
| یقیناً راغلے تاسو ته رسول د جنس ستاسو نه، ګران دے په هغهٔ باندے هغه کار |

| |
|---|
| عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ |
| چه پرے په مشقت کښې کيږئ تاسو، حرص کونکے دے په (فائده) ستاسو باندے، |
| بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا |
| خاص په مؤمنانو ډير شفقت کونکے رحم کونکے دے۔ پس که واوړيدل دوی |
| فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ صلے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط عَلَيْهِ |
| نو ووايه کافي دے ما لره الله، نشته لائق د عبادت سوئ د هغهٔ نه، په هغهٔ |
| تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾ |
| ځان سپارلے دے ما او هغه رب د عرش لوئی دے۔ |

**تفسير**: په آخر د سورت کښې د رسول الله ﷺ عظمتِ شان بيانوی، او دا چه د رسول الله ﷺ راتلل په مسلمانانو باندے انتهائی لوی احسان دے۔ الله تعالیٰ د عربو تمام قبائل او ټول امت مخاطب کړل ورته ئے وفرمايل چه الله د خپل پيغام رسولو دپاره په تاسو مهربانی کولو سره يو داسے انسان چانړ کړو چه ستاسو نه دے، او ستاسو په ژبه خبرے کوی۔ ابن عباس ﷺ وائی چه نبی کريم ﷺ د عربو د هرے قبيلے سره خاندانی تعلق وو۔

او د منافقانو د حال سره ئے مناسبت دا دے چه الله فرمائی: اے منافقانو! تاسو د داسے اُوچت شان والا استاذ نه اوړئ چه د هغه په خبره کښې ستاسو د دنيا او د آخرت کاميابی ده، او هغه ستاسو انتهائی خير خواه دے، بنهٔ استاذ د الله تعالیٰ نعمت وی او بيا چه د الله رسول د يو انسان استاذ وی نو دا څومره لوی نعمت دے چه هر خير ته ئے متوجه کوی او د هر شر نه ئے منع کوی۔

مِّنْ اَنْفُسِكُمْ : اول صفت ئے دا دے چه ستاسو د جنس نه دے او ستاسو په ژبه خبرے کوی، ملائك نهٔ دے چه د هغه نه خبره اخستل مشکل وی۔

عَزِيْزٌ عَلَيْهِ: گرانه ده په هغه باندے هغه کار چه تاسو پرے مشقت کښې غورزيږئ۔ دا د رسول الله ﷺ دويم صفت بيان شو چه په هغه باندے هره هغه خبره گرانه تيريږی چه په هغے سره امتِ مسلمه ته تکليف رسيږی۔

❁ پدے وجه رسول الله ﷺ به ډير اعمال خوښول ليکن هغه به ئے نهٔ کول دے دپاره چه

امت ته د هغه په تابعدارئ کښ تکليف راښئ، تراويح ئے په جماعت سره هميشه ونکړے پدے يره چه فرض نشي.

❁ د بي اودسئ په حالت کښ به نۀ ګرځيدو ليکن کله نا کله به قصداً ګرځيدو دے دپاره چه زما امت ته ګرانه نشي.

❁ رسول الله ﷺ باندے د امت د دنيا مشقتونه هم ګران پريوتل نو دعاګانے به ئے کولے چه اے الله ! زما په امت باندے مشقتونه مۀ راوله او دوی په يو ځل مۀ هلاکوه او دشمن پرے مۀ مسلط کوه. د هغه د خير خواهئ بحر بيکنار دے. نو ځومره بي باکه دي منافقان او فاسقان او هغه خلك چه داسے لويه هستي پريدي او د هغے په مقابله کښ بل شے او بل شخص غوره کوی.

عزيز معنیٰ ده ګران. او عَنِتُّمْ : د عنت نه دے په معنیٰ د سترې والي او مشقت سره.

حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ : دا دريم صفت دے يعنی رسول الله ﷺ د زړۀ نه آرمان کوی چه د هغۀ امت جهنم ته ګوزار نکړے شي او دا آرمان هم کوی چه د دنيا او د آخرت هر خير ته د خپل امت لارخودنه وکړی.يا د امت په ايمان او هدايت باندے حرص کونکے دے. (فتح البيان)

او رسول الله ﷺ فرمايلي دي کله چه روتئ ته کينئ نو ځپلئ چپړے وباسئ ځکه چه پدے کښ ستاسو د قدمونو راحت دے. کله چه خپل اهل سره ملاؤ شوے او دوباره اعاده کوے نو لاړ شه مينځ کښ اودس وکړه دے دپاره چه تا ته نشاط ملاؤ شي، نو دا د رسول الله ﷺ داسے شفقت دے لکه يو تن چه ئے په خپل بچي باندے کوی چه هغه ته خير ورسوی، ددے نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ هر سنت د امت دپاره مشقت نۀ دے بلکه آسان دے او دا پرے رحمت دے، د دوی نه پرے شرونه ختميږی.

رَءُوفٌ رَّحِيمٌ : او څلورم صفت دا دے چه مؤمنانو باندے شفقت لرونکے دے او په هغوی باندے رحم کول غواړی. رؤوف کښ دفع د مضرت ته اشاره ده او په رحيم کښ جَلْبُ الْمَنْفَعَةِ (فائده راښکلو) ته اشاره ده.

فَإِنْ تَوَلَّوْا : نبی کريم ﷺ ته خطاب کوی فرمائي چه ستا د دے تمامو فضيلتونو باوجود که د عربو خلق ستا دعوت قبول نۀ کړی نو تۀ ووايه چه زۀ ستاسو د عملونو نه بري يم، او الله ما لره کافي دے، (که يو منافق په هغۀ صحيح ايمان رانۀ وړی نو رسول الله ﷺ ته هيڅ ضرر نشي ورکولے) او زۀ خپله او ستاسو معامله الله تعالىٰ ته سپارم چه هغه په هر حال کښ ما دپاره کافي دے.

## د آیت فضیلت

په سنن ابی داؤد کښې په صحیح سند سره د ابوالدرداء رضی الله عنه نه (موقوفاً) روایت دے چه هر هغه څوك چه سحر او ماښام ((حَسْبِیَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، عَلَیْهِ تَوَکَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ)) اُووه کرته ووائی نو الله تعالیٰ به د هغه تمام مشکلات آسان کړی او د هغه حاجتونه به پوره کړی۔ (ابوداود:۵۰۸۳)

وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ : دا ورسره ځکه وائی چه توکل په هغه ذات کیږی چه هغه لوی وی او دا هم د الله تعالیٰ لوی والے دے چه د لوی عرش مالك دے۔

عرش ته عرش ځکه وائی چه پدے کښې معنیٰ د پورته والی پرته ده نو د الله تعالیٰ عرش هم د ټولو کائناتو نه پورته دے او د ټولو مخلوقاتو نه ئے ګیره اچولے ده۔

## د سورت امتیازات او خصوصیات

۱- د منافقانو خصلتونه په کښې زیات بیان شویدی۔

۲- انواع المؤمنین په کښې زیات دی۔

۳- د صحابه کرامو رضی الله عنهم جنتی والے پکښې ذکر دے۔

٤- د نفسونو اشتراء پکښې ذکر ده۔

۵- د مسجد ضرار تذکره صرف پدے سورت کښې راغلے ده۔

٦- د نسیء تذکره او د مشرکانو نه د براء ت تفصیلی وجوهات۔

---

ختم شو تفسیر د سورة التوبه په اوله ورځ د میلادی کال (2015-1-1) الموافق (۷ربیع الاول ۱٤۳٦ ه)

وکتبه ابوزهیر وصححه۔

بسم الله الرحمن الرحیم

| آیاتها (۱۰۹) | (۱۰) **سورة یونس مکیة** (۵۱) | رکوعاتها (۱۱) |
|---|---|---|

سورة یونس مکی دے، پدے کښې یوسل نهه آیتونه او یولس رکوع دی۔

## تفسیر سورة یونس

**نوم** : ددے سورت په آیت (۹۸) کښې د یونس ؈ نوم راغلے دے، او د هغهٔ خصوصی واقعه پکښې ذکر ده چه د هغهٔ قوم ایمان راوړیدے او ټول د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ شویدی او دا پوره دعوت دے، او پدے سورت کښې هم د ایمان موضوع ده لکه چه روستو راځی، د هر سورت نوم د هغے د مضمون سره تعلق لری۔

ددے بل نوم :سورة تاسعه هم دے۔ اَیْ بَعْدَ التَّاسِعَه ۔ یعنی د نهه سورتونو نه روستو راغلے دے۔

د نزول زمانه : د آیت (۴۰/او ۹۴/۹۵) نه سویٰ ټول سورت په مکی دور کښې نازل شوے وو۔ (حسنؒ، عطاءؒ، عکرمہؒ او جابرؓ)

### مناسبت

۱- مخکښې جهاد وو، دلته د عقیدے بیان دے، یعنی جهاد به د څه دپاره کیږی؟ نو هغه ددے عقیدے دپاره چه هغه رد د شرك او نور عقائد دی۔

۲- مخکښې شان الرسول ﷺ ذکر شو نو دلته د توحید بیان کیږی۔ نو مخکښې رسالت او دلته توحید دے۔

۳- بله مناسبت دا هم دے چه مخکښې جهاد وو او د جهاد دپاره قوی ایمان پکار دے نو دلته د دغه ایمان بیان دے۔

### موضوع د سورت

۱- زمونږ بعض مشائخ وائی چه پدے سورت کښې موضوع رد د شفاعتِ قهری دے او د دریم آیت او د (۱۸) آیت نه ئے راخستے ده، او ټول سورت ددے سره لګوی، یعنی د قیامت

په ورځ د الله تعالىٰ د اجازت نه بغير هيڅوك شفاعت نشي كولے او دا يوه غټه عقيده ده چه پدے كښې په مشركانو رد دے۔ نو يواځے د شفاعت په اميد باندے كيناستل او ګناهونه كول د خپل ځان تباه كول دي۔

۲- ځينـي وائـي پـدے كـښې د مكي سورتونو په شان د توحيد د عقيدے، د وحي، د بعث بـعـد الـمـوت، د مكے د كافرانو كفر او عناد او ددے قضاياؤ سره متعلق د هغوى په ذهنونو كښې د موجودو شبهاتو ازالـه، ددے مـركـزى مضامين دي چه ددے نه سورت ګير چاپيره ګرځي۔

۳- ليكن ظاهر دا ده چه كه سورت كښې تدبر وكړے شي نو پدے كښې د ايمان موضوع ده لكه دا موضوع په سورة بقره او دے سورت او سورة الم السجده كښې او سورة الحديد كښې راغلے ده۔ نو دلته (اِيْمَـان بِاللّٰهِ وَبِلِقَاءِ اللّٰهِ وَبِرَسُوْلِ اللّٰهِ وَبِكِتَابِ اللّٰهِ) ذكـر كيږي۔ يعنى دا څلور ايمانيات به پكښې زيات ذكر كيږي چه په الله ايمان راوړئ او د هغه ملاقات ومنئ او د هغه رسول ومنئ او د الله كتاب ومنئ۔ او د ايمان لفظ به بار بار مكرر كوى لكه اول كښې ﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ او پـه آخـر د سـورت كښې فرمائى: ﴿وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَايَعْقِلُوْنَ﴾ ﴿وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾۔ نو د ايمان فضائل او فوائد او دے ته ترغيبات به وركوى او ددے په ضد كښې به د كفر او د شرك عيبونه بيانوى۔

بيـا دا سورت د ايمان دوه قسمونه بيانوى يو مقبول ايمان او بل غير مقبول۔ مقبول ايمان هغه دے چه ايمان بالغيب وى او غير مقبول ايمان بِالْمُشَا هدة دے لكه فرعون ايمان راوړو مګر په هغه وخت چه مرګ ئے وليدو نو دغه ايمان قبول نشو۔ او الله تعالىٰ مشركانو ته هم وائي چه تاسو باندے به زۀ عذاب راولم بيا به ايمان راوړئ ليكن دغه ايمان به ستاسو قبول نۀ وى۔ ﴿آلْآنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ﴾۔ الله تعالىٰ به په نورو اقوام مكذبو رد وكړى او شكـايـت بـه تـرے وكړى چه دوى مجموعى لحاظ سره ايمان رانۀ وړو صرف د يونس عليه السلام قوم ايمان راوړو چه د هغوى صفت به وكړى۔

او د سـورت پـه آخره كښې ئے د ايمان د جوړولو طريقے ئے هم خودلى دى۔ نو غرض دا چه د ايمان تقسيمونه پكښې زيات دى۔

پـه بـل تـعـبير سره پدے سورت كښې (تَـرْغِيْـب اِلَـى الْاِيْمَان، وَالْبِشَارَةُ لِاَهْلِ الْاِيْمَانِ وَفَوَائِدُ الْاِيْمَان) دے۔ يـعـنـى ايمان ته ئے دعوت او ترغيب وركړيدے او ايمان والو ته ئے ناشنا زيرى وركـړيـدى او د ايـمـان فـائدے او خيرونه او ښائسته بدلے ئے ذكر كړيدى، چه جنت، هدايت،

نجات د دنیا او د آخرت د عذابونو نه لکه (ثُمَّ نُنَجِّیْ) (آیت : ۱۰۲) کښې بیانیږي او عقلمندي په ایمان سره حاصلیږي۔ ﴿ وَیَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَی الَّذِیْنَ لَایَعْقِلُوْنَ﴾ (آیت : ۱۰۰)
او ددې په جانب مقابل کښې کفر او تکذیب دې نو (اَلرَّدُّ عَلَی الْکُفْرِ وَالتَّکْذِیْبِ وَبَیَانُ قَبَاحَتِهٖ وَآثَارِهِ السَّیِّئَةِ) په کفر او تکذیب باندې رد او د هغې بدیاني ذکر کول او د هغې بد آثار بیانول۔ چا کښې چه کفر دې کله چه حق راشي هغې ته جادو وائي،
﴿ لَهُمْ شَرَابٌ مِنْ حَمِیْمٍ وَعَذَابٌ اَلِیْمٌ بِمَا کَانُوْا یَکْفُرُوْنَ﴾ آیت (٤) ﴿ اُولٰئِكَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ﴾۔ آیت (۸) دغه شان نور ضررونه واخله۔
او دې سورت په خصوصی توګه په دوه ایمانونو ډیر زور ورکړیدې یو ایمان بلقاء الله او بل ایمان بِکِتَابِ الله۔ یعنی د الله په وحي ایمان لرل۔ ځوك چه د الله ملاقات نهٔ مني د هغه عیبونو ته وګورئ۔ لکه په سورت کښې د ایمان لفظ وګوره، په آیتونو کښې ئې تالاش کړه نو زیات به درته ملاؤ شي او دغه شان د هغې په مقابل د کفر لفظ هم زیات ذکر دې۔ په آخر د سورت کښې فرمائي :﴿ فَلَوْلَا کَانَتْ قَرْیَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا اِیْمَانُهَا﴾ آیت (۹۸)
بیا ئې د ایمان په باره کښې ښه قواعد بیان کړیدي چه ایمان په دوه قسمه دې یو ایمان جبري او بل ایمان اختیاري دې، نو ایمان بالجبر لره اعتبار نشته۔ ﴿أَفَأَنْتَ تُکْرِهُ النَّاسَ حَتّٰی یَکُوْنُوْا مُؤْمِنِیْنَ﴾ آیت (۹۹) بیا په آیت (۱۰۰) کښې وائي : هر یو تن چه ایمان راوړي نو دا د الله تعالیٰ په اذن او توفیق سره، نو دا د بنده کمال نهٔ دې بلکه د الله تعالیٰ احسان دې، نو ددې جملې نه دوه فائدې حاصلیږي یو دا چه کوم ایمان تا ته الله تعالیٰ درنصیب کړو نو دا به محض د الله تعالیٰ فضل ګڼړې، نو پدې به تکبر نهٔ کوې ځکه که د الله توفیق نهٔ وې نو ستا ذهن به ورته نهٔ وې کولاؤ شوې۔ دویمه فائده دا چه الله تعالیٰ ته به په حصول د ایمان کښې تضرع کولې شي چه اې الله ! د ایمان واك ستا سره دې او ایمان ستا په لاس کښې دې نو زهٔ تا ته زاري کوم چه ما ته ئې نصیب کړه۔ او ورسره د ایمان اسباب به اختیاروې۔
بیا په سلم (۱۰۰) آیت کښې دا هم فرمائي : ﴿ وَیَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَی الَّذِیْنَ لَایَعْقِلُوْنَ﴾ پدې کښې یو ښه قانون دې چه کفر کوم خلك اختیاروي؟ هغه دا چه کومو خلکو کښې عقل نهٔ وي او د خپل عقل نه کار نهٔ اخلي صرف دنیا دپاره ئې استعمالوي نو هرکله چه عقل په صحیح ځای کښې نهٔ استعمالوي نو الله تعالیٰ پرې پلیتي وراچوي یعني کفر او شرك۔ ځکه چه بې عقله خلك د الله تعالیٰ نهٔ دي خوښ۔ نو کوم انسان چه ډیر بې عقله وي نو هغه به ډیر بې ایمانه وي او کوم انسانان چه ډیر عقل والا وي نو هغوی ته به الله تعالیٰ

کامل ایمان ورکوی لکه انبیاء علیهم السلام کښې د ټولو انسانانو نه عقل زیات وی نو ایمان ئې هم زیات وی۔ پدې کښې پوره تدبر وکړه !۔
عقل او حیاء او دین د یو بل سره تړلې شویدی۔ پدې وجه زنانو کښې بې حیائی زیاته ده ځکه چه عقل ئې کم وی۔ نو معلومه شوه چه څوك سوچ کوی په هغه کښې به ایمان راځی او بنائسته بنائسته خبرو ته به متوجه کیږی۔
بیا دلته سوال پیدا شو چه دا عقل مونږ په څه کښې استعمال کړو دې دپاره چه مونږ ته ایمان نصیب شی؟ نو الله تعالیٰ روستو د هغې طریقه بیانوی ﴿ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ یعنی تعقل فی الکون وکړه، یعنی د الله تعالیٰ عظیم کائناتو ته فکر وکړه نو ایمان به درنصیب شی او د الله تعالیٰ سره به دِې محبت پیدا شی۔
بیا فرمائی : ﴿ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ﴾ یعنی د ایمان د جوړولو دپاره دوه څیزونه دی یو آیات (نښې نښانې) او دویم د انبیاؤ علیهم السلام بیانونه۔ نو د یو قوم چه د هدایت او د ایمان اراده نهٔ وی نو هغوی ته دا دواړه دلیلونه (کتاب مفتوح او کتاب مکنون) هیڅ فائده نشی ورکولې۔ د یو تن د خپل ځان د اصلاح اراده نشته نو زر کرته بیان ورته وکړه هیڅ فائده ورله نهٔ ورکوی، او عقلی دلیلونه ورته پیش کړه هیڅ فائده به ورنکړی خو چه کله یو سړی د خپل ځان د جوړولو اراده وکړه نو د قرآن یو آیت هم ورله کافی دې او که اراده نهٔ وی نو که ټول قرآن ورته ختم کړی نو اصلاح به ئې نهٔ کیږی۔ دا ښومره بنائسته قانون دې۔
بیا فرمائی: ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا یعنی ایمان سبب د نجات دې۔ بیا روستو په بیان د رسول الله ﷺ کښې فرمائی : ﴿ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ دلته ئې د ایمان لفظ منتخب کړو۔
او د (لِقَآئَنَا) لفظ هم پکښې څلور پنځه کرته راغلې دې۔ نو ددې نه معلومه شوه چه دې سورت کښې موضوع د ایمان بلقاء الله هم ده۔ نو د الله په ملاقات باندې یقین او ایمان لرلو سره به په انسان کښې ښومره خیر راځی او د الله تعالیٰ ښومره محبوب به ګرځی او څوك چه دا ایمان نهٔ لری نو هغه ډیر لوی تاوان وکړو۔
نو دې سورت د ایمان د پیدا کیدو طریقه هم خودلې ده چه په قرآن کریم کښې سوچ کول لکه آیت (۳۹) ﴿ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ﴾ نه او دغه شان ﴿ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّايُؤْمِنُوْنَ﴾ آیت (۱۰۱) نه معلومیږی۔ یعنی که دې خلکو د الله تعالیٰ په کتاب او د هغې په اسرارو باندې علم راوستې وې نو دوی به تکذیب نهٔ کولې او پدې کتاب به ئې یقین کولې۔ نو ددې نه معلومیږی چه د اسبابو د ایمان او د یقین بالله نه علم راوستل دی د الله په

کتاب باندے۔ نوځو مره چه ستا د الله په کتاب علم ډیریدو نو ایمان به دِے ډیریږی لکه مخکښې سورت کښې تیر شو ﴿ زَادَتْهُمْ اِيمَانًا ﴾ ۔ او دا تجربه هم ده چه ځو مره انسان د الله تعالیٰ د کتاب په بلاغت او کمالاتو او رازونو باندے پو هیږی نو پدے سره زړهٔ تازه کیږی۔

دارنګه د اسبابو د ایمان او یقین پیدا کیدو نه التدبر فی الکون دے یعنی په کائناتو کښې سوچ او فکر کول لکه ﴿ هُوَ الَّذِىْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً ﴾ کښې هغه بیانیږی۔

بل سبب دے التعقل۔ سوچ کول۔ او بل سبب : الله تعالیٰ ته التجاء کول او فخر نکول دا اسباب د هدایت دی۔

او اعلیٰ ایمان ته چه ځان رسوے نو د هغے طریقه هم دے سورت خودلے ده چه هغه په (٦١) آیت کښې راغلے ده چه هغے ته (اَلْعِلْمُ بِعِلْمِ الله) وائی۔ یعنی د الله تعالیٰ په علم باندے علم راوستل، یعنی پدے پو هیدل چه زهٔ هر ځای کښې یم او هر کار کښې مشغول یم نو الله تعالیٰ په ما پو هیږی۔ که بازار کښې یم او که په کور کښې یم او که په سفر کښې یم۔ کله چه ددے استحضار بنده کښې راشی نو اعلیٰ ایمان ته به ورسیږی۔ دا لا څه چه د کائناتو هیڅ ذره نشته مګر هغه الله تعالیٰ په خپل علم کښې راجمع کړیدی بلکه علم لا څه چه هغهٔ په کتاب مبین (لوح محفوظ) کښې لیکلی هم دی۔ او ددے سره ضمناً دا مسئله هم معلومیږی چه الله تعالیٰ په دے ټولو ځیزونو قادر هم دے۔

خلاصه : اول کښې ترغیب دے ایمان ته او بیا په رسول الله ﷺ باندے د ایمان تذکره ده، بیا د الله تعالیٰ معرفت بیانوی، چه ایمان به په چا راوړئ، راشئ د هغه الله تعالیٰ صفات وپیژنئ او بیا اثبات د آخرت، بیا دلائل عقلیه، بیائے مؤمنانو ته بشارت ورکړیدے۔

| الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿١﴾ |
| --- |
| الله پو هیږی په مطلب ددے حروفو، دا آیتونه د کتاب دی چه حکمتونو والا دے۔ |

**تفسیر** : د حروفِ مقطعاتو په باره کښې د سورة بقرے په ابتداء کښې لیکل شویدی چه د جمهورو محدثینو په نیز غوره رائے دا ده چه ددے صحیح مفهوم الله تعالیٰ ته معلوم دے۔

او همدا غوره رایه ده، ځینی وائی : چه د الر معنیٰ ده (اَنَا اللّٰهُ اَرٰى)۔ (زهٔ الله یم چه وینم حالات د بندګانو)۔ عکرمهؒ او حسنؒ وائی چه (الر) قسم دے۔

او قتادهؒ وائی : دا ددے سورت نوم دے۔ (القرطبیؒ وفتح البیان)

**تِلْكَ:** کښې اشاره ده د قرآن کریم آیتونو ته او د «هذه» اسم اشاره قریب په ځائے ئے «تلك» اسم اشاره د بعید استعمالولو نه مقصود د قرآن کریم عظمتِ شان بیانول دی۔

د «کتاب حکیم» نه مراد قرآن کریم دے۔ ۱- د قرآن کریم صفت «حکیم» پدے وجه راوړے شویدے چه دا هغه مُحکم کتاب دے چه په دے کښې حلال او حرام او حدود او احکام په تفصیل سره بیان شویدی (قاله ابو عبیدةؒ)

یا مُحکم معنیٰ دا چه مضبوط کتاب دے چه هیڅ خلل ورته نشی راتللے۔ یعنی نهٔ په کښې کذب شته او نهٔ تناقض۔ (قرطبیؒ وفتح البیان)

(۲) یا دا چه «حکیم» په معنیٰ د حاکم دے۔ ځکه چه قرآن کریم د خلقو ترمینځ فیصلے کوی۔ (۳) یا حکیم په معنی د «محکوم فیه» دے۔ یعنی پدے کښې فیصلے صادری شویدی، ځکه چه الله پدے کښې د پوره عدل او انصاف سره په ټولو کارونو کښې فیصلے صادرے کړیدی۔ (حسنؒ)

(٤) یا حکیم یعنی ذُو الْحِکْمَة (حکمتونو والا)۔ یعنی د حکمة نه ډك کتاب دے۔

د سورت په اول کښې چه حکیم لفظ راشي نو عقلي دلیلونو او حکمتونو ته اشاره وی۔ او چه مبین لفظ راشي نو هلته واقعات الانبیاء علیهم السلام ذکر کیږی ځکه چه د واقعے نه په آسانئ سره عبرت اخستلے کیږی او د حکمة خبرو په پو هیدو کښې تکلف وی انسان پرے په آسانئ سره نهٔ پو هیږی بلکه سوچ غواړی۔

| |
|---|
| اَکَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَیْنَآ اِلٰی رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ |
| آیا دے خلقو لره تعجب پدے خبره چه وحی کړیده مونږ یو سړی ته د دوی نه چه اُوویره وه |
| النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ |
| خلق او زیرے ورکړه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے چه بیشکه دوی لره مرتبه |
| صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ قَالَ الْکٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲﴾ |
| د رشتیاؤ ده په نیز د رب د دوی، وائی کافران یقیناً دا خامخا جادوگر دے ښکاره۔ |

**تفسیر** : د مکے مشرکانو به پدے خبره حیرانتیا کوله چه د دوی په شان یو سړے د دوی د لارخودنے دپاره رالیږلے شویدے۔ الله تعالیٰ د دوی پدے حیرانتیا انکار کړیدے چه پدے کښې د هیڅ تعجب خبره نشته، بلکه که هغه رسول ملائك یا پیرے وے نو د حیرانتیا

خبره وه، ځکه چه انسانانو به یا هغه نۀ لیدلے یا که لیدلے نو د هغه سره به ئے مینه او اموخت نۀ اخستے۔ ځکه چه انسان د خپل ځان په شان د خاورو بدن والا انسان سره مانوس کیږی۔ پدے وجه د نبی کریم ﷺ پیغمبر کیدل د فطرت او د عقل د تقاضے مطابق وو۔

نو پدے آیت کښ الله تعالیٰ ایمان بالرسول ذکر کړیدے او ثوك چه هغه نۀ منی او د هغه د راتللو نه تعجب کوی نو د هغوی کم عقلتوب بیان شویدے او دا خبره چه د رسول الله ﷺ راتلل بعینهٖ د عقل او حکمة مطابق دی۔

اَنۡ اَنۡذِرِ النَّاسَ : ددے رسول دوه کارونه بیانیږی یو انذار یعنی چه خلك د آخرت د عذاب نه وویروی، او دویم بشارت (ایمان والو ته زیرے ورکول)، بیا دلته انذار ډیر مقصود نۀ دے ځکه ئے اجمالًا ذکر کړیدے او بشارت ایمان والو ته مقصود دے پدے وجه ئے هغه اُوږد ذکر کړیدے۔

قَدَمَ صِدۡقٍ : پدے کښ اضافت د موصوف شویدے صفت ته۔ اَلۡقَدَمُ الصِّدۡقُ۔ یعنی رشتینی مخکښے والے۔

## د قدم صدق مطلبونه

١- د جنت د نومونه یو نوم دے۔

٢- اَلۡاَعۡمَالُ الصَّالِحَةُ الَّتِیۡ قَدَّمُوۡهَا۔ هغه نیك عملونه چه دوی مخکښ د مرگ نه آخرت ته لیږلی دی۔ چه بنده به پس د مرگ نه د هغے سره ملاویږی۔(ابن مسعودؓ) واختاره ابن جریرؒ۔

٣- اَلسَّعَادَةُ السَّابِقَةُ فِی الذِّکۡرِ الۡاَوَّلِ ۔ یعنی په لوح محفوظ (تقدیر) کښ ئے دوی دپاره مخکښ نه سعادت (نیکبختی) لیکلے ده۔(ابن عباسؓ)

٤- ځینی وائی : شفاعة د نبی کریم ﷺ مراد دے، (حسنؒ، زید بن اسلمؒ، وقتادهؒ)

٥- مَنۡزِلَ صِدۡقٍ۔ رشتینی کور۔ ٦- دَرَجَةً عَالِیَةً۔ اُوچته درجه۔ (زجاجؒ)

٧- ثَوَابَ صِدۡقٍ۔ رشتینی بدله۔ (ربیعؒ والضحاكؒ)

٨- د ابن عباس رضی الله عنه نه دا هم نقل دی چه ددے نه مراد اَجۡرًا حَسَنًا بِمَا قَدَّمُوۡا مِنۡ اَعۡمَالِهِمۡ ۔ د دوی د نیك عملونو ښائسته اجرونه او بدلے دی۔ (ابن کثیرؒ)

دا ټول مصداقات صحیح دی او ایمان والو ته به دا ټول حاصلیږی۔

قَالَ الۡکٰفِرُوۡنَ : یعنی دا خلك الله نۀ منی ځکه رسول الله ﷺ ته جادوگر وائی که دوی

چرته الله تعالیٰ منلې نو د هغه رسول به ئې خامخا منلې۔ مطلب دا دې چه د قریشو کافرانو د تعجب کولو نه روستو د هغهٔ دعوت قبول نکړو، او کله چه هغوی هیڅ ونکړې شو نو ویې وئیل چه دا سړې خو ښکاره جادوګر دې، او دا قرآن ښکاره جادو دې چه انسانان مسحور کوی۔ دا د آسمان نه نازل شوې د الله تعالیٰ کتاب نهٔ دې۔

| |
|---|
| اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ |
| یقیناً رب ستاسو الله دې هغه ذات چه پیدا کړی ئې دی آسمانونه او زمکه په اندازه |
| سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ یُدَبِّرُ |
| د شپږو ورځو کښې بیا برابر شویدې په عرش باندې (د هغه د شان مناسب)، پروګرام کوی |
| الْاَمْرَ ط مَا مِنْ شَفِیْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ط |
| د ټولو کارونو، نشته څوك سفارشي (د هغه په دربار کښې) مګر روستو د اجازې د هغه نه |
| ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ط |
| دې (صفتونو والا) الله دې چه رب دې ستاسو نو بندګی خاص کړئ هغهٔ لره |
| اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾ اِلَیْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِیْعًا ط وَعْدَ اللّٰهِ |
| آیا نو نصیحت نهٔ اخلئ۔ خاص الله ته ورګرځیدل دی ستاسو د ټولو، وعده کړیده الله |
| حَقًّا ط اِنَّهٗ یَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ |
| وعده حقه، یقیناً هغه اول پیدائش کوی بیا به ئې دوباره پیدا کوی |
| لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ |
| دې دپاره چه بدله ورکړی هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړیدې او عملونه ئې کړی نیك |
| بِالْقِسْطِ ط وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِیْمٍ |
| په انصاف سره، او هغه کسان چه کفر ئې کړیدې دوی لره څکل دی د ګرمو اوبو نه |
| وَّعَذَابٌ اَلِیْمٌۢ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ﴿٤﴾ |
| او عذاب دردناك دې په وجه ددې چه دوی کفر کوی۔ |

**تفسیر**: پدې کښې الله تعالیٰ خپل تعارف بیانوي او ددې ربط د (الکافرون) سره دې هغه داسې چه کافر ولې په رسول الله ﷺ باندې کفر کوي ځکه چه دوی الله تعالیٰ نۀ دې پیژندلې.

او پدې کښې د قریشو مشرکانو د تعجب رد کول هم دي چه کوم الله چه د داسې عظیم قدرتونو مالك وي چه د هغې د تصور او ادراك نه عقلونه عاجز وي، آیا هغه پدې قادر نۀ دې چه د انسانانو د لارخودنې دپاره د دوی نه یو رسول راولیږي ؟ ولې نۀ. (فتح البیان)

د ﴿ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ﴾ تفسیر د سورة الاعراف آیت (٥٤) کښې تیر شویدې. امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب ((الصحیح)) کښې د﴿ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾په مسئله کښې په جهمیه ؤ باندې رد کولو سره لیکلي دي چه د استویٰ معنی ابوالعالیۃ ((اِرْتَفَعَ)) او مجاهدؒ په ((عَلَا)) (پورته شو) سره کړیده. یعنی دا استواء بغیر د کوم مثال او بغیر د کیفیت بیانولو نه ده. ددې نه روستو ئې لیکلي دي چه عرش هغه جسم دې چه په تمامو کائناتو باندې ئې احاطه کړیده، او د تمامو مخلوقاتو نه ډیر لوئی دې. الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکې او د دوی په مابین کښې د تمامو مخلوقاتو تدبیر کوي، دوی دپاره خپل امرونه صادروي او د خپلو معلومو حکمتونو مطابق په دې کښې تصرف کوي.

**مَا مِنْ شَفِيْعٍ**: پدې سره د مکې مشرکانو د مشهورې باطلې عقیدې (شفاعتِ قهري) رد دې چه دوی به ویل چه اصنام (بتان) به د الله تعالیٰ په دربار کښې د دوی سفارش کوي. (زجاجؒ) بغویؒ وائي: پدې کښې په نضر بن الحارث باندې رد دې چه هغه به وئیل چه کله د قیامت ورځ راشي نو زما سفارش به لات او عزیٰ کوي.

الله تعالیٰ بل ځای فرمایلي دي :﴿ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ﴾ (بقره : ٢٥٥) چه (د الله د اجازت نه بغیر څوك د هغه په دربار کښې سفارش کولې شي). شوکانيؒ او قنوجيؒ لیکلي دي چه د آیت دا حصه ددې خبرې هم دلیل دې چه یواځې د الله ذات د ټولو کارونو د دواړو جهانونو کامل مختار دې، په آسمانونو او زمکه کښې یوه پاڼړه هم د هغه د مرضئ نه بغیر حرکت نشي کولې نو بس د هغه نه غوښتل پکار دي.

**ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ**: همدغه ذات چه د پورته ذکر شوي لوئي قدرتونو مالك دې، همدغه الله دې او همدغه ستاسو رب دې. پدې وجه تاسو د هغه عبادت وکړئ، او ددې بې ساه بتانو، کاڼړو او ونو او جماداتو عبادت مۀ کوئ، کوم چه نۀ آوري، او نۀ ګوري او نۀ فائده رسولې شي او نۀ نقصان.

**اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا** : یعنی د الله عبادت به ځکه کوئ چه ستاسو د ټولو الله تعالیٰ ته پس د مرګ نه ورګرځیدل دی او د هغه مخے ته ودریدل دی۔ دا د الله حقه وعده ده چه نشی بدلیدے۔

**اِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ** : الله تعالیٰ انسان لره د نطفے نه پیدا کوی، بیا د هغه د عمر د مودے د پوره کیدو نه روستو په هغه مرګ راولی، او کله چه د قیامت ورځ راشی نو دا به دوباره راژوندے کوی۔

**لِيَجْزِىَ** : دا متعلق دے د (مَرْجِعُكُمْ) پورے یا د (يُعِيْدُهٗ) پورے۔ او دا د مرګ نه روستو د دویم ژوند دپاره علت دے۔ دا خبره د عقل خلاف ده چه بنده ته د هغه د ښائسته یا د بد عمل بدله ورنکړے شی۔ کله چه الله تعالیٰ دا دنیا د عمل ځای جوړ کړیدے، نو لازم ده چه ددے عمل د جزا او سزا ځای هم وی۔ پدے وجه الله تعالیٰ د آخرت ژوند جوړ کړے دے دپاره چه هر شخص ته د هغه د اعمالو بدله ورکړے شی۔ او دا کومه د عقل نه وړاندے خبره هم نۀ ده چه الله ددے عمل د بدلے دپاره انسانان دوباره پیدا کړی، ځکه چه کوم ذات دا اول پیدا کړیدی، هغه یقیناً د دوی په دوباره پیدا کولو قادر دے۔

| |
|---|
| هُوَ الَّذِىْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا |
| الله هغه ذات دے چه ګرځولے ئے دے نمر ډیرے رڼړا والا او سپوږمئ لږے رڼړا والا |
| وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ |
| او مقرر کړی ئے دی دے (هر یو له) منزلونه (پړاونه) دے دپاره چه پوهه شئ تاسو په شمار |
| السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا |
| د کلونو او په حساب (د ورځو او میاشتو)، نۀ دی پیدا کړی الله تعالیٰ دا مګر |
| بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۵﴾ |
| د حق ښکاره کولو دپاره، تفصیل سره بیانوی دلیلونه هغے لقوم لره چه پوهیږی۔ |

**تفسیر** :الله تعالیٰ د نمر تیزے شعلے د ورځے د رڼړائی او د سپوږمئ آرام والا شعلے د شپے د رڼړائی ذریعه ګرځولے ده، او د نمر ئے دولس برجونه او د سپوږمئ ئے اته ویشت منازل جوړ کړیدی، دے دپاره چه انسان په خپل دنیاوی ژوند کښ د کلونو، میاشتو، ورځو او

گینتهو حساب معلوم کړي، الله تعالیٰ دا بیکاره او عبث نهٔ دي پیدا کړي. که الله تعالیٰ ددے مقصد دپاره نمر او سپوږمۍ نهٔ وے پیدا کړي نو د انسانانو به ډیر دنیاوی او دینی مصالح ضائع کیدلے او نظام به خرابیدلے، د کوم ځای نه به معلومیدے چه کال دولس میاشتو والا وی او میاشت د دیرش یا نهه ویشتو ورځو او ورځ د څلیریشتو گینتهو وی. او د کال او د میاشتے او د ورځے د حسابونو سره چه د انسانانو کومو ضروریاتو تعلق دے هغه به څنگه پوره کیدے. او ددے ځای نه دا خبره اخستے شویده چه رڼا د سپوږمۍ د رڼا د نمر نه اخستے شویده. ځکه چه ضیاء هغه رڼا ته وائی چه ذاتی وی او نُور هغه ده چه بالعرض وی یعنی د بل نه اخستے شوی وی.

وَّقَدَّرَهٗ: (ه) ضمیر قمر (سپوږمۍ) ته راجع دے ځکه چه شرعی حساب د سپوږمۍ نه کیږي او شمسی حساب شرعی نهٔ دے.

مَنَازِل: دا هغه مسافت ته وائی چه شپوږمۍ ئے په یوه ورځ او یوه شپه کښ قطع کوی په خاص حرکت خپل سره. او دا اته ویشت منازل دی چه تقسیم دی په دولسو برجونو چه د هر برج دوه منزله او ثلث (دریمه حصه) منزل دے چه سپوږمۍ په دے کښ په هره شپه کښ نازلیږي تردے چه اته ویشت منازل ختم شی ددے نه اخوا نهٔ اَوړي نو په اول د منازلو کښ سپوږمۍ وړه ښکاری بیا لږه لږه غټیږي تردے چه پوره شی او په آخری منازلو کښ بیا نرۍ کیږي، بیا په دوه شپو کښ پټیږي چه په سترگو نهٔ ښکاری کله چه میاشت د دیرشو ورځو وی او په یوه شپه کښ پټیږي کله چه میاشت د نهه ویشتو ورځو وی. (فتح البیان)

| |
|---|
| اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ |
| یقیناً په اختلاف د شپه او ورځ کښ او په هغه څه کښ چه پیدا کړیدی الله په آسمانونو |
| وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ﴿٦﴾ |
| او زمکه کښ خامخا نخے د قدرت شته هغه قوم لره چه تقویٰ والا وی. |

**تفسیر**: د شپے او د ورځے د یو بل پسے په پوره انتظام سره راتلل او کله هم پدے کښ هیڅ خلل نهٔ واقع کیدل، د دواړو کله وړوکے کیدل او کله غټیدل، د شپے تیاره، او د ورځے رڼا، په فضاء کښ گرځیدونکی کواکب او سیارات (ستوری)، هواگانے او بارانونه، انسان

او حیوان، اُوچوالے او لوندوالے، غرونه او کندے، ونے او کانړی دا ټول یقیناً د الله تعالیٰ د وجود او د هغۀ د کامل قدرت او د هغۀ په لوئی سلطنت او د هغه په عظمت او د هغۀ په توحید او د هغۀ په معرفت باندے دلالت کوی۔ او ددے خبرے تقاضا کوی چه انسان صرف د هغۀ عبادت وکړی، د هغۀ سره انتهائی درجه محبت وساتی، د هغۀ نه یره وکړی او د هغۀ نه امید وساتی او په هر حال کښ د هغۀ شکر گذار شی۔

**يَّتَّقُوْنَ** : تقویٰ دومره ښه شے دے چه انسان پکښ د الله تعالیٰ د کائناتو نه هم فائده اخستے شی۔ نو د تقویٰ د فوائدو نه دا ده چه (اَلْاِعْتِبَارُ مِنْ آيَاتِ اللّٰه) یعنی بنده ددے په ذریعه د الله تعالیٰ د نښو نه عبرت اخستے شی۔

۲- يَتَّقُوْنَ الْعُقُوْبَةَ۔ یعنی څوك چه د الله تعالیٰ د عذابونو نه یریږی نو هغه د نښو نه عبرت اخلی او چه نۀ یریږی نو هغه عبرت نۀ اخلی۔

| |
|---|
| اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا |
| یقیناً هغه کسان چه امید نۀ لری د ملاقات زمونږ او خوشحاله شویدی په ژوند دنیوی |
| وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ﴿۷﴾ |
| او مطمئن شویدی پدے باندے او هغه کسان چه دوی د آیتونو زمونږ نه ناخبره دی۔ |
| اُولٰٓئِكَ مَاْوٰهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸﴾ |
| دغه کسان ځائے د دوی اُور دے په سبب د هغے عملونو چه دوی ئے کوی۔ |

**تفسیر** : اُوس د آخرت منکرینو ته زجر ورکوی او بیا کوم خلك چه د الله تعالیٰ په ملاقات یقین لری د هغوی تذکره کوی۔ او منکرین ئے مخکښ کړل ځکه چه ددے سورت په اول کښ د هغه کافرانو رد وشو چه د هغه شی نه تعجب کوی چه په هغے کښ هیڅ تعجب نشته او په هغه څیزونو کښ فکر او تدبر پریدی کوم کښ چه تدبر پریخودل مناسب نۀ دی نو ځکه ئے د آخرت نه انکار پیدا شویدے۔ (فتح البیان)

او ددے آیت تعلق دے د (اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ) سره او د ایمان بلقاء الله موضوع پکښ ذکر ده۔

د لقاء الله نه مراد بعث بعد الموت دے / یا د الله تعالیٰ دیدار ترے مراد دے۔

یعنی کوم خلق چه په آخرت باندے یقین نۀ ساتی، او د دنیا په ژوند خوشحاله وی او د الله

تعالیٰ په نخو کښې فکر او سوچ نه کوي،

وَاطۡمَاَنُّوۡا بِهَا : د اطمینان نه مراد دلته بې پرواه کیدل دي یعنې چه د آخرت په باره کښې هیڅ سوچ او فکر نه کار نه اخلي او صرف دنیا ئې مقصود کرځولې ده. او هغه اطمینان او د زړه سکون نه دے مراد کوم چه د ایمان په وجه حاصلیږي. ځکه چه دنیا خو سبب د پریشانئ دے. او دا مرض د ډیرو انسانانو دے چه دین ورته معمولي شے ښکاري او اصل مقصد ئې دنیا حاصلول او د هغې زیب وزینت او د هغې عهدے او مالونو کښې مشغولیدل وي. ❁ یا د اطمینان نه خوشحالي کول مراد دي.

وَالَّذِيۡنَ: دا دویم قسم خلك دي چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه غافله وي.

اول قسم صرف دنیا پرست وو چه د هیڅ سره ئې کار نشته. یا همغه مخکني خلك مراد دي خو عطف ئې وکړو د وجه د تغایر د صفت نه، دا عطف الصفة علی الصفة دے.

نو د دوی دوه قسمه صفات شو یو آخرت نهٔ منل، او دویم د الله تعالیٰ د آیتونو نه غفلت، او دا دویم د اول دپاره سبب دے.

اٰيٰتِنَا : د آیتونو نه آیتونه کونیه او آیتونه شرعیه (قرآنیه) دواړه مراد دي یعني د الله تعالیٰ په کائناتو کښې نظر نهٔ اچوي چه د هغې نه د الله تعالیٰ توحید او د محمد رسول الله ﷺ او د قرآن کریم حقانیت معلوم کړي. او کافرانو د قرآن کریم د آیتونو نه هم غفلت کولو، او پدے باندے ئې ایمان نهٔ راوړو. نو پدے وجه د دوی د بدنونو نه غلط اعمال راوځي نو اُورئې ځای دے.

او غفلت ډیر بد صفت دے پدے وجه په آخر د سورت کښې به ووائي چه الله تعالیٰ په بې عقله خلکو باندے پلیتي اچوي.

بِمَا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ : پدے کښې اشاره ده نورو ډیرو بدو عملونو ته چه د آخرت د نهٔ منلو او د قرآني آیتونو او د دلائلو د غفلت نه راپیدا کیږي.

| |
|---|
| اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهۡدِيۡهِمۡ |
| یقیناً هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے او عملونه کوي نیك لار به وښائي دوی ته (د جنت) |
| رَبُّهُمۡ بِاِيۡمَانِهِمۡ ۚ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهِمُ الۡاَنۡهٰرُ فِىۡ |
| رب د دوی په سبب د ایمان د دوی، بهیږي به لاندے د (بنګلو) د دوی نه نهرونه په |

| |
|---|
| جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۹﴾ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ |
| جنتونو د نعمتونو کښې به وي۔ بلنه د دوی به په دے جنت کښې (دا وي چه) پاکي ده تا لره |
| اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ |
| اے الله ! او ډالئ د دوی به پدے کښې سلام وي او آخری بلنه د دوی به دا وي |
| اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰﴾ |
| چه ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دی چه پالونکے د مخلوقاتو دے۔ |

**تفسیر** : اوس د ایمان فائده او ایمان والو ته زیرے ذکر کوی ځکه چه څوك آخرت منی او د الله تعالیٰ په ملاقات یقین لری نو د هغوی د بدن نه به ضرور ښائسته اعمال راوځی نو نیکه بدله به ورته ملاویږی۔

يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ : هدایت دوه معنے دی دلته دواړه مرادے دی، (۱) په دنیا کښې ورته الله تعالیٰ هدایت کوی نو معلومه شوه چه ایمان سبب د هدایت دے۔ ﴿وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ (التغابن: ۱۱) (څوك چه په الله ایمان راوړی نو الله به د هغه زړه ته هدایت وکړی) ایمان جزء د هدایت دے۔ (۲) دویم : د هدایت نه مراد جنت ته رَسَول او د جنت لاره آسانول دی۔ یعنی وبه ښائی دوی ته لاره په سبب د ایمان د دوی جنتونو طرفته۔

/ یا هدایت په معنیٰ د روانولو سره دے یعنی دوی به روان کړی په سبب د ایمان سره جنتونو طرفته۔

بِاِيْمَانِهِمْ : نه معلومیږی چه ایمان سبب د جنتونو دے او عمل صالح د هغے تتمه ده۔ ځکه چه ایمان په انسان کښې اعمال پیدا کوی۔ او دلته ئے صرف ایمان ذکر کړو د وجه د زیات شرافت نه۔ نو ددے نه دا نهٔ معلومیږی چه گنے جنت ته داخلیدل بغیر د عمل صالح نه هم کیږی۔

دلته د یهدیٰ دپاره مفعول (جنات) پټ دے د وجه د ظهور د مقصود نه۔

علامه ابوالسعودؒ وائی : ددے الفاظو نه معلومیږی چه صرف ایمان او عمل صالح جنت ته د رسیدو دپاره کافی نهٔ دے بلکه ددے سره د الله تعالیٰ هدایت (یعنی رَسَول او روانول) ضروری دی۔ او کفر او گناهونه خپله د اُور په داخلیدو کښې کافی دی۔

دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا : ددعویٰ نه مراد نداء (آواز) دے یعنی دوی چه په جنت کښې یو نعمت

غواړی نو د هغے د راغوښتو آواز به سبحانك اللهم وی، ګویا که دا یو کوډ او تلئ ده۔
❁ دویم : دعویٰ کله په معنیٰ د عبادت سره وی، یعنی جنتیان به په جنت کښ د عبادت په طور دغه اذکار کوی، د الله تعالیٰ تسبیحات او تقدیس به بیانوی۔
❁ ځینی وائی چه دعویٰ نه مراد دعاء ده، یعنی هغوی ته چه کله هر قسم نعمتونه ورکړے شی او د ټولو غمونو او پریشانو نه بیخی خلاص شی نو د الله تعالیٰ شکر به پدے الفاظو سره کوی چه اے الله تا لره پاکی ده۔ ❁ یا دا چه په دنیا کښ هم د دوی دعویٰ دا وه چه الله تعالیٰ د هر عیب او شریك نه پاك دے نو په جنت کښ به ئے هم دغه دعویٰ وی لیکن اوله معنیٰ ظاهره ده او دا نورے معانی پکښ ضمناً ورداخلیږی۔
او په حدیث کښ دی : [يُلْهَمُوْنَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا يُلْهَمُوْنَ النَّفَسَ] چه جنتیان به تسبیحات او حمدونه په داسے آسانئ سره وائی لکه انسان چه ساه اخلی، چه هیڅ ستړی والے نۀ محسوس کوی۔ (صحیح مسلم: ۷۳۳۱)
**تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلٰمٌ:** جنتیان چه کله د یو بل ملاقات له ځی نو ډالئ به صرف د سلامونو وړاندے کوی نۀ ظاهری نور نعمتونه، ځکه چه هغه هر چا ته حاصل دی۔
**وآخر وَاٰخِرُ دَعْوٰهُمْ :** اَیْ فِی الْمَجْلِسِ۔ یعنی د مجلس نه چه کله پاڅیږی نو اختتام به ئے په الحمد لله رب العالمین باندے کوی۔

| |
|---|
| وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ |
| او که په جلتئ سره ورکولے الله تعالیٰ خلقو ته تکلیف (په سبب د غوختلو د دوی) |
| اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ |
| په شان د جلتئ سره غوختلو د دوی خیر لره نو خامخا پوره شوے به وے دوی ته |
| اَجَلُهُمْ ط فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَ نَا |
| نیته د دوی (یعنی مړۀ به وے) نو پریږدو مونږ هغه کسان چه اُمید نۀ لری د ملاقات زمونږ |
| فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱﴾ |
| په سرکشئ د دوی کښ چه پریشانه به وی۔ |

**تفسیر :** عنوان الآیة : زَجْرٌ بِاسْتِعْجَالِ الْعَذَابِ مَعَ التَّهْدِيْدِ لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَاءَ اللّٰهِ۔ اَیْ مَعَ

بَيَانِ اِضْلَالِهِمْ- يعنى په جلتئ سره په عذاب غوښتو باندے زجر او رټنه ده سره د دهمكى وركولو نه هغه چا ته چه د الله تعالىٰ د ملاقات اميد نۀ لرى يعنى د هغوى گمراه كول بيانوى-

## مناسبت

دا متعلق دے د (هُمْ غَافِلُوْنَ) سره چه دوى دومره غافله دى چه عذابونه غوارى- او د ﴿لَايَرْجُوْنَ لِقَائَنَا﴾ سره هم متعلق دے چه دوى آخرت نۀ منى پدے وجه دنيا كښې عذابونه غوارى، او څوك چه د آخرت د عذاب نه يريږى نو هغه په دنيا كښې هم د الله تعالىٰ د عذابونو نه يريږى-

## شان نزول او مضمون

دا آيت د نضر بن الحارث او د نورو مشركانو په باره كښې نازل وو چه هغوى كښې سخت تكبر وو او ذهنونه ئے خراب وو نو بار بار به ئے رسول الله ﷺ ته وئيل چه كه ته دومره رشتينے ئے او مونږ د الله تعالىٰ په نيز دومره مبغوض يو نو د كوم عذاب خبره چه تۀ بار بار كوے نو هغه په مونږ ولے نۀ نازليږى؟ دا د مكے كافرانو د غفلت انتهاء وه، چه كله به هم رسول الله ﷺ دوى ته د خير كومه خبره كوله نو زر به ئے د عذاب راتللو مطالبه كوله- ليكن الله تعالىٰ په دوى باندے رحم كولو سره داسے ونكړل، بلكه دوى ته ئے د توبے مهلت وركړو او دوى ئے هلاك نۀ كړل چه كيديشى د دوى په اولادو كښې به داسے خلق پيدا شى چه په الله تعالىٰ به ايمان راوړى-

يعنى كه الله تعالىٰ بندگانو ته عذاب په داسے جلتئ سره وركولے لكه څنگه چه ورله خير په جلتئ سره وركوى نو دوى ټول به پخوا ختم شوى وے ليكن د الله تعالىٰ عادتِ مباركه دا دے چه بندگانو ته صبر كوى او په خپل وخت كښې ئے رانيسى، داسے قسم خلك چه كله گمراه شى او د گمراهئ اعلىٰ درجے ته ورسيږى نو بيا ئے الله تعالىٰ راگير كړى، د هر شى دپاره خپل وخت وى- لكه روستو وائى ﴿وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ﴾ پخوانى امتونه وگورئ چه هغوى په خپل خپل وخت هلاك شول- نو تاسو اُوس په امتحان كښې يئ چه تاسو كوم عملونه كوئ- روستو آيت كښې به زجر وركړى په انكار د قرآن كريم باندے- يعنى دوى قرآن ولے نۀ منى څكه چه د الله تعالىٰ يو والے نۀ منى، دا ټولے خبرے د يو بل سره تړلے شويدى- بيا ئے هغه چا ته زجر وركړيدے چه په الله تعالىٰ باندے دروغ جوړوى- بيا ئے زجر

په شرك وركړیدے په ﴿وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ سره، بیا په (۱۹) آیت كښې وائی چه دین توحید فطری دے او دین شرعی عارضی دے، بیا زجر دے په اقتراح الآیات (یعنی د معجزاتو په طلب كولو) او د دوی څلور قسمه تعنتونه ئې ذكر كړیدی یو دا چه عذاب غواړی، بیا وائی چه قرآن بدل كړه، بیا كه دوی ته ځوك ووائی چه شرك مهٔ كوئ نو دوی وائی چه دا سفارش دے، پدے كښې هیڅ عیب نشته. بیا چه حق ورته بیان شی نو دوی وائی دا مونږ نهٔ منو مونږ له بله معجزه راوړه. نو د آخرت د منكرینو قسماقسم عنادونه دی چه الله تعالیٰ ئې رانقل كوی او بیا پرے ردونه كوی.

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ: ۱- یو تفسیر ئې مخكښې ذكر شو. چه د شر نه مراد عذاب دے.

۲- بعض مفسرین وائی چه پدے كښې دا هم داخلیږی چه یو تن خپل ځان یا بچو او ښځے ته ښیرے كوی نو دا هم بد كار دے ځكه چه ځوك ښیرے زیاتے كوی نو دا د الله تعالیٰ بی ادبی كوی ځكه چه یو تن د هلاكت لائق نهٔ وی او دے ورته ووائی چه اے الله ! دا هلاك كړه، نو آیا الله تعالیٰ ورته ظالم ښكاری (العیاذ بالله) چه هغه به مظلومان وهی. ددے مثال داسے دے چه لكه یو متقی انسان ته ځوك ووائی چه دا بل نیك عمل انسان ووهه یا ئے قتل كړه نو هغه به ورته وائی چه زهٔ درته ظالم ښكاره شوم؟. ددے وجه نه چه ځوك ښیرے زیاتے كوی نو هغه به د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ په دربار كښې سفارش نشی كولے او نهٔ به ئے گواهی قبلیږی. او دا مرض په ښځو او بعض بوډاگانو كښې ځو مره زیات دے؟!.

لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ اَجَلُهُمْ: اَیْ لَاَهْلَكَهُمْ وَقِيْلَ: لَاُمِيْتُوْا) (فتح البیان)

یعنی الله تعالیٰ به هلاك كړی وے/ او دوی به مړهٔ شوی وے.

یعنی اُوس به دوی وختی ختم وے ځكه چه دوی د ډیر مخكښې نه دغه عذابونه غواړی نو كه په اول ځل پرے عذاب راغلے وے نو اُوس به د دوی وجود نهٔ وے.

فَنَذَرُ الَّذِيْنَ: دا یو قسم تهدید او زورنه ده چه الله تعالیٰ به مو گمراه كړی او په گمراهئ كښې به مو پریدی، عذابونه مهٔ غواړئ.

۳- تفسیر: دے كښې داسے هم وئیلے شی: [وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الْعَذَابَ اِذَا اَتَوْا بِاَسْبَابِهٖ] كه الله تعالیٰ خلكو ته عذاب په جلتئ وركولے كله چه دوی د هغے اسباب تیار كړی یعنی گناهونه وكړی. نو جزاء ئې پټه ده. لَمَاتُوْا. یعنی دوی به ټول مړهٔ شوی وے. یعنی كه په گناهونو ئې دوی ته په جلتئ عذاب وركولے نو ټول به ختم شوی وے. نو دا آیت به د ﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ﴾ (فاطر: ٤٥) په شان شی. دا معنیٰ

هم صحيح ده۔ اوله معنىٰ په كښې زياته ظاهره ده ځكه چه مشركانو دغه مطالبه كړې وه۔

| |
|---|
| وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِدًا |
| او كله چه اُورسى انسان ته تكليف دعاګانے غواړى زمونږ نه په اړخ خپل يا په ناسته |
| أَوْ قَائِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ |
| يا په ولاړه، نو هركله چه لرے كړو مونږ د هغه نه تكليف د هغه، روان شى (په غفلت) |
| كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُ ۚ كَذَٰلِكَ |
| ګويا كه نۀ ئے دے رابللے مونږ لره هغه تكليف ته چه رسيدلے وو دۀ ته، دغسے |
| زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ |
| ډولى كړے شويدى زياتى كونكو (مشركانو) ته هغه عملونه چه دوى ئے كوى۔ |

**تفسير** : عنوان د آيت : د كافرانو حال ډير عجيبه دے چه اول كښې عذاب غواړى او چه كله ورته مصيبت ورسى نو بيا الله ته چغے وهى او فريادونه كوى۔ او دا مناسبت هم دے۔

**دَعَانَا لِجَنبِهِ** : سوال دا دے چه د الله تعالىٰ نه دعا غوښتل خو ښه كار دے نو ولے الله تعالىٰ پدے زجر وركوى۔ ددے تفصيلى جواب به د حم السجده په آخر كښې راشى چه اِهْتِمَامًا بِنَفْسِهِ ۔ يعنى پدے دعا كښې ددۀ د الله تعالىٰ د عبادت سره هيڅ كار نشته بلكه د خپل ځان غم راخستے دے۔ او خود غرضه دے چه صرف په تكليف كښې الله تعالىٰ ورته ياديږى او په راحت كښې ترے بيخى غافله وى۔ او داسے انسان د الله تعالىٰ بدى شى، مؤمن بنده به هر وخت كښې الله تعالىٰ يادوى برابره ده، غرض ئے پوره دے او كه نۀ۔

**مَرَّ**: يعنى د الله تعالىٰ نه داسے غافله شى چه ګويا كه الله تعالىٰ ئے د سَره ياد كړے نۀ دے۔

**كَذَٰلِكَ زُيِّنَ**: يعنى لكه څنګه چه دغه شخص ته د تكليف په وخت كښې دعا كول او د راحت په وخت كښې اعراض كول ښائسته شويدى نو دغه شان مجرمانو ته د هغوى عملونه ښائسته كړے شويدى، ❁ دا يا الله تعالىٰ ښائسته كړيدى دپاره د امتحان په دوى باندے چه د دوى نه ئے د خير توفيق اخستے دے او مهربانى ئے پرے نۀ ده كړے، ❁ او يا په طريقه د وسوسے د شيطان سره دى، ❁ يا دا ښائسته كول د نفس اماره بالسوء د طرفه دى۔

(فتح البيان)

لِلۡمُسۡرِفِیۡنَ : داسې حال والا شخص ته ئې مُسرف وویل چه خود غرضه وي.
شوکانيؒ لیکلي دي چه دا حالت د کافرانو پورې خاص نهٔ دې. د ډیرو مسلمانانو حال هم داسې وي چه کله په هغوي مصیبت راځي نو بیا دعاګانې کوي او د الله په دربار کښې ژړا او زاري کوي او چه کله هغه مصیبت لرې شي نو د دعا او زارئ نه غافل وي، او د الله د نعمت او د احسان شکر ادا کول ترې هیر وي.

| |
|---|
| وَلَقَدۡ اَهۡلَکۡنَا الۡقُرُوۡنَ مِنۡ قَبۡلِکُمۡ لَمَّا ظَلَمُوۡا ۙ |
| او یقیناً هلاك کړیدي مونږ قومونه (پیړئ) مخکښې ستاسو نه هرکله ئې چه ظلم اُوکړو |
| وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُمۡ بِالۡبَیِّنٰتِ وَمَا کَانُوۡا لِیُؤۡمِنُوۡا ؕ |
| او راغلي وو دوي ته رسولان د دوي په ښکاره حکمونو، او نهٔ وو دوي چه ایمان ئې راوړې وې، |
| کَذٰلِكَ نَجۡزِی الۡقَوۡمَ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ جَعَلۡنٰکُمۡ خَلٰٓئِفَ فِی |
| دغه شان بدله ورکوو مونږ قوم مجرمانو ته. بیا اُوګرځولئ مونږ تاسو لره نائبان په |
| الۡاَرۡضِ مِنۡ بَعۡدِهِمۡ لِنَنۡظُرَ کَیۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱٤﴾ |
| زمکه کښې روستو د هغوي نه دې دپاره چه اُوګورو مونږ چه څنګه عمل کوئ تاسو. |

**تفسیر** : یعني عذابونه څکه په جلتئ مهٔ غواړئ چه عذاب به په خپل خپل وخت کښې راځي، لکه پخوانو ته وګورئ.
پدې کښې الله تعالیٰ د مکې مشرکانو ته دهمکي ورکوي چه په تیرو شوو زمانو کښې چه کومو قومونو د الله تعالیٰ رسولان دروغجن کړي، الله تعالیٰ هغوي لره هلاك کړل، نو هیڅ وړاندې نهٔ ده چه ستاسو انجام هم د هغوي په شان شي.
ظَلَمُوۡا: کفر او شرك او د انبیاؤ خلاف د هغوي ظلم وو.
کَذٰلِكَ نَجۡزِی: اَیِ الۡهَلَاكَ. یعني دغه شان بدله (یعني هلاکت) مونږ مجرمانو ته ورکوو.
ثُمَّ جَعَلۡنٰکُمۡ : یعني د پخوانو نه روستو اُوس تاسو په امتحان کښې واقع شوئ.
دا خطاب د عربو هغه مشرکانو سره دې چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې موجود وو او دارنګه روستني هم په کښې داخل دي، چه د تیر شوي قومونو نه روستو الله تعالیٰ تاسو په

زمکه ووسولئ دے دپاره چه تاسو هم وازمائی او وګوری چه د الله سره ستاسو معامله ښنګه کیږی۔ آیا د خپل خواهش مطابق عمل کوئ او که د الله تعالیٰ د شریعت مطابق۔ او بیا په شریعت کښ د رسول الله ﷺ تابعداری کوئ او که د خپل خواهش پسے روانیږئ، نو ځوك چه بد عمل او ګناهونه کوی هغه هم د (كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ) خلاف ده، او که ځوك بدعت کوی هغه هم مخالف ذے۔ نو الله تعالیٰ به بیا ددے اعمالو مطابق بدلے بندګانو ته ورکوی۔ د دنیا تول نظام د ښائسته عمل دپاره جوړ شویدے۔

ابوسعید خدری ﷺ روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائی : [إِنَّ الدُّنۡيَا حُلۡوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللّٰهَ مُسۡتَخۡلِفُكُمۡ فِيۡهَا فَيَنۡظُرُ كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ، فَاتَّقُوا الدُّنۡيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ] (مسلم : ٧١٢٤)

دنیا خوږه او شنه ده او الله تعالیٰ تاسو پدے کښ د یو بل پسے راوستی یئ نو ګوری چه ستاسو عملونه به ښنګه وی، نو د دنیا (د فتنے) نه ځان وساتئ او د زنانو (د فتنے) نه یره وکړئ۔

| |
|---|
| وَاِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ الَّذِيۡنَ |
| او کله چه اُولوستلے شی په دوی باندے آیتونه زمونږ ښکاره، وائی هغه کسان |
| لَا يَرۡجُوۡنَ لِقَآءَنَا ائۡتِ بِقُرۡاٰنٍ غَيۡرِ هٰذَآ اَوۡ بَدِّلۡهُ ؕ |
| چه امید نۀ لری د ملاقات زمونږ راوړه یو قرآن غیر ددے نه یا تبدیلی اُوکړه پدے کښ، |
| قُلۡ مَا يَكُوۡنُ لِىۡۤ اَنۡ اُبَدِّلَهٗ مِنۡ تِلۡقَآءِ نَفۡسِىۡ ۚ |
| اُووایه ! نۀ دی جائز ما لره چه تبدیلی اُوکړم پدے کښ د طرف د خپل ځان نه |
| اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوۡحٰۤى اِلَىَّ ۚ اِنِّىۡۤ اَخَافُ |
| تابعداری نۀ کوم مګر د هغے چه وحی کیدے شی ما ته، یقیناً زۀ یریږم |
| اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّىۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿١٥﴾ |
| که نافرمانی اُوکړم د رب خپل د عذاب د ورځے لوئی نه۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښ زجر دے هغه مشرکانو ته چه د قرآن کریم نه ئے انکار کولو او ددے د بدلولو مطالبه ئے کوله چه دا دِے بدل شی او ددے په ځای دِے د دوی د خواهش مطابق کتاب راوړے شی۔ او دا د دوی د الله تعالیٰ د آیتونو نه بل قسم تعنت او اعراض وو۔

او دا متعلق دے د ﴿ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَا ﴾ سره چه الله تعالی وحی وکړه نو دوی پکښې چون وچرا کوی.
او د ﴿ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُوْنَ ﴾ سره هم تعلق لری چه دا د منکرینو د آخرت بل غفلت دے.
نبی کریم ﷺ چه به کله د مشرکانو مخے ته د قرآن کریم هغه آیتونه تلاوت کول چه په هغے کښې به د الله تعالیٰ د توحید اثبات او د الله تعالیٰ سره د شرك کولو رد کیدلو نو د قیامت او د جزا او سزا انکار کونکو مشرکانو به د چیلنج یا د استهزاء په طریقه نبی ﷺ ته وئیل چه ددے قرآن نه سویٰ بل قرآن راوړه چه په هغے کښې زمونږ د بتانو عیب نهٔ وی یا هغه آیتونه بدل کړه کوم سره چه مونږ ته تکلیف رسی، نور آیتونه راوړه چه د هغے په آوریدو سره مونږ ته تکلیف نهٔ رسی. (تیسیر الرحمن)
یا دوی دا مطالبه پدے وجه کوله چه امتحان ئے غرض وو چه که دے نبی دا بدل کړل معلومه به شی چه دے د ځان نه جوړوی. دویم غرض ئے استهزاء وه چه ته خوئے هسے هم د ځان نه جوړوے نو بس دا هم پکښې بدل کړه. یا ئے چیلنج مقصد وو.
ائْتِ بِقُرْاٰن : یعنی یا ټول قرآن بدل کړه او که ټول نهٔ وی نو په کومو آیتونو کښې چه زمونږ د آلهه ؤ عیبونه ذکر کیږی یا د قیامت او د دوباره راپورته کیدو تذکره کیږی هغه بدل کړه. (زجاج) (معالم التنزیل للبغوی وفتح البیان)
قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْ : نو الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د هغوی په جواب کښې ددے وینا حکم وکړو چه زهٔ پدے کښې د خپل طرف نه د یو حرف تبدیلی هم نشم راوستے، زهٔ خو د الله تعالیٰ په حکم باندے عمل کونکے یو بنده او خالص پیغمبر یم. زهٔ خو صرف د الله تعالیٰ د طرف نه د نازل شوی وحی اتباع کوم. که ما د الله نافرمانی وکړه نو د قیامت په ورځ د عذاب نه یریږم.
مَا يَكُوْنُ لِيْ: یعنی ما لره مناسب او حلال نهٔ دی.
اُبَدِّلَهٗ: صرف تبدیل ئے نفی کړو، چه زهٔ پکښې تبدیلی نشم کولے پاتے لا بل راوړل خو په طریق اولیٰ نشم کولے. یعنی یو لفظ نشم بدلولے نو ټول قرآن به څه بدل کړم.
تِلْقَاءِ: مصدر صیغه ده، طرف او جانب ته وائی.
اِنْ عَصَيْتُ : یعنی که زهٔ اراده وکړم چه په قرآن کښې تبدیلی وکړم اګرکه دا زما دپاره ممکن نهٔ ده او ستاسو مطالبه پوره کړم نو دا خو زما د رب نافرمانی ده او زهٔ د هغه د عذاب نه یریږم.

| |
|---|
| قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ |
| اُووایه ! که غوختے وے الله، نۀ به وے لوستلے ما قرآن په تاسو باندے |
| وَلَآ اَدْرٰكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ |
| او نۀ به خبر کړی وی الله تعالیٰ تاسو پدے، نو یقیناً وخت تیر کړے ما په تاسو کښې |
| عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦﴾ |
| ډیر عمر مخکښې ددے کتاب نه، آیا نو عقل نۀ لرئ تاسو۔ |

**تفسیر**: پدے کښې اُوس دے مشرکانو ته عقلمندی ورکوی چه تاسو ولے د قرآن نه انکار کوئ، دے نبی د ځان نه دا کتاب نۀ دے جوړ کړے۔ نو په دے آیت کښې بیان د حقانیت د رسول ﷺ او د قرآن کریم دے۔ او د مخکښې آیت سره ئے تعلق دا دے چه زۀ د ځان نه قرآن جوړونکے نۀ یم۔ نښه دا ده چه یو تن په ځوانئ کښې مست وی او خواهشاتو والا هم وی او ورانے هم پکښې زیات وی او چه کله ځلوېښتو کالو ته ورسیږی نو عقل ئے په ځای شی او خواهشاتو کښې ئے کمے راشی او بردباری پکښې پیدا شی نو کله چه یو تن په ځوانئ کښې بزرګ، متقی، امانتګر او رښتینی وی نو کله چه ځلوېښتو ته ورسیږی نو آیا اُوس به ئے خیانتونه او شهوات ډیریږی؟ دا خو د عقل او فطرت خلاف ده، نو اُوسه پورے زۀ په تاسو کښې (الصادق الامین) ووم نو آیا د ځلوېښتو کالو نه روستو به زۀ دروغ وئیل شروع کوم؟۔ زما مخکنی کردار ته هم لږ وګورئ۔

قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ: یعنی که د الله تعالیٰ اراده شوے وے ما به دا قرآن په تاسو نۀ وے لوستلے، زۀ چه ستاسو مخے ته د قرآن کریم تلاوت کوم نو دا د الله د ارادے او د هغه د مشیت مطابق دے، که الله غوختلے نو تاسو به ئے ددے عظیم کتاب نه محروم کړی وے۔ نو دے کښې یو قسم امتنان (د احسان زبادنے) ته اشاره ده چه الله تعالیٰ تاسو سره څومره لوی احسان وکړو چه تاسو باندے ئے عظیم الشان کتاب نازل کړو، الله تعالیٰ کولے شو چه دا قرآن ئے نۀ وے نازل کړے بلکه د الله تعالیٰ په تاسو باندے د خیر اراده وه ځکه ئے ما ته حکم وکړو چه په دوی باندے قرآن ولوله۔

وَلَآ اَدْرٰكُمْ بِهٖ: او تاسو به ئے پدے کتاب باندے زما په واسطه نۀ وے پوهه کړی نو تاسو

ته ئے چه کتاب راولیږلو او زما په واسطه ئے پوهه کړئ نو دا د الله تعالیٰ په تاسو احسان دے او تاسو پدے باندے اعتراضونه کوئ.

**فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرًا**: د عمر نه مراد څلویښت کاله دی. یعنی د پیدائش نه واخله تر څلویښتو کالو پورے زۀ ستاسو په مینځ کښ وسیدم. زما د رشتینوالی او امانت چرچے ستاسو نه د هریو په خُله باندے دی، او ما له لوستل او لیکل هم نۀ راځی. لیکن کله چه الله تعالیٰ زۀ رسول راولیږلم نو د هغه نازل کړے قرآن تاسو ته لولم. آیا پدے تمامو دلائلو او قرائنو سره تاسو دے نتیجے ته نۀ رسیږئ چه دا قرآن د الله کلام دے، زما یا د بل چا د ځان نه جوړه شوے خبره نۀ ده ؟!.

| |
|---|
| فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا اَوۡ کَذَّبَ |
| نو څوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله باندے دروغ یا دروغجن ګڼړی |
| بِاٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفۡلِحُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴿۱۷﴾ |
| آیتونه د الله، یقیناً شان دا دے چه نۀ کامیابیږی مجرمان. |

**تفسیر**: دا بل جواب دے مشرکانو ته چه څوك په الله تعالیٰ دروغ وائی هغه ته الله تعالیٰ کامیابی نۀ ورکوی او هغه ظالم وی لکه مسیلمه کذاب، سجاح او اسود عنسی وغیره ته ئے کامیابی ورنکړه نو که زۀ دروغژن وے نو الله تعالیٰ به زۀ ناکام کړے وے او حال دا چه الله تعالیٰ وخت په وخت ما ته ترقی راکوی نو معلومیږی چه زۀ صادق یم، او دا زما د حقانیت دلیل دے. او په هغوی باندے صراحةً رد دے او د هغوی د استهزاء والا خبرے رد دے چه تاسو دروغجن یئ ځکه چه په الله تعالیٰ مو دروغ جوړکړیدی، هغه ته د شریکانو نسبت کوئ او د هغۀ د رسول نبوت او د هغۀ کتاب (قرآن کریم) نۀ منئ نو ستاسو عاقبت خرابیدو والا دے، ظالمان یئ، راشئ د خپل ځان غم وکړئ.

| |
|---|
| وَیَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا یَضُرُّهُمۡ وَلَا یَنۡفَعُهُمۡ |
| او بندګی کوی دوی سویٰ د الله نه د هغه چا چه نۀ ورله ضرر ورکوی او نۀ ورله فائده ورکوی |
| وَیَقُوۡلُوۡنَ هٰۤؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ قُلۡ |
| او وائی دوی دا سفارشیان دی زمونږ په دربار د الله کښ (په دنیا کښ)، اُووایه |

اَتُنَبِّئُوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي

آیا خبر ورکوئ تاسو الله ته په هغه څه چه نهٔ ئے پیژني الله تعالیٰ په آسمانونو او نهٔ په

الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۸﴾

زمکه کښ، پاك دے الله او اُوچت دے د هغے نه چه دوی ورسره شریکان جوړوی.

**تفسیر**: پدے آیت کښ په شرك باندے رټنه ورکوی او دا تعلق لری د ایمان بالله سره، چه دا مشرکان په الله ایمان نهٔ لری ځکه چه د هغهٔ سره برخه داران جوړوی. او څوك چه د الله تعالیٰ سره شریك جوړوی نو هغه په الله تعالیٰ باندے کافر دے.

دویم دا تعلق لری د (اَوْبَدِّلْهُ) سره، یعنی دوی وائی چه هغه آیتونه بدل کړه کوم کښ چه زمونږ د باباګانو، بتانو او شفعاؤ بدی بیان شوی وی، نو دلته الله تعالیٰ ددے تبدیل وجه بیانوی چه دوی ولے دا آیتونه بدلول غواړی؟، نو هغه وجه شرك د مشرکانو دے، یعنی د شرك د وجه نه دوی داسے مطالبه کوی.

**مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُم**: یعنی نهٔ ورته ضرر ورکولے شی او نهٔ ترے ضرر دفع کولے شی او هیڅ فائده هم نشی ورکولے او معبود خو هغه ذات ته وائی چه خپلو تابعدارو ته ثوابونه او خیرونه ورکوی او نافرمانو ته عذابونه ورکوی.

**شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ**: یعنی مشرکان وائی چه هرڅه الله کوی لیکن مونږ چه ددے معبودانو بندګی کوو نو دوی به زمونږ دپاره سفارش کوی، مونږه ئے دوی ته وایو او دوی ئے الله ته وائی.

سوال دادے چه مشرکان خو آخرت نهٔ مني نو څنګه وائی چه دا زمونږ سفارشیان دی د الله په دربار کښ؟ ۱- جواب دا دے چه د دوی اقوال متناقض (د یو بل نه مخالف) وو او خبرے ئے ګډے وډے وے لکه چه الله تعالیٰ دوی ته فرمایلی دی: ﴿اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ﴾ (الذاریات:۸) (یقیناً تاسو په ګډوډو خبرو کښ یئ) کله به ئے رسول الله ﷺ ته لیونے وئیلو او کله ساحر او کله شاعر، حال دا چه لیونے خو بی عقله وی او ساحر او شاعر خو ډیر هوښیار وی. او کله به ئے وئیل چه آخرت نشته نو کله به ئے وئیل چه باباګان مونږ دے دپاره نیولی دی چه که چرته آخرت را هم شی نو دوی به زمونږ دپاره سفارش کوی نو آخرت ئے د (کچرته) په درجه کښ منلو.

یا دا چه ځینو مشرکانو آخرت منلو۔ ابن جریجؒ وائی : دوی دا گمان لرلو چه دا معبودان به زمونږ دپاره په آخرت کښې سفارش کوی نو دوی به الله تعالیٰ په خپلو گناهونو نهٔ راگیروی۔ انتهیٰ۔ حال دا چه دا انتهائی جهالت دے ځکه چه د هغه چا نه د سفارش امید ساتی چه فی الحال هغوی سره اختیار د نفع او د ضرر نشته نو په آخرت کښې به هغوی ته څه اختیار حاصل وی؟!۔ (فتح البیان)

۲- جواب دا دے چه دا سفارش په امورو د دنیا کښې مراد وو۔ (قاله الحسنؒ)

ځکه چه مشرکان د آخرت دپاره شرك نهٔ کوی بلکه تول منده ئے د دنیا او د مال د پیدا کولو او د بچو دپاره وی۔ یعنی دا معبودان زمونږ حاجتونه الله تعالیٰ ته وړاندے کوی او هغه مونږ ته مالونه راکوی او اولادو کښې مو برکت اچوی۔

امام رازیؒ لیکی چه زمونږ د زمانے مشرکان هم پدے آیت کښې داخل دی، د هغوی هم دغه عقیده ده چه دوی د اولیاؤ او خپلو باباگانو قبرونو ته ورځی او د هغوی تعظیم کوی او دا وائی چه مونږ تا له راغلی یو او تهٔ الله تعالیٰ تهووایه چه زمونږ مال او اولاد کښې برکت واچوی۔

قُلْ اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ: په دے کښې په هغوی باندے یو علمی رد دے، حاصل ئے دا دے چه ستاسو معبودان او باباگان الله تعالیٰ خپل شریکان او سفارشیان نهٔ دی مقرر کړی او هر شے چه الله تعالیٰ نهٔ وی مقرر کړے نو هغه الله تعالیٰ ته نهٔ وی معلوم او کوم شے چه الله تعالیٰ ته معلوم نهٔ وی نو معلومیږی چه هغه وجود نهٔ لری، نوکه دوی چرته د الله تعالیٰ سره شریکان او بغیر د اجازت نه سفارشیان وے نو دے به وجود لرلے حال دا چه الله تعالیٰ د خپل مخلوق نه د خپل ځان سره هیڅ شریك او هیڅ سفارشی بغیر د اجازت د هغه نه نهٔ منی او نهٔ ورته معلوم دے، خو دوی په خپلو گمانونو ځانله فرض کړیدی چه دا زمونږ سفارشیان دی د الله په دربار کښې۔

او پدے کښې د کفارو ډیر سپکاوے او بی عزتی ده چه داسے شریکان او سفارشیان الله تعالیٰ له ثابتوی چه الله تعالیٰ ترے خبر هم نهٔ دے۔ (فتح البیان)

| وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا ؕ وَلَوْلَا |
| --- |
| او نهٔ وو خلق مگر ډله یوه وه (په توحید باندے) نو اختلاف ئے وکړو، او که چرته نهٔ وے |

| |
|---|
| كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ |
| خبره چه مخکښې شویده د طرف د رب ستا نه (چه د هر امت دپاره ئے نیته مقرر کړیده) |
| لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا |
| خامخا فیصله به شوې وې په مینځ د دوی کښې په هغه څه کښې |
| فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ |
| چه دوی په هغې کښې اختلاف کوی. |

**تفسیر**: پدې آیت کښې فرمائی: شرك عارضی دے او توحید فطری فدیه (پخوانے) دین دے. نو که ستاسو شرك اصلی وے نو الله تعالیٰ به خلك په هغې باندے پیدا کړی وے او حال دا چه شرکونه خو روستو پیدا شویدی نو تاسو د خپل اصل پلار نیکه لاره پریخوده او په مینځ کښې مو یو بل شے پیدا کړو، دا څومره ظلم دے چه خپل اصل فطرت مو بدل کړو.

او پدے آیت کښې بله مسئله د تهدید ده یعنی چه مشرکان د الله تعالیٰ سره برخه دار جوړوی نو الله تعالیٰ پرے عذاب ولے نهٔ راولی چه په یو ځل ئے ختم کړی چه شرکونه ئے ختم شی. نو الله تعالیٰ جواب کوی چه هغه د هر چا دپاره یوه نیته مقرر کړیده او د الله تعالیٰ عادت دا دے چه کافرو ته عذاب ورکوی خو په خپل وخت باندے ځکه که عذابونه بی وخته نازل شی نو بیا د دنیا نظام خرابیږی، امتحان نهٔ راځی او الله تعالیٰ دنیاً د امتحان کور جوړ کړیدے. نو په عذاب روستو کولو کښې حکمة دے.

او هر چه د مشرك دپاره عذاب دے نو هغه حق دے، خامخا به پرے راځی که فی الحال رانشی د یو حکمة په غرض، نو دا بیله خبره ده خو مشرك د عذاب نه نشی خلاصیدے. نو ددے د مضمون د سورت سره هم مناسبت ښکاره شو چه شرك د الله په نیز ډیر لوی بد عمل دے چه الله تعالی مشرك ته پدے سره سخت عذاب ورکوی. نو پدے کښې سخت وعید هم شو چه اے مشرکانو! سم شئ.

د آیت مطلب: الله تعالیٰ انسانانو لره د ابتداء د پیدائش نه صرف د دین توحید تابعدار جوړ کړی وو، بیا د زمانے په تیریدو سره د هغوی نه څه خلقو د فطرت دین پریخودو (لکه د نوح علیه السلام په زمانه کښې یا د آدم علیه السلام نه روستو) او د خپلو خواهشاتو تابعداری ئے شروع

کړه او د بتانو عبادت ئے شروع کړو او په مختلفو جماعتونو کښې تقسیم شول. نو الله تعالیٰ په دوی رحم وکړو او انبیاء علیهم السلام ئے ورته راولیږل، چه هغوی دوی ته د توحید دعوت ورکړو.

دلته وقف دے چه الله تعالیٰ ئے ولے نهٔ هلاکوی؟ نو جواب کوی: چه د یو حکمة دپاره ئے د دوی نه عذاب روستو کړیدے اګرکه د مشرك دپاره عذاب حق دے.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ: ۱-اَىْ بِاَنْ قَضٰى لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلًا. یعنی که د الله تعالیٰ د مخکښې نه دا فیصله نهٔ وے چه هغهٔ د هر امت د هلاکولو دپاره یوه نیټه مقرر کړیده چه د هغې نه مخکښې والے روستو والے نشی کولے که دا فیصله د مخکښې نه نهٔ وے نو دوی به ټول هلاك شوی وے. لیکن هغهٔ نیټه د یو حکمة په بنیاد مقرر کړیده.

۲- یا د کلمة نه مراد د الله تعالیٰ دا قانون دے چه د حجت تمامولو او د رسولانو د رالیږلو نه مخکښې هیچا ته عذاب نهٔ ورکوی نو ځکه ئے دے خلکو ته رسولان راولیږل او په حق او دین توحید باندے ئے پوهه کړل نو اُوس که دوی شرك کوی نو د عذاب مستحق به وی.

۳- کلبیؒ وائی: هغه کلمه دا ده چه الله تعالیٰ دے امت ته دا مهلت ورکړیدے چه دوی په دنیا کښې په یو ځل په عذاب باندے نهٔ هلاکوی.

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ: یعنی په دنیا کښې به د عذاب په نازلیدو او مکذبینو ته په جلتئ عذاب ورکولو سره د دوی ترمینځ فیصله شوے وے چه اهل حق به بچ وے او مکذبین به هلاك شوی وے. یا قُضِيَ بَيْنَهُمْ نه مراد د قیامت قائمول دی، یا د دوی هلاکول دی. اول مطلب ډیر واضح دے.

| |
|---|
| وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ج |
| او وائی دوی ولے نهٔ شی نازلولے په دهٔ باندے یوه نخه (مطلوبه) د طرفه د رب ددهٔ نه |
| فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ج اِنِّىْ |
| نو اُووایه یقیناً علم د غیب خاص الله لره دے، نو انتظار کوئ، یقیناً زهٔ |
| مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۲۰﴾ |
| ستاسو سره د انتظار کونکو نه یم. |

**تفسیر** : دا د مشرکانو بل کبر او تعنت دے د قرآن په باره کښې چه کله دوی ته ووئیل شی چه راشئ قرآن وومنئ نو دوی په کبر او عناد کښې وائی چه د قرآن او نورو معجزاتو په ځای یوه داسے نخه راوړه چه د هغے مونږ مطالبه کوو۔ د مثال په توګه مړی ژوندی کړه، یا غر نه سرۀ زر جوړ کړه، یا د آسمان نه ستا دپاره یو مزین او ښائسته کور راکوز شی، دے دپاره چه مونږ ستا د نبوت تصدیق وکړو، نو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته وویل چه تهٔ د دوی په جواب کښې ووایه چه د نخے نازلیدل غیبی خبره ده، چه د هغے علم صرف الله تعالیٰ ته دے، ما ته یا تاسو ته یا بل کوم مخلوق ته د هغے علم نشته دے، نو زهٔ ستاسو د مرضئ مطابق څنګه یوه نخه راوړم ؟ البته تاسو هم انتظار کوئ او زهٔ هم انتظار کوم چه الله تعالیٰ د چا په حق کښې فیصله کوی۔

مفسرین لیکی چه د دوی دا سوال د کبر او د عناد په بنیاد وو۔ که د الله په علم کښې وے چه دوی په خپل سوال کښې مُخلص دی نو د دوی د خواهش مطابق به ئے نخه ضرور رالیږلے۔

**فَانْتَظِرُوْا**: اَیْ قَضَاءَ اللّٰهِ بَیْنَنَا۔ (فتح البیان)

یعنی زمونږ ترمینځ د الله تعالیٰ د فیصلے انتظار کوئ۔ پداسے جمله کښې تهدید او دهمکی غرض وی چه کفر او شرك کوه پته به دِےِ ولګی چه عذاب به په چا راځی۔ یعنی لږ سوچ وکړه او په خپل عمل او عقیده باندے نظر ثانی وکړه، او توبه وباسه۔

| |
|---|
| وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ |
| او کله چه اُوڅکوو مونږ خلقو ته رحمت روستو د تکلیف نه چه رسیدلے وی دوی ته |
| اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْۤ اٰيَاتِنَا ؕ قُلِ |
| نو دغه وخت دوی له چل جوړول وی (مقابله کول وی) په آیتونو زمونږ کښې، تهٔ اُووایه |
| اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا ؕ اِنَّ رُسُلَنَا |
| الله جلت دے په تدبیر جوړولو کښې، یقیناً استازی (ملائك) زمونږ |
| يَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ﴿۲۱﴾ |
| لیکی هغه څه چه چلونه جوړوئ تاسو۔ |

**تفسیر** : **مضمون** : پدے آیت کښې د کافر انسان عادت او مزاج بیانوی (لکه دے کښې

هغه کسان هم داخل دي چه د دوی په شان وي پدے صفت کښ)
او هغه مزاج دا دے چه کله پرے مصيبت راشي نو الله تعالىٰ ته چغے وهي چه اے الله ! مدد وکړه او کله پکښ دا هم ووائي چه اے الله ! که تا مونږ ددے مصيبت نه خلاص کړو نو مونږ به ايمان راوړو لکه کفارو ډير کرته دا وعدے کړے وے لکه فرعونيانو به وئيل ﴿لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ﴾ (الاعراف : ١٣٤)
او عربو مشرکانو به د کشتئ د ډوبيدو په وخت کښ دا خبره کوله. او عامو انسانانو باندے الله تعالىٰ داسے پريشانيانی د دوی د متوجه کولو دپاره ډيرے راولی. نو کله چه به دوی ته الله تعالىٰ راحت ورکړو نو په هغه وخت کښ به ئے بيا مخالفت شروع کړو، لکه فرعونيانو او ابوجهل ډلے به د الله تعالىٰ د آيتونو مقابلے کولے. او ډير خلك د حق پرستو مقابله شروع کړی، د الله تعالىٰ صحيح دين نۀ منی، او سخت زړے شی.
بيا روستو آيت کښ ئے ددے مثال په کشتئ سره ذکر کړيدے.
بيا ئے د دنيا د زهد مثال بيان کړيدے. چه تاسو د دنيا دپاره څومره فکر مند يئ او آخرت مو په نظر کښ نشته، او پدے زجر او رټنه ورکوی. او بيا د آخرت د ورځے تفصيل بيانوی او د انسانانو دوه ډلے. يو حسناتو والا او بل سيئاتو والا. او بيا تخويف دے مشرکانو ته کوم چه سيئاتو والا دی، هغوی ئے په مثال کښ ذکر کړيدی.
بيا په نيمه رکوع کښ بيان د معرفة د الله تعالىٰ دے يعنی د الله د پيژندګلئ بيان دے. او دلائل د معرفت او رد د شرك ئے کړيدے. بيا د مشرکانو دليل ئے ذکر کړيدے چه هغه ظن دے په (٣٦) آيت کښ، بيا ئے د رسول الله ﷺ د رشتينوالی دليل بيان کړيدے چه هغه اتباع د قرآن ده، نو پدے وجه به د قرآن کريم عظمت بيان کړی چه دا داسے کتاب دے چه څوك ئے مقابله نشی کولے او کوم خلك ئے چه نۀ منی نو هغوی جاهلان دی، د هغوی بيان ئے کړيدے په ﴿بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ﴾ سره. بيا په (٤٠) آيت کښ د هغوی سزا، د هغے نه روستو به نور عنوانات راځی.

## مناسبت

مخکښ ئے دا ذکر کړل چه دوی د عناد او مکر په طور د خپلے مرضئ مطابق معجزے غواړی نو دلته د هغے تاکيد بيانوی چه دا دومره عنادګر دی چه کله دوی باندے يو لوی نعمت وکړے شی چه د مصيبت نه خلاص کړے شی نو د شکر په ځای دوی د حق مقابله

شروع کړي.

## د رحمة مطلبونه

اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً: د رحمة څکولو نه مراد دا چه دوی باندے رزقونه رافراخه کړي، د بیمارئ نه روستو صحت ورکړي، د غریبئ نه روستو مالداری ورکړي، او د آسمان نه بارانونه پرے رافراخه کړي او د دوی علاقے شنے او تازه شي او میوه جات ډیر حاصل شي نو د هغے هیڅ شکر نهٔ کوی بلکه د هغے په ځای خپلو بتانو ته سر په سجده کیږی او د الله تعالیٰ د آیتونو په باره کښ قِسم قسم خبرے جوړوی.

## د مکر مطلبونه

مَّكْرٌ: مکر حیلے ته هم وائی. او طعن او اعتراض کولو ته هم. او صاحب التسهیل وائی :(تَرْكُ شُكْرِهِمْ) مکر د دوی دا دے چه ددے نعمتونو شکر پریدی.

تفسیر معالم لیکی چه مکر دا هم دے چه نسبت ددے نعمتونو بتانو ته وکړی. (بغویؒ)

اَسْرَعُ مَكْرًا: خپله معنیٰ ئے ده : الله تعالیٰ ډیر جلت دے په چَل جوړولو کښ. حاصل معنیٰ ئے ده : أَسْرَعُ عُقُوبَةً وَأَشَدُّ أَخْذًا وَأَقْدَرُ عَلَى الْجَزَاءِ مِنْ سُرْعَةِ مَكْرِهِمْ. (فتح البیان)

الله تعالیٰ په سزا ورکولو کښ تیز دے او د هغه رانیول سخت دی او هغه په سزا ورکولو د دوی د تیز مکر نه هم ډیر قادر دے.

اِنَّ رُسُلَنَا: یعنی زمونږ ملائك هم ستاسو سازشونه لیکی، هیڅ شے د هغوی نه پټ نهٔ دے. او کله چه د هغوی نه پټ نهٔ دے نو د الله تعالیٰ نه ستاسو سازشونه څنګه پټ کیدے شی، تاسو ته به د هغے سزا ملاویږی. الله تعالیٰ ته همداسے معلوم دی لیکن د ملائکو په ذریعه ئے لیکی دے دپاره چه په بنده باندے پوره حجت قائم شي.

| |
|---|
| هُوَ الَّذِىْ يُسَيِّرُكُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ط حَتّٰى اِذَا كُنْتُمْ |
| الله هغه ذات دے چه روانوی تاسو په اُوچه او په دریاب کښ، تردے چه کله شئ تاسو |
| فِى الْفُلْكِ ج وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيْحٍ طَيِّبَةٍ |
| په کشتئ کښ، او روانے وی دا کشتیانے په دوی باندے په هوا مزیدارے سره |
| وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ وَّجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ |
| او خوشحاله وی دوی په هغے سره نو راشی هغے ته هوا تیزه او راشی دوی ته چپے د هر |

| |
|---|
| مَكَانٍ وَّظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ اُحِيۡطَ بِهِمۡ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ |
| طرف نه او گمان اُوکړي دوی چه گیره واچولے شوه د دوی نه، (نو) دعاگانے غواړي د الله نه |
| مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۚ لَئِنۡ اَنۡجَيۡتَنَا مِنۡ هٰذِهٖ |
| خالص کونکي وي هغه لره بلنه، (وائي) که بچ کړو تا مونږ لره ددے مصیبت نه |
| لَنَكُوۡنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيۡنَ ﴿۲۲﴾ |
| خامخا شوبه د شکر کونکو نه. |

**تفسیر** : پدے آیت کښې د الله تعالیٰ تعارف هم دے او د هغه د نعمت تذکره هم ده او مقصد پکښې دعوت دے دوی ته چه راشئ ایمان راوړئ او د هغهٔ شکر وکړئ.

او پدے کښې د الله تعالیٰ سره د مشرکانو دے لوظئ یو بل شکل بیان شویدے چه دوی کله په کشتو کښې سوارهٔ وی او د موافقو هواګانو په مدد سره خپل منزل طرف ته روانے وی نو دوی خوشحاله وی پدے کښې ناڅاپه طوفان په مینځ کښې راشی او چپے دوی د هر طرف نه راګیر کړی نو بیا په پوره اخلاص سره الله تعالیٰ رابلی او په زړهٔ کښې د الله تعالیٰ سره وعده کوی چه که دوی د مرګ نه خلاص شو نو د الله شکر ګذار بندګان به جوړیږو.

لیکن کله چه دوی ددے مشکل نه خلاص شی نو بیا کبر او عناد شروع کړی.

**جَرَيۡنَ بِهِمۡ:** پدے کښې التفات دے د مخاطب نه غائب ته، او دا دَلِيۡلُ الۡمَقۡتِ وَالتَّبۡعِيۡدِ وَمَزِيۡدِ التَّقۡبِيۡحِ دے. (یعنی په دوی باندے د غضب او غصے کولو او د دوی د رحمت نه جدا کولو او د زیات بد ګنړلو دلیل دے). (رازی والزمخشری- فتح البیان)

یعنی د دوی دا حال ئے خوښ نهٔ دے. لکه په (اِيَّاكَ نَعۡبُدُ) کښې التفات د غائب نه مخاطب ته دلیل د محبت وو. یعنی بنده چه کله د الله تعالیٰ مخکنی صفتونه بیان کړل نو د هغه سره ئے مینه پیدا شوه نو پدے وجه ئے خپل مخاطب وګرځولو.

**مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ** : دین دعاء (بلنے) او عبادت ته وائی. او مشرکانو به پدے وخت کښې وئیل چه اَخۡلِصُوۡا. یعنی پدے وخت کښې یواځے الله سبحانه ته آواز کوئ ځکه چه زمونږ معبودان پدے وخت کښې هیڅ نشی کولے.

دا د انسان طریقه ده چه کله د غفلت حالت کښې وی نو د الله تعالیٰ نه ئے مخ اړولے وی او چه کله په دهٔ باندے مشکلات راشی نو فطرت ئے ځای ته واپس شی نو خپل الله تعالیٰ

ويپيژنی۔ لکه ډير دهريه او کميونسټ خلك پداسې وخت کښې مؤمنان شوی دی او ډير مشرکان پداسې وخت کښې موحدين شوی دی او ډير غافلان پدې وخت کښې سخت ذاکرين شي او د الله تعالىٰ سره ئې سخت محبت پيدا شي۔

او دا دليل دې چه انسانان په وخت د تکليفونو کښې الله تعالىٰ ته په رجوع باندې پيدا کړې شويدی او اصل پيدائش د دوی په توحيد دې۔ (فتح البيان)

علامه صديق حسنؒ فرمائی : تعجب دې د بعض هغه مسلمانانو په حال چه د مړو په باره کښې غلطې عقيدې لری چه کله دوی ته داسې حالت په درياب کښې راشي نو دوی مړو ته آوازونه کوی او د الله تعالىٰ نه دعاء او رابلنه ترې هيره شي نو دوی د دغه مشرکانو نه هم زيات بد تر حالت والا دی۔ (فتح البيان)

عَاصِفٌ : يعنی تيزه هواء۔

مِنْ هٰذِهٖ: يعنی ددې حالت د هلاکت نه، / يا ددې تيزې هوا او سختو چپو نه۔

| |
|---|
| فَلَمَّآ اَنۡجٰهُمۡ اِذَا هُمۡ يَبۡغُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ |
| نو هرکله چه بچ کړی الله دوی لره، دغه وخت دوی ظلم کوی په زمکه کښې په ناحقه، |
| يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلٰٓى اَنۡفُسِكُمۡ ۙ مَّتَاعَ الۡحَيٰوةِ |
| اې خلقو ! يقيناً تاوان د ظلم ستاسو په ځانونو ستاسو دې، فائدې واخلئ فائدې د ژوند |
| الدُّنۡيَا ۫ ثُمَّ اِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۳﴾ |
| دنيوی بيا خاص مونږ ته راګرځيدل ستاسو دی نو خبر به درکړو په هغه څه چه تاسو ئې کوئ |

**تفسير** : يَبۡغُوۡنَ: بغی ظلم او تکبر ته وائی او د مشرکانو بغی دا وه چه د الله تعالىٰ سره به ئې شريکان جوړول او اعراض کول او شکر نهٔ کول لکه سورة بنی اسرائيل (٦٧) او سورة لقمان (٣٣) او عنکبوت (٦٣) کښې راغلی دی۔ ﴿اِذَا هُمۡ يُشۡرِكُوۡنَ﴾ يوه ډله د دوی نه د خپل رب سره شرك کوی۔ او مخکښې آيت کښې ذکر شو چه د الله تعالىٰ په آيتونو کښې مکر کول او د هغې مقابله کول د دوی بغی ده۔

يَا اَيُّهَا النَّاسُ : الله تعالىٰ دوی مخاطب کړل او وې وئيل چه ستاسو د سرکشئ نقصان ستاسو نه سویٰ بل چا ته نهٔ رسيږی۔ او دا د دنيا ژوند يو څو ورځې دی، بيا ستاسو الله ته واپس کيدل دی چه هلته به الله تاسو ته ستاسو د عملونو پوره پوره بدله درکوی۔

## اِنَّمَا بَغۡیُکُمۡ عَلٰٓی اَنۡفُسِکُمۡ :

**فائده** : ابو الشیخ، ابن مردویہ او ابو نعیم او خطیب په خپل تاریخ کښې د انس بن مالك ﷺ نه مرفوع روایت راوړیدے چه : [ثَلَاثٌ هُنَّ رَوَاجِعُ عَلٰی اَهۡلِهَا، اَلۡمَکۡرُ وَالنَّکۡثُ وَالۡبَغۡیُ]۔ درے څیزونه په انسان باندے خپله راواپس کیږی یو مکر دے چه څوك چاته چل جوړ کړی، دغه چل به ددهٔ سره کیږی۔ ﴿وَلَا یَحِیۡقُ الۡمَکۡرُ السَّیِّءُ اِلَّا بِاَهۡلِهٖ﴾ (فاطر:۴۳) او دویم بغی ده لکه دا آیت شو۔ او دریم نکث (لوظ ماتول) دی۔ لکه آیت دے : ﴿فَمَنۡ نَّکَثَ فَاِنَّمَا یَنۡکُثُ عَلٰی نَفۡسِهٖ﴾ ۔ (الفتح : ۱۰) او دا قول د مکحول نه هم نقل دے۔ صاحب د فتح البیان وائی : څلورم شے خداع (دهوکه) ده۔ ﴿وَمَا یَخۡدَعُوۡنَ اِلَّا اَنۡفُسَهُمۡ﴾ (بقره : ۹) پدے خبره انتهائی سوچ پکار دے، ډیره مفیده خبره ده۔

| |
|---|
| اِنَّمَا مَثَلُ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا کَمَآءٍ اَنۡزَلۡنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ |
| یقیناً مثال د ژوند دنیوی په شان د اُوبو دے چه راولیږو مونږ هغه د آسمان نه |
| فَاخۡتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الۡاَرۡضِ مِمَّا یَاۡکُلُ النَّاسُ |
| نو ګډوډ راوخیژی په هغے سره ګیاهګانے د زمکے د هغے نه چه خوری ئے انسانان |
| وَالۡاَنۡعَامُ ؕ حَتّٰٓی اِذَآ اَخَذَتِ الۡاَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَازَّیَّنَتۡ وَظَنَّ |
| او چارپیان تردے چه کله چه اُونیسی زمکه ډول خپل او ښائسته شی او ګمان وکړی |
| اَهۡلُهَآ اَنَّهُمۡ قٰدِرُوۡنَ عَلَیۡهَآ ۙ اَتٰهَآ |
| اُوسیدونکی د هغے چه یقیناً دوی قادر دی په هغے نو راشی هغے ته |
| اَمۡرُنَا لَیۡلًا اَوۡ نَهَارًا فَجَعَلۡنٰهَا حَصِیۡدًا |
| حکم (عذاب) زمونږ د شپے یا د ورځے نو اُوګرځوو مونږ هغے لره لَو کړے شوی (صفا) |
| کَاَنۡ لَّمۡ تَغۡنَ بِالۡاَمۡسِ ؕ کَذٰلِكَ نُفَصِّلُ |
| ګویا که نهٔ وه اُوسیدلی دا (زمکه) پرون، دغسے په تفصیل سره بیانوو مونږ |
| الۡاٰیٰتِ لِقَوۡمٍ یَّتَفَکَّرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ |
| آیتونه دپاره د هغه قوم چه فکر کوی۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د دنیا د زر زائله کیدو او بی ثباتۍ مثال راوړیدے۔

## مناسبت

مناسبت ئې دا دے چه دے مشرکانو ته دنیا لوی شے ښکاره شویدے که دوی دا عقیده لرلے چه دنیا زر ختمیږی او مونږ به صبا الله تعالیٰ سره ملاویږو نو دوی به بغی نهٔ کولے یعنی د الله سره شریکان، د الله تعالیٰ د آیتونو مقابله او د الله د نعمتونو ناشکری به ئې نهٔ کولے۔

د مثال حاصل دا دے چه لکه څنګه تازه بوټی د یو څو ورځو نه روستو مړاوی شی او بیا اُوچ شی او خپله تازګی او ښائست زائله کړی، همدغه حال د دنیا دے چه دا په خپل عارضی رونق او خائست سره خلك په دهوکه کښې اچوی، لیکن په کتو کتو سره د ژوند ورځے ختمے شی او مرګ راورسیږی او ټول بے رونقه پراتهٔ وی او انسان د دنیا نه رخصتیږی۔

دا مثال د هر انسان دپاره هم دے چه انسان په مزو کښې سر وی او ښه ځوانی ئې وی نو دے ګمان کوی چه دا به همیشه وی او خوندونه به اخلی مرګ ته ئې فکر هم نهٔ وی، نو ناڅاپی پرے مرګ راشی داسے شی لکه چه د سره په دنیا کښې پیدا نهٔ وو۔ لکه اُوګوره پخوانو پیړو ته چه څومره زر ختم شو، یوه پیړۍ یو فصل وکرځول شو بیا هغه ختمه شوه بله پیړۍ راغله تر زمونږ زمانے پورے ګویا که د سره په دنیا کښې موجود نهٔ وو۔ نو دا د دنیا د زر ختمیدو ښه مثال دے۔ پدے وجه سلف څکه وائی چه : اِذَا بَلَغْتَ الْاَرْبَعِيْنَ فَقَدْ آنَ حَصَادُهَا۔ کله چه ته څلویښتو کالو ته ورسیږے نو اُوس ددے فصل د ریبلو وخت رانزدے شویدے۔

او کله نا کله مالك د باغ راشی، ښه ګیاه هم د یو مقصد دپاره وریبی لکه مثلاً حیوان ته ئې اچوی نو دغه شان انسان هم کله ځوانیٔ کښې وفات کیږی نو پدے کښې د انسان دپاره لوی عبرت پروت دے۔

او پدے آیت کښې د قیامت د رانزدے کیدو وخت ته هم اشاره ده چه دا ددے آیت او د یو حدیث نه معلومیږی۔ تفصیل ئې دا دے چه کله دنیا کمال ته ورسیده چه هر شے په کښې موجود شو نو هغه به اُوس ختمیږی لکه زیب وزینت او قسما قسم بنګلے، او باغونه او د زمکے آبادیانے او ښکلے تاوونونه او ګاړی موټرے او سرکونه، او جهازونه وغیره موجود دی او د دنیا والا دا ګمان کوی چه مونږ په ټوله دنیا قادر یو، ټوله دنیا مونږ په خپل ګرفت کښې

رانیولے شو لکه اُوس وګوره انسانان چه کوم ځای ته رسیدل غواړی او د دنیا د آخر سر سره خبرے کول غواړی نو په ډیر معمولی وخت کښ هغے سره رابطه کولے شی، او هغے ته ځان رسولے شی، موبائل او نیټ ورك نظام ددے ښکاره ګواه دے، نو اُوس دنیا کمال ته بیخی نـزدے شویـده نـو فناء کیدل ئے هم رانزدے دی۔ او هغه حدیث دا دے چه د رسول الله ﷺ د اوښے نـه د اعـرابی یو اُوښ مخکښ شو نو صحابه کرام خفه شو چه ددے اُوښے نه څنګه د یو اعرابی اُوښ مخکښ شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل (د خفګان وجه نشته ځکه چه دا د الله تعالیٰ قانون دے) :

[لَا یَرْتَفِعُ شَیْءٌ مِنَ الدُّنْیَا اِلَّا وَضَعَهٗ]

چه د دنیا هیـڅ شے نهٔ اُوچتیږی مګر الله تعالیٰ به هغه ضرور خکته راکوزوی۔ (صحیح بخاری : ۲۸۷۲) نو دنیا چه پوره شی نو الله تعالیٰ ئے ختموی۔

او د دین په څیزونو کښ وخت په وخت ترقی راځی د هغے دپاره زوال نشته۔

**مِـمَّـا یَاْکُلُ النَّاس** : لـکـه غـنـم جـوار وریشے وغیـره انسـانـان خوری او عامے ګیاهګانے حیوانات خوری۔

**زُخْرُفَهَا** : یـعـنـی ډول خپـل۔ زخـرف په اصل کښ سرو زرو ته وائی، بیا ددے نه مراد هر هغه شے وی چه هغے کښ دهوکه شوی وی او مُزَوَّر وی۔ (الصحاح للجوهریؒ)

دلته ترے عام ښائست مراد دے چه دا په نباتاتو سره کیږی۔

**وَازَّیَّنَتْ** : ای تَـزَیَّـنَتْ بِهٖ ۔ یـعـنـی ښائستـه شی پـه سبب ددے ګیـاهګانو۔ او ګلانو او خـوشبـویانو سره ځکه چه زمکه په ګیاه ګانو او شینکیانو سره ښائسته ښکاره کیږی چه بنده له پکښ ګرځیدل خوند ورکوی۔

**قٰدِرُوْنَ عَلَیْهَا**: اَیْ عَلٰی حَصَادِهَا ۔ یعنی ددے په راشوکولو او پریکولو باندے قادر دی۔

**اَمْرُنَا**: اَیْ اَمْرُنَا بِالْعَذَابِ ۔ یعنی حکم زمونږ په عذاب سره۔

**لَیْلًا اَوْ نَهَارًا**: قتادهؒ فرمائی : [اِنَّ الْمُتَشَبِّثَ بِالدُّنْیَا یَاْتِیْهِ اَمْرُ اللهِ وَعَذَابُهٗ اَغْفَلَ مَا یَکُوْنُ]۔

دنیـا بـانـدے مـنـګـولے لږونـکـی تـه د الله تـعـالیٰ عذاب په ډیر غفلت حالت کښ راځی۔ (بغویؒ)

**حَصِیْدًا**: دلدُل، د الله تعالیٰ په عذاب چه وریبلے شی مراد ترے دا وی چه ضائع شی۔

**کَاَنْ لَّمْ تَغْنَ** : اَیْ وَتَصِیْرُ کَاَنْ لَّمْ تَغْنَ ۔ یـعنی داسے وګرځی لکه چه پرون پدے ځای کښ دوی نهٔ وو وسیدلی۔

| |
|---|
| وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ط وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ |
| او الله رابلي (بندګان خپل) كور د سلامتيا ته، او هدايت كوي چا له چه اُوغواړي لارے |
| مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٥﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى |
| برابرے ته۔ دپاره د هغه كسانو چه بنائسته عمل ئے كړيدے بنائسته بدله ده |
| وَزِيَادَةٌ ط وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ |
| او زياتي نعمت دے۔ او نۀ به پټوي (يا: دپاسه به نۀ راځي) مخونه د دوي لره خړوالے |
| وَّلَا ذِلَّةٌ ط اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ج هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٦﴾ |
| او نۀ ذلت، دا كسان جنت والا دي دوي به په دے كښې هميشه وي۔ |

**تفسیر :** د دنيا دے ثباتي او سپكوالي بيانولونه روستو پدے آيتِ كريمه كښې الله تعالىٰ د هغه جنت د حاصلولو ترغيب وركړيدے چه د امن او سلامتيا كور دے چه هلته به جنتيانو ته هيڅ پريشانتيا او هيڅ مصيبت نۀ رسيږي۔

**يَدْعُو :** اَیْ كُلَّ اَحَدٍ۔ يعني هر چا ته الله تعالىٰ دعوت وركوي۔ او هدايت ئے خاص دے، بعض بندګانو ته ئے كوي كوم كښې چه اهليت او حق طرفته انابت وي۔ هر شخص د جنت لائق نۀ وي۔ او دا دعوت ئے په خپل دے كتاب كښې جنت ته وركړيدے او د هغے دپاره ئے اعمال او عقيدے ذكر كړيدي۔

**دَارِ السَّلٰمِ :** ١- سلام يا لغوي معنىٰ مراد ده، كور د سلامتيا چه هغه جنت دے (زجاجؒ)۔ يعني د ټولو آفاتو او نقصانونو نه سلامتيا والا۔ ٢- يا سلام د الله تعالىٰ نوم دے يعني سلامتيا وركونكے، او دار كور ته وائي۔ يعني د الله تعالىٰ كور چه جنت دے۔ (الحسنؒ وقتادةؒ)

٣- يا د سلامونو كور، ځكه چه د جنت وسيدونكي به د الله تعالىٰ د طرفنه سلامونه آوري۔ دارنګه د ملائكو د طرفنه او خپل مينځ كښې به په يو بل سلامونه اچوي۔ ﴿سَلٰمٌ قَوْلًا مِنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ﴾ (يس: ٥٨) ﴿تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ﴾ (ابراهيم: ٢٣)

٤- بعض وائي: دار السلام د جنت د نومونو نه يو نوم دے لكه اُوه جنتونه دي (١) دَارُ السَّلَامِ، (٢) دار الْجَلَالِ۔ (٣) جَنَّةُ عَدْنٍ۔ (٤) جَنَّةُ الْمَاْوٰى۔ (٥) جَنَّةُ الْخُلْدِ۔ (٦) جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ۔

(۷) جَنَّةُ النَّعِيم۔ (لکه چه دا د ابن عباس ﷺ نه روايت شويدی) ۔

(القرطبی ۸/ ۳۲۹ وفتح البيان)

نو په يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَامِ کښې د الله تعالیٰ عدل ذکر دے او په ﴿وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ﴾ کښې احسان دے چه دا د بعضو خلکو سره کوی چه هدايت ته ئے راولی۔

لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ: ربط :

۱ - دار السلام په څه باندے حاصليږی ؟ نو ددے سبب بيانوی چه هغه نيك اعمال دی۔

۲ - مخکښې د اسلام دعوت ذکر شو نو اُوس د خلکو دوه ډلو ته تقسيم بيانوی۔ يوے ډلے دا دعـوت قبـول کـړو، د دنيـا رنـگـونـه او د نفس خواهشاتو نه په اوړيدو سره ئے د الله تعالیٰ رضا حاصلول د خپل ژوند مقصد جوړ کړو، او د هغۀ ئے داسے عبادت وکړو لکه چه دے الله تـعـالیٰ ته ګوری۔ داسے مؤمنان مخلصينو ته الله تعالیٰ د جنت زيرے ورکړيدے، او ددے نه هم د لوئی نعمت د خپل ديدار وعده ئے کړيده۔

## الحسنیٰ او زيادة څه شے دے ؟

۱ - حسـنیٰ د نيـکـئ بـدلـه شـوه چـه يـو پـه لسـه ده او زيادت دا چه يو په اوه سوه چنده ورکړی۔

۲ - مـجـاهـدؒ وائـی : حسـنیٰ د الله تعالیٰ د طرفنه مغفرت دے او زيادة د الله تعالیٰ رضوان (رضا) ته وائی۔

۳ - ددے نـه غـوره دا ده چـه حسـنیٰ جنت ته داخليدل دی او زيادة (رُؤۡيَةُ اللّٰهِ فِي الۡجَنَّةِ) په جنت کښې د الله تعالیٰ ديدار دے۔ لکه دا په حديث کښې راغلی دی، امام احمدؒ او امام مسلمؒ د صهيب رومی ﷺ نـه روايت کړيدے چه نبی ﷺ دا آيت ولوستلو او وے وفرمايل: ((چه کـلـه جـنـتيـان جنت ته او جهنميان جهنم ته داخل شی نو يو آواز کونکے به آواز وکړی چه اے جـنـت والـو ! الله تاسو سره يوه وعده کړے وه چه هغه اُوس پوره کول غواړی، هغوی به ووائـی چـه آيـا الله تـعـالیٰ زمـونږ تلے نۀ دی درنے کړی، آيا زمونږ مخونه ئے نۀ دی روښانه کـړی، او مـونـږه ئے د جهنم نه اړولو سره جنت ته داخل نکړو اُوس بل کوم شے باقی دے؟ نو الله تـعـالیٰ به پرده لرے کړی، او جنتيان به هغه ته وګوری۔ قسم په الله ! ددے ديدار د نعمت نـه لـوئـی هيـڅ نـعـمـت به دوی ته زيات محبوب نۀ وی او ددے نه لوئی سترګو ته يخوالے رسونکے به هيڅ شے نۀ وی))۔ (صحيح مسلم : ٤٦٧) واللفظ لاحمد)

ددے نه معلومیږي چه په جنت کښ د الله تعالیٰ لیدل حق دي، ډیر باطل پرست ئے نهٔ مني لکه معتزله وغیره۔

وَلَا یَرۡهَقُ: رهق پټولو ته او یو شے د بل شي دپاسه راتللو ته وائي۔ او اصل کښ مقاربة (نزدے والي) ته وائي۔ ځیني وائي: ددے معنیٰ دا ده چه نهٔ به پیوسته کیږي د دوی د مخونو پورے ذلت۔ لکه مراهق غلام هغه هلك ته وائي چه د سرو پورے پیوسته شوے وي۔ (یعني سړیتوب ته نزدے وي)۔ ځیني وائي: رهق دپاسه راتللو ته وائي۔ او دا معاني یو بل ته نزدے دي۔ (فتح)

قَتَرٌ: دا هغه ګرد وغبار ته وائي چه ورسره توروالے وي۔ یا د مخ تور والي ته وائي۔ مفرد ئے قَتَرَةٌ دے۔ یا قَتَرٌ په معنیٰ د کموالي سره دے لکه ﴿ وَلَمۡ یَقۡتُرُوۡا﴾ (الفرقان: ٦٧)۔ (فتح البیان)

ذِلَّةٌ: ذلت هغے خضوع او انکسار او سپکاوی ته وائي چه په مخ باندے ښکاره کیږي۔ مجاهدؒ وائي: دلته ترے شرم مراد دے۔

| |
|---|
| وَالَّذِیۡنَ کَسَبُوا السَّیِّاٰتِ جَزَآءُ سَیِّئَةٍۭ بِمِثۡلِهَا ۙ |
| او هغه کسان چه کړي ئے دي بدیانے، بدله د بدئ په شان د هغے ده، |
| وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ عَاصِمٍ ۚ |
| او دپاسه به راځي په دوی باندے ذلت، نهٔ به وي دوی لره د الله نه څوك بچ کونکے |
| کَاَنَّمَاۤ اُغۡشِیَتۡ وُجُوۡهُهُمۡ قِطَعًا مِّنَ الَّیۡلِ مُظۡلِمًا ؕ |
| ګویا که پټ کړے شویدی مخونه د دوی په ټکړو د شپه کښ چه تیارے والا وي، |
| اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۷﴾ |
| دا کسان اُور والا دي، دوی به پدے کښ همیشه وي۔ |

**تفسیر**: دا د دویمے ډلے بیان دے چه دوی د اسلام د دعوت سره مقابله وکړه۔ ددنیا په ډولونو کښ ننوتل او شرك او ګناهونه ئے وکړل، داسے خلقو ته الله تعالیٰ د جهنم زیرے ورکړیدے چه ددے نه لوئی هیڅ ذلت او رسوائی به نهٔ وي۔ او د الله تعالیٰ ددے عذاب نه به هیڅوك نشي بچ کیدے۔

جَزَآءُ سَیِّئَةٍۭ بِمِثۡلِهَا: یعني د یوے ګناه په بدله کښ یوه ګناه لیکلے کیږي او په هغے

باندې زیادت نهٔ کوی لکه په نیکئ کښ چه زیادت کوی۔
ذِلَّةٌ: دلته د گناه نه ذلت مراد دے یعنی سپك والے او شرم۔
مَالَهُمْ مِّنَ اللهِ : یعنی د الله تعالیٰ د عذاب نه به ئے هیڅوك بچ نکړی۔ یا مِنْ جَانِبِ الله مراد دے۔
كَاَنَّمَا: دا متعلق دے د پټ فعل پورے یعنی [اِسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ كَاَنَّمَا] د دوی مخونه به داسے تور شی گویا که د دوی مخونو ته د شپے تورے ټکړے وراغوستولے شویدی۔
قِطَعًا: ټکړو ته وائی۔ اخفش او قتادهٔ وائی: د شپے تیارے ته وائی۔ نو دا خلك به تور مخی او ذلیله وی۔
هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ : یعنی د سیئاتو په وجه انسان همیشه اُور ته ځی مَا لَمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ ۔ که مانع د همیشوالی نه موجود نهٔ وی او که ایمان (مانع) موجود وی نو بیا به پکښ همیشوالے نهٔ وی۔

| |
|---|
| وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ |
| او په هغه ورځ چه راجمع به کړو مونږ دوی لره ټول بیا به وایو هغه کسانو ته |
| اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ج |
| چه شرك ئے کړیدے اُودریږئ په ځائے خپل تاسو او شریکان (معبودان) ستاسو |
| فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ |
| نو جدائی به راولو مونږ په مینځ د دوی کښ او اُوبه وائی شریکان د دوی، نهٔ وئ تاسو |
| اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَكَفٰى بِاللهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا |
| چه مونږ لره مو عبادت مو کولو۔ پس کافی دے الله گواه په مینځ زمونږ |
| وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ |
| او په مینځ ستاسو کښ چه یقیناً وو مونږ د بندگئ ستاسو نه خامخا ناخبره۔ |

**تفسیر** : اُوس پدے کښ د سیئاتو مثال راوړی چه لویه سیئه څه شے دے؟ هغه اَلشِّرْكُ بِاللهِ۔ د الله تعالیٰ سره برخه داران جوړول دی۔ نو په قیامت کښ د مشرکانو بد حال ذکر کوی۔ کله چه دوی د محشر په میدان کښ د خپلو شریکانو سره راجمع کړے شی، نو الله

تعالیٰ به دوی ته وائی چه تاسو ټول په خپلو ځایونو ولاړ وسئ تردے پورے چه تاسو ته د خپل شرك انجام معلوم شی۔
دے نه روستو به مشرکین او د هغوی د شریکانو ترمینځ ټول تعلقات ختم کړے شی۔ مشرکانو ته به د خپلو شریکانو د هیڅ شفاعت امید باقی پاتے نهٔ شی او شریکان به خپله لمنه راکاږی او وبه وائی چه تاسو زمونږ عبادت نهٔ دے کړے بلکه د شیطان عبادت مو کولو۔ او الله تعالیٰ ګواه دے چه نهٔ مونږ تاسو ته د عبادت حکم کړے وو او نهٔ مونږ داسے خوښول او نهٔ مونږ ته ددے څه علم شته۔ په هغه وخت کښ به د مشرکانو دے وسئ او افسوسونو او نا امیدئ څه حال وی !!۔ ددے تصور پدے جهان کښ نهٔ شی کیدے۔
پدے شریکانو کښ به انسانان، پیریان، ملائك او کاڼو نه جوړ بتان ټول وی۔ ملائك او انبیاء علیهم السلام او نیکان خلق خو به په خپلو ژبو سره د براء ت اعلان کوی۔ او دوی په دنیا کښ هم ددے شرکی اعمالو نه راضی نهٔ وو۔ او د کاڼو نه جوړ بتانو ته به هم الله تعالیٰ د خبرو قوت ورکړی دے دپاره د مشرکانو نه اعلان د براء ت وکړی، او مشرکان وشرموی۔ بعض مفسرینو لیکلی دی چه دا وینا به مجازی وی، یعنی هغه بتان به په خپل زبانِ حال سره د بیزارئ اعلان کوی۔ لیکن اول قول غوره دے۔
**وَيَوْمَ** : اَیْ اُذْکُرْ یَوْمَ۔ رایاده کړئ دغه ورځ او اُوس په دنیا کښ ددے تصور وکړئ۔
**فَزَيَّلْنَا** : یعنی مونږ به معبودان او عابدان د یوبل نه جدا کړو او د دوی ترمینځ به هیڅ تعلق پاتے نهٔ شی۔
**وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ** : یعنی هغه خلك چه دوی هغوی لره په خپل ځان او مال او اولادو کښ شریکان کړی وو او د هغوی په نومونو به ئے نذر او منختے کولے او د هغوی عبادتونه به ئے کول نو هغوی به د دوی نه د برائت اعلان وکړی او وبه ئے شرموی چه تاسو خو زمونږ عبادت نهٔ دے کړے۔
**مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ** : سوال دا دے چه مشرکانو خو د دوی عبادت کړے وو نو دوی څنګه انکار کوی چه تاسو زمونږ عبادت نهٔ دے کړے؟ جواب دا دے چه روستو نه معلومیږی چه دا معبودان د مشرکانو د عبادت نه هیڅ خبر نهٔ دی نو ځکه انکار کوی، نو پدے کښ په مشرکانو رد دے چه اے مشرکانو ! تاسو چه د انبیاؤ او د اولیاؤ د قبرونو عبادت کوئ نو دوی ستاسو د عبادت نه هیڅ خبر نهٔ دی نو ځکه به په قیامت کښ ستاسو د عبادتونو نه انکار کوی چه تاسو مونږ له هیڅ عبادت نهٔ دے کړے او الله تعالیٰ به

پدے باندے ګواه کوی۔ ددے نه معلومیږی چه شرك ټول وَهم او خیال دے، او حقیقت دا دے چه بنده صرف د الله تعالیٰ بندګی وکړی۔

او دا آیت دلیل دے په نفی د سماع موتیٰ باندے۔ چه مړی د ژوندو د حال نه خبر نهٔ دی، د دنیا سره ئے هیڅ تعلق نشته۔

| |
|---|
| هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ |
| په دغه ځائے کښ به پته اُولګی هر نفس ته د هغه عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے |
| وَرُدُّوْٓا اِلَى اللهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ |
| او واپس به کړے شی دوی الله ته، چه مالك د دوی دے رشتینی او ورك به شی د دوی نه |
| مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۳۰﴾ |
| هغه دروغ چه دوی به جوړول۔ |

**تفسير**: هُنَالِكَ: یعنی په دغه میدان کښ به معلومه شی او ښکاره به شی هر نفس ته هغه عملونه چه دهٔ مخکښ قیامت ته رالیږلی وی، خیر وی او که شر۔

تَبْلُوْا: اَیْ تَذُوْقُ، وَتَخْتَبِرُ، وَتَعْلَمُ، وَقِیْلَ تَتَّبِعُ مِنَ التِّلْوِ۔ (فتح البيان)

یعنی وبه څکی، او معلومه به کړی او پوهه به شی/یا روان به شی، دا د تلو نه دے، په معنیٰ د وروسته کیدو دے۔

ابن زیدؒ وائی: تُعَایِنُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ۔ وبه وینی هر نفس هغه عمل چه دهٔ کړیدے۔

لکه الله فرمائی: ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا اَحْضَرَتْ﴾ هر نفس ته به هغه عمل معلوم شی کوم ئے چه قیامت ته حاضر کړیدے۔ (التكوير: ١٤)

وَرُدُّوْا: یعنی بیا به مشرکان الله تعالیٰ ته واپس کړے شی یعنی د هغهٔ سزا او هغه عذابونو ته چه دوی له ئے تیار کړیدی۔ نو مخکښ حساب وو او دلته عقوبت دے۔

مَوْلٰهُمْ: دلته مولیٰ په معنیٰ د مالك او رب سره دے۔

الْحَقِّ: یعنی رشتینی ربوبیت والا۔ حاصل دا شو چه مشرکان به په دغه مقام کښ حق ته واپس شی، او په هغے به اقرار وکړی او د خپلو معبودانو د باطل والی اقرار به وکړی، لیکن دغه وخت به څه فائده ورکړی؟!۔

| |
|---|
| قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ |
| ووایه ! څوك روزي دركوي تاسو ته د آسمان او د زمكے نه يا څوك دے چه اختيارمند دے |
| السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ |
| د غوږ او د سترګو او څوك راوباسي ژوندے د مړي نه او راوباسي مړ د ژوندي نه |
| وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ |
| او څوك تدبير كوي د ټولو كارونو (د عالَم) نو زر دے چه وبه وائي دوي الله دے، نو ووايه |
| اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا |
| آيا نو نۀ يريږئ د الله نه۔ نو دغه صفتونو والا الله دے رب ستاسو په رښتيا، نو نشته |
| بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚۖ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿۳۲﴾ |
| روستو د (پريخودو د) حق نه مګر ګمراهي ده، نو په كوم طرف ګرځولے شئ تاسو۔ |

**تفسیر :** ربط :

د محشر په ميدان كښ د مشركانو د بد حال بيانولو نه روستو د هغوي د شرك په خلاف دلائل او براهين پيش كيږي، او هغوي ته د فكر دعوت وركړے كيږي چه كله تاسو اقرار كوئ چه هغه ذات يواځے د ټولو رزق رسان دے، هغه د آوريدو او ليدلو صلاحيت وركړيدے، هغه ژوندے د مړي نه او مړے د ژوندي نه راوباسي يعني ميوه د هډوكي نه او هډوكے د ميوے نه، مؤمن د كافر نه او كافر د مؤمن نه، انډه د چرګے نه او چرګه د انډے نه راوباسي، او هغه يواځے د ټول جهان مدبر او پروګرام چلونكے دے، نو بيا تاسو څنګه نۀ يريږئ چه هغه پريږدئ او د غيرو عبادت كوئ ؟۔

نو پدے آيت كښ يو د الله سبحانه وتعالیٰ د معرفت بيان دے چه پدے كښ مقصد د بندګانو ايمان خپل خان طرفته راجلب كول دي چه په داسے ذات ايمان راوړئ چه دا دا صفات لري۔ او په تاسو ئے دا دا انعامات هم كړيدي۔

دويم مقصود پكښ رد دے په شرك باندے چه دا ذكر شوي ټول تصرفات څوك كوي؟ صرف يو الله تعالیٰ، نو بيا تاسو ولے د هغه سره شريكان جوړوئ؟!۔

**قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ :** دا دليل عقلي اعترافي دے چه مشركان هم پدے څيزونو اقرار كوي۔

وَمَنْ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ : دا تعميم بعد التخصيص دے۔ يعنى د عالَم د ټولو كارونو تدبير او د چلولو پروګرام څوك كوى؟۔
فَقُلْ: يعنى هر كله چه تاسو الله تعالىٰ ددے كارونو رب منئ نو بيا د هغهٔ سره شرك ولے كوئ ؟ پكار دا ده چه د هغهٔ توحيدِ اُلوهيت هم ومنئ نو دا استدلال شو د توحيد ربوبيت نه دپاره د اثبات د توحيد اُلوهيت۔ يعنى توحيد ربوبيت دليل وګرځول شو د توحيد اُلوهيت دپاره۔
تَتَّقُوْنَ : د تقوىٰ دعوت ئے وركړو ځكه چه دا د ايمان اعلىٰ درجه ده۔ يعنى د الله تعالىٰ بندګى وكړئ او حكمونه ئے ومنئ او د هغه سره محبت وساتئ۔ او دا دعوت غافل مؤمن ته هم دے چه هغه ددے څيزونو اقرار كوى ليكن بيا هم كامله تقوىٰ نهٔ كوى۔
فَذٰلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ: پدے كښ د مخكښ خبرے زيات تاكيد دے، دغه الله تعالىٰ چه د ټول جهان پالونكے دے، او د ټولو كارونو فاعل حقيقى دے، هغه ستاسو حقيقى معبود دے، او د حق او د باطل ترمينځ كومه دريمه لاره نشته، ځكه چه د هغهٔ نه سوىٰ هيڅ لائق د عبادت هم نشته۔ نو اے مشركانو ! تاسو د الله تعالىٰ توحيد څنګه پريدئ او د شرك په لاره روانيږئ۔
فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ : يعنى د حق نه روستو به متصل ګمراهى راځى او د حق او د باطل ترمينځ دريمه لاره نشته۔ يعنى داسے نشى كيدے چه يو تن د حق نه واوړى او ګمراه دِے نشى۔ نو حق او ضلال نقيضين دى چه اجتماع او ارتفاع د دواړو ناروا ده۔
او پدے كښ اشاره ده چه شرك، غفلت او د الله تعالىٰ نافرمانى ګمراهى ده، او د حق نه جدا كيدل دى۔
تُصْرَفُوْنَ: يعنى اړولے شئ۔ اَىْ فَكَيْفَ تَسْتَجِيْزُوْنَ الْعُدُوْلَ عَنِ الْحَقِّ الظَّاهِرِ۔
يعنى تاسو څنګه د ښكاره حق نه اوړيدل جائز ګڼړئ او په ګمراهئ كښ واقع كيږئ۔ او استفهام انكارى تعجبى دے۔

| كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا |
|---|
| دغسے ثابته شويده فيصله د رب ستا په هغه كسانو چه نافرمان دى |

| |
|---|
| اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ |
| چه بیشکه دوی ایمان نهٔ راوړی۔ |

**تفسیر** : مشرکانو چه کله د الله تعالیٰ دپاره د ربوبیت د صفاتو د اقرار وکړو او ددے سره سره ئے بیا هم په شرك همیشوالے وکړو او د الله تعالیٰ په ځای ئے د غیرو عبادت وکړو نو الله تعالیٰ د هغوی په باره کښ فیصله صادره کړه چه دا خلق بد بخته جهنمیان دی، اُوس به هیڅ کله دوی ایمان نهٔ راوړی۔

دا د دوی دپاره عقوبت او سزا شوه او وجه ئے د دوی فسق شو۔

او فَسَقُوْا لفظ کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ په دوی باندے ظلم ونکړو بلکه دا د دوی د فسق سزا ده۔ او دا د خاصو کفارو په باره کښ حکم دے چه الله تعالیٰ ته معلوم وی چه دوی ضدیان دی او حق طرفته نهٔ راځی نو الله تعالیٰ ورله د سزا په طور په زړونو مهر ووهی چه اُوس به دوی ایمان نهٔ راوړی۔ او هر فاسق نهٔ دے مراد.ځکه چه ډیرو فاسقانو ایمان راوړیدے۔

**كَذٰلِكَ حَقَّتْ** : اَیْ مِثْلَ ذٰلِكَ الْحَقِّ حَقَّتْ ۔ یعنی د دغه حق په شان ثابته شویده۔ (زمخشری)

**كَلِمَتُ رَبِّكَ** : ددے نه قَدَری (تقدیری) فیصله مراد ده۔

| |
|---|
| قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآءِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ |
| اُووایه ! آیا شته د معبودانو ستاسو نه هغه څوك چه ابتدائی پیدائش کوی |
| ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ |
| بیا به ئے دوباره کوی (نشته)، تهٔ اُوایه ! الله ابتدائی پیدائش کوی بیا به ئے دوباره کوی |
| فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ |
| نو څنګه ګرځولے شئ (د الله نه)۔ ووایه ! آیا شته ستاسو د معبودانو نه هغه څوك |
| يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ اَفَمَنْ |
| چه رَسول کوی حق ته، ووایه ! الله تعالیٰ رَسول کوی حق ته، آیا پس هغه څوك |

| |
|---|
| يَّهِدِّيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ |
| چه رَسول كوى حق ته ډير لائق دے ددے چه د هغه تابعدارى وكړے شى. |
| اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ج |
| (په اُلوهيت كښې) يا هغه څوك چه لار نشى موندلے مگر دا چه لاره وخودے شى هغه ته |
| فَمَا لَكُمْ قف كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٥﴾ |
| نو څه وجه ده تاسو لره څنگه فيصلے كوئ (بے دليله). |

**تفسير**: د مشركانو په خلاف حجت قائميږى او د شرك رد كيږى چه اے زما نبى (ﷺ)! لږ ددے مشركانو نه پوښتنه وكړه چه ستاسو د شريكانو نه څوك دے چه انسان د نطفے نه پيدا كړى، بيا د يوے مقررے مودے نه روستو په هغه باندے مرگ راولى، او بيا د قيامت په ورځ ئے دوباره ژوندے كړى؟ تـهٔ ووايه چه يقيناً جواب همدا دے چه هيڅوك نشته، هغه صرف الله تـعالىٰ دے چه پدے قـادر دے نـو بيا تاسو د هغه نه سِوىٰ د نورو عبادت څنگه كوئ ؟!.

**ثُمَّ يُعِيْدُهٗ**: يـعـنـى چـه يـو شے يو ځل ختم شى او دوباره ئے پيدا كړى. لكه د غنم دانه اول پيدا كړى بيا ختمه شى بيا ئے دوباره راپيدا كړى.

**يَبْدَؤُا الْخَلْقَ**: دا الفاظ قرآن كريم كښې بار بار راځى، ددے دوه مطلبه دى او دواړه مراد دى

(۱) يـو دا چـه عـالَم ابتـداءً مـوجـود نـهٔ وو الله تـعالىٰ راپيدا كړو بيا به په عالَم كښې تغيير راولى او دوباره به ورله يو بل ترتيب وركړى. لكه د قيامت معنىٰ دا نهٔ ده چه عالَم به ختم شى بلكه تغيير به پكښې راشى. ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ﴾ (ابراهيم: ٤٨)

(په كومه ورځ چه بدله به كړے شى دا زمكه په بله زمكه)

(۲) الخلق: د هر شى اول پيدائش او دوباره پيدائش ته وائى لكه انسانان، حيوانات او نور ځيزونه، چه اول ئے هم الله پيدا كوى او دوباره به ئے هم پيدا كوى.

**فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ**: پدے كښې د دوى د حال نه تعجب كول مقصود دے.

**قُلْ هَلْ مِنْ**: ددے مشركانو په خلاف بل حجت قائميږى چه اے زما نبى (ﷺ)! لږ خو د دوى نـه تـپوس وكړه چه آيا ستاسو د شريكانو نه څوك دے چه حيران او گمراه انسان ته لاره وښائى؟ نو هركله چه دوى د حق جواب نه جاهلان وو يا ضديان وو نو الله تعالىٰ خپل

نبی ته حکم وکړو چه تهٔ ووايه چه يقيناً جواب همدا دے چه هيڅوک نشته دے، هغه صرف الله تعالیٰ دے چه پدے قادر دے، نو بيا عبادت صرف د هغه کيدل پکار دی۔ نهٔ د هغه بتانو چه د يو ځای نه بل ځای ته په نقل کولو کښې هم د بل محتاج دی۔ دا څنګه ستاسو کم عقلي ده او څنګه ظالمانه فيصله ده ؟!۔

يَّهۡدِیۡۤ اِلَی الۡحَقِّ : يعنی رَسُول کوی او بندګان رسوی حق او حقيقت ته او د کاميابئ لارے ته۔ نهٔ ستاسو هغه معبودان چه تاسو پرے ګمان کوئ چه دوی د الله سره شريکان دی۔ الله تعالیٰ حق طرفته هدايت کوی ځکه چه هغه په مخلوقاتو کښې داسے دلائل ودرولی دی چه د الله تعالیٰ په توحيد دلالت کوی او رسولان ئے راليږلی دی او کتابونه ئے نازل کړيدی او بندګانو ته ئے عقلونه او فهمونه او غوږونه او سترګے ورکړيدی دے دپاره چه حق ته پرے ورسيږی۔ (فتح البيان)

اَحَقُّ اَنۡ يُّتَّبَعَ: اَیۡ فِی الۡاُلُوۡهِيَّةِ۔ ډير لائق دے چه د هغه تابعداری وکړے شی په اُلوهيت او بندګئ کښې۔

لَّا يَهِدِّیۡۤ: دا په اصل کښې لَا يَهۡتَدِیۡ دے۔ يعنی د خپل ځان دپاره هدايت نشی حاصلولے بلکه بل ته محتاج دے نو ستاسو آلهه خو په خپل هدايت کښې هم محتاج دی الله تعالیٰ ته نو هغوی به بل ته څه هدايت وکړی۔ که د بتانو سره ولګی نو بيا معنیٰ دا چه بتان خپله نشی تللے مګر دا چه بل څوک ئے يو ځای ته يوسی۔ او دا هدايت کله لغوی وی لکه لاره خودل او کله هدايت شرعی وی۔

فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ : ستاسو دا فيصله څنګه ناشنا ده چه د غير الله عبادت کوئ او دغه عظيم الله تعالیٰ پريدئ چه دغه مخکنی صفات لری۔ يعنی تاسو باندے څه شويدی او په تاسو باندے پدے فيصله کولو کښې څه باعث دے چه داسے غلطه فيصله کوئ او کوم عقل درته دا خبره خودلے ده۔

| |
|---|
| وَمَا يَتَّبِعُ اَكۡثَرُهُمۡ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغۡنِیۡ مِنَ الۡحَقِّ |
| او نهٔ دی روان ډير د خلقونه مګر د ګمان پسے، يقيناً ګمان فائده نهٔ ورکوی د حق نه |
| شَيۡـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بِمَا يَفۡعَلُوۡنَ ﴿۳۶﴾ |
| د هيڅ شی، يقيناً الله پوهه دے په هغه څه چه دوی ئے کوی۔ |

**تفسیر**: یعنی د دوی سره بل دلیل نشته سویٰ د گمان نه یعنی دا مشرکان چه بتان خپل معبودان گنړی نو د دوی سره د اَوهامو او خیالاتو او فاسد قیاس نه سویٰ بل هیڅ دلیل نشته دے۔ او دا خو معلومه ده چه په اَوهامو او خیالاتو سره حقائق نهٔ بدلیږی۔ پدے وجه دا مشرکان دِے پو هه شی چه الله تعالیٰ د دوی تمام شرکی اعمال لیکی چه د هغے بدله به د قیامت په ورځ دوی ته ضرور ورکوی۔

**اِلَّا ظَنًّا**: ظنًّا ئے نکره راوړه یعنی ضعیف شان گمان چه هیڅ دلیل ته مستند نهٔ دے بلکه هسے خیال دے چه دوی پکښ د خپلو پلارانو تابعداری کړیده۔ گمان ئے دا دے چه زمونږ پلار نیکه ددے آلهه ؤ عبادت کړیدے او هغوی پو هه عقلمند خلك وو نو دوی کښ به ئے څه خیر لیدلے وی، نو کیدے شی چه مونږ ته به هم خیر ملاؤ شی۔ او کله ئے داسے گمان هم وی چه یو حاجت ورله الله تعالیٰ پوره کړی نو گمان ئے دا وی چه بابا ته به ما هره ورځ چغے وهلے دا دعا راله دهٔ قبوله کړه۔ لکه یو تن یو قبر ته ورشی هلته ئے بیماری الله تعالیٰ ښه کړی ځکه چه الله تعالیٰ دغه ورځ د ښه کولو ددهٔ دپاره مقرر کړی وی نو دے وائی چه اُوسه پورے نهٔ ښه کیدم خو چه د فلانی بابا قبر ته راغلم نو ښه شوم نو گمان ئے دا وی چه دا د ولی برکت دے۔ حال دا چه حاجت ئے الله تعالیٰ پوره کړے وی او یقین ئے په بل راشی۔

**اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِىْ مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا** : اَىْ لَايُفِيْدُ وَلَايَنْفَعُ ۔ د حق نه مراد علم یقینی دے۔ د اغناء معنیٰ ده فائده ورکول۔ یعنی گمان د حق په ځای هیڅ فائده نهٔ ورکوی او د حق په ځای څه کار نهٔ ورکوی۔ یعنی یو حقیقت ته که تهٔ ځان رَسول غواړے نو هغے دپاره علم یقینی پکار دے، په گمان باندے ورته نشے رسیدلے۔ او د مشرکانو سره یقینی دلیل نشته نو دوی په حقیقت روان نهٔ دی بلکه په باطل روان دی۔ توحید یقینی دے او شرك صرف وهم او گمان دے۔

| |
|---|
| وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ |
| او نهٔ دے دا قرآن چه جوړ کړے شی سویٰ د الله نه لیکن (نازل شویدے) دپاره د تصدیق |
| الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ |
| د هغه کتابونو چه مخکښ دی ددهٔ نه او دپاره د تفصیل د پخوانو کتابونو |
| لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۷﴾ |

نشته هیڅ شك پدے کښې د طرف د رب العالمین نه۔

**تفسیر** : په تیر شوی آیتونو کښې د الله تعالیٰ توحید د دلائل او براهینو په ذریعه تفصیل سره بیان شو، اُوس د نبی کریم ﷺ د رشتینوالی او د وحی الٰهی د حقانیت دلیل بیانوی۔ مخکښې عقلی دلیلونه وو او دلته نقلی دلیل بیانوی۔

او پدے کښې ضمناً د شرك رد هم پروت دے چه دا قرآن حق کتاب دے او ددے مضامین حق او رشتینی دي نو دا چه کوم توحید ثابتوی دا حق دے۔

**وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ**: یعنی دا قرآن چه په فصاحت او بلاغت کښې داسے حد ته رسیدلے دے چه د انسان د سوچ نه پورته دے چه پدے کښې د انسانانو د دنیاوی او اُخروی خیګړو دپاره ټولے ممکنے معانی او مضامین موجود دی، دا د الله په ځای د کوم انسان جوړ شوے کلام نشی کیدے۔ دا خو هغه ربانی کلام دے چه د تمامو مخکنو آسمانی کتابونو تصدیق او تائید کوی، او په هغے کښې چه کوم تحریفات شویدی هغه صفا صفا بیانوی، او حلال او حرام او نور تمام احکام چه د هغے تعلق د انسانی ژوند سره دے هغه پداسے تفصیل او وضاحت سره بیانوی چه د هیڅ عقل والا په زړۀ کښې هیڅ شبه نۀ پاتے کیږی چه دا کلام د الله تعالیٰ دے۔

**وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ** : تصدیق منصوب دے په کان مقدر سره۔ اَیْ وَلٰكِنْ كَانَ تَصْدِيْقَ۔ لیکن دا تصدیق دے۔ یا تقدیر داسے دے : [نُزِّلَ لِتَصْدِيْقِ الَّذِیْ] لیکن دا نازل شویدے دپاره د تصدیق د پخوانو کتابونو۔ په هغه کتابونو کښې هم رد د شرك او اثبات د توحید او د آخرت وو نو پدے کتاب کښې هم دغه مضامین دی۔

**وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ** : کتاب دلته جنس دے یعنی هغه کتابونه چه ددے نه مخکښې تیر شویدی د هغے تفصیل کوی۔

نو د استدلال طریقه داسے شوه چه د الله تعالیٰ توحید (او یووالے) حق دے ځکه چه پخوانو کتابونو کښې هم دا مسئله وه نو قرآن کښې هم دغه شان دی۔ دویم دا استدلال شو د حقانیت دقرآن دپاره چه دا قرآن تفصیل د مخکنو کتابونو دے نو که دا د ځان نه جوړ شوے وے نو رسول الله ﷺ خو یو امی شخص وو هغه به د تورات او د انجیل د مضامینو نه څه خبر وو چه هغه شان خبرے ئے امت ته کړے وے۔

ځینی د الکتاب نه مراد د قرآن کریم احکام اخلی او معنیٰ داسے کوی : « اودپاره د

تفصیل د فرض شوو حکمونو (د الله)۔ لیکن دا د سیاق سره برابره نهٔ ده۔ لهذا دا غوره تفسیر نهٔ دے۔

| اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰىهُ ؕ قُلۡ فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَةٍ مِّثۡلِهٖ |
|---|
| آیا وائی دوی دا قرآن ئے د ځان نه جوړ کړیدے اُووایه ! نو راوړئ یو سورت په شان ددے |
| وَادۡعُوۡا مَنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۳۸﴾ |
| او را اُوبلئ هغه څوك چه طاقت لرئ تاسو سوئ د الله نه كه یئ تاسو رشتینی۔ |

**تفسیر** : الله تعالیٰ د عربو مشرکان ددے قرآن په باره کښ په درے مراحلو کښ چیلنج کړل۔ په ابتداء کښ د ټول قرآن په شان راوړو چیلنج ئے ورکړو لکه په سورة الاسراء آیت (۸۸) کښ ئے وفرمایل : ﴿ قُلۡ لَّئِنِ اجۡتَمَعَتِ الۡاِنۡسُ وَالۡجِنُّ عَلٰٓى اَنۡ يَّاۡتُوۡا بِمِثۡلِ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لَا يَاۡتُوۡنَ بِمِثۡلِهٖ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ ظَهِيۡرًا ﴾ او کله چه عرب د خپل تمام لسانی فصاحتونو او بلاغتونو د دعوو باوجود ددے کار نه عاجز پاتے شو نو الله تعالیٰ د قرآن کریم په شان د لسو سورتونو راوړو چیلنج ورکړو لکه په سورة هود آیت (۱۳) کښ فرمائی :

﴿ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰىهُ قُلۡ فَاۡتُوۡا بِعَشۡرِ سُوَرٍ مِّثۡلِهٖ مُفۡتَرَيٰتٍ وَّادۡعُوۡا مَنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴾ او کله چه پدے هم غلی پاتے شو او د دوی د لسانی غرور بُت د دوی په قدمونو کښ مات رامات شو نو قرآن کریم د دوی د کبر او غرور ماتولو دپاره آخری چیلنج ورکړو چه که تاسو دا گمان کوئ چه دا قرآن محمد ﷺ د خپل ځان نه جوړ کړے کلام دے نو تاسو هم ددهٔ په شان انسانان یئ لر د قرآن په شان یو سورت خو راوړئ او د خپل مدد دپاره چه څوك غواړئ راوبلئ۔ ددے چیلنج دپاره الله تعالیٰ ددے سورت دا آیت نازل کړو :

﴿ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰىهُ قُلۡ فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَةٍ مِّثۡلِهٖ وَادۡعُوۡا مَنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صَادِقِيۡنَ ﴾

لیکن تاریخ گواه دے چه ددے چیلنج جواب تر نن پورے هیچا ورنکړے شو، او نهٔ به د قیامته پورے څوك ورکړے شی، ځکه چه دا قرآن د الله تعالیٰ معجزه ده، هیڅ انسان ددے په شان کلام نشی راوړے۔ او دا ډیر قوی چیلنج دے چه یو تن او امی شخص ئے ټولو عربو او عجمو (ټول مخلوق) ته ورکوی۔

وَادۡعُوۡا مَنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ : یعنی تاسو خپل معاونین راوغواړئ کوم باندے چه ستاسو وس وی چه دوی به د الله تعالیٰ نه سوئ مدد وکړے شی او داسے کلام به جوړ کړے شی یعنی

نور عرب هم ځان سره یو ځای کړئ یا د خپل آلهه ؤ نه مدد وغواړئ۔ (فتح البیان)
اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ : كه تاسو په خپله دعویٰ كښې رشتینی یئ چه دا قرآن د ځان نه جوړ شویدے۔ / یا دغه معبودان ستاسو مدد كولے شی۔

| |
|---|
| بَلۡ كَذَّبُوۡا بِمَا لَمۡ يُحِيۡطُوۡا بِعِلۡمِهٖ |
| بلكه دروغجن ګڼړی دوی هغه كتاب (قرآن) چه نهٔ دے راګیر كړے دوی علم د هغے |
| وَلَمَّا يَاۡتِهِمۡ تَاۡوِيۡلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ |
| او نهٔ دے راغلے دوی ته انجام د نهٔ منلو د قرآن، دغه شان دروغژن ګڼړلی وو (رسولان) |
| الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۳۹﴾ |
| هغه كسانو چه مخكښې وو د دوی نه نو اُوګوره څنګه شو انجام د ظالمانو۔ |

**تفسیر** : دلته الله تعالیٰ فرمائی : دوی ددے چیلنج هیڅ جواب نشی وركولے او د دوی سره د قرآن كریم او د نبی كریم ﷺ د نبوت د انكار هیڅ عقلی او نقلی جواز باقی پاتے نشو خو بیا ئے هم نهٔ منی او انكار كوی نو ددے دوه وجے دی یو جهل او بل امن۔ جهل دا چه یو سړے په یو شی باندے پو هیږی نهٔ نو دشمنی ورسره كوی۔ لكه عربی مقوله ده : "اَلنَّاسُ اَعۡدَاءٌ لِمَا جَهِلُوۡا"۔ (خلك د هغه شی دشمنان وی چه په كوم خبر نهٔ وی)
او امن دا چه دوی ته لا عذاب نهٔ دے راغلے، ځكه چه كله یو سړی ته وهل او تهنګ ملاؤ شوے نهٔ وی نو ډیر مست وی خو چه كله ورته یو تهنګ ملاؤ شی نو مستی ترے وځی بیا خبرے ته غاړه ایږدی۔ نو الله تعالیٰ دوی ته عذاب نهٔ دے وركړے ګنے سم به شی خو وخت به ترے تیر وی، نو الله تعالیٰ فرمائی : چه زهٔ به دوی ته تهنګ وركړم خو لږ صبر دِے وكړی۔
لَمۡ يُحِيۡطُوۡا بِعِلۡمِهٖ : ددے آیت نه دا خبره اخستے شویده : [اَلنَّاسُ اَعۡدَاءٌ لِمَا جَهِلُوۡا] خلك د هغه شی دشمنان وی چه د كوم نه نا خبره وی او دا خبره د سورة النمل په آیت (۸٤) كښې هم راغلے ده۔ ﴿وَلَمۡ تُحِيۡطُوۡا بِهَا عِلۡمًا﴾ (او تاسو نهٔ دی راګیر كړی دا په خپل علم كښې) او سورة الاحقاف (۱۱) آیت كښې دی : ﴿ وَاِذۡ لَمۡ يَهۡتَدُوۡا بِهٖ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ هٰذَا اِفۡكٌ قَدِيۡمٌ﴾۔
(او هر كله چه دوی په قرآن باندے هدایت حاصل نكړو نو زر دے چه دوی به وائی چه دا دروغ دی پخوانی)

نو ددے نه معلومیږی چه د قرآن نه انکار هغه څوك كوی چه په قرآن ئے علم نهٔ وی راغلے او ددے په باره کښ ئے سوچ نهٔ وی کړے۔ او په قرآن او حدیث کښ ټکراؤ هغه چا ته ښکاره کیږی چه علم ئے پرے نهٔ وی۔
پدے وجه وائی چه دا حدیث صحیح نهٔ دے ځکه چه د قرآن خلاف دے، او کله وائی چه دا حدیث د مشاهدے او عقل خلاف دے، نو داسے خلك لوی جاهلان دی۔ او دا واقعی خبره ده چه اکثر حق او صحیح احادیث د جهالت د وجه نه رد کیږی۔
**فائده** : ددے نه دا فائده معلومیږی چه كه چا قرآن كريم په خپل علم کښ راګیر کړو نو دے به پرے تکذیب نهٔ کوی بلکه ایمان به ئے پرے زیات شی۔ نو د یقین د زیادت دپاره یو ښه سبب دا دے چه په قرآن کریم باندے علم زیات راولی او د هغے د اسرارو او رازونو او حکمتونو نه خبر شی۔
**وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيْلُه** : تاویل انجام او حقیقت ته وائی۔ یعنی تر اُوسه پورے لا نهٔ دے راغلے دوی ته انجام د تکذیب دِ قرآن چه هغه عذاب دے۔ که دوی ته عذاب راغلو نو بیا به ډیر پوخ ایمان راوړی لیکن وخت به تیر وی۔
**كَذٰلِكَ كَذَّبَ** : دلته وقف دے چه د دوی په قرآن علم هم نشته او لا عذاب هم نهٔ دے راغلے نو الله تعالیٰ به دوی ته هیڅ نهٔ وائی او دوی به دغه شان تکذیب کښ لګیا وی؟ نو الله فرمائی : چه د عذاب نه خلاصیدے نشی، د دوی نه پخوانو دغه شان تکذیب کړے وو هغوی هلاك شو نو دوی به هم هلاکیږی۔ نو دے کښ دوی ته سخته یره ورکول دی چه جلتی وکړئ راشئ ددے نبی خبره ومنئ، هلاکت درپسے راروان دے۔

| |
|---|
| وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ |
| او بعض د دوی نه هغه څوك دی چه ایمان لری پدے قرآن او بعض د دوی نه |
| مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿۴۰﴾ |
| هغه څوك دی چه ایمان نهٔ لری پدے، او رب ستا ښهٔ پوهه دے په فساد کونکو۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښ الله تعالیٰ خبر ورکوی چه پدے قرآن او دے نبی باندے ځینی خلك ایمان راوړی لکه ابوبکر او عمر او عثمان وعلی وغیره صحابه کرام رضی الله عنهم ځکه چه دوی کښ انابت دے، او ځینی پرے ایمان نهٔ راوړی ځکه چه دوی کښ فساد دے او

ضد او عناد کوی اگرکه د حقانیت دلیلونه ورته ښکاره شویدی۔

په بـل تـعبیـر سره : الله تـعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خبر ورکړیدے چه دا قرآن خو د انسانانو دپاره د الله تـعـالیٰ یـو عـظیـم انـعام دے۔ الله تعالیٰ چه په چا رحم کوی، هغه په دے باندے ایمـان راوړی او د حـق ددے رنـړا نـه فـائـده اخـلی، او څوك چه بد بخت وی، هغه د زرګونو کوششونو باوجود ایمان نۀ راوړی۔ او الله تعالیٰ ته معلومه ده چه څوك د هدایت مستحق دے او څوك د ګمراهئ۔

بیـا ددے جـمـلـے درے مـقـصـدونـه دی (۱) یـو دا چه د قرآن په باره کښې په انسانانانو کښې تـقسیم دے څوك چه بصیرت والا دی نو هغوی دا قرآن منی، او څوك چه بے بصیرته دی د فسـاد د وجه نه چه په خلکو کښې ددے خلاف دعوت کوی او صد عن سبیل الله کوی نو دا بی بصیرته خلك ئے نۀ منی نو که چا کښې لږ شان بصیرت راغلو دا کتاب به ضرور منی نـو تـرغیـب دے چـه ځـان کـښې بـصیـرت پیـدا کـړئ او فسـاد د ځان نه لرے کړئ نو د ایمان توفیق به درته ملاؤ شی۔

(۲) دویـم : کـه ددے قرآن نه تولو خلکو انکار کړے وے نو بیا به د کافرو دپاره عذر وے چه هیـچـا نـۀ دے منلے نو مونږه ئے څنګه ومنو نو الله تعالیٰ فرمائی : چه ډیرو خلکو دا کتاب مـنـلـے دے او تـاسـو ئے نـۀ مـنـئ نـو آیا تۀ د هغـوی نه ښه پو هیږے۔ او دا آیت د ﴿وَالَّذِيْنَ يُحَاجُّوْنَ فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ﴾ (الشوریٰ:۱۶) په شان دے۔ یعنی څه نا څه خلکو د حـق استـجـابت (قبولوالے) وکړو او خبره ئے ومنله او یو تن بیا هم نۀ راځی او فکر نکوی نو داسے خلکو ته الله تعالیٰ سخته سزا ورکوی چه تاسو د دوی تابعداری ولے نۀ کوله۔

(۳) بـعض ئے مطلب داسے بیانوی چه : ځینی خلك ئے په زړه کښې منی چه دا رشتینی او حـق کـتـاب دے لیـکـن د عـنـاد په وجه ئے تکذیب کوی او ځینی ئے په زړه کښې هم نۀ منی بلکه د جهالت او د تقلید په وجه ئے انکار کوی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ |
| او که دروغجن ګنړی دوی تا لره نو تۀ اُووایه ! زما دپاره بدله د عمل زما ده |
| وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ج اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ |
| او ستاسو دپاره بدله د عمل ستاسو ده (چه انکار دے)۔ تاسو بیزاره یئ د هغے نه |

اَعۡمَلُ وَاَنَا بَرِیۡٓءٌ مِّمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٤١﴾

چه زۀ ئے کوم او زۀ بیزار یم د هغے نه چه تاسو ئے کوئ۔

**تفسیر:** **مضمون:**

پدے آیت کښې الله تعالیٰ د براء ت اعلان کوی او نبی کریم ته حکم کوی چه که د عربو مشرکان په خپل تکذیب باندے همیشه اُوسی او فسادونه کوی او ایمان نۀ راوړی نو د دوی نه د براء ت اعلان وکړه، ځکه چه تا د دوی دپاره هیڅ عذر باقی نۀ دے پریخے۔

بیا الله تعالیٰ د مشرکانو کونړ والے او ړوندوالے بیانوی، بیا الله تعالیٰ خپل عدل بیانوی بیا د آخرت تخویف دے تفصیلاً، بیا کله چه د آخرت خبره بیانه شوه نو په (٤٨) آیت کښې د مشرکانو اعتراض ذکر کوی چه دوی وائی چه قیامت به کله راځی؟ نو د هغے جواب کوی۔ بیا زجر دے په استعجال العذاب چه عذابونه په جلتئ مۀ غواړئ، که د الله عذاب راشی نو تۀ به د هغے نه ځان په څه سره خلاصوے؟ بیا د هغوی د قیامت په باره کښې تپوس او جواب ورکول په حقانیت د هغے په قَسم سره۔

د آیت مطلب دا دے چه د هر چا خپل خپل عمل دے، تاسو زما په عمل نۀ رانیولے کیږئ او زۀ ستاسو په عمل نۀ رانیولے کیږم او دا د دعوت ښه طریقه چه قرآن کریم کښې ډیره راغلے ده او پیغمبرانو زیاته استعمال کړیده، او که پدے کښې سوچ وکړے شی نو ډیره لویه فائده پکښې پرته وی، د کافرانو طریقه دا وی چه هغوی په خبره کښې سوچ نکوی، صرف خپل ځان او خپلے مشرئ ته متوجه وی نو همیشه په انکار ولاړ وی او خپل بد عمل ته نۀ متوجه کیږی نو په داسے جمله کښې هغوی خپل ځان ته متوجه کول مقصود وی، نو مقصد دا راووځی چه اے خلکو! زۀ هم عمل کوم چه هغه د الله تعالیٰ بندګی ده او هغه ته دعوت دے او په قرآن کریم باندے عمل دے۔ او ستاسو عمل دے شرك او د قرآن خلاف او ضد او عناد کول۔ نو د دواړو عملونو تقابل وکړئ۔

دویم دا چه الله تعالیٰ تاسو زما په عملونو نۀ راګیروی چه دے رسول دا بیان کولو دا ئے ولے کولو او د ځان نه ئے دا کتاب ولے جوړولو نو تاسو به رانیسم، داسے نۀ ده۔ او تاسو چه کوم شرك او کفر او عناد کوئ نو الله تعالیٰ به ما پدے باندے نۀ رانیسی چه دے خلکو ولے شرك او کفر او ضد کولو۔

نو مطلب دا شو چه هر سړی لره د خپل عمل غم پکار دے نو راځئ چه په خپلو خپلو

عملونو باندے نظر واچوو چه کوم يو د الله تعالیٰ د عذاب لائق دے او کوم يو د الله تعالیٰ د نعمت لائق دے۔ او دا ښکاره خبره ده چه زما کوم عبادات او کارونه دی دا د الله تعالیٰ اصول نۀ دی چه بنده ته پدے باندے عذاب ورکړی او زما نيکئ او تقوئ ته هم وګورئ او تاسو خپل شرك او كفر او ظلمونو او ټولو ګناهونو ته وګورئ، او د الله تعالیٰ قانون دا دے چه په بدو اعمالو سزا ورکوی۔ نو ستاسو عمل د سزا لائق دے نو پدے کښ به مشرکان خپل عمل ته متوجه شی نو انابت به پکښ پيدا شی او رجوع به وکړی، توبه به وباسی۔ نو کافر او اهل بدعت خپل عمل ته متوجه کولو دپاره دا ډيره ښه طريقه ده۔ او داسے طريقه د دعوت به هر باطل پرست ته کولے شی۔

| |
|---|
| وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُوۡنَ اِلَيۡكَ ؕ اَفَاَنۡتَ تُسۡمِعُ الصُّمَّ |
| او بعض د دوی نه هغه څوك دی چه غوږ ايږدی تا ته آيا نو ته آورول کولے شے ګڼړو ته |
| وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۴۲﴾ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّنۡظُرُ اِلَيۡكَ ؕ اَفَاَنۡتَ |
| اګرکه دوی عقل نۀ لری۔ او بعض د دوی نه هغه څوك دی چه ګوری تا ته آيا نو ته |
| تَهۡدِی الۡعُمۡىَ وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ |
| خودنه کولے شے ړندو ته اګرکه دوی (په زړه سره) ليدل نۀ شی کولے۔ |

**تفسير**: په دے آيتونو کښ فرمائی: چه د دوی په زړونو مهر وهلے شويدے، د دوی نه د ايمان توقع نشی کيدے، کله چه نبی ﷺ د قرآن تلاوت کوی نو دوی په ظاهره خو آوری، ليکن د هغے نه هيڅ فائده نۀ حاصلوی، څکه چه دوی کانړۀ دی، او د عقل نه هم محروم دی، او نبی ﷺ ته دوی خو په ظاهره ګوری هم ليکن د هغه نه هيڅ فائده ورته نۀ رسی څکه چه دوی د بصارت او د بصيرت دواړو د رنړا نه محروم دی۔

**وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يَعۡقِلُوۡن**: دا ډيره مبالغه ده يعنی يو کونړ دے عقلمند نو په اشاره به پو هه شی، څکه چه اشاره عالمی لغت دے او چه کله هغه بی عقله وی چه په اشاره هم نۀ پوهيږی نو هغه ته به خبره څنګه واورولے شی او څنګه به پو هه کړے شی۔ نو دلته الله تعالیٰ دا کافران مشابه کړل د کنړو بی عقلو سره۔ څکه چه ددے کافرانو په غوږونو کښ د ضد او عناد بوج پروت دے او بيا د ضد د وجه نه ترے الله تعالیٰ عقل هم اخستے دے نو

ځکه دوی ته هدایت نهٔ کیږی۔

**وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ اِلَيْكَ** : مشرکانو به د رسول الله ﷺ مخ ته کتل کله په ناسته کښې او کله چه به هغه په مانځه ولاړ وو او کله چه به په لاره روان وو او د رسول الله ﷺ مخ ته کتل هم د هدایت لویه ذریعه وه چه په هغه کښې کوم د ایمان او د نبوت رڼړا وه او کوم وقار وو لیکن دے خلکو د هغه د مخ نه هیڅ فائده حاصله نکړه نو الله فرمائی : آیا تهٔ په لاره روانولے شے ړندو لره اګرکه د زړه بصیرت هم نهٔ لری۔

**وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ** : یعنی ړوند په دوه قسمه دے یو هغه دے چه ظاهری سترګے ئے نهٔ وی لیکن د زړه سترګے ئے بینا وی، ډیر ړاندهٔ ځانله سفرے کوی نو هغه په خبره سره یو طرف او بل طرفته روانیدے شی۔ او بل ړوند هغه دے چه د زړهٔ بصیرت هم ورسره نهٔ وی نو هغه بیخی د ځای نه خوزیدے نشی۔ نو دلته الله تعالیٰ د کافرانو تشبیه د هغه ړندو سره ورکړیده چه نهٔ ئے ظاهری سترګی وی او نهٔ ئے بصیرت (د زړهٔ سترګے) وی۔ نو دوی ته به څه لاره وخودلے شی۔

| |
|---|
| اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٤٤﴾ |
| یقیناً الله تعالیٰ ظلم نهٔ کوی په خلقو هیڅ ظلم لیکن خلق په ځانونو خپلو ظلم کوی۔ |

**تفسیر** : سوال پیدا شو چه د دوی کنړول او ړندول خو د الله په واك دی، هغه پرے مهر وهلے دے او هدایت ورته نهٔ کوی نو آیا دا به ظلم نهٔ وی؟ نو الله فرمائی : چه الله تعالیٰ په هیچا باندے هیڅ ظلم نهٔ کوی لیکن خلکو په خپلو ځانونو ظلم کړیدے په کومه طریقه ؟ بِالْكُفْرِ وَالتَّكْذِيْبِ وَالْعِنَادِ وَعَدَمِ اسْتِعْمَالِ حَاسَّاتِهِمْ فِيْمَا خُلِقَتْ لَهٗ۔ یعنی دوی کفر او تکذیب کوی او خپل حواس (اندامونه) په هغه مقصد کښې نهٔ استعمالوی کوم دپاره چه پیدا کړے شویدی۔ نو دا د دوی په خپلو ځانونو ظلم شو چه الله تعالیٰ دوی ته زړونه او سترګے او غوږونه ورکړیدی او دوی پدے باندے حق نهٔ پیژنی او انکار او عناد کوی نو دوی په ځان ظلم کوی۔ نو الله تعالیٰ د هدایت نه محرومه کړل د دوی د ظلم په وجه۔

حاصل مطلب دا شو چه په قرآن کریم باندے د دوی ایمان نهٔ راوړل د دوی د اعمالو د سپیرهٔ والی نتیجه ده، کله چه دوی په کبر او غرور کښې راغلل او د حق نه ئے انکار وکړو او په باطل باندے ئے همیشه والے وکړو نو الله تعالیٰ د دوی نه د ایمان او عمل توفیق

واخستو. الله تعالیٰ په هیچا ظلم نهٔ کوی.

امام مسلم رقم (٦٧٣٧) د ابوذر غفاری رضی الله عنه نه حدیث قدسی روایت کړیدے چه [يَا عِبَادِيْ! إِنِّيْ حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلٰى نَفْسِيْ وَجَعَلْتُهٗ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوْا] ((اے زما بندګانو! ما په خپل ځان باندے ظلم حرام کړیدے، او ستاسو په مابین کښې هم دا حرام کړیدے، پدے وجه په یو بل ظلم مهٔ کوئ)). دے نه روستو ئے وفرمایل: [يَا عِبَادِيْ إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيْهَا لَكُمْ ثُمَّ أُوَفِّيْكُمْ إِيَّاهَا فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللّٰهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهٗ] ((اے زما بندګانو! ستاسو اعمال زهٔ شمارم، بیا به دا تاسوته پوره پوره واپس درکوم نو څوك چه ښه نتیجه موندهٔ کړی، هغه دِے د الله تعالیٰ شکر ادا کړی او څوك چه بده نتیجه مونده کړی نو هغه دِے خپل ځان ملامته کړی)).

| |
|---|
| وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَنْ |
| او په کومه ورځ چه راجمع به کړی دوی لره (دوی به ګمان وکړی) ګویا که |
| لَّمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ط |
| وخت نهٔ دے تیر کړے دوی مګر یو ساعت د ورځے نه، پیژندګلی به کوی په مینځ خپل کښې |
| قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿٤٥﴾ |
| یقیناً تاوان والا دی هغه کسان چه دروغژن ګنړی ملاقات د الله او نهٔ دی دوی لاره موندونکی |

**تفسیر**: اُوس د آخرت تخویف بیانوی چه که د حق تکذیب کونکی په دنیا کښې خوراك څکاك او مزے کوی نو دوی دِے پدے باندے نهٔ نازیږی او غرور دِے نکوی بلکه په قیامت کښې به د دوی ډیر بد تر حالت وی.

نو پدے آیت کریمه کښې د قیامت د هیبت یو منظر راخکلے شویدے چه کله خلق د خپلو قبرونو نه راوځی او د محشر میدان ته جمع شی نو د ډیر دهشت په وجه به د دوی نه د دنیا خوندونه هیر شی، او وائی به چه مونږ خو ډیر لږ وخت په دنیا کښې ایسار وو. او په دنیا کښې چه څومره خلقو یو بل پیژندل نو تول به هلته هم یو بل پیژنی، لیکن لږ وخت روستو به د دوی نه هریو په خپل حال کښې مشغول شی، او هیڅوك به په چا کښې دلچسپی نهٔ اخلی.

كَاَنْ: ددے نه مخکښې تقدیر دے : [يَظُنُّوْنَ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْا] یعنی دا گمان به کوی گویا که دوی د ورځے یو ساعت تیر کړیدے او ددے نه مطلق وخت مراد دے لکه سورة النازعات (٤٦) آیت کښې دی : ﴿عَشِيَّةً اَوْ ضُحَاهَا﴾، یو صبا یا یو بیگاه اندازه وخت وو.

يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ : یعنی دومره ډیر وخت به نۀ وی تیر شوے چه د یو بل نه ناخبره شی بلکه یو بل به پیژنی او پدے پیژندو کښې فائده دا ده چه یو بل ته وشرمیږی ځکه چه کله انسان د خپلو خپلوانو او یارانو دوستانو مخامخ په عذاب کیږی نو ډیر زیات شرمیږی.

او دا تعارف په هغه وخت کښې مراد دے چه د قبرونو نه راپورته شی لکه دا خبره ابوالسعودؒ، خازنؒ او قرطبیؒ کړیده. یا دا تعارف د محشر په میدان کښې دے چه اول کښې به یو بل پیژنی بیا به د زیات دهشت په وجه په مینځ کښې ختم شی.

او بعض وائی چه دا تعارف د توبیخ او یو بل باندے د ردونو دپاره دے لکه یو بل ته به وائی چه تا زۀ گمراه کړے یم او تا ما ته د گمراهئ او د کفر او شرك دعوت راکړیدے او دا د شفقت او نرمئ او محبت تعارف نۀ دے. قرطبیؒ وائی همدا خبره صحیح ده.

(القرطبی٨/٥٤٨) وفتح البیان (٣/٢٤٣)

قَدْ خَسِرَ: دا یا قول د دغه مکذبینو دے چه خپل مابین کښې به ئے وائی.

اَیْ قَائِلِيْنَ قَدْ خَسِرَ . یا دا د الله تعالیٰ د طرفنه په دوی باندے د تاوان ټاپه وهل دی. یعنی کوم خلق چه د آخرت د ورځے تکذیب کوی د دوی تاوان به ډیر لوئی تاوان وی ځکه چه همیشه آخرت ئے په فانی دنیا سره خرڅ کړو، فانی ئے په باقی باندے غوره کړو، او دوی هیڅکله هم د هدایت په لاره نشی روانیدے. ځکه چه بعث بعد الموت او آخرت باندے ایمان په نیغه لاره باندے د روانیدو لوئی سبب دے.

بِلِقَآءِ اللّٰهِ: بعث بعد الموت ته وائی. او حساب ته هم وائی.

یا وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ : اَیْ فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ . (قرطبیؒ) یعنی دوی د الله تعالیٰ په علم کښې هم د هدایت په لاره روان نۀ وو. ځکه چه دوی کښې د نجات طلب نۀ وو او نۀ د هغه شی طلب وو چه دوی ته فائده ورکوی او د دوی حال برابروی بلکه دوی جاهلان وو. (فتح البیان)

| وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِیْ نَعِدُهُمْ |
| --- |
| او که چرته اُوښایو مونږ تا ته بعض هغه عذاب چه وعده ئے کوو د دوی سره |

| |
|---|
| اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ |
| یا وفات کړو تا لره (نو آخرت کښې به ئې وینې) نو مونږ طرف ته راګرځیدل د دوی دی |
| ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ |
| بیا الله خبر دے (ګواه دے) په هغه کارونو چه دوی ئې کوی۔ |

**تفسیر** : اُوس د کافرانو دپاره د دنیا او د آخرت عذاب بیانیږی چه کافران د الله تعالیٰ د عذاب نه نشی خلاصیدے، یا به ستا په ژوند کښې عذاب ورکړو یا ستا د وفات نه روستو۔ خو دا خلك زما د عذاب نه خلاصیدے نشی ځکه چه آخر خو د مرګ نه روستو د دوی مونږ ته راواپس کیدل دی، او مونږ د دوی عملونه وینو، او د دوی خلاف خپل شهادتونه جمع کوو، نو هلته به په آخرت کښې مونږ دوی ته ضرور عذاب ورکوو، او تهٔ به په خپلو سترګو سره دوی په دے بد حال کښې وینے۔

مطلب د آیت دا دے چه مشرکانو سره چه الله تعالیٰ د دنیا او د آخرت د عذاب کومه وعده کړیده نو هغه به خامخا واقع کیږی برابره ده چه ددے اول قسم نه څه حصه الله تعالیٰ خپل نبی ته وښائی او هغه ئے وینی یا هغه لره وفات کړی مخکښې د عذاب ورکولو نه دوی ته۔ یعنی د پیغمبر دوی لره په وخت د عذاب کښې لیدل یا نهٔ لیدل دواړه دوی لره فائده نهٔ ورکوی او که په دنیا کښې پیغمبر د دوی عذاب ونهٔ ولیدو نو د دوی مونږ ته راګرځیدل دی هلته به د آخرت عذاب په دوی واقع کیږی۔

او دا هم جائز ده چه (فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ) جواب د شرط شی.سره د دواړو قسمونو نه او معنیٰ دا شی چه (فَـاِلَيْنَا وَحْدَنَا يَرْجِعُ اَمْرُهُمْ فِي الْحَالَيْنِ) یعنی د دوی کار او فیصله به صرف یواځے مونږ ته راګرځی په دواړو حالتونو کښې که تهٔ ژوندے ئے او که وفات شوے۔ (المنار)

او الله تعالیٰ دلته دغه عذاب مبهم ذکر کړو پدے کښې حکمة دا دے چه بندګان په تولو انواعو د وعید (عذابونو) باندے ووېروی۔ (المنار)

صاحب د فتح البیان وائی : حاصل معنیٰ د آیت دا ده چه که مونږ د دوی نه په جلتئ سره انتقام وانخستو نو څه وخت روستو به ئے ترے واخلو نو الله تعالیٰ اراده کړے وه چه دوی قتل کړی یا ئے په زنځیرونو کښې قیدیان کړی او ذلیله ئے کړی او د دوی د کبر بت مات کړی لکه په بدر او د هغے نه په روستو غزواتو کښې ئے ورسره دا کار وکړو او رسول الله ﷺ

په خپلو سترګو سره د دوی ذلت او رسوائی او قتل او قید ولیدو، الله تعالیٰ خپل رسول سره خپلې وعدې رشتینی ثابتې کړې۔

**بَعۡضَ الَّذِیۡ:** بعض ځکه وائی چه د دنیا عذابونه ټول نهٔ دی، بلکه معمولی عذابونه وی۔ یا دا چه پدې کښې اشاره ده چه رسول الله ﷺ ته به ټول عذابونه نهٔ ښائی بلکه بعض به ښائي۔ (المنار)

**اَوۡ نَتَوَفَّیَنَّكَ:** قَبۡلَ اَنۡ نُّرِیَكَ، فَسَتَرَاهُ فِی الآخِرَةِ ۔ یعنی یا به تا وفات کړو مخکښې ددې عذابونو درخودلو نه نو تهٔ به ئې په آخرت کښې وینې۔ (السراج المنیر)

دا دلیل دې چه د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو نظر نهٔ لګی، هغه لیدل نشی کولې، او د دنیا د احوالو نه خبر نهٔ دې۔

**ثُمَّ اللّٰهُ شَهِیۡدٌ:** یعنی بیا دا خبره ذهن کښې کینه وه چه الله تعالیٰ به ځکه سخت عذاب ورکوی چه الله تعالیٰ د دوی په عملونو یعنی تکذیب او کفر باندې خبر دار او ګواه دې۔

| |
|---|
| وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ رَسُوۡلُهُمۡ |
| او د هر امت دپاره رسول دې نو کله چه راشي رسول د دوی (دپاره د ګواهئ په دوی) |
| قُضِیَ بَیۡنَهُمۡ بِالۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ ﴿۴۷﴾ |
| فیصله به وشی په مینځ د دوی کښې په انصاف سره او په دوی به ظلم نهٔ شی کیدې۔ |

**تفسیر:** ۱- دا هم د آخرت د احوالو سره متعلق دې یعنی دنیا کښې خو الله تعالیٰ هر امت ته یو رسول رالیږلې دې خو کله چه د قیامت په ورځ د دوی رسول راشی، د څه دپاره؟ لِلشَّهَادَةِ عَلَیۡهِمۡ۔ دې دپاره چه په دوی باندې ګواهی وکړی لکه سورة النساء (۴۱) آیت کښې تیر شوی وو ﴿وَجِئۡنَا بِكَ عَلٰی هٰؤُلَاءِ شَهِیۡدًا﴾ یعنی قومونه به د انبیاؤ علیهم السلام د دین بیانولو نه انکار وکړی نو په هغوی باندې به ګواهان پیش شي او د ګواهئ نه پس به پرې الله تعالیٰ د عدل فیصله وکړی هغه دا چه کافر او مشرك به اُور ته بوځی او نبی او د هغه تابعدار به جنت ته بوځی۔

۲- یا دا متعلق دې د دنیا د احوالو سره۔ یعنی په تیرو شوو زمانو کښې الله تعالیٰ د هر قوم د لارخودنې او هدایت دپاره یو رسول رالیږلې دې، او د رسول د راتللو نه روستو چه کوم قوم هغه له دروغجن کړې نو الله تعالیٰ په عدل او انصاف سره د هغوی ترمینځ فیصله کړې،

چه رسول او د هغه تابعدارو ته ئې نجات ورکړے او د هغه دروغجن کونکي ئې په عذاب کښې اخته کړيدی۔ او دا آيت به د ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا﴾ (الاسراء:١٥) په شان شي۔ يعنې د رسول د راليږلو نه مخکښې الله تعالىٰ قوم ته عذاب نهٔ ورکوی۔ اول مطلب ئې د سياق د آيتونو سره زيات مناسب دے او دويم هم صحيح دے۔

| |
|---|
| وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ |
| او وائي دوى كله به ر ... عده (د قيامت) كه يئ تاسو رشتيني۔ اُووايه ! |
| لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَاشَآءَ اللّٰهُ ؕ |
| اختيار نهٔ لرم زهٔ د ځان دپاره د ضرر لرے کولو او نهٔ د فائدے مگر هغه چه اُوغواړي الله، |
| لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ |
| (هغه کوی) د هر امت دپاره يوه نيتهه ده (د عذاب)، کله چه راشي نيتهه د دوی |
| فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٤٩﴾ |
| نو نهٔ به روستو کيدے شي يو ساعت او نهٔ به مخکښې کيدے شي۔ |

**تفسير** : نبی کريم ﷺ به چه کله قريشو کافرانو ته د عذاب دهمکی ورکوله نو دوی به د هغه پورے توقے کولے او وئيل به ئې چه که ته په خپله دعوىٰ د نبوت کښې رشتينے ئې، نو چرته ده ستا وعده؟، ولے په مونږ عذاب نهٔ نازليږي؟ که تاسو رشتيني يئ نو دغه وعده ډِے راشي؟ يا دا چه کله چه دوی ته د قيامت خبره وشوه چه هلته عذابونه دی او د الله تعالىٰ ملاقات دے، نو دوی په سرکشئ کښې راغلل او د هغے مطالبه ئې وکړه، نو الله تعالىٰ نبی کريم ﷺ ته د جواب ورکولو دپاره ووئيل چه تهٔ دوی ته ووايه چه زهٔ خو د خپل ځان دپاره د نفع حاصلولو او د ضرر دفع کولو اختيار نهٔ لرم سوىٰ د هغے نه چه ما ته د الله تعالىٰ په خوښه څه حاصليږي۔ نو بيا زهٔ ستاسو د مرضئ مطابق په تاسو باندے د الله تعالىٰ عذاب څنګه راوستے شم؟ بس دومره خبره پيژنم چه د هر امت يو وخت مقرر دے کله چه هغه وخت راشي نو يو سيکند به نهٔ روستو کيږي او نهٔ مخکښې کيږي۔

امام شوکانیؒ ليکلي دي چه دا آيت ښکاره دليل دے چه د مصيبت په وخت رسول الله ﷺ ته آواز کول او د هغه نه مدد غوختل شرك اكبر (لوئی شرك) دے۔ څکه چه د الله

تعالیٰ نه سویٰ هیڅ ذات په دے قادر نهٔ دے، اګرکه هغه نبی وی یا ولی یا د الله تعالیٰ بل نیك بنده وی۔

اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ: دا استثناء منقطع ده۔ لٰكِنْ مَا شَاءَ اللّٰهُ فَيَفْعَلُ۔ لیکن څه چه الله تعالیٰ غواړی هغه کوی۔ کله به ما ته د دنیا فائده راکوی او کله به راته تکلیف راکوی۔

لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ: یعنی ستاسو دپاره قانون دا دے چه هر امت دپاره الله تعالیٰ یوه نیټه مقرر کړیده چه هغه قیامتِ صغریٰ دے یعنی دنیاوی مرګ نه هیڅوك نشی خلاصیدے نو جلتی مهٔ کوی بلکه د خپل ځان فکر وکړئ۔

| |
|---|
| قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ بَيَاتًا اَوْ نَهَارًا مَّاذَا |
| تهٔ اُووایه ! خبر راکړئ که راشی تاسو ته عذاب د الله د شپے یا د ورځے نو څه تدبیر دے |
| يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اَثُمَّ اِذَا |
| چه په جلتیٔ سره به وکړی هغه مجرمان (د ځان بچ کولو دپاره)۔ آیا بیا کله چه |
| مَاوَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ ؕ آٰلْئٰنَ |
| واقع شی دا عذاب نو ایمان به راوړئ تاسو په دے (عذاب، یا قرآن)، اُوس (ایمان راوړئ) |
| وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيْلَ |
| او حال دا چه وئ تاسو چه دا به مو په جلتیٔ سره غوختو۔ بیا به اُووئیلے شی |
| لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ج |
| هغه کسانو ته چه ظالمان دی، اُوڅکئ عذاب د همیشوالی، |
| هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٥٢﴾ |
| بدله نشی درکیدے تاسو ته مګر د هغه څه چه تاسو کولو۔ |

**تفسیر**: د مکے کوم کافرانو چه د نبی کریم ﷺ نه د توقو په توګه د عذاب راتللو جلتی کوله، نو هغوی ته د نبی کریم ﷺ په ژبه دویم جواب ورکولے شی چه لږ سوچ خو وکړئ چه که د الله تعالیٰ عذاب د غفلت د خوب په حالت کښې یا د ورځے په یو کار کښې د مشغولیت په وخت راشی نو آیا تاسو د هغے د برداشت کولو طاقت لرئ ؟! او د عذاب او

سزا چیلنج خو هغه چا ته ورکول پکار دی چه بیا د دغه عذاب او سزا برداشت کولو یا د ځان د اړولو وس او طاقت خو لری نو بیا هغه وئیلے شی چه ستا دِے لاس راخلاص وی، څه چه څه کوے وکړه۔ نو الله فرمائی: ستاسو په لاس کښ څه طاقت دے چه هغه عذاب دفع کړئ، اُوس خو تاسو په ضد او عناد کلك وسیږئ لیکن کله چه عذاب راشی نو ایمان به راوړئ مګر یاد ساتئ چه داسے ایمان تاسو ته هیڅ فائده نشی درکولے۔ په هغه وخت کښ به الله تعالیٰ تاسو ته وائی چه آیا اُوس ایمان راوړئ حال دا چه ددے نه مخکښ تاسو د استهزاء او انکار په طریقه په جلتئ سره عذاب غوښتلو۔

مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْن : اَیْ لِدَفْعِهٖ۔ یعنی کوم یو شے دے چه جلتی به وکړی په هغے باندے مجرمان دپاره د دفع کولو د هغه عذاب۔ یعنی تاسو سره به کوم یو طاقت وی چه هغه د عذاب مخے ته راوړئ او دغه عذاب پرے د ځان نه دیکه کړئ۔ هیڅ نشته۔

(ماذا) دا جواب د شرط دے او فاء په کښ مقدره ده۔ ځینی وائی چه جواب محذوف دے او معنیٰ دا ده: [اِنْ اَتَاكُمْ عَذَابُهٗ تَنْدَمُوْا عَلَى الْاِسْتِعْجَالِ اَوْ تَعْرِفُوا الْخَطَأَ مِنْكُمْ فِيْهِ] یعنی که تاسو ته د الله تعالیٰ عذاب راشی نو بیا به په جلتئ سره د هغے په غوښتو پښیمانه شئ یا به د هغے په باره کښ خپله خطائی وپیژنئ۔ (فتح البیان)

ځینی مفسرین (مِنْهُ) په معنیٰ د (بِهٖ) سره اخلی او (الآن) لفظ راوباسی۔ یعنی کوم یو شے دے چه اُوس ئے په جلتئ سره غواړی مجرمان۔ لیکن دا د (اَرَئَیْتُمْ) سره ښه نۂ لګی۔ نو اول تفسیر غوره دے۔

اَثُمَّ: یعنی اُوس تاسو په خپل کفر او عناد کلك وسیږئ خو چه کله عذاب راشی بیا به ایمان راوړئ۔ او همزه ئے په (ثُمَّ) داخله کړه پدے کښ د دوی د ایمان نه انکار دے ځکه چه په دغه وخت کښ به ایمان فائده نۂ ورکوی۔

اٰمَنْتُمْ بِهٖ : (بِهٖ) ضمیر عذاب ته راجع دے یعنی بیا به دا یقین کوئ چه آؤ دا عذاب خو حق دے، او ددے سره بیا دا لازمه ده چه دا رسول او دا قرآن حق دے چه د کوم عذاب وعده ئے کړے وه هغه واقع شو۔ او دے ته ایمان بالشهادة وائی چه دا د الله تعالیٰ په نیز مقبول نۂ دے۔

آلْئٰنَ : دلته تقدیر دے (اَیْ يُقَالُ لَكُمُ الآنَ تُؤْمِنُوْنَ) یعنی تاسو ته به وئیلے کیږی چه اُوس ایمان راوړئ او مخکښ مو په جلتئ سره غوښتلو؟۔ نو د الله تعالیٰ اصول دا دی چه اول صبر کوی خو چه کله ظالمان راونیسی نو بیا ئے نۂ پریدی۔

اَئٰلْئٰنَ: پدے کښې په اصل کښې دوه همزے دی یوه همزه استفهامیه او بله همزه د تعریف۔ نو پدے کښې په دویمه همزه کښې دوه طریقے جائز دی یا تسهیل د دویمے چه ددے او د اولے ترمینځ الف رانۀ وړے شی، یعنی (آلْآنَ) دویم : دا همزه بدله کړے شی په مد سره په اندازه د درے الفونو۔ یعنی (آلْآن) (فتح البیان)

ثُمَّ قِیْلَ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا : د قیامت په ورځ به دا ظالمان جهنم ته گوزارلے شی او دوی ته به وئیلے شی چه اُوس همیشه دپاره د خپلو عملونو په بدله کښې د عذاب مزه اُوڅکئ۔

ظَلَمُوْا : یعنی چه په ځانونو ئے ظلم کړے په کفر او ایمان نۀ راوړو سره۔

عَذَابَ الْخُلْدِ : یعنی همیشه عذاب چه نۀ ختمیږی۔

| |
|---|
| وَيَسْتَنْبِئُوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِیْ وَرَبِّیْٓ |
| او تپوس کوی دوی ستا نه آیا حق دے دا (عذاب) تۀ اُووایه آؤ قسم دے په رب زما |
| اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ ﴿۵۳﴾ |
| یقیناً دا خامخا حق دے او نۀ یئ تاسو عاجزه کونکی الله لره (چه د هغه نه اُوتختئ)۔ |

**تفسیر** : اُوس د آخرت اثبات بیانیږی۔ مشرکانو ته چه کله د آخرت په باره کښې تاکیدی خبرے وشوے نو د دوی لړ شان شك پیدا شو چه کیدے شی قیامت به حق وی۔ نو تپوس ئے وکړو چه آیا دا ورځ حقه ده؟

یا دا تپوس په طریقه د انکار او استهزاء سره وو یعنی د مکے کافرانو به د الله تعالیٰ د عذاب پورے بار بار او په مختلف انداز کښې توقے کولے، نو کله به ئے داسے وئیل چه اے محمده! تۀ چه د کوم عذاب خبره کوے او د قیامت خبره کوے نو آیا واقعی دا رشتینی دے؟

که د دوی دا تپوس د پوهے او د انابت په طریقه وے نو الله تعالیٰ به ورته هدایت کړے وے لیکن د دوی دا تپوس تعنتی او عنادی (ضدی) وو نو ځکه الله تعالیٰ په ډیر تاکید سره جواب ورکړو او قَسم ئے وکړو چه که تاسو ئے منئ او که نۀ خو د قیامت راتلل حق دی او تاسو به الله تعالیٰ ددے نه راوستو نه منع نکړے شئ۔ یا دا چه تاسو د الله تعالیٰ نه نشئ خلاصیدے چه یو ځای کښې ترے پټ شئ او الله تعالیٰ تاسو قیامت ته حاضر نکړی او هغه ستاسو د حاضرولو نه عاجز شی، داسے هیڅکله نشی کیدے۔

مشرکانو یو ځل قسم کړے وو چه قیامت به نهٔ راځی۔ لکه سورة النحل (۳۸) آیت کښې دی: ﴿وَأَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَمُوْتُ﴾ (دوی قسمونه کوی په الله مضبوط قسمونه چه الله به نهٔ راپورته کوی هغه څوك چه مړ شی)۔

نو الله تعالىٰ د هغوی په جواب کښې د رسول الله ﷺ په ژبه درے قَسمونه وکړل۔ یو پدے آیت کښې کافرانو ته د عذاب الٰهی د یقین ورکولو دپاره، دویم په سورة سبا آیت (۳) کښې: ﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَأْتِيْنَا السَّاعَةُ قُلْ بَلٰى وَرَبِّىْ لَتَأْتِيَنَّكُمْ﴾ کښې د قیامت د یقین ورکولو دپاره۔ او دریم په سورة تغابن آیت (۷) ﴿زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا قُلْ بَلٰى وَرَبِّىْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ﴾ کښې د مرګ نه روستو د ژوند د اثبات دپاره۔۔

او سورة الذاریات (۲۳) آیت ﴿فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ﴾ کښې۔

د عربو عادت دا وو چه کله به ورته قسم وشو نو یقین به ئے پیدا کیدو، ورنه د الله تعالىٰ خبره بغیر د قسم نه هم رشتینی او واقع ده۔

| |
|---|
| وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِى الْاَرْضِ |
| او که شی د هر یو نفس دپاره چه ظلم ئے کړیدے هغه څه چه په زمکه کښې دی |
| لَافْتَدَتْ بِهٖ ط وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا |
| خامخا بدله کښې به ورکوی هغه، او پټه به کړی پښیمانتیا لره هرکله چه اُوینی دوی |
| الْعَذَابَ ج وَقُضِىَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾ |
| عذاب لره او فیصله به اُوشی په مینځ د دوی کښې په انصاف سره او په دوی به ظلم نشی کیدے۔ |

**تفسیر**: پدے آیت کښې د قیامت د ورځے منظر راخکلے شویدے چه په هغه ورځ به ظالمان خلق غواړی، ارمان چه دوی ټوله دنیا ورکولو سره د الله تعالىٰ د عذاب نه خپل ځان خلاص کړے وے، او دوی به په خپلو کړو باندے په زړهٔ کښې افسوس کوی، او د دوی په حق کښې به د الله تعالىٰ فیصله په پوره عدل او انصاف سره صادریږی۔

**لَافْتَدَتْ**: یعنی تاسو ته خو د الله تعالىٰ عذاب معمولی شے ښکاره کیږی حال دا چه هغه دومره سخت دے چه بالفرض که ټوله دنیا د بنده شی نو هغه به د عذاب په بدله کښې ورکوی دے دپاره چه ځان پرے د عذاب نه خلاص کړی۔

وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ : يعنى پټه به كړى ملامتيا په زړونو كښې كله چه عذاب وينى۔
ددے ډيرے مطلبونه بيان شويدى (١) يعنى په دنيا كښې چه دوى كوم عملونه او شركونه او مخالفتونه كول په هغے باندے به په زړونو كښې پښيمانه شى چه مونږ خو ډير بد اعمال كړيدى او واقعى چه مونږ په باطله باندے روان وو، او ځانله به د تيښتے لاره لټوى ليكن تښتيدل چرته كيدے شى۔ نو پدے كښې الله تعالىٰ دعوت وركوى چه اے مشركانو ! فاسقانو ! په آخرت كښې به په خپلو بدو اعمالو پښيمانه كيږئ نو په دنيا كښې ستاسو دپاره د نجات لاره موجوده ده هغه اختيار كړئ۔
(٢) يا مشران مراد دى چه دوى به خپل مينځ كښې ملامتيا پټه كړى او خپلو كشرانو تابعدارو ته به ئے نۀ ښكاره كوى دے دپاره چه هغوى ورله زورنه او پيغور ورنكړى چه تاسو مونږ لره د اسلام او توحيد او صحيح عقيدے نه منع كړى وو۔
(٣) ځينى وائى : معنىٰ دا ده : مونده به كړى درد د افسوس په زړونو كښې ځكه چه ندامة (پښيمانتيا) ښكاره كول ممكن نۀ دى۔
(٤) ځينى وائى : اسر د اضدادو نه دے په معنىٰ د ښكاره كولو سره هم راځى ځكه چه آخرت د تَصَنُّع او د تَصَبُّر (په تكلف سره صبر كولو) ځاى نۀ دے۔ (ابو عبيدهؒ- بغوىؒ)
ليكن مشهور لغت دا دے چه اسر په معنىٰ د پټوالى سره استعماليږى۔ (فتح البيان)
(٥) مبردؒ پكښې دا وئيلى دى چه (اَسَرُّوْا) د اَسِرَّةُ الْوَجْه نه دے۔ (اَىْ بَدَتْ بِالنَّدَامَةِ اَسِرَّةُ وُجُوْهِهِمْ وَهِىَ تَكَاسِيْرُ الْجَبْهَةِ) يعنى راښكاره به شى په پښيمانتيا د دوى سره كرښے د مخونو د دوى۔ يعنى مخونه به ئے راگونجے شى او د پښيمانتيا اثرات به ئے په مخونو كښې راښكاره شى او د هر خير نه به محرومه شى۔ ځكه پښيمانتيا په زړه كښې وى۔ (القرطبى وفتح البيان)
(٦) ځينى وائى : ممكن ده چه په دے حال كښې هم په دوى كښې د دنيا د تعصب نه يو رگ پاتے وى نو دوى به پښيمانتيا پټه كړى دے دپاره چه په دوى باندے ايمان والا خوشحالى ونكړى۔ (فتح البيان)
لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ : يعنى دا پښيمانتيا پټول به د عذاب د ليدو په وخت كښې وى او كله چه اُور ته داخل شى نو بيا به اقرارونه كوى وائى به :
﴿ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّيْنَ﴾ (المؤمنون : ١٠٦)۔
(اے ربه زمونږ! غالب شو په مونږ بد بختى زمونږ او وو مونږ قوم گمراهان)

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ : فيصله به وشي د مؤمنانو او د كافرانو ترمينځ. ددے نه مراد د الله تعالىٰ قضاء (فيصله) كول دي چه ملائكو ته به ووائي چه دوى بوځئ او وے تړئ او دا كار به ظلم نۀ وى لكه چه الله تعالىٰ به ملائكو ته فرمائي : ﴿ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَسْئُوْلُوْنَ ﴾. (الصافات : ٢٤) (دوى ودروئ يقيناً د دوى نه تپوس نه كيږى).

❁ يا فيصله به وشي د رؤساء (مشرانو) او د هغوى د اتباعو (تابعدارو) ترمينځ.

❁ يا د ظالمانو او مظلومانو ترمينځ به فيصله وكړے شي په انصاف سره.

❁ يا د قضاء نه مراد دا دے چه په دوى باندے به عذاب نازل كړے شي. (فتح البيان)

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ : يعني دوى باندے چه كوم عذاب نازل شو نو دا ظلم نۀ دے بلكه دا په سبب د ګناهونو د دوى وشو.

| |
|---|
| اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط |
| خبر شئ چه يقيناً خاص د الله په اختيار كښ دي هغه څه چه په آسمانونو او زمكه كښ |
| اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰـكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُوَ |
| دي، خبر شئ يقيناً وعده د الله حقه ده ليكن ډير د خلقو نه نۀ پوهيږى. خاص الله |
| يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٦﴾ |
| ژوندى كول كوى او مړۀ كول كوى او خاص هغه ته به ورګرځولے شئ تاسو. |

**تفسير** : پدے دواړو آيتونو كښ د الله تعالىٰ د تصرف او مالكيت بيان دے.

### مناسبت

١- لَيْسَ لَهُمْ فِدْيَةٌ لِأَنَّ كُلَّ شَيْءٍ لِلّٰهِ (اَلْمُلْكَ لِلّٰهِ) . (فتح البيان) يعني ددے كافرانو په قيامت كښ فديه نشته چه په هغے سره ځان د الله تعالىٰ د عذابونو نه خلاص كړى بلكه هر څه خو د الله تعالىٰ په اختيار كښ دى. نو پدے كښ رد دے په فديه د كفارو.

٢- دا د قُضِيَ بَيْنَهُمْ سره متعلق دے. يَقْضِيْ كَيْفَ يَشَاءُ لِأَنَّ الْمُلْكَ لِلّٰهِ. الله تعالىٰ به فيصله كوى څنګه چه هغه غواړى ځكه چه ټول اختيارات د هغۀ دى.

٣- مخكښ الله تعالىٰ د نبى كريم ﷺ د راوړے وحى په حقيت باندے قسم وكړو نو اُوس ورله دليل ذكر كوى چه قرآن ځكه حق دے چه هر څه د الله تعالىٰ په ملكيت كښ دى،

هغهٔ به خپلو بندګانو ته رسول رالیږی او حجت به پرے قائموی۔
اَلَا: دا حرف د غافلانو د تنبیه (رابیدارولو) او ویښولو دپاره راوړے کیږی۔
مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ: یعنی هر کله چه هرڅه د الله تعالیٰ دی او هغه په کښې تصرف کوی نو بیا داسے لوی الله تعالیٰ ته تسلیمیدل پکار دی او د هغه په حقوقو باندے ظلم او زیاتے نهٔ دے پکار۔
اَلَا اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ: مخکښې جمله ددے جملے دپاره علت هم ګرځی چه هرکله ټول کائنات د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی، نو هغه که وغواړی دا هرڅه به بدل کړی او قیامت به راولی ځکه چه د الله تعالیٰ وعده رشتینی ده۔
یا مطلب دا دے چه: پو هه شئ چه الله تعالیٰ د کافرانو سره د عذاب کومه وعده کړیده هغه بالکل حقه ده، لیکن اکثر خلك د هغے یقین نهٔ لری، پدے وجه د کفر لاره اختیاروی، او هغه ژوندی کول او مړهٔ کول کوی، پدے وجه کافران به هم د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کوی او د هغوی د کړو به هغوی ته بدله ورکوی۔

| |
|---|
| يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا |
| اے خلقو ! یقیناً راغلو تاسو ته نصیحت د طرف د رب ستاسو نه او شفاء د هغه مرضونو |
| فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ |
| چه په سینو کښې دی، او هدایت او رحمت دے دپاره د مؤمنانو۔ تهٔ اُووایه په فضل د الله |
| وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ۭ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا |
| او په رحمت د هغه سره نو پدے ډے خوشحاله شی دوی، دا ډیر غوره دے د هغے (مال) نه |
| يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ |
| چه دوی ئے راجمع کوی۔ |

**تفسیر: مضمون** : ددے ځای نه تر پنځه شپیته آیتونو پورے د قرآن کریم متعلق خبرے کیږی، د قرآن کریم شان بیانوی او هغے ته ترغیب ورکوی ځکه چه ددے سورت کښې یوه موضوع ایمان بکتاب الله هم ده۔ یعنی د الله په کتاب باندے ایمان راوړل۔ نو د ﴿ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَا﴾ سره متعلق دے چه الله تعالیٰ پیغمبرانو ته وحی کوی او هغه وحی

د قرآن په شکل کښې په آخری رسول نازله شویده۔ روستو آیت کښې وائی چه دا وحی د څه دپاره شویده ؟ نو هغه ددے دپاره چه دا د انسانانو دپاره قانون جوړ شی، د حلال او حرامو او د جائز او ناجائز، او خلك د الله تعالیٰ د حکم مطابق ژوند تیر کړی، زمکه د الله ده، او بنده د الله تعالیٰ دے نو د الله تعالیٰ د رضا مطابق ژوند تیرول به وی، نو ډیر خلك راولګیدل هغوی د خپل ځان نه حلال او حرام جوړ کړل او د الله تعالیٰ وحی ئے پریښوده۔ نو الله تعالیٰ پرے رد کوی، بیا د الله تعالیٰ علم محیط ذکر کیږی، بیا د الله تعالیٰ دوستانو ته زیرے ورکړے کیږی۔

## مناسبت

د توحید د عقیدے، د نبی کریم ﷺ صدق، او د بعث بعد الموت د حقانیت ثابتولو نه روستو الله تعالیٰ د عربو او عجمو تمامو انسانانو ته د قرآن کریم د عظمت احساس ورکړیدے او ددے ئے ډیرے لوئی خوبیانے او کمالات بیان کړی ګویا که دوی ته ئے دعوت ورکړے چه هرکله قرآن کریم ددے ګنړو خوبیانو والا کتاب دے نو په دے باندے ایمان راوړو سره خپل دنیا او آخرت ولے نهٔ برابروئ ؟

په قرآن کریم کښې د انسانانو دپاره هر قسم نصیحت دے، ددے په ذریعه د شك او شبهے او د کفر او نفاق بیماریانو نه شفا حاصلیږی، او دا د مؤمنانو دپاره هدایت او د رحمت باعث دے۔

## موعظه څه معنیٰ؟

**مَّوْعِظَةٌ**: او وعظ کښې معنیٰ د منع کولو ده۔ اَیْ مَوْعِظَةٌ عَنْ کُلِّ مَا یُبْعِدُ عَنْ رِضْوَانِ اللّٰهِ۔ بنده منع کوی د هغه شی نه چه د الله تعالیٰ د رضا نه وړاندے کول کوی۔

❁ موعظه هغه خبرو ته وائی چه زړه نرمونکی وی او په زړونو تاثیر کوی چه د هغے په وجه بنده د ګناهونو نه منع کیږی۔ (خلیلؒ)

❁ ځینی وائی : وعظ په اصل کښې تذکیر بالعواقب ته وائی یعنی نصیحت کول په انجام د ځیزونو سره برابره ده چه په ترغیب سره وی یا په ترهیب سره۔

❁ ځینی وائی : وعظ هغه زجر (رټنے) ته وائی چه یره ورسره وی۔ (فتح البیان)

**وَشِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ**: یعنی سینو کښې چه کوم شکونه دی هغه زائله کوی۔

په سینه کښې کومے بیماریانی دی ؟ دَاءُ الْجَهْلِ وَعَمَی الْقُلُوْبِ۔ د جهالت بیماری او د زړونو ړوندوالے دے، شرك او نفاق او تعلق د غیر الله، او کبر او حسد او بی صبری۔ نو قرآن

کریم ددے علاجونه کوی۔ او قرآن د تزکیه دپاره بهترینه نسخه ده۔
پدے دواړو صفتونو سره په نفس کښې تخلیه راځي او په (هدی) او (رحمة) کښې تحلیه (ښائسته) کول دي۔
حافظ ابن کثیرؒ لیکی: موعظه ده یعنی منع کونکے دے د فواحشو نه، او شفاء ده د شکونو او شبهاتو نه یعنی پدے سره د زړونو نه خیری او ګندګیانی زائله کیږی۔ او زړونو ته هدایت او رحمة حاصلونکے دے او دا د هغه خلکو دپاره چه پدے باندے ایمان راوړی او یقین پرے وکړی، آه۔
په موعظه کښې اشاره ده چه ظاهر د نامناسبه کارونو نه پاکوی او دے ته شریعت وائی۔ او شفاء کښې اشاره ده چه باطن د غلطو عقیدو او بدو اخلاقو نه پاکوی چه دے ته تزکیۀ نفس وائی۔ او په هدی کښې اشاره ده چه د صدیقینو په زړونو کښې د حق رڼړا رابښکاره کوی او په رحمة کښې اشاره ده چه دا په کمال او رڼړا ورکولو کښې داسے مرتبے ته رسیدلے دے چه ناقصو خلکو لره کامله ونکے دے نو دا څلور مرتبے شوے چه په دغه ترتیب سره حاصلیږی۔ (فتح البیان)
قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ: پدے کښې امر کوی په خوشحالی کولو په دین باندے۔

## د فضل الله او رحمت نه څه مراد دے؟

۱- ښه مطلب هغه دے چه مجاهدؒ او قتادهؒ وئیلے دے چه فضل الله ایمان ته وائی او رحمت قرآن ته وائی ځکه چه پدے سورت کښې موضوع د ایمان ده۔
۲- ابوسعید خدری ﷛ فرمائی: فضل الله قرآن دے او رحمت ئے دا دے: [بِاَنْ جَعَلَنَا مِنْ اَهْلِهٖ] چه مونږه ئے ددے قرآن اهل ګرځولی یو۔ دا هم مخکنۍ معنے ته ورته دے۔
۳- خالد بن معدانؒ وائی: فضل الله اسلام دے او رحمة د رسول الله ﷺ سنتو ته وائی۔ لیکن په اسلام کښې د رسول الله ﷺ سنت داخل دی نو دا بعید تفسیر شو۔ (الطبری والبغوی وابن کثیر وفتح البیان)
٤- زمونږ مشائخ وائی: فضل الله قرآن دے او رحمة د رسول الله ﷺ سنت ته وائی۔ ځکه چه په قرآن کښې غالباً فضل الله قرآن ته وئیلے شویدے او رحمة ئے رسول الله ﷺ ته وئیلے دے۔ اول او دا آخری تفسیر ډیر غوره دے۔
فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا: پدے کښې د تکرار معنیٰ ده یعنی فَلْيَفْرَحُوْا بِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا۔ په

همدے ډیے خوشحاله شی او پدے ډیے خوشحالی وکړی۔

سوال : په حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : زهٔ د خیبر په فتح ډیره خوشحالی وکړم او که د جعفر بن ابی طالب (رضی الله عنه) په راتللو د (حبشو نه) ؟۔ ددیے نه معلومیږی چه د دنیا په څیزونو خوشحالی جائز ده او دلته وائی چه صرف په دین او قرآن باندیے خوشحالی کول پکار دی؟ نو جواب دا دیے چه په دین او قرآن باندیے خوشحالی کول واجب دی او د دنیا په څیزونو خوشحالی کول چه تکبر پکښې راځی حرامه ده ﴿لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ﴾ او هغه خوشحالی چه انسان په غفلت کښې واچوی صحیح نهٔ ده لکه د قارون خوشحالی۔ او بله خوشحالی ده د دنیا په څیزونو باندیے چه انسان په تکبر کښې وانچوی او غافله ئے هم نکړی نو هغه جائز ده۔

مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ : ددیے نه مراد ټوله دنیا ده چه خلك ئے ځان دپاره راجمع کوی۔ ګاړی موټریے، جائیدادونه، ښځے او بچی، مال او دولت، ریاست او مشری، عهده او ملازمت۔

بیا قرآن په ډیرو لحاظونو سره د دنیا نه خیر (ډیر غوره) دیے۔

❁ یو پدیے لحاظ سره چه د قرآن په وجه دنیا او آخرت دواړه ښه کیږی او دنیا صرف ابتلاء ده۔ ❁ دارنګه د قرآن په حاصلولو کښې د الله تعالیٰ رضا ده او د دنیا په راجمع کولو کښې د الله تعالیٰ رضا نشته۔

❁ په قرآن کریم کښې د الله تعالیٰ د عذاب نه نجات دیے او په دنیا کښې نجات نشته۔

| |
|---|
| قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ |
| تهٔ ووایه ! آیا فکر کړیدیے تاسو په هغه څه کښې چه نازل کړیدی الله تاسو لره د رزق نه |
| فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ |
| نو ګرځولی دی تاسو د هغے نه بعض حرام او بعض حلال، تهٔ اُووایه ! آیا الله |
| اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ |
| اجازت درکړیدیے تاسو ته (د حلال حرام جوړولو) یا په الله باندیے تاسو دروغ جوړوئ۔ |

**تفسیر** : اُوس رد د شرك فعلی بیانوی چه حلال او حرام به د ځان نه نهٔ جوړوئ۔

مناسبت

قرآن کریم الله تعالیٰ ددے دپاره رالیږلے دے چه بندګان د الله تعالیٰ حرام او حلال ددے په ذریعه وپیژنی نو دوی راولګیدل دا ئے د ځان نه جوړ کړل.

د نبی کریم ﷺ د نبوت د تصدیق او تائید دپاره وئیلے شویدی چه اے د مکے کافرانو! تاسو چه بعض څیزونو ته حلال او بعضو ته حرام وایئ که دا فیصلے ستاسو د نفس د خواهش وی نو دهیڅ عقلمند سړی په نیز دا قابل قبول نهٔ دی، او که دا ګمان کوئ چه دا د الله تعالیٰ فیصله ده، نو هم غلط ده، ځکه د الله تعالیٰ د اوامرو او احکامو علم خو صرف د انبیاؤ په ذریعه کیدے شی، او ستاسو د زمانے نبی محمد ﷺ دے. پدے وجه د الله په نیز د حلال او حرام څیزونو علم د هغه په ذریعه کیدے شی، نهٔ د ځان نه جوړولو سره.

فَجَعَلْتُمْ: اَیْ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِکُمْ. یعنی تاسو د خپل ځان نه په کښې حلال او حرام جوړ کړل. لکه بحیرے سائبے وغیره ئے حرامے کړے او وینه او مرداره او خنزیرئے حلال کړو.

اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ : مفسر نسفیؒ لیکی: دا آیت ددے نه منع کوی چه بنده د احکام شرعیو په جواب کښې تجاوز وکړی کله چه ترے د هغے په باره کښې تپوس وشی بلکه احتیاط به کوی او د یو شی په باره کښې به داسے نهٔ وائی چه دا جائز دے یا ناجائز دے مګر پس د هغے نه چه پوره یقین او تحقیق سره ئے معلومه کړی وی ورنه دا به په رب العالمین باندے دروغ جوړونکے حساب شی، آه.

کرخیؒ وائی: دا آیت پوره منع کوی هغه مفتی لره چه بغیر د اتقان (خبرے د مضبوطولو) نه فتوے ورکوی لکه زمونږ د زمانے بعض فقهاء شو، آه.

نو کوم مقلدین چه په حلال او حرامو کښې په تقلید سره فتوے ورکوی او د یو عالِم قول پیش کوی او هغه مستقل شریعت ګنړی چه کله هغه پکښې خطاء شوے هم وی نو دا هم په افتراء علی الله کښې داخل دے ځکه چه د مجتهد اجتهاد خو صرف د هغه دپاره دلیل دے نهٔ د امت دپاره. (فتح البیان)

| |
|---|
| وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ |
| او څه ګمان دے د هغه کسانو چه جوړوی په الله باندے دروغ (چه څه به اُوکړے شی |
| يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْفَضْلٍ عَلَى النَّاسِ |
| دوی سره) په ورځ د قیامت، یقیناً الله خامخا د مهربانئ والا دے په خلقو باندے |

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦٠﴾

لیکن ډیر د خلقو نه شکر نهٔ کوی۔

**تفسیر:** په دے آیت کښې هغه خلقو ته سخته دهمکی ده چه په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړولو سره څه څیزونه حلالوی او څه حراموی او دوی ته وئیلے کیږی چه د دوی څه گمان دے چه قیامت به راځی او که نهٔ او بیا د قیامت په ورځ به د دوی سره څه کیږی؟ په دے باره کښې د دوی څه خیال دے؟

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ : یعنی ددوی څه گمان دے په ورځ د قیامت باندے اَیُ مَا ذَا يُفْعَلُ بِهِمْ فِيْهِ۔ چه دوی سره به هلته څه کار کیږی؟!۔ (فتح)

یعنی اے مجرمه! چه تهٔ زما مخے له راځے او زما د دین دشمنی ډیرے کړیده او په ما ډیرے دروغ جوړ کړیدی نو ستا څه گمان دے چه زهٔ به درسره څه کوم؟ دا ډیرے غصے الفاظ دی۔

لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ : ۱- یعنی د الله تعالیٰ په خلقو لوئی فضل او احسان دے چه د هغوی دینی او دنیوی خیرخواهی کولو سره ئے قرآن نازل کړو او حلال او حرام ئے بیان کړل، څکه چه انسانان خو درباندے گندونه او پلیت څیزونه خوری لکه وینه او مرداره او پاك څیزونه، او پاك حیوانات درباندے بندوی، نو دوی ظلم کوی او الله تعالیٰ چه کوم څیز منع کړو په هغے کښې خباثت دے او کوم ئے چه حلال کړو هغے کښې طیبت دے نو الله تعالیٰ مهربانئ والا شو نو د هغه شکر کول پکار دی۔

۲- یا لَذُوْ فَضْلٍ بِتَاخِيْرِ الْعَذَابِ۔ یعنی د الله تعالیٰ مهربانی دا ده چه عذابونه ئے درنه روستو کړل۔

وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ

او نهٔ ئے تهٔ په یو حالت کښې، او نهٔ لولے تهٔ د الله د طرف نه څه قرآن، او نهٔ کوئ تاسو څه

عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَمَا

عمل مگر یو مونږ په تاسو باندے حاضر ناظر کله چه وردا خلیږئ په هغے کښې، او نهٔ شی

يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَلَآ اَصْغَرَ

پټیدے د رب ستا نه په اندازه د ذرے په زمکه کښې او نهٔ په آسمان کښې او نهٔ وړوکے

مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦١﴾

ددې نه او نۀ لوئي ددې نه، مګر په کتاب ښکاره کښې دي (يعني علم د الله تعالى)۔

**تفسير**: عنوان د آيت: بَيَانُ اِحَاطَةِ عِلْمِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ۔ د الله تعالىٰ د علم محيط بيان دے۔ او قرآن کښې دا اکثر ذکر کيږي ځکه چه دا د ايمان د جوړولو ډيره قوي ذريعه ده۔ مناسبت ئے د موضوع د سورت سره دے چه د اُوچت ايمان جوړيدو دپاره سبب د الله تعالىٰ په علم باندے علم راوستل دي، او دا سبب د زيادت د ايمان دے۔ رسول الله ﷺ هم فرمائي:

[اَفْضَلُ الْاِيْمَانِ اَنْ تَعْلَمَ اَنَّ اللّٰهَ مَعَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ]۔

بهتر ايمان دا دے چه تۀ پدے پوهه شے چه الله تعالىٰ ستا سره دے (په اعتبار د علم او قدرت) کوم ځاى چه تۀ ئے۔ يعني الله تعالىٰ تا باندے په هر ځاى کښې علم لري۔ (طبراني في الاوسط ومسند الشاميين، وفي اسناده نعيم بن حماد وهو ضعيف من قبل حفظه)۔

٢- او د مخکښې آيت سره ئے هم ربط دے چه حلال او حرام به صرف د الله تعالىٰ منلے شي ځکه چه هغه په هر شي باندے علم لرونکے دے۔ او پدے کښې تدبر کولو سره په انسان باندے هيبت راولي۔ د الله تعالىٰ ډير لوى شان پکښې ذکر دے۔

**وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ**: دا جمع ته خطاب دے په لفظ د واحد سره۔ اول مخاطب رسول الله ﷺ دے او بيا هر مخاطب مراد دے۔ نو پدے کښې نبي کريم ﷺ ته خبر ورکړے شويدے چه د الله تعالىٰ د علم نه هيڅ شے پټ نۀ دے۔ هغه ذات باري تعالىٰ د رسول الله ﷺ او د هغۀ د امت او د تمامو مخلوقاتو د حالاتو نه په يو وخت کښې خبردار دے۔ پدے وجه صرف هغه د عبادت لائق دے۔ بعض مفسرينو ليکلي دي چه پدے کښې په هغه خلقو رد دے چه دا ګمان ئے کولو چه الله تعالىٰ په جزئياتو علم نۀ لري۔

**شَاْنٍ**: مطلق حال ته وائي برابره ده چه انسان کار کښې مشغول وي يا نۀ وي بلکه اُوده وي يا غلےٍ ناست وي۔ او شان قصد ته هم وائي يعني تۀ په يو مقصد کښې نۀ مشغول کيږے۔

**وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ**: (منه) ضمير الله تعالىٰ ته راجع دے۔ يعني د طرفه د الله تعالىٰ نه۔ يا کتاب ته راجع دے او د (مِنْ قُرْآنٍ) نه مراد قراءت دے۔ (طبري)۔

او دا حالت ئے خاص ذکر کړو (چه الله تعالىٰ په بنده باندے د قرآن لوستلو په حال کښې هم عالم دے) ځکه چه دا د انسان ډير اشرف حالت او افضل عمل دے او الله تعالىٰ ته د قرآن لوستل ډير محبوب دي۔ (فتح البيان)

اِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُوۡدًا : یعنی پدے درے والو احوالو کښې الله تعالىٰ په تاسو حاضر دے په اعتبار د علم سره او ناظر دے تاسو ته. شهود جمع د شاهد او شهید ده خبردار، څوکیدار او محافظ ته وائي.

اِذۡ تُفِيۡضُوۡنَ فِيۡهِ : كله چه تاسو ورننوزئ په دغه كار كښې. یعنی الله تعالىٰ د اول نه عالِم دے، داسے نهٔ ده چه بنده په یو کار کښې شروع وکړی، او روستو به ورته د الله تعالىٰ فکر شي او پو هه به شي.

تفیضون : أَفَاضَ فُلَانٌ فِي الْحَدِيثِ وَالْعَمَلِ إِذَا انْدَفَعَ فِيهِ . افاض یعنی په خبره او کار کښې ئے شروع وکړه او ورننوتو په طریقه د اهتمام او فراخئ سره.

ضحاکؒ وائی : د (فِيۡهِ) ضمیر قرآن ته راجع دے او معنىٰ دا ده چه کله تاسو په قرآن کښې دروغ خبرے خورویٔ. (فتح)

مؤمن بنده کښې چه احتیاط پیدا کیږی نو پدے وجه چه دهٔ پدے یقین دے چه الله تعالىٰ ما ته ګوری.

وَمَا يَعۡزُبُ: (نهٔ پټیږی) ځکه چه هر شے الله تعالىٰ ته عیان (ښکاره) دے.

ذَرَّةٍ: د کموالی دپاره مثال دے.

فِيۡ كِتٰبٍ مُّبِيۡنٍ : یعنی الله تعالىٰ په هر شی اول عالم دے، بیا ئے دغه علم په یو ښکاره واضح کتاب یعنی لوح محفوظ کښې لیکلے دے او بیا د هغے لیکلو مطابق کار هم کوی. نو دا ډیر لوی علم او ډیر لوی قدرت غواړی. لکه ددے پوره تفصیل په سورة الانعام کښې ذکر شو.

| |
|---|
| اَلَاۤ اِنَّ اَوۡلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٦٢﴾ |
| خبردار یقیناً دوستان د الله نهٔ به وی هیڅ یره په دوی او نهٔ به دوی غمجن شي. |
| اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَكَانُوۡا يَتَّقُوۡنَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ الۡبُشۡرٰى |
| هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے او دوی یریږی د الله نه. د دوی دپاره زیرے دے |
| فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَفِى الۡاٰخِرَةِ ؕ لَا تَبۡدِيۡلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ |
| په ژوند دنیوی کښې او په آخرت کښې، نشته بدلیدل د خبرو (وعدو) د الله لره، |

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾

دا خاص کامیابي ده لویه۔

**تفسیر:** مناسبت

۱- د موضوع د سورت سره دا دے چه پدے کښې الله تعالیٰ د ایمان فضیلت بیانوی چه مؤمن بنده د الله تعالیٰ ولی دے چه دلته ئے ددهٔ دپاره څلور فائدے بلکه ددے نه هم زیاتے ذکر کړیدی۔ ۲- د نزدے آیت سره ئے مناسبت دا دے چه مخکښې آیت کښې الله تعالیٰ د خپل علم بیان وکړو نو پدے کښې كَسْرٌ لِقُلُوْبِ الْعَاصِيْن دے، یعنی د نافرمانو خلکو زړونه مات شو چه الله تعالیٰ په مونږ عالِم دے نو سزا به راکړی او په هغے کښې تَقْوِيَةٌ لِقُلُوْبِ الْمُطِيْعِيْنَ وو یعنی د فرمانبردارو د زړونو مضبوطول وو چه تکړه شئ زما فرمانبرداری وکړئ زه په تاسو عالِم یم۔ نو دلته اُوس د مطیعینو حال بیانوی۔ (فتح البیان)

دا دومره غوره مناسبت نهٔ دے۔

۳- بنه مناسبت دا دے چه په بنده کښې اُوچت ایمان پدے طریقه راځی چه هغه دا استحضار وکړی چه الله تعالیٰ په ما باندے په هر ځای کښې عالِم دے او کله چه تهٔ پدے باندے همیشوالے وکړے نو تهٔ به د الله تعالیٰ یقینی ولی جوړ شے ځکه چه ولی همدے ته وائی چه همیشه دا خبره یاد ساتی چه الله تعالیٰ ما ته ګوری او زما په حال عالِم دے نو د الله تعالیٰ د حدودو لحاظ ساتی او د هغهٔ د نافرمانئ نه ځان جدا کوی او دا د احسان درجه ده۔

الله تعالیٰ ډیر غیرتی ذات دے نو پدے آیت کښې ئے خپل غیرت بیان کړیدے چه الله تعالیٰ چا سره دوستی شروع کړی نو سمه ورکړه ورته کوی نو اے بندګانو! راشئ د الله تعالیٰ په دوستانو کښې ځان داخل کړئ چه داسے نعمتونه درکړے شی۔ نو پدے کښې مونږ ته ترغیب دے۔ او داسے نهٔ چه مونږ دا آیت د یو چا او بل چا سره ولګوو لکه مشرکان وائی چه فلانے بابا د الله ولی دے نو بس بیائے د هغه نه غواړی او دا آیت په دلیل کښې پیش کوی چه د ولی څومره اُوچته مرتبه ده نو دوی د الله تعالیٰ په ځای باندے دغه بنده ته متوجه شی۔

د الله اولیاء څه ته وائی؟

۱- د ((اولیاء)) نه مراد هغه مخلص ایمان والا دی چه د الله په بندګئ سره او د ګناهونو نه د ځان ساتلو په وجه هغه ته نزدے کیږی۔ دلته د دوی صفت دا بیان شویدے چه دوی ایمان

والا وي، او د ګناهونو نه ځان ساتي. نو مؤمن متقي انسان د الله تعالیٰ ولي دی.
د ولي معنیٰ ده قریب (نزدے). یعني مؤمن چه کله په ایمان او عمل صالح باندے ولاړ وي او د شرك او نورو ګناهونو نه ځان لرے ساتي نو الله تعالیٰ ته نزدے کیږي.
علماؤ لیکلي دي چه د ولایت یوه نخه دا ده چه ولي مستجاب الدعوات وي یعني الله تعالیٰ د هغه دعا قبلوي.
۲- او په مسند بزار کښ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت شویدے چه یو شخص تپوس وکړو، اے د الله رسوله ! د الله اولیاء څوك دي؟ نو نبي ﷺ وفرمایل : هُمُ الَّذِيْنَ اِذَا رُأُوا ذُكِرَ اللّٰه. ((چه د هغوی په لیدو سره الله رایادیږي)). (مسند البزار : ۵۰۳۴)
او همدا تفسیر د سعید بن جبیرؒ نه هم نقل دے. (فتح البیان)
دا د پوهے د آسانئ دپاره تفسیر کړے شویدے. نو که ستا په لیدو، کیناستو او پاڅیدو او خبرو باندے خلکو ته الله تعالیٰ رایادیدو او دین ته نے توجه پیدا کیدله نو پوهه شه چه ته د الله تعالیٰ ولي ئے.
۳- اَلَّذِيْنَ يُذْكَرُوْنَ بِذِكْرِيْ وَاُذْكَرُ بِذِكْرِهِمْ (مسند احمد ۳: ۴۳۰)
دا هغه خلك دي چه کله زما تذکره کیږي نو دوی خلکو ته رایادیږي (چه مثلًا دا صفت په فلاني کښ موجود دے) او کله چه د دوی تذکره کیږي نو خلکو ته الله تعالیٰ رایادیږي.
٤- [اَلَّذِيْ يُعَادِيْ لِلّٰهِ وَيُوَالِيْ لِلّٰهِ وَيُبْغِضُ لِلّٰهِ وَيُحِبُّ لِلّٰهِ]
هغه شخص چه صرف د الله تعالیٰ دپاره دشمني او دوستي او بغض او محبت ساتي.
لکه په حدیث د ابن عباس رضی الله عنه کښ دي : [فَاِنَّمَا تُنَالُ وِلَايَةُ اللّٰهِ بِذٰلِكَ] د الله تعالیٰ ولایت په دے کارونو سره حاصلیږي. (مصنف عبد الرزاق ۷/ ۱۳٤ حدیث رقم : ۳٤۷۷۰ وفیه عنعنة لیث)
نو کوم انسان کښ چه غیرتي صفت نۀ وي چه د کفارو، مشرکانو، منافقانو او فاسقانو نه نفرت نکوي نو هغه د الله دوست نشي جوړیدے.
د عوام الناس په عرف کښ ولي دے ته وائي چه هغه به نۀ خوراك کوي او نۀ څکاك، او نۀ به خوب کوي او نۀ به د دنیا کاروکسب کوي او د الله په مینه به پائي. دا ډیر غلط تصور دے، څوك وائي چه ولي به دے ته وائي چه سپین ګیرے سرے به وي او کچکول به ئے غاړے ته اچولے وي او تسبې به ورسره وي او شنه توپئ به ئے په سر وي او شنے او سرے کپړے به ئے د ځان نه تاؤ کړي وي. یا به ئے غټ بریت پریښے وي او خیرن خیچن به وي او کله به ئے په کښ پرتوګ هم ویستلے وي. عورت به ئے ښکاره کیږي. او تکے مونځ به نۀ

کوی او خلك ورځی او په هغه باندے به تبرکات حاصلوی او د هغه نه به دعا طلب کوی، او څوك وائی چه ولی به هغه وی چه د غیبو خبرے بیانوی۔
دا ټول هسے ګپ شپ خبرے دی، بلکه هر مؤمن متقی د الله تعالیٰ ولی دے، د چا ولایت زیات او د چا کم څکه چه تقویٰ کښ ډیر درجات دی نو څومره چه اعلیٰ درجه تقویٰ وی، د هغه ولایت به هم اعلیٰ درجه وی. نو څوك چه د کفر او شرك نه خلاص شو او ایمان ئے راوړو نو دا هم د الله تعالیٰ ولی شو، خپل ځان پیژندل پکار دی، او کله چه تا وپیژندل چه زهٔ هم د الله تعالیٰ دوست یم او ما سره مینه کوی نو دے وخت کښ به ستا هم د الله تعالیٰ او د هغه د دین سره محبت پیدا شی، او کله چه یو بنده دا خیال کوی چه زهٔ څوك یم او الله، او الله تعالیٰ نه خپل ځان لرے ګنړی، نو دے وخت کښ به ددهٔ هم د الله تعالیٰ سره محبت نهٔ پیدا کیږی نو ګناهونو او فسادونو کښ به اخته وی.
صاحب د فتح البیان وائی : ولی ضد د عدو دے نو مُحِب ته وائی، او د بندګانو محبت د الله تعالیٰ سره دا دے چه د هغهٔ طاعت وکړی او د الله تعالیٰ محبت د بندګانو سره دا دے چه د هغوی اکرام او عزت وکړی نو بناء په اول تقدیر سره ولی وزن فعیل دے په معنیٰ د فاعل سره او په دویم تقدیر سره په معنی د مفعول دے نو ولی د دواړو ترمینځ مشترك شو.
**لَهُمُ الْبُشْرٰى** : د قرآن او سنت نه دا ثابته ده چه ملائك د مرګ نه مخکښ د الله تعالیٰ نیکانو بندګانو ته د جنت زیری ورکوی.

## د بشریٰ مطلبونه

۱- ددے زیری نه مراد دا دے چه دوی به خپله نیك خوبونه وینی یا به ئے ورله بل څوك وینی. چه د هغے په وجه به دوی خوشحالیږی. لکه حدیث دے (لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ (وَهِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ)، يَرَاهَا الْمُؤْمِنُ أَوْ تُرىٰ لَهُ] د نبوت نه صرف نیك خوبونه پاتے شویدی چه مؤمن ئے خپله وینی یا ئے ددهٔ دپاره بل څوك وینی)

(بخاری : ۶۹۹۰) واحمد والبزار)

۲- مَحَبَّةٌ فِيْ قُلُوْبِ الْخَلْقِ. د خلکو په زړونو کښ به د دوی سره مینه وی.
۳- ځینی وائی چه په دنیا کښ بشری : د خلکو نیك صفتونه دی د دوی دپاره. او په آخرت کښ جنت دے.
٤- لیکن تحقیق دا دے چه بشریٰ هر هغه شے دے چه الله تعالیٰ په ایمان او تقویٰ باندے وئیلے دے یعنی د ایمان چه څومره فائدے وی او د تقویٰ څومره فائدے او خیرونه وی هغه

راجمع کړه دغے ته بشرئ وائی۔

یعنی ددوی دپاره زیرے دے په مختلفو زیرو سره په ایمان او تقویٰ باندے۔ او په قرآن او حدیث کښې سل فوائد د ایمان او پنځوس د تقویٰ ذکر دی نو دے شخص ته به یو نیم سل طریقو سره زیرے ورکړے کیږی۔ نو بشرئ ډیر جامع لفظ شو۔

نو پدے کښې دا وعظ پروت دے چه اے مؤمنه! ایمان او تقویٰ خپل نصب العین وګرځوه نو خامخا به ستا دنیا او آخرت ښه کیږی۔

لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمٰتِ اللهِ: یعنی دا ګمان مهٔ کوه چه دا زیری او وعدے به صرف د صحابه کرامؓ دپاره وی او زمونږ دپاره به نهٔ وی، الله فرمائی: چه ما کومه وعده وکړه او کومه خبره مے وکړه نو دا څوك نشی بدلولے، او الله تعالیٰ ئے خپله هم نهٔ بدلوی، نو د الله تعالیٰ قانون همغه شان دے۔ الله تعالیٰ مؤمن او متقی سره وعده وکړه چه دهٔ ته به په دنیا او آخرت کښې کامیابی ورکوی نو اګرکه کافر ډیرکوشش کوی چه مؤمنان او متقیان ختم کړی او هیڅ کامیابی ورته ملاؤ نشی خو دا کار هیڅکله نشی کولے لکه د صحابه کرامؓ او د رسول الله ﷺ ژوند سره ئے ولګوه چه ټولے دنیا د هغوی او د هغوی د دین د ختمولو پوره کوشش کولو لیکن الله تعالیٰ هغوی سره وعده کړے وه چه ستاسو دین به غالبه کوم نو همغه شان وشوه۔ هیچا دا خبره په بله نکړه۔ خلك به ستا عیبونه بیانوی لیکن الله تعالیٰ به د دین په وجه ستا مینه د خلکو په زړونو کښې اچوی ځکه چه د الله تعالیٰ وعده ده ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا﴾ (مریم:۹۶) (یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او نیك عملونه ئے کړی زردے چه رحمن ذات به دوی لره مینه وګرځوی)۔

| |
|---|
| وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ؕ |
| او غمجن دِے نهٔ کړی تا لره وینا د دوی، یقیناً عزت په اختیار د الله کښې دے ټول، |
| هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦٥﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ |
| هغه آوریدونکے پوهه دے۔ خبردار یقیناً د الله په اختیار کښې دی هغه څوك |
| فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا يَتَّبِعُ |
| چه په آسمانونو کښې او هغه څوك چه په زمکه کښې دی، او تابعداری نهٔ کوی |

| |
|---|
| اَلَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ شُرَکَآءَ ؕ اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ |
| هغه کسان چه رابلي سویٔ د الله نه نور شریکان (معبودان) تابعداری نۀ کوی دوی ٠ |
| اِلَّا الظَّنَّ وَاِنۡ هُمۡ اِلَّا یَخۡرُصُوۡنَ ﴿٦٦﴾ |
| مګر د ګمان او نۀ دی دوی مګر اټکل کوی۔ |

**تفسیر** : نبی کریم ﷺ به کله د کافرانو د استهزاء والا خبرو نه زړه تنګیدو چه کله به هغوی ورته ساحر او کله شاعر او کله لیونے وئیلو نو الله تعالیٰ دلته تسلی ورکوی چه تهٔ د کافرانو د دروغو خبرو پرواه مهٔ کوه، او غم مهٔ کوه، ځکه د آسمان او زمکے ملکیت زما دے، او زهٔ په هر شی په هر حال کښې غالب یم، پدے وجه دا کافران به په تا هیڅکله غالب نشی راتلے، پدے خبرو باندے دوی غلبه نشی موندلے چه حق ختم کړی بلکه عزت او غلبه به همدا تا ته حاصلیږی۔ او پدے کښې هر داعی ته هم تسلی ده چه تا ته دِے خلك ډیر سپك نوّمونه ووائی، کله وهابی او کله بل نوم خو پدے باندے تهٔ نهٔ سپکیږے، عزت د الله په واك کښې دے، د چا په خبرو د چا نه عزت نهٔ اخستلے کیږی۔

اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰہِ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ : مخکښې ئے وویل چه د عزت مالك الله تعالیٰ دے نو اُوس وائی چه د ذواتو مالك هم الله تعالیٰ دے، او د دوی د بتانو مالك هم الله تعالیٰ دے، د هغوی هیڅ اختیار نشته، او بیا هم مشرکان د خپلو معبودانو بندګی کوی نو په هغوی رد کوی۔ چه داسے مالك ذات پریخودل او یو عاجز مملوك پسے روانیدل ډیر لوی ظلم دے چه هسے اوهامو او خیالاتو پسے روان دی۔ (فتح البیان)

وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیۡنَ : دے کښې دوه تفسیره دی۔ (۱) یو دا چه ما موصوله ده او دا عطف دے په (مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ) باندے نو دا د (اِنَّ لِلّٰہِ) د لاندے شو۔ یعنی د الله تعالیٰ په اختیار کښې (مَنۡ فِی السَّمٰوَاتِ وَمَنۡ فِی الۡاَرۡضِ) (د آسمان او د زمکے والا مخلوق) هم دی او دغه شان هغه معبودان چه مشرکان د الله تعالیٰ نه سویٔ ورته رامدد شه وائی هغه هم د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔ یعنی هغوی خپله عاجز دی۔ لیکن پدے تفسیر سره روستو ﴿اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ﴾ پوره طریقے سره نهٔ لګی نو دا بعید تفسیر دے۔

(۲) غوره دا ده چه ما نافیه ده او (یَتَّبِعُ) فعل او (الَّذِیۡن یَدۡعُوۡنَ) ئے فاعل او د (یَدۡعُوۡنَ) مفعول پټ دے یعنی شُرَکَاءَ۔ اوروستو شرکاء د یتبع دپاره مفعول دے او د شرکاء نه مراد شرکاء فی

الحقیقة دے یعنی دوی د الله تعالیٰ سره شریکان جوړ کړیدي لیکن حقیقي شرکاء نهٔ دي. معنی دا ده چه [ لَيْسَ يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ شُرَكَاءَ لِلّٰهِ فِي الْحَقِيْقَةِ اِنَّمَا هِيَ اَسْمَاءٌ لَا مُسَمَّيَاتِ لَهَا ]

(یعنی نهٔ دی روان هغه مشرکان چه د الله تعالیٰ نه سویٰ نورو ته رامدد شه وائی شریکان د الله تعالیٰ په حقیقت کښ، بلکه هغه صرف نومونه دی چه دوی ورته د معبودانو نومونه ورکړیدی چه هیڅ مسمیات او حقائق ئے نشته). کله وائی دا بابا د من دانے ذمه وار دے، او دا نارینه اولاد ورکوی او دا د زیړی بابا دے او کله وائی دا بتان به زمونږ د الله په دربار کښ سفارش کوی، او کله وائی چه دوی مونږ الله تعالیٰ ته نزدے کوی، لیکن حقیقت کښ د دوی په اختیار کښ هیڅ نشته.

یا شرکاء مفعول د یدعون دے او د یتبع دپاره مفعول (شرکاء) پټ دے چه دا مذکور پرے دلالت کوی.

۳- یا ما استفهامیه ده او دا استفهام د توبیخ او عیب بیانولو دپاره دے او شُرَكَاءَ منصوب دے په يَدْعُوْنَ سره. معنیٰ دا ده چه هغه مشرکان چه د الله تعالیٰ نه ماسویٰ نور شریکانو (معبودانو) ته آواز کوی نو دوی د څه شی تابعداری کوی، دوی د څه پسے روان دی دا خو هیڅ شے نهٔ دے، هسے عاجز مخلوق دے چه د نفع او د ضرر هیڅ اختیار ئے نشته. (فتح البیان والبغوی)

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ: دا جمله مستأنفه ده په جواب د سوال کښ، سوال پیدا شو چه دا خلك چه ورته شرکاء وائی او د هغوی بندګی کوی او د هغوی په نوم نذرانے او منختے کوی؟ نو جواب وشو چه دا ددے مشرکانو تش ګمان دے او هسے د مشرانو د اټکل خبرو پسے روان دی او په خیالی او شیطانی خبرو غولیدلی (دهوکه شوی) دی. دوی سره ددے باطلو معبودانو په عبادت باندے هیڅ دلیل نشته سویٰ د خیالاتو نه.

خرص: هغه قول ته وائی چه د ظن او د تخمین نه وویل شی او غالب ګمان هم نهٔ وی او سماع (آوریدل) هم نهٔ وی چه دے ته پښتو کښ اټکل وائی. د ظن مثال دا چه مشرك یو بابا له لاړ شی هلته ښه شی نو ګمان ئے راشی چه بابا ښه کړم، او مینځ کښ الله تعالیٰ ښه کړے وی، لیکن د هغه په دربار کښ ښه شو نو دا په هغه باندے امتحان شو. او خرص دا دے چه ورځی او د هغه عبادتونه کوی که ته ترے تپوس وکړے چه دے کښ څه فائده ده؟ نو هغه وائی فلانئ فائده، که ته ووائے چه دا چا وئیلی دی نو بیا ورسره جواب نهٔ وی،

صرف وائی چه خلك داسے وائی۔ نو خرص د گمان نه اعلیٰ درجه ده چه دا سو چه دروغ دی۔

| |
|---|
| هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا |
| الله هغه ذات دے چه گرځولے ئے ده تاسو لره شپه دے دپاره چه آرام اُوکړئ تاسو |
| فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ط اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ |
| په هغے کښ او ورځ رڼړا والا، یقیناً په دے کښ دلیلونه دی (د یو والی د الله) |
| لِّقَوْمٍ یَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٧﴾ |
| دپاره د هغه قوم چه غوږ ږدی۔ |

**تفسیر** : په دے کښ الله تعالیٰ د خپل قادر مطلق کیدو یو بل دلیل پیش کړیدے او ددے خبرے تردید دے چه د الله تعالیٰ دپاره د هغه په خلق او تدبیر کښ شریکان راشی۔ فرمائی چه الله تعالیٰ هغه ذات دے چه شپه ئے د سکون دپاره او د ورځے رڼړائی ئے د کار کولو دپاره جوړه کړیده، نو بیا د هغه نه سویٰ څوك د عبادت حقدار کیدے شی؟ یقیناً هغه یو ذات دے چه د هر قسم بندگئ او خشوع او خضوع مستحق دے۔

مُبْصِرًا : یعنی ذَا ضِیَاءٍ۔ یعنی د رڼړا والا/ روښانه۔ او د (مُبْصِر) خپله اصلی معنیٰ ده : ورځ لیدونکے۔ یعنی انسان لیدونکے په ورځ کښ۔ لیکن محاوره کښ داسے استعمالیږی او دا تفسیر باللازم وی۔

د (مُبْصِرًا) نه روستو ئے فائده نهٔ ده ذکر کړے اَیْ لِتَتَحَرَّكُوْا فِیْهِ وَتَكْسِبُوْا۔ دے دپاره چه په دے کښ د کارونو دپاره حرکت وکړئ۔

یَّسْمَعُوْنَ : سَمَاعُ اِعْتِبَارٍ۔ یعنی داسے آوریدل چه د هغے نه عبرت واخلی۔ (قرطبیؒ)

| |
|---|
| قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ط هُوَ الْغَنِیُّ ط لَهٗ |
| وائی دوی نیولے دے الله نازولے (بچے)، پاك دے الله، هغه بے حاجته دے، خاص هغه لره دی |
| مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ط اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ |
| هغه څه چه په آسمانونو او هغه چه په زمکه کښ دی، نشته تاسو لره هیڅ دلیل |

| |
|---|
| بِهٰذَا ط اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ |
| پدې باندې، آیا وایئ تاسو په الله باندې هغه څه چه نهٔ پو هیږئ تاسو (په هغې). |

**تفسیر** : پدې آیت کښې د مشرکانو یو بل کفر بالله بیانوی چه دا د شرکاؤ جوړولو شرك سره نزدې وه او ډیره انتهائی زړهٔ آزارونکې خبره وه چه دوی به د الله دپاره اولاد ثابتول وئیل به ئې چه دا ملائك د الله لونړهٔ دی، دغه شان یهودیانو به وئیل چه عزیر (علیه السلام) د الله ځوی دې، او نصاراؤ به وئیل چه عیسیٰ (علیه السلام) د الله ځوی دې. الله تعالیٰ د دوی دا باطله خبره رد کړه، او وې وئیل چه هغه ددې بهتان نه بیخي پاك دې. ځکه چه هغه غنی دې، د هیڅ شی محتاج نهٔ دې، اولاد خو د هغه چا وی چه محتاج وی. او هغه همیشه دې او همیشه به پاتې وی، او اولاد خو د هغه چا پکار دی چه هغه ختمیږی، دې دپاره چه ځوی د هغه ځای ونیسی. او ځکه چه آسمان او د زمکې هر شے هم هغه پیدا کړیدې، او د هغهٔ ملکیت دې، نو بیا دا څنګه ممکن ده چه آقا (مالك) خپل یو غلام ځان له ځوی جوړ کړی. او پدې وجه هم چه مشرکانو سره پدې باطله دعویٰ هیڅ دلیل نشته دې، خالص د کم عقلئ او جهالت په بنیاد داسې خبرې کوی.

اِنْ عِنْدَكُمْ : اِنْ نافیه دې.

اَتَقُوْلُوْنَ: یعنی دلیل نشته نو بیا په الله تعالیٰ باندې دروغ تړئ، دا د توبیخ لفظ دې. او ددې نه دا خبره مستفاد کیږی چه هره هغه خبره چه په هغې باندې دلیل نهٔ وی نو هغه هیڅ علم نهٔ دې بلکه خالص جهالت دې. (فتح البیان)

| |
|---|
| قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا یُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ |
| ته اُووایه یقیناً هغه کسان چه جوړوی په الله باندې دروغ نهٔ شی کامیابیدې. |
| مَتَاعٌ فِی الدُّنْیَا ثُمَّ اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ |
| دوی لره لږې فائدې دی په دنیا کښې بیا به مونږ ته راګرځیدل د دوی وی، بیا به |
| نُذِیْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِیْدَ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ |
| اُوڅکوو دوی ته عذاب سخت په سبب د هغې چه دوی کفر کولو. |

**تفسیر** : پدې آیت کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته وفرمایل چه ته مشرکانو ته اُووایه

چه دا تاسو چه څه وویل (چه د الله دپاره شریکان جوړوی او نسبت د اولادو ورته کوی او نسبت د حلال او حرامو ورته د ځان نه کوی) دا په الله تعالیٰ باندے افتراء او دروغ جوړول دی، او مُفتری (دروغ جوړونکے) هیڅ کله هم نشی کامیابیدے۔
او که په وقتی توګه سره د هغه مقصد حاصل هم شی نو هغه به دنیاوی سپکه معمولی فائده وی، آخر به ددهٔ د مړ کیدو نه روستو الله تعالیٰ ته ورتلل وی چه هلته به د دوی دِ کفر او د دروغو جوړولو سخته سزا ورکوی۔ (فتح البیان)
مَتَاعٌ : دا مبتداء ده چه خبر ئے حذف شویدے دے دپاره چه نظر اول په مبتدا باندے پریوزی چه په دنیا کښ معمولی شان فائدے دی د دوی دپاره، او که (لَهُمْ مَتَاعٌ) وویل شی نو بیا نظر په دواړو باندے غورزیږی۔
بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ: پدے وجه چه دوی په دنیا کښ د الله تعالیٰ د نعمتونو نه انکار کولو او الله تعالیٰ دپاره ئے نالائقه صفتونه بیانول۔
دلته الله تعالیٰ مشرك ته کافر وویلو ځکه چه دے د الله تعالیٰ د حقیقت نه منکر دے۔
د الله تعالیٰ حقیقت دا دے چه د هغه سره اولاد نشته او شریکان ئے نشته او علیم او خبیر او غنی دے، او دے ورته غلط نسبتونه کوی۔
او ددے نه معلومه شوه چه څوك د الله تعالیٰ د یو صفت نه منکر شی نو دے هم د الله تعالیٰ حقیقت بدلوی۔

| |
|---|
| وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ |
| او بیان کړه په دوی باندے خبر د نوح (عليه السلام) کله چه اُووئیل هغه قوم خپل ته |
| يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ وَتَذْكِيْرِيْ |
| اے قومه زما ! که ګران وی په تاسو باندے اُودریدل زما او نصیحت درکول زما تاسو ته |
| بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ |
| په آیتونو د الله نو په الله تعالیٰ باندے ما ځان سپارلے پس مضبوط کړئ کار (تدبیر) خپل |
| وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً |
| او را اُوبلئ شریکان خپل، بیا دِے نهٔ وی کار ستاسو په تاسو باندے پټ (یعنی ګډوډ) |

ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿٧١﴾

بيا فيصله اُوكړئ ما ته (يعنى نافذه ئے كړئ) او مهلت مۀ راكوئ ما ته.

**تفسير:** تردے ځاى پورے عقلي دليلونه بيان شو او د مشركانو شبهات ئے دفع كړل نو اُوس د انبياؤ عليهم السلام قصے بيانوى، دوه واقعے د نوح عليه السلام او د موسىٰ عليه السلام تفصيلًا او مينځ كښې اجمالًا د ټولو انبياؤ عليهم السلام قصه بيانوى او په آخره كښې د رسول الله ﷺ واقعه او ورسره د يونس عليه السلام واقعه ذكر كيږى.

د نوح عليه السلام واقعه راوړى د ډيرو مقاصدو دپاره ۱ - يو د ايمان بالله دپاره. چه پدے كښې د ايمان فائده ذكر ده چه هغه نجات دے د عذابونو نه.

۲ - دويم پدے كښې تخويف دے مكذبينو ته يعنى چه څوك ايمان نۀ راوړى هغوى دپاره يرے بيانيږى، چه دوى به هلاكيږى.

۳ - بل پكښې رد د شرك د مشركانو دے چه د مشركانو معبودان څومره كمزورى دى چه نوح عليه السلام هم په هغے باندے رد كړيدے، او دوى ايمان نۀ راوړو تردے چه الله تعالىٰ هلاك كړل.

چونكه د عربو مشركانو حال په كفر او شرك كښې د نوح عليه السلام د قوم په شان وو پدے وجه الله تعالىٰ نبى كريم ﷺ ته حكم وكړو چه دوى ته د نوح عليه السلام د قوم واقعه بيان كړى. كله چه دے خلقو په خپل كفر او شرك هميشوالے وكړو او د نوح عليه السلام د زركونو كوششونو باوجود ئے اسلام رانۀ وړو نو الله تعالىٰ دوى طوفان ته وسپارل. نو اے عربو مشركانو! چرته د كفر او سركشئ او په شرك باندے د هميشوالى په وجه سره ستاسو انجام هم د هغوى په شان نۀ شى.

نوح عليه السلام خپل قوم ته ووئيل چه كه تاسو سره زما وسيدل او د دعوت الى الله كار كول په تاسو ډير زيات ګران شوے وى نو ما هم اُوس د خپل طرف نه د دفاع كولو دپاره په الله بهروسه كړيده نو تاسو او ستاسو شريكان چه زما د هلاكولو كوم تدبير كړے وى هغه وكړئ، او ګورئ! بالكل صفا تدبير وكړئ، هيڅ كمے پكښې مۀ كوئ، بيا د قتل او د كلى نه شړلو چه هر كوشش كول غواړئ هغه وكړئ او ما ته يوه لمحه مهلت مۀ راكوئ.

ما چه نن پورے ستاسو په نيغه لاره باندے د راوستلو څومره هم كوشش وكړو د هغے مقصد څه دنياوى معمولى فائده حاصلول نۀ وو، او نۀ ما ستاسو نه ددے كار كله څه

اجرت او مزدوري غوختے ده چه تاسو ما مُتُهم کړئ۔ زما اجر او ثواب خو به ما ته الله تعالىٰ راکوي، برابره ده که تاسو ایمان راوړئ یا انکار وکړئ۔ او ما ته دا حکم شویدے چه زۀ په هر حال کښې د الله تعالىٰ مطیع او فرمانبردار اُوسیږم۔

کله چه ددے تولو کوششونو او نصیحتونو باوجود د هغۀ قوم هغه لره دروغجن کړونو الله تعالىٰ هغه او د هغۀ منونکي په کشتئ کښې سوارۀ کړل او د طوفان نه ئے بچ کړل چه د هغوی د اولادو په ذریعه بیا دنیا آباده شوه، او د الله تعالىٰ آیتونو لره دروغجن کونکي ټول په اُوبو کښې ډوب شو۔ دا وه خلاصه د آیتونو۔

كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِيْ : یعني که په تاسو باندے ګران لګي زما ودریدل په تاسو کښې او زما نصیحت کول په آیتونو د الله تعالىٰ سره۔

كَبُرَ : اى ثَقُلَ ۔ دروند وي په تاسو۔ نوح ﷺ چه دا جملے فرمایلي دي نو دا په جواب د قوم کښې۔ نوح ﷺ به هر وخت بیان کولو ځکه چه د هغه د دعوت زندګي نهه نیم سوه کاله وه او هغه به شپه او ورځ بیان کولو چه څه وخت به ئے وسه وشوه او ښکاره او پټ لکه سورة نوح کښې راغلي دي، نو پدے کښې کافرانو ورته وویل چه ډیر ډیر دے تنګ کړو، هر وخت بیان بیان دے، اُوخبري دي چه مونږ ته ئے کوو، پدے ډیر دے سترې کړو بس کړه په تا ایمان نۀ راوړو، لکه روستو سورة هود (۳۲) آیت کښې راځي

﴿يَا نُوْحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا﴾ اے نوحه ! تا مونږ سره ډیرے جګړے وکړے تر څو به ستا دا جګړے مونږ سره روانے وي، بیا ئے دهمکي ورکړه چه مونږ به دے مړ کړو او زمونږ آلهه به دے تباه کړي، د شپے یا د ورځے به درنه ساه وباسي دا بیان مۀ کوه۔

نو هغه ورته ددے خبرو جوابونه ورکوي چه زۀ د الله تعالىٰ د طرفنه په بیان مکلف یم او تاسو ته ئے رالیږلے یم او تاسو ته بیان کوم که ستاسو خوښه وي او که نۀ، که تاسو باندے زما دا بیان بد لګي نو تاسو ټول راجمع شئ او باباګانو ته هم آواز وکړئ او بس په ما باندے د مرګ فیصله وکړئ نو چه زۀ مو مړ کړم زما به د الله تعالىٰ په نیز حجت قائم شي چه اے الله ! ما ستا دین بیان کړو او دے خلکو مړ کړم لیکن دا خبره واورئ چه تاسو ما نشئ وژلے او څئ ستاسو لاس ډیر راخلاص وي، او پدے کښې ئے غرض دا وو چه که تاسو ما مړ کړئ هم زۀ دا بیان نۀ پریدم، یعني تر مرګه پورے ئے نۀ پریدم او دا زما فریضه ده، او ستاسو د قتل د دهمکئ نه یریږم هم نۀ (لکه ډیرکرته باطل پرست د حق داعي ته دهمکي ورکوي چه جیل ته به دے واچوو او قتل به دے کړو لیکن د حق داعي به پدے وخت کښې الله تعالىٰ

تـه ځـان سپـاری، توکل ته پدے وخت کښ ضرورت راځی لکه د نوح علیه السلام د قوم د خبرو په شان رسول الله ﷺ ته هم مشرکانو کړے وے)

**مَّقَامِیْ:** مَقام دلته دوه معانی کیدے شی،

۱- یو په معنیٰ د ځای د ودریدو لکه دا ئے خپله معنیٰ ده او دلته ئے معنیٰ ده: "وخت تیرول زما په تاسو کښ" ځکه چه د هغه وخت د دعوت ډیر اُوږد وو۔

۲- یا قیام په معنیٰ د ودریدو سره دے دپاره د دعوت۔ (البحر المحیط وفتح البیان)

**وَتَذْکِیْرِیْ:** دا د مَقَامِیْ تشریح ده۔

**فَأَجْمِعُوْٓا أَمْرَکُمْ:** اجماع په معنیٰ د قصد او مضبوطے ارادے سره دے۔ (الفراءؒ)

۲-مورج السدوسیؒ وائی: أَجْمَعَ الْأَمْرَ أَیْ أَفْصَحَ۔ یعنی رابنکاره کړئ کار خپل۔

۳- ابو الهیثمؒ وائی: أَجْـمَعَ أَمْرَهٗ جَعَلَهٗ جَمِیْعًا بَعْدَ مَا کَانَ مُتَفَرِّقًا ۔ د أَجْمَعَ أَمْرَه معنیٰ دا ده چه کارئے راجمع کړو پس د هغے نه چه جدا جدا وو۔ (فتح البیان والتحریر)

**وَشُرَکَآءَ کُمْ:** أَیْ وَادْعُـوْا شُرَکَاءَ کُمْ۔ راوغـواړئ شریـکـان او معبودان خپل چه تاسو سره مـدد وکړی ستـاسو په گمان۔ یعنی اول پوره او رشتینی عزم وکړئ بیا ورسره د خپل ایمان قوت یو ځای کړئ چه هغه د شرکاؤ نه مدد اخستل دی۔

**ثُـمَّ لَا یَکُـنْ أَمْرُکُمْ عَلَیْکُمْ غُمَّةً:** کـلـه یـو تـن کـار پټ ځـای کـښ کـوی دے دپاره چه مـخـالف ئـے ونهٔ تبنتی یا ئے پرے څوك وران نکړی نو دے ورته وائی چه په تاسو ډے کار پټ نهٔ وی چه هغه زما قتلول دی، زهٔ ستاسو نه چرته هم تبنتم نهٔ۔

**غُمَّةً:** أَیْ خَفِیًّا ۔ (پټ)۔ څینی وائی غمه د کار تنګوالی ته وائی۔ (ابوعبیدۃؒ) یعنی زما په باره کښ په ځان تنګی مهٔ راولئ۔

**ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَیَّ:** بیا ما ته فیصله وکړئ۔ یا ما ته کار خپـل پوره کړئ۔ (المنار)

أَیْ أَنْفِذُوْا مَا تُرِیْدُوْنَ۔ یعنی نافذ کړئ هغه شے چه تاسو ئے اراده لرئ۔ (التحریر)

او کله قضاء په معنیٰ د حکم او فیصلے سره وی او په اِلیٰ سره متعدی کیدو کښ معنیٰ د ایصال او خبر رسولو دے۔ یعنی بیا فیصله وکړئ او د هغے خبر ما ته راورسوئ۔ (المنار)

**وَلَا تُنْظِرُوْنِ:** یـعـنـی مـا تـه مهلت مهٔ راکوئ چه داسے ووایئ چه تا ته درے ورځے مهلت چه پـدے کـښ د بیـان نـه تـوبـه کـړه ګـنـے وژنو ډے۔ دا مهلت به نهٔ راکوئ ځکه چه مهلت خـلـك هغه چا ته ورکوی چه د هغه په خپله خبره کښ شك وی چه زهٔ دا کار وکړم او که نهٔ نـو هـغـه مـهـلـت وغـواړی چه زهٔ پـدے مـوده کښ فکر کوم، نو دے ورته وائی چه زهٔ فکر

نکوم ځکه چه زهٔ پدے یقین باندے یم چه زهٔ به دین بیانوم، الله تعالیٰ ما ته ددے حکم کړیدے او د الله تعالیٰ د طرفنه په بیان مکلف یم۔ دا ډیرے نیغے او ښکاره د متوجه کولو خبری دی او انتهائی ډیره خیر خواهی ده۔

| |
|---|
| فَاِنۡ تَوَلَّیۡتُمۡ فَمَا سَاَلۡتُکُمۡ مِّنۡ اَجۡرٍ ؕ اِنۡ اَجۡرِیَ |
| پس که واوړیدئ تاسو نو ما نهٔ ده غوختے ستاسو نه څه مزدوری، نهٔ ده مزدوری زما |
| اِلَّا عَلَی اللّٰہِ ۙ وَ اُمِرۡتُ اَنۡ اَکُوۡنَ مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۷۲﴾ |
| مگر په الله ده، او حکم شویدے ما ته چه زهٔ شم د (حکم) منونکو نه۔ |
| فَکَذَّبُوۡہُ فَنَجَّیۡنٰہُ وَ مَنۡ مَّعَہٗ |
| نو دروغجن اُوښیل دوی هغه ته نو بچ کړو مونږ هغه لره او هغه څوك چه ملگری وو دهغهٔ |
| فِی الۡفُلۡکِ وَ جَعَلۡنٰہُمۡ خَلٰٓئِفَ وَ اَغۡرَقۡنَا الَّذِیۡنَ |
| په کشتئ کښ او اُوگرځول مونږ دوی روستو اُوسیدونکی او غرق کړل مونږ هغه کسان |
| کَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَا ۚ فَانۡظُرۡ کَیۡفَ کَانَ عَاقِبَۃُ الۡمُنۡذَرِیۡنَ ﴿۷۳﴾ |
| چه دروغژن ئے گنړل آیتونه زمونږ نو وگوره چه څنگه شو انجام د یره ورکړے شوو (خلقو)۔ |

**تفسیر** : اُوس ورته خپل اخلاص بیانوی چه که تاسو زما خبره نهٔ منئ فَالۡوَبَالُ عَلَیۡکُمۡ۔ نو وبال به په تاسو باندے وی۔ ځکه چه زهٔ خو ستاسو نه مزدوری نهٔ غواړم، داسے نهٔ وایم چه زما ملگرې به کم شی بیا به تنخواه کمه شی۔

اِنۡ اَجۡرِیَ اِلَّا عَلَی اللّٰہِ : دا ورته ځکه وائی چه که یو تن ئے د خلکو نه هم نهٔ غواړی او د الله نه ئے هم نهٔ غواړی نو دا لیونے دے۔ نو د الله تعالیٰ نه اجر غوښتل کمال دے، نو کوم صوفیاء چه وائی چه مونږ نهٔ د الله تعالیٰ نه جنت او نه د اُور نه پناه غواړو بلکه صرف د هغهٔ رضا غواړو، نو دا کمزورے خبره ده او د دین مخالفه ده۔ (اِیۡمَانًا وَاحۡتِسَابًا) عمل کول لازم دی۔ یعنی عمل به د ایمان په وجه او د ثواب گنړلو په نیت سره کوی۔

خَلٰٓئِفَ: دلته نه معلومیږی چه د نوح علیه السلام سره تلل ملگری د زمکے جانشین شو لیکن د سورت صافات آیت (۷۷) نه معلومیږی چه دغه نور تابعدار هم ختم شو او صرف د نوح علیه السلام اولادو نه دنیا آباده شوه۔ الله فرمائی : ﴿ وَجَعَلۡنَا ذُرِّیَّتَہٗ ہُمُ الۡبَاقِیۡنَ﴾ ۔ (او مونږ

وګرځول اولاد د هغه پاتے په دنیا کښ)

او ددے نه دا هم معلومیږی چه د (وَمَنْ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ) نه مراد د نوح علیه السلام ځامن او اینګوریانے وے او بل څوك نۀ وو۔ چه صرف هم دوی ایمان والا وو او نور چا ایمان نۀ وو راوړے۔

اَلْمُنْذَرِيْنَ: یعنی کوم انسانان چه ویرولے شی او بیا هم خبره نۀ منی نو د هغوی انجام خرابیږی۔

| |
|---|
| ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ |
| بیا ولیږل مونږ روستو د هغه نه ډیر رسولان قومونو د هغوی ته نو راغلل دوی هغوی ته |
| بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا |
| په ښکاره معجزونو نۀ وو دوی چه ایمان ئے راوړے وے په هغه څه |
| كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ |
| چه دروغجن ګڼړلے وو دوی هغے لره مخکښ، دغسے مهر وهو مونږه |
| عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۷۴﴾ |
| په زړونو د زیاتی کونکو (د حد نه تیروتونکو) باندے۔ |

**تفسیر**: اُوس اجمالی واقعات د انبیاء علیهم السلام راوړی او د ټولو مشترك جرم بیانوی فرمائی: بیا مونږ د نوح علیه السلام نه روستو، صالح، ابراهیم، لوط او شعیب علیهم السلام خپلو قومونو طرف ته د معجزو او شریعتونو سره ولیږل، لیکن چونکه د کافرانو په فطرت کښ کوږ والے وو، او حق او رشتیا دروغجن ګڼړل د دوی زوړ عادت وو، پدے وجه کله چه الله تعالیٰ په خاص توګه د دوی نه د هر یو دپاره نبی راولیږلو نو دوی د هغۀ تکذیب وکړو۔

بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ: یعنی د اول نه ئے د هغوی تکذیب وکړو نو ددے په سبب الله تعالیٰ په دوی باندے مهر ووهلو لکه دا قسم عذاب په قرآن کریم کښ زیات ذکر کیږی چه مشرکان اول نه د حق او ښکاره معجزاتو خلاف وکړی نو الله تعالیٰ ورله په زړونو مهر ووهی بیا د ایمان توفیق نۀ ورکوی او کافر ئے د دنیا نه تیر کړی۔

كَذٰلِكَ نَطْبَعُ: یعنی بنده چه کله ګناه کوی او توبه نۀ وباسی نو ګناه کول د هغه دویم

طبیعت او فطرت جوړیږي، او د هغه په زړهٔ باندے مهر لګیږي، بیا هغه ته د ایمان او عمل صالح توفیق نهٔ ملاویږي او د هغه په زړهٔ کښ د خیر او شر تمییز باقي نهٔ پاتے کیږي۔

| |
|---|
| ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ |
| بیا اُولیږل مونږ روستو د دوی نه موسیٰ او هارون (علیهما السلام) فرعون |
| وَمَلَائِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ |
| او غټانو د قوم د هغهٔ ته په آیتونو خپلو نو لوئی اُوکړه دوی او وو دوی قوم مجرمان۔ |
| فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ |
| نو هرکله چه راغلو دوی ته حق د طرف زمونږ نه، ووئیل دوی یقیناً دا خامخا جادو دے |
| مُّبِيْنٌ ﴿۷۶﴾ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا |
| ښکاره۔ ووئیل موسیٰ (علیه السلام) آیا وایئ تاسو په باره د حق کښ هرکله |
| جَآءَكُمْ ؕ اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ |
| چه راغلو تاسو ته، آیا جادو دے دا او نهٔ شي کامیابیدے جادوګر۔ |

**تفسیر** : د موسیٰ او هارون علیهما السلام جلالتِ شان او د فرعونیانو سره د توحید د عقیدے په باره کښ چه د دوی کومه مناظره وشوه د هغے د خاص اهمیت په وجه هغه په مستقل توګه سره ذکر شویده۔ یو خو د مکے مشرکانو مشابهت د فرعونیانو سره ډیر وو او ددے امت د کافرانو مشابهت د فرعون سره زیات دے او د مؤمنانو مشابهت د بني اسرائیلو سره زیات دے او د رسول الله مشابهت د موسیٰ (علیه السلام) سره وو ځکه ئے دا واقعه تفصیلي ذکر کړه۔

فَاسْتَكْبَرُوْا : دا ئے د زړهٔ صفت دے او (وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ) ئے د عمل صفت دے یعني زړونه (عقیدے) او عملونه دواړه ئے خراب وو۔

د واقعے خلاصه : کله چه موسیٰ او هارون علیهما السلام د توحید دعوت راواخستو او فرعون او د هغه د قوم سردارانو ته لاړل، نو هغوی د استکبار نه کار واخستو او د هغه د قبلولو نه ئے انکار وکړو، ځکه چه ددے مخکنو جرمونو په وجه د دوی په زړونو مهر لګیدلے وو۔ او کله چه د آسماني معجزو مخے ته ئے خپل ځان بے وسه اُوموندو نو وے

وئيل چه دا خو ښكاره جادو دے۔ نو موسىٰ عليه السلام هغوى ته جواب وركړو چه آيا تهٔ د الله د طرف نه راليږلے شوى حق ته جادو وائے؟ دا جادو څنګه كيدے شى ؟ كه جادو وے نو ستاسو په ماهرو جادوګرانو زهٔ څنګه غالب راتلے شوم او د هغوى جادو به ما په يو دم څنګه ناكام كولے شو، جادوګر خو هيڅ كله نشى كاميابيدے۔

**اَتَقُوۡلُوۡنَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَ كُمۡ** : دلته مقوله پټه ده يعنى هٰذَا سِحۡرٌ۔ يعنى تاسو د حق په باره كښ دا وايئ چه دا جادو دے۔ او (اَسِحۡرٌ هٰذا) مستقل كلام دے د دوى د خبرے د رد دپاره ذكر شويدے يعنى آيا دا ګنے څه جادو دے چه تاسو ورته جادو وايئ۔

**وَلَا يُفۡلِحُ السّٰحِرُوۡنَ** : يعنى د ساحرانو خو انجام خراب وى نو ما له چه الله تعالىٰ غلبه راكوى معلوميږى چه زهٔ جادوګر نهٔ يم۔

بعض خلك پدے آيت نهٔ دى پوهه شوى نو بيا ئے دا عقيده جوړه كړيده چه جادو اثر نهٔ كوى ځكه كه جادو اثر وكړى نو بيا خو جادوګر كامياب شو او دلته الله تعالىٰ فرمائى : چه جادوګر نهٔ كاميابيږى۔ دا عقيده د قرآن او حديث او د مشاهدے خلاف ده۔

❁ نو ددے وجه نه بعض اهل علمو دوى ته جواب وركړيدے چه دلته معنىٰ دا ده :

وَلَا يُفۡلِحُ السَّاحِرُوۡنَ مِنَ الۡعَذَابِ الدُّنۡيَوِىِّ وَالۡاُخۡرَوِىِّ)

جادوګر كاميابيدے نشى چه د دنياوى او اخروى عذاب نه بچ شى۔

❁ بل تاويل ئے دا كړيدے : لَايُفۡلِحُ السَّاحِرُوۡنَ بِمُقَابَلَةِ الۡاَنۡبِيَاءِ۔ جادوګران د انبياء عليهم السلام په مقابله كښ كاميابيدے نشى۔ او هسے كاميابيدے شى۔

❁ دے كښ حقه خبره دا ده چه جادو اثر كوى او دا آيت د هغے هيڅ خلاف نهٔ دے، ځكه چه دلته فلاح لفظ ذكر دے او فلاح د انجام ښه كيدو ته وائى او ساحر چه سحر وكړو او هغے اثر وكړو او چا ته ئے ضرر وركړو نو دا خو كاميابى نهٔ ده بلكه همدا ناكامى ده۔ ځكه چه انجام ئے خراب دے۔

بيا كه پدے آيت كښ دا اشكال راپيدا كيږى نو بيا خو بل آيت كښ دى ﴿ اِنَّهٗ لَايُفۡلِحُ الۡكٰفِرُوۡنَ﴾ (المؤمنون : ١١٧) او دے سورت آيت (١٧) كښ ﴿ اِنَّهٗ لَايُفۡلِحُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ﴾ او ﴿ اِنَّهٗ لَايُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ﴾ (انعام : ١٣٥) كښ ذكر دى۔ نو پدے آيتونو كښ هم دا ذكر دى چه كافران، ظالمان او مجرمان نشى كاميابيدے، حال دا چه كافرانو او ظالمانو او مجرمانو سره بادشاهى ده، نو مطلب دا شو چه د دوى انجام خراب دے آخرت ئے برباد دے اګركه په دنيا كښ به ئے مقصدونه پوره كيږى لكه جادوګر په جادو سره خپل مقصد پوره كوى چه

خلکو ته ضرر ورکوی، یا پیسے وګټی لیکن انجام ئے حرابیدو والا دے۔

| |
|---|
| قَالُوٓا اَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا |
| ووئیل دوی آیا راغلے ئے ته مونږ ته دے دپاره چه واړوے مونږ لره د هغه طریقے نه |
| وَجَدۡنَا عَلَیۡهِ اٰبَآءَ نَا وَتَکُوۡنَ لَکُمَا الۡکِبۡرِیَآءُ فِی الۡاَرۡضِ ؕ |
| چه موندلی دی مونږ په هغے پلاران خپل او شی تاسو دواړو لره مشری په زمکه کښ، |
| وَمَا نَحۡنُ لَکُمَا بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۷۸﴾ |
| او نهٔ یو مونږ تاسو لره خبره منونکی۔ |

**تفسیر**: کله چه فرعون ددے یقینی دلیل مخے ته خپل ځان بالکل عاجز وموندو نو وے وئیل چه آیا تهٔ مونږه د خپلو پلارانو نیکونو د دین نه اړول غواړے؟ او آیا تهٔ غواړے چه مونږ تا لره خپل حاکم او آقا اُومنو ؟ داسے نشی کیدے، مونږ په تا باندے ایمان راوړونکی نهٔ یو۔

شوکانیؒ لیکلی دی چه دے دنیاوی لوئی والی او د کرسئ محبت په هر دور کښ ځو مره کسان د حق د قبلولو نه منع کړیدی، او خپل ځانونه ئے په باطل باندے سره د پوهے نه مضبوط کړیدی، ددے بیماریٔ په وجه ځو مره خلق په کفر، ځو مره خلق په بدعت او ځو مره خلق د صحیح حدیث موجودیدو باوجود په خپله فاسده رائے کلك پاتے شویدی !!۔

وَتَکُوۡنَ لَکُمَا الۡکِبۡرِیَآءُ: پدے دوه اعتراضونو سره دوی د دعوت اصلی شکل بدل کړو، لکه اُوس خلك داسے وائی چه تاسو مونږ د امامانو نه اړویٔ او تاسو کشرانو پسے به روانیږو۔ نو دا د دعوت شکل بدلول دی، مونږ خو خپل ځان ته دعوت نهٔ ورکوو بلکه زمونږ دعوت کتاب او سنت ته دے۔

| |
|---|
| وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ائۡتُوۡنِیۡ بِکُلِّ سٰحِرٍ عَلِیۡمٍ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ |
| او اُووئیل فرعون راولیٔ ما ته هر جادوګر پوهه (ماهر)۔ نو هرکله چه راغلل جادوګر |
| قَالَ لَهُمۡ مُّوۡسٰۤی اَلۡقُوۡا مَاۤ اَنۡتُمۡ مُّلۡقُوۡنَ ﴿۸۰﴾ فَلَمَّاۤ |
| ووئیل دوی ته موسیٰ (علیه السلام) ګوزار کړیٔ هغه چه تاسو ئے ګوزارونکی یئ۔ نو هرکله |

اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ

چه گوزار کړل دوی (پرې خپل) ووئیل موسیٰ (علیه السلام) هغه شے چه راوړیدے تاسو هغه

السِّحْرُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ

هغه خو جادو دے، یقیناً الله زر دے چه ختم به کړی اثر د هغے، یقیناً الله نهٔ کامیابوی کار

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸۲﴾

د مفسدانو۔ او ثابتوی الله تعالیٰ حق لره په خبرو خپلو سره اګرکه بد ګنړی مجرمان۔

**تفسیر**: کله چه فرعون د موسی علیه السلام امسا اژدها جوړیدو سره په زمکه حرکت کونکے ولیده او د هغه د لاس نه د رنړا شعلے راوتل ئے ولیدل نو پو هه شو چه دا هم کوم جادو دے، پدے وجه هغهٔ خپلو خلقو ته ووئیل چه د ملك تمام لوئی جادوګران راجمع کړئ۔

موسیٰ علیه السلام هغه جادوګرانو ته ووئیل چه مخکښ تاسو د خپل قوت مظاهره وکړئ۔

دلته په واقعه کښ اختصار شویدے اول جادوګرو دغه درخواست وکړو۔ نو هغوی اُووئیل چه د فرعون په عزت قسم، بیشکه مونږ غالب راتلونکی یو، او خپلے رسۍ او امساګانے ئے په زمکه ګوزار کړے۔ موسیٰ علیه السلام اُووئیل چه دا جادو دے، د الله معجزه نهٔ ده، الله به نزدے ده چه د معجزے په قوت سره دا زائل کړی، الله تعالیٰ په زمکه کښ د فساد خورونکو عمل نهٔ کامیابوی۔ موسیٰ علیه السلام خپله امسا په زمکه ګوزار کړه او د هغے نه اژدها جوړه شوه او د هغوی ذ جادو ماران ئے تیر کړل، او د فرعون د نهٔ خوښولو باوجود حق غالب شو۔ د موسیٰ علیه السلام دا واقعه ددے سورت نه غیر په سورة الاعراف (۱۱۶) او سورة طه (۷۲/۷۱) آیتونو او د سورة الشعراء په (۴۹) آیتونو کښ هم راغلے ده۔

**مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحر**: پدے کښ د مناظرے طریقه خودلے شویده چه د باطل پرست دلیل خلکو ته سپك ښکاره کړی چه دا څه دلیل دے چه تا پیش کړو، دلیل خو قرآن او حدیث وی، نهٔ حاشیے او کتابچے۔

**اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُه**: سحر خو هسے هم باطل دے خو دلته معنیٰ دا ده: (يُمْحِيْ اَثَرَهٗ) ددے اثر به ختم کړی۔

**لَا يُصْلِحُ**: اَیْ لَایُقَوِّیْهِ وَلَا یُکَمِّلُهٗ وَلَایُحَسِّنُهٗ یعنی الله تعالیٰ نهٔ مضبوطوی او نهٔ ئے کاملوی او نهٔ ئے برابروی۔ بلکه د هغه عمل به وخت په وخت کمزورے کوی ﴿ وَاَنَّ اللّٰهَ

مُوْهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِيْنَ﴾۔ (انفال: ۱۸) (الله تعالیٰ کمزورے کونکے دے مکر د کافرانو)
الْمُفْسِدِيْن : ئے په اسم ظاهر سره ذکر کړل پدے کښې نکته تسجیل دے په دغه مخاطبینو چه تاسو مفسدان یئ۔ او دا هم معلومه شوه چه سحر لوی فساد او ساحر لوی مُفسد دے۔

| |
|---|
| فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ |
| پس ایمان رانهٔ وړو په موسیٰ (علیه السلام) باندے مگر څو ځوانانو د قوم د هغه نه سره د یرے نه |
| مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَاۡئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ |
| د فرعون نه او د غټانو د قوم د هغوی نه چه وابه ړوی دوی لره (د دین نه) او یقیناً فرعون |
| لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ |
| خامخا لوئی کونکے په زمکه کښې او یقیناً خامخا د زیاتی کونکو نه وو۔ |

**تفسیر** : د موسیٰ علیه السلام ددے عظیمے کامیابئ او د فرعونیانو رسوا کن شکست نه روستو د بنی اسرائیلو ځوانانو د فرعونیانو نه د یرے سره سره په موسیٰ علیه السلام ایمان راوړو۔ او د فرعون نه د هغوی د یریدو وجه دا وه چه هغه انتهائی متکبر او ظالم شخص وو۔
ذُرِّيَّةٌ: دلته شبان (ځوانانو) ته وائی او اکثر د حق تابعدار ځوانان وی، ﴿ سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ﴾ (انبياء: ٦٠) ﴿ اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوْا بِرَبِّهِمْ﴾ (الکهف : ۱۳) ځکه چه د بوډا ذهن په یو طرف باندے جوړ شوے وی نو که په باطل ولاړ وی حق ته زر نهٔ راځی او د ځوانانو ذهن تازه وی او ضد او عناد پکښې نهٔ وی په حق زر پو هیږی۔ او په بوډا کښې کبر او ضد او عناد زیات وی نو حق ته غالباً نهٔ راځی۔
مِّنْ قَوْمِهٖ: دے ضمیر کښې دوه احتماله دی (۱) یعنی د قوم د موسیٰ علیه السلام نه۔
۲- یا د قوم د فرعون نه یعنی قبطیانو نه، چه په هغوی کښې مؤمن د آل فرعون وو او د هغه ښځه او ماشطه د هغهٔ د لور (یعنی د هغه د لور سر ګمنځونکے) او د هغه د خزانچی ښځه هم وه۔ (فتح البیان) او همدا احتمال ظاهر دے ځکه چه ټولو بنی اسرائیلو ایمان راوړے وو او هغوی ټولو هجرت هم کړے وو۔
وَمَلَاۡئِهِمْ : ضمیر فرعون ته راجع دے لیکن جمع شو ځکه چه هغه یواځے نهٔ وو بلکه

نور سرکشان هم ورسره وو. یا ضمیر ذریة ته راجع دے، یعنی ددے ځوانانو د مشرانو نه. دا هم دلیل دے چه د (قومه) ضمیر فرعون ته راجع دے، ځکه چه ددے ځوانانو مشران قبطیان وو نو دوی د هغوی نه یریدل.

**اَنْ يَّفْتِنَهُمْ** : اَیْ یُعَذِّبَهُمْ. اَوْ یَصْرِفَهُمْ عَنْ دِیْنِهِمْ بِالْعَذَابِ. یعنی عذاب به ورکړی. یا به ئے واړوی د خپل دین نه په سبب د عذاب ورکولو سره.

**وَاِنَّ فِرْعَوْنَ** : دائے علت د ما قبل ذکر کړو چه دوی ځکه یریدل چه فرعون لوی متکبر او ظالم وو.

**لَعَالٍ**: علو په حقوق الله کښې وه او اسراف په حقوق العباد کښې.

**الْمُسْرِفِيْنَ** : یعنی په کفر او قتل او سولئ ورکولو او قسم قسم عذابونو ورکولو کښې د حد نه تجاوز کونکو نه وو. یا پدے وجه چه دے بنده وو او د ربوبیت دعوه ئے کړے وه.

(فتح البیان)

| |
|---|
| وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ |
| او ووئیل موسیٰ (علیه السلام) اے قومه زما که چرے تاسو ایمان راوړے وی |
| بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَقَالُوْا |
| په الله تعالیٰ نو په هغه ځان اُوسپارئ که یئ تاسو حکم منونکی. نو اُووئیل دوی |
| عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً |
| خاص په الله مونږ ځان سپارلے دے، اے ربه زمونږ ! مه ګرځوه مونږه امتحان |
| لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾ |
| د قوم ظالمانو دپاره. او بچ کړه مونږ په رحمت خپل سره د قوم کافرانو نه. |

**تفسیر** : په دے درے آیتونو کښې دی دا خبره ذکر کیږی چه کله په بنی اسرائیلو باندے د یرے آثار ښکاره شو نو موسیٰ ؑ هغوی ته وویل چه اے زما قومه ! که تاسو په الله ایمان راوړے وی نو بیا د اسلام تقاضا دا ده چه په هغه بهروسه وکړئ، نو هغوی جواب ورکړو چه مونږ په الله باندے بهروسه وکړه، او دعائے وکړه چه اے زمونږ ربه ! ظالمان فرعونیان په مونږ باندے مه مسلط کوه، چرته داسے ونهٔ شی چه هغوی مونږ ته عذاب راکړی او د دین

د طرف نه مو په امتحان کښ واچوی، او مونږ ته په خپل رحم او کرم سره ددے کافرانو نه نجات راکړه۔
فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓا : ځکه چه توکل د ایمان د لوازماتو نه دے۔ او په داسے موقعه کښ توکل ته ډیر ضرورت راځی۔
اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّسۡلِمِيۡنَ : ددے جزاء پټه ده اَیۡ فَاَطِيۡعُوۡنِىۡ ۔ یعنی که تاسو مسلمانان یئ نو بیا زما تابعداری وکړئ۔ او دے ته خطاب التهییج وائی یعنی د خپل قوم راپورته کول چه اے خلکو ! ایمان درسره دے نو توکل ځان کښ پیدا کړئ۔
فِتۡنَةً: ١- اَیۡ مُعَذَّبِيۡنَ ۔ یعنی عذاب راکړے شوی د دوی په لاسونو۔ ٢- امتحانًا، (یعنی د کافرانو دپاره مو امتحان مهٔ ګرځوه) ځکه چه که هغوی مونږ ته عذابونه راکوی نو هغوی به وائی چه که دا کسان د الله اولیاء وے نو په دوی به دا مصیبتونه نهٔ راتللے۔ نو دا ددے ظالمانو دپاره امتحان وګرځی۔ او مطلب دا شو چه اے الله ! د خلکو د طرفنه هم تکلیف مهٔ راوله او خپل هم مهٔ راوله۔

| |
|---|
| وَاَوۡحَيۡنَآ اِلٰى مُوۡسٰى وَاَخِيۡهِ اَنۡ تَبَوَّاٰ لِقَوۡمِكُمَا |
| او وحی اُوکړه مونږه موسیٰ او وورور د هغه ته چه تیار کړئ دپاره د قوم ستاسو |
| بِمِصۡرَ بُيُوۡتًا وَّاجۡعَلُوۡا بُيُوۡتَكُمۡ قِبۡلَةً |
| په مصر کښ کورونه او اُوګرځوئ په کورونو خپلو کښ قبله (ځائے د مانځه) |
| وَّاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٨٧﴾ |
| او پابندی کوئ د مانځه او زیرے ورکړه مؤمنانو ته۔ |

**تفسیر** : الله تعالیٰ موسیٰ او هارون علیهما السلام ته حکم اُوکړو چه هغوی د بنی اسرائیلو دپاره په مصر کښ جدا کلی تیار کړی، (ددے نه معلومیږی چه د هجرت زمانه ډیره روستو ده) ځکه چه د فرعونیانو د شکست او د بنی اسرائیلو د اسلام راوړو نه روستو د مسلمانانو سره د فرعونیانو دشمنی نوره سخته شوے وه او د هغوی سره ژوند تیرول مشکل شوی وو۔ یو خو د فرعونیانو ظلم او استبداد زیات شوے وو، او بل دا چه د صادق مؤمن او کافر په یو ځای وسیدل هسے هم ناممکن وی۔
کافران د فرعون او د بتانو عبادت کونکی وو او بنی اسرائیل یواځے د الله تعالیٰ عبادت

کونکی وو. پدې وجه الله تعالیٰ دوی ته وویل چه تاسو خپل کورونه د مساجدو په توګه استعمال کړئ، او دننه مونځونه کوئ، دې دپاره چه د فرعون کارکنان که تاسو بهر په ګیرجو کښې په مونځونو کولو ووینی نو ضرر درنکړی ځکه چه دوی به د هغوی سره په ګیرجو کښې شریك مونځونه کول تردې چه د هغوی نه ویریدل نو دا حکم ورته وشو. (مجاهدؒ)

او الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته دا حکم هم وکړو چه هغه مسلمانانو ته زیرې ورکړی چه الله به دوی ته په دنیا کښې عزت او غلبه ورکوی او په آخرت کښې به جنت ورکوی.

**وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً**: پدې کښې درې تفسیره دی (۱) ظاهر تفسیر دادې چه د خپل کور نه جمات جوړ کړئ یعنی په خپلو کورونو کښې مونځونه کوئ.

قتادهٔ وائی: دا په هغه وخت کښې وو چه فرعون دوی د مانځه نه منع کړل نو دوی ته حکم وشو چه په خپلو کورونو کښې قبلې ته مخامخ مساجد جوړ کړی. (فتح البیان)

او پدې کښې اشاره ده د صحابه کرامؓ حال ته په مکه کښې چه مسجد حرام ته نشو راتللې چه په شریکه عبادت وکړی نو هغوی ته هم اشاره ورکوی چه تاسو په کورونو کښې عبادت وکړئ لکه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه دغه شان کړی وو. او دې کښې دې ته هم اشاره ده چه کله تکلیف راشی نو عبادت ډیر کړه، د الله تعالیٰ مدد به زر راورسیږی.

۲- اِبْنُوا الْمَسَاجِدَ مُتَوَجِّهَةً اِلٰى جِهَةِ الْقِبْلَةِ. یعنی مساجد جوړ کړئ او قبلې ته ئې متوجه کړئ. دا تفسیر ظاهر نهٔ دې ځکه چه بنی اسرائیلو دا طاقت نهٔ لرلو چه د فرعون په موجودګئ کښې دوی ښکاره مساجد جوړ کړی.

۳- اِجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ يُقَابِلُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا. یعنی کورونه د یو بل مخامخ جوړ کړئ چه ستاسو اجتماعیت ثابت شی او چه په یو تکلیف راځی نو بل به ترې خبریږی. یعنی کیمپ کښې راجمع شئ ځوك به دریاندې ډیر ظلم نشی کولې. او دا هم جائز تفسیر دې.

| |
|---|
| وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً |
| او ووئیل موسیٰ (علیه السلام) اې ربه زمونږ! یقیناً تا ورکړیدې فرعون ته او غټانو د هغه ته ډول |
| وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا |
| او مالونه په ژوند دنیوی کښې اې ربه زمونږ! (ددې حکمت دپاره ډې ورکړیدی) |

| |
|---|
| لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِكَ ج رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰى اَمْوَالِهِمْ |
| چه واړوی خلق د لارے ستا نه اے ربه زمونږ ! کوته (خراب) کړه مالونه د دوی |
| وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۸۸﴾ |
| او سختی راوله په زړونو د دوی پس چه ایمان رانهٔ وړی تردے چه ووینی عذاب دردناك. |
| قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا |
| ووئیل الله په تحقیق سره قبوله شوه دعا ستاسو د د دواړو نو کلك شئ (په خپله طریقه) |
| وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ |
| او مهٔ روانیږئ په لاره د هغه کسانو چه نهٔ پو هیږی. |

**تفسیر** : پدے کښ د موسیٰ علیه السلام ښیرے ذکر دی فرعونیانو ته او دائے د الله تعالیٰ په امر باندے کړے وے. پدے کښ د مکے مشرکانو ته اشاره ده چه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ښیرے به مو ووهی، تباه او هلاك به شئ، ورانی او فسادونه مهٔ کوئ او نیکانو ته ضررونه مهٔ ورکوئ. او دے آیت باندے رسول الله صلی الله علیه وسلم هم عمل وکړو چه کله هغه په مسجد حرام کښ مونځ کولو او عقبه بن ابی معیط (لعین) او نورو سرکشانو لری او پریوانونه راوړل او په هغه باندے ئے د سجدے په حالت کښ واچول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د مانځه نه فارغ شو، دے کسانو ته ئے ښیرے وکړے. عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : قسم په الله ما دغه ټول کسان مردار ولیدل چه په بدر کښ کو هی ته گوزار کړے شول.

موسیٰ علیه السلام اُولیدل چه د هغه د ډیرو کوششونو باوجود د فرعون او د هغه د سردارانو په کبر او غرور کښ کمی رانغله او د هغوی کفر او عناد همداسے زیاتیږی، او د هغوی د ایمان راوړو هیڅ امید باقی پاتے نهٔ شو، نو دوی هغوی ته ښیرے وکړے او وے ویل چه اے زمونږه ربه ! تا فرعون او د هغه سردارانو ته ددے دپاره د ډول اسباب او مال او دولت ورکړے چه هغوی گمراه شی او خلقو لره ستا د لارے نه منع کړی. اے الله ! تهٔ د دوی دولتونه ختم کړه، او د دوی زړونه سخت کړه، دے دپاره چه اُوس دوی د اسلام راوړو سوچ اُونکړی، تردے پورے چه سخت عذاب دوی راگیر کړی.

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه د موسیٰ علیه السلام دا ښیرے د الله او د هغه د دین د خاطره د

خفگان په سبب ددے یقین نه روستو وے چه اُوس په فرعونیانو کښ هیڅ خیر نشته دے۔
اٰتَیۡتَ فِرۡعَوۡنَ : یعنی تا خو دوی ته مالونه او دولتونه ددے دپاره ورکړی وو چه دوی ستا شکر وکړی او ستا په رسولانو ایمان راوړی لیکن انجام دا شو چه دوی د هغے نه غلطه فائده واخسته او گمراهی ئے اختیار کړه۔
رَبَّنَا لِیُضِلُّوۡا: دا لام د عاقبت دے یعنی انجام ئے دا شو چه دوی پرے گمراه شو۔ (سیبویہؒ) فراءؒ وائی چه دا لام کئ دے او دے ته لام الحکمة هم وائی۔ یعنی تا دوی ته مالونه او ډولونه ددے دپاره ورکړیدی چه پدے کښ ستا حکمة دا دے چه ته دوی گمراه کول غواړے، ځکه چه کله ناکله الله تعالیٰ یو بنده ته مال او دولت ددے دپاره ورکوی چه د هغه سرکشی زیاته شی۔ ﴿وَاِذَاۤ اَرَدۡنَاۤ اَنۡ نُّهۡلِكَ قَرۡیَةً اَمَرۡنَا مُتۡرَفِیۡهَا فَفَسَقُوۡا فِیۡهَا فَحَقَّ عَلَیۡهَا الۡقَوۡلُ﴾ (الاسراء: ۱٦) (کله چه مونږ غواړو چه یو کلے هلاك کړو نو مونږ حکم وکړو د هغوی مستانو ته نو هغوی نافرمانی شروع کړی په هغے کښ نو ثابته شی په هغے باندے فیصله د عذاب) نو مال او اولاد د هغه دپاره امتحان وی چه هغه په کښ ناکام کیږی، او دا عقوبت دے د الله د طرفنه، د انسان د بد عملئ د وجه نه۔
او دا تفسیر صحیح نهٔ دے چه دلته (لِئَلَّا) کلمه مقدره گنړی۔ (یعنی دے دپاره چه گمراه نشی) دا د قرآن د ظاهری الفاظو خلاف دے۔ لکه روستو راځی۔
زِیۡنَةً : زینت هغه شی ته وائی چه په هغے باندے ښائست راځی لکه جامے، سورلئ، گانړه، بسترے، وسلے وغیره او مال هغه دے چه پدے څیزونو باندے زیات وی لکه پیسے وغیره۔ (فتح)
رَبَّنَا اطۡمِسۡ : یعنی مالونه ئے کوټه او بیکاره کړه۔
فَلَا یُؤۡمِنُوۡا:

## اشکال او جواب

موسیٰ علیه السلام څنگه دعا کوی چه اے الله! دوی ته د ایمان توفیق مهٔ ورکوه او دوی د دنیا نه کافران تیر کړه حال دا چه موسیٰ علیه السلام خو د ایمان د دعوت دپاره راغلے دے نو داعی د ایمان څنگه داسے ښیرے وکړی؟ ددے اشکال د لرے کولو دپاره ځینی خلك په قرآن کښ غلط تاویلات کوی لکه قرطبیؒ وغیره لیکلے دے (او زمونږ بعض استاذان ئے بیانوی) چه (لِیُضِلُّوۡا) کښ لام مقدر دے اَیۡ لِئَلَّا یُضِلُّوۡا او فَلَا یُؤۡمِنُوۡا عطف دے په یُضِلُّوۡا باندے او نفی چه په نفی داخل شی اثبات پیدا کوی نو معنیٰ دا شوه چه تا مالونه ددے دپاره ورکړیدی چه دوی گمراه نشی او دوی ایمان راوړی۔ دا تفسیر ځکه غلط دے چه دا ﴿اِطۡمِسۡ عَلٰۤی اَمۡوَالِهِمۡ

وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾- او ﴿ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ﴾سره بيخي نهٔ لګي۔
صحيح تفسير دا دے چه آيت په ظاهر باندے دے، او دا ښيرے دي چه د الله تعالىٰ په امر باندے ئے کړيدي لکه يو تن چه ډير ضرري شي نو هغه ته ښيرے کول د انبياء عليهم السلام نه نقل دي لکه نوح عليه السلام ښيرے کړيدي کله چه ورته الله تعالىٰ خبر ورکړو چه ستا د قوم نه نور هيڅوك ايمان نهٔ راوړي نو هغه ووېل ﴿رَبِّ لَاتَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكَافِرِيْنَ دَيَّارًا﴾ (نوح : ٢٦) (اے ربه زما ! مهٔ پريږده په زمکه باندے د کافرانو نه يو تن ګرځيدونکے) او رسول الله ﷺ هم کړيدي۔ (فتح البيان)
او ډيره موده چه انسان فسادونه او ضدونه کوي نو الله تعالىٰ پرے مهر وهي او د مهر يوه طريقه دا ده چه نبي ورته ښيرے وکړي نو خاتمه ئے خرابه شي۔
عَلٰى اَمْوَالِهِمْ : يعني اقتصاد چه د دوي خراب نشي نو دوي ډير مست وي۔ نو مالونه ورله کوټه کړه چه مستي ترے ووځي۔
فَلَا يُؤْمِنُوْا: يعني زړونه ورله داسے سخت کړه چه هيڅکله ايمان رانهٔ وړي۔ او دا د عذاب د نازليدو نه هم ډيره سخته سزا ده ځکه چه عذاب راشي نو مرګ به ورسره راشي۔ او چه کله انسان ايمان رانهٔ وړي نو دنيا کښې هم هلاك دے او ابدي ابدي هلاکت ته وړاندے شو۔
حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ: تردے چه دوي عذاب وويني بيا به ايمان راوړي خو هغے له به اعتبار نهٔ وي۔ او دغه عذاب غرقيدل وو چه دوي پکښې اخته شول۔ (ابن عباسؓ)
اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا : ددے نه بعض کم علمه خلك په مانځه کښې د آمين بالخفيه دپاره دليل نيسي۔ وائي چه موسىٰ عليه السلام دعا کوله او هارون عليه السلام به پرے آمين وئيلو۔ دا خبره سراسر خطاء ده ځکه چه اول خو ددے خبرے ثبوت نشته چه هارون عليه السلام آمين وئيلے دے بلکه دا جائز ده چه دواړو دعا کړي وي، او مخکښې آيت کښې ئے نسبت د دعا موسىٰ عليه السلام ته وکړو ځکه چه هغه اصل رسول وو او هارون عليه السلام د هغهٔ تابع وو۔
نحاسؒ وائي ما د علي بن سليمانؒ نه واوريدل چه هغه به وئيل چه دا د دواړو دعاء وه او دليل دا دے چه هغه (رَبَّنَا) لفظ استعمال کړيدے او نهٔ (رَبِّ) او بل (دَعْوَتُكُمَا) لفظ دليل دے۔ (فتح البيان)
دويم که ومنو چه هارون عليه السلام آمين وئيلے دے نو څه دليل دے چه هغه په خفيه سره وئيلے دے بلکه کيدے شي چه هغه هم په زوره وئيلي وي۔ نو ددے نه آمين بالجهر معلوميږي۔

**فَاسْتَقِيْمَا** : اَیْ فِي الدَّعْوَةِ اِلَى اللّٰهِ وَالْعَمَلِ بِدِيْنِ اللّٰهِ ۔ یعنی الله تعالیٰ ته په دعوت ورکولو کلك ودریږئ۔ او په دین باندے په عمل کولو۔

فراء وغیره وائی : دواړو ته حکم وشو چه په خپل کار باندے مضبوط وسیږئ تردے چه تاسو ته ددے ښیرو قبولو الے راشی۔ او د ابن عباس ؓ نه نقل دی چه دا ښیرے خلویښت کاله روستو قبولے شوے او وعده د قبلیدو مخکښ نه شوے وه او پدے کښ به د الله تعالیٰ حکمة وو۔ (ددے نه معلومیږی چه داعی به کله ښیرے وکړی او فی الحال به قبولے نشی نو هغه به د نا امیدئ درجے ته ورسیږی لیکن روستو به قبلیږی)۔

او صاحب المنار وائی چه ددے قبلیدو آثار دا راښکاره شو چه په فرعونیانو باندے په مصر کښ مصیبتونه او عذابونه نازلیدل شروع شو او په هر ځل به دوی موسیٰ علیه السلام ته راتلل او د هغے په لرے کیدو به ئے د ایمان د راوړو وعده کوله او د لرے کیدو نه روستو به ئے وعده ماتوله آخر فرعون تنگ شو او بنی اسرائیلو ته ئے د هجرت اجازه ورکړه۔ لکه ددے تفصیل په سورة الاعراف آیت (۱۳۳) کښ ذکر شویدے۔ (المنار)

ځینی وائی : د استقامة معنیٰ دا ده چه تاسو جلتئ مهٔ کوئ او په آرام وسیږئ او د الله تعالیٰ په فیصله باندے راضی شئ او هغے ته تسلیم شئ۔ (فتح البیان) یعنی داسے به نهٔ وایئ چه مونږ ښیرے وکړے او اوسه پورے قبولے نشوے او ډیره موده تیره شوه۔

**سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ** : سُنَّتِيْ فِيْ خَلْقِيْ وَاِنْجَازِ وَعْدِيْ لِرُسُلِيْ۔ (المنار)

د هغه کسانو په لاره مهٔ روانیږئ چه هغوی زما په مخلوق کښ زما عادت نهٔ پیژنی او زما د رسولانو سره د وعدے پوره والے نهٔ پیژنی۔

| |
|---|
| وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ |
| او پورے ویستل مونږ بنی اسرائیل په دریاب باندے نو وریسے شهو دوی پسے فرعون |
| وَجُنُوْدُهٗ بَغْيًا وَّعَدْوًا ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ |
| او لښکرے د هغهٔ د وجه د ضد (کینے) او دشمنئ نه، تردے چه کله رالاندے کړو دهٔ لره |
| الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ |
| غرقیدلو نو ووئیل دهٔ ایمان راوړے ما پدے چه نشته حقدار د بندگئ سویٰ د هغه ذات نه |

| |
|---|
| اٰمَنَتۡ بِهٖ بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِيۡلَ وَاَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿۹۰﴾ آٰلۡـٰٔنَ |
| چه ایمان راوړے په هغه باندے بنی اسرائیلو او زهٔ د منونکو (تابعدارو) نه یم۔ اُوس (تهٔ ایمان |
| وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنۡتَ مِنَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۹۱﴾ |
| راوړے) او په تحقیق سره نافرمانی دِے کړیده مخکښ ددینه، او وے ته د فساد کونکو نه |

**تفسیر** : موسیٰ علیه السلام چه کله د مسلمانانو سره دریاب ته اُورسیدو نو وے لیدل چه فرعون د خپل خان سره راروان کړے لښکر د دوی تعاقب کوی دوی ته رانزدے شویدے، او نزدے ده چه دوی رالاندے کړی، نو الله تعالیٰ هغه ته حکم وکړو چه هغه په خپله امسا سره اُوبه ووهی، هغه چه کله داسے وکړل نو د دریاب اُوبه په دوه حصو تقسیم شوے او د غرونو په شان ودریدے، زمکه اُوچه شوه، او موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو سره په دریاب پورے وتل۔ فرعون د خپل لښکر سره (چه د هغوی شمار د قرطبیؒ د قول مطابق پنځه ویشت لاکهو نه زیات وو) د موسیٰ علیه السلام او بنی اسرائیلو پسے شو (چه د هغوی شمار تقریباً شپږ لاکهه شل زره وو قاله الخطیبؒ- فتح البیان) او کله چه دریاب ته ورسیدو نو الله د دریاب اُوبه په دوی باندے راواپس کړے، او ټول په ټوله هلاك شو۔

فرعون چه کله خپل مرګ د خپلو سترګو مخامخ ګهیدونکے ولیدو نو وے وئیل چه زهٔ ایمان راوړم پدے چه د هغه ذات نه سویٰ حقدار د عبادت نشته په کوم باندے چه بنی اسرائیلو ایمان راوړیدے۔ او زهٔ اُوس مسلمان یم۔ نو الله تعالیٰ د هغه ایمان رد کړو او وے وئیل چه اُوس د ایمان هیڅ فائده نشته حال دا چه ددے وخت نه مخکښ پورے تا نافرمانی کوله، او په زمکه کښ دِے فسادونه خورول، او نن به زهٔ ستا جسم په یوه اُوچته زمکه ګوزارم دے دپاره چه تهٔ د راتلونکی نسلونو دپاره د عبرت نخه اُوګرځے، او دے دپاره چه خلقو ته پته ولګی چه تهٔ یو سپك بنده وے، الله تعالیٰ او معبود نهٔ وے۔

بَغۡيًا وَّعَدۡوًا: یعنی په ظلم او دشمنئ سره۔ فرعون څکه ظالم وو چه هر کله بنی اسرائیل وتښتیدل نو بیا ددهٔ څه کار دے چه د هغوی پسے روانیږی او هغوی راواپس کول غواړی، بس مصرئے ورته پریښودو مګر فرعون په ډیره لویه سرکشئ کښ وو۔

وَاَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ : یعنی ما ایمان راوړو (د زړهٔ تصدیق مے وکړو اګرکه دا تصدیق ئے د مخکښ نه موجود وو - ﴿وَجَحَدُوۡا بِهَا وَاسۡتَيۡقَنَتۡهَاۤ اَنۡفُسُهُمۡ ظُلۡمًا وَّعُلُوًّا﴾ (النمل: ١٤) او زهٔ د

هغه کسانو نه یو فرد یم چه هغوی الله تعالیٰ ته غاړه ایخودونکی دی او د هغه امر منونکی او هغه ته عاجزی کونکی دی۔
یعنی د زړهٔ تصدیق او عمل دواړو ته تیار یم۔ حال دا چه مخکښ تصدیق کونکے وو لیکن تابعداری او خضوع پکښ نهٔ وه بلکه متکبر وو۔
**آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ** : دا ورته الله تعالیٰ وویل یا جبریل علیه السلام د طرفه د الله تعالیٰ نه۔ یعنی ته اُوس اسلام راوړے او د اسلام دعوه کوے او غاړه ایږدے او تابعداری کوے چه اُوس ئے وخت تیر دے بلکه اُوس د هلاکت وخت دے، حال دا چه ته مخکښ د مفسدانو نه وے او په بندګانو به دِے ظلمونه کول۔ یعنی اُوس د اسلام دعوه باطله ده او ایمان (تصدیق) په غیر د اسلام نه سره د امکان د هغے نه نهٔ قبلیږیٰ نو اُوس به د مجبورتیا په حالت کښ څه قبول شی، دا اسلام ستا اختیاری نهٔ دے بلکه اضطراری دے۔ (المنار)
د فرعون ایمان ځکه قبول نشو چه عذاب ئے ولیدو او ایمان او توبه په دے وخت کښ قبوله نهٔ وی۔ لکه الله فرمائی : ﴿ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَأْسَنَا﴾ (غافر : ۸۵) (نو دوی ته ایمان د دوی فائده ورنکړه هرکله چه دوی زمونږ عذاب ولیدو) او ایمان په اقرار د توحید او په اقرار د نبوت سره پوره کیږی او فرعون د نبوت اقرار نهٔ وو کړے نو ایمان ئے صحیح نشو۔
(فتح البیان)
بله وجه دا ده چه دهٔ په ایمان کښ تقلید کړیدے ﴿ آمَنْتُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیْٓ آمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِیْلَ﴾ یعنی بنی اسرائیلو چه په چا ایمان راوړے په هغه ما هم ایمان راوړے۔ او د رب العالمین او د الله تعالیٰ نوم ئے هم نهٔ دے اخستے ځکه چه د ربوبیت د دعوے رګ پکښ موجود وو۔ (فتح)
او فرعون ته الله تعالیٰ د خپل نوم اخستو توفیق هم ورنکړو۔ ځکه چه الله تعالیٰ غنی دے۔
او په دے آیت کښ رد دے په هغه صوفیاؤ لکه ابن عربی (دجال) چه وائی : فرعون موحد وو او مسلمان مړ دے وَلِـذٰلِكَ صَارَ تَغْرِيْقُهٗ تَطْهِيْرًا لَّهٗ ۔ د فرعون غرقیدل د هغه دپاره د ګناهونو د صفائی ذریعه وه، ځکه توحید کښ ئے لږ نقصان وو نو په غرقیدو سره صفا شو۔ دا لوی کفر دے۔
امام احمدؒ، ترمذیؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : الله تعالیٰ فرعون غرق کړو نو هغه آمَنْتُ ووئیل۔ جبریل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغه قصه

بیان کړه چه اے محمده ! زۀ لاړم او د دریاب نه مے خته راواخسته او د هغه په خوله کښې مے ورننویسته (مَخَافَةَ اَنْ تُدْرِكَهُ الرَّحْمَةُ) دے دپاره چه الله تعالىٰ پرے رحم ونکړی، آه۔ ځکه چه الله تعالىٰ ډیر مهربانه دے، د مرګ په وخت کښې الله تعالىٰ په مخلوق باندے ډیر مهربانه وی ځکه چه دے عاجز وی۔ (الترمذی : ۳۱۰۷ بسند صحیح)

دا صحیح حدیث دے مګر ډیرو ناپوهو پدے باندے هم رد کړیدے او دے ته ئے په رسول الله ﷺ باندے دروغ وئیلی دی۔ دا خلك د فن الحدیث نه بیخی نا خبره دی۔ تفصیل دپاره فتح البیان وګوره۔

سوال دا دے چه دا کار دۀ ولے وکړو؟ نو جواب دا دے چه دا د الله تعالىٰ دپاره غیرت دے، چه فرعون لوی مفسد دے، د الله دین او نبی او مؤمنان ترے په عذاب وو او اُوس به جنت ته هم ځی، دا د یو مؤمن غیرت نۀ برداشت کوی۔ لکه ملائك الله تعالىٰ ته فرمائی : چه پدے فلانی مجلس کښې فلانے ناست وو هغه ددے مجلس والو نه نۀ وو او تا هغه ته بخنه وکړه))۔ دا هم د الله دپاره غیرت کوی۔

| |
|---|
| فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ |
| نو نن ورځ بچ کوو بدن ستا (روستو د هلاکت نه) دے دپاره چه شے تۀ دپاره د هغه چا چه |
| خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿۹۲﴾ |
| روستو دی ستا نه نخه د عبرت، او یقیناً ډیر د خلقو نه د آیتونو زمونږ نه خامخا بے پروا دی۔ |

**تفسیر** : د بنی اسرائیلو د شك زائله کولو دپاره الله تعالىٰ فرعون ته وویل چه نن به مونږ ستا بدن په اُوچت ځای واچوو۔

**نُنَجِّيْكَ**: اَیْ نُلْقِیْكَ عَلٰی نَجْوَةٍ مِنَ الْاَرْضِ ۔ یعنی تا به په اُوچته زمکه ګوزار کړو ځکه چه نور فرعونیان اُوبو کښې خکته لاړل او فرعون چه کله غرق شو نو الله تعالىٰ د اُوبو سر ته راپورته کړو او د دریاب یو بے غاړے ته ئے راوخکلو دا ددے دپاره چه تر قیامته پورے روستو خلکو دپاره نخه شی۔

فرعونیان چه کله ټول په ټوله غرق شول نو هلته ئے زنانه او ماشومان پاتے وو نو د فرعون سخرانه راغله او د مصر بادشاهی ئے قبضه کړه، او دوی کښې دا خبره مشهوره شوه چه فرعون د دریاب نه بهر راوخکلے شویدے نو دوی ورغلل او د هغه ځای نه ئے راپورته کړو او

مصر ته ئے راوړو او په يو غر کښې ئے يو سورنګ وکنستو او په هغې کښې ئے ددهٔ جسد کيخودو او خلك به د هغه سيل او تماشے له ورتلل، په همدے طريقه په پيړو کښې راروان وو چه تر اُوسه پورے د مصر د قاهرے په عجائب ګهر کښې پروت دے، دا ددے دپاره چه د روستنو خلکو دپاره عبرت وګرځی، اُوس هم د هغه تصويرونه انټر نيټ کښې تفصيلی موجود دی۔

لِمَنْ خَلْفَكَ: ددے نه مراد ځينی وائی: بنی اسرائيل دی چه د دوی دا ګمان وو چه فرعون نهٔ دے غرق شوے ځکه چه بنی اسرائيل ئے مرعوبه کړی وو نو هغوی د درياب په غاړه وليدو چه سور شوے او لنډ شوے وو ګويا که هغه يو غوايا وو (خازن)

خازنؒ ورسره دا خبره هم زياتی کړيده چه الله تعالیٰ هغه بيرته درياب ته دوباره ګوزار کړو نو د هغه وخت نه اُويه مرے هيڅکله نهٔ قبلوی۔ دا خبره ئے بی دليله ده، او د مشاهدے خلاف ده۔

اٰيَةً: يعنی د روستنو خلکو دپاره نخه شے چه هغوی ستا په هلاکت يقين وکړی او پدے خبره يقين وکړی چه ته هغه شان نهٔ وے ځنګه چه تا دعوه کوله (يعنی دربوبيت) او د هغوی شکونه ختم شی چه ته هلاك شوے۔

يا د روستنو خلکو دپاره عبرت جوړ شے چه څوك د فرعون په شان په الله تعالیٰ باندے تکبر کوی او د هغهٔ نه سرکشی کوی او پدے باندے هميشه روان وی نو د هغه به هم دغه شان قبيح عاقبت جوړيږی۔ (فتح البيان)

ګويا که دا د ټول عالَم دپاره يو عبرت وګرځيدو چه سره د دومره لوی طاقت او بادشاهئ او فوجونو نه د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ نشو کله ئے چه د هغهٔ د رسولانو او د هغهٔ د دين مخالفت وکړو۔

وَاِنَّ كَثِيْرًا: اکثرو انسانانو کښې د غفلت ماده ده، په دنيا کښې ډير ناشنا کارونه کيږی چه الله تعالیٰ ترے معلوميږی ليکن اکثر انسانان د هغے نه غافله دی، او وائی چه دا د دنيا چال چلن دے، الله تعالیٰ په چا عذابونه راليږی، په چا بادشاهی اړوی، په چا سيلابونه او زلزلے راولی، دا د الله نښے دی۔ خو ژوندے زړهٔ غواړی۔

اٰيٰتِنَا: دلته آيتونه کونيه مراد دی يعنی نښے د قدرت د الله تعالیٰ۔ او آيتونه قرآنی هم پکښې داخليدے شی۔ او دا نښے نښانے د الله تعالیٰ هره ورځ بنده وينی خو عبرت ترے نهٔ اخلی۔

| |
|---|
| وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ |
| او یقیناً ځائے ورکړے وو مونږ بنی اسرائیلو ته ځائے مزیدار (زمکه د شام) |
| وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ج فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ |
| او رزق ورکړے وو مونږ دوی ته د پاك څیزونو نه نو اختلاف اُونکړو دوی تردے |
| جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ ط إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ |
| چه راغلو دوی ته علم، یقیناً رب ستا به فیصله وکړی په مینځ د دوی کښ په ورځ |
| ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾ |
| د قیامت کښ په هغه څه کښ چه دوی په هغے کښ اختلاف کولو۔ |

**تفسیر** : پدے کښ الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو خپل نعمتونه بیانوی او بیا د هغوی ناشکری او د موسیٰ علیه السلام سره د دوی لانجے ذکر کیږی۔

د فرعون نه د نجات ورکولو نه روستو الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو لوئی احسانات وکړل، لیکن دوی ددے نعمتونو شکر ادا نکړو۔ د فرعون د هلاکت نه روستو په ټول مصر باندے د بنی اسرائیلو حکومت شو۔ لیکن د دوی همیشه دا خواهش پاتے وو چه بیت المقدس ته واپس تلی وے کوم چه د دوی د اُوچت نیکه ابراهیم علیه السلام ملك وو، او په کوم باندے چه په دغه ورځو کښ عَمالقه قابض وو۔ موسیٰ علیه السلام دوی ته د عمالقهٔ سره د جهاد وینا وکړه، لیکن دوی انکار وکړو چه د هغے په وجه الله تعالیٰ دوی څلویښتو کالو پورے په میدان تیه کښ حیران پریخودل۔ اول هارون علیه السلام او بیا موسیٰ علیه السلام په همدے میدان تیه کښ الله ته خوښ شو (او وفات شو)۔ آخر د یوشع بن نون علیه السلام په قیادت کښ دوی د عمالقهٔ سره جهاد وکړو او فلسطین ته داخل شو۔ بیا د څه ورځو دپاره په هغے باندے بخت نصر قبضه وکړه، لیکن دوباره بنی اسرائیل غالب راغلل۔

دے نه روستو د یو بے اُوږدے مودے پورے د یونانی بادشاهانو په قبضه کښ پاتے شو۔ د هغوی په زمانه کښ عیسیٰ علیه السلام پیغمبر شو، چه د هغه سره یهودیانو سازش وکړو او د عیسیٰ علیه السلام یو مشابه سړے ئے پهانسی کړو۔ د عیسیٰ علیه السلام د آسمان ته د پورته کیدو نه روستو تقریباً درے سوه کاله روستو یونانی بادشاه قسطنطین د مسیح دین خرابولو په

نیت حیله کولو دپاره په هغې کښې داخل شو۔ او ددے نه روستو د نصرانیانو د شام په ملك او په جزیره او د روم په ښارونو قبضه پاتے شوه۔ تردے پورے چه د امیر المؤمنین عمر بن خطاب ﷺ په زمانه کښې صحابه کرامؓ د هغوی د لاسونو نه بیت المقدس آزاد کړو۔

بَوَّأْنَا: أَیْ أَسْكَنَّا۔ مونږه ووه وسول او ما ورته ځای ورکړو۔

مُبَوَّأَ صِدْقٍ: یعنی ځای د رشتینوالی۔ مکان صدق هغه ځای ته وائی چه هلته هوا صفا وی، مرضونه کم وی، خوشحالی پکښې زیاته وی، ددے نه د ضحاكؒ په قول مصر مراد دے۔ ځینی وائی: ټول هغه ځیزونه چه د فرعون او د هغه د قوم د لاس د لاندے وو چه هغه حیوانات او مالونه او فصلونه وغیره دی۔

بعض وائی: اردن او فلسطین مراد دے۔ او قتادهٌ وائی چه ددے نه شام مراد دے۔ او بعض وائی بیت المقدس مراد دے چه دا ټول د ښینکیٔ او خیر او برکت ښارونه دی۔ (فتح البیان)

فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى جَآءَهُمُ الْعِلْمُ : ۱-یعنی بنی اسرائیلو باندے الله تعالیٰ بیشماره احسانات وکړل لیکن دوی ناشکری وکړه، او د زمانے په تیریدو سره دوی سره ددے نه چه دوی سره د تورات علم وو بیا هم په مختلفو جماعتونو کښې تقسیم شو، او د انبیاؤ صحیح تعلیمات ئے بدل کړل۔

۲- ددے یو تفسیر دا هم شویدے چه د نبی کریم ﷺ د بعثت نه مخکښې یهودیانو به د هغه د بعثت انتظار کولو، لیکن کله چه نبی ﷺ پیغمبر شو او هجرت ئے وکړو، مدینے ته راغلو نو اکثرو یهودیانو په هغه او په قرآن باندے د ایمان راوړو نه انکار وکړو صرف د شمار یو څو کسان په اسلام کښې داخل شو۔ یعنی دوی په قرآن کښې اختلاف وکړو او د رسول الله ﷺ صفات ئے بدل کړل۔

یَقْضِیْ بَیْنَهُمْ : دا لفظ په قرآن کریم کښې زیات استعمال دے خاصکر په حوامیم کښې چه بنی اسرائیلو اختلاف وکړو پس د علم نه او الله تعالیٰ به د دوی سره ګوری۔ پدے کښې یو مهم دعوت او ضروری ذهن سازی ده، هغه دا چه بنی اسرائیل الله تعالیٰ پوهه کړل لیکن هغوی د حق نه اعراض وکړو نو الله تعالیٰ به دوی ته په آخرت کښې سزا ورکوی۔ نو دارنګه تاسو ته قرآن راغلو، تاسو چه ددے نه مخ اړویٔ نو د الله قانون او اصول د ټولو دپاره یو شان دی، تاسو سره به هم ګوری۔ لیکن په اشاره کښې دعوت ورکول د الله تعالیٰ د کتابونو همیشه عادت دے۔ او پدے کښې بلاغت زیات وی۔

| |
|---|
| فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْئَلِ |
| نو كه تهٔ په شك كښې ئې د هغې كتاب نه چه نازل كړيدے مونږ تا ته نو تپوس اُوكړه |
| الَّذِيْنَ يَقْرَءُ وْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ج لَقَدْ جَآ ءَ كَ الْحَقُّ مِنْ |
| د هغه كسانو نه چه لولي كتاب مخكښې ستا نه، يقيناً راغلے دے تا ته حق د طرفه |
| رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ |
| د رب ستا نه نو مهٔ كيږه د شك كونكو نه۔ او مهٔ كيږه د هغه كسانو نه |
| كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۵﴾ |
| چه دروغجن ئې ګڼړلي دي آيتونه د الله نو شے به د تاوانيانو نه۔ |

**تفسیر** : پدے کښې د قرآن کريم حقانيت بيانيږي، او دا د اول د سورت ﴿ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا﴾ سره متعلق دے چه بعض خلك د قرآن نه تعجب كوي نو فرمائي چه كه ستا شك وي نو د اهل كتابونو نه تپوس وكړه چه الله تعالیٰ هغوی ته هم وحی نازله كړے وه او د هغوی په كتابونو كښې دا خبره هم ده چه الله تعالیٰ به آخري رسول راليږي او كتاب به پرے نازلوي۔ نو هغوی به درته حال ووائي چه آؤ دا خبره زمونږ كتابونو كښې هم شته نو ستا شك به زائل شي۔

فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ : دلته مخاطب نبي كريم ﷺ دے بيا پكښې عموم دے، ليكن ددے مطلب دا نهٔ دے چه د نبي ﷺ د وحي په رشتينوالي كښې شك وو، بلكه دا د قرآن يوه طريقه ده چه پدے سره مقصود د هغه د يقين په قوت او د زړهٔ په اطمينان كښې زياتے پيدا كول دي لكه څنګه چه ابراهيم ؑ وئيلي وو : ﴿ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ﴾ يعني زهٔ غواړم چه زما د زړهٔ اطمينان زيات شي۔ عبد الرزاقؒ او ابن جريرؒ روايت كړيدے چه كله دا آيت نازل شو نو نبي ﷺ وفرمايل : [اَنَا لَا اَشُكُّ وَلَا اَسْئَلُ] ((زما نهٔ ذره برابر شك شته او نهٔ زهٔ د چا نه تپوس كوم))۔ يعني دا آيت ددے دپاره نهٔ دے چه زهٔ به خامخا تپوس كوم بلكه د چا چه شك وي هغه دِے تپوس وكړي۔ (عبد الرزاق وابن جرير باسناد ضعيف من مرسل قتادة (تخريج احاديث وآثار كتاب في ظلال القرآن رقم الحديث : ۲۲)

۲- دے كښې بعض مفسرينو تاويلي تفسير دا هم كړيدے چه شك دلته ضيق الصدر (د

سینے تنگوالی) ته وائي یعنی اے زما نبی ! که ستا سینه چرته تنګه وی ددے قرآن نه نو فَسْئَلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُ وْنَ الْكِتَابَ فَيُخْبِرُوْنَكَ بِصَبْرِ الرُّسُلِ۔

نو د اهل کتابو نه تپوس وکړه هغوی به تا ته د رسولانو د صبر خبر درکړی۔ لیکن دا خبره ډیره بعیده ده ځکه چه الله تعالیٰ قرآن کریم کښ د پخوانو پیغمبرانو صبر بیان کړیدے نو اهل کتابو نه تپوس کولو ته هیڅ ضرورت نشته۔

۳- ثعلبؒ او مبردؒ وائی چه دا خطاب کافر ته دے یعنی اے محمده ! ته کافر ته ووایه که ستا شك وی نو د مسلمانانو اهل کتابو نه تپوس وکړه هغوی به درته د تورات نه خبر درکړی چه دا رسول حق دے۔ یعنی د رسول الله ﷺ د نبوت اظهار به د یهودو په ګواهئ سره وشی، دا تفسیر هم په بل ځای کښ واقعیت لری لیکن ددے مقام سره مناسب نهٔ دے ځکه چه د ظاهر مخالف دے۔ (فتح البیان)

لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ : پدے کښ علت د شك ختمولو بیانوی چه الله ګواهی ورکوی چه دا کوم کتاب تا ته نازل شویدے دا حق دے چه هیڅ باطل او شبهات ورسره نهٔ دی یو ځای۔

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا: یعنی شك هم مهٔ کوه او مُکَذِّب هم مهٔ جوړیږه، یعنی انکار هم مهٔ کوه۔ او دا خطاب په ظاهر کښ رسول الله ﷺ ته دے خو په حقیقت کښ نورو خلکو باندے تعریض دے، او پدے تعریض سره زجر ورکوی هغه کسانو ته چه شك کوی، او انکار کوی په ډیره بلیغه طریقه سره هغه دا چه د شك او انکار نه رسول الله ﷺ منع کوی چه د هغه نه شك او انکار صادریدل ممکن نهٔ دی، نو چه د چا نه ددے صادریدل ممکن وی هغه خو په طریق اولیٰ باندے منع کولے شی۔

((کوم خلق چه کتاب لولی)) دے نه مراد یهودیان او نصاریٰ دی۔ د آیت په آخر کښ الله تعالیٰ خپله ګواهی ورکوی چه دا قرآن حق کتاب دے چه الله نازل کړیدے، پدے وجه زما نبی تا له او ستا امت له او ټولو آوریدونکو له ددے په حقانیت کښ ذره برابر هم شك نهٔ دے پکار۔ او نهٔ د هغه خلقو سره کیږه چه د الله د آیتونو تکذیب کوی ځکه چه ددے انجام په دنیا او آخرت کښ د تاوان نه سویٰ بل هیڅ نهٔ وی۔

| اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٩٦﴾ |
|---|
| یقیناً هغه کسان چه ثابته شویده په هغوی باندے فیصله د رب ستا، ایمان نهٔ راوړی۔ |

وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۹۷﴾

اګرکه راشي دوی ته هره نخه ترديے چه اُووینی دوی عذاب دردناك۔

**تفسیر** : الله تعالیٰ د خپل ازلی علم مطابق د هر انسان په باره کښ پو هیږی چه آیا هغه به په خپل اختیار او اراده سره کافر وی که مؤمن، د خیر لاره به اختیاروی او که د شر۔ او ددیے علم په بنیاد هغه د هر شخص په تقدیر کښ لیکلی دی چه دا به ایمان راوړی او که د کفر لاره به اختیاروی۔

د الله تعالیٰ دغه ازلی علم پدیے آیتِ کریمه کښ بیان شویدیے چه الله تعالیٰ د چا په قسمت کښ لیکلی دی چه دوی به ایمان نهٔ راوړی نو هغوی به په هیڅ حال کښ هم ایمان نهٔ راوړی۔ یعنی دا د ختم الله علی قلوبهم په شان دیے۔

او پدیے خبر ورکولو کښ دیے ته اشاره ده چه دیے کافرانو کښ بعض داسے خلك دی چه هغوی هیڅکله ایمان نهٔ راوړی، ازلی بد بخته دی نو تهٔ د دوی د ایمان ډیر کوشش مهٔ کوه او هیڅ پرواه ئے مهٔ ساته۔

كَلِمَتُ رَبِّكَ : بعض وائی ددیے نه مراد تقدیری فیصله ده۔ او ځینی وائی چه ددیے نه مراد د الله تعالیٰ غضب دیے په سبب د ګناهونو د دوی۔ (مجاهدؒ)

یا لعنت مراد دیے۔ اول قول غوره دیے۔

وَلَوْ جَآءَتْهُمْ: دا د مخکښ مضمون تاکید دیے چه د کومو کسانو په تقدیر کښ لیکلے شویدی چه دوی به جهنمیان وی، که د هغوی مخے ته د الله ټولے نخے هم راشی نو بیا به هم دوی ایمان نهٔ راوړی۔ البته کله چه دوی د الله تعالیٰ عذاب په خپلو سترګو سره ووینی نو بیا به ایمان راوړی لکه څنګه چه فرعون خپل ځان ډوبیدونکے ولیدو نو وے ویل چه ما د موسیٰ او هارون (علیهما السلام) په رب باندیے ایمان راوړو۔ نو د مکے مشرکانو هم ترڅو چه د الله تعالیٰ عذاب نهٔ وی لیدلے ایمان نهٔ راوړی۔ لیکن په هغه وخت به ایمان دوی ته هیڅ فائده ورنکړی۔

كُلُّ اٰيَةٍ: یعنی هره نښه او معجزه د الله تعالیٰ د قدرت او د رسول الله ﷺ د حقانیت۔

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ

نو ولے نهٔ وو یو کلی والا چه ایمان ئے راوړیے وے پس فائده ورکړیے وے هغوی ته

| |
|---|
| اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ۭ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا |
| ایمان د هغوی مګر قوم د یونس (علیه السلام) هرکله چه هغوی ایمان راوړو نو لرې کړو مونږ |
| عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ |
| د هغوی نه عذاب د شرمندګئ په ژوند دنیوی کښ او فائدې ورکړې مونږ هغوی ته |
| اِلٰى حِيْنٍ ﴿۹۸﴾ |
| تر یو وخت پورې۔ |

**تفسیر** : پدے کښ اُوس ټول انسانیت ته رټنه ورکوی او خصوصاً مکے والو ته چه دوی ولے ایمان نۀ راوړی، پخوا هم ډیر قومونه داسے تیر شوی چه ایمان ئے رانۀ وړو او د مکے مشرکان ئے هم نۀ راوړی، صرف یو قوم د یونس علیه السلام پکښ ایمان راوړے وو۔
په بل تعبیر سره پدے آیت کښ د مکے مشرکانو ته د عذاب د راتللو نه مخکښ د ایمان راوړو ترغیب ورکړے کیږی۔ او هغه پدے طریقه چه د دوی مخے ته د هغه کلو مثال پیش کیږی چه الله تعالیٰ هغوی هلاك کړیدی چه د هغوی وسیدونکو د عذاب راتللو نه مخکښ د ایمان اعلان نۀ وو کړے، لکه څنګه چه د فرعونیانو سره وشو چه کله دوی خپل ځانونه ډوبیدو کښ ولیدل نو وے وئیل چه مونږ ایمان راوړے۔ که دوی د عذاب راتللو نه مخکښ د ایمان اعلان کړے وے نود دوی ایمان به د دوی په کار راتللے۔ الله تعالیٰ ددے حکم نه د یونس علیه السلام قوم مستثنیٰ ګرځولے دے ځکه چه دوی د عذاب د راتللو نه مخکښ د هغے د آثارو په لیدلو سره فوراً توبه وویستله نو الله تعالیٰ د هغوی توبه قبوله کړه او عذاب ئے روستو کړو۔

فَلَوْلَا : ۱- دا کلمه په معنیٰ د (هَلَّا) تحضیضیه سره دے (اخفش والکسائی)
یعنی ولے داسے کلی نۀ وو موجود چه هغوی ایمان راوړے وے داسے ایمان چه هغوی ته خپل ایمان فائده ورکړے وے، او دا ایمان هله فائده ورکوی چه د عذاب د لیدو په وخت کښ نۀ وی او نۀ د مرګ په وخت کښ وی۔ ۲- د تفسیر بعض علماؤ لیکلی دی چه دا جمله د نفی په معنیٰ کښ ده، ګویا که داسے وئیلے شویدی (مَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ) چه د یونس علیه السلام د قوم نه سویٰ د هلاك کیدونکو کلو نه هیڅ کلی هم ایمان رانۀ وړو۔
فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ : یعنی ایمان په دوه قسمه دے یو ایمان نافع او بل غیر نافع دے۔ ایمان

نافع ایمان بالغیب دے او ایمان غیر نافع ایمان بالمشاهده دے چه عذاب وینی۔
داسے کلی خو ډیر وو چه د عذاب په وخت کښې ئے ایمان راوړو لیکن هغه نافع نهٔ وو۔ او د قریة نه مراد دا چه ټولو په یو ځل ایمان راوړے وی داسے نهٔ وو سوئ د قوم د یونس ﷺ نه، او جزوی طریقے سره د هر قوم نه څه نا څه خلکو ایمان راوړے وو لیکن اکثر ګمراهان وو۔
اِلَّا قَوۡمَ یُوۡنُسَ: د تفسیر امامانو د عبد الله بن مسعودؓ، قتادهؒ او سعید بن جبیرؒ وغیره نه د یونس ﷺ او د هغوی د قوم په باره کښې چه کوم روایتونه نقل کړیدی، د هغوی خلاصه دا ده چه دا د موصل ښار وسیدونکے وو، الله تعالیٰ دا د نینویٰ ښاروالو دپاره نبی لیږلے وو (او د موصل د ښارونو نه یو ښار وو) چه هغه اشور بن نمرود جوړ کړے وو، کوم چه د نوح ﷺ د ځامنو د اولادو نه وو، دا ښار د دنیا د پخوانو ښارونو نه شمار کیږی، په هغه وخت کښې ددے آبادی شپږ لاکهه وه۔
په هغه زمانه کښې د اشوریانو قوت دومره زیات شوے وو چه د ایشیا اکثرے علاقے د دوی د تصرف لاندے راغلے وے۔ پدے وجه سره دوی په غرور او تکبر کښې مبتلا شوی وو او د الله تعالیٰ نه ئے سرکشی کړے وه۔ د دوی د هدایت دپاره الله تعالیٰ یونس ﷺ پیغمبر کړو، څه زمانه ئے ورته د الله تعالیٰ حکمونه بیان کړل (ځینی وائی نهه کاله- قرطبیؒ)
لیکن کله چه دوی د خپلو حرکتونو نه منع نهٔ شو نو یونس ﷺ دوی ته وویل چه تاسو اُوس د الله تعالیٰ د عذاب انتظار کوئ چه ځلوېښت ورځے پس به تاسو ته راځی۔ (او ځینی مفسرین درے ورځے ذکر کوی- قرطبیؒ) خپله د هغه ځای نه ووتو او صحراء طرف ته لاړو۔ کله چه د اشوریانو امیر ته پته ولګیده نو ویریدو او د ټول قوم سره د الله تعالیٰ مخے ته توبه ګار شو۔ او یو صحراء ته راووتل سره د زنانو او ماشومانو نه او د الله تعالیٰ په تسبیحاتو کښې مشغول شو، او دعاګانے او ژړا او زاری ئے شروع کړه۔ کله چه الله تعالیٰ ولیدل چه دوی په خپله توبه کښې رشتینی دی نو عذاب ئے ترے لرے کړو۔ (هذا کله فی القاسمی)
یونس ﷺ د خپل قوم نه د الله تعالیٰ د اجازت نه بغیر ووتو پدے ګمان چه اُوس به په دوی عذاب راځی نو دریاب غاړے ته لاړو او کشتئ کښې کیناستو چه بل یو قوم ته لاړ شی او هلته دعوت وکړی نو پدے کښې کشتئ درنه شوه، د یو تن غورزول ضروری وو نو څخنړی واچول شو او په یونس ﷺ باندے راوختو، هغه ګوزار کړے شو نو ماهی وخوړو۔ دلته د عذاب بعض اشارات راغلل چه وریځے وغیره مګر لا حقیقی عذاب نهٔ وو راغلے نو ددے قوم په زړه کښې الله تعالیٰ ایمان واچولو او ټولو په یو ځای ایمان راوړو۔

مفسرین لیکي: چه د یونس نوم په عبرانۍ ژبه کښې یونان وو. او ابن عاشورؒ لیکي چه دا د عیسیٰ علیه السلام نه اته سوه کاله مخکښې راغلے وو. (التحریر)

كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ: ددے نه عذاب نه مراد هغه عذاب دے چه یونس علیه السلام دوی سره د هغے د راتللو وعده کړے وه، او دا مطلب نۀ دے چه په دوی عذاب راغلے وو او بیرته ئے ترے واپس کړو، بلکه صرف آثار د عذاب ئے لیدلي وو چه توره وریځ پرے راغله. ځکه چه د عذاب د راتللو په وخت کښې ایمان راوړل فائده نۀ ورکول. او ددے مثال داسے دے لکه یو تن بیمار شي توبه وباسي نو الله تعالیٰ ورته بیرته صحت راواپس کړي.

نو ایمان دومره ښه شے دے چه الله تعالیٰ د بندګانو نه د هغے په وجه عذابونه لرے کوي.

وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ: (أَيْ مَتَّعْنَاهُمْ مَتَاعًا حَسَنًا) یعني په دنیا کښې مے مزیدار د طاعاتو او د راحت ژوند ورکړو. ځکه چه د ایمان په مقابله کښې الله تعالیٰ انسان ته ښائسته ژوند ورکوي. او دا مطلب نۀ دے چه د دوی عمرونه اُوږده شول. او دلته الله تعالیٰ د دوی د ایمان ګواهي ورکړه نو معلومیږي چه دا ټول جنتیان دي، ډیر بختور دي. نو کومو مفسرینو چه دلته د دوی د اُخروي عذاب تذکره کړیده او دا ئے وئیلي دي چه دلته ترے صرف دنیاوي عذاب لرے شویدے، نو هغه بې دلیله خبره ده.

او دا ډیر غوره قوم وو چه خپل قوم او بچي او ښځے ئے ځان سره جنت ته بوتلل او د دوی په خلاف د مکے مشرکانو خپل قوم کور د هلاکت ته ګوزار کړو. لکه چه الله تعالیٰ د دوی په باره کښې فرمائي: ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ﴾ (ابراهیم:۲۸). (آیا تۀ نۀ ګورے هغه خلکو ته چه د الله تعالیٰ نعمت ئے په کفر بدل کړو او خپل قوم ئے د هلاکت کور ته ګوزار کړو.)

| |
|---|
| وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ |
| او کچرته اراده کړے وے رب ستا خامخا ایمان به راوړے وے هغه چا چه په زمکه کښې دي |
| كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ |
| ټولو په یو ځائے، آیا نو تۀ زور کولے شے په خلقو ترڅو چه شي دوی مؤمنان. |

**تفسیر**: اُوس په آخر کښې د ایمان متعلق بیانونه کیږي او ښکلے قواعد ذکر کیږي.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته الله تعالیٰ د دعوت په باب کښې یو ادب ورکوي او د ایمان په باره کښې یو

قانون بیانیږي، د رسول الله ﷺ حرص ډیر زیات وو چه دا خلك ایمان ته راشي او ددے دپاره به ئے ډیر زور لګولو او ځان به ئے په پریشانئ کښ اچولو، او دعاګانے به ئے کولے او هغوی ته به ئے سوال وزاري هم کوله ځکه چه د هغهٔ شفقت ډیر زیات وو، او هغهٔ ته یقیني معلومه وه چه دا خلك اُور ته روان دے۔ نو الله تعالیٰ ورته قرآن کښ ځای په ځای وئیلي دي چه ﴿ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ﴾ ځان مهٔ هلاکوه۔ کله ورله دا ذهن سازي کوي چه ایمان ورکول او هدایت ته راوستل د الله تعالیٰ په لاس کښ دي، که هغهٔ د چا دپاره د ایمان اراده نهٔ وي کړي نو که تهٔ ډیر زور وکړے هغه ایمان ته نشي راتللے۔ نو الله تعالیٰ زور نکوي نو ته هم زور مهٔ کوه ځکه چه ډیر زور سره په الله تعالیٰ باندے یو نوع اعتراض راځي او دا وسوسه پیدا کیږي چه زهٔ ډیر مهربانه یم، زهٔ د یو سړي ایمان غواړم او الله تعالیٰ ئے ورته نهٔ کوي۔ نو دا د الله تعالیٰ نه ځان مخکښ کول جوړیږي۔

لکه د ډیرو صوفیانو په رسول الله ﷺ باندے بدګماني پیدا شویده چه په بدر کښ ئے جنګ ولے کولو او نرمئ نه به ئے کار اخستے وے۔ دا هم د الله تعالیٰ او د رسول نه ځان مخکښ کول دي۔او دا ډیره لویه ناپوهي ده۔ نو الله تعالیٰ پدے آیت کښ خپل نبی ته وائي چه ما نه ځان مهٔ مخکښ کوه او زور مهٔ کوه، او الله تعالیٰ ته خبره وسپاره او خپل دعوت جاري وساته، د الله تعالیٰ قانون شته چه ایمان چا ته ورنصیب کوي او چا ته ئے نهٔ نصیب کوي او د ایمان دلائلو ته وګورئ۔ نو ډیر ناشنا آیتونه دي۔

**وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ:** أَيۡ إِيۡمَانَ النَّاسِ جَبۡرًا۔ یعني که الله تعالیٰ د خلکو د ایمان اراده په زور سره کړے وے نو ټولو به ایمان راوړے وے۔ لیکن دا کار د الله تعالی د هغه حکمة خلاف دے چه په هغے باندے د تمامو تشریعي احکامو بنیاد دے۔ پدے وجه د نبي کریم ﷺ دا ذمه واري نهٔ ده چه هغه به خلق په ایمان راوړو مجبوره کوي۔

نو پدے کښ نبي ﷺ ته دا تسلي هم ورکړے شویده چه که مشرکان ایمان نهٔ راوړي نو ته مهٔ خفه کیږه۔ الله تعالیٰ په سورة البقره آیت (۲۷۲) کښ فرمایلي دي: ﴿ لَيۡسَ عَلَيۡكَ هُدَاهُمۡ وَلَٰكِنَّ اللهَ يَهۡدِيۡ مَنۡ يَّشَآءُ ﴾ یعني دوی ته هدایت ورکول ستا په ذمه نهٔ دي، الله چه چا له غواړي هدایت ورکوي۔

| |
|---|
| وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ اَنۡ تُؤۡمِنَ اِلَّا بِاِذۡنِ اللهِ ؕ وَيَجۡعَلُ |
| او نشي کیدے د یو نفس دپاره چه ایمان راوړي مګر د الله په مدد او وراچوي الله تعالیٰ |

| |
|---|
| الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ |
| پلیتئ لره په هغه کسانو چه عقل نهٔ لری۔ |

**تفسیر**: پدے کښې د مخکښې زور نهٔ کولو وجه بیانیږی چه هر شخص خالص د الله په توفیق سره ایمان راوړی، پدے وجه تهٔ د دعوت کار کوه، لیکن د چا په ایمان نهٔ راوړو مهٔ پریشانه کیږه۔ او رسوائی او ذلت خو د هغه خلقو دپاره لیکلے شویدے چه د الله تعالیٰ په رالیږلی شوی دلائلو کښې سوچ او فکر نهٔ کوی۔

**بِإِذْنِ**: اذن دلته توفیق ته وائی۔

پدے جمله کښې فوائد دا دی چه (۱) ټول واك د الله تعالیٰ دے۔ (۲) یو داعی که چا ته هدایت وکړی نو دا الله تعالیٰ کړیدے نهٔ داعی، داعی صرف لاره بیانونکے دے۔ او هدایت ورکول د الله تعالیٰ کار دے۔ (۳) خلکو له پکار ده چه الله تعالیٰ ته رجوع وکړی چه اے الله! ایمان ستا په واك کښې دے، (د نبی په واك کښې هم نهٔ دے) نو زهٔ تا نه هدایت غواړم نو کله چه بنده الله تعالیٰ ته متوجه شی، الله تعالیٰ ورته د ایمان او هدایت توفیق ورکوی۔ نو الله فرمائی: چه دے کافرو له پکار ده چه ما ته رجوع وکړی او ما نه هدایت وغواړی، چه زهٔ ئے ورکړم، او چه کله دوی د ایمان غوښتنه نهٔ کوی نو تهٔ پرے څه له زور کوے۔

**وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ**: رجس دلته کفر، خذلان (د ایمان نهٔ توفیق) او عذاب ته وائی۔

**عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ** : اَیْ لَایَتَعَقَّلُوْنَ حُجَجَ اللّٰهِ وَلَایَتَدَبَّرُوْنَ فِیْ آیَاتِ اللّٰهِ وَمَا نَصَبَهٗ لَهُمْ مِنَ الْاَدِلَّةِ۔ (فتح البیان) یعنی الله تعالیٰ پلیتی او ګندګی (کفر) په هغه کسانو ورغورزوی چه د الله تعالیٰ په آیتونو او دلیلونو کښې هیڅ سوچ او فکر نهٔ کوی۔

ددے نه معلومیږی چه همیشه بی عقله انسان به ګمراه وی او څومره چه د انسان عقل ډیریږی نو هدایت به ئے ډیریږی، پیغمبران اُوچتونو عقلونو والا وو نو پدے وجه د ټولو نه زیات هدایت والا وو، صحابه کرامؓ اُوچتو عقلونو والا وو نو د عام امت نه ئے هدایت زیات دے۔ او دے بل طرفته وګوره چه د الله تعالیٰ په نیز عقلمند خلك هغه دی چه هدایت قبلوی او ایمان او د هغے اعمال قبلوی نو څومره چه انسان کښې دین زیات وی هغه به د ټولو نه ډیر عقلمند وی۔ او د زنانو عقل کمزورے دے نو دین ئے هم کمزورے وی، او بعض غافل خلك خپل عقل کمزورے کوی او د الله تعالیٰ په شرع او د هغه په کائناتو کښې هیڅ سوچ نهٔ لری نو ځکه ئے دین هم کمزورے وی۔ او د بے عقلئ د وجه نه انسان ګمراه کیږی۔

**لَا يَعْقِلُوْنَ**: عـقـل معنیٰ ده ترل، يعنى دوی خپل دماغ په یوه خبره نۀ راترې چه د هغې نه فائده واخلی او ځان پرې هدایت ته ورسوی.

| |
|---|
| قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط |
| تۀ اُووایه اُوګورئ چه څه دی په آسمانونو او زمکه کښې (د دلیلونو نه) |
| وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ |
| او فائده نۀ ورکوی نخې نخانې (دلیلونه) او یره ورکونکی هغه قوم ته چه ایمان نۀ راوړی. |

**تفسیر**: سوال پیدا شو چه مونږ څنګه عقل وکړو چه مونږ ته د ایمان او هدایت توفیق مـلاؤ شی نو الله تعالیٰ دلته طریقه ښائی چه د آسمان او د زمکې مخلوق او کائناتو ته او د هغې عجائباتو ته فکر وکړه، اوه آسمانونه او ستوری، نمر او سپوږمۍ، وريځې او بارانونه، هواګانې او حیوانات، دریابونه او وچه، ګیاهګانې او بوټی او ددې ناشنا کارنامو ته وګوره نو تـا تـه بـه مـعـلـومه شی چه یو لوی علیم او خبیر او حکیم ذات موجود دے. په هغه به دِې ایمان راشی، بیا به د هغۀ خبره منلو ته تیار شې.

مـنـاسبت دا دے چه دلته الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم کړیدے چه د مکې مشرکانو ته د آسـمـانـونو او د زمکې په مخلوقاتو کښې د سوچ او فکر کولو دعوت ورکړه، دے دپاره چه دوی پـه الله تـعـالـیٰ بـانـدې ایمان راوړی، او د دوی یقین وشی چه د هغۀ نه سویٰ هیڅوك د بندګۍ لائق نشته دے. دے نه روستو الله اُوفرمایل چه د چا په قسمت کښې لیکلې شویدی چـه دوی بـه ایمان نۀ راوړی، هغوی ته د نخو او د انبیاؤ (علیهم السلام) پـه نصیحتونو سره هیڅ فائده نۀ کیږی.

**وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ**: لیکن بی ایمانه خلکو ته آیتونه (نښې) او یره ورکونکی هیڅ فائده نۀ ورکـوی. یـعـنـی د یو سړی د ایمان اراده نشتـه نو که هغه ته هر څومره دلیلونه بیان شی او نښې ورته ښکاره شی او معجزات راوړے شی او انبیاء علیهم السلام ورله ډیره یره ورکړی نو هـغـه بـانـدې هـیـڅ اثر نکوی. او د چا چه د ایمان اراده وی، هغه ته یوه نښه او یو دلیل هم فائده ورکوی، او هدایت ته پرې رسیږی.

**وَالنُّذُرُ**: جمع د نذیر ده یعنی یره ورکونکی. او نُذُر جمع د انذار هم استعمالیږی چه دا د مصدر صیغه ده. یعنی ( یره ورکول). (فتح البیان)

| |
|---|
| فَهَلۡ يَنۡتَظِرُوۡنَ اِلَّا مِثۡلَ اَيَّامِ الَّذِيۡنَ |
| نو نکوی انتظار دوی (په ایمان راوړلو کښې) مگر په شان د واقعاتو د هغه کسانو |
| خَلَوۡا مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ قُلۡ فَانۡتَظِرُوۡۤا اِنِّىۡ مَعَكُمۡ |
| چه تیر شویدی مخکښې د دوی نه، ته اُووایه ! پس انتظار وکړئ یقیناً زهٔ تاسو سره |
| مِّنَ الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ ﴿۱۰۲﴾ ثُمَّ نُنَجِّىۡ رُسُلَنَا وَالَّذِيۡنَ |
| د انتظار کونکو نه یم۔ بیا بچ کړل مونږ رسولان خپل او هغه کسان |
| اٰمَنُوۡا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنۡجِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۰۳﴾ |
| چه ایمان ئے راوړے وو، دغسې لازم ده په مونږ چه بچ کوو به مؤمنان۔ |

**تفسیر** : یعنی هر کله چه دوی ایمان نهٔ راوړی عذاب به پرے راځي۔ الله تعالیٰ وفرمایل چه آیا مشرکان غواړی چه په دوی باندے د تیر شوی قومونو په شان د الله عذاب راشي؟ لکه څنګه چه پخوانو پیغمبرانو د خپلے زمانے کافران په مختلفو قسمه عذابونو ویرولی وو او هغوی به ئے خبره نهٔ منله او په کفر باندے به همیشه ووتردے چه د الله تعالیٰ عذاب به پرے نازل شو او الله تعالیٰ به ترے بدله واخسته نو دغه شان دے رسول ﷺ د مکے مشرکان ویرول نو آیا دوی هم د پخوانو په شان د عذاب په انتظار کښې دی۔

**فَهَلۡ يَنۡتَظِرُوۡنَ** : أَيْ فِي الْإِيمَانِ/وَبِتَكْذِيبِهِ ﷺ۔ یعنی دوی په ایمان راوړو کښې او په تکذیب د رسول الله ﷺ کښې انتظار نهٔ کوی مګر د واقعاتو د الله تعالیٰ چه د کافرانو سره ئے کړیدی۔

**اَيَّامِ**: عرب عذاب ته هم ایام وائی او نعمتونو ته هم۔ لکه ﴿ وَذَكِّرۡهُمۡ بِاَيّٰٮِمِ اللّٰهِ﴾ (ابراهيم : ۵) (یعنی رایاد کړه دوی ته نعمتونه د الله تعالیٰ)

نو ایام هغه ورځو ته وائی چه په هغے کښې عذابونه یا نعمتونه راغلی وی۔

**فَانۡتَظِرُوۡۤا** : نو تهٔ دوی ته ووایه چه بیا تاسو انتظار کوئ، زهٔ هم تاسو سره د هغه عذاب انتظار کوم چه په هغے سره الله تعالیٰ صرف ظالمان او مشرکان هلاکوی۔

**ثُمَّ نُنَجِّىۡ** : یعنی کله چه عذاب راشي نو الله تعالیٰ به خپلو رسولانو او د هغوی تابعدارو مؤمنانو ته نجات ورکوی ځکه چه الله تعالیٰ په خپل ځان باندے دا خبره واجب

کړیده چه ایمان والا به د عذاب نه ساتی.
پدے کښې د ایمان فائده دا ذکر شوه چه ایمان د عذابونو د الله تعالیٰ نه د نجات سبب دے.
كَذٰلِكَ: دے کښې قانون ته اشاره ده چه هر ځای او هر وخت کښې به الله تعالیٰ د کافرانو په مقابله کښې مؤمنانو ته نجات ورکوی.
حَقًّا عَلَيْنَا: دا حق تفضلی دے چه الله تعالیٰ په ځان باندے د خپل احسان په طور باندے لازم کړیدے.

| |
|---|
| قُلْ يَآ اَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ |
| اُووایه ! اے خلقو که یئ تاسو په شك کښې د دین زما نه نو بندګی نهٔ کوم د هغه کسانو |
| تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ أَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ |
| چه تاسو ئے بندګی کوئ سویٰ د الله نه لیکن زهٔ بندګی کوم خاص د الله هغه ذات |
| يَتَوَفّٰكُمْ ۚ وَاُمِرْتُ أَنْ أَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٤﴾ |
| چه وفات کوی تاسو او حکم شویدے ماته چه زهٔ به یم د مؤمنانو نه. |

**تفسیر**: پدے رکوع کښې د رسول الله ﷺ بیان ذکر کیږی چه تهٔ دے خلکو ته د خپلے عقیدے اظهار وکړه چه دوی ستا په باره کښې شك کوی چه دا سړے به څه وائی او څه مقصد له به راغلے وی، مال ئے مقصد دے او که ښځه یا نور څیزونه، او مونږ کوم طرفته راغواړی؟. او دا د دعوت یوه طریقه هم ده چه داعی د خلکو شکونه زائل کړی چه زما عقیده دا ده وے پیژنئ، او دا اختیار کړئ که دا عقیده منئ کامیاب به شئ او که نهٔ ئے منئ هلاك به شئ.

نو پدے آیت کښې الله تعالیٰ خپل رسول ته حکم کوی چه د خپلے طریقے او د مشرکانو د طریقے ترمینځ فرق بیان کړی. نو رسول الله ﷺ فرمائی چه زما دین توحید دے چه صرف د یو الله تعالیٰ بندګی او د مشرکانو نه بیزاری ده.

اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ: اَىْ كُنْتُمْ فِىْ شَكٍّ مِنْ صِحَّةِ دِيْنِىَ الَّذِىْ دَعَوْتُكُمْ اِلَيْهِ، اَوْ مِنْ ثَبَاتِىْ وَاسْتِقَامَتِىْ عَلَيْهِ وَتَرْجُوْنَ تَحْوِيْلِىْ عَنْهُ] - (المنار) یعنی که تاسو په شك کښې یئ زما د هغه دین د صحیح والی نه کوم ته چه زهٔ تاسو راغواړم. یا که تاسو په شك کښې یئ زما د

مضبوطوالي او کلك ودريدو نه په هغه دين باندې او اميد لرئ چه زۀ به د هغې نه واوړم۔ نو هيڅکله دا سوچ ونکړئ، زۀ په هيڅ حال کښې ستاسو د باطلو معبودانو بندګئ ته تيار نۀ يم۔

**يَتَوَفّٰكُمْ** : د الله تعالىٰ ئې دا صفت راوړو دپاره د تخويف۔ يعنى دغه الله به تاسو په عذاب باندې هلاك کړي که د هغه بندګي مو ونکړه، او اشاره ده چه د هغه الله بندګي پکار ده چه د انسان نه روح اخلي او صبا به هغه ته ورځي او هغه به ورسره حساب کوي۔ (المنار)

٢- دارنګه توفي دلالت کوي په اول پيدائش باندې بيا په دوباره کولو باندې۔

٣- دارنګه په زړونو باندې د وفات هيبت زيات دې۔

٤- دارنګه مخکښې ئې د امتونو هلاکت بيان کړو نو ګويا که داسې ئې وويل : زۀ بندګي کوم د هغه الله چه ما سره ئې ستاسو د هلاك کولو وعده کړيده۔ (فتح البيان)

**اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ** : نه معلوميږي چه د رسول الله ﷺ شك وو د هغوى په شك کښې حال دا چه د رسول الله ﷺ يقين وو چه دوى زما د دين په باره کښې شك کوي، نو وجه دا ده چه د دوى دا شك نازل شويدې په منزله د هغه شي چه په هغې کښې شك کول نۀ دي پکار ځکه چه هغه ښکاره دې او شك خلك په پټ شي کښې کوي۔ (المنار)

**وَاُمِرْتُ**: يعنى زۀ په ايمان راوړو باندې مامور يم۔ يعنى چه شم د هغه کسانو نه چه تصديق کوي په هغه څه چه د الله تعالىٰ د طرفنه ما ته راغلى دى۔

| |
|---|
| وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ج |
| او (حکم شويدې ماته) چه برابر کړه مخ خپل دين ته چه کلك ئې په توحيد |
| وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٥﴾ |
| او مۀ کيږه د مشرکانو د ډلې نه۔ |

**تفسير** : دا دريم حکم دې چه رسول الله ﷺ ته شويدې۔

دين طرفته د مخ برابرولو معنىٰ دا ده چه په دين باندې استقامت وکړه او کلك پرې ودريږه او په هيڅ حال کښې د هغې نه مخ اخوا ديخوا مۀ اړوه۔ حاصل معنىٰ ئې دا هم ده : أَقِمْ عَمَلَكَ لِلدِّيْنِ۔ يعنى خپل عمل ډې د دين مطابق کړه۔ (فتح البيان)

او د وَجْه نه د زړه توجه هم مراد ده په دعاء وغيره کښې۔ يعنى برابره کړه توجه د زړه دين ته

او د الله تعالیٰ نه په دعا کولو کښې او د هغه نه سویٰ بل طرفته مۀ ګوره. نو بس چا چه زړۀ په یو عبادت د عبادتونو کښې خاص کړ په دعاګانو کښې چه دا روح د عبادت دے غیر الله ته متوجه کړو نو دا د غیر الله عابد شو او په الله باندے مشرك شو. (المنار)

حَنِيفًا: یعنی په دین چه عمل کوے نو په داسے حال کښې چه تۀ توجه کونکے ئے الله ته او اعراض کونکے ئے د غیر الله نه. یا مائل د هر دین نه دین اسلام ته.

وَلَا تَكُونَنَّ: یعنی ما ته بل حکم دا دے چه د مشرکانو د ډلے نه مۀ جوړیږه، یعنی د مشرکانو نه بیزاری وکړه. او پدے کښې تعریض دے د رسول الله ﷺ نه علاوه نورو خلکو ته چه هغوی به د مشرکانو نه بیزاری کوی، هله به صحیح مؤمنان جوړیږی.

| |
|---|
| وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ج |
| او مۀ رابله سویٰ د الله نه هغه چا لره چه فائده نشي درکولے تا ته او نۀ ضرر درکولے شي |
| فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾ |
| نو که اُوکړو تا (دا کار) نو یقیناً تۀ به په دغه وخت کښې د ظالمانو نه شے. |

**تفسیر**: دا د شرك او د مشرکانو د بیزارئ یو صورت دے. دعاء په معنیٰ د عبادت هم ده او مشرکان غالباً شرك فی الدعاء کوی پدے وجه هغه ذکر کوی.

وَلَا تَدْعُ: یعنی د الله تعالیٰ نه سویٰ د بل هیڅا عبادت مۀ کوه، او د غیر الله نه دعاء هم مۀ غواړه مستقلًا یا په طریقه د اشتراك سره یعنی د شفعاؤ په واسطه سره. یعنی داسے به هم نۀ کوی چه الله تعالیٰ پریدی او همیشه د غیر الله نه دعا غواړی، یا کله د الله تعالیٰ نه دعا غواړی او کله د بابا نه، او داسے وائی چه اے بابا ! زۀ ئے تا ته وایم او تۀ ئے الله تهووایه. (المنار)

او د غیر الله رابللل په هغه مقاماتو کښې منع دی چه ظاهری هیڅ اسباب هغه سره نۀ وی لکه هغه مړ شوے وی او دے ورته آوازونه کوی حال دا چه هغه خو ددۀ هیڅ نۀ آوری، او که بالفرض وائے وری نو ددۀ قبول والے نشي کولے.

او د انسانانو د یو بل نه په ژوند کښې حاجتونه غوښتل منع نۀ دی لکه یو تن بل تن ته د یو شي درخواست وکړی چه دا راکړه نو دا په تعاون علی البر والتقویٰ کښې داخل دے.

مَا لَا يَنْفَعُكَ: ما نه مراد معبودان دی او تعبیر ئے په (ما) سره وکړو ګویا که دوی مشابه

دی د جماداتو سره چه د هیڅ فائدے او د ضرر اختیار نهٔ لری، پوره عاجز دی، دارنګه په رابللو کښ ئے فائده نشته او په نهٔ رابللو کښ ئے ضرر نشته۔
او دلته الله تعالیٰ د غیر الله په دعاء باندے رد وکړو ځکه چه دا ډیره قبیحه خبره ده چه بنده مړو ته او بتانو ته آوازونه کوی چه رامدد شه ځکه چه په دے دعا کښ ډیر فسادونه راجمع کیږی، یو دا چه د هغه نه د خیر طمع لری، د هغه قدرت ګنړی په مدد کولو، بیا هغه ته عاجزی کوی، او د هغه سره محبت ساتی، او د هغه په نوم نذر او منبتے کوی او هغه په خپل ځان باندے عالم او حاضر ناظر ګنړی۔ نو ټول عبادتونه چه د الله تعالیٰ دپاره کیږی هغه ئے مخلوق ته ورکړل نو ددے نه بل لوی شرك کوم یو دے ؟!
فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ : یعنی تهٔ به په شمار د هغه کسانو کښ راشے چه هغوی د خپلو ځانونو سره ظلم کوی۔ او په دے خطاب کښ تعریض دے نورو خلکو ته۔ چه شرك دومره قبیح شے دے چه د پیغمبر عمل هم ورته نهٔ شی تینګیدے نو د بل چا عمل به ورته څه تینګ شی۔

| |
|---|
| وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا |
| او که اُورسوی تا ته الله تعالیٰ څه تکلیف نو نشته هیڅوك لرے کونکے د هغے سویٰ |
| هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ؕ |
| د الله نه او که اراده وکړی هغه تا لره د خیر نو نشته هیڅوك واپس کونکے د مهربانۍ د هغه |
| يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۷﴾ |
| رسوی دا چا لره چه اُوغواړی د بندګانو خپلو نه او هغه بخونکے رحم کونکے دے۔ |

**تفسیر** : یعنی د غیر الله رابلل ځکه نهٔ دی پکار چه هغوی انتهائی عاجز دی په لاس کښ ئے هیڅ نشته، که تا ته الله تعالیٰ یو تکلیف ورسوی نو د هغے لرے کونکے د الله تعالیٰ نه سویٰ بل هیڅوك نشی کیدے او که یو خیر در رسول غواړی نو د هغے هیڅوك منع کونکے نشته۔
بضر: یعنی مرض، مالونه او میوے کمول، د حاکمانو او د دشمنانو د طرفنه ظلم۔
يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ : یعنی الله تعالیٰ تا ته دینی یا دنیوی خیرونه درکول غواړی چه اسباب درله برابر کړی یا ئے بغیر د اسبابو او بغیر د کوشش نه درکړی۔ نو تهٔ د خیر او نفع امید صرف او

صرف د الله تعالیٰ د فضل نه ساته او د بندګانو نه یره مه کوه چه هغوی به ستا نه د الله تعالیٰ یو نعمت واخلي۔

**يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ**: یعنی د الله تعالیٰ فضل په خپلو بندګانو باندے عام دے ځکه چه رحمت ئے عام دے او هرچه ضرر دے نو هغه صرف په اسبابو سره واقع کیږی لکه بنده په هغے کښ کوتاهی وکړی نو مصیبت ورسیږی لکه د صحت غم ونکړی د هغے اسباب پریدی، یا عدل په بادشاهئ کښ پریدی نو هغه ترے زائله شی یا فسق او فجورئے زیات شی نو الله تعالیٰ بارانونه بند کړی یائے دومره ډیر کړی چه د هغے په وجه سیلابونه روان شی دا ټول د بندګانو د اسبابو په وجه۔ (المنار)

مطلب دا شو چه هرکله الله تعالیٰ داسے ذات دے چه هر خیرا وضرر ذ هغه په لاس کښ دے چه د هغه مقابله څوك کولے نشی، نو انسان ولے داسے قیمتی ذات پریدی او غیر الله ته آواز وکړی؟!۔

**فائده**: د ضر سره ئے مس لفظ ذکر کړو او د خیر سره ئے اراده ذکر کړه، پدے کښ اشاره ده چه صدور د خیر د الله تعالیٰ نه بالذات کیږی او د شر صدور د الله تعالیٰ نه بالتبع او بالعرض کیږی۔ نو معلومه شوه چه الله تعالیٰ ته د ضرر نسبت براهِ راست نهٔ کیږی ادباً بلکه الله تعالیٰ یو شے پیدا کړی چه د هغے نه ضرر ولاړ شی په سبب د اختیارولو د بنده د هغے اسبابو لره۔ (النیسابوری وفتح البیان) دارنګه مس کښ اشاره ده چه ضرر انسانانو ته کم رسیږی او د خیر اراده د هغوی دپاره ډیره ده۔

| |
|---|
| قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ج فَمَنِ |
| اُووایه ! اے خلقو په تحقیق سره راغے تاسو ته حق د طرف د رب ستاسو نه نو چا چه |
| اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِۦ ج وَمَن |
| هدایت قبول کړو نو یقیناً هدایت قبلوی دپاره د (فائدے د) خپل ځان او څوك چه |
| ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ج وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ |
| ګمراه شو نو یقیناً ګمراه کیږی چه ضرر به ئے په دهٔ باندے وی او نهٔ یم زهٔ په تاسو ذمه وار۔ |

**تفسیر**: مخکښ د توحید متعلق د رسول الله ﷺ بیان وشو نو اُوس د قرآن کریم

متعلق بیان ذکر کیږی۔
او دا آخری آواز د رسول الله ﷺ دے چه د ټول سورت د مضامینو سره متعلق دے چه ما چه څه بیان کړل دا د الله تعالیٰ د طرفنه حق او رشتینی دی چه ستاسو د دین حقیقت ښکاره کوی او ستاسو د رب د طرفنه راغلی دی، چه دا حق ستاسو نه مخکښ پټ شوے وو پدے وجه چه ستاسو بعض خلك د پخوانو رسولانو د دعوت نه ناخبره وو او بعضو پکښ تحریف او تبدیل کړے وو او د انبیاؤ دعوتونه ئے خراب کړی وو لیکن دے کتاب تاسو ته تفصیل وکړو۔ نو اُوس د هر چا خوښه ده چه څوك هدایت قبلوی فائده ئے د خپل ځان ده، چه پدے سره به د دنیا او د آخرت سعادت حاصل کړی۔
وَمَنْ ضَلَّ : یعنی څوك چه ددے حق نه اَوړی، او د هغه د کتاب او دلیلونو نه اعراض کوی نو د هغے ضرر به ددهٔ په خپل ځان وی ځکه چه په دنیا کښ د هدایت د فائدو نه محروم شو او ددهٔ په کفر او جرمونو باندے به ورته د آخرت عذاب رسیږی۔ (المنار)
وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ : یعنی زهٔ ستاسو هدایت ته په زور سره د راوستو ذمه وار نهٔ یم مقرر کړے شوے۔ او نهٔ پدے چه تاسو به د ګناهونو او نافرمانو نه بچ کوم، او نهٔ ستاسو په نفع او ضرر مقرر شوے یم، بلکه زما کار خو صرف زیرے ورکول دی هدایت قبلونکو ته او یره ورکول دی ګمراهانو ته، ((وَقَدْ اَعْذَرَ مَنْ اَنْذَرَ)) او چا چه دین بیان کړو د هغه نه ملامتیا پورته ده۔ (المصباح المنیر) (والمنار)
سوال دا دے چه هرکله چه د انسان فائده او ضرر خپل دے نو بیا په قرآن او حدیث کښ دومره زور ولے کیږی؟ نو دوه وجے دی (۱) یوه دا چه د الله تعالیٰ په بندګانو شفقت زیات دے نو د هلاکت نه ئے په جدی طریقے سره ساتی۔
(۲) دویمه وجه دا ده چه هدایت حاصلولو کښ د الله تعالیٰ امر منل دی، او دا د الله تعالیٰ ادب دے او ګمراهی اختیارول د الله تعالیٰ بی ادبی ده او الله تعالیٰ بندګان د خپل ادب او احترام او تعظیم او عبادت دپاره پیدا کړیدی۔ نو پدے کښ د الله تعالیٰ تعظیم او احترام او د بندګانو فائده ده۔

| وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ |
| --- |
| او تابعداری کوه د هغے چه وحی کیدے شی تا ته او صبر کوه تردے چه فیصله وکړی |

| |
|---|
| اللّٰهُ ج صلے وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ |
| الله تعالیٰ، او هغه غوره دے د فیصله کونکو نه۔ |

**تفسیر** : پدے آخری آیت کښې نبی ﷺ ته حکم کوی چه دا بیا مونږ تولو ته خطاب دے چه په تا باندے کومه وحی نازلیږی ددے تابعداری کوه، چه هغه کتاب او سنت دی۔ یعنی د بل چا د خبرو تابعداری مهٔ کوه، او د دعوت لاره سخته وی پدے وجه پدے لاره کښې چه د کافرانو او مشرکانو د طرف نه تا ته کوم تکلیف رسیږی په هغے باندے صبر کوه، تردے پورے چه د مشرکانو په باره کښې د الله تعالیٰ کومه فیصله راشی۔

نو ددے نه روستو الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د جهاد حکم وکړو او د بدر په میدان کښې او په نورو جنګونو کښې د هغوی نه څه خو قتل شو او څه قیدیان کړے شو تردے پورے چه ټول جزیرة العرب په اسلام کښې داخل شو۔

وَاصْبِرْ: په صبر ځکه حکم کوی چه په قرآن او سنت باندے عمل بغیر د صبر نه نهٔ کیږی۔

دارنګه ځوك چه د وحی اتباع کوی نو هغه به دعوت کوی او په دعوت کښې دشمنان په ضد ودریږی نو د هغوی په مقابله کښې به صبر کوی۔ او دغه شان د ګناهونو نه صبر۔

يَحْكُمَ اللّٰهُ: د الله تعالیٰ فیصله دا ده چه خپل نبی او مؤمنانو ته نجات ورکړی او د هغه دشمنان هلاك کړی، لکه دا روستو زمانه کښې وشوه چه د رسول الله ﷺ بادشاهی راغله او د مکے مشرکان ذلیله شول۔

او دا په هره زمانه کښې د الله تعالیٰ قانون دے چه حق باقی پریدی او باطل ختموی۔

خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ: الله تعالیٰ غوره دے د فیصله کونکو نه،

۱- ځکه چه نور فیصله کونکی کله د عدل فیصله کوی او کله د ظلم او د الله تعالیٰ ټولے فیصلے د عدل دی۔

۲- بل ځوك چه فیصله کوی نو فیصله ترے ورانیږی د وجه د جهل او د عجز نه نو کله د ظلم والو دپاره فیصله وکړی، او الله تعالیٰ نه هیڅکله نهٔ ورانیږی او هغه همیشه د حق والو دپاره فیصله کوی نهٔ د ظلم والو دپاره۔ وبالله التوفیق و هو خیر رفیق۔

## امتیازات او خصوصیات

۱- پدے سورت کښې الله تعالیٰ د ایمان تقسیم کړیدے دوه قسمونو ته، ایمان نافع او غیر نافع۔ ایمان بالغیب او ایمان بالمشاهده، او دا پکښې زیات شویدے۔

۲- پدے کښې الله تعالیٰ خپل اولیاء ذکر کړیدی او د هغوی صفات او هغوی له بشارت۔

۳- ایمان ته ئے ډیر ترغیبات ورکړیدی۔

٤- واقعه د قوم یونس ؑ چه ټولو ایمان راوړیدے۔


٥- د ایمان نه د محرومه کیدو سبب چه هغه عدم تعقل او عدم تدبر دے۔

٦- اسباب د ایمان د جوړیدوئے بیان کړیدی چه یو قرآن او دویم الکون (کائنات) دی۔

۷- د فرعون ایمان ذکر دے لیکن الله ورله قبول نکړو۔ او د هغه د بدن نجات۔

ختم شو تفسیر د سورة یونس د الله په توفیق او رحم سره په شلم د ربیع الاول ۱٤۳٦ هـ الموافق: ۱٤/۱/۲۰۱۵ یوم الاربعاء۔

وکتبه بیده ابوزهیر البشاوری۔





بسم الله الرحمن الرحیم

| آیاتها (۱۲۳) | (۱۱) **سورة هود مکیة** (۵۲) | رکوعاتها (۱۰) |
| --- | --- | --- |

## تفسیر سورة هود :

**نوم :** دے سورت ته د هود علیه السلام نوم ورکړے شو ځکه چه دلته د رسول الله ﷺ او د هود علیه السلام دعوت یو شان شویدے ﴿اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ﴾ ﴿وَاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ﴾ او د مشرکانو د عادیانو سره مشابهت دے چه هغوی هم صحتمند او مشرکان هم دغه شان وو او هغوی سره د پوهے نه هلاك شو نو دوی به هم دغه شان هلاکیږی۔

**د نزول زمانه :** دا په مکه کښې د سورة یونس نه روستو نازل شوے وو۔ ددے صرف درے آیتونه (۱۲/۱۷/۱۱٤) په مدینه کښې نازل شوی وو چه ددے سره یو ځای شویدی۔

### مناسبت

۱- مخکښې ئے وویل چه شفاعت بغیر د اجازے د الله تعالیٰ نه نشته۔ نو دلته وائی چه اَلۡعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحۡدَهٗ۔ بندګی یواځے الله لره کوئ او د شفعاؤ عبادت مهٔ کوئ۔

۲- موضوعاتی مناسبت دا دے چه مخکښې ایمان بالله وو، دلته عبادت د الله تعالیٰ دے۔ یعنی ایمان د بندګئ دپاره مقصود دے۔ او ایمان وسیله ده د بندګئ۔ او یواځے ایمان بغیر د بندګئ نه صحیح نهٔ دے۔ یو الله منل دی او بل د الله منل دی، الله ډیر خلك منی لیکن د الله خبره ډیر خلك نهٔ منی۔

### د سورت مقصد او موضوع

۱- زمونږ مشائخ وائی چه پدے سورت کښې رَد د شرك فی العبادة دے۔ یعنی د الله تعالیٰ سره په بندګئ کښې شریکان نهٔ جوړول او عبادت صرف د الله تعالیٰ دپاره کول۔ لکه د ﴿اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ﴾ نه معلومیږی۔

۲- دویمه موضوع : نفی د علم الغیب عن الانبیاء والصالحین ده یعنی انبیاء علیهم السلام او نیکان خلك په غیبو نهٔ پوهیږی۔ نو ددے وجه نه د عبادت حقدار هم نهٔ دی۔

لکه دا خبره په واقعه د ابراهیم ﷺ کښې راغلې ده ځکه چه دغه واقعه بغیر د نفی د علم الغیب نه نۀ لګی. مونږ وایو چه دا جزوی فائده ده د یوې واقعې او مجموعی طور سره سورت ورسره نۀ لګی.

۳- اَلْبِشَارَةُ وَالْإِنْذَارُ. بندګانو ته په ایمان او عبادت او نیك اعمالو زیری ورکول او کافران مجرمان په شرك او نافرمانۍ کولو یرول. دا یو تعبیر دے.

بل تعبیر دا دے چه اَلْعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ مَعَ بَیَانِ اَنْوَاعِ الْعِبَادَةِ. بندګی یواځې د الله تعالیٰ پکار ده او د عبادت انواع او اقسام ئے ذکر کړیدی. او واقعات د انبیاؤ علیهم السلام ئے هم ددے دپاره ذکر کړیدی چه عبادت دومره اَهم شے دے چه ټولو انبیاؤ دے ته دعوت ورکړیدے. او ټول انسانیت ددے دپاره پیدا دے او عبادت بیا ټول دین دے. دا موضوع د اول د سورت او د آخری آیت او د واقعات الانبیاء نه معلومیږی.

دا موضوع په سورة الزمر کښې هم ده لیکن لږه مختلفه ده، هلته مقصد دا دے چه اَلْعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ الْمُوَلِّدَةُ لِلْاَخْلَاقِ الْحَمِیْدَةِ. هغه بندګی د الله تعالیٰ پکار ده چه په انسان کښې ښائسته اخلاق راپیدا کړی لکه خشوع او عاجزی.

او په بل تعبیر سره دلته انواع د عبادات ذکر کوی چه دا هم نیك اخلاق دی چه د عبادت نه راپیدا کیږی. او الله تعالیٰ د همدے تقاضا کوی.

او انواع د عبادت نه ❀ یو استغفار ❀ او توبه ذکر ده (او دا تقریباً د عامو پیغمبرانو په دعوت کښې راغلی دی، دا لوی عبادتونه دی) ❀ اَلْعِلْمُ بِعِلْمِ الله، ﴿اِنَّهٗ عَلِیْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ﴾ (کُلٌّ فِیْ کِتَابٍ مُّبِیْنٍ﴾ ، ❀ احسن عمل (چه اخلاص او اتباع طریقے سره وشی)، ❀ حُسْنُ الظَّنِّ مَعَ الرَّجَاءِ ﴿اِنَّهٗ لَیَئُوْسٌ کَفُوْرٌ﴾ نه معلومیږی)، ❀ التواضع په لسم آیت کښې.

❀ صبر او عمل صالح، ❀ الاسلام. ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ د الله تعالیٰ ټولو حکمونو ته منقاد کیدل. ❀ دارنګه بیا اخلاص دے په ﴿مَنْ کَانَ یُرِیْدُ الْحَیٰوةَ﴾ سره چه بندګی به صرف د الله دپاره کولے شی. ❀ اَلْاِخْبَات، (یعنی الله تعالیٰ ته خشوع او انابت او اطمینان کول) ❀ تعوذ، ❀ او تسمیه، ❀ تقویٰ په (۴۹) آیت کښې. او د عادیانو په واقعه کښې، ❀ بیا بندګۍ ته دعوت دے او اَلدَّعْوَةُ اِلَی اللهِ بِالْاِخْلَاصِ. ❀ او توکل پکښې ذکر دے.

❀ دارنګه اتباع الرسل ﴿وَعَصَوْا رُسُلَهٗ﴾،

بیا د ابراهیم ﷺ په واقعه کښې ❀ حِلْم، (د جاهلانو په مقابله کښې بردباری کول)

❀ اَوَّاهِیَة، (ډیرے دعاګانے کول، او د الله تعالیٰ نه ډیر یریدل) ❀ اِکْرَامُ الضَّیْف ، (د میلمه

اکرام کول) ذکر دی. ❁ د لوط ﷺ په واقعه کښې د میلمنو په بې عزتۍ خفه کیدل، ❁ نهی عن المنکر، ❁ هجرت ذکر دی. ❁ د شعیب ﷺ په واقعه کښې د حرامو نه منع او د حرامو نه ځان ساتل ذکر دی چه دا لویه بندګی ده. ❁ مونځ، ❁ او مال د الله تعالیٰ د حکم مطابق استعمالول، ❁ په (۸۷) آیت کښې اِصْلَاحَ بَیْنَ النَّاس. ❁ شر ختمول.

❁ بیا الله تعالیٰ نه توفیق طلب کول ❁ او توکل او انابت په (۸۸) آیت کښې.

❁ بیائے د الله تعالیٰ په نومونو توسل نیول ﴿ اِنَّ رَبِّی رَحِیْمٌ وَدُوْدٌ﴾

❁ الله تعالیٰ ته په تکلیف او خوشحالئ کښې متوجه کیدل، ❁ بیا واقعه د موسیٰ ﷺ کښې د الله تعالیٰ بندګی توحید خودلے شویدے چه دا سبب د نجات دے، ❁ د آخرت د عذاب نه یریدل ﴿ لِمَنْ خَافَ عَذَابَ الآخِرَة). ❁ په آخر د سورت کښې وائی چه استقامة لویه بندګی ده، (یعنی د الله په حکم هر وخت چلیدل) ❁ او طغیان نکول، یعنی د حدودو نه نهٔ اوړیدل. ❁ بل : ظالمانو ته نهٔ مائله کیدل، (یعنی د هغوی په بدو اعمالو نهٔ راضی کیدل)، ❁ اختلاف نکول یعنی د الله د حق نه نهٔ اوړیدل.

او دغه عبادت به بیا په طریقه د رسول الله ﷺ کیږی پدے وجه به د انبیاء علیهم السلام شان بیانیږی.

٤ - صاحب المنار او صاحب د تیسیر الرحمن فرمائی : پدے سورت کښې د ذکر شوی موضوعاتو او مضامینو د اهمیت اندازه د نبی کریم ﷺ د هغه حدیث نه کیږی چه هغه ترمذیؒ، حاکمؒ او ابویعلیٰؒ وغیره د ابوبکر رضی الله عنه نه روایت کړیدے، هغه وویل چه اے د الله رسوله ! تهٔ بوډا شوے. نو نبی ﷺ وفرمایل : [شَیَّبَتْنِیْ هُوْدٌ وَالْمُرْسَلَات وَعَمَّ یَتَسَاءَ لُوْنَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ]((زهٔ هود، مرسلات، عم یتساء لون او اذا الشمس کورت سورتونو بوډا کړے یم)). انتهیٰ. (ترمذی : ۳۲۹۷) وسنده صحیح- البانی)

ځکه چه پدے کښې د تیر شوو قومونو واقعات، د هغوی باغیانه رویّه او بیا د هغوی په بدله کښې په هغوی باندے د الله تعالیٰ د عذاب نازلیدل او په آخرت کښې د اُور د عذاب وعید، او ددے مشابه مضامین بیان شویدی، او مکے مشرکانو ته د هغے نه د عبرت حاصلولو دعوت ورکړے شویدے.

د بیان په انداز کښې د عام مکی سورتونو نه زیات زوردار او زیاته سخته د همکی ده، پدے وجه رسول الله ﷺ چه کله ددے تلاوت کولو نو د هغه په زړهٔ او دماغو به ددے څه ډیر زیات اثر پریوتو، او په مکی ژوند کښې د مکے والو سرکشی، د الله نه بغاوت او د قرآن او

دین اسلام پورې توقې کول به ئې لیدل نو هغه ته به یره کیده چه چرته د الله تعالیٰ عذاب په مکې والو نازل نهٔ شي۔

## خلاصه د سورت

په ابتداء کښې ترغیب دے قرآن کریم ته، بیا موضوع د سورت ده چه ﴿اَلَّا تَعۡبُدُوٓا﴾ بیا د موضوع سره دوه خبرې ملګرې کوی چه څوك بندګی کوی نو څه به وشي؟
نو اَلۡبِشَارَةُ بِالۡجَنَّةِ وَالۡبِشَارَةُ بِالۡحَيٰوةِ الطَّيِّبَةِ. (د جنت زیرے او د ښه ژوند زیرے بیانیږی)
یعنی دنیا هم ورله الله تعالی ښه کوی او بیا جنت ورکوی۔ او انذار په ترك د عبادت یعنی څوك چه بندګی نهٔ کوی نو دنیا کښې به ئې هم زندګی تنګه وی او آخرت به ئې هم خراب وی۔
بیا د رسول الله ﷺ بیان په امر د استغفار او توبه سره او د هغې فائده بیانول۔او څوك چه بندګی نهٔ کوی د هغوی دپاره یره۔
بیا زجر دے معرضینو ته د بیان د رسول الله ﷺ نه په آیت (۵) کښې، بیا الله تعالیٰ د خپل علم محیط تذکره کوی او د کائناتو د پیدائش تذکره، او بیا بیرته مقصد ته واپسی چه دا عالَم الله تعالیٰ څه دپاره پیدا کړیدے او دوی ته رزقونه ولے ورکوی۔ ﴿لِيَبۡلُوَكُمۡ اَيُّكُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا﴾ چه بنده نیك عمل وکړی، بیا وائی چه نیك عمل وکړی نو څه به وشي؟ نو وائی چه قیامت راروان دے، هلته به د اعمالو حساب کیږی او بعض خلك د قیامت منکر دی اوڅوك چه آخرت نهٔ منی نو دا د کائناتو د پیدائش مقصد نهٔ پیژنی او په هغې به رد وکړی، بیا د انسان مزاج بیانوی،
بیا ﴿اِلَّا الَّذِيۡنَ صَبَرُوۡا﴾ کښې د مؤمنانو استثناء بیا رسول الله ﷺ ته تسلی بیانیږی، بیا د قرآن کریم مقابله۔ بیا د دنیا زهد بیا حقانیت د رسول الله ﷺ دے، او څوك ئې چه منی د هغوی دپاره زیرے او څوك ئې چه نهٔ منی د هغوی دپاره تفصیلی تخویفات ذکر دی۔ تر (۲۳) آیت پورې بیا د منونکو او نهٔ منونکو دواړو ډلو مثالونه بیانوی او دا داسې ده لکه مقدمه د سورت او بیا د هغې نه روستو ئې د انبیاء علیهم السلام واقعات راوړیدی چه په هغې کښې همدغه مقصد دے چه ټول انبیاء ددے دپاره راغلی دی نو چا چه منلی دی کامیاب او چا چه نهٔ دی منلی نو ناکام۔ او واقعات چه کله ختم شي بیا پدے قصو باندے تعقیبات (یعنی نتیجه راوستل) بیانیږی۔

| |
|---|
| الٓرٰ قف كِتٰبٌ اُحۡكِمَتۡ اٰيٰتُهٗ |
| ددے حروفو د مطلب نه الله خبر دے، دا کتاب دے چه حکمتونو والا دی آیتونه ددے |
| ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِنۡ لَّدُنۡ حَكِيۡمٍ خَبِيۡرٍ ﴿۱﴾ |
| بیا واضح بیان شویدی د طرف د حکمتونو الا ذات نه چه خبردار دے۔ |

**تفسیر**: الٓرٰ: پدے کښ اشاره ده چه پدے کتاب کښ به ډیر رازونه راځی۔
كِتٰبٌ: یعنی دا کوم چه نازل شویدے او نازلیږی دا داسے اُوچت او عظیم کتاب دے۔
اُحۡكِمَتۡ اٰيٰتُهٗ: دا د اِحکام نه دے او د اِحکام ډیر مطلبونه دی (۱) [فَاُحۡكِمَتۡ اَلۡفَاظُهٗ وَفُصِّلَتۡ مَعَانِيۡهِ] (ابن کثیرؒ) (الفاظ ئے مضبوط دی او معانی ئے تفصیلی دی) اِحکام په لفظ کښ مراد دے او تفصیل ئے په معنی کښ دے۔ یعنی د قرآن مضبوط الفاظ دی چه هیڅ نقصان او خلل پکښ نشته لکه د یوے مضبوطے آبادئ په شان۔ یعنی لنډ لنډ الفاظو والا دے او په مینځ کښ ئے ډیر تفاصیل دی نو دے په الفاظو کښ کامل او جامع دے او په معنیٰ کښ ئے تفصیلات دی۔
(۲) اُحۡكِمَتۡ: د مضبوطوالی معنیٰ دا ده چه ددے په الفاظو او حروفو او جملو او آیتونو کښ نظم او نسق او ترتیب او ترکیب دومره عظیم الشان او بی مثله دے چه د انسان د قدرت نه پورته دے، ❁ او د آیتونو مضبوطوالے دا هم دے چه تعقید او رکاکة او د معنی فساد پکښ نشته، (بیضاویؒ) او د فصاحت او بلاغة او اعجاز بیانی نه ډک دے، چه بندګان داسے طریقے سره خپل کلام نشی راوړے نو بندګان ددے مقابله نشی کولے، دا هم ددے قوت او مضبوطوالے شو۔ (الکبیر)
❁ او اِحکام دا هم دے چه مقصد ترے زر معلومیږی، ګډوډ والے پکښ نشته چه که یو اَن پړهـ او امی سړے ورته کینی هغه هم ترے مقصد معلومولے شی چه پدے کښ دا دا خبره کیږی۔ ❁ یا احکام دا دے چه (اَحۡكَمَهَا اللّٰهُ فَلَيۡسَ فِيۡهَا اخۡتِلَافٌ وَّلَاتَنَاقُضٌ) (قتادهؒ) دا الله تعالیٰ داسے مضبوط کړیدی چه پدے کښ تناقض او اختلاف نشته۔
(بغویؒ والسمعانیؒ)
(۳) یا د اُحۡكِمَتۡ معنیٰ ده (جُعِلَتۡ حَكِيۡمَةً)۔ (السراج المنیر والبحر المحیط ۱۱۹/۶ والدر المصون)
یعنی حکمة والا ګرځولے شویدی چه دا مشتمل دی په نظری او عملی حکمتونو سره۔

او بیا واضحه هم دی۔ کله نا کله څوك د حکمة خبره وکړی لیکن ډیره غافضه (مشکله) وی، مخاطب پرے زر پو هه نشی۔ قرآن داسے نهٔ دے۔
(٤) اُحْكِمَتْ بِالْحُجَجِ وَالدَّلَائِلِ۔ دا آیتونه په دلیلونو او حجتونو سره مضبوط کړے شویدی۔ (فتح القدیر)
(٥) صاحب المنار وائی: ددے آیتونه محکمة النظم والتالیف دی یعنی ترتیب او الفاظ ئے مضبوط دی، معانی ئے واضحه دی، دلالت او تاثیرئے کامل دے نو دا د مضبوطے او بنائسته قلعه پشان دے نو ددے دلالت په معانیو باندے د بنکاره والی په وجه شك او تاویل نهٔ قبلوی او د تغییر او تبدیل احتمال نهٔ لری۔ بیا دغه آیتونه په سورتونو کښې جدا جدا فصلونه جوړ شویدی چه په هغے کښې د عقائدو او احکامو او مواعظو بیان کیږی۔ یا اول اجمالًا مضمون بیان کړی بیا ئے تفصیل وکړی لکه په قصو کښې دغه شان شویدی۔
(٦) اِحکام مضبوطے کاریګرئ ته وائی یعنی یو کار داسے مضبوط کول چه د خلل او نقصان نه محفوظ وی،اَیْ جُعِلَتْ آيَاتُهٗ کَامِلَةً فِیْ نَوْعِ الْکَلَامِ بِحَیْثُ سَلِمَتْ مِنْ مُخَالَفَةِ الْوَاقِعِ اَوْ مِنْ اِخْلَالِ الْمَعْنٰی وَاللَّفْظِ) یعنی ددے آیتونه د کلام په هر لحاظ سره کامل دی پداسے شان سره چه د واقع د مخالفت نه محفوظ دی او دارنګه د معنیٰ او د الفاظو د خلل نه بچ دی۔ (التحریر والتنویر)
دے کښې بعض تفاسیرو والا لکه صاحب د تدبر قرآن وئیلی دی چه په مکه کښې احکام مجمل وو او (ثُمَّ فُصِّلَتْ) بیا په مدینه کښې د هغے تفصیل وشو، لیکن دا تفسیر خطاء دے، ځکه چه ددے مصداق په خارج کښې نشته، وجه دا ده چه عام احکام داسے نشته چه هغه په مکه کښې مجمل ذکر شوی وی سوئ د زکاة نه چه اول کښې مجمل وو او بیا ئے په مدینه کښې تفاصیل او مقادیر بیان شویدی نو د آیت دا مطلب نهٔ دے۔
**ثُمَّ فُصِّلَتْ**: ددے دویم صفت تعلق په قرآن کښې د ذکر شوو دلائلو د توحید، د احکام او واجبات، د قومونو واقعات او مواعظ او نصیحتونو سره دے۔ چه ددے مثال د هغه ملغلرو دے چه هغه په هار کښې اوُبیللے شی، او د هغوی ترمینځ ځای په ځای څه د بل رنګ او حجم ملغلرو په ذریعه خائست پیدا کیږی۔ د قرآن کریم هر آیت او هر سورت په خپل ځان کښې د انسانانو دپاره څه نه څه خیر اخستے دے۔ او داسے به ولے نهٔ وی، دا کتاب هغه یواځے ذات نازل کړیدے چه د هغه هر کار په حکمت بناء وی، او چه د هر بےخبرے علم لری۔ (القاسمیؒ)

**مِنۡ لَّدُنۡ حَكِيۡمٍ خَبِيۡرٍ** : پدے کښې حسن طباق دے ځکه معنیٰ دا ده: اَحۡكَمَهَا حَكِيۡمٌ وَفَصَّلَهَا خَبِيۡرٌ عَالِمٌ بِوَاقِعِ الۡاُمُوۡرِ ـ یعنی دا حکیم ذات مضبوط کړیدی (یا حکمة والا ځکه دی چه د حکیم ذات د طرفنه نازل شویدی) او بیا په تفصیل سره خبردار ذات بیان کړیدی چه د ټولو کارونو د حقیقتونو نه خبردار دے۔ (فتح البیان والبحر المحیط)

| |
|---|
| اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِىۡ لَكُمۡ |
| چه مهٔ کوئ بندګی (هیچا لره) سویٰ د الله نه، یقیناً زهٔ تاسو لره |
| مِّنۡهُ نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ ﴿۲﴾ |
| د الله د طرف نه یره درکونکے او زیرے درکونکے یم۔ |

**تفسیر** : (۱) - پدے کښې اَنۡ حرف تفسیر دے ځکه چه په (فُصِّلَتۡ) کښې معنیٰ د قول پرته ده، اَیۡ قَالَ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡا /اَوۡ اَمَرَكُمۡ اَلَّا تَعۡبُدُوۡا ـ یعنی الله تعالیٰ دا وینا او دا حکم کړیدے چه تاسو به بندګئ نکوئ سویٰ د الله تعالیٰ نه د بل چا۔ او دا غوره احتمال دے ځکه چه تقدیر ته ئے ضرورت نهٔ راځی۔

(۲) کسائیؒ او فراءؒ وائی چه دلته باء مقدره ده ای اُحۡكِمَتۡ بِاَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡا۔ ددے آیتونه مضبوط شویدی پدے چه عبادت مهٔ کوئ سویٰ د الله تعالیٰ نه د بل چا۔

(۳) او زجاجؒ وائی: چه لام مقدر دے او اَلَّا تَعۡبُدُوۡا مفعول له دے (اُحۡكِمَتۡ ثُمَّ فُصِّلَتۡ لِئَلَّا تَعۡبُدُوۡا) یعنی په قرآن کښې احکام ددے دپاره بیان شویدی چه تاسو بندګی د غیر الله ونکړئ۔ (فتح البیان والبحر المحیط)

د قرآن کریم د راتللو مقصد هم دغه دے چه ټول بندګان یواځے د الله تعالیٰ بندګی شروع کړی، او د غیر الله د عبادت نه منع شی۔

**اِنَّنِىۡ لَكُمۡ مِّنۡهُ نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ** : (۱) مِنۡهُ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یعنی زهٔ تاسو لره د الله تعالیٰ د طرفنه یره درکونکے یم په اُور سره چا چه نافرمانی وکړه او زیرے درکونکے یم چا چه طاعت وکړو۔ (۲) یا کتاب ته راجع دے اَیۡ نَذِيۡرٌ لَّكُمۡ مِنۡ مُخَالَفَتِهٖ وَبَشِيۡرٌ مِّنۡهُ لِمَنۡ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا] یره درکونکے یم تاسو ته د مخالفت ددے کتاب نه او زیرے ورکونکے یم هغه چا ته چه ایمان راوړی او عمل صالح اختیار کړی۔ او انذار ئے مقدم کړو ځکه چه تخویف اهم دے، پدے سره بنده د مخالفت نه منع کیږی۔ (البحر وفتح البیان)

۳- ابن عاشورؒ وائی : مِنۡهُ کښې (مِنۡ) ابتدائیه دے، متعلق دے په محذوف پورے.
اَیۡ اِنِّیۡ نَذِیۡرٌ وَّبَشِیۡرٌ لَکُمۡ جَائِیًا مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ.
زۀ تاسو ته یره او زیرے درکوم چه راغلے یم د الله تعالیٰ د طرفنه. (التحریر)

| |
|---|
| وَّاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡآ اِلَیۡهِ |
| او (وایم تاسو ته چه) بخنه غواړئ د رب خپل نه بیا توبه وباسئ هغۀ ته، |
| یُمَتِّعۡکُمۡ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی وَّیُؤۡتِ کُلَّ ذِیۡ |
| (نو) فائدے به درکړی تاسو ته فائدے ښائسته تر نیټے مقررے پورے او ورېه کړی هر خاوند |
| فَضۡلٍ فَضۡلَهٗ ؕ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡکُمۡ |
| د نیك عمل ته بدله د نیك عمل د هغۀ، او که واوړیدئ تاسو نو یقیناً زۀ یریږم په تاسو د |
| عَذَابَ یَوۡمٍ کَبِیۡرٍ ﴿۳﴾ اِلَی اللّٰهِ مَرۡجِعُکُمۡ ج |
| عذاب د ورځے لوئے نه. خاص الله ته ورګرځیدل دی ستاسو |
| وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۴﴾ |
| او هغه په هر شی قدرت لرونکے دے. |

**تفسیر:** دا د رسول الله ﷺ بیان دے چه الله تعالیٰ ورته خودلے دے چه خپل قوم ته داسے ووایه. استغفار او توبه ډیر مهم عبادتونه دی پدے وجه پدے سورت کښې د اکثرو پیغمبرانو په بیان کښې دا ذکر شویدی خاصکر د هود ؑ په بیان کښې.
رسول الله ﷺ فرمائی : طُوۡبٰی لِمَنۡ وَجَدَ فِیۡ صَحِیۡفَتِهٖ اسۡتِغۡفَارًا کَثِیۡرًا | هغه چا دپاره خوشحالی ده چه په خپله صحیفه (عملنامه) کښې (د قیامت په ورځ) ډیر استغفار مونده کړی. (ابن ماجه (۳۸۱۸) وصحیح الجامع (۳۹۳۰) باسناد صحیح)

د استغفار او توبې فرق

۱- آسان فرق دا دے چه استغفار په ژبه وی او توبه په زړه سره وی.
۲- حقیقی فرق دا دے چه استغفار په طریقه د ترك الذنوب سره وی یعنی استغفار وکړه او ګناهونه پریده. او توبه الله تعالیٰ ته راګرزیدل دی په طاعت سره.

۳- یا استغفار بخنه طلب کول دی او توبه په هغې کښې اخلاص پیدا کول دی. یا په هغې باندې همیشه پاتې کیدل دی.
٤- یا استغفار د تیر شوو گناهونو نه دې او توبه د موجوده او آینده گناهونو نه دې.
(قرطبی وفتح البیان والبغوی)
٥- استغفار دې ته وائی چه د خپلو گناهونو د پټوالی طلب وکړی. یعنی چه د هغې څه اثر او سزا پاتې نشی. او توبه دا ده چه د گناهونو نه ووځی او په مخکنو گناهونو پښیمانه شی او په آینده کښې دا عزم وکړی چه بیا به ورته راتلل نکوی. (البحر المحیط)
په داسې توبه او استغفار باندې الله تعالیٰ د دوه څیزونو وعده کړیده. اول :
يُمَتِّعْكُم مَّتَاعًا حَسَنًا:

## د متاع حسن څه مطلب ؟

۱- متاع حسن : هُوَ طِيْبُ عَيْشِ الْمُؤْمِنِ دې، یعنی د مؤمن مزیدار ژوند ته وائی چه دې ته حیوة طیبة وئیلې شویدې الله فرمائی : ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ چه (کوم مؤمن (سړې یا ښځه) نیك عمل وکړی مونږ به هغه ته مزیدار ژوند ورکړو). (النحل : ۹۷) او ددې دا مطلب نهٔ دې چه انسان به مالداره کیږی بلکه مطلب دا دې چه الله تعالیٰ به د عزت او د محبت ژوند او په آسانئ باندې حلال رزق ورکوی، او عذابونه به پرې نهٔ وی او د نیك عمل توفیق به ورته ملاویږی. او ددې نه بل کوم ژوند ښه دې؟!
بعض وائی : اَلرِّضَا بِالْمَيْسُوْرِ وَالصَّبْرُ عَلَى الْمَقْدُوْرِ. په لږ څه به راضی کیږی (یعنی قناعت به ورکړی) او په تقدیر به راضی وی.
۳- حُسْنُ الْعَمَلِ وَقَطْعُ الْاَمَلِ. ښائسته عملونه کول او امیدونه ختمیدل.
(البحر المحیط وفتح)
دویم شې دا دې وَيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ: اَیْ يُؤْتِ كُلَّ ذِیْ عَمَلٍ صَالِحٍ جَزَاءَ عَمَلِهٖ اِمَّا فِی الدُّنْيَا اَوْ فِی الْآخِرَةِ اَوْ فِيْهِمَا جَمِيْعًا) یعنی هر نیك عملوالا ته به د هغهٔ د نیك عمل بدله ورکوی، یا په دنیا کښې یا په آخرت کښې یا په دواړو کښې. نو پدې کښې فرق ته اشاره ده چه یو تن ډیره توبه وباسی او پوره الله تعالیٰ ته راواپس شی او د هغه په طاعاتو کښې مصروف شی، او بل گوزاره حال توبه وبستله نو د دواړو ترمینځ فرق دې، نو که چا ډیر

نیك عمل وکړو نو ډیره بدله به ورته ورکړے شي او که چا لږ عمل وکړو نو لږه بدله به ورکړے شي۔ یو شخص دے چه د ورځے سل کرته استغفار طلب کوي او بل ئے دوه سوه کرته نو خامخا به په اجر کښ فرق وي۔

فَضْلَهٗ کښ ضمیر یا ذی فضل ته راجع دے۔ او جزاء لفظ پټ دے۔(نو معنیٰ به دا وي : او الله به ورکوي هر خاوند د غوره عمل ته بدله د هغه د عمل مطابق)۔

یا ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یعني هر غوره عمل کونکی ته به الله تعالیٰ خپل فضل ورکوي۔ چه هغه د یوے نیکئ بدله په لس چنده او تر اوه سوو پورے او تر ډیرو چندونو پورے۔

وَاِنْ تَوَلَّوْا: دا په اصل کښ تَتَوَلَّوْا دے۔ صیغه د مخاطب ده۔ پدے کښ الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په ژبه هغه خلقو ته دهمکي ورکړه چه هغوي په توبه او استغفار او عبادت کښ د اخلاص نه اعراض کوي چه دوي له د قیامت د ورځے د عذاب نه یریدل پکاردي۔

| |
|---|
| اَلَآ اِنَّهُمْ یَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِیَسْتَخْفُوْا مِنْهُ اَلَا حِیْنَ |
| خبردار یقیناً دوي اړوي سینے خپلے دے دپاره چه ځان پټ کړي د هغهٔ نه، خبردار کله چه |
| یَسْتَغْشُوْنَ ثِیَابَهُمْ ۙ یَعْلَمُ مَا یُسِرُّوْنَ وَمَا |
| دوي ځان پټوي په جامو خپلو کښ نو پوهیږي الله په هغے چه پټوي دوي او په هغے |
| یُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۵﴾ |
| چه ښکاره کوي ئے دوي، یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په خبرو د سینو۔ |

**تفسیر :** ربط او تړون

نبی کریم ﷺ دوي ته د عبادت او د استغفار دعوت ورکوي لیکن مشرکان د هغه نه مخ اړوي او ځانونه ترے پټوي، چه دا په حقیقت کښ د الله تعالیٰ نه ځان پټول دي حال دا چه الله تعالیٰ خو په دوي باندے په هر حال کښ خبردار دے هغه به ورسره حساب کوي۔

پدے آیت کښ د مکے د کافرانو په باره کښ خبر ورکړے کیږي چه هیڅ دهمکی او د دنیا او د آخرت د خیرونو هیڅ ترغیب هم د دوي د کفر او شرك حالت بدل نکړو، بلکه د دوي سرکشي نوره هم زیاته شوه۔ د آیت معنیٰ دا ده چه د مکے بعض کافرانو د رسول الله ﷺ د خبرے آوریدو نه اعراض کولو او کوشش به ئے کولو چه د دوي ددے اعراض علم به

الله تعالیٰ یا د هغهٔ رسول ته نهٔ وی. الله فرمائی : زهٔ د دوی د هر حال نه خبردار یم.
پدے آیت کښې ځینی مفسرین دا اشکال کوی چه مشرکانو کوم وخت کښې د الله تعالیٰ نه ځان پټولو؟ او د الله تعالیٰ نه د ځان پټولو څه معنیٰ ده ؟
۱- نو بیا ځینو مفسرینو دا آیت د صحابه کرامؓ سره لګولے دے او (مِنْهُ) ضمیر ئے الله تعالیٰ ته راجع کړیدے لکه امام بخاری رحمة الله علیه ددے آیت په تفسیر کښې د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه په صحابه کرامؓ کښې څه خلقو به د قضائے حاجت یا د ښځے سره د نزدیکت په وخت خپل عورت کولاوولو کښې شرمیدل چه الله تعالیٰ دوی ته ګوری نو دا آیت نازل شو. (ابن کثیرؒ)
نو دا کار خو ښه وو لیکن دے سره دا عقیده ملګرے شوے وه چه دوی پدے کار سره به د الله تعالیٰ نه پټ شی حال دا چه د الله تعالیٰ نه په هیڅ حالت کښې پټیدل نشی کیدے. نو دلته الله فرمائی : چه دا کار ښه دے لیکن دا عقیده ورسره غلطه ده.
لیکن دا تفسیر ظاهر نهٔ دے بلکه دا آیت اول د مشرکانو په باره کښې دے او بیا به د صحابه کرامؓ دا حالت هم پکښې داخلیږی.
۲- بعض مفسرین وائی : (مِنْهُ) ضمیر رسول الله ﷺ ته راجع دے او د مکے کافرانو په حقیقی معنو کښې به داسے کول چه کله به رسول الله ﷺ د هغوی خوا کښې تیریدو نو خپل مخ به ئے واړولو او نبی ﷺ طرف ته به ئے شا کړله او په کپړے سره به ئے خپل مخ پټ کړو دے دپاره چه د نبی ﷺ کومه خبره د هغوی په غوږ کښې پرے نهٔ وځی. او چرته بیا دعوت ورنکړی لکه د داعیانو نه اکثر خلك پټیږی.
نو الله تعالیٰ دے کافرانو ته فرمائی : ﴿ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴾ چه که تاسو د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول نه د خپل حقیقت پټولو زرګونه کوششونه وکړئ، هیڅ فائده به نهٔ وی، ځکه چه الله تعالیٰ خو په هر څه پوهیږی، هغه خو د سینو په تمامو رازونو خبردار دے، د هغهٔ نه نشئ پټیدے. دا هم قریب تفسیر دے.
۳- غوره تفسیر دادے چه (مِنْهُ) ضمیر الله ته راجع دے او همدغه مخکنے مطلب دے چه مشرکانو به رسول الله ﷺ کله په لاره کښې ولیدو نو مخ به ئے ترے اړولو نو الله فرمائی: دوی سینے اړوی ددے دپاره چه د الله تعالیٰ نه ځانونه پټ کړی او د الله تعالیٰ نه د ځانونو پټولو معنیٰ دا چه د رسول الله ﷺ نه ځان پټوی ځکه چه د رسول الله ﷺ نه پټیدل داسے دی لکه د الله تعالیٰ نه پټیدل لکه دا خبره په محاوره کښې ذکر کیږی. ځکه

چه رسول الله ﷺ دوی ته د الله تعالیٰ خبرے کوی.

(او دا قانون دے چه څوك حق خبرو ته غوږ نهٔ ایږدی نو دا داسے ده لکه چه د الله تعالیٰ نه ځان پټوی او تبنتی ترے) یعنی تاسو چه د رسول الله ﷺ نه تبنتئ نو دا خو په حقیقت کښې د الله تعالیٰ د خبرو نه تبنتیدل دی او حال دا چه الله تعالیٰ خو ستاسو په هر حال او حقیقت باندے خبردار دے نو د هغهٔ سره به څه کوئ. هغه به سزا درکوی.

٤- یا یَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ بِالْحَسَدِ وَالْعَدَاوَةِ . یعنی سینے اړوی په حسد او دشمنئ سره دے دپاره چه ځانونه د رسول الله ﷺ نه پټ کړی. یعنی سینو کښې ئے حسد دے پدے وجه د هغه نه اوړی دے دپاره چه د رسول الله ﷺ نه ځان پټ کړی لیکن الله تعالیٰ ته د دوی هر حال معلوم دے هغه به ورسره حساب کوی.

د ابن عباس ﷺ یو بل روایت دے چه دا آیت د اَخنس بن شریق په باره کښې نازل شوے وو چه د رسول الله ﷺ سره به کله ملاویدو نو خوږے خوږے خبرے به ئے کولے او په زړهٔ کښې به ئے د هغه سره دشمنی پټه ساتله. (قرطبی والمنار)

دا هم صحیح تفسیر دے.

په ﴿ اَلَا حِیْنَ یَسْتَغْشُوْنَ ثِیَابَهُمْ ﴾ کښې د تیرے شوے معنیٰ تاکید دے. د مکے کافرانو به وئیل چه کله مونږ خپلے دراوزے بندے کړو او په کپړو سره خپل ځانونه پټ کړو او په خپلو سینو کښې د محمد دشمنی پټه اُوساتو نو څوك به خبریږی؟!. (المنار)

عَلِیْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ: یعنی هغه خبرے او هغه وسوسے او خطرات چه په غوږ آوریدلے کیږی هم نهٔ. نو الله تعالیٰ په زړونو او د هغے په احوالو او پټولو او ښکاره کولو عالِم دے.

| |
|---|
| وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ |
| او نشته هیڅ ژنده سر په زمکه کښې مګر په الله باندې رزق د هغې دې، او پوهیږي الله |
| مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ط كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦﴾ |
| په ځائے د اوسیدو د هغې او په ځائے د امانت د هغې، دا ټول په کتاب ښکاره کښې دي. |

**تفسیر** : مخکښې ذکر شو چه الله تعالیٰ د زړونو په خبرو پوهیږي. نو اوس الله تعالیٰ د خپل علم تعمیم کوي چه هغه په هر شي باندې پوهه دے.

الله فرمائي : په زمکه باندې ګرځیدونکي چه څومره حیوانات دي، دا ټول الله تعالیٰ ته معلوم دي بیا دوي ټولو ته د هغوي د تخلیق او پیدائش مطابق روزي ورکوي، دا د هغه اټله وعده ده چه د احسان په توګه ئې پوره کوي. نو الله تعالیٰ ته د دغه حیواناتو احوال لوړه او ټنده معلومه ده او بیا ئې حاجتونه پوره کوي نو دے نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ علیم بکل شیء او قدیر بکل شيء او رحیم دے. او کله چه هغه یو یو حیوان ته روزي رسوي، نو په دنیا کښې د دوي ځایونه او د مرګ نه روستو د دوي ځایونه د وسیدو هم ورته معلوم دي.

نو ربط ئې د ماقبل سره دا شو چه هرکله الله تعالیٰ د هیڅ حیوان نه غافل نۀ دے نو بیا دا څنګه کیدے شي چه هغه د دوي د اقوالو او افعالو او د نورو تمامو احوالو او کیفیاتو نه ناخبره شي ؟! (فتح البیان)

هغه د هر څه نه خبر دے، او بیا دا هره خبره په لوح محفوظ کښې لیکلے شویده. نو دا د روستو آیت دپاره مقدمه هم ده چه دا رزقونه چه الله تعالی تاسو ته درکوي دا ددے دپاره چه نیك عمل به کوئ.

عَلَى اللّٰهِ: یعني الله تعالیٰ په ځان باندې واجب کړے او منلے ده، دا وجوب اختیاري دے چه د هغۀ مشیئت ته سپارلے شویدے که هغه غواړي رزق به ورکړي او که غواړي نۀ به ئې ورکوي.

مُسْتَقَرَّهَا : یعني ځاي د وسیدو په زمکه کښې یا ځاي د قرارئ په شاګانو کښې.

وَمُسْتَوْدَعَهَا : ځاي د هغې په رَحِمونو کښې (یا بیضه وغیره کښې) یا مستقر هغه ځاي دے چه د شپے یا د ورځے ورته راواپس کیږي او مستودع (ځاي د امانت) هغه ځاي دے چه

په هغې کښې به مري. (فراء). (فتح)
او ددې ډير مصداقات په تفسير د سورة الانعام کښې تير شويدي.

| |
|---|
| وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ |
| او الله هغه ذات دے چه پيدا کړي يې دي آسمانونه او زمکه په اندازه د شپږو ورځو کښې |
| وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ |
| او وو عرش د الله په اُوبو باندې دې دپاره چه امتحان وکړي په تاسو چه کوم يو ستاسو نه |
| اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْ بَعْدِ |
| ډير ښائسته عمل والا دے، او که اُووائې ته چه بيشکه تاسو به پورته کولے شئ روستو |
| الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷﴾ |
| د مرګ نه، خامخا وائي هغه کسان چه کافران دي نۀ دے دا مګر جادو دے ښکاره. |

**تفسير**: دا هم د مخکښې مضمون تاکيد دے چه الله تعالىٰ د لويو قدرتونو مالك دے. او ددې دليل د آسمان او د زمکې پيدائش دے. الله تعالىٰ آسمان او زمکه (د اتوار نه تر جمعې پورې) په شپږو ورځو کښې پيدا کړيدي. دا مضمون په سورة الاعراف آيت (٥٤) او سورة يونس آيت (٣) کښې تير شويدے. او په سورة الحديد (٤) او الفرقان آيت (٥٩) او السجده آيت (٤) او ق آيت (٣٨) کښې هم راغلې.

دا ورځ خو به يا د دنيا د ورځو په شان وي، يا به هره ورځ د يو زر کالو برابره وي لکه چه په سورة الحج آيت (٤٧) کښې راغلې دي: ﴿وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ﴾ يعنې (ستا د رب يوه ورځ ستاسو د يو زر کالو برابره ده).

**وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ**: دا خبره دلته زياته ده. يعنې د آسمان او د زمکې د پيدائش نه مخکښې د الله تعالىٰ عرش په اُوبو وو. په کومه طريقه وو؟ ددې حقيقي علم صرف الله تعالىٰ ته دے.

او دا دليل دے چه الله تعالىٰ د ټولو نه مخکښې اُوبه پيدا کړې، د هغې نه روستو يې عرش پيدا کړو، او ددې دواړو نه روستو يې آسمان او زمکه پيدا کړل. امام احمدؒ او ترمذيؒ د ابو رَزِين الْعُقَيْلِي صحابي ﷺ نه روايت کړيدے چه ما تپوس وکړو، اے د الله رسوله! د

مخلوقاتو د پیداکولو نه مخکښ زمونږ رب چرته وو ؟ نو نبی ﷺ وفرمایل: [ کَانَ فِیُ عَمَاءٍ مَا فَوُقَهُ هَوَاءٌ وَمَا تَحُتَهُ هَوَاءٌ] ((داسے ځای چه د هغے لاندے هوا وه او بره هم هوا وه)). دے نه روستو الله تعالیٰ عرش پیدا کړو.

(الترمذی ۳۱۰۹) مسند الطیالسی ۱/۱٤۷ ح ۱۰۹۳) العلو للذهبی (۱/۱۹) (اسناده حسن۔ روضة المحدثین رقم: ٤٤۰۲) وحسنه الترمذی، وضعفه الالبانی بوکیع بن حدس فانه لم یوثقه غیر ابن حبان)

**وَّکَانَ عَرُشُهٗ** : نه معلومه شوه چه مخکښ د الله تعالیٰ عرش په اُوبو باندے وو او اوس د آسمانونو دپاسه دے. لیکن د آسمانونو د پیدائش نه مخکښ په اُوبو باندے وو او اُوبه په هواء باندے وے او هواء د الله تعالیٰ په قدرت باندے ټینګه وه. ددے نه اخوا الله تعالیٰ مونږ انسانانو ته خبر نهٔ دے راکړے چه هغه څنګه وو او په کومه طریقه وو؟، بس دے ځای پورے به منلے شی. او دے کښ دا تفسیر کول چه (وَکَانَ مُلُکُهٗ عَلٰی جَمِیُعِ الُمَوُجُوُدَاتِ)

د هغه بادشاهی په ټولو موجوداتو وه، دا صحیح تفسیر نهٔ دے، ځکه چه دغه بادشاهی خو اُوس هم ده. بیا الله تعالیٰ ټول مخلوقات د اُوبو نه پیدا کړل.

**لِیَبُلُوَکُمُ**: دے کښ د آسمانونو او د زمکے د پیدائش مقصد بیانوی چه الله تعالی آسمانونه او زمکے ددے دپاره پیدا کړیدی چه د هغه بندګان په زمکه باندے وسیدل وکړی او د هغه د قسماقسم نعمتونه نه فائده واخلی، او د یو الله تعالیٰ عبادت وکړی.

دارنګه د نیکئ او خیر په کارونو کښ د یو بل نه د مخکښ تلو کوشش وکړی، دے دپاره چه د قیامت په ورځ الله تعالیٰ هر شخص ته د هغه د اعمالو مطابق بدله ورکړی.

نو الله تعالیٰ ته د انسانانو دا اعمال دومره قیمتی دی چه ددے دپاره ئے ټول کائنات ودرولی دی، او دا نظام به ترهغه وخته پورے روان وی چه یو مؤمن په دنیا کښ موجود وی او د الله تعالیٰ ذکر کوی، که په دنیا کښ ټول خلك کافر شی او صرف یو مؤمن موجود وی نو هم الله تعالیٰ دا کائنات د هغه دپاره ودروی او قیامت نهٔ راولی، د بنده د عمل دومره ډیر قیمت دے.

**لِیَبُلُوَکُمُ اَیُّکُمُ اَحُسَنُ عَمَلًا** : دا مقصد او امتحان الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ په درے سورتونو کښ بیان کړیدے دلته او سورة الکهف (۷) او سورة الملك (۳) آیت کښ.

دلته الله تعالیٰ ﴿ اَحُسَنُ عَمَلًا ﴾ وویل، او [اَکُثَرُ عَمَلًا] ئے ونه ویل، معلومیږی چه د الله تعالیٰ په نیز د عمل حسن (ښائست) له اعتبار دے، یواځے ډیروالی د عمل له نهٔ.

## احسن عمل څه ته وائي؟

یو عمل د الله تعالیٰ په نظر کښې هله ((احسن)) کیږي چه کله هغه د الله تعالیٰ د رضا دپاره شوے وي او د رسول الله ﷺ د سنت او د شریعت مطابق وي. یعنی که د دواړو شرطونو نه یو شرط هم رانغلو نو هغه عمل به د الله تعالی په نیز قابلِ قبول نهٔ وي.

او احسن عمل دا دے چه په ښائسته طریقے سره ئے وکړي، خشوع او خشوع سره وي، او د ګناهونو نه پکښې ځان وساتي لکه مثلًا یو تن روژه ونیوله، ډیرے خبرے ئے پکښې وکړے، بد نظري ترے وشوه، غیبت ئے وکړو نو دا احسن عمل نهٔ دے او چه ددے ګندونو نه پاکه وه نو دغه احسن عمل دے. او دا د زړه عمل ته هم شامليږي چه هغے ته عقیده وائي.

**وَلَئِنْ قُلْتَ:** سوال پیدا شو چه که مونږ نیك عمل وکړو نو څه به وشي؟

نو الله فرمائي چه قیامت راروان دے او په هغه ورځ کښې به ددے نیك او بدو عملونو حساب کیږي، لیکن کله چه د قیامت خبره کیږي نو د کافرو طریقه دا ده چه هغوی زر انکار کوي ګویا که دا خلك د آسمان او د زمکے او د کائناتو او د انسانانو د پیدائش هیڅ مقصد نهٔ مني او دا ورته مُهمل (بیکاره) ښکاري ځکه چه هرکله دوی قیامت او حساب کتاب نهٔ مني نو بیا په دنیا کښې خلك نیك عمل ولے کوي؟ نو ځکه الله تعالیٰ په کافرانو باندے پداسے مقام کښې رد کوي او دا وجه د مناسبت هم ده.

**اِنْ هٰذَا:** نهٔ دي دا خبرے چه محمد (ﷺ) ئے وائي. یا دا قرآن چه د قیامت خبرے پکښې دي، دا خو جادو دے چه مونږ متأثره کول غواړي او حقیقت ئے نشته. یا دا د جادو په شان بې بنیاده او باطل فکر دے چه پدے باندے یقین نشي کیدے.

| |
|---|
| وَلَئِنْ اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ |
| او که روستو کړو مونږ د دوی نه عذاب تر یوے مودے شمارلے شوے (لږے) پورے، |
| لَّيَقُوْلُنَّ مَايَحْبِسُهٗ ؕ اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ |
| خامخا وائي دوی څه بند کړیدے دا عذاب، خبردار په هغه ورځ چه راشي دوی ته |
| لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا |
| (عذاب) نو نهٔ به وي اړولے شوے د دوی نه او راګیر به کړي دوی لره هغه شے |

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُ وْنَ ﴿٨﴾

چه دوی په هغے پورے توقے کولے.

**تفسیر** : هرکله چه تهٔ دوی ته د قیامت او د عذاب خبرے وکړے نو دوی هغه په جلتئ غوارې او رسول الله ﷺ دروغجن ګنړی، دا د دوی د طبیعت کوږوالے دے نو دلته الله تعالیٰ دوی ته په جلتئ سره د عذاب په غوښتلو باندے زجر او رټنه ورکوی.

فرمائی : که الله تعالیٰ د یوے مُعینے مودے پورے عذاب د دوی نه روستو کړی نو رسول الله ﷺ فوراً دروغجن ګنړی او وائی چه اے محمده! تا چه به د کوم عذاب خبره کوله هغه کوم شی مؤخر کړیدے؟ الله تعالیٰ هغوی ته جواب ورکړو چه جلتی مهٔ کوئ، کله چه هغه په تاسو نازل شی نو هیڅ طاقت به هغه نشی روستو کولے.

اِلٰٓی اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ: پدے کښې اشاره ده چه عذاب خو په دوی خامخا راتلونکے دے خو که زۀ ئے لږ روستو کړم نو دوی پرے اعتراض کوی او شك کوی. او پدے کښې دوی ته دهمکی هم ده.

د امة نه موده مراد ده. یا مراد طائفه د ورځو ده چه هغه کمه ده. امة د اَمٌّ نه دے په معنیٰ د قصد سره دلته ترے مراد هغه وخت دے چه د عذاب واقع کولو دپاره قصد شویدے.

مَا يَحْبِسُهٗ: یعنی څه شی بند کړیدے دغه عذاب؟. او دا خبره په طریقه د توقو او مسخرو سره کوی یعنی عذابونه عذابونه نشته، دا د محمد (ﷺ) هسے خیالات دی.

لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ : یعنی نهٔ به وی اړولے شوے او بند کړے شوے دغه عذاب د دوی نه بلکه هغه به پرے خامخا راپریوزی او په ختم به ورته کینی چه بیا به ترے د دوی هیڅ خلاصے نهٔ وی.

يَسْتَهْزِءُ وْنَ: د يَسْتَعْجِلُوْنَ په ځای ئے يَسْتَهْزِءُ وْنَ راوړو ځکه چه دوی چه په عذاب جلتی کوله نو توقے کول ئے مقصد وو. او حاق ئے ماضی راوړه، اشاره ده چه ګویا که په دوی باندے د عذاب واقع کیدل داسے یقینی دی لکه چه مخکښې زمانه کښې واقع شوے وی.

وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ج

او که چرته اُوڅکوو مونږ یو انسان ته زمونږ د طرف نه څه نعمت بیا ئے راکاږو د هغه نه

اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ

| |
|---|
| نو یقیناً دے خامخا نا اُمیده ناشکره وی۔ او که اُوخکوو مونږه دۀ ته نعمت پس |
| ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ؕ اِنَّهٗ |
| د تکلیف نه چه رسیدلے وی دۀ ته خامخا وائی دا، لاړل تکلیفونه زما، یقیناً دا |
| لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴿۱۰﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا |
| خامخا خوشحالی (تکبر) کونکے فخر کونکے وی۔ مگر هغه کسان چه صبرئے کړیدے |
| وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ |
| او عملونه ئے کړیدی نیك، دا کسان دوی لره بخنه ده او اجر دے لوئی۔ |

**تفسیر**: دلته الله تعالیٰ د انسان مزاج بیانوی چه اول ترے کافر انسان مراد دے، بیا پکښ جنس انسان داخل دے او دا ئے بد صفت دے، او هغه دا دے چه الله تعالیٰ کله چه انسان ته نعمت ورکړی بیا د څه سبب په وجه هغه واخلی نو فوراً د هغه د رحمت نه نا اُمیده کیږی او د ناشکرئ او د الله په بدی بیانولو باندے شروع شی، او که هغه ته د بیمارئ او تکلیف نه روستو صحت او د محتاجئ نه روستو خوشحالی ورسیږی نو وائی چه بس تکلیفونه ختم او اُوس خو آرام او راحت او عیش ماش او خوشحالی ده یعنی نور تکلیفونه راتلل نشته۔ او بد مست شی او الله تعالیٰ ترے هیر شی چه هغه به پرے دغه مصیبت بیا راولی او چه نعمت ورله الله تعالیٰ ورکړی نو په داسے تکبر کښ راشی چه په هغه نعمت باندے د خپل خالق او رازق او مالك شکریه اداکولو خیال هم د هغه په زړۀ او دماغو کښ نۀ تیریږی۔ داحال د ډیرو انسانانو دے چه کله په هغه باندے بیماری راشی یا پرے نعمتونه فراخه شی۔

**ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ** : ۱- یعنی تکلیفونه زما نه لاړل بیا نۀ راځی بس همدغه دنیا ده او اُوس به همیشه دپاره مزے وی، داسے نۀ وائی چه دا تکلیف راغلے وو الله تعالیٰ به ئے بیا راولی ولے زۀ دا ورانے کوم، الله خو همغه دے۔ حاصل مطلب ئے دا دے چه په مستئ کښ راشی۔

۲- عَنِّيْ اَیْ بِتَدْبِيْرِیْ یعنی زما په تدبیری او پروګرام لاړل۔ اول مطلب ظاهر دے۔

**لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ**: یعنی ډیر خوشحاله وی چه دغه خوشحالی ئے په تکبر کښ راولی۔

**فَخُوْرٌ** : ډیر فخرونه کوی په خلکو باندے او هغوی باندے خپل صفتونه شماری او

هغوی باندے ژبه ور اُوږده وی پدے وجه چه الله تعالیٰ دۀ ته نعمتونه ورکړیدی۔

**اِلَّا الَّذِیۡنَ :** اُوس استثناء بیانوی : لیکن کوم مؤمنان چه د تکلیف په حالت کښ صبرناك او د آرام په حالت کښ د خپل رب شکرگذار وی او په هر حال کښ عمل صالح کول د هغوی عادت وی، هغوی نۀ د مصیبت په وخت کښ جزع فزع کوی او نۀ د عیش او آرام په حالت کښ دغه شان په تکبر کښ راځی چه الله تعالیٰ هیر کړی۔ بلکه دوی وائی چه دغه الله په مونږ باندے بیا دغه مصیبت راوستے شی نو تکبر نۀ کوی۔ نو دوی په نعمت کښ هم صبر کوی او په مصیبت کښ هم۔

الله تعالیٰ د خپلو دے نیکانو بندگانو سره د بخنے او لوئی اجر وعده کړیده۔

ددے معنی په تائید کښ نبی کریم ﷺ فرمایلی دی : چه [مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ] ((مؤمن ته څه ستړی والے او مصیبت او غم او تکلیف اوپریشانی نۀ رسیږی، تردے چه که د هغه په خپه کښ ازغے داخلیږی نو الله تعالیٰ د هغے په وجه د هغه گناه ختموی))۔ (بخاری : ٥٦٤١ و٥٦٤٢) ومسلم (٦٧٣٠) ۔

او په صحیح مسلم کښ یو بل حدیث دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((تعجب دے په کار د مؤمن، ددۀ هر کار کښ الله تعالیٰ خیر اچولے دے، که دۀ ته خوشحالی ورسیږی په هغے باندے شکر ادا کوی نو دا ددۀ دپاره غوره وی او که دۀ ته کوم تکلیف ورسیږی، په هغے صبر کوی نو دا هم ددۀ دپاره غوره وی، او دا شرف او عزت د مؤمن نه سوئ بل چا ته حاصل نۀ دے))۔ (مسلم : ٧٦٩٢)

| |
|---|
| فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعۡضَ مَا يُوۡحٰٓى اِلَيۡكَ وَضَآئِقٌۢ |
| پس شاید تۀ پریخودونکے ئے د بعض هغے چه وحی کیدے شی تا ته او تنګیږی |
| بِهٖ صَدۡرُكَ اَنۡ يَّقُوۡلُوۡا لَوۡ لَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡهِ كَنۡزٌ اَوۡ جَآءَ |
| په هغے سره سینه ستا دا چه وائی دوی ولے نۀ نازلیږی په دۀ باندے خزانه یا ولے نۀ راځی |
| مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَاۤ اَنۡتَ نَذِيۡرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ وَّكِيۡلٌ ﴿۱۲﴾ |
| ددۀ سره ملائك، یقیناً تۀ خو یره ورکونکے ئے او الله په هر شی ذمه وار دے۔ |

**تفسیر** : دا د اول د سورت سره لګی چه رسول الله ﷺ به دعوت کولو نو د مکے مشرکانو پرے اعتراضونه شروع کړل چه که ته د الله تعالیٰ رسول وے نو ستا سره به د سرو او د سپینو خزانے وے۔ او ملائك دِے مخامخ راشی مونږ ته دِے ووائی چه دا د الله تعالیٰ رسول دے، دارنګه قرآن دِے د ځان نه جوړ کړیدے، پدے او ددے په شان نورو معاندانه سوالونو سره به کله د رسول الله ﷺ زړهٔ خفه کیدو۔

نو الله تعالیٰ د هغوی دا خبرے رانقل کوی او خپل نبی ته تسلی ورکوی چه د دوی پدے خبرو زړه مهٔ تنګوه چه ددے په وجه بیان پریدے بلکه داسے د تیر شوو انبیاؤ سره هم شویدی، د هغوی قومونو هم هغوی له دروغجن کړی، نو هغوی صبر کړے، پدے وجه ته هم د صبر نه کار واخله او د زړهٔ په خفګان سره او د کافرانو د زړهٔ ساتلو دپاره د قرآن کریم د هغه آیتونو د تبلیغ نه بند نهٔ شے چه کافران د هغے آوریدل نهٔ خوښوی۔ ستا کار خو د الله تعالیٰ پیغام پوره پوره رَسَول دی، آسمان نه د نخو نازلول خو صرف د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔

**فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ** : ۱- لَعَلَّ د تبعید دپاره استعمالیږی چه دے کښې معنیٰ د نفی وی۔ (فتح البیان) أَیْ بَعِّدْ نَفْسَكَ عَنْ تَرْكِ بَعْضِ الْوَحْيِ ۔ خپل ځان جدا کړه د پریخودو د بعض وحی نه۔ ۲- یا دا استفهام انکاری دے، آیا ته بعض وحی پریخودونکے ئے؟ یعنی مهٔ ئے پریده۔ یا لَا یَكُونُ ذٰلِكَ مِنْكَ بَلْ تُبَلِّغُهُمْ بِكُلِّ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ ۔ یعنی دا کار دِے ستا نه ونشی بلکه دوی ته ټوله هغه وحی بیان کړه چه تا ته نازلیږی۔ (قرطبیؒ وفتح البیان)

۳- یا لَعَلَّ په خپله معنیٰ دے یعنی د دوی کفر او تکذیب دومره لوی وینے چه ته ګمان کوے چه دوی به تا د وحی د دعوت نه واړوی۔ (قرطبیؒ)

یا دوی چه د خپل خواهش مطابق معجزے غواړی نو دا اعتراضونه تا دومره تنګ کړی چه کیدے شی چه ته وحی پریدے۔

رسول الله ﷺ دا کار هیڅکله نهٔ کولو لیکن پدے کښې هغه ته تیزی او تسلی ورکول دی چه صبر کوه۔ یا ته بعض وحی کیدے شی پدے وجه پریدے چه دوی هدایت ته راشی لکه د دوی د آلهو عیبونه بیانول پریدے۔ (فتح البیان) نو دا کار مهٔ کوه۔

٤- یا لَعَلَّ (شاید) لفظ د کفارو د ګمان مطابق وئیل شویدے۔ أَیْ یَتَوَقَّعُوْنَ مِنْكَ اَنْ تَتْرُكَ بَعْضَهٗ یعنی دوی ستا نه توقع او امید لری چه ته به دوی ته بعض وحی پریدے لکه مشرکانو دا درخواست کړے وو چه د توحید خبرے مهٔ بیانوه۔

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه د حق داعی به د توحید په باره کښ د هیڅا سره نرمی نهٔ کوی او د چا د وجه نه به د توحید او سنت دعوت نهٔ پریدی۔

وَضَآئِقٌ بِهٖ صَدْرُكَ : (بِہٖ) ضمیر راجع دے (مَا) ته یا (بعض) ته یعنی شاید چه تنګیږی به پدے سره وحی یا د بعض وحی بیانولو سره سینه ستا، ځکه چه دوی به په تا اعتراضونه کوی۔

اَنْ يَّقُوْلُوْا : یعنی کَرَاهَةَ، یا مَخَافَةَ۔ اَوْ لِاَجْلِ۔ د وجه د بد ګنړلو یا د یرے یا ددے وجه نه چه دوی دا اعتراضونه کوی۔ (فتح البیان)

وَّكِيْلٌ : یعنی ستا ذمه واری صرف دعوت دے او ما درته معجزے درکړیدی چه یو د هغے نه قرآن دے، دا کافی دی، لهذا نورو معجزو غوښتو ته ضرورت نشته۔

| |
|---|
| اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ |
| آیا وائی دوی چه د ځان نه ئے جوړ کړیدے دا قرآن، اُووایه نو راوړئ لس سورتونه |
| مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ |
| په شان ددے د ځان نه جوړ کړے شوی او را اُوبلئ هغه خوك چه طاقت ئے لرئ سوئ |
| اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٣﴾ فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا |
| د الله نه که تاسو رشتینی یئ۔ نو که دوی قبوله نکړه خبره ستاسو نو پوهه شئ |
| اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ |
| چه بیشکه نازل شویدے دا کتاب په علم د الله سره او پدے خبره چه نشته لائق د بندګئ |
| اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٤﴾ |
| سوئ د هغه نه نو آیا تاسو خبره منونکی یئ۔ (یعنی اُومنئ)۔ |

**تفسیر** : کله چه د مکے کافرانو د الله تعالیٰ د وحی نه انکار وکړو او په رسول الله ﷺ باندے ئے تهمت وتړلو چه دا قرآن ددهٔ کلام دے، د الله تعالیٰ نهٔ دے، نو الله تعالیٰ چیلنج ورکړو چه که دا د الله تعالیٰ کلام نهٔ وی او د محمد (ﷺ) کلام وی، نو بیا تاسو ددے په شان لس سورتونه راوړئ۔ مخکښ سورت کښ ذکر شو چه الله تعالیٰ دا چیلنج په درے مرحلو کښ ورکړے وو، اول د ټول قرآن بیا د لسو سورتونو بیا د یو سورت۔

اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ : دا ام منقطعه دے په معنیٰ د بَلۡ سره۔
مُفۡتَرَيٰتٍ: دا په مقابله د دوی ددے قول (اِفۡتَرَاهُ) کښ وئیل شویدے۔
وَّادۡعُوۡا: یعنی پدے کار کښ که ستاسو د کومو معبودانو نه د مدد طلب کولو قدرت وی، نو هغوی ته هم درسره آواز وکړئ چه پدے وخت کښ مو پکار راشی، ځئ دا یو کار خو دِے درله وکړی۔
صٰدِقِيۡنَ : که تاسو رشتینی یئ پدے کښ چه دا کتاب ما د ځان نه جوړ کړیدے۔
فَاِلَّمۡ يَسۡتَجِيۡبُوۡا : ۱- یعنی که دوی ونکړو هغه کار چه تا د دوی نه طلب کړے وو او د مقابلے چیلنج دِے ورکړے وو۔ ۲- یا که دوی قبول نکرو چیلنج ستاسو۔
لَكُمۡ: ئے جمع راوړه یعنی مؤمنان به هم دوی ته د مقابلے اعلان کوی او نبی به ئے هم کوی۔
فَاعۡلَمُوۡٓا : که د عربو کافران ستاسو ددے چیلنج جواب درنکړے شی نو تاسو له په علم او یقین کښ زیاتوالے او پوخ والے راتلل پکار دی چه دوی داسے نشی کولے، ځکه چه ددے قرآن معجزانه نظم او ددے ترتیب د کوم انسان د وس خبره نهٔ ده۔
او پدے کښ چه د کومو غیبی کارونو خبر ورکړے شویدے هغه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیچا ته نشی معلومیدے۔ او تاسو له ددے خبرے هم پوخ یقین کیدل پکار دی چه دا د هغه الله تعالیٰ کلام دے چه د هغه نه سویٰ هیڅ معبود نشته، او بل ځوك په هغه شی قدرت نشی لرلے په کوم باندے چه الله تعالیٰ قدرت لری۔
اُنۡزِلَ بِعِلۡمِ اللّٰهِ: ۱- اُنۡزِلَ مُتَلَبِّسًا بِعِلۡمِ اللّٰهِ ۔ نازل شویدے چه مشتمل دے په هغه خاص علمونو د الله تعالیٰ باندے چه د هغے په حقیقت باندے عقلونه نشی خبریدے ځکه چه هغه په داسے اعجاز مشتمل دے چه د انسانی طاقت نه بهر دے۔ (فتح)
یعنی پدے کتاب کښ د الله تعالیٰ علم دے او د الله تعالیٰ په علم سره نازل شویدے او قانون دا دے چه په یو کتاب کښ چه کمال پیدا کیږی دا په علم سره، مصنف چه ښه عالم وی نو کتاب ئے هم د کمال نه ډك وی، هره خبره ئے په خپله صحیح موقعه کښ وی، او چه صحیح پوهه نهٔ وی نو کتاب ئے هم ګډوډ وی۔ پدے وجه د الله تعالیٰ د کتاب هره خبره په خپله صحیح او مناسبه موقعه راغلے ده، ددے وجه نه په قرآن کښ چه کله یوه خبر راځی نو دا اشکال به نهٔ کوے چه دا خبره دلته څنګه بے مناسبته راغلے ده، دا به ستا د علم قصور وی، هغه به بعینه د فائدے مطابق وی لیکن ستا ذهن به هغے ته نهٔ رسیږی۔

وَاَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ: یا دا په (علم الله) باندے عطف دے۔ اَیْ اُنْزِلَ بِاَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ۔ یعنی دا قرآن نازل شویدے پدے خبره چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله تعالیٰ نه۔

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ : اَیْ ثَابِتُوْنَ عَلَی الْاِسْلَامِ رَاسِخُوْنَ فِیْهِ، مُخْلِصُوْنَ لَهٗ۔

آیا (اُوس) بـه تـاسـو پـه اسـلام ثابـت قـدم او پدے کښ مضبوط شئ، او الله تعالیٰ تـه بـه اخلاص کونکی جوړ شئ هرکله چه تاسو ته ددے کتاب اعجاز ثابت شو۔

مجاهدؒ وائی : دا صحابـه کرامو ته خطاب دے: آیا تاسو به اُوس زیات طاعت کونکی شئ، یعنی اُوس خو د الله بندګی زیاته کړئ ځکه چه تاسو ته د کافرو عجز معلوم شو او تاسو ته اطمینان او زیات بصیرت حاصل شو۔ (فتح)

یا کافرو ته خطاب دے یعنی اُوس خو الله تعالیٰ ته غاړه کیږدئ او په هغه ایمان راوړئ او د هغه په بندګئ کښ مصروف شئ۔

| |
|---|
| مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا |
| څوک چه اراده لری (په خپل عمل سره) د ژوند دنیوی او د ډول ددے |
| نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا |
| پوره به ورکړو مونږ دوی ته بدله د عملونو د دوی پدے کښ او دوی نه به په هغے کښ |
| لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ صلے |
| څه کموالے اُونکړے شی۔ دا هغه کسان دی چه نهٔ به وی دوی لره په آخرت کښ مګر اُور، |
| وَحَبِطَ مَاصَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ |
| او برباد به شی هغه (نیك) عملونه چه دوی کړیدی په دنیا کښ او بیکاره دی |
| مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ |
| هغه کارونه چه دوی کول (دنیاوی کارونه)۔ |

**تفسیر** : پدے کښ د دنیا بی رغبتی بیانوی او اخلاص ته دعوت ورکړے کیږی۔

ربط : لَايُسْلِمُوْنَ لِاَجْلِ حُبِّهِمِ الدُّنْيَا۔ دوی ځکه اسلام نهٔ راوړی چه د دوی د دنیا سره محبت پیدا شویدے۔

یعني د قریشو کافرانو د عناد او د هغوی د سرکشۍ د تهولو نه لوئی سبب د دنیاوی ژوند مزے او آرام او د ریاست او قیادت خواهش وو پدے وجه الله تعالیٰ په دے آیتونو کښې د دنیاوی فائدو سپکاوے او د هغه خلقو انجام بیان کړیدے چه صرف ددے طالب وی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه د نیك اعمالو په بدله کښې چه د چا منظور النظر صرف د دنیا ژوند او ددے عیش او آرام او مزے چرچے وی نو الله تعالیٰ به هغۀ ته د هغۀ د اعمالو بدله د هغه د نیت مطابق ورکوی، پدے کښې به څه کمی نۀ کیږی، لیکن په آخرت کښې به هغوی ته ددے نیك اعمالو کومه ښائسته بدله نۀ ملاویږی، بلکه د نفاق او ریاکارۍ په وجه به جهنم ته ګوزارولے شی۔

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ: پدے کښې دوه تفسیره دی (۱) څوك چه په دنیا کښې نیك عملونه صرف د دنیا ژوند ښه کولو دپاره کوی او د آخرت هیڅ اراده ئے نۀ وی نو دوی ته به د دنیا نه مقصد حاصل شی، لیکن دے سره دا شرط دے چه (که الله وغواړی) ځکه چه ډیر کرته انسان د دنیا د حاصلولو کوشش وکړی لیکن هغه ورته ملاؤ نشی او خواهش ئے پوره نشی۔ نو پدے وجه امام قرطبیؒ وئیلی دی چه د اکثرو علماؤ رایه دا ده چه دا آیت او د سورة الشوریٰ (۲۰) آیت او د سورة آل عمران (۱٤۵) آیتونه مطلق دی او ددے تفسیر په سورة الاسراء (۱۸) آیت کښې راغلے دے چه هلته الله فرمائی :

﴿ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ﴾

چه (کوم شخص د دنیا عارضی فائده غواړی، نو مونږ چه څومره غواړو او چا له غواړو ورله ئے کړو۔) نو که د الله خوښه وه ورته ورله ئے کړی لکه غالباً دا خواهش ملاویږی او که الله تعالیٰ نۀ غوښتل نو نۀ به ئے ورکوی۔ مګر د آخرت په اعتبار سره د دوی عملونه برباد دی او نتیجه ئے خرابه ده، اُور ته به روان وی۔ (قرطبیؒ او شوکانیؒ)

نو دا آیتِ کریمه د مسلمانانو دپاره د خطرے وخت هم دے چه انسان نیك عمل کوی، لیکن که په هغے کښې اخلاص او لِلّٰهِیَّت نۀ وی نو هغه به د قیامت په ورځ ددۀ دپاره وبال جوړیږی، او جهنم به د هغه ځای وی۔

او ددے تائید په یو حدیث کښې وګوره چه امام مسلمؒ روایت کړیدے چه ابو هریره رضی الله عنه ته شُفی بن ماتع راغے، ورته ئے وویل چه ما ته د رسول الله ﷺ یو حدیث بیان کړه نو هغه وفرمایل چه ما ته رسول الله ﷺ حدیث بیان کړیدے (بیا سوچ کولو سره په هغه باندے بی هوشی راغله) رابیداریدو نه پس پرے بیا بی هوشی راغله، درے کرته پرے داسے وشول،

بیا ئے آخر کښې حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه د قیامت په ورځ به چه کله حساب شروع کیږی نو الله تعالیٰ به د ټولو نه مخکښې یو داسے سړے راوغواړی چه په ظاهره کښې د الله په لاره کښې د جهاد کولو سره قتل شوے وو۔ د هغه نه به تپوس وکړی چه تا کوم عمل کړے وو؟ نو هغه به ووائی چه اے الله ! ما ستا په لاره کښې جهاد وکړو تردے چه زهٔ قتل کړے شوم، نو الله تعالیٰ به ووائی چه تا جهاد ددے دپاره کړے وو چه خلق تا ته مجاهد ووائی، نو دا بدله تا ته په دنیا کښې حاصله شویده، بیا به هغه جهنم ته گوزار شی۔ دغه شان ریاکار عالم، ریاکار قاری او ریاکار مالدار به راوغوختے شی او ټول به جهنم ته راخکلو سره په هغے کښې گوزار کړے شی۔ او دا هغه درے کسان دی چه اول به په دوی باندے د قیامت په ورځ اُور بلولے شی۔

علاء بن ابی حکیمؒ وائی : بیا شفی بن ماتع شام ته راغے هلته ئے معاویه ﷺ ته دا حدیث بیان کړو او د ابو هریره ﷺ بی هوشی، نو سیدنا معاویه ﷺ وفرمایل : [قَدْ فُعِلَ بِهٰؤُلَاءِ هٰذَا فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ] دے درے (اُوچتو) کسانو باندے دا کار وشو نو د نورو خلکو به څه حال وی؟۔ بیا معاویه ﷺ ډیر زیات وژړل تردے چه مونږ گمان وکړو چه مری، مونږ وویل چه دے سړی خو مونږ ته شر راوړو (چه زمونږ مجلس ئے خراب کړو)

بیا معاویه ﷺ رامتوجه شو او د مخ نه ئے اُوښکے پاکے کړے او وفرمایل : چه الله او رسول رشتیا ویلی دی، او دا آیت ئے ولوستو : ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ (یعنی څوك چه د دنیا دپاره عمل کوی نو هغه به ورته په دنیا کښې ملاؤ شی او آخرت کښې به ئے اُور ځای وی)۔

(مسلم والترمذی واللفظ له (۲۳۸۲) الترغیب والترهیب وصححه الالبانی)

۲- تفسیر : یو انسان دنیا خپل نصب العین وگرځوی، هر عمل نیك وی که بد خو د دنیا دپاره ئے کوی او اخوا په آخرت ئے هیڅ نظر نهٔ لگی، نو الله تعالیٰ به ه بدله ورکړی (که د هغه خوښه شوه) او آخرت ئے څکه برباد دے چه هغے دپاره ئے هیڅ عمل نهٔ دے کړے۔

حَبِطَ مَاصَنَعُوا : ۱- پدے کښې دینی اعمالو ته اشاره ده او بَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ کښې دنیاوی عملونو ته اشاره ده چه دنیا کښې ئے ډیر مال متاع او بنگلے او گاړی موټرے پیدا کړی نو هغه ئے هم په آخرت کښې هیڅ په کار نهٔ راځی۔ ۲- دارنگه د عمل دوه فائدے وی نجات د اُور نه او بل جنت ته داخلیدل نو حبط کښې اشاره ده چه پدے عملونو جنت ته نشی تللے، او باطل ذا چه د اُور نه پرے ځان نشی بچ کولے۔

## فوائد الآية

١- شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهابّ نه ددے آيت په باره كښې تپوس وشو نو هغه ووئيل چه پدے آيت كښې سلفو د خلكو ډير اقسام داخل كړيدی۔

(١) يو هغه مشرك او كافر چه نيك عملونه پدے دنيا كښې كوی لكه طعامونه وركوی، د ګاونډی او د ميلمه عزت كوی او د والدينو سره احسان، صدقات وغيره اعمال كوی نو دهٔ ته به په دنيا كښې اجرونه وركړے شی ليكن په آخرت كښې برباد دی، هيڅ اجر پرے نشته ځكه چه دا په توحيد باندے بناء نهٔ دی۔ كافر ته په نيكو اعمالو سره په دنيا كښې بدله ملاويږی ليكن آخرت كښې ئے هيڅ برخه نشته۔

(٢) يو مؤمن چه د آخرت اعمال كوی ليكن د هغه اراده پرے د الله تعالى مخ او رضا نهٔ وی بلكه مقصد ئے د دنيا طمع وی لكه حج او عمره د بل چا د طرفنه د مزدورئ او مال اخستو دپاره كوی، يا علم شرعی زده كوی دے دپاره چه څه وظيفه پرے حاصله كړی، يا هجرت د يوے ښځے يا ددنيا حاصلولو په نيت كوی، يا جهاد د غنيمت دپاره كوی نو ددے انسان عمل په دنيا كښې برباد دے او په آخرت كښې ئے هيڅ اجر نشته او دا شرك اصغر دے۔ او پدے كښې دا هم داخل دهٔ چه قرآن زده كوی يا په مانځه هميشوالے كوی د وجه د وظيفے د مسجد نه نهٔ د وجه د الله تعالىٰ د حكم نه لكه دا زمونږ پدے زمانه كښې واقع دے۔

(٣) ـ مؤمن چه نيك عمل خالص د الله تعالىٰ د رضا او مخ دپاره كوی، د هيڅ مال، يا سامان يا وظيفے حاصلولو اراده ئے نشته ليكن دا غواړی چه الله تعالىٰ دهٔ ته په دنيا كښې بدله وركړی مثلًا ددهٔ مرض ښه كړی يا ترے نظر دفعه شی، يا د دشمنانو د ضرر نه محفوظ شی، يا ئے په مال كښې بركت راشی، يا ئے اهل وعيال محفوظ شی، يا پرے نعمت هميشه پاتے شی نو ددے انسان مقصد چه دا وی نو دا هم غلط مقصد دے او ددهٔ عمل هم د آخرت په اعتبار سره برباد دے۔ ددهٔ همت دا نشته چه جنت طلب كړی او د اُور نه تيښته وكړی۔ مؤمن به عمل صرف د آخرت او د الله تعالىٰ د رضا په نيت كوی او ددهٔ همت به اُوچت وی نو الله تعالىٰ به ورته دنيا هم وركوی او آخرت هم۔ او دا قسم انسان ابن عباس رضی الله عنه په دے آيت كښې داخل كړيدے۔

(٤) امام مجاهدؒ وئيلی دی چه دا آيت د هغه چا په باره كښې نازل شويدے چه نيك عملونه كوی او نيت ئے خلكو ته رياكاری كول وی، او د آخرت ثواب طلب كول ئے مقصد

نهٔ وي. نو مؤمن لـه پـه اعمالو کښې انتهائي اخلاص ضروري دے دے دپاره چه عمل ئې برباد نشي. (اعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد (١٠٤/٢) والارشاد الى صحيح الاعتقاد كلاهما لصالح بن فوزان حفظه اللّٰه).

۲- فائده: د آيت نه معلوميږي چه عبرت د عمل کونکي نيت لره دے نهٔ صورت د عمل لره، که نيت د عمل کونکي خالص د الله تعالىٰ رضا وي نو دا نيك عمل دے او که نيت کښې ئې اخلاص نهٔ وي نو دا فاسد عمل دے اګرکه صورت به ئې د نيك عمل وي، نو ډير والي د انفاق او تبرعات او مشاريعو ته مهٔ ګوره، ډير کرته يو تن به لږ شے صدقه کړي خو نيت به ئې نيك وي نو ډير اجر به پرے حاصل کړي.

رسول الله ﷺ فرمائي: [اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ]

(د اُوز نـه ځان وساتئ اګرکه په د کجورے په يوه برخه سره وي، که چا دا نهٔ موندله نو په ښه خبره سره) (بخاري: ٦٠٢٣) مسلم: ٢٣٩٥)

نـو لږ عـمل په اخلاص سره زياتيږي، او ډير کرته عمل به ډير وي ليکن فائده به ئې کمه وي، يا به ئې بيخي فائده نهٔ وي ځکه چه د عمل کونکي نيت به دغه شان وي.

۳- فائده: اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ : ددے نه معلوميږي چه بنده تـه کـومه بدله په دنيا کښې پدے عمل ملاويږي نو دا د الله تعالىٰ د رضا دليل نهٔ دے او که د يـو مـؤمـن بـنـده نـه دنيا منع شوه، نو دا دليل د الله تعالىٰ په ناراضګئ نهٔ دے، نو دنيا د الله تعالىٰ د رضا او نهٔ دنيا د الله تعالىٰ د غضب دليل نهٔ دے. (اعانة المستفيد).

٤- فائده: دا آيت مونږ ته دعوت راکوي چه په عمل باندے د دنيا اراده کول صحيح نهٔ دي او دا شرك في النية دے او دے ته شرك خفي وائي. (اعانة)

| |
|---|
| اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ |
| آيا پس هغه څوك چه وي په ښکاره دليل باندے د طرف د رب خپل نه |
| وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى |
| او ملګرے وي ددهٔ سره ګواه د طرف د هغهٔ نه او مخکښې ددهٔ نه کتاب د موسىٰ دے |
| اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ |
| پيشوا او رحمت دے، دا کسان ايمان لري پدے کتاب او چا چه کفر وکړو پدے کتاب |

| |
|---|
| مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِیْ مِرْیَةٍ مِّنْهُ ۚ اِنَّهُ |
| د ډلو نه نو اُور ځائے د وعدے ددهٔ دے نو مهٔ کیږه په شك کښې ددے قرآن نه یقیناً دا |
| الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾ |
| حق دے د طرف د رب ستا نه لیکن ډیر د خلقو نه ایمان نهٔ لری۔ |

**تفسیر** : ۱- عنوان د آیت دے : بَیَانُ حَقَّانِیَّةِ الْقُرْآنِ وَاَنَّهٗ وَاجِبُ الْاِیْمَانِ وَالْاِتِّبَاعِ، والْکُفْرُ بِهٖ سَبَبُ النِّیْرَانِ۔ پدے آیت کښې د قرآن کریم حقانیت بیانیږی او دا خبره چه پدے باندے ایمان راوړل او ددے تابعداری واجب ده او کفر پدے باندے سبب د اُور دے۔

او پدے کښې دعوت دے چه ددے کتاب عظمت په زړونو کښې کینوئ۔

او ددے کتاب حقانیت ئے په درے طریقو ذکر کړیدے۔

۲- د دنیا طلبګار او د آخرت طلبګار دواړه برابر کیدے نشی، د دنیا د طلبګار حال تیر شو۔ دلته د آخرت د طلب ګار حال بیانیږی۔ (البحر المحیط)

۳- دارنګه پدے آیت کښې الله تعالیٰ فرق بیانوی په مابین د رسول الله ﷺ او مؤمنانو کښې چه په ایمان باندے دی، او بل کافران دی نو دوه ډلے دی، یو دنیاپرست چه صرف په دنیا ئے نظر لګی او بل د آخرت والا، د دواړو فرق دا دے چه مؤمنان به ولے کامیاب وی؟ ځکه چه دوی سره درے قسمه دلائل دی (۱) بیّنه یعنی فطری دلیلونه (۲) شاهد (قرآن) (۳) او بل کتاب د موسیٰ علیه السلام دے او ایمان هم ورسره دے نو پدے وجه به دوی کامیاب وی او د کافرو سره دا درے واړه نشته بلکه ظالمان دی نو د هغوی هلاکت بیانوی او د مؤمنانو نجات۔

ددے آیت اول مصداق رسول الله ﷺ دے او بیا د هغه تابعدار دی پدے وجه روستو اُولٰٓئِكَ یُؤْمِنُوْنَ جمع راوړی۔

د آیت معنیٰ دا ده :آیا هغه څوك (یعنی نبی ﷺ) چه په بیّنه (ښکاره دلیل) باندے روان وی د طرفه د رب نه چه هغه قرآن کریم او نور معجزات دی او بیا (وَیَتْلُوْهُ) ملګرے دے ددغه بیّنه سره (بیّنه اګرکه مؤنث دے لیکن په تاویل د برهان سره مذکر دے) یا تائید او تقویه کوی د دغه دلیل یو ګواه د جانبه د الله تعالیٰ نه چه هغه جبریل علیه السلام دے او ددے شاهد نه مخکښې کتاب د موسیٰ علیه السلام هم شته چه هغه پیشوا وو د قرآن دپاره او دارنګه د

هغهٔ د امت دپاره، او رحمة وو د دغه امت دپاره. (اشاره ده چه قرآن هم رحمت دے) او په هغه کتاب کښې هم ددے نبی متعلق بحث شویدے او په هغے کښې ددے نبی پیشنگوئی ورکړے شویده.

أُولَئِكَ یعنی دغه (مَنْ) چه رسول الله ﷺ او مؤمنان دی، دوی ایمان لری پدے کتاب باندے. او چا چه کفر وکړو پدے قرآن د ډلو نه نو د هغوی د وعدے ځای اُور دے نو اے مخاطبه! تهٔ مه کیږه د دغه بینه (قرآن) نه په شك کښې، دغه د الله تعالیٰ د طرف نه حق کتاب دے (دلیلونه ئے دغه مخکښې دی) لیکن اکثر خلك پرے ایمان نهٔ راوړی.

او دا واضحه دلیل په قرآن او د رسول الله ﷺ په رشتینوالی او په توحید او اثبات د قیامت باندے موجود دے.

ربط

ابن عاشورؒ لیکی چه ددے آیت مناسبت د ﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ﴾ نه تر ﴿ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ پورے آیتونو سره دے. او فاء په (أَفَمَنْ) کښې د تفریع دپاره ده او دے ته تفریع د ضد وائی په ضد باندے یعنی که مکذبین دا قرآن نهٔ منی او دے ته د ځان نه جوړ شوے وائی نو دلته څه نور خلك شته چه د دوی حال د هغوی نه بیخی مخالف دے دوی ته بیناتو او شواهدو فائده ورکړیده نو دوی پدے قرآن ایمان لری چه هغه مسلمانان دی. (التحریر)

په بینه کښې ډیر مصداقات دی (۱) المعجزات. (۲) الادلة العقلية. یعنی عقل.

(۳) اَلْبَيِّنَةُ مَعْرِفَةُ اللّٰهِ الَّتِیْ اَشْرَقَتْ لَهَا الْقُلُوْبُ وَالشَّاهِدُ هُوَ الْعَقْلُ) (قرطبیؒ)

یعنی هغه څوك چه هغه د الله تعالیٰ په معرفت باندے وی چه د هغے په وجه زړونه روښانه کیږی یعنی روښانه زړه والا وی په پیژندلو د الله تعالیٰ سره او بیا ددے سره ملگرے وی گواه چه هغه صحیح عقل دے او پخوانی کتابونه ئے هم گواهی کوی.(قرطبیؒ)

د بیّنه نه صاحب المنار تعبیر په [نُوْرُ الْبَصِیْرَةِ الْفِطْرِیَّةِ وَالْحُجَّةُ الْعَقْلِیَّةُ الَّتِیْ یُمَیِّزُ بِهَا الْإِنْسَانُ بَیْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ] سره کړیدے یعنی د فطری بصیرت رڼرا او عقلی دلیل چه په هغے سره انسان د حق او باطل او د هدایت او گمراهئ ترمینځ تمیز کولے شی. نو دا آیت د ﴿ أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ ﴾ (الزمر: ۲۲) په شان دے.

(٤) دلیل فطری یعنی الله تعالیٰ خپل نبی له روغ فطرت ورکړیدے لکه هر نبی په دغه صفت وی. (ابن کثیرؒ، ابن القیمؒ، السعدیؒ) او د شاهد نه مراد یا قرآن دے (المنار)

یعنی د رسول الله ﷺ ددے فطرت سره قرآن کریم هم ملگرے دے چه دا ددے د حقانیت

ګواهي ورکوي، ځکه د قرآن هره خبره د فطرت برابره ده (نو ددے نه معلومه شوه چه صحیح نقل بعینه د فطرت برابر دے او هیڅکله ئے نهٔ مخالف کیږی) بل مخکښ ددهٔ نه تورات تیر شویدے چه هغه هم د رسول الله ﷺ او د قرآن کریم صدق بیانوی نو هغه هم ددے تائید شو۔ او د بینه نه فطرت اخستل ډیر غوره دی۔ معنیٰ ورسره ښه لګی۔

اِمَامًا: اَیْ لِلْقُرْآنِ وَلِبَنِیْ اِسْرَائِیْلَ۔ هغه پیشوا د قرآن دے او د بنی اسرائیلو دے۔ امام ځه ته وائی: [اَیْ قُدْوَةً یُؤْتَمُّ بِهٖ] یعنی پیشوا چه د هغه اقتداء کیدے شی۔

وَرَحْمَةً: اَیْ لِتِلْكَ الْاُمَّةِ۔ او هغه رحمت وو د دغه امت دپاره چه چا پرے عمل وکړو، جنت ته پرے ورسیدل۔ او رحمت ددے امت دپاره هم دے چه دوی د تورات نه په حقانیت د قرآن دلیل نیسی۔

اُولٰٓئِكَ یعنی دغه شان خلك چه د رسول الله ﷺ په شان وي په ایمان کښ نو دوی ایمان لری په قرآن باندے۔ یعنی چه د چا فطرت جوړ وی او قرآن ته ګوری او د پخوانو کتابونو نه هم خبر وی نو دوی ایمان ته مجبوره کیږی چه دا نبی او دا قرآن ومنی۔ او که چا ونهٔ منلو نو اُور ته به ځی، او که چا ایمان راوړو نو جنت ته به ځی لکه روستو نه معلومیږی۔

بیا دلته د اَفَمَنْ دپاره جزاء پټه ده۔ كَمَنْ لَّيْسَ كَذٰلِكَ ۔ آیا دغه شخص د هغه چا په شان کیدے شی چه هغه سره نهٔ صحیح فطرت وی، نهٔ کتاب او نهٔ تائید د پخوانی کتاب، او د ځان نه په ګډو وډو روان وی نو د دواړو ډیر فرق شو۔

علامه صدیق حسنؒ او شوکانیؒ ددے تفسیر حاصل داسے راویستلے دے: [اَیْ اَفَمَنْ كَانَ مَعَهٗ بَیَانٌ مِنَ اللّٰهِ وَمُعْجِزَةٌ كَالْقُرْآنِ وَمَعَهٗ شَاهِدٌ كَجِبْرِیْلَ، وَقَدْ بَشَّرَتْ بِهِ الْكُتُبُ السَّابِقَةُ كَمَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْحَیَاةَ الدُّنْیَا وَزِیْنَتَهَا] (فتح البیان وفتح القدیر)

آیا پس هغه خوك چه د هغه سره د الله تعالیٰ د طرفنه ښکاره دلیل او معجزه وی لکه قرآن کریم او د هغه سره ګواه وی لکه جبریل علیه السلام او په هغه باندے پخوانو کتابونو هم زیرے ورکړے وی نو آیا دغه شخص په شان د هغه چا کیدے شی چه هغه په خپل عمل سره دنیا او د هغے ډول طلب کوی۔

وَیَتْلُوْهُ: تلا یتلو په معنیٰ د وریسے کیدو ده، اَیْ یَتْبَعُهٗ فِی التَّصْدِیْقِ ۔ یعنی وریسے وی د هغه بیّنه پسے په تصدیق کښ یو ګواه۔ دلته د یتلو نه ملګرتیا مراد کول ظاهر دی۔

شَاهِدٌ: (۱) د اکثرو مفسرینو په نیز جبریل علیه السلام مراد دے ځکه چه دا د ټولو انبیاؤ په نبوت باندے ګواهي ورکوی، ځکه چه هغهٔ ټولو ته وحی راوړے ده۔

(۲) ځینی وائی د شاهد نه د رسول الله ﷺ جمال او کمال مراد دے چه دا ګواه دے په حقانیت د رسول الله ﷺ ځکه چا چه به د رسول الله ﷺ مخ ته وکتل پو هیدو به چه دا د الله تعالیٰ حق رسول دے۔ (قرطبیؒ والبحر المحیط)

(۳) ځینی وائی: ددے نه مراد (لِسَانُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ) د رسول الله ﷺ خوږه ژبه وه چه هغه د رسول الله ﷺ او د قرآن په حقانیت باندے ګواهی کوی۔

(٤) اِعْجَازُ الْقُرْاٰنِ وَبَلَاغَتُهٗ۔ (حسین بن الفضلؒ) (د قرآن کریم اعجاز او بلاغت مراد دے۔

نو بناء پدے به (مِنْهُ) ضمیر قرآن ته راجع وی یعنی وروسے وی د دغه بینه (فطرت) پسے یو ګواه د قرآن نه چه هغه د قرآن کریم اعجاز او بلاغت دے چه دا ګواهی کوی چه دا قرآن او دا نبی حق دے ورنه څوك دے ددے مقابله وکړی۔ (قرطبیؒ وفتح القدیر)

یعنی قرآن د خپل ځان د صدق دپاره ګواهی کوی، قرآن ته شاهد ځکه وائی چه دا دعوه هم ده او دلیل هم۔

دا هم ښه تفسیر دے او د سیاق سره ډیر سمون خوری۔

«اُولٰٓئِكَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ» کښې اشاره هغه رشتینی مؤمنانو طرف ته ده چه هغوی د الله په نازل کړی دین اسلام باندے قائم وی، د هغوی په باره کښې خبر ورکړے شویدے چه دا خلق د نبی کریم ﷺ تصدیق کوی، یا په قرآن کریم باندے ایمان راوړی۔

**وَمَنْ یَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ**: پدے کښې الله تعالیٰ د مکے والو او د عالَم د نورو کافرانو په باره کښې وفرمایل چه څوك په نبی کریم ﷺ یا په قرآن باندے ایمان رانهٔ وړی، د هغه ځای به جهنم وی۔ په صحیح مسلمؒ کښې دی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل:

«قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما روح دے، ددے امت نه هیڅ شخص هم چه ما نه خبر شی، هغه یهودی وی که نصرانی او مړ شی او په ما باندے ایمان رانهٔ وړی نو هغه به د جهنم والو نه وی»۔ (مسلم: ٤٠٣)

**فَلَا تَكُ فِیْ مِرْیَةٍ**: یعنی که نور خلك ئے نهٔ منی، نهٔ دِے منی خو اے مؤمنه! تهٔ ئے ومنه ځکه چه تا ته ددے د حقانیت او رشتینوالی شواهد او دلائل ښکاره شو۔ او خطاب په ظاهر کښې رسول الله ﷺ ته دے او مراد ترے نور امت دے۔

| وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا ؕ اُولٰٓئِكَ |
|---|
| او څوك دے ډیر لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله باندے دروغ، دا کسان به |

يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا

پیش کولے شي په رب خپل او وبه وائي گواهان چه دا هغه کسان دي چه دروغ ئے وئیلي دي

عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۝۱۸ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ

په رب خپل. خبردار لعنت د الله دے په ظالمانو باندے. هغه کسان دي چه منع کوي

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ

(خلق) د لارے د الله نه او لټوي پدے کښ کوږوالے، او دوي په آخرت باندے هم دوي

كٰفِرُوْنَ ۝۱۹ اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ

کافران دي. دا کسان نۀ دي عاجزه کونکي الله لره په زمکه کښ (چه تربے وتختي)

وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ۘ يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ؕ

او نۀ به وي دوي لره سوي د الله نه څوك دوستان. دو چنده کولے به شي دوي لره عذاب،

مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ۝۲۰ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

دوي طاقت نۀ لرلو د آوریدو او نه وو دوي چه نظر ئے لګیدلے وے. دا هغه کسان دي

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا

چه تاوان کښ ئے اچولي دي ځانونه خپل او ورك شو د دوي نه هغه دروغ

كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝۲۱ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝۲۲

چه دوي به جوړول. خامخا دوي به په آخرت کښ هم دوي تاوانیان وي.

**تفسیر:** اُوس د هغه کسانو حال بیانوي چه د هغوی سره نۀ فطري دلیل شته او نۀ قرآن او نۀ د پخوانو کتابونو گواهي شته بلکه په ګډو وډو باندے روان دي. نو د هغه کسانو نه لوئي د الله په نیز ظالمان او مجرمان بل کوم کیدے شي چه دروغو جوړولو سره وائي چه ملائك د الله تعالیٰ لونړۀ دي، او د هغوی تراشلي بتان د الله شریکان دي. او قرآن د الله تعالیٰ کلام نۀ دے. د قیامت په ورځ به داسے خلق په انتهائي ذلت او رسوائي سره د الله تعالیٰ مخے ته پیش کولے شي، او ملائك، انبیاء کرام (علیهم السلام)، داعیان او مُبلغین او

خپله ددے مجرمانو اندامونه به ګواهي ورکوي چه دا هغه خلق دي چه دوي په خپل رب دروغ جوړ کړي وو. نو الله تعالیٰ به واني چه په ظالمانو باندے د الله لعنت دے چه خلق ئے د الله تعالیٰ د نیغې لارے نه منع کولو دپاره په هغې کښې قسم قسم شبهات پیدا کول، او دوي داسے ولے کول؟ وجه دا ده چه د دوي په آخرت باندے ایمان نهٔ وو، ځکه چه څوك په آخرت ایمان لري هغه نیغه نیغه لاره اختیاروي او نورو ته هم په هغې د تللو دعوت ورکوي.

**يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ** : د قیامت په ورځ ګواهان هم پیش کیږي دا ولے؟ ځکه چه الله تعالیٰ د قیامت په ورځ په بندګانو پوره حجت پیش کوي او د دوي عذر پوره زائل کوي نو بیائے اُورته بوځي.

## د ګواهي کونکي اقسام

چه هغه ملائك، انبیاء علیهم السلام او د حق داعیان او د دوي اندامونه او نور ځیزونه دي،

(۱) د ملائکو ګواهي په سورة ق (۲۱) کښې ذکرده، (۲) او د اندامونو ګواهي په سورة حم السجده (۲۱/۲۲) آیت کښې ذکر ده. او سورة یس (۶۵) کښې.

(۳) او بل زمکه به ګواهي ورکوي لکه ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾

(٤) انبیاء علیهم السلام ﴿وَجِيْءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَاءِ﴾ الزمر : (۶۹) آیت.

(۵) او دا امت محمدیه به ګواهي ورکوي په پخوانو امتونو مشرکانو کافرو. او دارنګه په همدے امت باندے هم ﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾ (البقره : ۱٤۳)

(۶) او بل ګواهي ورکونکے علمنامه ده ﴿اِقْرَأْ كِتَابَكَ﴾ (الاسراء : ۱٤) ﴿وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ﴾ (الکهف : ٤۹)

(۷) المیزان. د انسانانو عملونه به وتللے شي نو پته به ورته ولګي چه زمونږ عملونه سپك دي، خپله به ئے ویني.

(۸) د الله تعالیٰ علم. ﴿فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَائِبِيْنَ﴾ (الاعراف : ۷)

(مونږ به بیان کوو دوي ته په خپل علم سره)

پدے وجه ئے اشهاد جمع راوړه. او دا ګواهان اول په کافرو دي، او بیا په هر ګناهګار انسان دي.

كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ : په الله تعالی باندے دروغ وئیل ډیر قسمه دی، الله ته ئے د اولادو نسبت کړیدے، ملائك ئے د الله تعالی لونړه گنړلی، فلانی له الله تعالی ورځ ورکړیده هغه ئے د الله تعالی سره شریك کړیدے۔ ځان نه ئے حلال او حرام جوړ کړیدی۔

وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا : یعنی لټوی د لارے د الله تعالی دپاره کوږوالے چه خلکو ته ترے نفرت ورکوی او پدے کښ شبهات پیدا کوی۔ ددے تفصیلی معانی د سورة الاعراف (٤٥) آیت لاندے ذکر شویدی۔

أُولٰئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ : الله تعالی وفرمایل چه هغه ددے خبرے نه عاجز نۀ دے چه دے افتراء والا کافرانو او مشرکانو ته د قیامت د راتللو نه مخکښ په دنیا کښ عذاب ورکړی، او د دوی به څوك یار او مددگار نۀ وی چه هغه د دوی نه عذاب روستو کړی۔ یعنی نۀ ئے خپل طاقت شته چه د الله نه ځان خلاص کړی، او نۀ ئے بل څوك مددگار شته، د بل چا طاقت هم ورسره نشته۔

يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ : یعنی په دنیا کښ دوی ته پدے وجه عذاب ورنکړے شو چه په آخرت کښ دوی ته دوچنده عذاب ورکړے شی، ځکه چه د دین اسلام سره د دوی نفرت او دشمنی دومره سخته وه چه نۀ ئے د حق خبرے آوریدو طاقت لرلو او نۀ ئے د الله په آیتونو کښ د فکر کولو نه کار اخستلو۔ نو په دنیا کښ په دوی باندے عذاب نۀ راتلل د دوی د حقانیت نښه نۀ ده۔

يُضٰعَفُ لَهُمْ: دوی ته دوچنده عذاب ولے ورکوی؟۔ بِإِضْلَالِهِمْ غَيْرَهُمْ۔ (سیوطیؒ)

یو ئے خپله گمراهی ده او بل ئے نور خلك گمراه کړیدی، نو دوه قسمه عذابونه به ورکولے شی۔

مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ : ١-اَیْ لِفَرْطِ عَدَاوَتِهِمْ لِلْحَقِّ۔ یعنی د دوی د حق سره دومره دشمنی وه گویا که دوی قادر نۀ وو چه حق ئے آوریدلے وے، او قادر نۀ وو چه دوی حق لیدلے وے ځکه چه د حق نه ئے ځان بیخی ړوند کړے وو۔ او دا قانون دے چه ستا د یو چا سره دشمنی وی نو د هغه خبرے آوریدو ته به دِے طاقت نۀ کیږی او په خبره به ئے نۀ پو هیږے۔

٢-لِشِقَاوَتِهِمْ۔ د وجه د بد بختئ نه ئے طاقت د آوریدو او لیدو نۀ لرلو۔ ﴿غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّيْنَ﴾ (المؤمنون:١٠٦)

خَسِرُوْٓا أَنْفُسَهُمْ : اَیْ بِعِبَادَةِ غَيْرِ اللّٰهِ۔ د غیر الله په بندگئ سره تاوانیان شو۔

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ : دوی چه د خپل باطل او شرك دپاره کوم دروغ جوړول

لکه هر باطل پرست د خپل باطل دپاره د دروغو دلیلونه وائی نو هغه به ترې د قیامت په ورځ ورك شی. او په قیامت کښ به د دوی نه لوی تاوان پورته کونکی بل څوك نهٔ وی چه جهنم به د دوی ځای وی چه هلته به یو ساعت هم د دوی په عذاب کښ تخفیف نهٔ وی.

**لَا جَرَمَ** : ۱- دا په معنیٰ د لَامَحَالَةَ وَلَا بُدَّ سره دے. (خلیلؒ والفراءؒ)

۲- بیا زیات په معنیٰ د حَقًّا سره استعمالیږی. یعنی حقه ده، ثابته ده دا خبره. (سیبویهؒ)

۳- زجاجؒ وائی په معنیٰ د (لَا یَنْفَعُ) سره دے. یعنی فائده نهٔ ورکوی دوی ته بتان.

٤- او د زجاجؒ نه بل روایت دا دے چه جرم په معنیٰ د کسب سره دے او (اَنَّهُمْ) منصوب دے په جرم سره. اَیْ کَسَبَ ذٰلِكَ الْفِعْلُ لَهُمُ الْخُسْرَانَ.

یعنی پیدا کړو دغه کار دوی لره تاوان. از هریؒ وائی دا پدے لغت کښ بنائسته قول دے. (فتح البیان)

۵- امام بخاریؒ ددے معنیٰ په (بَلٰی) سره کوی. یعنی آؤ. او دا ابن جریرؒ او ابن ابی حاتمؒ او ابن المنذرؒ د ابن عباسؓ نه هم نقل کړیدی.

٦- کسائیؒ وائی : په معنیٰ د لَاصَدَّ وَلَا مَنْعَ سره دے. یعنی نهٔ ده بنده شوے او نهٔ ده منع دا خبره چه دوی تاوانیان دی.

۷- د نحویانو یوه ډله وائی : جرم په معنیٰ د قطع (پریکولو) سره دے. ای لَا قَطْعَ قَاطِعٌ. هیڅ پریکونکے دا خبره نهٔ ده پریکړے چه دوی به تاوانیان وی. (القرطبیؒ وفتح البیان والبغویؒ)

۸- لَاکَذِبَ. (دروغ نهٔ ده دا خبره) (ضحاكؒ - الدر المنثور)

او مقصد د آیت دا دے چه دوی په تاوان کښ داسے حد ته رسیدلی دی چه نور هیڅوك ورته نهٔ دی رسیدلی.

| |
|---|
| اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ |
| یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی نیك (په تابعدارئ د |
| وَاَخْبَتُوْا اِلٰی رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ |
| رسولانو کښ) او ډیره عاجزی ئے کړیده رب خپل ته، دا کسان جنت والا دی دوی به |

فِيهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۳﴾ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيرِ

په هغې کښې همیشه وی۔ مثال د دواړو ډلو په شان د ړوند او د کوڼړ او د لیدونکی

وَالسَّمِيعِ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَفَـلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

او آوریدونکی دے، آیا برابر دی دا دواړه په مثال کښې، آیا نو نصیحت نۀ اخلئ تاسو۔

**تفسیر** : مخکښې د دروغ جوړونکو کافرانو اومشرکانو حال بیان شو نو اُوس د ایمان والو غوره تذکره کیږی۔

وَاَخْبَتُوْا: دا لفظ ئے د سورت د موضوع د وجه نه زیات کړو، ځکه اخبات د عبادت یوه اعلیٰ درجه ده۔ اخبات د خبت نه دے نبوره ناکے زمکے ته وائی چه ډیره نرمه وی، نو مصداقات ئے دا دی : (۱) اَنَابُوْا۔ انابت ئے وکړو۔ (ابن عباسؓ) (۲) مجاهدؒ وائی : اِطْمَاْنُوْا۔ (الله ته ئے اطمینان حاصل کړو)۔ (۳) قتادهؒ وائی : خَشَعُوْا۔ (الله ته ئے عاجزی وکړه)۔

(٤) مقاتلؒ وائی : اَخْلَصُوْا۔ (اخلاص ئے وکړو)۔ دا تفسیر باللازم دے ځکه کوم انسان کښې چه عاجزی وی نو هغه کښې اخلاص هم راځی۔

(٥) ابن القیمؒ وائی : اَلْاِخْبَاتُ مُتَضَمِّنٌ لِمَعْنَى الطُّمَانِينَةِ وَالْاِنَابَةِ وَالسُّكُوْنِ اِلَى اللّٰهِ) اخبات کښې د اطمینان او انابت او الله ته د سکون کولو معنیٰ پرته ده۔

او دا عاجزی به په هر وخت کښې په هره خبره او ناسته پاسته او عبادتونو کښې وی۔

مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ : مخکښې دوه جماعتونه بیان شو، یو د دنیا طلبګار، په الله دروغ ویونکی او شرك کونکی، او بله ډله مؤمنان او الله تعالیٰ ته عاجزی کونکی دی نو د دے دواړو مثالونه راوړی، مشرك د ړوند او کوڼړ په شان دے او مؤمن بنده لیدونکے او آوریدونکے دے چه الله تعالیٰ ئے وپیژندو او د هغه خبره ئے ومنله۔ نو ړوند او کوڼړ به خومره پریشانه وی او لیدونکے او آوریدونکے خومره مزے کوی، په دنیا کښې ئے هم مزے وکړے۔

هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا: آیا دا دواړه په حال او صفت کښې برابر کیدے شی؟۔ یعنی لکه څنګه چه دا خلق برابر نشی کیدے نو دغه شان د دنیا طلبګار او د آخرت طلبګار هیچرے برابریدے نشی۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ ز اِنِّىْ لَكُمْ

او یقیناً لیږلے وو مونږ نوح (علیه السلام) قوم د هغه ته (اُووئیل) یقیناً زۀ تاسو لره

| |
|---|
| نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۵﴾ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ |
| يره درکونکے ښکاره يم، چه مهٔ کوئ بندګی سوئ د الله نه، يقيناً زهٔ يريږم په تاسو |
| عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۶﴾ فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ |
| د عذاب د ورځے دردناکے نه۔ نو اُووئيل غټانو هغه کسانو چه کفرئے کړے وو د |
| قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ |
| قوم د هغه نه۔ نهٔ وينو مونږ تا لره مګر بنده ز مونږ په شان۔ او نهٔ وينو مونږ تا |
| اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا |
| چه تابعداری کړيده ستا مګر هغه کسان چه هغوی رذيلان (ذليل) دی په مونږ کښں، |
| بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍۭ بَلْ |
| سرسری رائے والے او نهٔ وينو مونږ تاسو لره په مونږ باندے هيڅ غوره والے بلکه |
| نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾ |
| ګمان کوو مونږ په تاسو باندے دروغژن۔ |

**تفسير** : ددے آيتِ کريمه نه د پنځه انبياءِ کرامو عليهم السلام او د هغوی د قومونو واقعات شروع کيږی۔ او دا تاريخ د انبياء عليهم السلام دے چه ټول انبياء عليهم السلام ددے مسئلے دپاره راغلی وو چه نظام د دنيا د الله تعالی د بندګئ دپاره پيدا دے او ددے نه ډير خلك غافله وو نو الله تعالیٰ دوی ته د رابيدارولو دپاره انبياء عليهم السلام راوليږل۔

او بل مقصود دا دے چه کافرانو او مشرکانو ته انداز بدل کړے شی او د اسلام دعوت ورکړے شی او هغوی ويرولے شی چه که دوی هم د حق نه اعراض وکړو نو د دوی انجام هم د هغه قومونو په شان کيدے شی۔ دارنګه نبی کريم ﷺ ته هم تسلی ورکول مقصود دی چه ستا نه مخکښں ډير انبياء کرام عليهم السلام راغلی دی، او هغوی ته د هغوی قومونو جسمانی او ذهنی تکليفونه رسولی دی ليکن هغوی د صبر نه کار واخستو او د الله تعالیٰ دين بهٔ ئے رسولو تردے پورے چه د هغه قومونو په باره کښں د الله تعالیٰ فيصله راغله۔ نو اے نبی ! تهٔ هم د صبر نه کار واخله او د حق پيغام خلقو ته رسوه او نتيجه په الله سبحانه

وتعالىٰ باندے پريده.

د تپولونه مخكښې د نوح ﷺ او د هغه د قوم واقعه ده. الله تعالى دا خپل قوم ته د اسلام د دعوت وركولو دپاره نبي ليږلے وو. وئيلى كيږي چه د هغوی د كفر او شرك او شر او فساد نه زمكه ډكه شوے وه. نوح ﷺ هغوی ته وويل چه زهٔ تاسو ته د الله تعاليٰ عذاب نه يرولو دپاره راليږلے شوے يم. خلقو! د الله نه سِوی د نورو عبادت مهٔ كوئ، ورنه زهٔ يريږم چه د الله تعالىٰ دردناك عذاب تاسو راونهٔ نيسي.

مُبِيْنٌ: يعني ښكاره خبره درته كوم، يعني زما په باره كښې دا شك نشته چه دا به څه خبره كوي بلكه زما حال دِے په تاسو واضح وى، او زما په باره كښې نور دا شك مهٔ كوئ چه دا به څه دپاره راغلے وى. بلكه زما همدغه مقصد دے چه تاسو ته ښكاره يره دركوم.

اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا : ان مصدريه يا تفسيريه دے او متعلق دے د (اَرْسَلْنَا) يا د نذير يا د مبين پورے. او لا ناهيه ده.

اِنِّىْٓ اَخَافُ: يعنى تاسو ځكه د غير الله د عبادت نه منع كوم چه زهٔ په تاسو د عذاب نه يريږم.

د نوح ﷺ د قوم سردارانو د هغهٔ دعوت رد كړو او د هغهٔ په نبي كيدو كښې ئے درے قسمه شبهات راښكاره كړل. اوله شبهه ئے دا ښكاره كړه چه تهٔ زمونږ په شان انسان ئے، نو تهٔ زمونږ نه د نبوت څنګه حقدار شوے؟. د دوی دوېمه شبهه دا وه چه د قوم د سردارانو نه يو هم ستا اتباع نهٔ ده كړے، صرف رذيلانو خلقو ستا پيروی كړيده چه هغه كم عقل او بے وقوف دی. او ښه او ژور سوچ او پوهه نهٔ لري. كه تهٔ نبي وے نو د قوم سردارانو به په تا ايمان راوړے وے. او دريمه شبهه دا وه چه په تا كښې او ستا په تابعدارو كښې كومه داسے خوبي په نظر نهٔ راځي چه هغه په مونږ كښې نهٔ وی، نو بيا تهٔ نبي څنګه شوے ؟.

هُمْ اَرَاذِلُنَا : اراذل جمع د رذيل ده، او ځينى وائى جمع د اَرْذَل ده لكه اَسَاوِدُ جمع د اَسْوَد ده. دا ظاهری ښكته او پريوتي خلكو ته وائي لكه جولاګان، او موچيان.

نحاس وائى : اراذل فقيرانو ته وائى او هغه كسان چه هيڅ شرافت يعني كارو كسب نهٔ لري.

يعنى ستا تابعدار كمزوری او بيكاره خلك دی، دا استدلال دے په اَتباعو باندے يعني ملګری دِے غلط دی نو تهٔ هم غلط ئے لكه الله تعالىٰ په سورة الشعراء آيت (٢٢٤) كښې د رسول الله ﷺ د حقانيت دپاره دليل كښې د هغهٔ د ملګرو كمال ذكر كوی. ﴿وَالشُّعَرَاءُ

يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ﴿ (د شاعرانو پسے روان وی سرکشان)
زجاج وائی : دوی ئے جولاگرئ تـه منسوب کړل حال دا چه دوی تـه دا پتـه نـهٔ وه چه کاریگری په دینداریٔ او حقانیت کښ هیڅ اثر نهٔ لری ځکه چه اصلی شرافت او مرتبه خو پـه دیـن کښ ده او د رسولانـو تـابعداری دا په شرافت او مال او اُوچتو منصبونو سره نهٔ ده بلکه دا د الله تعالیٰ عادت پاتے شویدے چه د انبیاء علیهم السلام او د اولیاؤ اولنی تابعدار ضعیفان وی ځکه چه دوی کښ عاجزی وی نو د مال او جاه په وجه د تابعداریٔ نه ځان لوی نهٔ ګنړی۔ (فتح البیان)
وَمَا نَرٰكَ اتَّبَعَكَ : کـه پـدے او مخکښ ځای کښ رؤیتِ قلبی واخستے شی نو (بشرًا) په مخکښ آیت کښ او (اتَّبَعَكَ) پدے ځای کښ مفعول ثانی دے او که رؤیة بصری واخستے شی نو (بَشَرًا) او (اتَّبَعَكَ) به منصوب وی، دواړه به حالونه وی۔ (فتح البیان)
بَادِیَ الرَّأْیِ: یعنی سرسری رائے والا او ظاهربین چه هیڅ ژور سوچ او فکر نهٔ لری، لکه همیشـه د بـاطـل پـرستو په اهل حقو باندے دا اعتراض وی چه دا اهل ظواهر دی او ژوره فقه نهٔ لری۔
حافظ ابن کثیرؒ پدے شبهاتو باندے تبصره کولو سره لیکلی دی چه دا خبرے د نوح علیه السلام د قـوم د جهالت او کم عقلی دلیل وو۔ ځکه چه حق حق وی، اګرکه د هغے تابعداری د قوم شریفان وکړی یا غریبان خلق وکړی۔ او تاریخ همدا وائی چه د حق منونکی همیشه زیات کمزوری خلق وی۔ او دا چه دوی وویل چه ستا منونکی زیات ژور فکر والا نهٔ دی نو دا هم د هیڅ تـوجـه قـابل خبره نهٔ ده، ځکه چه که حق واضحه وی او د زړهٔ شیشه روښانه وی نو انسان د یو ےلمحے دپاره هم په شك او شبهه کښ نهٔ پریوزی او حق فورًا قبلوی۔
رسول الله صلی الله علیه وسلم چـه کـلـه د خپـل رسالت اعلان وکړو نو ابوبکر رضی الله عنه بغیر د څه توقف نه د هغـه پـه آواز باندے لبیك وویلو او په اسلام کښ داخل شو۔ یعنی زړهٔ ئے انتهائی صفا وو او عاجزی پکښ موجوده وه ځکه ئے زر خبره ومنله۔
نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ : د تهمـتـونـو نـه روستـو ئے خپـل ګمان ته رجوع وکړه چه دا د دوی په تعصب او حسد او دنیا پرستیٔ باندے پوخ دلیل دے۔

| |
|---|
| قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ |
| وویل هغه اے قومه! خبر راکړئ که یم زهٔ په ښکاره دلیل د طرف د رب زما نه |

| |
|---|
| وَاٰتٰىنِیْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّیَتْ عَلَیْكُمْؕ |
| او راکړے ئے وی ما ته رحمت (نبوت) د طرف خپل نه نو دا پټ پاتے شوے وی په تاسو |
| اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ |
| آیا په زوره اُومنو مونږ په تاسو هغه، پداسے حال کښې چه تاسو هغه بد ګنړونکي یئ۔ |
| وَیٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مَالًاؕ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَى |
| او اے قومه زما، نۀ غواړم تاسونه پدے بیان هیڅ مال. نۀ ده مزدوری زما مګر په |
| اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْاؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا |
| الله ده، او نۀ یم زۀ شړونکے هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړیدے. یقیناً دوی ملاویدونکی دی |
| رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّیْۤ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ |
| د رب خپل سره او لیکن زۀ وینم تاسو لره داسے قوم چه ناپوهي کوئ۔ |

**تفسیر** : نوح علیه السلام د دوی کافرانه خبره واوریده وے وئیل : اے زما د قوم خلقو ! الله تعالیٰ ما ته زما د نبی کیدو یقینی دلیل راکړیدے۔ په صفت د بشریت کښې زما ستاسو سره برابریدل ددے خبرے نه هیڅرے مانع نۀ دے چه هغه ما ته د نبوت مقام راکړی۔ دغه شان زما د منونکو په مالی اعتبار سره کمزوری کیدل هم د نبوت نه مانع نۀ دی ځکه چه په بشریت او عقل او فهم کښې هغوی ستاسو په شان دی۔ او دا نبوت خو د الله فضل او رحمت دے چه هغه ما ته راکړیدے۔ که ستاسو بصیرت ختم شویدے او حق نۀ وینئ نو زۀ خو تاسو ددے په قبلولو باندے مجبور کولے نۀ شم۔ زما کار خو صرف دعوت ورکول دی۔

بَیِّنه نه مراد دا دے چه زۀ په صحیح او واضح فطرت او نور قلبی باندے یم۔ او د رحمة نه مراد نبوت دے۔

**فَعُمِّیَتْ عَلَیْكُمْ** أَیْ خَفِیَتْ عَلَیْكُمْ : یعنی پټ پاتے شو په تاسو باندے دغه بینه او رحمت۔

**اَنُلْزِمُكُمُوْهَا** : مطلب ئے دا دے چه ما ته الله تعالیٰ هر قسم دلیلونه راکړیدی. فطری دلیل هم او نبوت او معجزات هم، نو دا ښکاره دلیل دے چه زۀ د الله تعالیٰ رسول یم او تاسو ته نۀ ښکاره کیږی ستاسو د ضد د وجه نه (لکه ډیرو انسانانو ته به آیت او حدیث پیش کړے نو هغه به وائی چه صریح پیش کړه، هغه ته صریح نۀ ښکاره کیږی د وجه د

ضد د هغه نه) نو زۀ خو په تاسو باندے دا په زوره نشم منلے کله چه تاسو ضد کښې ولاړ یئ او حق بد ګنړئ، مطلب ئے دا دے چه اے خلکو! تاسو د ځانونو نه ضد وباسئ او زما په دلیلونو کښې سوچ وکړئ دا ښکاره دلائل دی نو تاسو به خپله ایمان طرفته راشئ او زما نبوت به ومنئ۔ او ستاسو د ضد علاج صرف الله تعالیٰ سره دے، زما زور نشته چه ستاسو نه ضد لرے کړم۔

لنډ حاصل ئے دا دے چه نوح علیه السلام خپل قوم ته وائی چه تاسو ځان کښې دوه صفتونه پیدا کړئ هله به زما د بیان نه فائده واخلئ که دا دوه صفتونه در کښې نۀ وو نو زما د بیان نه هیڅ فائده تاسو ته نشی رسیدے. زۀ په زوره نشم کولے چه ستاسو په ذهن کښې دا بیان واچوم بلکه ځانونو کښې صفات پیدا کړئ، داعی نشی کولے چه د مدعووینو په ذهن کښې هدایت واچوی بلکه هغوی دِ ے ځان کښې صفات پیدا کړی یو البصیرة – یعنی عقلمندی وکړئ او په خبره سوچ وکړئ۔

دویم الانابة۔ یعنی حق طلبی ځان کښې پیدا کړئ۔ که بصیرت او حق طلبی درکښې پیدا شوه نو زما بیان به سمدست اثر وکړی او تاسو ته به ترے فائده ملاؤ شی۔

(او دا د دعوت ډیره ښه طریقه ده چه داعی خلکو ته ووائی چه اے خلکو ! خپله به سوچ کوئ زۀ دومره فصیح او بلیغ نۀ یم چه ستاسو ذهنونو کښې خبره واچوم هر کله چه ستاسو خپله سوچ نۀ وی بلکه بصیرت نه به کار اخلئ او ورسره ضد به نۀ کوئ بلکه کومه حقه خبره چه درته ښکاره شوه نو هغه به منئ، که ضد مو وکړو نو زما بیان به لس ګینتے وشی خو تاسو ته به هیڅ فائده درنکړی)۔

نو د (فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ) نه بصیرت معلومیږی یعنی تاسو باندے بیّنه (معجزات) پټ شو، بصیرت مو نشته نو ځکه معجزات او دلیلونه نشئ معلومولے۔ او ذهن مو پرے نۀ کولاویږی او ﴿ اَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ﴾ کښې ضد ته اشاره ده یعنی ضد مۀ کوئ بلکه حق طلبی ځان کښې پیدا کړئ۔

**وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ :** د مکے مشرکانو د رسول الله ﷺ نه دا مطالبه کړے وه چه غریبانان د خپل مجلس نه وشړه مونږ به درسره کینو نو دلته الله تعالیٰ خپل نبی ته دا قصه رانقل کړه چه دغه شان قوم د نوح علیه السلام هم د هغه نه مطالبه کړے وه چه ملګرے دِے وشړه خو خبردار! داسے کار ونکړے۔ او دوی صرف په دے وجه شړل چه دوی کمزوری او غریبان دی دا به سراسر ظلم وی۔

**اِنَّهُمۡ مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ** : ۱- یعني دوی په ظاهر کښې زما ملګري دي او د زړهٔ علم ئې د الله تعالیٰ سره دے، د هغهٔ سره به ملاوېږي، هغه به ورسره حساب کوي، زهٔ ئې په حساب مکلف نهٔ یم. ۲- دوی د رب سره ملاوېدونکي دي نو بیا به د هغه په دربار کښې زما شکایت کوي چه تا رسول راليږلے وو او مونږه ئې د ځان نه وشړلو، بیا به زهٔ څه وکړم؟. یعني دا خو ډېره خطرناکه خبره ده.

**تَجۡهَلُوۡنَ** : یعني دا ستاسو جهالت دے چه د ایمان راوړو دپاره د مؤمنانو شړل شرط ګرځوئ، حقیقت دا دے چه تاسو ډېر ناپوهه خلق یئ، ځکه خو تاسو دا سوچ کوئ چه که مونږ ایمان راوړو نو زما د ضعیف او کمزورو تابعدارو سره به برابر شئ.

دارنګه دغه نور سوالونه د دوی د جهالت نه راپیدا شوی وو.

| |
|---|
| وَيٰقَوۡمِ مَنۡ يَّنۡصُرُنِيۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ طَرَدۡتُّهُمۡ ؕ |
| او اے قومه زما ! څوك به مدد اوکړي ما سره د الله د عذاب نه که اوشړم زهٔ دوی لره |
| اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَلَاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ عِنۡدِيۡ خَزَآئِنُ |
| آیا نو نهٔ قبلوئ نصیحت لره. او نهٔ وایم زهٔ تاسو ته چه ما سره اختیار دے د خزانو |
| اللّٰهِ وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ وَلَاۤ اَقُوۡلُ اِنِّيۡ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوۡلُ |
| د الله تعالیٰ، او نهٔ پوهېږم په پټو خیزونو او نهٔ وایم چه زهٔ ملائك یم او نهٔ وایم |
| لِلَّذِيۡنَ تَزۡدَرِيۡۤ اَعۡيُنُكُمۡ لَنۡ يُّؤۡتِيَهُمُ |
| په باره د هغه کسانو کښې چه سپك ئې ګڼړي سترګے ستاسو چه هیچرے به ورنکړي دوی ته |
| اللّٰهُ خَيۡرًا ؕ اَللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا فِيۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ ۚ ۖ |
| الله تعالیٰ څه خیر، الله ښهٔ پوهه دے په هغه څه چه په زړونو د دوی کښې دي |
| اِنِّيۡۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۳۱﴾ |
| یقیناً زهٔ به په دغه وخت د ظالمانو نه یم. |

**تفسیر** : په نصرت کښې معنیٰ د بچاو او منع کولو پرته ده. یعني ما به څوك بچ کړي د الله تعالیٰ د عذاب نه که دوی وشړم ځکه چه دوی د الله تعالیٰ اولیاء دي او اول هغه خلك

دي چه د رسولانو اجابت ئې کړيدے۔

**وَلَا اَقُوْلُ :** هغوی وویل که ته د الله تعالیٰ رسول وے نو تا سره به مالونه او دولتونه وے، او تا به د غیبو خبرونه ورکولے او تا به د ملائکو په شان خوراك څکاك نۀ کولے، نو ددے جوابونه ورته کوی او طبیعت د رسالت ورته بیانوی چه هغوی یو شان فهم کړے وو او رسولان ئې بل شان ذکر کوی۔ نوح علیه السلام دے ته اشاره کړیده چه اے خلقو! زۀ ستاسو په شان بشر یم، لیکن الله تعالیٰ ما ته رسالت او وحی راکړیده، زۀ د داسے خبرو دعویٰ نۀ کوم چه هغه زما د اختیارنه بهر دی۔ زۀ دعویٰ نۀ کوم چه زۀ د الله تعالیٰ د روزئ د خزانو مالك یم، او نۀ د علم غیب دعویٰ کوم، او نۀ د ملائك کیدو دعویٰ کوم۔

هرکله چه زۀ خپله داسے دعویٰ نۀ کوم نو بیا په ما کښې ددے صفاتو په نشتوالی باندے زما د نبوت نه ولے انکار کوئ؟!

**تَزْدَرِیْ:** اَیْ تَحْتَقِرُ وَتَسْتَصْغِرُ۔ یعنی سپك او حقیر ګڼړئ۔ (فتح)

**لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللهُ خَيْرًا :** چه دوی ته به الله تعالیٰ هیڅکله توفیق او هدایت او ایمان او اجر ورنکړی بلکه دوی ته ئې د ایمان او د نبی د تابعدارئ په وجه لوی خیر ورکړیدے۔ نو ددے لویه بدله به هم ورکوی۔ او ستاسو سپك ګڼړل دوی ته هیڅ ضرر نۀ ورکوی۔

**اَللهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ:** ۱- اَیْ لَسْتُ وَكِيْلًا بِبَوَاطِنِهِمْ۔

یعنی زۀ ذمه وار نۀ یم په باطنی حالاتو د دوی، په ظاهره کښې زما ملګری دی نو زۀ ئې بنه ګڼړم۔ اسلام ظاهر ته ګوری۔

۲- اَللهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْ اَنْفُسِهِمْ حَيْثُ اَهَّلَهُمْ لِقَبُوْلِ الدِّيْنِ۔ (بدائع التفسیر)

یعنی الله تعالیٰ د دوی په نفسونو ښۀ پوهه وو پدے وجه ئې دوی د دین د قبلولو اهل وګرځول او تاسو ئې ترے محرومه کړئ، ځکه اهلیت او کمال درکښې نشته۔ نو الله تعالیٰ د دوی په خوبیانو او فضیلتونو ښۀ عالم وو۔

**اِنِّیْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ :** یعنی که زۀ داسے ووایم نو زۀ به د دوی په حق کښې د ظالمانو نه شم۔ ځکه چه ما به په دغه وخت د دوی قدر او مرتبه نۀ وی پیژندلی او د دوی د شان او د شوکت خلاف خبره به مے کړی وی۔

مفسرینو لیکلی دی چه پدے کښې دے طرف ته اشاره ده چه کافرانو د غریبانو مسلمانانو سپکاوی کولو سره په دوی ظلم او زیاتے کړے وو۔

قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا

وويل دوی اے نوح! تحقيق سره جگړه وکړه تا مونږ سره نو زياته دې کړه جگړه مونږ سره

فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ

نو راوړه مونږ ته هغه شے چه يروے ته مونږ په هغے که ئے ته د رشتينو نه۔ اُووئيل هغهٔ

اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾

يقيناً را به ولی تاسو ته دا عذاب الله تعالى که وغواړی او نهٔ يئ تاسو عاجزه کونکی الله لره۔

وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ

او فائده نهٔ درکوی تاسو ته خيرخواهی (نصيحت) زما که زهٔ اُوغواړم

اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ

چه خير خواهی وکړم تاسو لره که الله تعالى وغواړی چه تاسو گمراه کړی، هغه

رَبُّكُمْ قف وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

رب ستاسو دے او خاص هغه ته به ورگرځولے شئ۔ آيا وائی دوی

افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ

د ځان نه ئے جوړ کړيدے دا قرآن، تهٔ ورته اُووايه که د ځان نه جوړ کړی وی ما دا قرآن

فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿۳۵﴾

نو په ما باندے به وی جرم زما او زهٔ جدا يم د هغے نه چه تاسو کوم جرمونه کوئ۔

**تفسير**: کله چه د نوح د قوم سره په کفر او عناد باندے د مضبوط پاتے کيدو هيڅ دليل پاتے نشو او نوح عليه السلام د دلائلو او براهينو مخے ته دوی خپل ځانونه بيخی عاجز وموندل نو ويے وئيل چه اے نوح! مونږ ستا د مناظرو نه تنگ راغلی يو۔ که تهٔ رشتينے ئے نو د کوم عذاب چه وعده کوے هغه راوستو سره وښايه،

نو نوح عليه السلام جواب ورکړو چه دا زما په اختيار کښ نشته دے، کله چه الله تعالىٰ غواړی عذاب به راولی، او په هغه وخت به تاسو هغه له عاجز کولے نهٔ شئ۔

جٰدَلْتَنَا: جدال دلته په معنىٰ د بحثونو او چالاکئ سره دے۔ مونږ دِے په خپلو بحثونو او

چالاکیانو سره ستړی کړو نور بس کړه، دوی د دلائلو نه عاجز شو نو اُوس عذاب غواړی، دا د دوی ډیر سخت عناد او ضد وو، پکار خو دا وه چه ددے دلائلو نه پس دوی خبره منلے وے۔

وَلَا يَنۡفَعُكُمۡ نُصۡحِيۡ : نوح علیه السلام ووېل چه که الله تعالیٰ ستاسو گمراه کول او هلاك کول غواړی نو زما تاسو لره توحید طرف ته رابلل او د عذاب نه یرول هیڅ فائده هم نهٔ درکوی۔ یعنی د داعی ډیره خیرخواهی هم ضدیانو ته فائده نهٔ ورکوی کله چه الله تعالیٰ د هغوی د گمراه کولو اراده کړی وی۔

او پدے جمله کښ هم عجیبه فائده ده چه پدے سره خلك الله تعالیٰ ته متوجه کوی چه زهٔ ډیر خواه یم او ستاسو خیر خواهی لتهوم خو که الله تعالیٰ ستا د گمراه کولو اراده کوی نو زما خیر خواهی فائده نهٔ درکوی، ستا هدایت او گمراهی د الله تعالیٰ په لاس کښ ده هغه به جزاء او سزا هم درکوی،

نو مطلب دا چه خپل رب ته متوجه شئ او د هغه نه هدایت وغواړئ، او کله چه تاسو الله تعالیٰ ته متوجه شئ نو زما دعوت به سمدست فائده درکړی۔ (لکه دا تجربه ده چه تهٔ د شپے د الله تعالیٰ نه هدایت په اخلاص سره وغواړه او بیا سهار د حق داعی ته کینه سمدست به الله تعالیٰ هدایت درنصیب کړی)۔

وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ : پدے کښ ورته دهمکی ورکوی چه که هدایت مو قبول نکړو نو قیامت شته الله تعالیٰ له به ورځئ، هغه به درسره حساب کوی۔

اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ : دا جمله معترضه ده د رسول الله ﷺ د تصدیق او د قرآن کریم د حقانیت د اثبات دپاره۔

اِجۡرَامِيۡ : ۱-اَیۡ اِثۡمِيۡ ۔ یعنی گناه زما۔ ۲-جَزَاءُ کَسۡبِيۡ ۔ سزا د عمل زما۔ اجرام اکتساب او کولو ته وائی۔

مقصد د آیت دعوتِ فکر دے مخاطبینو ته او هغوی متوجه کول دی یو فکر ته، یعنی که ما دا قرآن د ځان نه جوړ کړے وی نو ددے گناه په تاسو باندے نهٔ ده بلکه الله تعالیٰ به ما ته سزا راکوی نو ما له پکار دی چه د خپل ځان غم وکړم چه زهٔ ولے په الله تعالیٰ باندے دروغ وایم، او زهٔ خو د الله تعالیٰ سزا ته نشم نیېنگیدے نو پدے وجه زهٔ ولے دروغ جوړ کړم؟!

او الله تعالیٰ به ما ستاسو په جرمونو نهٔ رانیسی نو تاسو د خپلو جرمونو ځانله غم وکړئ، که تاسو کښ شرك او گناهونه او د نبی او د الله د وحی خلاف موجود وی نو پدے

خو به ضرور سزا نازلیږي نو الله تعالی به ما ستاسو په گناه نهٔ راگیروي بلکه ستاسو د گناهونو سزا به تاسو ته رسیږي نو د هغې غم څانله وکړئ نو کله چه بندگان خپلې گناه ته متوجه شي، او د داعي په خبره او خپل ضد کښې فکر وکړي نو د هغه اصلاح زر کیږي لکه دا د انبیاؤ طریقه ده چه خلك خپلو ځانونو ته متوجه کوي.

او دا طریقه په قرآن کریم کښې زیاته ذکر ده۔ لکه الله تعالی فرمائي:

﴿قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ فَاِنَّمَا اَضِلُّ عَلٰی نَفْسِيْ وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ اِلَيَّ رَبِّيْ﴾ (سبا : ٥٠)

(ووایه که زهٔ گمراه یم نو زما د گمراهئ ضرر به په ما باندې وي او که په هدایت یم نو دا پدې وجه چه ما ته زما رب وحي کړیده).

﴿قُلْ اَرَأَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللهُ وَمَنْ مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكَافِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾ (الملك : ٢٨)

(ووایه ! خبر راکړئ که ما الله تعالی هلاك کړي او زما ملګري یا په مونږ رحم وکړي نو کافران به څوك د عذاب الیم نه خلاص کړي) یعنې د خپل ځان غم وکړئ۔

| |
|---|
| وَاُوْحِيَ اِلٰی نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ |
| او وحي اُوکړې شوه نوح (عليه السلام) ته چه بیشکه هیڅوک به ایمان نهٔ راوړي د قوم ستا نه |
| اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾ |
| مگر هغه چا چه ایمان راوړیدې نو مهٔ غمجن کیږه په هغې کارونو چه دوی ئې کوي۔ |
| وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِيْ |
| او جوړوه کشتئ لره په سترګو زمونږ او په وحي زمونږ او خبرې مهٔ کوه ما سره |
| فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ |
| په باره د هغه کسانو کښې چه ظالمان دي، یقیناً دوی به غرقولې شي۔ او جوړوله به هغهٔ |
| الْفُلْكَ قف وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ |
| کشتئ لره او هرکله چه به وریتیریدل په هغهٔ باندې مشران د قوم د هغهٔ نه |
| سَخِرُوْا مِنْهُ ؕ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا |
| نو توقې به ئې کولې د هغهٔ پورې۔ نو وئیل (نوح عليه السلام) که توقې کوئ تاسو مونږ پورې |

فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿۳۸﴾

نو يقيناً تهوقے به اُوكړو مونږ تاسو پورے لكه څنګه چه تهوقے كوئ تاسو (په مونږ پورے)

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ

نو زردے چه پته به اُولګی تاسو ته چه څوك دے چه رابه شي په هغه داسے عذاب

يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿۳۹﴾

چه وبه ئے شرموی او نازل به شي په هغه عذاب هميشه۔

**تفسير:** الله تعالیٰ نوح عليه السلام ته خبر ورکړو چه کومو خلقو تر اُوسه پورے ايمان راوړيدے، د دوی نه سوئ به اُوس نور څوك ايمان نهٔ راوړی۔ د حسن بصريؒ وينا ده چه کله الله نوح عليه السلام ته د وحی په ذريعه خبر ورکړو نو هغه د هغوی د ايمان راوړو نه نا اُميده شو او د هغوی په حق کښې ئے ښيرے وکړے چه اے الله! اُوس هيڅ کافر په زمکه مهٔ پريده۔ (خپل زړه ئے پرے يخ کړو) او دا ښيرے په هغه زمانه کښې داسے وو لکه جهاد چه زړه پرے يخيږی۔

قَدْ آمَنَ: څومره کسانو ايمان راوړے وو؟ روستو آيت کښې وائی چه ﴿ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ ﴾ ډيرو لږو کسانو ايمان راوړے وو۔ تاريخی رواياتو کښې دی چه اتيا کسان وو، ۲- اويا کسان۔ ۳- خلويښت کسان۔ ٤- اُوه کسان خودلے شويدی۔ الله تعالیٰ ئے تعيين نهٔ دے کړے بلکه دومره خلك وو چه د کشتئ په يو چهت کښې ځائيدل۔

کله چه د عذاب راتلل يقينی شو نو الله تعالیٰ نوح عليه السلام ته د کشتئ جوړولو حکم وکړو او د هغے تعليم ئے ورکړو، دے دپاره چه هغه او د هغهٔ تابعدار مسلمانان د طوفان نه بچ شی، او د کافرانو د نجات دپاره د سفارش کولو نه ئے منع کړو، ځکه چه د هغوی په باره کښې د الله تعالیٰ فيصله صادره شوے وه چه دوی به په طوفان غرقيږی۔

بِأَعْيُنِنَا: صاحب د ((فتح البيان)) وائی چه ((اعين)) جمع د عين ده، د تعظيم او مبالغے دپاره استعمال شويده، نهٔ د کثرت دپاره۔ او عين يعنی سترګه هم د الله تعالیٰ د صفاتو نه يو صفت دے چه د هغے کيفيت مونږ ته نهٔ دے معلوم، ليکن په هغے باندے ايمان راوړل واجب دی۔ او دلته ئے دا معنیٰ هم کولے شی: (أَيْ بِمَرْأًى مِنَّا)۔ يعنی زمونږ په ليدو سره۔

إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ: يعنی دوی باندے فيصله شويده چه دوی به غرقيږی۔

وَلَا تُخَاطِبْنِي: الله خپل نبی ته ولے وائی چه ما ته به ددے خلکو په باره کښې سفارش نه

نۀ کوي؟ ددې حکمة مونږ مخکښې سورة المائده کښې وئيلې وو ځکه چه نبي خو اول کښې په غضب وي ليکن بيا چه کله په خپل قوم عذاب ويني نو رحم ئې راځي، د زړه نه کمزورې شي، او الله تعالیٰ هغه ذات دې چه صبر کوي او چه کله هلاکول کوي نو بيا ئې د قوت د وجه نه پرې رحم نۀ راځي، ځکه چه غني ذات دې۔

**وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ**: تفاسيرو کښې د ابن عباس ﷺ نه نقل کړې چه دا کشتۍ ئې په دوه کاله کښې جوړه کړه آه۔ او ځينې وائي چه ديرش کاله کښې۔ او ددې اوږدوالې درې سوه گزه وو او بره پورته والې ئې ديرش گزه وو او پلنوالې ئې پنځوس گزه وو، او دا د ساج لرگي نه وه، او درې چهته وه، او دروازه ئې په پلن طرف کښې وه، په لاندې چهت کښې ښاروي او صحرائي حيوانات وو او په مينځ کښې ئې انسانان وو او په بره طرف کښې ئې مارغان وو۔

او ځينې وائي چه لاندې کښې حيوانات او مينځ کښې طعام او بره چهت کښې نوح ﷺ او نور مؤمنان وو۔ (فتح البيان)

د کشتۍ په جوړولو کښې ئې ډيره موده پدې وجه ولگوله چه په خلکو باندې ښه حجت قائم شي چه وخت په وخت هغه گوري۔

**سَخِرُوا مِنْه**: نوح ﷺ چه به کشتي جوړوله نو کافرانو به کټل او وئيل به ئې چه د نبي کيدو نه روستو اوس ترکان شو۔ بله مسخره به ئې دا کوله چه کشتۍ خو د اوبو شے دې او دې ئې په اوچه باندې جوړوي۔ د نبي کار هميشه ناشنا وي چه د عامو خلکو عقلونه ورته نۀ رسيږي ليکن د هغې ډير ناشنا انجام وي۔

(ددې نه دا فائده حاصله شوه چه کله نا کله به کتاب او سنت کښې يوه خبره راځي او ستا ذهن به پرې نۀ کولاويږي ليکن هغه به بيا هم منې ځکه چه ستا عقل کمزورې دې)۔

وئيلې کيږي چه نوح ﷺ به دا کار د اوبو نه ډير وړاندې په ميدان کښې د سختې گرمۍ په زمانه کښې کولو۔ پدې وجه کافرانو د هغه نه تپوس وکړو چه دا تۀ څه کوې؟ هغوی د مخکښې نه کشتۍ نۀ وه ليدلې، نو هغه ووئيل چه دا به مونږ اخلي او په اوبو باندې به مو روانوي، نو دوی وخندل او توقې ئې وکړې۔ هغه ووئيل که تاسو نن ما پورې توقې کوئ نو کوئ، صبا په طوفان کښې به ستاسو د ډوبيدو نظاره مونږ ټول مسلمانان کوو۔

**فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ**: يعني په هغه وخت به تاسو ته معلومه شي چه په دنيا کښې رسوا کونکې عذاب او په آخرت کښې هميشه د اوږ د عذاب مستحق څوك دې۔

| |
|---|
| حَتّٰۤی اِذَا جَآءَ اَمۡرُنَا وَفَارَ التَّنُّوۡرُ ۙ قُلۡنَا |
| تردے چه کله راغلے حکم زمونږ (په عذاب سره) او جوش اُووهلو تنور ووئيل مونږ |
| احۡمِلۡ فِیۡهَا مِنۡ كُلٍّ زَوۡجَیۡنِ اثۡنَیۡنِ وَ اَهۡلَكَ |
| سوارهٔ کړه پدے (کشتئ) کښ د هر څيز نه جوړے (يعنی دوه څيزونه) او اهل خپل |
| اِلَّا مَنۡ سَبَقَ عَلَیۡهِ الۡقَوۡلُ وَمَنۡ |
| مګر هغه څوك چه مخکښ شويده په هغه باندے فيصله د عذاب او هغه څوك |
| اٰمَنَ ؕ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِیۡلٌ ﴿۴۰﴾ |
| چه ايمان ئے راوړيدے، او ايمان نهٔ وو راوړے په هغه باندے مګر لږو کسانو۔ |

**تفسير:** کله چه د نوح ؑ د قوم د هلاکت حکم راغلو، او اُوبه په ډيره سختئ سره راوخوټ کيدلے، نو الله تعالیٰ نوح ؑ ته حکم وکړو چه په زمکه موجود د تمامو حيواناتو او مارغانو وغيره ؤ نه جوړے په کشتئ کښ کيدهٔ او د نورو مسلمانانو سره خپل صرف هغه خپلوان سوارهٔ کړه چه په تا باندے ئے ايمان راوړيدے۔

د قتادهؒ او ابن جريرؒ د قول مطابق د هغوی شمار اته (۸) وو۔ نوح ؑ او د هغه بی بی او د هغه درے ځامن، او د هغوی ښځے۔ د هغه ځوی کنعان او د هغه بله ښځه ام کنعان چه وائله نوم ئے وو مؤمنه نهٔ وه۔ پدے وجه دوی د هغه سره په کشتی کښ سوارهٔ نشو۔ او ابن اسحاقؒ وائی چه دوی د ښځو نه علاوه لس کسان وو۔ (القرطبیؒ)

او د ابن عباس ﷺ د قول مطابق د هغوی شمار اتيا (۸۰) وو۔ په هغوی کښ د نوح ځامن، سام، حام، يافث او ددے دريواړو ښځے وے۔ د هغه مسلمانانو نه يو شخص جُرهم هم وو چه د هغه په نوم سره جُرهم قبيله مشهوره شوه کوم چه د هاجره او اسماعيل ؑ نه روستو مکے مکرمے ته راغلل هلته آباد شوی وو۔ خفاجیؒ وائی هم دا صحيح روايت دے۔ او هر کله چه دوی د کشتئ نه راووتل نو دوی يو کلے آباد کړو چه هغے ته ئے (قَرْيَةُ الثَّمَانِيْن) وئيلو او دا اُوس د موصل په غاړه په عراق کښ موجود دے۔ (فتح البيان)

اَلتَّنُّوْرُ: ۱- ددے نه مراد ظاهری تنور دے کوم کښ چه ډوډئ پخيږی۔ او پدے کښ اشاره ده چه تنور کښ اُوبه نهٔ وی، هغه هميشه وچ وی نو پداسے ځای کښ چه هلته د اُوبو نام

ونشان نۀ وی اُوبه راخوټ کیدل د الله تعالیٰ د غضب علامه ده۔

(مجاهدؒ، عطیهؒ، الحسنؒ واکثر المفسرین)

۲- یا تنور: وَجْهُ الارض (د زمکے مخ) ته وائی۔ (ابن عباسؓ، عکرمهؒ، زهریؒ، ابن عیینهؒ) (فتح البیان)

**کُلٍ:** یعني د هرے نوع د حیواناتو نه۔

**زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ:** ددے نه معلومه شوه چه عذاب په ټوله دنیا راغلے دے ورنه داسے به ئے وئیلي وے چه دا حیوانات بلے علاقے ته واړوه۔

**اِلَّا قَلِيْلٌ:** دا کموالے د نبي په دعوت کښ نقصان نۀ وو بلکه دا قوم نا اهله او ضدیان وو۔

| |
|---|
| وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖهَا |
| او اُووئیل الله سوارۀ شئ په کشتئ کښ په مدد د نوم د الله تعالیٰ روانیدل د هغے |
| وَمُرْسٰهَآ اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٤١﴾ وَهِيَ |
| او اُودریدل د هغے دی۔ یقیناً رَب زما خامخا بخونکے رحم کونکے دے۔ او دا کشتئ |
| تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ قف وَنَادٰى نُوْحُ ن |
| روانه وه په دوی باندے په داسے چپو کښ چه په شان د غرونو وے او آواز اُوکړو نوح (علیه السلام) |
| ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا |
| خوی خپل ته (کنعان) او هغه وو په یوه ډډۀ کښ اے خویه! سور شه زمونږ سره |
| وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٢﴾ |
| او مۀ کیږه سره د کافرانو نه۔ |

**تفسیر:** نوح (علیه السلام) چه کله طوفان راتلونکے ولیدلو نو خپلو مسلمانانو ملګروته ئے ووئیل چه کشتئ کښ سوارۀ شئ، دا به د الله تعالیٰ په نوم سره روانیږی او د هغۀ په نوم سره د هغۀ د مرضی مطابق به ودریږی، بیشکه زما رب بخنه کونکے او رحم کونکے دے، هغه به مونږ ته ضرور ددے طوفان نه نجات راکوی۔ (ابن کثیرؒ)

علماؤ ددے آیت نه دلیل نیولو سره په کشتئ یا یو حیوان باندے سوریدو وخت کښ بسم الله وئیلو ته مستحب وئیلی دی۔ لکه د نبی کریم ﷺ سنت هم پدے طریقه دے۔

**مَجْرٖهَا**: ای جَرْیُهَا۔ روانیدل د کشتئ۔ دا مصدر میمی دے۔

**وَمُرْسٰهَآ** : اَیْ اِرْسَاءُ هَا ۔ ودریدل ددے۔ ضحاك وائی چه کله چه به هغهٔ اراده وکړه چه کشتئ ودریږی نو بسم الله به ئے وویله نو ویه دریده او چه کله به ئے غوښتل چه روانه شی نو بسم الله ویلو سره به روانه شوه۔ (بغویؒ، وفتح البیان)

**وَهِیَ تَجْرِیْ بِهِمْ** : کله چه نوح علیه السلام او د هغهٔ مسلمانان ملګری بسم الله وئیلو سره سوارهٔ شو، نو کشتئ د غرونو په شان د چپو په مینځ کښ روانه شوه۔ په هغه وخت کښ نوح علیه السلام خپل ځوی ته آواز اُوکړو چه د کافر کیدو په وجه سره په کشتئ کښ نهٔ وو سور شوے چه اے زما ځویه ! اُوس هم موقعه شته چه زمونږ په دین کښ داخل شه، او مونږ سره په کشتئ کښ سور شه، او د کافرانو سره مهٔ ملګرے کیږه۔

**کَالْجِبَالِ**: اهل سیرت وائی چه اُوبه د غرونو سرونو نه تر څلویښتو ګزونو پورے پورته شوے۔ ځینی وائی : پنځلس ګزه تر دے چه هر شے ئے پټ کړو او ټول انسانان او ټولو ښارونو ته ورسیدے۔ او کوم مفسرین چه وائی چه اُوبه د آسمان او د زمکے په مینځ کښ یو طبق شوے او کشتئ پکښ د ماهی په شان روانه وه نو دا خبره نهٔ ده ثابته۔ (فتح البیان)

**وَنَادٰی**: دا آواز روستو شویدے او عذاب مخکښ ذکر شو ځکه چه د عذاب ذکر کول د یره ولو دپاره مقصودی وو۔

**وَنَادٰی نُوْحُ نِ ابْنَهٗ**: ددے ځوی نه کنعان مراد دے۔ ددے آواز کولو نه معلومیږی چه دهٔ ته معلوم وو چه دا کافر دے نو مقصد ئے دا وو چه پدے سخت وخت کښ ورته دعوت ورکړی چه راشه ایمان راوړه او مونږ سره ملګرے شه او د کافرانو ملګرتیا پریده۔ لیکن د روستو نه معلومیږی چه دا منافق وو نو نوح علیه السلام ګمان وکړو چه دا مؤمن دے۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : دا ئے خپل سکه (د شا نه پیدا شوئے) ځوی وو لیکن د هغه نه په نیت او عمل کښ مخالف وو۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| قَالَ سَاٰوِیْۤ اِلٰی جَبَلٍ یَّعْصِمُنِیْ مِنَ الْمَآءِ ط |
| اُووئیل هغه زر دے چه پناهی به اُونیسم غر ته چه بچ به کړی ما لره ددے اُوبو نه، |
| قَالَ لَا عَاصِمَ الْیَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ج |
| اُووئیل نوح نشته بچ کونکے نن ورځ د عذاب د الله نه مګر هغه ذات چه رحم کوی |

وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾

(يعنى الله تعالىٰ) او پرده شوه په مينځ د دواړو کښې چې نو شو د غرق کړے شوو نه۔

**تفسير**: هغهٔ جواب وکړو چه زهٔ به يو غر ته وخيژم او پناه به واخلم، او د ډوبيدو نه به بچ شم، (د الله په طاقت ئے يقين نهٔ وو) نو نوح ﷺ ووئيل چه نن ورځ د الله د عذاب نه به صرف هغه څوك بچ كيږى چه په هغهٔ باندے الله تعالىٰ خپل رحم او کرم وکړى او د هغه رحم نن ورځ صرف د مؤمنانو پورے خاص دے۔ د پلار او ځوى تر مينځ ددے خبرو اترو نه روستو يوه لويه هيبتناكه چپه راپورته شوه چه هغے کنعان راونيولو او ډوبيدو سره هلاك شو۔

**سَاٰوِىْ**: اَىْ سَاَلْتَجِئُ وَاُصَيِّرُ ۔ يعنى زهٔ به پناه هى ويسم او ورو به ګرځم غر ته۔ ددهٔ ګمان دا وو چه دا به د عامو اوبو او سيلابونو په شان وى چه انسان به ترے په غر کښې بچ کيدے شى۔ نو څکه ورته نوح ﷺ حقيقتِ حال بيان کړو او د دغه باطل فکر نه ئے د اړولو كوشش وكړو۔

**لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ** : د عاصم نه مراد بچ کونکے دے، او د (امر الله) نه مراد عذاب دے او تعبير ئے ترے په امر سره وکړو دپاره د تعظيم د شان او يره ولو چه دا عذاب د الله په امر سره راغلے دے نو ددے نه هيڅوك اړونکے نشته سوىٰ د هغه الله نه چه رحم كوى۔

**اِلَّا مَنْ رَّحِمَ**: ١ – دا استثناء متصل ده او (مَنْ رَحِمَ) نه مراد همدغه الله دے۔ اَىْ لَا عَاصِمَ اِلَّا اللّٰهُ الرَّاحِمُ ۔ (بغوىؒ) يعنى هيڅوك بچ کونکے نشته د عذاب د الله نه مګر همدغه الله بچ کونکے دے کوم چه رحم کوى۔ يعنى ته خو غر ته بچ کونکے وائے، خو هغه بچونکے نشى كيدے، بلكه الله بچ کونکے دے چه هغه رحم کوى او الله تعالىٰ رحم په كافر نهٔ كوى۔

٢ – بعض مفسرين وائى چه عاصم په معنىٰ د معصوم سره دے لكه (دَافِق) په معنىٰ د (مَدْفُوْق) سره او (عِيْشَةٌ رَاضِيَةٌ) په معنىٰ د (مَرْضِيَّةٌ) سره، او (مَنْ رَحِمَ) نه مراد (مَنْ رَحِمَهُ اللهُ) دے۔ يعنى نشته خلاص كړے شوے نن ورځ د عذاب د الله نه مګر هغه څوك چه الله تعالىٰ پرے رحم وكړى۔ دا قول ابن جريرؒ او زمخشرى غوره كړيدے او قاضى ئے تابعدارى كړيده او دغه شان ابن القيمؒ په بدائع التفسير كښې غوره كړيدے۔ (بغوىؒ وفتح البيان)

٣ – ځينى وائى چه عاصم فاعل ذُوْكَذَا دے، د تَامِرٌ او لَابِنٌ په شان۔ اَىْ ذُوْ عِصْمَةٍ۔ يعنى نشته دے بچ كيدونكے نن ورځ د عذاب د الله تعالىٰ نه مګر هغه څوك چه الله پرے رحم

وکړی. هغه به بچ شی. (فتح البیان)

٤ - یا استثناء منقطع دهٔ اُی لکن مَنْ رَحِمَهُ اللّٰهُ فَهُوَ یَعْصِمُهُ. لیکن هغه څوك چه الله پرے رحم وکړی نو الله به هغه لره بچ کړی. (فتح البیان)

| |
|---|
| وَقِيلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِىْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِىْ وَغِيْضَ |
| او اُووئیلے شو اے زمکے تیرے کړه اُوبه خپلے او اے آسمانه بندے کړه اُوبه او وچے شوے |
| الْمَآءُ وَقُضِىَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِىِّ |
| اُوبه او فیصله اُوشوه د کار (د دوی) او برابره شوه کشتئ په جودی غر باندے |
| وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ |
| او اُووئیلے شو هلاکت دے قوم ظالمانو لره. |

**تفسیر** : کله چه ټول زمکےوالا ډوب شو او هیڅ ژوندے فرد پاتے نهٔ شو نو الله تعالیٰ زمکے ته حکم وکړو چه کومے اُوبه پدے باندے دی دا فوراً وڅکی، او آسمان ته ئے حکم وکړو چه باران بند کړه. نو بس اُوبه وچے شوے او د الله فیصله پوره شوه، چه څوك ئے بچ کول غوختل هغه ئے بچ کړل او څوك ئے چه هلاکول غوختل هغه ئے هلاك کړل. کله چه اُوبه کمے شوے او د غرونو سرونه ښکاره شو نو کشتئ په جودی غر باندے ودریده چه دا موصل ښار ته نزدے واقع دے. او د الله د طرف نه اعلان اُوشو چه اُوس د ظالمانو نه زمکه پاکه شوه ((خس کم جهان پاك)).

عبد الرحمن بن خلدونؒ لیکلی دی : د اهل علمو اتفاق دے چه د طوفان په وجه په زمکه وسیدونکی ټول خلق هلاك شوی وو، او کوم مسلمانان چه د نوح علیه السلام سره په کشتئ کښې سوارهٔ شوی وو، د هغوی هم هیڅ اولاد ونشو. صرف د نوح علیه السلام د درے ځامنو نسل روان شو، پدے وجه نوح علیه السلام ته آدم ثانی (دویم آدم) وائی. مقریزیؒ په خپل کتاب ((الخطط)) کښې هم د ټولو دینونو والو نه پدے اتفاق نقل کړیدے. (فتح البیان ۳/ ۳۲۱)

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبَاقِيْنَ﴾ (الصافات : ۷۷)

مونږ صرف د هغهٔ اولاد باقی پریخودل.

نوح علیه السلام کشتئ ته په لسم د رجب ختلے وو او بیا ترے په لسم د محرم د عاشورے په ورځ

راكوز شو، شپږ مياشتے په كشتئ كښ وو. نو هغه د الله تعالىٰ د شكر په طور پدے ورځ روژه ونيوله نو دا سنت جوړ شو لكه رسول الله ﷺ هم دا روژه مسنون گرځولے ده، او عامو انبياء عليهم السلام ته الله تعالىٰ د عاشورے په ورځ نجات وركړيدے، بهترينه ورځ ده. دوى په زمكه آباد شو او الله تعالىٰ ورته په رزقونو او نسلونو كښ بركات واچول او د هغوى نه انسانيت راخور شو.

اَبْلَعِىْ : يعني تيرے كړه. بلع په اصل كښ اُويه تيرولو او راښكلو او وچولو ته وائى.

وَقُضِىَ الْاَمْرُ: يعنى فيصله د كار وشوه چه ايمان والو ته نجات ملاؤ شو او كافران هلاك شو.

**فائده** : مفسرين ليكى چه [اَفْصَحُ آيَةٍ وَاَبْلَغُهَا فِى الْقُرْآنِ]. دا آيت په ټول قرآن كريم كښ ډير لوى فصاحت او بلاغت والا دے ځكه چه د علم البديع نه يويشت (۲۱) انواع ئے راگير كړيدى سره ددے نه چه كلمات ئے نولس (۱۹) دى. چه د هغے بيان ځينو مفسرينو تفصيلا كړيدے لكه ابوحيان محمد بن يوسف الامام الاندلسىؒ په تفسير «النهر الماد من المحيط» او سيد محمد بن اسماعيل بن صلاح الامير په خپله رساله «النهر المورود» كښ، او صاحب د «فتح البيان» او ابن عاشورؒ د سكاكىؒ نه نقل كړيدى چه پدے كښ څلورو طريقو سره بحث دے اول د جهت د علم البيان نه چه پدے كښ مجازات او استعارات دى. دويم د جهت د علم المعانى نه چه په هره كلمه كښ ئے د تقديم او د تاخير فوائد دى. او دريم او څلورم د جهت د فصاحت معنوى او لفظى نه دے. چه د هغے څه بيان نسفىؒ په «تفسير المدارك» كښ كړيدے، دا خو صرف انسانانو معلوم كړيدے، د الله تعالىٰ په نيز پدے كښ هم ددے نه زيات كمال دے.

په لنډ آيت كښ ئے اُوږد درياب د كلام راجمع كړيدے، چه د هغے بعض وضاحت ابن عاشورؒ نقل كړيدے، طالبان د علم دِے هغے ته رجوع وكړى.

## قصه

عبد الله بن المقفع يو كافر وو چه د قرآن كريم د مقابلے خبرے به ئے كولے او دے ماهر شاعر او كاتب وو، چا ورته ووئيل چه د قرآن مقابله وكړه مونږ به مال دركړو، نو هغه ته ئے خرچه وركړه هغه كال پورے خوارى وكړه يو عبارت ئے جوړ كړو، چه كيدے شى چه دا عبارت به د قرآن د يو آيت مقابله وكړى. نو بهر چه راووتو د قرآن د يو قارى نه ئے دا آيت واوريدو نو

د هغه غور ته الله تعالیٰ دا آیت ورسولو نو هغه خپله پانړه وشوکوله او وے ویل چه ددے مقابله هیڅوك نشی کولے۔ انتهیٰ۔ (پدے باندے زمونږ په شان خلك نۀ پوهیږی بلکه هغه خلك چه د فصاحت او بلاغت په دروازه ورننوتے وی او د کلام د صنعتونو او ایجازونو او استعاراتو او تشبیهاتو، او جناسونو او اسهاب او تطویل، او اقتضاب او تخلص نه خبر وی۔ عرب پدے باندے په خپلے سلیقے سره پوهیدل)۔

| |
|---|
| وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِیْ |
| او آواز اُوکړو نوح (علیه السلام) رب خپل ته نو وے وئیل اے ربه زما! یقیناً ځوی زما |
| مِنْ اَهْلِیْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿٤٥﴾ |
| د اهل زما نه وو او یقیناً وعده ستا حقه ده او تۀ ښه فیصله کونکے ئے د فیصله کونکو نه۔ |
| قَالَ یٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ ج اِنَّهٗ |
| اُووئیل الله اے نوح! یقیناً دا نۀ دے ستا د اهل نه (ځکه تابعدار دِے نۀ دے) یقیناً دا |
| عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ ق صلے فَلَا تَسْئَلْنِ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ط |
| عمل دے نۀ دے نیك، نو مۀ غواړه ما نه هغه څه چه نشته ستا په هغے باندے علم |
| اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ |
| یقیناً زۀ منع کوم تا لره چه نشے د ناپوهانو نه۔ اُووئیل هغۀ اے ربه زما! یقیناً زۀ |
| اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْئَلَكَ مَا لَیْسَ لِیْ |
| پناهی طلب کوم په تا سره ددے نه چه سوال اُوکړم تا نه د هغه څه چه نۀ وی زما |
| بِهٖ عِلْمٌ ط وَاِلَّا تَغْفِرْلِیْ وَتَرْحَمْنِیْۤ |
| په هغے باندے علم او که بخنه اُونکړے تۀ ما ته او رحم اُونکړے په ما باندے |
| اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿٤٧﴾ |
| نو شم به زۀ د تاوان والو نه۔ |

**تفسیر**: د نوح (علیه السلام) په یوه خبره ذهن کولاؤ نۀ وو پدے وجه د الله تعالیٰ نه یو سوال کوی

په ډیر ادبي انداز سره فرمائي چه اے زما ربه! زما ځوی زما د کور والو نه دے، او ستا وعده حقه ده، ته احکم الحاکمین ئے په تا باندے اعتراض نهٔ وی، تا راته ویلی وو چه ستا کور والا به بچ کوم او زما دا ځوی بچ نشو نو ددے څه وجه ده او پدے کښې څه حکمة وو، زهٔ پدے نهٔ پوهیږم؟

صاحب د فتح البیان ددے داسے مطلب بیانوی چه اے زما ربه! زما ځوی زما د کور والو نه دے او ستا وعده حقه ده، تا راته ویلی وو چه خپل کور والا هم په کشتئ کښې سوارهٔ کړه دے دپاره چه ټول د طوفان نه بچ شی نو نن تهٔ دهٔ ته توفیق ورکړه چه ایمان راوړی او مونږ سره په کشتئ کښې سور شی۔

نو دا آواز د نوح ﷺ د کشتئ د روانیدو نه مخکښې او د چپے د راتللو نه مخکښې وو، او دا سوال په باره د ځوی کښې وو چه په هغه باندے ئے شفقت راغلو نو د الله تعالیٰ نه ئے وغوښتل چه دهٔ ته هدایت وکړی ځکه چه نوح ﷺ دا ګمان کولو چه دا د مؤمنانو نه دے، نو کیدے شی چه کشتئ ته راوخیژی۔

صاحب المنار او صاحب د فتح البیان وائی: همدا خبره معقوله ده۔ (المنار وفتح البیان)

که د صاحب المنار او صاحب د فتح البیان خبره واخستے شی، نو مطلب د آیت به داسے جوړیږی: الله تعالیٰ نوح ﷺ ته خپله حتمی فیصله بیان کړه چه اے نوح! هغه ایمان نهٔ راوړی، ځکه چه هغه ستا د کور والو نه نهٔ دے، ستا کور والا خو د دین او د شریعت پابند او دیندار او صلاح والا خلق دی، او دا صالح نهٔ دے، پدے وجه دے به د طوفان نه نهٔ بچ کیږی۔

**اِنَّهٗ لَیۡسَ مِنۡ اَهۡلِكَ** : ۱- اَیۡ لَیۡسَ مِنۡ اَهۡلِ دِیۡنِكَ ۔ یعنی دا ستا د دین والو نه نهٔ دے ځکه چه اهل هغے ته وائی چه ستا تابعدار وی۔

۲- لَیۡسَ مِنۡ اَهۡلِكَ الَّذِیۡنَ وُعِدۡتَّ اِنۡجَاءَ هُمۡ وَاِنۡ کَانَ مِنۡ اَهۡلِكَ بِاِعۡتِبَارِ الۡقَرَابَةِ)

یعنی دا ستا د هغه اهل نه نهٔ دے چه تا سره د هغے د نجات وعده شویده۔ اګرکه په اعتبار د نسب سره ستا د اهل نه دے۔ یعنی دا په (اِلَّا مَنۡ سَبَقَ عَلَيۡهِ الۡقَوۡلُ) کښې داخل دے۔ او دا مطلب نهٔ دے چه دا ستا د شا نه نهٔ دے پیدا بلکه ولدِ زنا دے۔

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: (مَا بَغَتِ امۡرَاَةُ نَبِیٍّ قَطُّ) د هیڅ نبی ښځے زنا چرته هم نهٔ ده کړے۔ ځکه چه پدے سره په منصب د نبوت باندے داغ پریوزی او د طعن ګوتے ورته اشاره کیږی۔ (المنار والفتح)

**اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیۡرُ صَالِحٍ** : ۱- انه ضمیر دغه ځوی ته راجع دے اِیۡ اِنَّهٗ ذُوۡ عَمَلٍ غَیۡرِ صَالِحٍ ۔

(قرطبیؒ والمنار وغیره) یعنی دغه ستا څوی خاوند د عمل دے چه نهٔ دے نیك. یعنی بد عمله دے. ځکه مے هلاك کړو. او په څوی باندے د عمل اطلاق داسے دے لکه د زید عدل په شان چه ددهٔ په ذم (یعنی بدی بیانولو) کښې زیاته مبالغه ده. یعنی دا بد عمله شخص داسے دے لکه چه سو چه او عین بد عمل وی. لیکن دا ظاهر نهٔ دے.

۲- بل قراءت کښې دی: اِنَّهٗ عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ) یعنی دهٔ عمل کړیدے داسے عمل چه نهٔ دے نیك.

۳- ظاهر دا ده چه ضمیر د نوح علیه السلام سوال ته راجع دے. یعنی ستا دا سوال داسے عمل دے چه نیك نهٔ دے او دا مطلب نهٔ دے چه ګناه ده. او دا ډیره کمالی جمله ده ځکه چه د پیغمبر هر عمل نیك وی نو الله ورته وائی چه دا یو عمل دِے داسے وکړو چه نیك نهٔ دے او چه نیك نهٔ وی نو ددے په مقابله کښې یا ګناه راځی یا مباح وی. نو دلته ددهٔ دا عمل مباح دے ځکه چه په الله تعالیٰ ئے اعتراض نهٔ دے کړے بلکه د حکمة د معلومولو تپوس ئے کړے. او دا تفسیر د قتادهؒ دے.

او بیا سیوطیؒ او قرطبیؒ وغیره ذکر کړیدے او تائید ئے دا دے چه د ابن عباس رضی الله عنه پدے کښې داسے فرمایلی دی: [ مَسْأَلَتُكَ اِيَّایَ يَا نُوْحُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ لَا اَرْضَاهُ لَكَ]

ستا تپوس زما نه اے نوحه! داسے عمل دے چه نهٔ دے صالح زهٔ ئے ستا دپاره نهٔ خوښوم. یعنی دا عمل دے ناخوښنه دے. (فتح البیان والسعدی والمنار)

یا صالح معنیٰ ده برابر، او د واقع مطابق. یعنی دا سوال یو داسے عمل دے چه په ځای باندے برابر نهٔ دے چه د هغے قبول والے وشی (اَیْ عَمَلٌ غَيْرُ مَقْبُوْلٍ) یعنی د قبلولو لائق نهٔ دے، ځکه چه کافر ته نجات نهٔ ملاویږی.

**فائده**: صاحب المنار لیکی: دا درے آیتونه په یوه فرعی مسئله کښې راغلی دی د قصے د نوح علیه السلام نه او د قصے د ذات او اصولی واقعاتو سره تعلق نهٔ لری پدے وجه دا درے واړه آیتونه د قصے په مینځ کښې ذکر نشو دے دپاره چه د قصے زړه تهنګونکے تاثیر کمزورے نشی، بلکه پدے کښې د عقائدو او اصول الدین نه دوه عقیدے ذکر دی.

(۱) اوله دا چه د الله تعالیٰ فیصله او د هغه عدل او سنت په مخلوق کښې دا دے چه د خپلے فیصلے په باب کښې د هیڅ ولی او نبی لحاظ نهٔ ساتی. (ځکه چه الله تعالیٰ غنی ذات دے) (۲) د انبیاؤ علیهم السلام دپاره اجتهاد شته او په هغے کښې خطائی هم واقع کیدل ممکن دی (او په هغے باندے الله تعالیٰ انبیاء علیهم السلام ته اجر هم ورکوی، او چه

خطاء شي نو الله تعالیٰ ورته تنبیه ورکوی)۔ (المنار۱۲/۶۹)

فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ : پدے کښې یو قسم زورنه ده چه تا له ددۀ په باره کښې فکر کول پکار دی، او ددۀ سفارش نۀ دے پکار ځکه چه دا خو کافر دے۔

اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ : الله تعالیٰ نوح علیه السلام ته خبردارے ورکړو چه د کوم مقصد پوره حق کیدلو تا ته علم نۀ وی نو د هغې په باره کښې د الله نه تپوس مۀ کوه ځکه چه داسے کول د ناپوهو عادت وی۔

علماؤ ددے نه دلیل نیولو سره وئیلی دی چه کله یو سړی ته د یوے خبرے علم نۀ وی چه دا به د شریعت مطابق وی او که نۀ نو د هغې دعا نۀ دی کول پکار۔ (فتح البیان)

۱ - اِنِّیْ اَمْنَعُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجَاهِلِیْنَ بَلْ اُرِیْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْكَامِلِیْنَ۔

زۀ تا ددے نه منع کوم چه د ناپوهو نه وګرځې بلکه زۀ غواړم چه تۀ د کاملو نه وګرځې۔

۲ - وعظ کښې معنیٰ د منع کولو ده یعنی زۀ تا ددے نه منع کوم دے دپاره چه ته د ناپوهو خلکو نه نۀ شے۔

صاحب د فتح البیان وائی : په آیت کښې هیڅ داسے خبره نشته چه دلالت وکړی په صدور د ګناه د نوح علیه السلام نه سویٰ ددے نه چه هغه تاویل وکړو او د داسے شي سوال باندے ئے اِقدام وکړو چه هغه ته پکښې اجازه نۀ وه ورکړے شوے او دا هیڅ ګناه او معصیت نۀ دے۔

او د انبیاء علیهم السلام مقام ډیر اُوچت وی پدے وجه نوح علیه السلام به په قیامت کښې ددے سوال نه هم یره کوی او انسانانو ته به دا وائی چه زۀ ستاسو سفارش نشم کولے ځکه چه ما له د الله تعالیٰ نه حیاء راځی ځکه چه ما ترے دنیا کښې د ځوی دپاره سوال کړے وو۔

قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ: هرکله چه نوح علیه السلام پوهه شو چه زما سوال د واقع مطابق نۀ دے، او دا دعاء د یو ګمان نه راپیدا شوے وه چه هغه ئے ګمان کولو نو په جلتئ سره د خپلے خطاء نه ئے رجوع وکړه او د الله تعالیٰ نه ئے د مغفرت او رحمت سوال وکړو۔ او دا مباح سوال ورته ډیر عظیم ښکاره شو ځکه چه د انبیاء علیهم السلام شان ډیر اُوچت وی۔

| |
|---|
| قِیْلَ یٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ |
| ووئیلے شو اے نوحه ! کوز شه په سلامتیا سره زمونږ د طرفنه او په برکتونو سره |

| |
|---|
| عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ط |
| په تا باندے او په ډلو باندے (چه پيدا كيږى به) د هغه چا نه چه ستا سره دى، |
| وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ |
| او نور ډير امتونو به وى زردے چه فائدے به وركړو هغوى ته (په دنيا كښ) |
| ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤٨﴾ |
| بيا به رسيږى هغوى ته زمونږ د طرف نه عذاب دردناك۔ |

**تفسير** : كله چه كشتئ په جودى غر باندے ودريده، نو الله تعالىٰ نوح عليه السلام ته ووئيل چه اُوس په سلامتيا سره زمكے ته كوز شه، په تا باندے او ستا په څه ملګرو مسلمانانو به د الله تعالىٰ د رحمتونو او بركتونو سورے وى۔ او د دوى نه به څه نسلونو كښ داسے خلق پيدا كوم چه روستو زمانه كښ به د كفر لاره اختياروى او د هغوى آخرى مقصود به د دنيا عيش او آرام وى، نو مونږ به هغوى ته ددے نه د فائدے پورته كولو موقعه وركوو، ليكن آخر به دوى ته دردناك عذاب رسيږى۔

بِسَلٰمٍ مِّنَّا : يعنى په سلامتيا او امن سره كوز شه، يعنى په تاسو به هيڅ عذاب نهٔ راځى ځكه چه عذابونه زما په واك كښ دى۔ او پدے كښ اشاره وه چه هركله عذاب په ټوله زمكه راغلے وو نو دهٔ سوچ كولو چه په زمكه كښ هيڅ ګياه ګانے او حيوانات نشته چه د هغے نه فائده واخلى نو داسے شو لكه يريدونكے چه څنګه ژوند به تيروى؟ نو الله تعالىٰ ورله تسلى وركړه او د سلامتيا اعلان ئے ورته وكړو۔ او سلامتيا په امن او فراخه رزق سره حاصليږى۔ (فتح البيان)

وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ : يعنى تا له به الله تعالىٰ خيرونه او هميشه پاتے كيدونكى نعمتونه دركوى، او ستا نسلونه به زياتوى او رزقونه به درله فراخوى، د هغے بركت دا وو چه په دنيا كښ چه دا څو مره انسانان تهٔ ګورے نو دا د هغهٔ د نسل نه راخوارهٔ شو، او دنيا ئے ډكه كړه۔

عَلَيْكَ : اشاره ده چه د هغهٔ توبه قبوله شوه او مغفرت ئے وشو او د تاوان نه خلاص شو او د الله تعالىٰ د طرفنه زيرى وركړے شو په مختلفو انواعو د خيرونو سره۔

وَعَلٰٓى اُمَمٍ : يعنى ستا د بچو نه به نور داسے نسلونه پيدا كيږى چه هغوى به مؤمنان وى، هغوى ته به هم الله تعالىٰ سلامتيا او فراخه رزقونه وركوى۔

محمد بن كعب القرظيؒ فرمائی : پدے سلام او برکاتو کښې هر مؤمن سړے او هره مؤمنه ښځه تر قیامته پورے داخل دی۔ او په دغه عذاب الیم کښې هر کافر او کافره ښځه تر قیامته پورے داخل دی۔

وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ : یعنی ستا په نسل کښې به نور کافر امتونه هم پیدا کیږی چه دنیا کښې به خو فائدے واخلی لیکن نتیجه به ئے عذاب وی۔

| |
|---|
| تِلْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ج مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ |
| دا (چه بیان شو) د خبرونو د غیبو نه دی چه وحی کوو مونږ د هغے تا ته، نهٔ پوهیدے تهٔ په هغے |
| اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ط فَاصْبِرْ ط اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٩﴾ |
| تهٔ او نهٔ قوم ستا مخکښې ددینه، نو صبر کوه یقیناً ښهٔ انجام متقیانو لره دے۔ |

**تفسیر** : ددے آیتِ کریمه نه د نبی کریم ﷺ د رسالت تصدیق کیږی۔ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ مخاطب کړو وے فرمایل چه د نوح علیه السلام او د هغهٔ د قوم د واقعاتو خبر تا ته او ستا قوم ته بالکل نهٔ وو، دا ټول تفصیلات تا ته د وحی په ذریعه معلوم شویدی، او دا دلیل دے ددے خبرے چه نبی ﷺ د الله تعالیٰ نبی او رسول وو۔

دے نه روستو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته نصیحت وکړو چه د دعوت او تبلیغ په لاره کښې چه تا ته کوم تکلیف رسیږی په هغے باندے د نوح علیه السلام په شان د صبر نه کار اخله، او د یقین سره خپله ذمه واری ادا کوه ځکه چه په دنیا کښې به فتح او کامیابی او په آخرت کښې همیشه نعمت به مونږ هغه بندګانو ته ورکوو چه د تقویٰ لاره اختیاروی۔

مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا : یعنی تهٔ په هغے باندے تفصیلاً خبردار نهٔ وے، ځکه چه دا قصه ټولو پیرو ته اجمالاً معلومه وه۔

وَلَا قَوْمُكَ : دائے ورسره ذکر کړل اشاره ده چه ستا قوم سره د ډیر والی نه هرکله چه دوی دا قصه تفصیلاً نهٔ ده آوریدلے نو یو تن به ئے څنګه واوری سره ددینه چه د چا سره یو ځای شوے هم نهٔ دے، معلومیږی چه دا ورته وحی شویده۔

مِنْ قَبْلِ هٰذَا: یعنی مخکښې د وحی یا د قرآن یا ددے وخت نه۔

الْعَاقِبَةَ: یعنی بهترین انجام په دنیا او آخرت کښې تقویٰ والو لره دے، پدے کښې رسول الله ﷺ نه تسلی او هغه ته زیرے ورکول دی چه کامیابی په انجام کښې ستا په نصیب ده،

ابتداء له اعتبار نشته۔ (فتح)

| |
|---|
| وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ط قَالَ يٰقَوْمِ |
| او (لیږلے وو مونږ) عادیانو ته ورور د هغوی هود (علیه السلام) اُووئیل دهٔ اے قومه زما ! |
| اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط اِنْ اَنْتُمْ |
| بندګی اُوکړئ د الله، نشته تاسو لره څوك حقدار د بندګئ سوئ د هغهٔ نه، نهٔ یئ تاسو |
| اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰقَوْمِ لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ط اِنْ |
| مګر دروغ جوړوئ۔ اے قومه زما ! نهٔ غواړم ستاسو نه پدے بیان مزدوری، نهٔ ده |
| اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ط اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ |
| مزدوری زما مګر په هغه ذات چه پیدا کړے ئے یم زهٔ، آیا نو عقل نه کار نهٔ اخلئ۔ |

**تفسیر :** دلته نه د الله تعالیٰ د بل نبی هود علیه السلام او د هغهٔ د قوم واقعه شروع کیږی۔

عاد د یو سری نوم وو بیا د قبیلے دپاره نوم وګرځیدو، د نوح علیه السلام او د هود علیه السلام ترمینځ اته سوه (۸۰۰) کاله وو او د هود علیه السلام په دنیا کښ څلور سوه څلور شپیته (۴۶۴) کاله عمر وو۔(فتح البیان) صاحب المنار لیکی چه د نوح علیه السلام د قوم د هلاکت نه روستو اولنے رسول اول امت ته هود علیه السلام راغلے دے، او دا اولنے شخص وو چه په عربی ژبه ئے تکلم کړیدے او ددے امت آخری رسول (محمد رسول الله ﷺ) هم عربی دے۔ (المنار۱۲/۹۵)

الله تعالیٰ د عادیانو د هدایت دپاره هود علیه السلام لیږلے وو چه د هغوی نه وو۔ دے خلقو به د بتانو عبادت کولو۔ د دوی واقعه په سورة الاعراف (۶۵) نه تر (۷۵) پورے په تفصیل سره تیره شویده۔ هود علیه السلام دوی ته وویل، اے زما د قوم خلقو ! د الله تعالیٰ عبادت وکړئ چه د هغهٔ نه سوئ هیڅ معبود نشته دے۔ او تاسو چه هغه پریدئ او د بتانو عبادت کوئ نو دا ډیر غټ دروغ جوړول دی، ځکه چه الله تعالیٰ تاسو ته هیڅ کله نهٔ دی وئیلی چه د هغهٔ په ځای په خپلو لاسونو د تراشلی شوی بتانو عبادت وکړئ۔

**يٰقَوْمِ :** او اے زما د قوم خلقو ! ددے دعوت او تبلیغ په کار باندے زهٔ تاسو نه څه اجرت هم نهٔ غواړم چه ستاسو شك پیدا شی چه زهٔ د کوم دنیاوی غرض د خاطره تاسو الله تعالیٰ طرف ته رابلم، زما اجر خو به هغه الله تعالیٰ راکوی چه زهٔ ئے پیدا کړے یم۔ آیا ستاسو په

پوهه کښ دومره خبره هم نۀ راځی چه زما په لالچه دعوت زما د رشتینوالی دلیل دے۔ نو بس تاسو له زما منل پکار دی۔

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْآ اِلَيْهِ يُرْسِلِ |
| او اے قومه زما! بخښنه غواړئ د رب خپل نه بیا توبه وباسئ هغۀ ته، راوبه لیږی |
| السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً |
| باران په تاسو چپے چپے (ډیر د ضرورت مطابق) او زیات به کړی تاسو لره طاقت |
| اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا |
| د طاقت ستاسو سره، او مۀ اوړئ مجرمان۔ اُووئیل دوی اے هود! نۀ ئے راغلے تۀ مونږ ته |
| بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ |
| په ښکاره دلیل او نۀ یو مونږ پریخودونکی معبودان خپل د وجے د وینا ستا نه |
| وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٣﴾ |
| او نۀ یو مونږ ستا په خبره یقین کونکی۔ |

**تفسیر**: د توحید د دعوت نه روستو هود علیه السلام هغوی ته د الله تعالیٰ د توبے او د استغفار دعوت ورکړو او وے وئیل چه که تاسو د شرك نه توبه وباسئ او د الله په دین باندے عمل شروع کړئ نو هغه به ستاسو په فصلونو او باغونو ښۀ باران وکړی، او د مال او اولادو په ذریعه به ستاسو په قوت کښ زیادت وکړی۔ دا خلق د فصلونو او باغونو والا وو او د ډیر مضبوط جسمانی قوت مالکان وو۔

پدے وجه الله تعالیٰ دوی ته د ډیر باران او د قوت د زیاتوالی وعده کولو سره د ایمان ترغیب ورکړو۔ دے نه روستو ئے ووئیل چه ګورئ که تاسو زما د دعوت نه اعراض کوئ او په خپل کفر باندے همیشوالے کوئ نو د الله په نظر کښ به تاسو د لویو مجرمانو نه شئ۔

اسْتَغْفِرُوْا: استغفار د ګناه نه دے په ژبه سره او توبه په طاعت شروع کولو سره ده۔ یعنی الله تعالیٰ غټ غټ بدنونه او نعمتونه درکړیدی نو د الله تعالیٰ طاعتونه وکړئ۔

يُرْسِلِ: اُوس ورله د دنیا لالچ ورکوی، پیغمبرانو امتونو ته د دنیا او د آخرت لالچ ورکړیدے، انسان حرصناك دے که صرف ورته ووئیل شی چه نیك عمل کوه دا د الله تعالیٰ

حق دے نو دومره اثر پرے نۀ کوی او چه کله پکښې فائده وینی نو بیا ورته منډه وهی، خو هغے سره هم یقین ضروری دے ځکه چه کله یقین نۀ وی نو فائدے به ورته بیانے شی بیا به هم عمل نۀ کوی۔

مِّدْرَارًا: اَیْ کَثِیْرَ الدُّرُوْرِ اَیِ السَّیَلَانِ وَالنُّزُوْلِ وَالتَّتَابُعِ۔ یعنی ډیر بهیدونکے، چپے چپے او پرله پسے به وی۔ (فتح البیان) مدرار هغه باران ته وائی چه بغیر د ضرر نه وی۔

صاحب المنار وائی دا په اصل کښې د کَثْرَةُ دَرِّ اللَّبَنِ نه دے یعنی د پیو ډیر راتوی کیدل۔ نو پدے تعبیر کښې اشاره ده چه پدے باران کښې به زیاتی فائدے وی، ځکه چه ډیر باران کله ضرر وی او کله عذاب وی۔

وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ: یعنی ستاسو قوت به د مخکنی قوت سره نور هم زیات کړی، وجه دا ده چه چا ته الله تعالیٰ یو نعمت ورکړی او هغه طاعت شروع کړی نو الله تعالیٰ ورله په دغه نعمت کښې ډیر والے پیدا کوی، که صحت ئے ښۀ وو نو رئے هم ښۀ کوی. که دماغ ئے ښۀ وو نورئے هم ښۀ کوی، که مال ئے ډیر وی الله ئے ورله نور هم ډیروی پدے شرط چه په بنده کښې د استغفار او د توبے ماده وی۔

## د قوت ډیر مطلبونه دی

١- شِدَّةً اِلٰى شِدَّتِكُمْ۔ د بدنونو مضبوطوالے ستاسو د مضبوطوالی سره۔ (مجاهدؒ)

٢- خِصْبًا اِلٰى خِصْبِكُمْ۔ (الضحاکؒ) سبزکالی او شینکیانے به درله نورے هم زیاتی کړی۔

٣- عِزًّا اِلٰى عِزِّكُمْ۔ ستاسو عزت به نور زیات کړی۔ (علی بن عیسیٰؒ)

٤- زجاجؒ وائی: قُوَّةً فِی النِّعَمِ۔ نعمتونو کښې به درله قوت درکړی۔

٥- عکرمۃؒ وائی: ددے نه مراد نمسی ورکول دی۔

٦- ځینی وائی: د دوی نه الله تعالیٰ درے کاله پورے باران بند کړے وو نو د دوی ښارونه قحط زده شوی وو او ښځے ئے درے کالو پورے شنډے شوے وے چه اولاد ئے نۀ راوړل نو هود علیه السلام دوی ته وویل چه که تاسو ایمان راوړو نو الله تعالیٰ به ستاسو ښارونه تازه کړی او مال او اولاد به درکړی نو دا هغه قوت دے۔ (القرطبیؒ والبغویؒ وفتح البیان والمنار)

وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ: مۀ اَوړئ زما د تابعداریٔ نه جرم او ګناه کونکی یعنی تاسو به مجرمان حساب شئ۔ حاصل معنیٰ ئے ده لَاتُعْرِضُوْا عَمَّا اَدْعُوْكُمْ اِلَيْهِ وَتُقِيْمُوْا عَلَى الْكُفْرِ مُصِرِّيْنَ عَلَيْهِ۔ زۀ چه تاسو کومے خبرے ته رابلم د هغے نه مخ مۀ اړوئ چه په کفر باندے

همیشه پاتے کیږئ۔

قَالُوۡا يٰهُوۡدُ مَا جِئۡتَنَا : لیکن هغوی د کبر او عناد په وجه د تمامو دلائلو او براهینو نه چورلتې انکار وکړو او په پوهه سره ئے دروغ وویل چه اے هوده ! چونکه تا په خپل رشتینوالی باندے تر اُوسه پورے کوم ښکاره دلیل پیش نکړے شو پدے وجه مونږ صرف ستا په خبرو کښې راتلو سره خپل معبودان پریخودے نشو او په تا باندے ایمان راوړے نشو۔ د دوی درے باطل معبودان وو صَمود، صُداء او هَبَاء۔ د دوی په شان طرز د هر باطل پرست دے چه حق پرست ته وائی چه تا صریح دلیل پیش نکړو۔

| |
|---|
| اِنۡ نَّقُوۡلُ اِلَّا اعۡتَرٰىكَ بَعۡضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوۡٓءٍ ؕ |
| نۀ وایو مونږ مگر (دا چه) رسولے دے تا ته بعض معبودانو زمونږ تکلیف (د دماغو) |
| قَالَ اِنِّىۡۤ اُشۡهِدُ اللّٰهَ وَاشۡهَدُوۡۤا اَنِّىۡ بَرِىۡٓءٌ مِّمَّا |
| اُووئیل هغه یقیناً زۀ گواه کوم الله لره او گواه شئ تاسو یقیناً زۀ جدا یم د هغے نه |
| تُشۡرِكُوۡنَ ﴿٥٤﴾ مِنۡ دُوۡنِهٖ فَكِيۡدُوۡنِىۡ جَمِيۡعًا ثُمَّ |
| چه تاسو ئے د الله سره شریکان جوړوئ۔ سوئ د الله نه نو چل جوړ کړئ ما ته ټول بیا |
| لَا تُنۡظِرُوۡنِ ﴿٥٥﴾ اِنِّىۡ تَوَكَّلۡتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّىۡ |
| مهلت مۀ راکوئ ما ته۔ یقیناً ما ځان سپارلے دے په الله باندے چه رب زما دے |
| وَرَبِّكُمۡ ؕ مَا مِنۡ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ؕ |
| او رب ستاسو دے، نشته هیڅ ژوندے سر مگر الله نیونکے دے تندے د هغے |
| اِنَّ رَبِّىۡ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿٥٦﴾ |
| یقیناً رب زما په لاره نیغه دے۔ |

**تفسیر** : اِنۡ نَّقُوۡلُ اِلَّا اعۡتَرٰىكَ : قول دلته په معنیٰ د عقیدے او گمان سره هم دے، او په معنیٰ د وینا سره هم۔ او اعتریٰ معنیٰ ده نازلیدل، راپیش کیدل او مخے ته راوتل او رسولو ته وائی۔ او سوء نه مراد لیونتوب دے اَیۡ اَصَابَكَ بِجُنُوۡنٍ ۔ یعنی مونږ خو دا گمان کوو چه تۀ زمونږ د معبودانو کوم عیب بیانوے، پدے وجه زمونږ کوم معبود تۀ لیونے کړے ئے چه

د هغې په نتيجه كښې تهٔ داسې د ګمراهئ خبرې کوې، ستا نه ئې بدله اخستې ده.
هود ﷺ جواب ورکړو چه د هغې نه معلوميږي چه هغهٔ ددې كافرانو د خبرو هيڅ پرواه ونكړه، او وې ويل چه زما اعتماد صرف په الله دې، هغه به زما حفاظت كوي او تاسو ټول په شريكه به زما يو ويخته هم بې ځاى نكړئ. دې نه روستو ئې ووئيل : زهٔ الله ګواه كوم او تاسو هم ګواه اُوسئ چه زهٔ ستاسو د شرك او ستاسو د معبودانو نه بالكل برى يم، چه دوى هيڅ نشى كولې، د دوى په لاس كښې هيڅ طاقت نشته. اُوس تاسو خپل ټول طاقت ولګوئ او زما خلاف چه كوم سازش كول غواړئ نو وكړئ او ما له هيڅ مهلت مهٔ راكوئ.
بَرِيۡٓءٌ : أَىْ بَرِىءٌ مِنْ عِبَادَتِهِمْ، وَمِنْ قُوَّتِهِمْ وَمِنْ اِصَابَتِهِمْ. يعنى زهٔ د دوى د عبادت او د دوى د قوت او د دوى د مصيبت رسولو نه بيزاره يم.
مِنۡ دُوۡنِهٖ : يعنى دا لا څه چه ستاسو د باباګانو دِې هم لاس راخلاص وى او ستاسو د ژوندو دِې هم راخلاص وى، تاسو چه هر څنګه غواړئ ما له ضرر راكړئ، كه ستاسو باباګان چرته څوك وهى نو ما پرې ووهئ. داسې خبره صرف نبى كولې شى چه انتهائى اُوچت توكل والا وى.
اِنِّىۡ تَوَكَّلۡتُ : يعنى ما الله ته ځان سپارلې دې، هغه به ما ستاسو د مكرونو نه بچ كوى اګركه تاسو هرڅومره زما د ضرر كوشش وكړئ.
بِنَاصِيَتِهَا: ناصيه ذ تندى نه بره ويښتو ته وائى.
امام بخارىؒ وائى : (كِنَايَةٌ عَنْ مِلْكِهٖ وَتَصَرُّفِهٖ) دا كنايه ده د الله تعالىٰ د اختيار او د هغه د تصرف نه. يعنى الله تعالىٰ چه څنګه غواړى په دوى كښې تصرف كولې شى.
صاحب د فتح البيان وائى : دا تمثيل دې دپاره د غايت تسخير او انتهائى تذليل. او د عربو عادت دا وو چه كله به ئې يو قيدى ونيولو او د هغه آزادول به ئې وغوښتل نو د هغهٔ د تندى ويښته به ئې پريكړل نو دا به نښه وه ددې دپاره چه دهٔ باندې د چا غلبه ثابته شويده. آه. (فتح البيان)
ضحاكؒ وائى : يُحْيِيهَا وَيُمِيتُهَا. يعنى هغه ژوندى كوى او هغه مړ كوى.
فراءؒ وائى : مَالِكُهَا وَالْقَادِرُ عَلَيْهَا. الله تعالىٰ ددې زنده سرو مالك دې او په هغوى باندې قادر دې. (بغوىؒ)
اِنَّ رَبِّىۡ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ: ١- اِنَّ رَبِّىْ عَلَى الْعَدْلِ فَلَا يُسَلِّطُكُمْ عَلَىَّ لِأَنِّىْ مُؤْمِنٌ بِهٖ

وَاَنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ بِهٖ ۔ (فتح البيان) يعنى زما رب په عدل او حق باندے دے نو تاسو به په ما باندے نۀ مسلط كوى ځكه چه ما په هغۀ ايمان راوړے او تاسو پرے كفر كړے نو تاسو به په ما باندے څنګه مسلط كړى۔ ځكه چه زۀ حق بيانوم او كه تاسو په ما مسلط كړى نو بيا به يو نوع بى عدلى راشى او الله تعالىٰ هيڅرے بى عدلى نۀ كوى۔

په بل تعبير سره داسے وائى: زما رب په خپل ملك او سلطنت كښ په ډير عدل او انصاف سره تصرف كوى او ما د هغۀ په اړخ كښ پناه اخستے ده او هغه ظلم نۀ برداشت كوى، او تاسو ظالمان يئ پدے وجه هغه به تاسو ته په ما باندے غلبه نۀ دركوى۔

۲- يا دا داسے آيت دے لكه (اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ) يعنى رب زما په نيغه لاره دے نو اے انسانه دغه رب تا ته لاره كښ دے، تۀ په هغه باندے ور روان ئے، چه هغه د مرګ لاره ده، هغه به درسره حساب كوى۔

| |
|---|
| فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ |
| پس كه اُوګرځيدئ تاسو (په ما به ګناه نۀ وى) نو يقيناً اُورسولو ما تاسو ته هغه څه |
| اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّىْ قَوْمًا |
| چه ليږلے شوے يم په هغے سره تاسو ته، او روستو به راولى رب زما څه خلق |
| غَيْرَكُمْ ج وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْئًا ؕ |
| سِوىٰ ستاسو نه او ضرر نشئ وركولے تاسو هغۀ ته هيڅ شے، |
| اِنَّ رَبِّىْ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ |
| يقيناً رب زما په هر شى حفاظت كونكے دے۔ |

**تفسير**: فَاِنْ تَوَلَّوْا: دا په اصل كښ تَتَوَلَّوْا دا يعنى كه تاسو واوړيدئ، ددے جزاء پټه ده۔ اَىْ فَلَمْ اُعَاتَبْ۔ يعنى زۀ به په تاسو نۀ ملامته كيږم، ځكه چه ما تاسو ته حق ورسولو۔

يعنى هود عليه السلام هغوى ته زيات ووئيل چه ما تاسو ته د توحيد دعوت رسولے دے، پدے وجه كه تاسو د اعراض نه كار واخستو نو تاسو سره به هيڅ عذر باقى پاتے نۀ وى، الله تعالىٰ به تاسو هلاكوى، او بل قوم به راولى چه ستاسو د زمكو او د مالونو مالكان به شى، او ستاسو كفر او عناد، يا ستاسو د هلاكت نه د الله په سلطنت او حكومت كښ هيڅ

کمی نهٔ راځي، څه نقصان چه وي ستاسو به وي۔ او زما رب د هر شي نګراني کوي، هیڅ شے هم د هغهٔ د علم د احاطے نه بهر نهٔ دے، پدے وجه ستاسو د ټولو اعمال د هغهٔ په نظر کښ دي، او هغه به تاسو ته ددے سزا ضرور درکوي۔

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ: یعني په هر شي باندے نګهبان او نګران دے چه د هر شي نه ئے ساتي۔ یا علیٰ په معنیٰ د لام دے یعني زما رب د هر شي حفاظت کونکے دے نو ما به تاسو نه ساتي۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ |
| او هرکله چه راغے حکم د عذاب زمونږ نو بچ کړو مونږ هود (علیه السلام) او هغه کسان |
| اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ج وَنَجَّيْنٰـهُمْ |
| چه ایمان ئے راوړے وو د هغهٔ سره په رحمت سره د خپل طرف نه، او بچ کړهٔ مونږ دوی لره |
| مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ عَادٌ قف لا جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ |
| د عذاب سخت نه۔ او دغه عادیان وو، انکار ئے کړے وو د آیتونو د رب خپل نه |
| وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ |
| او نافرماني ئے کړے وه د رسولانو د هغهٔ نه، او روان شوي وو د حکم د هر متکبر |
| عَنِيْدٍ ﴿٥٩﴾ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ |
| عنادي (ضدي) پسے۔ او وروپسے شو دوي پسے پدے دنیا کښ لعنت او په ورځ |
| الْقِيٰمَةِ ط اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ط اَلَا بُعْدًا |
| د قیامت هم، خبردار یقیناً عادیانو کفر کړے وو د رب خپل، خبردار هلاکت دے |
| لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿٦٠﴾ |
| عادیانو لره چه قوم د هود (علیه السلام) وو۔ |

**تفسیر**: نو د الله تعالیٰ عذاب د یو داسے سختے او هیبتناکے هوا په شکل کښ راغلو چه په هغے کښ هیڅ خیر نهٔ وو، او هغه اُوه شپے او اته ورځو پورے چلیدله، تمام کافران هلاك شو، او الله تعالیٰ هود علیه السلام او د هغهٔ مسلمانان ملګری بچ کړل او د قیامت په ورځ به دوی

ته د اُور د عذاب نه هم نجات ورکوی۔
بِرَحْمَةٍ مِّنَّا: ددے رحمة نه مراد د الله تعالیٰ خصوصی رحمت دے۔ یا مراد ترے ایمان دے۔ او پدے کښې ددے امت مؤمنانو ته بشارتونه ورکوی چه په ایمان سره به د الله تعالیٰ د عذابونو نه بچ شئ۔
وَتِلْكَ عَادٌ: یعنی دا خلق د قومِ عاد په نوم سره پیژندل کیدل، دوی په الله تعالیٰ کفر کړے وو، او په اطرافو او نفسونو کښې موجودو نخو نه ئے انکار کړے وو کوم چه د الله په وحدانیت باندے دلیل وو، او دغه شان د معجزاتو نه ئے هم انکار کړے وو، او په شرکی اعمالو کښې د خپلو هغه متکبر سردارانو تابعداری ئے کړے وه کومو چه به د الله تعالیٰ بندګانو لره د رسولانو په تکذیب باندے راپارول۔
رُسُلَهٗ: رسل ئے جمع راوړه ځکه چه د یو رسول خلاف داسے دے لکه د ډیرو رسولانو خلاف۔
وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ: قانون دا دے چه بنده خامخا د یو چا پسے روانیږی نو یا به د رسول الله ﷺ پسے روانیږی او که نبی ئے پریخودو نو د بل چا پسے به ضرور روانیږی نو خلاصیدل د اتباع نه نشته، نو دوی د الله رسول پریخودو او د هر سرکشه عنادګر پسے روان شو۔
جَبَّار: ۱- متکبر ته وائی۔ (فتح القدیر)
۲- اَلْقَاهِرُ الَّذِیْ یُجْبِرُ غَیْرَهٗ عَلٰی اِتِّبَاعِهٖ بِالْقَهْرِ وَالْاِذْلَالِ۔
۳- اَوْ مَنْ یُجْبِرُ نَقْصَ نَفْسِهٖ بِالْكِبْرِ وَدَعْوَی الْعَظَمَةِ) (المنار)
هغه زورور ته وائی چه بل چا لره په خپله تابعداری باندے په زور او ذلیله کولو سره مجبوره کوی/ یا هغه چا ته وائی چه د خپل ځان نقصان په کبر او په لویو دعوو سره پوره کوی۔
۳-اَلَّذِیْ لَایَرٰی فَوْقَهٗ اَحَدٌ) هغه شخص چه د خپل ځان نه بره بل څوك نهٔ منی۔ (السمعانیؒ) چه ددے زیاته تشریح به ان شاء الله په سورة ابراهیم کښې راشی۔
او عَنِیْدٍ: ۱- اَلطَّاغِی الَّذِیْ لَایَقْبَلُ الْحَقَّ وَلَایُذْعِنُ لَهٗ وَیَتَجَاوَزُ فِی الظُّلْمِ۔ هغه سرکش (ګمراه) شخص چه حق نهٔ قبلوی، او نهٔ ورته غاړه ایږدی او په ظلم کښې د حد نه اوړی۔
۲- ابوعبیدهٔ وائی: عنید هغه شخص ته وائی چه په ضد سره د حق نه خلاف کوی او د حق مقابله کوی۔ (فتح البیان)

۳- العنید : هُوَالنَّاكِبُ عَنِ الْحَقِّ۔ د حق نه اوړیدونکے۔ (ابراهیم النخعیؒ- الدر المنثور)
٤- عنید هغه شخص دے چه سره د پوهے نه د حق خلاف کوی او حق رد کوی۔ (القرطبیؒ)
٥- العنید : اَلْـمُعْرِضُ عَنِ الْحَقِّ الَّذِیْ اَبٰی اَنْ یَّقُوْلَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ ۔ د حق نه اعراض کونکے هغه شخص چه د لا اله الا الله د وئیلو نه انکار کوی۔ (فتح القدیر للشوکانیؒ)
او همیشه جبار عنید باطل پرست ملاوی یا لیډر او د کلی مشر وی چه عوام د هغوی پسے روان وی۔
وَاُتْبِعُوْا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا: سدیؒ وائی : هر نبی چه د عادیانو نه روستو راغلے دے نو د هغه په ژبه په عادیانو لعنت وئیل شویدے۔
قتادةؒ وائی : په عادیانو باندے د الله تعالیٰ د طرفنه پرله پسے دوه لعنتونه ورپسے شو، یو لعنت په دنیا کښ او بل لعنت په آخرت کښ،آه۔
مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت خبر ورکوی چه الله تعالیٰ قومِ عاد ته انتهائی درجه غضبناك وو، او د هغوی نه د هغهٔ نفرت انتهاء ته رسیدلے وو۔ (فتح البیان)
اَلَا بُعْدًا: دوباره ئے دا ښیرے ورته وکړے دے دپاره چه څوك دِے پرے رحم ونکړی۔ یا دا چه دوی به همیشه د الله تعالیٰ د رحمتونو نه جدا وی۔ گویا که لعنت او د الله د رحمت نه وړاندے والے د دوی سره په هر حال کښ لازم شو۔

| |
|---|
| وَاِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا م قَالَ یٰقَوْمِ |
| او (لیږلے وو مونږ) ثمودیانو ته ورور د هغوی صالح (علیه السلام) ووئیل دهٔ اے قومه زما ! |
| اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ط هُوَ |
| بندگی اُوکړئ د الله، نشته تاسو لره حقدار د بندگئ سوئ د هغهٔ نه، هغهٔ |
| اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِیْهَا |
| پیدا کړی یئ تاسو د زمکے نه او آباد کړی یئ تاسو په دے (زمکه) کښ |
| فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَیْهِ ط اِنَّ رَبِّیْ قَرِیْبٌ مُّجِیْبٌ ﴿٦١﴾ |
| نو بخنه غواړئ د هغهٔ نه بیا توبه اُوباسئ هغهٔ ته، یقیناً رب زما نزدے دے، قبلونکے دے۔ |

**تفسیر** : ددے آیتِ کریمه نه د صالح الطیخ او د هغه د قوم ثمودیانو واقعه شروع کیږی۔ دا خلق په مدائن حجر کښ وسیدل کوم چه د تبوك او د مدینے منورے ترمینځ واقع وو۔ صالح الطیخ د هود الطیخ نه سل کاله روستو پیغمبر شوے وو، او دوه سوه اتیا (۲۸۰) کاله ژوند ئے تیر کړے وو۔ او تفصیل ئے په سورة الاعراف کښ گوره۔

د هود الطیخ په شان دوی هم د خپل قوم خلقو ته وویل چه تاسو صرف د الله عبادت وکړئ چه د هغه نه سوئ هیڅوك معبود نشته، چه هغه تاسو ټول د خاورو نه پیدا کړی یئ (آدم الطیخ ئے د خاورے نه پیدا کړے او هغه د منی د قطرے د انسان د پیدائش ذریعه ده، پدے وجه په اجزائے ترکیبی کښ خاوره بنیادی عنصر دے) او تاسو ئے په زمکه کښ آباد کړئ، او ددے د آباد ساتلو دپاره ئے په تاسو کښ صلاحیت کیخودو، پدے وجه تاسو د شرك نه توبه کړئ، او الله ته رجوع وکړئ، الله ډیر نزدے دے، او د خپلو بندگانو دعا قبلوی۔

**وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا** : ۱- د عمر نه اخستے شویدے۔ اَیْ اَطَالَ اَعْمَارَكُمْ۔ یعنی ستاسو عمرونه ئے اوږده کړیدی، ځکه چه د دوی عمرونه به د درے سوو نه تر زرو پورے چلیدل۔ (ضحاكؒ)۔ ۲- یا د عِمَارَةٌ نه دے۔[اَیْ جَعَلَكُمْ عُمَّارَهَا وَسُكَّانَهَا] تاسو ئے ددے آبادونکی او وسیدونکی جوړ کړئ۔

۳- ځینی وائی : دا د عُمریٰ نه دے۔اَیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ عُمْرىٰ لَكُمْ اَیْ مُدَّةَ عُمْرِكُمْ) یعنی تاسو ته ئے زمکه ستاسو د عمر د مودے پورے درکړه، ترڅو چه تاسو ژوندی یئ زمکه ستاسو ده۔

٤- ځینی وائی : معنیٰ دا ده : اَمَرَكُمْ بِعِمَارَتِهَا مِنْ بِنَاءِ الْمَسَاكِنِ وَغَرْسِ الْاَشْجَارِ) تاسو ته ئے حکم کړے چه دا آباده کړئ د کورونو په جوړولو او د ونو بوټو په نالولو سره۔

٥- ابن زیدؒ وائی : [اِسْتَخْلَفَكُمْ فِيهَا] تاسو ئے پدے کښ جانشین او نائبان جوړ کړئ۔ (فتح البیان)

**قَرِيبٌ مُّجِيبٌ** : هر نبی د الله تعالیٰ د خاصو نومونو نه خوند اخلی، هغه ورله مزه ورکوی چه دغه د هغه په حق کښ اسم اعظم وی۔

| |
|---|
| قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا |
| ووئیل دوی اے صالحه ! یقیناً وے ته په مونږ کښ امید کړے شوے (ستا نه د خیر) |

| |
|---|
| قَبۡلَ هٰذَآ اَتَنۡهٰنَآ اَنۡ نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ |
| مخکښې ددې نه، آیا منع کوې ته مونږ لره ددینه چه بندګي وکړو د هغه چاچه بندګي کوله |
| اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيۡ شَكٍّ مِّمَّا |
| پلارانو زمونږ او یقیناً مونږ خامخا په شك کښې یو د هغې خبرې نه |
| تَدۡعُوۡنَآ اِلَيۡهِ مُرِيۡبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يٰقَوۡمِ اَرَءَيۡتُمۡ |
| چه دعوت راکوې ته مونږ ته سخت شك کښې. ووئیل دهٔ اې قومه زما! سوچ کړې تاسو |
| اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ رَّبِّيۡ وَاٰتٰنِيۡ مِنۡهُ |
| که یم زهٔ په ښکاره دلیل د طرف د رب زما نه او راکړې وې هغهٔ ما ته د خپل طرف نه |
| رَحۡمَةً فَمَنۡ يَّنۡصُرُنِيۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ |
| رحمت (نبوت) نو څوك به مدد وکړي ما سره د عذاب د الله نه که |
| عَصَيۡتُهٗ ۗ فَمَا تَزِيۡدُوۡنَنِيۡ غَيۡرَ تَخۡسِيۡرٍ ﴿٦٣﴾ |
| نافرماني وکړم د هغهٔ نه، نو نهٔ زیاتوئ تاسو ما لره سوئ د تاوان نه. |

**تفسیر**: د صالح علیه السلام د توحید دعوت هغه خلقو رد کړو او وې وئیل چه اې صالح! د وړوکوالي نه مونږ ستا عاداتو او حالاتو ته کتل، زمونږ امید وو چه ته به زمونږ مشر او سردار او مُطاع جوړیږې او مونږ ته به ستا نه فائده رسیږي، په انفرادي او اجتماعي کارونو کښې به تاسره مشورې کوو، لیکن ستا خبرې چه مونږ واوریدې نو زمونږ په امید باندې اُوبه راواوښتې، او زمونږ یقین راغلو چه په تا کښې هیڅ خیر نشته دې، ځکه چه ته مونږ د هغه معبودانو د عبادت نه منع کوې چه د هغوی زمونږ پلار نیکه عبادت کړیدې. تهٔ چه د کوم توحید دعوت مونږ ته راکوې ددې د رشتینوالي په باره کښې زمونږ په زړونو کښې قوي شك او شبهه موجوده ده.

مَرۡجُوًّا: ١ - اَيۡ سَيِّدًا مُطَاعًا نَنۡتَفِعُ بِرَأۡيِكَ وَنُسۡعِدُ بِسِيَادَتِكَ وَتَسُدُّ مَسَدَّ الۡاَكَابِرِ.

یعني زمونږ امید وو چه ته به زمونږ سردار او خبره منلې شوې مشرئې چه مونږ به ستا د رائې نه فائدې اخلو او ستا په مشرئ به نیك بخته کیږو، او ته به د مشرانو ځای ونیسې

ځکه چه په تا کښې د هدایت او د صلاحیت نښې موجودې وې. ځکه چه ده به د دوی د ضعیفانو مدد کولو او د فقیرانو سره به ئې احسان کولو.

۲- څینې وائی: د (مَرْجُوًّا) معنیٰ دا ده چه صالح علیه السلام به د دوی د آلهو کمزورتیا بیانوله چه دا هیڅ نشی کولې نو دوی د هغه نه امید ساتو چه دې به د دوی دین ته راواپس شی لیکن کله چه هغه دوی لره الله ته راوبللو نو دوی ورته ووئیل چه ستا نه زمونږ امید ختم شو. (فتح البیان)

یعنی ته مخکښې ښۀ سړے وې لیکن اُوس غلط شوې او د غلط والی وجه دا ده چه ته ئې مونږ د پلارانو د تقلید نه منع کوې، او مونږ ته ستا خبرې غلطې ښکاره کیږی.

قَبْلَ هٰذَآ: ۱- یعنی مخکښې ددې وخت نه.

۲- یا مخکښې ددې نه چه تا د نبوت دعوه وکړه او توحید ته دې خلک راوبلل. او دا تجربه ده چه کله تا د حق دعوت نۀ کولو نو خلک به دې ښۀ سړے او متقی او بزرګ ګڼړی لیکن کله چه دې حق بیان کړو نو بیا به درته وائی چه پیسې ئې واخستې او بې لارې شو او د دوه پیسو سړے به ورته نۀ ښکارې اګرکه د الله تعالیٰ په نیز به ستا ډیر قدر وی. دا د خلکو مرض دې.

مُرِیْبٍ: یعنی دا د اَرَابَ نه دې ۱- یوه معنی ئې ده: پریشانی او بې چینی راوستل. یعنی داسې شک دې چه زمونږ پریشانی ئې زیاته کړیده.

۲- یا اَرَابَ الرَّجُلُ په معنیٰ د ذُوْ رِیْبَةٍ سره. یعنی شکونو والا. یعنی مونږ داسې شک کښې یو چه نور شکونه ئې راوستی دی. حاصل معنیٰ ئې ده: سخت شک.

قَالَ یٰقَوْمِ: اَرَءَیْتُمْ: صالح علیه السلام ووئیل، اے زما د قوم خلقو! زۀ د خپل رب د طرف نه په نازل شوی حق دین باندې ولاړ یم، او هغه ما ته نبوت راکړے، اُوس ووایئ چه زۀ ستاسو د خوشحالولو دپاره د هغۀ نافرمانی وکړم نو ما به د هغۀ د عذاب نه څوک بچ کوی؟ تاسو چه زما همت خکته کوئ او غواړئ چه د دعوت کار پریدم، نو ددې نتیجه به ددې نه سِویٰ څه وی چه زۀ به نا امیده او تاوانی شم او د الله د عذاب به مستحق شم.

اَرَءَیْتُمْ: اَیْ تَفَکَّرُوْا. یعنی آیا تاسو لیدلی دی. یعنی پدې خبره کښې سوچ وکړئ. یا دا متضمن دې معنیٰ د (اَخْبِرُنِیْ) لره. یعنی ما ته خبر راکړئ. (فتح)

فَمَنْ یَّنْصُرُنِیْ: څوک به بچ کړی ما لره د الله تعالیٰ د عذاب نه که زۀ ئې نافرمانی وکړم. یعنی هیڅ مددګار مې نشته. نو دلته د نصرت نه لازم معنیٰ مراد ده چه هغه بچ کول دی

پدے وجه په (مِنْ) سره متعدی شو۔
فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ : یعنی ددے بیان نه په منع کولو تاسو ما لره نهٔ زیاتویٔ بل شے سویٰ د تاوان نه۔ چه پدے سره به زما عمل برباد شی او د الله تعالیٰ د عذاب مستحق به شم۔
فهراءَ وائی : تخسیر په معنیٰ د (تَضْلِيْل او اِبْعَادِ مِنَ الْخَيْر) سره دے یعنی (گمراه کول او د خیر نه وړاندے کول) (فتح البیان)
پدے کښې اشاره ده چه اے داعی !چرته د حق بیان پرینږدے ورنه په تاوان کښې به اخته شے۔

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ |
| او اے قومه زما ! دا اوښه د الله ده تاسو لره نخه ده، نو پریږدیٔ دا چه خوراك اُوکړی په |
| اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ ﴿٦٤﴾ |
| زمکه د الله کښې او مهٔ رسویٔ دے ته هیڅ تکلیف نو ویه نیسی تاسو لره عذاب نزدے۔ |
| فَعَقَرُوْهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ |
| نو هلاکه کړه دوی هغے لره نو ووئیل هغهٔ فائدے واخلیٔ په کورونو خپلو کښې درے |
| اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ |
| ورځے، دا وعده ده چه نهٔ دی دروغ وئیلے شوی پدے کښې۔نو هرکله چه راغے |
| اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا |
| حکم د عذاب زمونږ، بچ کړو مونږ صالح (عليه السلام) لره او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو |
| مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ |
| د هغه سره په رحمت سره د خپل طرف نه او د شرمندګیٔ د دغه ورځے نه، یقیناً رب ستا |
| هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا |
| همدا قوی، غالب دے۔ او اُونیول هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړے وو چغے نو اُوګرځیدل |
| فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ |
| په کورونو خپلو کښې پرمخے پراتهٔ۔ (ختم شو) ګویا که نهٔ وو اُوسیدلی په هغے کښې، |

أَلَآ إِنَّ ثَمُودَا۟ كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾

خبر شئ یقیناً ثمودیانو کفر کړے وو په رب خپل خبر شئ هلاکت دے وی ثمودیانو لره۔

**تفسیر**: صالح ﷺ چه کله هغوی ته د توحید دعوت ورکړو نو هغوی وویل چه که ته واقعی د الله نبی ئے، نو الله ته ووایه چه د نخے په توګه ددے غر نه یوه اُوښه راوباسی۔ هغهٔ د الله تعالیٰ نه دعا وکړه، الله تعالیٰ د هغهٔ دعا قبوله کړه او د غر نه اُوښه راووتله۔ نو دهٔ د خپل قوم خلقو ته وویل چه الله تعالیٰ د معجزے په توګه ستاسو د مطالبے مطابق اُوښه رالیږلے ده، تاسو دا مهٔ چیړئ، دا چه د الله تعالیٰ په زمکه چرته چه غواړی لاړه شی، خوراك څکاك وکړی، هیڅوك دے دا نهٔ چیړی، او نهٔ دے تکلیف ورکوی، ورنه په تاسو به ډیر په تیزئ د الله عذاب راځی۔

**فَعَقَرُوهَا**: لیکن دے بدبختو د هغه یوه وانهٔ وریده او هغه اُوښه ئے قتل کړه او د هغوی سرکشی انتهاء ته ورسیدله، نو صالح ﷺ د الله تعالیٰ په حکم سره هغوی ته وویل چه اُوس تاسو درے ورځو پورے په خپلو کورونو کښ وسیږئ او د خپل انجام انتظار کوئ، دا د الله تعالیٰ قطعی او حتمی فیصله ده۔ دوی اُوښه د چارشنبے (بدھ) په ورځ وژلے وه، دے نه روستو (زیارت، جمعه او خالی) درے ورځے ژوندی وو، د اتوار په ورځ د صبا په وخت د الله عذاب په دوی نازل شو۔ (فتح البیان)

**فَعَقَرُوهَا**: عقر زخمی کول او لاس خپے پریکول دی، دلته ترے مراد وژل دی۔

او دا په مشوره سره قدار بن سالف وکړو چه لوی بد بخته وو۔

**تَمَتَّعُوا**: یعنی فائدے واخلئ د خپلو ښځو او خوراکونو نه په خپلو علاقو کښ درے ورځے بیا به په تاسو عذاب راځی۔

**دَارِكُمْ**: جمع د (دار) ده محلے او علاقے ته وائی۔

**وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ**: یعنی د دغه ورځے د عذاب د شرم نه چه هغه چغه وه او دے عذاب ته ئے شرم څکه وویلو چه پدے کښ د کفارو شرم وو چه وران ویجاړ پراتهٔ وو، هیچا ورته نهٔ کتل۔ یا ددے نه مراد د آخرت عذاب دے۔ مګر اول قول غوره دے۔

**الصَّيْحَةُ**: هغه هیبتناك او خطرناکه چغه وه چه د آسمان نه راغلے وه چه د هغے د سخت تاثیر په وجه د تمامو کافرانو په جسمونو رپیدل راغلل او په کتو کتو سره تول مړهٔ شو۔

**كَأَنْ لَّمْ يَغْنَوْا**: اَیْ فَنَوْا كَاَنْ لَّمْ يُقِيْمُوْا فِيْ بِلَادِهِمْ۔ دوی ختم شو او کلی ئے داسے وران

خالي شو ګویا که دوی په خپلو ښارونو کښې نۀ وو وسیدلي او هیڅ خوندونه او مزې ئې نۀ وې اخستې۔ یعنې دوی مشابه شو د هغه خلکو سره چه نۀ وو پیدا شوي او نۀ په یو ځای کښې وسیدلي وي۔

اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَاۡ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ : یعنې د دوی سره داسې کار پدې وجه وشو چه دوی د خپل رب نه انکار کړې وو۔ دې نه روستو الله تعالیٰ په دوی باندې همیشه لعنت او بربادي مسلط کړه۔ دا آیت خبر ورکوي چه الله تعالیٰ د عادیانو په شان ثمودیانو ته هم په انتهائي درجه غضبناك وو، او د هغوی نه د هغه نفرت انتهاء ته رسیدلې وو۔

| |
|---|
| وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى قَالُوْا |
| او هرکله چه راغلل استازي (ملائك) زمونږ ابراهیم (عليه السلام) ته په زیری سره اُووئیل دوی |
| سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ |
| سلام دې په تا باندې، هغه اُووئیل سلام دې وي په تاسو باندې، نو وخت ئې تیر نۀ کړو |
| اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَآٰ اَيْدِيَهُمْ لَا |
| چه رائې وړو سخې وریت کړې شوې۔ نو هرکله ئې چه اُولیدل لاسونه د دوی چه نۀ |
| تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ |
| رسیدل هغه خوراك ته نو ناشنائې اُوګڼل دوی لره او پټه ئې کړه د دوی نه یره په زړۀ کښې، |
| قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٠﴾ |
| اُووئیل دوی مۀ یریږه، یقیناً مونږه رالیږلې شوي یو قوم د لوط ته۔ |

**تفسیر**: ددې آیتِ کریمه نه د لوط عليه السلام او د هغۀ د قوم واقعه شروع کیږي۔ او دا واقعه د ابراهیم عليه السلام د واقعې سره په ضمن کښې بیان شویده۔ او پدې کښې دوه غرضه دي یو بشارت (زیرې ورکول) او بل انذار (یره ورکول)۔ د ابراهیم عليه السلام په واقعه کښې بشارت او د لوط عليه السلام واقعه کښې انذار پروت دې۔ او پدې سورت کښې هم بشارت او انذار موضوع ده۔ یعنې څوك چه د الله تعالیٰ سره تعلق پیدا کړي او په هغۀ صحیح ایمان راوړي نو هغۀ ته الله تعالیٰ څومره نعمتونه ورکوي، د اولاد او د ښځو او د مالونو فراخي ورکوي۔ او عذابونه چه الله تعالیٰ راولي نو دا پدې وجه چه خلك د هغه نه بغاوت وکړي لکه د لوط عليه السلام قوم

دغه بغاوت وکړو. او بیا پدې واقعه کښې ډیر عبادتونه راجمع دي لکه په ابتداء د سورت کښې ئې تفصیل شویدې.

لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره وو. د لوط علیه السلام د قوم کلی د شام په علاقو کښې وو او ابراهیم علیه السلام په فلسطین کښې وسیدو. الله تعالیٰ چه کوم ملائک د لوط علیه السلام د قوم د هلاکت دپاره رالیږلی وو، هلته د تلو نه مخکښې د ابراهیم علیه السلام خواته ورغلل، دې دپاره چه هغهٔ ته د ځوی اسحاق او نمسي یعقوب زیرې ورکړي. دا ملائک جبریل، میکائیل او اسرافیل (علیهم السلام) وو. بعض وائي چه د دوی شمار نهه وو. او بعض وائي چه د دوی شمار یولس وو، دوی د ابراهیم علیه السلام سره د خپل کلام شروع په سلام سره وکړه یعنې سلام علیکم ئې اُووئیل. ابراهیم علیه السلام د هغوی د سلام غوره جواب ورکړو او هغوی ئې میلمانهٔ وګڼړل ډیر خوشحاله شو او د خوراك دپاره ئې د وریت شوی سخی غوښه ورته پیش کړه.

لیکن کله چه هغه ولیدل چه هغوی خوراك طرف ته لاسونه نهٔ اُوږدوی نو په زړهٔ کښې ئې شك پیدا شو او د یو ناڅاپي خطرې راتلو نه ویریدو. ځکه چه د هغه زمانې دستور دا وو چه میلمه به کله په یو غلط نیت سره راتللو نو د کوربه خوراك به ئې نهٔ خوړلو. نو هغه ملائکو ووېل چه اې ابراهیم! ته مهٔ یریږه، مونږ د الله ملائك یو دوه خبرو دپاره راغلي یو یو تا ته زیرې درکوو په بچي سره،

. او دویم د لوط (علیه السلام) د قوم د هلاکت دپاره رالیږلې شوي یو. نو هغه ووېل چه هغوی کښې خو لوط علیه السلام هم دې، نو په هغوی ډې عذاب رانشي نو هغوی ووېل چه دا د الله تعالیٰ امر دې ضرور به پرې عذاب راځي، او مونږ به ترې لوط علیه السلام او د هغهٔ ملګری بچ کړو. نو بیا لوط علیه السلام ته ورغلل هغهٔ هم ونهٔ پیژندل،

او د دوی په راتللو سره د قوم د طرفنه خفه شو چه چرته ځوك دوی ته تکلیف ورنکړي، روستو ورته پته ولګیده چه دا خو ملائك دي، نو هغوی تسلي ورکړه چه مهٔ خفه کیږه، دوی مونږ ته څه نشي وئیلې نو تا ته هم څه نشي وئیلې، او دوی به مونږ هلاك کړو او ته لاړ شه او خپل ملګری ځان سره لرې بوځه، پدې کښې هغوی د شپې روان شو او ملائك همدغه کور کښې پاتې شو، څه کسان په غلطه اراده د لوط علیه السلام کور ته راغلل،

نو جبریل علیه السلام ورپسې راووتو او د هغوی په مخونو ئې وزر راخکلو، هغوی ړانده واپس شو پدې کښې هاهو جوړ شو نو د سهار وخت راغې لوط علیه السلام او د هغهٔ ملګرو هجرت وکړو او الله تعالیٰ د جبریل علیه السلام په واسطه دغه کلې پورته کړو او اپوته ئې زمکې ته راګوزار کړو.

او الله تعالىٰ پرے د بَره نه د کانړو باران وکړو، چه ښه ئې ذليله کړل. نو پدے کښې د مکے او تولو کفارو ته يره پرته ده چه الله تعالىٰ سره هر قسم عذابونه شته.

**قَالُوْا سَلٰمًا**: اَیْ نُسَلِّمُ سَلَامًا. مونږ سلام وايو. دائے جمله فعليه راوړه. او د ملائکو په جواب کښې ئې (سلام) اَیْ عَلَيْكُمْ سَلَامٌ. (په تاسو دِے سلام وی) جمله اسميه راوړه ځکه چه په جواب کښې تاکيد پکار دے.

**فَمَا لَبِثَ**: دا د ميلمه زيات اکرام دے چه په جلتئ سره هغه ته خوراك راوړے شي. پدے کښې د ميلمستيا د آدابو نه يوه دا خبره معلومه شوه چه ميلمه نه ئې تپوس ونکړو چه څه به خورے او که نه. ځکه چه د خوراك په وخت کښې به تپوس نکوی. دويم هغه ميلمانه چه نۀ ئې پيژنی هغوی دپاره ئې ښه شے راوړے دے، ځکه چه هغه الله والا انسان وو نو د الله ميلمنو له ئې ښه شے تيار کړو. په خلاف زمونږ د عادت چه څوك نۀ پيژنی هغه له ښه اعلىٰ خوراك نۀ راوړی.

**جَآءَ**: نه دا ادب معلوم شو چه ميلمه ته به خوراك راوړے شي او ميلمه به ورپسے نۀ په تکليف کښې کوے.

**اَنْ**: دلته په معنىٰ د حَتّٰی سره دے. يعنى تردے چه رائے وړو سخے وريت کړے شوے.

**بِعِجْلٍ**: په هغه زمانه کښې اکثر مال د هغۀ غواګانے وے ځکه ئې دے ميلمنو لره سخے حلال کړو.

**حَنِيْذٍ**: دا هغه سخی او ګډ ته وائی چه په ګرمو کانړو وريت کړے شوے وی لکه د عربو باندو والو به عادت وو چه هغوی به په ګرمو کانړو باندے غوښه کيخوده نو هغه به وريته شوه، بيا به ئې هغه خوړله. بيا ترے مطلق وريت کړے شوے او پوخ کړے شوے مراد دے.

**وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً**: ١- اَیْ اَحَسَّ فِیْ نَفْسِهٖ. معلومه ئې کړه په زړۀ کښې.

٢- اَضْمَرَ فِیْ نَفْسِهٖ. پټه ئې کړه په زړه کښې يره. (فتح)

او بيا ئې ورته ښکاره کړه لکه په سورة حجر آيت (٥٢) کښې راځی: ﴿اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ﴾. مونږ ستاسو نه يريږو.

وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ لا

او ښځه د هغه ولاړه وه نو وخندل هغے نو زيرے ورکړو مونږ هغے ته په اسحاق (عليه السلام) سره

وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿٧١﴾ قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى

او وروستو د اسحاق نه په یعقوب (عليه السلام) سره۔ اُووئیل هغې، اے افسوس دے،

ءَ اَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ وَّهٰذَا بَعْلِىْ شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٧٢﴾

آیا زهٔ به بچے زیږوم او زهٔ بوډئ یم او دا خاوند زما دے بوډا، یقیناً دا یو شے دے ناشنا۔

قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ

اُووئیل هغوی آیا تعجب کوے تهٔ د کار د الله نه، رحمت د الله تعالیٰ دِ دے وی

وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ﴿٧٣﴾

او برکتونه د هغه دِ دے وی په تاسو اے کور والو! یقیناً الله ستائیلے شوے شرافت والا دے۔

**تفسیر** : ابراهیم (عليه السلام) او د هغهٔ بی بی دواړه د میلمنو په خدمت کښې لګیا وو۔ ابراهیم (عليه السلام) ناست وو او ساره ولاړه وه، د خوراك څیزونه ئے د میلمنو مخے ته راوړل کیخوستل، (په هغه زمانه کښې د پردے حکم نهٔ وو نازل) کله چه هغوی ولیدل چه مونږ د میلمنو د خاطره دا هرڅه کړیدی، او دا څنګه میلمانهٔ دی چه زمونږ خوراك نهٔ خوری، نو هغوی هم ویریدل، لیکن کله چه هغوی حقیقت وخودلو نو د هغوی د زړهٔ نه هم یره لاړه، او د خوشحالئ او حیرانتیا په وجه ئے وخندل چه دوی کوم خلق انسانان ګڼړل هغهِ ملائك راوتل، او خوشحاله شو چه دا خلق د کوم شر په نیت سره د دوی خوا ته نهٔ دی راغلی۔

بعض مفسرینو لیکلی دی چه هغوی پدے خبر باندے خوشحاله شو چه دا خلق د قوم لوط د هلاکت دپاره راغلی دی چه د هغوی شر او فساد انتهاء ته رسیدلے وو۔ کله چه ابراهیم (عليه السلام) او د هغهٔ بی بی سارے ته معلومه شوه چه دا خلق د الله تعالیٰ ملائك دی، نو بیا الله تعالیٰ ددے ملائکو په ذریعه ساره رضی الله عنها ته د اسحاق او د هغه د خوی یعقوب زیرے ورکړو۔

## اشکال او د هغے جواب

د پردو میلمنو مخامخ -کله چه د ساره (رضی الله عنها) په شان نیکه صالحه ښځه وی- خندا کول مناسب کار نهٔ دے او د وقار او حیاء خلاف دی؟ نو ددے اشکال د ختمولو دپاره مفسرینو دلته ګڼړ جوابونه ذکر کړیدی (١) چا ویلی دی چه ضحك دلته په معنیٰ د

حیض سره دے۔ اَیْ حَاضَتْ ۔ یعنی په دغه وخت کښې حائضه شوه۔ لکه د حیض دپاره په عربئ کښې ګڼړ الفاظ استعمالیږی، عراك، طمث، حیض وغیره۔ او دا نښه وه ددے چه ددے به اُوس بچے پیدا کیږی ځکه چه د کومے زنانه حیض نۀ راځی د هغے بچی نۀ پیدا کیږی۔ دا تفسیر جائز دے لیکن لږ شان بعید دے۔

فراءؒ وائی : ضحك په معنیٰ د حیض سره مونږ د ثقه (معتمد عربی دان) نه نۀ دی آوریدلی۔ او دغه شان ددے نه ابن الانباریؒ، او ابوعبیدہؒ هم انکار کړیدے۔ (اګرکه د بعضو عربو نه نقل دے)۔

(۲) جواب : فراءؒ وائی : دے کښې تقدیم او تاخیر دے۔اَیْ فَبَشَّرْنَاهَا بِاِسْحَاقَ فَضَحِکَتْ۔

یعنی مونږ دے ته زیرے په اسحاق ورکړو نو هغے وخندل۔ دا خبره هم صحیح ده لیکن ظاهره نۀ ده۔

(۳) جواب : ظاهر دا ده چه ددے دا خندا په هلاکت د قوم لوط وه۔ ځکه چه هغه مخکښې ذکر شویدے۔ او دے ته وائی د ظالمانو په هلاکت باندے خوشحالی کول۔ او دا د وقار خلاف نۀ بلکه عین عبادت دے، او ضحك یو جائز عمل دے، (انبیاؤ علیهم السلام نه هم ثابت دے)، او قهقهه ناروا ده او هغه ئے نۀ ده کړے نو هیڅ اشکال نشته۔

(٤) جواب : ځینی وائی : دا خندا د خوف په زائله کیدو سره وه کله چه ملائکو ووئیل لَا تَخَفْ : مۀ یریږه۔ دا هم ظاهر قول دے۔

(٥) قتادهؒ وائی : دے د قوم لوط د غفلت او په هغوی باندے د عذاب راتللو نه تعجب وکړو، چه اُوس به پرے عذاب راځی او دوی لا اُوس هم په غفلت کښې پراته دی۔(فتح البیان)

(٦) ځینی وائی : د تعجب دپاره ئے وخندل چه ددے او د خاوند به په بوډا والی کښې ځنګه بچی وشی۔ (وهب بن منبهؒ- الطبریؒ)

وَاَنَا عَجُوْزٌ : په هغه وخت کښې د سارے عمر نوی (۹۰) کاله وو۔ او د یو قول مطابق نهه نوی کاله وو۔ او ابراهیم ؑ د سلو یا د یو سل شلو کالو وو۔ کله چه الله تعالیٰ ابراهیم ؑ ته د هاجره رضی الله عنها د خیټے نه اسماعیل ورکړو نو سارے آرمان اُوکړو چه کاش زما هم ځوی وے۔ لیکن د خپل ډیر عمرئ په وجه نا امیده وه۔ په هغه وخت کښې د الله رحمت په جوش کښې راغلو، او هغے ته ئے د ځوی زیرے ورکړو، نو سارے د انتهائی تعجب په وجه دغه ملائکو ته ووئیل چه زما به هلك ځنګه پیدا کیدے شی، زۀ خو د نوی کالو بوډئ یم او زما خاوند هم بوډا دے۔ دا خو به ډیره عجیبه او ناشنا خبره وی چه د بوډا او د

بوډا د نزدیکت نه هلك پیدا شي!۔
د بوډۍ زنانه په رَحِم کښې گرمائش ختم شي او یخ والے پکښې پیدا شي او د بوډا سړي په نطفه کښې طاقت ختم شي نو اولاد نهٔ پیدا کیږي۔
**قَالُوٓا اَتَعۡجَبِيۡنَ**: ملائکو د سارې حیرانتیا او تعجب ولیدو وې وئیل چه تهٔ خو د نبي بي بي ئې، تا نه دا خبره پته نهٔ ده چه الله تعالیٰ په هر شي قادر دے نو بیا دا تعجب څنګه دے؟ د الله تعالیٰ همدا فیصله او همدا ئې حکم دے. تاسو خو د نبي کورنۍ یئ، تاسو باندے د الله رحمتونه او برکتونه نازلیږي. او الله خو همیشه په خپلو بندګانو د نعمتونو بارانونه کوي، دے دپاره چه دوی د هغهٔ صفتونه بیان کړي او د هغهٔ شکر ادا کړي، او هغه همیشه په خپلو بندګانو احسان کوي۔
**مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ**: اَيۡ مِنۡ حُكۡمِ اللّٰهِ. یعنی الله تعالیٰ چه یو حکم وکړي نو د هغے نه تعجب نهٔ دے پکار، هغه به ضرور کیږي. حیرانتیا خو د هغه شي نه پکار ده چه هغه ګران وي او الله ته د هیڅ خبرے ګرانوالے نشته، هغه د کاڼي نه هم اولاد پیدا کولے شي پاتے لا د بوډا نه۔
**رَحۡمَةُ اللّٰهِ**: یعنی په تاسو ډیے د الله تعالیٰ رحمتونه او برکتونه وي۔
**فائده**: عبد الله بن عباس ﷺ د چا نه واوریدل چه سلام کښې ئې "وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ وَمَغۡفِرَتُهٗ" زیات کړو نو هغه ووئیل: اِنۡتَهِ حَيۡثُ اِنۡتَهَتِ الۡمَلَائِكَةُ) په هغه ځای باندے خبره ختمه کړه چه په کوم ځای ئې ملائکو ختم کړیدے یعنی د سلام اچونکي دپاره (وَمَغۡفِرَتُهٗ) ویل نشته. (الاستذکار لابن عبد البر ٢٧ ١٣٨) تعلیقا باسناد فیه عنعنة الاعمش۔ اعلام الانام بما انتهی الیه السلام) ونحوه فی الموطأ ٣ ١٣٢٢) واسناده صحیح- البانی فی الضعیفة (١١/٤٦٩) رقم: ٥٤٣٣) او دغه شان قول د ابن عمرؓ نه ئې هم نقل کړیدے چه په سند کښې ئې انقطاع ده۔
البته په یو صحیح روایت کښې د جواب ورکونکي دپاره ئې وئیل نقل دي. (التاریخ الکبیر للبخاری ٤/٣٣٩) رقم (١٠٣٧) والبیهقی)
٢- فائده: نارینه اولاد د الله تعالیٰ نعمت دے، او د الله د نافرمانو هلاك کیدل هم نعمت دے۔
٣-کله چه چا ته یو زیرے ورکړے شي نو هغه له د الله تعالیٰ شکر ادا کول پکار دي۔
اَصمٓ روایت کړیدے چه ملائك ابراهیم ؑ ته په هغه وخت کښې راغلل کله چه هغهٔ په پټي کښې کار کولو. د کار نه فارغ کیدو سره ئې خپله کوداله په زمکه کیخوده او دوه رکعاته مونځ ئې وکړو۔

٤- ښځه د سړي په اهل بيت کښې داخله ده، پدې وجه د نبي کريم ﷺ بيبيانې (امهات المؤمنين) د هغهٔ په اهل بيتو کښې داخل دي.

| |
|---|
| فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا |
| نو هرکله چه لاړه د ابراهيم (عليه السلام) نه يره او راغے هغه ته زيرے نو بحث ئے کولو مونږ سره |
| فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٤﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ |
| په باره د قوم د لوط (عليه السلام) کښې. يقيناً ابراهيم (عليه السلام) خامخا صبرناك وو، نرم زړهٔ والا |
| مُّنِيْبٌ ﴿٧٥﴾ يٰٓاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ج |
| (دردمند)، ګرځيدونکے وو (حق ته). (دوی اُووئيل) اے ابراهيم! مخ واړه ددينه |
| اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ج |
| يقيناً شان دا دے چه راغلے دے حکم د رب ستا (په هلاکت د دوی سره) |
| وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿٧٦﴾ |
| او يقيناً دوی باندے راتلونکے دے عذاب چه نهٔ دے واپس کړے شوے. |

**تفسير**: کله چه د ابراهيم عليه السلام د زړهٔ نه يره ووتـه، او هغه ته په خوی او نمسی زيرے ورکړے شو، نو د قومِ لوط د هلاکت په باره کښې ئے ملائکو ته وويل چه هلته خو لوط (عليه السلام) او څه نور مسلمانان هم دي، د هغوی به څه حال وي؟. او د هغهٔ مقصد دا وو چه پدے بهانه سره الله تعالىٰ د قومِ لوط نه عذاب لرے کړي، ځکه چه ابراهيم عليه السلام ډير بُردبار او ډير رحم دل وو. د بدی کونکو نه ئے په انتقام اخستو کښې جلتی نهٔ کوله، او هر وخت به الله تعالىٰ ته متوجه وو.

**يُجَادِلُنَا**: دا جدال په سورة عنکبوت (٣٢) آيت کښې مختصراً ذکر دے او په اُوسنی تورات کښې د هغے بې فائدے تطويل ذکر شويدے. ﴿قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا﴾ يعنی په دغه کلی کښې خو لوط (نبی) موجود دے او کوم ځای چه نبی موجود وی هلته عذاب نهٔ راځی نو تاسو څنګه هغه هلاکوئ. مطلب ئے روستو والے د عذاب وو. د الله رحم د ابراهيم عليه السلام نه زيات دے ليکن الله تعالىٰ زورَور دے او د ابراهيم عليه السلام په نرمئ کښې په خپل زړه باندے د بشريت د تقاضا په وجه کنټرول نهٔ وو.

يُجَادِلُنَا: نه مراد ملائك دي په نيز د اكثرو مفسرينو۔

اِنَّ اِبْرٰهِيمَ لَحَلِيْمٌ : دا علت دے د (يُجَادِلُنَا) دپاره يعنى دا بحث ئے پدے وجه كولو چه ابراهيم عليه السلام حليم (صبرناك) وو، په جلتئ سره ئے سزا نۀ خوښوله، كثير التَّأَوُّهُ وو، او الله تعالىٰ ته په هر كار كښې راواپس كيدونكے وو۔ (المنار)

يَاِبْرٰهِيمُ : ملائكو ابراهيم عليه السلام ته ووئيل چه اُوس پدے موضوع كښې هيڅ خبره مۀ كوه۔ د الله فيصله صادره شويده او په دوى به ضرور عذاب راځى، هيڅ دعا او هيڅ سفارش هغه نشى روستو كولے۔ اَىْ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ بِجِدَالٍ وَلَا شَفَاعَةٍ۔ (المنار)

هغه اُوس په جګړو او بحثونو او سفارشونو نۀ واپس كيږى۔

| |
|---|
| وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ |
| او هركله چه راغلل استازى (ملائك) زمونږ لوط (عليه السلام) ته نو خفه شو په هغوى |
| وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهٗ |
| او تنګه ئے شوه په هغوى باندے سينه او وے وئيل دا ورځ ده سخته۔ او راغلل دۀ ته |
| قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ ؕ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ |
| قوم دۀ چه رازغلولے شو دۀ طرفته او مخكښې ددينه دوى به كول بدعملونه، |
| قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىْ هُنَّ اَطْهَرُ |
| ووئيل هغه اے قومه زما! دا (زنانه ستاسو) لونړۀ دى زما دوى بنه پاكونكى دى |
| لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ فِىْ ضَيْفِىْ ؕ |
| تاسو لره (يعنى حلالے دى) نو اُويريږئ د الله نه او مۀ شرموئ ما په باره د ميلمنو زما كښې، |
| اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿٧٨﴾ |
| آيا نشته ستاسو نه سړے هوښيار۔ |

**تفسير** : كله چه هغه ملائك د ابراهيم عليه السلام نه رخصت شو او د لوط عليه السلام خوا ته راغلل نو هغوى د ښائسته كم عمره نوى ځوانانو په شكل وو۔ لوط عليه السلام چه دوى پدے حال كښې وليدل نو پريشانه شو او زړۀ كښې ئے سوچ وكړو چه نن ورځ خو ډيره مشكله ورځ ده۔ زۀ به

دا میلمانه د بد معاشانو نه څنګه بچ وساتم ؟!.

سِیٓءَ بِهِم : یعنی ددوی په راتللو خفه شو چه اُوس به ئې قوم بې عزتی کوی او زما قدرت به نهٔ وی. او دا مطلب نهٔ دے چه د هغوی د میلمستیا ورکولو نه تنګ شو دا غلط مطلب دے.

وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعًا : ذرع په ځای د طاقت استعمالیږی. اُوښ په خپلو لاسونو باندے د خپل قدم په اندازه فراخه مزل کوی خو کله چه پرے د طاقت نه زیات بار واچولے شی نو د هغه لیچه تنګه شی، نو ضیق الذرع کنایه وی د کموالی د وسع او طاقت نه او د سختوالی د کار نه. او د تنګوالی د سینے نه. (القرطبی، وفتح البیان)

عَصِیبٌ: یعنی شدید. (سخته) ورځ ده.

د لوط علیه السلام قوم ته ددے ښائسته میلمنو راتللو خبر وشو نو د هغوی سره د لواطت کولو په نیت سره ډیره په تیزئ سره ئې رامنډه کړه، لوط علیه السلام ته راورسیدل ځکه چه د مخکښ نه د سړو سره بد فعلی کول د دوی خبیث عادت راروان وو، او د نوم دپاره هم پکښ د شرم او د حیاء څه شے باقی پاتے نهٔ وو. کله چه هغوی دغه میلمنو طرف ته د لاس را اُوږدولو اراده وکړه نو لوط علیه السلام د میلمنو دفاع کولو سره او د بدمعاشانو د خیرخواهی کولو سره وویل چه اے زما د قوم خلقو ! دا زما لونړه دی یعنی د قوم جینکئ موجود دی، تاسو د دوی سره وادهٔ وکړئ، دنیاوی او اُخروی هر اعتبار سره به دا ستاسو دپاره زیاتے پاکے او ښے وی. اُوګورئ ! الله نه یره وکړئ، او په لواطت سره د هغهٔ نافرمانی مهٔ کوئ چه دا د زنا نه هم زیات خبیث عمل دے، او په میلمنو باندے لاس اُوږدولو سره ما رسوا نکړئ، آیا تاسو کښ یو هم داسے سړے نشته چه ددے بد کار نه منع شی او د نیکئ کار اختیار کړی ؟.

وَجَآءَهٗ قَوۡمُهٗ : دے قوم دا ملائك د هلکانو په شکل په راتللو کښ ولیدل یا د لوط علیه السلام ښځے قوم ته شیطانی وکړله ځکه چه دا مشرکه وه او ددے قوم نه وه او دا د خپل نا اهله قوم ملګرے وه او لوط علیه السلام خو عراقے وو، د اُور الکلدانیین نه راغلے وو چه دا د کلدانینو د ښارونو نه یو ښار دے. (المنار)

یُهۡرَعُونَ : کسائی او فراء وائی : اِهراع هغه تیز مزل ته وائی چه سره د رپیدو نه وی، د یخنئ یا د غضب یا د تبے د وجه نه. مجاهد وائی : په معنیٰ د یُهَرۡوَلُونَ سره دے. یعنی منډے ئې وهلے. یعنی دوی راز غلولے شو، ګویا که دوی دے طرفته بې حیایئ راز غلولی وو. (القرطبی والفتح)

دا د دوی ډیر قبیح حالت دے چه شهوت راخستی وو، سترګے پرے پټے وے۔

يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ : پدے کښې اشاره ده چه دوی کښې د مخکښې نه نور ډیر بد اعمال موجود وو لکه ګیرے خرئیل، کونترے الوزول، شپیلی وهل، په مجلسونو کښې ښکاره باد اچول، کنځلے کول، لارے شوکول، ښکاره فواحش او زنا او لواطت کول او شرك کول او د میلمونو بی عزتی کول۔

قَالَ يٰقَوْمِ : میلمانهٔ دننه دی، د قوم څه خلك دروازے ته راورسیدل نو لوط علیه السلام ور اُووتلو او دا خبره ئے ورته وکړه۔

هٰٓـؤُلَآءِ بَنَاتِیْ : دا څه ته اشاره ده؟ بعض مفسرین وائی چه دهٔ ورته خپلے لونړه پیش کړے، لیکن پدے باندے سوال دا دے چه دا خو دوه جینکئ وے او بل طرفته ټول قوم دے نو دوه جینکئ ټول قوم ته پیش کول خو لائق نهٔ دی؟ بیا ئے جواب کړیدے چه مقصد ئے دا وو چه دا دوه لونړه دِ ے ستاسو مشران وکړی۔ دا زما وس دے۔

لیکن دا تفسیر ضعیف دے۔

ظاهر تفسیر دا دے چه دا د کلی زنانو ته اشاره ده چه دا ټولے زما لونړه دی او د مشرانو طریقه دا وی چه د کلی زنانه خپلے لونړه ګڼړی، او مقصد ئے دا وو چه تاسو لاړ شئ او د خپلو ښځو سره شهوت رسانی وکړئ، په هغے سره به ستاسو پاکی راشی۔ لکه په حدیث نبوی کښې راغلی دی چه څوك یوه ښځه وینی چه دے په تعجب کښې واچوی نو خپلے ښځے ته دِ ے ورشی او خپل شهوت دِ ے ترے پوره کړی ځکه چه دغه ښځه ددے ښځے په شان ده۔ (المنار) (الترمذی رقم : ۱۱۵۸) واسناده صحیح)

بعض عقل پرست خلك ددے صحیح روایت نه انکار کوی۔

هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ : یعنی دا تاسو لره پاکونکی دی۔ وجه دا ده چه هر شهوت پوره کولو سره زړه خرابیږی سویٔ د شهوت د جماع نه د خپلے بی بی سره چه پدے سره زړه صفا کیږی، وسوسے، غلط تصورات ختم شی او عبادت ته ئے زړه فارغ شی۔ او ظاهری پاکی هم راولی چه کله په بدن کښې نطفه زیاته جمع شی نو د هغے په وجه ئے صحت خراب شی، دانے او خارخ او ګرمائش او قسماقسم بیماریانے پکښې پیدا شی۔

او بل طرفته په ګنده ځای کښې حاجت پوره کولو سره انسان نور خبیث شی، زړه ګنده شی، په بدن کښې بیماریانے پیدا شی۔

وَلَا تُخْزُوْنِ فِیْ ضَیْفِیْ : یعنی ما باندے شرم او ذلت د میلمنو په باره کښې مهٔ راکاږئ۔

ځکه چه د میلمنو بی عزتی د کور به بی عزتی ده۔
ضَيْفِي: ضیف اطلاق په مفرد، تثنیه او جمع ټولو باندے کیږی۔
رَجُلٌ رَّشِيْدٌ : ذُوْ رُشْدٍ يُرْشِدُكُمْ اِلٰى تَرْكِ هٰذَا الْعَمَلِ الْقَبِيْحِ وَيَمْنَعُكُمْ مِنْهُ۔
یعنی تاسو کښې څوك هوښیار او عقلمند سړے نشته چه تاسو ته ددے بد عمل د پریخودو رهنمائی وکړی او ددے نه مو منع کړی۔ (فتح)

## د رشید معانی

۱- رَجُلٌ يَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔ (عکرمۃ) یعنی لا اله الا الله ویونکے نشته۔ چه هغه هوښیار سړے وی۔ ۲- اَلْآمِرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهِيْ عَنِ الْمُنْكَرِ۔ (ابن اسحاقؒ- بغویؒ)
یعنی امر بالمعروف او نهی عن المنکر والا درکښې نشته۔

| |
|---|
| قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ج |
| اُووئیل دوی یقیناً پوهیږے ته چه نشته مونږ لره په لونړو ستا کښې څه حاجت |
| وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ قَالَ لَوْ |
| او یقیناً خامخا ته پوهیږے په هغه څه چه مونږه ئے غواړو۔ ووئیل هغهٔ، ارمان دے |
| اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾ |
| چه وے ما لره په تاسو طاقت یا پناهی حاصله کړے وے ما قبیلے مضبوطے ته۔ |

**تفسیر** : دے بدبختو د لوط علیه السلام نصیحت ته هیڅ توجه ورنکړه، او په انتهائی بے حیائی سره ئے د خپل باطنی خباثت اظهار وکړو وے ویل چه اے لوطه! ته د مخکښې نه پوهیږے چه مونږ د ښځو خواهش نهٔ لرو، تا ته ښه معلومه ده چه مونږ څه غواړو، زمونږ د خپل شهوت اُور د مړ کولو دپاره هغه کم عمره ښائسته هلکان پکار دی کوم چه تا سره موجود دی۔
مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ: ۱- مِنْ حَاجَةٍ وَشَهْوَةٍ وَرَغْبَةٍ۔ (بغویؒ والمنار)
یعنی مونږ ستا د لونړو په باره کښې هیڅ حاجت او شهوت او مینه نهٔ محسوس کوو، یعنی تا ته معلومه ده چه مونږ د ښځو خواهش نهٔ لرلو او دے ته مو توجه نهٔ پیدا کیږی (ځکه چه فطرت ئے خراب شوے وو) بلکه د هلکانو سره خواهش پوره کول غواړو۔ لکه د

يو سړى معده خرابه شي نو بيا خاوره خوړل ورله مزه وركوي.

۲- يا ما موصوله ده او معنىٰ دا ده: يقيناً تا ته معلوم دي هغه حق د فائدي اخستو د بنځو نه كوم ته چه ته لونړه وائي، د هغوى سره خو مونږ وسيږو. فائدي ترې اخلو نو د هغوى راپيش كول مونږ ته دي دپاره چه مونږ پرې د خپلې ارادي نه واوړو هيڅ معنىٰ نهٔ لري بلكه زمونږ اراده تا ته معلومه ده چه هغه د هلكانو طلب كول دي چه پدي باندي مونږ بل هيڅ نهٔ غوره كوو. (المنار)

قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً: كله چه لوط عليه السلام ته يقين وشو چه دا بد بختان ددهٔ په ميلمنو باندي ضرور لاس اُوږدوى نو وې وئيل چه ارمان! كه په ما كښې خپله قوت وي يا زما د خاندان خلق دلته موجود وي، يا نور مضبوط خلك وي چه هغوى محتاجو او پناهي طلب كونكو ته پناه وركوى نو ما ضرور تاسو وهلئ او ددي ځاى نه مي زغلولئ او د خپلو ميلمنو حفاظت مي كولو. نو جواب د (لَوْ) پټ دي، يعنى لَدَافَعْتُكُمْ عَنْهُمْ وَمَنَعْتُكُمْ مِنْهُمْ. يعنى ما تاسو ضرور د دوى نه ديكه كولئ او د دوى نه مي منع كولئ. (المنار وفتح البيان)

نو دا خطاب دي قوم ته. مقصد د لوط عليه السلام اظهار د عذر وو دغه ميلمنو ته چه كه زما طاقت وي نو دا خلك ما برابرول يا كه قبيله مي دلته موجوده وي نو هغه مي راغوښتل او دا خلك مي پرې وهل ليكن نهٔ مي قبيله شته او نهٔ مي بدني طاقت نو كه ستاسو بې عزتي زما په كور كښې وشي نو زهٔ به معذور يم.

صاحب المنار وائي چه غوره دا ده چه دا خطاب دي دغه ميلمنو ته يعنى كه زما دپاره تاسو سره څه طاقت وي چه د هغې په ذريعه مي ددي قوم سره جګړه كولې شوي او دوى مو ديكه كولې شوي نو ما به ضرور جنګ كولې.

يا زما ارمان دا دي چه زما دپاره تاسو سره قوت وي نو زهٔ به ددي قوت په وجه ددي خلكو سره ملاؤ شوي وي.

ددي د غوره والي وجه دا ده چه ملائكو چه ددهٔ سخت غم او پريشاني وليده نو هغوى ورته جواب وركړو ﴿قَالُوْا يَا لُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ﴾ مونږ ستا د رب استازي يو او دا خلك مونږ او تا ته هيڅ ضرر نشي راكولې.

رُكْنٍ شَدِيْدٍ: نه مراد قبيله ده. يعنى زما خپله قبيله وي يا يوه بله مضبوطه قبيله وي چه هغوى محتاجو او مظلومانو او پناهي طلب كونكو ته پناهي وركوى لكه د عربو مشران. ددي ارمان ئي وكړو ځكه چه دي د عربو نه نهٔ وو نو پدي وجه ئي خپله مضبوطيا

په هغوی سره غوښتله۔ (المنار)

ځيني وائي : د قوة نه مراد بچي دي او د ركن شديد نه مراد د اولادو نه علاوه نور مددګار خلك دي۔ ركن په اصل كښې د غر يو طرفته ته وائي چه د زمكې سره انښتې وي۔

(التحرير والتنوير لابن عاشور)۔

د ركن شديد نه چه امام نوويؒ الله تعالىٰ مراد كړيدے نو دا خبره خطاء ده ځكه چه دا د آيت د ظاهر خلاف دے۔ (فتح البيان)

**تنبيه** : علامه قاسميؒ ليكي: امام ابن حزم رحمة الله عليه په خپل كتاب ((الملل والنحل)) كښې ليكلي دي : بعض خلق وائي چه دا چه نبي كريم ﷺ په صحيح حديث (د بخاري وغيره) كښې فرمايلي دي چه [رَحِمَ اللّٰهُ لُوطًا اِنَّهٗ كَانَ يَاْوِىْ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ] ((الله دِے په لوط باندے رحم وكړي چه هغه د يو قوي شي مدد غوختلو))۔

دا په لوط ؑ باندے د رسول الله ﷺ اعتراض وو نو دا خبره صحيح نۀ ده ، بلكه لوط ؑ د خپل خاندان يا د مسلمانانو په ذريعه فوري مدد غوختلو ، دے دپاره چه خپل قوم د لواطت كار نه بچ وساتي۔ د هغه د زړۀ او دماغو نه دا خبره د يو ساعت دپاره هم نۀ وه غائبه شوے چه د الله د ټولو نه قوي مدد هغه ته په هر حال كښې حاصل دے۔ او لوط ؑ كه د خلقو مدد طلب كړو نو پدے كښې هيڅ حرج نشته دے۔

د الله تعالىٰ وينا ده : ﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْاَرْضُ ﴾ چه ((كه الله خلقو لره په يو بل سره نۀ لرے كولے نو په زمكه كښې به فساد خور شوے وے))۔ البقره : ۲۵۱)۔

او خپله نبي كريم ﷺ د انصارو او مهاجرينو نه مدد غوختلے وو دے دپاره چه د الله دين نورو ته ورسي۔ نو بيا دا څنګه كيدے شي چه رسول الله ﷺ په لوط ؑ باندے د داسے كار په باره كښې اعتراض كړے وي چه هغۀ خپله كړے وو ؟

پدے وجه د حديث مطلب دا دے چه نبي كريم ﷺ د لوط ؑ په باره كښې خبر وركړ پدے چه دۀ ته د الله د طرف نه د راليږلے شوي ملائكو مدد حاصل وو چه هغه په ابتداء كښې ددے نه خبر نۀ وو۔ (محاسن التاويل)

| قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ |
|---|
| اُووئيل دوي اے لوطه ! يقيناً مونږه راليږلے شوي (ملائك) يو د رب ستا، هيچرے نشي |

| |
|---|
| يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ |
| رسیدلے دوی تا ته (په ضرر) نو بوځه ته اهل خپل په ټکړه د شپه کښې او شانه دِے نۀ ګوری |
| مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ مُصِيْبُهَا |
| ستاسو نه هیڅوك سوی د ښځے ستا نه، یقیناً خبره دا ده چه رسیدونکے دے دے ته |
| مَآ اَصَابَهُمْ ؕ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ؕ |
| هغه عذاب چه رسیږی به دے قوم ته، یقیناً وخت د وعدے (د عذاب) د دوی صبا دے، |
| اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا |
| آیا نۀ دے صبا نزدے۔ نو هرکله چه راغے حکم د عذاب زمونږ اُوګرځوو مونږه |
| عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ۵ |
| بره طرف ددے (کلو) لاندے د هغے او باران وکړو مونږ په هغے باندے د کاڼړو پخو شوو نه، |
| مَّنْضُوْدٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٣﴾ |
| د یو بل دپاسه۔ نخو والا وو په نیز د رب ستا، او نۀ دی دا (کاڼړی) د ظالمانو نه لرے۔ |

**تفسیر** : کله چه ملائکو دۀ د درد نه ډکے خبرے واوریدے او وے لیدل چه دۀ د قوم بدمعاشان خلق په دۀ باندے راخیژی او هغه ددفاع کولو نه عاجز شویدے، نو خپل حقیقت ئے ښکاره کړو او وے وئیل چه اے لوط ! مونږ ستا د رب ملائك یو، دا خلق تا ته هیڅ نقصان نشی رسولے، تۀ د شپے په آخری حصه کښې کله چه دا خلق د غفلت په خوب اُودۀ وی، خپل مسلمانان ملګری ځان سره کړه او دلته نه اُوځئ، دے دپاره چه کوم کافر تاسو لره ددے ځای نه د وتلو نه منع نکړی، او کله چه په دوی باندے عذاب نازلیږی او تاسو د دوی چغے او آوازونه آورئ نو دوی طرف ته مۀ ګورئ دے دپاره چه چرته د هغه عذاب اثر تاسو ته ونۀ رسی، لیکن ستا په بی بی به هغه عذاب ضرور نازلیږی ځکه چه هغه مؤمنه نۀ ده۔ وئیلی کیږی چه د صبا په وخت روانیدونکو مسلمانانو سره هغه هم وه،

لیکن کله چه هغے چغے او آوازونه واوریدل نو راتاؤ شوه وے کتل، ناڅاپه د آسمان نه یو کاڼړے راغلو او هغه ئے هلاکه کړه۔ د یو روایت مطابق د لوط علیه السلام د میلمنو اطلاع

بدمعاشانو ته همدے ورکړے وه۔
مَآ اَصَابَهُمْ : یعنی هغه عذاب چه رسیږی دوی ته۔ ماضی ئے راوړه، دا عذاب داسے یقینی راروان دے ګویا که پخوا نه ورته رسیدلے دے۔
اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ : لږ کسان ددے میلمنو دپاره راغلی وو او نور قوم په خپلو کارونو کښې مشغول وو لیکن هغوی هم پدے کار راضی وو، او دا مرض په کښې راروان وو، نو پدے وجه جبریل علیه السلام د دغه کسانو پسے راووتو او د دوی سترګے ئے په وزر سره ړندے کړے نو دوی په شا روان شو او چغے او سورے ئے جوړے کړے، پدے کشمکش کښې وو چه لوط علیه السلام ترے د شپے ووتو او دوی باندے عذاب راغلو۔
الله تعالیٰ پرے د کاڼرو باران وکړو او کلی ئے ورله اپوته زمکے ته راګوزار کړل۔ وجه دا وه چه دوی د فطرت اپوته (الټه) کار کړے وو نو عذاب هم د هغے مطابق ورکړے شو۔
اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ : نقل شویدی چه لوط علیه السلام د ملائکو نه تپوس وکړو چه د دوی د هلاکت وخت به کوم وی ؟ نو هغوی دا خبره وکړه چه وخت د هلاکت د دوی د صبا د راختلو وخت دے، نو هغه ووئیل چه ددے نه هم زهٔ زر غواړم نو ملائکو ووئیل : اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ۔ آیا صبا ګنے نزدے نهٔ دے، بس دغه شپه آخر ته رسیدل دی۔
فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا : کله چه د عذاب مقرر وخت راغلو نو د الله تعالیٰ په حکم سره جبریل علیه السلام خپل وزر د قوم لوط د پنځه کلو لاندے داخل کړو او هغوی ئے د زمکے د سطح نه راپورته کړل او بیا ئے هغوی اُلټه کړل او په زمکه ئے راویشتل، دے نه روستو ئے په هغوی باندے پرله پسے د کاڼرو باران وکړو چه په هغے باندے د الله تعالیٰ د طرف نه د هر کافر نوم لیکلے وو۔ وئیلے کیږی چه پدے کلو کښې څلویښت لاکهه کسان وو۔ (فتح البیان)

## سوال وجواب

کله چه دوی د کلی په الټه کولو سره هلاك شول نو بیا د کاڼرو د باران څه فائده ده؟
جواب دا دے چه الله تعالیٰ پدے قادر دے چه پس د مرګ نه هم داسے کافرانو ته په کاڼرو سره سزا ورکړی۔ یا دا چه دوی لا د زنکدن په حالت کښې وو چه دپاسه پرے د کاڼرو بمباری هم وشوه۔
مفسر مهایمیؒ لیکلی دی چه چونکه د دوی عمل د زناکارو سره مشابه عمل وو پدے وجه په دوی باندے ئے د کاڼرو باران وکړو۔

حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ : سجيل د ختمو نه پوخ كړے شوى كانړى۔ يا سخت او مضبوط كانړى ته وائى۔ سجيل په اصل كښ فارسى دوه الفاظ دى : سنگ وگل۔ يعنى كانړے او ختہ نو عربئ كښ ترے يوه كلمه جوړه شوه۔ (فتح البيان)

مَّنضُوْدٍ: يعنى د يو د بل دپاسه پرے راروان وو۔ يو كانړے نۀ وو بلكه ډير وو۔

مُّسَوَّمَةً: يعنى دغه كانړى نښه دار وو، په هر كانړى باندے د هر شخص نوم ليكلے شوے وو چه د چا په سر به ورغورزيدو۔

فراۤء وائى : خلك وائى چه دے باندے سرے او تورے او سپينے كرخے وے۔

ابن جريجؒ وائى چه داسے نښے وے چه د زمكے د كانړو سره مشابه نۀ وے۔(فتح)

وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ : يعنى دغه كانړى صرف د دغه قوم دپاره نۀ وو بلكه دا د ظالمانو نه اُوس هم لرى نۀ دى، پدے كښ هر ظالم او كافر او خاصكر د مكے مشركانو ته زورنه ده چه تاسو باندے هم الله تعالىٰ دغه شان كانړى راورولے شى۔ (مجاهدؒ)

يا هِيَ نه مراد دغه كلى دى، او ظالمين نه مراد د مكے مشركان دى يعنى هغه كلى د مكے مشركانو نه څه زيات لرے نۀ دى۔ كله چه دوى د شام په سفر روانيږى نو د هغه كلو پراتۀ آثار په خپلو ستركو وينى۔ دوى له د هغے په كتلو سره عبرت حاصلول پكار دى چه چرته دوى هم د لوط ﷺ د قوم په شان د الله عذاب راګير نكړى۔ د هغه كلى په ځاى اُوس د ترخو اُوبو درياب موجود دے چه هغه ته بحر ميّت وائى۔ ځكه چه دغه اُوبه كوم حيوان نشى څكلے، ديته بحيرهٔ لوط هم وائى۔ او ددے خواؤشا زمكه خرابه ده چه هيڅ هم نۀ رازرغونوى۔ (فتح البيان)

| |
|---|
| وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ط قَالَ يٰقَوْمِ |
| او (ليږلے وو مونږ) مدين والو ته ورور د هغوى شعيب (ﷺ) اُووئيل هغه اے قومه زما ! |
| اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط وَلَا |
| بندګى خاص كړئ الله لره نشته تاسو لره څوك حقدار د بندګئ سوى د هغۀ نه، او مۀ |
| تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ |
| كموئ پيمانه او تله يقيناً وينم زۀ تاسو لره په مالدارئ كښ او يقيناً يريږم زۀ په تاسو |

| |
|---|
| عَذَابَ یَوۡمٍ مُّحِیۡطٍ ﴿۸۴﴾ وَیٰقَوۡمِ اَوۡفُوا الۡمِکۡیَالَ وَالۡمِیۡزَانَ بِالۡقِسۡطِ |
| د عذاب د ورځې راګیرونکې نه. او اې قومه زما! پوره کوئ پیمانه او تله په انصاف سره |
| وَلَا تَبۡخَسُوا النَّاسَ اَشۡیَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡا فِی الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِیۡنَ ﴿۸۵﴾ |
| او مهٔ کموئ د خلقو نه څیزونه د هغوی او مهٔ ګرځئ په زمکه کښې فساد کونکي. |

**تفسیر** : ددې آیتِ کریمه نه د شعیب علیه السلام او د هغهٔ د قوم مدین والو واقعه شروع کیږي. دا واقعه په سورة الاعراف د (۸۵) نه تر (۹۳) پورې په تفصیل سره تیره شویده. شعیب علیه السلام د خپل ښائسته خطاب په وجه خطیب الانبیاء یادیږي. دوی اول خپل قوم ته د یو الله د عبادت دعوت ورکړو، دې نه روستو ئې په ناپ تول کښې د کمي کولو نه منع کړل. کوم چه د کفر نه روستو د هغوی دویم بد صفت وو. (هر نبي د خپل قوم د بدو صفاتو رد کړیدې) دوی چه به کله د چا نه یو شې اخستو نو غټه پیمانه او غټ سیر به ئې استعمالولو، او کله چه به ئې په چا باندې یو شې ورخرڅولو نو وړه پیمانه او وړوکې سیر به ئې استعمالولو. بیائې وویل چه الله تاسو ته قسماقسم نعمتونه درکړیدي، چرته داسې ونهٔ شي چه ستاسو د ګناهونو په وجه دا نعمتونه تاسو نه واخستې شي، او یو مُهلِك او دردناك عذاب تاسو راونهٔ نیسي.

**وَاِلٰی مَدۡیَنَ** : د سورة الاعراف په تفسیر کښې ذکر شوی چه مدین د ابراهیم علیه السلام د ځوی نوم وو بیا د قبیلې نوم وګرځیدو. او ځیني وائي چه دا په اصل کښې د یو ښار نوم دې چه ذکر شوی مدین جوړ کړې وو نو مراد د مدین نه اهل مدین دی. او مدین د قنطورا بنت یقطان کنعانیه ځوی وو کوم چه د ابراهیم علیه السلام بي بي وه.

او ددې قنطورا نه اته ځامن پیدا شوی وو چه د ټولو نه لوی نسلونه خوارهٔ شویدي. او دا مدین د بحر قلزم په غاړه دې، د تبوك سره تقریباً په شپږو مرحلو برابر پروت دې، او دا د تبوك نه لوی ښار دې او دلته یو کوهې هم شته چه د هغې نه به موسیٰ علیه السلام د شعیب علیه السلام دپارهٔ ګډو بزو ته خړوبه کولې او په هغې باندې یوه کوټه هم جوړه شویده.

**اَخَاهُمۡ** : نسبي ورور د هغوی، ځکه چه شعیب بن میکائیل بن یشجر بن مدین بن ابراهیم علیه السلام دې.

د انبیاؤ طریقه دا وی چه قوم ته په دعوت کښې اَهم فَالاَهم مخکښې ذکر کوی، لکه دلته

ئې د توحيد دعوت مخکښې ذکر کړو بيا ئې د باقي بد عادتونو نه منع وکړه.

**اَرٰكُمْ بِخَيْرٍ**: اَیْ بِثَروَةٍ وَسعَةٍ فِی الرِّزق تُغنِیْکُم عَنِ البَخسِ ۔ زهٔ تاسو په مالدارئ او د رزق په فراخئ کښې وينم چه دا تاسو د کمی کولو نه بې پرواه کوی. (فتح البيان)

يعني دے مالونو ته به مو نقصان ورسی که توبه مو ونهٔ ويستله.

**وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ**: اول ئې د ناپ تول کښې کمی کولو نه منع وکړه، اُوس د هغې د تاکيد په توګه وائی چه کله د خلقو سره د اخستو خرڅولو معامله کوئ نو په عدل او انصاف سره پوره پوره تول کوئ. دے نه روستو ئې د زيات تاکيد په توګه وويل چه د خلقو د حقوقو په اداکولو کښې کمی مهٔ کوئ، اګرکه هغه په ناپ تول کښې وی يا بله کومه معامله وی، او په زمکه کښې فساد مهٔ خوروئ. او په فساد کښې هر هغه عمل داخل دے چه په هغې سره د الله تعالیٰ نافرمانی کيږی (لکه د الله تعالیٰ سره شرك كول، او دے طرف ته د غيرو رابلل، او د الله د دين نه خلق منع کول) يا د بندګانو حقوق پائيمال کيږی لکه غلاکول، ډاکه اچول، او په ناپ تول کښې کمی کول وغيره.

| |
|---|
| بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿٨٦﴾ |
| باقيمانده ګټه د الله غوره ده تاسو لره که يئ تاسو ايمان والا، او نهٔ يم زهٔ په تاسو نګهبان |
| قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا |
| (ساتونکے). اُووئيل دوی اے شعيبه ! آيا مونځ ستا حکم کوی تا ته چه پريږدو مونږ هغه څه |
| يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَا |
| چه بندګی ئې کوله پلارانو زمونږ يا (پريږدو) کار کول په مالونو زمونږ څنګه |
| نَشٰٓؤُا ۭ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ﴿٨٧﴾ |
| چه مونږ غواړو. يقيناً ته (په خپل ګمان) خامخا ته خو ډير صبرناك، هوښيار ئې. |
| قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ |
| ووئيل هغه اے قومه زما ! آيا سوچ کړيدے تاسو که يم زهٔ په ښکاره دليل |
| مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ |
| د طرفه د رب زما نه او راکړے ئې وی ما ته د خپل طرف نه رزق ښائسته، (نو آيا ماله جائز |

| |
|---|
| وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ |
| دی چه زهٔ د الله په وحی کښې خیانت اُوکړم) او نهٔ غواړم زهٔ چه مخالفت اُوکړم ستاسو نه |
| اِلٰى مَآ اَنْهٰكُمْ عَنْهُ ؕ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا |
| لاړ شم هغې ته چه منع کوم تاسو د هغې نه، نهٔ غواړم مګر اصلاح کول څو مره |
| اسْتَطَعْتُ ؕ وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ |
| چه طاقت لرم او نهٔ دے توفیق (مدد) زما مګر په الله دے، |
| عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿۸۸﴾ |
| خاص په هغه ما ځان سپارلے دے او خاص هغه ته به ورګرځم۔ |

**تفسیر** : یعنی د خلقو د حقوقو په عدل او انصاف سره ادا کولو نه روستو چه تاسو سره د الله درکړے کوم حلال مال پاتے شی، دا د هغه مال نه زیات برکت والا دے کوم چه په ناپ تول کښې د کمی او د خلقو د حقوقو په وهلو او د غلا او د ډاکے په ذریعه حاصل شی۔

**بَقِيَّتُ اللّٰهِ** : ۱ - طَاعَةُ اللّٰهِ (مجاهدؒ) د الله تعالیٰ طاعت ستاسو دپاره غوره دے۔

۲ - مَا اَبْقَى اللّٰهُ لَكُمْ مِنَ الرِّبْحِ فِي التِّجَارَةِ۔ یعنی الله چه تاسو ته په تجارت کښې کومه ګټه درکوی دا ستاسو دپاره غوره ده نو حرامے طریقے سره مال جمع کولو کښې څه فائده ده؟

۳ - [اَلْاَعْمَالُ الصَّالِحَةُ الَّتِيْ يَبْقَى اَثَرُهَا الْحَسَنُ فِي الدُّنْيَا وَثَوَابُهَا فِي الْآخِرَةِ] - هغه نیک اعمال چه د هغے ښائسته اثر په دنیا کښې او ثواب ئے په آخرت کښې پاتے کیږی۔ (المنار)

٤ - وَصِيَّةُ اللّٰهِ۔ (ربیعؒ) د الله تعالیٰ وصیت۔

٥ - مُرَاقَبَةُ اللّٰهِ۔ (فراءؒ) (د الله تعالیٰ لحاظ ساتل)

٦ - حَظُّكُمْ مِنَ اللّٰهِ۔ د الله تعالیٰ د طرفنه ستاسو برخه۔ (قتادهؒ)۔ (المنار)۔

**اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ**: ځکه چه ایمان هغه شے دے چه نفس د بیکاره طمعو نه صفا کوی او د قناعت او کرم او سخاء په فضیلت سره ئے ښائسته کوی۔ (المنار)

**وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ** : زهٔ خو د الله د دین مبلغ یم، خپله ذمه واری پوره کوم۔ په تاسو باندے نګران نهٔ یم مقرر کړے شوے چه تاسو به په زوره د بدو اعمالو نه بندوم۔ یا به سزا درکوم۔

اَصَلٰوتُكَ: شعيب عليه السلام به ډير مونځونه كول او د الله په ذكر كښې به مشغول وو، پدے وجه كافرانو د هغهٔ دعوت رد كولو سره ووئيل چه اے شعيبه ! آيا ستا مونځونه تا ته حكم دركوى چه مونږ هغه معبودان پريدو چه د هغے به زمونږ پلارانو عبادت كولو، يا د خپل مال زياتولو دپاره چه څه مونږ كوو دا پريدو. تهٔ خو په خاندان او قوم كښې ډير سوچ او فكر او پوهے والا ګڼلے كيدے، بيا دا د ګمراهئ خبرے ولے كوے ؟!.

يا د صلاة نه مراد دين دے.

اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ : دا د دوى جواب دے ددے قول د شعيب عليه السلام چه دوى ته ئے د كيل او وزن په پوره والى حكم كړے وو. (اَوْ) په معنىٰ د واو سره دے (اَوْ اَنْ نَفْعَلَ) په تاويل د مصدر سره عطف دے په (مَا يَعْبُدُ) باندے نو د ترك د لاندے دے. معنىٰ دا ده : [اَىْ وَنَتْرُكَ الْفِعْلَ فِىْ اَمْوَالِنَا كَيْفَ نَشَاءُ مِنْ تَنْمِيَةٍ وَاسْتِغْلَالٍ وَتَصَرُّفٍ فِى الْكَسْبِ مِنَ النَّاسِ بِمَا نَسْتَطِيْعُ] (المنار)

يعنى او پريدو كار كول په خپلو مالونو كښې په كومه طريقه چه مونږ غواړو چه مالونه زيات كړو او د خلكو نه د خپل وس مطابق مالونه راجمع كړو په هوښيارتيا او طريقے سره، حال دا چه دا خو زمونږ په حريت (آزادئ) باندے پابندى لګول دى او زمونږ په هوښيارتيا باندے فيصله كول دى. پدے دواړو جملو كښې ئے مقصد دا وو چه په دينى او دنياوى دواړو طريقو سره د هغهٔ دعوت رد كړى يعنى يو مو د مشرانو د لارے نه اړوے او بل مو دنيا خرابوے. نو څكه ئے هغه ته تعريض او پوره استهزاء وكړه پدے جملے سره چه :

اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ : تهٔ خو ډير صبرناك او هوښيار ئے چه مونږ ددے كارونو نه منع كوے. پدے كښې د دوى غرض استهزاء او توقے كول وو چه ډير هوښيار راغلے ئے؟!.

د ابن عباسؓ نه نقل دى چه د دوى مقصد دا وو : اِنَّكَ لَسْتَ بِحَلِيْمٍ وَلَا رَشِيْدٍ اَىْ اَنْتَ السَّفِيْهُ الْغَاوِىْ) يعنى تهٔ صبرناك او هوښيار نهٔ ئے بلكه تهٔ بى وقوف او ګمراه ئے. (والعياذ بالله)

(فتح البيان ومعالم التنزيل للبغوى)

لكه عرب كله د يو شى صفت په ضد سره كوى لكه لديغ (چيچلے شوى) ته سليم (رُوغ رمټ) وائى او دشتے او بيابان ته مفازه (د كاميابئ ځاى) وائى. (فتح البيان)

اَلْحَلِيْمُ: (اَلْعَاقِلُ الْكَامِلُ فِىْ اَنَاتِهٖ وَتَرَوِّيْهِ فَلَا يَتَعَجَّلُ بِاَمْرٍ قَبْلَ الثِّقَةِ مِنْ صِحَّتِهٖ) حليم : هغه چا ته وائى چه پوره عقل والا وى په خپلو فكرونو كښې نو جلتى نكوى په يو كار كښې مخكښې د پوره اعتماد حاصلولو نه د صحت د هغے. او رشيد : اَلرَّاسِخُ فِىْ هِدَايَتِهٖ وَهَدْيِهٖ فَلَا يَأْمُرُ اِلَّا بِمَا اسْتَبَانَ لَهٗ مِنَ الْخَيْرِ وَالرُّشْدِ] . هغه انسان چه پوخ وى په هدايت او طريقه د

ژوند کښې نو هغه حکم نکوی مګر په هغه خیر او رشد باندے چه دهٔ ته ښکاره شی۔ (المنار)

دے کښې دغه مخکنے مطلب هم صحیح دے چه حاصل ئے دا دے:

اِنَّكَ لَاَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ فَلِمَ تَنْهَانَا وَتَشُقُّ عَصَا قَوْمِكَ وَتُخَالِفُهُمْ.

یعنی تهٔ خو صبرناك او هدایت والائے نو مونږ ولے منع کوے او د خپل قوم مخالفت کوے او هغوی کښې اختلاف پیدا کوے۔ اوله معنیٰ ظاهره ده او په محاوره باندے بناء ده۔

قَالَ يٰقَوْمِ: شعیب علیه السلام د هغوی د کفر او عناد او استهزاء جواب ورکولو سره وویل چه خلقو! الله ما ته د علم او نبوت نعمت راکړیدے، او زما په حلال رزق کښې ئے ښه فراخی راکړیده، نو آیا زما دپاره دا مناسب دی چه صرف ستاسو د خوشحاله ساتلو دپاره د الله په وحی کښې خیانت وکړم، خلق د شرك او ظلم نه منع کړم او د خپل نفس د اصلاح دعوت پریدم؟ او زهٔ نهٔ غواړم چه د کومو کارونو نه تاسو منع کوم چه هغه خپله وکړم، تاسو خو د بتانو د عبادت نه منع کوم او خپله په هغے عمل وکړم، او ما چه تاسو ته د کوم خیر کار کولو دعوت درکړیدے، او د بدیٔ نه مے منع کړیده نو زما مقصود ستاسو اصلاح ده۔ او ما ته د هر خیر توفیق راکونکے صرف الله تعالیٰ دے، زما اعتماد صرف په هغهٔ دے او په خوشحالیٔ او غم هر حال کښې زما ملجا او مأویٰ (ځای د پناهیٔ او واپسیٔ) صرف هغه ذات دے۔

## د رزق حسن مطلبونه

وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا: ۱- د رزق حسن یو مصداق نبوت دے۔

۲- او بل مالداری او حلال مال۔ ۳- حکمة۔ ٤- العلم۔ ٥- الهدایة۔

د اِنْ كُنْتُ: جزاء محذوفه ده اَیْ فَهَلْ يَجُوْزُلِيْ اَنْ اَخُوْنَ فِيْ وَحْيِهٖ ۔ آیا ما له دا جائز دی چه زهٔ (ستاسو د خوشحالولو دپاره) د هغهٔ په وحی کښې خیانت وکړم، او تاسو ته ئے بیانه نکړم۔ (فتح البیان) او تاسو چه ما ته حلیم او رشید وایئ نو د حلیم او رشید سره دا څنګه لائق دي چه د خپل رب د حکم خلاف وکړی او حال دا چه هغه پرے ډیر نعمتونه کړیدی۔

وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ: یعنی زهٔ چه تاسو ته کومه مسئله کوم نو زهٔ پرے خپله هم عمل کوم او د هغے مخالفت نکوم۔ یعنی تاسو له هغه شے خوښوم کوم چه ځان له خوښوم۔ نو دا ډیره صفا خیرخواهی ده۔

قتادۀ وائی : ددے معنیٰ دا ده : لَمْ اَكُنْ اَنْهَاكُمْ عَنْ اَمْرٍ وَاَرْتَكِبُهُ۔
زۀ تاسو د يو كار نه نۀ منع كوم چه بيا ئے پخپله كوم۔ (فتح)
اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ : يعنى زۀ چه دا مسئلے كوم او امر او نهى كوم زما مقصد پكښ ستاسو اصلاح ده او ستاسو د دين او معاملاتو نه فساد ختمول دى۔

## فائده: د دعوت آداب

پدے آيت كښ د داعى دپاره ډيرو ښكلو آدابو ته اشاره شويده لكه ما اريد نه معلوميږى چه داعى له پكار دى چه دے به هغه خبره خلكو ته بيانوى چه اول پرے خپله ښۀ عامل وى، او قوم لره به هغه شے غواړى كوم چه ځان دپاره خوښوى۔
(اِلَّا الْاِصْلَاحَ) كښ دا ادب پروت دے چه د داعى مقصد به د قوم اصلاح وى۔
او (مَا اسْتَطَعْتُ) كښ دى چه داعى به خپل ټول وس د اصلاح دپاره خرچ كوى او هر ممكن كوشش به كوى چه د خلكو اصلاح وشى۔
(وَمَا تَوْفِيْقِىْ) كښ اشاره ده چه داعى به پدے كار كښ د الله تعالىٰ نه مدد او توفيق غواړى، او خلكو ته به دا ښكاره كوى چه الله تعالىٰ ما ته دا حق رانصيب كړيدے ځكه ئے زۀ تاسو ته بيانوم۔ او تكبر به نۀ كوى بلكه د كمالاتو نسبت به الله تعالىٰ ته كوى۔
او (عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ) كښ اشاره ده چه كه د دعوت په باب كښ په دۀ باندے كوم تكليفونه راځى نو په الله تعالىٰ به ځان سپارى او د چا د دهمكيانو نه به يره نكوى چه د هغے په وجه حق پريږدى۔
وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ: نه معلوميږى چه داعى به الله تعالىٰ ته په هر كار كښ رجوع كوى او د هغه په بندگئ او دعاء كښ به خپل وخت لگوى دے دپاره چه په دعوت كښ ئے اثر پيدا شى۔

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىْٓ اَنْ |
| او اے قومه زما ! په جرم (گناه) كښ دِے وانچوى تاسو لره دشمنى زما چه |
| يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْقَوْمَ |
| ويه رسيږى تاسو ته په شان د هغے عذاب چه رسيدلے وو قوم د نوح او قوم د هود او قوم |
| صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ |

د صالح ته، او نهٔ دے قوم د لوط (علیه السلام) ستاسو نه لرے۔ او بخنه غواړئ د رب ستاسو نه

ثُمَّ تُوبُوٓا اِلَيۡهِ ؕ اِنَّ رَبِّیۡ رَحِيۡمٌ وَّدُوۡدٌ ﴿۹۰﴾ قَالُوۡا

بیا توبه وباسئ هغهٔ ته، یقیناً رب زما رحم کونکے ډیره مینه کونکے دے۔ اُووئیل دوی

يٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيۡرًا مِّمَّا تَقُوۡلُ وَاِنَّا

اے شعیبه! نهٔ پو هیږو مونږ په ډیرو د هغے خبرو چه ته ئے وائے او یقیناً مونږه

لَنَرٰىكَ فِيۡنَا ضَعِيۡفًا ۚ وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ

خامخا وینو تا لره په مونږ کښ کمزورے، او که چرته نهٔ وے قبیله ستا

لَرَجَمۡنٰكَ ۖ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيۡزٍ ﴿۹۱﴾

خامخا په کاڼو به ویشتلے وے مونږ تا لره، او نهٔ ئے ته په مونږ باندے عزتمند۔

قَالَ يٰقَوۡمِ اَرَهۡطِیۡۤ اَعَزُّ عَلَيۡكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

اُووئیل دهٔ اے قومه زما! آیا قبیله زما ډیره عزتمنه ده په تاسو د الله نه

وَاتَّخَذۡتُمُوۡهُ وَرَآءَكُمۡ ظِهۡرِيًّا ؕ

او نیولے دے تاسو هغه لره روستو د شان نه شاته غورځولے شوے۔ (هیڅ لحاظ ئے

اِنَّ رَبِّیۡ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ مُحِيۡطٌ ﴿۹۲﴾

نکوئ) یقیناً رب زما په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ راګیرونکے دے۔

**تفسیر**: هغوی ته ئے د کفر او عناد نه یره ورکولو سره ووئیل چه اے زما د قوم خلقو! زما د دشمنئ او مخالفت په وجه په خپل کفر او فساد پورته کولو اصرار او همیشوالے مهٔ کوئ، ورنه په تاسو به هم د الله عذاب هغه شان نازل شی لکه څنګه چه په قوم د نوح علیه السلام، په قوم د هود علیه السلام، په قوم د صالح علیه السلام او په قوم د لوط علیه السلام باندے ستاسو نه مخکښ نازل شویدے۔ او د لوط علیه السلام د قوم زمانه او د هغوی علاقه ستاسو نه څه ډیره لرے هم نهٔ ده۔ او په هغوی باندے چه د الله کوم عذاب راغلو نو هغه تاسو ته معلوم دے، او د هغے د تهولو نه لوئی سبب دا وو چه هغوی په کفر او عناد باندے همیشوالے وکړو او د لوط علیه السلام خبره ئے رد کړے وه۔

وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ: د عذاب نه د يرولو نه روستو ئے هغوی ته نصيحت وكړو چه د بتانو د عبادت نه توبه وباسی، د الله نه بخنه طلب كړی، او د الله په توحيد عمل كونكی شی، او په ناپ تول كښې د كمی كولو نه منع شی، نو الله لوئی مهربان دے، او د خپلو بندګانو سره ډير محبت كونكے دے، هغه به يقيناً دوی معاف كړی او په دوی به رحم وكړی۔

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ: دوی د سپكوالی نه ډك انداز كښې ووئيل چه اے شعيبه! ستا خبرے زمونږ په دماغو او پوهه كښې نۀ راځی، تۀ د غيبی څيزونو خبرے كوے۔ د مرګ نه روستو دوباره پورته كيدو، د الله د توحيد او په مال كښې د حلال او حرامو خبرے كوے، دا تولے خبرے قابل قبول نۀ دی، تۀ د خپلو دے خبرو په وجه سره د ټولو نه كټ كيدو سره يواځے پاتے شوے ئے، ستا هيڅ حيثيت نۀ دے پاتے، كه ستا د قوم خيال نۀ وے نو مونږ به په كانړو ويشتو سره هلاك كړے وے۔ او تۀ زمونږ په نظر كښې په هيڅ حيثيت سره معزز نۀ ئے۔ مونږ چه تا نۀ رجم كوو، دا صرف ستا د قوم خيال ساتو چه اُوسه پورے مو ته پريخے ئے ځكه چه هغه خلق زمونږ په دين باندے دی۔

مَانَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ: دا يا په حقيقت بناء دے چه واقع كښې دوی په دغه غيبی خبرو نۀ پوهيدل ځكه چه مشركان جاهلان وی، په ښكاره خبرو هم نۀ پوهيږی۔ يا دوی په خبره پوهيدل ليكن مقصد ئے دا وو چه مونږ ستا د خبرو د آوريدو نه اعراض كوو او مونږ سره ددے هيڅ باك او اهميت نشته او ستا خبرے سپكے او معمولی دی۔ (فتح البيان)

باطل پرست هميشه د حق پرستو دعوت معمولی ښكاره كوی چه دا خو دومره اَهمے مسئلے نۀ دی چه انسان ورته وخت وركړی او دے ته غوږ كيږدی۔

وَاِنَّا لَنَرٰكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا: ۱- يعنی ستا هيڅ طاقت او قدرت نشته چه د هغے په وجه زمونږ نه ځان بچ كړے او زمونږ د مخالفت نه په هغے سره قادر شے۔ او سره ددے ضعف نه تۀ مونږ د عذاب محيط نه يروے۔ (فتح والمنار)

۲- يا مَهِيْنًا لَا عِزَّ لَكَ۔ يعنی تۀ په مونږ كښې سپك ئے، چه هيڅ عزت دِے نشته۔

۳- ځينی وائی چه دا ئے ورته ځكه ووئيل چه پدے وخت كښې شعيب عليه السلام د الله تعالیٰ د محبت نه د ډيرے ژړا په وجه ړوند شوے وو۔ (سعيد بن جبيرؒ)

٤- سُدّیؒ وائی: ددے معنیٰ دا ده (اِنَّمَا اَنْتَ وَاحِدٌ) تۀ يو تن ئے چه ټول قوم ستا خلاف دے۔ ٥- ذَلِيْلًا۔ (حسنؒ ومقاتلؒ) يعنی تۀ په مونږ كښې ذليل او بی عزته ئے۔

اول قول غوره دے ځكه چه د روستو (وَلَوْلَا رَهْطُكَ) سره زيات مناسبت لری۔

(فتح البيان والقرطبى)

**وَلَوْلَا رَهْطُكَ**: رهط د سړي جماعت او قبيلے او خپلوانو ته وائي چه دے ورته تكيه لګوي او د هغوي په وجه ځان قوي كوي. يعني كه ستا د قوم او قبيلے احترام نهٔ وے چه هغوي زمونږ په دين دي نو مونږ به تهٔ په كاڼو سنګسار كړے وے.

سيدنا علي ﷺ فرمائي: [فَوَاللهِ الَّذِىْ لَا اِلٰـهَ غَيْرُهٗ مَا هَابُوْا جَلَالَ رَبِّهِمْ، مَا هَابُوْا اِلَّا الْعَشِيْرَةَ] قسم په هغه الله چه حقدار دبندګئ سوئ د هغه نه نشته دوي د خپل رب د لوي شان نه نهٔ يريدل، دوي د قبيلے نه يريدل. (القرطبى والفتح)

**وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ**: يعني ستا څه عزت او احترام هم نشته چه د هغے په وجه مونږ ستا نه لاسونه بند كړو بلكه مونږ تا ځكه نهٔ سنګساره وو چه ستا د قبيلے مونږ سره عزت دے.

**قَالَ يٰقَوْمِ**: شعيب ﷺ ئے اُوس الله تعالىٰ ته متوجه كوي لكه دا د پيغمبرانو طريقه وي چه بندګانو ته الله تعالىٰ وربنائي، هغهٔ ووئيل چه زما خاندان ستاسو په نظر كښ د الله نه زيات معزز دے، تاسو د هغهٔ دين، د هغهٔ حكم او د هغهٔ وحي رد كړيده، او زما د خاندان د كافرانو لحاظ په وجه په ما باندے احسان زباتوئ. بيشكه زما رب ستاسو په ټولو كارونو خبردار دے، او هغه به تاسو ته ددے سزا ضرور دركوي.

**وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَ كُمْ ظِهْرِيًّا**: اَىْ مَنْبُوْذًا وَرَاءَ الظَّهْرِ لَا تُبَالُوْنَ بِهٖ (فتح).

يعني ګوزار كړے شوے روستو د شا نه چه هيڅ باك پرے نكوئ.

ظِهْرِي: اَلشَّيْءُ الَّذِىْ لَايُعْبَأُ بِهٖ) . ظهري هغه شي ته وائي چه شا ته ګوزار شوے وي چه څوك پرے هيڅ باك نهٔ كوي. يو شے چه قيمتي وي خلك ئے جيب كښ اچوي، صندوق كښ ئے ساتي او هره ورځ ئے ليدنه كتنه كوي خو چه قيمت ئے كم شي نو بيا ئے څه موده روستو تپوس كوي او چه ډير بې قيمته شي نو بيا ئے توكرئ ته ګوزار كړي چه كال پس ئے هم تپوس نهٔ كوي بلكه ترے هير شي.

او د اكثرو انسانانو همدا مرض دے الله تعالىٰ ورته دغه شان بې قيمته ښكاره شويدے چه هيڅ پرواه پرے نكوي، نهٔ ورته توجه كوي او نهٔ ئے د حكمونو لحاظ كوي.

ددے حاصل معنىٰ قتادهٓ دا كوي: ١- ظِهْرِيًّا اَىْ لَاتَخَافُوْنَهٗ . يعني تاسو د الله نه نهٔ يريږئ. ٢- مجاهدٓ ئے تاويلي معنىٰ كوي: نَبَذْتُمْ اَمْرَهٗ . تاسو د الله حكمونه شا ته ګوزار كړيدي. ٣- ضحاكٓ وائي: تَهَاوَنْتُمْ بِهٖ . تاسو سپكوالے كړيدے په الله سره. الله تعالىٰ مو

معمولي ګنړلے دے۔ (فتح البيان)

٤- ابـن زيـدٌ وائـي : ظهـري هغـه زياتـي سـورلـئ تـه وائي چه انسان ئے ځان سره د بلے سورلئ په خوا کښ راروان کړي چه هيڅ حاجت ورته نۀ لري او څه بارئے پرے نۀ وي اوچولے خو مقصد ئے دا وي چه که زما دا يوه سورلي ضائع شوه نو د ضرورت او حاجت په وخت کښ به خپل سامان پدے سورلئ باندے بار کړي او که حاجت ورته رانشي نو هغه هيڅ شے نۀ وي۔ (الدر المنثور والطبري)

دے تـه زمـونږ په اصطلاح کښ ستپني وائي، چه د ډرائيور ورته هيڅ سوچ نۀ وي خو کـه ټائرئے پينچر شي نو بيا ورته ستپني (ټائر) رایاد شي، يعني صرف د خپل غرض دپاره ئے استعمالوي او چه غرض ئے پوره شي نو هيڅ پرواه ئے نۀ کوي۔

٥- صاحب المنار وائي : نَسْيًا مَنْسِيًّا لَايُذْكَرُ كَأَنَّهُ غَيْرُ مَوْجُوْدٍ) ۔ پوره هير کړے شوے چه نۀ ياديږي ګويا که ستاسو په نيز موجود نۀ وي۔

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ؕ |
| او اے قومه زما ! عمل کوئ په طريقه خپله يقيناً زۀ عمل کونکے يم (په خپله طريقه) |
| سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ |
| زردے چه پوهه به شئ تاسو چه چا ته به راځي عذاب چه ويه ئے شرموی هغه لره |
| وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا |
| او څوك دے دروغجن، او انتظار کوئ يقيناً زۀ تاسو سره انتظار کونکے يم۔ او هرکله |
| جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ |
| چه راغے حکم د عذاب زمونږ بچ کړو مونږ شعيب (عليه السلام) او هغه کسان |
| اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ |
| چه ايمان ئے راوړے وو د هغه په ملګرتيا کښ په رحمت سره د خپل طرفنه او اونيول |
| الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دِيَارِهِمْ |
| هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړے وو چغے نو اوګرځيدل په کورونو خپلو کښ |

| |
|---|
| جٰثِمِیۡنَ ﴿۹۴﴾ کَاَنۡ لَّمۡ یَغۡنَوۡا فِیۡهَا ؕ اَلَا بُعۡدًا |
| پړمخې پراتۀ۔(فنا شول) ګویا که نۀ وو اُوسیدلي په هغې کښې، خبردار ! هلاکت دے |
| لِّمَدۡیَنَ کَمَا بَعِدَتۡ ثَمُوۡدُ ﴿۹۵﴾ |
| مدین والو لره لکه څنګه چه هلاك شو ثمودیان۔ |

**تفسیر** : کله چه شعیب عليه السلام د هغوی د طرف نه بالکل نا اُمیده شو نو وے وئیل اے زما د قوم خلقو ! تاسو د خپل کفر او سرکشۍ په لاره روان شئ او څه چه کول غواړئ وکړئ، زۀ هم د صبر او استقامت سره په خپله لاره روان یم۔ تاسو ته به نزدے معلومه شي چه د الله تعالیٰ رسواکونکے عذاب به څوك رانیسي، او څوك دروغجن دے، او اُوس تاسو د خپل هلاکت او بربادۍ انتظار کوئ، زۀ هم تاسو سره انتظار کوم۔ پدے کښې مقصود د هغوی متوجه کول وو چه خپلو عملونو ته سوچ وکړئ آیا دا خو د عذاب مستحق نۀ دي؟!۔

یا پدے آیت کښې دوی ته دهمکی ده او د مَکَانَتِکُمۡ نه مراد طاقت خپل دے یعنی څومره چه ستاسو طاقت وي د هغې مطابق کار زما په خلاف وکړئ، زما ستاسو په کار هیڅ پرواه نشته، او پته به لګي چه عذاب په چا راځي، او زۀ د خپل طاقت مطابق عمل کوم چه د الله توحید بیانول او تاسو ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر کول دي۔ او پدے کښې ډیره سخته بهادري پرته ده چه یواځې شخص ټول قوم ته داسے چیلنج ورکوي۔ (المنار)

مَکَانَة : دا هغه حالت ته وائي چه انسان په هغې کښې په کار کولو باندے طاقت لري۔

سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ: دا جمله مستأنفه ده جواب د سؤال دے چه که تاسو ووایئ چه ستا ددے کار نتیجه به څه وي؟ نو زۀ درته وایم چه زر دے چه تاسو ته به معلومه شي چه په چا باندے به عذاب راځي او څوك رشتیني او څوك دروغجن دے، زۀ او که تاسو؟!۔ (المنار)

وَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا : کله چه د الله تعالیٰ عذاب په قوم د شعیب عليه السلام نازل شو نو الله تعالیٰ شعیب عليه السلام او د هغۀ مسلمانان ملګري په خپل خاص فضل سره د هغوی د ایمان په دولت د هغه عذاب نه بچ کړل، او کومو خلقو چه د کفر او عناد په وجه په خپلو ځانونو او د خلقو مال په ناجائز طریقه اخستو سره په نورو ظلم کړے وو، هغوی د الله عذاب راګیر کړل۔ هغه عذاب د جبریل عليه السلام تیزه چغه وه چه د هغې په اثر سره د هغوی روحونه د

هغوی د جسمونو نه ووتل۔ په سورة الاعراف او سورة عنکبوت کښې راغلي دي چه (الرجفه) یعنی سخته زلزله راغله چه په هغې سره متأثر شو او تمام خلق هلاك شو۔ دا زلزله د جبریل علیه السلام د سختې چغې نتیجه وه، او دا عذاب د شعیب علیه السلام په کلي والو باندې راغلې وو۔

د جبریل علیه السلام د چغې دا اثر شو چه هغه ټول خلق په خپلو کورونو کښې مړۀ شو۔ او داسې ختم شو چه لکه دوی کله هم هلته آباد نۀ وو۔ دې نه روستو الله تعالیٰ په دوی باندې همیشه د پاره هلاکت او بربادي مسلط کړه، لکه څنګه ئې چه په قوم د ثمود باندې د دوی نه مخکښې مسلط کړې وو۔ ځکه چه د دوی علاقې یو بل ته نزدې وې، په کفر او سرکشۍ او ډاکه مارئ کښې هم یو شان وو او دواړه قومونه په باندو کښې وسیدلي وو۔

الله تعالیٰ شعیب علیه السلام لره ایکه والو د پاره هم نبي جوړولو سره لیږلې وو، هغوی هم نافرماني وکړه نو الله تعالیٰ هغوی د اُور په ذریعه هلاك کړي وو چه د آسمان نه راغلې وو۔

**جٰثِمِیْنَ** : اَیْ مَیِّتِیْنَ بَارِکِیْنَ عَلَی الرُّکَبِ۔ یعنی مړۀ شول چه پړمخې په ګونډو پراتۀ وو۔

مفسرین لیکي چه هیڅکله دوه اُمتونه په یو عذاب نۀ دي هلاك شوي سوئ د قوم شعیب علیه السلام او قوم د صالح علیه السلام نه، قوم د صالح علیه السلام باندې صیحه (چغه) د لاندې نه راغله او په قوم شعیب علیه السلام باندې د بره نه راغله۔ (فتح البیان)

صاحب المنار لیکي چه دا خبره په هیڅ روایت کښې نشته چه جبریل علیه السلام په دوی باندې آواز کړې وو، دا رجم بالغیب دې بلکه ټول آیتونه چه راجمع کړې شي نو د هغې نه خلاصه دا راوځي چه د صیحې تشریح په رجفه سره شویده نو په ثمودیانو او مدین والو باندې صاعقه (زلزله) نازله شوې وه چه د سخت آواز والا وه ځکه ورته صیحه وائي، نو د هغې په وجه د دوی زړونه او بدنونه او دارنګه زمکه وخوزولې شوه او دوی مړۀ راپریوتل۔
(المنار ۱۲/۱۲٤)

| |
|---|
| وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۹۶﴾ اِلٰی فِرْعَوْنَ |
| او یقیناً رالیږلې وو مونږ موسیٰ (علیه السلام) په معجزاتو خپلو او په دلیل ښکاره سره۔ فرعون ته |
| وَمَلَا۠ئِهٖ فَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ |
| او غټانو د قوم د هغه ته نو روان شو دوی په کار د فرعون پسې او نۀ وو کار د فرعون |

| |
|---|
| بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَاَوْرَدَهُمُ |
| فائدے والا۔ مخکښې به روان وي د قوم خپل نه په ورځ د قيامت نو داخل به کړي دوی لره |
| النَّارَ ؕ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ ﴿٩٨﴾ وَاُتْبِعُوْا |
| أُور ته او بد ګودردے چه ورتلل ورته کيدے شي (دا جهنم)۔ او وروسته کړے شو دوی پسے |
| فِيْ هٰذِهٖ لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ﴿٩٩﴾ |
| پدے دنيا کښې لعنت او په ورځ د قيامت هم، بده تحفه ده ورکړے شوے (دا لعنت)۔ |

**تفسير : مضمون :** ددے آيتِ کريمه نه تر (۹۹) آيت پورے د موسیٰ عليه السلام او د فرعون واقعـه په ډير اختـصار سره بيان شويده۔ او دا اُومه واقعه ده چه پدے سورت کښې د انبياء کرام عليهم السلام او د هغوی د قومونو د واقعاتو په ضمن کښې بيان شويده۔ پدے واقعه کښې درے مقاصد دي :

(۱) اول رد د شرك دے چه د الله بندګي پکار ده، نۀ د غير الله، لکه فرعونيانو او نورو اقوامونو د غير الله عبادت کولو ﴿فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ﴾ ﴿فَمَا اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ﴾ نو د غير الله په عبادت کښې هيڅ خير نشته، او د الله تعالیٰ په عبادت کښې څومره خير دے چه هغه د خپلو عابدانو څنګه حفاظت کوي۔

(۲) مقصد : ترغيب دے اتباع د رسول ته چه څوك ددے رسول خلاف کوي او د بل چا پسے روانيږي نو دغه ليډر به ددۀ دپاره د هلاکت ذريعه وګرځي لکه فرعونيانو د فرعون تابعداري وکړه او موسیٰ عليه السلام ئے پريخودو نو قيامت کښې به فرعون مخکښې او رعيت به وروسے وي اُور تـه بـه ئے روان کـړي وي۔ او پدے سـورت کـښې د رسـول الله ﷺ شـان هم بيانيدو۔ نو دے واقعه کښې شان د رسول الله ﷺ هم دے۔

(۳) مقصد : تخويف (يره ول) د بندګانو دي چه په مخالفت کښې د دنيا او د آخرت مصيبت دے، فرعونيان سره د بادشاهۍ نه په دنيا کښې هم هلاك او په آخرت کښې ورسره د اُور وعده شويده۔

او په (۱۰۱) آيت کښې پدے ټولو واقعاتو باندے د رد د شرك تفريع ده او په (۱۰۲) کښې فرمائي چه الله تعالیٰ انسان په ظلم باندے رانيسي، پخوانۍ اقوام د ظلمونو په وجه هلاك شو۔ او په (۱۰۳) کښې اثبات د آخرت کوي په نازلولو د عذاب دنياوی چه طريقه د

استدلال روستو راځي. او بيا د هغه ورځې د راتللو تفصيل بيانيږي چه انسانان به په هغه ورځ د خبرو طاقت هم نۀ لري او دوه جماعتونه به جوړيږي، بد بختـه او نيك بختـه. او د هر يو دپاره سزا او جزاء. او د بدبختو بد صفات راوړي چه شرك بالله، ظلم او كفر، او اختلاف د حق نـه كـوي، او دوي د الله بندگي پريخودونكي دي. او پنځمه خبره دا هم بيان شويده چه هغه ځوك چه په مُنكر (ناروا كار) نۀ خفه كيږي دا هم د بد بختو صفت دے.

او د نيك بختـو ئے ډير صفات راوړيـدي چه هغـه استقامة او د كافرانو نه بيزاري، د مانځه پابندي، صبر كول او په الله توكل كول او د الله بندگي كول. او د حق نه اختلاف نۀ كـول دا د نيك بختـئ اسباب دي نو گويا كه دا آخري آيتونه د اشقياء او سعداؤ د صفاتو تشريح ده. لكه هغه آيتونه په بله طريقه هم لگيږي. او په آخر د سورت كښې الله تعالىٰ انـواع د عبادات بيـان كـړيـدي، دعوت الى الله ته ئے ترغيب وركړيدے چه نهي عن المنكر وكړئ. او بيـان د استـقـامـت ئے كـړيـدے، او سـورت ئے په مسئله د برائت ختم كړيدے، او ډيرے هيبتي خبرے الله تعالىٰ پدے واقعاتو تفريع كړيدي چه د انسان غوږے زيگ كوي.

د ((آيات)) او ((سلطان مبين)) پـه مـعـنىٰ او تعيين كښې د مفسرينو ډير اقوال راغلي دي. يـو قول دا دے چه د ((آيات)) نـه مـراد هغه نهه (۹) نـخـے دي چـه الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام تـه وركړے وے لكه سورة نمل (۹) آيت كښې او سورة الاعراف (۱۳۳) آيت كښې ذكر دي. (او ددے نه مراد تورات نۀ دے ځكه چه د فرعون په زمانه كښې تورات نازل نۀ وو)

او د ((سلطان مبين)) نـه مراد سپين لاس او د هغه امسا ده، چه دا اگركه په نهه نخو كښې داخل دي ليكن چونكه دا معجزے عقلونو لره ډير حيرانونكے وے پدے وجه هغۀ مستقل ذكر شوے.

يا سلطان مبين تفسير دے د ((آيات)) دپاره يعني دغه ټول معجزات غالب او ښكاره دليل وو. يا ((سلطان مبين)) رعب د موسىٰ عليه السلام وو چـه فـرعـون به ترے يريدلو، لكه روستو په سورة القصص (۳۵) آيت كښې دي ﴿ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ﴾

(او زۀ بـه وكـرځـوم تـاسـو دواړو لـره قـوت (رعـب) نـو فـرعـونيـان بـه تاسو تـه (په تكليف دركولو) نشي رسيدلے).

اِلٰي فِرْعَوْنَ : مشر تـه ئے پدے وجه وليږلو چه هغۀ قوم په لاس كښې نيولے وو.

وَمَلَا۟ئِهٖ: د فـرعـون سره صرف د سردارانو د قوم ذكر پدے وجه وشو چه عوامو به په خپلو ټولو كارونو كښې د هغه سردارانو تابعداري كوله، او سردارانو به په خپل كفر او عناد كښې د

فرعون تابعداری کوله چه د هغهٔ هره معامله د ضلالت او ګمراهئ وه۔
وَمَآ اَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ : یعنی حکم او دین د فرعون۔ فرعون خلکوته په کفر حکم کړے وو۔
فَاتَّبَعُوۡا : پدے کښې د عوامو بدی بیانه شوه چه بغیر د سوچ او فکر نه د فرعون د دین پسے روان شو۔ که څوك ووائی چه د فرعون دین به هم حق وو؟ نو الله فرمائی :
وَمَآ اَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيۡدٍ : یعنی د فرعون دین او حکم د هدایت والا نهٔ وو۔ او دا رد الله تعالیٰ څکه وکړو چه په سورة المؤمن (۲۹) آیت کښې راځی چه فرعون وئیلی وو ﴿ وَمَا اَهۡدِيۡكُمۡ اِلَّا سَبِيۡلَ الرَّشَادِ﴾ زهٔ تاسو ته د هدایت لاره بنایم۔ نو څوك چه د رسول په خلاف کښې ودریدو هغه هدایت والا نهٔ وی۔
يَقۡدُمُ قَوۡمَهٗ : د قیامت په ورځ به فرعون جهنم طرف ته روان وی او د خپل قوم نه به مخکښې مخکښې روان وی، لکه څنګه چه په دنیا کښې د ضلالت او ګمراهئ په لارو روانیدو کښې د هغوی نه مخکښې مخکښې وو، تردے پورے چه دوی ټول به جهنم ته ورسوی۔ نو پدے کښې اشاره ده چه د هغه چا پسے مهٔ روانیږئ چه صبا له تاسو جهنم ته بوځی۔
فَاَوۡرَدَهُمُ النَّارَ : ورود په اصل کښې ګودر ته ورتللو ته وئیلے شی نو د دوی دپاره اُور د جهنم د ګودر په شان دے۔ دائے په طریقه د تهکم او سپکاوی سره وئیلے دے۔ څکه ئے روستو ددے ګودر بدی وئیلے ده۔ چه دا ګودر ډیر بد دے چه خلك ورته راتلل کوی څکه چه ګودر ته خلك ددے دپاره ځی چه د تندے ګرمائش مړ کړی او تنده ئے ختمه شی او اُور خو لا ګرمائش او تنده زیاتوی۔ (فتح البیان)
یو تن ګودر ته ورشی چه تنده ماته کړی او په اُور ورواوړی نو ددهٔ به څه حالت وی؟!۔
وَبِئۡسَ الۡوِرۡدُ الۡمَوۡرُوۡدُ: مخصوص بالذم پټ دے۔ اَیۡ جَهَنَّمُ۔ یعنی جهنم۔
الۡمَوۡرُوۡدُ: چه داخله ورته کیدے شی، راتلل ورته کیدے شی۔
الرِّفۡدُ: رفد په اصل کښې نعمت، عطیه، ډالئ او مدد ته وائی۔
دلته د لعنت نه په عطیه او مدد سره تعبیر وشو پدے سره د فرعونیانو انتهائی درجه اهانت او سپکاوی اوبے عزتئ طرف ته اشاره شویده۔
الۡمَرۡفُوۡدُ : یعنی ورکړے شوے۔ یا چه ورکولے شی۔ دلته هم مخصوص بالذم پټ دے اَیِ اللَّعۡنَةُ یعنی دا لعنت بده عطیه ده۔ لکه یو تن په ډالئ کښې زهر او بم واخلی۔

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا

دا (څه چه ذکر شو) د خبرونو د کلو نه دی بیانوو مونږ دا په تا باندې بعض ددې نه

قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ﴿۱۰۰﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰـكِنْ

ولاړ دی او بعض دلدل کړې (لو) شویدی۔ او ظلم نۀ دے کړے مونږ په دوی باندې لیکن

ظَلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فَمَاۤ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِىْ

ظلم کړے وو دوی په ځانونو خپلو نو فائده ورنکړه دوی ته معبودانو د دوی هغه

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَىْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ

چه رابلل به دوی سوئ د الله نه هیڅ فائده هرکله چه راغے عذاب د رب ستا

وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾

او زیات نکړو هغوی دوی لره سوئ د هلاکت نه۔

**تفسیر**: اُوس په مخکنو واقعاتو تفریعات بیانیږی، اوله تفریع د رسول الله ﷺ صدق (رشتینوالے) بیانوی، دویمه رد د شرك، او دریمه دا چه هلاکت د بندګانو د وجه د ظلم د هغوی نه وو، څلورمه تفریع کښې اثبات د آخرت دے۔

یعنی مونږ دا واقعات ددے دپاره بیان کړیدی چه تۀ ئے د مکے کافرانو ته واوروے، کیدیشی چه دوی د هغوی د انجام نه عبرت حاصل کړی۔ د هغه کلو نه د بعضو کنډرات لا تراوُسه باقی دی، او د بعضو نخے هم ختمے شویدی۔

**ذٰلِكَ**: اشاره ده دغه بیان د واقعاتو ته۔

**قَآئِمٌ**: هغه چه ولاړ وی په خپلو چتونو او کنډراتو۔ لکه مصر د فرعونیانو او آبادئ د ثمودیانو په غرونو کښې په مدائن صالح کښې۔

**وَّحَصِيْدٌ**: هغه دی چه د هغے هیڅ اثر او نام ونشان نۀ وی۔ لکه د عادیانو او د لوط علیه السلام د قوم کلی فنا شویدی۔

**وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ**: دا خبره څکه ذکر کوی چه د هلاکولو نه روستو د خلکو زړونو ته دا وسوسه رانشی چه آیا دا به ظلم نۀ وی؟!) نو الله فرمائی: الله په دوی ظلم نۀ دے کړے، بلکه دوی کفر او ګناهونه وکړل نو ځانونو دپاره ئے د هلاکت او بربادئ سامان تیار کړو۔ (ځکه

چه الله تعالیٰ د گناهونو (کفر او شرك) سره مصیبت تړلے وو او دوی ته ئے تنبیه ورکړه چه دغه ځای کښې مصیبت دے، دا مهٔ راخلئ نو دوی وویل چه مونږه ئے راخلو نو دے کښې څوك ملامته شو؟ همدا خلك ملامته دی۔

فَمَآ اَغۡنَتۡ : یعنی کله چه په دوی باندے عذاب نازل شو نو د دوی دروغجن معبودان د دوی هیڅ په کار رانغلل، بلکه په حقیقت کښې په دنیا او آخرت کښې همدا د دوی د هلاکت سبب شو۔

فَمَآ اَغۡنَت : دا تفریع ده د رد شرك او ډیره مقصودی ده چه اے مشرکانو! تاسو د الله بندگی نهٔ کوئ او د غیر بندگی کوئ او د الله سره برخه داران جوړوئ نو مخکښې خلك هم ستاسو په شان مشرکان وو چه هغوی هم ځانله قبرونه، بتان او باباگان معبودان نیولی وو نو هغوی دوی لره د عذابونو نه ولے بچ نکړل؟ دا څنگه معبودان وو چه په تکلیف کښې ئے پکار نشو، په داسے باطلو آلهو باندے خلك څه کوی چه په وخت د مصیبت کښې په کار نهٔ راځی، بلکه الله فرمائی چه دا مصیبت خو د هغوی په وجه راغے۔

نو د دوی عبادت د غیر الله سبب د هلاکت وگرځیدو او همدغے ته بد بختی وائی چه بنده ستړے شی او هیڅ فائده ورته ملاؤ نشی بلکه التهٔ مصیبت په غاړه واخلی۔ لکه رسول الله ﷺ به فرمایل:

[اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ جَهۡدَ الۡبَلَاءِ وَدَرَكِ الشَّقَاءِ وَسُوۡءِ الۡقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الۡاَعۡدَاءِ] ۔

(بخاری: ٦٣٤٧)

(اے الله! زهٔ په تا سره پناهی طلب کوم د مشقت د مصیبت نه او د بد بختئ د رالاندے کولو نه او د بدے فیصلے نه او د خوشحالئ د دشمنانو نه)۔ نو دے ته درك الشقاء (بد بختی لاندے کول) وائی۔

وَمَا زَادُوۡهُمۡ : یعنی زیات نکړل دغه معبودانو دے مشرکانو لره سوئ د هلاکت او تاوان نه۔ یعنی د هغوی بندگی ئے سبب د تاوان او هلاکت وگرزیدو۔

تَتۡبِیۡبٍ: ١- تاوان ته وائی (ابن زیدؒ) ٢- دارنگه هلاکت ته۔

| وَكَذٰلِكَ اَخۡذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الۡقُرٰی وَهِیَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ |
|---|
| او دغسے رانیول د رب ستا دی کله چه نیسی کلو لره او هغوی ظلم کونکی وی یقیناً |

| |
|---|
| اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۰۲﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ |
| رانیول د هغهٔ دردناك سخت دی۔ یقیناً پدے کښې خامخا عبرت شته هغه چا لره |
| خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ |
| چه یریږی د عذاب د آخرت نه، دا ورځ ده چه راجمع به کړے شی دے ته خلق او دا ورځ ده |
| مَّشْهُوْدٌ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ |
| چه حاضری به ورته کیدے شی۔ او نهٔ روستو کوو مونږه دے لره |
| اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿۱۰۴﴾ |
| مګر د نیتے شمارلے شوے (لږے) دپاره۔ |

**تفسیر** : دا بله تفریع ده چه پدے کښې خبره عامه کوی چه د الله تعالیٰ عذاب صرف د دغه اُمتونو پورے خاص نهٔ دے بلکه دا عذاب د هر ظالم او مشرك دپاره دے۔ نو دلته سبب هم بیانوی چه دغه خلك ولے هلاك شو ؟ نو د ظلم د وجه نه۔ او تعمیم هم کوی چه د الله عذابونه د یو قوم پورے خاص نهٔ دی۔ بلکه د الله تعالیٰ همیشه دا سنت پاتے شویدے چه هغه ظالمان ضرور رانیسی، پدے وجه ظالمانو له یره کښې وسیدل پکار دی۔

**وَكَذٰلِكَ**: اَیْ كَمَا اَخَذَ الْاَقْوَامَ الْمُكَذِّبَةَ الْمَذْكُوْرَةَ ۔ لکه څنګه ئے چه ذکر شوی اقوامِ مکذبه راونیول۔

**وَهِيَ ظَالِمَةٌ**: اَیْ بِالشِّرْكِ وَمُخَالَفَةِ الرَّسُوْلِ وَالْكَبَائِرِ۔ یعنی چه د دوی ظلم شرك، د رسول مخالفت او کبیره ګناهونه وی۔

**اِنَّ اَخْذَهٗٓ**: پدے کښې الله تعالیٰ خبره غټه بنکاره کوی چه څوك دا ونهٔ وائی چه بس هغوی هلاك شو نو خبره ختمه شوه۔ الله فرمائی دا څه وړه خبره نهٔ ده بلکه د الله تعالیٰ رانیول انتهائی سخت او دردناك دی۔

بخاریؒ او مسلمؒ د ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِيْ لِلظَّالِمِ حَتّٰى اِذَا اَخَذَهٗ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَاَ ﴿وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ﴾ ]۔

(بخاری فی تفسیر سورة ۱۱ باب : ۵) و مسلم فی البر حدیث : ٦٢)

(الله تعالیٰ ظالم ته مهلت ورکوی تردے چه کله ئے راونیسی نو بیا ئے نهٔ پریدی)۔ بیا

رسول الله ﷺ دا آیت ولوستو)۔ او د انسان مزاج ددے برعکس دے، چه زر حمله کوی او بیرته زر پښیمانه کیږی او عذاب ئے سخت نهٔ وی۔
نو ددے آیت او حدیث نه معلومه شوه چه که الله تعالیٰ یو ظالم ته مهلت ورکړے وی او فی الحال ورته څه ونهٔ وائی نو دهٔ له پدے باندے دوکه کیدل نهٔ دی پکار۔
**اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ** : دا بله تفریع ده چه [عَذَابُ الْاَقْوَامِ الْمُكَذِّبَةِ دَلِيْلٌ لِاِثْبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ]۔
(د پخوانو امتونو مکذبه ؤ هلاکت دلیل دے چه قیامت راتلل حق دی)۔
او دا استدلال هم په قرآن کریم کښې زیات شویدے۔ طریقه د استدلال داسے ده چه دے اقوامو به د آخرت ورځ نهٔ منله او انکار به ئے کولو، نو الله تعالیٰ ورته په غضب شو، تول ئے هلاك کړل نو که د آخرت ورځ حقه نهٔ وے نو ددے په انکار سره به دا خلك نهٔ هلاکیدلے، معلومیږی چه آخرت راتلل حق دی۔ ځکه چه د باطل نه په انکار کولو سره عذاب نهٔ راځی بلکه د حق نه په انکار سره عذاب راځی۔
دویم : د دنیا په عذاب کښې بیان د صدق الرسول (ﷺ) هم وی لکه په سورة النمل (٥) آیت کښې راغلی دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام به دعوت کولو، خلکو به نهٔ منلو نو الله به پرے عذاب راوستو نو که دا پیغمبران حق نهٔ وے نو په خلکو کښې به عذاب ولے راتللو؟! نو الله فرمائی : چه تاسو ددے نه عبرت واخلئ۔ کمزوری خلك بچ کیدل او زورور هلاکیدل دلیل دے د حقانیت د رسولانو۔
او دا ناشنا دلیل د الله تعالیٰ د معرفت او د هغه د وجود هم دے، چه بره یو ذات شته چه هغه په گناه باندے سزا ورکوی او په نیکئ باندے نجات ورکوی، دا هسے د دنیا چال نهٔ دے ځکه چه بیا خو پکار وه چه کمزوری مؤمنان هلاك شوی وے، او خبره برعکس وشوه، معلومیږی چه د الله تعالیٰ وجود حق دے۔ د اقوامو مکذبو د هلاکت نه په قرآن کریم کښې دا درے واړه دلیلونه حاصلیږی۔
**فِیۡ ذٰلِكَ** : اَیْ فِیْ اَخْذِ الْاُمَمِ۔ یعنی پدے رانیولو د امتونو کښې۔
**لِّمَنۡ خَافَ**: یعنی ددے نه خوف وکړئ۔ ځکه چه دغه یریدونکے به دا عبرت واخلی چه الله تعالیٰ په نافرمانی کولو باندے په دنیا کښې عذاب راوستو نو که زهٔ د الله د پیغمبرانو نافرمانی وکړم نو قیامت خو حق دے هلته به ما ته سزا راکړی، ځکه چه الله تعالیٰ په نافرمانئ باندے په هر وخت کښې ناراضه دے۔
**ذٰلِكَ یَوۡمٌ** : اُوس د قیامت هیبت بیانوی۔ دلته د قیامت دوه نومونه ذکر دی (یوم

مجموع) او دويم (يوم مشهود)۔ او مشهود ورته يو پدے وجه وائي چه په دغه ورځ به گواهان گواهي ورکوی۔ او دويم يَشۡهَدُهٗ اَهۡلُ السَّمَاءِ وَالۡاَرۡضِ ۔ آسمانونو والا به زمکے ته راحاضريږي او زمکے والا هم تردے چه الله تعالىٰ به هم د خپل شان مطابق راشي۔ ﴿ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالۡمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾۔ نو مشهود په اصل کښ مشهود فِيۡهِ دے۔ (يعني دے ته به حاضري کيدے شي)

لِاَجَلٍ: دا لام اجليه او تعليليه دے اَیۡ لِاِنۡتِهَاءِ اَجَلٍ اَیۡ وَقۡتٍ ۔ يعني مونږ نهٔ روستو کوو دغه ورځ مگر د وجه د ختميدو د يوے نيتے نه۔ يا دپاره د نيتے۔

مَّعۡدُوۡدٍ : شمارل د کموالي دپاره ذکر کيږي۔ او دا د شمار څو ورځے صرف الله تعالىٰ ته معلوم دي چه هغه د دنيا موده ده۔

| |
|---|
| يَوۡمَ يَاۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ اِلَّا بِاِذۡنِهٖ ج |
| په کومه ورځ چه رابه شي چه خبرے به نشي کولے هيڅ نفس مگر په اجازه د الله |
| فَمِنۡهُمۡ شَقِيٌّ وَّسَعِيۡدٌ ﴿۱۰۵﴾ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ |
| نو بعض د دوی نه به بد بخت وی او بعض به نيکبخت وی۔ نو هرچه هغه کسان دی |
| شَقُوۡا فَفِي النَّارِ لَهُمۡ فِيۡهَا زَفِيۡرٌ |
| چه بد بخته شو نو په اُور کښ به وی، دوی لره به په هغے کښ اوسيلي وی |
| وَّشَهِيۡقٌ ﴿۱۰۶﴾ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ |
| او رمباړے وی۔ هميشه به وی په هغے کښ ترڅو پورے چه هميشه وی آسمانونه |
| وَالۡاَرۡضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا |
| او زمکه مگر هغه چه اُوغواړی رب ستا، يقيناً رب ستا کونکے د هغه کار دے |
| يُرِيۡدُ ﴿۱۰۷﴾ وَاَمَّا الَّذِيۡنَ سُعِدُوۡا فَفِي الۡجَنَّةِ |
| چه وے غواړی۔ او هرچه هغه کسان دی چه نيکبخته شويدی نو په جنت کښ به وی |
| خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ |
| هميشه به وی په هغے کښ ترڅو پورے چه هميشه وی آسمانونه او زمکه |

﴿اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوۡذٍ ﴿١٠٨﴾

مگر هغه چه غواړي رب ستا، بخشش دے چه نۀ به شي قطع كولے۔

**تفسير** : د قيامت په ورځ به هيڅ شخص هم د الله د اجازت نه بغير يوه كلمه نۀ د خپلے دفاع دپاره او نۀ د چا په سفارش كښې د خولے نه وباسي، ليكن په سورة النحل آيت (١١١) كښې راغلي دي چه هر سړے به د خپل نجات دپاره په هغه ورځ جګړه كوي : ﴿ يَوۡمَ تَاۡتِيۡ كُلُّ نَفۡسٍ تُجَادِلُ عَنۡ نَّفۡسِهَا ﴾ او سورة الانعام آيت (٢٣) كښې راغلي دي چه مشركان به وائي : ﴿ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشۡرِكِيۡنَ ﴾ چه اے زمونږ ربه ! مونږ مشركان نۀ وو۔

پدے وجه د تفسير علماؤ ددے دواړه قسمه آيتونو ترمينځ داسے تطبيق كړيدے چه د محشر په ميدان كښې به د خلقو حالات مختلف وي، كله به په ژبه ګونګيان وي او كله به څوك د خپل نجات دپاره جګړه كوي۔ او كله چه الله تعالىٰ اجازه د سفارش وكړي نو مؤمنان به ئے د ګناهګارانو دپاره كوي۔

**يَوۡمَ يَاۡتِ** : په هغه وخت چه رابه شي ورځ د قيامت۔ د يوم نه مراد وخت دے يا ترے ورځ مراد ده، او (يأت) كښې ضمير اجل (نيتے) ته راجع دے۔ يا ضمير الله ته راجع دے يعني په كومه ورځ چه الله راشي نو هيڅوك به خبرے نشي كولے د هغه د هيبت د وجه نه۔ ﴿وَخَشَعَتِ الۡاَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمٰنِ﴾ (طه : ١٠٨) رحمٰن ته به ټول آوازونه په آرام وي۔ ﴿ هٰذَا يَوۡمُ لَا يَنۡطِقُوۡنَ﴾ (المرسلات : ٣٥) پدے ورځ به انسانان خبرے نشي كولے۔

**فَمِنۡهُمۡ شَقِيٌّ** : د قيامت په ورځ به دوه ډلے جوړيږي لكه په دنيا كښې هم دغه دوه قسمه ډلے وے، څه خلق به داسے بد بخته وي، چه د هغوي ځاى به جهنم وي او په كرب او غم او مصيبت كښې به د هغوي د سينونه آهونه او افسوسونه پورته كيږي۔

دا تقسيم د سعادت او شقاوت الله تعالىٰ د مخكښې نه په تقدير كښې ليكلے دے چه الله تعالىٰ انسانان په دوه موټو كښې راواخستل او وے فرمايل : (هٰذِهٖ لِهٰذِهٖ) دا خلك ما د جهنم دپاره پيدا كړل او دا كسان د جنت دپاره او زما هيڅ باك نشته۔ (مسند احمد : ١٧٦٢٩ باسناد صحيح) بيا د مور په خيټه كښې شقي او سعيد ليكلے كيږي او په آخرت كښې به د دغه شقاوت او سعادت اثر راښكاره كيږي۔

## اشكال وجواب

پدے باندے دا اشكال ذهن ته راځي چه هركله الله تعالىٰ بعض بندګان بد بخته وليكل نو

دوی به هسې هم هدایت نشي موندلې نو آیا دا به ظلم نهٔ راځي؟
جواب دادې چه الله تعالیٰ عدل او احسان والا دې نو کوم کسان چه ئې بد بخته ولیکل د هغوی سره ئې عدل وکړو، او کوم کسان ئې چه نیك بخته ولیکل نو د هغوی سره ئې احسان وکړو او ظلم په هیچا نهٔ کوی. او ددې وضاحت په باب د تقدیر کښې داسې بیانیږی چه الله تعالیٰ بعض بندګان بد بخته لیکلی دی نو دا ئې خپل علم لیکلې دې چه دوی به دغه شان کوی زهٔ پرې د مخکښې نه خبر یم ځکه چه د تقدیر معنیٰ ده د الله تعالیٰ پو هه په بندګانو باندې مخکښې د هغوی د پیدا کیدو نه، الله تعالیٰ د مخکښې نه ولیکل چه زهٔ به فلانې پیدا کوم او هغه له به اختیار ورکوم او استعداد به پکښې اچوم او پیغمبران به ورلیږم لیکن دې به په خپله خوښه باندې د الله تعالیٰ بغاوت کوی، انبیاء به ئې پو هه کوی چه دا کار مهٔ کوه لیکن هغه به ئې کوی لکه مثلاً فرعون ته به وویل شي چه هدایت قبول کړه هغه به ئې نهٔ قبلوی، ضد به کوی تردې چه پدې حالت کښې به هغه مړ کیږی هم، نو بیا به جهنم ته داخلیږی. نو پدې کښې هیڅ قسم د ظلم شائبه هم نشته.
او په تقدیر کښې د الله تعالیٰ ډیر زیات حکمتونه دی چه هغې ته د عامو انسانانو ذهنونه نهٔ ور رسیږی نو بنده له په هغې باندې ایمان لرل پکار دی او هغې ته تسلیمیدل ضروری دی. ددې تشریح په یو حدیث کښې داسې راغلې ده،
ترمذیؒ، ابو یعلیٰؒ، ابن جریرؒ، ابن المنذرؒ، ابن ابی حاتمؒ، ابو الشیخؒ او ابن مردویهؒ د عمر فاروق ﷺ نه روایت نقل کړیدې چه هرکله دا آیت ﴿ فَمِنۡهُمۡ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴾ نازل شو نو ما وویل اې د الله رسوله! آیا مونږ چه کوم عمل کوو نو دا په تقدیر کښې لیکلې شویدې او که نهٔ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بلکه دا ټول څیزونه په تقدیر کښې لیکلې شویدی او قلمونه پدې جاری شویدی اې عُمره! لیکن هر انسان ته الله تعالیٰ هغه عمل آسانوی کوم دپاره چه پیدا دې.
(الترمذی باب القدر باب ۳ باسناد صحیح و اصل الحدیث فی البخاری: ٤٩٤٦ ومسلم (٦٩٠١)
یعنی د نیك بخته نښه دا ده چه دهٔ ته به د نیکئ توفیق ملاویږی او د هغې اعمال به ورته آسانولې شي او د بد بخته علامه دا ده چه دهٔ ته به د بد بختئ کارونه آسانولې شي. د حدیث مطلب دا دې چه مونږ بندګان په عمل کولو باندې مکلف یو. د تقدیر د تفصیلی بحثونو دپاره ((الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح اول جلد)) ته رجوع وکړئ.
**فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ**: دا هغه آیتونه دی چه رسول الله ﷺ ئې بوډا کړې وو. ترمذیؒ، حاکمؒ او

ابـویـعـلیٰ وغیره د ابوبکر ﷺ نـه روایت کـړیـدے، هغـه وویل چه اے د الله رسوله ! ته بوډا شـوے۔ نـو نبـی ﷺ وفـرمـایـل : ((زهٔ هود، مرسلات، عم یتساء لون او اذا الشمس کورت بوډا کړے یم))۔ (ترمذی : ۳۲۹۷) وسنده صحیح- البانی)

ځینی علماء وائی پدے سورت کښ د استقامة حکم دے او استقامة ګران کار دے لیکن دا وجـه صـحیح نهٔ معلومیږی ځکه چه استقامة په دین باندے مضبوط عمل کولو ته وائی او دا یو امتی هم کولے شی پاتے لا دا چه رسول الله ﷺ۔

صـحیـح دا ده چـه پـدے آیـتـونـو کـښ انتـهـائی سخت وعید ذکر دے چه پدے کښ سوچ کـولـو سره د انسان زړه بے کنټروله کیږی۔ او رسول الله ﷺ اګرکه جنتی دے لیکن د امت دپاره به ئے ددے وعید استحضار کولو نو ژړل به ئے۔

## زفیر او شهیق څه ته وائی؟

زَفِیْرٌ وَّشَهِیْقٌ : یـعـنـی اوسیـلـی، او رمبـاړے۔ ۱- دا دواړه د خرهٔ آواز ته وائی خو زفیر ئے ابتدائی آواز دے او شهیق ئے آخر دے۔ چه دا ډیر قبیح آواز دے۔

۲- لـغـةً فـرق ئے دا دے چه زفیر اِخْرَاجُ الـنَّفَس تـه وئـیـلے شی یـعـنـی ساه بهر راویستل او شهیق (رَدُّهَا) ته وئیلے شی یعنی د هغے واپس کول۔

۳- یا زفیر د سینے نه وی او شهیق د مرئ نه وی۔

٤- یـا زفـیـر پـه سیـنـه کـښ د سخت خوف په وجه ساه بوتللو رابوتللو ته وئیلے شی چه د هـغـے پـه وجه پښتئ وپړسیږی۔ او شهیق اُوږدو اُوږود ساه ګانو اخستو ته وائی۔ پدے دواړو کـښ مـقـصـود د دوی سخت غم او مصیبت ذکر کول دی او د دوی د حالت تشبیه ده د هغه چا سره چه د هـغـهٔ پـه زړه بـانـدے حـرارت (ګرمائش) غلبه کړی وی او روح ئے پکښ بند شوے وی۔ (فتح البیان)

٥- یـا زفیر صَوْتُ الْـمَـحْزُوْن (د غـمـجـن شـخـص آواز) دے، او شهیق صَوْتُ الْبَـاکِـی (د ژړیدونکی آواز) دے۔

خٰلِدِیْنَ فِیْهَا مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ : د آخـرت آسـمـانونه او زمکه همیشه وی نو ځکه به دوی پکښ همیشه وی۔

اِلَّا مَاشَآءَ رَبُّكَ : دے استـثـنـاء کښ ډیر اقوال دی : ۱- دا استثناء ده د زمانے د حساب نه په ورځ د حشر کښ یعنی په دغه زمانه د حشر کښ چه حساب ورسره کیږی دوی به په اُور

کښې نۀ وي۔ (زجاجؒ)

۲- پدې استثناء کښې زیادت د عذاب ته اشاره ده یعنې مګر هغه چه ستا رب غواړي نو عذاب به ورله نور هم زیات کړي۔ (زجاجؒ ایضاً واختاره الحکیم الترمذیؒ)

۳- یا استثناء ده دپاره د نافرمانو موحدینو چه دوی به د یوې مودې نه روستو د جهنم نه وباسي۔ پدې صورت کښې به ﴿ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا ﴾ عبارت کافران او مسلمان ګناهګارو ټولو ته شامل وي۔ (قاله الضحاكؒ، ابوسنانؒ وقتادةؒ وغیرهم) (فتح)

٤- او قتادةؒ دا هم وئیلي دي: اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِثُنْیَاهُ ۔ الله تعالیٰ په خپله استثناء باندې ښۀ پوهه دې۔ یعنې پدې باب کښې توقف پکار دې چه د الله تعالیٰ ددې نه څه مراد دې۔

٥- ابن عطیةؒ وغیره وئیلي دي چه دا استثناء نۀ متصل ده او نۀ منقطع بلکه دا د برکت دپاره وئیل شویده لکه شارع دې ته په هر کلام کښې دعوت ورکړیدې او پدې باندې ئې حکم کړیدې۔ او دغه شان قول د ابو عبیدؒ نه نقل دې)۔ (فتح البیان)

او په بل تعبیر سره د الله تعالیٰ دا عادت دې چه هر ځای کښې خپل مشیئتِ طلیقه (یعنې آزاده اراده) بیانوي دپاره د دفع د اَوهامو چه الله تعالیٰ باندې هیڅ شې لازم نۀ دې، هغه باندې د هیچا زور نشته، دا لازمه نۀ ده چه هغه به بنده خامخا اُورته بوځي که بوئې نۀ ځي نو الله ته به تکلیف پیښ شي، څه بوج به پرې راشي، دا هیڅ قسم خطره نشته۔

نو معنیٰ دا ده چه اِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ فَیَفْعَلُ ۔ الله چه څه غواړي هغه کوي، د هغه خوښه ده چه څوك اُورته همیشه دپاره بوځي او که لږې مودې دپاره، او که جهنم ختموي او که انسانان پکښې باقي پریدي، لیکن اصول ئې دا دي چه کافر او مشرك به په اُور کښې همیشه وي لیکن اراده ئې آزاده ده۔ او همدا قول ظاهر دې۔

٦- صاحب د فتح البیان دا قول هم نقل کړیدې (او دې ته ئې ښائسته وجه وئیلې ده) چه د سماوات او ارض نه مراد د دنیا د مودې همیشوالې دې ځکه چه کفارو ته ددې اندازه لګي او همدا وینې او په (مَاشَاءَ رَبُّكَ) کښې پدې موده باندې زیادت مراد دې، یعنې دوی به په جهنم کښې د دنیا د مودې په اندازه همیشه وي او ددې مودې نه زیاته هم چه د هغې هیڅ انتهاء نشته چه هغه صرف الله تعالیٰ ته معلومه ده۔ (فتح والقرطبی)۔

سُعِدُوْا: صیغه ئې مجهول راوړه اشاره ده چه د دوی نیك بختي خالص د الله تعالیٰ په احسان سره شویده۔

عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ: مجذوذ د جُذاذ نه دې په معنیٰ د قطع (پریکولو او ختمولو) سره۔

او دے کښې اشاره ده چه د (اِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ) مطلب دا نۀ دے چه جنت ته د داخلیدو نه روستو به بیا راوځی یعنی څوك چه یو ځل جنت ته داخل شی نو بیا به ترینه نۀ رابهر کیږی ځکه چه دا داسے نعمتونه دی چه انقطاع ئے نشته۔ نو دا ښکاره دلیل دے چه جنت او اهل جنت باندے فناء نۀ راځی او دا حکم د جهنم والو هم دے۔

هلته به همیشه دپاره وسیږی مگر دا چه الله تعالیٰ خالص په خپل فضل او کرم سره په هغے کښې څوك گوزار نکړی، یا دا چه نافرمان موحدین د یوے مودے نه روستو د جهنم نه وباسی۔ او دا خبره خو د متواترو احادیثونه ثابته ده چه اهل توحید به د جهنم نه آخر راویستلے شی۔ او په هغه ورځ به څه خلق خوش قسمته وی چه هغوی به همیشه دپاره جنت ته داخل کړے شی چه د هغے نعمتونه به هیڅ کله نۀ ختمیږی۔

| |
|---|
| فَلَا تَكُ فِىۡ مِرۡيَةٍ مِّمَّا يَعۡبُدُ هٰٓـؤُلَآءِ ؕ مَا يَعۡبُدُوۡنَ |
| نو مۀ کیږه تۀ په شك کښې د هغے نه چه بندگی ئے کوی دا خلق، بندگی نۀ کوی دوی |
| اِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ اٰبَآؤُهُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ ؕ وَاِنَّا |
| مگر په شان د هغے چه بندگی ئے کوله پلارانو د دوی مخکښې ددینه، او یقیناً مونږه |
| لَمُوَفُّوۡهُمۡ نَصِيۡبَهُمۡ غَيۡرَ مَنۡقُوۡصٍ ﴿۱۰۹﴾ |
| پوره ورکونکی یو دوی ته برخه د دوی چه کمه به نکړے شی۔ |

**تفسیر:** د بد بختئ اسباب

د قرآن کریم عادت دا دے چه کله یو لفظ ذکر شی، سخت وی یا یو لفظ مُهم وی نو د هغے روستو خپله تفصیل کوی نو دلته هم دا مهمه خبره بیانه شوه چه بد بختی او نیك بختی د جنت او د جهنم ذریعه ده نو د یو سړی په ذهن کښې دا سوال خامخا پیدا کیږی چه مونږ ته دِے بد بختی او دَ هغے اسباب بیان شی چه ځان ترے وساتو او د نیك بختئ اسبابو کوشش وکړو نو اول کښې الله تعالیٰ د بد بختئ اسباب ښودلی دی، بیا ئے د نیك بختئ صفات راوړیدی۔ د بد بختئ ډیر اسباب دی بعض دا دی :

(۱) اَلشِّرۡكُ بِاللّٰه ۔ لکه پدے اول آیت کښې ذکر دی۔ او فرمائی : ﴿عَسٰٓى اَنۡ لَّاۤ اَكُوۡنَ بِدُعَآءِ رَبِّىۡ شَقِيًّا﴾ ۔ (مریم : ٤٨) نو عبادت د غیر الله لویه بد بختی ده۔

(۲) مُخَالَفَةُ آيَاتِ اللّٰه۔ د الله د آیتونو مخالفت او د هغې سره ضد کول لکه ﴿قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا﴾
(۳) تَرْكُ الصَّلَاة۔ مونځ پریخوستل لکه د روستو آیتونو او نورو دلائلو نه دا اسباب معلومیږی۔
(٤) اَلظُّلْمُ عَلٰى عِبَادِ اللّٰه۔ د الله په بندګانو ظلم او مسلمانانو ته ضرر ورکول۔
(٥) اَكْلُ الْحَرَام ۔ حرام خوړل ځکه چه څوك حرام خوری، عبادات ئے نهٔ قبلیږی نو بد بخته شی۔ (٦) قَسْوَةُ الْقَلْبِ ۔ (د زړه سختوالے)
(۷) طُوْلُ الْاَمَل۔ (امیدونه اوږده کول)
(۸) اَلْحِرْصُ عَلَى الدُّنْيَا ۔ (دنیا باندے حرص کول)۔ لکه دا درے اسباب په یو ضعیف روایت کښې راغلی دی اګر که د معنیٰ په لحاظ صحیح دے۔ او قرآن کښې لوی لوی بختان ذکر کوی۔
نو پدے آیت کښې د مشرکانو په شرك باندے سخت رد دے۔
**فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ :** په آیت کښې خطاب نبی کریم ﷺ ته دے لیکن مقصود نور خلق دی، چه د هغوی په زړونو او دماغو کښې د بتانو او نورو باطلو معبودانو د دروغو معبود کیدو کښې څه قسم شك وی، ځکه چه نبی ﷺ دداسے قسم شك نه په قطعی توګه سره پاك وو۔
بیا ددے څه مطلب دے چه د دوی د عبادت د غیر الله نه شك مهٔ کوه؟ دا خو هر چا ته معلومه ده چه دوی عبادت د غیر الله کوی؟ نو ددے یو څو مطلبونه بیان شویدی :
(۱) یو دا چه (فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِمَّا يَعْبُدُ هٰؤُلَاءِ اَیْ اِنَّهُمْ ضُلَّالٌ) یعنی ددے خلکو په بندګئ کښې شك مهٔ کوه چه دوی پدے کار سره ګمراهان شویدی یعنی د دوی په ګمراهئ کښې شك مهٔ کوه۔ دوی د مشرانو په شان ګمراهان دی او په باطله دی او هغوی ته الله عذاب ورکړے وو نو دوی ته به هم عذاب ورکوی۔
(۲) یا ما مصدریه دے او مِمَّا په معنیٰ د (فِيْمَا) سره دے، فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ فِيْ بُطْلَانِ عِبَادَةِ هٰؤُلَاءِ۔ (فتح البیان) یعنی د دوی د عبادت په باطل والی کښې هیڅ شك مهٔ کوه، د دوی عبادت داسے ضائع دے لکه څنګه چه د دوی د مشرانو د بتانو عبادتونه ضائع او برباد دی۔ نو ما مصدریه ده۔ (۳) یا مِنْ اجلیه دے او معنیٰ دا ده : فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ فِي التَّوْحِيْدِ مِنْ اَجْلِ مَا يَعْبُدُ هٰؤُلَاءِ ۔ یعنی ددے مشرکانو د عبادت په وجه په توحید کښې چرته شك

ونکړے۔ بلکه ما یعبدون : یعنی د دوی عبادت د غیر الله داسے بی دلیله او په تقلید باندے بناء دے لکه څنګه چه د مشرانو عبادت وو۔ (خازنؒ)

(٤) یا معنیٰ دا ده : [فَلَا تَكُ فِيْ شَكٍّ مِنْ سُوْءِ عَاقِبَتِهِمْ]۔ یعنی د دوی د عبادت نه شك مهٔ کوه چه پدے سره د دوی عاقبت او انجام خرابیدونکے دے۔

(٥) یا ما په معنیٰ د الذی دے۔ معنیٰ دا ده : فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِنَ الَّذِيْ يَعْبُدُوْنَهٗ اَيْ مَا يَعْبُدُوْنَهٗ غَيْرُ نَافِعٍ لَهُمْ وَلَا ضَارٌّ وَلَا تَأْثِيْرَ لَهٗ فِيْ شَيْءٍ)۔

یعنی شك مهٔ کوه د هغه چا نه چه دوی ئے عبادت کوی چه دغه معبودان دوی ته نهٔ څه فائده ورکولے شی او نهٔ څه ضرر او نهٔ ورله هیڅ تاثیر شته۔

صاحب د فتح البیان وائی چه ددے ټولو معانیو د جمع کولو نه هیڅ مانع نشته۔

(٦) دے کښ دا مطلب هم صحیح دے چه د (مَا) نه باطل معبودان مراد شی۔ یعنی تهٔ د کافرانو د معبودانو په باطل کیدو کښ بالکل شك مهٔ کوه۔ د دوی معبودان هم د دوی د پلارانو نیکونو د معبودانو په شان دروغجن او باطل دی۔

وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ : ١- او مونږ به د دوی د پلارانو نیکونو په شان دوی ته هم عذاب ورکوو او پدے کښ به هیڅ کمی نهٔ کیږی۔ نو د حصے نه مراد حصه د عذاب ده۔

٢- دویم دا چه ددے حصے نه مراد د دنیا حصه ده، او دا جواب د سوال دے چه هرکله شرك باطل او بی دلیله کار دے، نو دے مشرکانو ته به روزی او مالونه وغیره نهٔ ملاویدے؟

**جواب :** په دنیا کښ د دوی حصه شته چه په طریقه د ابتلاء به دوی ته ورکیدے شی۔ (احسن الکلام) دواړو خبرو ته اشاره ده چه دنیا کښ ورته الله تعالیٰ رزقونه ورکوی چه هغه پوره شی نو بیا به ورله په آخرت کښ عذاب ورکوی۔

| |
|---|
| وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ |
| او یقیناً ورکړے وو مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته کتاب نو اختلاف وکړے شو په هغے کښ، |
| وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ |
| او کچرته نهٔ وے خبره چه مخکښ شویده د طرف د رب ستا نه خامخا فیصله به شوے وے |
| بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿١١٠﴾ |
| په مینځ د دوی کښ، او یقیناً دوی خامخا په شك کښ دی ددے نه چه سخت شك دے۔ |

**تفسیر** : پدے کښې مختصر دلیل نقلي د موسیٰ علیه السلام نه راوړی او پدے سره نبی کریم ﷺ ته تسلي ورکړے کیږی چه مونږ موسیٰ ته تورات ورکړے وو نو خلق د هغه په باره کښې په دوه جماعتونو کښې تقسیم شو، څه خلقو پرے ایمان راوړو او څه خلقو د هغے نه انکار وکړو، دغه شان څه خلقو په هغے کښې په موجوده احکامو باندے عمل وکړو، او څه خلقو عمل ونکړو، نو اے زما نبی (ﷺ)! د قرآن په باره کښې هم ددے کافرانو د اختلاف په لیدو سره ته زړهٔ مهٔ خفه کوه۔

**وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ** : یعني که د الله تعالیٰ فیصله د مخکښې نه نهٔ وے (بِاَنْ قَضٰى لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلًا)۔ چه هغه د هر امت د هلاکولو دپاره نیټه مقرر کړیده چه عذاب به پرے په خپل وخت کښې راځي، که داسے نهٔ وے نو دوی به اُوس وختي په عذاب کښې اخته شوی وے لیکن الله تعالیٰ دوی لره د خپل حکمة په وجه عذاب روستو کړیدے۔ او پدے کښې دهمکی ده چه الله تعالیٰ ئے د قرآن کریم په مخالفت باندے بندګانو ته ورکوی۔

د کلمة نه مراد (۱) د هر امت نیټه ده۔ (۲) یا ددے نه مراد د قیامت راتلل دی۔ یعني الله تعالیٰ د دوی عذاب قیامت ته د یو مصلحت په بناء روستو کړیدے نو دوی دِے نهٔ خوشحالیږی چه ګنے دوی به د عذاب نه بچ شي۔

(۳) یا هغه کلمه دا ده چه د الله تعالیٰ رحمت د هغهٔ په غضب باندے سبقت کړیدے، پدے وجه الله تعالیٰ دوی ته مهلت او تاخیر ورکړیدے، او په عذاب کښې ئے جلتي نهٔ ده کړے۔ حقیقت دا دے چه کافران د قرآن په باره کښې ډیر زور شك کښې اخته دی۔

**مُرِيْبٍ**: اَیْ مُوْقِعٍ فِی الرِّیْبَةِ۔ یعني په شك کښې اچونکے بل چا لره۔ یا خپله شك والا۔

| |
|---|
| وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ |
| او یقیناً هر یو د دوی نه هرکله (چه راپورته کړے شي په قیامت کښې) نو پوره به ورکړی دوی ته |
| رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱۱﴾ |
| رب ستا بدله د عملونو د دوی، یقیناً الله په هغے عملونو چه دوی ئے کوی خبردار دے۔ |

**تفسیر** : دا جواب د سوال دے چه هرکله دوی له عذاب په دنیا کښې ورنکړے شو نو آیا دوی به معاف وی؟ جواب: الله تعالیٰ به ټول مخکښني او روستني امتونه راجمع کوی، هر یو ته به د هغوی د عملونو پوره پوره بدله ورکوی، که ښهٔ عمل وی نو ښه بدله به ورکوی

او که بد عمل وی نو بده بدله به ورکوی. د دوی هیڅ عمل هم د الله تعالیٰ نه پټ نهٔ دے، اګر که ورو کے وی یا غټ، ښه وی یا بد. نو پدے کښې د نیك عمل کونکو دپاره د جنت وعده او د بد عمل کونکو دپاره د جهنم دهمکی ده.

**كُلًّا** : اَیْ كُلًّا مِنَ الْخَلَائِقِ. (یعنی هر یو د مخلوق نه) تنوین عوضی دے. او دا اسم د (اِنَّ) دے او (لَمَّا) شرطیه دے چه شرط ئے پټ دے. یعنی لَمَّا یُبْعَثُنَّ . (هر کله چه راپورته کړے شی) او (لَیُوَفِّیَنَّهُمْ) ئے جزاء ده. شرط سره د جزاء نه خبر د ان دے.

او پدے جمله کښې ډیر قراء تونه او ترکیبونه په فتح البیان کښې وګورئ. او مونږ چه څه ذکر کړل پدے کښې کفایت دے.

| |
|---|
| فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ |
| نو کلك شه (په دین) لکه څنګه چه حکم شوید ےتا ته او هغه څوك چه توبه ئے ویستلے ده |
| مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ؕ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۲﴾ |
| ستا سره، او د حد نه مهٔ تیریږئ یقیناً الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے. |

**تفسیر : مضمون** : اُوس په آخر د سورت کښې د نورو مکی سورتونو په شان آداب بیانوی، لکه استقامة. عدم طغیان، لَا تَرْكَنُوْا . اَقِمِ الصَّلَاةَ . وَاصْبِرْ، او دعوت ﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ﴾ کښې او عبادت او توکل دے په (فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ) کښې.

مناسبت

۱- د موضوع سره مناسبت دا دے چه پدے کښې انواع العبادات ذکر دیّ.

۲- د شقاوة او سعادت سره ئے مناسبت دے چه انسان کښې سعادت پدے راتلونکو اعمالو سره راځی. نو دلته اسباب د سعادت بیانیږی.

۳- د نزدے آیت سره ئے مناسبت دے چه هر انسان ته به د هغه عملونه په آخرت کښې ورکولے شی نو بس په دین کلك شه چه دا د کامیابئ لاره ده.

د استقامت تشریح به په سورة حم السجده کښې راځی ان شاء الله تعالیٰ. مختصر دا چه استقامة په لغت کښې برابر ودریدو ته وائی. او د قرآن او د حدیث په اصطلاح کښې اَلْعَمَلُ بِدِیْنِ اللهِ ته وائی. یعنی د الله تعالیٰ په دین باندے عمل کول، دا ئے لنډ تعبیر دے. د الله په دین باندے کلك عمل کول اُو پدے کښې د هیچا پرواه نهٔ ساتل. لکه سورة احقاف آیت

(۱٤) کښې د استقامة نه روستو (بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) راغلے دے چه هلته هم استقامة عمل ته وئیل شویدے۔ لکه د خلفاءِ اربعه ؤ د تعریفاتو حاصل هم دغه دے۔

د ابوبکر صدیق ﷜ نه نقل دی چه د الله بندگی ئے شروع کړه (فَلَمْ يَلْتَفِتُوا اِلَى اِلٰـهِ غَيْرِهِ) او د الله نه علاوه بل چا ته ئے توجه ونکړه۔ یعني یواځے د الله بندگی کوی۔ سیدنا عمر فاروق ﷜ فرمائی: (اَنْ تَسْتَقِيْمَ عَلَى الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ وَلَا تَرُوْغَ رَوْغَانَ الثَّعَالِبِ) یعنی د الله په امر او نهی باندے مضبوط ودریدل او د هغے نه د گیدړانو په شان اخوا دیخوا نۀ اوړیدل۔

سیدنا عثمان ﷜ فرمائی: (اَخْلَصُوا فِي الْعَمَلِ) چه د الله دپاره ئے یواځے بندگی وکړه۔

سیدنا علی ﷜ فرمائی: (اَدُّوا الْفَرَائِضَ) یعنی فرائض ئے د الله دپاره ادا کړل۔ نو د ټولو خلفاءِ راشدینو په نیز استقامت عمل ته وائی نو د اِستقاموا معنیٰ ده: الله ته برابر ودریدل او الله ته برابر ودریدل دے ته وائی چه د هغه په حکمونو عمل کوی، او د الله د حکمونو نه اخوا دیخوا نۀ اوړی، ظاهری او باطنی ټول اعمال د الله دپاره ادا کوی۔ خو دے کښې دا ورسره مراد ده چه دا عملونه به تر مرگه پورے کوی یعنی پدے عملونو به همیشوالے کوی۔ نو د استقامت په معنیٰ کښې برابر عمل کول او همیشه کول دواړه مراد دی۔

عنوان د آیت: نو پدے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ خپل رسول او نورو مؤمنانو بندګانو ته په حق دین باندے په هر حال کښې ثابت قدم وسیدو حکم کړیدے، ځکه چه د دین په دشمنانو باندے د غالب راتلو همدا د ټولو نه لویه ذریعه ده، او د الله په خلاف د بغاوت او سرکشئ نه ئے منع کړیده، ځکه چه د هلاکت او بربادئ همدا مقدمه ده۔

حسن بصریؒ وائی چه کله دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل: تیار شئ، تیار شئ! دے نه روستو نبی ﷺ په خندا ونۀ لیدلے شو۔

مفسر ابوالسعودؒ وائی چه «استقامت» تمامو اصولی او فروعی احکامو او تمامو نظری او عقلی خوبیانو او کمالاتو ته شامل دے، او ددے د ذمه واریانو نه ذمه فارغیدل ډیر مشکل کار دے، پدے وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی وو چه زۀ سورة هود بوډا کړم۔ (ترمذیؒ) (فتح البیان)

**فَاسْتَقِمْ**: عَلٰى دِيْنِ رَبِّكَ وَالْعَمَلِ بِهِ وَالدُّعَاءِ اِلَيْهِ ۔ یعنی تۀ برابر شه په دین د رب خپل او په هغے باندے په عمل کولو او هغے ته په دعوت ورکولو۔

**كَمَآ اُمِرْتَ**: دا ورسره ځکه وائی چه استقامت د الله تعالیٰ د امر مطابق کار باندے پکار دے دے دپاره چه ددے نه په شرك او کفر او بدعت او ناروا باندے پوخ ودریدل بهر شی، هغه

شرعي استقامت نهٔ دے۔

**وَمَنْ تَابَ مَعَكَ**: پدے کښې اشاره ده چه کله د انسان نه استقامة وران شی نو علاج ئے توبه ویستل دی۔ او هرکله چه صحابه کرامؓ او نور امت په استقامت کښې نبی کریم ﷺ ته نشي رسیدلے ددے وجه نه ئے هغه په طریقه د عطف سره ذکر کړل۔

**وَلَا تَطْغَوْا**: دا ورسره څکه وائی چه کله انسان په استقامة کښې د حدودو نه تجاوز کوی د مستحب نه فرض او د غیر لازم نه لازم جوړوی نو الله فرمائی: چه د حدودو نه تجاوز مهٔ کوئ۔

نو د لاتطغوا درے مصداقه دی (۱) لَا تَعْصُوْنِيْ۔ زما نافرمانی مهٔ کوئ۔ (ابن زیدؒ)

(۲) لَاتَزِيْدُوْا عَلٰى مَا اَمَرْتُ وَنَهَيْتُ) یعنی زما د امر او نهی نه زیادت مهٔ کوئ نو طغیان دا دے چه انسان په ځان باندے شپږ مونځونه فرض وګڼړی، دوه میاشتے روژه فرض وګڼړی۔ او هغه حلال پریدی چه الله تعالیٰ په هغے کښې اجازه ورکړیده او ترغیب ئے ورکړیدے لکه انسان ټوله شپه مونځ کوی او نهٔ اُوده کیږی یا همیشه روژے نیسی دا طغیان دے۔

۳- ابن عباسؓ فرمائی: اَیْ لَاتَظْلِمُوْا۔ یعنی تاسو ظلم مهٔ کوی۔

نو د بغاوت او سرکشی نه مراد ظلم او زیاتے، او د الله حدودو نه تجاوز کول، او په عبادتونو کښې غلو کول او ګناهونه کول دی۔

| |
|---|
| وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا |
| او مهٔ مائله کیږئ هغه کسانو ته چه ظلم ئے کړیدے نو وبه رسی تاسو ته اُور او نشته |
| لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ |
| تاسو لره سوئ د الله نه دوستان بیا به مدد نشی کیدے تاسو سره۔ او پابندی کوه د مانځه |
| طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ۭ اِنَّ الْحَسَنٰتِ |
| په دواړو طرفونو د ورځے کښې او په اولنو ساعتونو کښې د شپے نه، یقیناً نیک عملونه |
| يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ۭ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ |
| بوځی بدو لره، دا نصیحت دے دپاره د نصیحت اخستونکو۔ |

**تفسیر**: اُوس د استقامة د پیدا کیدو او د باقی پاتے کیدو اسباب بیانوی چه دا د سعادت

اسباب هم دی۔ او دا دریم ادب د داعی دے۔

۱ - پدے آیت کریمه کښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته حکم کړیدے چه دوی هغه خلقو ته مائل نۀ شی چه هغوی د شرك، بدعاتو او گناهونو کولو سره د ظلم لاره اختیار کړیده، ځکه دا د دوی د شرکی اعمالو نه د راضی کیدو دلیل دے، ظلم کونکوته پدے سره تقویت ملاویږی او په حق باندے وسیدونکی کمزوری کیږی۔

## ظالمانو ته د مائله کیدو څه مطلب؟ او د ظلم نه څه مراد دے؟

نو استقامة او دین چه خرابیږی یو پدے چه بنده ظالمانو ته مائل شی۔ نو په آیت کښې غرض د ظالمانو کافرانو نه براء ت (بیزاری) ده۔ نو د مشرکانو، مبتدعینو، دهریانو او دنیا پرستو اشرارو سره په مجلسونو کښې شرکت او مخالطت او دوستانه مۀ کوئ دا سبب د عذابِ الهی دے۔

د تفسیر امامانو ددے آیت په باره کښې اختلاف کړیدے چه دلته د ظلم نه مراد صرف شرك، او ظلم کونکو نه مراد صرف مشرکین دی، یا د ظلم نه مراد هر هغه فعل دے چه په هغې باندے د ظلم اطلاق کیږی، او د ظلم کونکو نه مراد مشرك او غیر مشرك ټول دی۔

عوفیؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه اول قول نقل کړیدے۔ (المنار والفتح)

او شوکانیؒ او صاحب د فتح البیان وائی چه د آیت مفهوم عام دے، او مشرك او غیر مشرك ټولو ته شامل دے، ځکه چه اګرکه د آیت سبب د نزول مشرکان دی، لیکن د مفسرینو په نیز همیشه د الفاظو عموم له اعتبار وی، نۀ خصوص د سبب له۔ لیکن پداسے صورت کښې اشکال دا راپیښیږی چه د نبی کریم ﷺ د متواترو احادیثونه ثابته ده چه د مسلمان حکمران اطاعت کوئ اګرکه هغه حبشی ولے نۀ وی، چه د هغۀ سر د وځکے (کشمش) په شان وی، په نورو صحیح حدیثونو کښې دی چه ترڅو پورے دوی مونځونه قائموی، او صرف کفر نۀ کوی او دا الله په نافرمانئ حکم ونکړی نو د دوی اطاعت واجب دے۔ اُوس که یو شخص ددے احادیثو د نظره دیو ظلم کونکی بادشاه خبره منلو سره د هغه په حکومت کښې دینی مناصب قبلوی، حدود قائمولو کښې د هغه سره تعاون کوی او د مسلمانانو مصالح خاصه او مصالح عامه ؤ خیال ساتلو سره په نورو کارونو د مملکت سنبالولو او چلولو کښې د هغه سره ملګرتیا کوی نو آیا دا به پدے آیت کښې د ذکر شوی وعید مستحق وی او که نۀ؟ علماؤ ددے نفی کړیده، او وئیلی ئے دی چه که هغه د زړۀ نه د

هغه د ظالمانه اعمالو تائید نهٔ کوی، نو د پورته ذکر شوی احادیثو او ددے معنیٰ په شان نورو متواترو احادیثو د مخه پدے آیت کښې د ذکر شوی وعید مستحق به نهٔ وی۔
مفسرین لیکی چه دا آیتِ کریمه د ظلم نه د منع او په هغے باندے د الله د طرف نه د دهمکئ لوی دلیل دے۔ ځکه چه کله ظلم کونکو دپاره په خپل زړهٔ کښې نرمی ساتونکو سزا جهنم خودلے شویده نو د هغه خلقو به څه حال وی چه د هغوی ژوند په شرکی اعمالو او ظلم او بربریت کښې ډوب شوے وی۔ (فتح البیان تفصیلًا)

## ظالمانو ته د میلان صورتونه

وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ : ظالمانو ته د میلان ډیر صورتونه دی :
(۱) عبد الله بن عباسؓ فرمائی : بِالْمَحَبَّةِ۔ ظالمانو ته په محبت سره مهٔ مائل کیږئ۔
(۲) ابو العالیۃؒ وائی : لَاتَرْضَوْا بِاَعْمَالِهِمْ۔ د هغوی په اعمالو مهٔ راضی کیږئ۔
(۳) سدیؒ وائی : لَاتُدَاهِنُوا الظَّلَمَةَ۔ د ظالمانو خلکو سره مداهنت مهٔ کوئ (چه دین ورته پریدی د هغوی د یرے د وجه نه)۔
(٤) عکرمہؒ او قتادہؒ وائی : لَاتَوَدُّوْهُمْ وَلَاتُطِيْعُوْهُمْ۔ د دوی سره مینه مهٔ کوئ او د دوی خبره مهٔ منئ۔ (٥) د کافرانو تائید،
(٦) د هغوی په دین کښې ملګرتوب، دے ټولو ته آیت شامل دے۔ (قرطبی، وفتح البیان)
صاحب المنار داسے تفسیر کوی : وَلَاتَسْتَنِدُوْا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ قَوْمِكُمُ الْمُشْرِكِيْنَ وَلَا مِنْ غَيْرِهِمْ فَتَجْعَلُوْهُمْ رُكْنًا لَكُمْ تَعْتَمِدُوْنَ عَلَيْهِمْ فَتُقِرُّوْنَهُمْ عَلٰى ظُلْمِهِمْ)
یعنی تاسو خپلوانو او پردو مشرکانو ته تکیه مهٔ لګوئ چه هغوی ځان دپاره یو تائید جوړ کړئ چه تاسو په هغوی باندے اعتماد وکړئ نو هغوی په خپلو ظلمونو باندے باقی پریدئ)۔ ځکه چه رکون د رکن نه دے او رکن کښې معنیٰ د تقویت پرته ده۔
فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ: یعنی اُور به مو وسیزی په سبب د مائله کیدو کافرانو ته۔
علماء وائی : دا سزا د هغه چا ده چه ظالمانو ته مائل شی نو د ظالم به څومره لویه سزا وی؟!۔ (المنار والفتح)
وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ : حدیث کښې هم دے سبب د استقامة ته اشاره راغلے ده، فرمائی : [اِسْتَقِيْمُوْا وَلَنْ تُحْصُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ خَيْرَ اَعْمَالِكُمُ الصَّلَاةُ] په دین کلك شئ او دا کار تاسو پوره نشئ راګیرولے او پوهه شئ چه ستاسو په عملونو کښې غوره عمل مونځ دے۔

(صحیح ابن ماجه رقم : ۲۷۳)

طَرَفِيِ النَّهَارِ : ددے دواړو طرفونو نه سهار او مازیگر مونځ مراد دے چه پدے ماسپښین هم داخل دے ځکه چه دا هم یو طرف ته دے او زُلَفًا مِنَ اللَّيْل کښې ماښام او ماسخوتن ته اشاره ده نو پنځه مونځونه پکښې راغلل۔

زُلَفًا : جمعه د زُلْفَةٌ ده هغه وختونو ته وائی چه یو بل ته نزدے وی نو چه نمر پټ شی ماښام دے او چه شفق پټ شی ماسخوتن دے۔

اِنَّ الْحَسَنٰتِ : د انسان نه گناهونه کیږی نو الله تعالیٰ ددے مونځونو فائده بیانوی چه پدے سره گناهونه ختمیږی۔

امام احمدؒ او اصحاب السنن د علی بن ابی طالب ﷺ نه روایت کړیدے چه کله یو مؤمن نه گناه کیږی او اَودس وکړی او دوه رکعاته مونځ وکړی نو د هغهٔ هغه گناه معاف کیږی۔ (مسند احمد رقم : ۲)

ددے آیت په شان نزول کښې امام بخاریؒ ومسلمؒ وغیره د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه یو شخص رسول الله ﷺ ته راغلو او وے وئیل چه ما د ښار په مضافاتو کښې د یوے ښځے علاج کولو نو هغے سره بغیر د نزدیکت نه ما نه گناه وشوه یعنی ما د هغے نه کوکئ واخسته، لکه چه په بعض روایتونو کښې د هغے صراحت راغلے دے۔ (اِنِّیْ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللّٰهِ) تهٔ په ما باندے د الله حد قائم کړه۔ نبی ﷺ غلے شو، پدے کښې د مانځه وخت راغلو هرکله چه رسول الله ﷺ د مانځه نه فارغ شو وے فرمایل : هغه (تپوس کونکے) سړے څه شو؟ هغه وویل : دا یم، ورته ئے وفرمایل : آیا تا پوره اَودس کړے وو او مونږ سره دے اُوس مونځ وکړو؟ هغه وویل : آؤ، ورته ئے همدا آیت تلاوت کړو۔

یعنی ددے گناه نه روستو تا چه کوم نیك عمل کړیدے، هغه دا گناه ختمه کړه۔ نو هغه تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! آیا دا حکم زما پورے خاص دے؟ نو نبی ﷺ وفرمایل : چه (هِیَ لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِیْ) (بخاری : ٦٨٢٣) ومسلم : ٧١٨٢) (ابن ماجه : ٤٢٥٤)

دا د تمامو مسلمانانو دپاره عام دے۔

امام مسلمؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((انسان چه ترڅو پورے د کبیره گناهونو نه ځان ساتی د هغه د هر دوه مونځونه د هغے ترمینځ د گناهونو دپاره کفاره جوړیږی))۔ (مسلم : ٥٧٢)

مجاهدؒ وائی : د حسنات نه مراد سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر دی۔ (فتح

البیان) او ظاهر دا ده چه حسنات ئے جمع راوړه ځکه چه یواځے مونځ مراد نهٔ دے بلکه مانځه ته تلل، د بل مانځه په انتظار کښې په مسجد کیناستل او نور عبادات کول۔

بیا د جمهورو مذهب دا دے چه په مانځه وغیره سره صرف صغائر ګناهونه معاف کیږی۔ او راجح دا ده چه بنده ښهٔ مونځ وکړی نو الله تعالیٰ پرے کبائر هم معاف کوی ځکه چه دلته سیئات لفظ عام دے، ددے اطلاق په کبائرو هم کیږی۔

ذٰلِكَ ذِكْرٰى : ذلك اشاره قرآن ته ده یا ذکر شوی حکم ته چه د مانځه پابندی ده۔

ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ: اَىْ مَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّعِظِيْنَ۔ نصیحت دے دپاره د نصیحت اخستونکو۔

حسنؒ وائی : دا هغه کسان دی چه الله تعالیٰ په مالدارئ او عاجزئ او سختئ او فراخئ او عافیت او مصیبت کښې یادوی۔ یا د ذاکرین معنیٰ مُتَذَكِّرِيْن ده یعنی هغه خلك چه خبره رایاده وی۔ (قرطبیؒ)

| |
|---|
| وَاصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا |
| او صبر کوه یقیناً الله تعالیٰ نهٔ ضائع کوی اجر د نیك عمل کونکو۔ پس ولے نهٔ وو |
| كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ |
| د هغه پیړو (قومونو) نه چه مخکښې وے ستاسو نه پوهے والا خلق چه منع ئے کوله |
| عَنِ الْفَسَادِ فِى الْاَرْضِ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ج |
| د ګناهونو نه په زمکه کښې مګر لږ کسان د هغه کسانو نه چه بچ کړل مونږ د دوی نه |
| وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا |
| او روان شو هغه کسان چه ظلم ئے کړے وو د هغه نعمتونو پسے چه مست کړے شوی وو |
| فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿١١٦﴾ |
| په هغے کښې، او وو دوی مجرمان۔ |

**تفسیر** : پدے کښې بل ادب د داعی ذکر دے۔ نبی کریم ﷺ ته په هغه تمام مشقتونو باندے د صبر بالعموم تلقین شویدے چه د دعوت او تبلیغ په لاره کښې راپیښیږی او بالخصوص په هغه مشقتونو باندے چه د مونځونو په پابندئ او په محدود اَوقاتو کښې د هغے د اداکولو دپاره کیږی لکه چه الله تعالیٰ په سورة طه آیت (۱۳۲) کښې فرمایلی دی :

﴿وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾ چه د مونځونو په ادا کولو باندے صبر کوه، او په هغے باندے کلك وسيږه۔

صبر والو ته ئے محسنين وويل ځکه چه د صابر بنده په الله تعالیٰ نظر لګی چه اے الله ! دا تکليف دے خو ستا د رضا او اجر حاصلولو دپاره صبر کوم۔ او هغه صبر کار آمد نهٔ دے چه د خلکو د خاطره وشي۔

فَلَوْلَا كَانَ : پدے کښی ترغيب دے دعوت الی الله ته يعنی امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته، او دا هم د سعادت لويه ذريعه ده۔ او دا د استقامة هم ښه سبب دے۔

او پدے آيت کښی د تير شوو امتونو د هلاکت سبب بيانيږی چه د هغوی واقعات په تفصيل سره مخکښی بيان شويدی، او پدے کښی زورنه ده زمونږ موجوده امت ته۔

الله تعالیٰ هغوی پدے وجه د جرړے نه پريکړل او بيخ ئے ورله ويستو چه کله په هغوی کښی ګناه عامه شوه نو په هلاك کيدونکو کښی څوك هم داسے نهٔ وو چه خلقو ته ئے د نيکئ حکم کړے وے او د بدئ نه ئے منع کړی وے، سوئ د هغه څو کسانو نه چه الله تعالیٰ هغوی ته د هغه عذاب نه نجات ورکړو۔

هغه ظالمانو ته چه الله تعالیٰ کوم سامان د ژوند ورکړے وو په هغے کښی داسے ډوب شو چه عيش پرستی د هغوی د ژوند مقصد جوړ شو، د آخرت نه بيخی غافل شو، او دينی او اخلاقی او معاشرتی ګنرو جرمونو کښی اخته شو، نو د الله تعالیٰ په نظر کښی مجرمان جوړ شو، نو ددے مجرمانه اعمالو په سبب هلاك شول۔ دا يو مطلب دے۔ دويم روستو راځی۔

او بناء پدے مطلب سره به د اِلَّا قَلِيْلًا تقدير داسے وی :

لٰكِنَّ قَلِيْلًا مِمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ نَهَوْا عَنِ الْفَسَادِ وَسَائِرُهُمْ تَارِكُوْنَ لِلنَّهْيِ۔ (القاسمیؒ)

ليکن لږ خلك د دغه پيروو والو نه کوم چه مونږ خلاص کړل هغوی د فساد نه منع کوله او باقی کسانو نهی عن المنکر پريخے وو نو ځکه په هلاکت کښی واقع شو۔

فَلَوْلَا دا په (يَنْهَوْنَ) باندے داخل دے او (لَوْلَا) دلته په معنیٰ د نفی دے اَیْ مَاكَانَ۔ (يعنی نهٔ وو)۔

اُولُوْا بَقِيَّةٍ : اَیْ اُولُوْا خَيْرٍ وَدِيْنٍ وَعَقْلٍ۔ يعنی د خير او دين والا او عقلمند خلك نهٔ وو۔ ځکه چه عقلمند خلك په ګناهونو ډير خفه کيږی او ددے بد انجام پيژنی چه پدے سره عذابونه راځی، او بے عقله خلك هيڅ پرواه نهٔ لری بلکه هغوی نهی عن المنکر والا ته سپك ګوری، نو د الله تعالیٰ په نيز عقلمند انسان هغه دے چه د منکراتو نه منع کوی او

پدې باندې پابندیانې لګوي.
بَقِيَّةٍ : پـه اصـل کښ د يو شي باقیمانده حصې ته وائي چه اکثر ئې ختم وي او د خلکو نه هم دغه معنیٰ لري، بیا استعمالیږي په غوره او اصلح او انفع (فائده مند) کښ. (المنار)
الْفَسَادِ : فساد شرك، کفر او صد عن سبیل الله او هرې ګناه ته وائي. دارنګه اتباع د اهواء (خواهشاتو) او شهواتو چه د دوی نفسونه او مصلحتونه خرابوي.
مِمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ: پدې کښ اشاره ده چه نهي عن المنکر سبب د نجات دې د عذابونو د الله تعالیٰ نه په دنیا او آخرت کښ، او په منکراتو باندې سکوت (غلې پاتې کیدل) سبب د هلاکت دې.
وَاتَّبَعَ : اتباع کنایه ده د اهتمام نه او د ترك د غیر نه.
مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ: اِتراف مستئ ته وائي او مترف هغه شخص دې چه د مالدارئ د وجه نه پـه مستئ کښ راغلې وي. اى اُنْعِمُوْا مِنَ الشَّهَوَاتِ فَاهْتَمُّوْا بِتَحْصِيْلِ اَسْبَابِهَا وَأَعْرَضُوْا عَمَّا وَرَاءَ ذٰلِكَ (فتح البیان) یعنـي دوی د هغه نعمتونو او خواهشاتو پسې روان شو چه دوی ته آزادي ورکړې شوې وه پـه هغې کښ، او اعراض ئې وکړو د نورو څیزونو نه کوم له چه پیدا وو. یعني مقصد د زندګئ چه هغه په دین عمل کول او نهي عن المنکر کول دي هغه ئې پریخوستو او صرف خواهشاتو پسې روان شو. یعني دا هغه نا اهله وو چه د دنیا زندګئ کښ ئې صرف خواهشات پوره کول او ټول فکر ئې د همدې سره وو، نور د هیڅ نه خبر نهٔ وو او د الله د دین هیڅ پرواه ورسره نهٔ وه. او دا قسم انسانان څومره ډیر دي؟!!.
د اَتْرَفَ مـجـرد تُرْفَة دې پـه ضمه د تاء سره په اصل کښ نعمت او طعام او مزیدار شي ته وائـي چـه تـه ئې خپـل مـلـګرې ته ورکوې. عرب وائي : اَتْرَفَهُ النِّعْمَةُ اَىْ اَطْغَتْهُ وَاَبْطَرَتْهُ وَاَفْسَدَتْهُ . نعـمـت دې شخص لره مترف وګرځولو یعني سرکشه ئې کړو، په تکبر کښ ئې راوستو او خراب ئې کړو. (فتح البیان والمنار)
وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ : سـوال راپیـدا شو چه د دنیا نعمتونو نه مزې اخستل به ناروا وي؟ نـو جواب وشو چه دا خلك پدې نعمتونو کښ مجرمان وو، نو د نعمت اخستل دوه قسمه دي یـو پـه طـریـقـه د اباحت سره چه الله تعالیٰ بندګانو له جائز کړي وي، او د هغې نه فائده واخلي لکه ښځه، کاړي موټرې او خوراکونه، او دویم د نعمتونو پسې داسې روانیدل چه په هـغـې کـښ انسان مجرم شي او د حدودو نه تجاوز وکړي او حرام خواهشاتو طرفته ورشي، رشوتونه اخلي، خیانتونه کوي، او د الله تعالیٰ حکم پرېږدي، مونځونه ترې قضاء وي

او د الله د دین پکښې هیڅ لحاظ نۀ کوی نو دا قسم مزې اخستل حرام دی۔
(۲) تفسیر : صاحب المنار وائی : دا راتلونکی څلور آیتونه د الله تعالیٰ عادت او سنت بیانوی په هلاکولو د هغه امتونو کښې چه الله تعالیٰ د هغوی قصے رسول الله ﷺ ته بیان کړی، پس د هغے نه چه د هغوی عاقبت ئے په دنیا او آخرت کښې بیان کړو یعنی اُوس ئے سبب بیانوی۔ معنیٰ د آیت دا ده چه د دغه هلاك شوی اقوامو نه ولے داسے خلك موجود نۀ وو چه هغوی خاوندان د عقل او رأی او صلاح وو، خلك ئے د فساد نه په زمکه کښې منع کړی وے دے دپاره چه د دوی دا منع د فساد نه د دوی د هلاکت نه مانع واقع شوے وے (یعنی که دغه نهی عن الفساد والا خلك موجود وے نو د دوی هلاکت به نۀ راتللے)
ځکه چه زمونږ عادت دا دے چه یو قوم نۀ هلاکوو مګر کله چه فساد او ظلم په اکثرو کښې عام شی، لکه په روستو آیت کښې راځی، آؤ لیکن لږ خلك موجود وو چه هغوی نهی عن المنکر کوله لیکن ددے لږو خلکو امر او نهی چا نۀ آوریدله او دا ئے ترے نۀ قبلوله بلکه دوی ته به د رسولانو په شان د شړلو او وهلو دهمکیانے ورکړے کیدلے۔
وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا : یعنی اکثر خلك چه ظالمان وو هغوی د رزقونو او د مزو او د نعمتونو د اسبابو پسے روان شو نو تکبر کښې راغلل او دوی جرمونه شروع کړل پدے وجه دوی د رسولانو په تابعدارئ باندے دغه نعمتونو ته ترجیح ورکړه۔
او مطلب دا چه که چرته دا خلك په قسماقسم مزو حاصلولو کښې نۀ وے ننوتی او د قصد او اعتدال لاره ئے اختیاره کړے وے او د الله تعالیٰ د نعمتونو شکرئے ادا کړے وے او روغ او هوښیار عقلونه ئے استعمال کړی وے نو دوی ضرور د رسولانو په دعوت کښې خیر او صلاح پیژندلے شو، لیکن دغه مستی او تکبر او مزے حاصلول ورله مانع وګرځیدل۔
نو اتراف (مستی) دا سبب د اسراف، فسوق او عصیان دے، او ظلم او جرمونه په مشرانو او سردارانو کښې ښکاره کیږی او بیا په تقلید سره په کشرانو کښې راځی چه دا سبب د استیصالی هلاکت دے یا د استقلال ختمیدلو ذریعه ده۔
بیا فرمائی : هرکله چه په فسق د اِتراف سره قوی امتونه هلاك شو نو ددے سره به ضعیف امتونه څنګه باقی پاتی شی، چه دا اتراف او مستی په فرنګیانو کښې موجوده ده او بیا د هغوی نه زیاته د هغوی په تابعدارو تالی څټو کښې ده، نو دوی به چرته د الله تعالی د عذابونو نه بچ شی، دوی به ضرور هلاکیږی۔ دغه مستی بادشاهانو، امیرانو، لیډرانو، حاکمانو، کاتبانو، خطیبانو کښې موجوده ده چه دوی اکثر دی او د دوی د فساد نه منع

کونکی ډیر کم خلك دی چه هغوی هم ګمنامی دی. والله المستعان. (المنار بتصرف)

| |
|---|
| وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ |
| او نهٔ دے رب ستا چه هلاك کړی کلو والا په وجه د ظلم د هغوی |
| وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ |
| او اُوسیدونکی د هغے اصلاح کونکی وی. |

**تفسیر**: پدے آیت کریمه کښ فرمائی: چه نهی عن المنکر سبب د نجات د ټولو کلو دے اګرکه علاقه کښ به ګناه هم موجوده وی مګر چه نهی عن المنکر کیږی نو الله تعالیٰ عذابونه نهٔ راولی. نو په آیت کښ د دعوت کولو لویه فائده ذکر ده.

بیا ددے آیتِ کریمه تفسیر په درے طریقو سره بیان شویدے. (۱) یو خو دا دے: کله چه یو کلی کښ شرك او ګناهونه کیږی او بل طرفته څه خلك لګیا وی اصلاح کوی، چه شرك او ګناهونه ختم شی نو الله تعالیٰ په دغه کلی باندے عمومی عذاب نهٔ راولی کله چه اصلاح کونکی موجود وی. نو ددے وجه نه نهی عن المنکر وکړئ چه تاسو د خلکو نه د الله تعالیٰ عذابونه دفع کړئ. او دا خلك د امت ډیر لوی خیرخواهان دی. او داسے په سورة الانعام (۱۳۱) آیت کښ هم تیر شویدی. نو د (اَهْلُهَا) نه مراد بعض اهل دی.

ځکه چه په یو قوم کښ د ټولو بدیانو او خرابیانو جرړه دا ده چه د هغوی عقلمند او پوهه خلك بندګانو ته د نیکئ حکم او د بدئ نه منع کول بند کړی. الله تعالیٰ په سورة آل عمران آیت (۱۰٤) کښ فرمایلی دی: ﴿ وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ چه (ستاسو نه یوه ډله داسے کیدل پکار دی چه نیکئ ته رابلل اُوکړی، او د نیکو کارونو حکم وکړی، او د بدو کارونو نه منع وکړی، او همدا خلق کامیابی موندونکی دی). او د نبی کریم ﷺ صحیح حدیث دے چه که خلق بدی وینی او غلی کیږی او د هغے د بدلولو کوشش نهٔ کوی نو کیدے شی چه د الله عذاب هغوی لره راونیسی. (ابو داود: ٤٣٤٠) والترمذی (٢١٦٨) وسنده صحیح)

(۲) دویم تفسیردا بیان شویدے چه که یو مشرك قوم خپل مینځ کښ د یو بل د حقوقو خیال ساتی، او خپل مینځ کښ ظلم او زیاتے نهٔ کوی، قوی د کمزوری حق نهٔ غصب کوی، نو صرف د شرك په وجه الله تعالیٰ هغوی نهٔ هلاکوی. لکه د شعیب علیه السلام قوم ئے په ناپ

تول کښې د کمې په وجه هلاك كړو او قوم لوط ئې په سبب د لواطت او نورو ګناهونو سره هلاك كړو او دا د الله تعالىٰ ډیر لوی رحم دے۔ نو د ظلم نه مراد شرك دے۔

د شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ وینا ده چه حکومت د کفر سره خو باقي پاتے کیدے شي، لیکن د ظلم سره باقي نۀ پاتے کیږي۔ کله چه یو قوم یا یو حکومت ظالم شي نو الله تعالىٰ هغه ختموي۔ (فتح البيان والمنار)

مګر غوره دا ده چه ظلم مطلق فساد ته وائي چه شرك او ټولو ګناهونو ته شامليږي۔ اوکه دا تفسیر واخستے شي نو بیا به د ظلم نه مراد ماسویٰ د شرك نه واخستے شي حال دا چه شرك خو د ټولو نه لوی ظلم دے، ټولو رسولانو خو اول ددے نه منع کړیده۔

(فتح البيان والقاسمي)

(۳) تفسير: صاحب المنار داسے مقصد بیان کړیدے: ستا د رب دا شان نۀ دے او دا ئې عادت نۀ دے چه امتونه هلاك كړي په ظلم سره اَىْ بِظُلْمٍ مِنْهُ لَهَا فِىْ حَالِ كَوْنِ اَهْلِهَا مُصْلِحِيْنَ فِى الْاَرْضِ، مُجْتَنِبِيْنَ لِلْفَسَادِ وَالظُّلْمِ) يعنی چه الله پرے ظلم وکړي پداسے حال کښې چه د هغے وسیدونکي په زمکه کښې اصلاح کوي او د فساد او ظلم نه ځان ساتي بلکه هغوی ئې هلاك كړیدي او هلاکوي ئې په سبب د ظلم د هغوی او فسادونو د هغوی په زمکه کښې لکه دا خبره په ډیرو آیتونو کښې ثابته شویده۔ (المنار۱۲/۱۵۹) اول او دریم تفسیر غوره دے۔

| |
|---|
| وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ |
| او که غوختلے رب ستا خامخا ګرځولي به ئې وے خلقو لره یوه ډله او همیشه به وی دوی |
| مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ط |
| اختلاف کونکي، مګر هغه څوك چه رحم وکړي (په هغۀ) رب ستا |
| وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ط وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ |
| او ددے دپاره ئې پیدا کړیدي، او پوره شویده فیصله د رب ستا چه خامخا ډکوم به جهنم لره |
| مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ |
| د پیریانو او انسانانو ټولو نه۔ |

**تفسير** : سوال پيدا شو چه الله تعالىٰ ټول انسانان ولے يوه ډله نهٔ جوړوی چه ټول تابعدار جوړ شی او نافرمان پکښې نهٔ وی؟ نو ددے وجه بيانوی چه پدے کښې د الله تعالىٰ ناشنا حکمتونه دی ورنه الله تعالىٰ دا کولے شو چه ټول په هدايت روان شوی وے۔

نو پدے آيتِ کريمه کښې الله تعالىٰ خبر ورکړيدے چه هغه پدے خبره کامل قدرت لری چه ټول انسانان د کفر يا د ايمان په صرف يوه لاره باندے راجمع کړی، ټول په کفر جمع کړی، يا ټول په اسلام جمع کړی، ليکن الله تعالىٰ داسے نهٔ دی غوختلی، پدے وجه داسے نهٔ دی شوی، او خلق به هميشه د عقيدے او د دين په باره کښې خپل مينځ کښې اختلاف کوی، څوك به يهودی وی او څوك به نصرانی، نو څوك به مجوسی او مشرك وی نو څوك به مسلمان، تردے پورے چه قيامت راشی۔

ألبته د دوی نه چه د چا په حال الله تعالىٰ رحم کړے وی نو هغه به د خپل نبی په صحيح دين باندے قائم وی، او نسلاً بعد نسل به په هغے باندے عمل کوی، تردے پورے چه نبی کريم ﷺ د الله آخری دين راخستو سره دنيا ته تشريف راوړو، نو دوی د هغه تابعداری وکړه، په هغه باندے ئے ايمان راوړو، او د هغه سره ئے ملګرتيا وکړه، نو الله تعالىٰ دوی ته د دنيا او د آخرت سعادتونه او نيکبختيانے ورکړے، او همدا خلق فرقه ناجيه (نجات موندونکے ډله) ياديږی۔ او تراُوسه پورے چه څوك هم د قرآن او سنت پدے لاره باندے روانيږی نو د هغه شمار به په فرقه ناجيه کښې وی، او دا به د هغه خلقو نه وی چه د هغوی په حال الله رحم کړيدے۔ (فتح البيان والقاسمی)

د روستو استثناء (اِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ) نه معلوميږی چه دلته په حق او توحيد باندے راجمع کول مراد دی۔

**لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً**: اَیْ عَلَى الدِّيْنِ۔ په دين باندے۔

**مُخْتَلِفِيْنَ**: اَیْ عَنْ دِيْنِ اللّٰهِ۔ يعنی اوړيدونکی د دين د الله تعالىٰ نه۔ نو معلومه شوه چه د دين مخالفت کونکے اختلاف والا دے، نهٔ دين بيانونکے۔

**اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ** : د رحمت نه مراد توفيق د هدايت او د حق دے۔ (قاسمیؒ)

حسنؒ وائی : خلك به په قسماقسم دينونو کښې مختلف وی مګر په چا چه الله رحم وکړی نو هغه به اختلاف کونکے نهٔ وی بلکه هغه به په حق روان وی۔

مجاهدؒ وائی : اختلاف کونکی اهل الباطل دی او مَنْ رَحِمَ (په چا چه الله رحم کړے هغه) اهل حق دی۔ (فتح)

وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ: یعنی الله تعالیٰ انسانان پدے وجه پیدا کړیدی چه د عقائدو او ادیانو د اختلاف په نتیجه کښں د دوی یو جماعت به جنت ته ځی او بل جماعت به جهنم ته، ځکه چه د الله تعالیٰ دا فیصله قطعي ده چه هغه به د نافرمان جناتو او انسانانو نه جهنم ضرور ډکوی۔

وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ: په مشار الیه د ذلك کښں درے اقوال دی:

(۱) رحمة ته اشاره ده، یعنی د رحمت دپاره ئے پیدا کړیدی۔ لیکن دا د روستو (وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ) سره پوره سمون نۀ خوری۔

(۲) اختلاف ته اشاره ده، لیکن دے باندے دا اشکال کیږی چه مقصد د انسانانو د پیدائش خو عبادت دے لکه الله فرمائی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾۔ (الذاریات: ۵٦) (ما پیریان او انسانان صرف د خپلے بندګئ دپاره پیدا کړیدی)۔

لیکن جواب کیږی چه دا لام د عاقبت او صیرورت دے یعنی حکمة د پیدائش ئے عبادت دے لیکن ثمره د پیدائش ئے اختلاف شو چه څوك جنتیان جوړ شو او څوك جهنمیان۔ (قاسمیؒ بتصرف)

(۳) ظاهر دا ده چه دا اشاره ده مجموعه اختلاف او رحمة ته یعنی د اختلاف د ټولو او رحمت د بعضو دپاره الله تعالیٰ دوی پیدا کړیدی، یعنی اول به ټول اختلاف وکړی بیا به په بعضو کسانو باندے الله رحم وکړی او دا داسے آیت دے لکه ﴿فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ﴾ (الشوریٰ: ۷) (یوه ډله به په جنت کښں وی او بله ډله به په اُور کښں وی) او ﴿فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ﴾ او دا تفسیر ابن عباس ﷺ ته منسوب دے۔ (القاسمی وفتح البیان)

او پدے کښں اشاره ده تقدیر ته۔ (احسن الکلام)

یعنی الله تعالیٰ ته د مخکښں نه معلومه وه چه زۀ به انسانان پیدا کوم او پدے کښں به دوه ډلے جوړیږی یو اختلاف والا او بل د حق منونکی چه په هغوی به زۀ رحم کوم او مخکنی خلك به اشقیاء بد بخته وی۔ او داسے طریقے سره پیدا کول د الله تعالیٰ د صفاتو تقاضا ده ځکه چه د الله تعالیٰ په صفاتو کښں عزیز ذو انتقام هم شته او غفور رحیم هم شته، نو څه خلك د مغفرت او رحمت دپاره پکار دی او څه د عذاب او انتقام دپاره۔

وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ: ۱- ددے کلمے نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ دا فیصله کړیده چه زۀ به پیریان او انسانان ټول یو ځل جهنم ته داخلوم لکه ﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾۔(مریم: ۷۱) نو کافر او مؤمن ټول به جهنم ته بوځی بیا به په تقوی او ایمان

بانديے خلاصيږي. نو ټول انسانان به يو ځل په جهنم ورتيريږي، پدے وجه شريعت داسے عملونه خودلي دي چه دوی پرے د جهنم نه ځان خلاصولے شي.

٢- يا ددے نه مراد دا وينا د الله تعالیٰ ده ملائکو ته چه «زهٔ به خامخا جهنم د انسانانو او پيريانو نه ډکوم» کوم چه ددے مستحق وی د دواړو ډلو نه. (فتح البيان)

| |
|---|
| وَ كُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الرُّسُلِ مَا |
| او ټول (د رسولانو نه) بيانوو مونږ په تا بانديے د خبرونو د رسولانو نه هغه |
| نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ج وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ |
| چه مضبوطه وو په هغے سره زړهٔ ستا او راغلے دے تا ته په دے قصو کښې حق |
| وَمَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾ |
| او نصيحت او ياداشت دپاره د مؤمنانو. |

**تفسير**: پدے کښې د انبياء عليهم السلام د قصو غرض بيان شويدے چه هغه د داعی زړه مضبوطول، حق، موعظه، او ذکرئ دی.

د تير شوی انبياءِ کرامو او د هغوی د قومونو د حالاتو بيانولو نه مقصود دا دے چه د نبی کريم ﷺ همت پوره کړے شی، او هغهٔ ته وخودلے شی چه د مکے کافران که تا سره هرڅنګه سلوك کوی تهٔ پدے زړه مهٔ خفه کوه، تير شوی امتونو هم د خپلو انبياؤ سره دغسے کړيدی، ليکن آخر الله تعالیٰ د خپل رسول مدد کړے او هغه ئے په کافرانو غالب کړے، نو ستا ملګری به هم دغه شان وی، د مکے کافران به ذليله کيږی، او تا به الله تعالیٰ معزز او مکرم ګرځوی او دين اسلام به غالب کيږی.

وَ كُلًّا: ١- تنوين عوض د مضاف اليه دے اَیْ كُلَّ نَبَاٍ نَقُصُّ عَلَيْكَ. هريو خبر د خبرونو د انبياء عليهم السلام مونږ تا ته بيانوو. او (مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ) دا بدل دے د هغے نه. دغه خبرونه څه شے دے دا هغه شے دے چه مونږ پدے سره ستا زړه مضبوطه وو.

٢- يا کلا مفعول مطلق دے د نقص دپاره اَیْ كُلَّ اقْتِصَاصٍ اَیْ كُلَّ اُسْلُوْبٍ مِنْ اَسَالِيْبِهٖ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَاءِ الرُّسُلِ. يعنی په پوره بيانولو سره او په هره طريقه سره د مختلفو طريقو نه مونږ تا ته د انبياء عليهم السلام واقعات بيانوو. او (مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ) دا مفعول

د نقص دے۔ يعنى مونږ بيانوو تا ته هغه قصے چه مضبوطه وو په هغے سره زړه ستا۔ (فتح البيان)

فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ: ١- هذه اشاره ده دے ټول سورت ته۔ لکه دا د سيدنا ابن عباسؓ، سعيد بن جبيرؒ وغيره اکثرو نه نقل دے۔ ٢- يا ضمير راجع دے دے قصو د پيغمبرانو ته۔ يعنى دے قصو کښ دغه څلور غرضونه دى۔

الْحَقُّ: ددے نه مراد هغه قطعى دليلونه دى چه دلالت کوى په توحيد او آخرت باندے۔ يا توحيد او صحيح عقيدے او اعمال۔

وَمَوْعِظَةٌ: يعنى د نصيحت خبرے، تخويف او منع کونکى خبرے۔

وَّذِكْرٰى: او مؤمنانو ته ياداشت دے چه دغه شان نجات به تاسو ته هم ملاوېږى څنګه چه مونږ پخوانو ته ورکړو، او کافرو مجرمانو ته وئيلے شى چه د پخوانو کافرانو په شان به هلاکيږئ۔ نو دا پوره عبرت شو۔ او مؤمنانئے ذکر کړل ځکه چه دوى د نصيحت نه فائده اخلى۔ يا د ذکرىٰ نه مراد آداب او طريقے د دعوت کولو دى۔

| |
|---|
| وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ط اِنَّا |
| او اُووايه هغه کسانو ته چه ايمان نۀ راوړى عمل کوئ په طريقه خپله، يقيناً مونږ هم |
| عٰمِلُوْنَ ﴿١٢١﴾ وَانْتَظِرُوْا ج اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ |
| عمل کونکى يو (په خپله طريقه) او انتظار کوئ يقيناً مونږ هم انتظار کونکى يو۔ |

**تفسير**: په ذکر شوى دواړو آيتونو کښ د مکے مشرکانو ته سخته دهمکى ورکړے کيږى چه که تاسو د اسلام دعوت نۀ قبلوئ او په خپل کفر باندے هميشه پاتے کيږئ نو صحيح ده، بيا تاسو چه په خپل ځاى څه غواړئ وکړئ، مونږ به هم په خپل ځاى په اسلام باندے عمل کوو، او تاسو هم د خپل بد انجام انتظار کوئ مونږ به هم د الله د طرف نه د فتح او نصرت انتظار کوو۔ نو پدے قِسم جمله کښ يو تهديد (دهمکى) غرض وى او بل اقامت د حجت په کفارو، او بل متوجه کول د کفارو وى، چه خپل عمل ته وګورئ د چا عمل د عذاب مستحق دے، عذاب خو به ضرور راځى نو ددے نه د نجات دپاره ذريعه لټول پکار دى۔

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ: اَىْ عَلٰى تَمَكُّنِكُمْ وَحَالِكُمْ وَجِهَتِكُمْ مِنَ الْكُفْرِ۔ يعنى په خپل طاقت او

حالت او طرف د كفر. قتادهٔ وائي : اَىْ عَلٰى مَنَازِلِكُمْ. يعنى په خپلو ځايونو. (فتح)
وَانْتَظِرُوْا: ددے نه مراد انتظار د عاقبت د هر عمل دے.

| |
|---|
| وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ |
| او خاص الله لره (علم) د پټو څيزونو د آسمانونو او د زمكے دے، او خاص هغهٔ ته |
| يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ط |
| وركرځولے شي كارونه ټول، نو بندگي كوه د هغهٔ او ځان سپاره په هغهٔ باندے |
| وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٣﴾ |
| او نهٔ دے رب ستا ناخبره د هغے عملونو نه چه تاسو ئے كوئ. |

**تفسير** : په آخر كښې د الله تعالىٰ د تصرف، عِلم او قدرت بيان، او په دوه خبرو امر دے.
او پدے آيتِ كريمه كښې هم نبي كريم ﷺ ته تسلي، او قريش كافرانو ته دهمكي وركړے كيږي چه الله تعالىٰ د هر څه نه خبر دے، پدے وجه اے زما نبي! تهٔ په الله تعالىٰ بهروسه كوه او د هغهٔ په عبادت كښې لګيا اُوسه، او كافران په خپل حال پريده، الله تعالىٰ د هغوى ټول عملونهويني او دوى ته به سزا وركوى.
غَيْبُ السَّمٰوٰتِ : غيب هر هغه څيز ته وئيلے شي چه د مخلوقاتو نه غائب دے په آسمانونو او زمكه كښې. او د غيبو علم ئے ذكر كړو نهٔ د ښكاره ځكه چه دا هغه شے دے چه پدے كښې د الله تعالىٰ سره هيڅوك نشي شريك كيدے.
يُرْجَعُ الْاَمْرُ : يعنى په آخرت كښې به ټول كارونه صرف الله تعالىٰ ته واپس شي هغه به هر چا ته د هغهٔ د عمل مطابق جزاء او سزا وركوى. او دا په دنيا كښې هم مراد دے چه بندګان چه څه كارونه كوى ددے رجوع الله ته كيږى، ځكه چه ددے كارونو كونكے په اصل كښې الله تعالىٰ دے. او بندګان چه كله په يو كار كښې عاجز شي نو بيا ئے الله ته سپارى.
فَاعْبُدْهُ: يعنى هركله چه الله تعالىٰ داسے عظيم علم او قدرت او تصرف والا دے نو د دغه الله سره تعلق پكار دے. نو اول د سورت او آخر دواړو كښې د الله په بندګى باندے حكم راغلو.
وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ : توكل په باب د بندګئ كښې هم كيږى چه بنده ته توفيق الله تعالىٰ وركوى. او توكل په حسن الخاتمه كښې هم كيږى چه بنده ويريږى چه هسے نهٔ چه د دنيا

نه بد بختنه لاړ نشو او خاتمه مو خرابه نشي.

او توکل په باب د دعوت الی الله کښې هم دے۔ بنده کله یریږي چه زما دعوت خو ډیر ناقص دے، دا به څنګه تولو خلکو ته ورسي او پدے به څنګه اصلاح وشي؟

نو الله فرمائي : په الله تعالیٰ ځان وسپاره هغه به ئے درله پوره کړي او اثر به پکښې واچوي.

او توکل د دشمنانو د دهمکیانو په مقابله کښې هم وي، پدے وخت کښې به هم بنده الله تعالیٰ ته ځان سپاري. د تولو نه اعلیٰ توکل په باب د دین کښې دے.

بیا ئے دوه کلمے جمع کړے عبادت او توکل. ددے فائده دا ده چه توکل نهٔ صحیح کیږي مګر د هغه چا چه په هغهٔ کښې یو د هغه صفاتو نه موجود وي کوم چه د توکل سره په قرآن کښې ذکر کیږي، نو دلته ورسره عبادت ذکر دے لهذا توکل بغیر د عبادت نه نهٔ صحیح کیږي. (فتح البیان)

او په سورة رعد (۳۰) آیت کښې دي ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ﴾ هلته د توکل سره انابت ذکر دے. او دے سورت کښې مخکښې ذکر شو (۸۸) آیت کښې او سورة الشوریٰ (۱۰) آیت کښې دي ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ او په سورة آل عمران کښې دي :

﴿وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (یعني ایمان او توکل). ځکه چه د بنده توکل هله جوړیږي چه د بنده مخکښې نه د الله تعالیٰ سره تعلق وي او دا په دغه صفاتو سره حاصلیږي. کله چه په بنده یو مصیبت راشي نو چه د مخکښې نه ئے د الله تعالیٰ سره تعلق نهٔ وي نو ذهن ئے الله تعالیٰ طرفته نهٔ ځي. فتدبر. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمُتَوَكِّلِيْنَ عَلَيْكَ، وبالله التوفیق.

## امتیازات او خصوصیات د سورت

۱- پدے کښې د عباداتو د انواعو (اقسامو) تذکره زیاته وه چه د شپاړسو نه زیات دي.

۲- پدے سورت کښې ترغیب توبه او استغفار ته زیات وو.

۳- د کائناتو د پیدائش حکمة ئے ذکر کړے وو ﴿لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾

٤- د اشقیاؤ او سعداؤ تذکره شویده.

ختم شو تفسیر د سورة هود په لیلة الاثنین بعد صلاة العشاء ۹:۰۵ بجے. ۱۵ ربیع الثاني ۱٤۳٦ هـ الموافق : ۱/۲/۲۰۱۵).

بسم الله الرحمن الرحيم

| | | |
|---|---|---|
| آآياتها (۱۱۱) | (۱۲) سورة يوسف مكية (۵۳) | ركوعاتها (۱۲) |

سورة يوسف مكي دے، پدے كښ يوسل يولس آيتونه، او دولس ركوع دي۔

## تفسير د سورة يوسف :

**نوم** : ددے نوم "سورتِ يوسف" كيخودو شو ځكه چه د يوسف عليه السلام واقعه پكښ ذكر ده۔

### د نزول زمانه

دا سورت بالاتفاق مكي دے۔ ابن جوزيؒ پدے باندے د ائمه كرامو اجماع نقل كړيده۔
دے تـه د سورة هـود تـتـمـه هـم وئيلے كيږي، ځكه چه په سورة هود كښ د ذكر شوي اُوه انبياء كرامو عليهم السلام او د هغوي د قومونو د واقعاتو بيانولو نه روستو پدے سورت كښ د يوسف عليه السلام واقعه په تفصيل سره بيان شويده۔
دا د سورت د سورتِ هود نه روستو او د سورتِ حجر نه مخكښ نازل دے۔

### مناسبت

١- مخكښ سورت كښ اَلْعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ موضوع وه، دلته د هغے وجه بيانوي چه انبياء عليهم السلام په غيبو نهٔ پوهيږي نو دوي د عبادت لائق نهٔ دي۔
٢- مخكښ سورت كښ د دعوت په باب كښ د پردو خلكو د طرف نه مصيبتونه وو، او پدے سورت كښ د خپلوانو د طرفنه مصيبتونه دي۔
لكه يوسف عليه السلام خپلـو ورونړو په مصيبتونو كښ اچولے وو۔ نو الله فرمائي چه په دواړو حالتونو كښ به داعي صبر كوي۔
٣- مخكښ د الله تعالىٰ حق د عبادت بيان شو او پدے سورت كښ شان د رسول الله ﷺ بيانوي، او دا د قرآن د موضوعاتو نه دي چه كله د الله تعالىٰ توحيد او عبادت بيان كړي نو

بیا وائی چه د رسول الله ﷺ شان هم وپیژنه او د الله تعالیٰ بندګی د هغه په طریقه وکړه.

## د سورت مقصد او موضوع

۱- توحید ثابتول دی په یو څو طریقو سره (۱) یوه طریقه: نفی د علم الغیب د انبیاء علیهم السلام نه چه یعقوب علیه السلام د زامنو په مکرونو خبر نهٔ وو او دارنګه په حال د یوسف علیه السلام په کوهی کښې او په جیل، او په حال د عزت او اقتدار کښې خبر نهٔ وو د (۸ نه تر ۱۱) آیت پورې. او په (۱۵) آیت او (۸۷) آیت کښې.

(۲) رد د شرك په تصرف کښې چه یعقوب علیه السلام د یوسف علیه السلام او د نورو ځامنو نه هیڅ ضرر نشو دفع کولے په (۱۸، ۲۱، ۳۹، ۴۰، ۶۷، ۱۰۱) آیتونو کښې.

(۳) رد د شرك په بندګئ کښې په (۴۰) آیت کښې.

(٤) طریقه: رد دے په ټولو اقسامو د شرك باندې په (۱۰۶) (۱۰۸) آیت کښې.

۲- دویمه موضوع پکښې زیاته ظاهره ده چه په دې سورت کښې الله تعالیٰ شان د رسول الله ﷺ بیان کړیدے، او بیان د صدق د رسول الله ﷺ دے، یو ئې سره د اُمی کیدو نه دا واقعه بیان کړه. او دویم په دې طریقه چه الله تعالیٰ به ددے رسول سره داسے معامله کوی لکه څنګه ئې چه یوسف علیه السلام سره وکړه او هغه ته ئې عزت ورکړو.

ورونو د یوسف علیه السلام سره حسد کړے وو نو قریشو د رسول الله ﷺ سره حسد وکړو.

ورونو اراده وکړه د یوسف علیه السلام د وژلو، یا کوهی ته د ارتولو، نو قریشو هم د رسول الله ﷺ په باره کښې درے قسمه مشورے وکړے. ﴿لِيُثْبِتُوكَ اَوْ يَقْتُلُوكَ اَوْ يُخْرِجُوكَ﴾ (انفال: ۳۰) یا به ئې تړی، یا به ئې وژنی یا به ئې د کلی نه شړی.

یوسف علیه السلام ئې درے ورځو پورے کوهی ته ګوزار کړو، نو قریشو رسول الله ﷺ په غارِ ثور کښې درے ورځے بند کړے وو. یوسف علیه السلام مصر ته لاړو لږ تکلیف ئې تیر کړو بیا ورته الله تعالیٰ بادشاهی ورکړه نو رسول الله ﷺ مدینے ته لاړو لږ تکلیف د جهاد نه روستو ورته الله تعالیٰ بادشاهی ورکړه.

روستو زمانه کښې ورونه د یوسف علیه السلام هغه ته محتاج شو نو دارنګه قریش په فتح د مکه کښې رسول الله ﷺ ته محتاج شول او بعینهٖ د یوسف علیه السلام الفاظ ئې قریشو ته ووېل: ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ نو په دې کښې د رسول الله ﷺ شان او صدق هم شو.

او پدے کښې زمونږ دپاره ناشنا فائده دا ده چه که تاسو غواړئ چه په خپل دشمن او حسد کر باندے غلبه وکړئ نو ځان کښې به صفات پیدا کوئ، همداسے غلبه نۀ ملاویږی نو پدے سورت کښې اَسْبَابُ الْغَلَبَةِ عَلَى الْعَدُوّ (په دشمن باندے غلبه) او د امتحاناتو نه د راوتو او د کامیابیدو اسباب بیانیږی لکه احسان لفظ به پکښې زیات راځی۔ ایمان، تقویٰ، صبر، او الله ته توجه کول، ورسره دعوت الی الله به کوئ، دغسے نور اسباب به راځی هغه راجمع کړه۔ او دا د قرآن کمال دے چه دغه اعمالو ته بندګان متوجه کوی۔ تشه قصه نۀ وی۔

بیا دنیاوی جیل نه دارنګه د جهنم د جیل نه د وتلو تقریباً شپاړس اسباب هم پکښې ذکر دی۔ او بیا ددے سورت په هر آیت کښې ناشنا فوائد دی۔

۳- نو پدے سورت کښې بله موضوع رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته تسلی ورکول دی چه ستاسو انجام ښۀ کیدو والا دے۔

حاصل دا شو چه ددے سورت هم مرکزی مضامین تقریباً همغه دی کوم چه مکی سورتونو کښې ذکر کیږی۔ یعنی خلقو ته د الله تعالیٰ د وحدانیت دعوت ورکول، او د نبی کریم ﷺ همت پورته کول او هغه ته تسلی ورکول چه انبیاء کرام علیهم السلام همیشه د امتحاناتو نه تیریدو سره په خپل دعوت کښې کامیابئ ته رسیدلی دی، او دا چه لکه څنګه چه یوسف علیه السلام د مسافرتیا، قید او جیل او عزت او ناموس کښې د سختو امتحاناتو نه تیریدونه روستو آخر د مصر د حکومت مالك جوړ شو او د هغه ورونو د هغه په اړخ کښې پناه واخسته نو دغه شان به الله تعالیٰ خپل نبی محمد ﷺ ته هم آخر د قریشو په کافرانو غلبه ورکوی، او دوی به هم د نبی ﷺ مخے ته په ګونډو کینی۔

او تاریخ ګواه دے چه همداسے اُوشو، د مکے د فتح نه روستو د قریش کافران نبی ﷺ ته راجمع شو نو نبی ﷺ د هغوی نه تپوس وکړو چه تاسو ما نه څه توقع لرئ؟ زۀ به تاسو سره څه سلوك کوم؟ نو هغوی ووئیل چه (اَخٌ كَرِيْمٌ وَابْنُ اَخٍ كَرِيْمٍ) چه ته زمونږ کریم النفس (عزتمند) ورور ئے، او د کریم النفس ورور ځوی ئے، نو نبی ﷺ وفرمایل چه زۀ نن ورځ تاسو ته هغه خبره کوم کومه چه یوسف خپلو ورورنو ته کړے وه چه نن په تاسو باندے هیڅ پابندی نشته، ځئ تاسو ټول آزاد شوئ۔ (تیسیر الرحمن)

## فضیلت د سورت

۱- د ابن عطاءؒ نه نقل دی: [لَايَسْمَعُ سُوْرَةَ يُوْسُفَ مَحْزُوْنٌ اِلَّا اسْتَرَاحَ اِلَيْهَا] سورة یوسف

یو غمژن انسان نهٔ آوری مګر په راحت کښې کیږی۔

۲- او خالد بن معدانؒ وئیلی دی : [سُوْرَةُ يُوْسُفَ وَسُوْرَةُ مَرْيَمَ يَتَفَكَّهُ بِهِمَا اَهْلُ الْجَنَّةِ فِي الْجَنَّةِ]۔ (سورت یوسف او سورتِ مریم دواړو باندے به جنتیان په جنت کښې مزے اخلی)۔ (البغوی) دا روایت مقطوع دے۔

## شان نزول

۱- سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : صحابه کرامؓ ستومانه شو نو د رسول الله ﷺ نه ئے وغوښتل چه که تهٔ مونږ ته یوه قصه بیانه کړے نو ښه به وی۔ (ځکه هر وخت د جنت او جهنم خبرو سره کله د انسان زړهٔ تنګ شی او کله چه یوه ناشنا قصه واوری نو زړه کښې کولاو والے پیدا شی) (فتح القدیر للشوکانیؒ والقرطبی وابن جریر)

۲- یهودو مشرکانو ته ووئیل چه تاسو ددے شخص (نبی) نه تپوس وکړئ چه څه وجه ده چه یعقوب علیه السلام په کنعان (شام) کښې وسیدو او بیا مصر ته نقل شول۔ او عام بنی اسرائیل په مصر کښې موجود شو۔ رسول الله ﷺ ته دا تاریخ نهٔ وو معلوم نو الله تعالیٰ دا سورت نازل کړو او په هغوی ئے رد وکړو او د رسول الله ﷺ رشتینوالے ئے ثابت کړو او د یعقوب علیه السلام د انتقال وجه دا وه چه یوسف علیه السلام سره ورونو حسد وکړو نو هغه ئے د کلی نه جدا کړو تردے چه مصر ته ورسیدو نو الله تعالیٰ ورله بادشاهی ورکړه بیا ئے خپل اهل مضر ته راوغوښتل نو پدے وجه په مصر کښې آباد شول۔

(اشاره وه چه تاسو به دا رسول ﷺ وشړئ لیکن دے به درباندے بیرته غالبه کیږی) ددے وجه نه یهودیانو تصدیق هم کړے وو چه دا واقعه بعینهٖ د تورات او پخوانو کتابونو مطابق ده۔

## خلاصه د سورت

اولنی درے آیتونو کښې مقدمه ده چه پدے کښې د قرآن کریم فضیلت او ددے واقعے فضیلت او په رسول الله ﷺ باندے امتنان (او احسان زبادنه) ذکر ده۔ بیا ئے قصه شروع کړیده چه په هغے کښې ډیر مقامات دی اول مقام دا دے چه یوسف علیه السلام خوب لیدلے دے او بیا ئے پلار ته حال وئیلے دے او هغه ورته تدبیر خودلے بغیر د تعبیر نه۔

بیا بل مقام دے چه په هغے کښې د ورونو حسد شروع شویدے او یوسف علیه السلام ئے د پلار نه جدا کړیدے تر (۱۹) آیت پورے۔ بیا بل مقام دے چه د کوهی نه څنګه ووتو او په مصر

کښې پرې کوم امتحانات راغلل، د عزیز مصر په کور کښې امتحان او بل امتحان د طرفه د ښځو نه، بیا جیل ته تلل بیا د جیل نه په کوم شکل راووتو او د جیل نه روستوئې کوم حالتونه جوړ شو، بادشاهي ورته ملاؤ شوه بیا د ورونو راتلل یو کرت بیا دویم ځل راتللو کښې ئې خپل ورور ځان سره ایسار کړیدے او په دریم ځل کښې ئې ورونو ته خپل حال وئیلے دے او هغوی ئې ملامته کړیدی، او بیا ئې یعقوب ﷺ مصر ته رانقل کړیدے

بیا په یوسف ﷺ باندے وفات راغلے دے او د الله تعالیٰ نه ئې دعاګانې طلب کړیدی او بیا ئې په واقعه باندے تفریعات ذکر کړیدی۔

بسم الله الرحمن الرحیم

| الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۱﴾ |
| --- |
| ددے حروفو په مطلب الله پو هیږی، دا آیتونه د هغه کتاب دی چه ښکاره بیان کوی۔ |

**تفسیر** : الٓرٰ: ددے په راز الله تعالیٰ پو هیږی، پدے کښې د قرآن کریم او ددے سورت عظمت ته اشاره ده چه پدے کښې به اشارات زیات وی او دا قرآن ددے حروفو نه جوړ دے چه عرب ددے د مقابلے نه عاجز شویدی۔

پدے کښې قرآن کریم ته ترغیب دے، دا ددے دپاره ذکر کیږی چه روستو واقعات د انسان په زړهٔ کښې وقعت مونده کړی ولے که د قرآن صفت ونشی نو بیا د واقعے عظمت نهٔ راځی۔

**تِلْكَ**: اشاره ده مَا نَزَلَ او مَا سَيَنْزِلُ ته۔ یعنی دغه آیتونه چه کوم نازل شویدی او نازلیږی۔

**الْكِتٰبِ** : قرآن ته کتاب پدے وجه وائی چه دا لیکلے شویدے په لوح محفوظ کښې او لیکلے شویدے د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او د لیکلو لائق کتاب دے۔

**الْمُبِيْنِ** : دا لازم او متعدی دواړه راځی۔ متعدی معنیٰ : اَلَّذِیْ اَبَانَ الْحَقَّ مِنَ الْبَاطِلِ وَالصِّدْقَ مِنَ الْكِذْبِ وَالرَّشَادَ مِنَ الْغَيِّ ۔ هغه کتاب چه حق ئې د باطل نه او رشتیائې د دروغو نه او هدایت ئې د ګمراهئ نه ښکاره کړیدے۔

او زجاج وائی : وَالْحَلَالَ مِنَ الْحَرَامِ۔ او حلال ئې د حرامو نه جدا جدا کړیدی۔

یا دا هغه کتاب دے چه حلال او حرام او د شریعت حدود او هغه تمام کارونه بیانوی چه انسانانو ته په ژوند کښې راپیښیږی۔

یا لازم دے د بَانَ نه دے : [اَیِ الظَّاهِرُ اَمْرُهٗ فِیْ کَوْنِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ] ښکاره دے پدے کښې چه د الله د طرفنه نازل دے۔ یا [اَلْوَاضِحُ مَعَانِیْهِ لِلْعَرَبِ بِحَیْثُ لَایَلْتَبِسُ عَلٰی قَارِئِهٖ وَسَامِعِهٖ] عربو ته ئے معانی ښکاره دی چه په لوستونکی او آوریدونکی ئے هیڅ التباس او گډوډوالے نهٔ راځی۔ (فتح البیان والسعدیؒ والقرطبیؒ والبغویؒ)

| |
|---|
| اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِیًّا لَّعَلَّکُمْ |
| یقیناً مونږ نازل کړیدے دا کتاب قرآن په واضحه ژبه دے دپاره چه تاسو پرے |
| تَعْقِلُوْنَ ﴿۲﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَیْکَ اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ |
| سوچ اُوکړئ۔ مونږ بیانوو په تا باندے ډیر ښائسته بیان پدے وجه |
| اَوْحَیْنَآ اِلَیْکَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَاِنْ کُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِیْنَ ﴿۳﴾ |
| چه وحی شروع کړیده مونږ تا ته ددے قرآن اگر که وے تهٔ مخکی ددے نه خامخا د ناخبرو نه |

**تفسیر** : اُوس د قرآن مقام بیانوی چه دا په کوم ځای کښې وو او د کوم ځای نه راغلے دے نو الله فرمائی دا مونږ نازل کړے دے او د لوستلو کتاب دے، هسے به ئے نهٔ پریدئ، او دا ښکاره کتاب ځکه دے چه په واضحه ژبه کښې نازل شویدے۔

**قُرْءٰنًا** : یو معنیٰ دا ده چه دا کتاب قرآن دے یعنی ددے کتاب بل نوم قرآن دے۔ دویم دا چه قرآن معنیٰ لغوی ده یعنی د لوستلو لائق کتاب دے، او دے دپاره نازل شویدے چه بندګان ئے ولولی او ددے په مقاصدو ځان پوهه کړی۔

قرآنا : دا حال دے د (اَنْزَلْنَاهُ) ضمیر نه۔ یعنی په داسے حال کښې مونږ نازل کړیدے چه قرآن دے (لوستلے شویدے یا د لوستو کتاب دے)۔

**عَرَبِیًّا** : ۱- عربی یوه معنیٰ ده : واضح بیان کونکے او ښکاره مضمون والا کتاب۔ نو پدے معنیٰ سره دا اشکال ختمیږی چه ځا قرآن د عربو کتاب دے، مونږ دپاره نهٔ دے۔

۲- یا عربیٔ ژبے والا۔ الله تعالیٰ دا قرآن کریم په عربی ژبه کښې پدے وجه نازل کړو چه ددے اول مخاطب عرب وو، که په بله ژبه کښې نازل شوے وے نو حجت نهٔ تمامیدو، او عربو به وئیل چه ځا ژمونږ په ژبه کښې نهٔ دے، پدے وجه مونږ ددے مخاطب نهٔ یو لکه چه الله تعالیٰ په سورة فصلت آیت (۴۴) کښې فرمایلی دی : ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا اَعْجَمِیًّا لَقَالُوْا

﴿لَوْلَا فُصِّلَتْ آيَاتُهُ﴾ چه (که مونږ دا قرآن په یوه عجمي ژبه کښې نازل کړے وے نو عربو به وئیلے چه ددے آیتونه زمونږ په ژبه ولے نهٔ دی بیان شوی). او پدے وجه هم دا قرآن په عربي ژبه کښې نازل شو چه دا د دنیا هغه فصیح ترینه ژبه ده چه ډیر ژور والے پکښې موجود دے، پدے ژبه کښې د هغه تمامو افکارو او معانیو دپاره وسعت شته چه د انسان په زړهٔ او دماغو کښې موندلے شي. حافظ ابن کثیرؒ وائی چه د دنیا اشرف کتاب په اشرفه ژبه کښې په ډیر معزز رسول باندے، د ډیر معزز ملائك په واسطه، په اشرفه زمکه، په اشرفه میاشت یعنې د رمضان په میاشت کښې نازل شو، پدے وجه دے لوی کتاب ته په هر اعتبار سره کامل شرافت حاصل شو. او اهل علمو لیکلي دي چه هره ژبه باندے چه پنځه سوه کاله تیر شي نو هغه ورانیږي، او عربیٔ باندے زرګونه کلونه تیر شو خو دا نهٔ ورانیږي نو الله خپل کتاب له دا ژبه ځکه منتخب کړیده. (من لسان استاذی المحترم الشیخ الرستميؒ)

قُرْآنًا عَرَبِيًّا: دا دلیل دے چه په قرآن کریم کښې عجمي الفاظ نشته ځکه چه که عجمي پکښې وے نو دا وهم به وشي چه الله تعالیٰ په دغه ځای کښې (والعیاذ بالله) د عربي لفظ نه عاجز وو او د عجز نه خو الله تعالیٰ پاك دے.

او د ابن عباس ﷠ نه چه دا نقل دی چه قِسْطَاس، سِجِلٌّ، سِجِّيْلٌ، مِشْكَاةٌ، اِسْتَبْرَق او الیم وغیره الفاظ عجمي دی، د هغے مقصد دا دے چه دا الفاظ د عربو نه عجمو زده کړل او بیا عربو نهٔ استعمالول او په عجمو کښې مشهور شول. (احسن الکلام)

صاحب د فتح البیان وائی: د دواړو قولونو ترمینځ (چه څوك عجمي الفاظ په قرآن کښې مني او څوك ئے نهٔ مني) تطبیق دا دے چه هرکله چه دغه الفاظو باندے عربو تلفظ وکړو نو دوی ته منسوب شو او دا د دوی لغت حساب شو، یعنې دا مشترك الفاظ دی، چه په عربیٔ او عجمیٔ دواړو کښې استعمالیږي.

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ: پدے کښې د قرآن کریم د نازلولو فائده بیانیږي چه ددے په معنیٰ او احکامو او حکمتونو او حقانیت ځان پوهه کړئ. نو عقل تا سره ددے دپاره دے چه په قرآن کښې به ئے استعمالوے.

نَحْنُ نَقُصُّ: پدے کښې ترغیب دے راتلونکے واقعے طرفته چه دا ډیره مزیداره قصه او ښائسته بیان دے چه په ډیرو فائدو او مسائلو او احکامو باندے مشتمل دے.

اَحْسَنَ الْقَصَصِ: قصص هغه بیان ته وائی چه په هغے کښې تفصیل وی لکه سورة القصص. او قَصَص د قَصٌّ نه دے د یو شي د نقش قدم پسے وریسے کیدل، بیا چه څوك

قِصه ذکر کوی نو هغه هم دغه قصه په آرام آرام سره لړه لړه ذکر کوی۔
یعنی دا قصه د ټولو بیانونو او قصو نه ښائسته بیان دے۔ پدے کښې رد دے په قصو د نضر بن الحارث چه هغه به د رستم او اسفندیار قصے ذکر کولے او بیا به ئے ویل چه زما مجلس غوره دے او که د محمد (ﷺ فداه نفسی وابی وامی)
بِمَآ اَوۡحَيۡنَآ : باء سببيه ده، یعنی پدے وجه چه مونږ وحی شروع کړیده تا ته ددے قرآن، او دا د قرآن یوه حصه ده نو ځکه ئے تا ته پیش کوو، پدے کښې عظمت ددے قصے ته اشاره شوه۔
وَإِنۡ كُنتَ مِن قَبۡلِهِ : ۱- بصریان وائی : او یقیناً وے ته مخکښې ددے قرآن نه خامخا د ناخبرو نه۔ ۲- فراءؒ وائی : إِن نافیه دے۔ او نهٔ وے ته مخکښې ددے نه۔
۳- اخفشؒ وائی : إِنۡ وصلیه دے۔ یعنی اګرکه وے ته مخکښې ددے نه۔
الۡغٰفِلِيۡنَ: یعنی ددے واقعے او د الله تعالیٰ د احکامو نه خبر نهٔ وے۔ ددے نشتوالی د علم نه دلته د رسول الله ﷺ د عظمتِ شان په وجه په (غفلت) سره تعبیر شویدے۔ او دا دلیل دے چه علم د نبی کریم ﷺ د قرآن او د وحی په ذریعه سره دے، بله ذریعه نهٔ وه۔

## دے قصے ته احسن القصص ولے وائی؟

د قرآن کریم پدے سورت کښې الله تعالیٰ چه کومه واقعه بیان کړیده هغے ته ئے ﴿اَحۡسَنَ الۡقَصَصِ﴾ د ډیرو وجو هونه وئیلے ده، حافظ ابن القیمؒ په «الجواب الکافی» کښې لیکلی دی چه پدے کښې د زرونه زیات حکمتونه او رازونه دی لیکن بیا ئے نهٔ دی ذکر کړی۔ ځینی مفسرینو د خپلے خوارئ مطابق بعض راجمع کړیدی : (۱) یو دا چه ددے انداز انتهائی بلیغ او ددے اسلوب او طرز انتهائی درجه فصیح دے۔(۲) او پدے کښې چه کومے خبرے بیان شویدی، هغه بالکل رشتینی دی، عبرتونه او حکمتونه او د علم دومره خبرے پکښې موجودے دی چه بله قصه کښې داسے نشته۔ (فتح البیان والقرطبیؒ)
زمونږ استاذ محترم المفسر شیخ القرآن عبد السلام رستمی رحمه الباری په «احسن الکلام» کښې شپیته مسائل او احکام راجمع کړیدی، لکه د عقیدے مسائل پکښې دا دی (۱) انبیاء علیهم السلام غیب دان نهٔ دی۔ (۲) دوی د خپلو اولادو نه او نهٔ د بل چا نه هیڅ تکلیف نشی دفع کولے۔ (۳) د الله تعالیٰ د قضاء او د قدرت هیڅوك مقابله نشی کولے۔ (٤) د عامو مشرکانو تردید پکښې ذکر دے په رد د شرك فی العبادة (٥) شرك فی الاسماء

والصفات۔ (٦) شرك فی التصرف (٧) شرك فی الربوبیة۔ (٨) د عمل صالح مسائل پکښې دا دي: صبر کول (١٠) د الله تعالیٰ نه مدد غوختل۔ (١١) په معصیت باندې مصیبت غوره کول۔ (١٢) د صالح اولاد سره محبت کول او حتی الوسع د هغې حفاظت کول۔ (١٣) ناکاره اعمال او د هغې ناکاره نتیجې پکښې دا ذکر دي: حسد کول او عاقبت ئې ناکامي۔ (١٤) د پلار سره کید او مکر کول۔ (١٥) د ورور سره کید کول۔ (١٦) د ښځو مکرونه کول د نارینو سره۔ (١٧) او د ښځو په خپل مینځ کښې په یو بل باندې طعنونه وئیل۔ (١٨) پردی سړی سره عشق کول۔ (١٩) دغه شان پدې کښې د انبیاء علیهم السلام او صالحینو، ملائکو، شیطانانو، جناتو او انسانانو، چارپیانو، مارغانو، د بادشاهانو سیرت، د غلامانو ذکر، د تاجرانو، علماؤ، جاهلانو، سړو او ښځو تذکره پکښې موجوده ده۔

نیك اخلاق پکښې دا دي: (٢٠) د مولیٰ سره ښه اخلاق چلول او د هغه احسانات منل۔ (٢١) د هغه په کور کښې د خیانت کولو نه ځان ساتل، (٢٢) عفت کول۔ (٢٢) د جیل ملګرو سره احسانونه کول۔ (٢٣) هغوی ته د حق دعوت ورکول۔ (٢٤) خطائی کونکو ته معافی کول۔ (٢٥) په تقسیم کښې د خیانت نه ځان بچ کول۔ (٢٦) د غیر مجرم د سزا نه ځان ساتل۔ (٢٧) مجرم مخامخ نهٔ ملامته کول۔ (٢٨) د هغهٔ دپاره استغفار طلب کول۔

د مختلف څیزونو اقسام پکښې ذکر دي: (٢٩) د خوبونو لیدل او د هغې اقسام۔ (٣٠) د کیدونو اقسام، (٣١) د محبت اقسام۔ (٣٢) د زړګانو اقسام۔ (٣٣) د نفس اقسام۔ (٣٤) د عقل والو اقسام۔ بشر، ملك، شیطانان۔(٣٥) د آبادو اقسام مصر، بدو، غیابت الجب۔ (٣٦) د قیمتونو اقسام، ثمن، بضاعه، دراهم۔ (٣٧) د لوښو اقسام۔ سقایه، صواع، وعاء، کیل۔ (٣٨) د رڼړاګانو والا اشیاؤ اقسام: شمس، قمر، کواکب۔ (٣٩) د عدد بعض اقسام، سبع، احد عشر۔ (٤٠) د حیواناتو اقسام۔ (ذئب، بقر، طیر، بعیر)۔ (٤١) د خوراك څکاك د څیزونو اقسام، خبز، خمر، سنبلات۔ (٤٢) د قافلو انتظام، سیاره، وارد۔ (٤٣) د اوقاتو ذکر، غد، عشاء۔ (٤٤) د سیاست او تاریخ ذکر لکه بادشاه، وزیر الوزراء (عزیز)، وزیر خزانه۔ (٤٥) د راشن د تقسیم طریقه۔ (٤٦) د خپلوانو سره احسانات کول۔ (٤٧) سبب د انتقال د بني اسرائیلو د شام نه مصر ته۔ او دغسې نور بیشماره حکمتونه شته۔ (احسن الکلام)

(٤٩) اسباب د نجات د عذابونو د دنیا او د آخرت پکښې بیان شویدي۔ (٥٠) پدې کښې حقوق الله او حقوق العباد ذکر دي۔ لنړه دا چه هر آیت کښې چه کومه فائده راځي هغه ددې سره ملګرې کړه نو دا ځکه احسن القصص شو۔

| |
|---|
| اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا |
| کله چه ووئیل یوسف (علیه السلام) پلار خپل ته اے پلاره! یقیناً ما اُولیدل یولس ستوری |
| وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ﴿٤﴾ قَالَ يٰبُنَيَّ |
| او نمر او سپوږمئ، ولیدل ما چه ما ته سجده کونکی دی۔ ووئیل هغهٔ اے بچیه! |
| لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ؕ |
| مهٔ بیانوه خوب خپل ورونو خپلو ته نو چل به جوړ کړی ستا دپاره څه چل |
| اِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٥﴾ |
| یقیناً شیطان د انسان دپاره دشمن ښکاره دے۔ |

**تفسیر** : ددے ځای نه د واقعے آغاز کیږی۔ یوسف علیه السلام خوب ولیدو چه زهٔ یولس ستوری او نمر او سپوږمئ وینم چه ما ته سجده کوی، نو دا خوب ئے خپل پلار یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام ته بیان کړو ځکه ددهٔ پرے د کامل علم اعتقاد لرلو او د هغه د انتهائی درجه د پلار والی شفقت ئے د خپل ځان دپاره ښکاره لیدلو، نو سوچ ئے وکړو چه خپل خوب به بیان کړم که پدے کښی زما کوم نقصان وی نو هغه به د هغے نه د بچ کیدو کښی زما مدد وکړی۔ مګر پلار ورله تعبیر ورنکړو او تدبیرئے ورته وخودلو ځکه چه پدے کښی حکمت وو۔ ځکه چه د خوب مصداق لا موجود شوے نهٔ دے نو مخکښی نه بیانول ئے فائده نهٔ کوی۔

خوب د عالم الامثال نه وی نو دلته د یولس ستورو نه مراد د یوسف علیه السلام یولس ورونه دی ځکه چه د ستورو رنړا کمه وی نو په دوی کښی هم د توبے ویستلو نه روستو د هدایت نور راغلے وو۔ او د نمر نه مراد پلار وو ځکه چه د نمر رنړا کامله وی نو دغه رنګ د نبوت نُورهم کامل دے۔ او د سپوږمئ نه مراد مور ده ځکه چه د سپوږمئ رنړا درمیانه وی او د هغه د مور د ولایت رنړا هم درمیانه وه۔ لکه چه روستو به معلومه شی چه ددے خوب د ښکاره کیدو نه مخکښی نه بیانول ئے فائده نهٔ کوی۔

ځلوینښتو کالو نه روستو کله چه الله تعالیٰ په مصر (ملك) کښی د هغه والدین او ورونه جمع کړل نو د یوسف علیه السلام په تعظیم کښی ټولو د هغه مخے ته سجده وکړه کومه چه د یعقوب علیه السلام په دین کښی جائز وه۔

**فوائد** : (۱) په اسلام کښې خوب لره اعتبار شته، نو کوم معتزله چه ددې نه انکار کوی هیڅ دلیل ورسره نشته. پدې وجه روستو به راشی چه خوبونو ته احادیث وائی ځکه چه خوبونه درې قسمه دی ۱ - یا به حدیث النفس وی. (چه د ورځې یوه خبره زړه کښې راشی او د شپې ئې په خوب کښې وینی)، ددې تعبیر نهٔ وی. ۲ - یا حدیث الْمَلَك. (د ملائکو خبره وی). ددې ښهٔ تعبیر وی. ۳- حدیث الشیطان. (د شیطان خبره وی).

(۲) حدیث کښې دی خوب به یا حبیب (دوست) ته بیانوې یا لبیب (عقلمند) ته. او معبر له پکار دی چه خوب والا ته ښهٔ تدبیر هم وښائی لکه دلته یعقوب ؑ خپل ځوی ته ښهٔ تدبیر خودلې دې. (۳) د خوب په تعبیر هغه څوك ښهٔ پو هیږی چه په قرآن او حدیث ښهٔ پو هیږی او الله تعالیٰ ورله فراست ورکړې وی.

(٤) هرکله چه یوسف ؑ دا خوب ولیدو نو پلار ئې ددې نه دلیل ونیولو چه دهٔ به د الله تعالیٰ او د خلکو په نیز ډیر لوی شان وی، نو پدې جه ئې د هغه پورې امید ونښلولو او زړهٔ ته ئې د هغه مینه ننوته نو دا ابتداء وه د ټولو هغه مصیبتونو دپاره کوم چه زړه سوزونکی وو. (المنار)

(٥) د یوسف ؑ عمر پدې زمانه کښې دولس کاله یا اُولس کاله یا اوه کاله وو. او سیوطیؒ په ((التحبیر)) کښې لیکلی دی چه یوسف ؑ په دنیا کښې یوسل شل کاله ژوند تیر کړیدې. (فتح البیان) لیکن د اُولسو کالو خبره ضعیفه ښکاره کیږی ځکه چه یوسف ؑ د عزیز مصر په کور کښې بلوغ ته رسیدلې دې.

(٦) د یعقوب ؑ دولس ځامن وو، یوسف او بنیامین د یو مور نه وو او باقی د بیلې مور نه وو. او دا دواړه په کښې کشران وو.

(۷) هرکله چه د یو انسان نه ویره کیدې شی په باره د یو ضرر کښې نو د هغې ذکر کول بل چا ته جائز دی، او دا غیبت نهٔ دې ځکه چه پدې کښې مقصود بالذات تو هین د هغه سړی نهٔ دې بلکه تنبیه نورو ته مقصد دې. (احسن الکلام)

(۸) امام قرطبیؒ د عبد الله بن شداد بن الهادؒ نه نقل کړیدی چه د یوسف ؑ ددې خوب تعبیر څلویښت کاله پس واقع شو. (تفسیر القرطبی)

**اِذْ قَالَ** : اَیْ وَاذْكُرْ اَیُّهَا الرَّسُوْلُ اِذْ قَالَ : یعنی اې زما رسوله ! رایاد کړه هغه وخت چه وویل یوسف ؑ.

**رَاَیْتُهُمْ**: دا دویم لیدل د هغوی د حالاتو دی. یعنی څنګه ډې ولیدل؟ ومې لیدل پداسې

حال کښې چه ما ته سجده کونکی دی۔ او روستو (رُؤْيَاكَ) نه معلومیږی چه دا د خوب لیدل دی نو دا بناء دے په عالم الامثال سره چه الله یو شے یا شخص مُمَثَّل (متشکل) کړی او تا له ئے خوب کښې راولی، هغه سړے به خبر هم نهٔ وی چه زهٔ فلانی خوب کښې لیدلے یم۔

قَالَ يٰبُنَيَّ: تعبیر ورته نهٔ بیانوی ځکه چه لا ورو کے دے او دے دپاره چه خبره خوره نشی، صرف ادب ورته ښائی چه دا خوب پټ وساته، او په دے کښې اشاره ده چه یعقوب عليه السلام په تعبیر ددے خوب باندے پو هه شوے وو۔

لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ: یعنی دا خوب ورونو ته ځکه مهٔ بیانوه چه هغوی به ددے په تعبیر پو هه شی نو تا ته به یو چل جوړ کړی ځکه چه یعقوب عليه السلام ته ددے خوب تعبیر بالکل واضح وو چه الله تعالیٰ به ددهٔ ځوی ته لوئی مقام او مرتبه ورکوی، او ددهٔ تمام ورونه به ددهٔ نه په مرتبه کښې کم وی، او یوه ورځ به دا تهول د هغه مخے ته خکته کیږی،

پدے وجه ویریدو چه که ددے خوب ددهٔ ناسکه ورونو ته پته ولګیده نو ددهٔ د نقصان رسولو کوشش به کوی، پدے وجه هغه ته ئے نصیحت وکړو چه دا خوب خپلو ورونو ته بیان نکړی، ځکه چه شیطان د انسان ډیر ښکاره دشمن دے، د هغه پوره کوشش وی چه د هغه ورونه د هغه په خلاف راپورته کړی او هغوی په یوه داسے خبره راتیار کړی چه یوسف عليه السلام ته نقصان ورکونکی وی۔ او هغه چه د کومے خبرے نه یریدو همغه شان دوی ورته کید (چل) جوړ کړو او نقصان ئے ورته ورکړو۔

مفسر ابن العربیؒ لیکی چه ددے نه دا خبره معلومه شوه چه ورور او نور خپلوان حسد کوی۔ (او دا کبیره ګناه ده) او پدے کښې هم اشاره وه د رسول الله ﷺ حال ته چه قریشو او یهودیانو ورسره حسد وکړو او هغه ته ئے کید جوړ کړو۔

او امام قرطبیؒ لیکلی دی چه دوی انبیاء نهٔ وو جوړ شوی ځکه چه د دوی اول حال د ګناهونو وو روستو ئے توبے ویستلے نو الله ئے حال ښه کړو۔ آه۔ حسد او مکرونه کول کبیره ګناهونه دی او انبیاء علیهم السلام د ګناهونو نه پاك وی او پدے باندے تفسیر ابن کثیرؒ او تفسیر قرطبیؒ تصریح کړیده۔

اِنَّ الشَّيْطٰنَ : دا جمله مستأنفه ده جواب د سؤال دے ګویا که یوسف وویل : دا به څنګه وشی چه ورونه ما ته چل جوړ کړی نو وے فرمایل چه شیطان ډیر لوی دشمن دے هغه انسان د ورور په دشمنئ باندے راپورته کوی۔

| |
|---|
| وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيْلِ الْأَحَادِيْثِ |
| او دغسې غوره کوي به تا لره رب ستا او وبه ښائي تا ته معنیٰ (تعبیر) د خوبونو |
| وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ |
| او پوره به کړي احسان خپل په تا باندې او په اولادو د یعقوب (علیه السلام) باندې لکه څنګه ئې |
| اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ |
| چه پوره کړيدې احسان په دواړو پلارانو ستا مخکښې ددې نه چه ابراهیم او اسحاق دی، |
| اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦﴾ |
| یقیناً رب ستا پوهه حکمتونو والا دې۔ |

**تفسیر : وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ**: یعقوب علیه السلام د خوب تعبیر پیژندلې وو۔ او په هغه باندې ددې ښهٔ اثر پریوتو، ځکه چه هر انسان غواړي چه د هغه ځوی ددهٔ نه ښهٔ شي، لیکن (ډیر کرته) وررور د وررور دپاره داسې نهٔ خوښوي۔ نو پدې وجه هغه ورته تسلي ورکوی چه ستا پدې خوب کښې ډیره ژوره او ښه معنیٰ پرته ده او تا ته به الله تعالیٰ عزت درکوی۔ او دا خبره یعقوب علیه السلام د وحي په طریقه کړې وه چه الله تعالیٰ ورته وئیلي وو چه ستا ځوی به دغه شان جوړیږي۔ لکه دا خبره ظاهره ده۔

قاسميؒ وائي : دا احتمال هم شته چه یعقوب علیه السلام دا خبره فراسةً کړي وی، د ځوی د چال چلن نه ئې معلومه کړه۔

**يَجْتَبِيْكَ**: اجتباء : د اُوچتو کارونو دپاره غوره کولو ته وائي لکه انبیاء علیهم السلام او بیا د علماء کرامو نه الله تعالیٰ ډیر لوی لوی کارونه د دین اخلي، او دین بیانول ډیر لوی کار دې۔

**تَأْوِيْلِ الْأَحَادِيْثِ** : تاویل حقیقت ته وئیلې شي او احادیث نه مراد خوبونه دی، یعنی دا به د یوسف علیه السلام معجزه وی او دا هم ښه معجزه ده او ښهٔ علم دې چه د خوب تعبیر ورکولې شي، لکه یوسف علیه السلام ته الله تعالیٰ د علم په وجه بادشاهي ورکړه، نهٔ په ښائست سره ورنه دا خو په غلامئ کښې وو۔

دې کښې ځینې تاویلي معنیٰ کوي چه د احادیث نه مراد د انبیاء علیهم السلام قصې دی،

یعنی وحی به درته وکړی او د انبیاء علیهم السلام په خبرو به پو هیږے۔ (قاله الزجاجؒ) (فتح البیان) یا اَحَادِیْثُ الْاُمَمِ وَالْکُتُبِ وَدَلَائِلَ التَّوْحِیْدِ) یعنی د تیرشوو امتونو او د کتابونو واقعات او د توحید دلیلونه۔ او پدے کښې نبوت ته اشاره ده۔ (قرطبیؒ)

وَیُتِمُّ نِعْمَتَهٗ: د نعمت نه مراد نبوت او بادشاهی ده۔ یعنی دواړه به درته راجمع کوی۔ یا د دنیا او د آخرت خیرونه به درته راجمع کوی۔ او دے کښې دا هم صحیح ده چه دوی ته د مصر د داخلیدو نه روستو نعمتونه ورکړے شو چه د هغے نه یوه دا وه چه دوی بادشاهان جوړ شو او د یعقوب علیه السلام په نسل کښې انبیاء علیهم السلام هم راغلل۔ (فتح)

کَمَآ اَتَمَّهَا: لکه څنګه چه هغه ددے نه مخکښې ستا نیکه اسحاق علیه السلام او ورنیکه ابراهیم علیه السلام ته نبوت او رسالت او نور ډیر نعمتونه ورکړی وو۔ اسحاق علیه السلام ته ئے نبوت ورکړو او د یعقوب علیه السلام په شان څوی، او د یوسف علیه السلام په شان نمسے ورکړو، او ابراهیم علیه السلام ئے خپل خلیل جوړ کړو او د اُور نه ئے نجات ورکړو۔

| |
|---|
| لَقَدْ کَانَ فِیْ یُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰیٰتٌ لِّلسَّآئِلِیْنَ ﴿۷﴾ اِذْ |
| یقیناً شته په قصه د یوسف او د ورونو د هغه کښې عبرتونه د تپوس کونکو۔ کله چه |
| قَالُوْا لَیُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓی اَبِیْنَا مِنَّا |
| ووئیل دوی خامخا یوسف او ورور د هغهٔ (بنیامین) ډیر خوږ دے پلار زمونږ ته زمونږ نه |
| وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنِۨ ﴿۸﴾ |
| او حال دا چه مونږ مضبوط ډله یو، یقیناً پلار زمونږ خامخا په سادګئ ښکاره کښې دے۔ |

**تفسیر**: پدے کښې ددے قصے نه عبرت راوباسی۔

یوسف علیه السلام او د هغه د ورونو ددے قصے په باره کښې مکے والو ته هیڅ علم هم نهٔ وو، او نهٔ نبی کریم ﷺ ته ددے څه خبر وو۔ الله تعالیٰ نبی ﷺ ته ددے د خبر ورکولو دپاره په قرآن کریم کښې دا سورت نازل کړو۔ او نبی ﷺ بیا د مکے والو په مخکښې ددے تلاوت وکړونو د هغه ځای خلق ددے نه خبر شو۔ دا ددے خبرے قطعی دلیل وو چه نبی ﷺ د الله تعالیٰ نبی وو۔ ((آیات للسائلین)) کښې دے طرف ته اشاره ده۔

مفسر قاشانیؒ وائی چه ددے واقعے نه درے اهمے خبرے معلومیږی: اوله خبره خو دا چه

د نبوت او رسالت تعلق خالص د الله د مشیت سره دے، هغه چه چا له غواړی دا نعمت ورکوی۔ دویمه خبره دا چه الله تعالیٰ که یو نعمت چا ته ورکول غواړی نو هغه څوك منع کولے نشی، او الله تعالیٰ چه د چا حفاظت کوی، هغه ته هیڅوك ضرر نشی ورکولے۔ او دریمه خبره دا چه د شیطان مکر او فریب نه انبیاء علیهم السلام هم خطره کوی، پدے وجه هغوی هر وخت د هغه د وسوسو او چلونو نه د بچ کیدو دپاره د الله تعالیٰ نه دعاگانے کوی۔ (القاسمیؒ)

**اٰيٰتٌ:** اَیْ بِقُدْرَةِ اللّٰهِ وَحِكْمَتِهٖ وَنُبُوَّتِهٖ عَلَيْهِ السلام) یعنی نښے دی په قدرت د الله تعالیٰ او حکمتونو د هغهٔ او په نبوت د رسول الله ﷺ۔ او دا ناشنا نښے دی چه په ظاهره کښ به د ذلت نقشه وی، الله تعالیٰ به ئے ناڅاپه عزت طرفته بدله کړی او د عزت نقشه به وی، ناڅاپه به پکښ سرے ذلیله شی۔ او دا نښه هم ده چه زمونږ د نبی حال د یوسف علیه السلام په شان او د مکے والو حال د ورونو د یوسف علیه السلام په شان جوړیدو والا دے۔

**لِّلسَّآئِلِيْنَ:** ۱- دپاره د هغه خلکو چه تحقیق کونکی وی په واقعه د یوسف علیه السلام کښ او د هغے نه عبرتونه او حکمتونه او ډیرے مسئلے راوباسی۔

۲- یا دپاره د سوال کونکو په لسان الحال یا په لسان المقال سره (سعدیؒ) لکه مکے والو دا تپوس کړے وو، چه مصر ته بنی اسرائیل ولے نقل شو؟، او قرطبیؒ لیکلی دی چه مکے والو وویل چه مونږ ته د یو داسے نبی خبر راکړه چه په شام کښ وسیدو او ځوی ئے مصر ته بوتللے شو او هغه وریسے ژړل تردے چه ړوند شو؟ او پدے وخت کښ په مکه کښ هیڅوك د اهل کتابو نه نهٔ وو او نهٔ چا ته د انبیاء علیهم السلام حالات معلوم وو او دا سوال ورته د مدینے یهودیانو رالیږلے وو۔ نو الله تعالیٰ دا سورت ټول په یو ځل نازل کړو۔ او د تورات مطابق واقعه ئے بیان کړه سره د زیادت نه نو دا نښه شوه د رسول الله ﷺ د نبوت دپاره۔

(قرطبی۹/۱۳۰)

او چونکه سائلین د آیتونو او عبرتونو نه فائده اخلی ځکه ئے دوی ذکر کړل۔ (سعدیؒ)

صاحب المنار وائی: په قصه د یوسف کښ ډیر قسمه دلیلونه دی په ډیر قسمه قدرتونو د الله تعالیٰ او حکمت د هغهٔ او هغه چا له مرتبے پورته کوی او څوك چه غوره کړی نو هغوی باندے خپل لطف او مهربانی کوی، او د هغوی تربیت او ښائسته اهتمام کوی نو پدے کښ ډیرے نښے دی دپاره د تپوس کونکو، یعنی هغه خلك چه ددے حقیقت ته ځان رسولو کښ شوق لری او ددے نه عبرت حاصلوی ځکه چه همدا خلك فائده اخستے شی

او چا نه چه ددے حکمتونو او عبرتونو نه څه شے پټ پاتے شو نو هغه به ئے د خپل ځان نه د لوی عالم نه تپوس وکړی ځکه چه د ظاهری حالاتو شا ته حقیقتونه پټ دی لکه مثلاً که د یوسف ورونو د هغه سره حسد نهٔ وے کړے نو کوهی ته به ئے نهٔ ارتولے او که هغه ئے نهٔ وے ګوزار کړے نو عزیز مصر ته به نهٔ وے رسیدلے، او که عزیز مصر ددهٔ په فراست او امانت او رشتینوالی باندے عقیده نهٔ وے ساتلے نو دے به ئے په خپل کور او رزق او کور والو باندے امین نهٔ وے ګرځولے، او که د عزیز مصر ښځے ددهٔ نه د بد کارئ مطالبه نهٔ وے کړے او هغهٔ ځان نهٔ وے بچ کړے نو د هغهٔ صفائی او د ښځے حالت به نهٔ وے ښکاره شوے، او که زنانه په خپل مکر کښ او نورے زنانه په مکرونو کښ نهٔ وے نا مراده شوے نو یوسف به جیل ته نهٔ وے تلے دپاره د پټولو ددے خبرے۔

او که جیل ته نهٔ وے تلے نو د مصر د بادشاه ساقی به دے نهٔ وے پیژندلے او ددهٔ کمال او د خوبونو د تعبیر علم به ورته نهٔ وے معلوم شوے، او که ساقی پدے نهٔ وے پوهه شوے، نو د مصر بادشاه به نهٔ وے پیژندلے او ایمان به ئے پرے نهٔ وے راوړے، او دے به ئے د مصر په خزانو نهٔ وے مقرر کړے، او که دا منصب ورته نهٔ وے سپارل شوے نو هیڅ ممکن نهٔ وه چه خپل مور او پلار ورونه او تول کورنئ د مخمصے (سخت فقر) نه نهٔ وے خلاص کړی او دوی به ئے مصر ته نهٔ وے راوستی چه ځان سره ئے په ریاست او شرافت کښ شریك کړل نو دغه نعمت پوره کیدل په دهٔ باندے پدے طریقه وشو چه ظاهر ئے سوزونکے وو لیکن باطن ئے روښانه وو او ابتداء ئے شر او تاوان وو او انتهاء ئے خیر او کامیابی وه۔ نو دا هغه اقسام د الله تعالیٰ د آیتونو شو پدے قصه کښ الخ)

اِذْ قَالُوْا: ځینی وائی: یوسف علیه السلام خپل خوب بیان کړے وو پدے وجه ورونه خبر شو۔ او قاسمیؒ وائی هغوی ته په څه طریقه دا خبر ورسیدو لیکن دا خبره ظاهر نهٔ ده۔

ظاهر دا ده چه د یوسف علیه السلام او د هغه د سکه ورور بنیامین سره د پلار مینه زیاته وه نو دوی په حسد کښ راغلل نور د خوب نه نهٔ دی خبر۔ او پلار ولے ددے دواړو سره زیاته مینه کوله؟ وجه دا وه چه دوی کښ تقوی زیاته وه او دوی پاك خلك وو، طاعت پکښ زیات وو او نورو کښ دومره تقوی نهٔ وه نو دوی په حسد کښ راغلل۔ دوی له حسد نهٔ وو پکار بلکه تقوی اختیارول پکار وو چه د پلار مینه د دوی سره هم پیدا شوے وے۔ دا قانون دے چه کله د یو قوم سره حسد کوے نو د هغوی په شان ځان جوړ کړه تا ته به هم دغه مرتبه ملاؤ شی۔ او پدے آیتونو کښ دے خبرو ته اشاره ده۔

بله دا چه د یوسف علیه السلام سره د پلار محبت وجه یو خو په هغه کښې د نجابت آثار لیدل وو او بل د هغه خوب وو او د هغه د ورور سره ئے مینه پدے وجه وه چه دا د ټولو نه کشر څوی وو او فطری طور سره د پلار غالباً د کشر بچی سره مینه زیاته وی۔
او ددے ځای نه د یوسف علیه السلام قصه تفصیلاً شروع کیږی چه پدے کښې دولس مقامات دی دا اول مقام دے تر (۱۹) آیت پورے او پدے کښې د ځامنو د پلار سره د یوسف علیه السلام په باره کښې په پنځو طریقو سره مکرونه کول دی چه دا ټول امتحانات دی په یعقوب او یوسف علیهما السلام باندے۔
وَاِخۡوَتِهٖ : ددے ورونو نومونه قرطبیؒ وغیره لیکلی دی چه ذکر کولو کښې ئے فائده نشته۔
وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ : مطلب ئے دا وو چه کار والا مونږ یو او مینه د بل چا سره کیږی۔ رزق مونږ راوړو او حفاظت ئے کوو او هر شی ته ورله ولاړ یو۔ (المنار)
عصبة هغه مضبوط جماعت ته وائی چه د دریو نه تر لسو پورے وی۔
ځینی وائی : لسو کسانو یا د هغے نه زیاتو ته وئیلے شی۔ عصبه کښې د احاطے او مضبوطوالی معنیٰ پرته ده۔
ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ : ضلال دلته دینی گمراهئ ته نهٔ وائی، ځکه دوی دا اراده کړے وے نو دوی پدے خبره کافران کیدل ځکه چه نبی ته د ضلال نسبت کول کفر دے۔ نو دلته ضلال نه مراد عَدَمُ الۡعِلۡمِ بِمَصَالِحِ الشَّيۡءِ الدُّنۡيَوِيَّة دے، یعنی په دنیاوی مصلحتونو باندے نهٔ پوهیدل، مراد ترینه سادگی ده۔ ابن زیدؒ وائی : (لَفِيۡ خَطَاٍ مِنۡ رَاۡيِهٖ) یعنی په خپله رایه کښې خطاء دے۔ چه د هغه چا سره مینه کوی چه ضعیف دی، هیڅ فائده نشی ورکولے او مونږ طاقتورو سره مینه نهٔ کوی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| اقۡتُلُوۡا يُوۡسُفَ اَوِ اطۡرَحُوۡهُ اَرۡضًا يَّخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ |
| اُووژنئ یوسف لره یا گوزار کړئ دهٔ لره یوے زمکے ته وزګار به شی تاسو ته مخه |
| اَبِيۡكُمۡ وَتَكُوۡنُوۡا مِنۡ بَعۡدِهٖ قَوۡمًا صٰلِحِيۡنَ ﴿۹﴾ |
| د پلار ستاسو او شئ به تاسو روستو ددے نه قوم نیکان (یعنی توبه به وباسئ)۔ |

**تفسیر** : د دوی گمان وو چه کله دوی یوسف قتل کړی یا په یو داسے نامعلوم ځای کښې

هغه ګوزار کړی چه د هغې علم د هغه پلار ته ونشي، او نۀ یوسف د هغه ځای نه خپله واپس راتلے شي۔ نو د دوی پلار به د یوسف په ځای د دوی سره پوره محبت شروع کړي، او دا خلق به روستو کښې د خپلے ګناه نه د الله په دربار کښې توبه اُوباسي۔

ابن اسحاقؒ وائي چه د دوی دا ظالمانه فیصله د ډیرو ګناهونو مقدمه وه۔ دوی د قرابت او صله رحمۍ هیڅ خیال ونۀ ساتلو، د والدینو نافرمانی، په وړوکی ماشوم باندے رحم نۀ کول چه هغه څه غلطي هم نۀ وه کړے، او د بوډا پلار د جذباتو قدرئے ونکړو، او د هغه وړوکے بچے ئے د هغۀ نه په بے رحمۍ سره جدا کول غوختل۔ الله دِے دوی معاف کړي۔

او دا داسے فیصله ده لکه چه د رسول الله ﷺ په خلاف قریشو په دار الندوه کښې کړے وه۔

مِنۡ بَعۡدِهٖ: ١- دا ضمیر دے ګناه ته راجع دے او قَوۡمًا صَالِحِيۡنَ معنیٰ دا چه روستو به توبه وباسئ۔ او دا ډیره غلطه طریقه ده چه یو تن ګناه پدے نیت کوي چه روستو به توبه وباسي، حال دا چه څه پته ده چه تا ته د توبے توفیق ملاویږي او که نۀ، کیدے شي چه پدے ګناه کښې مړ شے۔ ٢- یا (ه) ضمیر یوسف ته راجع دے۔

او مقاتلؒ وائي د صالحین نه مراد دا دے چه: (يَصۡلُحۡ اَمۡرُكُمۡ مَعَ اَبِيۡكُمۡ) د یوسف نه روستو به ستاسو خبره د پلار سره جوړه شي او د هغه محبت به پوره حاصل کړئ۔ او دا رایه هم غلطه وه ځکه چه محبت پیدا کیدل او نۀ پیدا کیدل د الله تعالیٰ په واک کښې دی، د یوسف په ختمولو خو نۀ دی۔

یا صَالِحِيۡنَ مَعَ اَبِيۡكُمۡ بِعُذۡرٍ تُمَهِّدُوۡنَهٗ۔ تاسو به د پلار په نیز نیکان شئ په سبب د یو عذر چه تاسو به ئے ورته جوړ کړئ۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُوۡا يُوۡسُفَ وَاَلۡقُوۡهُ فِيۡ غَيٰبَتِ |
| ووئیل یو ویونکي د دوی نه مۀ وژنئ یوسف لره او ګوزار کړئ دا په ډډ (تیارۀ) |
| الۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ السَّيَّارَةِ اِنۡ كُنۡتُمۡ فٰعِلِيۡنَ ﴿۱۰﴾ |
| د کچه کوهي کښې مونده به کړي دۀ لره بعض قافلے والا که یئ تاسو دا کار کونکي۔ (نو وکړئ)۔ |

**تفسیر**: یو وړور په دوی کښې ووئیل۔ قرآن د هغه قائل نوم نۀ دے ذکر کړے ځکه چه د هغه په نوم ذکر کولو کښې د عبرت او حکمة څه فائده نۀ وه بلکه د هغه دا صفت بیانول مقصود وو چه یو تن وو د دوی نه یعني دوی ټولو د قتل په جرم باندے اتفاق نۀ وو کړے۔

سدیّ وائی : ددهٔ نوم یهوذا وو۔ او ځینی وائی چه دا ئے مشر ورور وو۔ او د تورات په «سفر التکوین» کښې دی چه دا رَاُوبین وو۔ (المنار) ځینی وائی : رُوبِیل وو۔ (فتح البیان)

او ذ یوسف نوم ئے پدے وجه اخستے وو چه د ورونو په دهٔ باندے څه رحم راشی او دا قتل نکړی، هغه وویل چه که تاسو یوسف لره د هغه د پلار نه خامخا جدا کوئ نو دا په داسے ژورکوهی کښې واچوئ چه په هغے کښې کانړی نهٔ وی، یوه قافله به هلته تیریږی او د اُوبو دپاره به لاړ شی نو دوی ته به یوسف ملاؤ شی چه هغه به خپل غلام کړی او خپل ځان سره به ئے بوځی۔ پدے طریقه به ستاسو مقصد حل شی چه یوسف به خپل پلار ته دوباره نشی راتلے۔

وَ اَلْقُوْهُ: ددے ګوزارولو نه مراد کیخودل دی په بوکه کښې او بیا کوهی ته کوزول۔

غَيٰبَتِ الْجُبِّ : جُب کچه کوهی ته وائی چه لا په کانړو یا په چیکونو اچولو سره نهٔ وی پوخ کړے شوے او غیابة په کوهی کښې ډډ ځای او سورنګ ته وائی چه د انسان د سترګو نه غائبیږی بیا ترے مراد تیارهٔ ده۔

او دا کوهے د دوی په کلی کښې مشهور وو چه دوی به هلته څاروی خړوبه کول۔

يَلْتَقِطْهُ: یعنی راپورته به کړی دهٔ لره۔

بَعْضُ السَّيَّارَةِ: سیاره قافلے ته وائی۔ د سیر نه دے په معنیٰ د ګرځیدو دے په لارو کښې۔ جمع د سیّار ده۔

اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ : ١- فَافْعَلُوْا۔ که دا کار کول غواړئ نو وے کړئ۔

٢- اِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِيْنَ مَا هُوَ الصَّوَابُ الْمَقْصُوْدُ لَكُمْ بِالذَّاتِ فَهٰذَا هُوَ الصَّوَابُ۔ (المنار)

یعنی که تاسو صحیح کار کول غواړئ چه ستاسو مقصد پرے حاصلیږی نو دا کار صحیح دے۔

| |
|---|
| قَالُوْا يٰۤاَبَانَا مَالَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى |
| ووئیل دوی اے پلاره زمونږ څه وجه ده تا لره چه تهٔ باور نهٔ کوے په مونږ باندے په باره د |
| يُوْسُفَ وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ﴿١١﴾ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا |
| یوسف کښې او یقیناً مونږ هغه لره خامخا خیرخواه یو۔ اُولیږه دهٔ لره مونږ سره صبا له |
| يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿١٢﴾ |

چه خوراك وكړي او لوبے وكړي او يقيناً مونږ دهٔ لره خامخا ساتونكي يو۔

**تفسير** : هركله چه دوی پدے خبره متفق شو نو خپل پلار خوا ته راغلل او هغه ته ئے د پلار په لفظ سره آواز وكړو دے دپاره چه هغه رانرم كړي چه پدے طريقه سره خپل مقصد سرته ورسوی۔

**مَالَكَ لَا تَأْمَنَّا**: يعني تا ته كومه شبهه راپيښه شوے ده چه تهٔ په مونږ باندے د يوسف په باره كښې باور نهٔ كوے۔ او مونږ خو ددهٔ خير خواه يو۔

ددے آيت نه معلوميږی چه يعقوب ﷺ د دوی په سترګو كښې شر ليدلے وو او يريدلے وو چه دا خلق د يوسف په باره كښې څه ښه سوچ نهٔ كوی نو يوسف به ئے د دوی نه ساتلو۔او دوی هم پدے خبره پوهه شوی وو۔

**يَّرْتَعْ**: رتع په اصل كښې ځريدو ته وائي يعني آزاد خوراك به وكړی او د شينكيانو او د صحراء د ميوو نه به فائدے واخلی لكه كركنړے، ممانړے وغيره به وخوری، څكه كه تا يوسف دغه شان په يو ځاى كښې بند ساتلے وی نو په دهٔ كښې به نشاط (تازګی) او ژوند پيدا نهٔ وی، او د نورو ځوانانو په شان به قوی او صحتمند نهٔ وی۔

او دا دليل دے چه مباح لوبے جائز بلكه كله ناكله د تدريب دپاره پكار دی، چه پدے سره سينه كولاويږی او بدن ته قوت حاصليږی او د وينے رګونه كولاويږی او د ډيرو بيمارياتو علاج دے۔

| |
|---|
| قَالَ اِنِّیْ لَيَحْزُنُنِیْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ اَنْ |
| اُووئيل پلار يقيناً خامخا خفه كوی ما لره دا چه بوځئ تاسو دهٔ لره او يريږم چه |
| يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ |
| ويه خوری دهٔ لره شرمخ او تاسو به ددهٔ نه ناخبره يئ۔ ووئيل دوی كه چرے اُوخوړو دهٔ لره |
| الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ |
| شرمخ او مونږ مضبوط ډله يو نو يقيناً مونږ به دغه وخت خامخا د تاوان والو نه يو۔ |
| فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِیْ غَيٰبَتِ |
| نو هركله چه بوتلو دوی هغه لره او كلكه اراده ئے وكړه چه واچوی دهٔ لره په ډډ |

| |
|---|
| الْجُبِّ ج وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ |
| د کچه کوهي کښې او وحي اُوکړه مونږ دهٔ ته چه خامخا خبر به ورکوې تهٔ دوی ته (یوه |
| بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٥﴾ |
| ورځ) په کار د دوی چه دا دے او دوی به نهٔ پوهیږی۔ |

**تفسیر**: یعقوب ؑ هغوی ته دوه عذرونه پیش کړل، یو خو دا چه د یوسف جدائی دهٔ لره غمجن کوی، او دویم دا چه کیدے شی چه دا خلق په لوبو او خوراك او څکاك کښې ولګی او ناڅاپه شرمخ راشی او یوسف ځان سره یوسی۔

**لَيَحْزُنُنِي**: ددے نه دا ثابته شوه چه که پلار د یو بچی سره په مقتضی د طبیعت زیاته مینه وکړی نو دا منع نهٔ ده مګر په خرچه او ظاهری څیزونو کښې به عدل نه کار اخلی۔ او محبت د ښځے او بچو سره جائز دے خو پدے شرط چه د الله تعالیٰ حکم ماتولو ته ونهٔ رسی۔

**قَالُوْا**: چونکه دویم عذر د یوسف د ژوند سره وو، پدے وجه هغوی دا مخے ته کیخودو او جواب ئے ورکړو۔ او د اولے خبرے جواب نهٔ کوی ځکه چه ستا غم خو عارضی خبره ده، بیرته زائله کیدے شی په زر راواپس کولو د یوسف سره۔

**لَخٰسِرُوْنَ**: ١- بِفُقْدَانِ الْاَخِ۔ یعنی مونږ به لوی تاوان وکړو په ورلو د ورور زمونږ نه او کله چه یو غټ تاوان راځی نو خلك د هغے نه ځان بچ کوی نو مونږ به هیڅکله دے شرمخ ته پرینږدو۔ ٢- لَخَاسِرُوْنَ بِاَكْلِ الْغَنَمِ۔ یعنی مونږ خو به بیا ډیر تاوان وکړو چه شرمخان به راځی مونږ نه به ګډے بزے هم هره ورځ خوری۔ یعنی شرمخ نشی راتللے، مونږ نه ئے کله هم څاروی نهٔ دی خوړلی۔ ددے نه هم معلومیږی چه یوسف ؑ پدے زمانه کښې ډیر وړوکے وو او د اولسو کالو خبره ضعیفه ده۔ د روستو آیتونو خلاف ده۔

**فَلَمَّا ذَهَبُوْا**: یعقوب ؑ ورسره یوسف پریخودو ځکه چه نیکانو خلکو کښې نرمی وی، د خلکو د خبرو نه متأثره کیږی۔

دے خلقو یوسف ځان سره بوتلو او دا ئے وویل چه ددهٔ به خیال کوو، او یوسف به زمونږ سره چکر او سیل صفا وکړی خوشحاله به شی، لیکن په پټه ئے پدے خبره باندے اتفاق کړے وو چه دا به په یو ژور کوهی کښې اچوو۔ سُدّیؒ او نورو مفسرینو لیکلی دی چه

ځنګه دا خلق د یعقوب علیه السلام د سترګو نه راپناه شو نو دوی په وهلو او کنځلو شروع وکړه، بیا ئے دا د کوهی غاړے ته راوستو چه په هغے کښې ددهٔ ګوزارل ئے د مخکښې نه مقرر کړی وو. بیا ئے په رسیٔ کښې وتړلو او کوهی ته ئے ګوزار کړو. په هغه وخت الله تعالیٰ یوسف ته د الهام په ذریعه اطمینان ورکړو، دے دپاره چه د هغهٔ پریشانی څه لږه لرے شی او هغهٔ ته ئے وویل چه هغه به دهٔ لره د ورونو ددے سازش نه نجات ورکوی او داسے وخت به راځی چه دا به په خپله ژبه سره تولو قصه هغوی ته بیانوی.

وَاَجۡمَعُوۡٓا : د اِجماع نه مراد کلك عزم کول دی.

د فَلَمَّا ذَهَبُوۡا بِهٖ : جزاء پټه ده اَیۡ فَعَلُوۡا بِهٖ مَا فَعَلُوۡا. یعنی هغه څه ئے ورسره وکړل کوم چه دوی غوښتل. چه هغه وهل او د هغه نه قمیص ویستل او هغهٔ ته غصه کیدل دی چه ستا د لاسه مونږ د پلار نه خواریو. او دا ډیره سخت زړی وه، چه د ورُوکی ماشوم سره ئے کوی چه هیڅ ګناه ئے نهٔ ده کړے، او بیا ورور هم دے، او بیا د یعقوب علیه السلام په شان شخص د دوی پلار هم دے، داسے کار ډیر د زړه د سختیٔ نه کیږی. نو کله چه ظاهری اسباب ختم شی په داسے وخت کښې د الله تعالیٰ مددونه راځی نو (وَاَوۡحَیۡنَا) دا ئے مدد وو. ددے وحی نه مراد ارهاص دے یعنی د نبوت د زمانے نه مخکښې الهام کول او کرامتونه ښکاره کیدل. او کله جبریل علیه السلام راتلل او د هغه سره خبرے کول وی لکه دلته هم جبریل علیه السلام راغلے وو.

(القرطبی)

لَتُنَبِّئَنَّهُمۡ : یعنی تهٔ به خپلو ورونو ته د دوی ددے قصے خبر ورکوے او دوی به نهٔ پوهیږی چه تهٔ د دوی یوسف ورور ئے ځکه چه دوی خو به دا ګمان لری چه تهٔ وفات شوے ئے او زمانه به ډیره تیره شوی وی او تهٔ به داسے حال ته رسیدلے ئے چه دوی به ستا په باره کښې د هغے ګمان هم نهٔ کوی. (فتح البیان)

مجاهدؒ وائی : [وَهُمۡ لَا یَشۡعُرُوۡنَ بِذٰلِكَ الۡوَحۡیِ] دوی په دغه وخت کښې په دغه وحی باندے نهٔ پوهیدل. قتادهؒ وائی : ددے وحی په وجه باندے هغه ته دغه مصیبتونه آسان شو.

(فتح البیان والقرطبی)

| |
|---|
| وَجَآءُوۡٓ اَبَاهُمۡ عِشَآءً یَّبۡكُوۡنَ ﴿١٦﴾ قَالُوۡا یٰٓاَبَانَآ |
| او راغلل دوی پلار خپل ته په ماسخوتن کښې چه ژړل ئے. اُووئیل دوی اے پلاره زمونږ ! |

| |
|---|
| اِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوۡسُفَ عِنۡدَ مَتَاعِنَا |
| یقیناً مونږ لاړو منډې مو وهلې او پریخودو مونږ یوسف لره د سامان زمونږ سره |
| فَاَكَلَهُ الذِّئۡبُ ج وَمَآ اَنۡتَ بِمُؤۡمِنٍ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۷﴾ |
| نو اُوخوړو هغه لره شرمخ او نهٔ ئې تهٔ باور کونکې په مونږ اګرکه یو مونږ رشتینی۔ |
| وَجَآءُوۡا عَلٰى قَمِيۡصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ؕ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ |
| او راوړه دوی په قمیص د هغه وینه د دروغو، اُووئیل هغه بلکه ښائسته کړیدې تاسو ته |
| اَنۡفُسُكُمۡ اَمۡرًا ؕ فَصَبۡرٌ جَمِيۡلٌ ؕ وَاللّٰهُ الۡمُسۡتَعَانُ |
| نفسونو ستاسو یو کار نو صبر ښائسته (ما سره لائق دې) او الله نه مدد غوختې شي |
| عَلٰى مَا تَصِفُوۡنَ ﴿۱۸﴾ |
| په مقابله د هغې چه تاسو ئې بیانوئ۔ |

**تفسیر**: کله چه ورونو یوسف کوهی کښې پریخودو نو د پلار خوا ته د خپل عام عادت خلاف د شپې ناوخته راغلل۔ د شپې ناوخته ولې راغلل ؟ د دوه وجو نه (۱) یو ئې پدې سره اشاره کوله چه مونږ د ورور پسې ډیر پریشانه او خفه وو او مونږ د هغه پسې ډیر ګرځیدلی یو۔ (۲) دویم: بهانه په تیاره کښې آسانه کیږی، دې دپاره چه د ورځې په رڼا کښې د هغوی د دروغو عذر دهوکه رابښکاره نشی، د هغوی په سترګو کښې دروغ پریونهٔ وزی، او په ژړا سره هغهٔ ته دا یقین ورکړی چه یوسف سره د دوی بې حده محبت وو، دې دپاره چه د یعقوب علیه السلام په زړهٔ کښې د دوی په باره کښې هیڅ شك تیر نهٔ شی۔

يَّبۡكُوۡنَ: ژړا په ډیر قسمه ده، دلته مفسرینو د قاضی شُریح واقعه لیکلې ده چه هغهٔ ته یوه زنانه راغله، چه سخت ئې ژړل نو چا وویل چه قاضی صاحب! دې ښځې له فیصله وکړه ډیره ژاړی؟ هغه وویل: چه هره ژړا د صدق دلیل نهٔ وی اَلَا تَرَوۡنَ اِلٰى اِخۡوَةِ يُوۡسُفَ۔

آیا تاسو د یوسف ورونو ته نهٔ ګورئ چه پلار ته ئې ژړل۔

## اقسام د ژړا

حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد ص (۱۸٤) کښې د ژړا لس قسمهٔ ذکر کړیدی (۱) ژړا کله د

زړهٔ د نـرمـئ او د رحـمـت په وجه وی۔ (۲) د يرے او د خشيت د وجه نه۔ (۳) ژړا د محبت او شـفـقـت د وجه نه۔ (٤) د خوشحالئ د وجه نه۔ (٥) ژړا د فرياد او د درد او د مرض د وجه نه۔

(٦) ژړا د حزن او غم د وجه نه۔ (٧) د بزدلئ او د زړه د كمزوروالی د وجه نه۔

(٨) ژړا د منافقت او د رياء چه سترګو كښ اُوښكے راځی او زړه ئے سخت وی۔

(٩) د اجرت او مزدورئ ژړا لكه د وير ګرو ښځو۔

(١٠) ژړا د مـوافـقـت د وجه نه لكه څوك چه وينی چه هغه ژاړی نو دے هم ورسره وژاړی او سبب ورته نهٔ وی معلوم، انتهیٰ۔

(١١) ژړا د بدلے وركولو لكه زنانه ئے يو بل ته په مړو كښ وركوی۔

نَسۡتَبِقُ: استبـاق د يـو بـل نـه مخكښ كيدل او منډه وهل دا كله په اسونو او اوښانو سره وی او كـله په خپلو خپو سره وی او په غشو ويشتلو كښ هم استباق په حديث كښ راغلے دے۔ دلته ترے منډے وهلو كښ مقابله كول دی۔

فَـاَكَلَهُ الذِّئۡبُ : هـغـوی د خپـل پـلار د دهـوكـه كـولو دپاره دا عذر پيش كړو چه هغه شـرمـخ وخـوړو، دے دپاره چه د هغهٔ يقين راشی چه يوسف ددے دنيا نه رخصت شو، او په آرام آرام سره د هـغـه د زړهٔ نـه د يـوسف مـحبـت وځـی، او د هـغـهٔ ورونو تـه پوره محبت وركړی۔

فَاَكَلَهُ الذِّئۡب: يـعنی لكه څنګه چه ته ويريدلے، كله چه مونږ خپل مينځ كښ د منډے وهـلـو مـقـابـلـه كـولـه، او يـوسف مـونـږ د خپـلو كپړو او د خوراك څكاك د سامانونو سره كـيـنـولے وو، واقعی شرمخ راغلو او هغه ئے هلاك كړو۔ او مونږ ته معلومه ده چه كه مونږ ستـا پـه نيـز رشتـيـنـی هم يو نو پداسے حالت كښ تهٔ زمونږ خبره نهٔ منے، نو اُوس به زمونږ خبره تهٔ څنګه ومنے كله چه تا د مخكښ نه د يوسف په باره كښ په مونږ اعتماد نهٔ كولو۔

وَمَآ اَنۡتَ: د پښتـو متـل دے : «د غل په ګيره خس وی»۔ غل په خپـل ځان دا ګمان كوی چـه دا ټـول خـلـك پـه مـا باندے د غلۀ ګمان كوی نو ځكه وائی ته زمونږ تصديق نهٔ كوے۔ دوی ته لا يعقوب ؑ جـواب نـهٔ دے وركـړے او دوی د مخكښ نه تاكيدونه كوی، دا هم د دوی د دروغژن والی نښه ده۔

بِمُؤۡمِنٍ لَّنَا : اَیۡ فَكَيۡفَ وَاَنۡتَ تَتَّهِمُنَا ۔ يـعـنـی تـه زمونږ په عام حالت كښ خبره باندے باور نـهٔ كـوے نـو اُوس چـه كـله تهٔ مونږ باندے تهمت هم لګوے نو څنګه به زمونږ خبره باندے بـاور وكـړے۔ پدے كښ د دوی غرض هغه ته مغالطه وركول وو۔ او دا دليل دے چه يعقوب

﵇ په غیبو نهٔ پو هیدو، ځکه ئے هغه خطاء کولو۔
**بَدَمٍ كَذِبٍ**: اَىْ ذِىْ كَذِبٍ۔ د دروغ والا وینه وه۔ دوی د یوسف قمیص د یوے چیلۍ په وینو کښې لت پت کړو، او هغه ئے د خپل پلار مخکښې کیخودو وے وئیل چه دا وګوره د یوسف قمیص چه د هغه د وفات کیدو نه روستو مونږ ته ملاؤ شویدے، لیکن یعقوب ﵇ د دوی خبره ونهٔ منله او وے ویل چه دا قصه تاسو د خپل طرف نه جوړه کړیده۔ ستاسو د وینا مطابق خو شرمخ ډیر عقلمند وو چه یوسف ئے وخوړو او د هغه قمیص ئے ونهٔ شوکولو۔ اُوس زما دپاره ددے نه سویٰ بله هیڅ چارهٔ نشته چه د الله تعالیٰ په تقدیر باندے د صبر جمیل نه کار واخلم، او الله تعالیٰ نه مدد وغواړم چه هغه ستاسو دروغ رابښکاره کړی او د یوسف صحیح سالم ژوندے موندل رابښکاره کړی۔
شیطان انسان ته چل ښائی لیکن نیمګړے، دے دپاره چه بیرته پکښې ګیر شی۔
**بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ** : تسویل ښائسته کولو د کار ته وائی۔ او نفس ته ئے نسبت ځکه وکړو چه کله وسوسه شیطان اچوی او کله نفس اَمَّارَه بِالسُّوْءِ۔ ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ﴾۔(ق:١٦) دے ته نفس مُسَوِّلَه او اَمَّارَه بِالسُّوْءِ وائی۔ یعنی ستاسو نفس کښې خباثت وو هغے درته حکم درکړو چه داسے چل جوړ کړئ۔
**فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ**: اَىْ فَاَمْرِىْ صَبْرٌ جَمِيْلٌ۔ زما کار صبر جمیل دے۔
یا فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ اَوْلٰى بِىْ۔ ما سره ښائسته صبر ډیر لائق دے۔ او همدا ظاهر احتمال دے۔
**فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ**: هغے ته وائی چه په هغے کښې شکایت مخلوق ته نهٔ وی۔ لیکن غوره دا ده چه صبر جمیل کښې درے شرطونه دی (١) اَنْ لَّا تُحَدِّثَ بِوَجْعِكَ ۔ خپل درد او تکلیف به چا ته نهٔ بیانوے۔ ځکه چه پدے سره په بل باندے بوج راځی۔
(٢) وَلَا تُزَكِّ نَفْسَكَ۔ د ځان صفائی او بړهائی به نهٔ بیانوی چه ما ډیر صبرونه کړیدی، که دا تکلیف په بل چا وے نو بے صبره کیدو۔
(٣) اَنْ يَّكُوْنَ لِلّٰهِ ۔ دا صبر به د الله تعالیٰ دپاره وی لکه روستو سورت کښې دی: ﴿وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ﴾۔ (الرعد: ٢٢) او دا دلیل دے چه په مصیبتونو باندے صبرونه کول د ټولو انبیاء علیهم السلام سنت دے۔
**وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ** : صبر ګران شے دے نو د الله تعالیٰ نه به پکښې مدد غوښتلے کیږی۔
بیا پلار دوی ته نور څه ونهٔ وئیل بلکه په داسے مقام کښې به د صبر نه کار اخستلے کیږی او علم غیب ورسره نشته، او نهٔ ورته الله تعالیٰ وحی کوی چه په فلانی کوهی کښې دے،

ورته راوباسه ځکه چه دلته امتحان کول مقصد دے په یعقوب علیه السلام او دارنګه په یوسف علیه السلام هم لکه دا ابتلاء د الله تعالیٰ عادت دے۔ په یعقوب علیه السلام باندے دا ابتلاء د ځوی په باره کښې وه او په یوسف علیه السلام باندے څلور قسمه ابتلاء ات وو،

یو دا چه کوهی ته ګوزار شو، دویم: غلامی پرے راغله، او دریم دا چه ښځے ترے د زنا مطالبه وکړه او دا سخته ابتلاء وه۔ بیا پرے بله ابتلاء د جیل راغله۔ کله چه ددے ابتلاء اتو نه ووتو نو الله تعالیٰ ورته بادشاهی ورکړه۔

| |
|---|
| وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ط |
| او راغله یوه قافله نو اُولیږلو هغوی مشکی خپل، نو زوړنده کړه هغه بوقه خپله |
| قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ط وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ط |
| نو وے وئیل اے زیرے دے، دا خو یو غلام دے، او پټ کړو دوی هغه لره دپاره د تجارت |
| وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ |
| او الله پو هه دے په هغه څه چه دوی کول۔ او خرڅ ئے کړو په پیسو کوتو روپئ لږے |
| مَعْدُوْدَةٍ ج وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزَّاهِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ |
| د شمار او وو دوی په هغهٔ کښې دے رغبتی کونکو نه۔ |

**تفسیر**: ددے ځای نه دویم مقام دے تر (۲۲) آیت پورے۔ د ورونو نور ظلمونه دی په غلام جوړولو د یوسف علیه السلام او بیا د هغه خرڅول لیکن ددے سره د الله تعالیٰ احسان هم ذکر دے چه یوسف ته ئے د عزیز مصر په کور کښې عزت او ځای ورکړو۔ او بیا ئے پرے د بلوغ نه روستو د نبوت او علم ورکولو احسان وکړو۔

مفسرین لیکی چه یوسف علیه السلام په کوهی کښې درے ورځے تیرے کړے نو یوه قافله چه د شام نه مصر طرف ته تلله، په دغه ځای تیره شوه، او د کوهی په خواؤ شا کښې ئے پړاؤ واچولو۔ وے کتل چه کوهے دے، د قافلے والو دپاره د اُوبو د تیارولو دکومو کسانو چه ذمه واری وه هغوی چه کله خپله بوقه کوهی ته ګوزار کړه نو یوسف هغه ونیوله، هغه چه وکتل نو هغه یو هلك وو۔ ډیر خوشحاله شو او یوسف ئے د تجارت سامان جوړ کړو او قافلے والو ته ئے ووئیل چه مونږ د کوهی والو نه دا اخستے دے۔ ددے حالاتو د مخے نه الله

تعالیٰ د آیت په آخر کښ د دهمکئ په توګه وفرمایل چه د یوسف ددے تمامو حالاتو نه د تیریدلو چه کوم خلق سبب وو الله تعالیٰ هغوی لره ښه پیژنی چه څنګه ئے کریم بن کریم بن کریم بن کریم ته د غلامئ طوق واغوستولو۔

وَارِدَهُمْ : وارد هغه چا ته وائی چه د قافلے دپاره اُوبه راوړی۔ یعنی مشکی۔

فَاَدْلٰی : زوړنده ئے کړه بوقه خپله۔ ددے مشکی نوم مالك وو۔

یٰبُشْرٰی : ځینی وائی : دا ئے ملګرے وو هغه ته ئے آواز وکړو، لیکن ظاهر دا ده چه بشریٰ زیری ته وائی۔ لکه خلك دغه شان موقعه کښ خوشخبریٔ ته آواز کوی۔ یعنی اے خوشحالیٔ دا ډیے وخت دے راحاضره شه۔ (فتح البیان)

هٰذَا غُلٰمٌ : د غلامیٔ نظام د جهاد نه پیدا کیږی چه کافر ونیولے شی او د هغه نه غلام جوړ کړے شی لیکن په دغه زمانه کښ د دوی جهاد نهٔ وو نو خلکو به ظلماً یو آزاد تن ونیولو او غلام به ئے ترے جوړ کړو لکه په عربو جاهلیت کښ هم دا طریقه رائج وه۔

او دا خلك تاجران وو په دے وجه د خپل مقصد (تجارت) ذریعه ئے وګڼړله چه دا به خرڅ کړو۔

مفسرینو لیکلی دی چه یوسف علیه السلام د ټولو هلکانو نه ډیر زیات ښائسته وو لکه حدیث کښ هم دی : [قَدْ اُعْطِیَ شَطْرَ الْحُسْنِ] (صحیح مسلم: ٤٢٩) هغه ته د دنیا نیمائی حسن ورکړے شوے وو۔ نو د هغه مخ ښائسته، ویښته ئے کوږئ، سترګے ئے غټے، اندامونه ئے برابر، سپین رنګ، پیړے متے او بازو او پونډئ، نرئ خیټه، وړوکے نوم والا وو، او کله چه به مسکے شو نو د غاښونو نه به ئے رڼړا پورته کیده او چه کله به ئے خبرے کولے نو د هغهٔ د مخامخ غاښونو نه به د نمر د شعلو په شان رڼړا راپورته شوه، هیچا د هغه صفت بیانولو طاقت نهٔ لرلو۔ (قاله کعب الاحبارؒ) (القرطبی وفتح البیان)

وَاَسَرُّوْهُ : پدے کښ دوه تفسیره دی (۱) یعنی قافلے والو پټ کړو چه دا خو ښکلے غلام دے څوك ئے رانه وانهٔ خلی، لکه دا د غل سری کار وی چه څوك ئے ترے وانخلی۔ (په لقطه کښ ضروری ده چه بنده به حال وائی، اعلان به کوی)

بِضَاعَةً : اَیْ وَجَعَلُوْهُ بِضَاعَةً۔ یعنی جوړ ئے کړو د هغه نه پنګه (سامان د تجارت)۔

(۲) ځینی وائی : پټ کړو ورونو د یوسف حال د یوسف لره او وے ګرځوو هغه لره سامان د تجارت۔ یعنی د یوسف ورونو به وخت په وخت دا ځای څارلو، نو پدے موقعه کښ دوی راغلل او په دے قافلے والو ئے دعوه وکړه چه دا خو زمونږ غلام دے، نو بیا ئے په هغوی

بانـدے پـه معمولي پیسو ورخرڅ کړو دے دپاره چه هغوی په اطمینان کښې شی چه غلام خو مونږ واخستو او ځان سره ئے ویسی۔ دا دواړه احتماله کیدے شی۔

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ : شـراء دلته د خرڅولو معنیٰ ده او پدے کښې هم د مخکښې په شان دوه احتـمـاله دی (۱) قافلې والو خرڅ کړو یوسف لره په ناقصو (کمو) پیسو او په هغې کښې بې رغبتـه وو ځـکه چه هغوی وویل چه دا یو غلام دے چه د خپل مالکانو نه راتښتیدلے نـو صبا به زمونږ نه وتښتی نو بس پیسے ترے ښې دی۔او بله دا چه دا د غلو طریقه ده چه قیمتی شے په معمولي پیسو خرڅوی۔او همدا ظاهر تفسیر ښکاری۔

او بـلـه دا چه الله تعالیٰ د یوسف علیه السلام سره د خلکو محبت او عشق نهٔ پیدا کولو دے دپاره چه د دغه خلکو د بد عملونو نه محفوظ شی۔ (احسن الکلام)

(۲) یا معنیٰ دا ده : ورونو د یوسف خرڅ کړو یوسف لره په قافلې والو باندے په معمولي پیسـو او پـه هـغـه کښې بې رغبتـه وو ځکه ئے خرڅولو، یا دا چه هغه پیسے ئے حرامے ګڼړلے ځکه پکښې بې رغبته وو۔

بَخْسٍ : ۱- نـاقـصے۔ ۲- حرامے۔ دلتـه دویمه معنیٰ غوره ده ځکه چه آزاد خرڅول حرام دی۔ (السیوطیؒ فی الاتقان)

بیـا د پـخـوا زمـانـے کـوټـه پیسـے هم چلیدلے خو قیمت ئے کم وو او پدے زمانه کښې کوټه پیسے نهٔ چلیږی۔

وائی چه د تاجرانو هغه قافله د مدین نه راغلے وه۔ د هغوی ملاقات د یوے بلے قافلے سره وشـو چه مصر ته روانه وه۔ هغوی یوسف لره ددے قافلے والو په لاس صرف په شل درهمو خـرڅ کړو، لکه چه امام احمدؒ، طبرانیؒ او حاکمؒ د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت کړیدے۔

او چـونـکـه یـوسف دوی تـه بـغیـر د څـه قیـمت نه ملاؤ شوے وو، او دوی نهٔ پیژندلو چه د مستـقـبـل کـوم عـظـیـم انسان دوی خرڅوی، پدے وجه دوی د قیمت پرواه کولو نه بغیر په یو څو ټکو باندے خرڅ کړو۔

| |
|---|
| وَقَالَ الَّذِي اشْتَرٰهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖٓ اَكْرِمِيْ |
| او ووئیل هغه سړی چه وائے خستلو دهٔ لره د مصر نه خپلے ښځے ته، عزت کوه |
| مَثْوٰهُ عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ |

| |
|---|
| د ځای د وسیدو ددهٔ کیدیشی چه فائده راکړی مونږ ته یا اُونیسو دهٔ لره د ځوی په ځائے |
| وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْاَرْضِ ز وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِيْلِ |
| او دغسے ځائے ورکړو مونږ یوسف ته په زمکه کښې او دے دپاره چه اُوښایو دهٔ ته تعبیر |
| الْاَحَادِيْثِ ط وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ وَلٰـكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱﴾ |
| د خوبونو، او الله غالب دے په کارونو خپلو لیکن ډیر د خلقو نه ئهٔ پو هیږی۔ |

**تفسیر** : د الله تعالیٰ لطف او کرم د یوسف سره شاملِ حال خو هر وخت وو چه د بے رَحمه ورونو د پنجے نه ئے وویستلو، بیا ئے د کوهی نه وویستلو او نوے ژوند ئے ورکړو، او اُوس د هغه خاص لطف او مهربانی وګورئ۔

کله چه یوسف علیه السلام مصر ته راوستے شو نو په مصر کښې د غلامانو میله لګیدلے وه، پدے کښې د مصر د خزانو وزیر (عزیز مصر) په کور کښې خدمتګار ته ضرورت وو (ددے عزیز نوم قطفیر وو او د بادشاه نوم ریان وو) نو هغه پدے ورځ میلے ته راوتلے وو نو یوسف علیه السلام ورله مخے ته ورغلو، دائے بیعه کړو او ښه قیمتی ئے واخستو، ځکه چه په هغه کښې ئے کمالات محسوس کړل، (دلته په مصر کښې خلکو د هغه قیمت پورته کړو) او خپل کور ته ئے راوستو او خپلے بی بی زلیخا ته ئے وویل چه ددهٔ د خوراك څکاك او ددهٔ د اُوسیدو ښه انتظام کوه، (اکرام ئے کوه) دے دپاره چه مونږ سره په جلتئ مانوس او اموخته شی او خپل ځان د خپلو په مینځ کښې محسوس کړی، ځکه چه زهٔ ددهٔ په تندی کښې د خیر او برکت آثار وینم، زما امید دے چه دا به زمونږ په کار راشی، یا به مونږ دا خپل ځوی ونیسو، ځکه چه زمونږ هیڅ اولاد نشته دے۔ او چه غټ شی نو زما ځای به ونیسی، او د وزارت کارونه به سنبال کړی۔

وائی چه یوسف چه کوم کار کولو په هغے کښې به کامیابیدو او د کله نه ئے چه د عزیز مصر په کور کښې قدم کیخودو د هغه په فصل او مال او تجارت کښې برکت پیدا شو۔

د یوسف سره چه د اول نه واخله تر اُوسه پورے څه وشو نو د الله په مرضئ سره وشو۔ او پدے وجه وشو چه الله تعالیٰ هغه د عزیز مصر کور ته ورسوی۔ بیا د زلیخا د جانب نه یوسف جیل ته لاړ شی، او الله تعالیٰ هغه ته د خوبونو تعبیر وښائی، او بیا هغه د بادشاه د خوب تعبیر بیان کړی او د وزارت کرسئ ته ورسی۔ دا د الله تعالیٰ فیصله وه چه بهر حال

به دده ضرور کیدل وو. لیکن اکثر خلق پدې حقیقت باندې یقین نهٔ لري. چه د الله تعالیٰ په فیصلو کښې هیڅوك مداخلت نشي کولے.

لِامۡرَاَتِهٖٓ: ددې خپل نوم راعیل یا راحیل وو او لقب ئې زلیخا وو.

اَكۡرِمِیۡ مَثۡوٰىهُ : یعني ځای د وسیدو ددهٔ او اکرام ئې دا دې چه د هغه خوراك مزیدار او جامې مزیدارې وي، او دا کنایه ده د ډیر اکرام کولو نه.

عَسٰۤی اَنۡ یَّنۡفَعَنَاۤ: یعني خاص د کورنۍ فائدې یا عامې ملکي فائدې به راکړي مونږ سره به په کارونو کښې مدد کوي. دې ته فراست (هوښیارتیا) وائي چه الله تعالیٰ د عزیز په زړهٔ کښې اچولے وو.

اَوۡ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا: د عزیز مصر بچي نهٔ پیدا کیدل، شنډ وو، نو وې وئیل چه دا به د خپل بچي په ځای ونیسو چه زمونږ د مرګ نه پس به د مملکت (وزارت) کارونه دې سنبال کړي، او همدغه شان وشوه چه دهٔ ته ئې فائده ورکړه، یو خو دا چه دا خلك د یوسف علیه السلام په وجه مؤمنان شو دا خو مره لویه فائده ده، او بل ئې په آخر کښې وزارت هم دهٔ ته وسپارلو.

یو ماشوم بچې چا ته د خدمت دپاره ورکول جائز دي چه مثلاً د یو عالِم یا د یو مشر خدمت وکړي او هغهٔ ئې د ځوی په شان وګڼړي لیکن پدې شرط چه د اسلام حدودو کښې به دننه وي یعني ددهٔ ښځه او لونړه به ترې ستر او پرده نهٔ ماتوي.

وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا : اَیۡ مِثۡلَ ذٰلِكَ التَّمۡكِیۡنِ الۡبَدِیۡعِ مَكَّنَّا ۔ یعني د دغه ناشنا ځای ورکولو په شان چه هغه د ورونو نه خلاصول او د کوهي نه راویستل او د عزیز زړه راماپله کول وو. (فتح)

مَكَّنَّا : اَیۡ جَعَلۡنَا لَهٗ مَكَانَةً عَالِیَةً فِیۡ اَرۡضِ مِصۡرَ ۔ (المنار) مونږ وګرځوله هغه له اُوچته مرتبه په زمکه د مصر کښې.

وَلِنُعَلِّمَهٗ: یعني دې دپاره چه مونږ دهٔ ته نبوت ورکوو او د خوبونو تعبیر به ورته ښایو او ددهٔ نه یو لوی کار اخلو. او دا عطف دې په پټ فعل باندې اَیۡ لِنُكۡرِمَهٗ وَلِنُعَلِّمَهٗ ۔ دې دپاره چه مونږه ئې اکرام وکړو او تعلیم ورته ورکړو.

لَا یَعۡلَمُوۡنَ: اکثر خلك نهٔ پو هیږي چه ټول کارونه د الله تعالیٰ په لاس کښې دي. او پدې کښې اشاره وه چه ورونو د یوسف ډیر کوشش وکړو چه یوسف ښکته کړي لیکن ښکته ئې نکړو بلکه عزت ورته ملاؤ شو نو دغه شان قریش ډیر کوشش د رسول الله ﷺ د ښکته کولو کوي لیکن دوی به ذلیله کیږي، ځکه چه الله تعالیٰ د خپل رسول د غلبې او عزت

اراده کړیده۔

| |
|---|
| وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا |
| او هرکله چه اُورسیدو دے ځوانئ خپلې ته نو ورکړو مونږ دهٔ ته علم د فیصلو |
| وَّعِلۡمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۲۲﴾ |
| او پو هه د دین، او دغسې بدله ورکوو مونږ ښائسته عمل کونکو ته۔ |

**تفسیر**: پدے کښې په یوسف علیه السلام باندے بل احسان ذکر کیږی۔

د ابن عباسؓ د قول مطابق کله چه هغه د دریے دیرشو کالو شو۔

او د عکرمهؒ د قول مطابق د پنځه ویشتو کالو شو۔ دلته ئې ډیره موده تیره کړه نو بلوغ ته ورسیدو او دلته ئې ورسره (وَاسۡتَوٰیٓ) ونهٔ وئیلو لکه څنګه ئې چه د موسیٰ علیه السلام په باره کښې وئیلی وو ځکه هلته د حکم نه مراد نبوت وو چه هغه غالباً څلویښت کاله روستو ملاویږی او یوسف علیه السلام لا دے عمر ته نهٔ دے رسیدلے۔ (المنار وفتح البیان)

اَشُدَّهٗ: اشد جمع د شِدَّةٌ ده، لکه نِعۡمَةٌ او اَنۡعُمٌ۔ (سیبویهؒ)

یا جمع د شُدٌّ ده په وزن د قُفۡلٌ۔ (کسائیؒ)

د اشد نه مراد هغه وخت دے چه د بندهٔ قوت کامل شی چه د هغې نه روستو نقصان شروع کیږی۔ (فتح) دلته مراد ځوانی او د قوت وخت دے۔

حُكۡمًا : د حکم نه مراد د فیصلو علم دے او د رازونو علم دے او علم عام دے۔ یا حکم هغه علم ته وائی چه الهامی وی او علم نه مراد علم لدنی او فکری دے۔ (المنار)

نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ: پدے کښې ترغیب دے چه څان کښې احسان پیدا کړئ نو الله به تاسو ته هم علم او حکمة درکړی، د علم او د حکمة د حاصلولو لوی سبب احسان دے، یعنی کامل نیکو کار شه الله تعالیٰ به ناشنا علمونه درکړی۔

ابن جریر طبریؒ وائی چه ﴿وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ﴾ کښې اګرکه د هر نیکی کونکی دپاره د الله تعالیٰ وعده ده چه هغه به ورته ښائسته بدله ورکوی، لیکن دلته مقصود نبی کریم صلی الله علیه وسلم دے چه دهٔ ته به الله تعالیٰ د مکې د مشرکانو نه نجات ورکوی او په دوی به غلبه ورکوی۔

| |
|---|
| وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ |
| او مطالبه اُوکړه دده نه هغه ښځې چه دا د هغې په کور کښې وو په باره د نفس دده کښې |
| وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ |
| او بندے ئے کړے دروازے او وے وئیل دلته راشه تا ته وایم، اُووئیل هغه پناه غواړم |
| اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّيْٓ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ؕ |
| په الله یقیناً دا رب زما دے چه ښائسته کړے ئے دے ځائے د اُوسیدو زما، |
| اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾ |
| یقیناً نشی کامیابیدے ظالمان۔ |

**تفسیر** : ددے ځای نه دریم مقام دے تر (۲۹) آیت پورے۔ پدے کښې په یوسف علیه السلام بانـدے دینـی ابتـلاء ذکر کیږی د طرفه د ښځے د عزیز مصر نه په ډیرو طریقو سره۔ د هغے طلب کول او دروازے بندول او یوسف علیه السلام تـه د فـحاشئ دعوت ورکول او کلکه اراده کول او په هغه پسے منډه وهل، د هغهٔ قمیص شلول او په هغهٔ باندے تهمت لګول ذکر دی۔
بیا ذکر د احسان د الله تعالیٰ دے په یوسف علیه السلام بانـدے د هغه په پاکدامنئ ښکاره کولو سره چه یو شاهد ورله فیصله وکړه۔
او ددے آیت ربـط د مخکښې آیت سره دا دے چه پدے کښې د یوسف علیه السلام احسان بیانوی چه د هغه په ډیر سخت ځای کښې په الله تعالیٰ باندے نظر لګیدو ځکه چه محسن هغه چا ته وائی چه هر وخت ئے د الله تعالیٰ په ذات باندے نظر لګی او د هغه حکم ته فکر کوی۔
وَرَاوَدَتْهُ : مـراوده په نرمئ سره طلب او اراده کول د یو شی ته وائی۔ او دلته ترے مراد په تـګـئ او چـالاکـئ او چل ول سره ځان ته مائله کول دی۔ نو په مراوده کښې معنیٰ د دهوکے پرتـه ده ځـکـه چـه طلب کونکے شخص د شی په طلب کښې داسے نرمی کوی لکه دهوکه ورکونکے او د هغه په شان حرص کوی۔ (المنار)
بـعـض مـفسـریـنو لیـکـلـی دی چـه هغے ښځے دده د ویختو صفت وکړو نو هغه جواب ورکـړو چـه پـه مـرګ سره دا د انسان نه اول دوریږی، بیا هغے د سترګو صفت وکړو نو هغه وویـل چـه پـه قبـر کـښې دا اول پـه مـخ بـانـدے رابهیږی، بیـا هـغے وویل چه ستا دا مخ ډیر

ښائسته دے نو هغه ووئیل چه دا هم د خاورو دپاره دے، دا ټولے حیلے کول دیته مراوده وئیلے شی۔ او مراوده د دواړو طرفونو نه طلب کولو دپاره استعمالیږی، نو زلیخا طلب د بد کارئ کولو او یوسف علیه السلام طلب د ځان بچ کولو کولو۔

**الَّتِیْ هُوَ فِیْ بَیْتِهَا**: مسند الیه ئے په اسم موصول سره ذکر کړه پدے کښې د یوسف علیه السلام زیات تاکید د پاکئ ته اشاره ده چه دا یوه عامه زنانه نۀ ده بلکه دا هغه زنانه ده چه یوسف ئے په کور کښې خادم وو او دا ئے سرداره وه، بیا ښۀ مامون ځای دے، او بیا د خپل حسن او جمال مظاهره هم کوی دے دپاره چه هغه په خپل ځان کښې دلچسپی اخستو باندے راپورته کړی لیکن په یوسف علیه السلام باندے دے تمامو حربو هیڅ اثر ونکړو نو ډیر پاکدامن شخص وو۔ یوه عامه زنانه نۀ ده، بیا په کور کښې دننه او بیا ښائسته منصبداره زنانه او بیا مطالبه هم د هغے طرفنه ده، او یوسف علیه السلام غلام هم دے، مسافر هم دے۔ نو دا ټول د یوسف علیه السلام د کاملے پاکدامنئ دلائل دی۔

او دلته ئے د هغے نوم وانخستو دپاره د پردے اچولو په هغے باندے، او بل دا چه د زنانه نوم ذکر کول عرب قبیح ګنړی۔

**وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ**: دا شاهی محل وو نو ډیرے دروازے ئے وے، هغه ټولے ئے بندے کړے۔ وئیلی کیږی چه هغے د داسے کولو نه مخکښې د سختے یرے او د ډیر احتیاط په وجه اُوه دروازے بندے کړے، دے دپاره چه هغه ځای پورے د چا د رسیدلو ګمان هم ونشی۔ د یوسف د پاکدامنئ دا هم یو عظیم دلیل دے چه زلیخا د انسانانو نه د یرے کولو هیڅ یو عذر هم باقی نۀ وو پریخے۔ ددے باوجود د هغه په زړه کښې د ګناه خیال تیر نۀ شو۔

**وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ**: اَیْ هَلُمَّ وَاَقْبِلْ وَبَادِرْ۔ راشه او متوجه شه او جلتی وکړه۔ (المنار) لَكَ ئے ورسره زیات کړو دپاره د تاکید د خطاب۔ یا لَكَ معنیٰ ده أَقُوْلُ لَكَ۔ یعنی تا ته وایم۔

**هَيْتَ**: اسم فعل دے په معنیٰ د تَعَالَ او اَقْبِلْ سره۔ (یعنی راشه، رامخامخ شه)

مجاهدؒ وئیلی دی چه دا عربی کلمه ده، په څه کار باندے د تیزئ ورکولو دپاره استعمالیږی۔

**قَالَ مَعَاذَ اللهِ**: یوسف علیه السلام د هغے په جواب کښې ووئیل چه زۀ ستا ددے ګناه د دعوت نه د بچ کیدو دپاره په الله پناه غواړم، ځکه چه دا خو زنا، لوئی جرم، په امانت کښې خیانت او د احسان کوونکی ناشکری ده۔

**مَعَاذَ**: اَیْ اَعُوْذُ مَعَاذَ اللهِ۔ په الله پورے پناهی طلب کوم۔ په ځان اعتماد نکوی۔

اِنَّهٗ رَبِّیْٓ : او هغه ددے لوی ګناه نه د ځان ساتلو دپاره ددے خیانت سخت ترین قباحت بیان کړو وے وئیل چه تا ته معلومه ده چه ته ما د چا په خلاف په خیانت باندے راپورته کوے؟ هغه زما آقا عزیز مصر دے چه هغه هر قسمه زما خیال کړیدے، نو اُوس ما دپاره دا څنګه مناسب دی چه د هغه په عزت لوبے وکړم۔

دویم تفسیر دا بیان شویدے چه د «انه» ضمیر الله ته راجع دے. یعنی زما رب خو په باندے لوی احسان کړیدے، چه د کوهی نه ئے دلته راوستم او عزیز مصر ته رارسولو سره ئے زما تمامے پریشانئ لرے کړے، که ما داسے وکړل نو زهٔ به ظالم یم، او ظالم کله هم نهٔ کامیابیږی۔ دا دلیل دے چه د رب اطلاق په غیر الله باندے جائز دے پدے شرط چه مطلق نهٔ وی او اضافتِ عامه نهٔ وی لکه رب العالمین او رب الناس ځکه چه دا د الله پورے خاص دے۔

| |
|---|
| وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ج وَهَمَّ بِهَا |
| او په تحقیق سره کلك قصد کړے وو دے د هغهٔ، او قصد به کړے وے هغهٔ ددے |
| لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ط كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ |
| که نهٔ وے لیدلے هغه دلیل رب خپل، دغسے (اُوساته مونږه) دے دپاره چه واړوو ددهٔ نه |
| السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَاءَ ط اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٢٤﴾ |
| بدی او بے حیائی، یقیناً دا د هغه بندګانو زمونږ نه وو چه بچ ساتلے شویدی۔ |

**تفسیر** : په عربی ژبه کښې «هَمْ» په دوه معنو استعمالیږی۔ یو داسے قصْد او اراده چه د هغے سره د ګناه کولو عزم وی او زړهٔ دغسے کول غواړی، دیته هم اصرار وائی، ددے نښه دا وی چه بدن ته د هغے د حاصلولو حرکت ورکوی او لاس اچوی، دا مذموم (بد) هَمْ دے۔ او پدے باندے به رانیول کیږی، لکه دا په ﴿وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ﴾ (توبه: ١٣) ﴿وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا﴾ (توبه : ٧٤) کښې راغلے دے۔

او دویم هغه خیال چه د انسان په ذهن کښې پیدا خو شی، لیکن د هغه دکولو عزم ونهٔ مونده شی۔ دیته هَمُ خَطَرات وائی، په داسے خیال باندے نهٔ رانیول کیږی۔

بخاریؒ او مسلمؒ او اهل سنن د ابو هریره ﷛ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل

: ((الله تعالیٰ زما امت ته هغه خیال معاف کړیدے چه هغه په زړهٔ کښې تیریږی ترڅو پورے چه هغه په ژبه رانهٔ ولی یا هغه ونکړی)). (بخاری : ۲۵۲۸)

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ: یعنی زلیخا دروازے بندولو سره یوسف ته د ګناه دعوت ورکړو، نو هغے د یوسف سره د یوځای کیدو پخه اراده کړے وه. ددے هم په درجه د عزم کښې وو.

وَهَمَّ بِهَا : پدے جمله کښې د مفسرینو دوه قوله دی (۱) یو قول دا دے چه په (وَهَمَّ بِهَا) باندے خبره ختمه شوه او د (لَوْلَا اَنْ رَّاٰیٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ) جزاء پټه ده.اَیْ لَوَقَعَ بِهَا.

نو معنیٰ به دا وی چه د یوسف علیه السلام په زړه کښې زلیخا تیره شوه خو که دلیل د رب ئے نهٔ وے لیدلے نو هغے سره به واقع شوے وے. لیکن الله تعالیٰ ئے حفاظت وکړو.

فخر الدین رازیؒ او مفسر ابو السعودؒ وائی چه د بشری تقاضے او د فطری رجحان مطابق د یوسف میلان زلیخا طرف ته شوے وو، لیکن په زړهٔ کښې ئے اراده نهٔ وه پیدا شوے، یعنی دا غیر اختیاری قصد دے. او داسے فطری میلان سره د نبی په عصمت کښې هیڅ فرق نهٔ راځی لکه یو روژه دار چه په سخته ګرمئ کښې د اُوبو سکلو خواهش کوی نو د هغه دین هغهٔ لره د هغے نه منع کوی. بلکه په داسے وخت کښې د انسان اجر زیاتیږی. لیکن دا تفسیر دومره ظاهر نهٔ دے نو مرجوح دے ځکه چه یو خو پدے کښې تقدیر ته ضرورت راغے چه خلاف الاصل دے. او بل دا چه دلته خو د یوسف علیه السلام د احسان بیان دے چه د هغه نظر صرف په الله تعالیٰ لګیدو.

(۲) دویم تفسیر دا دے چه (وَهَمَّ بِهَا) جمله په اصل کښې مؤخر ده خبر دے دپاره د لَوْلَا. تقدیر داسے دے : لَوْلَا اَنْ رَّاٰیٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ لَهَمَّ بِهَا.

که چرته یوسف علیه السلام د خپل رب برهان ایمانی نهٔ وے لیدلے او د زنا قباحت او بدی د هغهٔ په زړه او دماغو کښې نهٔ وے ناست لکه ګویا که چه د هغے بد شکل دے په خپلو سترګو سره وینی نو هغه به هم داسے اراده کړے وے لیکن د هغه په زړه کښې د هغے خیال هم تیر نشو. او دا غوره تفسیر دے، لکه مخکښې د معاذ الله او روستو د ﴿وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ﴾ نه هم معلومیږی.

صاحب د محاسن التنزیل، شیخ الاسلام ثناء الله امرتسریؒ، مولانا ابوالکلام آزادؒ، مولانا ابو الاعلیٰ مودودیؒ او صاحب المنار (محمد رشید رضاؒ) وغیره مفسرینو همدا تفسیر راجح کړیدے. صاحب المنار پدے مقام کښې ډیر ښه اُوږد بحث لیکلے دے.

## دا برهان څه شے وو؟

مفسرینو پدے باب کښې ډیر مختلف اقوال ذکر کړیدی چه هیڅ دلیل پرے د قرآن او حدیث نه نشته۔ ۱- څوك وائی چه د یعقوب ﷺ صورت ورته راښکاره شو عَاضًا عَلٰی شَفَتَیْهِ۔ چه په دواړو شونډوئے چك لګولے وو۔ (قتادهؒ)
دا خبره بعیده ده ځکه چه دا خو بیا د الله تعالیٰ برهان نشو بلکه د انسان نه شرمیدل شو، نهٔ د الله تعالیٰ نه۔
۲- ځینی مفسرین لیکی چه زلیخا پدے وخت کښې خپل بت پټ کړو نو یوسف ترے تپوس وکړو چه دا ولے ؟ هغے وویل چه زهٔ ددے نه شرمیږم نو هغه ورته وویل چه تهٔ د بت نه شرمیږے نو زهٔ د الله تعالیٰ نه شرمیږم (فتح البیان)
نو دا خبره هم ظاهر نهٔ ده۔ بلکه بی دلیله ده۔
۳- ظاهر دا ده چه د الله تعالیٰ برهان دا وو چه هغه ته د زنا قباحت په زړه کښې حاضر وو چه زنا انتهائی بد شے دے، انسان پرے د الله تعالیٰ نه وړاندے کیږی او الله تعالیٰ پرے ناراضه کیږی۔ او دا هم دلیل دے په ترجیح د دویم تفسیر باندے۔ فتدبر۔
صاحب د تیسیر الرحمن وائی چه په قرآن کښې یوه کلمه هم داسے نشته چه په هغے سره ادنیٰ شان اشاره کیږی چه د یوسف په زړهٔ کښې زلیخا طرف ته میلان پیدا شوے وو۔
او کومو مفسرینو چه د هَمّ په باره کښې لیکلی دی چه ازار بندئے پرانستلو او نزدے شو نو دا ټول اسرائیلی روایات دی چه د (هِیَ رَاوَدَتۡنِیۡ) او (شَهِدَ شَاهِدٌ) نه خلاف دی، او محققینو مفسرینو پدے باندے رد کړیدے۔
السُّوْٓءَ: سوء قبیح کار دے او فحشاء زنا ده۔ (بغویؒ) یا سوء وړه ګناه ده چه مثلًا لاس ئے ورسره ولګی، او فحشاء غټه ګناه ده چه د هغے اراده پوره کړی۔ دا دواړه ترے الله تعالیٰ واړول وجه دا وه :
اِنَّهٗ مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُخۡلَصِیۡنَ: ځکه چه دے د هغه بندګانو نه وو چه الله تعالیٰ د خپل رسالت دپاره چاڼ کړے وو۔ صاحب د فتح البیان وائی : دائے جمله اسمیه راوړه یعنی دے د مخلَصینو په ډله کښې د مخکښې نه داخل وو، فَانۡحَسَمَ مَادَّةُ احۡتِمَالِ صُدُوۡرِ الۡهَمِّ بِالسُّوۡءِ مِنۡهُ عَلَیۡهِ السَّلَامُ بِالۡکُلِّیَّةِ۔ نو د ګناه د ارادے احتمال د هغه نه بیخی ختم شو۔

## فوائد الآیة

۱- بیان د احسان د یوسف ؑ چه په داسے مشکل ساعت کښې ئے هم په الله تعالیٰ باندے نظر لګیدو، چه ښه ځواني ئے هم ده او مسافر هم دے چه د بنده په سفر کښې د خپلو خپلوانو نه یره هم نهٔ وي. دریم دا چه زنانه ترے مطالبه کړیده. بله دا چه دا زنانه د ښه منصب والا هم ده چه ځوك ورته څه وئیلے هم نشي. او جمال والا هم ده. او د یوسف خپله ورینځه او ښځه هم نشته نو پدے مشکل وخت کښې ځان ساتل انتهائي پاکدامني ده، او دا د ډیراستحضار د رب العالمین او د هغه د مهربانۍ نه بغیر نهٔ کیدونکے کار دے. پدے وجه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه په اُوه کسانو کښې به د عرش د سوري لاندے یو هغه شخص هم ولاړ وي چه دیو منصب او جمال والا زنانه ورته د زنا دعوت ورکړي او دے روائي چه زهٔ د الله نه یریږم. (بخاري ومسلم) ځکه چه دا کار ډیر ګران دے.

۲- الله تعالیٰ د صالحینو حفاظت کوي. کله چه یو سړے د ګناه نه ځان بچ کوي نو الله تعالیٰ هم ورسره مدد کوي، زړه ئے الله تعالیٰ خپل ځان ته صفا کوي.

۳- المخلصین کښې دوه قراء ته دي، یو صیغه د اسم مفعول ده یعني چاڼ کړے شوے. دویم صیغه د اسم فاعل (مخلِص) اخلاص کونکے. یعني د اخلاص په ذریعه الله تعالیٰ بچ وساتلو.

٤- د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه تپوس وشو چه یو تن به د عشق د مرض نه څنګه خلاصیږي؟ نو هغه وفرمایل: نکاح دِے وکړي، د ښځے تذکرے دِے ډیرے نهٔ کوي. د هغے خواله او کلي ته دِے نهٔ ورځي، د الله تعالیٰ نه دِے دعاګانے غواړي، او په ځان کښې دِے اخلاص پیدا کړي، ځوك چه خالص د الله تعالیٰ دپاره بندګي کوي نو الله تعالیٰ د هغه زړه خپل ځان دپاره صفا کوي نو داسے شخص په زناګانو کښې نهٔ واقع کوي.

| |
|---|
| وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهٗ مِنْ دُبُرٍ |
| او دواړو منډه کړه دروازے ته او څیری کړو هغے قمیص ددهٔ د شا طرف نه |
| وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ |
| او اُوموندلو دواړو خاوند د ښځے د دروازے سره، اُووئیل دے نهٔ ده سزا د هغه چا چه |

اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾

اراده لري د ښځې ستا سره د بدكارئ مګر دا چه جيل ته اوچولے شي يا عذاب دردناك دے

**تفسیر** : د زليخا هَمُ عمل درجے ته ورسيدو، هغه دا چه يوسف عليه السلام ته ئے لاس ور واچولو نو يوسف عليه السلام ترے منډه كړه او دا وريسے وه دے دپاره چه رامنع ئے كړي تردے چه دروازے ته ورسيدل خو زليخا يوسف لره د هغه د قميص نه راونيولو چه راستون ئے كړي ليكن هغه مخكښ زور كولو تردے چه قميص ئے پرے وشو كولو۔

دلته باب مفرد استعمال شويدے، ځكه چه ددے نه مراد هغه بهرنئ دروازه ده چه د هغے نه په وتلو يوسف ته نجات ملاويدو۔ يوسف عليه السلام چه كله منډه ووهله نو زليخا د شا ته نه د هغه قميص راونيولو، او د دواړو طرف نه راخكلو كښ قميص خيرى شو۔

كله چه دواړه دروازے ته ورسيدل نو عزيز مصر راغلو وے ليدل۔ ښځے فوراً حالت بدل كړو او وے وئيل چه كوم سړے ستا د ښځے سره د بدئ نيت لري هغه خو يا جيل ته اچول پكار دي يا بله كومه سخته سزا وركول پكار دي۔

**وَّ اَلْفَيَا** : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه زنا بنده په پټ ځاى كښ كوى ليكن الله تعالىٰ ئے راښكاره كوى لكه دا عزيز به مخكښ پدے وخت كښ نهٔ راتللو ليكن الله تعالىٰ په دوى باندے راوستو، كه څه وخت دپاره پټ شي خو روستو به راښكاره كيږي۔

**سَيِّدَهَا** : مصريانو به د ښځے خاوند ته سيّد وئيلو او تر اُوسه پورے پكښ دا اصطلاح راروانه ده۔ او (سَيِّدَهُمَا) ئے ونهٔ ويل ځكه چه د يوسف غلام جوړول صحيح نهٔ وو بلكه غير شرعي وو نو دے ئے سيّد نهٔ وو۔

زيد بن ثابت رضی اللہ عنه فرمائي : اَلزَّوْجُ سَيِّدٌ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ۔

خاوند ته د الله تعالىٰ په كتاب كښ سيد (سردار) وئيلے شويدے۔

او ددے نه معلوميږي چه ښځه باندے د خاوند خدمت لازم دے۔

**قَالَتْ** : دا د ښځے په خپل ځان باندے پرده اچول او يوه حيله جوړول دي چه د خپل عمل نسبت ئے يوسف ته وكړو، او په هغه ئے بدنامه ولګوله چه دهٔ زما نه د بدئ اراده كړيده۔

دا د عشق مجازي نتيجه وي چه په سخته كښ ترے انكار كوي، كه خواهش ئے پوره كيږي نو مينه ئے وي او كه نهٔ پوره كيږي نو بيا ئے دشمن وي، او د الله تعالىٰ دپاره محبت په هرڅو مره سخته كښ بنده نهٔ پريدي۔

مَا جَزَآءُ : مَا یا استفهامیه ده یعنی څه سزا ده؟ بیا ئے د خپل تپوس خپله جواب ورکړو چه جیل ته دے واچولے شی یا دے ورته بل دردناك عذاب ورکړے شی چه دهٔ ته ادب ورکړی او په خبره منلو ئے آماده کړی۔ (المنار)

دے سزا مقرر کړه او خاوند ته ئے ونهٔ سپارله ځکه چه د هغوی د زنا دپاره څه قانون نهٔ وو، یا وو خو ددے هغه قانون نهٔ پیرزو کیدو ځکه چه پدے وخت کښې ئے هم د یوسف علیه السلام سره محبت باقی وو۔

صاحب المنار وائی : پدے خبره کښې د ښځے د خپل خاوند سره چل کول او هغه دهوکه کول وو په ډیرو طریقو سره (۱) اول دا چه خاوند ته دا خیال کښې اچول چه یوسف پدے باندے تیرے کړیدے پداسے عمل چه خاوند هم خفه کوی او دا هم۔

(۲) دویم دا چه دے د یوسف څه جرم ذکر نکړو دے دپاره چه د خاوند غصه په هغه باندے زیاته نشی چه ددے د ارادے نه بغیر ورله بله سزا ورنکړی لکه خرڅ ئے نکړی۔

(۳) دریم دا چه پدے کښې یوسف ته دهمکی ورکول او هغه یره ول دی چه ددهٔ اختیار ددے په لاس کښې دے دپاره چه یوسف ورته عاجزی وکړی او تابعداری ئے شروع کړی۔

(تفسیر المنار)

صاحب د فتح البیان لیکی : جیل ئے مخکښې ذکر کړو (ځکه چه ددے محبت ورسره په زړه کښې باقی وو) او محب نهٔ غواړی چه محبوب ته درد ورسوی، او ددے د جیل نه مراد دا وو چه دا ډیے ددے سره یوه ورځ یا دوه ورځے ایسار کړے شی۔ او ددے اُوږد جیل اراده نهٔ وه۔

خازنؒ وائی : دا یوه لطیفه (یعنی باریکه نکته) ده چه ځان پرے پو هه کړه۔

ابن الخطیبؒ لیکی چه د همیشه جیل دپاره داسے لفظ نهٔ استعمالیږی بلکه د هغے دپاره (یَجِبُ اَنْ یُّجْعَلَ مِنَ الْمَسْجُوْنِیْنَ) لفظ مناسب دے لکه فرعون چه موسیٰ علیه السلام ته وئیلی وو ﴿لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِیْنَ﴾ (الشعراء : ۲۹) (زهٔ به تا د جیلیانو نه وګرځوم۔

ابو السعودؒ وائی : خپل ځان ئے په (اَهْلِكَ) سره ذکر کړو پدے کښې ددے کار لوی والے ښکاره کول مقصد وو او خاوند لره غیرت وراچول وو چه ستا د اهل سره ئے غلطه اراده کړیده، آه۔ او داسے ئے ونهٔ وئیل چه یوسف یو د دوه کارونو سره مخامخ کول پکار دی بلکه هغه ئے په کلی توګه ذکر کړو (مَنْ اَرَادَ) دے دپاره چه خپل محبوب د بد ذکر نه محفوظ کړی۔ (فتح البیان)

او چیل ئے ځکه ذکر کړو چه کله جیل ته لاړ شی نو ملاقات ئے آسان وی، کله نا کله به

ئے خو وینی او کیدے شی چه بیا ورته په لاس ورشی۔

| |
|---|
| قَالَ هِیَ رَاوَدَتْنِیْ عَنْ نَّفْسِیْ وَشَهِدَ |
| اُووئیل یوسف (علیه السلام) دے مطالبه کړیده ما نه په باره د نفس زما کښې او ګواهی اُوکړه |
| شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا ج اِنْ کَانَ قَمِیْصُهٗ قُدَّ |
| یو ګواهی ورکونکی د کورنئ د هغے نه، که وی قمیص ددهٔ چه خیری شوے وی |
| مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْکٰذِبِیْنَ ﴿۲۶﴾ وَاِنْ کَانَ قَمِیْصُهٗ |
| د مخے طرف نه نو ښځه رښتیا وائی او سړے د دروغجنو نه دے۔ او که وی قمیص ددهٔ |
| قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَکَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۲۷﴾ |
| چه خیری شوے وی د شا طرف نه نو ښځه دروغ وائی او سړے د رښتینو نه دے۔ |
| فَلَمَّا رَاٰ قَمِیْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ |
| نو هرکله چه اُولیدو هغهٔ قمیص ددهٔ چه خیری شوے وو د شا طرف نه وے وئیل یقیناً دا |
| مِنْ کَیْدِکُنَّ ط اِنَّ کَیْدَکُنَّ عَظِیْمٌ ﴿۲۸﴾ یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا سکتة |
| د مکر ستاسو نه دے یقیناً مکر ستاسو لوئی دے۔ اے یوسفه! مخ واړوه ددے خبرے نه (د |
| وَاسْتَغْفِرِیْ لِذَنْۢبِكِ ج صلے اِنَّكِ کُنْتِ مِنَ الْخٰطِئِیْنَ ﴿۲۹﴾ |
| خورولو) او (اے ښځے) بخنه غواړه د خپلے ګناه، یقیناً ته ئے د خطاکارو نه۔ |

**تفسیر** : قَالَ هِیَ رَاوَدَتْنِیْ : یوسف علیه السلام د هغے تکذیب کولو او د خپل ځان نه د تهمت دفع کولو دپاره ئے وفرمایل: چه دے ما نه د ګناه مطالبه کړے وه، نو ما د هغے نه انکار وکړو او وتختیدم۔ علماء فرمائی: دفع د تهمت د خپل ځان نه واجب ده۔

وَشَهِدَ: د عزیز مصر دپاره د معاملے حقیقت ته رسیدل مشکل شو ځکه چه دواړو طرفنه دعوے وشوے۔ نو د یوسف علیه السلام د براءت دپاره الله تعالیٰ ددے ښځے یو خپلوان فیصله وکړله چه که د یوسف قمیص د مخکښې نه خیری وی نو ښځه به رښتینی وی او هغه به دروغجن وی، او که د هغه قمیص د روستو نه خیری شوے وی نو ښځه به دروغجنه وی او یوسف به رښتینی وی۔ کله چه عزیز ولیدل چه قمیص د روستو نه

ځیرې دے نو د معاملے بیخ ته ورسیدو چه ددهٔ ښځے یوسف لره په ګناه باندے مجبوره کول غوختلی وو.

## شاهد څوك وو؟

پدے شاهد کښې څلور اقوال مفسرینو نقل کړیدی. څوك وائی چه دا یو ماشوم وو چه اُوس ئے خبرے شروع کړے او پدے باره کښې ئے یو مرفوع روایت ذکر کړیدے چه «څلور کسانو په وړوکوالی کښې خبرے کړیدی: یو عیسیٰ ابن مریم، بل صاحب د جریج، بل شاهد د یوسف او بل ابن ماشطة فرعون». لیکن دا روایت نهٔ دے ثابت او صحیح روایت د بخاری کښې عیسیٰ ابن مریم او صاحب جریج او په بنی اسرائیلو کښې د یوے ښځے ځوی راغلے دے. دویم: قول: مجاهدؒ وائی دا یو مخلوق وو چه نهٔ انسان وو او نهٔ جنی وو، لیکن دا قول د (مِنْ اَهْلِهَا) نه غفلت دے. صحیح قول دا دے چه دا یو حکیم (هوښیار) عاقل بالغ ګیرے والا سړے وو چه عزیز مصر به ترے په کارونو کښې مشورے اخستے.

سدیؒ وائی چه دا د ښځے ترهٔ ځوی وو او بادشاه ورسره مشوره وکړه پدے کار کښې نو هغه دا رشتینی فیصله وکړه، دلته د شهادت نه مراد فیصله کول دی.

(القرطبی وفتح البیان والمنار)

اَهْلِهَا: ددے خپلوان ئے ذکر کړو دے دپاره چه د یوسف علیه السلام پوره نزاهت او پاکی ثابته شی چه د یوسف علیه السلام طرفداری به نهٔ کوی.

اِنْ کَانَ قَمِیْصُهٗ: دا فیصله په اعتبار د اَماراتو (نښو) سره وه چه زمونږ په شریعت کښې هم ددے مثالونه شته.

یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا: عزیز مصر چونکه معامله په پوره طریقه پیژندلے وه، پدے وجه ئے د یوسف علیه السلام سره د نهایتِ نرمئ اسلوب اختیار کړو او وے ویل چه اے یوسفه! دا خبره چا ته مهٔ بیانوه چه خلکو کښې خوره نشی. یا معنیٰ دا ده چه تا سره کوم زیاتے شویدے پدے هیڅ باك مهٔ کوه او څه اهمیت مهٔ ورکوه او د نظر نه ئے وارتوه ځکه چه ستا عذر ښکاره شو. بیا ئے ښځے ته خطاب وکړو:

وَاسْتَغْفِرِیْ لِذَنْۢبِكِ: یعنی د خپلے ګناه دپاره د الله نه بخنه وغواړه. (فتح) ځکه چه ټوله غلطی ستا ده، تا دے هَیْتَ لَكَ ته دهوکه ورکول غوختلی او اوس په دهٔ د تهمت لګولو کوشش کوے، پدے وجه د خپلے ګناه معافی وغواړه.

ځینې مفسرین وائي چه دا حکم کونکے عزیز نه وو بلکه دواړو ته حکم کونکے دغه شاهد (فیصله کونکے) وو.

او دلته ئے سکته وکړه ځکه چه عزیز مصر په ډیر خفګان کښ دے، نو د خولے نه ئے خبرے ډیر په مشکله راوځي.

کَیۡدِکُنَّ: مفسرین لیکي چه په دے مقام کښ دے عزیز مصر درے بی غیرته کارونه کړیدي یو دا چه (کَیۡدِکُنَّ) جمع صیغه راوړل ئے استعمال کړل چه دا په تعظیم باندے دلالت کوي حال دا چه دا مقام د سختو الفاظو دے.

دویم دا چه صرف زجر او رټنه ئے ورکړه حال دا چه دا مقام د سزا وو. پکار دا وه چه وهل ئے وے، صرف په حکم د استغفار باندے خو کار نهٔ کیږي. او ددے وجه دا ښکاره کیږي چه اکثر وزراء او اهل حکومت د خپلو ښځو نه کمزوري وي او د هغوی نه مجبوره وي.

حافظ ابن کثیرؒ وائي چه دهٔ خپله ښځه پدے وجه معذوره وګڼړله چه د یوے ښځے دپاره د یوسف جمال کتو سره صبر کول ډیر مشکل کار وو. کرخيؒ وائي چه په عزیز کښ د غیرت کمے وو. شهابؒ وائي چه دا د یوسف سره احسان کول وو (ځکه که عزیز غضبناك سړے وے نو یوسف ته به نقصان رسیدلے شو).

ابو حیانؒ وائي چه د مصر د زمکے همدا خاصیت وو. (ذکره فی المنار)

اِنَّ کَیۡدَکُنَّ عَظِیۡمٌ: د ښځو مکر ته ئے لوی ووئیلو ځکه چه د دوی مکر د ټولو انسانانو نه زیات وي، او مراد ته زر ځان رسولے شي چه د سړو په دے باب کښ دومره قدرت نهٔ وي ځکه چه د ښځو مکر باریك وي او زړهٔ پورے ډیر انبنلي او په نفس کښ زیات تاثیر کوي.

حفناويؒ وائي چه دا تعلق لري د امورو د جماع او د شهوت سره او مطلقاً عظیم نهٔ دے ځکه چه د شهوت او د جماع د باب نه علاوه د سړو د ښځو نه لوی کیدونه او مکرونه دي. (فتح البیان) په بل عبارت سره داسے هم وئیلے شي چه د ښځو مکر په سړو باندے لوی دے، ځکه چه سړے ترے زر متأثره کیږي، او د سړو نه لوی نهٔ دے.

دلته د ښځو مکر ته لوی ووئیل شو او په سورة النساء کښ ئے د شیطان مکر ته کمزورے وئیلے وو، هلته مونږ لیکلي وو چه د ښځو مکر په نسبت سره سړو ته لوی دے او د شیطان مکر په نسبت سره الله تعالیٰ ته کمزورے دے.

بعض علماؤ ددے آیت په ضمن کښ لیکلي دي چه زهٔ د ښځو نه د شیطان په نسبت زیات یریږم، ځکه چه الله تعالیٰ د شیطان په باره کښ وئیلي دي: ﴿ اِنَّ کَیۡدَ الشَّیۡطٰنِ کَانَ

ضَعِيْفًا ﴾ چه د شیطان سازش کمزورے وی۔ (نساء : ۷۶) او د ښځو په باره کښې ئے ویلی دی :﴿ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴾ چه (د ښځو سازش خطرناك وی)۔

او پدے وجه هم چه شیطان په پټه په زړۀ کښې وسوسه اچوی او ښځه خو مخامخ په سرو حمله کوی۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا عَنْ |
| او اُووئیل ښځو په ښار کښې چه ښځه د عزیز (مصر) مطالبه کوی د مرئی خپل نه په باره |
| نَّفْسِهٖ ج قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ط اِنَّا |
| د نفس د هغۀ کښې، یقیناً په پرده د زړۀ ددے کښې ننوتے دے مینه د هغه، یقیناً مونږ |
| لَنَرٰهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ |
| خامخا وینو دے لره په ګمراهئ ښکاره کښې۔ نو هرکله چه واوریدۀ دے ښځے (خبره شوه) |
| بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ |
| طعن د هغوی نو استازے ئے اُولیږلو د هغوی پسے او تیار ئے کړو هغوی لره |
| مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا وَّقَالَتِ |
| ځائے د تکیا ګانو او ورئے کړه هرے یوے ته د هغوی نه چاړه او وے وئیل ئے (یوسف ته) |
| اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ج فَلَمَّا رَاَيْنَهٗٓ اَكْبَرْنَهٗ |
| را اُوځه دوی ته نو هرکله چه دوی اُولیدو هغه، نو لوئی ئے وګنړلو (په خائست کښې) |
| وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ط |
| او زخمی ئے کړل لاسونه خپل او وے وئیل پاکی ده الله لره دا خو انسان نۀ دے، |
| اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ |
| نۀ دے دا مګر ملائك عزتمند دے۔ |

**تفسیر** : ددے آیت نه تر (۳۵) پورے څلورم مقام دے، پدے کښې څلور مکرونه ذکر دی، مکر د عامو ښځو د زلیخا سره په طعن وئیلو سره په هغے باندے۔ دویم مکر د زلیخا دے د

ښځو سره۔ دریم مکر د ټولو ښځو دے یوسف علیه السلام سره، څلورم مکر د دوی دے په مجبوره کولو د یوسف علیه السلام په جیل سره۔

د یوسف علیه السلام او د عزیز مصر د ښځې واقعه په څه طریقه په ښار (مدینة الشمس) کښې خوره شوه، (او داسې خبرې ډیرې زر خورېږي) او د وزیرانو ښځو ته خبر ورسیدو نو هغوی په دے پسې خبرې شروع کړې (لکه د ښځو دا عادت دے چه داسې قسم خبرې واوري نو بیا ئے په خپلو مجلسونو کښې تاوي راتاووي او دا خبرې ورله خوند ورکوي) چه د عزیز مصر ښځه ده بیا د خپل یو غلام نه د خپل ضرورت پوره کولو مطالبه کوي، هغه خو ددۀ په محبت کښې گرفتاره شویده، او عقل او هوش ئے ختم شویدے۔

(پکار دا وه چه یو بادشاه یا یو زیر نه ئے دا مطالبه کړے وے)

علماء لیکي چه د آیت په آخري حصه کښې ښځو دا هم وئیل غوختل چه مونږ د زلیخا په شانِ غلطي نۀ ده کړے۔

وَقَالَ نِسْوَةٌ : داسې قسم خبرې کول د فاسدو زړونو کار وي، چه د پردو غلطو خبرو نه خوند اخلي، لکه ډیر خلك د گناهونو قصې بیانوي او د هغې نه خوند اخلي، دا هم گناه ده۔

تُرَاوِدُ: مضارع ئے راوړه، اشاره وه چه ددے مطالبه د هغې کار او عادت گرځیدلے دے۔

شَغَفَهَا حُبًّا : شَغَف د شَغَاف نه دے، د زړه پردے او غلاف ته وائي او دا څرمن ده په زړه باندے۔ (ابوعبیدهؒ) ځینې وائي : شغاف د زړه مینځ ته وائي۔ شَغَفَ کښې ضمیر یوسف ته او (ها) ضمیر ښځې ته راجع دے او (حُبًّا) ئے تمییز دے۔أَیْ دَخَلَ حُبُّهٗ شَغَافَ قَلْبِهَا۔(فتح)

یعني داخل شویدے محبت د یوسف پردے (یا مینځ) د زړه د هغې ته۔

لفظي معنیٰ ئے دا ده : یقیناً پټه کړیده یوسف ښځې لره په محبت کښې۔ یعني گویا که د یوسف مینه دومره ډیره ده چه د هغې نه تاو شویده او هغه ئے رالاندے کړیده۔

اِنَّا لَنَرٰهَا فِیْ ضَلٰلٍ: یعني دا خو پدے کار سره ډیره ښکاره گمراهۍ کښې اخته شویده۔

صاحب المنار وائي : ددے زنانو مقصد دا نۀ وو چه د منکر نه انکار کوي، او دا رذیل کار بد گڼري او نۀ ئے په نیك کار کښې څه مینه لرله، او نۀ ئے د کوم فضیلت حفاظت کولو بلکه دا خبره ئے د مکر او حیلے په طور وئیلے ده، دے دپاره چه د عزیز مصر ښځې ته دا خبر ورسیږي او هغې لره د دوی په رادعوت کولو باندے راپورته کړي نو دا یو مکر وو او رأیه نۀ وه۔ (المنار)

اِمْرَاَةُ الْعَزِیْزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا عَنْ نَّفْسِهٖ : پدے جمله کښې صاحب المنارؒ وائي چه د ښځو په

زلیخا باندے په خلورو طریقو سره رد دے او زمونږ شیخ استاذ محترم عبد السلام الرستمی رحمه الله الباری لس طریقے ذکر کړیدی : (١) ددے خاوند شته۔ (٢) خاوند ئے عزیز مصر دے چه د بادشاه وزیر دے نو دومره لوی مرکز کښې واقع ده۔ (٣) د خپل ځان بیعزتی کوی او د خپل مقام سپکوالے کوی چه د یو سړی نه ئے طلب کړیدے، ددے په شان ښځو له (که عزت ئے ختم کړے وی) پکار دا ده چه دے نه سړی مطالبه وکړی۔
(٤) په طلب کښې ئے مبالغه او کوشش کړیدے۔ (٥) د غلام نه ئے طلب کړیدے۔
(٦) او دا طلب ئے بار بار کړیدے لکه (تراود) مضارع پرے دلالت کوی۔
(٧) تصریح ئے کړیده په وخت د طلب کښې د هغه د نفس نه۔
(٨) محبت کول د یو غلام سره۔ (٩) محبت ئے زړه ته داخل شویدے۔
(١٠) په غلطئ کښې ده۔ (١١) غلطی ئے واضحه ده۔ (المنار واحسن الکلام)
فَلَمَّا سَمِعَتۡ : یعنی د عزیز مصر ښځے ته چه کله معلومه شوه چه د ښار ځه ښځو په خپلو مجلسونو کښې په یوسف باندے ددے د عشق موضوع چیړلے ده، نو هغے - د یو روایت مطابق- د ښار ځلویښتو معززو ښځو ته په خپل کور کښې دعوت ورکړو، په هغوی کښې هغه ښځے هم وے چه ددے په باره کښې په خبرو کولو کښې پیش پیش وے۔
دا ئے په یو مجلس کښې کینولے چه په هغے کښې تکیه ګانے لګیدلے وے او هر یو ته ئے په لاس کښې یوه چاړه ورکړه، دے دپاره چه خپلے مخے ته پرته غوښه او میوه پریکولو سره وخوری۔ دے نه روستو ئے یوسف عليه السلام ته د راوتلو حکم وکړو، ښځو چه هغه ولیدو نو د هغه د ډیر حسن او جمال نه دومره متأثره شوے چه هوش او عقل ئے لاړو او حیرانے شوے او د میوو په ځای ئے خپل لاسونه زخمی کړل او د ډیرے حیرانتیا په وجه ئے دا آواز وکړو چه دا زمونږ مخے ته کوم انسان نشته بلکه د آسمان نه یو نهایت حسین او جمیل ملائك راغلے دے د عزیز ښځے دا انتظام پدے وجه کړے وو چه د ښار ښځو ته معلومه شی چه د کوم ځوان نه دے مطالبه کړے وه دا ځه معمولی انسان نهٔ وو بلکه هغه یو داسے د حسن او جمال نه ډکه مجسمه ده چه ددهٔ په لیدو سره د هیڅ ښځے صبر کول او خپل ځان قابو کول د ناممکن په شان خبره ده۔
بِمَكۡرِهِنَّ: یعنی طعن د هغوی۔ او دے طعن ته ئے مکر ووئیلو ځکه چه د هغوی غرض هم دا وو چه ددے واقعے نه مونږ پوره خبر شو او مونږ هم دا هلك وینو۔ یا دے ښځے هغوی ته راز ووئیلو، هغوی خور کړو نو ځکه ئے ورته مکر ووئیلو۔ سفیانؒ وائی : مکر نه

مراد عمل دے۔ (فتح البیان)

مُتَّكَأً : ددے نه مراد هغه مجلسونه دی چه په هغے کښې خلك تکیه لګوی لکه بالختونه او قالینونه۔ (بخاری)

او ځینی وائی چه د متکأ نه مراد خوراك دے (ابن جبیرؒ، حسنؒ، قتادهؒ)

او دے ته ئے متکأ په طریقه د استعاره سره وئیلے دے ځکه چه عادت د متکبرانو دا دے چه د میوو خوړلو په وخت کښې تکیه لګوی۔ (فتح)

ځینی وائی چه دلته مضاف پټ دے اَیْ طَعَامَ مُتَّكَأٍ ۔ یعنی هغه طعام چه په تکیه سره خوړلے شی۔ (المنار)

او ځینی وائی : دا ترنج ته وائی په لغت د مصر کښې۔ (قرطبیؒ)

لیکن ظاهر دا ده چه متکأ هغه طعام ته وائی چه په چاړه باندے پریکولو سره خوړلے کیږی لکه څوك غوښے او څوك میوه جات پریکوی۔

وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا: ځینی وائی : دے هرے یوے ته چاړه د همدے غرض دپاره ورکړه چه د یوسف په لیدو سره به دوی ځانونه زخمی کوی۔

اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ: یوسف چونکه د هغوی غلام وو نو د هغوی خبره منل ضروری وو نو هغه راووتو۔

اَكْبَرْنَهٗ: اَیْ اَعْظَمْنَهٗ ۔ یعنی لوی ئے وګنړلو د زیات حسن د وجه نه۔ یعنی د هغهٔ نه په دهشت کښې پریوتے، یو د هغه د حسن د وجه نه، او بل دا چه ځوانئ ته رسیدلے وو او په ځوانئ کښې انسان ډیر ښائسته کیږی، او خاصکر هغه ځوان چه ګناهونه نهٔ کوی، او بیا چه د نبوت په شان نُور په کښې موجود وی نو داسے انسان خو ګویا که ژوندے خوړلے کیږی او خلك ئے دیدن له راځی۔ او امام رازیؒ وائی : زما په نیز بله وجه دا ده چه زنانو په دهٔ کښې د ملائکو په شان هیبت ولیدو ځکه چه دهٔ هیڅ خوراك ته او هیڅ ښځے ته نهٔ کتل او هغوی له ئے هیڅ اعتبار ورنکړو نو دوی د دغه حالت نه تعجب وکړو نو ځکه ئے لوی وګنړلو، بیا وائی : پدے باندے دا آیت حملول ډیر غوره دی۔ (فتح البیان)

وَقَطَّعْنَ: داسے ممکن ده چه د ډیرے توجه د بدلیدو د وجه نه انسان خپل لاس پریکړی۔

وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ: ١– دا کلمه د تعجب په وخت کښې استعمالیږی او معنیٰ ئے د سبحان الله ده او مجاهدؒ وائی په معنیٰ د معاذ الله سره دے۔ او دا دلیل دے چه دوی د الله تعالیٰ پاکوالے منلو۔ حاش مصدر دے په معنیٰ د لرې والی سره خو دلته ترے پاکوالے مراد دے۔

ځينې وائي : حَاشَ يُوْسُفُ لِلّٰهِ۔ يعنى يوسف ځان لرے ساتلے دے د ګناه نه د الله دپاره۔ اوله معنىٰ ظاهره ده۔

مَا هٰذَا بَشَرًا : بشريت ئے ترے نفى كړو ځكه چه دوى په يوسف كښې داسے ناشنا حسن وليدو چه هغه په دغه زمانه كښې په هيڅا كښې موجود نۀ وو او نۀ د چا په ذهن كښې تير شوے وو۔

مَلَكٌ كَرِيْمٌ : سوال دا دے چه آيا ملائك د انسان نه غوره دى؟ او آيا دے زنانو ملائك ليدلى دى چه يوسف ته ملائك وائى؟ جواب دا دے چه ملائك دوى نۀ ليدلى ليكن ملائك د انسانانو په ذهنونو كښې په ښائسته صفاتو او ښائسته شكلونو مشهور دى چه هغه د انسانانو د شكلونو نه زيات ښائسته دى لكه چه دا خبره د دوى په ذهنونو كښې ګرځى چه شيطانان ډير بد شكله دى۔ او مقصد پدے كښې د يوسف عليه السلام دپاره بې كچه لوى حسن ثابتول دى۔

صاحب د فتح البيان ذكر كړيدى چه د زنانو دا خبره د هغوى د ذهن او طبيعتونو مطابق وه ورنه په ټولو مخلوقاتو كښې الله تعالىٰ انسان ته ښائسته شكل وركړيدے۔ لكه الله فرمائى : ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾ (التين : ٤) نو دده سره په شكل او كامل صورت كښې هيڅ مخلوق مشابه نۀ دے۔

بيا وائى اګركه دا مسئله په دين كښې دومره لوى حيثيت نۀ لرى۔ فتح البيان (٤٣١٢/٣)

او دے كښې داسے هم وئيلے شى چه ملائك په حسن باندے مشهور دى اګركه بعض ملائك به د بعض انسانانو (انبياء عليهم السلام) نه غوره نۀ وى۔

| |
|---|
| قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ۭ وَلَقَدْ |
| اُووئيل دے نو دا هغه كس دے چه تاسو زۀ ملامته كولم دده په باره كښې او يقيناً |
| رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ۭ |
| مطالبه كړے وه ما دده نه په باره د نفس دده كښې نو دۀ ځان ساتلے دے (زما نه) |
| وَلَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ |
| او كه اُونكړے دے هغه كار چه حكم وركوم زۀ دۀ ته خامخا جيل ته به واچولے شى |

| |
|---|
| وَلَيَكُونًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَىَّ |
| او خامخا شي به د ذليلانو نه. اُووئيل يوسف اے ربه زما! جيل ډير خوښ دے ما ته |
| مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ ج وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ |
| د هغے كار نه چه دا ښځے بلي ما هغے ته او كه وانۀ روے تۀ ما نه چلونه د دوى مائل به شم |
| اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ |
| دوى ته او شم به د ناپوهو خلقو نه. نو دعا قبوله كړه دۀ لره رب دۀ نو واړے ړولو دۀ نه |
| كَيْدَهُنَّ ط اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ |
| مكرونه د هغوى، يقيناً هغه آوريدونكے پوهه دے. بيا ښكاره شو دوى ته (دا مصلحت) |
| مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٣٥﴾ |
| پس د هغے نه چه وے ليدل دليلونه (د پاكئ د يوسف) چه خامخا واچوى دۀ لره جيل ته تر يو وخت پورے. |

**تفسیر**: زليخا هغه ښځو ته ووئيل چه دا د هغه حسن مجسّمه ده چه د هغۀ په باره كښې تاسو ما لره ملامته كولو. او كله چه هغے ته يقين اُوشو چه دا تمامے ښځے د يوسف د حسن نه په جادو كښې واقع شوے او دائے معذوره وګنړله نو د خپل زړۀ خبره ئے هغوى ته ښكاره كړه او وے ويل چه آؤ، ما دا دهوكه كړے وو، ليكن دۀ په قطعي توګه انكار كړيدے، او ذره برابر ميلان ئے هم نۀ دے ښكاره كړے، دے نه روستو دے د شرم او حياء ټادر يو طرف ته ګوزار كړو او د عشق او د سر مستئ آخرى حدودو ته ورسيده وے وئيل چه زما دۀ نه كومه مطالبه ده كه دۀ پوره نكړه نو دا به جيل ته اچولے شي او دا به د ذلت او رسوائى سره مخامخ كيږي. (فتح)

**فَذٰلِكُنَّ الَّذِىْ**: دا اشاره ده يوسف عليه السلام ته او خطاب دے ښځو ته. دا خبره ئے په هغه وخت وكړه چه دے وليدل چه دا زنانه په يوسف عليه السلام باندے په فتنه كښې پريوتے نو د خپل عذر د ښكاره كولو دپاره ئے ووئيل.

**فِيْهِ**: اَىْ فِىْ حُبِّهٖ، يعنى په محبت د يوسف كښې. ځكه چه په حُبِّ مُفْرِط (د حد نه زيات محبت) سره انسان نشي ملامته كولے. آيا د داسے شخص نه به د چا زړه صبر شي.

زمخشری وائي : فذلکن ئے ووئیل او (هذا) ئے ونۀ وئیل سره ددے نه چه هغه حاضر وو پدے کښ مقصد د هغه مرتبه اُوچته ښکاره کول وو په حسن کښ چه دا مستحق دے چه ددۀ سره مینه وکړے شي او ددۀ په وجه خلك په فتنه کښ وغورزیږي.
لُمۡتُنَّنِيۡ: لوم په اصل کښ بد صفت ذکر کولو ته وئیلے شي.
وَلَقَدۡ رَاوَدۡتُّهٗ: په مراوده باندے ئے تصریح په هغه وخت وکړه چه دا پوهه شوه چه اُوس به د ښځو د طرفنه په دے باندے ملامتیا نۀ وي، او دوی هم په هغه مصیبت اخته شوے په کوم چه دا اخته شوے وه. (نو په اصطلاح : ددے هم سترګے سرے شوے)
فَاسۡتَعۡصَمَ : (ځان ئے بچ کړو) اَیۡ طَلَبَ الۡعِصۡمَةَ لِنَفۡسِهٖ (فتح) یعنی ځان دپاره ئے بچاؤ طلب کړو. [اَوِ اسۡتَمۡسَكَ بِعُرۡوَةِ عِصۡمَتِهِ الَّتِیۡ وَرِثَهَا] یا منګولے ئے ولګولے په کړئ د بچاؤ (او پاکدامنئ) خپلے کومه ئے چه د خپلو مشرانو نه په میراث کښ اخستے ده. (المنار)
علامه سعدیؒ او ابن کثیرؒ وائي : مخکښ ئے هغوی ته د یوسف ظاهری جمال وخودو نو اُوس ورته د هغه باطني جمال ښائي چه هغه پوره عفت او پاکدامني ده.
بیا دلته وقف دے، سوال پیدا شو چه دا خو ستا غلام دے اوستا خبره نۀ مني نو پدے کښ خو ددے تکبر ماتیږي نو اُوس د تکبر خبرے کوي.
وَلَئِنۡ لَّمۡ یَفۡعَلۡ: دا اُوس د زلیخا د کبر کلمات دي. چه زما امر به خامخا مني، که وے ئے نۀ مني نو جیل ته به ځي او خامخا به د ذلیلانو نه شي یعنی زۀ به ئے ذلیله کړم. ښځو کښ هم ډیر کبر وي، کله ئے چه لږه مشري راشي نو بیا ئے کبر زیاتیږي.
الصّٰغِرِیۡنَ : یعنی ددے په ګمان دۀ نه به نعمت او عزت واخستے شي. او دا ئے روستو د (لَیُسۡجَنَنَّ) نه ذکر کړو، اشاره ده چه د جیل په وجه دۀ ته ذلت ملاویږي نو ولے ذلت خوښوی او زما دعوت نۀ قبلوی. (فتح)
قَالَ رَبِّ السِّجۡنُ : کله چه یوسف ددے دا خبره واوریده نو پوهه شو چه دے ددے کار پخه اراده کړیده، او ددے خاوند ددے هره خبره مني، د هغۀ په مخکښ ئے هم نیغے خبرے وکړے، پدے وجه خپل رب سره ئے مناجات وکړو وے وئیل چه اے زما ربه ! د کوم قید او جیل چه دا ښځے ما ته دهمکي راکوي هغه زما په نیز د هغه بدکارئ نه زیات قابل قبول دے د کوم چه دوی ما ته دعوت راکوي، ځکه چه د جیل مصیبت عارضي او ختمیدونکے دے، لیکن دا لویه ګناه خو د دنیا او د آخرت هر خیر ختموي.
اَحَبُّ: دا صیغه ئے د اسم تفضیل استعمال کړه، پدے کښ معنیٰ تفضیلي نشته بلکه

نفس محبت مراد دے ځکه چه د یوسف هغوی طرفته هیڅ قسمه میلان نهٔ وو بلکه دوه شرونه (مصیبتونه) راجمع شو، یو د جیل او بل د زنانو دعوت نو دهٔ پکښې آسان غوره کړو چه هغه جیل ته تلل دی اګرکه په یو کښې مشقت او بل کښې لذت دے۔ (فتح البیان)

او دلته ئے د ایثار نه په محبت سره تعبیر وکړو پدے کښې ددے زنانه طمع ختمول دی چه ستا د دعوت په مقابله کښې زما جیل محبوب دے، دا خیال ونکړے چه زهٔ به تا سره پدے خبره کښې څه تعاون وکړم۔

**فائده** : رَبِّ السِّجْنُ: نه معلومیږی چه یوسف علیه السلام اِخْتِيَارُ الْمُصِيبَةِ عَلَى الْمَعْصِيَةِ کړیدے۔ یعنی د ګناه نه د ځان ساتلو دپاره ئے مصیبت اختیار کړیدے۔ او دا زمونږ په اسلام کښې ډیر زیات دے لکه رسول الله ﷺ فرمائی :[لَأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ اَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيْدٍ خَيْرٌ لَهٗ مِنْ اَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لَاتَحِلُّ لَهٗ] که ستاسو نه د یو تن په سر کښې د وسپنے ستنے وتومبل شی دا بهتره ده دهٔ لره ددے نه چه پردئ حرامے ښځے سره لاس وجنګوی۔ (الطبرانی فی الکبیر (١٦٨٨١) وصحیح الجامع : ٥٠٤٥)

دارنګه فرمائی : په سکروټه باندے خپه کیخودل بهتر دی د خپے کیخودو نه په قبر د مسلمان باندے۔ (مسند احمد : ٩٠٣٦) اسناده صحیح)

٢- فائده : ځینی علماؤ وئیلی دی چه که یوسف علیه السلام دا سوال د الله تعالیٰ نه نهٔ وے کړے نو دے به په دے مصیبت کښې نهٔ اخته کیدے (لیکن د هغه صبر او همت ډیر اُوچت وو) نو مونږ بندګانو له پکار دی چه د الله تعالیٰ نه د عافیت سوال وکړو پدے وجه رسول الله ﷺ په هغه چا باندے رد کړیدے چه هغه د الله تعالیٰ نه صبر غواړی۔ (فتح البیان)

يَدْعُوْنَنِيْ : ټولو ښځو ته ئے د دعوت نسبت وکړو ځکه چه دے ښځو یوسف علیه السلام ته دعوت ورکړو چه دا ستا سیده ده ددے خبره منه، او د هغے د مخالفت نه ئے ویرولو۔

ځینی وائی چه دے ټولو زنانو یوسف لره خپلو خپلو ځانونو طرفته دعوت ورکړو۔ اول قول ډیر ظاهر دے۔ (فتح البیان) او یوسف ته ئے دعوت ورکړو چه پدے کار کښې خو هیڅ عیب نشته۔ نو امتحان په یوسف باندے سخت شو، پداسے مقام کښې انسان صرف د الله تعالیٰ په مدد بچ کیدے شی۔

وَاِلَّا تَصْرِفْ : دے نه روستو یوسف علیه السلام د الله تعالیٰ په دربار کښې پناه طلب کړه، وے وئیل چه اے الله ! که ته زهٔ ددے ښځو د سازشونو نه بچ نهٔ کړم چه زما عفت او عصمت خرابوی نو د بشری تقاضے مطابق به زهٔ دوی طرف ته مائل شم، او ددے بدکار په کولو سره

به د جاهلانو او ناپوهو نه شم۔
تَصۡرِفۡ: نسبت د صرف (اړولو) ئے الله تعالیٰ ته وکړو پدے کښ زياته التجاء ده (پناهي حاصلول دي) الله تعالیٰ ته او په خپل قوت او قدرت باندے اعتماد نهٔ کول دي لکه دا طريقه د انبياء عليهم السلام او صالحينو ده چه په الله باندے توکل او اعتماد کوي۔
كَيۡدَهُنَّ : د دوي مکر او چل دا وو چه دا بد کار ماته ښه او ښائسته ښکاره کوي۔ يا د هرے ښځے دعوت يوسف ته ورکول د هغوي کيد وو۔ او معلوميږي چه هغوي ددهٔ د خطاء کولو دپاره ډير مکرونه کړي وو۔
أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ: ددے نه دا فائده معلوميږي چه د متقيانو نه به هم پرده کولے شي۔ او ددے برعکس بعض خلك وائي چه زهٔ فلاني خپلوان کره لاړم او ما نه ئے زنانو ستر وکړو نو زهٔ ورته بد ښکاره کيږم بيا ورکره هيڅکله نهٔ ورځي، دا خبره د جاهلانو ده، بلکه پرده د الله تعالیٰ حکم دے او په سړو کښ الله تعالیٰ ميلان ښځو ته اچولے دے، پدے وجه بنده به انتهائي احتياط کوي، دا وجه ده مفسرين ليکي چه يوسف ﷺ به کله د عزيز مصر ښځے ته د څه خدمت دپاره راتللو نو خپل مخ به ئے پټ ساتلو او ښکته به ئے کتل۔
مِّنَ الۡجٰهِلِيۡنَ : دا دليل دے چه څوك يوه ګناه کوي نو هغه به پدے وخت کښ جاهل وي۔ (فتح) او بله فائده دا معلومه شوه چه (مُقَارَبَةُ النِّسَاءِ جَهۡلٌ) ، پردو ښځو سره نزدے نزدے کيدل جهالت دے۔
فَاسۡتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ: الله تعالیٰ د هغه دعا قبوله کړه او هغه ئے په ګناه کښ د اچولونه بچ کړو، او هغه داسے چه جيل ته ئے واچولو نودوي بيا هغه ته نشوے رسيدلے، نو د هغوي مکرونه ترے واوريدل۔ اصل کيد خو د زنا دعوت وو، جيل په دغه کيد کښ نهٔ دے داخل۔
ددے آيتِ کريمه نه دا معلوميږي چه د الله تعالیٰ د حفاظت او د هغه د لطف او کرم نه بغير هيڅ شخص د ګناه نه بچ کيدے نشي۔ عزيز مصر ته د يوسف بے ګناهي د تمامو شواهدو او دلائلو نه ښکاره شوه نو د مشيرانو او د خپلے ښځے سره مشورے کولو نه روستو مصلحت ئے په همدے کښ وګڼړلو چه دا د يو مودے دپاره جيل ته واچوي۔ نو همدغسے وشوه او يوسف ﷺ په جيل کښ بند کړے شو۔
ثُمَّ بَدَا لَهُمۡ: د (بَدَا) فاعل روستو ﴿لَيَسۡجُنُنَّهٗ حَتّٰی حِيۡنٍ﴾ جمله ده۔ يعني اَیۡ ظَهَرَ لَهُمۡ اَنۡ يَّسۡجُنُوۡهُ۔ ښکاره شوه عزيز مصر او د هغه ملګرو او مشيرانو ته چه دے جيل ته واچوي۔ (سيبويه) يا فاعل (الرأی) لفظ دے يعني بيا ورته دا رأيه ښکاره شوه چه جيل ته واچولے

شي۔
رَاَوُا الْاٰیٰتِ: اَيِ الشَّوَاهِدَ عَلٰى بَرَاءَةِ يُوْسُفَ وَعِصْمَتِهٖ۔ یعني دوی شواهد ولیدل په براءت او صفائي د یوسف باندے، چه هغه قمیص شلیدل، د شاهد فیصله کول، او لاسونه پریکول۔ (دارنګه د هغه تقویٰ او دینداري)۔ د ابن عباس ؓ نه نقل دي چه دا نښے ئے ولیدلے مکر امرأة العزیز ورته وویل چه که تاسو دا جیل ته وانچوئ نو خلك به ذدهٔ تصدیق کوي۔ آه۔ او ښځه د دوی په رأیه باندے غالبه وه۔ (فتح البیان)

**فائده** : ۱- ددے نه دا فائده حاصلیږي چه د فتنے نه ځان جدا کول پکار دي ځکه چه څوك د فتنے خوا کښې وي، نو که ته نیك سړے ئے هم ګناه کښې به واقع کیږے اګرکه ستا به په ځان باندے ډیر اعتماد هم وي۔ یوسف علیه السلام د فتنے د ځای نه جدا شو، جیل ته لاړو نو الله تعالیٰ ئے حفاظت هم وکړو۔

۲- دا خلك ظالمان وو چه ګناه یو تن کړیده او جیل ته بل تن بوځي۔ بادشاهانو همیشه دپاره د پاکو خلکو سره داسے کارونه کړیدي۔ اکثر خلك په جیلونو کښې بې ګناه وي۔

لَيَسْجُنُنَّهٗ: دوی ته دا رأیه ولے ښکاره شوه؟ ددے مفسرینو دوه وجے خودلي دي:

(۱) یو دا چه د دوی مقصد خبره پټول او دا قصه ختمول وو ځکه چه پدے کښې د عزیز مصر سپکاوے وو۔ (۲) دویم دا چه د عزیز مقصد دا وو چه د یوسف او د هغه د ښځے ترمینځ جدائي راولي ځکه چه هغه ته معلومه شوے وه چه د یوسف محبت ددهٔ ښځے باندے غلبه کړیده نو هغه د هیڅ شي باك نهٔ کوي او په هیڅ شان سره د هغه نه صبر نشي کولے۔ خامخا پرے ځان واقع کوي۔ (فتح البیان)

حَتّٰى حِيْنٍ : یعني یوے نامعلومے مودے پورے یا تر هغه وخته پورے چه دا خبره د خلکو نه هیره شي۔ ددے حین نه مراد سعید بن جبیرؒ وائي: اُوه کاله دي۔ ځیني وائي پنځه، او ځیني شپږ میاشتے ذکر کوي۔

| |
|---|
| وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ؕ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ |
| او داخل شو ددهٔ سره جیل ته دوه ځوانان، اُووئیل یو تن د دوی نه یقیناً زهٔ وینم ځان |
| اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ |
| په خوب کښې چه نچوړ کوم (انجورو لره او) شراب ترے جوړوم او اُووئیل بل یقیناً زهٔ |

اَرٰانِیۤ اَحۡمِلُ فَوۡقَ رَاۡسِیۡ خُبۡزًا تَاۡکُلُ الطَّیۡرُ مِنۡهُ ؕ

وینم خان په خوب کښې چه پورته کوم دپاسه د سر نه ډوډئ چه خوری مارغان د هغې نه،

نَبِّئۡنَا بِتَاۡوِیۡلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۳۶﴾

خبر راکړه مونږ ته په معنیٰ ددې باندې، یقیناً مونږ وینو تا لره د نیك عملو نه.

قَالَ لَا یَاۡتِیۡکُمَا طَعَامٌ تُرۡزَقٰنِهٖۤ اِلَّا

اُووئیل یوسف نۀ بۀ راځي تاسو ته خوراك چه درکولې شي تاسو ته هغه مګر

نَبَّاۡتُکُمَا بِتَاۡوِیۡلِهٖ قَبۡلَ اَنۡ یَّاۡتِیَکُمَا ؕ ذٰلِکُمَا

خبر به درکړم تاسو ته په معنیٰ ددې مخکښې ددې نه چه راشي هغه تاسو ته دا

مِمَّا عَلَّمَنِیۡ رَبِّیۡ ؕ اِنِّیۡ تَرَکۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٍ

د هغې (وحی) نه دی چه خودلې دی ما ته رب زما، یقیناً ما پریخې دې دین دداسې قوم

لَّا یُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ کٰفِرُوۡنَ ﴿۳۷﴾ وَاتَّبَعۡتُ مِلَّةَ اٰبَآءِیۡۤ

چه ایمان نۀ لري په الله او هغوی د آخرت نه منکر دی. او تابع یم زۀ د دین د پلارانو زما

اِبۡرٰهِیۡمَ وَاِسۡحٰقَ وَیَعۡقُوۡبَ ؕ مَا کَانَ لَنَاۤ

چه ابراهیم او اسحاق او یعقوب (علیهم السلام) دی، جائز نۀ دی مونږ لره

اَنۡ نُّشۡرِكَ بِاللّٰهِ مِنۡ شَیۡءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ

چه شریکان جوړ کړو د الله سره هیڅ شې، دا (توحید) احسان د الله تعالیٰ دې

عَلَیۡنَا وَعَلَی النَّاسِ وَلٰکِنَّ اَکۡثَرَ النَّاسِ لَا یَشۡکُرُوۡنَ ﴿۳۸﴾

په مونږ باندې او په خلقو باندې لیکن ډیر د خلقو نه شکر نۀ کوی.

**تفسیر** : ددې آیت نه پنځم مقام دې تر (۴۲) آیت پورې. پدې کښې د یوسف ؑ د جیل حالات ذکر دی او په معجزه ښکاره کولو سره د هغه دعوت دې رسالت ته او په رد د شرك سره دعوت دې توحید ته تفصیلاً بیا د ملګرو د خوب د تعبیر بیان ذکر دې.

به دغۀ ورځو کښې د یوسف سره جیل ته دوه ځوانان هم داخل کړې شو، یو د بادشاه ساقی

او دویم نانبائی وو۔ وائی چه دے دواړو د بادشاه په خوراك کښې زهر اچولی وو، نو چا وویل چه ساقی اچولی دی او چا وویل چه نانبائی، نو په دواړو شك وو نو د تحقیق دپاره اول جیل ته واچولے شو، بیا به څوك وژلے شی او څوك به پریخوستے شی۔ او دا دواړه د یوسف علیه السلام سره په یوه کمره کښې واچولے شو، په یو ځای داخل شو یا مخکښې روستو۔
یوسف دا دواړه یوه ورځ غمجن ولیدل نو د سبب معلومات ئے ترے وکړو، هغوی وویل چه مونږ دواړو جدا جدا خوب لیدلے دے چه هغے مونږ غمجن کړی یو۔ یوسف علیه السلام وویل چه تاسو دواړه خپل خپل خوب بیان کړئ۔ ساقی وویل چه ما لیدلی دی چه انګور نچوړ کوم او شراب ترے جوړوم۔ او بل وویل چه ما لیدلی دی چه زما په سر باندے روټئ ده چه د هغے نه مارغان خوراك کوی۔ دے نه روستو دواړو وویل چه زمونږ د دواړو د خوب تعبیر راکړه، مونږ وینو چه ته د نیکانو نه ئے او د خوب د تعبیر علم لرے۔
ابن جریرؒ وائی : دے دواړو د یوسف علیه السلام نه د هغه د علم په باره کښې تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: زهٔ د خوبونو تعبیر کولے شم نو دے دواړو ورته دغه خوبونه بیان کړل۔
**فائده** : جیل ته داخلیدونکی درے قسمه خلك وی :
(۱) هغه چه جرم ئے کړے وی۔
(۲) چه په هغه باندے تهمت د جرم وی۔
(۳) چه نهٔ پرے تهمت وی او نهٔ ئے جرم کړے وی بلکه ظلماً قید کړے شی۔ د اول مثال نانبائی وو او د دویم مثال د ساقی وو او د دریم مثال یوسف علیه السلام وو۔ (احسن الکلام)
السِجْنَ: په ((الخطط)) کښې مقریزیؒ د قضاعیؒ نه نقل کړیدی چه د یوسف جیل په بوصیر علاقه کښې وو او بوصیر په جیزه صوبه کښې واقع دے، د مصریانو ماهرینو پوهه خلکو پدے اتفاق کړیدے چه دا ئے صحیح ځای دے، او پدے کښې د دوه انبیاؤ آثار باقی دی یو د هغے نه یوسف علیه السلام دے چه دلته ئے جیل اوه کاله تیر کړیدے، او بل موسیٰ علیه السلام چه د هغه د یادګار دپاره مسجدِ موسیٰ جوړ شویدے۔ بیا د دغه جیل حالات او ځایونه او هلته څه کیږی هغه ئے تفصیلاً بیان کړیدی۔ (فتح البیان)
فَتَيٰنِ: فتیٰ خادم، او غلام او ځوان ته وائی۔ دلته ترے دوه ځوانان مراد دی۔
اَعْصِرُ خَمْرًا: اَیْ اَعْصِرُ عِنَبًا وَاَجْعَلُهٗ خَمْرًا ۔ زهٔ انګور نچوړ کوم او د هغے نه شراب جوړوم۔ د عربی په محاوره کښې داسے اختصار کیږی۔
د اول شخص د خوب تعبیر د الفاظو سره برابر دے چه دے به بیرته بادشاه ته واپس کیږی

او دغه شان انګورو نه به شراب جوړوي او بادشاه ته به ئے ورکوي. یعني په خپله زړه ډیوټئ باندے به لګیږي. او د دویم شخص د خوب په تعبیر کښې لږه تبدیلي ده هغه دا چه د روټئ نه مراد ددهٔ سر دے چه دے به قتل کیږي او مارغان به ددهٔ د سر نه خوراك كوي.

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ : پدے کښې هم د الله تعالیٰ د طرفنه دعوت دے په ځان کښې احسان پیدا کولو ته. (۱) پدے کښې چا وئیلي دي چه د محسنین نه مراد اَلَّذِيْنَ يُحْسِنُوْنَ عِبَارَةَ الرُّؤْيَا دے یعني د هغه کسانو نه ئے چه ښه تعبیر د خوبونه ویستلے شي.

(۲) مِنَ الْعَالِمِيْنَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْعِلْمَ. د هغه خلکو نه ئے چه ښه علم ئے کړیدے.

(۳) ابن اسحاقؒ وائي : مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ اِلَيْنَا اِنْ فَسَّرْتَ ذٰلِكَ ـ مونږ سره به احسان وکړے که ددے خوب تعبیر ډِے ویستلو. یا نیك عمل کونکے ئے.

قتادهؒ وائي : ځکه چه یوسف ؑ به په جیل کښې غمژنو ته تسلي ورکوله او د هغوی د مریضانو علاج به ئے کولو او هغوی ددهٔ نه عبادت او کوشش لیدلے وو نو مینه ئے ورسره پیدا شوے وه. ابن عباسؓ فرمائي : یوسف ؑ د جیل والو دپاره دا دعا کړے وه :

اَللّٰهُمَّ لَا تُعْمِ عَلَيْهِمُ الْاَخْبَارَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِمْ مَرَّ الْاَيَّامِ. اے الله ! په دوی باندے خبرونه مهٔ پټوے او دوی باندے د ورځو تیریدل آسان کړے. (فتح البیان)

قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا : یوسف ؑ د هغوی د خوبونو د تعبیر وئیلو نه مخکښې هغوی ته دا خودل غوارې چه دا د هغه عامو خلقو نه نهٔ دے چه خالص په ګمان سره د خوب تعبیر کوي چه ډیر کرته غلط کیږي، بلکه دا خو د غیبو بعض خبرے بیانوي.

او په خپله خبره کښې د زیات زور پیدا کولو دپاره ئے وویل چه ستاسو د دواړو د خوراك راتلو نه مخکښې به زهٔ تاسو ته وایم چه د خوراك دپاره څه راروان دي. او دا علم ما ته د الله د طرف نه د الهام په ذریعه ملاؤ شویدے، پدے کښې د کهانت او د علم نجوم هیڅ دخل نشته دے. او دا خبره یوسف ؑ پدے وجه وکړه چه آینده دا کوم د توحید دعوت د هغوی په مخکښې پیش کونکے وو هغه دا دواړه په آسانئ سره قبول کړي.

علماء فرمائي : کله چه یو تن تا ته په یو دنیاوي کار کښې محتاج شي نو هغه ته د دین دعوت ورکړه، توحید او سنت ورته تشریح کړه، نو د هغه به دوه فائدے وشي، حاجت پوره کیدل او دین زدهٔ کول دواړه. نو یوسف ؑ هم دا د دعوت موقعه وګڼړله نو دوی ته ئے ووئیل چه زهٔ به د خوب تعبیر روستو درکوم اول به زما خبره آورئ. او یوسف ؑ ورته دا ناشنا کارنامه بیان کړه دے دپاره چه دے دواړو ته د هغه د علم پوره یقین وشي او هغه ته

غاړه كيږدي دے دپاره چه روستو ئے كوم ايمان او توحيد ته رادعوت كوى چه هغه ومنى.
بِتَاوِيْلِهٖ : ١- ځينى وائى : ضمير طعام ته راجع دے يعنى زۀ به درته حقيقت د طعام بيان كړم چه كوم قسم خوراك به تاسو ته راځى.
٢- يا ضمير خوب ته راجع دے يعنى د طعام د راتللو نه مخكښ به زۀ تاسو ته د خوب تعبير بيانوم. يعنى د غرمے نه مخكښ مخكښ خو اول زما دعوت واورئ.
دا دويم تفسير غوره دے ځكه چه د طعام خبر وركول د يوسف ﷺ خصوصيت نۀ دے ځكه چه كيدے شى چه نورو خلكو ته په نورو ذرائعو سره د طعام حالت معلوم شى چه مثلاً نن به دال راځى يا كلول وغيره.
عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ : ما ته زما رب خودلے دے په طريقه د وحى سره (كله چه دے پدے وخت كښ نبى كرځيدلے وى) يا په طريقه د الهام سره.
اِنِّيْ تَرَكْتُ : هغه دے دواړو ته دا هم ښكاره كول غوختل چه ما ته چه دا كومه اُوچته مرتبه ملاؤ شويده او دا الهامى علم حاصل شويدے،
نو ددے سبب دا دے چه ما د هغه خلقو دين نۀ دے قبول كړے چه په الله تعالىٰ او په ورځ د آخرت ايمان نۀ لرى، بلكه ما د خپل پلارانو ابراهيم، اسحاق او يعقوب عليهم السلام په دين باندے ايمان راوړے كوم چه د الله تعالىٰ انبياء وو.
او ددے تفصيل نه د هغه مقصد هغوى ته دا هم خودل وو چه زۀ د نبوت د كورنۍ ستركه او چراغ يم، دے دپاره چه كله د هغوى مخے ته خپل دعوت اړدى نو هغوى ئے په توجه سره واورى. او ﴿مَاكَانَ لَنَا﴾ كښ يوسف ﷺ د جمع ضمير راوړو ځكه ځان سره ئے دغه دواړه هم شمارلى دى. ځكه چه په ظاهره كښ هغه ته يقين شوے وو چه دا دواړه ملګرى به د هغه دعوت قبلوى.
يا ﴿ماكان لنا﴾ كښ انبياء عليهم السلام ته اشاره ده يعنى مونږ انبياؤ لره دا جائز نۀ دى چه شرك وكړو. او دے نه معلوميږى چه دے پدے زمانه كښ نبى شوے وو.
اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ : دا نومونه ئے واخستل ځكه چه دا مشهور پيغمبران وو په هغه زمانه كښ. او دا درے واړه ئے ذكر كړل پدے كښ دے ملګرو ته ترغيب وركوى چه ايمان راوړئ او د شرك او ګمراهئ نه ورله نفرت وركوى چه تاسو په كوم دين روان يئ نو دا د انبياء عليهم السلام دين نۀ دے.
مَاكَانَ لَنَآ : دا د ملتِ ابراهيمى تشريح ده.

او په ﴿ أَنْ نُشْرِكَ بِاللهِ مِنْ شَیْءٍ ﴾ کښې ((مِنْ شَیْءٍ)) د شرك د عموم د نفی د تاکید دپاره راوړے شوے دے چه اګرکه هغه وړوکے شے وی یا سپك شے وی، بت وی، یا ملائك وی، یا یو پیر ے وی یا بل کوم شے وی، دا د الله تعالیٰ شریك جوړول حرام دی۔

ذٰلِكَ : یعنی دا د هغه د وحدانیت اقرار او هیڅوك د هغه شریکان نهٔ جوړول، او علم راکول مونږ ته د الله تعالیٰ په مونږ باندے ډیر لوی نعمت دے چه ددے په وجه مونږ د ګنا هونو نه محفوظ ساتی۔ لیکن اکثر خلق د الله تعالیٰ ناشکره بندګان دی، پدے وجه نهٔ په هغهٔ ایمان راوړی او نهٔ د هغهٔ د توحید تقاضے پوره کوی، او نهٔ د هغه په شریعت باندے عمل کوی، او نهٔ په دلائلو او نازل شوی آیتونو کښې فکر کوی۔ (فتح)

توحید ته ئے د الله تعالیٰ نعمت پدے وجه وئیلے دے چه د موحد زړه کښې اطمینان وی او د مشرك په زړه کښې انتهائی پریشانی وی، کله د یو معبود پسے منډے وهی چه هلته ئے حاجت پوره نشی بیا بل پسے روان وی، پوره په عذاب اخته وی.

اُوس ئے په ډاګه سره اسلام ته رادعوت کوی۔

| |
|---|
| يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَ اَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللهُ |
| اے دوه ملګرو د جیل آیا حقداران د بندګئ چه جدا جدا وی غوره دی که الله تعالیٰ |
| الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً |
| چه یو دے، زورور دے۔ بندګی نهٔ کوئ تاسو سوئ د الله نه مګر د داسے نومونو |
| سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ۚ |
| چه ایخی دی هغه تاسو او پلارانو ستاسو، نهٔ دے نازل کړے الله پدے باندے هیڅ دلیل، |
| اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۚ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا |
| نشته واك او اختیار مګر صرف الله لره دے، حکم ئے کړیدے چه بندګی مهٔ کوئ |
| اِلَّآ اِيَّاهُ ۚ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾ |
| سوئ د هغهٔ نه، دا دین مضبوط دے لیکن ډیر د خلقو نه نهٔ پو هیږی۔ |

**تفسیر :** ربط :

د دواړو په مخکښې د خپلے عقیدے د بیانولو نه روستو اُوس په انتهائی حکمت او پو هه

سره د هغوی د قوم د شرکی عقیدے د خرابی د بیانولو دپاره د هغوی نه تپوس کوی چه اے د جیل ملګرو! د انسانانو دپاره ډیر معبودان غوره دی که نه یو الله تعالیٰ چه په هغهٔ باندے هیڅوك غالب نشی راتلے؟ تاسو چه د الله تعالیٰ نه سویٰ د کومو بتانو عبادت کوئ، تاسو او ستاسو پلارانو نیکونو بغیر د څه دلیل او برهان نه د دوی نومونه معبودان ایخودلی دی۔ مالك او حاکم خو الله دے، د دین او عبادت په معامله کښ به د هغه حکم چلیږی، او هغه خو تاسو ته دا حکم کړیدے چه د هغه نه سویٰ د هیچا عبادت مهٔ کوئ، ځکه چه عبادت انتهائی خشوع او خضوع ته وائی چه د هغے حقدار هغه الله تعالیٰ دے چه حقیقی عظمت والا دے۔

او همدا توحید د الله تعالیٰ چه د هغه په کمالِ عظمت باندے دلالت کوی صحیح او حق دین دے، لیکن اکثر خلق دا حقیقت نهٔ پیژنی، پدے وجه د الله سره نور شریکان جوړوی۔

یٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ: دا په اصل کښ صاحبین دے نون په اضافت سره غورزیدلے دے یعنی اے د جیل ملګرو او جیل ته ئے ځکه نسبت وکړو چه دوی پکښ ډیره موده تیره کړے وه۔ ځینی وائی: پدے کښ تشدید دے په اصل کښ یَا صَاحِبَیَّ فِی السِّجْنِ دے یعنی اے زما دوارو ملګرو په جیل کښ۔ لیکن اول قول صحیح دے۔

ءَ اَرْبَابٌ: دا استفهام انکاری دپاره د توبیخ دے۔ او ارباب جمع د رب ده په معنیٰ د معبود سره۔

دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام سره د الله تعالیٰ د توحید ډیر غم وی۔

مُّتَفَرِّقُوْنَ: یعنی چه شمار ئے هم ډیر دے او ذوات او صفات ئے هم جدا جدا دی۔ او څوك په یو ځای او څوك په بل ځای کښ دے۔

اَلْقَهَّارُ: یعنی په هرچا او په هر څه باندے زورور دے او نور معبودان ټول عاجز دی۔

اَسْمَآءً: یعنی تاسو ورله نومونه او صفتونه ایخودی دی چه فلانے بابا د فلانئ بیمارئ ذمه وار دے۔

اِنِ الْحُكْمُ: د حکم نه مراد اختیار او فیصله ده، په کائناتو کښ چه هر څه کوی، څوك ژوندے کوی، څوك مړ کوی، چا ته عزت او چا ته ذلت ورکوی، دا اختیارات صرف د رب العالمین دی۔

ذٰلِكَ: اَیِ الَّذِیْ اَدْعُوْكُمْ اِلَیْهِ۔ یعنی هغه دین چه زهٔ تاسو هغے ته رابلم۔

| |
|---|
| يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ج |
| اے ملګرو د جیل هرچه یو ستاسو دے نو څکوی به په مالك (مولا) خپل باندے شراب |
| وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ط |
| او هرچه بل دے نو پهانسی به کړے شی نو خوری به مارغان د سر دهٔ نه، |
| قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿٤١﴾ |
| فیصله کړے شویده د هغه کار چه د هغے په باره کښ تپوسونه کول تاسو۔ |

**تفسیر** : کله چه یوسف علیه السلام هغوی ته خپل علمی مقام وخودلو او د توحید دعوت ئے د هغوی مخے ته پیش کړو نو اُوس د هغوی د خوبونو تعبیر بیانول شروع کوی۔ او چونکه د هغوی د سوال نه روستو د یوسف علیه السلام دعوتی خبره اُوږده شوے وه، پدے وجه هغه دا دواړه دوباره مخاطب کړل او وے وئیل چه اے د جیل ملګرو! ستاسو نه به یو د جیل نه وتلو سره د مخکښ په شان د بادشاه ساقی بحال کیږی، او دویم به قتل کیږی او په سولئ به زوړندولے شی، او مارغان به د هغه د سر نه غوښه خوری۔

بیا دلته وقف دے مفسرین لیکی چه دوی ددے خوب د تعبیر نه ویریدل نو وے وئیل چه مونږ دا خوب نهٔ دے لیدلے۔ نو یوسف علیه السلام ورته وفرمایل : دا ما چه کوم تعبیر درکړو دا به خامخا کیږی، الله تعالیٰ په تقدیر کښ داسے فیصله کړیده، او زما خبره ګپ نهٔ ده بلکه دا ما ته الله تعالیٰ خبر راکړیدے۔

د ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل شویدی چه د یوسف دواړو ملګرو هیڅ خوب نهٔ وو لیدلے بلکه هسے خوب ئے جوړ کړو دے دپاره چه د یوسف علم معلوم کړی خو کله چه دوی ته د خوبونو تعبیر ورکړے شو نو دوی وویل چه مونږ توقے کولے او هیڅ مو نهٔ دی لیدلی نو هغه وفرمایل : دا تعبیر واقع شو، اُوس به خامخا داسے کیږی۔ او ځینی وائی چه دوی خوب لیدلے وو۔ (فتح البیان)

او دا هم دلیل دے چه یوسف علیه السلام پدے وخت کښ نبی ګرځیدلے وو۔

| |
|---|
| وَقَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ |
| او اُووئیل یوسف هغه کس ته چه یقین کولو یوسف چه دا بچ کیدونکے دے |

| |
|---|
| مِنْهُمَا اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ ۖ فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ |
| ددے دواړو نه، یاد کړه ما په دربار د مولی خپل کښ نو هیر کړو دهٔ نه شیطان |
| ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾ |
| یاودل د هغهٔ مولی خپل ته نو ایسار شو یوسف په جیل کښ څو کلونه۔ |

**تفسیر**: کوم سړی ته چه یوسف علیه السلام ووېل چه هغه به د جیل نه وځی او نهٔ به قتل کیږی، هغه ته ئے دا هم ووېل چه کله ستا ملاقات ستا د مالك (بادشاه) سره وشی، نو هغه ته زما حال بیان کړه او ووایه چه ما ته الله تعالیٰ د خوب د تعبیر علم راکړیدے، او دا چه زهٔ بے ګناه یم، زهٔ جیل ته اچولے شوے یم په ما باندے زیاتے شویدے۔

ظَنَّ: دلته ظن په معنیٰ د یقین سره دے ځکه چه د یوسف علیه السلام په تعبیر باندے یقین وو۔

اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ: مراد ددینه د جیل ټول حالات بیانول دی چه په هغے کښ ددهٔ معجزه او د توحید مسئلے ټولے داخل دی، او د یوسف علیه السلام مقصد پدے کښ بادشاه ته ددهٔ په واسطه توحید رسول وو۔

او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په ((دقائق التفسیر)) (۲۶۱/۳) کښ ددے خبرے سخت تردید کړیدے چه چا وئیلی دی چه د یوسف دا خبره د توکل خلاف وه، هغه فرمائی چه یوسف علیه السلام د الله په ګواهئ سره د مخلصینو نه وو او بنده کښ اخلاص نشی راتللے ترڅو چه په الله باندے توکل کونکے نهٔ وی، او توکل د اسبابو د استعمالولو خلاف نهٔ دے، دا خبره د یوسف علیه السلام داسے ده لکه چه هغه وئیلی وو ﴿اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ﴾ نو د دینی مصلحت دپاره مشری طلب کول د توکل منافی نهٔ دی، او بله دا چه د یوسف مقصد حق ښکاره کول وو چه د هغه صفائی خلکو ته معلومه شی۔ او یوسف علیه السلام د ټولو خلکو نه زیات تثبت او صبر والا وو لکه کله چه بادشاه راوغوښتو نو هغه ووېل: ﴿ارْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ﴾ بیرته ئے استازے واپس کړو۔ لکه روستو راځی۔ آه۔

او بله دا چه د هغه مقصد په خلکو کښ د دین دعوت کول وو۔

فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ: دے کښ دوه تفسیره دی (۱) ای فانسی الشرابیَّ الشیطانُ ذکرَ یوسفَ عند سیّدِہٖ۔ یعنی د جیل نه د تلو نه روستو شیطان د هغه د یاداشت نه دا خبره ویستله چه یوسف د خپل مالك په دربار کښ ذکر کړی، او دا هم د شیطان یو مکر وو دے دپاره چه

یوسف ﷺ د جیل نه وننهٔ وځي۔ نو دے شخص بی باکی او لا پرواهی وکړه چه د یوسف فرمان ئے بادشاه ته وننهٔ رسولو، او یو قسم بی وفائی کښې واقع شو۔ او دا تفسیر ددے نه معلومیږي چه روستو راځي آیت (٤٥) ﴿وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ﴾ دے شخص ته پس د ډیرے مودے نه د یوسف خبره رایاده شوه۔ او دا تفسیر اکثرو علماؤ غوره کړیدے ځکه چه پدے کښې د یوسف ﷺ صفت او ددے بل شخص بی وفائی ته اشاره ده۔ او دا غوره تفسیر دے۔

علامه سعدیؒ داسے هم وائی : هیر کړو شیطان د دغه ناجی نه ذکر د الله تعالیٰ او ذکر د هغه شی چه الله تعالیٰ ته نزدے والے راولی (یعنی په خپلو نعمتونو کښې ډوب شو) او ددے د جملے نه دا هم وه چه هغه یوسف ئے هم هیر کړو کوم چه ددے مستحق وو چه هغه ته د احسان پوره بدله ورکړے شی، لیکن الله تعالیٰ خپله فیصله پوره کوله۔ (السعدیؒ)

(۲) دویم مرجوح تفسیر : چه دا مجاهدؒ، عکرمهؒ، ابن عباسؓ ته منسوب دے : ای (فَأَنْسَى الشَّيْطَانُ يُوسُفَ علیه السلام ذِكْرَ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى فِي تِلْكَ الْحَالِ]۔

یعنی هیر کړو شیطان د یوسف ﷺ نه د الله تعالیٰ یادول په دغه حال کښې۔ او نسیان او ذهول په نبی باندے راتلل د هغه د نبوت سره منافات نهٔ لری ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی : [إِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيْتُ فَذَكِّرُوْنِيْ] (بخاری فی الصلاة باب ۳۱) ومسلم فی المساجد حدیث : ۸۹) زهٔ ستاسو په شان انسان یم ما نه هیره کیږی لکه څنګه چه تاسو نه هیره کیږی نو کله چه مانه خبره هیره شی ما ته ئے رایادوئ)

نو پدے کښې به د الله تعالیٰ د طرفنه یوسف ﷺ ته یو قسم زورنه ورکول وو نو ځکه ورته الله تعالیٰ په جیل کښې وخت زیات کړو۔ او نیکانو بندګانو ته الله تعالیٰ داسے قسم سزاګانے د تنبیه دپاره ورکوی لکه مثلاً یو نیك عمل انسان چه په یو کار کښې ان شاء الله وننهٔ وائی نو الله تعالیٰ ورله سزا ورکوی چه هغه کارئے غالباً سر ته نهٔ رسیږی۔

او فاسقانو ته دا قسم سزاګانے نهٔ وی، ځکه چه نزدے بنده ته الله تعالیٰ ډیره تنبیه ورکوی۔ نو ددے نه دا فائده راووتله چه د مصیبت په وخت کښې چه د بنده ذهن الله تعالیٰ طرفته لاړ شی نو مدد ډیر زر راځی، ددے وجه نه د مضطر انسان دعا زر قبلیږی ځکه چه توجه ئے زیاته وی۔ او پدے کښې نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ ته (او بیا مونږ ته) دعوت دے چه په تاسو باندے که اُوس په مکه کښې تکلیفونه تیریږی نو الله ته متوجه شئ چه هغه درسره زر مدد وکړی، دا د قرآن کریم اشارات دی۔

دا تفسیر د حسن بصریؒ نه مرسلاً نقل دے او ابن جریر طبریؒ د ابن عباس ﷺ نه یو

مرفوع حدیث روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: ((که یوسف د ساقی نه مدد نهٔ طلب کولے نو د اوږدے مودے پورے به په جیل کښ نهٔ پاتے کیدے)). حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی چه دا حدیث ډیر سخت ضعیف دے، پدے وجه قابلِ قبول نهٔ دے. او شیخ البانیؒ ورته په الصحیحه رقم (۱۸٦٧) کښ واهی وئیلے دے. لهذا غوره اول تفسیر دے.
(فتح البیان والقرطبی وابن کثیر)

فَلَبِثَ: یعنی ایسار شو او وخت تیر کړو یوسف په سبب د یرولو ددغهٔ هلك خبرے لره.

بِضْعَ سِنِيْنَ: مفسرین لیکی چه د بضع اطلاق د اُوو نه تر لسو پورے کیږی، او څینی وائی: د دریو نه تر اوه پورے. دلته ترے اوه کاله مراد دی او دا ماسویٰ وو د هغه مخکنو پنځه کلونو نه لکه دا خبره کلبیؒ ته منسوب ده. (بغویؒ)

بعض اهل علم وائی چه ظاهر د آیتونو کښ دلیل نشته پدے خبره چه دا اوه کاله د پنځو نه علاوه وو. انظر حاشیة معالم التنزیل للبغویؒ)

د ابن جریجؒ او قتادهؒ او وهب بن منبهؒ نه نقل\دی چه توله موده د جیل ئے اوه کاله وو او ابن عباس ﷺ ته منسوب دی چه دولس کاله وو. ضحاك وائی: څوارلس کاله وو. څینی وائی: پنځه کاله وو. (فتح البیان)

| |
|---|
| وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّیْٓ اَرٰی سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ یَّاْکُلُهُنَّ سَبْعٌ |
| او اُووئیل بادشاه یقیناً زهٔ په خوب کښ وینم اُووه غواګانے چاقے چه خوری هغے لره اُووه |
| عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ یٰبِسٰتٍ ؕ یٰۤاَیُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِیْ فِیْ |
| تپے (خوارے) او اُووه وږی شنه او نور (اُووه) اُوچ، اے دربار والو! خبر راکړئ ما ته په باره |
| رُءْیَایَ اِنْ کُنْتُمْ لِلرُّءْیَا تَعْبُرُوْنَ ﴿٤٣﴾ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ |
| د خوب زما کښ که یئ تاسو د خوبونو تعبیر ویستونکی. اُووئیل دوی (دا) ګډوډ |
| اَحْلَامٍ ۚ وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِیْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِیْنَ ﴿٤٤﴾ |
| خوبونه دی او مونږ نهٔ یو په تعبیر د خوبونو پوهیدونکی. |

**تفسیر**: ددے ځای نه شپږم مقام دے تر (۵۷) آیت پورے. پدے کښ د بادشاه خوب بیا د عامو خلکو د هغے د تعبیر نه عاجز کیدل او د یوسف علیه السلام په هغے باندے پوهیدل او د

خوب تعبیر سره د تدبیر بیانول ذکر دی، بیا اظهار د پاکدامنۍ د یوسف ﷺ دے په اقرار د ټولو زنانو او په اقرار د زلیخا سره د بادشاه په مخامخ، بیا وتل د هغهٔ دی د جیل نه او مقرر کول د بادشاه دې هغه لره په انتظام د خزانو د مصر باندے سره د عزت نه.

کله چه د یوسف ﷺ د آزادۍ ورځ نزدے راغله نو د مصر بادشاه ریان بن ولید خوب ولیدو چه یو اُوچ نهر نه اووه چاقے غواګانے راووتلے، د هغوی پسے روستو خوارے غواګانے راووتلے او چاقے غواګانے ئے وخوړلے. هغه دا هم ولیدل چه اوه تازه وږی اُوه اُوچ وږی په خپل ځان کښې راتاؤ کړل او هغه ئے وخوړل. دا ناشنا خوب وو ځکه چه کمزورے په قوی څنګه غالب شی؟ او غوا خو ګیاه خوری، حیوان نهٔ ماتوی نو دا ئے څنګه مات کړو؟ بیا خوارے غواګانے څنګه چاقے وخوری؟ دارنګه وږی خوراك نهٔ کوی او که بالفرض وے کړی نو بیا اُوچ وږی لامده وږی څنګه وخوری؟ نو پدے وجه بادشاه حیران شو نو هغه د قوم د سردارانو نه ددے تعبیر وتپوسلو، او د مصر تمام جادوګران او پوهان ئے راطلب کړل او د هغوی نه ئے هم ددے تعبیر معلوم کړو. نو هغوی دوه جوابونه وکړل یو دا چه دا هسے ګډوډ خوبونه دی چه هیڅ حیثیت نهٔ لری، خالص وهم او د شیطان وسوسه ده. بیا ئے فکر وکړو چه دا خوب د بادشاه خوب دے، دے ته ګډوډ وئیل بی ادبی ده نو بیا ئے ووئیل چه مونږ ته د خوبونو تعبیر نهٔ راځی او ددے خوب به ضرور څه معنیٰ وی.

مفسرین لیکی: کیدے شی چه دے جادوګرانو او حکماؤ د خوبونو د علم تعبیر نه د خپل ناواقفیت اقرار کړے وی، لکه څنګه چه د بادشاه د مخکښې نه د دوی په باره کښې ګمان وو، پدے وجه هغه په شك سره وئیلی وو چه که تاسو د خوب تعبیر وئیلے شئ نو ووایئ.

پدے وخت کښې ساقی ته د یوسف ﷺ خبره رایاده شوه.

وائی چه ددهٔ د جیل نه د وتلو نه روستو دوه کاله موده تیره شوے وه. هغه بادشاه ته ووئیل چه ددے خوب تعبیر به زهٔ تا ته ووایم، ما ته یو شخص معلوم دے چه د خوبونو په تعبیرونو کښې ډیر مهارت لری، او هغه په جیل کښې دے، نو ما ته چهټۍ راکړئ چه زهٔ جیل ته لاړ شم. جیل ته راغے او یوسف ﷺ ته ئے دا خوب ووئیلو نو هغه ورته د خوب تعبیر او تدبیر سره د زیادت نه وخودلو.

بادشاه ته چه کله تعبیر بیان شو نو سخت تعجب ئے وکړو او وے وئیل چه د خوب نه دا تعبیر ډیر مزیدار دے. دا سړے راوستل غواړی، سړے ئے ورپسے ولیږلو، هغه بیرته راواپس

کړو چه اول زما صفائی وکړئ، زۀ ولے جیل ته راوستے شوے یم، زنانو نه تپوس وکړئ، نو بادشاه مسئله ددۀ واپس راداثره کړه نو ښځو اقرار وکړو چه یوسف بیخي پاك دے، او د عزیز ښځے هم اقرار وکړو، نو د بادشاه ورسره نوره مینه زیاته شوه چه ډیر پاك او پوهه انسان دے، دا راوستل غواړي چه وزارت ورله ورکړم. نو هغه ته ئے وویل چه مونږ تا ته وزارت درکول غواړو؟ هغه وویل چه ما ته وزارتِ خزانه راکړه ځکه چه زۀ ددے په سنبالښت باندے ډیر ښۀ پوهه امانتدار یم. نو الله تعالی د جیل نه راویستو سره وزارت ته ورسولو.

**عِجَافٌ**: جمع د عجفی ده، خوارے ته وائی.

**أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ**: اضغاث جمع د ضِغْثٌ ده، د مختلفو څیزونو نه گیاه، سبزیانے وغیره نه جوړ شوی پنډ او بار ته وائی. بیا د دروغونو خوبونو دپاره استعارةً استعمالیږی. او پدے خوب کښې هم چونکه غواګانے او وږی وغیره ګډوډ څیزونه راجمع شویدی پدے وجه د اضغاث لفظ په ډیر ښه موقعه کښې قرآن وئیلے دے.

او احلام جمع د حُلم ده دا هم بې حقیقته دروغژن خوب ته وائی. او دا اضافت په معنیٰ دَ مِنْ سره دے ای اَضْغَاثٌ مِنْ اَحْلَامٍ. یعنی د خوبونو نه ګډوډ خوبونه دی. (فتح)

| |
|---|
| وَقَالَ الَّذِیْ نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ |
| او اُووئیل هغه کس چه بچ شوے وو ددے دواړو نه او رایاد شو ورته روستو د څه مودے نه، |
| اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِیْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ﴿٤٥﴾ یُوْسُفُ اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ |
| زۀ به خبر کړم تاسو په تعبیر ددے خوب نو ما اُولیږئ. اے یوسف اے ډیر رشتینیه! |
| اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ یَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ |
| تعبیر راکړه مونږ ته په باره د اُووه غواګانو ښربو کښې چه خوری هغے لره اُووه تپے او اُووه |
| سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ یٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّیْۤ اَرْجِعُ اِلَی النَّاسِ لَعَلَّهُمْ |
| وګی شنه او نور (اُووه) اُوچ، دے دپاره چه زۀ واپس شم خلقو ته ددے دپاره چه دوی |
| یَعْلَمُوْنَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِیْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا |
| پوهه شی. اُووئیل یوسف کرئ به تاسو اُووه کاله پرله پسے نو هغه چه |

| |
|---|
| حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِیْ سُنْبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ |
| لَو کړئ تاسو نو پریږدئ هغه په وګو خپلو کښې مګر لږ د هغې نه چه خورئ تاسو۔ |
| ثُمَّ یَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ یَّاْكُلْنَ مَا |
| بیا به راځي روستو ددې نه اُووه کلونه سخت چه وبه خوری هغه (غله) |
| قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾ |
| چه مخکښې جمع کړیده تاسو د هغې دپاره مګر لږ د هغې نه چه تاسو ئې ساتئ (دپاره د |
| ثُمَّ یَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِیْهِ یُغَاثُ |
| تخم)۔ بیا به راشي روستو ددې نه داسې کال چه په هغې کښې به بارانونه کیدې شي |
| النَّاسُ وَفِیْهِ یَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ |
| په خلقو او په هغې کښې به خلق میوې نچوړوی۔ |

**تفسیر** : وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ : یعنی خبره ورته رایاده شوه پس د څه مودې نه د (اُمَّةٍ) نه مراد موده ده۔ ځینې وائي چه اُوه کاله وه (ابن عباسؓ) او ځینې نهه او ځینې دوه یادوی۔ (فتح البیان)

اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ : هغه ته ئې د صدیق په نوم سره خطاب وکړو ځکه چه په جیل کښې د هغه سره وو نو د هغه د رشتینوالی او پاکو اخلاقو او پاك طبیعت ورته تجربه شوې وه، او د خوب چه کوم تعبیر هغهٔ دهٔ او ددهٔ مقتول ملګری ته خودلے وو هغه بالکل رشتینی ثابت شوې وو۔ دې نه روستو ئې د بادشاه د خوب د هغهٔ په الفاظو کښې بیان کړو او د هغې تعبیر ئې وتپوسلو۔ او په ((اَفْتِنَا)) کښې د جمع ضمیر ددې دپاره استعمال شویدې چه خوب د بل چا دې چه د هغې تعلق د عوامو سره دې۔ یا تول خلك سره د بادشاه نه ددې په تعبیر کښې حیران دی۔

((لَعَلَّهُمْ یَعْلَمُوْنَ)) اَیْ بِمَعْنیٰ هٰذِهِ الرُّؤْیَا/ وَبِقَدْرِكَ وَمَنْزِلَتِكَ ۔ ددې دپاره چه دوی پوهه شي په معنیٰ ددې خوب باندې/ یا دې دپاره چه بادشاه به ستا علم او فضل وپیژنی نو کیدې شي چه د جیل نه تا آزاد کړی۔ (فتح) علامه سعدیؒ وائی: دا هم د الله تعالیٰ لوی احسان وو په یوسف باندې چه بادشاه دا خوب اول په خپل مملکت والو پیش کړو خو چه کله هغوی

عاجز شو او بيا يوسف تعبير وركړو نو د هغه شان ئې وپيژندو، كه اول نه يوسف دا تعبير وركړے وے نو ددے به دغه شان اُوچت شان نهٔ وے۔

**فائده** : يوسف عليه السلام دغه خوان ملامته نكړو چه تا زهٔ ولے د بادشاه په دربار كښ ياد نكړم ځكه چه د انبياؤ عليهم السلام شان ډير اُوچت وى، هغوى هر څه تقدير ته حواله كوى، او صبر كوى پدے وجه ئے هغه ته پوره جواب وركړو او دا اشاره ده د يوسف عليه السلام زيات اخلاص او لوى همت او اخلاقو ته۔

قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ: يوسف عليه السلام د هغے تعبير خودلو سره اُوه چاقے غواګانے او اُوه تازه وږى په اُوه زرخيزو كلونو سره او اُوه اُوچے غواګانے او اُوه اُوچ وږى په اُوه اُوچ كلونو سره تعبير وكړو۔ يعنى د اُووه زرخيزو كلونو نه روستو به اُوه اُوچ كلونه راځى چه په هغے كښ به د دغه اوه زرخيزوكلونو راشن خوړلے كيږى۔ او بيا ئے هغه ته تعليم وركړو چه دوى له به څه كول پكار وى، دے دپاره چه د قحط سالئ زمانے دپاره غله تياره كړے شى۔ دے نه روستو ئے هغوى ته زيرے وركړو چه د اُوه اُوچ كلونو نه روستو به ښه بارانونه كيږى، د الله رحمت به نازليږى او په ملك كښ به ميوے، انګور، زيتون او پئ وغيره ډير وى۔

تَزْرَعُوْنَ : يعنى پكار ده چه تاسو كرونده شروع كړئ۔

دَاَبًا: اَىْ مُتَوَالِيَةً مُتَتَابِعَةً ۔ متصل پرله پسے۔ دا د " دَاَبَ فِى الْعَمَلِ " نه اخستے شويدے كله چه يو بنده په كار كښ كوشش وكړى او په هغے كښ ستړے شى۔ نو اصل معنىٰ د دأب ستړى والى ده او بيا كنايه ګرځى د عادتِ مستمره (هميشه عادت) نه ځكه چه دا عادت د هميشه ستړى كونكى عمل نه پيدا كيږى۔ نو دا حال دے په معنىٰ د دَائِبِيْنَ سره يا ذَوِىْ دَأْبٍ سره دے (يعنى پرله پسے والا يا ستړى والى والا) او دے باندے ئے حمل د دأب مبالغة كړيدے۔ (فتح)

فَمَا حَصَدْتُّمْ : پدے كښ ورته د تعبير نه سوئ تدبير بيانوى : يعنى تاسو چه د هر زرخيز كال فصل ريبل شروع كړل نو هغه به په خپلو وږو او پوستكو كښ پريدئ دے دپاره چه خراب نشى او خزنده ورته ورنشى او سپرئ وغيره په كښ پيدا نشى، او دے دپاره چه دغه پوستكى سِپَاسو. د حيواناتو دپاره د قحط په وخت خوراك جوړ شى۔

اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ : يعنى صرف د خوراك په اندازه ګيدئ راخلئ او د هغے نه پوست جدا كوئ او باقى همغه شان وساتئ۔

سَبْعٌ شِدَادٌ : يعنى اُوه كلونه سخت يعنى قحط والا۔ چه په خلكو باندے به د هغے

حالت سخت وی. او دا د اُوه خوارو غواګانو او اوه وچ وږو تعبیر دے.

**تُحۡصِنُوۡنَ** : اَیۡ مِمَّا تَحۡبِسُوۡنَ مِنَ الۡحَبِّ لِتَزۡرَعُوۡا بِهٖ . یعنی د هغے دانو نه چه تاسو ئے ساتئ دپاره د کروندے کولو ځکه چه تخم ختم کړئ نو بیا به آینده کښې څه کړئ؟.

**ثُمَّ یَاۡتِیۡ**: دا یوسف ﷺ د کوم ځای نه معلومه کړه؟ نو دا ددے نه چه د الله تعالیٰ قانون دے چه د تکلیف نه روستو آسانی راولی او اُوه کاله روستو ئے آسانی ذکر کړه ځکه چه خوب کښې اوه ښیزونه ذکر وو. او دا علم لدنی دے ورنه په کومه یونیورستۍ کښې ئے علم اقتصادیات نهٔ دے وئیلے.

**وَفِیۡهِ یَعۡصِرُوۡنَ** : یعنی میوه جات او سبزی جات به دومره زیات وشی چه خلك به ترے شرابونه او شربتونه جوړوی. لکه انګور، شرشم، زیتون وغیره. یا د پیوو لشل مراد دی. (القرطبی)

| |
|---|
| وَقَالَ الۡمَلِكُ ائۡتُوۡنِیۡ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوۡلُ قَالَ |
| او اُووئیل بادشاه راولئ ما ته دے، نو هرکله چه راغے یوسف ته استازے، اُووئیل هغهٔ |
| ارۡجِعۡ اِلٰی رَبِّكَ فَسۡئَلۡهُ مَا بَالُ |
| ته یوسف واپس لاړ شه خپل مولا ته نو تپوس وکړه د هغهٔ نه چه څه حال دے |
| النِّسۡوَةِ الّٰتِیۡ قَطَّعۡنَ اَیۡدِیَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّیۡ بِکَیۡدِهِنَّ عَلِیۡمٌ ﴿۵۰﴾ |
| هغه ښځو لره چه پریکړی ئے وو لاسونه خپل، یقیناً رب زما په مکرونو د هغوی پوهه دے. |

**تفسیر** : هرکله چه ساقی د خوب تعبیر راواخستو او بادشاه ته راورسیدو او بادشاه هغه واوریدو نو ډیر تعجب ئے وکړو، او د هغهٔ په زړهٔ کښې دا خبره کیناسته چه ددے خوب همدا تعبیر دے، او هغهٔ ته ددے خبرے هم یقین وشو چه یوسف څه معمولی انسان نهٔ دے، او د خوبونو د رشتینی تعبیر علم په ملك کښې ددهٔ نه زیات د هیچا سره نشته دے،

او دا چه هغه انتهائی اخلاق مند او انسان دوست سړے دے چه د جیل د مصیبتونو سره د مخامخ کیدو باوجود د خوب تعبیر سره ئے د قحط سالئ د بدو آثارو نه د بچ کیدو تدبیر هم خودلے دے، نو د هغه د لیدو شوق ئے پیدا شو نو بس هغه حکم وکړو چه دا د جیل نه فوراً راوباسئ او زما خوا ته دِے راوستے شی.

کله چه د بادشاه پیغام وړونکے د هغه خوا ته راغلو نو هغهٔ د جیل نه په وتو کښې جلتي ونکړه او ویے وئیل چه تهٔ خپل آقا ته واپس لاړ شه، او د هغه نه تپوس وکړه چه کومو ښځو خپل لاسونه پریکړی وو د هغوی په باره کښې ددهٔ سره څه خبر دے؟ او ددهٔ مقصد دا وو چه اول ددهٔ عفت او د گناه نه د براء ت اعلان وشي، بیا د جیل نه بهر شي۔

ابن عطیهٔ وائي: دا کار د یوسف علیه السلام د صبر او حلم په وجه وو او بل دے دپاره چه د هغه لمن د عیب نه پاکه شي ځکه چه هغه ویریدو که د جیل نه همداسے وځي او د بادشاهئ کومے مرتبے ته ورسیږي او د هغه خبرے لا فیصله شوی نهٔ وی، نو خلك به ورته په همغه زړه سترگه گوری او وائي به چه دا هغه شخص دے چه د عزیز مصر د ښځے نه ئے د بد کارئ مطالبه کړے وه۔ (المحرر الوجیز)

ددے نه اندازه کیږی چه په یوسف علیه السلام کښې انتهائي درجه تحمل او حلم او بردباري موجوده وه چه هغه د عامو انسانانو په وس کښې نشته دے۔ رسول الله ﷺ د هغه ددے صبر بیان داسے کوی۔ بخاریؒ او مسلمؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: [وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ]

که زهٔ په جیل کښې دومره موده پاتے وے څومره موده چه یوسف تیره کړه نو د قاصد خبرے منلو سره به د هغه سره د جیل نه راوتلے او د بادشاه خوا ته به فوراً تللے))۔

(بخاری: ۳۳۷۲) مسلم فی الایمان حدیث (۲۳۸)۔

یعنی یوسف علیه السلام ډیر صبرناك وو چه ما هم دومره صبر نشو کولے۔دا خبره رسول الله ﷺ تواضعاً کوی۔

او دا دلیل دے چه لکه څنگه چه د تهمت د ځایونو نه ځان ساتل فرض دی نو دغه شان د ځان نه تهمت نفی کول او لرے کول هم لازم دی۔

ابن عطیهٔ فرمائی: د رسول الله ﷺ یو طرفته په دغه حدیث کښې غرض د یوسف علیه السلام مدح او مضبوطوالے او صبر بیانول دی، بل طرفته رسول الله ﷺ د خپل ځان دپاره یوه بله رأیه اختیاروی چه هغه هم ښه رأیه ده او هغه دا چه هغه فرمائی: که زهٔ د یوسف په ځای باندے وے نو ما به د جیل نه په راوتو کښې جلتي کولے او چه کله راوتلے وے نو بیا به مے خپل عذر بیان کړے وے، او ددے وجه دا ده چه دا قصے او نوازل ددے دپاره بیانیږی چه خلك تر قیامته پورے ددے اقتداء وکړی، نو رسول الله ﷺ اراده وکړه چه خلك په پخته کارئ او هوښیارتیا باندے اموخته کړی، او دا ځکه چه کله یو انسان د جیل نه د وتو داسے

موقعه پريدی، نو ډير کرته هغه په جيل کښې باقي پاتې کيدې شي او د راويستونکي زړه هم د هغه نه واوړي اگرکه يوسف ﷺ ددې نه په امن کښې وو ځکه چه الله تعالىٰ ورته خبر ورکړې وو، هرچه د هغه نه ماسوئ خلك دې نو هغوی ددې خطرې نه په امن کښې نۀ دی۔ نو کوم حالت چه رسول الله ﷺ خوښ کړيدې دا حالت د حزم (چالاکئ او هوښيارتيا) او مدح او صفت دې او د يوسف ﷺ کار عظيم صبر او مضبوطوالې دې، آه۔

المحرر الوجيز (١٢/٤)

مَا بَالُ النِّسْوَةِ: مفسرين ليکي چه يوسف ﷺ د عزيز د ښځې په ځای د نورو ښځو نه تپوس کول پدې وجه غوره وګڼړل چه د هغه ښځه چرته بله نوې فتنه راپورته نۀ کړي، دارنګه پدې کښې د عزيز مصر يو قسم رعايت هم دې، د هغه سره وفاداري کوی۔

او پدې کښې دا اميد هم وو چه کيدې شي چه نورې ښځې د عزيز د ښځې د اقرار گواهي ورکړي او بادشاه ته وښائي چه همدې يوسف ته د گناه دعوت ورکړې وو، لکه مخکښې زليخا دوی ته خبره کړې وه (فَاسْتَعْصَمَ) آيت (٣٢) او خپله دوی هم يوسف چه په کوم عفت او د پاکدامنئ په اُوچته مرتبه باندې موندلې وو د هغې هم گواهي ورکړي۔ او بل په زليخا باندې ئې ترحم کول مقصد وو ځکه چه د هغې زړۀ ته د يوسف مينه ننوتل غير اختياري وو چه دې باندې ئې غلبه کړې وه۔ (المنار وفتح البيان)

او دلته ئې لاسونه پريکول ذکر کړل نۀ د ښځو مراوده، د وجه د انتهائي پاکئ د يوسف ﷺ نه دا نسبت ئې ورته ونکړو، ددې وجه نه ئې د عزيز ښځې ته هم د مراودې نسبت هله وکړو چه هغې دۀ لره په خپله بيمارئ باندې ويشتو او بيا خپله ووتله۔ او دلته ئې په اجمالي اشاره باندې اکتفاء وکړه وې فرمايل:

اِنَّ رَبِّىْ بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ: پدې کښې اشاره وه د دوی نور مکرونو ته چه هغه مراوده وغيره وو چه هغه ئې الله ته وسپارل۔

| قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ |
|---|
| اُووئيل بادشاه (زنانو ته) څه دې حال ستاسو کله چه مطالبه کړې وه تاسو د يوسف نه |
| عَنْ نَّفْسِهٖ، قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا |
| په باره د نفس د هغه کښې، ووئيل هغوی پاکي ده الله لره نۀ يو پوهه شوی مونږ |

| |
|---|
| عَلَيۡهِ مِنۡ سُوٓءٍؕ قَالَتِ امۡرَاَتُ الۡعَزِيۡزِ الۡـٰٔنَ حَصۡحَصَ الۡحَقُّ اَنَا |
| په هغه باندے د بدئ نه، ووئیل ښځے د عزیز مصر اُوس ښهٔ ښکاره حق، ما |
| رَاوَدۡتُّهٗ عَنۡ نَّفۡسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۵۱﴾ |
| مطالبه کړے وه ددهٔ نه په باره د نفس ددهٔ کښې، او یقیناً دے خامخا د رشتینو نه دے۔ |

**تفسیر** : کله چه بادشاه هغه ښځے راوغوختے او په هغے کښې د عزیز مصر ښځه هم وه او تپوس ئے ترے وکړو چه دوی یوسف څنګه موندلے وو؟ نو هغوی ووئیل چه مونږ په یوسف کښې د بدکردارئ شبهه هم نهٔ ده موندلے، او د عزیز ښځے هم د خپلے غلطئ، او د یوسف د عفت او پاکدامنئ اقرار وکړو۔

او قرطبیؒ لیکلی دی چه پدے وخت کښې عزیز مصر وفات شوے وو۔

**قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ** : خطب لوی کار ته وئیلے شی۔ اَیۡ اَیُّ شَیۡءٍ قِصَّتُكُنَّ ؟ ۔ (المحرر) یعنی ستاسو قصه څه ده؟، آه۔ او ستاسو لوی کار څه وو، یعنی څه شے درباندے باعث وو؟ ولے ستاسو خاوندان نهٔ وو چه تاسو د یوسف نه مطالبه کوله؟۔ نو دا کار تاسو ولے کړیدے چه ستاسو په وجه یوسف جیل ته تلے دے؟۔

او په هره ژبه کښې خپله اصطلاح وی، په پښتو کښې پداسے موقعه کښې داسے وئیلے شی : په تاسو باندے څه سنڈا خپه ایښے وه چه تاسو دا کار کولو۔ "څه مجبورتیا مو وه"۔

او پدے کښې اشاره ده چه [هَلۡ وَجَدۡتُّنَّ مِنۡهُ مَيۡلًا]۔ آیا تاسو د هغه نه څه میلان موندلے وو؟ (القاسمیؒ والمنار)

**رَاوَدۡتُّنَّ** : هغوی ته ئے د مراودے نسبت وکړو ځکه چه هرے یوے دغه مطالبه کړے وه۔

**حَاشَ لِلّٰهِ** : یعنی معاذ الله۔ په الله پناه طلب کوو ددے خبرے نه چه مونږ مطالبه کړی وی ددهٔ نه۔

**مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِنۡ سُوٓءٍ** : سوء هر قبیح کار ته وائی او دے زنانو په صفائی بیانولو کښې ډیره مبالغه وکړه، سوء ئے نکره راوړه او بیائے پرے د تاکید دپاره (مِنۡ) داخل کړو یعنی هیڅ قسم قبیح کار باندے مونږ د هغه نه خبر نهٔ یو۔ (القاسمیؒ)

او پدے کښې تاکید دے په نفی د رؤیة د سوء کښې۔ یعنی لیدل خو لا په ځای پریده مونږ ددهٔ په باره کښې په هیڅ بد کار باندے خبر شوی هم نهٔ یو۔ (المنار)

ابـن عطیةؒ لیکی : دوی لره پکار وو چه داسے ئے وئیلی وے [مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ اِلَّا خَیْرًا] ۔ مونږ دے نهٔ پیـژنـو مگر په خیر سره، ځکه چه دا اصل الفاظ د تزکیه دی۔ لکه امام بخاریؒ پدے باندے باب قائم کړیدے۔

بیا ابن عطیةؒ دے توجیه ته بعیده وئیلے ده۔ ځکه چه دوی چه کوم الفاظ وئیلی دی نو دا هم د یوسف بعض پاکی او د خپل ځان پوره پاکی ده۔ (المحرر الوجیز)

یعنی (قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ) کښې د ځان پاکی ده چه مونږ په الله پناهی غواړو چه مونږ د هغه نه مطالبه کړی وی او په (مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ مِنْ سُوْءٍ) کښې د یوسف پاکئ ته اشاره ده۔ (التسهیل)

**قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ** : کـلـه چـه امرأة العزیز د زنانو اقرار واوریدو او ځان ئے د شرم نه بچ کړونو ددے هم نیت صحیح شو او دائے ووئیل چه دا ټول کارونه زما نه پیدا شویدی او آخر ئے حق ته غاړه کېښوده۔ (المحرر الوجیز والبحر المحیط)

صاحب د فتح البیان وائی : هرکله چه یوسف علیه السلام د هغے د جانب رعایت وکړو چه (مَا بَالُ النِّسْوَةِ) ئے ووئیل او امرأة العزیز ئے ذکر نکړه سره ددے نه چه ټولے فتنے خو ددے نه پیدا شوے وے نو هغے یوسف ته بدله ورکړه چه د خپلے گناه اقرار ئے وکړو۔

**حَصْحَصَ الْحَقُّ** : اَیْ ظَهَرَ وَتَبَیَّنَ بَعْدَ خَفَائِهٖ۔ یعنی ښکاره او روښانه شو حق۔ حصحص په اصل کښې حَصَصَ وو لکه کُبْکِبُوْا په اصل کښې کُبِبُوْا وو۔ (زجاجؒ)

او حـص پـه اصـل کښې د یو شی بیخ ویستلو ته وائی۔ لکه حَصَّ شَعْرَهٗ ۔ فـلانی ویښته وخرئیل او د بیخ نه ئے ویستل۔ دلته ئے معنیٰ ده : اِنْقَطَعَ الْحَقُّ عَنِ الْبَاطِلِ بِظُهُوْرِهٖ وَبَیَانِهٖ ۔

حق د باطل نه جدا شو په ښکاره کیدو او روښانه کیدو سره۔ (فتح البیان والقرطبیؒ)

ځیـنـی وائـی : حَصَصَ د حصة نه دے معنیٰ دا ده : [بَانَتْ حِصَّةُ الْحَقِّ مِنْ حِصَّةِ الْبَاطِلِ] (الدر المصون واللباب) یعنی د حق حصه د باطل د حصے نه راجدا شوه۔

| |
|---|
| ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ |
| دا (اقرار مے اُوکړو) دے دپاره چه پو هه شي دے چه يقيناً ما خيانت نۀ دے کړے دده |
| بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ اُبَرِّئُ |
| په غائب والي کښې او يقيناً الله نۀ کاميابوي مکر د خيانتګرو. او زۀ پاکي نۀ بيانوم |
| نَفْسِي ۚ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ |
| د ځان خپل، يقيناً نفس ډير حکم کونکے دے په بدئ سره مګر هغه چه رحم وکړي |
| رَبِّيْ ۭ اِنَّ رَبِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥٣﴾ |
| رب زما (په هغۀ باندے) يقيناً رب زما بخونکے رحم کونکے دے. |

**تفسير** : ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ : پدے کښې دوه احتماله دي.

(۱) د اکثرو مفسرينو رائے ده چه (د اُوړدے جملے معترضے نه روستو) دا هم د يوسف عليه السلام وينا ده، او پدے کښې تقديم تاخير شويدے. يعنې د جيل د راوتلو نه مخکښې يوسف د ښځو نه او د عزيز مصر د ښځے نه پدے وجه د هغوی د غلطئ اقرار کول وغوختل دے دپاره چه عزيز مصر ته معلومه شي چه دۀ په پټه سره د هغه سره خيانت نۀ دے کړے، ځکه چه الله تعالىٰ د خيانتګرو مکر نۀ کاميابوي. او پدے کښې اشاره وه چه د زليخا مکر د هغے په کار رانغلو، او د خپل خاوند سره د هغے خيانت د هغے د ذلت او رسوائی سامان جوړ شو.

او که ما خيانت کړے وے نو زۀ به ددے مصيبت نه نۀ خلاصيدے، هرکله چه زۀ الله تعالىٰ ددے مصيبت نه راخلاص کړم نو ښکاره شوه چه زۀ د خلکو د بدو نسبتونو نه بيزاره وم بيا ئے الله تعالىٰ ته عاجزي وکړه چه زۀ د خپل نفس تزکيه نۀ بيانوم.

(۲) دويم بعض مفسرين وائي چه دا کلام د زليخا دے، او ذٰلِكَ کښې اشاره ده دغه اقرار د ګناه ته، يعنې ما دا اقرار د ګناه پدے وجه وکړو چه يوسف ته معلومه شي چه ما ددۀ سره ددۀ د غائبوالي په وخت کښې هيڅ خيانت نۀ دے کړے چه په هغه مے بهتان يا دروغ وئيلي وی بلکه صرف همغه مخامخ مے پرے تهمت وئيلے دے. (يعنې ما وريسے روستو نور بهتانونه نۀ دی تړلی چه د هغه عزت ته مے نقصان ورکړے وی بلکه غلے پاتے شوے يم او

ددۀ بیعزتی مے نۀ ده کړے) او دا ځکه چه الله تعالیٰ د خیانتګرو مکر سر ته نۀ رسوی او نۀ ئے حق ثابتوی او نۀ ئے کامیابوی۔

او بیا وائی چه زۀ د خپل ځان صفائی نۀ بیانوم ځکه چه انسانی نفس کښې ضرور شر شته۔ (یا لِیَعۡلَمَ کښې ضمیر خپل خاوند ته راجع کوی یعنی دے دپاره چه عزیز مصر ته پته ولګی چه ما د هغه په غائبوالی کښې هیڅ خیانت نۀ دے کړے)

دا تفسیر غوره دے ځکه چه مخکښې نه کلام د زلیخا شروع دے نو منقطع کول ئے نۀ دی پکار۔ او بله وجه دا ده چه یوسف علیه السلام خو لا پدے وخت کښې د جیل نه راوتلے نۀ دے او سیاق د کلام هم ددے تقاضا نۀ کوی۔ حافظ ابن کثیرؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او امام قرطبیؒ هم همدا رائے غوره کړیده۔

او کومو مفسرینو چه اول تفسیر غوره کړیدے نو هغوی ته دا خبره بعیده ښکاره شویده چه زلیخا یوه عامه ښځه وه هغه څنګه داسے اُوچتے خبرے وکړی چه ﴿لَا یَهۡدِیۡ کَیۡدَ الۡخَآئِنِیۡنَ﴾ ﴿وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِیۡ﴾ او ﴿اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیۡ﴾

جواب دا دے چه زلیخا څه وړه ښځه نۀ وه بلکه د وزیر ښځه وه او داسے ښځے ډیرے هوښیارے وے، د خبرو طریقے ورځی۔ او دے نه دا هم معلومه شوه چه زلیخا الله تعالیٰ منلو لیکن عیب ئے دا وو چه شرك ئے ورسره کولو۔

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِیۡ : دا هم د زلیخا قول دے یعنی زۀ د خپل نفس تزکیه نۀ بیانوم ځکه چه عامو نفسونو کښې د شر ماده وی او انسان ته په بدئ باندے حکم کوی، خو هر نفس داسے نۀ دے بلکه (اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیۡ) که زما رب پرے رحم وکړی نو هغه به ددے نفس نه خلاص وی، لکه نفس د یوسف علیه السلام شو۔ او دا د پیغمبرانو او د خواصو بندګانو نفس وی۔

**فائده** : دے آیت کښې د نفس درے قسمونو (یا درے صفتونو) ته اشاره ده۔

(۱) نفس اماره بِالسُّوۡٓءِ : چه انسان ته په بدئ باندے حکم کوی۔ (۲) نفس لوامه : چه ګناه ترے کیږی لیکن بیرته زر ځان ملامته کوی او الله تعالیٰ ته رجوع کوی او د هغه نه بخنه غواړی دے ته اشاره ده په (غفور) سره۔ او (۳) نفس مُطۡمَئِنَّه۔ هغه نفس دے چه د الله تعالیٰ د ذکر او تعلق نه ئے بغیر وخت نۀ تیریږی او اطمینان د الله تعالیٰ په ذکر کوی۔ او دے ته اشاره ده په (رحیم) لفظ سره۔

لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ: یعنی نفس کښې الله تعالیٰ خواهشاتو ته میلان اچولے دے او دا هم د الله د طرفنه امتحان دے نو څوك چه د خواهش خلاف کوی هغه به کامیاب وی۔

| |
|---|
| وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِىْ بِهٖٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِىْ ج فَلَمَّا |
| اُووئيل بادشاه راولئ ما ته دے چه خاص ئے كړم دپاره د خپل ځان، نو هركله چه |
| كَلَّمَهٗ قَالَ اِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِيْنٌ اَمِيْنٌ ﴿٥٤﴾ |
| خبرے وكړے د هغهٔ سره نو وے وئيل يقيناً ته نن ورځ زمونږ په نيز مرتبے والا امانتگرئے۔ |
| قَالَ اجْعَلْنِىْ عَلٰى خَزَآئِنِ الْأَرْضِ ج اِنِّىْ حَفِيْظٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٥﴾ |
| ووئيل هغهٔ مقرر كړه ما په خزانو د زمكے (د مصر) يقيناً زهٔ ساتونكے پوهه يم (په نظام |
| وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِى الْأَرْضِ ج يَتَبَوَّأُ مِنْهَا |
| چلولو)۔ او دغسے ځائے وركړے وو مونږ يوسف ته په زمكه كښ چه ځائے نيولو د هغے نه |
| حَيْثُ يَشَآءُ ط نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَآءُ وَلَا نُضِيْعُ |
| كوم ځائے ئے چه غوختو، رسوو مونږ رحمت خپل چا لره چه وغواړو او نهٔ برباده وو |
| أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ |
| بدله د ښائسته عمل كونكو۔ او خامخا بدله د آخرت ډيره غوره ده دپاره د هغه كسانو |
| اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ |
| چه ايمان ئے راوړيدے او وى دوى تقوىٰ والا۔ |

**تفسير** : الله تعالىٰ يوسف عليه السلام ته د هغه د صبر او استقامت او عفت او طهارت په وجه ډير اُوچت مقام وركړو، د نبوت مقام ئے وركړو، او د مصر د بادشاه خليفه او نائب ئے جوړ كړو۔ كله چه بادشاه ته ددهٔ د عفت او د نفس د پاكوالى او د علم د فراخوالى پوره علم حاصل شو نو پدے ځل ئے ووئيل چه داسے انسان خو د جيل لائق نهٔ دے بلكه د مشرئ لائق دے، دهٔ سره خو ډير ظلم شويدے نو پدے وجه ئے ووئيل چه دا راولئ (اَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِىْ) يعنى زهٔ ئے خالص ملگرے جوړوم د خپل ځان دپاره۔ يعنى خپل مُشيرئے جوړوم۔

ددے ملك نه مراد ريان بن الوليد وو، دا سوئ وو د عزيز مصر نه۔

لِنَفْسِىْ : مخكښ دا د عزيز دپاره خالص وو نو اُوس ئے بادشاه د خپل ځان دپاره خالص كوى، ځكه چه يوسف عليه السلام نفيس (قيمتى شخص) وو او د بادشاهانو طريقه دا وى چه

نفيس څيزونه ځان دپاره خالص كوي. (فتح)
او دا كنايه ده د سخت اتصال او تعلقاتو نه د هغه سره. ځكه چه هغه ته ئې حكمة او علم او صبر په مشقتونو او ښائسته اخلاق او پاكدامني ښكاره شوه او دا ټول څيزونه د غوره كولو لائق دي. (ابن عاشورؒ)
فَلَمَّا كَلَّمَهُ : يعني كله ئې چه د هغه سره خبرې اترې وكړې نو يقين ورته وشو چه دا هغه نايابه ملغلره ده چه چا ته په قسمت سره ملاويږي ځكه چه انسان د خبرو نه معلوميږي چه دهٔ كښې څومره كمالات راجمع دي. نو فوراً ئې يوسف ؑ ته ووئيل چه زهٔ تا لره د حكومت په اعلىٰ منصب باندې مقرر كوم، او د خپل طرف نه د هر شي ذمه وار او امانت دار دې جوړوم. نو بادشاه هغه لره د خپل ځان نه روستو د مصر د ټولو نه لوئې حاكم جوړ كړو او په ټول ملك كښې ئې ددهٔ اعلان وكړو او د غټانو د مملكت نه ئې د يوې جينۍ سره د هغه وادهٔ وكړو.
اِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِيْنٌ اَمِيْنٌ: مكين عزتمند ئې او مرتبې والا ئې يعني تا ته مونږ يوه مرتبه او عهده د حكومت دركوو او تا په يو څه كار باندې امانتدار جوړول غواړو. يا مطلب دا دې چه مونږ ته ستا مرتبه او امانتداري او رشتينوالې او صفائي معلومه شوه.
اول مطلب واضح دې. نو پدې كښې د بادشاه د طرفنه د عهدې سنبالولو درخواست وشو نو يوسف ؑ خپله مطالبه نهٔ وه كړې.
(لكه بعض ووتونو والا ددې نه استدلال كوي چه يوسف ؑ خپله مشرى غوښتلې وه، دا غلط استدلال دې ځكه چه رسول الله ﷺ د امارت د طلب نه منع فرمائيلې ده)
قَالَ اجْعَلْنِيْ : كله چه بادشاه هغه خپل نائب مقرر كړو نو هغوى د خپل اهليت او قابليت او د ملك د ضرورت د وجه نه بادشاه ته ووئيل چه هركله تهٔ ما ته يوه عهده راسپارې نو خپل علم او امانت ئې راښكاره كړو او وې وئيل چه زهٔ د مصر د زمكې د خزانو ذمه وار جوړ كړې شم نو ښهٔ به وي، دې دپاره چه د خپل علم او امانت په رڼا كښې د قحط سالۍ په زمانه كښې عوامو ته د غذا رسولو دپاره د اُوس نه تيارى شروع كړم كوم چه د خوشحالۍ د اُوه كلونو نه روستو راروان دې. الله ورته د وحي په ذريعه علم او سياست خودلې وو ورنه تر اُوسه پورې خو دهٔ په جيل كښې ژوند تير كړو دې ته لدني علم وائي.
سوال دا دې چه دا بادشاه خو كافر دې نو يوسف ؑ ددهٔ سره څنګه عهده سنبال كړيده ؟
جواب دا دې چه د كافر سره كاروكسب جائز دې پدې شرط چه دغه كافر سره جنګ شروع

نـهٔ وی، او بله دا چه د هغه کار په وجه به دین ته نقصان نهٔ ورکوی، او د کافرو سره به پکښې مدد نهٔ وی بلکه د عوام الناس خدمت به وی، که کافر وی او که مسلمان۔
او د مسلمان ذلت بـه پـکښې نـهٔ وی۔ نو په دغه شرطونو سره د هغه په حکومت کښې عهده سنبالول جائز دی۔
وَ كَذٰلِكَ مَكَّنَّا : یعنی اُوسه پورے د یوسف ﷺ خپـل ځای نهٔ وو بلکه مسافر وو او په پردی ځایونو کښې او بیا په جیل کښې وو نو اُوس الله تعالیٰ پدے طریقه سره د مصر د زمکے مـالك جـوړ کـړو، څـنـګه ئے چه غوختل په هغے کښې ئے تصرف کولو، کوم ځای چه به ئے غـوخـتـل هـلـتـه بـه تـلـو، کلی وی که ښارونه، په هر ځای کښې به ددهٔ حکم چلیدو، او ټولو خلقو به ددهٔ په اشارو باندے حرکت کولو۔
سیـوطیؒ لیکلی دی چه قصه کښې داسے راغلی دی چه بادشاه دهٔ ته د عزیز مصر په ځای تاج ورپه سر کړو او دے ئے عزیز جوړ کړو او هغه ئے معزول کړو او هغه بیا ددهٔ نه روستو مړ شـو نـو د هغه ښځه (زلیخا) ئے دهٔ ته په نکاح کړه نو هغه ئے پیغله وموندله او د هغے نه ئے دوه هـلـکان پیدا شو او په مصر کښې ئے عدل قائم کړو چه ټول ځـنونه ورته خکته وو۔ (فتح البیـان) ۔ لیـکـن د زلیخا سره نکاح او د هغے دوباره ځوانیدل په صحیح روایت سره ثابت نهٔ دی۔ والله اعلم۔
امام مجاهدؒ فرمائی : یوسف ﷺ به همیشه بادشاه لره اسلام ته رابللو او هغه سره به ئے نـرمـی کوله تردے چه بادشاه او د هغهٔ سره ډیرو خلکو اسلام قبول کړو۔ نو ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَ كَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ﴾ الخ۔ (فتح البیان)
وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ : یـعـنـی د الله تعالیٰ نه د یریدونکو دپاره د آخرت ثواب د دنیا د ثواب نه زیات غـوره دے۔ مطلب دا دے چه سړی دپاره د آخرت د کامیابئ دپاره اصل کوشش کول پـکار دی، ځکه د دنیا جاه وجلال او عزت او شهرت ټول عارضی دی۔ او د آخرت نعمتونه همیشه باقی پاتے کیدونکی دی۔
او پـدے کـښې اشـاره ده چـه څـوك پـه دنیـا کـښې اول کـښې سخت ژوند تیر کړی او پابندی وکـړی نـو الله تـعـالیٰ به ئے روستو ژوند ښه کوی، په دنیا کښې هم او په آخرت کښې هم۔ په ځـوانـئ کـښې چـه څـوك د خواهشاتو نه صبر وکړی نو الله تعالیٰ ئے روستو ژوند برابروی۔ فتدبر۔
او رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ په شعب ابی طالب کښې درے کاله جیل تیر کړو لیکن

تقوىٰ او احسان او ايمان پکښې وو نو الله تعالىٰ ورله د مدينې ژوند آزاد ورکړو۔

| |
|---|
| وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ |
| او راغلل ورونه د يوسف نو داخل شول په يوسف (عليه السلام) باندې نو اُوپيژندل دهٔ هغوی لره |
| وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ |
| او هغوی دهٔ لره ناشنا ګڼړونکي وو۔ او هرکله چه تيار کړو دهٔ هغوی لره سامان د سفر د هغوی |
| قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْٓ اُوْفِي |
| ووئيل هغهٔ راولئ ما ته ورور ستاسو د پلار ستاسو نه، آيا نهٔ وينئ چه يقيناً زهٔ پوره ورکوم |
| الْكَيْلَ وَاَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۵۹﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِيْ بِهٖ فَلَا |
| پيمانه او زهٔ غوره يم د ميلمستيا ورکونکو نه۔ نو که رانهٔ وستو تاسو هغه نو نهٔ به وی |
| كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِيْ وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا |
| هيڅ پيمانه تاسو لره ما سره، او مهٔ رانزدې کيږئ ما ته۔ اُووئيل دوی |
| سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ |
| زر دې چه طلب به وکړو مونږ د هغه په باره کښې د پلار د هغهٔ نه او يقيناً مونږ خامخا دا دې کونکي يو۔ |

**تفسير** : ددې ځای نه تر (۶۸) آيت پورې اُوم مقام دې۔ پدې کښې د يوسف عليه السلام د ورونو په اول ځل راتلل او يوسف عليه السلام هغوی لره د دويم ځل راتللو سبب جوړول چه ورور ئې ترې طلب کړو، او په واپس کولو د قيمت د هغوی هغوی ته۔ او بيا د پلار تعليم دې ځامنو ته د طريقې د دويم ځل راتللو دې دپاره چه دوی ته ضرر ونهٔ رسی۔

اُوس د يوسف عليه السلام خوب پوره ښکاره کيږی۔ د مصر په زمکه کښې اُوه کالو پورې ښهٔ بارانونه وشو، د زمکې زرخيزی په ډيرو چندونو زياته شوه۔ وئيلې کيږی چه په ملك کښې د درياب د شړو په شان غلې ډيرې وشوې۔ د يوسف عليه السلام په حکم سره د هر ښار نه به ګير چاپيره غلې دې ښار ته راجمع کولې شوې۔ د اُوه کالو نه روستو په مصر او شام او خواؤ شا علاقو کښې زبردسته قحط سالی شروع شوه۔ خلق د لرې لرې نه راتلل شروع شو دې دپاره

چه ځان لـه او خپـل بـال بـچ لـه غله حاصله کړي، ځکه چه دوی آوریدلی وو چه د مصر د خزانـو انـچارج د غـلـے ډیر غټ مقدار جمع کړیدے او هغه خرڅوی۔ (او پدے سره د ملك اقتصاد هم ښه کیږی)

پـدے راتـلـونـکو کـښ د يوسف ﷺ ورونـه هـم وو، چـه دوی خپـل پلار يعقوب ﷺ د فـلسطين نه رالیږلی وو (دوی په فلسطين کښ په کنعان علاقه کښ د عَرَبَات وسيدونکی وو او عربات د شام سرحدی علاقه ده او دا خلك بانډو والا او ځاروو والا وو)۔ (فتح البيان)

ابن عاشورؒ ليکی چه د دوی راتلل د قحط په دويم کال وو۔ (التحرير)

د دوی قـافـلـه په لس افرادو باندے مشتمله وه۔ کشر ورور بنيامين ورسره نۀ وو، هغه ترے پلار ايسار کړے وو۔

او پلار دا لس واړه ځامن پدے وجه راوليږل چه دا مشهوره وه چه د هر يو تن په سر باندے غله ملاویږی او د کس په سر باندے يو وسق (يعنی شپيته صاعه) غله وه۔ (قرطبیؒ)

او ابن عاشورؒ وائی چه دوی ګنړ پدے وجه راغلل چه قطاع الطريق دوی لره ونۀ وهی۔

**فَدَخَلُوا عَلَيۡهِ**: کله چه يوسف ﷺ د خـلـکـو سختی وليدله نو د غلے د خرڅولو دپاره به خپـلـه کيناستو او د هغے نګرانی به ئے کوله دے دپاره چه غله ضائع نۀ شی ځکه چه پدے سره د امت ژوند برابريږی۔ (ابن عاشورؒ والقرطبیؒ)

**فَعَرَفَهُمۡ**: ورونو يوسف ﷺ لره ونه پيژندلو ليکن هغه خپل ورونه وپيژندل۔ وجه دا وه

۱- چه لِقُوَّةِ فِرَاسَتِهٖ وَزَكَانَةِ عَقۡلِهٖ دُوۡنَهُمۡ ۔ (ابن عاشورؒ) ځکه چه يوسف ﷺ کښ الله تعالیٰ مضبوط فـراسـت (هـوښـيـارتيـا) او کامل عقل اچولے وو چه هغه شان په دوی کښ نۀ وو ځکه چه نبی ته الله تعالیٰ ډير لوی بصيرت او فراست ورکړے وی۔

۲- لِاَنَّ يُوۡسُفَ كَانَ مُنۡتَظِرًا۔ ځـکـه چه يوسف ﷺ پـه انـتـظـار کښ وو چه زما د خاندان خلك به هم راځی۔ او انتظار کونکے معلومات زر کولے شی۔

۳- دارنګه دے چه د ورونو نه جدا کيدو نو هغوی لوی سړی وو نو هيڅتونه ئے دومره نۀ وو بدل شوی او يوسف ﷺ خو وړوکے وو، اُوس پرے ډيره زندګی تيره شويده۔

**وَهُمۡ لَهٗ مُنۡكِرُوۡنَ**: ورونـو هغۀ لره نۀ پيژندلو ځکه چه هغوی خو يوسف د خپل سوچ نـه ويستـلے وو چه هغه مړ دے او اُوس خو هغه د بادشاهئ او مشرئ په شکل کښ دے چه غلامان او خادمان ئے ګيرچاپيره ولاړ دی۔

ځيـنـی وائی : چه يوسف ﷺ پـدے حـال کـښ د مـصـر د بـادشـاه په شکل وو چه تاج ئے

اغوستے دے او غاړے ته ئے د سرو او سپینو امیلونه او د وریښمو کپړے دی۔ یا زمانه ډیره تیره شوے ده۔ لکه مفسرین وائی چه څلویښت کاله مینځ کښې وتلی دی۔ نو دا ټول اسباب چه راجمع کړے شی خامخا ناشنا والے پیدا کوی۔ (فتح والقرطبی)

**بِجَهَازِهِمْ**: جهاز په فتح د جیم او کسرے سره هغه شی ته وئیلے شی چه مسافر ورته حاجت لری۔ یعنی سامان د سفر۔ او تجهیز سامان تیارولے ته وئیلے شی لکه د ناوے د پلار کاله نه رخصتیدو وخت کښې چه کوم سامان ځان سره وړی هغے ته "جهیز" وئیلے شی۔

**قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُمْ**: سوال دا دے چه هرکله ئے دا ورته ووئیل چه ستاسو بل ورور دے نو بیا هغوی ولے نۀ پیژندلو؟ جواب دا دے چه په قصه کښې اختصار شویدے هغه دا چه هغوی ورته ووئیل چه مونږ ته یوه پیمانه زیاته راکړه، ولے؟ ځکه چه زمونږ یو ورور دے چه د مور نه مو نۀ دے او د پلار نه مو دے هغه پاتے شویدے، ولے مو پاتے کړیدے؟ ځکه چه پلار په هغه باندے خفه کیږی ځکه چه د هغه یو ورور ورك شویدے نو په هغه سره تسلی حاصلوی مونږ سره ئے نۀ راپریدی۔

نو که تۀ مونږ ته غائبانه د هغه برخه راکړے نو ښه به وی نو هغه ورته ووئیل چه داسے نشی کیدے، هغه به راولئ نو زۀ به تاسو ته پوره پیمانه درکړم۔

**فائده**: دلته بعض مفسرینو قصے له یو خاص ترتیب ورکړیدے چه صحیح نۀ ده چه هغوی سلام وکړو او د هغوی تعظیمی سجده ئے وکړه نو ځان ئے نانګانه کولو سره د هغوی نه تپوس وکړو چه تاسو د کوم ځای نه راغلی یئ؟ هغوی ووئیل د کنعان نه۔ یوسف ووئیل، تاسو جاسوسان معلومیږئ، دلته د جاسوسئ په غرض سره راغلی یئ۔ هغوی ووئیل چه په الله پناه، مونږ خو ستا غلامان یو او د غلے دپاره راغلی یو، په ملك کښې د قحط په وجه زمونږ حالت بدل شویدے۔ او مونږ ټول ورونه یو، د یو پلار اولاد یو۔

یوسف عليه السلام تپوس وکړو چه تاسو څو مره ورونه یئ؟ هغوی ووئیل، مونږ دولس ورونه وو، یو مړ شو۔ یوسف عليه السلام تپوس وکړو چه دلته تاسو څو مره یئ؟ هغوی ووئیل لس۔ یوسف تپوس وکړو یولسم ورور چرته دے؟ دوی ووئیل، د پلار سره۔ هغه ووئیل، زۀ پوهیدل غواړم چه تاسو رشتینی یئ، پدے وجه دلته یو ورور د رهن (ګانړے) په توګه پاتے شئ، او باقی غله ویسئ او وړوکے ورور ځان سره راولئ ورنه آینده به تاسو ته غله نۀ ملاویږی۔ نو شمعون ئے ایسار کړو او باقیو ته ئے اجازت ورکړو، او هغوی ته ئے د سفر د توخے ورکولو حکم صادر کړو۔

قصه پدے ترتیب سره څکه صحیح نهٔ ده چه د روستو الفاظو سره سمون نهٔ خوری۔ بله دا چه امام رازیؒ وائی چه یوسف علیه السلام خو صدیق وو او هغه ته یقیناً معلومه ده چه دوی ددے بهتان نه بری دی نو بیا ولے په هغوی بهتان لګوی چه تاسو جاسوسان یئ۔ (فتح البیان) او دا قصه د تورات د سفر التکوین اصحاح (۴۲) نه نقل شویده۔ (ابن عاشورؒ)

أَلَا تَرَوْنَ أَنِّيٓ أُوفِي الْكَيْلَ : دائے ورته وویل دے دپاره چه هغوی ته ترغیب ورکړی په دوباره راتللو کښې۔ او د زیات اعتماد ورکولو او تصدیق دپاره ئے ورته وویل :

وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ: او زهٔ ډیره ښائسته میلمستیا ورکونکے یم لکه څنګه چه مے تاسو ته درکړه۔ دا هم دلیل دے چه نسبت د دوی جاسوسیٔ ته صحیح نهٔ دے۔

یوسف علیه السلام به د میلمنو زیات اکرام کولو او لنګر به ئے پرے خوړلو او اسلامی بادشاه هم دغه شان پکار دے چه عوامو ته فائده ورسوی نهٔ دا چه هغوی په لوږ شیډنګ او په ټیکسونو تنګ کړی۔

فَإِنْ لَّمْ تَأْتُونِي بِهٖ : یعنی که تاسو دغه بل ورور رانهٔ وستو نو ما سره به ستاسو هیڅ پیمانه نهٔ وی یعنی هیڅ به دربانده نهٔ خرڅوم او نهٔ به ما ته رانزدے شئ څکه چه تاسو به دروغژن حساب شئ۔ یا زما ملك ته به نهٔ راځئ پاتے لا دا چه زهٔ تاسو سره احسان وکړم۔ (فتح) او دا سخته دهمکی وه۔

او دا کار یوسف علیه السلام د الله په امر سره کوی او الله تعالیٰ غواړی چه په یعقوب علیه السلام باندے امتحان ډبل کړی یو د یوسف علیه السلام په وجه او بل د بنیامین په وجه۔

سَنُرَاوِدُ: یعنی کوشش به کوو څومره چه مو وس وی۔ یا مراوده معنیٰ په چل باندے د هغه د لاس نه راویستل دی۔

د یعقوب علیه السلام ځامنو د مصر د خزانچی دا دهمکی چه واوریده چه که تاسو ورور رانهٔ ولیٔ نو زما ملك ته به دوباره نهٔ راځئ نو دوی ووئیل چه مونږ به د خپل طرف نه د هغه پلار په راضی کولو پوره کوشش کوو، او د زیات تاکید په توګه ئے ووئیل چه مونږ به یقیناً هغه ځان سره راولو۔

| وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِيْ رِحَالِهِمْ |
| --- |
| او ووئیل هغهٔ خادمانو خپلو ته، واچوئ مال د تجارت د دوی په بارونو د دوی کښې |

لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا انقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ

دے دپاره چه دوی ئے وپیژنی کله چه واپس شی دوی خپل کور والو ته دے دپاره چه دوی

يَرۡجِعُونَ ﴿٦٢﴾ فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا

واپس راشی۔ نو هرکله چه واپس شول پلار خپل ته، ووئیل دوی: اے پلاره زمونږ!

مُنِعَ مِنَّا الۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ

منع کړے شو مونږ نه پیمانه (د راشن) نو ولیږه مونږ سره وررور زمونږ پیمانه به راوړو

وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ

او یقیناً مونږه به ددهٔ خامخا حفاظت کونکی یو۔ ووئیل هغهٔ اعتبار نکوم په تاسو

عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبۡلُ ط

ددهٔ په باره کښ مګر لکه چه اعتبار مے کړے وو په تاسو په باره د وررور ددهٔ کښ مخکښ ددے نه

فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظًا ص وَهُوَ أَرۡحَمُ الرَّٰحِمِينَ ﴿٦٤﴾

نو الله ډیره غوره حفاظت کونکے دے او هغه ډیر رحم کونکے دے د رحم کونکو نه۔

**تفسیر**: یوسف علیه السلام تول کونکو ته ووئیل چه دوی کوم رقم ادا کړیدے، هغه د دوی په سامان کښ کیږدئ، دے دپاره چه د واپسئ نه روستو دوی ته خپل رقم ملاؤ شی نو دوباره به راځی۔

**بِضَٰعَتَهُمۡ**: یوسف علیه السلام په خپلو ورونو کښ د تنګدستیا نښے ولیدلے نو پدے وجه پوهه شو چه که دوی کلی ته لاړ شی او پیسے ورسره نهٔ وی نو دوباره راتلل به نکوی پدے وجه ئے ورته پیسے واپس کړے۔ (ابن عاشور)

بضاعه: هغه مال دے چه په هغے باندے تجارت کیږی۔ مفسرین وائی چه دوی خرمنے او څپلئ راوړے وے۔ او ځینی وائی چه د سپینو زرو روپئ وے۔ (فتح البیان)

**رِحَالِهِمۡ**: دا جمع د رَحۡلٌ ده، دا هغه لوښی ته وائی چه په هغے کښ طعام وغیره کیخودے شی۔ او دلته ترے مراد نور سامانونه دی۔ یعنی د هریو تن په پالان او سامان کښ به د هغه مال کیږدئ۔ واحدیؒ وائی: رحل هر هغه شی ته وئیلے شی چه د سفر دپاره

تیارولے شي لکه لوښي، د سورلۍ دپاره اوښ او ځای د ناستې او پرې وغیره۔
یوسف علیه السلام دا کار یو خو په هغوی باندې احسان کولو دپاره وکړو۔ او دې دپاره چه هغوی ته خپله نیکي او کرم او احسان وښائي۔ یا ددې دپاره چه دوی پرې د دوباره راتللو تیارې په جلتۍ سره وکړي۔ فراءِ وائي: د یعقوب علیه السلام کورنۍ طعام بې پیسو نهٔ اخلی نو هرکله چه دوی ته دا پیسې واپس کړې شي او دوی ئې وینی نو پلار به دا ځامن دوباره مصر ته ددې قیمت د واپس کولو دپاره رالیږی نو ضرور به ځان سره بنیامین راولي۔ یا ویریدو چه ددهٔ د پلار سره به نور مال نهٔ وی ځکه چه زمانه د قحط او سختۍ وه۔
او دا ئې ورله په پټه طریقه سره ورکړې ددې حکمة دا ښکاره کیږی چه یوسف علیه السلام ته معلومه وه چه کورنۍ د یعقوب علیه السلام د ډیر شرافت د وجه نه داسې عطیې نهٔ قبلوی۔ (احسن الکلام) یا ئې پداسې طریقه په هغوی احسان کولو چه هغوی باندې څه زبادنه او عیب رانشي۔ (القرطبی وفتح البیان)
او ددې نه دا مسئله هم ثابته شوه چه یو حاکم لره دا قسم تصرف په مال کښې جائز دې چه د څه مصلحت په بنیاد خپلوانو محتاجو ته څه مال ورکړي خاصکر چه یوسف علیه السلام نبي هم دې او د الله تعالیٰ په وحی کار کوی۔
**مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ** : یعنی هرکله چه واپس لاړل، خپل پلار یعقوب علیه السلام ته ئې ووئیل چه اې پلاره! آینده کښې زمونږ نه غله منع کړې شوه که مونږ خپل ورور بنیامین ځان سره بونهٔ ځو، ځکه چه بادشاه مونږ ته وئیلي وو چه که تاسو ورور رانهٔ وستو نو تاسو ته به غله نهٔ درکوو، پدې وجه دا زمونږ سره پریدهٔ، دې دپاره چه غله ملاؤ شي او یقین وکړه چه مونږ به ددهٔ پوره طریقې سره حفاظت کوو۔
یا د الکیل نه مراد پیمانه د ورور ده چه هغه مونږ ته ملاؤ نشوه او دوی دا خبره پلار ته د سامان کولاوولو نه مخکښې وکړه د وجه د ډیر اهمیت نه۔
**قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ**: هَلْ نافیه دې۔ یعنی یعقوب علیه السلام وویل چه کوم لوظ ما تاسو نه د یوسف د حفاظت دپاره اخستې وو، آیا د هغې نه هم کوم زیات سخت لوظ به وی چه هغه زهٔ ستاسو نه د بنیامین دپاره واخلم۔ ددې باوجود تاسو د یوسف په باره کښې ما سره خیانت کړې، پدې وجه اُوس زهٔ په تاسو بهروسه نشم کولې، زهٔ ددهٔ د حفاظت معامله الله ته سپارم چه د ټولو نه لوی محافظ دې، او د والدینو او ورونو نه زیات رحم کونکې دې۔ دا د یعقوب علیه السلام د طرف نه اشاره وه چه هغه د بنیامین بوتلو اجازت ورکوی۔

اٰمَنۡكُمۡ : یعنـی باور نکوم په تاسو په باره د بنیامین کښ لکه څنګه چه ما باور کړے وو په تاسو باندے ددهٔ د ورور یوسف په باره کښ۔ بلکه دا ځل زما اعتماد او بهروسه صرف په الله تعالیٰ ده۔ هغه بهترین حفاظت کونکے دے۔ نو زما امید دے چه هغه الله تعالیٰ به په ما باندے انعام کوی ددهٔ په حفاظت سره او په ما باندے به دوه مصیبتونه نهٔ راجمع کوی۔

مفسرین لیکی چه هرکله یعقوب علیه السلام د بنیامین حفاظت الله تعالیٰ ته وسپارلو نو الله تعالیٰ ورله محفوظ کړو او بیرته ئے ورته راواپس کړو۔ او کله ئے چه د یوسف علیه السلام په باره کښ ووئیل ﴿ وَاَخَافُ اَنۡ یَّاۡکُلَهُ الذِّئۡبُ﴾ نو دغه امتحان پرے راغے۔

کعبؒ وائی : هرکله چه ئے دا خبره وکړه نو الله وفرمایل: [وَعِزَّتِیۡ وَجَلَالِیۡ لَاَرُدَّنَّ عَلَیۡكَ کِلَیۡهِمَا] زما په خپل عزت او اوچت شان باندے قسم دے چه زهٔ به خامخا تا ته دواړه راواپس کوم۔ (فتح البیان)

| |
|---|
| وَلَمَّا فَتَحُوۡا مَتَاعَهُمۡ وَجَدُوۡا بِضَاعَتَهُمۡ رُدَّتۡ |
| او هرکله چه پرانستل دوی سامان خپل موندهٔ کړو دوی مال خپل چه واپس شوے وو |
| اِلَیۡهِمۡ ؕ قَالُوۡا یٰۤاَبَانَا مَا نَبۡغِیۡ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا |
| دوی ته، ووئیل دوی اے پلاره زمونږ ! نهٔ کوو مونږ ظلم، دا مال زمونږ دے |
| رُدَّتۡ اِلَیۡنَا ۚ وَنَمِیۡرُ اَهۡلَنَا وَنَحۡفَظُ |
| چه راواپس شویدے مونږ ته، او غله به راوړو خپلے کورنئ دپاره او حفاظت به کوو |
| اَخَانَا وَنَزۡدَادُ کَیۡلَ بَعِیۡرٍ ؕ ذٰلِكَ کَیۡلٌ یَّسِیۡرٌ ﴿۶۵﴾ |
| د ورور خپل او زیات به راوړو پیمانه د اُوښ، دا پیمانه ده آسانه۔ |

**تفسیر** : وائی چه د دوی نه یو تن په لاره کښ د خپلے سورلئ حیوان ته د چارے ورکولو دپاره خپل سامان کولاؤ کړو نو هغه ته خپل رقم د بورئ په خوله کښ ملاؤ شو۔ هغه دا خبره خپلو ورونو ته وکړه۔ او کله چه کنعان ته ورسیدل نو ټولو د غلے خپله خپله بورئ کولاؤه کړه، نو هر یو ته د هغه رقم د بورئ په خوله کښ ملاؤ شو۔

ټول ډیر زیات خوشحاله شو، د الله تعالیٰ شکرئے ادا کړو، او ټولو په یوه ژبه خپل پلار یعقوب علیه السلام ته ووئیل چه اُوس مونږ له څه کول پکار دی، عزیز مصر ے حده تکریم وکړو،

غله ئے هم راكړه، د لارے توخه ئے هم راكړه، او زمونږ پيسے ئے هم واپس كړے، او د دوى مقصد پدے خبرو اترو سره دا وو چه يعقوب عليه السلام د بنيامين د تللو اجازت وركړى۔

او مونږ كه د هغه خبره ومنو او خپل ورور بنيامين ځان سره بوځو نو د خپل اهل وعيال د خوراك دپاره به غله راوړو، د خپل ورور حفاظت به كوو، او د ورور د وجه نه به د يو اُوښ غله راوړو چه په بادشاه به گرانه نۀ تيريږى۔

**مَا نَبْغِيْ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا** : ١- بغى ظلم ته وائى او ما نافيه ده، يعنى مونږ ظلم نۀ كوو په هيڅ باندے چه پيسے ترے راوړو او غلا وكړو بلكه دا زمونږ پيسے دى چه مونږ ته بادشاه راواپس كړيدى، ځكه چه دوى د بادشاه نه مخكښ هم احسانات ليدلى وو نو دائے هم احسان وگنړلو۔ ٢- ما استفهاميه ده او بغى طلب كولو ته وائى: اَىُ مَا نَبْغِيْ وَرَاءَ هٰذَا ؟۔ يعنى ددے نه اخوا به نور څه وغواړو، دا دى پيسے ئے هم مونږ ته راواپس كړے دومره عزتمند بادشاه دے۔ (قتادةؒ)

٣- مَا نَبْغِيْ فِي الْقَوْلِ وَمَا نَزِيْدُ فِيْمَا وَصَفْنَا لَكَ مِنْ اِحْسَانِ الْمَلِكِ۔ يعنى مونږ زياتے نكوو په خبره كښ او په بيانولو د احساناتو د بادشاه كښ او زمونږ په اكرام كولو كښ۔ دا دے مال ئے هم راواپس كړو۔ ځكه چه څوك داسے احسان كوى نو لائق دے چه د هغه صفت وكړے شى۔

٤- مَا نَبْغِيْ مِنْكَ دَرَاهِمَ وَلَا بِضَاعَةً بَلْ تَكْفِيْنَا بِضَاعَتُنَا هٰذِهِ الَّتِيْ رُدَّتْ اِلَيْنَا ۔ (فتح البيان والقرطبى) يعنى مونږ ستا نه پيسے او مال نۀ غواړو بلكه دا پيسے چه مونږ ته راواپس شوے دا زمونږ كافى دى۔

**وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا** : ابن عاشورؒ وائى : دا په (هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا) باندے عطف دے نو معنىٰ دا شوه چه دا پيسے دى چه مونږ ورته په غله راوړو كښ محتاجه كيږو چه مونږ ته راواپس شوے نو اُوس به پدے سره خپل اهل دپاره غله راوړو۔ (التحرير)

**وَنَمِيْرُ** : دا د مَارَ يَمِيْرُ مِيْرَةً نه دے۔ عرب وائى : مَارَ اَهْلَهٗ يَمِيْرُهُمْ ۔ دا په هغه وخت استعماليږى چه كله خپل اهل ته طعام رابار كړى او د يو ښار نه ئے بل ښار ته راكاړى۔ (فتح البيان)

**ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ**: يعنى دا په بادشاه باندے آسانه پيمانه ده ځكه چه بادشاه مُحسن دے، د سخا د وجه نه هغه په مونږ باندے پدے كښ بوج نۀ راولى۔ او بادشاه همدغه شان پكار وى چه په عوامو سختى رانۀ ولى، بلكه لارے ورته هموارے كړى۔ يا مطلب دا دے چه په

آسانۍ سره حاصلیږي ځکه انتظار پکښې نشته بس ورتلل او پیمانه راوړل دي۔
ځینې وائي : یسیر معنیٰ ده لږه۔ او مطلب دا دے چه دا مونږ چه کومه غله راوړه دا خو معمولي شان ده، زر به ختمه شي او چه کله ورور ځان سره بوځو نو غله به زیاته شي۔ اول قول غوره دے۔

| |
|---|
| قَالَ لَنْ أُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا |
| اُووئیل هغهٔ هیچرے نهٔ لیږم دهٔ لره تاسو سره تردے چه راکړئ تاسو ما ته کلك لوظ |
| مِّنَ اللّٰهِ لَتَأْتُنَّنِيْ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ج |
| د الله نه چه خامخا به راولئ تاسو دهٔ لره مګر دا چه راګیر کړے شئ تاسو |
| فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ |
| نو هرکله چه ورکړو دوی هغه ته کلك لوظ خپل، نو ووئیل هغهٔ، الله تعالیٰ |
| عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ |
| په هغه څه چه مونږه ئے وایو ذمه وار دے۔ |

**تفسیر** : یعقوب علیه السلام ووئیل چه زهٔ دا تاسو سره پدے صورت کښې لیږلے شم چه تاسو په الله قسم کولو سره ما سره ددے خبرے لوظ وکړئ چه تاسو به په هر حال کښې دا واپس راولئ، مګر دا چه دشمن تاسو ټول د څلورو طرفونو نه راګیر کړي، او تاسو مغلوبه شئ، او ددهٔ نفس بچ نکړے شئ۔ یعني دا به درسره نهٔ منم چه تاسو ټول روغ راځئ او دے هلاکیږي ځکه چه دا به قوي قرینه وي ددے خبرے چه تاسو به خیانت کړے وي۔ دا به هم کله نا کله تقدیر کښې لیکلے شوی وي لیکن پدے کښې به په تاسو باندے تهمت ضرور راځي۔

او ددے نه علماؤ دا استدلال هم کړیدے چه یو تن سره امانت کیخودے شو او د هغهٔ نه صرف د امانت مال غلا شو او ددهٔ خپل مال محفوظ پاتے شو، نو دے به د تهمت په وجه تاوان ورکوی او که ددهٔ مال هم ورسره غلا کړے شو، نو بیا به تاوان نهٔ وي لکه داسے فیصله سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه په انس بن مالك رضی الله عنه باندے کړے وه چه هغه نه د امانت مال غلا شوے وو او ددهٔ مال روغ پروت وو۔ نو عمر فاروق رضی الله عنه ورته ووئیل چه تا بې احتیاطي کړیده

نو د هغه نه ئے تاوان واخستو۔

**فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ** : کله چه دوی پوخ لوظ وکړو نو یعقوب علیه السلام دوی ته د دوی لوظ یادولو سره او د لوظ د ماتولو د بد انجام نه یرولو سره وویل چه مونږ پدے خپله خبره باندے الله گواه جوړه وو۔ ابن اسحاقؒ وائی چه هغه پدے وجه اجازت ورکړو چه د غلے حاصلولو دپاره ددۀ نه سِویٰ بل هیڅ چاره نۀ وه۔ (ابن کثیرؒ)

**قَالَ اللّٰهُ** : یعنی مونږ خو خبره وکړه لیکن په اصل کښې خو کارساز او د توکل لائق الله تعالیٰ دے خو دا مو ظاهری اسباب استعمال کړل۔

**وَكِيْلٌ**: یعنی الله تعالیٰ حفاظت کونکے دے او په هغه باندے توکل کیدے شی او هغه ذمه وار دے۔

| |
|---|
| وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا |
| او اُووئیل (پلار) اے بچو زما ! مۀ داخلیږئ د یوے دروازے (د مصر) نه او داخل شئ |
| مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ط وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ط |
| د دروازو جدا جدا نه، او نۀ شم دفعه کولے ستاسو نه د الله (د مصیبت) نه هیڅ شے، |
| اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ط عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ج |
| نۀ دے اختیار مگر صرف الله لره دے، خاص په هغه ما ځان سپارلے دے |
| وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٦٧﴾ |
| او خاص په هغه دے ځان اُوسپاری ځان سپارونکی۔ |

**تفسیر** : هرکله چه هغوی مصر ته د سفر کولو اراده وکړه نو یعقوب علیه السلام هغوی ته ادب او طریقه وخودله چه د مصر ښار ته چه ځئ نو یوے دروازے نه مۀ داخلیږئ۔

او ددے وجه دا ده چه د یعقوب علیه السلام ټول ځامن صحتمند او ښائسته وو، او ښائسته لباس به ئے اغوستلو، پدے وجه د هغۀ یره پیدا شوه چه که دوی د یوے دروازے نه داخل شی نو چرته د چا بد نظر به پرے ولگی، د ابن عباسؓ، مجاهدؒ، قتادهؒ او جمهورو مفسرینو رائے همدا ده۔ یا د چا بدگمانئ (د غلا تهمت) دربانده رانشی، پدے وجه ئے هغوی ته نصیحت وکړو چه ټول د یوے دروازے نه ښار ته داخل نۀ شئ، بلکه د مختلفو دروازو نه

داخل شئ. وائی چه په هغه وخت کښې د مصر څلور دروازے وے.

او ددے نه معلومه شوه چه یعقوب علیه السلام نبی دے خپل امت ته د سفر آداب بیانوی لکه زمونږ رسول ﷺ هم امت ته ډیر آداب خودلی دی.

## نظر لګیدل حق دی

او دا هم معلومه شوه چه نظر لګیدل حق دی او دا هم د الله تعالیٰ په تقدیر سره کیږی لکه د ډیرو صحیح احادیثو نه دا خبره ثابته ده. (بخاری فی الطب باب ٣٦) ومسلم حدیث: ٤٢،٤١)

رسول الله ﷺ او بعض صحابه کرامو باندے نظر لګیدلے وو، بخاریؒ او مسلمؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه "نظر لګیدل حق دی". او حافظ ابن القیمؒ په خپل کتاب «زاد المعاد» کښې پدے موضوع باندے تفصیل سره لیکل کړیدی، او د صحیحینو او د نورو کتابونو نه ئے ددے په ثبوت کښې د صحیح احادیثو د نقل کولو نه روستو لیکلی دی چه د عربو په نیز دا خبره د پخوا زمانے نه ثابته ده چه نظر لګیږی. پدے وجه کوم خلك چه قرآن او سنت د دین مَرجع منی د هغوی پدے اجماع ده چه د بعض انسانانو نظر په نورو انسانانو بلکه په حیواناتو لګیږی، او څو مره خلق د نظر لګیدو په وجه هلاك کیږی، د داسے خلقو په باره کښې علماؤ لیکلی دی چه د الله مخلوق لره د دوی د نظر د شر نه د بچ کولو دپاره به یا خو دوی ته همیشه جیل ورکولے شی یا به د کلی نه شړلے شی.

وَمَآ اُغۡنِیۡ عَنۡکُمۡ: دے نه روستو فوراً ئے دا وویل چه زۀ ددے خپل تدبیر په ذریعه د الله تعالیٰ قضاء او تقدیر نشم اخوا کولے، ځکه چه احتیاط د تقدیر په لاره کښې حائل او مانع نشی کیدے. مفسر ابو السعودؒ لیکی چه د یعقوب علیه السلام مقصد دا نۀ وو چه احتیاط بیکاره شے دے. الله تعالیٰ خپله په قرآن کښې فرمایلی دی:

﴿وَلَا تُلۡقُوۡا بِاَیۡدِیۡکُمۡ اِلَی التَّهۡلُکَةِ﴾ (خپل ځانونه هلاکت ته مۀ غورزوئ). (البقره: ١٩٥).

دارنګه فرمایلی ئے دی: ﴿خُذُوۡا حِذۡرَکُمۡ﴾ احتیاط د لاس نه مۀ ورکوئ. (النساء: ١٠٢/٧١)

د دوی مقصد دا خودل وو چه احتیاط مقصد اصلی نۀ دے، بلکه خالص تدبیر دے چه ددے مفید جوړول د الله تعالیٰ کار دے، او تدبیر تقدیر لره نشی روستو کولے، دا د الله تعالیٰ نه د مدد حاصلولو یو ذریعه ده. او ددے نه تختیدو سره د الله تعالیٰ په جناب کښې د پناه نیولو خبره ده.

او دا ښکاره دليل دے چه انبياء عليهم السلام د هيچا نه ضرر او مصيبت نشي دفع کولے اګر که ژوندي وي نو نور اولياء او بزرګان به پس د مرګ نه څنګه د چا مدد وکړي.

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ: دے نه روستو دوی اُووئيل چه ټولے فيصلے د الله په اختيار کښې دی، په هغے کښې د بل هيچا دخل نشته دے، پدے وجه ما په هغه باندے بهروسه کړيده، او ټولو خلقو له صرف په هغه باندے بهروسه کول پکار دی.

الْحُكْمُ: نه مراد حکم تکويني او تقديري هم دے چه تصرفات او اختيارات دی، او حکم تشريعي هم (يعنی د حلالو او حرامو شرع جوړولو اختيار، صرف د الله پورے خاص دے).

نو پدے آيت کښې درے آداب ذکر شو يو دا چه په يوه دروازه مۀ داخليږئ، دويم دا چه عقيده وساتئ چه زۀ ستاسو نه تکليف نشم لرے کولے. دريم دا چه په الله توکل وکړئ هغه به ستاسو حفاظت کوی.

| |
|---|
| وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ أَبُوْهُمْ ط |
| او هر کله چه داخل شو دوی د هغه ځائے نه چه حکم کړے وو دوی ته پلار د دوی، |
| مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ |
| نۀ وو هغه چه اړولے ئے وے د دوی نه د الله (د مصيبت) نه هيڅ څيز مګر يو ارمان وو په زړۀ |
| يَعْقُوْبَ قَضٰهَا ط وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا |
| د يعقوب (عليه السلام) کښې چه پوره ئے کړو، او يقيناً هغه خاوند د علم وو د وجے د هغے نه |
| عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ |
| چه علم ورکړے وو مونږ هغۀ ته ليکن ډير د خلقو نه نۀ پوهيږي. |

**تفسير**: د پلار د وينا مطابق د مختلفو دروازو نه د دوی داخليدل د الله تعالیٰ تقدير نشو روستو کولے، او نۀ د يعقوب عليه السلام داسے خيال وو، دا خو صرف د هغۀ د پلارولئ شفقت وو چه هغه ئے پدے طريقه ښکاره والے کړے وو، هغه الله تعالیٰ نبي جوړ کړے وو او آسماني علم او حکمت ئے ورکړے وو، هغه ته معلومه وه چه تدبير تقدير نشي روستو کولے، او د الله تعالیٰ فيصلے به په هر حال کښې واقع کيږي، ليکن ډير عوام دا ګمان کوی چه په اسبابو کښې تاثير وي چه دا د دوی کچه خيال دے، او په تقدير باندے د ايمان راوړو مخالف

عقیده ده. او دا دے یعقوب علیه السلام تدبیر کوی لیکن الله تعالیٰ چه په تقدیر کښ تکلیف لیکلے وو نو هغه پرے راغے چه دغه ځوی هم ترے د څه وخت دپاره ایسار کړے شو.

مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ : دا د الله تعالیٰ د طرفنه تصدیق دے د یعقوب علیه السلام د خبرے دپاره چه هغه وویل : ﴿ وَمَا أُغْنِيْ عَنْكُمْ ﴾ (زهٔ ستاسو نه د الله د طرفنه څه شے نهٔ شم دفع کولے) چه معلومه شی چه د هغه قول صرف تواضعًا نهٔ وو بلکه حقیقت وو.

وَاِنَّهُ لَذُوْ عِلْمٍ : یعنی دے پدے خبره ښهٔ پوهه وو چه تدبیر سره تقدیر نهٔ بدلیږی اګرکه شرعی تدبیر کول لازم دی. کله چه تدبیر مؤثر نشی نو بیا به په هغے باندے څوك نهٔ ملامته کوی بلکه الله تعالیٰ ته به ځان سپاری.

أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ : ابن عباس نه داسے هم نقل دی : [وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اَیْ الْمُشْرِكِیْنَ لَایَعْلَمُوْنَ مَا اَلْهَمَ اللّٰهُ اَوْلِیَاءَهٗ]. لیکن مشرکان نهٔ پوهیږی چه الله تعالیٰ خپلو اولیاؤ ته د کومو ښو خبرو الهام کوی (او زړه کښ ئے ورته اچوی).

| |
|---|
| وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى اِلَيْهِ |
| او هرکله چه داخل شول دوی په یوسف (علیه السلام) باندے نو ځائے ئے ورکړو د ځان سره |
| أَخَاهُ قَالَ اِنِّيْٓ اَنَا أَخُوْكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٩﴾ |
| ورور خپل ته ووئیل دهٔ یقیناً زهٔ ستا ورور یم نو مهٔ غمجن کیږه په هغے کار چه دوی ئے کوی. |

**تفسیر** : ددے ځای نه تر (۷۹) آیت پورے اتم مقام دے. پدے کښ د یوسف علیه السلام خپل ورور لره د ځان سره پاتے کول دی او بیا تدبیر کول دی په کیخودو د سقایه (پیمانے) په سامان د هغهٔ کښ او په هغهٔ باندے تهمت لګول دی په غلا سره، او حکم کول د هغهٔ په غلام کولو تر یو کال پورے او د ورونو بیزاری د هغهٔ نه، او بیا د هغوی په یوسف علیه السلام باندے د غلا تهمت لګول، او د ورونو د خپل ورور بنیامین د خلاصولو دپاره یوسف علیه السلام ته اپیل کول او د یوسف علیه السلام هغوی ته جواب ورکول ذکر دی.

کله چه یوسف علیه السلام ته بنیامین ورسیدو نو هغه ددے تولو ښهٔ قدر وکړو او ښهٔ سلوك ئے ورسره وکړو، او بنیامین ئے په یوه بهانه سره جدا راوبللو او توله قصه ئے ورته بیان کړه او ورته ئے ووېل چه زهٔ ستا ورور یوسف یم، او وے وئیل چه څهٔ زما ناسکه ورونو کړی وو ددے غم مهٔ کوه او اُوس راز ښکاره نهٔ کړے، او زهٔ به تا په یو سبب سره د خپل ځان سره ایساروم،

دے دپاره چه په عزت او آرام سره زما سره وسیږے۔ نو هغه انتهائی خوشحاله شو چه ورك ورور راته پیدا شو او بیا د بادشاه په صورت کښې. دا ناشنا نعمت دے۔

پدے وجه پدے سفر کښې په بنیامین باندے امتحان نهٔ وو۔ او اصل امتحان په یعقوب ﷺ باندے وو او اوس په ورونو باندے لږ شان امتحان راځي۔

تاریخي قصه کښې ورسره داسے راغلي دي چه هغوی ته ئے حکم وکړو چه دوه دوه کسان روټئ ته کینوئ نو پدے کښې بنیامین یواځے پاتے شو دۀ ته ئے وویل چه تهٔ ولے چا سره نهٔ ئے ناست ؟ هغوی وویل چه ددهٔ خپل ورور نشته، ددهٔ یو ورور وو هغه ورك شویدے او دے هم خفه وو۔ نو هغه ورته وویل چه تهٔ زما سره کینه۔ بیا ئے ورته وویل چه زهٔ ستا یوسف ورور یم۔ لیکن دا قصه ظاهره نهٔ ده۔ بلکه داسے معلومیږی چه د هغوی نه به ئے تپوس کړے وی چه ستاسو هغه بل ورور کوم دے؟ نو هغه به ورته وتیلی وی چه دا دے نو هغه به ئے خان سره جدا کینولے وی۔

| |
|---|
| فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ |
| نو هرکله چه تیارئے کړو دوی لره سامان د دوی، نو کیخودوئے جام لره په بار د |
| أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾ |
| ورور خپل کښې بیا آواز اُوکړو یو آواز کونکي اے قافلے والو یقیناً تاسو خامخا غلاګر یئ۔ |
| قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا |
| ووئیل دوی او مخامخ شول هغوی ته چه څه ورك کړیدی تاسو۔ اُووئیل دوی |
| نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَن جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ |
| مونږه ورکه کړیده پیمانه د بادشاه او هغه چا لره چه راتے وړه دا، (هغهٔ لره) بار د اُوښ دے |
| وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا |
| او زهٔ پدے ذمه وار یم۔ ووئیل دوی قسم په الله یقیناً معلومه ده تاسو ته چه نهٔ یو راغلي مونږ |
| لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا فَمَا |
| دے دپاره چه فساد اُوکړو په زمکه کښې او نهٔ یو مونږ غلاګر۔ اُووئیل هغوی نو څه به وی |

| |
|---|
| جَزَآؤُهٗ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ |
| سزا ددهٔ که يئ تاسو دروغجن. ووئيل دوی سزا ددهٔ هغه څوك دے چه ومونددے شی |
| فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ كَذٰلِكَ نَجْزِی الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ |
| په بار د هغهٔ کښې نو هغه ئے سزا ده، دغه شان سزا ورکوو مونږ ظالمانو ته. |

**تفسير** : اُوس يوسف عليه السلام خپل ورور په يوه طريقه سره پاتے کول غواړی، او اول نه ورته داسے نهٔ وائی چه مونږ سره دا ورور کينوئ ځکه چه که داسے وشی نو بيا به په يعقوب عليه السلام باندے امتحان رانشی، ورونه به ورته ووائی چه ستا ځوی بادشاه ايسار کړو نو هغه به مطمئن شی، ليکن دلته ئے په مصيبت کښې راګيروی، او د الله تعالیٰ عادت دا دے چه په لويو خلکو لوی آمتحانات راولی. نو بس يوسف عليه السلام خپلو کارکنانو ته وخودل چه کله دا خلق خپل د سفر سامان وتړی نو د بادشاه د چاندئ پياله د بنيامين په سامان کښې کيږدی. هغوی دغسے وکړل، او کله چه هغوی واپس کيدو کښې لږ وړاندے لاړل نو روستو نه يو سړے په منډه لاړو او وے وئيل چه تاسو خلق غلاګر يئ.

هغوی تپوس وکړو چه تاسو نه کوم شے ورك شوے دے؟ نو اعلان کونکی ووئيل چه د بادشاه پياله غلا شويده، او چا چه دا اخستے ده، که خپله ئے واپس کړی نو هغه ته به د يو اُوښ غله ورکړے کيږی، او زهٔ ددے خبرے ذمه واری اخلم.

وَاَقْبَلُوْا: دوی رامخامخ ځکه شو چه دوی په واقع کښې غلهٔ نهٔ وو، ځکه چه غل روستو روستو کيږی.

تَفْقِدُوْنَ: دا د فقدان نه دے په معنیٰ د ورك کولو او د موندلو دواړو سره استعماليږی.

صُوَاعَ: پيمانه، زجاج وائی صواع بعينه صاع (اُوړی) ته وائی. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: كُلُّ شَيْءٍ شَرِبْتُ مِنْهُ فَهُوَ صُوَاعٌ. هر شی نه چه تهٔ څکل کوے هغه صواع دے. او دے ته کله سقايه وائی او کله صواع ځکه چه دوی به پدے کښې څکل هم کول او بيا به ئے پرے پيمانه هم کوله.

وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ: دا اُوس جعاله (يعنی يو انعام) پرے مقرره وی چه څوك دا راوړی يو اُوښ بار به زيات ورکولے شی. او داسے جعاله په احاديثو کښې ثابته ده.

قَالُوْا تَاللّٰهِ: ورونو قسم وکړو چه مونږ د کنعان نه دلته د غلا کولو يا بل کوم بد نيت

سره نۀ یو راغلی، مونږ خو د غلے دپاره راغلی یو، او ددے نه مخکښې هم راغلی وو او د غلا الزام په مونږ بانديے نۀ وو لګیدلے، او نۀ کله په ژوند کښې مونږ داسے کار کړیدے۔ نو د یوسف علیه السلام خلقو وویل چه که تاسو دروغجن راوتلئ نو د غل سزا به څه پکار وی؟ دلته پریے د مصر والو قانون نۀ جاری کوی بلکه د هغوی په قانون کښې ئے راګیروی۔

لَقَدْ عَلِمْتُمْ: مفسرین لیکی چه دوی کله مصر ته راننوتل نو د خپلو اُوښانو خولے ئے تړلے وے دپاره ددے چه د چا فصل ونۀ خوری۔

هغوی وویل چه د چا په سامان کښې پیاله راوځی، هغه به بادشاه خپل غلام جوړوی، مونږ غلا کونکی ته همداسے سزا ورکوو۔

د ظالمین نه مراد دلته سارقین (غلۀ) دی، د یعقوب علیه السلام په دین کښې دا قانون وو چه چا به غلا وکړه نو غل به د مالك سره یو کال پورے غلام جوړیدو، او کال پس به آزادیدو۔ او د مصریانو قانون پدے باره کښې کیدے شی شرعی نۀ وو او وضعی قانون وو، یا که په هغه قانون ئے عمل کړے وے نو بیا امتحان نۀ راتللو۔ او دا دویم قول ظاهر دے ځکه چه د مصریانو قانون هم پدے وخت کښې شرعی وو او هغه دا وو چه اَلضَّرْبُ وَتَضْمِيْنُ مِثْلَي الْقِيْمَةِ۔ یعنی یو به ئے غل ته وهل ورکول او بل به ئے ترے دوچنده قیمت اخستو لکه دا قانون زمونږ په شریعت کښې هم شته، په هغه مال کښې چه غیر محرز وی لکه د باغ او پټی نه غلا وکړے شی لکه په روایت د ابو داود کښې راغلے دے۔

نو که دلته ئے بنیامین وهلے نو ظلم راتللو او که دوچنده قیمت ئے ترے اخستے نو په یعقوب علیه السلام امتحان نۀ راتللو۔ یا دا چه د یعقوب علیه السلام اولاد مکلف وو په شریعت د یعقوب علیه السلام باندے نۀ په قانون د مصر۔

جَزَآؤُهٗ: یعنی جزاء د سرقے د صواع یا جزاء د سارق د صواع۔

فَهُوَ: یعنی دغه سړے به جزاء د سرقے وی یعنی دے به نیولے شی۔

| |
|---|
| فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا |
| نو شروع ئے اُوکړه په لوښو ددوی مخکښې د لوښی د ورور نه دغسے تدبیر خودلے وو مونږ |
| لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ |
| یوسف ته، نۀ وو دے چه اُونیسی ورور خپل په دین د بادشاه کښې مګر هغه چه وغواړی |

| |
|---|
| اللّٰهُ ؕ نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنۡ نَّشَآءُ ؕ وَفَوۡقَ |
| الله، (نو کوی ئے) پورته کوو مونږ درجے د هغه چا چه اوغواړو او دپاسه |
| كُلِّ ذِىۡ عِلۡمٍ عَلِيۡمٌ ﴿۷۶﴾ |
| د هر خاوند د علم نه لوئی علم والا شته. |

**تفسیر** : اعلان کونکی د بنیامین د سامان نه مخکښ د ورونو د سامان تلاش شروع کړو، بیا ئے د بنیامین د سامان نه راوویستله. ځکه که اول ئے د بنیامین په تالاش شروع کړے وے او د هغے نه ئے پیمانه راویستلے وے نو تهمت پرے راتللو چه دا تاسو ددۀ په سامان کښ اینبے وو.

**كَذٰلِكَ**: سوال پیدا شو چه دلته په ظاهره کښ د شریعت ډیر خلافونه شویدی، یو دا چه پاکو خلکو ته ئے غلۀ وئیلی دی نو دا تهمت دے. دویم دا چه ورور بدنامه ول، دریم تول خلك پریشانه کول چه دا تول ئے راواپس کړل. څلورم دا چه یعقوب ؈ ته به څومره ضرر ملاؤ شوے وی نو الله تعالیٰ ددے ټولو جوابونه کوی چه دا ټول کارونه زما په اجازه سره او زما په خودنه سره شویدی او په الله تعالیٰ باندے هیڅ اعتراض نۀ وی. نو ددے نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ دین ته به بنده تابع کیږی اگرکه په ظاهره کښ ددۀ د عقل او مزاج خلاف وی.

**كِدۡنَا** : اَیۡ مِثۡلَ ذٰلِكَ الۡكَيۡدِ الۡعَجِيۡبِ كِدۡنَا : یعنی د دغه عجیبه تدبیر په شان تدبیر وکړو مونږ یوسف لره. یعنی هغه ته مو وخودو او هغه ته مو ددے وحی وکړه. (سیوطیؒ)

**لِيُوۡسُفَ** : کښ اشاره ده تخصیص ته گویا که دا حکم خاص دے د یوسف ؈ پورے پدے باندے بل څوك خپل ځان نشی قیاس کولے. بعض حیله گر خلك ددے نه حیلے ثابتوی چه یوسف ؈ حیله کړیده نو بس مونږ له هم جائز دی بیا ئے پدے کښ دومره فراخی کړیده چه ډیر حرام ئے حلال کړیدی.

**دِيۡنِ الۡمَلِكِ**: دین نه مراد قانون دے.

**اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ**: دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لٰكِنۡ اَنۡ يَّشَاءَ اللّٰهُ فَيَفۡعَلُ . لیکن الله تعالیٰ چه څه وغواړی هغه کوی نو د دوی دا وینا د الله تعالیٰ د مشیت مطابق وه دے دپاره چه یوسف خپل ورور بنیامین خپل ځان سره ایسار کړی.

نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ : دا حکمة دے د مشیت د الله تعالیٰ چه پدے کار کښې حکمة دا وو چه الله تعالیٰ د بعض کسانو درجات پورته کول غوښتل. پدے کښې د بنیامین درجه هم پورته کیږی او هغه ته عزت ورکړے کیږی، او د یوسف ﷺ هم. او دارنګه د یعقوب ﷺ هم، او ورسره د ورونو د یوسف درجے هم پورته کول مقصد وو ځکه چه دا د ورونو دپاره د مغفرت ذریعه وګرځیده لکه چه روستو راځی چه دوی توبه وبستله.

نَرۡفَعُ : دا دلیل دے چه علم د ټولو نه اشرف مقام او اعلیٰ درجه ده ځکه چه الله تعالیٰ د یوسف ﷺ مدح او صفت او د هغه په ورونو باندے پورته والے په علم سره وخودو. او د هر علم والا نه بره لوئی علم والا وی، پدے وجه حسن بصریؒ به وئیل چه د هر علم والا دپاسه لوئی علم والا شته، تردے پورے چه دا سلسله په الله تعالیٰ باندے ختمیږی. د هغۀ نه پورته بل څوک عالِم نشته، او د هغۀ علم بے کناره دریاب دے.

ابن الانباریؒ وائی : په عالِم باندے لازم دی چه خپل ځان باندے د علم په باره کښې تهمت ولګوی او د خپل رب ورکړی علم او تحفو په وجه هغه ته تواضع وکړی او خپل نفس ته دِے دا طمع نۀ ورکوی چه دے به په هر چا غالبه وی ځکه چه د هر عالِم دپاسه بل عالِم ضرور شته او دا آیت دلیل دے چه د یوسف ﷺ ورونه علماء وو او یوسف ﷺ په هغوی کښې اَعۡلَم (زیات علم والا) وو. (فتح البیان)

| |
|---|
| قَالُوۡۤا اِنۡ يَّسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ ۚ |
| اُووئیل دوی که غلا اُوکړی (نو ناشنا نۀ ده) نو غلا کړے وه وورور دۀ مخکښې ددینه |
| فَاَسَرَّهَا يُوۡسُفُ فِىۡ نَفۡسِهٖ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡ ۚ |
| نو پټه اُوساتله دا خبره یوسف (ﷺ) په زړۀ کښې او ښکاره ئے نکړه دوی ته |
| قَالَ اَنۡتُمۡ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُوۡنَ ﴿۷۷﴾ |
| ورته ئے اُووئیل تاسو ډیر بد حال والا یئ، او الله ښه پوهه دے په هغے چه تاسو ئے بیانوئ. |

**تفسیر** : کله چه پیاله د بنیامین د سامان نه راووتله، نو د هغوی ورونو (د عزیز په مخکښې ددے ښکاره کولو دپاره چه مونږ دۀ په شان غلۀ نۀ یو) ووئیل چه که دا غل را ووتلو نو دۀ وورور هم غل وو. مطلب ئے دا وو چه د دوی مور زمونږ د مور نه جدا ده (د دوی

مور وینځه ده) او دوی په غلا باندے عادت دی۔
بیا دا کومه غلا وه چه دوی پرے یوسف علیه السلام باندے تهمت وائی؟ دے کښې څو اقوال دی۔
۱- یو دا چه ددهٔ د مور د طرفنه نیکهٔ بت پرست وو او مورئے مسلمانه وه نو نیا ورته وویل چه دا بت د نیکه راپټ کړه او مات ئے کړه، دهٔ دغسے کار وکړو۔ (او داسے غلا خو غلا نهٔ ده) ۲- یوسف علیه السلام خپلے ترور (د پلار خور) ته ډیر ګران وو نو د هغے سره به وسیدو، پلار ئے اراده وکړه چه یوسف ترے خپل کور ته راولی نو هغے نهٔ غوښتل چه یوسف ددے نه جدا شی نو هغے ورسره دا چل وکړو چه د اسحاق علیه السلام یو کمر بند هغے ته پاتے شوے وو (چه دا به مشر ته پاتے کیدو او دا مشره لوروه) نو هغے د یوسف نه کمر بند تاؤ کړو او بیائے پرے دعوه وکړه چه دهٔ زما کمر بند ځان سره وړے دے نو دا به ما سره یو کال پورے پاتے وی (لکه د هغوی د دین مطابق کارئے وکړو) او دا هم هیڅ غلا نهٔ ده۔ دا دوه قوله مشهور دی۔
۳- ځینی وائی چه کور کښې یوه چرګه وه نو دهٔ په پټه باندے سائل ته ورکړے وه۔ (سفیان بن عیینهؒ)۔ ٤- یا دا چه د دسترخوان نه به ئے د فقیرانو دپاره طعام پټولو۔
ابن الانباریؒ وائی چه پدے کارونو کښې هیڅ یو کار د غلا نهٔ وو لیکن صرف د غلا مشابه وو نو د غصے په وخت کښې ورونو هغه ته پدے پیغور ورکړو۔ (فتح البیان)
**فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ**: یعنی یوسف علیه السلام د دوی پدے دروغو باندے د صبر نه کار واخستو، او خپل تأثرات ئے ښکاره نهٔ کړل او په زړهٔ کښې ئے وویل چه تاسو څومره ناکاره یئ چه خپله مو یوسف د هغه د پلار نه په دهوکه بوتلے وو او کوهی ته مو ارتولے وو، او نن په هغه مظلوم او بے ګناه باندے د غلا تهمت هم لګوئ۔ تاسو چه څه وایئ الله تعالیٰ په هغے ښهٔ پوهیږی۔
**شَرٌّ مَّكَانًا**: یعنی تاسو ډیر بدے مرتبے والا یئ۔ او دا جمله تفسیر د (فَأَسَرَّهَا) دے۔ او دا ئے ورته ښکاره نهٔ وه وئیلے۔ یعنی یوسف علیه السلام دا جمله په زړه کښې پټه کړه۔ یا دا چه د فَأَسَرَّهَا مطلب دا دے چه یوسف علیه السلام په زړه کښې دا (إِنْ يَسْرِقْ) خبره پټه وساتله او دوی ته ئے د هغے وجه د صحت یا د بطلان بیانه نکړه او په أَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا کښې ئے په هغوی باندے اجمالی رد وکړو چه تاسو ډیرے بدے مرتبے والا یئ چه غلا هم وکړئ او بیا په نورو بدنامه لګوئ۔

قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ ج

اُووئیل دوی اے عزیزه! یقیناً دهٔ لره پلار دے بوډا ډیر نو اُونیسه یو تن زمونږ په ځائے ددهٔ

| |
|---|
| اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ |
| یقیناً وینو مونږ تا لره د نیکی کونکو نه۔ ووئیل هغهٔ پناه غواړم په الله سره ددینه |
| نَّأْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ ۙ |
| چه اُونیسو مونږ سوئ د هغه چا نه چه موندلے دے مونږ سامان خپل د هغهٔ سره، |
| اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ |
| یقیناً مونږ به دغه وخت خامخا د ظالمانو نه یو۔ |

**تفسیر** : هرکله چه ورونو ته پته ولګیده چه بنیامین به زمونږ نه په مصر کښې ایساروی نو الله تعالیٰ یوسف علیه السلام ته محتاج کړل نو دوی د عزیز مصر (یعنی یوسف) نه د رحم اپیل وکړو په درے طریقو سره یو دا چه عذرئے ورته پیش کړو چه ددهٔ پلار بوډا دے۔ دویم بدل ئے ورته پیش کړو چه ددهٔ په بدله کښې زمونږ نه یو تن ونیسه او دا پریده۔ دریم دا چه د یوسف علیه السلام تعریف کول چه تا په مونږ باندے مخکښې هم ډیر احسانات کړیدي پدے وجه دا لوی احسان هم وکړه۔

لَهٗۤ اَبًا : ددهٔ پلار ئے یاد کړو اګرکه د دوی هم پلار دے خو دے ئے ذکر کړو ځکه چه پلار ئے ددهٔ پسے ډیر خفه کیږی، او هغه بوډا شویدے او د بوډا زړه ډیر نرم وی، خفګان پرے زر اثر کوی نو پدے کښې د هغهٔ شفقت طلب کول وو۔

الْمُحْسِنِيْنَ: یعنی تهٔ خلکو سره هم احسان کوے او مونږ سره هم دِے خصوصی وکړل نو خپل احسان په مونږ باندے پوره کړه۔ (فتح)

وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا : دلته ئے هم توریه وکړه او صراحةً ئے داسے ونهٔ وئیل چه دے غل دے بلکه مونږ ورسره سامان موندلے دے۔

نو عزیز مصر د هغوی درخواست رد کړو او وے وئیل چه د قصوروار په بدله کښې بے ګناه نیول به ظلم او زیاتے وی۔ او د داسے ګناه د کولو نه ئے په الله تعالیٰ پناه واخسته، دے دپاره چه ددهٔ د ورونو امید بالکل ختم شی۔

لَّظٰلِمُوْنَ : یعنی ستاسو په دین او ستاسو په فتویٰ کښې به مونږ ظالمان جوړ شو۔

| |
|---|
| فَلَمَّا اسۡتَیۡـَٔسُوۡا مِنۡهُ خَلَصُوۡا نَجِیًّا ؕ قَالَ کَبِیۡرُهُمۡ |
| نو هرکله چه نا اُمیده شول دوی د هغهٔ نه یواځې شو جرګه کونکی، ووئیل مشر د دوی |
| اَلَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اَبَاکُمۡ قَدۡ اَخَذَ عَلَیۡکُمۡ مَّوۡثِقًا |
| آیا تاسو ته پته نشته چه بیشکه پلار ستاسو اخستے وو ستاسو نه مضبوط لوظ |
| مِّنَ اللّٰهِ وَمِنۡ قَبۡلُ مَا فَرَّطۡتُّمۡ فِیۡ یُوۡسُفَ ۚ |
| په نوم د الله او مخکښې ددینه هغه څه چه کوتاهي کړې وه تاسو په باره د یوسف کښې |
| فَلَنۡ اَبۡرَحَ الۡاَرۡضَ حَتّٰی یَاۡذَنَ لِیۡۤ اَبِیۡۤ |
| نو هیچرې نهٔ جدا کیږم زهٔ ددې زمکې نه تردې چه اجازت اُوکړی ما ته پلار زما |
| اَوۡ یَحۡکُمَ اللّٰهُ لِیۡ ۚ وَهُوَ خَیۡرُ الۡحٰکِمِیۡنَ ﴿۸۰﴾ |
| یا فیصله اُوکړی الله تعالیٰ ما لره او هغه غوره دے د فیصله کونکو نه۔ |

**تفسیر** : ددې ځای نه تر (۸۷) آیت پورې نهم مقام دے۔ پدې کښې د ورونو په خپل مینځ کښې مشوره ذکر ده او د مشر ورور پاتے کیدل د دوی نه په مصر کښې او لیږد نورو ورونو پلار ته دپاره د تفصیل د حالاتو او زیاتیدل د غم د پلار او یادول د هغهٔ یوسف علیه السلام لره او منع کول د دوی پلار لره د یادولو د یوسف علیه السلام نه او د پلار جواب ورکول او دوی ته په دریم ځل بانديے مصر ته په تللو باندې حکم کول دپاره د طعام راوړو او دپاره د طلب د یوسف علیه السلام او د ورور د هغهٔ۔

کله چه هیڅ اُمید باقي پاتے نهٔ شو، نو ورونه د خلقو نه جدا شو او خپل مینځ کښې په سوچ شو چه اُوس به څه وکړې شي۔ مفسرین لیکي چه د ګناه انجام خراب وي اُوس دوی په خپلو زړو ګناهونو راونیول شو چه لړ شان مصیبت پرې راغے، پریشانه شول چه زمونږ مقصد خو دا وو چه زمونږ ژوند به د پلار سره ښه شي او دلته رانه بل ورور هم ونیول شو، د پلار سره مو تعلقات نور خراب شو نو دوی خپل مینځ کښې د خلکو نه جدا جرګه او مشوره وکړه۔ نو د هغوی مشر ورور چه د هغه نوم رُوبیل یا رُوبین وو او دا هغه شخص وو چه دهٔ د یوسف د قتل نه دوی منع کړی وو او دا د عمر په لحاظ مشر وو (قتادةؒ)

او ځیني وائي : د کبیر نه مراد په علم او عقل کښې مشر دے نهٔ په عمر کښې۔ ځیني وائي

چه دا یهوذا وو ځکه چه هغه په کښې زیات عقل والا وو۔ بعض وائی : د دوی مشر شمعون وو۔ (فتح البیان وغیره)

**خَلَصُوْا:** خلوص په معنی د جدا کیدو سره دے۔

**نَجِيًّا:** مصدر دے چه د واحد او جمع دواړو دپاره استعمالیږی په معنی د مُتَنَاجِيْنَ سره۔ یعنی جرګه کونکی۔ یا مصدر دے په معنی د ذِوِیْ نَجْوٰی سره۔ (یعنی جرګه کونکی)

**مَا فَرَّطْتُمْ:** ما موصوله یا ما مصدریه ده یعنی آیا تاسو نهٔ پوهیږئ په هغه کوتاهئ ستاسو چه تاسو کړیده په باره د یوسف کښې۔ یا مخکنئ کوتاهئ ستاسو په باره د یوسف کښې۔

نو مشر ورور ووئیل چه تاسو ټولو ته پته ده چه زمونږ پلار د الله تعالیٰ په نوم سره مونږ نه ډیر سخت لوظ اخستے دے چه مونږ به د هغه ځوی په حفاظت سره روغ د هغهٔ خوا ته واپس رارسوو، او ددے نه مخکښې د یوسف په باره کښې چه مونږ کوم ظلم کړیدے هغه هم ټولو ته معلوم دے۔ پدے وجه اُوس به زهٔ د مصر نه کنعان ته هله ځم چه زما پلار ما ته اجازت راکړی یا الله تعالیٰ د مصر نه زما د روانیدو فیصله وکړی، یا زما ورور بنیامین په یو طریقه آزاد کړے شی، یا زهٔ مړ شم یا زما ورور مړ شی۔ او الله په هر حال کښې ښهٔ فیصله کونکے دے۔ ځکه چه همداسے پلار سره سترګے نشم مخامخ کولے۔

**خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ:** په وخت د مصیبت کښې انسان الله تعالیٰ ته متوجه کیږی نو دوی هم متوجه شول۔

| |
|---|
| اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ج |
| واپس لاړ شئ پلار خپل ته نو اُووایئ اے پلاره زمونږ! یقیناً ځوی ستا غلا کړیده |
| وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا |
| او مونږ ګواهی نهٔ ورکوو مګر په هغه څه چه پوهه یو مونږ په هغے |
| وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۱﴾ |
| او نهٔ یو مونږ په غیبو خبرو پوهه لرونکی۔ |

**تفسیر:** ورونو ته ئے ووئیل چه تاسو پلار ته واپس لاړ شئ ځکه چه د ټولو په ایساریدو

كښې نقصان دے، كور كښې غلۀ پكار ده او پلار ته جواب وړل پكار دي) او هغۀ ته ټوله قصه وكړئ او ورته ووايئ چه ستا ځوى بنيامين ته د عزيز مصر د پيالے غلا منسوب شويده او مونږ وليدل چه د هغه د سامان نه پياله راويستلے شوه، مونږ ددے گواهي وركوو.

وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ : ١- يعنى چونكه مونږ د غيبو علم نۀ لرو پدے وجه د كار حقيقت پته نشته چه آيا واقعى بنيامين غلا كړيده، يا بله كومه خبره ده چه د هغه په سامان كښې دغه پياله داخله كړے شويده. (دا خبره پكښې ځكه كوى چه دا پاكه كورنۍ وه، غلا پكښې نۀ وه) نو د غيب نه مراد علم غيب دے.

٢- يا مطلب دا دے چه كله مونږ دا ستا د ځوا نه بوتللو نو مونږ ته پته نۀ وه چه دا به غلا كوى او مونږ به شرموى. ٣- يا دا چه مونږ ته پته نۀ وه چه ستا ځوى به غلا كوى. (عكرمۃ وقتادۃ) ٤- يا دا جواب د سوال دے چه دۀ كله غلا كوله نو تاسو ولے نۀ منع كولو؟ نو جواب كوى چه (مَا كُنَّا وَقْتَ غَيْبُوْبَتِهٖ حَافِظِيْنَ لَهٗ] يعنى مونږ په وخت د غائبوالى ددۀ كښې ساتونكى نۀ وو دۀ لره، يعنى دۀ چه دا كار كړيدے نو دے په دے وخت كښې زمونږ د سترگو نه غائب وو نو مونږ باندے ددۀ حالت پټ شو. (فتح)

او همدا قول راجح او ظاهر دے.

وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا : او دا آيت دليل دے چه په شرع كښې ظن غالب ته هم علم وئيلے كيږى. او دارنگه په ظن غالب سره گواهي كول هم جائز دي پدے شرط چه علامات او قرائن موجود وى.

| |
|---|
| وَسْئَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِىْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِىْٓ اَقْبَلْنَا |
| او تپوس وكړه د هغه كلى نه چه مونږ په هغے كښې وو او د قافلے هغے نه چه راغلى يو مونږ |
| فِيْهَا ؕ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ |
| په هغے كښې او يقيناً مونږ خامخا رشتينى يو. ووئيل هغه بلكه ښائسته كړيدے تاسو ته |
| اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّأْتِيَنِىْ بِهِمْ |
| نفسونو ستاسو يو كار، نو كار زما صبر ښائسته دے، نزدے ده چه الله به راولى ما ته دوى |

| |
|---|
| جَمِيعًا ط اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۸۳﴾ وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰۤاَسَفٰى |
| ټول يقيناً الله پو هه، حكمتونو والا دے۔ او واوړيدو د دوی نه او وے وئيل اے افسوس دے |
| عَلٰى يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾ |
| په يوسف، او سپينے شوے سترګے د هغه د وجے د غم نه نو هغه د غم نه ډك وو۔ |

**تفسير** : او كه تۀ مونږ متهم ګنړے نو بيا مصر ته څوك وليږه او د حال احوالو حقيقت معلوم كړه، او د هغه قافلے والو نه هم تپوس وكړه چه مونږ سره هلته نه راغلے ده، او تۀ يقين اُوكړه چه مونږ رشتينى يو۔ درے قسمه دليلونه ئے وركړل۔ يو زمونږ ګواهى، دويم د كلي او دريم د قافلے والو نو ستا يقين به راولى۔

**الْقَرْيَةَ**: اَىْ اَهْلَ الْقَرْيَةِ۔ د قريه نه مراد مصر دے (قتادةؒ وابن عباسؓ)

بعض وائى په مصر كښې يو كلے دے چه دوی هلته كوز شوى وو او هلته نه ئے غله راوړله۔

العير په اصل كښې اُوښانو ته وائى بيا ترے مراد قافله وى۔

**قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ**: كله چه دوی كنعان ته اُورسيدل نو خپل پلار ته ئے هغه څه ووئيل كوم چه د دوی مشر ورور ورته خودلى وو۔ نو يعقوب عليه السلام ووئيل چه دا خبره چه زما څوی غلا كړيده، ستاسو ذهن راجوړه كړيده، هغه په حقيقت كښې غلا نۀ ده كړے۔

بعض مفسرينو ددے مطلب دا بيان كړيدے چه بنيامين لره د كنعان نه مصر ته بوتلل، ستاسو د مخكښې نه تيار شوے سازش وو دے دپاره چه دا هم د يوسف په شان غائب كړئ۔ اُوس خو زما دپاره صبر كول غوره دى۔ او د يعقوب عليه السلام د نبوت د مقام لائق همدغه خبره وه۔ بخاريؒ او مسلمؒ د انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل :

(اِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدمَةِ الْاُوْلٰى) (بخارى : ۱۲۸۳) (مسلم :۲۱۷۸)

((صبر دا دے چه انسان اول مصيبت په خاموشئ سره برداشت كړى))۔

دلته دوی رشتيا ووئيل مګر يعقوب عليه السلام پرے باور نۀ كوى ځكه چه "مار خوړلے د پړى نه هم يريږى"۔ دويم دا چه په شريعت كښې ظن بالمظنون جائز دے، يعنى يو سړے د مخكښې نه متهم دئ (غل او ډاكو دے) نو په يوه موقعه كښې غلا وشى نو خلك په هغه ګمان كولے شى چه دا به فلانى كړى وى۔ او په نيك سړى باندے بد ګمانى كول ګناه ده۔

**عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِىْ**: دا قانون دے [اَلْبَلْوٰى اِذَا اشْتَدَّتْ خَفَّتْ]۔ مصيبت چه كله ډير

سخت شی نو بیا په کښې آسانی راځي. نو ددې وجه نه یعقوب ﷺ ووئیل چه زما امید دې چه الله تعالیٰ به زما درې واړه ځامن (یوسف، بنیامین او رؤبین) ما سره ملاؤ کړي. هغهٔ ته د مخکښې نه څه اندازه وه چه یوسف ژوندې دې، (یا په وحی سره ورته پته لګیده) او د یوسف ﷺ د خوب نه ئې هم معلومه کړې وه. لیکن د هیڅ خبر پته ئې نهٔ لګیده.

وَقَالَ يَـٰٓأَسَفَىٰ: یعنی دائې ووېل او د خپلو ځامنو نه ئې مخ واړولو، یا د دوی نه ځانله شو، یوې کمرې ته لاړو او د یوسف په ورك کیدو باندې ئې د سخت غم او پریشانئ اظهار وکړو. اسف (افسوس، غم) ته ئې آواز وکړو لکه څنګه چه خلك خوشحالئ ته آواز کوی (يَا بُشْرىٰ) دا د ډیر سختوالی د وجه نه کله یو شے ځان ته په ذهن کښې مخامخ ودروی، او بیا ورته آواز وکړی. او دلته دا آواز د الله تعالیٰ نه شکایت نهٔ وو بلکه الله تعالیٰ ته شکایت وو. (فتح البیان ۴۵۱/۳)

عَلَىٰ يُوسُفَ: سوال دا دې چه نیول شوې بنیامین دې او غم په یوسف کوی؟

جواب ۱-ځکه چه ددهٔ د مصیبتونو ابتداء د یوسف د ورك کیدو نه شوې وه. د زوړ غم نه نوې غم تازه کیږی، (إِنَّ الشَّجٰى يَبْعَثُ الشَّجٰى) یوسف ورك شو، بیا بنیامین غلام جوړ کړې شو، او مشر ځوی د بنیامین د حادثې نه متأثر کیدو سره په مصر کښې په پردی وطن کښې په مسافرئ کښې ژوند اختیار کړو او پلار ته ئې مخ خودل خوښ نهٔ کړل.

۲- بله وجه دا ده چه د بنیامین ځای معلوم وو چه مصر دې او د غلا په تهمت کښې ګیر دې راخلاص به شی لیکن یوسف بیخی ورك دې.

۳- دارنګه یوسف سره ئې مینه زیاته وه.

یعقوب ﷺ د یوسف د ورك کیدو نه روستو د زړهٔ نه دومره ژړل چه د مسلسل اُوښکو بهیدو سره ئې سترګې سپینې شوې. مفسرینو لیکلی دی چه په یو مصیبت یا د یو محبوب په مرګ یا په یو ورك شوی باندې غم کول حرام نهٔ دی. حرام دا دی چه سرې په چغو آوازونه وکړی، ګریبان څیری کړی، او داسې خبرې وکړی چه د صبر او استقامت خلاف وی. نبی کریم ﷺ د خپل ځوی ابراهیم په مرګ باندې وئیلی وو: ((سترګې اُوښکې تویه وی، او زړهٔ غمجن دې، او مونږ داسې خبرې نهٔ کوو چه په هغې سره الله ناراضه شی، او اې ابراهیم! مونږ ستا په جدائی باندې خامخا غمجن یو)). (بخاری:۱۳۰۳)

وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ: یعنی د سترګو توروالې ئې سپین شو د ډیرې ژړا د وجه نه.

مقاتل وائی چه یعقوب ﷺ شپږ کاله ړوند وو چه هیڅ ئې نهٔ لیدل.

ځینی وائی: نظر ئے زیات ضعیف شوے وو او معمولی شان لیدل به ئے کول۔ لیکن اول قول غوره دے لکه روستو ﴿فَارْتَدَّ بَصِيرًا﴾ نه معلومیږی چه په قمیص سره ورته نظر راواپس شو۔ او نظر ختمیدل د انبیاؤ په شان کښ څه نقصان نهٔ راولی ځکه چه دا د امراض منفرّه ؤ نه نهٔ دے، نبی باندے الله تعالیٰ داسے بیماری نهٔ راولی چه خلك ترے نفرت وکړی۔ ﴿فَهُوَ كَظِيمٌ﴾ کښ اشاره ده چه ددهٔ زړهٔ په غم سره متأثر وو لیکن د هغے اظهار به ئے نهٔ کولو، یعنی غم به ئے خوړلو۔ د ژوندی بچی ورك کیدل بنده ته ډیر زور ورکوی۔

د سعید بن جبیرؒ نه نقل دی چه د یعقوب ﷺ په دین کښ د مصیبت په وخت کښ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ کلمه نهٔ وه، که دا وے نو یعقوب ﷺ به دا الفاظ نهٔ وئیلے۔ یعنی استرجاع کلمه ددے امت خصوصیت دے۔ (فتح)

| |
|---|
| قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْتَكُوْنَ |
| اُووئیل دوی قسم په الله تهٔ همیشه ئے چه یادوے یوسف تردے چه شے به خوار یا به شے |
| مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿٨٥﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ |
| د مړ کیدونکو نه۔ اُووئیل هغهٔ یقیناً بنکاره کوم زهٔ درد او غم خپل الله ته او پو هیږم |
| مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا |
| د الله د طرف نه په هغے چه تاسو پرے نهٔ پو هیږئ۔ اے بچو زما! لاړ شئ نو تالاش اُوکړئ |
| مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ |
| د یوسف او د ورور د هغهٔ او مهٔ نا امیده کیږئ د رحمت د الله تعالیٰ نه، یقیناً شان دادے |
| لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٧﴾ |
| نهٔ نا امیده کیږی د رحمت د الله نه مگر قوم کافران۔ |

**تفسیر**: د یعقوب ﷺ دا سخت حال چه به ځامنو لیدلو نو په هغه به ئے رحم راتلو او کله چه به د هغهٔ حالت ورځ په ورځ بدلیدو او ویریدل چه چرته د یوسف غم ددهٔ زړهٔ ونهٔ خوری، او ددهٔ د مرگ سبب جوړ نشی نو هغوی هغه ته وویل چه قسم په الله! تهٔ به یوسف همیشه همداسے یادوے تردے پورے چه ته به عقل او هوش ختم کړے، او ستا جسم به ویلی شی، چرته دا غم ستا ژوند ختم نکړی۔

حَرَضًا: ۱- همیشه بیمار- (رنځور)- (ابن عباسؓ) ۲- خوار- (قتادهؒ)
ابوعبیدهؒ وائی: حرض په اصل کښې په جسم یا په عقل کښې د غم یا د عشق یا د بوډا والی په وجه نقصان ته وئیلے شي۔
مؤرجؒ وائي: هُوَ الذَّائِبُ مِنَ الْهَمِّ۔ هغه شخص چه د غم او د مرض د وجه نه ویلې شي۔
اِنَّمَآ اَشْكُوْا: یعقوب علیه السلام وویل زهٔ خپل غم او درد او دا مشکل حال هیڅ انسان ته نهٔ بلکه صرف الله تعالیٰ ته بیانوم، او د هغهٔ په دربار کښې دعا کوم، هغهٔ ته التجاء کوم، پدے وجه تاسو ما په خپل حال پریدئ۔
وَاَعْلَمُ مِنَ اللهِ: یعني ما ته هغه څه معلوم دي چه تاسو ته معلوم نهٔ دي۔ یعني زهٔ د الله په صفاتو او د هغهٔ په امتحاناتو او په مصیبت باندے د ثوابونو ورکولو او د الله تعالیٰ په لطف او احساناتو چه هغه به د مصیبت نه روستو آساني راولي پوهه یم۔ یا ددے نه مراد د یوسف علیه السلام د ژوند علم دے چه الله ورته خبر ورکړے وو یا ئے د خوب نه معلومه کړے وه چه زهٔ به ورته سجده کوم۔
یعني پدے کښې د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه دي چه زهٔ ئے ولے غمجن کړے یم چه هغه تاسو ته نهٔ دي معلوم۔ او اهل علم ددے یو راز دا بیانوي چه یعقوب علیه السلام هغه پیغمبر دے چه د انبیاء علیهم السلام په کورنۍ کښې راغلے دے، امن وامان ماحول کښې دے، خاص دشمنان ئے نشته نو ځکه پرے الله تعالیٰ ذاتي تکلیفونه راوستل او هرچه ابراهیم علیه السلام وو نو هغه د دشمنانو مقابلے کړے وے نو بدن ئے روغ جوړ وو، لیکن د ښځے او بادشاه او د اُور امتحانات پرے راغلل۔ الله تعالیٰ په هر چا باندے د هغه د شان مطابق امتحان راولي، دے دپاره چه په دهٔ کښې نرمي او خشوع پیدا شي او خراب نشي، ددهٔ نه شر ختم شي، نو په تکلیف باندے ورله الله تعالیٰ درجات پورته کوي او کمالات پکښې پیدا کوي، بنده هر وخت مره ور وي چه الله تعالیٰ زما دعا نهٔ آوري حال دا چه الله تعالیٰ پدے طریقه ددهٔ تربیت کوي او ځان سره ورله تعلق جوړوي که یو بنده پدے راز پوهه شو نو د الله تعالیٰ سره به ئے مینه پیدا شي۔ هر انسان کښې یو شر او ورانے وي نو الله تعالیٰ ورله په تکلیفونو راوستو هغه شر ختم کړي۔ عجیب تربیت دے۔
بَثِّيْ: بث، اَشَدُّ الْحُزْنِ (سخت غم) ته وئیلے شي چه انسان ئے په پټولو قادر نهٔ وي، دلته ترے مواد تکلیف دے۔
يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا: هغه خپلو ځامنو ته وویل چه مصر ته لاړ شئ او د یوسف او د هغهٔ د

درور بنیامین په باره کښې په ولګوئ، او د الله تعالیٰ د رحمت نه نا امیده نهٔ شی، ځکه چه د هغهٔ د رحمت نه صرف کافران خلق نا امیده کیږی۔

فَتَحَسَّسُوْا: تحسس په حواسو سره یو شے طلب کولو ته وئیلے شی او کــر ــه شر کښې استعمالیږی۔

مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ: یعنی د رحمت د الله تعالیٰ نه۔ (ابن عباسؓ)

رَوح هغه شے دے چه انسان د هغے په وجود باندے خوشحالیږی او د هغے نه خوند اخلی۔ دارنګه د زړهٔ د غم نه استراحت حاصلولو ته رَوح وائی۔

| |
|---|
| فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا |
| نو هرکله چه داخل شول دوی په هغه باندے ووئیل دوی اے عزیز! رسیدلے دے مونږ ته |
| وَاَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰةٍ فَاَوْفِ لَنَا |
| او کور والو زمونږ ته تکلیف او راوړیده مونږ تاته پنګه (پیسے) لږے نو پوره راکړه مونږ ته |
| الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِى الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿۸۸﴾ |
| پیمانه او صدقه وکړه په مونږ باندے یقیناً الله تعالیٰ بدله ورکوی صدقه کونکو ته۔ |
| قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ |
| ووئیل هغهٔ آیا معلوم دی تاسو ته هغه کارونه چه کړیدی تاسو د یوسف او د هغهٔ د ورور سره |
| اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ اَنَا |
| کله چه وئ تاسو ناپوهه۔ ووئیل دوی آیا تهٔ، خامخا تهٔ خو یوسف ئے، اُووئیل هغهٔ زهٔ |
| يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِىْ ز قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ |
| یوسف یم او دا ورور دے زما، تحقیق سره احسان کړیدے الله په مونږ باندے، یقیناً |
| مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۰﴾ |
| چا چه تقویٰ وکړه او صبر ئے وکړو نو یقیناً الله نهٔ بربادوی اجر د نیکی کونکو۔ |

**تفسیر**: ددے ځای نه تر (۹۳) آیت پورے لسم مقام دے چه پدے کښې د ورونو د یوسف علیه السلام بیل ځل مصر ته تلل او د عزیز مصر نه صدقه طلب او بیا د دوی یوسف لره پیژندل او

د هغهٔ په فضیلت او په خپل جرم باندے اقرار کول او بیا د هغهٔ نه معافي طلب کول او بیا د یوسف علیه السلام خپل قمیص پلار ته لیږل دپاره د تسلیٔ ذکر دی۔

د پلار د حکم مطابق باقیمانده وروڼو دریم ځل د مصر سفر وکړو، دا ځل د ورور د کتنے او د خوراك راوړو دواړو دپاره تللی دی۔ دوی د عزیز مصر دربار ته حاضر شو، وے وئیل چه عزیز مصره! مونږ او زمونږ بال بچ د قحط او خشك سالیٔ د وجه نه په ډیره پریشانیٔ کښ دی، او ډیرے کمے پیسے مو راوړیدی۔

(دوی د بیان دا انداز ددے دپاره اختیار کړو چه د بادشاه په زړهٔ کښ خپل ځان دپاره د همدردیٔ جذبه پیدا کړی) لیکن تهٔ په خپل جود او سخاء سره مونږ ته دانے د مخکښ په شان پوره راکړه، او د پیسو د کم والی یا ددے د بے وقعت کیدو خیال مهٔ کوه، الله تعالیٰ صدقه او نیکی کونکو ته ضرور ښه بدله ورکوی۔

مَسَّنَا وَاَهۡلَنَا : مفسرین لیکی چه دا آیت دلیل دے چه مخلوق ته شکایت جائز دے په وخت د سخت ضرورت کښ لیکن صبر کول بهتر دی۔

مُّزۡجٰةٍ: دلته په معنیٰ د قَلِیۡلَةٍ سره دے۔ یعنی لږے پیسے چه د ډیر قیمت والا مبیعے په مقابله کښ وی۔ او د کوټه معنیٰ ئے نهٔ ده چه بیخی بیکاره وی بلکه د پخوا زمانے کوټه والے به دا وو چه قیمت به ئے کم وو۔

وَتَصَدَّقۡ عَلَيۡنَا : صدقه په اولادو د انبیاء علیهم السلام باندے حرامه ده نو دلته د صدقے نه مراد دادے چه مونږ ته زمونږ د مال د مقابلے نه زیات راکړه یا زمونږ د مال د کم قیمت والی نه چشم پوشی وکړه، او دا د کرهٔ پیسو په شان وګڼړه چه پوره پیمانه پرے راکړه۔ ابن الانباریؒ وائی : دا عین صدقه نهٔ ده بلکه مشابه د صدقے دے۔

الۡمُتَصَدِّقِيۡنَ: یعنی په هغوی باندے په دنیا کښ فراخی راولی او د آخرت ثوابونه ورکوی۔

قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُمۡ: پدے وخت کښ د خپل خاندان والو غربت او پریشانی او د خپل پلار د درد او غم حال پیژندلو نه روستو د یوسف علیه السلام زړهٔ ډك شو، او د هغه سترګے لمدے شوے، نور ئے قصے له د زیات اوږدولو طاقت رانهٔ وړے شو، او خپلو وروڼو ته ئے د خپل درد نه ډك داستان یاد کړو ورته ئے وویل چه تاسو چه د یوسف او د هغه د ورور بنیامین سره د ناپوهیٔ په وجه په تیره شوے زمانه کښ کوم ظلم او زیاتے کړے وو، آیا هغه تاسو ته یاد دے؟

(یوسف سره چه هغوی کوم سلوك کړے وو، د هغے تفصیل تیر شویدے، بنیامین سره

ئے همیشه د سپکاوی معامله کړے وه او هغه ته ئے د خپل ورور یوسف د فِراق غم ورکړے وو)۔

یوسف علیه السلام خپل پلار یعقوب ذکر نکړو، حال دا چه د یوسف د جدائی د ټولو نه زیات غم هغهٔ ته رسیدلے وو۔ مفسرینو لیکلی دی چه د هغهٔ ذکر ئے د هغهٔ د جلالتِ قدر په وجه ونکړو، او پدے وجه چه یوسف علیه السلام ته معلومه وه چه د الله تعالیٰ د طرف نه د هغه ازمینښت دے دپاره کیدو چه د هغه مقام او مرتبه پورته شي۔ (فتح البیان)

**هَلْ عَلِمْتُم**: دا استفهام د هغوی د متوجه کولو دپاره دے یعنی هغه زاړه حالات رایاد کړئ او پدے کښې د واقعے غتو الی ښکاره کولو ته اشاره ده۔

مفسرین لیکی چه یوسف علیه السلام دوی ته خپل بعض واقعات ذکر کړل چه تاسو کله یوسف کوهی ته گوزارولو او قمیص مو ترے ویستو لکه مخکښې ذکر شویدی چه ﴿لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا﴾ (یوسف : ۱۵)

(چه ته به دوی ته ددے قصے خبر ورکوے)۔ نو دلته ئے خبر ورکړو۔

**جٰهِلُوْنَ**: مفسرین لیکی چه یوسف علیه السلام دوی په صفت د جهالت ذکر کړل دے دپاره چه د دوی یو قسم عذر ثابت کړی او خبره ورته آسانه کړی چه دا تاسو کوم کارونه کړیدی پدے وخت کښې تاسو ناپوهه وئ او ددے گناه د عاقبت نه نا خبره وئ۔

**قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ**: پدے تپوس سره ورونو یوسف علیه السلام لره وپیژندلو ځکه چه دوی پوهه وو چه د یوسف واقعه د هغه نه سِویٰ بل هیچا ته نهٔ وه معلومه، او بے حده حیرانتیا او تعجب ئے ښکاره کړو۔ نو دوی اول کښې شك وکړو نو تپوس ئے وکړو بیا ئے زر یقین پیدا شو چه دا خو همغه یوسف دے۔ یعنی آیا تهٔ یوسف ئے؟ یقیناً تهٔ یوسف ئے۔

ځینی مفسرین وائی چه کله ورته یوسف علیه السلام دا خبره وکړه نو تاج ئے د سر نه لرے کړو نو دوی وپیژندو۔ ځینی وائی : هغه مسکے شو نو دوی د هغه مخامخ غاښونه وپیژندل چه دا خو همغه یوسف (علیه السلام) دے۔ (فتح البیان)

**قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا**: ۱- اَیْ بِالنُّبُوَّةِ۔ د یوسف سره یو احسان په نبی جوړولو سره وو۔

۲- بِالْخُرُوْجِ مِنَ السِّجْنِ۔ چه جیل نه ئے راویستو او په هر پړاؤ کښې د الله تعالیٰ احسانات په هغه باندے وو۔ ۳- یا د جدائی نه روستو بیا راجمع کول وو۔

٤- دین او دنیا او سلامتیا والا گرځول او دا ټول مطلبونه صحیح دی۔

**مَنْ يَّتَّقِ**: ترغیب دے صبر او تقویٰ ته۔ چه تقویٰ او صبر د نجات او د درجاتو د پورته

والی سبب دے او دا دواړه اسباب د احسان دی۔

| |
|---|
| قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا |
| اُووئیل دوی قسم په الله یقیناً غوره کړے ئے ته الله تعالیٰ په مونږ باندے او یقیناً یو مونږ |
| لَخٰطِئِيْنَ ﴿۹۱﴾ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ط يَغْفِرُ اللّٰهُ |
| د خطاکارونه۔ اُووئیل هغهٔ هیڅ ملامتیا نشته په تاسو نن ورځ بخنه دِے وکړی |
| لَكُمْ ز وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾ اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا |
| الله تعالیٰ تاسو ته او هغه ډیر رحم کونکے دے د رحم کونکو نه۔ یوسئ قمیص څما دا، |
| فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا ج وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۳﴾ |
| نو واچوئ دا په مخ د پلار زما وبه ګرځی لیدونکے او راولئ ما ته اهل خپل ټول۔ |

**تفسیر** : ورونو د یوسف علیه السلام د مقام او مرتبے او په تیره شوے زمانه کښې د هغه په حق کښې د خپل خطرناك جرم اقرار وکړو او وے وئیل چه واقعی الله تعالیٰ تا ته په مونږ باندے فضیلت درکړیدے، او تا ته ئے ستا د تقویٰ او صبر په وجه ډیره اُوچته مرتبه درکړیده، او مونږ ستا په حق کښې ډیر ګناهګار او خطاکار وو۔

مفسرین وائی چه د دوی ددے ګناه په اقرار کښې اشاره ده چه دوی فوراً د الله تعالیٰ نه معافی اُوغوختله او توبه ئے ویستله۔

**قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ** : یعنی یوسف علیه السلام ووئیل چه لاړ شئ، نن ما تاسو معاف کړئ، په تیره شوے غلطی باندے ستاسو رانیول به نهٔ کوم، او هیڅ ملامتیا به په تاسو نهٔ وایم، الله تعالیٰ دِے هم تاسو معاف کړی، او هغه خوے حده رحم کونکے دے۔

**تَثْرِيْبَ**: تعییر (پیغور) او توبیخ (رټنے او ملامتیا) ته وئیلے شی۔ او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په فتح د مکه کښې همدا خبره وکړه، خلکو ته ئے وکتل او بیا ئے وفرمایل: ستاسو څه ګمان دے چه تاسو سره به څه کوم؟ هغوی وویل: خَيْرًا، اَخٌ كَرِيْمٌ وَابْنُ اَخٍ كَرِيْمٍ۔ د خیګړه به راسره کوے، ته عزتمند ورور او عزتمند وراره ئے۔ نو وے فرمایل:

[لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ، اَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ] په تاسو نن هیڅ ملامتیا نشته، تاسو زما د طرفه آزاد شوئ۔ (السنن الکبری للبیهقی : ۱۸۷۳۹)

دا وو د انبیاء علیهم السلام شان چه خلك ورته ضررونه ورکوی او هغوی ورله دوائی ورکوی، د مور او پلار نه پرے زیات مهربانه وی، او هر مؤمن له پکار دی چه نورو ته د هغوی جرمونه معاف کړی او آسانی ورسره وکړی۔

اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِیْ هٰذَا : اُوس وخت راغے چه د یعقوب علیه السلام درد او غم ختم شی، د هغهٔ د صبر نتیجه رابنکاره شی۔

یوسف علیه السلام د الله د طرف نه د وحی مطابق ورونو ته وویل چه تاسو زما دا قمیص ځان سره یوسئ، او زما د پلار په مخ ئے واچوئ، د الله په حکم سره به د هغه نظر راواپس شی۔ او تاسو د خپل خاندان ټول افراد ځان سره دلته راولئ۔

وائی چه د هغوی شمار اویا (۷۰) یا درے نوی (۹۳) وو۔

وئیلے شی چه دوی چه کله روستو د مصر نه د موسیٰ علیه السلام سره وتل نو د دوی شمار شپږ لاکهه پنځه سوه اوه اویا (۶۰۰۵۷۷) کسان وو سویٰ د ماشومانو او بوډاګانو نه۔ او ماشومان پکښې دوه لاکهه لس زره وو، قاله القرطبیؒ۔

دومره برکت الله تعالیٰ ورکړے وو او د موسیٰ علیه السلام او د یوسف علیه السلام ترمینځ څلور سوه کاله تیر شوی وو۔ ابو هریره رضی الله عنه فرمائی :

یعقوب علیه السلام مصر ته د یوسف علیه السلام په بادشاهئ کښې داخل شو چه عمرئے (۱۳۰) کاله وو او بیا د هغهٔ په بادشاهئ کښې (۳۰) کاله ژوندے وو او یوسف علیه السلام د یوسل شلو (۱۲۰) کالو په عمر وفات شو او د ابراهیم علیه السلام عمر (۱۹۵) کاله وو۔ (فتح البیان)

یوسف علیه السلام هغوی ته دا هم وخودل چه د قحط سالئ دوه کاله تیر شویدی، اُوس هم لا پنځه کاله باقی دی۔ الله تعالیٰ دے زمکے ته زهٔ ستاسو نه مخکښې پدے وجه راورسولم چه تاسو ټول دلته راشئ او د ټولو نفسونه بچ شی۔ دا ټولے خبرے پلار ته اُووایئ، او خپل تمام بال بچ، څاروی او څه چه تاسو سره دی، ټول راولئ دلته راشئ۔

نو هغه خلقو دغسے اُوکړل۔ او د مصر بادشاه هغه ته د ملك د ټولو نه زرخیزے علاقے ورکړے، او یوسف علیه السلام د خپل مور او پلار او ورونو ډیر ښه مدار وکړو، د خوراك دپاره غوره دانے، د اغوستلو دپاره غوره لباس او د نورو اخراجاتو دپاره ډیرے پیسے ئے ورکړے۔

اِذْهَبُوْا : ورونو ورته وویل چه د پلار ستا پسے سترګے ړندے شویدی نو دهٔ ورته وویل چه زما قمیص ویسئ او د هغه په مخ ئے واچوئ د الله په حکم سره به د هغه نظر راواپس شی۔

## آیا د یوسف علیه السلام قمیص کښې برکت وو؟

دلته بعض خلکو افراط او بعضو تفریط کړیدے، افراط والا وائی چه قمیص کښې هیڅ برکت نهٔ وو بلکه دا هسے وثیقه (د اعتماد یو شے) وو. یعنی د لاس نښه وه. لکه امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښې لیکلی دی. کله وائی: كَانَ هٰذَا بِوَحْيِ اللّٰهِ . دا د الله په وحی شویدی یعنی پدے باندے به نور خلك نهٔ قیاس کیږی. او تفریط والا وائی چه پدے قمیص کښې برکت وو نو بس د هر ولی او بزرگ په قمیص کښې برکت وی نو هغه په ځان پسے راکاږئ نو ددے نه ئے دین جوړ کړو. لکه دا د پیر پرستو طریقه ده.

حقه دا ده چه یو د انبیاء علیهم السلام تبرکات دی، او بل د غیر انبیاؤ نو د انبیاء علیهم السلام تبرکات شته لکه د هغوی وېښته، د هغوی خوَله، یا د هغوی د بدن سره لګیدلے اُوبه شوے لکه احادیث او آثار د صحابه کرامؓ پرے ګواه دی چه هغوی به پدے سره د امراضو استشفاء کوله. او د غیر انبیاء علیهم السلام تبرکات نشته ځکه چه غیر نبی معصوم نهٔ وی او د غیر معصوم قیاس په معصوم باندے صحیح نهٔ دے. سیدنا ابوبکر صدیقؓ او نور خلفاء ثلاثه رضی الله عنهم یقیناً د الله تعالیٰ اولیاء وو لیکن د هیڅ صحابی نه د هغوی په آثارو تبرکات نیول نهٔ دی ثابت.

يَاْتِ بَصِيْرًا : ١- اَىْ يَصِيْرُ بَصِيْرًا . وبه ګرځی لیدونکے. ٢- یا دلته مصر ته به راشی لیدونکے.

**فائده**: علامه ابن عاشورؒ لیکی: یوسف علیه السلام دوی ته اُوس حال ښکاره کړو نهٔ مخکښې ځکه چه که مخکښې ئے حال وئیلے وے نو بیا به ئے خپل پلار او اهل مصر ته راغوښتے او کیدے شی چه مخکښې دهٔ ته حالات د طرفه د بادشاه نه برابر نهٔ وو ځکه چه د قبطیانو او د کنعانیینو ترمینځ په دغه موده کښې دشمنی وه، نو یریدو که خپل خاندان مصر ته راولی نو د بادشاه د طرفنه به دهٔ ته او ددهٔ خاندان ته بد ګمانونه متوجه شی نو یوسف علیه السلام انتظار کولو چه ددے دپاره څه فرصت مونده کړی، او بادشاه ورسره چونکه ډیر احسانات کړی وو نو د هغے وفاداری دا وه چه داسے کار ونکړی چه بادشاه ئے بد وګنړی یا پرے بد ګمان وکړی، نو د بادشاه د مرګ انتظارئے کولو، یا د هغه د راضی کولو کوشش کښې لګیا وو، یا د یوسف علیه السلام اراده وه چه د هغه د ورور د ایسارولو په موده کښې د هغهٔ نه د پلار او د خاندان احوال معلوم کړی چه دوی تول یا بعض څنګه راولی. (التحریر ١٠٤/١٢)

| |
|---|
| وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّیْ |
| او هرکله چه جدا شوه قافله (د آبادو د مصر نه) ووئیل پلار د دوی یقیناً زهٔ |
| لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنَ ﴿٩٤﴾ قَالُوْا |
| خامخا مومندهٔ کوم بوئی د یوسف که چرته تاسو ما بے عقله نهٔ گنړئ۔ ووئیل دوی |
| تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿٩٥﴾ |
| قسم په الله یقیناً تهٔ خامخا په خپل محبت پخوانی کښ ئے۔ |

**تفسیر** : ددے ځای نه تر (۹۸) پورے یو لسم مقام دے۔

پدے کښ د یعقوب علیه السلام د یوسف علیه السلام بوئی موندل په طریقه د معجزے سره، او بیا هغهٔ ته بشارت راتلل، او بیا د ځامنو د خپل پلار نه استغفار غوښتل او د پلار د هغوی سره د استغفار غوښتلو وعده کول ذکر دی۔

کله چه د ورونو قافله د مصر نه کنعان طرف ته راروانه شوه، نو یعقوب علیه السلام خپلو نمسو او نور د کور خلقو ته وویل چه ما ته د یوسف خوشبوئی راځی، لیکن تاسو خو به دا وایئ چه د بوډاوالی په وجه زما عقل متأثر شویدے۔

دا په وحی الٰهی سره دهٔ ته اشاره ورکړے شوے وه چه یوسف اُوسه پورے په خیر سره ژوندے دے۔ او دا امید خو د هغهٔ په زړهٔ کښ همیشه پاتے وو، د یوسف د خوب د تعبیر همدا تقاضا وه۔

پدے وجه هغه خپل ځامن هم د الله د رحمت نه د نا امیده کیدو نه منع کړی وو۔ کله چه د مصیبت ورځے په ختمیدو کیږی نو د الله نیکانو بندگانو ته د هغے احساس کیږی۔

رِيْحَ يُوْسُفَ : معجزے ډیرے عجیبه وی، یعقوب علیه السلام په کنعان کښ په نزدے کوهی کښ د یوسف نه خبر نهٔ وو او دلته ئے د کنعان علاقے نه د مصر نه خوشبوئی راښکله، چه کنعان د مصر نه اتیا فرسخه (یعنی ۲٤۰) میله وړاندے دے۔ نو د انبیاء علیهم السلام حالات ډیر ناشنا وی ځکه چه دا د وحی سره تعلق لری۔

سعدی شیرازی صاحب فرمائی : ۔ قطعه

| | |
|---|---|
| کسی پرسیده از گم کرده فرزند | که اے روشن گہر پیر خردمند |

| | |
|---|---|
| زمصرش بوئی پیراہن شنیدی | چرا در چاهِ کنعانش ندیدی |
| بگفتا حال ما برقے جهان است | دمی پیدا ودیگر دم نهان است |
| گهی بر طارم اعلیٰ نشینم | گهی بر پُشتِ پائے خود نه بینم |

چا د يعقوب عليه السلام نه پوښتنه وکړه چه اے روښانه زړه والا هوښياره ! د مصر نه دے د يوسف عليه السلام د قميص بوئی راښکلو نو څه وجه ده چه په کنعان کښې (نزدے) دِے نهٔ ليدلو۔ نو هغه وويل : زمونږ د پيغمبرانو حال د بريښنا په شان وی چه يو وخت کښې راپيدا شی او په بل وخت کښې ورك شی۔ کله خو د په اوچتو مقاماتو باندے کينو او کله د خپلو خپو شا ته څيزونه هم نهٔ وينو۔ (يعنې دا کارونه په طريقه د معجزه سره وو)

**لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنَ**: اَیْ لَوْلَا اَنْ تَنْسِبُوْنِیْ اِلَی الْفَنَدِ وَهُوَ ذَهَابُ الْعَقْلِ مِنَ الْهَرَمِ۔

که تاسو ما کم عقلتيا ته نهٔ منسوب کوئ، فند د بوډاوالی په وجه د عقل ختميدو ته وائی چه بيا ګډے وډے خبرے کوی۔

تفنيد : بدو خبرو کولو ته هم وائی او دروغو ته هم۔ يعنی که تاسو ما ته بدے خبرے نهٔ کوئ۔ اخفشؒ وائی : تفنيد ملامتيا او ضعف الرأی ته وائی۔ (فتح البيان)

**لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ**: نمسو وويل چه دا خو ستا د هغه غم خبرے دی۔

تهٔ خو هميشه د يوسف په محبت کښې دغسے خبرے کوے، او د هغهٔ د ليدلو خواهش راژوندے کوے، حال دا چه هغه مړ شويدے۔ پدے وجه تا له داسے خبرے کول نهٔ دی پکار۔

**ضَلٰلِ**: مجاهدؒ وائی : دلته په معنیٰ د محبت او مينے سره دے، او د ګمراهئ معنیٰ ئے نهٔ ده ځکه چه پيغمبر ته نسبت د ګمراهئ کفر دے۔

يعنی ستا محبت همغه شان تازه دے، ځلوېښت کاله ووتل او ستا محبت کم نشو او د يوسف د يادولو نه ستا ژبه ستړے نشوه۔

| |
|---|
| فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ اَلْقٰـهُ عَلٰی وَجْهِهٖ |
| نو هرکله چه راغے زيرے ورکونکے ګوزارئے کړو قميص په مخ د هغهٔ باندے |
| فَارْتَدَّ بَصِيْرًا ج قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ج اِنِّیْٓ اَعْلَمُ |
| نو اُوګرځيدو ليدونکے، ووئيل هغهٔ آيا نهٔ وو وئيلی ما تاسو ته چه يقيناً زهٔ پو هيږم |

| |
|---|
| مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٦﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا |
| د الله د طرف نه په هغه څۀ چه تاسو پرے نۀ پو هیږئ۔ وویل دوی اے پلاره زمونږ |
| اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَآ اِنَّا كُنَّا خٰطِئِيْنَ ﴿٩٧﴾ قَالَ |
| بخنه وغواړه مونږ لره د ګناهونو زمونږ، یقیناً مونږ خطاکار یو۔ وویل هغۀ |
| سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّىْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٩٨﴾ |
| زر دے چه بخنه به وغواړم تاسو لره د رب خپل نه، یقیناً هغه بخنه کونکے رحم کونکے دے۔ |

**تفسیر** : د بشیر نه مراد یهوذا وو، ځکه چه دۀ وئیلی وو [اَنَا اُفَرِّحُهٗ بِقَمِيْصِهٖ كَمَا اَحْزَنْتُهٗ بِهٖ] زۀ به پلار د یوسف په قمیص خوشحالوم لکه څنګه چه مے پرے خفه کړے وو۔ کله چه هغۀ قمیص د یعقوب علیه السلام په مخ واچولو نو د هغۀ نظر واپس راغلو۔ نو هغۀ ټولو ته مخاطب شو او وے وئیل چه ما تاسو ته نۀ وو وئیلی چه زۀ د الله تعالیٰ د طرف نه په هغه څه پوهیږم چه تاسو پرے نۀ پوهیږئ۔ او دا زیرے ورکونکے د قافلے نه مخکښې راغلے وو۔

**فَارْتَدَّ** : ارتداد د یو شی زوړ حالت ته بدلیدو ته وائی یعنی بیرته خپل اولنی حالت (د نظر) ته راواپس شو۔

دلته د قمیص په اچولو سره د یعقوب علیه السلام نظر راواپس کیدل د علومو د نبوت سره تعلق لری، ځکه چه په ظاهره کښې په قمیص کښې کوم شے دے چه نظر راواپس کوی، ددے مثال دَم دے۔ چه ظاهره کښې څه نۀ وی، صرف کلمات وئیل وی لیکن تاثیر کوی۔

**قَالُوْا يٰٓاَبَانَا** : ورونو خپل پلار ته وویل چه مونږ د یوسف او ستا په حق کښې کومے غلطیانے کړی دی د هغے د الله تعالیٰ نه زمونږ دپاره بخنه طلب کړه۔ نو یعقوب علیه السلام د هغوی سره د هغے وعده وکړه او وے وئیل چه زۀ به ستاسو دپاره د الله تعالیٰ نه دعا کوم، او هغه خو ډیره زیاته معافی کونکے او بے حده رحم کونکے دے۔ او پدے کښې ترغیب دے چه تاسو هم د الله تعالیٰ نه خپله بخنه وغواړئ او زۀ به ئے هم درله وغواړم۔

یعقوب علیه السلام د خپلو ځامنو دپاره د بخنے دعاء کوم وخت ته روستو کړه؟

۱ – نو ځینی وائی چه دا ئے د جُمعے ورځے ته روستو کړه۔ لکه پدے باره کښې د ابن عباس روایت طبریؒ ذکر کړیدے، حافظ ابن کثیرؒ وائی چه په رفع کښې ئے نظر دے۔

۲ – د ابن عباسؓ نه دا هم نقل دی چه اَخَّرَهُمْ اِلَى السَّحَرِ ۔ دا ئے د شپے آخری حصے ته

روستـو کـړه ځـکـه چـه دغـه وخـت کښې دعـاء بـه قبلیږی او د دعا او استغفار دپاره افضل اوقـات اختیارول د سنت نه ثابت دی۔ لکه د صبا وخت، د فرض مونځونو نه روستو، د حج په دوران کښې، د سـجـدے پـه حـالـت کښې، د اذان په وخت کښې د اذان او د اقامت ترمینځ، د روژه ماتی په وخت۔ پدے اوقاتو کښې د دعا د قبولیت د الله نه زیات امید کیږی۔

۳- ظـاهـر دا ده چه دائے یوسف ﷺ تـه روستـو کـړیده ځکه چه دے ورونو د یوسف ﷺ حـق ضـائـع کـړیدے او دا قانون دے چه بنده څو پورے معافی ونکړی نو الله بخښنه نکوی۔ او یعقوب ﷺ پدے وخت کښې د یوسف ﷺ د معافی کولو نه خبر نهٔ وو۔ او امکان شته چه بـل عـذر وی، فـی الـحـال بـه مـوقـعـه د دعا نـهٔ وه۔ یا دا چه د دوی د توبی رشتینوالے پوره معلوم کړی۔ (فتح البیان وغیره)

| |
|---|
| فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى اِلَيْهِ |
| نو هرکله چه داخل شو دوی په یوسف باندے ځائے ورکړو هغه خپل ځان سره |
| اَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾ |
| مور او پلار خپل ته او وے وئیل داخل شئ مصر ته که غواړی الله په امن به یئ۔ |
| وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ج |
| او پورته ئے کړل مور او پلار خپل په تخت باندے او پریوتل دوی هغهٔ ته سجده کونکی |
| وَقَالَ يٰٓاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ز قَدْ جَعَلَهَا |
| او ووئیل هغهٔ اے پلاره دا تعبیر د خوب زما دے مخکښې ددینه، یقیناً وګرځوو دے لره |
| رَبِّيْ حَقًّا ط وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْٓ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ |
| رب زما رشتیا، او یقیناً احسان ئے کړیدے ما سره کله چه ویستلو ما لره د جیل نه |
| وَجَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ مِنْ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ بَيْنِيْ |
| او رائے وستئ تاسو د بانډو نه پس د هغے نه چه فساد اچولے وو شیطان په مینځ زما |
| وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ط اِنَّ رَبِّيْ لَطِيْفٌ لِّمَا |
| او په مینځ د ورورنو زما کښې، یقیناً رب زما مزیدار تدبیر جوړونکے د هغه کار دے |

يَشَاءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۰۰﴾

چه وې غواړي يقيناً هغه په هر څه پوهه حکمتونو والا دے.

**تفسير**: ددے آيت نه تر (۱۰۱) آيت پورے دولسم مقام دے، پدے کښې د يوسف ﷺ د خپل پلار يعقوب ﷺ سره او د خپلې تولے کورنۍ سره ملاقات دے، او هغوی ته په امن سره زيرے ورکول دي او د خوب رشتيني کيدل په سجده د دوی يوسف ﷺ ته بيا اختتام د واقعے دے په دعاء د يوسف ﷺ سره.

يعقوب ﷺ د خپل تمام بال بچ، حيواناتو او سازوسامان سره د کنعان نه د مصر زمکے طرف ته روان شو. د هغه ځوی يهودا مخکښې لاړو دے دپاره چه يوسف ﷺ هغۀ ته ځای وښائي چرته چه د دوی آباديدل وو، چه د هغے نوم ((جاسان)) وو.

يوسف ﷺ د خپل ښار نه رابهر شو او د خپل پلار سره ئے د ښار نه بهر ملاقات وکړو. کله چه يعقوب ﷺ دا وليدو نو هغه ئے د ځان سره يو ځای نيولے وو، ډير وخت پورے ئے ژړل. يوسف ﷺ هم د خپل پلار او مور سره غاړے يو ځای کړے وے او ژړل ئے، او چونکه دوی د ښار نه بهر د خپلو والدينو او ورونو او نورو خپلوانو استقبال کړے وو، پدے وجه د ابتدائی ملاقات نه روستو خپل مور او پلار ته ئے د هغوی مناسب ځای ورکړو، د هغوی ئے ډيره دلجوئی وکړه، او په خپله خاص سورلئ ئے کينول او ښار طرف ته روان شو. او تولو خپلوانو ته ئے ووئيل چه تاسو په پوره امن وامان سره ښار ته داخل شئ.

اَبَوَيۡهِ : مفسرينو وئيلی دی چه د يوسف ﷺ مور د بنيامين د ولادت نه روستو وفات شوے وه، او بيا ئے د يوسف ﷺ خاله (ترور) په نکاح اخستے وه او په ترور باندے هم د مور اطلاق کيږی نو دا خبره بې دليله ده. ظاهر د قرآن دا دے چه مور او پلار دواړه ئے ژوندی وو لکه د يوسف ﷺ د خوب نه معلوميږی. او تاريخ باندے هله عمل وی چه د قرآن خلاف نۀ وی.

اُدۡخُلُوۡا مِصۡرَ : د داخليدو حکم ئے ځکه وکړو چه يوسف ﷺ د مور او پلار د استقبال دپاره بهر وتلے وو. يا مراد دا دے چه مصر ته کولاؤ ځئ راځئ، هيڅ پابندی به نۀ وی.

وَرَفَعَ اَبَوَيۡهِ عَلَى الۡعَرۡشِ : بادشاهانو د خپل رعب قائمولو دپاره هغوی ځان له يو تخت جوړ کړے وی، او دلته د بادشاه د وفات نه روستو يوسف ﷺ ته دا شاهی تخت ملاؤ شوے وو، نو کله چه يوسف ﷺ خپل مور او پلار ځان سره روان کړل او دار السلطنت ته

ورسیدل نو هغوی ئې د خپل ځان سره په بادشاهی تخت باندې کینول۔ په هغه وخت کښې د هغه والدین او یولس ورونه د هغه په تعظیمِ کښې په سجده پریوتل۔

(او په هغه دین کښې د اکرام او د سلام سجده مخلوق ته هم جائز وه او زمونږ دین کښې د زیات احترام د توحید د وجه نه دا هم حرامه شوه، دا ددې امت کمال دې، د دوی د الله تعالیٰ سره تعلق زیات دې چه د دوی تندې الله تعالیٰ هیڅ مخلوق ته خکته کول نهٔ غواړی)، او دې دپاره چه ټول بندګان په عبودیت او مخلوقیت کښې برابر شی، او پدې سجده کښې د مور او پلار بې ادبی هم نهٔ وه ځکه چه دا د هغوی عادت وو چه بادشاهانو ته به ئې سجده کوله۔ (ابن عاشورؒ)

**وَقَالَ يَـٰٓأَبَتِ هَـٰذَا تَأۡوِيلُ**: نو یوسف علیه السلام وویل، پلاره! زما د تیر شوی خوب تعبیر همدا دې چه دا الله تعالیٰ رشتینی راښکاره کړو۔ او هغهٔ په ما باندې دا احسان وکړو چه ما له ئې د جیل نه نجات راکړو۔

(او د کوهی نه د راوتلو ذکر ئې پدې وجه ونکړو چه ورونه شرمنده نهٔ شی ځکه چه هغوی ته ئې په اولنی ملاقات کښې وئیلی وو چه په تیره شوې غلطئ به تاسو نهٔ رانیول کیږئ، دارنګه د کوهی ژوند درې ورځې وو، هغه معمولی وو)

او د الله تعالیٰ دا هم احسان دې چه تاسو ټول ئې د بانډې نه دلته راورسولئ (وائی چه د هغوی پیشه څاروی ساتل وو) او شیطان زما او زما د ورونو ترمینځ د حسد کوم اُور چه بَل کړې وو هغه مړ شو۔ او مونږ ټول یو شو۔

**نَزَغَ**: زړهٔ ته فساد ننویستو ته وئیلې شی۔ او نزغ په اصل کښې یو حیوان په چوکه یا په لاس سره څکوندلو او خرخشه کولو ته وائی دې دپاره چه هغه په مزل کښې قوی شی۔ دلته یوسف علیه السلام د ورونو ګناه په شیطان ور واچوله پدې کښې ددهٔ هغوی لره اکرام او ادب کول دی۔ او بیا ئې خپل ځان هم ورسره یاد کړو پدې کښې ډیرې عاجزئ ته اشاره ده، او ډیر ادبی لفظ دې۔

**لَطِيفٌ**: درې معانی دی: (۱) اَلْبَرُّ بِعِبَادِهٖ يَلْطُفُ بِهِمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ) احسان کونکې دې د بندګانو سره په داسې طریقه چه د هغوی ګمان هم نهٔ وی۔ (خطابیؒ)

(۲) اَلْعَالِمُ بِدَقَائِقِ الْاُمُوْرِ۔ عالم دې په باریکو څیزونو۔

(۳) باریك تدبیر کونکې دې۔

عمرو بن ابی عمروؒ وائی: اَللَّطِيْفُ الَّذِىْ يُوْصِلُ اِلَيْكَ اَرَبَكَ فِىْ لُطْفٍ۔ لطیف هغه ذات دې

چه تا ته ستا حاجت در رسوی په ډیره باریکئ او نرمئ او مهربانئ سره۔

(فتح البیان والقرطبی)

لِّمَا يَشَاءُ: لام اجلیه دے اَیْ لَطِيفٌ لِاَجلِ مَا يَشَاءُ حَتّٰى يَجِيءَ عَلٰى وَجْهِ الصَّوَابِ)

یعنی باریك تدبیر جوړونکے دے د وجه د هغه شی نه چه الله ئے غواړی تردے چه هغه شے په صحیح طریقه واقع شی۔ یا (لَطِيفٌ لِمَا يشَاءُ) په خپل ظاهر بناء دے یعنی باریك او مزیدار تدبیر جوړونکے دے د هغه کار چه وے غواړی۔

| |
|---|
| رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَأْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ج |
| اے ربه زما ! یقیناً تا راکړیده ما ته د بادشاهئ نه او خودلے تا ما ته تعبیر د خوبونو، |
| فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ قف اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ |
| اے ناشنا پیدا کونکیه د آسمانونو او د زمکے ته دوست ځمائے په دنیا او آخرت کښں |
| تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّ اَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۱﴾ |
| وفات کړه ما د اسلام په حالت کښں او پیوسته کړه ما (پس د مرگ نه) د نیکانو سره۔ |

**تفسیر** : اوس یوسف ﷺ د الله تعالیٰ سره مناجات کوی۔ الله تعالیٰ چه کله خپل نعمت په یوسف ﷺ باندے پوره کړو، والدین او ورونه ئے د هغهٔ خوا ته ورسول، او هغهٔ ته ئے د نبوت علم او د خوبونو د تعبیر علم، او د مصر لویه بادشاهی ورکړه۔ نو هغهٔ د خپل رب نه دعا وکړه چه اے الله ! تهٔ زما باقی عمر پورے ددے نعمتونو حفاظت وکړه، او کله چه مرگ راشی نو په اسلام باندے راشی، او ما په نیکانو خلقو کښں شامل کړه۔

اَنْتَ وَلِيّٖ: یعنی تهٔ زما مولا او ناصر او د کارونو د دنیا او د آخرت متولی (واکدار) ئے۔

تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا: بعض خلقو وئیلی دی چه یوسف ﷺ د مرگ تمنا کړے وه، او ددے دعا نه روستو وفات شو۔ لیکن د جمهورو اهل علمو رائے دا ده چه هغه ددے دعا په ذریعه د مرگ تمنا نهٔ وه کړے بلکه د هغه مقصد دا وو چه کله مرگ راځی نو په اسلام راشی۔ اَیْ تَوَفَّنِيْ اِذَا تَوَفَّيْتَنِيْ۔ یعنی کله چه ما وفات کوے نو په حالت د اسلام کښں مے وفات کړه۔

په مسند احمدؒ او صحیحینو کښں د انس بن مالك ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((ستاسو نه دِے هیڅوك د یو تکلیف او مصیبت په وجه سره د مرگ تمنا

نهٔ کوی، که نیك سړے وی نو د هغهٔ په اجر او ثواب کښ به زیاتے کیږی او که بد وی نو کیدے شی چه هغهٔ ته د توبے توفیق ورکړے شی۔ هغه له داسے وئیل پکار دی چه اے الله ! ترڅو چه زما دپاره ژوند غوره وی نو ما ژوندے وساته، او که مرګ زما دپاره غوره وی نو ما له مرګ راکړه))۔ (بخاری: ۵۶۷۱) ومسلم (۶۹۹۰)

په یو بل روایت کښ دی چه

وَّ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ : دا په دنیا کښ هم مراد دے او پس د مرګ نه په برزخ کښ د رفیق اعلیٰ سره ملګرتیا غواړی۔

**فائده** : مفسرین لیکی چه یعقوب علیه السلام چه کله مصر ته ورسیدو نو د هغه عمر یوسل دیرش (۱۳۰) کاله وو۔ یوسف علیه السلام هغه او د هغه ورونه د مصر د بادشاه سره ملاؤ کړل، هغه د دوی ډیر اکرام وکړو او ((عین الشمس)) علاقه چه د ټولو نه زیاته زرخیزه او تازه منلے شوه، د دوی په نوم ئے ولیکله۔ اوځینی وائی چه بادشاه په دے زمانه کښ وفات وو او د هغه بادشاهی یوسف علیه السلام ته پاتے وه۔

په مصر کښ د اُوسیدو نه روستو اُولس (۱۷) کاله ژوندے وو۔ او مخکښ مونږ وئیلی وو چه ځینی وائی چه دیرش کاله ژوندے وو۔ او کله چه وفات شو نو د هغه د وصیت مطابق د هغه ځامنو د هغه په لاش باندے مسالے مږلو سره هغه محفوظ وساتلو۔

او کنعان ته لاړل هغه ځای کښ ئے دفن کړو کوم ځای چه د ((الخلیل)) په نوم سره پیژندلے شی۔ او چرته چه د مخکښ نه ابراهیم علیه السلام، ساره، اسحاق علیه السلام او د هغه بی بی، او د یعقوب علیه السلام بی بی دفن شوی وو۔

یوسف علیه السلام ددے نه روستو ډیرے اُوږدے مودے پورے ژوندے وو، د دعوت الی الله او د بادشاهئ د کارونو د ذمه واریانو سره ئے د خپل خاندان والو خیال او خدمت کولو۔ د وفات نه روستو د هغهٔ اولادو هغه د سنګ مرمر په یو صندوق کښ د دریائے نیل په پورتنئ علاقه کښ دفن کړو۔ په هغه وخت کښ ددهٔ عمر یوسل شل کاله وو۔

امام ابن کثیرؒ لیکی چه د حسنؒ نه نقل دی چه یوسف علیه السلام چه کله کوهی ته ګوزارلے شو نو د اُولسو کالو وو، او د پلار نه د غائبیدو نه اتیا کاله روستو د پلار سره ملاؤ شو او د هغے نه روستو (۲۳) کاله ژوندے وو او د یوسل شلو کالو په عمر وفات شو۔ آه۔

څلور سوه کاله روستو موسیٰ علیه السلام د هغهٔ تابوت د هغه ځای نه راوویستو او کنعان ته ئے یوړو او د هغه د پلارانو او نیکونو په اړخ کښ ئے دفن کړو۔

د مصر په زمکه کښې آل یعقوب ښه ترقي وکړه، او د هغوی نسل هم ډیر په تیزئ سره زیات شو، تردې پورې چه یو پوره قوم جوړ شو، او په یوه لویه علاقه کښې خوارهٔ شو. کله چه په دوی کښې موسیٰ علیه السلام پیغمبر شو نو دوی ئې دوباره د خپلو پلارانو او نیکونو وطن شام ته واپس بوتلل. دا وه د یوسف علیه السلام د بادشاهئ عظیمه قصه چه ختمه شوه، او پاکی ده هغه ذات لره چه د هغه بادشاهي همیشه ده او همیشه به پاتے وی.

| |
|---|
| ذٰلِكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ الۡغَيۡبِ نُوۡحِيۡهِ اِلَيۡكَ ۚ وَمَا كُنۡتَ لَدَيۡهِمۡ |
| دا چه ذکر شو د خبرونو د غیبو نه دی چه وحی ئے کوو مونږ تا ته او نهٔ وے ته د دوی سره |
| اِذۡ اَجۡمَعُوۡۤا اَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾ |
| کله چه مضبوطولو دوی کار خپل او دوی چلونه جوړول. |

**تفسیر:** **مضمون:**

اُوس پدے مخکنئ قصه باندے تفریعات بیانوی، اوله تفریع د صدق د رسول الله ﷺ ده، بیا په روستنو آیتونو کښې درے اسباب د هدایت او طرق د تبلیغ ذکر کیږی، بیا په درے آیتونو کښې مرض د عالَم، او سبب او علاج د مرض بیانیږی بیا تخویف بیا حَتّٰى اِذَا اسۡتَيۡئَسَ کښې امر دے په صبر کولو، په آخر کښې دے واقعے ته ترغیب دے.

نبی کریم ﷺ ته خطاب کولو سره وئیلے شی چه د یوسف علیه السلام او د هغهٔ د ورونو قصه د غیبو خبرونه وو چه تا ته د وحی په ذریعه خودلے شویدی، دے دپاره چه ستا مخالفین دا واوری او عبرت حاصل کړی. او پوهه شی چه که تهٔ نبی نهٔ وے او په تا باندے وحی نهٔ نازلیدلے، نو د کوم ځای نه به ددے قصے د تمامو تفصیلاتو علم حاصل شوے وے.

کله چه د یوسف ورونو هغه لره کوهی ته د غورزارلو سازش کولو او هغه ئے د خپل ځان سره په بوتلو باندے په قسم قسم طریقهٔ سره دهوکه کولو، نو تهٔ د دوی سره موجود نهٔ وے چه تا ته د دوی ددے سازش پته لګیدلے وے، او نهٔ د کوم داسے سړی سره ستا تعلق پاتے شویدے چه هغهٔ ته دا واقعه معلومه وی او هغهٔ تا ته خودلی وی، تا ته چه څه معلوم شویدی دا د وحی په ذریعه معلوم شویدی.

**ذٰلِكَ:** اشاره ده دغه مخکښې ذکر شوے قصے ته. یعنی هر کله چه دا خبرے مونږ تا ته وحی کړیدی نو دا دلیل دے چه تهٔ د الله حق رسول ئے، او د خلکو دپاره ستا منل ضروری

دی۔ نو پدیم کښی رد دے په مشرکانو او یهودو باندے چه هغوی د رسول الله ﷺ نه انکار کوی۔

| |
|---|
| وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا تَسْئَلُهُمْ |
| او نهٔ دی ډیر خلق اګرکه حرص کوے تهٔ ایمان راوړونکی۔ او نهٔ غواړے تهٔ د دوی نه |
| عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٤﴾ |
| پدے باندے څه مزدوری، نهٔ دے دا مګر نصیحت دے دپاره د خلقو۔ |

**تفسیر** : اُوس پدے کښی تسلی ده رسول الله ﷺ ته چه اکثر خلك ستا د حرص باوجود ایمان نهٔ راوړی نو ډیر مهٔ پریشانه کیږه۔ او د مشرکانو ضد بیانوی دپاره ددے چه خلك ددے نه نصیحت واخلی۔ دارنګه پدے کښی اسباب د هدایت بیانوی۔

یعنی ددے ټولو ښکاره نخو باوجود چه تهٔ د الله نبی ئے، او ستا د حد درجه خواهش باوجود چه خلق ایمان راوړی، اکثر خلق ایمان نهٔ راوړی۔

نبی کریم ﷺ دا ګمان کولو چه قریش کافران به د یوسف عليه السلام قصه واوری او ایمان به راوړی لیکن داسے ونشوه، بلکه په کفر باندے د هغوی همیشوالے نور هم زیات شو۔ پدے کښی همدے طرف ته اشاره ده۔ (محاسن التاویل)

علامه سعدیؒ فرمائی : ددے خلکو مقاصد او عقلونه فاسد ګرځیدلی دی پدے وجه دوی ته د خیرخواهانو حرص هیڅ فائده نهٔ ورکوی اګرکه موانع هم نهٔ وی چه هغه د دوی نه عوض او مزدوری اخستل دی، او د دوی نه شرونه دفع کول دی بغیر د څه عوض نه او اګرکه دوی ته شواهد او معجزے او نښے په رشتینوالی د رسول الله ﷺ باندے پیش شی بیا هم دوی ایمان نهٔ راوړی۔ چه هغه روستو آیت کښی بیانوی۔ (تیسیر الکریم الرحمن)

وَمَا تَسْئَلُهُمْ : پدے کښی هم رد دے په مشرکانو چه اے زما نبی ! تهٔ قریشو ته قرآن لولے، او دوی ته د اسلام دعوت ورکوے، نو د دوی نه، ددے هیڅ عوض نهٔ غواړے۔ که دوی عقلمند وے نو ستا دعوت به ئے قبلولے او په قرآن به ئے ایمان راوړے کوم چه د ټول جهان دپاره د عبرتونو او نصیحتونو خزانه ده۔

لو پدے آیت کښی الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ په ذهن کښی دا خبره کینول غواړی چه که دوی ستا خبره نهٔ منی نو ستا مزدوری د الله په نیز نهٔ کمیږی، تهٔ خو د خلکو نه مزدوری نهٔ

غواړي چه که دوی ایمان رانهٔ وړی نو ستا مزدوری به کمه شی، ستا مزدوری خو د الله تعالیٰ سره ده، هغه به تا ته په هر حال کښې ضرور ملاویږی۔

نو پدے دوه آیتونو کښې د هدایت دوه سببه بیان شو چه یو بیان الرسول ﷺ دے۔

وَلَوْ حَرَصْتَ: دویم قرآن کریم دے چه په (اِنْ هُوَ اِلَّا ذِکْرٌ) کښې ذکر دے۔

او دریم ادلهٔ عقلیه دی چه په روستو آیت کښې ذکر دی۔ دا درے واړه دلیلونه شته او دا مجرمان ئے نهٔ منی دا د دوی ضد دے۔

| |
|---|
| وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا |
| او ډیر دلیلونه (د الله د توحید) شته په آسمانونو او زمکه کښې ورتیریږی دوی په هغے |
| وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ |
| او دوی د هغے نه مخ اړونکی دی۔ او ایمان نهٔ راوړی زیات د خلقو نه په الله باندے |
| اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ |
| مګر حال دا چه دوی شرك هم کوی۔ |

**تفسیر**: د مکے د کافرانو بالخصوص او د عامو انسانانو بالعموم حال دا دے چه په آسمانونو او زمکه کښې موجود د الله تعالیٰ د توحید ډیر دلائل د دوی د سترګو مخے ته تیریږی لیکن په هغے کښې سوچ او فکر نهٔ کوی، او دوی ته د هغے نه هیڅ فائده نهٔ رسیږی۔ دا آسمان چه بغیر د ستنو نه زمونږ په سرونو باندے بند شویدے، او دا متحرك او ولاړ ستوری چه په آسمان کښې پرقیږی او دا زمکه، پدے باندے د غرونو سلسلے، هوار میدان، دریابونه، بوټی او حیوانات، ددے نه هر یو د الله تعالیٰ د وحدانیت دلیل دے، او ددے خبرے دلیل دے چه همغه د دوی خالق او رازق دے،

هغه مړهٔ کول او ژوندی کول کوی، د هغهٔ نه سویٰ هیڅوك نشته چه دا کارونه وکړی، د هغه مثل او مشابه هیڅوك نشته۔ لیکن اکثر او زیات خلق د داسے غفلت ښکار کیږی چه ددے دلائلو او براهینونه هغوی ته هیڅ فائده نهٔ رسیږی۔ دوی ته پدے کښې د فکر او سوچ کولو توفیق نهٔ ورکړے کیږی۔

## د شرك ډیر والے

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ : ددے آیت نه روستو مرض او بیا سبب د مرض او بیا علاج د مرض بیانیږی۔ نو پدے آیت کښ د اکثرو انسانانو مرض ذکر دے او هغه دا دے چه دوی خو په ژبه سره د الله تعالیٰ د وجود او د هغهٔ د خالق او مالك کیدو اقرار کوی لیکن په عملی ژوند کښ د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوی، د الله تعالیٰ په ځای د مخلوق عبادت کوی، انسانانو ته د الله تعالیٰ زامن او ملائکو ته د الله تعالیٰ لونړه وائی چه دا لوی شرك دے۔

د ایمان نه مراد لغوی ایمان دے چه د الله تعالیٰ ذات منل دی۔

او که ته فکر وکړے نو ددے آیت مصداق به درته زر ملاؤ شی، یهودیان مشرکان دی ځکه چه عزیر ابن الله ئے وئیلے دے۔ نصاریٰ مشرکان دی ځکه چه المسیح ابن الله وائی او عرب اکثر بت پرست وو او د ملائکو عبادت ئے کولو، او هندوان سره د ډیروالی نه د غوا عبادت کوی او دغه شان سکهان او بد هـ مت والا وګوره۔ او دغه شان د برائے نام مسلمانانو حال وګوره چه څوك پیر پرست او څوك قبر پرست او څوك شیخ پرست دی، او چا د نبی عبادت شروع کړیدے، هغه ته حاضر ناظر وائی او رامدد شه آوازونه ورته کوی، د الله صحیح بندګی ئے خرابه کړیده۔

د شرك یو بل قسم شركِ خفی دے چه په هغے کښ اکثر خلق اخته کیږی، او هغوی ته ددے احساس هم نهٔ وی۔ حسن بصریؒ ددے آیت د تفسیر په ضمن کښ وائی چه ددے نه مراد هغه منافق دے چه د خلقو د خودلو دپاره نیك کار کوی، دا مشرك دے ځکه چه دهٔ د الله په عبادت کښ بل چا لره شریك وګرځولو۔ دوی اګرکه د الله د وحدانیت عقیده لری لیکن د الله تعالیٰ دپاره په خپل عبادت کښ مخلص نهٔ وی، بلکه د دنیا یا د مرتبے او جاه په خاطر نیك عمل کوی۔ همدا هغه شرك دے چه د هغے په باره کښ نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چه پدے امت کښ شرك د میږی د مزل نه هم زیات پټ راځی۔

(صحیح ابن حبان وتفسیر ابن ابی حاتم باسناد حسن موقوفا علی ابن عباسؓ)

معلومه شوه چه که یو نیك کار هم د خلقو د خودنے دپاره وکړے شی نو هغه به شرك وی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه د شرك یو قسم ((شركِ خفی)) دے (یعنی پټ شرك) چه ددے کونکے په عامه توګه ددے احساس نهٔ کوی۔ حذیفه بن الیمان ؓ نه عروهٔ روایت کړیدے چه هغه د یو مریض خوا ته ورغلو نو د هغه په مټ باندے ئے یو تار تړلے شوے ولیدو، هغه

ئے ترے پریکړو، او دا آیت ئے ولوستلو۔

(ابن ابی حاتم وسنده صحیح کما فی تنبیهات علی کتاب التوحید لناصر بن حمد الفهد)

او ابـوداوُدّ او ترمذیّ د عبد الله بن عمر ﷺ نـه روایـت کـړیدے چه چا د غیر الله په نوم قسم وکـړو نو هغه شرك وکړو۔ او امام احمدّ او ابوداوُدّ وغیره د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل «غلط دمونه او تعویذ گنډے او تارونه تړل شرك دے»۔

(مسند احمد ۳۸۱/۱) وابوداود فی الطب باب : ۱۷) وسنده صحیح)

او امـام احـمدّ د عبـد الله بـن عـمرو بن العاص ﷺ نـه روایـت کـړیـدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : «څوك چه د بد فالئ د وجه نه د یو کار نه منع شو، هغه شرك وکړو»۔

(مسند احمد : ۷۰۴۵) والطبرانی صحیح الجامع : ٦٢٦٤)

مـعـلـومـه شـوه چـه پـه بعض مسلمانانو کښ حقیقی ایمان او شرك خفی اصغر (یعنی وړوکے پټ شرك) راجمع کیدے شی۔ لکه څنګه چه د جاهلیت په خلقو کښ په الله ایمان او لـوی شـرك دواړه په یو وخت موجود وو۔ او ددے کفاره دا ده چه بنده په الله سره د شرك نه پـنـاه وغـواړی۔ نـو د ایمان نه مراد لغوی ایمان دے چه هغه اقرار د الله تعالیٰ دے او تصدیق دے د هـغـه پـه وجـود بـاندے۔ نو دا اعتراض نهٔ واردیږی چه شرك خو منافی د ایمان دے نو دواړه څنګه جمع شی؟

جواب دا دے چه لغوی ایمان د شرك سره جمع کیدل منافی نهٔ دی۔ (فتح البیان)

ډیر خلك خپل خان او خپل مشران د الله تعالیٰ سره شریکوی وائی چه که زهٔ پدے علاقه کښ نهٔ وے نو دا ټول خلك به مشرکان وے، او مونږ خلك موحدین کړل، او زمونږ مشران که نهٔ وے نو ټول خلك به گمراهان وے۔ دا هم شرکی کلمات دی۔

| |
|---|
| اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ |
| آیا نو په امن کښ دی دوی ددے نه چه رابه شی دوی ته پټونکے د عذاب د الله نه |
| اَوْتَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ |
| یا به راشی دوی ته قیامت ناڅاپه او دوی به نهٔ پو هیږی۔ |

**تفسير** : پدے آیت کریمه کښ مشرکانو ته دهمکی ذکر ده او مخکښ دوه آیتونو کښ اعـراض او شـرك ذکر شو او دغه دواړه د عذاب اسباب دی نو پدے آیت کښ په عذاب سره

تخويف ذکر کوي. مطلب دا دے : چه څه بعيده نهٔ ده چه د الله داسے عذاب راشي چه دوی د هر طرف نه راګير کړي، يا قيامت ناڅاپي راشي، او دوی د خپل شرك په وجه سره جهنم ته ګوزار کړے شي.

غَاشِيَةٌ: پټونکے عذاب چه دوی د هر طرفنه راګير کړي.

بَغْتَةً : يعنې ناڅاپي چه انسانان به په بازارونو کښې مصروف وي او د شپيلئ آواز به واوري، چه هيڅ تيار به ورته نهٔ وي.

او پدے آيت کښې سبب د مرض ذکردے چه هغه غفلت او بې غمي او د الله تعالیٰ د عذابونو نه نهٔ يريدل دي.

| |
|---|
| قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؔقف عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ |
| اُووايه ! دا لاره زما ده، رابلم (خلق) الله طرف ته په دليل (پوهه) سره زهٔ او هغه څوك |
| اتَّبَعَنِيْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ |
| چه تابعدار دی زما، او پاکي ده الله لره او نهٔ يم زهٔ د مشرکانو د ډلے نه. |

**تفسير** : پدے آيت کښې د عذاب د دفع کولو علاج ذکر دے، چه هغه دعوت الى الله دے.

هٰذِهٖ: اشاره ده دعوت ته. اَیْ هٰذِهِ الدَّعْوَةُ الَّتِیْ اَدْعُوْ اِلَيْهَا وَالطَّرِيْقَةُ الَّتِیْ اَنَا عَلَيْهَا . دا دعوت چه زهٔ ورته خلك رابلم او دا طريقه چه زهٔ پرے روان يم زما لاره او طريقه ده. او اَدْعُوْا اِلَى اللهِ ددے تفسير دے. نو په رسول الله ﷺ باندے هميشه دپاره دعوت فرض وو او بيا روستو په مجموعه امت باندے فرض دے، او دا دعوت به صرف الله تعالیٰ طرفته وی، نهٔ تنظيم او پارټی او نهٔ يو شخص ته، او داسے دعوت والا خلك ډير کم دی، د چا يو تنظيم او پارټئ ته او د چا بل ته.

عَلٰى بَصِيْرَةٍ: دے کښې دوه تفسيرونه دی. (۱) وَمَنِ اتَّبَعَنِیْ عطف دے په (اَنَا) باندے اَیْ وَيَدْعُوْ مَنِ اتَّبَعَنِیْ عَلٰى بَصِيْرَةٍ . يعنې زهٔ به هم الله تعالیٰ ته په بصيرت سره دعوت ورکوم او زما تابعدار به هم په بصيرت سره الله تعالیٰ ته دعوت ورکوی. او بصيرت نه مراد ښکاره دليل دے چه هغه عقلي او نقلي دليل دے، نو داسے دعوت چه انسان ئے په خرافاتو او تاويلے ماويلے باندے کوی نو دا الله تعالیٰ ته دعوت نهٔ دے لکه د صوفياؤ دعوت شو.

دارنګه د بصیرت نه مراد هغه علم دے چه حق او باطل پرے جدا کوی نو د دعوت دپاره علم ضروری دے۔

(۲) اَدْعُوْٓ اِلَى اللّٰهِ جدا جمله ده۔ او عَلٰى بَصِيْرَةٍ خبر مقدم دے او (اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ) ئے مبتداء مؤخره ده یعنی په بصیرت به روان یم زهٔ او زما تابعدار۔ (فتح البیان)

او دا دلیل دے چه د رسول الله ﷺ په هر تابعدار باندے دا لازم دی چه د رسول الله ﷺ په شان به خلك د الله تعالیٰ ایمان او توحید ته او د هغهٔ په شریعت باندے عمل طرفته رابلی۔

وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ: یعنی زما ایمان دا دے چه د الله ذات د هر عیب او نقصان نه پاك دے، د هغه نهٔ څوك شریك شته او نهٔ مقابل، نهٔ د هغه څوك ځوی شته او نهٔ ښځه۔ هغه ددے ټولو عیبونو او نقصاناتو نه او تمامو کمزوریو نه بیخی پاك دے۔ او زهٔ د مشرکانو په دین باندے نهٔ یم۔

## فوائد او معارف

(۱) ددے آیتِ کریمه نه معلومه شوه چه د اسلام دعوت به د دلیل او د حجت په بنیاد وی۔ قرآن کریم ددے تعلیم ورکړیدے، نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ په همدے منهج باندے ولاړ وو۔ هغوی خلقو لره د دلائلو په ذریعه د قانع کولو کوشش کړے۔

(۲) دا هم معلومه شوه چه د نبی کریم ﷺ منونکی په هر دور کښ د الله تعالیٰ مخلوق لره د هغهٔ توحید او عبادت ته دعوت کوی۔

(۳) او په دعوت کښ د حکمت تقاضا دا ده چه خبرے اترے د مخاطب د عقل او پوهے مطابق داسے صفا ستره وی چه هغوی په آسانئ سره د قرآن او سنت په [illegible]وت باندے پوهه شی۔

(٤) او د داعی الی الله دا فریضه ده چه ترڅو پورے ژوندے وی د نیکئ حکم به ورکوی، او د بدئ نه به منع کوی، ځکه چه ددهٔ غلے پاتے کیدل په دنیا کښ فساد خورولو ته موقع ورکوی، نیکی به خکته شی او بدی به سر راپورته کړی او خوره به شی۔ والله المستعان۔

(ابن عاشورؒ)

| وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ؕ |
|---|
| او نهٔ دی رالیږلی مونږ مخکښ ستا نه مګر سړی وحی به کوله مونږ دوی ته د کلو والو نه |

| |
|---|
| اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيۡنَ |
| آيا نو نۀ ګرځي دوی په زمکه کښې پس چه اُوګوري چه څنګه شو انجام د هغه کسانو |
| مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ |
| چه مخکښې وو د دوی نه، او خامخا کور د آخرت غوره دے دپاره د هغه کسانو |
| اتَّقَوۡا ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾ |
| چه تقویٰ کوی، آیا نو عقل نۀ لرئ۔ |

**تفسير**: پدے آیت کښې د رسول الله ﷺ صدق او بیا منکرینو ته د همکی بیانیږی۔
او دا جواب د سوال دے چه د مکے مشرکانو به وئیل چه الله تعالیٰ د انسانانو د لارخودنے دپاره د آسمان نه ملائك ولے نۀ رالیږی؟، او تۀ خو رجل ئے او رسول خو رجل نشی کیدے؟ نو الله تعالیٰ د هغوی په رد کښې ووئیل چه اے زما نبی! مونږ ستا نه مخکښې چه څومره انبیاء علیهم السلام لیږلی، ټول د ښارونو وسیدونکی سړی وو، چه هغوی ته مونږ د وحی په ذریعه د دین او حکمت تعلیم ورکولو۔ ددے آیت مطابق د جمهورو علماؤ رائے ده چه هیڅ ښځه نۀ ده نبی شوے۔

**مِّنۡ اَهۡلِ الۡقُرٰى**: حافظ ابن کثیر رحمه الله وائی چه په آیت کښې د «قُری» نه مراد ښار دے، بانډه نۀ ده مراد چه د هغے وسیدونکی خلق په عامه توګه بد اخلاق او سخت مزاجه وی۔ مشهوره دا ده چه د ښار وسیدونکی خلق د بانډو والو په نسبت نرم خوئی او خوشحاله مزاج والا وی۔ پدے وجه الله تعالیٰ په سورة التوبه آیت (۹۷) کښې فرمایلی دی: ﴿ اَلۡاَعۡرَابُ اَشَدُّ كُفۡرًا وَّنِفَاقًا ﴾ چه (د بانډو اُوسیدونکی خلق په کفر او نفاق کښې د نورو نه زیات مخکښې وی)۔ قتادهؒ وائی چه الله تعالیٰ همیشه خپل انبیاء د ښارونو نه اختیار کړیدی۔ ځکه چه دوی په علم او حِلم کښې د بانډو والو نه غوره وی۔ حسن بصریؒ وائی چه د الله تعالیٰ هیڅ نبی نۀ بانډچی وی او نۀ پیریے او نۀ ښځه۔ (فتح البیان)

**اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا**: د مکے کومو مشرکانو چه به د نبی کریم ﷺ نه انکار کولو هغوی ته وئیلے کیږی چه دا خلق د هغوی علاقو ته ولے نۀ ځی چه عبرت حاصل کړی چرته چه د دوی په شان تیره شوے زمانه کښې قومونه آباد وو، او ډیر په جوش وخروش او تکبر کښې به ئے ژوند تیرولو، لیکن کله چه دوی د انبیاؤ پورے توقے وکړے او د الله تعالیٰ دین ئے قبول

نکړو، نو څنګه الله تعالیٰ کافران هلاك کړل او مؤمنانو ته ئې نجات ورکړو۔ نو دغه شان به دا موجوده منکرین هم هلاك کړی۔

وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ: لکه څنګه چه مونږ مؤمنان بندګان د دنیا د عذاب نه بچ کړل نو دغه شان په آخرت کښې به دوی هغه جنت ته داخل کړو چه د دنیا د ټولو نعمتونو او آرامونو نه غوره دے۔ او کافرانو ته وئیلے کیږی چه آیا تاسو عبرت نۀ اخلئ د پخوانو نه چه آخرت غوره کړئ او ایمان راوړئ۔

| |
|---|
| حَتّٰۤى اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْۤا |
| تردے چه نا اُمیده شول رسولان (د ایمان راوړلو د قوم نه) او ګمان ئې وکړو |
| اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّيَ |
| چه یقیناً دوی ته دروغ وئیلے شویدی نو راغے دوی ته مدد زمونږ نو بچ به کړے شو |
| مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ |
| هغه څوك چه غوختل به مونږ او نۀ شی واپس کیدے عذاب زمونږ د قوم مجرمانونه۔ |

**تفسیر**: پدے آیت کښې څلور خبرے دی: [اَلْاَمْرُ بِالصَّبْرِ وَتَحَمُّلِ الشَّدَائِدِ وَالْبِشَارَةُ بِالنَّصْرِ وَالتَّهْدِيْدُ لِلْمُجْرِمِيْنَ] امر دے په صبر کولو او په تکلیفونو برداشت کولو او بیا زیرے ورکول په نصرت۔ او مجرمانو ته تهدید او تخویف دے۔ او دا آیت بعض مفسرینو انتهائی مشکلاتو کښې شمارلے دے چه (٦٤) تفسیرونه ئې پکښې ذکر کړیدی لکه اکثر د هغے نه په تفسیر خازن وغیره کښې ذکر دی، لیکن پدے سره د آیت نه خوند زائله کیږی نو صحیح او غوره تفسیرونه پکښې صرف دوه دی څکه چه قراء تونه پکښې دوه دی۔

اول تفسیر د ابن عباسؓ دے او دویم د عائشے رضی الله عنها دے۔

(۱) حتی متعلق دے د (وَمَا اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ) پورے۔ اَیْ ثُمَّ لَمْ نُعَاجِلْ اُمَمَهُمْ بِالْعُقُوْبَةِ حَتّٰى اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ) (فتح البیان والقرطبی) یعنی بیا مونږ د پیغمبرانو امتونو ته په جلتئ عذاب او سزا ورنکړه تردے چه پیغمبران نا امیده شو چه مدد به کله راځی نو دغه وخت به الله تعالیٰ مدد راولیږلو او مجرمان به ئې هلاك کړل۔

۞ یا د رجالًا سره لګی۔ اَیْ اِلَّا رِجَالًا فَدَعَوْا قَوْمَهُمْ فَكَذَّبُوْهُمْ وَطَالَ ذٰلِكَ حَتّٰى اِذَا اسْتَيْئَسَ

الرُّسُلُ. یعنی ما ستا نه مخکښ پیغمبران سرې رالیږلي وو نو هغوی به خپلو قومونو ته دعوت ورکولو او قوم به هغوی لره دروغژن ګڼړل او دا خبره اوږده شوه تردې چه پیغمبران نا امیدئ ته ورسیدل چه دا قوم زمونږ تکذیب کوی او الله تعالیٰ ورله عذاب نهٔ ورکوی.

کُذِبُوْا: اَیْ مِنْ جَانِبِ اللّٰهِ. یعنی دوی ته دروغ وئیل شویدی د طرفه د الله نه.

مطلب د آیت دا دے چه د پیغمبرانو مدد به روستو شو تردے چه پیغمبران نا امیده شو د عذاب د قوم نه چه په دوی باندے خو عذاب رانغلو او دوی ګمان وکړو (په درجه د وسوسه کښ) چه دوی ته د الله د طرف نه دروغ وئیل شویدی چه مدد به راځی او دا خو لا تر اُوسه پورے رانغے. یعنی دوی به د نا امیدئ درجے ته ورسیدل دومره ډیر وخت پورے به ئے قومونو ته دعوت ورکولو. نو په آخر کښ به مدد راورسیدو.

نو پدے معنیٰ باندے سوال دا دے چه پیغمبران څنګه نا امیدئ درجے ته ورسیږی او هغوی خو بل ته د صبر امر کوی ؟ نو سیدنا ابن عباس ﷛ ددے جواب ورکړیدے چه (وَ کَانُوْا بَشَرًا) یعنی دا پیغمبران انسانان وو.

مطلب ئے دا دے چه دا ګمان په درجه د وسوسه کښ وو او یو نبی ته هم وسوسه راتلل ممکن دی او هیڅکله یو نبی پدے باندے تلفظ نهٔ دے کړے بلکه دا صرف په زړه کښ یو خیال تیریدل وو (لکه رسول الله ﷺ فرمائی : الله تعالیٰ زما امت ته د زړه وسوسے معاف کړیدی)، دا غیر اختیاری وی. او دا آیت داسے دے لکه سورة البقره کښ تیر شو ﴿حَتّٰی یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِیْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰی نَصْرُ اللّٰهِ﴾ یعنی رسول او ایمان والو به ووئیل چه کله به وی د الله مدد) یعنی نا امیدئ درجے ته به نزدے شو. آه. (القرطبی ۲۷٦/۹)

نو پدے کښ د پیغمبرانو اُوږد صبر او تکلیفونو برداشت کول ذکر شو. نو ددے نه دا فائده راووته چه کله به په دعوت کښ دومره تکلیفونه برداشت کولے شی چه په اول کښ به د الله تعالیٰ مدد هم نهٔ راځی تردے چه انسان نا امیدئ درجے ته ورسیږی خو آخر کښ به مدد راځی.

(۲) دویم : امام بخاریؒ وغیره د عروهؒ نه نقل کړیدی چه هغه د عائشے رضی الله عنها نه تپوس وکړو چه دا (کُذِبُوْا) دے او که (کُذِّبُوْا) (په تشدید سره) دے؟ نو هغے وفرمایل : دا (کُذِّبُوْا) دے یعنی په تشدید سره دے. (هغے ته د کُذِبُوْا مخفف قراء ت نهٔ وو معلوم) او د تشدید قراء ت مطلب دا دے چه تکذیب وکړے شو د پیغمبرانو. چا وکړو ؟ قوم ئے وکړو. نو عروهؒ وائی چه ما ورته ووے چه د پیغمبرانو خو یقین وو چه د دوی قوم دوی لره

دروغجن گنړلي دي نو بيا د ظن څه معنیٰ ده حال دا چه دلته څو (وَظَنُّوْا) راغلي دي؟۔
نو هغې وفرمايل: چه د رسولانو په قوم کښې دوه قسمه خلك وو يو مؤمنان چه د دوی تصديق ئې کړے وو او دويم هغه خلك وو چه پيغمبران ئې دروغجن گنړل نو دلته معنیٰ دا ده: ((د رسولانو په ملگرو باندے مصيبت اوږد شو او مدد د دوی نه روستو شو تردے چه رسولان د خپل قوم د ايمان نه نا اميده شو او گمان وکړو رسولانو چه د دوی تابعدار مومنان دوی لره دروغجن وگنړل نو پدے وخت کښې به زمونږ مدد راغلو))۔
يعنی پيغمبرانو دا گمان وکړو چه مونږ خپلو ملگروته وايو چه مدد به راځي او راځي، دومره روستو شو چه دوی گمان وکړو چه دا زمونږ ملگری چرته مونږ دروغجن ونۀ گنړی وائی به چه رسولان وائی چه مدد به راځي، دومره اوږده موده تيره شوه او مدد رانغلو، او پيغمبرانو هيڅ کله په الله تعالیٰ باندے دا گمان نۀ دے کړے چه دوی ته د الله تعالیٰ د جانب نه دروغ وئيل شويدی۔ او دا هم ډير ښه تفسير دے۔
حاصل معنیٰ دا ده: تردے چه کله نا اميده شو رسولان د ايمان د خپل قوم نه او گمان وکړو پيغمبرانو چه د دوی به تکذيب وکړے شي د طرفه د ملگرو خپلو نه چه مدد به راځي او مدد خو رانغے۔ يعنی د پيغمبرانو خو ډير لوی همت وی، ليکن هغوی د مدد په روستو کيدو کښې په خپلو ملگرو ويريدل چه چرته دا ملگری رانه خراب نشي او زمونږ تکذيب ونکړی۔ يعنی په ملگرو به ئے گمان پيدا شو چه دوی به زمونږ خبره ونۀ منی ځکه چه مونږ ورته هر وخت وايو چه مدد راروان دے او مدد رانغے۔ نو دا په رسولانو باندے ابتلاء وه۔ (فتح البيان)
(۳) دے کښې دريم تفسير د ابن مسعودؓ نه نقل دے چه دا قراءت مخفف دے او مطلب دا دے: [اِسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ مِنْ اِيْمَانِ قَوْمِهِمْ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِهِمْ وَظَنَّ قَوْمُهُمْ حِيْنَ اِبْطَاءِ النَّصْرِ اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا اَىْ اِنَّ الرُّسُلَ قَدْ كَذَبُوْهُمْ بِمَا جَاؤُوْهُمْ بِهٖ)۔
نا اميده شو رسولان د ايمان د قوم خپل نه چه په دوی باندے ايمان راوړی او د دوی قومونو گمان وکړو کله چه د دوی نه مدد روستو شو چه دوی ته دروغ وئيل شويدی د طرفه د پيغمبرانو نه۔ يعنی کافرانو به دا گمان وکړو چه دا پيغمبران چه وائی چه د دوی مدد به کيږی او کافران به هلاکيږی نو کوم دے چه دے پيغمبرانو ته مدد راغلو او مونږ هلاك شو۔ (فتح البيان والقرطبی)
(٤) یا كُذِبُوْا په معنی د اُخْطِئُوْا دے يعنی پيغمبرانو به گمان وکړو چه دوی په بيان او

طریقه د بیان کښې خطاء کړے شویدی یا بله څه وجه ده چه دا مدد نۀ راځي۔ یعني په خپل ځان بـه ئے بدګماني پیدا شوه، نۀ په وعده د الله تعالیٰ بانده۔ یعني د مدد زمانه به روستو شوه نو دوی به وویل چه مونږ نه په بیان کښې کومه غلطي شویده که بله څه وجه ده چه د الله مدد رانغلو۔ (القرطبي)

خلاصه د آیت دا ده چه الله تعالیٰ پیغمبرانو او ایمان والو ته دا تسلي ورکوي او تلقین د صبر ورکوي چه په تاسو به کله په دین او دعوت کښې دومره تکلیفونه راشي چه نا امیدئ درجے ته به ورسیږئ، ډیر کلونه به تیر شي، دیرش، څلویښت پنځوس کاله مدد به نۀ راځي او مسلمانانو بانده به تکلیفونه وي آخر کښې به د الله تعالیٰ مدد راورسي نو په کافرانو به عذاب نازل شي او ایمان والو ته به نجات ملاؤ شي نو صبر کوئ۔

لیکن د الله تعالیٰ طریقه دا ده چه پخوانو کښې قوت وو نو ډیره موده بعد به عذاب راتللو او اُوس زمانه کښې زمونږ د کمزورئ د وجه نه په کافرانو په جلتئ عذابونه راولي او زر زر بادشاهیانے اَړوي۔

| |
|---|
| لَقَدۡ كَانَ فِيۡ قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٌ لِّاُولِي الۡاَلۡبَابِ ؕ مَا كَانَ حَدِيۡثًا |
| یقیناً خامخا شته په بیان د دویٰ کښې عبرت دپاره د صفا عقلونو والو، نۀ دے دا قرآن خبره |
| يُّفۡتَرٰى وَلٰـكِنۡ تَصۡدِيۡقَ الَّذِيۡ |
| چه د ځان نه جوړه کړے شي لیکن نازل شویدے دپاره د تصدیق د هغه کتابونو |
| بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيۡلَ كُلِّ شَيۡءٍ وَّهُدًى |
| چه مخکښې وو ددے نه او دپاره د تفصیل د هر (ضروري) شي او دپاره د هدایت |
| وَّرَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ |
| او د رحمت هغه قوم لره چه ایمان راوړي۔ |

**تفسیر** : پدے آیت کښې ترغیب ورکوي عبرت اخستو ته د قصو د پیغمبرانو نه او د قرآن کریم صدق بیانوي په پنځو طریقو سره۔

قَصَصِهِمۡ: قصص بیان ته وائي۔ ۱ - یعني د انبیاء علیهم السلام او د هغوی د قومونو په قصو کښې د عقل والو دپاره عبرت او نصیحت دے۔

۲- بعض خلقو ددے نه د يوسف عليه السلام او د هغه د ورونو قصه مراد كړيده، ځكه چه پدے قصه كښې ډيرے قصے او مختلف خبرونه جمع شويدي. نو پدے كښې ډير عبرتونه او حكمتونه او د الله تعالىٰ قدرتونه ذكر شويدي. (فتح البيان)

عِبْرَةٌ: نصيحت قبلولو ته عبرت ولے وائي؟ وجه دا ده چه عبرت د عُبُور نه دے په معنىٰ د تيريدو سره نو پدے قصو كښې عبور (تيريدل) دى د معلوم طرف نه مجهول (نا معلومه) طرف ته. (فتح)

او پدے قصه كښې عبرتونه مخكښې بيان شو چه څوك په مصيبتونو صبر وكړى نو الله تعالىٰ سلامتيا او كرامتونه وركوى، او د مكرونو او حسدونو نتيجه ذلت او رسوائى ده.

دارنګه الله تعالىٰ يوسف عليه السلام د كوهى او د جيل د مصيبتونو نه راويستو او بادشاهئ ته ئے ورسولو نو دغه شان خپل آخرى رسول محمد رسول الله ﷺ ته به هم كاميابى او نجات وركوى او كافران به ذليله او رسوا كيږى.

مَا كَانَ حَدِيْثًا: اوله طريقه دا ده چه قرآن چه دا واقعه د يوسف عليه السلام بيان كړه نو دا رشتينى خبره ده چه د ځان نه نۀ ده ايجاد شوے ځكه چه قرآن څوك د ځان نه نشى ايجاد كولے.

دويمه طريقه: وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ: اَیْ نُزِّلَ تَصْدِيْقًا: يعنى دا قرآن ددے دپاره نازل شويدے چه تصديق د مخكنو كتابونو كوى چه په هغے كښې هم دا قصه پدے طريقه سره ذكر شويده. دارنګه په هغے كښې چه كومے صحيح خبرے پاتے شويدى د هغے تائيد كوى، او د انسانانو د طرف نه د تحريف شوى احكامو انكار كوى او څه احكام منسوخ ګرځوى.

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ: دريمه طريقه: پدے قرآن كښې د ټولو ضرورى عقيدو او احكامو بيان دے.

څلورمه طريقه: وَهُدًى: په قرآن كښې هدايت دے يعنى بيان دے په دليلونو سره.

۲- يا په قصو كښې هدايت پدے طريقه دے چه دا باعث ګرځى په ايمان او تقوىٰ باندے ځكه چه ددے په مينځ مينځ كښې د الله تعالىٰ قدرتونه او تصرفات ليدلے كيږى او دا خبره چه تقوىٰ د ټولو خيرونو د دنيا او د آخرت اساس او بنياد دے. (ابن عاشورؒ)

وَّرَحْمَةً: پنځمه طريقه: مؤمنان چه پدے كتاب ايمان راوړى نو دا ورله سبب د ډيرو رحمتونو او خيرونو ګرځى، د الله تعالىٰ د عذابونو نه بچ شى او جنت ته داخل شى. او د رحمت نه مراد دا هم دے چه په دين باندے تثبت او كلكوالے پيدا كيږى. يا ددے نه مراد د

زړۀ نرموالے دے۔ یا په قصو کښې رحمة دا دے چه الله تعالیٰ په نیکانو خلکو باندے دغه شان رحمتونه کوی څنګه ئے چه په دغه قصه کښې وکړو۔ نو پدے سره د مؤمنانو زړونو ته اطمینان ملاویږی او پریشانی ئے ختمیږی۔ (ابن عاشورؒ)

وبالله التوفیق

## امتیازات وخصوصیات

۱- پدے سورت کښې ناشنا واقعه د یوسف ﷺ ذکر ده چه داسے په نورو سورتونو کښې نشته۔

۲- د نجات ډیر اسباب پدے سورت کښې ذکر دی۔

۳- د اکثرو خلکو د شرك بیان۔

انتهی المجلد السادس من تفسیر حکمة القرآن بفضل الله الکریم یوم الجمعه التاسع والعشرین من ربیع الثانی۔ الموافق (۲۰۱۵/۲/۱۹)

ختم شو تفسیر د سورة یوسف د الله په فضل سره او پدے سره ختم شو شپږم جلد د تفسیر حکمة القرآن اُوم جلد به د سورة رعد نه شروع کیږی۔
فارغ شوم د تصحیح نه په تاریخ : ۱۲ ذی الحجه ۱٤۳٦ هـ موافق (۳/۹/۲۰۱۵)
وکتبه ابوزهیر سیف الله البشاوری۔



# فهرست تفسير حكمة القرآن جلد (٦)

دفتر تمام گشت و بپایان رسید عمر    ما ہمچنان دراول وصف تو ماندہ ایم